فهرست

عنوان

صفحه

بسم الله الرحمن الرحيم

العنكبوت

د سورې پېژندنه:

د دې مباركې سورې نوم (العنكبوت) دئ، دا نوم د همدې سورې له ٤١ آيت اخيستل شوی، نه شپېته آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (يفتنون) او د درېيم آيت (الكٰذبين) ته ورته دي، څو آيتونه ئې د (يسير، قدير، نصير او اليم) په څېر صيغو پای ته رسېدلي چې وزن ئې كاذبين ته نږدې دئ، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مكې دور په وروستيو كلونو كې نازل شوي.

لكه څنګه چې دا سوره په درېو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسې توګه په دې سورې كې راغلي لكه چې په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو كې راغلي، يو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت كې، د دې سورې آخري آيت دا دئ:

وَٱلَّذِينَ جَـٰهَدُواْ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾ : **او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد كړی حتماً به خپلې لارې وروښيو او يقيناً چې الله له دغو محسنينو سره دئ.**

په دې آيت كې درې فقرې راغلې او همدا درې فقرې د سورې د درېو اساسي مضامينو لپاره د عنوانو په څېر دي، لومړۍ فقره ئې (وَٱلَّذِينَ جَـٰهَدُواْ فِينَا) ده، تاسو به وګورئ چې د سورې په لومړۍ برخې كې د الله تعالى د لارې مجاهدين معرفي شوي، په همدې لړ كې هغه دول دول الهي آزموينې انځور شوې چې د الله د لارې مجاهدين ورسره مخامخ كېږي، په همدې ارتباط هغو سترو سترو آزموينو ته ګوته نيول شوې چې د ابراهيم، نوح، لوط، هود، صالح، شعيب او موسى عليهم السلام په څېر مجاهدين ورسره مخامخ شوي، د آيت دوهمه فقره (لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ) ده، او تاسو به وګورئ چې د سورې دوهمه برخه هغه لارښوونې احتوى كوي چې د دغو مجاهدينو په برخه شوې، او د آيت درېيمه فقره (وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ) ده او دا د هغو آيتونو لپاره عنوان دئ چې په ترڅ كې ئې له دغو مجاهدينو سره د الله ملتيا او معيت څېړل شوی. كه لږ ځير شو نو راته جوته كېږي چې دا ټوله سوره؛ له سر تر پايه؛ د مجاهدينو په اړه بحث كوي، او د سورې په پای كې د الله د لارې د مجاهدينو په اړه

ویل شوي چي هدایت او د الله تعالی معیت به ئې په برخه کیږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ﴿٢﴾ وَلَقَدۡ
فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٣﴾

الف، لام، میم، آیا خلکو داسي انګېرلې چي کله ووايي ایمان مو راوړی نوپرې به ښودی شي او وبه نه آزمويل شي؟! حال دا چي يقيناً موږ هغه وآزمويل چي تر دوی وړاندي ول، نو الله به هرو مرو هغه معلوم کړي چي رښتيني دي او حتماً به دروغجن معلوم کړي.

(۱-۳)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

● لکه څنګه چي دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسي توګه په دې سورې کي راغلي لکه چي په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کي راغلي، يو په بل پسي او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت کي، د دې سورې آخري آيت دا دئ:

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٦٩﴾: **او هغه چي زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلي لاري وروښيو او يقيناً چي الله له دغو محسنينو سره دئ.**

په دې آيت کي درې فقرې راغلي او همدا درې فقرې د سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانو په څېر دي، يعني د سورې په لومړۍ برخي کي د الله د لاري مجاهدين معرفي شوي، وروسته دا موضوع راغلې چي الله تعالی د دغو مجاهدينو پر مخ د هدايت ټولي دروازې پرانېزي او د ژوند په هري برخي کي به ئې لارښوونه کوي او په پای کي د همدغو مجاهدينو په اړه ويل شوي چي له دوی به هغه محسنين جوړ شي چي الله تعالی به د دوی مل وي او خپل تأييد او نصرت به ورپه برخه کوي.

دا هسي يوه بې ځايه هيله او غلطه انګېرنه ده چي الله تعالی به د ايمان د مدعيانو په دغي وينا اکتفاء کوي چي وايي: موږ ايمان راوړی، او په همدې سره به ئې خپلي مخي ته پرېږدي او د همدغي ادعاء له مخي به دوی مؤمنان ګڼي او همغه څه به ورسره کوي چي له مؤمنانو سره ئې د کولو وعده کړې!! پرته له دې چي د آزموينو په ترڅ کي د دوی د دغي ادعاء حقيقت څرګند کړي!! داسي نه ده؛ الله تعالی به حتماً دوی له ډول ډول آزموينو سره مخامخ کوي او د دغو آزموينو په ترڅ کي به له يوې خوا هغه معلوم او څرګند کړي چي په

خپلي ادعاء كي رښتيني دي او له بلي خوا هغه چي د ايمان په دعوى كي دروغجن دي. د دې معنى دا ده چي د ايمان رښتينى او دروغجن مدعي به د الهي آزموينو په ترڅ كي معلومېږي.

دا يو ثابت او نه بدلېدونكى الهي سنت دئ، الله تعالى له وړاندينيو سره همداسي كړي او له وروستنيو سره به همداسي كوي.

د ايمان لار له كړاېچونو، لوړو ژورو، خطرونو او ټكرونو ډكه لار ده، د دې لاري مؤمن لاروى بايد په هر ګام كي له آزموينو سره مخامخېدو ته چمتو او په دي باور وي چي هغه مهال به د الله تعالى رضا او د هغه ملتيا ترلاسه كوي چي له دغو آزموينو بريالى تېر شي.

أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَسْبِقُونَا ۚ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٤﴾

آيا هغو چي بد عملونه كوي داسي ئې انګېرلې چي تر موږ به وړاندي شي، څومره بد دئ هغه قضاوت چي دوى ئې كوي.

(٤)- په دې مبارك آيت كي هغه وګړي چي بد عملونه كوي داسي معرفي شوي چي ګواكي له الله تعالى سره خپل زور آزمويي، په دې هيله د خپل رب له حكم سرغړاوى كوي او بدو عملونو ته ئې ملا تړلې چي ګمان كوي همدا به ئې خپلو هيلو او آرمانونو ته ورسوي او نېكمرغي به ئې په برخه كړي!! الله تعالى د هغوى په اړه فرمايي: آيا داسي ئې انګېرلې چي تر موږ به وړاندي شي، په دې سيالى او مسابقې كي به برلاسي شي؟!! دا بې بنسټه قضاوت ئې څومره بد دئ!!

مَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَءَاتٍ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٥﴾ وَمَن جَـٰهَدَ
فَإِنَّمَا يُجَـٰهِدُ لِنَفْسِهِۦٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٦﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟
ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ


هغه چي د الله د ملاقات هيله لري نو يقيناً چي الهي ټاكلې نېټه هرومرو راتلونكې ده، او هغه پوه اورېدونكى دئ. او چا چي جهاد وكړ نو د خپل ځان لپاره جهاد كوي، يقيناً چي الله له ټولو عالميانو بې نياز دئ، او هغه چي ايمان ئې راوړ او نېك عملونه ئې وكړل حتماً به د دوى بدغوني ترې وپوښو او حتماً به د هغه ډېر غوره عمل په پرتله بدله وركړو چي دوى كاوو.

(٥-٧)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- څوك چي آخرت ته طمع لري، داسي نېك عملونه ئې كړي چي د آخرت د ورځي په اړه ئې په ده كي هيلي راپيدا كړې، دا طمع لري چي له خپل رب سره د ملاقات په ورځ به ئې

غوره بدله په برخه شي، هغه دي مطمئن وي چې د الله تعالی له لوري دا ټاکلې نېټه هرومرو راتلونکې ده، د ده ملاقات به له هغه رب سره وي چې پوه اورېدونکی دئ، د خپلو بندګانو په هر څه پوه دئ او د دوی وینا او دعاء اوري.

- او څوك چې د جهاد لپاره ملاتړي نو دا جهاد به ئې د ځان لپاره وي، ګټه به ئې په دنیا او آخرت کې ده ته رسېږي، الله تعالی د چا جهاد ته اړ نه دئ، هغه له ټولو عالمیانو بې نیاز دئ.
- چا چې ایمان راوړ او نېك عملونه ئې وکړل، الله تعالی به د روزنې، تربیت او اصلاح دروازې د دوی پر مخ پرانېزي، د دوی بدغونې به ترې وپوښي، او د دوی د هغه ډېر غوره عمل په پرتله به بدله ورکړي چې دوی کاوو. دلته د (لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ) الفاظ راغلي، د سیئات معنی بدګونې ده، چې هم ئې پر ګناهونو اطلاق کېږي او هم پر بدو خصلتونو، د تکفیر معنی پوښل او پټول دي، نو د تکفیر سیئات معنی د بدو خصلتونو ازاله او له منځه وړل دي، ځینو درنو مفسرینو دا د ګناهونو د بخښلو په معنی نیولې، حال دا چې د ګناهونو د بخښلو لپاره معمولاً په قرآن کې د یغفر الذنوب الفاظ راځي، او کله کله دا دواړه څنګ په څنګ راځي، چې په ډېر وضاحت سره ښیي چې د دواړو معنی یوه نه ده، یوه ئې د ګناهونو د بخښلو او بله ئې د بدو خصلتونو د ازالې په معنی ده، په قرآن کې دا هم په مکرره توګه راغلي چې جهاد د تمحیص او عیارولو وسیله ده، او تمحیص د بدو خصلتونو ازالې او په نېکو خصلتونو د سمبالولو په معنی دئ.
- د قیامت په ورځ او په الهي محاسبې کې د نېکعمله انسان بدله داسې نه ټاکل کېږي چې د ډېر ښه او لږ ښه عملونو اوسط بدله ورکړی شي، بلکې تر ټولو ښه عمل ئې په پام کې نیول کېږي او د هغه په پرتله بدله ورکوي.

وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِن جَـٰهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَآ ۚ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِى ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿٩﴾

او انسان ته مو له خپل مور پلار سره د نېك چلن سپارښتنه وکړه، او که هغوی ستا په اړه دا هڅه وکړي چې له ما سره هغه څه شریك کړې چې نه پرې پوهېږې نو اطاعت ئې مه کوه، راګرځېدا مو زما په لوري ده، نو زه به مو پر هغه څه خبر کړم چې تاسو کول. او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به ئې د صالحانو په صف کې داخل کړم.

(۸-۹)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- د الله د لارې د مجاهد لومړی او تر ټولو ستره آزموینه او ستونزه د پلار مور مخالفت دئ،

هغه مشرك مور پلار چې خپل مؤمن زوی د الله په لار كې جهاد ته نه پرېږدي او هڅه كوي چې هغه د دوی په څېر مشرك شي.

● الله تعالی دغه مجاهد ته څو لارښووني كړي: ۱- له مور پلار سره نېك چلن كوه، ۲- كه هغوی ستا په اړه دا هڅه وكړي چې له ما سره هغه څه شريك كړې چې نه پرې پوهېږې نو اطاعت ئې مه كوه، ۳- تاسو ټول زما لوري ته راګرځئ، ٤- زه به مو پر هغه څه خبر كړم چې تاسو كول، خلك به تا ملامتوي چې له خپل پلار او مور سره مخالفت كوې، ته به دا هيله كوې چې كاش داسې څوك راپيدا شي چې زما او زما د والدينو د اختلاف په اړه عادلانه قضاوت وكړي او وګوري چې زه ملامت نه يم، مطمئن اوسه چې تاسو ټول زما لوري ته راګرځئ او وروستۍ پرېكړه به زه كوم، نو مه د خلكو د غلطو قضاوتونو پروا كوه او مه ئې د ملامتولو.

● هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي او د نړدې خپلوانو له ملاتړ او تأييد محروم شوی بايد ډاډه وي چې الله تعالی به صالح ملګري ورپه برخه كړي او د صالحانو په ډلې كې به ئې شامل كړي.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِىَ فِى ٱللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِ وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۚ أَوَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِى صُدُورِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴿١١﴾

او له خلكو ځيني داسې دي چې وايي: پر الله مو ايمان راوړی، خو كله چې د الله په اړه وځورول شي د خلكو فتنه داسې ګڼي لكه د الله عذاب، او كه ستا د رب له لوري نصرت راشي حتماً وايي: يقيناً چې موږ له كوم شك پرته له تاسو سره وو، آيا الله په هغه څه ښه پوه نه دئ چې د عالميانو سينو كې دي؟!! او الله به حتماً هغه معلوم كړي چې ايمان ئې راوړی او حتماً به منافقين معلوم كړي.

(۱۰-۱۱)- په دې مباركو آيتونو كې ويل شوي:

● ځيني خلك د ايمان دعوی كوي او وايي: پر الله مو ايمان راوړی، خو كله چې د الله په اړه او د خپل ايمان له كبله د خلكو له لوري وځورول شي نو همدا د خلكو په لاس ځورونه داسې ګڼي لكه د الله تعالی عذاب. د دې فقرې په اړه مفسرينو بېل بېل تعبيرونه وړاندې كړي، ځينو ويلي چې د الله تعالی د عذاب له وېرې ئې ايمان راوړی او د خلكو د عذاب له كبله ئې ايمان پرېښی او د كفر لوري ته اوښتی، او ګواكې همدا د خلكو عذاب د الله تعالی د عذاب په څېر ګڼل دي، ځينو ويلي د خلكو عذاب دومره ورته ستر برېښي لكه د الله عذاب!! غوره او دقيق تعبير دا دئ چې ځيني خلك هغو طبيعي آزموينو ته چې هر مؤمن د الله تعالی په لار كې ورسره مخامخ كېږي؛ د الهي عذاب په سترګه ګوري، او د هغو مؤمنانو په اړه چې له داسې آزموينو او ځورونو سره مخامخ شوي دا تبليغات كوي چې دوی حتماً د الهي عذاب مستحق ول او حتماً ئې

داسې اشتباهات او غلطۍ کړي چې الله تعالی ترې ناراضه شوی او له دغو مصيبتونو او عذابونو سره ئې مخامخ کړي. د خلکو له لوري د دوی ځورونو ته د الهي عذاب نوم ورکوي او په دې توگه د مظلومو مؤمنانو پر زخمونو مالگې دوړوي. ورپسې فقره د دې مزيد وضاحت کوي او د برياوو په وخت کې د مؤمنانو په اړه د دوی وينا داسې انځوروي:

● او که ستا د رب له لوري نصرت راشي نو بيا په ډېر تأکيد سره وايي: يقيناً چې موږ له کوم شك پرته له تاسو سره وو!! يعني د مصيبتونو، هزيمتونو او ځورونو په وخت کې د مؤمنانو په ضد غلط او ظالمانه تبليغات کوي، او دوی گرم او ملامت گڼي، خو د برياوو په وخت کې ځان د دوی خواخوږی، ملگری او همسنگر معرفي کوي!!

● دوی ته ويل شوي چې تاسو په دې منافقانه دريځونو سره يوازې خپل ځان غولوئ، هيڅ څه مو له الله تعالی پټ نه دي، ستاسو او د هر چا د سينو له اسرارو خبر دئ، الله تعالی به حتماً داسې حالت راولي چې په ترڅ کې ئې هم واقعي مؤمنان جوت شي او هم مکار او حيله گر منافقين. له ستونزو او کړاوونو سره د مؤمنانو د مخامخ کولو يوه لويه موخه دا ده چې واقعي مؤمنان او چالاك منافقين جوت او سره تفکيك شي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبِعُواْ سَبِيلَنَا وَلۡنَحۡمِلۡ خَطَٰيَٰكُمۡ وَمَا هُم بِحَٰمِلِينَ مِنۡ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَيۡءٍۖ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٢﴾ وَلَيَحۡمِلُنَّ أَثۡقَالَهُمۡ وَأَثۡقَالٗا مَّعَ أَثۡقَالِهِمۡۖ وَلَيُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَمَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿١٣﴾

او هغو چې کفر ئې کړی هغو ته چې ايمان ئې راوړی وويل: زموږ د تگلارې متابعت وکړئ او موږ دې ستاسو د گناهونو پېټی (پر خپلو اوږو) واخلو، په داسې حال کې چې دوی ئې د هيڅ گناه پېټی (پر خپلو اوږو) وړونکي نه دي، يقيناً چې دوی حتماً دروغجن دي، او حتماً به خپل درانه پېټي (پر اوږو) وړي او ډېر نور پېټي له خپلو پېټو سره، او حتماً به د قيامت په ورځ له هغه څه وپوښتل شي چې دوی افتراء کول.

(۱۲-۱۳)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

● کافرانو به مؤمنانو ته ويل: زموږ د تگلارې متابعت وکړئ او موږ دې ستاسو د گناهونو پېټی (پر خپلو اوږو) واخلو. بايد وگورو چې دا کافران څوك ول او د دوی د دې وينا معنی څه ده چې موږ دې ستاسو د گناهونو پېټی پر خپلو اوږو واخلو؟ د دې بېل بېل تعبيرونه وړاندې شوي خو تر ټولو غوره او دقيق تعبير دا دئ چې دلته مخکنې منافقين د کافرانو په نامه ياد شوي، دوی به مخلصو مؤمنانو ته ويل: راشئ زموږ تگلاره غوره کړئ، د عقل او هوښيارۍ تقاضاء همدا ده چې موږ ئې کوو، که د دې تگلارې او دريځ په غوره کولو کې څه گناه وي، نو مسئوليت ئې زموږ پر غاړه!! د قرآن په گڼ شمېر آيتونو کې د منافقينو دغه کرغېړن خصلت ته اشاره شوې، يوه بېلگه ئې د آل عمران په سورې کې په دې توگه راغلې:

ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ 

آل عمران: ۱٦۸

هغه چي خپلو ورونو ته ئې وويل، په داسي حال کي چي په خپله کښېنستلي وو: که ئې زموږ خبره منلې وی؛ نه به وژل کېدل، ورته ووایه: له خپله ځانه مرگ دفع کړئ که رښتيني يئ.

دا همغه منافقين دي چي په خپله ئې هم په جنگ کي برخه نه اخيسته او نور ئې هم له برخي اخيستو منع کول او له جگړي وروسته ئې ويل: که دوی زموږ خبره منلې وی او په جگړي کي ئې له برخي اخيستو ډډه کړې وی، نو له دې مرگ ژوبلي سره به نه وو مخامخ شوي،

- دوی مؤمنانو ته دا خبره په داسي حال کي کوي چي نه په خپلي بلنې کي رښتيني دي او نه دا کار کولی شي، دا ځکه چي هر څوك د خپلو غلطيو ذمه وال دئ، د بل د غلطيو پېټی پر خپلو اوږو نشي وړی، دوی په دې وينا سره هغه څه وايي چي په الهي معيارونو کي دروغ دي، هو؛ دوی به حتماً د خپلو گناهونو درانه پېټي پر اوږو وړي او ډېر نور پېټي هم له خپلو پېټو سره يو ځای، هغه پېټي هم چي د دوی د غلطو ويناوو له کبله نور تېروتي، گناه ئې کړې او په سزا کي ئې دوی ورسره شريك دي.
- دوی به حتماً د قيامت په ورځ له هغه څه وپوښتی شي چي له ځانه ئې افتراء کول.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمۡ أَلۡفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمۡسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَصۡحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلۡنَٰهَآ ءَايَةً لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٥﴾

او يقيناً چي نوح مو د خپل قوم په لوري ولېږو، چي په دوی کي پنځوس کم زر کاله پاته شو، نو په داسي حال کي چي ظالمان ول طوفان ونيول، نو دی او کښتۍ وال مو وژغورل او دا مو د عالميانو لپاره يوه څرگنده نښه وگرځوله.

(۱٤-۱٥)- په دې مبارکو آيتونو کي د سورې د لومړنۍ محوري موضوع لپاره يوه تاريخي بېلگه د نوح عليه السلام په قصې کي انځور شوې، چي په نه نيم سوه کاله اوږدې مبارزې وآزمويل شو، د دې اوږدې ستونزمني مبارزې نتيجه ئې دا وه چي د ده د قوم يوه دومره واړه ټولگې پرې ايمان راوړ چي په يوې ډکي کښتۍ کي ځای شول.

- نو د خپل ظلم او بغاوت له کبله د ستر طوفان وړ شول، دا طوفان په داسي حال کي پرې

راغی چې په خپل ظلم او بغاوت کې عملاً لګیا او دې ته چمتو نه ول چې لاس ترې واخلي.

- په دې طوفان کې له یوې خوا ظالمان غرق شول او له بلې خوا نوح علیه السلام او د ده هغه ملګري چې په کښتۍ کې ورسره سپاره شوي ول وژغورل شول.
- الله تعالی دا کښتۍ او دا پېښه د عالمیانو لپاره یوه څرګنده نښه وګرځوله.

وَإِبْرَٰهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ ۖ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ
تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ
ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَٱبْتَغُوا۟ عِندَ ٱللَّهِ
ٱلرِّزْقَ وَٱعْبُدُوهُ وَٱشْكُرُوا۟ لَهُۥٓ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تُكَذِّبُوا۟ فَقَدْ كَذَّبَ
أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ۖ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٨﴾

او ابراهیم چې خپل قوم ته ئې وویل: د الله عبادت وکړئ او ترې ووېرېږئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ، له الله پرته فقط څه بتان لمانځئ او څه دروغ جوړوئ، یقیناً هغه چې له الله پرته ئې لمانځئ رزق درته په واك کې نه لري، نو رزق د الله په خوا کې ولټوئ او د هغه عبادت وکړئ او شکر ورته وکړئ، د هغه لوري ته بېرته ګرځول کېږئ، او که تکذیب کوئ نو هغو ولسونو هم تکذیب وکړ چې تر تاسو وړاندې ول، او پر پیغمبر له څرګند تبلیغ پرته بله ذمه واري نشته.

(۱٦-۱۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د سورې د مضامینو لپاره د ابراهیم علیه السلام په قصې کې یوه بله تاریخي بېلګه وړاندې شوې، په دې توګه چې ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته وویل:

- ~~د الله عبادت وکړئ او ترې ووېرېږئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ، تاسو چې~~ له الله تعالی پرته څه لمانځئ فقط بتان او مجسمې دي او څه چې هغوی ته منسوبوئ له دروغو پرته بل څه نه دي، که کرامات ورته منسوبوئ، یا د دعاګانو اجابت، یا د مشکلاتو حلول، ټول دروغ دي او تاسو له خپله ځانه جوړ کړي.
- هغه څه چې تاسو ئې له الله تعالی پرته لمانځئ نه رزق درکولی شي او نه دا واك او اختیار ورسره دئ چې تاسو ته رزق درکړي، د رزق واك په بشپړه توګه له الله تعالی سره دئ، نو خپل رزق د هغه په خوا کې ولټوئ او د هغه عبادت وکړئ او د هغه د نعمتونو شکر اداء کړئ، د هغه لوري ته بېرته ګرځول کېږئ.
- که تاسو د کفر او د حق د تکذیب لار غوره کوئ نو تر تاسو وړاندې ولسونو هم د تکذیب او کفر لار غوره کړه، تاسو همغه څه کوئ چې هغوی وکړل او برخلیك به مو همغه وي چې

هغوی ورسره مخامخ شول.

- پر پیغمبر له څرګند تبلیغ پرته بله ذمه واري نشته.

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ كَيۡفَ يُبۡدِئُ ٱللَّهُ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١٩ قُلۡ
سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ بَدَأَ ٱلۡخَلۡقَۚ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأٓخِرَةَۚ إِنَّ
ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٠ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَرۡحَمُ مَن يَشَآءُۖ وَإِلَيۡهِ
تُقۡلَبُونَ ٢١ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِۖ وَمَا لَكُم مِّن
دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ٢٢ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ
يَئِسُواْ مِن رَّحۡمَتِي وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٣

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې الله څنګه پیدایښت پیلوي او بیا ئې (پر له پسې) اعاده کوي، یقیناً چې دا الله ته آسان دئ، ووایه: په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې پیدایښت ئې څنګه پیل کړی، او الله به بیا د آخرت (د ورځې) په بیاراپاڅولو سره راپاڅول کوي، یقیناً چې الله په هر څه توانمن دئ، هغه تعذیبوي چې دی ئې غواړي او پر هغه پېرزوینه کوي چې دی ئې غواړي، او د ده لوري ته ورګرځول کېږئ، او تاسو نه په زمکې کې ناتوانه کوونکي یئ او نه په آسمان کې، او له الله پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم مرستندوی. او هغه چې د الله په آیتونو او له هغه سره په مخامخ کېدو باندي کافران شوي، همدا دوی زما له رحمته مأیوس شوي، او همدې ډلې ته دردناك عذاب دئ.

(۱۹-۲۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

الله تعالی فرمایي: آیا د پیغمبرانو علیهم السلام او د دوی د دعوت مکذبینو دې ته پام نه دئ کړی چې الله تعالی څنګه د مخلوقاتو پیدایښت پیلوي او بیا ئې په پر له پسې توګه اعاده کوي، د یوه مخلوق پیدایښت له مخکنی بېلګې پرته په نوې بڼې کې پیل کړي؛ بیا د همدغه مخلوق نسل په پر له پسې توګه پیدا کوي، او دا بیا پیدایښت یقیناً چې تر لومړني پیدایښت ډېر آسان دئ.

رسول الله ته ئې لارښوونه کړې چې خپلو مخاطبینو ته ووایه: په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې الله تعالی څنګه ډول ډول مخلوقات پیدا کړي، همدا الله تعالی به د آخرت د ورځې بیاراپاڅول کوي او مړي به راژوندي کوي، یقیناً چې الله تعالی په هر څه توانمن دئ. په دې ورځ به هغه څوك تعذیبوي چې دی ئې د تعذیب وړ ګڼي، او پر هغه به پېرزوینه کوي چې دی

ئې د پېرزوينې وړ ګڼي، تاسو ټول به د ده لوري ته ورګرځول کېږئ. تاسو نه په ځمکې کې داسې ځواك موندلى شئ چې د الله تعالى په وړاندې د برلاسي امکان مو په برخه کړي او نه په آسمان کې، او له الله تعالى پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم مرستندوى.

يوازې هغه وګړي به د الله تعالى له رحمت او پېرزويني ناهيلي او مأيوس وي چې د الله تعالى په آيتونو او له هغه سره په مخامخ کېدو باندې کافران شوي، همدا ډله به په دنيا او آخرت کې له دردناك الهي عذاب سره مخامخ کېږي.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٥﴾

نو د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې وئې ويل: وئې وژنئ يا ئې وسوزوئ، نو الله له اوره وژغورو، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې دي چې ايمان راوړي، او وئې ويل: له الله پرته يوازې څه بتان مو (خپل معبودان) نيولي، په دنيايي ژوند کې د خپلمنځي ميني له کبله، بيا به د قيامت په ورځ ستاسو ځيني له ځينو نورو انکار کوي او ستاسو ځيني به پر ځينو نورو لعنت وايي، او مېشتځى به مو اور وي او هيڅ مرستندويان به نه لرئ.

(۲٤-۲٥)- د ابراهيم عليه السلام مشرك قوم هغه ته يوازې يو ځواب درلود او هغه دا چې وئې ويل: وئې وژنئ يا ئې وسوزوئ، نو الله له اوره وژغورو، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې دي چې ايمان راوړي، ځو نښې: ۱- د ايمان په لار کې به له آزموينو سره مخامخ کېږي، همغسې لکه چې ابراهيم عليه السلام ورسره مخ شو، ۲- ځيني خلك داسې دي چې په دلائلو نه قانع کېږي که څه هم د هغوى په وړاندې د ابراهيم عليه السلام په څېر ستر او اغېزمن داعي ولاړ وي او د الله تعالى د کتاب دلائل ورته وړاندې کوي او داسې ستره معجزه په خپلو سترګو ګوري چې د ستر اور لمبې د ابراهيم عليه السلام له سوزولو عاجزې دي او روغ رمټ ترې وځي، ۳- الله تعالى به د حق د لارې مجاهدين د دښمنانو له بدو عزائمو ژغوري، همغسې لکه چې ابراهيم عليه السلام ئې وژغورو.

ابراهيم عليه السلام هغوى ته وويل: تاسو چې له الله تعالى پرته څه لمانځئ او د معبودانو په توګه مو نيولي، هسې څه بتان دي چې نه څه حيثيت لري، نه د لمانځني او عبادت وړ دي، نه ګټه رسولى شي او نه ضرر دفع کولى شي، په ورځني دنيايي ژوند کې د خپلمنځي مينې له کبله مو ځيني خلك هغه ځاى ته رسولي چې هم ئې په ژوند کې لمانځئ، او هم ئې له مرګ وروسته

د دوی بتان جوړ کړئ او د معبودانو په سترګه ورته وګورئ. يعني په خپلو کې مينه مو په شرك منتج شوه، د خپل قوم د صالح او نيکو شخصيتونو په ستايني کې مو غلو وکړه، هغوی مو د الله تعالی سيال او ند وګڼل، لومړی مو د دوی له قبر او مرقد څني ځان ته قبله او مطاف جوړ کړ، بيا مو د دوی مجسمي جوړي او هغه مو ځان ته (اوثان) وګرځول، د دغو اوثانو په پښو کي اعتکاف مو الله تعالی ته د تقرب وسيله وګڼله او په پای کي مو هغوی په الوهيت او ربوبيت کي شريك او د خدای ند ومنل، د عالم د چارو اداره، د بندګانو اړتياوو ته ځواب، د دعاګانو اجابت او د استغاثو اورېدل مو د الله تعالی او اوثانو ترمنځ ووېشل، ورو ورو مو هغه خدای هېر کړ چي له سترګو پټ دئ او د ده په ځای مو هغه خدای کښيناوو چي ستاسو د ذهن زېږنده او ستاسو د لاس مصنوع او مولود دئ، خو د قيامت په ورځ به نه دا مينه وي، نه ستاينه، نه لمانځنه، بلکي ستاسو ځيني به له ځينو نورو انکار کوي او ستاسو ځيني به پر ځينو نورو لعنت وايي، ستاسو ټولو مېشتځی به د دوزخ اور وي او هيڅ مرستندويان به نه لرئ، عملاً به درته ثابته شي چي له بتانو او دروغجنو معبودانو د مرستي هيله درلودل څومره خوشي او بې بنسټه هيله وه!!

فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٞۘ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَجۡرَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾

نو لوط پرې ايمان راوړ، او وئې ويل: زه د خپل رب لوري ته هجرت کوونکی يم، يقيناً چي هغه باحکمته عزتمن دئ، او ده ته مو اسحاق او يعقوب ورپه برخه کړل او د ده په اولاد کي مو نبوت او کتاب (يو امتياز) وګرځاوو او د ده اجر مو په دنيا کي ورکړ، او يقيناً چي هغه به په آخرت کي حتماً له صالحانو څخه وي.

(٢٦-٢٧)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي:

- **په ټول ولس کي يوازې لوط عليه السلام پر ابراهيم عليه السلام ايمان راوړ، سره له ټول هغه اغېزمن، مستدل او له زړه سوي ډك دعوت، او سره له هغي ستري معجزې چي د نمرود له سره اور له لمبو روغ رمټ وژغورل شو، دا دئ يوازې يوه ځوانکي، د ده وراره؛ لوط عليه السلام پرې ايمان راوړ، خو ابراهيم عليه السلام په دغي آزمويني کي هم بريالی شو، نه د خپل رب له مرستي ناهيلی شو او نه د خپل دعوت له نتائجو مأيوس، پرېکړه ئې وکړه چي دا سيمه پرېږدي، خو نه د تېښتي او فرار په توګه؛ بلکي په بلي سيمي کي د دعوت د دوام او د الله تعالی لوري ته د خلکو د بلني په قصد، وئې ويل: زه د خپل رب لوري ته هجرت کوونکی يم، يقيناً چي هغه باحکمته عزتمن دئ، يعني زما د رب هره پرېکړه حکيمانه ده، هغه د خپلو پرېکړو په پلي کولو برلاسی او ځواکمن دئ، که ولس زما له ملګرتيا ډډه کړي، يوازې او له**

يوه ملګري سره له دې سيمې وتلو ته اړ شوى يم، خو طمع مې دا ده چې په همدې كې به لوى مصلحت مضمر وي، هيله من يم په همدې هجرت ستر ستر نتائج مرتب شي، دا ځكه چې زما رب باحكمته عزتمن دئ.

- **د خپل رب په اړه د دې ډاډ او اعتماد څرګندولو او په دې الهي آزموينې كې د بريا له امله؛ الله تعالى خپل خليل ابراهيم عليه السلام ته څو ستر ستر انعامونه وركړل: ١- د اسحاق او يعقوب عليهما السلام په څېر پيغمبران ئې د ده په اولاد كې راپيدا كړل، د بني اسرائيلو ټول پيغمبران ئې، تر عيسى عليه السلام پورې او په پاى كې محمد عليه السلام؛ د ده په اولاد كې غوره كړل. ٢- (نبوت) او (كتاب) ئې د ده په اولاد كې (يو امتياز) وګرځاوو، له ده وروسته ټول انبياء د ده په اولاد كې غوره شوي او ټول الهي كتابونه په دوى كې نازل شوي. ٣- د ده اجر ئې په دنيا كې هم وركړ، تر قيامت پورې به هم د ده نوم ژوندى وي او هم د ده تګلاره تلپاتې. ٤- په آخرت كې به د صالحانو په ډلې كې او د موحدينو د ستر سالار په توګه حشر كېږي.**

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ
مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأْتُونَ
فِى نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ
إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾

او لوط چې كله ئې خپل قوم ته وويل: يقيناً چې تاسو د هغه فحش (كركجن كار) مرتكب كېږئ چې په نړۍ والو كې هيڅا هغه ته پر تاسو وړاندې والى نه دئ كړى، آيا تاسو له نارينه وو سره (جنسي) نږدېكت كوئ او لار قطع كوئ او په خپلو مجلسونو كې د دې كركجن كار مرتكب كېږئ، نو د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې وئې ويل: كه رښتينى يې نو د الله عذاب راته راوړه! وئې ويل: اې زما ربه! پر دې مفسدو وګړو بريا را!

(٢٨-٣٠)- د الله د لارې د مجاهدينو او له آزموينو سره د مخامخېدو بله بېلګه لوط عليه السلام دئ چې يوه مفسد ولس ته د داعي په توګه تللى او هغوى ته ئې وويل: يقيناً چې تاسو د داسې فحش، ګنده او كركجن كار مرتكب كېږئ چې په نړۍ والو كې هيڅا هغه ته پر تاسو وړاندې والى نه دئ كړى، نه په انسانانو كې داسې څوك تېر شوى چې تر تاسو وړاندې ئې دا ګنده او د انساني فطرت خلاف كار كړى وي او نه په حيواناتو كې!! آيا تاسو له نارينه وو سره جنسي نږدېكت كوئ او لار قطع كوئ او په خپلو مجلسونو كې د دې كركجن كار مرتكب كېږئ؟!! دلته د لوط عليه السلام درې خبرې رانقل شوې: آيا له نارينه وو سره جنسي نږدېكت كوئ؟ لار قطع

کوئ؟ په خپلو مجلسونو کي دا ګنده فعل کوئ؟ د لومړۍ خبري معنی واضح ده، د اړوند آيت له الفاظو هم په وضاحت سره معلوميږي چي معنی ئې د نارينه وو تر منځ جنسي نږدېکت دئ او د قرآن بل آيت هم د دې مزيد وضاحت کوي او وايي چي د شهوت په موخه به ئې له نارينه وو سره نږدېکت کاوو (إِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٌ مُّسۡرِفُونَ ﴿٨١﴾ **لاعراف:**٨١ **:** تاسو خو له ښځو پرته نارينه وو ته د شهوت په موخه درومئ!! بلکي تاسو يو مسرف قوم يئ.

خو د دوهمي او درېيمي خبري په اړه په تفسيرونو کي بېل بېل تعبيرونه مومو، ځيني وايي چي دوی د دې ګنده کار تر څنګ شوکي کولې، په لويو لارو کي به د شوکو لپاره کښېنستل او لاروي به ئې ځورول، د دوی مالونه به ئې لوټل او د دوی پر سر، مال او عزت به ئې تېری کاوو، او په خپلو غونډو او مجلسونو کي به ئې ډول ډول ګنده کارونه کول، خو تر ټولو غوره او دقيق تعبيرونه دا دي چي دوی په دې ګنده او د فطرت خلاف کار سره د انساني فطرت له غوښتني سره سم او د انسان د نسل د دوام فطري لار پرېښوده او غير فطري لار ئې غوره کوله، دا ګنده فعل ئې په پټه نه بلکي په ښکاره او په خپلو مجلسونو کي د نورو په وړاندي کاوو، دا تعبيرونه ځکه تر نورو دقيق دي چي له يوې خوا د کلام تسلسل همدا مطلب افاده کوي، (السبيل) او (المنکر) په معرفه صيغو راغلي چي ښيي تر دې وړاندي ئې يادونه شوې او دلته په وړاندينيو فقرو کي له دغه ګنده فعل پرته بل مورد نه مومو، له بلي خوا قرآن په نورو آيتونو کي دا وضاحت کړی چي دوی د نورو په وړاندي دا کار کولو او ښځې ئې پرېښودې:

وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٌ تَجۡهَلُونَ ﴿٥٥﴾

النمل: ٥٤-٥٥

او لوط چي کله ئې خپل قوم ته وويل: آيا دې فحش کار ته په داسي حال کي وړاندي کيږئ چي تاسو (يو بل ته) ګورئ، آيا تاسو له ښځو پرته نارينه وو ته د شهوت په موخه وړاندي کيږئ، بلکي تاسو په جهالت کي پرېوتونکي وګړي يئ.

دا مطلب په څو نورو آيتونو کي هم په همدې توګه راغلی، دغو آيتونو ته په پام سره په بشپړ يقين سره ويلی شو چي دلته هم مراد همدا دئ نه بل څه.

لوط عليه السلام ته د دې مفسد او په ګندګيو کي د پرېوتي ولس ځواب له دې پرته بل څه نه وو چي وئې ويل: که رښتينی يې نو د الله عذاب راته راوړه! په کوم عذاب چي موږ ګواښې، او ادعاء کوې چي موږ د الهي عذاب وړ يو، که ستا دا ادعاء رښتيني وي نو دا الهي عذاب پر موږ نازل کړه!! د دې ځواب معنی دا وه چي دوی له دې ګنده فعل لاس اخيستو ته چمتو نه دي، د لوط عليه السلام د انذار او ګواښني پروا نه لري، د لوط عليه السلام دا وينا نه مني چي دغه ګنده عمل به ئې له الهي عذاب سره مخامخ کړي، نو ځکه لوط عليه السلام د دوی له ايمان

راوړو ناهیلی شو او خپل رب ته ئي داسي دعاء وکړه: اې زما ربه! پر دې مفسدو وګړو بریا را! الله تعالی د ده دعاء قبوله کړه، د ده مرستي ته ئي د فرښتو یو ټولګی ولېږو، د فرښتو دې ټولګي ابراهیم علیه السلام ته د اسحاق او یعقوب علیهما السلام د زېږېدو او نبوت زېرى ورکړ او په ضمن کي ئي د خپل اصلي مأموریت په اړه هغه ته وویل چي د لوط علیه السلام پر قوم به الهي عذاب نازلوي.

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُوٓاْ إِنَّا مُهۡلِكُوٓاْ أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِۖ إِنَّ أَهۡلَهَا كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطٗاۚ قَالُواْ نَحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَن فِيهَاۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٣٢﴾

او کله چي زموږ استازي ابراهیم ته له زېري سره ورغلل وئې ویل: یقیناً چي موږ د دې کلي ویجاړوونکي یو، یقیناً چي هستوګن ئې ظالمان ول، وئې ویل: په دې کي خو د لوط غوندي (شخصیت) دئ، هغوی وویل: موږ هغه ښه پېژنو چي په (دې کلي) کي دي، حتماً به دی او د ده ټبر وژغورو، له مېرمني ئې پرته چي هغه له وروسته پاته کېدونکو ده.

(۳۱-۳۲)- د فرښتو دغه ټولګی چي د لوط علیه السلام د دعاء په ځواب کي او د ده د مرستي لپاره لېږل شوی، تر ده وړاندي د ابراهیم علیه السلام خوا ته ځي، دا ځکه چي لوط علیه السلام د ده په لارښوونه او د ده له لوري په دې سیمي کي د داعي په توګه ګمارل شوی وو، الله تعالی د لوط علیه السلام او د ده د مخاطب قوم د برخلیك په اړه لومړی ابراهیم علیه السلام خبروي او بیا لوط علیه السلام، فرښتي لومړی د ده خوا ته درومي، هم د اسحاق او یعقوب علیهما السلام د زېږېدو او رسالت زېری ورکوي او هم د لوط علیه السلام او د ده د مؤمنو ملګرو د ژغورني او د ده د مفسد قوم د تعذیب خبر ورکوي، نو کله چي د فرښتو دا ټولګی ابراهیم علیه السلام ته له زېري سره ورغی ورته وئې ویل: موږ د دې کلي د ویجاړولو په موخه راغلي یو، دا ځکه چي هستوګن ئې ظالمان ول او د دې وړ چي کلی ئې نسکور شي، ابراهیم علیه السلام ورته وویل: په دې کي خو د لوط علیه السلام غوندي شخصیت دئ، څنګه ئې ورانوئ؟!! هغوی ورته وویل: موږ د کلي ټول هستوګن ښه پېژنو، په دې پوهېږو چي څوك د ژغورلو وړ دئ او څوك د هلاکولو، دی او د ده ټبر به حتماً وژغورو، له مېرمني ئې پرته چي هغه له وروسته پاته کېدونکو څخه ده او د هغوی په برخلیك به اخته کېږي.

وَلَمَّآ أَن جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالُواْ لَا تَخَفۡ وَلَا

تَحۡزَنۡ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهۡلَكَ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٣٣ إِنَّا
مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ
٣٤ وَلَقَد تَّرَكۡنَا مِنۡهَآ ءَايَةَۢ بَيِّنَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٣٥

او كله چي زموږ استازي لوط ته ورغلل؛ د دوی (د ورتلو) له كبله خوابدی شو او د دوی له كبله زړه تنگی شو، وئي ويل: مه وېرېږه او مه غمجن كېږه، موږ حتماً ستا او ستا د اهل ژغورونكي يو، ستا له مېرمني پرته چي هغه له وروسته پاته كېدونكو څخه ده، يقيناً چي موږ د دې كلي پر هستوگنو له آسمانه د لړزوونكي عذاب نازلوونكي يو، له دې كبله چي دوی سرغړاوی كاوو، او يقيناً چي له دې كلي مو د هغو وگړو لپاره څرگنده (د عبرت) نښه پرېښوده چي تعقل كوي.

(۳۳-۳۵)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

• كله چي د فرشتو دغه ټولگی د تنكيو زلميانو په بڼي كي د لوط عليه السلام خوا ته ورغی؛ د دوی د ورتلو له كبله هم سخت خوابدی شو او هم ډېر زړه تنگی، پوهېدو چي د ده مفسد قوم به د همدغو زلميانو له كبله د ده پر كور بريد كوي، له كوره ايستل ئې د غيرت او شهامت خلاف كار دئ او قوم ته ئې سپارل د ايمان منافي عمل، له همدې كبله سخته پرېشاني پرې راغله، نه پوهېدو څه وكړي، نه د قوم د مقابلې وس لري او نه د خپلو مېلمنو د خوندي ساتلو امكانات، فرشتو ورته وويل: مه وېره كوه او مه اندېښنه، مه زموږ په اړه وېره لره او مه زموږ د ژغورني اندېښنه، موږ راغلي يو چي تا او ستا اهل وژغورو، ستا له مېرمني پرته چي هغه له وروسته پاته كېدونكو څخه ده، موږ د دې كلي پر هستوگنو له آسمانه د لړزوونكي عذاب نازلوونكي يو، له دې كبله چي دوی فاسقان ول. همداسي وشول، كلی نسكور شو، زمكه ئې كښېنسته، لوط عليه السلام د خپلي كورنۍ له مؤمنانو سره وژغورل شول، او له دې نسكور شوي او ښخ شوي كلي او دغي پېښي د هغو وگړو لپاره د عبرت څرگنده نښه جوړه شوه چي تعقل كوي. قرآن په دې قصې كي خپل مخاطب ته څو درسونه وركوي:

• د الله تعالی په لار كي يوه ستره آزموينه دا ده چي د دې لاري لاروی د خپلي مېرمني او د ژوند همسفر له ملگرتيا محروم شي، هغه ئې په نيمې لاري كي يوازي پرېږدي، لكه څومره چي د يوه داعي او مجاهد انسان لپاره يوه صالح او مؤمنه مېرمن ستره متكاء وي، د ده زړه مضبوطوي، ډاډينه وركوي، اندېښني ئې رفع كوي، كه له كور بهر له هر څومره ستونزو، اهانتونو، كړاوونو او مخالفتونو سره مخامخ شي خو كله چي كور ته راستون شي او د خپلي مېرمني له احترام، ميني، ورين تندي، حمايت، ترغيب او تشويق سره مخ شي، نو يأس ئې په هيلي او ستوماني ئې په نشاط بدل شي، د مېرمني عدم توافق او مخالفت همدومره ستره ستونزه وي او د اولوالعزم داعي ملا ماتوي او همت ئې ويلي كوي. نو اې د الله تعالی د لاري

صبور او باهمته مجاهده! کېدی شي له دې ستونزمني آزمويني سره مخامخ شي، د لوط او نوح عليهما السلام په څېر به صبر کوې.

- **کېدی شي د مبارزې په دوران کي داسي حالت دربانديې راشي چي د نصرت فرشتې ستا خوا ته رسېدلې وي، ستا او د وروستي برې تر منځ څو ګامه او څو لنډې شېبې پاتې وي، خو الله تعالی غواړي بيا هم تا وآزمويي، داسي حالت دربانديې راولي چي د نصرت فرشتې ته د يوه بل مصيبت په سترګه وګورې، همغسي لکه چي د لوط عليه السلام خوا ته د نصرت فرشتې رسېدلې وې، د هغوی په راتلو سره سخت خوابدی او غمجن شو، خو بې همتې ئې ونه کړه او د صبر لمن ئې پرې نښوده، نو ځکه فرشتو ورته وويل: سحر به سخت الهي عذاب خپل وزر پر دې خلکو غوړوي، سحر خو به لرې نه وي؟!!**

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗا فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱرۡجُواْ ٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ﴿٣٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٣٧﴾

او د مدين لوري ته د دوی ورور شعيب (مو ولېږو) چي وئې وويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ او د آخرت ورځي ته طمع ولرئ او په زمکي کي فساد کوونکي مه ګرځئ. نو هغه ئې تکذيب کړ چي په پايله کي ئې سختې جړکوونکې (زلزلې) ونيول، نو په خپلو کورونو کي پر ګونډو پرېوتي شول.

(۳۶-۳۷)- د الله د لاري له مجاهدينو سره د مخالفتونو يوه بله بېلګه له شعيب عليه السلام سره د ده د قوم مخالفت دئ، هغه خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! ۱- د الله عبادت وکړئ، ۲- د آخرت ورځي ته طمع ولرئ، د هغو وګړو په څېر شئ چي د خپلو نېکو عملونو له امله د اخروي سعادت هيله لري او د هغو په څېر مه کېږئ چي د بدو عملونو له امله ئې په آخرت کي له نېك مستقبل طمع قطع شوې، ۳- په زمکي کي فساد کوونکي مه ګرځئ. خو هغوی تکذيب کړ او د دې تکذيب پايله دا وه چي سختې جړکوونکې زلزلې ونيول، او په خپلو کورونو کي پر ګونډو پرېوتي په مرګ محکوم شول.

وَعَادٗا وَثَمُودَاْ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمۡۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُواْ مُسۡتَبۡصِرِينَ ﴿٣٨﴾

او عاد او ثمود چي له هستوګنځيو ئې درته جوته شوې، او شيطان خپل عملونه ورته ښايسته کړل نو له لاري ئې واړول، په داسي حال کي چي سترګور ول.

(۳۸)- عاد او ثمود هم خپل پیغمبران تکذیب کړل، شیطان خپلې تګلارې ورته ښایسته کړې وې، له سمې لارې ئې واړول، دا هر څه ئې په داسې حال کې کول چې هم د خپلو غلطو کړنو د بدوالي شاهد ول او هم د خپلو پیغمبرانو په حقانیت پوهېدل.

وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانُواْ سَٰبِقِينَ ﴿٣٩﴾

او قارون، فرعون او هامان، چې موسی له څرګندو نښو سره ورغی، خو دوی په ځمکې کې د خپلې لویې لټه وکړه، په داسې حال کې چې وړاندې کېدونکي نه ول.

(۳۹)- د مصر دریو ځواکونو، قارون، فرعون او هامان، (چې یو ئې د شتمنو ممثل دئ، بل ئې د واکمنو او دریېم ئې د نظام د فکري او دیني حامیانو)، د موسی علیه السلام مخالفت وکړ، د ټولو د مخالفت او دښمنۍ وجه او موخه دا وه چې د موسی علیه السلام دعوت ئې د خپلې لویې لپاره ګواښ ګڼلو او غوښتل ئې خپله برلاسي، لویې او امتیازات خوندي وساتي. خو ومو لیدل چې په دې سیالۍ کې برلاسي نشول او مسابقه ئې ونه ګټله.

فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ أَغۡرَقۡنَاۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٤٠﴾

نو هر یو مو د خپلې ګناه له کبله ونیو، نو د دوی ځینې هغه ول چې تونده سیلۍ مو پرې ولېږله، ځینې ئې هغه چې لوړې چیغې ونیول، ځینې ئې هغه چې په ځمکې کې مو خسف کړل او ځینې ئې هغه چې غرق مو کړل، په داسې حال کې چې الله ظلم نه پرې کولو بلکې دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کولو.

(٤٠)- الله تعالی دا هر قوم د خپلې ګناه له کبله ونیو، پر ځینو ئې تونده ویجاړوونکې سیلۍ ولېږله چې هر څه ئې پر دوی رانسکور کړل، ځینې ئې له درنې چاودنې او هیبتناکې چیغې سره مخامخ کړل، ځینې ئې په ځمکې کې خسف او ښخ کړل او ځینې ئې په سمندر کې غرق کړل، دوی چې له کوم دردناك برخلیك سره مخ شوي په دې کې الله تعالی پر هغوی کوم ظلم نه دئ کړی بلکې دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کولو او داسې ظالمانه تګلاره ئې غوره کړې وه چې پایله ئې له دې پرته بل څه نه وو.

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾

د هغو خلكو چي له الله پرته نور مرستندويان نيسي مثال د هغي غڼي په څېر دئ چي ځان ته ئې كور ونيو، دا په داسي حال كي چي تر ټولو سست كور د غڼي كور دئ، كاش پوهېدی.

(٤١)- د دې مبارك آيت لاربنووني دا دي:

- **دلته هغه څوك له غڼي سره تشبيه شوی چي له الله تعالی پرته بل څه ته پناه وړي، د فرعون، قارون او هامان او د ګڼ شمېر نورو ځواكمنو قومونو د بدو پايلو له يادولو وروسته دا خبره كوي، دوی پر خپل زور، ځواك او ډېربنت مغرور شوي وو، نه پوهېدل چي دا ډېره كمزورې متكاء ده، داسي لكه د غڼي ځاله، د الله له عذابه او د حق په وړاندي له حتمي ماتي ئې نشي ژغورلی، تاريخ ته رجوع وكړئ او وګورئ چي د دوی او د دوی د زور، ځواك او ډېربنت پايله څه وه!!**
- **په دې مبارك آيت كي د (اتخذت) صيغه راغلې، چي د مؤنث صيغه ده او ښيي چي دا كور ښځينه غڼي جوړوي، او دا هغه خبره ده چي نن ئې محققين كوي، نه يوازي د قرآن د نزول په وخت كي هيڅوك په دې حقيقت نه پوهېدو بلكي تر نولسمي پېړۍ وړاندي څوك له دې حقيقته خبر نه وو، چا چي د غڼو د ژوند په اړه څېړني كړې دي ورته جوته شوې چي د ځالي د جوړولو دنده د ښځينه غڼي په غاړه وي!! نارينه ئې د ځالي په جوړولو كي هيڅ لاس نه لري. او دا يقيناً چي د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ.**
- **دې ته مو پام وي چي د غڼي ځاله يوازي د غڼي كور نه وي بلكي د ښكار دام هم وي، په همدې كي نور حشرات لكه مېږي، ماشي او موچان نښلي او دوی ئې خوري. ډېر نور ژوي هم داسي دي چي د ښكار دنده د ښځو په غاړه وي، د بېلګي په توګه د زمريانو نارينه په ځانګړې توګه هغه مهال چي ستر او درووند شي په ښكار كي برخه نه اخلي، ښځه ئې ښكار كوي او بيا ئې لومړی نارينه ځان پرې موړ كړي او وروسته ئې ښځه په خوراك پيل وكړي!!**
- **د ځالي په جوړولو كي چي الله تعالی غڼي ته كوم استعداد وركړی د ډېر حيرت وړ دئ، څومره منظمه ځاله جوړه كړي، د تارونو تر منځ ئې فاصله څومره دقيقه وي، يو ماهر او مسلكي انجنير ئې په آسانی او له پرمختللو وسائلو له استفادې پرته نشي جوړولی، هغه هم له داسي نازك تار څخه چي په خپله ئې توليدوي!!**
- **د يوويشتمي پېړۍ په لومړۍ لسيزي كي د جراحي ډاكټران په دې لټه كي شول چي د زخمونو د ګنډلو لپاره داسي تار ترلاسه كړي چي كه په زخم كي پاته شي نو كومه ستونزه راولاړه نشي، دوی چي له كومو مصنوعي تارونو استفاده كوله تر اوږدې مودې د بيمار په بدن كي د پاته كېدو په صورت كي به ئې ستونزې راولاړولې، له زياتو تجربو او تحقيقاتو وروسته دې نتيجې ته ورسېدل چي د غڼي له تار څني په دې اړه استفاده وكړي!! آيا عجيبه**

نه ده چي د الله تعالی یو وړوکی مخلوق داسي تار جوړولی شي چي د یوویشتمي پېړۍ انسان ئې له جوړولو عاجز دئ؟!!

إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٤٢﴾ وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾ خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٤﴾

یقیناً چي الله پوهېږي چي دوی له ده پرته کوم (د اعتناء وړ) شی نه وربلي، او دی باحکمته عزتمن دئ. او دا هغه مثالونه دي چي خلکو ته ئې بیانوي، دا په داسي حال کي چي له پوهانو پرته بل څوك نه پرې پوهېږي، الله آسمانونه او زمکه په سمه توگه پیدا کړي، یقیناً چي په دې کي د مؤمنانو لپاره څرگنده نښه ده.

(٤٢-٤٤)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- **~~الله تعالی ته د دوی د معبودانو ماهیت، د هغه څه ماهیت چي دوی مرسته ترې غواړي،~~ دوی پرې اتکاء کوي او دوی ئې مغرور کړي، ښه معلوم دئ، دا نه یوازي د غني د ځالي په څېر سست او کمزوري دي بلکي د الله په وړاندي او د حقیقت په تلي کي داسي دي لکه هیڅ، دا د دوی د وهم زېږنده موهومي شیان دي چي دوی ئې لمانځي، مرسته ترې غواړي او اتکاء پرې کوي، د هغه الله تعالی په وړاندي به د دغو مرستندویانو څه حیثیت وي چي عزیز او حکیم دئ؟! د دې آیت یو بل تعبیر هم شوی چي وایي: الله تعالی هر هغه څه پېژني چي دوی ئې وربلي، خو دا تعبیر کمزوری دئ، نه د آیت له الفاظو سره اړخ لگوي او نه د آیت له سیاق و سباق سره.**
- **دا هغه مثالونه دي چي الله تعالی ئې خلکو ته بیانوي، د دې مثالونو په حقیقت او معنی یوازي د پوهي او علم خاوندان پوهېږي.**
- **الله تعالی آسمانونه او زمکه په حق او سمه توگه پیدا کړي، دلته د باطل لپاره مجال، د پښو ځای، متکاء او مستمسك نشته، په آسمانونو او زمکي کي داسي څه نه موندل کېږي چي د باطل او باطلپالو مرسته وکړي.**
- **یقیناً چي په دې کي د مؤمنانو لپاره څرگنده نښه ده، هغوی باید پوه شي چي الله تعالی او د آسمانونو او زمکي هر څه د دوی تأیید او ملاتړ کوي د دوی مخالفین د الله تعالی او د آسمانونو او زمکي د هر څه له تأیید او ملاتړ محروم دي.**

ٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ

ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَصۡنَعُونَ ﴿٤٥﴾

د دې کتاب هغه برخه لوله چې تا ته ئې وحي شوې او لمونځ قائم کړه، يقيناً چې لمونځ د فحشاء او منکر مخنيوی کوي او د الله يادونه ډېره ستره ده، او الله په هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ.

(٤٥)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- رسول اللهﷺ او د ده له لاري مؤمنانو ته سپارښتنه شوې چې قرآن ولولي او لمونځ وکړي، يعني که تاسو د مخکنيو پيغمبرانو او مؤمنانو په څېر له آزموينو سره مخامخ يئ نو قرآن ته رجوع وکړئ، هغه ځان ته لارښود کړئ، د هغه په رڼا کي خپله لاره او خپل دريځ وټاکئ او په لمانځه سره دا سعادت ترلاسه کړئ چې له فحشاء او منکر خوندي پاتي شئ او د الله تعالی مرسته او تأييد مو په برخه شي، يقيناً چې لمونځ نه يوازي له هر سپك او کرکجن کار مخنيوی کوي بلکي ډېر نور ايجابي نتائج لري، دا ځکه چې د الله يادونه ډېره ستره او اغېز ئې ستر او پراخ دئ، دا لارښووني د هغه الله تعالی له لوري دي چې ستاسو د کړنو په څرنګوالي او پايلو ډېر ښه پوهېږي.

پدې مبارك آيت کي چې د لمانځه د اغېز په اړه څه ويل شوي خلاصه ئې دا ده:

لمونځ له هر هغه کرکجن فکر، وينا او فعل انسان منع کوي چې د سالم فطرت خاوند ترې کرکه لري او بل ئې له ده څخه نه خوښوي. د دې وجه کاملاً څرګنده ده، د هر انسان اخلاق او سلوك د ده له قبلې او هدف ځني رنګ اخلي، دا ستا د ژوند جهت او ستا د هلو ځلو مقصد او هدف دئ چې ستا د کړو وړو څرنګوالی ټاکي. ته په خپل لمانځه سره له شيطان سره چې د شر په لوري هڅوونکی دئ مقاطعه کوې، د ده له وسوسو الله ته پناه وړې، مخ خدای ته اړوې او شا شيطان ته، خود به له ټولو هغو بدو کارونو ډډه کوې چې شيطان ئې خوښوي او الله ورباندي ناراضه کيږي.

کوم لمونځ چې د فحشاء او منکر مخنيوی ونکړي هغه لمونځ لمونځ ندئ.

د لمانځه يوازي سلبي نتائج ندي چې فقط له کرکجن فکر، قول او عمل مانع شي، بلکي بې شمېره ايجابي اثرات او نتائج لري. دې مطلب ته د نوموړي آيت پدې برخې کي اشاره شوې:

وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُ: او د الله يادونه ډېره ستره ده. په تفسيرونو کي د دې فقرې لاندي تعبيرونه مومو:

دلته له ذکر څخه مراد لمونځ دئ، يعنی لمونځ تر دې هم ستر دئ چې يوازي له فحشاء او منکر مخنيوی وکړي، بلکي په انسان کي د لوړو لوړو اخلاقي ښېګڼو د پيدا کېدو باعث دئ.

ته په لمانځه کي د الله يادونه کوې او الله جل شأنه ستا يادونه کوي، خو د الله يادونه ډېره ستره او غوره ده، که ته ئې د زمکي په کوم ګوټ کي له ځان سره ياد کړې نو لوی الله جل شأنه دي پورته په آسمانونو کي يادوي، که ته ئې د انسانانو په کومي ټولني کي ياد کړې، نو الله جلت عظمته دي په ملاء اعلی کي، ستا تر ټولني په غوره ټولني کي يادوي، الله جل شأنه

فرمايي: فَاذْكُرُونی أَذْكُرْكُمْ : ما ياد كړئ چي ياد مو كړم.

• د لمانځه او د بل هر عبادت، اساسي او ترټولو مهم جزء د الله ذكر او يادونه ده، د عباداتو ظاهري حركات د جسد د غړو په شان او د الله يادونه د هغه د روح په څېر ده، كه كوم څه يو واقعي عبادت، له يوه بې مقصده حركت او يوه انساني عادت، تقليد يا شكلي مراسمو بېلوي نو هغه د الله ذكر دئ، الله ته مقبول عبادت يوازې هغه دئ چي محرك او هڅوونكی ئې د خدای ذكر وي. دا مطلب په يوه مبارك حديث كې ډېر ښكلي انځور شوی:

عَنْ أَبِی الدَّرْدَاءِ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ « أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ وَأَرْفَعِهَا فِی دَرَجَاتِكُمْ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ ». قَالُوا بَلَى. قَالَ « ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى ». الترمذی

له ابو درداء ﷺ روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل: آيا تاسو ته تر ټولو غوره عمل مو دروښيم، هغه چي ستاسو د رب په وړاندې تر ټولو پاكيزه او ستاسو په درجو كي تر ټولو لوړ، او د سرو سپينو زرو تر انفاق هم غوره وي، او تردې هم چي له دښمن سره په جګړې كي مخامخ شئ، هغه ستاسو غاړې او تاسو د دوی غاړې ووهئ؟ صحابه وو وويل: هو يا رسول الله! هغه وفرمايل: د الله جل شأنه ذكر.

خو دې ته مو بايد پام وي چي د دې معنی هيڅكله دا نه ده چي په يوې ګوښې كي ناسته او د الله د نامه ورد او ذكر تر دغو عملونو د مقام، منزلت، ارزښت او درجې له پلوه غوره دئ، شپېته كاله، د كعبې خوا ته داسي عبادت چي ورځ ئې په روژې او شپه ئې په لمانځه تېره كړې د سنګر له يوې ورځې سره برابري نشي كولی، معنی ئې دا ده چي د الله يادونه هر نېك عمل ته ارزښت وركوي، ستا جهاد او د سرو او سپينو زرو انفاق هغه مهال ارزښت لري چي باعث ئې پر الله تعالی ايمان او د هغه يادونه وي، ستا جهاد هغه مهال تر ټولو عباداتو لوړ دئ چي په سنګر كي دې زړه د الله په نامه ډاډه وي او هدف دې د الله دين قائمول وي.

• د الله ذكر يوازې په پنځه وخته لمانځه كي مه محدودوئ، د الله جل شأنه د ذكر لمن پراخه او ستره ونيسئ، هر وخت په هر مناسب حالت كي هغه ياد كړئ، ستاسو ژبه بايد تل د الله په ذكر لمده وي.

لكه څنګه چي د انسان د ټولو ښېګڼو اصلي محرك فقط په الله ايمان دئ، همداراز د ټولو بديو، فساد او ظلم اصلي عامل ئې په خدای ايمان نه درلودل دي، څوك چي په خدای او آخرت ايمان نه لري، ولي بايد خپل شهوات او د نفس غوښتني مهاركړي، ولي بايد د ځان په ګټه د بل حق غصب نكړي، ولي بايد له هغې ګناه او خيانت چي كولی ئې شي ډډه وكړي؟!!

د همدې لپاره ته د ورځې په پنځه وخته لمانځه مكلف شوی يې چي تل دې خدای په ياد وي او له هغه سره ستا دائمي تړاو او ربط، تا له هري ګناه منع او هري ښېګڼي ته وهڅوي.

هغه به څوك وي چي دا خبره ونه مني چي په انسان كي د بدي او ګناه په لوري يو داسي هڅوونكی ځواك شته چي هغه ته وايي: په خپل حق قناعت پرېږده، په خپل حلال رزق اكتفاء ناپوهي ده، د خپلو غرايزو د اشباع يوازې جايز او مشروع لاري ترك كړه، نفس دې چاغ او څورب كړه، ټولو غوښتنو ته ئې ځواب ووايه، په بل خپله لوبي ومنه، نور دي ستا د خوښی لپاره قربان شي، ټول غوره، خوندور، نفيس، ښكلي، ښايسته، ګران او ګټور شيان بايد ستا وي،

كه خوراك دئ، كه څښاك دئ، كه كور، جامه، ښځه، موټر، منصب، او مقام دي، له هري لاري چي ممكن وي، بايد دې ته ځان ورسوي، دا حريص، گناه ته هڅوونكى او د بل په حق تېري ته پاروونكى ځواك، په الله او آخرت له ايمان پرته په بل هيڅ څه نشي مهاركېدى.

كه ته نه يوازي دا چي په خپل حلال رزق اكتفاء كوې بلكي د خپل لاس په تناكو گټلى مال د كوم مظلوم د لاس نيوي او مرستي په لار كي يا د كوم ستر او مقدس هدف د تحقق لپاره قرباني كوې، آيا په الله جل شأنه له ايمان پرته د دې لپاره كوم بل عامل او باعث موندلى شې. په انسان كي د اخلاقي ښېگڼو، غوره انساني صفاتو، ښه خويونو او په بل د ترحم او عاطفې ونه له هغه زړه خړوبه كېږي چي د الله په ياد خوځېږي، د الله له ذكر خالي زړه د رجيم شيطان ځاله شي چي له هغه ځايه د انسان ټول احساسات د شر، فساد او گناه خوا ته هڅول كېږي.

وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡۖ وَقُولُوٓاْ
ءَامَنَّا بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَأُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمۡ وَٰحِدٞ وَنَحۡنُ لَهُۥ
مُسۡلِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَۚ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ
يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ وَمِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلۡكَٰفِرُونَ


او له اهل كتاب سره له دې پرته چي تر ټولو غوره وي په بله توگه مجادله مه كوئ، مگر د دوى له هغو سره چي ظلم ئې كړى، او ووايئ: پر هغه څه مو ايمان راوړى چي موږ ته نازل شوى او تاسو ته نازل شوى، او زموږ معبود او ستاسو معبود يو دئ او موږ ورته تسليم يو، او همداسي مو دا كتاب پر تا نازل كړى، نو هغه چي كتاب مو وركړى ايمان پرې راوړي، او د دغو خلكو ځيني داسي دي چي ايمان پرې راوړي، او زموږ له آيتونو يوازي كافران انكار كوي.

(٤٦-٤٧)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- **له اهل كتاب سره بايد ستاسو مجادله او مناقشه په داسي توگه وي چي تر ټولو غوره وي، په استثناء د هغو چي ظلم ئې كړى، يعني شرك ئې كړى يا ستاسو په ضد ئې د زور زياتي او ظلم لار غوره كړې.**
- **دوى ته بايد ووايئ: موږ هم پر هغه قرآن ايمان راوړى چي زموږ لوري ته لېږل شوى او پر هغه كتاب هم ايمان لرو چي ستاسو لوري ته نازل شوى، زموږ معبود او ستاسو معبود يو دئ او موږ ورته تسليم يو.**

- **که غواړئ په دې پوه شئ چې له اهل کتاب سره د غوره مناقشې او مجادلې اسلوب به څنګه وي، نو قرآن چې د دوی په اړه کوم اسلوب غوره کړی او په کومه طریقه هغوی ته خطاب کوي، همدا تر ټولو غوره اسلوب دئ، په قرآن کې دا حکیمانه اسلوب مراعات شوی.**
- **څوك چې په حقیقي معنی اهل کتاب وي هغه به حتماً پر قرآن ایمان راوړي، ځکه هغوی پوهیږي چې قرآن همغه څه وايي چې په تورات او انجیل کې هم راغلي.**
- **د عربو له مشرکینو به هم ځیني ایمان پرې راوړي.**
- **د الهي کتاب له څرګندو آیتونو یوازې هغه څوك انکار کوي چې (کافر) وي، یعني حق پټوي او پر حقائقو پرده اچوي.**

وَمَا كُنتَ تَتْلُوا۟ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ ۖ إِذًا لَّٱرْتَابَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٤٨﴾ بَلْ هُوَ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ فِى صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ ۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٩﴾

او ته داسې نه وې چې تر دې وړاندې دې کوم کتاب لوستو او نه دې هغه په خپل ښي لاس لیکلو، په هغه صورت کې به باطلپال په شك کې پرېوتي ول، بلکې دا د هغو په سینو کې د څرګندو آیتونو مجموعه ده چې علم ورکړی شوی، او زما له آیتونو یوازې ظالمان انکار کوي.

(٤٨-٤٩)- دلته رسول الله صلی الله ته ویل شوي چې ته تر دې وړاندې په لیك لوست نه پوهیدې، که په لیك لوست پوهیدی نو د باطل پلویان به په شك کې لوېدلي وو او دا ادعاء به ئې کوله چې دا قرآن تا په خپله لیکلی، خو ستا د ټولنې فرد فرد ته معلومه ده چې تا نه تر دې وړاندې کوم کتاب لوستی او نه دې په خپل لاس کوم لیك لیکلی، خو سره له دې دې داسې کتاب وړاندې کړی چې نه له علمي پلوه د نړی کوم دیني یا غیر دیني کتاب له هغه سره سیالي کولی شي او نه له ادبي پلوه، د علم او پوهې خاوندان دا کتاب له څرګندو نښو، واضح لارښوونو او معجزو ډك کتاب ګڼي او له همدې کبله پر تا د یوه پیغمبر په توګه او پر دې کتاب د یوه الهي کتاب په توګه ایمان راوړي. یوازې هغه څوك به له دې حقیقت انکار کوي چې ډېر ظالم وي. یعني نه د حقیقي علم خاوند له دې قرآن انکار کولی شي او نه د انصاف خاوند، یوازې ناپوه او په خپلو قضاوتونو کې ډېر ظالم انسان به قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی کتاب نه ګڼي او له څرګندو آیتونو به ئې انکار کوي.

ځینو درنو مفسرینو د ٤٩ آیت لومړی فقره (بَلْ هُوَ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ فِى صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ) داسې ژباړلې: بلکې دی (محمد علیه السلام) د هغو خلکو په سینو کې د څرګندو

آيتونو مجموعه دئ چي علم ورکړی شوی!! خو دا تعبير د آيت له سياق و سباق سره اړخ نه لګوي. غوره او دقيق تعبير دا دئ چي په (هو) سره قرآن ته اشاره شوې، قرآن د معجزو او څرګندو آيتونو مجموعه دئ او همدا قرآن د رسول اللهﷺ د رسالت د اثبات لپاره تر ټولو ستره معجزه. يعني يوازي دا نه چي تا په داسي حال کي دوی ته يو کتاب وړاندي کړی چي په ليك لوست نه پوهېدې بلکي داسي کتاب دي وړاندي کړی چي د علم خاوندان ئې له معجزو او څرګندو نښو ډك کتاب مومي.

ځينو نورو د دې څرګند او صريح آيت په خلاف دا هڅه کړې چي ثابته کړي رسول اللهﷺ په ليك لوست پوهېدو، دا په داسي حال کي چي نه يوازي دا آيت بلکي د قرآن نور آيتونه هم د دې شهادت ورکوي چي رسول اللهﷺ امي وو او په ليك لوست نه پوهېدو، او همدا د ده د رسالت د اثبات يوه بله ستره نښه ګڼي. عجيبه ده چي ځيني چي په ړانده تعصب اخته دي او په هيڅ توګه نه ترې تېرېږي، دا څرګند آيتونه له پامه غورځوي او د دې په مقابل کي د بخاري يوه غريب او کمزوري روايت ته ترجيح ورکوي. راشئ وګورو چي د بخاري دا روايت څومره وزن لري او د اعتناء او اعتبار وړ ګڼل کېدی شي. روايت دا دئ:

عن الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رسول قَالَ لَمَّا صَالَحَ رَسُولُ اللَّهِﷺ أَهْلَ الْحُدَيْبِيَةِ كَتَبَ عَلِىٌّ بَيْنَهُمْ كِتَابًا فَكَتَبَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِﷺ. فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لاَ تَكْتُبْ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، لَوْ كُنْتَ رَسُولاً لَمْ نُقَاتِلْكَ . فَقَالَ لِعَلِىٍّ « امْحُهُ » . فَقَالَ عَلِىٌّ مَا أَنَا بِالَّذِى أَمْحَاهُ . فَمَحَاهُ رَسُولُ اللَّهِﷺ بِيَدِهِ ، وَصَالَحَهُمْ عَلَى أَنْ يَدْخُلَ هُوَ وَأَصْحَابُهُ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ ، وَلاَ يَدْخُلُوهَا إِلاَّ بِجُلُبَّانِ السِّلاَحِ، فَسَأَلُوهُ مَا جُلُبَّانُ السِّلاَحِ فَقَالَ الْقِرَابُ بِمَا فِيهِ . البخاري

له البراء بن عازب رسول روايت دئ چي وايي: کله چي رسول اللهﷺ له حديبيه والو سره مصالحه وکړه نو علي ﷜ د دوی تر منځ (د معاهدې سند) وليکلو، په هغه کي ئې محمد رسول اللهﷺ وليکل، نو قريشو وويل: محمد رسول الله مه ليکه، که ته کوم پيغمبر وی نو موږ به نه وو درسره جنګېدلي، نو علي ﷜ ته ئې وويل: حذف ئې کړه، علي ﷜ وويل: زه ئې حذفوونکی نه يم، نو رسول اللهﷺ په خپل لاس هغه حذف کړ، بيا ئې پر دې ورسره روغه جوړه وکړه چي دی او ياران به ئې د دريو ورځو لپاره (مکې) ته ننوځي، او نه به ننوځي مګر داسي چي د وسلې له جلبان سره به وي، پوښتنه ترې وشوه چي د وسلې جلبان څه دي؟ وئې ويل: تېکي او څه چي په هغه کي وي (يعني توري له تېکو سره).

دا روايت چي په بخاري کي شپږ ځلي نور هم په دغو شمېرو ۱۷۸۱، ۱۸٤٤، ۲٦۹۹، ۲۷۰۰، ۳۱۸٤، ٤۲٥۱ . راغلی، د سند له مخي مطلق غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي لري، د متن له مخي څو ستونزي لري: لومړۍ ستونزه ئې دا ده چي د روايت له الفاظو داسي معلومېږي لکه چي قريشو رسول اللهﷺ ته په همدې سفر کي مکې ته د ننوتلو او عمرې اجازه ورکړې وي حال دا چي په معاهده کي راغلي وو چي په راتلونکي کال کي به د عمرې لپاره راځي، بله ستونزه ئې دا ده چي د مصالحي بل لوری د حديبيه والو په نامه ياد شوي، حال دا چي دوی مکه وال وو نه حديبيه وال، ستره ستونزه ئې دا ده چي د بخاري له نورو رواياتو سره جدي توپيرونه لري، توپيرونه دا دي: په يوه کي لَمَّا صَالَحَ رَسُولُ اللَّهِﷺ أَهْلَ

الْحُدَيْبِيَةِ كَتَبَ عَلِيٌّ بَيْنَهُمْ كِتَابًا فَكَتَبَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ راغلي خو په بل کي **فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ، په بل کي صَالَحَ النَّبِيُّ ﷺ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلاَثَةِ أَشْيَاءَ په بل کي فَأَخَذَ يَكْتُبُ الشَّرْطَ بَيْنَهُمْ عَلِيُّ بْنُ أَبِى طَالِبٍ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ او په بل کي فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا ، هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ راغلي، په يوه کي فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لاَ تَكْتُبْ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ ، لَوْ كُنْتَ رَسُولاً لَمْ نُقَاتِلْكَ** په بل کي **فَقَالُوا لاَ نُقِرُّ بِهَا ، فَلَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ مَا مَنَعْنَاكَ لَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ** په بل کي **فَقَالُوا لَوْ عَلِمْنَا أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ لَمْ نَمْنَعْكَ وَلَبَايَعْنَاكَ** په بل کي **قَالُوا لاَ نُقِرُّ بِهَذَا ، لَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ مَا مَنَعْنَاكَ شَيْئًا ، وَلَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ په يوه کي فَقَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُهُ »، فَقَالَ عَلِيٌّ مَا أَنَا بِالَّذِى أَمْحَاهُ . فَمَحَاهُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِيَدِهِ په بل کي ثُمَّ قَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُ رَسُولُ اللَّهِ » . قَالَ لاَ ، وَاللَّهِ لاَ أَمْحُوكَ أَبَدًا ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الْكِتَابَ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، په بل کي فَقَالَ لِعَلِيٍّ «امْحُ رَسُولَ اللَّهِ » . فَقَالَ عَلِيٌّ وَاللَّهِ لاَ أَمْحَاهُ أَبَدًا . قَالَ « فَأَرِنِيهِ » . قَالَ فَأَرَاهُ إِيَّاهُ ، فَمَحَاهُ النَّبِيُّ ﷺ بِيَدِهِ، په بل کي ثُمَّ قَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُ رَسُولَ اللَّهِ » . قَالَ عَلِيٌّ لاَ وَاللَّهِ لاَ أَمْحُوكَ أَبَدًا . فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الْكِتَابَ ، وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ راغلي. دا دئ گورئ چي په بخاري کي د يوې پېښي په ارتباط اوه روايات راغلي چي تر منځ ئې دومره توپيرونه دي چي له ځينو داسي برېښي لکه چي رسول الله ﷺ يو تکړه ليکوال وو، نه يوازي دا چي د معاهدې له متنه ئې د رسول الله ﷺ برخه حذف کړې بلکي بيا ئې خپل نوم ليکلی او د معاهدې متن ئې بشپړ کړی، او له ځينو ئې داسي برېښي لکه چي يوازي دا الفاظ ئې حذف کړي او هغه هم علي جل‌جلاله يا بل چا ورښودلي!! آيا صحيح ده چي په داسي کمزوري روايت استناد وشي او هغه خبره ترې راووځي چي د قرآن له ګڼ شمير واضح آيتونو سره تعارض لري؟!! مستشرقين په همداسي کمزورو رواياتو د خپلو دروغجنو ادعاګانو د اثبات لپاره استناد کوي او وايي چي رسول الله ﷺ په ليك لوست پوهېدو او د قرآن مطالب ئې له مخکنيو کتابونو اقتباس کړي!! عجيبه ده چي زموږ ځيني په خپله د دوی تبر ته لاستي برابروي او د بې علمو خلکو د غولولو مجال په لاس ورکوي!!**

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠
نَذِيرٞ مُّبِينٌ ۝٥٠ أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ
فِي ذَٰلِكَ لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ۝٥١

او وئې ويل: ولي د ده د رب له لوري ښکاره نښي نه دي پرې نازلي شوې؟ ووايه: يقيناً چي نښي خو له الله سره دي، او زه يوازي يو ښکاره نذير يم، آيا دا ورته کفايت نه کوي چي موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چي پر دوی لوستل کېږي، يقيناً چي په دې کي د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

(۵۰-۵۱)- چا چې له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي، نه په دلائلو قانع کېږي او نه په معجزو، دا دئ ګورئ چې د قريشو په وړاندې د رسول اللهﷺ په څېر ستر شخصيت ولاړ دئ، د الله تعالی لوري ته بلنه ورکوي، د قرآن په څېر له معجزو ډك كتاب ورته وړاندې شوی، خو هغوی نه يوازې له ايمان راوړو ډډه كوي بلكې د داسې خارق العاده معجزو غوښتنه كوي چې شيطان ئې پرې قانع شي، وايي: ولې د ده د رب له لوري څرګندې نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ الله تعالی د دوی په ځواب كې رسول اللهﷺ ته لارښوونه كوي چې ورته ووايي: يقيناً چې نښې خو له الله سره دي، او زه يوازې يو څرګند نذير يم، له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د ښودلو واك، زه فقط يو نذير يم چې د كفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو تاسو ته خبرداری دركوم. د دوی د غلطي غوښتنې په ځواب كې فرمايي: آيا د دوی د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډك كتاب چې ته ئې پرې لولې كفايت نه كوي؟!! يقيناً چې په دې كې د ايمان راوړونكو وګړو لپاره حتماً (رحمت) او (ذكر) دئ، هغه چې د ايمان راوړو استعداد او وړتيا ئې نه ده ځپل شوې هغوی به هرومرو دا كتاب د الله تعالی يوه لويه پېرزوينه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

يعني په چا كې چې د ايمان راوړولو استعداد وي هغه ته دا كتاب په خپله د معجزې او دليل په توګه كافي دئ، تر دې لويه او ستره معجزه نشته. كه څوك لږ له شفاف ذهن سره او د حق موندلو له تلوسې او تندې سره قرآن ته رجوع وكړي نو يقيناً چې د قرآن هره وينا به د دې عالم او د عالم د هر څه په اړه هومره علمي او دقيقه ومومي چې ورته ثابتوي دا كتاب هغه چا نازل كړی چې د دې ټول عالم او د عالم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا كتاب د هغه چا له لوري راغلی چې علم ئې په زمان او مكان پورې محدود نه دئ، هيڅ شی او حقيقت ئې ترې پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندې داسې حجاب نشته چې د يوه شي په حقيقت د پوهېدو مانع شي، موږ په دې كتاب كې ګورو چې د هر څه په باب ئې هره وينا او قضاوت دقيق او صحيح دئ، دا دقيق او سل په سلو كې صحيح او علمي قضاوتونه او پرېكړې موږ ته ثابتوي چې د دې كتاب لېږونكی د هر څه په اړه جامع او كامل علم لري، له دې ناحيې قرآن معجزه ده او د پيغمبر عليه السلام په حقانيت شهادت وركوي.

په قرآن كې دې ته ورته آيتونه ډېر زيات دي چې ثابتوي دا كتاب د داسې عليم او پوه ذات له لوري لېږل شوی چې د عالم په ټولو اسرارو پوه دئ. ما د قرآن نږدې دوه سوه هغه آيتونه د (ساينس او د قرآن علمي اعجاز) په كتاب كې څېړلي چې د عالم د اسرارو په اړه بحث كوي او هغه حقائق ئې توضيح كړي چې ساينس او ساينس پوهان په ډېر زحمت او تكليف سره او له ډېر اوږد مزل وروسته پرې پوه شوي. پوښتنه دا ده چې د دې كتاب حامل څنګه په هغو اسرارو پوه شو چې نور انسانان څوارلس سوه كاله وروسته پرې پوهېږي او هغه هم د ډېرو دقيقو، پېچلو، پرمخ تللو او مدرنو وسائلو په مرسته، په هغه صحرايي ټولنې كې چې د باسوادو او په ليك لوست پوهو كسانو شمېر ئې لسو ته نه رسېدو!! پيغمبر عليه السلام د عالم د مختلفو برخو په اړه دومره دقيق معلومات له كومې منبع ترلاسه كړل، هغه معلومات چې د نړۍ ستر ستر علماء او ساينس پوهان نن پرې پوهېږي او ايمان راوړي؟ دا ولې د غرب معروف شخصيتونه او نوميالي علماء له دې امله په دې كتاب ايمان راوړي چې ګوري د ساينس دقيقي څېړنې او علمي لاسته

راوړني همغه خبره کوي چي په قرآن او د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کي ځوارلس پيړۍ مخکي ويل شوې، دې نتيجي ته رسيږي چي د اسلام په حقانيت ايمان راوړي او ووايي: انسان باور نشي کولی چي د قرآن دا دقيقي او علمي ويناوي دي د يوه داسي انسان شخصي نظريات وي چي په ځوارلس سوه کاله مخکي محيط او اجتماع کي ئې ژوند کولو. قرآن د خپلو علمي او دقيقو ويناوو له پلوه داسي ستره معجزه ده چي د يوه عاقل او منصف انسان د اقناع لپاره کفايت کوي.

قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ۖ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ وَكَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٥٢﴾

ووايه: زما او ستاسو ترمنځ الله د شاهد په توګه کافي دئ، په هر هغه څه پوهيږي چي په آسمانونو او زمکي کي دي، او هغه چي په باطل ئې ايمان راوړی او د الله په اړه ئې کفر کړی همدا دوی زيانمن دي.

(٥٢)- په دې مبارك آيت کي رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چي د دوی په ځواب کي ووايي: زما او ستاسو ترمنځ الله د شاهد په توګه کافي دئ، الله په هر هغه څه پوهيږي چي په آسمانونو او زمکي کي دي، زما په حال هم پوه دئ او ستاسو په حال هم، ځوك چي د باطل پلوي کوي او د باور او ايمان بنسټ ئې باطل خيالات او اوهام دي او د الله تعالی په اړه ئې کفر کړی همدا دوی زيانمن دي، چي هم خپله دنيا تباه کوي او هم آخرت.

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ ۚ وَلَوْلَآ أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٣﴾ يَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٤﴾ يَوْمَ يَغْشَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٥﴾

او په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي، او که ټاکلې نېټه نه وی نو حتماً به دا عذاب ورته راغلی وو، او حتماً به په داسي حال کي ناڅاپي ورباندي راشي چي دوی به بې خبره وي، په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي په داسي حال کي چي جهنم حتماً پر دغو کافرانو راتاوېدونکی دئ، هغه ورځ چي عذاب به دوی له بره ئې او د پښو له لاندي ئې وپوښي، او وبه وايي: هغه څه وڅکئ چي تاسو کول.

(۵۳-۵۵)- دلته يو ځل بيا او په مکرره توګه د کافرانو هغې مطالبې ته ګوته نيول شوې چې دلائلو ته د اعتناء پر ځای ئي رسول اللهﷺ او ټولو پيغمبرانو ته ويلې: که ته په رښتيا د الله رسول يې او ستا دا ګواښونه حقيقت لري چې الله تعالی زموږ باورونه او عملونه نه خوښوي او موږ د الهي عذاب وړ يو نو دا عذاب ولې پر موږ نه نازلېږي؟!! په دې اړه ويل شوي: دوی په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي، که د الله تعالی له لوري هغه ټاکلې نېټه نه وی چې هر چا ته مهلت ورکوي او د مهلت په پای کې محاسبه ورسره کوي نو حتماً به دا عذاب ورته راغلی وو، او دا عذاب به حتماً او په داسې حال کې ناڅاپي ورباندې راشي چې دوی به په بشپړه توګه بې خبره او غافل وي، په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي په داسې حال کې چې جهنم حتماً پر دغو کافرانو راتاوېدونکی دئ، هغه ورځ چې عذاب به هم د دوی له بره پرې راتاو وي او هم د پښو له لاندې ئې، او دوی ته به وويل شي: هغه څه وڅکئ چې تاسو کول. ستاسو عملونو نن د اور په بڼې کې داسې پر تاسو خپل وزر غوړولی لکه چې په دنيا کې پر تاسو محيط ول، هلته ئې فسادونه او مصيبتونه زېږول او نور ئې ځورول، نن پر تاسو راتاو دي، نو د خپلو عملونو خوند وڅکئ. خو دا خبره به د چا له لوري ورته ويل کېږي، د الله تعالی له لوري، که د فرشتو، که د دوزخ او که په خپله د دغه عذاب له لوري چې پر دوی به راتاو وي؟ که څه هم د دې ټولو احتمال شته، خو د آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې همدا عذاب به دوی ته دا خبره کوي، د قرآن له نورو آيتونو هم معلومېږي چې دوزخ به دوزخيانو ته دې ته ورته ويناوې کوي.

يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٞ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ
ٱلۡمَوۡتِۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم
مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٥٨﴾
ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾

اې زما هغو بندګانو چې ايمان ئې راوړی! زما زمکه پراخه ده، نو يوازې زما عبادت وکړئ، هر نفس د مرګ (د خوند) څکونکی دئ، بيا زما لوري ته راګرځول کېږئ، او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ هرومرو به ئې د جنت په داسې دنګو دنګو ماڼيو کې مېشت کړو چې ترې لاندې ويالې بهېږي، تلپاتې په هغه کې، څومره غوره دئ د دغو عمل کوونکو اجر، هغه چې صبر ئې وکړ او پر خپل رب توکل کوي.

(۵۶-۵۹)- په دې مبارکو آيتونو کې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې:

- **اې د الله مؤمنو بندګانو! که په خپل ټاټوبي کې له مخالفتونو سره مخ شوئ، دلته په دې نه توانېدئ چې په ډاډه زړه او همغسې د خپل رب بندګي وکړئ چې ستاسو ايمان ئې غواړي،**

نو د الله زمكه پراخه ده، بلي داسي سيمي ته ولاړ شئ چي له الله تعالى پرته د بل عبادت ته اړ نه وئ.

- له مرګه مه وېرېږئ، هر نفس په خپل خپل وخت د مرګ خوند څكي، نه ستاسو تدبير د مرګ مخنيوى كولى شي او نه دښمن ته تسليمېدا او د ذلت او سپكاوي منل، نو ولي به د مرګ له وېري د خپل رب له بندګى لاس اخلئ.
- دا مرګ خو تاسو د خپل رب په لوري بيايي، او په هر صورت كي مو ورتګ د الله تعالى لوري ته دئ، نو آيا له دې سره سره له مرګه وېرېدا او د مرګ له وېري د خپل رب له لمانځني ترشا كېدا څه توجيه لري؟!!
- چا چي ايمان راوړى او نېك عملونه ئي كړي؛ الله تعالى به ئي هرومرو د جنت په داسي دنګو ماڼيو كي مېشت كړي چي ترې لاندي ويالي بهېږي، تلپاتي په هغه كي، څومره غوره دئ د دغو عمل كوونكو اجر!! يعني كه ته د الله تعالى په لار كي خپل وطن پرېږدې نو الله تعالى به ئي په بدل كي جنت دركړي، كه ته خپل كور له لاسه وركړې نو الله تعالى به د هغه په بدل كي د جنت دنګي ماڼى دركړي، كه ته د دنيا لنډ او له كړاوونو ډك ژوند له لاسه وركړې نو الله تعالى به ئي په بدل كي د جنت تلپاتى ژوند درپه برخه كړي.
- نو اوس ته په خپله قضاوت وكړه چي د دغو عمل كوونكو اجر څومره غوره دئ!!
- خو دا اجر به هغه عمل كوونكي ترلاسه كوي چي صبر ئي وكړ او پر خپل رب توكل كوي. دا نېك اجر او غوره بدله د هغو (عمل كوونكو) په برخه كېږي چي د ايمان او صالح عمل تر څنګ دوې نورې ځانګړتياوي هم ولري: ۱- صبر ولري، په نيمايي لار كي بې حوصلي او بې صبره نشي، كله چي له ستونزو او كړاوونو سره مخامخ شي نادم او پښېمانه نشي، شكوه او شكايت ونه كړي، بلكي صبر كوي او وړاندي درومي، ۲- پر خپل رب توكل كوي، الله تعالى ځان ته كافي ګڼي، د خپل نېك عمل له نتائجو او پايلو ډاډه او مطمئن وي، نتائج الله ته حواله كوي. دا مبارك آيت كه له يوې خوا موږ ته د (صبر) او (توكل) اهميت او ارزښت واضح كوي له بلي خوا ئي حقيقي معنى زموږ مخي ته ږدي او وايي: (صبر) او (توكل) د مؤمنو عمل كوونكو صفات او ځانګړتياوي دي، د بې عملو صفات نه دي، متأسفانه ځيني هم (صبر) غلط تعبيروي او هم (توكل)، دوى دې ته د صبر نوم وركوي چي څوك په ذلت او سپكاوي كي راضي وي، نه د اعتراض جسارت كوي او نه له كړاوونو سره د مقابلي عزم، او متوكل هغه بې عمله كس ګڼي چي عمل نه كوي، خپل مسئوليت نه ترسره كوي، خپل وجائب نه اداء كوي او صرف په خوله وايي چي په الله مي توكل دئ.

خو د قرآن له نظره صبر او توكل د عمل كوونكو مواصفات دي، توكل دې ته وايي چي ته خپله وجيبه او مسئوليت ترسره كوې، له نتائجو ډاډه او مطمئن يې، هغه الله تعالى ته حواله كوې او الله جل شأنه د وكيل په توګه نيسې. توكل داسي وګڼئ: الله تعالى مسلمانان په دې مكلف كړي چي كه د دښمن شمېر تر دوى دوه ځلي زيات وي، مقابله به ئي كوي، دښمن ته به شا نه اړوي او له ميدانه به نه تښتي، كه ته د دغه الهي حكم مطابق د يوه داسي ځواكمن دښمن مخي ته ودرېږې او مقابلي ته ئي ملاتړې چي ستا دوه برابره دئ، د ښتي د پايلو په اړه هيڅ انديښنه نه لرې، نتائج خپل رب ته حواله كوې او په ډاډه او مطمئن زړه د دښمن مقابله كوې،

دې ته توکل وايي. ته ځکه د داسې دښمن مقابلې ته ملا تړې چې د الله تعالی په دې وینا دې باور دئ چې فرمايي: که څه هم د کافرانو شمېر، ستاسو په نسبت لس چنده وي، تاسو به غالب ياست، ته په دې باور لرې، د لس چنده لښکر سره مخامخ يې، د هغه مقابله کوې او له خپلې بريا او فتح ډاډه او مطمئن يې، د توکل حقيقي معنی همدا ده. يعني توکل د بې عملو صفت نه دئ؛ بلکې د عمل کوونکو صفت دئ.

په دې آيتونو کې خطاب هغو کسانو ته متوجه دئ چې وېرې اخيستي او ګمان کوي چې که له وطنه د هجرت هڅه وکړي ښايي د دښمن له لوري به ووژل شي، هر څه به ترې پاته کېږي، نو د رزق او روزي انتظام به ئې څنګه کېږي؟ د دوی د دغو اندېښنو په ځواب کې ويل شوي چې هر نفس د مرګ څکونکی دئ، هرو مرو او په هر صورت کې به انسان مري، کوم ذي نفس او ذيروح دئ چې هغه به يوه ورځ د مرګ خوند نه څکي؟ چې انسان په هر صورت کې مري نو ولې د يوه ستر او لوړ مقصد په لار کې ونه مري، په ځای د دې چې هسې مري او د هيڅ لپاره مري، ولې د الله په لار کې ونه مري؟ په دې دليل هم له مرګه وېره نه ده په کار چې ستا مسير د الله جل شأنه په لوري دئ، په مرګ سره د خپل رب خوا ته بېرته ګرځې، هغه الله چې ته ئې عبادت کوې، هغه چې ستا د ژوند مطلوب او مقصود دئ، هغه ستا معبود دئ، د مرګ په نتيجه کې د هغه طرف ته درومې. مرګ د ژوند پای نه دئ چې له هغه ووېرېږې، بلکې مرګ د نوي ژوندون پيل دئ، مرګ له يوې نړۍ بلې ته د تګ ذريعه ده، مرګ تا خپل هدف ته رسوي، تا خپل مطلب ته رسوي، نو د څه لپاره بايد له مرګه ووېرېږې؟ له دې کبله هم له مرګه وېره نه ده په کار چې چا ايمان راوړی او صالح عملونه ئې کړي او په دې لار کې له ستونزو سره مخامخ شوي او يا په مرګ محکوم شوي که هغه په دې لار کې د ختو کور له لاسه ورکوي، د دې په بدل کې به د جنت ستري، ستري او دنګې، دنګې بنګلې تر لاسه کوي، چې د ونو او قصرونو لاندې به ئې ويالې بهېږي، که دنيا له لاسه ورکړي، په بدل کې ئې جنت ورکوي او په هغه کې داسې قصرونه چې ترې لاندې به ئې ويالې بهېږي، که د څو شپو ورځو محدود ژوند له لاسه ورکوي، د دې په عوض کې الله جل شأنه د جنت ابدي، دائمي او تلپاتې ژوند ورکوي. د دنيا د ژوند په مقابل کې د جنت ژوند، د ختو د کورونو په مقابل کې د جنت قصرونه او د دنيا په مقابل کې جنت، دا خو هغه شيان دي چې ته ئې پېژنې، خو لدې آخوا چې کوم څه په جنت کې انسان ته مهيا شوي، سترګو نه دي ليدلي، انسان د هغه خوند او ذائقه په خپل ژوند کې نه ده څکلې، داسې خوندوري او په زړه پورې منظرې او غږونه چې د چا په ذهن کې ئې خطور نه دئ کړی او د انسان له تصور او وهم ډېر لوړ او اوچت دي، نو په داسې حال کې چې ته هر څه له لاسه ورکوې، الله جل شأنه تر هغه غوره په عوض کې درکوي، ولې بايد له مرګه ووېرېږې؟ معقوله نه ده چې انسان دې په آخرت ايمان ولري او هغه دې له مرګه ووېرېږي.

په آخرت د ايمان بله تقاضا دا ده چې انسان به هيڅکله د خپلو کړو وړو او هلو ځلو د نتائجو په اړه تشويش نلري، په دې به ئې کلك باور وي چې د خپلو هلو ځلو نتايج حتماً او په هر صورت کې ترلاسه کوي، که احياناً په دنيا کې ترې محروم شو نو په آخرت کې به ئې په بشپړه توګه ترلاسه کوي، له همدې کبله هغه هيڅکله نه مأيوس کېږي، په داسې حال کې چې ته په دې باور لرې او مطمئن يې چې د خپلو ټولو کړو وړو مکمل اجر به پرته له کموالي او ضياع، څو

ځو برابره تر لاسه کوي او ستا اجر د الله تعالی په خوا کي خوندي او محفوظ دئ، هيڅوك ئي نشي ضايع کولی او هيڅوك ئي نشي کمولی، دا باور په خپله د دې باعث شي چي انسان په هيڅ صورت کي مأيوس نشي، تر سختو سخت حالت کي مطمئن او ډاډه وي، ځکه هغه د خپل عمل له نتيجې مطمئن وي، انسان په هغه صورت کي مأيوس کېږي چي گمان وکړي عملونه ئي بې نتيجې پاته شول، د هغه هڅي حبط او ضايع شوې، خو چي انسان په دې ډاډه او مطمئن وي چي د خپلو عملونو او هلو ځلو اجر حتماً تر لاسه کوي، هغه په هيڅ صورت کي نه مأيوسه کېږي. عدم يأس، په آخرت باندي د ايمان نتيجه او د هغه غوښتنه او تقاضاء ده. نو داسي نه چي د مرگ له وېري د الله له بندگۍ لاس واخلې، هسي هم هر نفس د مرگ خوند څکي او د الله په لوري درومي.

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦٠﴾
وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ
فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ
بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ
مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٦٣﴾

او څومره ژوي داسي دي چي خپله روزي (پر خپلو اوږو) نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم، او هغه پوه اورېدونکی دئ، او که ئې وپوښتې چي آسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووايي: الله؛ نو څنگه دوکه کېږي، دا خو الله دئ چي په خپلو بندگانو کي هغه چا ته روزي پراخوي چي دی ئې غواړي او يا ئې ورته محدوده او تنگه کوي، يقيناً چي الله په هر څه ښه پوه دئ، او که ئې وپوښتې چي له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره ځمکه له خپلي مړيني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي: الله؛ ووايه: ستايني ټولي الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

(٦٠-٦٣)- په دې مبارکو آيتونو کي هم دغو مؤمنانو ته اطمئنان ورکړی شوی چي که د الله په لار کي هجرت ته اړ شوئ نو هيڅ وېره او انديښنه مه کوئ، الله ستاسو د رزق او روزي ذمه وال دئ، لکه څنگه چي نورو ژوو ته روزي ورکوي تاسو ته به ئې هم درکوي، آيا نه گورئ چي د ځمکي څومره ژوو ته الله تعالی په داسي حال کي رزق او روزي ورکوي چي نه پټی لري، نه دوکان او نه ذخيره.

د زمکي پر سر ځومره حيوانات داسي دي چي د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو نه وړي، باغ او پټی نه لري، گودام او ذخيره نه لري، د سبا لپاره څه نه ذخيره کوي، د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو نه وړي، الله ورته رزق ورکوي، همداسي ئې تاسو ته هم درکوي، دا ځکه چي الله تعالى اورېدونکی او عليم دئ، د بنده دعاء د حال او قال په ژبه اوري، په اړتياوو ئې پوه دئ.

په دنيا کي دومره ژوي شته چي که ټول په شلو برخو ووېشو، نولس۱۹ برخي ئې په اوبو کي دي او يوه برخه ئې په وچه کي، انسانان د دې شلمي برخي يوه وړه برخه ده، له دې د ژوو شمېر معلومولی شئ، دغو ټولو ژوو ته رزاق خدای رزق او روزي ورکوي. داسي حيوانات هم شته چي هر يو ئې، هره ورځ، د يوه کلي په اندازه رزق ته ضرورت لري، په بحرونو او ځنگلونو کي داسي ستر ستر حيوانات شته چي هر يو د يوه کلي په اندازه روزي ته، په يوه وخت کي ضرورت لري، خو نه تجارت کوي، نه پټي کري، نه د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو وړي او نه د سبا لپاره څه ذخيره کوي، الله تعالى ورته رزق ورکوي او تاسو ته هم. او الله تعالى د دعاگانو اورېدونکی او د انسان په احتياجاتو او اړتياوو پوه دئ، په دې هم پوهېږي چي ځنگه هغه ته رزق او روزي ورکړي او د رزق او روزي انتظام ئې ځنگه وکړي.

دلته دا وضاحت هم شوی چي د رزق او روزي اصلي اسباب خو آسمان دئ چي اوبه تري راورېږي او زمکه ده چي دانه او مېوه تري راشنه کېږي، که له دوی پوښتنه وکړې چي دا زمکه او آسمانونه چا پيدا کړي؟ دا لمر او سپوږمی چا مسخر کړي؟ شپه او ورځ چي د رزق او روزي د پيدا کېدو باعث گرځي د چا په اراده ځي راځي؟ لمر د ورځي علامه او سپوږمی د شپې علامه ده، دا دواړه د رزق په پيدا کېدو کي اساسي ونډه لري، که دا نه وی نو نه به په زمکه کي بوټی وو، نه ونه، نه حيوان او نه انسان، د دوی ځواب به څه وي؟ حتماً به وايي چي دا هر څه د الله تعالى په اراده ترسره کېږي، له دې پرته بل ځواب نه لري، نو ځنگه او له کومه ځايه دوکه کېږي؟! د دوی د دوکه کېدو او بې لاري کېدو عامل څه دئ؟ ولي په دې اړه شك لري چي د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وال الله تعالى دئ؟!!

دا الله دئ چي له خپلو بندگانو هر چا ته چي وغواړي په رزق او روزي کي ورته وسعت، بسط او پراخوالی ورکوي او چا ته ئې چي خوښه وي ورته تنگوي ئې، رزق ئې ورته محدود کړي، يقيناً چي الله په هر څه ښه پوه دئ، په دې ښه پوهېږي چي د انسان خير او مصلحت په څه کي دئ، دا پرېکړه د الهي علم له مخي کېږي، که چا ته پراخ رزق ورکوي، عليم الله په دې پوهېږي چي خير په همدې کي دئ او که په چا ئې محدودوي او د رزق له محدوديت او تنگوالي سره ئې مخامخ کوي، دا هم د عليم الله فيصله ده، حتماً په دې کي يو مصلحت مضمر دئ.

آيا ځوك دې پوښتني ته چي ځوك له آسمانه اوبه وروي او له زمکي دانه او مېوه راټوکوي، له دې پرته بل ځواب موندلی شي چي ووايي: الله؟ پرته له دې چي اعتراف وکړي چي دا کار الله تعالى کوي، له آسمانه اوبه نازلوي او مړه زمکه پرې ژوندۍ کوي، بل څه ځواب لري؟ نو سره له دې ولي د خپل رزق په اړه شك لري؟!!

په دې مبارکو آيتونو کي گورو چي لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بيا د آسمانونو او زمکي د پيدايښت، د لمر، سپوږمی د تسخير (چي شپه او ورځ په گوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بيا له آسمانه د اوبو راورېدا او بيا په

زمکي کي د ژوندون پيلېدا ته اشاره شوې او په دې توگه موږ ته ويل شوي چي رزق او وسائل او اسباب ئې د الله له لوري پيدا شوي او ذمه وال ئې الله تعالى دئ، هغه دا پرېکړه کوي چي چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. دا مطلب د هود سورې په اوم آيت کي هم راغلى چي هيله من يم تفصيل ئې هلته وگورئ. ځکه د دغو دواړو سورتونو په دغو آيتونو کي بشپړ ورته والى او يو د بل شرح او تفسير دئ.

وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٦٤﴾

او د دې دنيا دا ژوند له لهو (خوشې مشغولتيا) او لعب (لوبې) پرته بل څه نه دئ، او يقيناً چي د آخرت کور داسي دئ چي همدا (واقعي) ژوندون دئ، کاش پوهېدى!!

(٦٤)- په دې مبارك آيت کي د دنيا ژوند د جنت له ژوند سره مقايسه شوى او ويل شوي: د دې دنيا دا ژوند د آخرت په پرتله داسي دئ لکه خوشې مشغولتيا او لوبې، او واقعي ژوندون د دار آخرت (جنت) ژوند دئ، کاش دوى پوهېدى!!

دې ته مو بايد پام وي چي د دې آيت او دې ته ورته آيتونو معنى په هيڅ توگه دا نه ده چي گواکي قرآن غواړي مخاطبين ئې د دنيا ژوند ته په سپکه سترگه وگوري، بې ارزښته ئې وگڼي، لاس ترې واخلي، او په اړه ئې بې اعتناء او بې پروا شي، بلکي معنى ئې دا ده چي د دنيا ژوند د آخرت په پرتله او د هغه چا ژوند چي په آخرت باور نه لري، داسي وگڼي لکه خوشې مشغولتيا او د ماشومانو لوبې، د قرآن موخه دا ده چي خلك دنيا او متاع ئې وسيله وگڼي نه وروستى هدف، هغه بايد لوړ لوړ او سپېڅلي اهداف ځان ته غوره کړي، د دغو سپېڅلو اهدافو لپاره بايد د هر څه قربانى ته چمتو شي، د هغه لپاره بايد اخروي سعادت وروستى هدف وي، هغه بايد په دنيا کي د هدفمن انسان په څېر له سپېڅلو او لوړو اهدافو سره ژوند وکړي، ژوند ئې په دې کي راخلاصه نشي چي د دنيا عيش، متاع او لذت ئې په برخه شي، هوسونه ئې ترسره او شهوتونه ئې اشباع شي او د يوه حيوان په څېر ژوند وکړي. متأسفانه په غرض او مرض مبتلا کسان د قرآن دا آيتونه غلط تعبيروي او هغه څه ترې راباسي چي يا ئې شيطان خوښوي او يا ئې د اسلام هغه ستر ستر دښمنان چي پر مسلمانانو د مزيد حکومت کولو، د دوى د لازيات سپکولو او لوټلو په لټه کي دي، هغه چي مسلمانانو ته وايي: آخرت ئې ستاسو او دنيا ئې زموږ!! دوى دې ته متوجه نه دي چي دا آيتونه د هغو لارښوونو په ضمن کي راغلي چي د الله تعالى د لاري مجاهدينو او مهاجرينو ته متوجه دي، هغوى ته د صبر او توکل سپارښتنه کوي، هغوى له مرگه نه وېرېدو ته رابلي، هغوى ته وايي: له الله تعالى پرته بل چا ته سر مه ټيټوئ، که په دې لار کي له تبعيد او مرگ سره مخامخ کېدئ نو پروا ئې مه کوئ، هغه ژوند بې ارزښته وگڼئ چي بې هدفه وي، له ذلت او سپکاوي سره توأم وي او له الله تعالى پرته بل ته د سر ټيټولو غوښتنه کوي.

فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوا۟ بِمَآ ءَاتَيْنَـٰهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا۟ ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾

کله چې په کشتۍ کې سپاره شي نو په داسې حال کې الله مرستې ته رابلي چې ده ته د خپل دیانت خالصوونکي دي، خو کله چې هغوی د وچې لورې ته وژغوري ناڅاپه بیا شرك کوي. د دې لپاره چې د هغه څه په اړه ناسپاسي وکړي چې موږ ورکړي او چې متمتع شي، نو ژر به پوه شي.

(٦٥-٦٦)- په دې مبارکو آیتونو کې په دین کې (اخلاص) او (شرك) په ډېرې جالبې او ښکلې بڼې کې انځور شوي: <u>په دین کې اخلاص د هغه چا له حالت سره تشبیه شوی چې په کښتۍ</u> کې سپور شي، ارتباط ئې له هر څه سره قطع شي، داسې څوك او څواك ئې نه تر سترګو کېږي چې د خطر په وخت کې پناه وروړي او مرسته ترې وغواړي، که د طوفان څپې ئې احاطه کړي نو له الله تعالی پرته داسې څوك نه مومي چې له دې حالته ئې ژغورلی شي، نو له الله تعالی پرته بله هره ملجأ او مرجع هېره کړي او یوازې د ده په وړاندې د دعاء لاسونه لوړوي او په بشپړ اخلاص او صفاوالي سره ئې مرستې ته رابلي او دا تعهد کوي چې له الله تعالی پرته به د بل چا عبادت او بندګي نه کوي، په دین کې اخلاص ئې له دغه حالته سره تشبیه کړی، او شرك له هغه حالته سره چې همدا د کښتۍ سپور په عافیت سره ساحل ته ورسېږي، له خطرونو تېر شوی او له طوفانونو ژغورل شوی، په خوندي ساحل کې له کښتۍ کوز شي، خو هلته دا بریالی سفر، هدف ته له خپل انتظار سره سم رسېدا او له خطرونو روغ رمټ تېرېدا، د الله تعالی د فضل او رعایت پر ځای نورو عواملو ته منسوبوي، کله ئې خپلې سمې او دقیقې منصوبې ته، کله د وخت او کښتۍ سم انتخاب ته، کله د هوا او موسمي شرائطو مساعدت ته او کله د ملاح مهارت ته!! شرك له دې حالت سره ورته ګڼل شوی.

دلته په بېړۍ کې د سپرېدو یادونه د دې لپاره شوې چې په بېړۍ کې د انسان رابطه له ډېرو هغو شیانو سره قطع شي چې په واك کې ئې وو، ټول هغه وسائل، ذرایع او امکانات چې په اختیار کې ئې وو، د ده مرسته ئې کوله، ده پرې اعتماد کولو، اوس ئې ارتباط ورسره شلېدلی، په هغه حساب نشي کولی، په هغه تکیه او اعتماد نشي کولی، د ده مرسته نشي کولی، کله چې وګورې په کشتۍ کې له سپرېدو سره سم ئې له ټولو دغو وسائلو لاس قطع شوی، د سمندر له څپو سره مخامخ دئ خو داسې څه ورسره نشته چې له خطره ئې وژغوري، نو په دې وخت کې الله تعالی ته مخه کړي، مرسته ترې غواړي، اوږدې اوږدې دعاګانې ورته کوي، د خطر په زیاتېدو سره نه یوازې د ده دعاګانې اوږدې او پرله پسې شي بلکې له الله تعالی سره ژمنه کوي چې که له خطره ئې وژغوري په اخلاص او صداقت سره به د ده بندګي کوي، خو کله چې څپې تم شي، خطر پای ته ورسېږي، الله تعالی ئې روغ رمټ ساحل ته ورسوي، بیا نو په دې ژغورنې او نجات کې له الله تعالی سره بل څه او بل څوك شریکوی، خپلې مخکنۍ ژمنې هېرې کړي، مخکنې حالت ته وګرځي، طمع ئې له الله تعالی پرته

له نورو او اعتماد ئي له الله تعالی پرته پر نورو شي!!

دې مبارك آيت نه يوازې د خطرونو او ګواښونو په وخت كي د انسان حالت او له الله تعالی سره د ده د تعلق څرنګوالی په دقيقه توګه انځور كړی بلكي په دين كي د اخلاص حقيقت ئي هم موږ ته واضح كړی. په دين كي د اخلاص معنی دا ده چي انسان له الله تعالی پرته په بل چا اعتماد و نه لري، له بل چا طمع ونه لري، په بل څه باندي توكل او تكيه ونه كړي، طمع ئي يوازي له الله وي، او د دعاء لاسونه ئي يوازي د الله تعالی په وړاندي لوړ كړي وي، داسي وګڼي چي په دې عالم كي له الله تعالی پرته داسي څه نشته چي د ده مشكل حل كړی شي، د ده اړتياوو ته ځواب وويلی شي او د ده مرسته وكړی شي، نو ځكه ئي هم طمع له الله تعالی وي او هم ئي اعتماد پر الله تعالی، دې حالت ته په دين كي اخلاص وايي.

ته چي هر څومره د الله تر څنګ په بل څه حساب كوې، په هغه اعتماد او ويسا كوې، هغه ته اميد ساتې او له هغه طمع كوې، دې حالت ته د شرك حالت وايي، خو كله چي ستا حالت هغه چا ته ورته شي چي په بېړۍ كي سپور دئ او د طوفان څپو احاطه كړی، هري خوا ته چي سترګي اړوي داسي څه په نظر نه ورځي چي د ده مرسته وكړی شي، نو الله جل شأنه ته مخه كړي او له هغه مرسته غواړي، خپل دين د هرراز شرك له شوائبو پاكوي، په اخلاص سره د الله تعالی د بندګی تعهد كوي، له الله تعالی سره ژمنه كوي چي يوازي د ده عبادت به كوي، له ده سره به په عبادت او بندګۍ كي بل څه او بل څوك نه شريكوي، ستا دا حالت په دين كي د اخلاص او سوچه والي په معنی دئ، يعني انسان هغه وخت په خپل دين كي مخلص دئ او هغه وخت ئي ايمان له شرك پاك او منزه دئ چي په كښتۍ كي د سپور انسان په څېر يوازي يوه خدای ته ئي مخه وي او يوازي هغه ته پناه يوسي او كه ستا حالت د هغه چا په څېر شو چي د طوفان له څپو ژغورل شوی، ساحل ته روغ رمټ رسېدلی، خو په دې ژغورني كي له الله تعالی پرته د بل چا د مرستي او عنايت په اغېز باور لري، او خپل نجات د نورو عواملو مرهون ګڼي، له الله تعالی سره خپلي ژمني هېروي او د مخكنيو شېبو اخلاص له لاسه وركوي، نو تا د الله تعالی په نسبت شرك كړی. يعني كه ته د همدې انسان په څېر شوې، چي د سفر كښتۍ ئي د بحر له څپو روغه ساحل ته رسېدلي، حالت ئي بدل شوی، هغه د څپو په منځ كي احساس ئي ورسره پاته نه دئ، اوس نو هغه كس نه دئ چي له الله پرته ئي هيڅا ته طمع نه وه، له خدای پرته ئي له ټولو اميد قطع كړی وو، يوازي له يوه خدای ئي مرسته غوښته، اوس ئي د اميد دروازې ډېري شوې، د يوه دربار په عوض ئي ګڼو دړو ته سترګي دي، كله دا د خپل نجات عامل ګڼي او كله هغه بل، كله ئي ګمان دا وي چي د فلان مرستي وژغورلو او كله د هغه بل توجه او عنايت د خپلي ژغورني وسيله ګڼي او پدې سره خپل دين او ايمان په شرك ملوث او ككړ كړي او د شرك مرتكب شي

كله چي انسان له مشكلاتو، ستونزو او كړاوونو سره مخامخ شي، بل ته اړ او محتاج شي او كله چي د هغه اميد له هر څه قطع شي، په خپل ماحول كي داسي څوك و نه ګوري چي د ده مشكل حل كړی شي، د هغه نارې واوري، د هغه احتياج او اړتياوي منتفي كړي، او داسي يو شی په خپل ماحول كي نه ګوري چي په هغه حساب وكړي، په هغه توكل او اعتماد وكړي، ټول هغه وسائل او ذرايع چي په اختيار كي ئي دي هغه بې نتيجې پاتي شي، او ونشي توانېدی چي د ده غوښتنو او اړتياوو ته ځواب ووايي او د هغه اضطراب او پرېشاني رفع كړي، په دې حالت

کي الله جل شأنه ته پناه وړي، له هغه مدد او مرسته غواړي او په اخلاص سره د بندګی تعهد کوي، خو چي کله ځان بې نیازه وګڼي، له وفرت او کثرت سره مخامخ شي، نو بیا الله هېر کړي او خپل مؤکد تعهدات شا ته وغورځوي، او د الله جل شأنه په نسبت د شرك مرتکب شي. د شرك په ارتکاب کي ئې موخه دا وي چي د الله تعالی په نعمتونو کي د خپلي خوښي مطابق په خلاص لاس تصرف وکړي نه د یوه شاکر بنده په توګه او چي له دې نعمتونو په پراخه پیمانه متمتع شي.

أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾

آیا وئې نه لیدل چي موږ (له مکې) خوندي او باامنه ټاټوبی جوړ کړ، په داسي حال کي چي د دوی شاوخوا ته خلك تښتول کېږي، نو آیا پر باطل ایمان راوړي او د الله د نعمت ناسپاسي کوي؟!

(٦٧)- په دې مبارك آیت کي د (امن) او (خوف) حالتونه انځور شوي، یو ئې د ایمان د یوې نښې د اغېز په توګه وړاندې شوی او بل ئې پر باطل د باور پایله ښودل شوی، په مکه کي د (کعبې) له طفیله امن دئ، او په شاوخوا کي ئې او هلته چي د کعبې له اغېز بهر دئ د خوف او بې امنی دا حالت دئ چي خلك اختطاف کېږي، نو څنګه دوی پر باطل باور ساتي او د الله د نعمتونو په اړه د کفر او انکار لار غوره کوي؟!!

په دې مبارکو آیتونو کي که له یوې خوا خطاب د مکې قریشو ته متوجه دئ له بلي خوا هغو ضعیف النفسه خلکو ته چي د دښمن له وېري له ایمان راوړلو ډډه کوي، خپلي سوکالي، بې خطره او مرفه ژوند ته پر ایمان ترجیح ورکوي، دوی ته ویل شوي: نه ګورئ د ایمان د یوې نښې (کعبې) په طفیل ئې دا حرم څنګه خوندي او د امن ځای وګرځولو، نه ګورئ چي له هري خوا؛ د هر موسم؛ ډول ډول مېوې ورته رادرومي؟! تاریخ ته رجوع وکړئ، صفحات ئې واړوئ او وګورئ چي د هغو خلکو شمېر څومره دئ چي مرفه ژوند ئې درلود، خپل معیشت او سوکاله ژوند هغه پړاو ته رسولي ول چي تېری ئې وکړ او له پولو واوښتل او له همدې کبله هلاك شول؟! دا دي تشي او وراني مانۍ ئې د عبرت لپاره ترې پاتي، چي لږ خلك د لنډې مودې لپاره په کي پاته شوي، هر څه ئې الله تعالی ته په میراث پرېښودل. نو سره له دې څنګه د ایمان راوړلو له نتائجو وېرېږئ او د سوکاله او مرفه ژوند له بدو پایلو وېره نه لرئ.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾

او تر هغه به لوی ظالم څوك وي چي پر الله ئې دروغجنه افتراء وکړه؛ یا ئې حق له هغه

وروسته تکذيب کړ چي ورته راغی؟! آيا دغو کافرانو ته په جهنم کي يو هستوګنځی نه دئ (مناسب)؟

(٦٨)- په دې مبارك آيت کي دوه کسان ستر ظالمان ګڼل شوي: يو هغه چي پر الله تعالی دروغجنه افتراء کوي او بل هغه چي حق له هغه وروسته تکذيبوي چي ورته راشي او پرې پوه شي. آيا د دې خبري معنی دا ده چي که کوم څوك په درواغو د پيغمبرۍ دعوی وکړي او خپلي خبري په دروغو الله تعالی ته منسوب کړي لوی ظالم دئ او که څوك رښتينی پيغمبر او د هغه په لاس ليږل شوی کتاب له هغه وروسته تکذيب کړي چي ورته راغلی او په حقيقت ئې پوه شوی نو تر ټولو ستر ظالم دئ، دا دواړه کافران دي او د دوی لپاره مناسبه سزا دا ده چي هستوګنځی ئې جهنم وي. او که ئې معنی دا ده چي څوك (خوف) او بې امني د الله دين ته منسوب کړي او ووايي: دين ته بلنه زموږ سوکالي ګواښي، اختلافات راولاړوي، بې امني رامنځته کوي او پر الله تعالی ايمان موږ له خطرونو سره مخامخ کوي، دا د حقيقت خلاف خبره په داسي حال کي کوي چي حقيقت ورته جوت شوی، دا تر ټولو ستر ظالمان دي؟! ځينو درنو مفسرينو لومړي تعبير ته ترجيح ورکړې، خو د آيت له الفاظو او سياق و سباق داسي معلوميږي چي دوهم تعبير دقيق دئ، او دا آيت په اصل کي د مخکني آيت شرح او تفصيل دئ، په مخکني کي ويل شوي: آيا وئې نه ليدل چي موږ (له مکې) خوندي او باامنه ټاټوبی جوړ کړ، په داسي حال کي چي د دوی شاوخوا ته خلك تښتول کيږي، نو آيا پر باطل ايمان راوړي او د الله د نعمت ناسپاسي کوي؟! او په دې آيت کي همدا پر باطل باوري او د الله تعالی د نعمتونو منکر د ستر ظالم په توګه معرفي شوی او ويل شوي: تر هغه به لوی ظالم څوك وي چي پر الله ئې دروغجنه افتراء وکړه يا ئې حق له هغه وروسته تکذيب کړ چي ورته راغی؟!

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٦٩﴾

او هغه چي زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلي لاري وروښيو او يقيناً چي الله له دغو محسنينو سره دئ.

~~**(٦٩)- دا مبارك آيت چي د دې سورې وروستی آيت او د ټولو مضامينو لپاره ئې جامع او**~~ **ښکلي تتمه دئ، څو لارښووني لري:**

دلته د الله د لاري له مجاهدينو سره دوه وعدې شوي: د (هدايت) او (معيت) وعدې، يعني د هدايت دروازې به د دوی پر مخ پرانيزي، د بريا، عزت او سعادت پر لارو د تلو توفيق به ورکوي، په هر ګام کي به د دوی لارښوونه کوي، د هدايت او رشد لوړو پوړو ته د رسېدو سعادت به ئې په برخه کوي، او د (احسان) لوړي څوکي ته به ئې رسوي، او له خپلي ملتيا او معيت به ئې برخمن کوي.

دلته هغه مجاهدين د (محسنين) په نامه ياد شوي چي د الله په لار کي جهاد کوي او د همدې جهاد په طفيل؛ الله تعالی د هدايت ټولي لاري د دوی پر مخ پرانيستي دي، د ژوند په هري برخي کي ئې لارښوونه کوي او د خپلي ملتيا او معيت وزر ئې پرې غوړولی. متأسفانه د (هدايت)، (معيت) او (احسان) په څېر قرآني مفاهيمو سره همغه ظالمانه چلن شوی او حقيقي

مفهوم ئې تحريف شوى چې د قرآن له ګڼ شمېر نورو مفاهيمو سره شوى، ما د يوه تور زړي متصوف خطيب وينا اورېده چې د قرآن دغه څرګند آيت ئې داسې تعبيراوو چې د خانقا او کوم زيارت په کونج کې ناست صوفي ته ئې د (محسن) نوم ورکولو او له (سبلنا) ئې د طريقت څلور طريقې راايستلې او ويل ئې الله تعالى د همدغو طريقو پلويانو ته هدايت کړى او له دوى سره دئ!! ما ته ووايئ: آيا د دې آيت په اړه دا تعبير ډېر کرکجن او منفور تعبير او له قرآن سره ستره بې باکي نه ده؟!! دا په داسې حال کې چې دا ټوله سوره؛ له سر تر پايه؛ د مجاهدينو په اړه بحث کوي، هغو سترو سترو آزموينو ته ګوته نيسي چې د ابراهيم، نوح، لوط، هود، صالح، شعيب او موسى عليهم السلام په څېر مجاهدين ورسره مخامخ شوي، او د سورې په پاى کې د الله د لارې د مجاهدينو په اړه ويل شوي چې (هدايت) او د الله تعالى (معيت) به ئې په برخه کېږي، خو دې جناب دا ټول حقائق له پامه غورځولي او داسې تعبير ئې وړاندې کړى چې يوازې يو تور مغزى او کوږ زړى ئې د ويلو جسارت کولى شي. د قرآن له ډېرو آيتونو سره دې ته ورته چلن شوى.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الروم

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الروم) دئ، دا نوم د همدې سورې له لومړي آيت اخيستل شوی، شپېته آيتونه لري، د اکثرو آيتونو فواصل ئې د لومړيو آيتونو (الروم) او (سيغلبون) ته او د لږو ئې د څلورم (الرحيم) ته ورته دي، څو آيتونه ئې د (حکيم، قدير، او کافرين) په څېر صيغو پای ته رسېدلې چې وزن ئې (الرحيم) ته نږدې دئ، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په وروستيو کلونو کې نازل شوي.

لکه څنگه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسې توگه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کې راغلي، يو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت کې، د دې سورې آخري آيت دا دئ:

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾ : نو صبر کوه، يقيناً چې د الله وعده رښتينې ده او هغه خلك دې تا سپك ونه مومي چې باور نه کوي.

په دې آيت کې درې فقرې راغلې او همدا درې فقرې د سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانونو په څېر دي، لومړۍ فقره ئې (فَٱصۡبِرۡ: صبر کوه) ده، تاسو به وگورئ چې د سورې په لومړۍ برخې کې په همدې اړه مؤمنانو ته لارښوونه شوې، د آيت دوهمه فقره دا ده (إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ)، تاسو به وگورئ چې د سورې دوهمه برخه هغه لارښوونې احتوی کوي چې په دنيا او آخرت کې د الله تعالی د وعدو پر رښتينوالي تأکيد کوي، او درېيمه فقره ئې (وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ) ده او دا د دې سورې د هغو آيتونو لپاره عنوان دئ چې په ترڅ کې ئې رسول الله ﷺ او د ده له لارې مؤمنانو ته ويل شوي چې پر خپل دريځ ثابت پاته شي، د دښمنانو تبليغات او مخالفتونه ئې متزلزل نه کړي، د دوی عدم ايمان د دې باعث نشي چې د خپلې لارې د حقانيت په اړه شکمن شي او د الله تعالی د وعدو د تحقق په اړه ئې ډاډ او اطمئنان کمزوری شي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ﴿٢﴾ فِيٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ
﴿٣﴾ فِي بِضْعِ سِنِينَ ۗ لِلَّهِ ٱلْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ ۚ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ ٱلْمُؤْمِنُونَ
﴿٤﴾ بِنَصْرِ ٱللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَعْدَ ٱللَّهِ ۖ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ
وَعْدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦﴾

الف، لام، میم، روم مغلوب شو، په دغې نږدې سیمې کې، او دوی به له خپلې مغلوبېدا وروسته ژر غالب شي، په څو کلونو کې، کارونه وړاندې او وروسته د الله په واک کې دي، او دغه ورځ به مؤمنان د الله په نصرت خوشحالي کوي، هغه چا ته برى ورکوي چې دى ئې غواړي، او دى مهربان عزتمن دئ. د الله وعده ده، الله له خپلې ژمنې نه په شا کېږي خو اکثر خلك نه پوهېږي.

(١-٦)- په دې مبارکو آیتونو کې لاندې لارښوونې زموږ په وړاندې ځلېږي:

- **لکه څنګه چې دا سوره په دریو مقطعاتو حروفو (الف، لام، میم) پیل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي، دا درې اساسي مضامین په داسې توګه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پیل شوو نورو سورتونو کې راغلي، یو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آیت کې، د دې سورې آخري آیت دا دئ:**

فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾ **: نو صبر وکړه، یقیناً چې د الله وعده رشتینې ده او هغه دې تا سپك ونه ګڼي چې باور نه کوي.**

- دا درې فقرې د دغې سورې د مضامینو لپاره درې اساسي محورونه دي، ټوله سوره په همدې موضوعاتو راڅرخي.
- **په دې مبارکو آیتونو کې پر فارسیانو د رومیانو د برې وړاندوینه په داسې حال کې او هغه مهال شوې چې رومیان د فارسیانو په وړاندې له سختې ماتې سره مخامخ شوي وو، تفصیلات ئې داسې دي:**
- **په ٦١٩ م کال کې، هغه مهال چې رومیان د فارس په وړاندې له سختې ماتې سره**

مخامخ شول، د شام، اردن او فلسطين په څېر ډېري سيمي ئي له لاسه ووتي، فارسيان د مصر تر وروستيو پولو پوري ورسېدل، قريش د فارسيانو په دې برياوو خوشحال شول، خو مؤمنان سخت غمجن، روميان اهل كتاب ګڼل كېدل او فارسيان مشركان ول، دغه مهال د الروم د سورې دغه څو آيتونه نازل شول چي په هغوى كي دا وړاندوينه شوې وه چي روم به له دې ماتي وروسته په راتلونكو څو كلونو كي بېرته پر خپل دښمن برلاسى شي، او دغه مهال به مؤمنان د الله تعالى په نصرت خوشحاله شي. دا داسي وړاندوينه وه چي ښايي ډېرو قريشو به په خپلو مجلسونو كي پرې كټ كټ خندلي وي، په دې كي دوه وړاندويني شوې وې: يوه د روميانو د بيا غلبې او بله ئې د مؤمنانو د يوې بريا، همدا دواړه وړاندويني ترسره شوې، په همغه كال چي قريشو په بدر كي سخته ماته وخوړه روميان وتوانېدل چي د هرقل تر مشرى لاندي د ارميا په لوري وړاندي ولاړ شي او آذربايجان ته ورسېږي. ارميا د زردشت د زېږېدو ځاى دئ چي فارسيانو ته ئې ارزښت دومره وو لكه مسلمانانو ته مكه او مدينه.

- دلته د روميانو د ماتي سيمه د (ادنى الارض) په نامه ياده شوې، (ادنى) هم نږدې ته ويل كېږي او هم ټيټ ته، د فلسطين هغه سيمه چي روميانو په هغې جګړې كي له لاسه وركړه هم مكي ته نږدې سيمه وه او هم د بحر له سطحي تر ټولو ټيټه سيمه. دا ښيي چي په قرآن كي د مطالبو د افادې لپاره الفاظ په څومره دقت سره غوره شوي.
- دلته په وړاندويني كي ويل شوي چي په (بضع سنين) كي به روميان بيا غالب شي، بضع تر دريو زيات او تر لسو كم عدد ته وايي، او معنى ئې دا ده چي تر لسو په كمو كلونو كي به دوى پر خپل دښمن بېرته برلاسي شي، همداسي وشول او دا وړاندوينه په همدومره كلونو كي ترسره شوه.
- دا آيت موږ ته د دې مباركي سورې د نزول دقيقه نېټه راښيي، دا سوره هغه مهال نازله شوې چي روميان د فارسيانو په لاس له ماتي سره مخامخ شوي. د قرآن سورې همداسي دي، د سورې په متن او مطالبو كي د غور او دقت له لاري په آسانى سره كولى شو د نزول نېټه ئې او هغه حالت درك كړو چي دا سوره په كي نازله شوې.
- دې ته مو پام وي چي پر فارسيانو د روميانو او پر قريشو د مسلمانانو د بري د نېټې په اړه دوه متعارض روايات زموږ مخي ته راځي: ځيني وايي چي دا دواړه برياوې د بدر د فتحي پر مهال رامنځته شوې دي، په همدې كال مؤمنان پر قريشو او روميان پر فارسيانو غالب شول، ځيني نور وايي چي دا بريا د حديبيي د معاهدې بريا وه او ګواكي روميان هم په دغه كال پر خپل حريف برلاسي شول، دوهم روايت په دوه دلائلو كمزورى دئ: لومړى دا چي د حديبيي د معاهدې نتائج ډېر وروسته راڅرګند شول، د معاهدې پر مهال نه يوازي دا چي مؤمنان خوښ نه ول بلكي سخت غمجن ول حال دا چي قرآن وايي: په دغه ورځ به مؤمنان د الله تعالى پر نصرت خوښ وي!! او دوهم دا چي د روميانو او فارسيانو له تاريخي اسنادو معلومېږي چي پر فارسيانو د روميانو بريا په ٦٢٤ ميلادي كال رامنځته شوې او همدا د بدر د غزوې كال دئ. د دې معنى دا ده چي دا مباركه سوره تر هجرت پنځه شپږ كاله وړاندي نازله شوې.

• په څلورم آیت کې ویل شوي: ﴿لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ وَمِنۢ بَعۡدُ﴾ : کارونه وړاندي او وروسته

د الله په واك کې دي، يعني د روميانو ماته هم د الهي مقدراتو مطابق وه او بريا به ئې هم د الهي مقدراتو مطابق وي، د ماتي او بريا پرېکړې د الله تعالى له لوري کېږي، ځوك چې د الهي سننو له مخي د ماتي مستحق وي هرو مرو به له ماتي سره مخامخ کېږي، هيڅ څه او هيڅوك ئې د ماتي مخه نشي نيولى او ځوك چې د الهي سننو له مخي د بريا وړ وي هيڅوك او هيڅ څه ئې د بريا مخه نشي نيولى، دا ځکه چې کارونه وړاندي او وروسته د الله په واك کې دي او د کارونو د پايلو او نتائجو په اړه پرېکړې د ده له لوري صادرېږي.

• د پنځم آيت په وروستۍ فقرې کې د الله تعالى د دوو صفتونو يادونه شوې: (عزيز) او (رحيم)، دا صفات د آيتونو له اساسي موضوع سره ژور ارتباط لري، يوه مات شوي کمزوري ولس ته پر برلاسي او غالب دښمن بريا ورکول ښيي چې الله تعالى داسي عزتمن او ځواکمن (عزيز) دئ چې هيڅوك ئې د ارادې د تحقق مخه نشي نيولى، او خپله ملتيا او نصرت د مظلومو مؤمنانو په برخه کول ښيي چې الله تعالى رحيم او مهربان دئ. له دې دواړو صفاتو معلومېږي چې يو ئې د روميانو له بيا غلبې سره تعلق لري او بل ئې پر قريشو د مؤمنانو له غلبې سره. د (عزيز) صفت له لومړۍ پېښې سره او د (رحيم) صفت له دوهمي سره.

دې ته مو پام وي چې د شپږمي ميلادي پېړۍ تر لومړيو پوري روم د يوه داسي زبرځواك په بڼې کې راڅرګند شوی وو چې په نړۍ کې ئې سيال نه درلود، د عربو ډېري سيمي د اوسني اردن، شام او فلسطين په شمول او د افريقا ډېري برخي د روميانو لاس ته ورغلي وې، د فارس کسرى خسرو پرويز هم د روم په مرسته اقتدار ته رسېدلى وو چې د همدې پېرزويني له کبله ئې د روم قيصر ماريس ته د خپل پلار او محسن په سترګه کتل. د رسول اللهﷺ له بعثت اته کاله وړاندي د ماريس په خلاف بغاوت وشو، د دې بغاوت په نتيجه کې د فوکاس په نامه يو بل قيصر د اقتدار پر ګدۍ کښېناست، ده د ماريس پنځه زامن د هغه په وړاندي ووژل بيا ئې دی په خپله ووژلو او د دوی سرونه ئې په قسطنطنيه کې د خلکو په وړاندي ځوړند کړل، څو ورځي وروسته ئې د هغه مېرمن او درې لوڼي هم ووژلې، دې وژنو د فوکاس په خلاف د ماريس د پلويانو پارېدلي احساسات او په عمومي توګه د روم تر واکمنۍ لاندي سيمو کې تشنجاتو خسرو پرويز ته د روم خلاف د لوی بريد فرصت په لاس ورکړ، اعلان ئې وکړ چې غواړي د خپل مجازي پلار انتقام واخلي، په ٦٠٣ ميلادي کال ئې د روميانو په ضد جګړه پيل کړه، په څو کلونو کې ئې د فوکاس فوځونو ته پرله پسې ماتي ورکړې، په شمال کې تر ايډيسا پوري او په غرب کې د شام تر حلب او انطاکيې پوري ورسېدو، رومي مشران دې نتيجې ته ورسېدل چې فوکاس د هېواد له دفاع او ادارې عاجز شوی، نو د افريقا له والي ئې مرسته وغوښته، هغه خپل زوی هرقل له لوی لښکر سره د دوی مرستي ته ولېږو چې قسطنطنيې ته له رسېدو سره سم فوکاس عزل او هرقل د قيصر په توګه وټاکل شو، هرقل له قيصر کېدو سره سم له فوکاس سره همغه څه وکړل چې ده له ماريس سره کړي ول، دا پېښه په مکه کې د رسول اللهﷺ له بعثت سره هممهاله وه.

د فوکاس له عزل او مجازات وروسته هغه بهانه له منځه ولاړه چې خسرو پرويز د

رومیانو په ضد د جګړې لپاره کاروله، خو هغه جګړه متوقف نه کړه، لمن ئې لا خوره کړه او هغې ته ئې د مجوسیت او مسیحیت تر منځ د جګړې نوم ورکړ، د رومي واکمنو سیاسي او مذهبي مخالفینو د ده ملاتړ کولو، یهودانو او د عیسایانو هغو فرقو چې د کلیسا له لوري په الحاد او ارتداد تورنې شوې وې له مجوسیانو سره نه یوازې خواخوږي درلوده بلکې عملاً ئې د دوی مرسته او ملګرتیا کوله، دومره چې د خسرو په فوځ کې د استخدام شوو یهودي جنګیالیو شمېر شپږویشت زرو ته رسېدو. هرقل ونه توانېدو د دې برید مخه ډپ کړي، انطاکیه، دمشق او بیت المقدس ئې یو په بل پسې له لاسه ووتل، په بیت المقدس کې نږدې نوي زره مسیحیان ووژل شول، د دوی ستره کلیسا نسکوره کړی شوه، اصلي صلیب (هغه چې مسیحیان ګمان کوي عیسی علیه السلام پرې پانسی شوی) د مجوسیانو لاس ته ورغی او مدائن ته انتقال شو، د دوی ستر کشیش زکریا هم د مجوسیانو په لاس اسیر شو، په نیول شوو سیمو کې د مسیحیانو ټول معبدونه ویجاړ کړی شول، خسرو د دغو فتوحاتو له کبله دومره مغرور شوی وو چې هرقل ته ئې په هغه لیك کې چې له بیت المقدس ئې ورلېږلی وو لیکلي ول:

(تر ټولو خدایانو د لوی خدای او د ټولې نړۍ د مالك خسرو له لوري خپل سپك او بې شعور غلام هرقل ته! ته وایې چې پر خپل رب مې ویسا ده! دا ولې ستا خدای یروشلیم زما له لاسه ونه ژغورو؟!!)

له دې فتحې وروسته ایراني فوځونو اردن، فلسطین او د سینا ټوله جزیره ونیول او د مصر پولو ته ورسېدل. دا هغه مهال وو چې په مکه کې د رسول الله ﷺ له بعثت وروسته د توحید او شرك تر منځ یوه بله جګړه پیل شوې وه، هیڅوك نه پوهېدو چې د دې جګړې پایلې او ابعاد به تر هغې جګړې هم ستر او پراخ وي چې هغه مهال د نړۍ د دوو سترو ځواکونو تر منځ روانه وه، نه چا دا ګمان کولی شو چې روم به بېرته پر فارسیانو غالب شي او نه دا چې مسلمانان به پر قریشو برلاسي شي، په داسي حال کې چې په همدغو شپو ورځو کې مسلمانان د قریشو له ظلمونو دومره تنګ شوي وو چې ځینو ئې د حبشې عیسائي سلطنت ته هجرت وکړ، هر چا داسي انګېرله چې نور نو په نړۍ کې داسي ځواك پاته نه دئ چې د فارسیانو مخې ته تم شي، مشرکو قریشو له مجوسي فارسیانو سره خواخوږي درلوده او د دوی پر فتوحاتو خوشحالېدل، مسلمانانو رومیانو ته د اهل کتاب په سترګه کتل او هغوی ئې ځان ته نږدې ګڼل او د دوی پر ماتو خوابدي کېدل. په همدغو ظروفو کې دا مبارکه سوره نازله شوه او دا وړاندوینه ئې وکړه چې د څو راتلونکو کالونو په ترڅ کې به نه یوازې رومیان پر خپل دښمن برلاسي شي بلکې مؤمنان به هم پر یوې ستري بریا خوشحالي کوي. دا دواړه وړاندوینې د ټولو خلکو د انګېرنو او محاسبو خلاف ترسره شوې.

يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ ٱلْءَاخِرَةِ هُمْ غَٰفِلُونَ ﴿٧﴾

د دنیایي ژوند په ځینو څرګندو (اړخونو) پوهېږي په داسي حال کې چې دوی له آخرته غافل دي.

(۷)- د دوی لیدواتې لنډ دئ، یوازې د خپلو پښو مخې ته څو ګامه لیدی شي، قضاوتونه ئې د ظواهرو له مخې وي، لکه څنګه چې د دنیا او آخرت په اړه د دوی انګېرنه سطحي ده همداراز د فارسیانو د ظاهري برې په ارتباط د دوی انګېرنه عجولانه او سطحي ده، په یوې جګړې کې د دوی بریا او برلاسي ته په پام سره ګمان کوي چې نور نو نه د دوی ماته ممکنه ده او نه د رومیانو بیا سرلوړول او برلاسی!! په داسې حال کې چې ډېر ځلي یوه بریا د داسې ماتې مقدمه وي چې د مغرور برلاسي ځواك په بشپړ زوال منتج شي.

أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ
وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآيِٕ رَبِّهِمۡ لَكَٰفِرُونَ ﴿٨﴾ أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي
ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ
وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا
كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٩﴾ ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ
أَسَٰٓـُٔواْ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ بِهَا يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿١٠﴾ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ
ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿١١﴾

آیا له ځان سره ئې فکر نه دئ کړی چې الله آسمانونه او زمکه او څه چې د دوی په منځ کې دي له حق او ټاکلې نېټې پرته (په بله توګه) نه دي پیدا کړي او د خلکو ډېری د خپل رب له ملاقات انکار کوي. آیا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، تر دوی د قوت له مخې ډېر مضبوط ول او زمکه ئې تر هغه زیاته سپړلې (ودانه کړې) وه چې دوی سپړلې، او پیغمبرانو ئې څرګندې نښې وروړې، نو الله پر دوی ظلم نه کاوو بلکې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو، بیا د هغو کسانو عاقبت او پایله بده وه چې بدې ئې وکړه، له دې کبله چې د الله آیتونه ئې تکذیب کړل او استهزاء ئې پرې کوله. الله هغه ذات دئ چې پیدایښت پیلوي بیا ئې اعاده کوي، بیا (ټول) د هغه لوري ته ورګرځول کیږئ.

(۸-۱۰)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- د آخرت او بیا ژوندون په اړه د دوی د غلطو انګېرنو د تردید په اړه دوه داسې مضبوط

دلائل د دوی په وړاندې ړدول شوي چې که هر عاقل انسان له ځان سره پرې فکر وکړي حتماً پرې قانع کیږي: لومړی دا چې په آسمانونو او زمکې کې داسې څه نشي موندلی چې بېهوده، خوشې او بې ګټې وي، په سمه توګه او په حقه نه وي پیدا شوی او په پیدایښت کې ئې کوم حکمت او مصلحت مضمر نه وي!! له دې سره سره څنګه ګمان کوي چې الله تعالی به انسان داسې پیدا کړی وي چې خپلې مخې ته ئې پرېښی، نه د سم کار نېکه بدله ورکوي او نه د غلط کار سزا؟!! داسې غلط کار له هغه الله تعالی سره څنګه مناسب ګڼې چې آسمانونه او زمکه او د دوی په منځ کې هر څه ئې په سمه توګه او پر حق او حقیقت ولاړ پیدا کړي؟!! دوهم دا چې الله تعالی د آسمانونو او زمکې هر څه داسې پیدا کړي چې هم ئې پیدایښت ټاکلې نېټه لري او هم ئې پای. د دې حقیقت له مشاهدې سره سره څنګه ګمان کوي چې دا عالم دائمي دئ او پای نه لري؟!!

- مګر نه ګورئ چې الله تعالی د هر مخلوق پیدایښت پیلوي، بیا ئې اعاده کوي، یا په دې معنی چې په پر له پسې توګه ئې پیدا کوي او یا په دې معنی چې په مرګ ئې محکوموي او په پای کې د هغه په لورې درومي؟!!
- د خپلو مجوسي ملګرو پر موقتي بریا د قریشو د بې ځایه غرور او خوښۍ په ځواب کې ورته ویل شوي: آیا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، تر دوی د قوت له مخې ډېر مضبوط ول او زمکه ئې تر هغه زیاته ودانه کړې وه چې دوی ودانه کړې، پیغمبرانو ئې څرګندې نښې وروړې، دوی انکار وکړ، نو الله تعالی کلك ونیول او سخته سزا ئې ورکړه، دا سزا عادلانه سزا وه، په دې سره الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ کړی، بلکې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو، آیا دا ئې د تاریخ په پاڼو کې نه دي لوستي چې تل د هغو کسانو عاقبت او پایله بده وه چې بدې ئې کړې، له دې بدې پایلې سره له دې کبله مخامخ شوي چې د الله آیتونه ئې تکذیب کړل او استهزاء ئې پرې کوله.
- په دې مبارکو آیتونو کې قریشو او د آخرت او د الهي مکافات او مجازات ټولو منکرینو ته ویل شوي: دا څوك دئ چې ظالمان مواخذه کوي؟ تاریخ ته رجوع وکړئ؛ د هغو متمدنو قومونو انجام وګورئ چې که څه هم په تمدن او قوت کې تر موجوده قومونو ډېر پرمخ تللي ول؛ خو چې د پیغمبرانو د دعوت مخالفت ئې کړی، وګورئ چې الله جل شأنه څنګه مواخذه کړي، له کوم عاقبت سره مخامخ شوي؟! آیا د دوی دا تباهي، تعذیب او هلاکت د دې دلیل نه دئ چې دلته داسې څوك شته چې له هر چا سره محاسبه کوي او عملونو ته ئې بدله ورکوي؟ همدا ذات به قیامت قائموي، همدا ذات هغه دئ چې پیدایښت ئې پیل کړی او له پای ته رسېدو وروسته به ئې بیا اعاده کوي، دا همغه ذات دئ چې ټول به د هغه لورې ته ورګرځول کیږئ.

وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبْلِسُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٢﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمْ شُفَعَـٰٓؤُا۟
وَكَانُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ كَـٰفِرِينَ ﴿١٣﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴿١٤﴾

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمۡ فِي رَوۡضَةٖ يُحۡبَرُونَ ﴿١٥﴾ وَأَمَّا
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآيِٕ ٱلۡأٓخِرَةِ فَأُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ﴿١٦﴾

او هغه ورځ چي (د قيامت) دغه ګړی قائمه شي مجرمين به نهيلي شي. او دوی ته به له خپلو شرکاوو څني (هيڅ) شفاعت کوونکي نه وي، او له خپلو شرکاوو به انکار کوونکي وي. او هغه ورځ چي (د قيامت) دغه ګړی قائمه شي دوی به په دې ورځ سره بېل بېل شي. نو هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي دوی به په داسي باغ کي وي چي (پرې) خوشحاله به کړی شي. او هغه چي کفر ئې کړی او زما آيتونه او د آخرت ملاقات ئې تکذيب کړي نو دوی به عذاب ته حاضر کړی شوي وي.

(١٢-١٦)- په دې مبارکو آيتونو کي له يوې خوا د قيامت په ورځ د هغو مجرمينو او مشرکينو حالت انځور شوی چي په آخرت ئې ايمان نه درلود او له بلي خوا د هغو مؤمنانو ~~چي ايمان ئې راوړی وو او همدغه ايمان نېکو عملونو ته چمتو کړي وو، وايي: کله چي د~~ قيامت دغه ګړی راورسېږي نو مجرمين به نهيلي شي او هر څه به د خپلو انګېرنو خلاف ومومي، چا چي دوی د الله تعالى سيال او ند ګرځولي وو او د شفاعت طمع ئې ترې درلوده وبه ئې ګوري چي مرسته ئې نشي کولی، هلته به ئې هيڅ شفاعت کوونکی نه ترسترګو کيږي، له خپلو شرکاوو به انکار کوي، يو له بله به سره بېل بېل شي. او هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي دوی به په داسي باغ کي وي چي پرې خوشحاله به کړی شي او هغه چي کفر ئې کړی او د الله آيتونه او د آخرت ملاقات ئې تکذيب کړي نو دوی به عذاب ته حاضر کړی شوي وي.

فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظۡهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ
ٱلۡحَيِّ وَيُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ﴿١٩﴾

نو تسبيح ويل دي الله ته؛ هغه مهال هم چي ماښام ته ننوځئ او هغه مهال هم چي سباوون ته ننوځئ، او په آسمانونو او زمکي کي ستاينه (ويل) ده ته (مختص) دي، او بيګا هم او هغه مهال هم چي ماسپښين ته ننوځئ، ژوندی له مړي راباسي او مړی له ژوندي، او زمکه له خپلي مړيني وروسته بيا راژوندی کوي، او همداسي به تاسو هم راايستل کيږئ.

(١٧-١٩)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- باید تل او په ځانګړې توګه له یوه وخت بل ته د ننوتو په مهال د الله تعالی (تسبیح) او (تحمید) ووایو، (تسبیح) یعني الله تعالی له هر عیب او نقص منزه او پاك ګڼل او (تحمید) یعني الله تعالی د ټولو ستاینو وړ ګڼل.
- دلته د تسبیح او تحمید لپاره څلور وختونه تر سترګو کېږي: هغه مهال چې ماښام ته ننوځې، هغه مهال چې سباوون ته ننوځې، بیګا او هغه مهال هم چې ماسپښین ته ننوځې. ماښام، سبا، ماسپښین واضح او ثابت وختونه دي، خو (عشي) د ورځې آخر ته وضع شوی او کله کله له زوال وروسته تر ماخستن پورې وخت افاده کوي، نو ځکه ځینې مفسرین دا د مازدیګر وخت ګڼي او ځیني ئې له زوال تر ماخستن پورې. خو که د آیتونو ترکیب ته ځیر شو داسې برېښي چې دلته ئې مراد یوازې د ماخستن وخت دئ، ځکه په مخکنی آیت کې له ماښام وروسته د سحر یادونه (تمسون او تصبحون) شوې، دا ایجابوي چې (عشي) د (مساء) په څېر له (ظهر) وړاندې وخت وي. د دې عکس ترتیب د آیتونو نظم ته صدمه رسوي. همدا راز دلته دوو متضادو وختونو ته اشاره مراد ده: لږ تیاره او لږ رڼا (ماښام او سباوون)، ډېره تیاره او ډېره رڼا (ماخستن او ماسپښن)، په ورپسې آیت کې هم د مرګ او ژوند دوه متفاوت حالتونه زموږ په وړاندې انځور شوي او وایي: ژوندی له مړي راباسي او مړی له ژوندي، او ځمکه له خپلې مړینې وروسته بیا راژوندۍ کوي، او همداسې به تاسو هم راایستل کېږئ.

که څه هم ځینو درنو مفسرینو دلته (تسبیح) او (تحمید) د لمانځه په معنی تعبیر کړي او دا وختونه ئې د لمانځه پنځه وختونه ګڼلي خو د آیتونو سیاق و سباق له دې تعبیر سره اړخ نه لګوي، ځکه تر دې آیتونو وړاندې هم د قیامت په اړه بحث شوی او د آیتونو په پای کې هم د بیاژوندون خبره شوې، او له دې په صراحت سره معلومېږي چې دلته له وختونو د تیارې او رڼا له پلوه متفاوت وختونه دي، همداسې لکه دنیا او آخرت چې متفاوت وختونه دي او همداسې لکه مرګ او ژوند چې متفاوت حالتونه دي، لکه چې دا وختونه یو په بل پسې راځي او لکه څنګه چې الله تعالی ژوندی له مړي راپیدا کوي او مړه ځمکه بیاراژوندۍ کوي همداسې به قیامت راځي او مړي به بیا راژوندي کېږي. هغه څوك چې له قیامت او بیاژوندون انکار کوي په حقیقت کې د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکي رب ته یو ستر عیب منسوبوي په داسې حال کې چې الله تعالی له هر عیب منزه او د ټولو ستاینو وړ دئ.

وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾

او دا د ده له آیتونو څخه دئ چې تاسو ئې له خاورې راپیدا کړئ، نو بیا ناڅاپه تاسو داسې بشر شوئ چې خورېږئ.

~~(٢٠)- په دې مبارك آیت کې له خاورې د داسې انسان پیدایښت چې منتشر کېږي د الله تعالی د~~ قدرت بارزه نښه ښودل شوې. آیا له خاورې د یوه متحرك، خوځېدونکي او خورېدونکي انسان پیدایښت دا نه ښیي چې پیداکوونکی ئې خلاق رب دئ؟ آیا دا نه ښیي چې الله تعالی له خاورې د انسان په بیا پیدا کولو قادر دئ؟ ولې د هغو مړو بیا راژوندي کېدا درته محال او ګران برېښي چې خاورې شوي؟ مګر الله تعالی په سر کې انسان او ټول ژوي له خاورې نه دي پیدا

كړي؟ آيا دا نن هره ورځ له همدې خاورې انسانان او نور ژوي نه راپيدا كوي؟ دانه او مېوه له خاورې راپيدا كوي، همدا دانه او مېوه د ژوو په بدن كې په نطفې بدلېږي او نوي ژوي ترې پيدا كېږي.

دا مبارك آيت له بعثت او بياژوندي كېدو انكار كونكو ته دوه ستر دلائل وړاندې كوي:

• پداسې حال كې چې هره شيبه له مړې خاورې د ژوو د پيدا كېدو بېلګې ګورې، په يوه باران سره د مړې ځمكې له تل رنګ رنګ ژوي سر راووچت كړي، تا ته ولې له خاورو د انسان د بيا راپيدا كولو كار ګران برېښي؟! څنګه له بيا ژوندون انكار كوې حال دا چې هره شېبه ئې بېلګې ګورې؟!

• تا نه يوازې د بيا ژوندي كولو بېلګو ته پام نه دئ كړى بلكې د پيدا كوونكي خداى د قدرت نښو ته دې هم توجه نده كړې. آيا د ځمكې، آسمانونو او دغه ستر او بې انتهاء عالم او پراخ كائنات او د هغه په غېږ كې د بې شمېره مخلوقاتو پيدا كوونكى، پالونكى، ساتونكى او روزونكى رب لدې عاجز ګڼې چې انسان بيا راپيدا كړي؟!! مګر پدې خور عالم كې د الله د قدرت بې شمېره نښې ستا لپاره كفايت نكوي چې همدا قدير خداى د انسان په پيداكولو قادر وګڼې؟!!

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا لِّتَسۡكُنُوٓاْ إِلَيۡهَا وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةًۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾

او د آيتونو ئې يوه څرګنده نښه دا ده چې تاسو ته ئې په خپله له تاسو داسې جوړې راپيدا كړې چې خوا ته ئې آرامښت ومومئ، او ستاسو تر منځ ئې مينه او پيرزوينه راپيدا كړه، يقيناً چې په دې كې هغو وګړو ته څرګندې نښې دي چې تفكر كوي.

(٢١)- په دې مبارك آيت كې څو مهمې لارښووني زموږ په وړاندې ځلېږي:

• موږ ګورو چې انسانان او نور ژوي د دوى د نسل د دوام په موخه او د يوې دقيقې منصوبې له مخې جوړه جوړه (نر او ښځه) پيدا شوي، كه دوى همداسې جوړه جوړه نه وى پيدا شوي نو د نسل دوام ئې ممكن نه وو.

• دوى نه يوازې جوړه جوړه پيدا شوي بلكې د دغو جوړو تر منځ د (مينې) او (پېرزوينې) شاهد يو، همدا مينه او پيرزوينه د دې باعث شي چې كورنۍ رامنځته شي او د كورنۍ په غېږ كې د ماشوم د روزنې او حفاظت لازم او مناسب شرائط برابر شي، كه داسې نه وى نو د ژوو د نسل دوام ممكن نه وو.

• آيا دا ښكارندويي په څرګنده توګه او په جګ غږ موږ ته نه وايي چې دا عالم حكيم او عليم رب لري؟ آيا موږ ته لارښوونه نه كوي چې د دې عالم خالق او پيدا كوونكى د انسان په بيا پيدايښت قادر دئ؟ آيا له دغو څرګندو حقائقو انكار ډېر جاهلانه انكار نه دئ؟

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفُ أَلۡسِنَتِكُمۡ وَأَلۡوَٰنِكُمۡۚ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡعَٰلِمِينَ ﴿٢٢﴾

او د آيتونو ئې يوه (ځرګنده نښه) د آسمانونو او زمکې پيدايښت او ستاسو د ژبو او رنګونو اختلاف (بېلوالی) دئ، يقيناً چې په دې کې پوهانو ته ځرګندې نښې دي.

(۲۲)- دا مبارک آيت دغه ستر ستر حقائق زموږ په وړاندې ږدي:

• د آسمانونو او زمکې پيدايښت، له دومره پراخوالي، ستروالي او رنګ رنګ مخلوقاتو سره او له دومره نظم او دقت سره د رب العالمين د قدرت ځرګنده نښه ده، کوم عقل به دا ومني چې دا ستر عالم دې له کوم ځواکمن او عليم خالق پرته پيدا شوی وي، په داسې حال کې چې د عالم هرې خوا ته او په هر څه کې ئې د علم، دقت، حکمت، هدفمنی او ښايست نښې او آثار له ورايه برېښي او په دې شهادتورکوي چې خالق ئې عليم او حکيم ذات دئ؟!!

• دا بې شمېره انسانان، په بېل بېل شکل او رنګ کې، له متفاوتو استعدادونو او بېلو بېلو ژبو سره ښيي چې احسن الخالقين خالق پيدا کړي، که انسانان په ماشيني توګه پيدا کېدی نو د ټولو شکل، رنګ او ژبه به سره ورته وو، خو موږ په ټول عالم کې دوه داسې انسانان نشو موندلی چې له هره پلوه سره ورته وي. يقيناً چې د انسانانو تر منځ د شکل، رنګ او ژبې اختلاف د احسن الخالقين رب د قدرت ستره او عقل پاروونکې نښه ده او په دې کې پوهانو ته ځرګندې لارښوونې دي.

• په رښتيا که زموږ ژبې بېلې بېلې نه وی، له لومړي حالت ئې ارتقاء نه شوی کولی او موږ د نويو شيانو لپاره نومونه نه شوی وضع کولی، له څومره ستونزو سره به مخامخ وو، د يوه شي په هکله د بحث په دوران کې به مجبور وو هغه شی په خپله راحاضر کړو!! او که زموږ رنګونه او شکلونه سره مختلف نه وی د خلکو په پېژندا کې به له څومره کړاوونو سره مخامخ وو، په يوې کورنۍ کې دوه ماشومان جوړه او په يوه شکل او رنګ پيدا او ستر شي، هر څوک پرې غلطيږي، معامله ئې له يوه سره وي او دعوی پر بل کوي، که د ټولې نړۍ خلک يو رنګ او ژبه ئې سره ورته وی، نړۍ وال به له څومره ستر کړاو سره مخامخ ول، په دې اړه د قرآن وينا څومره دقيقه او درنه ده چې فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ
عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ﴿١٣﴾

الحجرات: ۱۳

اې خلکو! يقيناً چې موږ له يوه نارينه او يوې ښځينه راپيدا کړئ او ټبر ټبر او قبيلې قبيلې مو کړئ تر څو يو بل وپېژنئ، بې شکه چې د الله په وړاندې ستاسو تر ټولو غوره ستاسو تر ټولو زيات پرهېزګار دئ، يقيناً چې الله ښه باخبره پوه دئ.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبۡتِغَآؤُكُم مِّن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ﴿٢٣﴾

او د آيتونو ئي يوه (څرگنده نښه) په شپه او ورځ كي ستاسو خوب او د ده د فضل لټونه مو ده، يقيناً چي په دې كي د هغو وگړو لپاره څرگندي نښي دي چي اوري.

(۲۳)- دلته د انسان دوو اساسي اړتياوو ته گوته نيول شوې: خوب او رزق، په خوب سره د هغه ذهني ستړيا رفع كيږي او د ورځني كار په ترځ كي ضائع شوې انرژي جبرانوي او په رزق سره د مزيد كار ځواك ترلاسه كوي، الله تعالى نه يوازي انسان داسي پيدا كړى چي د خپلي دغي فطري اړتيا رفع كولو لپاره خوب پرې راځي بلكي عالم ئي داسي پيدا كړى چي د دې اړتيا په تأمين كي د انسان مرسته وكړي او داسي مناسب شرائط ورته مهيا كړى چي دى په كي په ډاډه زړه خوب كولى شي، انسان د خوب لپاره (چوپتيا) او (تيارې) ته ضرورت لري، نه په شور او ځوږ كي سم خوب كولى شي او نه په تېزي رڼا كي، دا دئ گورئ چي د (انسان) او (عالم) پيداكوونكي رب؛ طبيعت داسي جوړ كړى چي له هرو څو گنټو وروسته شپه راشي، په هر څه خپل وزر خور كړي، غږونه چوپ شي او په دې توگه د انسان د خوب لپاره اړين شرائط برابر شي!! همداراز انسان رزق ته اړ دئ، د ده او د نورو ژوو د روزي اساسي برخه دانه، مېوه او واښه دي، دا ټول له رڼا او تودوخي پرته نشي پيدا كېدى، الله تعالى ورځ راولي، د زمكي مخ لمر ته واړوي، لمر زمكي ته هم رڼا وركړي او هم تودوخه، په دې توگه هم زمكه په واښو، دانو او مېوو سمسوره شي او هم د انسان لپاره داسي شرائط برابر شي چي هر څه په كي ليدى، پېژندى او كار ترې اخيستى شي، كه دا دقيق نظام نه وى د زمكي پر سر ژوند ممكن نه وو.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَيُحۡيِۦ بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٢٤﴾

او د آيتونو ئي يوه (څرگنده نښه) دا ده چي برېښنا د ويري او طمعي په توگه درښيي او له آسمان اوبه نازلوي او په دې سره زمكه له خپلي مړيني وروسته راژوندى كوي، يقيناً چي په دې كي هغو وگړو ته څرگندي نښي دي چي تعقل كوي.

(۲٤)- د آسمان دا برېښنا چي له تېزي رڼا او هيبتناك ږغ سره توأم وي، په چا كي وېره او په چا كي طمع راولاړوي، باران ته اړ او منتظر خلك ورته طمع كوي، او له باران بې زار او له سيلابونو وېرېدونكي ترې وېره كوي، هيبتناك ږغ ئي د هر چا په زړه كي وېره راولاړوي، همدا د زمكي پر سر د ژوند تومنه او د ژوند د دوام وسيله ده، په همدې سره د هغه باران ورېدا پيل شي چي مړه زمكه پرې راژوندى شي، آيا دا د ژوند بخښونكي، قيوم او مدبر ذات د

حکیمانه تصرف څرګنده نښه نه ده؟ یقیناً چې په دې کې هغو وګړو ته څرګندې نښې دي چې تعقل کوي.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ بِأَمۡرِهِۦۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمۡ دَعۡوَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ إِذَآ أَنتُمۡ تَخۡرُجُونَ ﴿٢٥﴾

او د آیتونو ئې یوه (څرګنده نښه) دا ده چې آسمان او زمکه د ده په حکم قائم دي، بیا کله چې تاسو له زمکې وروبلي ناڅاپه به راوځئ.

(۲۵)- دا مبارك آیت موږ ته وايي: تاسو په آسمان او زمکې کې د یوه دقیق، مضبوط او پر حکمت مبتني نظم شاهد یئ، هر څه ئې په خپل خپل ځای کې او په منظمه توګه ساتل کیږي، اداره کیږي او له بې نظمی او تصادم ئې مخنیوی کیږي، آیا دا نه ښيي چې آسمانونه او زمکه د یوه ځواکمن رب تر بشپړې سلطې لاندې اداره کیږي؟ آیا دا د الله تعالی د آیتونو یوه څرګنده نښه نه ده چې آسمان او زمکه د ده په حکم قائم دي؟! آیا هغه ذات چې دا پراخ عالم اداره کوي له دې عاجز ګڼئ چې تاسو له مړیني وروسته بیاراژوندي کړي؟! یقیناً چې د داسې ځواکمن او مقتدر ذات یوازې یوه بلنه کافي ده چې تاسو له زمکې ژوندي راووځئ.

په دې مبارك آیت کې ویل شوي چې آسمان او زمکه د الله تعالی په حکم قائم (ولاړ) دي، د آسمان په اړه د (قائم او ولاړ) مطلب واضح دئ خو د زمکې په اړه دا صیغه څنګه کارول شوې او څه مطلب افاده کوي؟ او څنګه د آسمان او زمکې ودرېدا سره ورته ده او د دواړو لپاره یوه صیغه کارول شوې؟ آیا له دې وینا په ډېر وضاحت سره نه معلومیږي چې زمکه د آسمان په څېر ولاړه ده؟ د آسمان په غېږ کې چې کوم واړه او ستر ستوري دي ټول په فضاء کې معلق ولاړ او هر یو ئې په خپل خپل مسیر کې خوځي، زمکه هم یو له دغو بې شمېره ستورو څخه ده او ودرېدا ئې د نورو په څېر ده، انسانانو ته دغه حقیقت اوس او له ډېرو علمي څېړنو وروسته معلوم شوی، خو په دغه مبارك آیت کې څوارلس سوه کاله وړاندې دغه علمي حقیقت ته اشاره شوې او یقیناً چې دا د قرآن بل علمي اعجاز دئ.

متأسفانه په مفسرینو کې داسې خلك هم موسو چې نه یوازې د قرآن دا صریح او واضح لارښوونه ئې له پامه غورځولي او داسې څه ئې ویلي او لیکلي چې سل په سلو کې د قرآن د دې وینا خلاف دي بلکې تر دې هم وړاندې تللي او د نورو غلطو او خرافي مذاهبو د غلطو افکارو او عقائدو تر اغېز لاندې ئې د قرآن آیتونه په غلطه توګه تعبیر او تفسیر کړي، یوه بېلګه ئې د زمکې په اړه د ځینو مفسرینو دا خرافي رأیه ده چې وايي: زمکه د غوائي په ښکر ولاړه ده، دا غوائی د کب پر شا ولاړ دئ او کب په اوبو کې دئ!! ډېره ډېره عجیبه ده چې څوك د الله تعالی د کلام په اړه داسې جسارتونه کوي او داسې خرافي او د عقل خلاف چټي خبرې د قرآن د تفسیر په توګه وړاندې کوي!!

وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿٢٦﴾

او هغه چي په آسمانونو او زمكي كي دي د ده دي، ټول ورته منقاد دي.

(٢٦)- دا مبارك آيت موږ ته لاربښوونه كوي چي د آسمانونو او زمكي هر څه د الله تعالى دي، هم له دې پلوه چي ده پيدا كړي او دى ئې يوازينى خالق دئ او هم له دې پلوه چي د ده په واك كي دي او د ده حكم ته منقاد دي، همغه څه كوي چي الله تعالى پرې ګمارلي.

وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ وَلَهُ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰ فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٧﴾

او دى هغه ذات دئ چي پيدايښت پيلوي بيا ئې اعاده كوي او دا (اعاده ئې) ده ته ډېر آسان دئ، او په آسمانونو او زمكي كي لوړ لوړ مثالونه ده ته دي او دى باحكمته عزتمن دئ.

(٢٧)- تاسو په عالم كي بې شمېره مخلوقات ګورئ چي خلقت ئې د لومړي ځل لپاره پيل شوى او بيا ئې نسل په پرله پسې توګه دوام كوي، زوړ شي، مړ شي او خپل ځاى خپل خلف او نوي نسل ته پرېږدي، د خلقت دغه لړۍ په مسلسله توګه روانه ده، هره شيبه نوي نوي مخلوقات پيدا كېږي او همداسي ئې د نسل د دوام شرائط برابرېږي، د چا په اراده چي دا كار ترسره كېږي هغه د عالمونو رب الله تعالى دئ، آيا دغه رب ته د انسان بيا پيدا كول ګران دي او تا ته ګران برېښي؟!! آيا بيا اعاده تر لومړي پيدايښت ډېره آسانه نه ده؟!! په آسمانونو او زمكي كي د بې شمېره داسي لوړو لوړو مثالونو او بېلګو شاهد يو چي موږ ته په جګ ږغ وايي: د عالم رب باحكمته عزتمن دئ، د (حكمت) او (ځواكمنۍ) مظاهر ئې هر لوري ته تر سترګو كېږي، څنګه هغه باحكمته او عزتمن رب د انسان له بيا پيدا كولو عاجز ګڼئ چي دا پراخ عالم، آسمانونه او زمكه ئې پيدا كړي او هر څه ئې ساتي او پالي؟!!

ضَرَبَ لَكُم مَّثَلٗا مِّنۡ أَنفُسِكُمۡۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِي
مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ فَأَنتُمۡ فِيهِ سَوَآءٞ تَخَافُونَهُمۡ كَخِيفَتِكُمۡ أَنفُسَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ
نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٢٨﴾ بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَهۡوَآءَهُم بِغَيۡرِ
عِلۡمٖۖ فَمَن يَهۡدِي مَنۡ أَضَلَّ ٱللَّهُۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٩﴾

تاسو ته په خپله ستاسو يو مثال بيانوي: آيا په هغه څه کي چي تاسو ته ئې درروزي کړي داسي شريکان مو شته چي ستاسو لاسونه ئې مالك وي (ستاسو مملوك او مريي وي) نو تاسو په هغه کي سره برابر وئ؛ داسي ترې وېرېږئ لکه له خپلو ځانونو وېره؟!! همداسي هغو وګړو ته آيتونه په تفصيل سره بيانوو چي تعقل کوي. بلکي هغو چي ظلم ئې کړی له کومي پوهي پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی. نو هغه به څوك هدايت کړي چي الله بې لاري کړی او هيڅ مرستندويان ئې نشته.

(۲۸-۲۹)- په دې مبارکو آيتونو کي د شرك د ترديد لپاره يو ښکلی او عقل پارونکی مثال وړاندي شوی، هغو ته چي د مريانو خاوندان دي ويل شوي: آيا په هغه څه کي چي الله تعالی تاسو ته درروزي کړي داسي شريکان مو شته چي ستاسو مملوك او مريان وي او تاسو او دوی په هغه رزق کي چي ستاسو په واك کي دئ سره برابر شريك وئ، کله چي په خپل رزق کي تصرف کوئ نو له دوی داسي وېرېږئ لکه له خپلو سيالانو وېره؟!! هيڅوك داسي نه کوي چي خپل مريان په خپلو شتمنيو کي برابر شريك کړي، هيڅوك په خپلو شمتنيو کي د تصرف په دوران کي د خپل غلام په اړه داسي انديښنه نه کوي چي د خپل سيال شريك په اړه ئې کوي، دا په داسي حال کي چي ټول انسانان دي، نه شتمن له خپل مريي په خلقت کي څه توپير لري او نه ئې سيالان، د ټولني ځانګړو اجتماعي شرائطو دی شتمن کړی او ده ته ورته انسان ئې د ده مريي کړی!! که د انسان په اړه دا تصور معقول نه برېښي نو دا مشرکين څنګه د الله تعالی په اړه داسي انګېري چي کوم مخلوق او بنده به ئې په خپل ملك او مالکيت کي له ځان سره شريك کړی وي او د تصرف په دوران کي به دا انديښنه لري چي شريك ئې ناراض نشي؟!! يقيناً چي په دې عبرتناك مثال کي د هغو وګړو لپاره څرګند دليل دئ چي تعقل کوي، او هغه چي د شرك لوی ظلم ئې کړی او په الوهيت او ربوبيت کي ئې يو مخلوق د الله تعالی شريك ګرځولی؛ يقيناً چي ستر ظلم ئې کړی، هم له خپل عقل سره او هم د الله تعالی په اړه، له کومي پوهي پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی او د الله تعالی په اړه ئې داسي څه ويلي چي له هوس او شيطاني القاءاتو راټوکېدلي. داسي انګېرني له هغه زړه او دماغ راټوکېږي چي په الهي ځلاندو لارښوونو نه دي روښانه شوي، نو هغه به څوك هدايت کړي چي الله بې لاري کړی، دوي په ټول عالم کي داسي مرستندويان نشي موندلی چي له تيارو ئې وباسي او په حقيقت ئې پوه کړي.

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ
ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ
وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟

دِينَهُمْ وَكَانُواْ شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبِۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾

نو خپل مخ دې په يو مخيزه (بشپړه) توګه د دين لوري ته سم مخامخ کړه، همغه الهي فطرت ته چې خلك ئې پرې (فطرتاً) پيدا کړي، د الله پيدايښت ته هيڅ بدلون نشته، همدا سم او مضبوط دين دئ خو ډېرى خلك نه پوهېږي. د ده لوري ته انابت کوونکي او ترې وويرېږئ او لمونځ قائم کړئ او له مشرکينو څني مه کېږئ، له هغو چې خپل دين ئې شيندلى دئ او ډلي ډلي شوي وو، هره ډله پر هغه څه خوښ چې ورسره ول.

(۳۰-۳۲)- د پورتنيو مضبوطو او قانع کوونکو دلائلو تقاضاء دا ده چې له الله تعالى پرته له بل هر معبود مخ واړوو او په بشپړه او کامله توګه الله تعالى ته مخه کړو او هغه يوازينى رب وګڼو، په دې مبارکو آيتونو کې د قرآن مخاطب ته ويل شوي: نو خپل مخ دې په يو مخيزه او بشپړه توګه د دين لوري ته سم مخامخ کړه، همغه الهي فطرت ته چې خلك ئې پرې فطرتاً پيدا کړي، دا دين د هغه فطرت مطابق دئ چې الله تعالى انسانانو ته ورپه برخه کړى، دا فطرت نه د زمانې په تېرېدو سره بدلېږي او نه د شرائطو په بدلېدو سره، د الله تعالى فطري خلقت او پيدايښت هيڅکله بدلون نه مومي، همدا سم او مضبوط دين دئ؛ خو ډېرى خلك نه سم دين پېژني او نه په دې پوهېږي چې د دوى د فطرت تقاضاء څه ده. په داسي حال کي دي الهي دين ته ننوځئ چې د خپل رب لوري ته انابت کوونکي يئ او ترې وېرېږئ، لمونځ قائم کړئ او له مشرکينو څني مه کېږئ، له هغو چې خپل دين ئې شيندلى دئ او ډلي ډلي شوي دي، هري ډلي ځان ته بېل بېل دين او تګلاره غوره کړې او هره ډله پر خپل مذهب او تګلاري خوښ دي.

وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ
مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ ۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾
أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُواْ بِهِۦ يُشْرِكُونَ ﴿٣٥﴾

او کله چې خلکو ته کوم کړاو ورسېږي خپل رب ته په داسي حال کي دعا کوي چې د ده لوري ته انابت کوونکي وي، بيا کله چې له خپل لوري کوم رحمت وروڅکي ناڅاپه د دوى يوه ډله د خپل رب په اړه شرك کوي. د دې لپاره چې د هغه څه په اړه ناسپاسي وکړي چې دوى ته ئې ورکړي، نو متمتع شئ چې ژر به (ئې په پايلې) پوه شئ، آيا پر دوى مو کوم داسي دليل نازل کړى چې دوى ته د هغه څه په اړه وينا کوي چې دوى پرې شرك کوي؟!

(۳۳-۳۵)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- دلته د انسان د فطري جوړښت يوه داسي اړخ ته اشاره شوې چي ښيي د ده په خټه کي پر الله تعالی ايمان او په کړاوونو کي د هغه په وړاندي د دعاء احساس تعبيه شوی، دا دئ ګوري چي کله انسان له کړاوونو سره مخ شي، زور، ځواك او تدبيرونه ئې له کړاوونو ونه شي ژغورلی، له غرور او مستي ولوېږي، نو خپل رب ته مخه کړي او په انابت او زاريو سره مرسته تري غواړي!! که پر الله تعالی ايمان د انسان فطري ښکارندويه نه وی نو هغه مهال به ئې د خپل رب په وړاندي د دعاء لاسونه نه لوړول چي کړاوونه ئې له مستي وغورځوي، عقل ئې سر ته راولي او طبيعي حالت ته ئې وګرځوي.
- د انسانانو بله ډله داسي ده چي کله الله تعالی له خپل لوري کوم رحمت وروڅکي د همدې رحمت له کبله د خپل رب په اړه شرك کوي، دا نعمت له الله تعالی پرته بل ته منسوبوي او د بل له لوري ئې ګڼي، اصلي منعم هېر کړي، يا ئې د خپلو متو او تدبير نتيجه ګڼي يا له الله تعالی پرته د بل چا پېرزوينه، او دا هم د دې لپاره چي غواړي د همدې نعمت په اړه ناسپاسي وکړي، او په هغه کي د خپلي خوښي او په آزاد لاس تصرف وکړي، که دا الله تعالی ته منسوب کړي او د خپل رب له لوري ئې يوه پېرزوينه وګڼي، دا احساس ئې دې ته اړ باسي چي په نعمت کي د تصرف په دوران کي د منعم رضايت په پام کي ولري او له داسي تصرف ډډه وکړي چي هغه پرې ناراضه کېږي، خو دوی آزاد او د خپل هوس مطابق تصرف غواړي، نو ځکه ورته ويل شوي: نو متمتع شئ چي ژر به (ئې په پايلې) پوه شئ!!

قرآن دلته او په ګڼ شمېر نورو مواردو کي د مشرکينو په اړه وايي: آيا د دې شرك لپاره کوم عقلي او نقلي دليل لري؟!! د دې معنی دا ده چي هيڅوك د شرك په اړه کوم عقلي او نقلي دليل نشي وړاندي کولی، څوك چي د الله تعالی د کوم نعمت پېرزوينه له خپل رب او اصلي منعم پرته بل ته منسوب کړي داسي شرك ئې کړی چي هم د عقل خلاف دئ او هم د الله تعالی له لوري نازل شوي کتاب خلاف.

وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُواْ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴿٣٦﴾

او کله چي خلکو ته کوم رحمت وروڅکو پرې خوښ شي، او که د هغه څه له کبله کومه ستونزه وروررسېږي چي د دوی لاسونو وړاندي کړي ناڅاپه دوی ناهيلي کېږي.

(٣٦)- دا مبارك آيت د انسان يوه بله فطري کمزوري داسي انځوروي: کله چي ده ته کوم رحمت وروڅکو پرې خوښ شي او که د هغه څه له کبله کومه ستونزه وروررسېږي چي د دوی لاسونو وړاندي کړي ناڅاپه دوی ناهيلي کېږي.

دا مبارك آيت موږ ته دا لارښوونه هم کوي چي کوم نعمتونه د انسان په برخه کېږي دا ټول د الله تعالی د رحمت له کبله او د ده پېرزوينه ده، منشأ ئې د ده ذاتي صفت دئ، دی رحمن دئ، هر انسان که مؤمن وي او که کافر، په يوې او بلي بڼې د ده د پراخ رحمت خوند څکي، خو مصيبتونه، ستونزي او کړاوونه د انسان د کړنو محصول او بدله ده، چي کله په خپله

عامل ته ورګرځي او کله ئې لمن پراخه شي او د ده همنوع او ورور ته هم سرايت کوي.

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٧﴾

آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې الله هر چا ته چې وغواړي روزي پراخوي او تنګوي، يقيناً چې په دې کې هغو وګړو ته ځرګندې نښې دي چې ايمان راوړي.

(۳۷)- دا د رزق د پراخوالي او تنګوالي پريکړه څوك كوي؟ هغه څوك دئ چې کله له آسمانه ګټور بارانونه وروي او له زمکې سمسور فصلونه راټوکوي چې انسانانو ته په پراخه پيمانه خوندورې مېوې او دانې راپيدا کړي او کله بيا داسې حالت راولي چې نه آسمان باران پرې پيرزو کوي او نه زمکه خوندورې مېوې او دانې؟!! که دا ټول د الله تعالی له لوري وي او پريکړه ئې د انسان له لوري نه بلکې د الله تعالی له لوري کېږي نو دا مشرکين څنګه خپل نعمتونه له الله تعالی پرته د بل چا پيرزوينه او لورېينه ګڼي؟!! آيا په دې کې هغو وګړو ته ځرګندې نښې نه دي چې ايمان راوړي؟! آيا دا کافي نه ده چې انسان پر الله تعالی ايمان راوړي؟!

فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٣٨﴾

نو د خپلوۍ خاوند، مسکين او مسافر ته د هغه حق ورکړه، دا هغو ته غوره دئ چې د الله رضا غواړي، او همدا دوی برياليي دي.

(۳۸)- دا آيت له يوې خوا موږ ته لارښوونه کوي چې د نعمتونو په اړه د پورتني باور تقاضاء دا ده چې په هغوی کې د تصرف په دوران کې د منعم رضاء په پام کې ولرو او له بلې خوا وايي چې ستاسو په مالونو کې د خپلوۍ خاوندان، مسکينان او مسافران ثابت حق لري، د هغوی حق ورکړئ، داسې مه انګېرئ چې ستاسو مال ستاسو ذاتي شتمني ده او په هغه کې نه د بل چا څه حق شته او نه په مالونو کې ستاسو تصرف څه حدود، تقاضاوې او شرائط لري، بل ته چې څه ورکوئ دا د هغه حق وګڼئ نه خپله احسان او پېرزوينه، همدا کړنلاره او باور هغو ته غوره دئ چې د الله رضا غواړي، او همدا دوی برياليي دي.

وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن رِّبٗا لِّيَرۡبُوَاْ فِيٓ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرۡبُواْ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن

زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُضْعِفُونَ ﴿٣٩﴾

او له سود مو چې څه د دې لپاره ورکړي چې د خلکو په مال کې وده وکړي نو د الله په وړاندې وده نه کوي، او له زکات مو چې څه د الله د رضاء په تکل ورکړي نو همدا دوی (څو ځلي) زیاتوونکي دي.

(۳۹)- دا مبارك آیت د اقتصادي مناسباتو دوه متقابل صورتونه زموږ په وړاندې ږدي: ربا (سود) او زکات، د سود په اړه وایي: هغه څه (مال) چې خلکو ته ئې د دې لپاره ورکوئ چې د هغوی په مال کې زیات شي، وده وکړي او تر خپل اصلي او لومړني مقدار زیات تاسو ته بېرته راستون شي، دا سود دئ او د الله تعالی په وړاندې وده نه کوي او بې برکته دئ، او کوم څه چې د زکات په توګه او د الله تعالی د رضاء په تکل ورکوئ نو په دې سره نه یوازې د خپل رب رضاء ترلاسه کوئ بلکې مضاعف بدله او اجر درپه برخه کېږي، همدا زکات ورکوونکي د الهي معیارونو له مخې د خپلو نعمتونو څو ځلي زیاتوونکي دي.

د دې مبارك آیت الفاظ ډېر صریح او حکم ئې ډېر پرېکنده دئ او هرې هغې معاملې ته د سود (ربا) نوم ورکوي چې بنسټ ئې پر داسې تعامل ولاړ وي چې د یوه مال د بل په مال کې زیات شي، یو بل ته خپل مال ورکړي او د مال دا لومړنی خاوند، څه موده وروسته، هم خپل مال او هم ئې اضافي ګټه ترلاسه کړي، پرته له دې چې څه کار، زیار او څه تاوان ئې ګاللی وي. د (زکات) په مقابل کې د (ربا) راوړل د سود ماهیت او څرنګوالی لازیات واضح کوي، زکات دا دئ چې څوك په خپل حلال مال کې یوه برخه د فقیر او مسکین مسلم حق وګڼي او هغه د الله تعالی د رضاء ترلاسه کولو په موخه ورکړي او سود دې ته وایي چې څوك د خپل نفس راضي کولو په موخه خپل مال بل ته په دې شرط ورکړي چې مزید مال او ګټه ترلاسه کړي.

دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا دا هم د سود په ضمن کې راځي چې څوك خپله د کر زمکه بل ته ورکړي او هغه ئې وکري او ګټه د دواړو تر منځ په یوه عادلانه او معقول تناسب ووېشل شي؟ یا خپلې پیسې بل ته ورکړي او هغه پرې تجارت وکړي، کور پرې جوړ کړي او په کرایه ئې ورکړي، زمکه پرې واخلي او وئې کري، یا کوم بل ګټور کار پرې وکړي او په ګټې کې ئې دی او د زمکې او مال خاوند شریك وي؟ که دې پوښتنې ته د دې مبارك آیت په رڼا کې ځواب ووایو نو یقیناً ځواب به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې د مسکین له خولو د ګټې ترلاسه کولو پر ځای له هغه سره مرسته وکړه، له ګټې پرته حسنه قرض ورکړه، هغه ستا ورور دئ او ستا په مال کې د حق خاوند، که د الله تعالی رضاء لټوې او دا غواړې چې الله تعالی ستا په مال کې برکت واچوي نو یا بلاعوضه مرسته ورسره وکړه او یا له ګټې پرته حسنه پور ورکړه. خو دا چې آیا داسې معامله جائز ده که نه؛ باید ووایو چې ځینو فقهاوو په دې شرط جائز ګڼلې چې په ګټې کې دواړه لوري په یوه عادلانه تناسب شریك وي او د تاوان په صورت کې د مال خاوند د تاوان پېټی قبول کړي.

دې ته مو باید پام وي چې دا معامله اوس له مخکنې انفرادي حالته وتلې او پراخه نړۍ واله بڼه ئې غوره کړې، ستر ستر بانکونه رامنځته شوي، له یوه د سود په بدل کې پیسې ترلاسه کوي، بل ته ئې د سود په بدل کې ورکوي، هغه پرې یا تجارت کوي، یا کورونه

جوړوي او په كرايه ئې وركوي، يا د حمل و نقل وسائل (لكه كښتى، جهازونه او موټرې) پېري او ګټه ترلاسه كوي، او دې ته ورته كوم بل كار پرې روانوي، څه موده وړاندې دې ته د يوه ګټور اقتصادي تعامل په سترګه كتل كېدل، په اسلامي نړۍ كې هم ځينو هڅه وكړه چې دې ته اسلامي رنګ وركړي، خو په دې وروستيو كې د دې معاملې بدې پايلې راڅرګندې شوې، د امريكا او اروپا ستر ستر بانكونه له افلاس سره مخامخ شول، ستر ستر اقتصادي بحرانونه ئې وزېږول، دولتونه مجبور شول د دې خطرناكو بحرانونو د حل لپاره دغو بانكونو ته په ملياردونو ډالر پور وركړي، خو سره له دې ونه توانېدل چې دا ستونزه حل كړي، يوه بېلګه ئې په افغانستان كې رامنځته شوه، د صليبي ځواكونو له تسلط وروسته ګڼ شمېر بانكونه جوړ شول، ټول ئې د هغو كړيو له لوري چې دغو ځواكونو واك ته رسولي ول، دغو بانكونو په غولوونكو اعلاناتو سره له خلكو پيسې ترلاسه كړې، د اقتدار خاوندانو له دغو بانكونو د پور په نامه په لوى مقدار كې پيسې واخيستې، بهر ته ئې انتقال كړې او په دوبۍ او نورو هېوادو كې ئې كورونه او هوټلونه جوړ كړل، په پاى كې بانكونو ته نه ګټه مسترد شوه او نه د قرضې اصلي مبلغ، دا ځكه چې دا مبالغ هم له خلكو په دوكه ترلاسه شوې وو او هم له بانكونو، د كابل بانك نږدې يو مليارد ډالر د څو خائنانو له لوري اختلاس شول، هغه هم د لوړ پوړو چارواكو او د دوى د خپلوانو له لوري!! آيا عجيبه نه ده چې څوك داسې معاملې ته د مضاربت نوم وركړي او هغه جائز وګڼي؟!! له هغو مفتيانو چې دا معامله جائز ګڼي پوښتنه كوم: د مال د خاوند او هغه چا تر منځ چې په دې مال كوم توليدي كار ترسره كوي او څه ګټه ترلاسه كوي څومره كسان له كوم ګټور او توليدي كار او زيار پرته مستفيد كېږي؟ د بانك له شريكانو نېولې تر مأمورينو پورې او د هغو شركتونو له مالكانو نېولې چې له دغو بانكونو د سود په بدل كې پيسې ترلاسه كوي د دوى تر اداري پرسونل پورې؟!! څنګه داسې معامله جائز ګڼئ چې له سر تر پايه په دوكې، سود، له زيار ګاللو او تاوان منلو پرته ګټې باندې ولاړه ده؟!! ولې هغې معاملې ته اسلامي رنګ وركوئ چې د غرب له ظالمانه پانګوال نظام زېږېدلې او هغوى ته ئې بدې پايلې تحويل كړې؟!! نړۍ وال بانكي نظام په بشپړه توګه پر سودي تعامل ولاړ دئ، دا د غربي پانګوال نظام يوه ځانګړتيا ده، غربيانو دا نظام پر نړۍ والو تپلى، ولې دا هڅه كوئ چې له كفري نظام زېږېدلي بانكي سيستم ته شرعي او اسلامي رنګ وركړئ؟ څه دې ته اړ كړي يئ چې له دې كفري نظام راولاړو شوو ستونزو ته داسې نسخه وړاندې كړئ چې نه يوازې د حل لار او ذريعه نه ده بلكې د اسلام په اړه شكوك او شبهات راولاړوي؟ ولې نه وايئ چې دا ستونزې غير اسلامي تګلارو زېږولې علاج ئې دا دئ چې دا نظام په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي، هم ئې فكري بنسټونه نسكور شي او هم ئې كړنلارې او تګلارې؟!!
اسلام داسې نظام دئ چې ټولې برخې ئې سره تړلې دي، يوه برخه ئې له نورو بېل هيڅكله هغه نتيجه نه وركوي چې د نورو په څنګ كې او له نورو سره يو ځاى ئې وركوي، داسې نشي كېدى چې د يوې ټولنې فكري، سياسي، اجتماعي او اقتصادي مناسبات به په بشپړه توګه پر غيراسلامي بنسټونو ولاړ وي او د اسلامي اقتصاد د يوې برخې په پلې كولو سره به د هغې ټولنې ستونزې حل كېږي!! د پانګوال غربي نظام له بانكي سيستم نه د راولاړو شوو ستونزو د حل لپاره د مضاربت نسخه وركول د هغه ډاكټر نسخې ته ورته ده چې يوه بيمار ته د سرخوږي دوا وركوي خو په دې نه پوهېږي چې دا سرخوږى ئې له څه راولاړ شوى او

عامل ئي څه دئ!! يقيناً چي د داسي ډاکټر نسخه به د ګټي پر ځای بيمار ته لازيات تاوان رسوي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمۡ ثُمَّ رَزَقَكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۖ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفۡعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىۡءٍۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٤٠﴾

الله هغه ذات دئ چي تاسي ئي پيدا کړئ، بيا ئي تاسو ته روزي درکړه، بيا تاسي مړه کوي، بيا مو بېرته راژوندي کوي، آيا ستاسي له شريکانو داسي څوك شته چي له دې کارونو کوم يو وکړی شي؟! پاکي ده الله لره او هغه لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئي ورسره شريك ګرځوي.

(٤٠)- په دې مبارك آيت کي هغه څلور امور په ګوته شوي چي الله تعالی ته مختص دي او په هغوی کي هيڅوك له ده سره شريك نه دئ: ١- د انسان پيدايښت، ٢- د هغه د رزق او روزي انتظام، ٣- د هغه د مرګ پرېکړه او ٤- د هغه بياراژوندی کول. د آيت په پای کي ويل شوي چي الله تعالی له دې عيب پاك او لدې نقص ډېر لوړ دئ چي په دغو چارو کي څوك د ځان شريك کړي، يعني څوك چي په دغو امورو کي کوم يو له الله تعالی پرته بل چا ته منسوب کړي هغه په حقيقت کي الله تعالی ته يو عيب او نقص منسوب کړی؛ حال دا چي الله تعالی له داسي عيب او نقص منزه او لوړ دئ.

ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِى ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِى ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعۡضَ ٱلَّذِى عَمِلُواْ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٤١﴾ قُلۡ سِيرُواْ فِى ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلُۚ كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّشۡرِكِينَ ﴿٤٢﴾

د هغه څه له کبله چي د خلکو لاسونو حاصل کړي په وچه او سمندر کي فساد راڅرګند شو، د دې لپاره چي دوی ته د ځينو هغو عملونو خوند وروڅکو چي دوی کړي په دې هيله چي راوګرځي. ووايه: په ځمکي کي وګرځئ او وګورئ چي د هغو پايله څنګه وه چي تر دې وړاندي ول، د دوی ډېری مشرکان ول.

(٤١-٤٢)- دا مبارك آيتونه د شرك بدي پايلي په دې توګه انځوروي:

- **هر لوري ته فساد او تباهي خپل تور وزر غوړولی، په وچه او سمندر کي فساد راڅرګند شوی، وجه ئي د خلکو هغه عملونه دي چي له شرك څرګندېږي.**
- **الله تعالی دوی له دغو بدو پايلو سره د دې لپاره مخامخ کړي چي دوی ته د ځينو هغو**

عملونو خوند وروڅکي چې دوی کړي، د دې سزا موخه دا ده چې دوی په خپلو تګلارو کې بیاکتنه وکړي او سمې لارې ته راوګرځي.

• دوی ته ووایه: په ځمکې کې وګرځئ او وګورئ چې د هغو پایله څنګه وه چې تر دې وړاندې ول، د دوی ډېری ستاسو په څېر مشرکان ول، ستاسو د شرک او بدو کړنو پایله به هم د هغوی په څېر وي.

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۖ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾ مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٥﴾

نو خپل مخ دې د سم دین لورې ته برابر کړه؛ تر دې وړاندې چې هغه ورځ راشي چې د الله له لورې ئې بېرته ستنول نشته، په دې ورځ به بېل بېل شي. چا چې کفر کړی نو پر ده به د خپل کفر بده پایله (مسلط) وي، او چا چې کوم نېک عمل وکړ نو د خپلو ځانونو لپاره د آرامښت تیاری کوي. تر څو هغو ته چې ایمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي د خپل فضل څخه بدله ورکړي، یقیناً چې هغه کافران نه خوښوي.

(۴۳-۴۵)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• د مخکنیو بحثونو غوښتنه دا ده چې ته خپل مخ د سم الهي دین لورې ته برابر کړې، په بشپړه توګه هغه ته مخه کړې او ورته تسلیم شې، تر دې وړاندې چې هغه ټاکلې او حتماً راتلونکې ورځ راشي چې د الله تعالی له لورې ئې بېرته ستنېدا نشته.

• په دې ورځ به خلك بېل بېل او په دوو ډلو به ووېشل شي، چا چې کفر کړی نو هغه به د خپل کفر بده پایله ګوري، او چا چې کوم نېك عمل کړی نو د خپلو ځانونو لپاره ئې د آرامښت تیاری کړی.

• الله تعالی دا د قیامت ورځ د دې لپاره ټاکلې چې هغو مؤمنانو ته د خپل فضل او پېرزوینې مناسبه بدله ورکړي چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي. او هغو ته مناسبه سزا ورکړي چې د کفر لار ئې غوره کړې، یقیناً چې الله تعالی کافران نه خوښوي.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٍ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَلِتَجْرِيَ ٱلْفُلْكُ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾

او د آیتونو ئې یوه (څرګنده نښه) دا ده چې بادونه د زېري ورکوونکو په توګه لېږي او د دې لپاره چې خپل رحمت دروڅکي او چې کښتۍ د ده په حکم روانې شي او چې د ده

فضل ولټوئ او ښايي شکر وکړئ.

(٤٦)- په دې مبارك آيت کې د بادونو لېږنه د الله تعالى د قدرت او د انسان په اړه د هغه د فضل او پېرزوينې د يوې څرګندې نښې په توګه ښودل شوې، او ويل شوي: الله تعالى هغه ذات دئ چې بادونه د زېرې ورکوونکو په توګه لېږي، هغو وګړو ته زېرى ورکوي چې باران ته اړ او سترګې په لار دي، همدا بادونه له يوې خوا د باران ورېدو باعث شي او په دې سره الله تعالى خپلو بندګانو ته د خپل رحمت خوند وروڅکي او له بلې خوا د بادې کښتيو په خوځېدو کې مرسته کوي، چې دا کښتۍ د تجارتي اموالو د انتقال مهمه وسيله وه او له همدې لارې به خلکو د رزق او روزۍ پراخ امکانات ترلاسه کول، د دې الهي پېرزوينو تقاضاء دا ده چې انسان د خپل رب او منعم د احساناتو مننه او شکر په ځای کړي. عجيبه ده چې مشرکين دا ټول حقائق له پامه غورځوي او د کفر، ناسپاسي او شرك لار غوره کوي!!

دلته د بادونو د لېږنې او په هغه کې چې انسان ته کومې ګټې مضمر دي د دې لپاره يادونه شوې چې د وروستي مضمون لپاره يوه ښکلې او عقل پاروونکې مقدمه وي، په ورپسې آيت کې د پيغمبرانو لېږنې ته اشاره شوې، د دوی بعثت کټ مټ داسې دئ لکه چې الله تعالى زېرى ورکوونکي بادونه لېږي چې د هغه باران ورېدو باعث شي چې الله تعالى د خپل رحمت نوم ورکړی، د پيغمبرانو بعثت همداسې د الله تعالى لويه پېرزوينه او رحمت دئ.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ رُسُلاً إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمۡنَا مِنَ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾

او يقيناً چې تر تا وړاندې مو داسې پيغمبران خپلو خپلو قومونو ته لېږلي چې څرګندې نښې ئې وروړې، نو له هغو مو انتقام واخيست چې جرمونه ئې کړي ول او د مؤمنانو مرسته زموږ پر ذمه ده.

(٤٧)- په دې مبارك آيت کې رسول اللهﷺ ته او د ده له لارې د قرآن هر مخاطب ته ويل شوي:

تر تا وړاندې مو داسې پيغمبران خپلو خپلو قومونو ته لېږلي چې څرګندې نښې ئې وروړې، ځينو ايمان پرې راوړی او ځينو مخالفت ته ملا تړلې، هغو مخالفت کړی چې مجرمان ول، نو الله تعالى له هغو انتقام اخيستی چې جرمونه ئې کړي ول او د مؤمنانو مرسته ئې کړې، دا ځکه چې الله تعالى له مؤمنانو سره مرسته په خپله ذمه اخيستې ده.

ٱللَّهُ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبۡسُطُهُۥ فِي ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ يَشَآءُ وَيَجۡعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلۡوَدۡقَ يَخۡرُجُ مِنۡ خِلَٰلِهِۦۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ إِذَا

هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيۡهِم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمُبۡلِسِينَ ﴿٤٩﴾
فَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحۡمَتِ ٱللَّهِ كَيۡفَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحۡيِ
ٱلۡمَوۡتَىٰۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٥٠﴾

الله همغه ذات دئ چي دغه سيلۍ رالېږي چي ورېځي خوځوي، بيا ئې څنګه چي غواړي په آسمان کي ئې خورې ورې او ټوټې ټوټې کړي، بيا ګورې چي له منځه ئې څاڅکي راوځي او چي کله ئې خپلو هغو بندګانو ته ورسوي چي دی ئې غواړي؛ ناڅاپه (پرې) خوشحالېږي، په داسي حال کي چي تر دې وړاندي چي پرې وورېږي ناهيلي ول. نو د الله د رحمت آثارو ته وګوره چي څنګه زمکه له مړيني ئې وروسته راژوندۍ کوي، يقيناً چي همدا ذات د مړو ژوندی کوونکی دئ، او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ.

(٤٨-٥٠)- د اوبو له بخاراتو د ورېځو جوړېدا، په سيليو سره د هغوی خوځېدا، په بېلو بېلو ټوټو د هغوی وېش، هر لوري ته د ضرورت وړ برخي لېږد، په اړو سيمو کي په دې ورېځو کي داسي تغييرات راوستل چي په ځينو سيمو کي واوره وروي او په ځينو کي باران، هر څه له يوې دقيقي منصوبې سره سم او د اړتيا او ضرورت مطابق، دا دئ وګورئ چي زمکه په سپېره ډاګ بدله شوې وي، بوټي ئې په مرګ محکوم شوي وي، داسي چي څوك په هغې کي د ژوند آثار نه ګوري، خو الله جل شأنه په همدې زمکي باران وورووي او دا مړه زمکه را ژوندۍ کړي. دا د الله د رحمت د آثارو يو مظهر دئ، په مرګ محکومه شوې زمکه چي انسان د هغې داني او مېوې ته اړ او محتاج دئ، له دې پرته د هغه ژوند امکان نه لري، د دې لپاره چي انسان او حيوان ژوندي پاته شي، بايد له زمکي دانه، مېوه او واښه راوټوکېږي، د زمکي د سر ژوي دې ته اړ او محتاج دي، له دې پرته ئې د زمکي پر سر ژوند امکان نه لري، ګورئ چي الله تعالی د خپل وسيع او پراخ رحمت وزر پر دوی وغوړوي، دا مړه زمکه راژوندۍ کړي او د ژوو لپاره د ژوند د اړتياوو او د رزق او روزي انتظام وکړي. آيا دا صحنه په جګ غږ موږ ته دا حقيقت نه څرګندوي چي دا عالم، زمکه او آسمان يو عليم رب او حکيم مدبر لري؟ آيا دا نه ثابتوي چي همدا ذات د مړو ژوندی کوونکی دئ او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ؟!!

- پداسي حال کي چي هره شېبه له مړې خاوري د ژوو د پيدا کېدو بېلګي ګورې، په يوه باران سره د مړې زمکي له تل رنګ رنګ ژوي سر راپورته کړي، تا ته ولي له خاورو د انسان د بيا راپيدا کولو کار ګران برېښي؟!
- تا نه يوازي د بيا ژوندي کولو بېلګو ته پام ندئ کړی بلکي د پيدا کوونکي خدای د قدرت نښو ته دي هم توجه نده کړې. آيا د زمکي آسمانونو او دغه ستر او بې انتهاء عالم او پراخ کائنات او د هغه په غېږ کي د بې شمېره مخلوقاتو پيدا کوونکی، پالونکی، ساتونکی او روزونکی رب لدې عاجز ګڼې چي انسان بيا راپيدا کړي؟!! مګر پدې خور عالم کي د الله د قدرت بې شمېره نښې ستا لپاره کفايت نکوي چي همدا قدير خدای د انسان په پيداکولو قادر وګڼې؟!!

وَلَئِنۡ أَرۡسَلۡنَا رِيحٗا فَرَأَوۡهُ مُصۡفَرّٗا لَّظَلُّواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ يَكۡفُرُونَ ﴿٥١﴾

او كه داسې سيلۍ ولېږو چې په نتيجه كې ئې (خپل فصل) ژېړ وومي نو حتماً به تر هغه وروسته داسې شي چې كفر كوي.

(٥١)- خو كه همدا كم ظرف انسان له داسې سرې سيلۍ سره مخامخ شي چې فصلونه وروچ او ژېړ كړي او وګوري چې فصل ئې تباه شوى او زيار ئې ضائع شوى؛ بيا به هم ګورئ چې د صبر پر ځاى د كفر او انكار لار نيسي، نه د پېرزوينو، رحمت او نعمت په وړاندې شكر كوي او نه د محروميتونو او نقمتونو په وړاندې د صبر لمن كلكه نيسي، په دواړو حالتونو كې به ئې داسې وومي چې كفر كوي.

فَإِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٥٣﴾

نو ته دغو مړو ته اورول نشې كولى، او دغو ګونګيانو ته هم هغه مهال بلنه نشې اورولى چې په داسې حال كې مخ واړوي چې ترشا كېدونكي وي. او ته د دغو ړندو داسې لارښود نه يې چې (حتماً به ئې) له لارورکتيا (ژغورې)، ته يوازې هغه ته اورول كولى شې چې زموږ په آيتونو په داسې حال كې ايمان راوړي چې مسلمان (غاړه ايښودونكي) وي.

(٥٢-٥٣)- د دې مباركو آيتونو په اړه بايد څو اساسي خبرې په پام كې ولرو:

- **دلته مخكنيو ايمان نه راوړونكو كافرانو او مشركينو ته د مړو، ګونګيانو او ړندو نوم وركړى شوى، له دوى سره همدا نوم ښايي، ځكه د دوى ضمير او وجدان مړ شوى، د دوى بصيرت ختم شوى او د زړه سترګي ئې ړندې شوې، دوى د حق وينا اورېدو استعداد له لاسه وركړى، دا ظرفيت ئې ځپل شوى چې په ژبې ئې حق خبره راشي، نو ته اې پيغمبره! نه دغو مړو ته حق خبره اورولى شې او نه دغو ګونګيانو ته، په ځانګړې توګه هغه مهال چې مخ واړوي او ترشا شي، او ته د دغو ړندو داسې لارښود هم نه يې چې حتماً به ئې له لارورکتيا ژغورې، ته يوازې هغو ته اورول كولى شې چې زموږ په آيتونو په داسې حال كې ايمان راوړي چې مسلمان او غاړه ايښودونكي وي.**
- **خو دا آيت په قاطع او پرېكنده الفاظو دا حقيقت هم زموږ مخې ته ږدي چې نه پيغمبر عليه السلام او نه بل انسان كولى شي مړو ته كومه خبره واوروي، مړي نه يوازې خبره نه اوري بلكې انسان نشي كولى په هيڅ توګه هغوى ته خبره واوروي. ډېره عجيبه ده چې ځينې خلك نه يوازې د قرآن دا پرېكنده وينا له پامه غورځوي بلكې ادعاء كوي چې مړي خبرې اوري، دليل ئې هم دا دئ چې ځينې روايات ئې داسې موندلي چې وايي مړي خبرې اوري!! د حيرانتيا وړ ده چې پر قرآن د ايمان مدعي د قرآن تر يوه صريح آيت يوه غريب او كمزوري**

روايت ته ترجيح ورکوي او د قرآن خلاف خبره کوي يا ئې مني!! دې ته هم پام نه کوي چې دغه غلط باور څومره بدې پايلې لري، څومره په شرك اخته وګړي ئې ترسترګو کيږي چې د قبرونو خوا ته ولاړ وي، د قبر له خاوندانو مرسته غواړي او دا ګمان کوي چې هغوی ئې دعاء اوري او د الله تعالی او دعاء کوونکي ترمنځ وسيله کيږي!! دې ته هم پام نه کوي چې ولې قرآن په مکرره توګه وايي چې مړو ته خبره نشې اورولی!! قرآن په دې وينا سره غوښتې چې د شرك دغه جرړه پرې کړي، د هغو ټګمارانو مخه ډپ کړي چې له قبرونو ئې ځان ته دکانونه جوړ کړي او د قبر په اړه دغه باور ئې جيبونه ورډکوي، هغه چې جهل وهلي وګړي قبرونو ته بيايي او له هغوی مرستې غوښتو ته ئې هڅوي او په عوض کې ئې شکرانې ترلاسه کوي!! د دې غلط باور ستر او نشيط مبلغين د قبرونو مجاورين دي، دوی ته له دې غلط باور انکار ستر او بواح کفر بريښي!! بايد متوجه وو چې روايت ته پر آيت ترجيح ورکول يوه بيماري ده، پام کوئ چې په دې بيماري اخته نشئ، هغه روايت قطعاً د اعتبار وړ مه ګڼئ چې د قرآن له صريح آيت سره تعارض ولري.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾

الله هغه ذات دئ چې تاسو ئې له کمزورې (حالت) پيدا کړئ، بيا ئې له کمزورۍ وروسته قوت جوړ (درپه برخه) کړ، بيا ئې له قوت وروسته کمزورې او زوړوالی (مقدر) کړ، څه چې غواړي پيدا کوي ئې، او هغه توانمن پوه دئ.

(٥٤)- هغه ذات چې انسان په داسې حالت کې پيدا کوي چې کمزوری او ضعيف وي، بيا له دې کمزورۍ وروسته قوت ورپه برخه کړي، وده ورکړي او د خپل ټاکلي قوت وروستي پړاو ته ئې ورسوي، له دې ځای ئې کوزېدا پيل شي، بېرته د کمزورۍ او زوړوالي پړاو ته ورسيږي، انسان دا ټاکلی مسير هرو مرو او له څه تغيير او بدلون پرته او د خپلې خوښې او مرضې خلاف پلی کوي، د چا ارادې او پرېکړې ته چې انسان منقاد دئ او د داسې مسير پلي کولو ته اړ دئ چې هغه ورته ټاکلی، دا همغه د عالمونو رب ذات دئ چې څه غواړي پيدا کوي ئې او هغه توانمن پوه دئ.

وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقْسِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ مَا لَبِثُوا۟ غَيْرَ سَاعَةٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَانُوا۟ يُؤْفَكُونَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَٱلْإِيمَـٰنَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِى كِتَـٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْبَعْثِ ۖ فَهَـٰذَا يَوْمُ ٱلْبَعْثِ وَلَـٰكِنَّكُمْ كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنفَعُ

ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَعۡذِرَتُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴿٥٧﴾

او هغه ورځ چې هغه ساعت ترسره شي؛ مجرمين به قسمونه خوري چې له يوې ګنټې پرته نه دي تم شوي، همداسې دروغ ته هڅول کېدل، او هغه چې علم ورکړی شوی وايي به: يقيناً چې د الله د کتاب له مخې د پاڅون تر ورځې تم شوي يئ، نو همدا د پاڅون ورځ ده خو تاسو نه پوهېدئ. نو په دې ورځ به هغو ته چې ظلم ئې کړی نه به ئې خپل معذرت ګټه وررسولی شي او نه به ترې وغوښتل شي چې معافي وغواړي.

(٥٥-٥٧)- په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت په ورځ د قيامت د منکرينو حالت داسې انځور شوی: هغه ورځ چې د قيامت ناکلې نېټه راورسېږي نو دغه مجرمين به قسمونه خوري چې په دنيا کې تر يوې ګنټې زيات نه دي تم شوي!! دوی به په دنيا کې د خپلې تم کېدا د مودې په اړه داسې دروغ وايي لکه چې د قيامت په اړه ئې په دنيا کې دروغ ويل، دغو دروغو ته يا شيطان هڅولي ول، يا خپل نفس او يا خپلو لاروړکو مفسد مشرانو، خو د دوی په مقابل کې به د ايمان خاوندان چې د قيامت او بياژوندون په اړه ئې باور او علم درلود وايي: يقيناً چې د الله د کتاب له مخې د پاڅون تر ورځې تم شوي يئ، نو همدا د پاڅون ورځ ده خو تاسو نه پوهېدئ. نو په دې ورځ به هغو ته چې په آخرت د عدم ايمان له کبله ئې د جرمونو او ظلمونو لار غوره کړې وه؛ نه به ئې خپل معذرت ګټه وررسولی شي او نه به ترې وغوښتل شي معافي وغواړي.

وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَلَئِن جِئۡتَهُم بِـَٔايَةٖ لَّيَقُولَنَّ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُبۡطِلُونَ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلَّذِينَ
لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٥٩﴾

او يقيناً چې خلکو ته مو په دې قرآن کې هر ډول مثالونه بيان کړل، او که کومه ځرګنده نښه ورته راوړې؛ هغه چې کفر ئې کړی حتماً به وايي: تاسو فقط باطلي خبرې کوئ، الله همداسې د هغو په زړونو مهر لګوي چې نه پوهېږي.

(٥٨-٥٩)- دا مبارك آيتونه موږ ته لارښوونه کوي چې قرآن کامل، جامع او په ټولو ضروري لارښوونو شامل دئ، هر هغه څه په کې راغلي چې انسان ورته اړ دئ، هر هغه مثال او دليل د خپل مخاطب په وړاندې يږدي چې د انسان د لارښوونې او په حقائقو د پوهاوي لپاره ضروري دئ، ځوك چې د قرآن په دلائلو او مثالونو قانع نشي نو يقيناً چې په بل هيڅ دليل به قانع نشي، که د حق دغو منکرينو ته بله هره ځرګنده نښه وړاندې شي نو ځواب به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې وايي: تاسو فقط باطلي خبرې کوئ، لار او وينا مو باطله ده. دا هغه

خلك دي چي د خپلو افكارو او اعمالو له كبله الله تعالى د هغوی پر زړونو مهر لګولی او د حق منلو ټول استعدادونه په كي ځپل شوي.

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾

نو صبر وكړه، يقيناً چي د الله وعده رښتيني ده او هغه خلك دي تا سپك ونه مومي چي باور نه كوي.

(٦٠)- دا مبارك آيت چي د دې سورې وروستى آيت دئ؛ د سورې د ټولو مضامينو لپاره يوه ښكلې تتمه او خلاصه هم ده، په دې آيت كي درې فقرې راغلي او همدا درې فقرې د سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانو په څېر دي، لومړی فقره ئې (فَٱصۡبِرۡ: صبر كوه) ده، تاسو وليدل چي د سورې په لومړی برخي كي په همدې اړه مؤمنانو ته لارښووني شوې، د آيت دوهمه فقره دا ده (إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ: يقيناً چي د الله وعده رښتيني ده)، او تاسو وليدل چي د سورې دوهمه برخه هغه لارښووني احتوی كوي چي په دنيا او آخرت كي د الله تعالى د وعدو پر رښتينوالي تأكيد كوي، او دريیمه فقره ئې (وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ: او هغه خلك دي تا سپك ونه مومي چي باور نه كوي) ده او دا د دې سورې د هغو آيتونو لپاره عنوان دئ چي په ترڅ كي ئې رسول الله ﷺ او د ده له لاري مؤمنانو ته ويل شوي چي پر خپل دريځ ثابت پاته شي، د دښمنانو تبليغات او مخالفتونه ئې متزلزل نه كړي او د دوی عدم ايمان د دې باعث نشي چي تاسو د خپلي لاري د حقانيت په اړه شكمن شئ او د الله تعالى د وعدو د تحقق په اړه مو ډاډ او اطمئنان كمزوری شي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

لقمان

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (لقمان) دئ، دا نوم د همدې سورې له دولسم آيت اخيستل شوی، څلور دېرش آيتونه لري، د اکثرو آيتونو فواصل ئې د لومړيو آيتونو (الحکيم) او (المحسنين) ته او د لږو ئې د څلورم (يوقنون) ته ورته دي، څو آيتونه ئې د (الامور، فخور، او الصدور) په څېر صيغو پای ته رسېدلي چې وزن ئې (يوقنون) ته نږدې دئ، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي. د سورې مضامينو ته په پام سره معلومېږي چې دا سوره د عنکبوت له سورې وروسته نازله شوې.

لکه څنگه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسې توگه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کې راغلي، يو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت کې، د دې سورې آخري آيت دا دئ:

إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ﴿٣٤﴾ په دې آيت کې درې فقرې راغلې او همدا درې فقرې د سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانو په څېر دي، لومړۍ فقره ئې (إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِ: يقيناً چې د قيامت د گړۍ علم له الله سره دئ، باران وروي او پوهېږي چې په رحمونو کې څه وي)، تاسو به وگورئ چې د سورې په لومړۍ برخې کې په همدې اړه مؤمنانو ته لاربنوونې شوې، په لومړنيو آيتونو کې ويل شوي چې دا قرآن د هغو لپاره لاربنود او رحمت دئ چې په آخرت باور لري، د پنځم آيت په پای کې د مخکنيو آيتونو د تتمې په توگه ويل شوي چې په آخرت ايمان لرونکي برياليي دي، ورپسې هغه وگړي معرفي شوي او د دوی بده پايله زموږ په وړاندې انځور شوې چې د قرآن په ځای او د هغه په خلاف بېهوده خبرې پېري، په دې موخه چې خلك د الله له لارې منحرف کړي، د دوی په اړه ويل شوي چې په رسوا کوونکي عذاب به اخته کېږي، خو د صالح مؤمنانو په اړه ويل شوي چې تلپاتې او له نعمتونو ډك جنت ته به ورومي، ورپسې د آسمانونو او زمکې، غرونو، ډول ډول ژوو پيدايښت، له آسمانه د باران ورېدا، په دې باران سره له زمکې د ډول ډول بوټو راټوکېدا، د داسې مشهود او ملموس

آیتونو په توګه زموږ مخې ته ږدي چې په جګ ږغ او څرګنده توګه د الله تعالی په شته والي او عظمت ګواهي ورکوي، بیا ځېل زوی ته د لقمان د مواعظو په ترځ کې قریشو ته لارښوونه کوي چې د قرآن دغه وېناوي کټ مټ هغسې دي لکه چې ده خپل زوی ته کړې وې، عجیبه ده چې تاسو لقمان ته د همدغو وېناوو له کبله د یوه حکیم او پوه انسان په سترګه ګورئ او د هغه درناوی کوئ خو د همدغو وېناوو له کبله د رسول الله ﷺ مخالفت کوئ!! د آیت دوهمه فقره دا ده (وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ: او هیڅوك نه پوهېږي چې سبا به څه ترلاسه کوي او هیڅ څوك نه پوهېږي چې په کومې زمکې کې به مري)، تاسو به وګورئ چې د سورې دوهمه برخه هغه لارښوونې احتوی کوي چې خپل مخاطب ته وايي: د هغه الله تعالی په لارښوونو عمل وکړه چې علیم او خبیر دئ، هیڅ څه ترې پټ نه دي، ستاسو علم محدود دئ، هم د عالم په اړه او هم د خپل ځان په اړه، حتی دومره چې نه پوهېږئ سبا به څه کوئ او کله او چېرې به مرئ، آیا دغه انسان ته چې له بې شمېره غیبي امورو بې خبره دئ دا اړینه او ضروري نه ده چې د هغه رب د لارښوونو په رڼا کې ژوند وکړي چې علیم او خبیر دئ؟!! او د آیت درېمه فقره دا ده: (إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ: یقیناً چې الله باخبره پوه دئ)، او دا د دې سورې د هغو آیتونو لپاره عنوان دئ چې په ترځ کې ئې د الله تعالی پر دغو دواړو صفاتو ترکیز شوی، او په دې توګه مؤمنانو او د قرآن هر مخاطب ته ویل شوي چې پر الهي لارښوونو عمل وکړئ، په همدې سره د دنیا او آخرت سعادت ترلاسه کولی شئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٣﴾ ٱلَّذِينَ
يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ
هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٥﴾

الف، لام، میم، دا د باحکمته کتاب آیتونه دي، د نېکانو لپاره لاربنود او رحمت، هغو ته چي لمونځ قائموي، زکات ورکوي او دوی همغه دي چي پر آخرت یقین کوي، دوی د خپل رب له لوري لاربنووني باندي (سمبال) دي او همدا دوی بریالي دي.

(۱-۵)- د دې مبارکو ایتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره باید لاندي خبري په پام کي ولرو:

- لکه څنگه چي دا سوره په دریو مقطعاتو حروفو (الف، لام، میم) پیل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي، دا درې اساسي مضامین په داسي توگه په دې سورې کي راغلي لکه چي په همدغو حروفو پیل شوو نورو سورتونو کي راغلي، یو په بل پسي او خلاصه ئې د سورې په آخري آیت کي، د دې سورې آخري آیت دا دئ:

إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا
تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ﴿٣٤﴾

په دې آیت کي درې فقرې راغلي او همدا درې فقرې د سورې د دریو اساسي مضامینو لپاره د عنوانو په څېر دي، دا درې فقرې د دغې سورې د مضامینو لپاره درې اساسي محورونه دي، ټوله سوره په همدې موضوعاتو راڅرخي. لومړی فقره ئې دا ده (إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِ: یقیناً د قیامت د گړی علم له الله سره دئ، باران وروي او پوهېږي چي په رحمونو کي څه وي)، په لومړنیو آیتونو کي ویل شوي چي دا قرآن د هغو لپاره لاربنود او رحمت دئ چي په آخرت باور لري، د پنځم آیت په پای کي د مخکنیو آیتونو د تتمې په توگه ویل شوي چي په آخرت ایمان لرونکي بریالي دي، وروسته هغه وگړي معرفي

شوي او د دوی بده پایله زموږ په وړاندي انځور شوې چي د قرآن په ځای او د هغه په خلاف بېهوده خبري پېري، په دې موخه چي خلك د الله له لاري منحرف کړي، د دوی په اړه ویل شوي چي په رسوا کوونکي عذاب به اخته کېږي، خو د صالح مؤمنانو په اړه ویل شوي چي تلپاتي او له نعمتونو ډك جنت ته به ورومي، ورپسې د آسمانونو او زمکي، غرونو، ډول ډول ژوو پیدایښت، له آسمانه د باران ورېدا، په دې باران سره له زمکي د ډول ډول بوټو راټوکېدا، د داسي مشهود او ملموس آیتونو په توګه زموږ مخي ته ږدي چي په جګ ږغ او څرګنده توګه د الله تعالی په شته والي او عظمت ګواهي ورکوي، بیا خپل زوی ته د لقمان د مواعظو په ترڅ کي قریشو ته لارښوونه کوي چي د قرآن دغه وېناوي کټ مټ هغسي دي لکه چي ده خپل زوی ته کړې وې، عجیبه ده چي تاسو لقمان ته د همدغو وېناوو له کبله د یوه حکیم او پوه انسان په سترګه ګورئ او د هغه درناوی کوئ خو د همدغو وېناوو له کبله د رسول اللهﷺ مخالفت کوئ!! د آیت دوهمه فقره دا ده (وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ: او هیڅوك نه پوهېږي چي سبا به څه ترلاسه کوي او هیڅ څوك نه پوهېږي چي په کومي زمکي کي به مري)، تاسو به وګورئ چي د سورې دوهمه برخه هغه لارښووني احتوی کوي چي خپل مخاطب ته وایي: د هغه الله تعالی په لارښوونو عمل وکړه چي علیم او خبیر دئ، هیڅ څه ترې پټ نه دي، ستاسو علم محدود دئ، هم د عالم په اړه او هم د خپل ځان په اړه، حتی دومره چي نه پوهېږئ سبا به څه کوئ او کله او چېرې به مرئ، آیا دغه انسان ته چي له بې شمېره غیبي امورو بې خبره دئ دا اړینه او ضروري نه ده چي د هغه رب د لارښوونو په رڼا کي ژوند وکړي چي علیم او خبیر دئ؟!! او د آیت درېیمه فقره دا ده: (إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ: یقیناً چي الله باخبره پوه دئ)، او دا د دې سورې د هغو آیتونو لپاره عنوان دئ چي په ترڅ کي ئې د الله تعالی پر دغو دواړو صفاتو ترکیز شوی، او په دې توګه مؤمنانو او د قرآن هر مخاطب ته ویل شوي چي پر الهي لارښوونو عمل وکړئ، په همدې سره د دنیا او آخرت سعادت ترلاسه کولی شئ.

- دلته ویل شوي چي دا د باحکمته کتاب آیتونه دي، یعني د دې آیتونو هره وینا حکیمانه ده، لارښووني، احکام او قضاوتونه ئې پر حکمت ولاړ دي، هغه څه په کي ویل شوي چي د انسان خیر او مصلحت په کي مضمر او د هغه د سعادت ضامن دي، دا د الله تعالی له لوري یوه ستره پېرزوینه ده، څوك چي دا کتاب ځان ته لارښود کړي د الله تعالی د رحمت وزر به پرې وغوړېږي.
- خو له دې حکیمانه لارښوونو هغه څوك مستفید کېدی شي چي څو ځانګړتیاوي ولري: محسن او نېك وي، او په داسي حال کي لمونځ قائموي او زکات ورکوي چي پر آخرت یقین لري، د دوی لپاره به دا کتاب لارښود او د الله تعالی د پېرزویني او رحمت باعث وي.
- څوك چي دغه ځانګړتیاوي لري همدا دوی د خپل رب په لارښوونو سمبال دي او همدا

دوی بریالي دي، یعني په چا کي چي دا ځانګړتیاوي ونه مومئ هیڅکله ګمان مه کوئ چي له الهي لاربښوونو برخمن، د الله تعالی د پیرزوینو وړ او بریالي دي. همدا د یوه ملاك او محك په توګه په پام کي ولرئ، یوازي هغه څوك هدایت شوی، بریالی او د رحمن رب د رحمت تر وزر لاندي وګڼئ چي محسن وي، لمونځ کوي، زکات ورکوي او پر آخرت یقین لري.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّخِذَهَا
هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ٦ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا وَلَّىٰ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن
لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا كَأَنَّ فِيٓ أُذُنَيۡهِ وَقۡرٗاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٧

او ځیني خلك (داسي دي چي) چټي خبري پېري د دې لپاره چي (خلك) په ناپوهۍ سره د الله له لاري بې لاري کړي او ملنډي پرې وهي، دوی همغه دي چي رسوا کوونکی عذاب ئې (په برخه) دئ، او کله چي زموږ آیتونه پرې ولوستل شي د لویي په لټه کي داسي شا اړوي لکه چي هغه ئې نه وي اورېدلي، لکه چي په غوږونو کي ئې دروندوالی وي. نو د دردوونکي عذاب زېری ورکړه.

(٦-٧)- د دې مبارکو آیتونو لاربښووني دا دي:

- ځیني خلك داسي دي چي د خلکو د بې لاري کولو په موخه چټي خبري پېري او خلك پرې بې لاري کوي، دا چټي خبري یا سندري دي او د پېرلو معنی ئې دا ده چي دوی سندرغاړي استخداموي، مصارف پرې کوي، مقصد ئې دا وي چي خلك په سندرو مصروف وساتي، مهمو ورځنیو قضایاوو ته د اهتمام مخه ئې ونیسي، دیني مفاهیمو ته د اعتناء او د دین په لوري د تلو مخنیوی ئې وکړي، او یا ئې مراد د داسي شعراوو، مبلغینو او لیکوالو استخدام دئ چي په بېهوده او چټي خبرو، مبتذلو اشعارو، مشغولوونکو قصو او ناولونو خلك مصروفوي. د قریشو ځینو مشرانو د رسول الله ﷺ د دعوت د مخنیوي او د دې لپاره چي د اسلام په لوري د خلکو د پراخي رجوع مخه ونیسي؛ له نورو سیمو ئې داسي سندرغاړې مکې ته راوستلي او د هغوی لپاره ئې محفلونه جوړول چي په خپلو ګنده عشقي سندرو عام ولس مخصوصاً ځوانان مصروف وساتي او د اخلاقي فساد په ګنده ډنډ کي ئې لاهو کړي او هغه پاك او سپېڅلي احساسات او جذبات ئې ساړه کړي چي په ټولني کي د مثبتي او عادلانه تبدیلي په اړه ئې هر صالح ځوان په خپل زړه کي لري، او په دې توګه له رسول الله ﷺ سره د دوی د ملګرتیا او پر ټولني د مسلط ظالمانه نظام په ضد د پاڅون مخه ونیسي، نن هم که تاسو پر اسلامي نړۍ د غربي استعمار د کلتوري یرغل پراخو ابعادو ته ځیر شئ وبه ګورئ چي په سلګونو راډیوګاني او ټلویزیوني چینلونه ئې په کار اچولي، مجلې او ورځپاڼې خپروي، په ټولو مهمو ژبو شپه او ورځ تبلیغات کوي او ټول په همغه کار مصروف دي چي په دغه مبارك آیت کي ورته اشاره شوې، د دغو رسنیو مهمه دنده دا ده چي ځوانان د موسیقي، نڅا، سندرو، شراب او قمار

لوري ته راغب کړي، هغو شعراوو ته غونډي جوړوي چي اخلاقي ارزښتونه تر پښو لاندي کوي، د عفت او اخلاق پولي نسکوروي، عشق او ګنده ميني ته خلك بلي، دوی هغه شعرونه خوښوي او هغه شاعران او سندرغاړي ستايي چي د همدې ناولي او شيطاني مقصد په لار کي د دوی مرسته وکړي، هغه چي په شعر او سندرو کي ئې د عزت، خپلواکۍ، همت، عفت، صبر، استقامت، د سپېڅلو اهدافو لپاره قربانۍ، له ذلت، سپکاوي او د پرديو له غلامۍ نفرت په ځای شراب، جام، ساقي، جانان، سرې شونډي، سره اننګي، توري زلفي او ... ستايل کېږي.

• قرآن وايي چي د حق دښمنان د دغو چټي خبرو بازار د دې لپاره تودوي چي خلك په ناپوهۍ سره د الله له لاري بې لاري کړي، يعني نه پوهېږي چي په دې ناولي کار سره هيڅ ګټه نشي ترلاسه کولی، ځان او خپلي ټولني ته تاوان رسوي، په کومي ټولني کي چي معنوي ارزښتونه وځپل شي، اخلاقي پولي ونړېږي، خلك په چټي او بېهوده خبرو مصروف شي، دا ټولنه له داسي تباه کوونکو بيماريو سره مخامخ کېږي چي علاج ئې ممکن نه وي.

• دوی په حق باندي ملنډي وهي، خو نه پوهېږي دا تګلاره به ئې له رسوا کوونکي عذاب سره مخامخ کړي.

• دا مفسدين چي بېهوده خبري پېري او د خورولو په لار کي ئې مصارف کوي، د حق په وړاندي او د څرګندو الهي آيتونه په اړه ئې چلن داسي وي چي کله الهي آيتونه پرې ولوستل شي کبر او غرور ئې تحريك شي، ځان تر دې لوړ ګڼي چي څوك ئې د حق لوري ته وبلي، د الهي آيتونو د اورېدو بلنه ورکړي، خپله مزعومه لويي ئې دې ته وهڅوي چي شا واړوي او غبرګون ئې داسي وي لکه چي دا آيتونه ئې نه وي اورېدلي، لکه چي په غوږونو کي ئې دروندوالی وي.

• دوی به له دې سپك چلن د خير طمع لري او ګمان به ئې دا وي چي خپلو ناولو موخو ته د رسېدو په لار کي به د دوی مرسته وکړي، خو نه پوهېږي چي هيڅکله به د خپلو هيلو د ترسره کېدو زېری وانه وري، بلکي د دردوونکي عذاب زېری به ورکړی شي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٩﴾

يقيناً هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، دوی ته له نعمتونو ډك جنتونه دي، تلپاتي په هغه کي، د الله رښتيني وعده، او هغه باحکمته عزتمن دئ.

(٨-٩)- د مخکني ډلي په مقابل کي هغه مؤمنان دي چي چي هم د ايمان خاوندان دي او هم نېك عملونه کوي، الله تعالی به دوی ته له نعمتونو ډك جنتونه او د جنت تلپاتی ژوند ورپه برخه کړي، دا د هغه الله تعالی رښتينې وعده ده چي باحکمته عزتمن دئ.

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَبَثَّ
فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ١٠
هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٖ
مُّبِينٖ ١١

آسمانونه ئې له داسې ستنو پرته پيدا کړل چې تاسو ئې ليدی شئ، او په زمکې کې ئې داسې لنګرونه واچول چې تاسو ونه لړزوي، او په هغې کې ئې ډول ډول خوځېدونکي (ژوي) خواره کړل، او له آسمانه مو اوبه نازلې کړې نو په دې سره مو په (زمکې) کې ډول ډول غوره جوړې راوټوکولې، دا د الله پيدايښت دئ؛ نو راوښيئ چې له ده پرته (نورو) څه پيدا کړي؟ بلکې ظالمان په څرګند بې لاريتوب کې دي.

(۱۰-۱۱)- دا مبارک آيتونه څو مهمې لارښوونې لري:

- **الله تعالی هغه ذات دئ چې آسمانونه ئې له داسې ستنو پرته لوړ ودرولي چې ليدل کېدی شي، ستنې شته خو نه ليدل کېږي، او دا هغه ستر علمي حقيقت دئ چې د قرآن بل علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي، انسان نن په دې حقيقت پوه شوی چې د آسمان د ټولو ستورو تر منځ د جذب او دفع داسې نامرئي ځواک شته چې که دا نه وی او يا له اوسني حالت ځواکمن او کمزوری وی نو د عالم دا موجود نظام پايښت نشو موندلی، يا به يو بل جذبولو او يا به داسې خواره واره کېدل چې ټول نظام به له منځه تلو. که تاسو يوه ساينسپوه ته ووايئ چې زموږ په هغه مذهبي کتاب کې چې څوارلس پېړی وړاندې نازل شوی راغلي چې آسمان په داسې ستنو لوړ ساتل شوی چې نه ليدل کېږي، نو يقيناً هغه به له ځنډ پرته تاسو ته ووايي: پر دې حقيقت انسانان په نولسمې پېړی کې پوه شول، تر دې د مخه هيڅوک په دې حقيقت نه پوهېدو او د آسمان د ستورو تر منځ د داسې ځواک د شته والي تصور ئې هم نشو کولی.**

په دې مبارک آيت کې ويل شوي چې الله تعالی په زمکې کې داسې لنګرونه واچول چې د زمکې د لړزېدو مخه ونيسي او تاسو ونه لړزوي. د دې مبارک آيت په ژورو مطالبو د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کې ولرئ:

- **دلته د غرونو د پيدايښت په اړه د (القی: واچول) صيغه کارول شوې، ولې د جوړولو او پيدا کولو پر ځای دا صيغه راغلې؟ ولې د غرونو لپاره د جبال پر ځای د (رواسي: لنګرونه) نوم راوړل شوی؟ آيا د غرونو تر پيدايښت وړاندې زمکه خوځېده؟ غرونو څنګه د هغې خوځښت له منځه يووړ؟ دې پوښتنو ته بايد دقيق او علمي ځوابونه ولټوو.**
- **علمي څېړنې ښيي چې غرونه د زمکې له زړه راټوکېدلي، ډېره برخه ئې د زمکې په زړه کې وي او لږ ئې بهر راوتلې وي، دا غرونه هغه مهال راوټوکېدل چې د زمکې بهرنی قشر**

سوړ او د ډېرې په څېر کلك شو، خو نازك وو او د زمكې په سينه كې د متراكمې انرژۍ د فشار په وړاندې ئې مقاومت نشو كولی او په پر له پسې توگه چاودېدو، له دغو چاودونو ويلې مواد بهر شيندل كېدل او همدا ورو ورو په غرونو بدلېدل، اوس هم دا لړۍ روانه ده او د اورشيندو په ترڅ كې غرونه د جوړېدو په حال كې دي خو په لږ پيمانه، دا ښيي چې د غرونو لپاره د (القی) صيغه كارول ډېر ستر علمي حقيقت افاده كوي او د قرآن يو ځلانده علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي. د زمكې پر سر د غرونو د جوړېدو څرنگوالی له دې سره شباهت لري چې څوك هگۍ په جوښ اوبو كې كېږدي، د هگۍ زېړ او سپين ورو ورو گرم شي او وپړسېږي، د داخلي فشار له كبله د هگۍ پوستكی وچوي، د هگۍ سپين له چاودونو بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ پاته شي، غرونه د زمكې پر سر همداسې جوړ شوي.

د علمي څېړنو په ترڅ كې دا حقيقت هم ثابت شوی چې زمكه د پيدايښت په لومړيو مراحلو كې او هغه مهال چې بهرنی قشر ئې لا مضبوط او پرېږ شوی نه وو او غرونه لا نه وو پيدا شوي، د دغو چاودنو له كبله له شديدو او پر له پسې زلزلو سره مخامخ وه، دا غرونه د دې باعث شول چې د زمكې بهرنی قشر مضبوط او دروند شي، بېلې بېلې ټوټې ئې سره وصل او كوشير (ويلډينگ) شي او د زلزلو مخه ونيول شي، دا داسې وگڼئ لكه چې د يخو اوبو پر سر د مات كنگل ټوټې له كوم لوی او دروند او ډېر سوړ كنگل سره ونښلې او په دې توگه ئې ماتېدا او خوځېدا متوقف شي. د غرونو لپاره د لنگر نوم غوره كول په حقيقت كې دغه ستر علمي حقيقت ته اشاره كوي او يقيناً چې دا د قرآن يو بل قاطع او ښكاره علمي اعجاز دئ.

- ته گورې چې الله تعالى له آسمانه اوبه وروي او په دغو اوبو له زمكې د ژوو او نباتاتو ډول ډول غوره جوړې راټوكوي، د زمكې پر سر د پيدايښت په دې لړۍ كې د خلاق رب د خلقت څرگند مظاهر زموږ په وړاندې ځلېږي، ټول په جگ ږغ گواهي وركوي چې دا هر څه د الله تعالى په اراده ترسره كېږي، څوك چې دا حقيقت نه مني نو داسې څوك دي وښيي چې د كوم څه د پيدا كولو توان لري، راودې ښيي چې له ده پرته نورو څه پيدا كړي؟ د قرآن دا او گڼ شمېر نور آيتونه وايي چې له الله تعالى پرته هيڅوك د څه پيدا كولو توان نه لري، ساينس نن همدا خبره كوي او وايي: انسان نه څه پيدا كولی شي او نه څه له منځه وړلی شي، هغه يوازې دومره كولی شي چې يو شئ له يوه حالته بل ته واړوي، داسې لكه چې لرگی وسوزوي او په ايرو او دود ئې واړوي، هغه په دې عمليې سره نه كوم شئ پيدا كړی او نه ئې له منځه وړی، د سوزېدلې لرگي په كتلې كې هيڅ كمی او زياتی نه راځي، فقط حالت ئې بدلېږي.
- هغه څوك چې له دغو حقائقو انكار كوي ستر ظالم دئ او په څرگنده توگه بې لارې شوی او سمه لار ئې وركه كړې!!

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا لُقْمَـٰنَ ٱلْحِكْمَةَ أَنِ ٱشْكُرْ لِلَّهِ ۚ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ۖ

وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿١٢﴾ وَإِذْ قَالَ لُقْمَـٰنُ لِٱبْنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَـٰبُنَىَّ لَا
تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿١٣﴾ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ
وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَـٰلُهُۥ فِى عَامَيْنِ أَنِ ٱشْكُرْ لِى وَلِوَٰلِدَيْكَ إِلَىَّ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٤﴾ وَإِن
جَـٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۖ وَصَاحِبْهُمَا
فِى ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَٱتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَىَّ ۚ ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا
كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ يَـٰبُنَىَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِى صَخْرَةٍ أَوْ
فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ أَوْ فِى ٱلْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿١٦﴾ يَـٰبُنَىَّ أَقِمِ
ٱلصَّلَوٰةَ وَأْمُرْ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱنْهَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ ۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ
عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿١٧﴾ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ ٱللَّهَ
لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾ وَٱقْصِدْ فِى مَشْيِكَ وَٱغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ
أَنكَرَ ٱلْأَصْوَٰتِ لَصَوْتُ ٱلْحَمِيرِ ﴿١٩﴾

او يقيناً چي لقمان ته مو دا حکمت ورپه برخه کړ چي الله ته شکر کوه، او څوك چي شکر کوي نو د خپل ځان (د ګټي) لپاره شکر کوي، او چا چي ناسپاسي وکړه نو الله ستايلی بې نياز دئ، او هغه مهال (درپه ياد کړه) چي لقمان خپل زوی ته په داسي حال کي چي وعظ ئې ورته کولو وويل: اې زما ګرانه زويه! له الله سره (څوك) مه شريکوه، يقيناً چي شرك لوی ظلم دئ، او انسان ته مو د والدينو په اړه د ښېګڼي سپارښتنه وکړه، مور ئې دی په پرله پسې سستيو ګاللو سره حمل کړ، او بېلول ئې په دوو کلونو کي وو، دا سپارښتنه چي زما او د خپلو والدينو شکر کوه، بېرته ستنېدا زما په لوري ده، او که دوی دواړو ستا په اړه دا هڅه کوله چي له ما سره داسي څه شريك کړې چي د هغه په اړه علم نه لرې نو اطاعت ئې مه کوه، او په دنيايي چارو کي په ښه توګه

مصاحبت ورسره کوه، او د هغه چا متابعت کوه چي زما لوري ته ئې انابت کړی، بیا مو بېرته ګرځېدا زما په لوري ده نو په هغه څه به مو خبر کړم چي تاسو کول. ای زما ګرانه زویه! حقیقت دا دئ چي که د سپیلني د دانې په مقدار څه وي او هغه په کومې دبري کي یا په آسمانونو او یا په زمکي کي وي نو الله به ئې راحاضر کړي، یقیناً چي الله باخبره لطیف دئ. ای زما ګرانه زویه! لمونځ قائموه، په ښېګنې ګمارنه کوه او له منکر ممانعت کوه، او په هغه څه (کړاوونو) صبر کوه چي دررسي، یقیناً چي دا له همتناکو کارونو څخه دئ. اننګي دي خلکو ته مه کږوه او په زمکي کي په نخرو نخرو مه درومه، یقیناً چي الله هر فخر کوونکی کبرجن نه خوښوي، او په خپل تګ کي اعتدال کوه او خپل ږغ راټیټ کړه؛ یقیناً چي تر ټولو کرکجن ږغ د خره ږغ دئ.

(۱۲-۱۹)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- لقمان په عربو کي د یوه پوه او حکیم شخصیت په نامه پېژندل کېدو او ګڼ شمېر مواعظ، نصائح او وجېزې هغه ته منسوببېدل، دلته د هغه یادونه د دې لپاره شوې چي قریشو ته وویل شي: رسول الله ﷺ تاسو ته د لقمان په څېر او تر هغه دېري لوړي او غوره وېناوي کوي، دا ولي هغه ته د درناوي او احترام په سترګه ګورئ او له رسول الله ﷺ سره دښمنی ته ملا تړئ؟!!

راشئ د لقمان څو هغو خبرو ته ځیر شئ چي هغه خپل زوی ته کړې وې:

- د هغه لومړی سپارښتنه دا وه چي شرك مه کوه، شرك لوی ظلم دئ، رسول الله ﷺ تاسو ته همدا خبره کوي.
- هغه د الله تعالی دا حکم پر ځای کړی وو چي د الله تعالی په وړاندي د هغه د نعمتونو شکر وکړي، څوك چي شکر کوي نو د خپل ځان په ګټه شکر کوي او څوك چي ناسپاسي کوي نو ځان ته تاوان رسوي، الله تعالی د ده او د ده شکر ته هیڅ اړتیا نه لري، الله تعالی ستایلی بې نیاز دئ.
- هغه خپل زوی ته په داسي حال کي چي وعظ ئې ورته کولو وویل: ای زما ګرانه زویه! له الله سره څوك مه شریکوه، یقیناً چي شرك لوی ظلم دئ. لکه څنګه چي لقمان خپل ګران زوی ته د د خپل وعظ په سر کي له شرك د ځان ساتلو سپارښتنه کوله، همداسي رسول الله ﷺ تاسو ته د خپلو مواعظو په سر کي او تر هر څه وړاندي له شرك د لاس اخیستو توصیه کوي، ستاسو په اړه ئې زړه سوی او مهرباني همدومره ده لکه د یوه مهربان پلار زړه سوی له خپل اولاد سره.
- الله تعالی د مور پلار په زړه کي له خپل اولاد سره دومره مینه تعبیه کړې چي مور ئې د هغه لپاره سخت سخت کړاوونه ګالي، دوه کاله ئې په خپل رحم او غېږ کي ګرځوي، تی ورکوي، د هغه لپاره کړاوونه او بې خوبي ګالي، د دې په بدل کي ئې انسان پر دې ګمارلی چي له والدینو سره به ښېګڼه کوي، د هغوی د پیرزوینو درناوی او شکر به کوي، د قیامت په ورځ به الله تعالی د دې پوښتنه کوي چي له والدینو سره مو چلن څنګه وو، د ټولو بېرته ستنېدا د الله تعالی په لوري ده، خو انسان ته ئې دا سپارښتنه هم کړې چي که پلار او مور ستا په اړه دا هڅه کوله چي له ما سره داسي څه شریك کړې چي د هغه په اړه علم نه لرې نو

اطاعت ئې مه کوه، خو سره له دې په دنيايي چارو کې له هغوی سره په ښه توګه مصاحبت کوه، د دوی پر ځای د هغه چا متابعت کوه چې زما لوري ته ئې انابت کړی، بيا مو بېرته ګرځېدا زما په لوري ده نو په هغه څه به مو خبر کړم چې تاسو کول.

- لقمان خپل زوی ته ويلي وو: ای زما ګرانه زويه! حقيقت دا دئ چې که د سپيلني د داني په مقدار څه نېك يا بد عمل، ښه او بد شئ وي، او هغه په کومې ډبرې کې يا په آسمانونو او يا په زمکې کې وي؛ نو الله به ئې راحاضر کړي، يقيناً چې الله باخبره لطيف دئ. پر هيچا به له هيڅ پلوه ظلم نه کېږي، که چا د سپيلني د داني په مقدار ښه يا بد عمل کړی وي نو څرګند به شي، هيڅ څه له الله تعالی پټ نه پاته کېږي؛ دا ځکه چې هغه (خبير) او (لطيف) دئ.
- همدا راز هغه خپل زوی ته ويلي وو: ای زما ګرانه زويه! لمونځ قائموه، په ښېګڼې ګمارنه کوه او له منکر ممانعت کوه، او که د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په کار کې له کړاوونو سره مخامخ شوې صبر کوه؛ يقيناً چې دا له همتناکو کارونو څخه دئ. اننګې دې خلکو ته مه کږوه، له هغوی مخ مه اړوه، په سپکه سترګه مه ورته ګوره، په زمکې کې په نخرو نخرو مه درومه، يقيناً چې الله هر فخر کوونکی کبرجن نه خوښوي، او په خپل تګ کې اعتدال کوه او خپلږغ راټيټ کړه؛ يقيناً چې تر ټولو کرکجن ږغ د خره ږغ دئ.

دې ته مو پام وي چې دلته د ﴿وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ﴾ الفاظ راغلي، (صعر) هغې بيمارۍ ته وايي چې اوښان پرې اخته کېږي او له کبله ئې د اوښ غاړه کږه شي، دلته د (لاتصعر خدك) معنی دا ده چې په کبر سره خلکو ته کوږ کوږ مه ګوره او په بې اعتنائي سره مخ مه ترې اړوه، د هغه کبرجن په څېر مه کېږه چې د بل خبرې ته خپل اننګی کوږ کړي او بې ارزښته ئې وګڼي. د آيت په پای کې دا فقره راغلې ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ﴾: يقيناً چې الله هر فخر کوونکی کبرجن نه خوښوي)؛ له دې فقرې معلومېږي چې په﴿وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ﴾ کې له کبر ډېره کول مراد دي.

که دې مبارکو آيتونو ته په دقيقه توګه ځير شو نو راته جوته کېږي چې په دې کې د پېغمبرﷺ د دعوت اساسي ټکي راغلي چې په دې توګه دي:

- له الله سره څوك مه شريکوه، يقيناً چې شرك لوی ظلم دئ.
- الله تعالی انسان ته د والدينو په اړه د ښېګڼې سپارښتنه کړې.
- دا سپارښتنه چې د خپل رب او د خپلو والدينو شکر کوه.
- د ټولو بېرته ستنېدا د الله تعالی په لوري ده.
- که والدينو دې دا هڅه کوله چې له الله تعالی سره داسې څه شريك کړې چې د هغه په اړه علم نه لرې نو اطاعت ئې مه کوه. خو سره له دې په دنيايي چارو کې له هغوی سره په ښه توګه مصاحبت کوه.

- د هغه چا متابعت کوه چې زما لوري ته ئې انابت کړی، يعني بايد په يوه تنظيم او جماعت کې ژوند وکړې او له يوه لارښود سره بيعت وکړې.
- لمونځ قائموه.
- په ښېګڼې ګمارنه کوه او له منکر ممانعت کوه.
- د هغو کړاوونو په وړاندې صبر کوه چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په دوران ورسره مخامخ کېږې. همدا له همتناکو کارونو څخه دئ.
- انـګي دې خلکو ته مه کږوه او په زمکې کې په نخرو نخرو مه درومه، يقيناً چې الله تعالی فخر کوونکی کبرجن نه خوښوي.
- په خپل تګ کې اعتدال کوه. مه د مغرورو په څېر په نخرو نخرو تګ کوه او مه د کمزورو او ذلت ته د تسليم شوو په څېر له کږې غاړې سره ورو ورو تګ کوه.
- له مخاطبينو سره د خبرو په دوران کې خپل ږغ ټيټ ساته او د هغه کمعقل مغرور په څېر په لوړ، پرېړ او تحکمانه غږ خبرې مه کوه چې ځان تر نورو لوړ ګڼي او خلکو ته په سپکه سترګه ګوري.

دا مبارك آيتونه موږ ته ښيي چې د دين له نظره مهم مهم او اساسي کارونه کوم کوم دي، دلته له توحيد وروسته له والدينو سره د ښه سلوك سپارښتنه شوې، ورپسې د صالح لارښود د متابعت يادونه شوې، بيا د لمانځه، بيا د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او د هغو کړاوونو په وړاندې صبر چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په دوران کې ورسره مخامخ کېږو، او په پای کې له کبر او غرور ډډه کول. له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې په اسلام کې نه د انفرادي ژوند تصور او مجال شته او نه د ټولنې د ناخوالو په وړاندې د بې اعتنائي او بې تفاوتي جواز، د دين تقاضاء او د ټولو پيغمبرانو او صالحينو کړنلاره دا ده چې د يوه موحد داعي په توګه به د يوه صالح صف په څنګ کې او د يوه خدای پال لارښود په متابعت کې په ټولنې کې د اصلاح هاند کوو، په معروف ګمارنه او له منکر مخنيوی به خپله الهي او ديني وجيبه ګڼو. قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې موږ ته لارښوونه کوي چې د الله په لار کې به کله د مال قربانی ته بلل کېږئ او کله د ځان، کله به د دين په جامه کې د دين دښمنان ستا مقابله کوي او کله مشرکان، هم به له دې ځوروونکې خبرې اورې او هم له هغه، لږ نه؛ ډېرې، حوصله دې لوړه ساته، د الله رضاء وړيا نه ترلاسه کېږي، دا ګوهر ترلاسه کول په ستر سيند کې لامبو او له پياوړو څپو سره ئې ډغرې وهل غواړي، دا الماس د جګو غرونو په لوړو څوکو کې موندلی شې، هلته ځان رسول غواړي، له کړلېچونو به تېرېږې، لوړې ژورې به پلې کوې، زړه غښتلی او متې مضبوطې کړه، قربانی ته تيار شه، له مخالفتونو سره مخامخ کېدو ته ځان چمتو کړه، سختې آزموينې په مخکې لرې، که دې همت وکړ، بې زړه نه شوې، له ودرېدو، ترشا کېدو او يوې بلې خوا ته له کږېدو دې ځان وساتو او له دغو آزموينو بريالی ووتې، الله ته رسې او رضاء ئې ترلاسه کوې.

لکه چې دلته د حج، زکات او روژې يادونه نه ده شوې خو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر يادونه شوې، همداسې په قرآن کې تر روژې او حج د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او جهاد فِي سبيل الله زياته يادونه شوې، که د جهاد اړوند هغه آيتونه هم حساب کړو چې په

غیرمستقیمه توگه د جهاد سپارښتنه کوي نو ویلي شو چي تر لمانځه او زکات هم په جهاد زیات ترکیز او تأکید شوی، جهاد د ایمان او په ایمان کي د اخلاص او صداقت لپاره د معیار او ملاك په توگه معرفي شوی، بل هیڅ عبادت ته په دې سترگه نه دي کتل شوي، د هغه چا د ایمان دعوی دروغجنه گڼل شوې چي له جهاد ډډه کوي، د بل عبادت په اړه دا خبره نه ده شوې. په روایاتو کي د جهاد پرېښودونکي په اړه ویل شوي چي له اسلامه وتلی که څه هم لمونځ کوي او روژه نیسي.

عن الحارث الاشعري أن رسول اللهﷺ قال: وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ الله أَمَرَنِي بِهِنَّ: الْجَمَاعَةِ، وَالسَّمْعِ، وَالطَّاعَةِ، وَالْهِجْرَةِ، وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ الله، فَمَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قَيْدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الاءِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلا أَنْ يَرْجِعَ، وَمَنْ دَعَا دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَاءِ جَهَنَّمَ"، قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ الله وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى؟ قَالَ: نعم وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى، فادعوا بدعوة الله الذي سماكم بها المسلمين المؤمنين عباد الله.

له الحارث الاشعري روایت دئ چي رسول الله وفرمایل: په هغو پنځو خبرو مو گمارم چي الله تعالی زه پرې گمارلی یم: جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کي جهاد، نو څوك چي له جماعت د یوې لوېشتي په اندازه ووت یقیناً چي د اسلام کړی ئې له خپلي غاړې وایسته، مگر دا چي بېرته راوگرځي، او څوك چي د جاهلیت په بلنې بلنه کوي؛ هغه به د دوزخ خس او خاشاك وي، یوه سړي وویل: یا رسول الله! که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئې فرمایل: هو؛ که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي، نو د الله په هغې بلنې سره بلنه وکړئ چي تاسو ئې پرې مؤمنان، د الله بندگان مسلمانان نومولي یئ.

دا روایت چي د احادیثو په ټولو کتابونو کي په همدې الفاظو سره یا په لږ تغییر سره راغلی او صحیح ئې گڼلی، په جماعت کي ژوند، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کي جهاد، دومره مهم بولي چي له دې پرته د چا لمونځ او روژه هم د منلو وړ نه گڼي!!

همدغو نصوصو ته په پام سره عمر ﷺ فرمایي: لا اسلام الا بالجماعة و لا جماعة الا بالامارة و لا امارة الا بالسمع و الطاعة: نه له جماعت پرته اسلام شته، نه له امارته پرته جماعت شته او نه له اورېدو او اطاعته پرته امارت شته.

همدا راز عمارة له أبي زرعة روایت کوي چي عمر ﷺ وویل: عرى الایمان أربع: الصلاة والزكاة والجهاد والأمانة: د ایمان کړی څلور دي: لمونځ، زکات، جهاد او امانت.

او بل جلیل القدره صحابي حذیفه ﷺ وایي: الاسلام ثمانیة أسهم: الصلاة سهم والزكاة سهم و الجهاد سهم وصوم رمضان سهم وحج البیت سهم، والامر بالمعروف سهم والنهي عن المنكر سهم والاسلام سهم، وقد خاب من لا سهم له: اسلام اته برخي دئ: لمونځ یوه برخه، زکات بله برخه، جهاد بله برخه، د رمضان د میاشتي روژه بله برخه، د بیت الله حج بله برخه، امر بالمعروف بله برخه، نهي عن المنكر بله برخه، او اسلام بله برخه او هغه څوك نامراد شو چي کومه برخه ئې نه وي.

لاندي روایت جهاد د اسلام د بدن سر، د اسلام د ماڼۍ اساسي ستنه او د اسلام د لوړې څوکه گڼي:

عن معاذ بن جبل قال: أقبلنا مع رسول اللهﷺ من غزوة تبوك، فلما رأيته خاليا قلت: يا رسول الله ! أخبرني بعمل يدخلني الجنة، قال: "لقد سألت عن عظيم وهو يسير على من يسره الله عليه: تقيم الصلاة المكتوبة وتؤتي الزكاة المفروضة وتلقى الله لا تشرك به شيئا، أولا أدلك على رأس الأمر وعموده وذروة سنامه فالجهاد فِي سبيل الله". مصنف ابن ابي شيبه

له معاذ بن جبل روايت دئ چي وايي: له رسول الله سره د تبوك له غزوې راگرځېدو، كله چي مي هغه يوازي وموند ومي ويل: يا رسول الله! له داسي عمله مي خبر كړه چي جنت ته مي داخل كړي، وئې فرمايل: يقيناً چي د ستر شي پوښتنه دي وكړه، خو هغه چا ته آسانه دئ چي الله ئې ورته آسان كړي: فرض لمونځونه كوه، فرض زكات وركوه، او له الله سره داسي مخامخ كېږه چي هيڅ څه دي نه وي ورسره شريك كړي، او آيا د دې كار له سر، او ستني او د لوړي له څوكي دي خبر نه كړم؟ چي هغه د الله په لار كي جهاد دئ.

(يعني جهاد د اسلام د بدن سر، د اسلام د ماڼۍ اساسي ستنه او د لوړي څوكه ئې ده). دا روايت د حافظ عبد الله بن محمد بن أبي شيبة په مصنف كي راغلی، هغه د احاديثو د كتاب لومړنی مصنف دئ، په سنة ٢٣٥ هجري كي وفات شوی، د دې معنی دا ده چي دی د دوهمي پېړۍ شخصيت دئ او د نورو محدثينو لپاره د استاد حيثيت لري.)

په بيعت عقبة كي رسول اللهﷺ د انصارو له وفد په لاندي خبرو بيعت اخيستی وو:

عن جابر بن عبد الله الأنصاري.... قال رسول الله "تبايعوني على السمع والطاعة فِي النشاط، والكسل، وعلى النفقة فِي العسر، واليسر وعلى الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر، وعلى أن تقولوا فِي الله لا تأخذكم لومة لائم، وعلى أن تنصروني إذا قدمت عليكم، وتمنعوني مما تمنعون عنه أنفسكم وأزواجكم وأبناءكم ولكم الجنة"، فقمنا نبايعه وأخذ بيده أسعد بن زرارة وهو أصغر السبعين إلا أنه قال: رويدا يا أهل يثرب، إنا لم نضرب إليه أكباد المطي إلا ونحن نعلم أنه رسول الله وأن إخراجه اليوم مفارقة العرب كافة وقتل خياركم وأن يعضكم السيف فإما أنتم قوم تصبرون عليها إذا مستكم وعلى قتل خياركم ومفارقة العرب كافة، فخذوه وأجركم على الله وإما أنتم تخافون من أنفسكم خيفة فذروه فهو عذر عند الله عز وجل، فقالوا: يا أسعد أمط عنا يدك فوالله لا نذر هذه البيعة ولا نستقيلها، قال: فقمنا إليه رجلا رجلا فأخذ علينا ليعطينا بذلك الجنة" هذا حديث صحيح الاءسناد جامع لبيعة العقبة ولم يخرجاه.

له جابر بن عبدالله انصاري روايت دئ چي.... رسول الله وفرمايل: له ما سره په دې خبري بيعت وكړئ چي اورئ او اطاعت به كوئ؛ په هغه څه كي هم چي له زړه نه ورته تيار وئ او په هغه كي هم چي زړه مو نه غواړي، او په تنگسې او سوكالي كي انفاق كول، او په امر بالمعروف او نهي عن المنكر باندي، او دا چي د الله لپاره به حق خبره كوئ او د ملامتوونكي د ملامتولو پروا به نه كوئ، او په دې چي كه درغلم زما مرسته به كوئ او هغه څه به رانه تموئ چي له خپل ځان، مېرمنو او اولاد نه ئې تموئ او تاسو ته به د دې بدله جنت وي)، نو موږ ودرېدو چي بيعت ورسره وكړو، اسعد بن زراره چي د اويا كسانو تر ټولو كم عمره وو د ده لاس ونيو او وئې ويل: لږ تم شئ اې د يثرب استوگنو! موږ خو دلته د دې لپاره د زيات زحمت په گاللو سره راغلي يو چي پوهېږو دی د الله رسول دئ، ده ته پناه وركول له ټولو عربو سره جنگ ته ملا تړل دي، د دې په نتيجه كي به ستاسو شازلميان وژل كېږي او توري

به دربانډي ورپېږي، که په دې ټولو صبر کولی شئ نو لاس ورکړئ، اجر به ئې د الله تعالى په ذمه وي او که پر خپل ځان کومه وېره لرئ نو پرې ئې ږدئ او خپله خبره په واضح الفاظو ورته وکړئ، دا به د الله په وړاندې ستاسو عذر شي، وئې ويل: اې اسعده! له موږ لاس واخله، په خدای قسم چې دا عهد نه پرېږدو او نه ئې ماتوو، نو يو يو ورپورته شوو او له موږ ځنې ئې دا ژمنه واخيسته چې په بدل کې به ئې الله تعالى موږ ته جنت راکوي...

په دې مصيبت ډېر خلك اخته دي چې امر بالمعروف او نهي عن المنكر د لمانځه په څېر يوه فريضه نه ګڼي، او ډېر بيا داسې دي چې فرعي او مستحب امور تر فرائضو هم مهم ګڼي، فرائض ترې پاته وي خو په فضائلو او مستحباتو باندې به کلك نښتي وي، هغه چا ته به څه نه وايي چې فرايضو ته اعتناء نه لري خو هغه څوك به په ځلورو کتابونو کافر ګڼي چې کوم مستحب ترې پاته شي. ټول ژوند به ئې په فروعي مسائلو کې په بېهوده شخړو او خوشو مناظرو تېر شي او هغه چا ته به د ستر او اساسي دښمن په سترګه ګوري چې له ده سره په فروعي مسائلو کې اختلاف لري خو د خدای او دين ستر ستر دښمنان به ترې پاته وي او د هغوی په ضد به د يوې خبرې کولو جسارت نه کوي!! د اصلي دښمن له پېژندو به عاجز وي، د الله تعالى په لار کې د جهاد خبره به نه کوي، په ټولنې کې په ناخوالو، ظلم، فساد او بې عدالتيو به اعتراض نه کوي، د امر بالمعروف او نهي عن المنكر فريضه به ئې هېره کړې وي خو په دې به مكرر ټينګار کوي چې له لمانځه وروسته دعاء څنګه ده، پيڅې به څومره له بېډيو لوړې ساتو... !!

- د دې موضوع يادونه هم ضروري برېښي چې د (إن الشرك لظلم عظيم) په اړه په بخاري کې تر دې عنوان لاندې (ظلم څو مرتبې لري) يو روايت په دې صيغه راغلی:

حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ ح. قَالَ وَحَدَّثَنِي بِشْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ الله قَالَ لَمَّا نَزَلَتِ (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ) قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ الله أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ فَأَنْزَلَ الله (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ). (بخاري:۳۲)

له عبدالله بن عباس رسول روايت دئ چې کله دا آيت نازل شو (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ: هغه چې ايمان ئې راوړی او خپل ايمان ئې په ظلم نه دئ لړلی) نو د رسول الله صحابه وو وويل: له موږ به کوم يوه ظلم نه وي کړی؟ نو الله تعالى دا آيت نازل کړ: (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ: يقيناً چې شرک لوی ظلم دئ). يعني په دې تېر آيت کې د ظلم مراد شرک دئ، نه بل ډول ظلم.

دا روايت په بخاري کې شپږ ځلې نور هم راغلی، په دغو شمېرو: ۳۳٦۰، ۳٤۲۸، ۳٤۲۹، ٤٦۲۹، ٤۷۷٦، ٦۹۱۸، ٦۹۳۷،

د دې روايت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

دا روايت غريب دئ، په ټولو طبقاتو کې يو يو راوي لري، الأَعْمَش له إِبْرَاهِيمَ، هغه له عَلْقَمَةَ او هغه له عَبْدِ الله بن عباس روايت کوي، وروستي راويان ئې بېل بېل دي، خو په الفاظو کې ئې څو توپيرونه شته چې دوه ئې ډېر ستر دي او جدي تعارض په ګوته کوي او هغه دا چې په ځينو کې ويل شوي چې الله تعالى دا آيت نازل کړ خو په ځينو کې ويل شوي چې رسول الله هغوی ته وفرمايل: (داسې نه ده لکه چې تاسو ئې انګېرئ، له ظلم نه مراد شرک

دئ، آيا دا آيت مو نه دئ اورېدلی چي لقمان خپل زوی ته وايي: شرك لوی ظلم دئ)، او د دې معنی دا ده چي دا آيت تر هغه بل د مخه نازل شوی وو.

دې ته مو پام وي چي (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ) د لقمان د سورې آيت دئ او (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ) د الانعام د سورې، د دغو دواړو سورتونو له متنه په وضاحت سره معلومېږي چي د الانعام سوره د لقمان تر سورې ډېره وروسته نازله شوې، الانعام د مكي دور په وروستيو كي او د لقمان سوره په منځنيو كلونو كي نازله شوې، په روايت كي په دې اړه اشتباه شوې، چي د لقمان د سورې آيت تر هغه بل چي د الانعام په سورې كي راغلی وروسته ګڼي، له دې معلومېږي چي په دغو متعارضو رواياتو كي يوازې هغه دقيق دئ چي د آيت د نزول خبره نه كوي بلكي وايي: رسول الله د لقمان د سورې دا آيت ورته ولوست او د دوی تشويش ئې رفع كړ. دا چي ولي په رواياتو كي تعارض راغلی وجه ئې دا ده چي عبدالله بن عباس رسول په مدينه كي ځوانی ته رسېدلی او دا موضوع په مكه كي واقع شوې، ده هم له نورو اورېدلي، خو د هغوی نوم ئې نه دئ اخيستی، ښايي له ځينو ئې دا وينا اورېدلې وي او له ځينو هغه بله. دا روايت په نورو كتابونو كي هم راغلی خو اصلي راوي ئې يوازې عبدالله بن عباس رسول دئ.

دې ته مو پام وي چي اصولاً لومړی يو نوم يا اصطلاح وضع كېږي بيا ئې كارول پيل كېږي، هيڅوك داسي نه كوي چي اسم له مسمٰی مخكي وكاروي، لومړی بايد په شرك باندي د ظلم نوم ايښودل شوی وي بيا به دا وينا د فهم وړ وي چي (څوك خپل ايمان په ظلم ونه لړي يعني خپل ايمان له شرك سره خلط نه كړي).

دې ته مو هم بايد پام وي چي د ايمان تر څنګ د ظلم يادونه په داسي توګه چي له ايمان سره ګډول افاده كوي ښيي چي دا (ظلم) يوه عقيده ده نه عمل، ځكه عمل او عقيده سره ګډېدی نشي، عقيده له عقيدې سره ګډېدی شي، نو ځكه دلته له ظلم څخه مراد د شرك عقيده ده نه عام ظلم او د بل په حق تېری.

أَلَمْ تَرَوْاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴿٢٠﴾

آيا پام مو نه دئ كړی چي يقيناً الله تاسو ته ټول هغه څه مسخر كړي چي په آسمانونو كي دي او ټول هغه څه چي په زمكي كي دي، او پر تاسو ئې خپل نعمتونه په څرګنده او پټه توګه بشپړ كړي، او له خلكو څخه ځيني له علم، هدايت او روڼ كتاب پرته د الله په اړه مجادله كوي.

(۲۰)- په دې مبارك آيت كي د انسانانو توجه هغو الهي نعمتونو ته اړول شوې چي په

آسمانونو او زمکي کي او په مشهود او غيرمشهود توګه د دوی په برخه شوي، قرآن خپلو مخاطبينو ته فرمايي: آيا پام مو نه دئ کړی چي يقيناً الله تاسو ته ټول هغه څه مسخر کړي چي په آسمانونو او زمکي کي دي؟ يعني د آسمانونو او زمکي هر څه ستاسو په خدمت کي لګيا دي، يوه بل ته لاس ورکړی، په ګډه لګيا دي او تاسو ته هغه څه مهيا کوي چي تاسو ورته ضرورت لرئ، ځيني نعمتونه ئې څرګند دي او تاسو ئې په خپلو سترګو ګورئ او هغوی پېژنئ خو ځيني ئې داسي دي چي تاسو ئې نه وينئ او نه ئې پېژنئ، تاسو دا ګورئ چي لمر رڼا او تودوخه درکوي او له وريځو باران درباندي ورېږي او په همدې سره له زمکي ډول ډول خوندوري مېوې او ګټور بوټي او داني درته راټوکېږي، خو د الله تعالی بې شمېره نعمتونه داسي دي چي ستاسو له سترګو پټ دي او نه ئې پېژنئ. په سطحي نظر دا خبره عجيبه برېښي چي د آسمانونو او زمکي هر څه څنګه انسان ته مسخر دي، د انسان پر ژوند به د ټولو هغو شيانو اغېز څه وي چي د آسمانونو په پراخي غېږ او د زمکي په پلني لمني کي ئې ګورو؟ خو حقيقت دا دئ چي د قرآن دغه وينا يو ستر علمي حقيقت دئ، نه يوازي دا چي الله تعالی موږ ته بې شمېره داسي نعمتونه راپه برخه کړي چي موږ ئې نه وينو او نه ئې پېژنو، ډېر داسي دي چي څو کلونه وړاندي مو نه پېژندل خو نن ئې پېژنو، نن ئې نه پېژنو خو څو کاله وروسته به راته جوت شي، موږ پرون په دې نه پوهېدو چي زموږ د زمکي او نورو ستورو تر منځ به څه تړاو وي، خو نن پوهېږو چي د زمکي د سر دا اوسنی وضعيت د هغه نظم او تعادل نتيجه ده چي په شمسي نظام کي رامنځته شوی، په دې کي معمولي تغيير د زمکي دا اوسنی وضعيت له منځه وړي، زموږ د شمسي نظام دا موجود حالت د هغه خاص او دقيق نظم په نتيجه کي رامنځته شوی چي زموږ پر اړوند ستور ليکی حاکم دئ، که دا نظم متلاشي شي نو نه به زموږ شمسي نظام په اوسني حالت کي پاته شي او نه زموږ د زمکي حالت، ټول عالم په همدې توګه يو له بل سره تړاو لري او د يوه حالت پر بل اغېز لري، دا ډېره درنه او دقيقه وينا ده چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي هر څه انسان ته مسخر کړي.

خو د انسانانو ځيني داسي دي چي دا مبارك آيت ئې موږ ته په دې توګه معرفي کوي: د الله تعالی دا ټول څرګند او پټ نعمتونه له پامه غورځوي، د الله تعالی په اړه د يوه داسي کس په توګه قضاوت کوي چي نه په خپله څه علم لري، نه ئې له بله کومه لارښوونه ترلاسه کړې او نه ئې کوم لارښود او روڼ کتاب لوستلی!!

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ يَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ﴿٢١﴾

او کله چي ورته وويل شي: د هغه څه متابعت وکړئ چي الله رالېږلي؛ وايي: نه؛ بلکي د هغه څه متابعت کوو چي خپل پلرونه مو پرې موندلي، آيا که څه هم شيطان دوی د لمبه ناك عذاب لوري ته بلي!!

(٢١)- کله چي د الله تعالی په اړه دغو بې علمه او لارورکو مجادله کوونکو ته وويل شي: د

هغو لارښوونو متابعت وکړئ چې د الله تعالی له لوري رالیږل شوي؛ وايي: نه؛ بلكې د هغه څه متابعت كوو چې له خپلو پلرونو په میراث رارسېدلي، په همغه لار دروممو چې پلار نیكه مو پرې تللي، كه څه هم دا ړوند او په قومي تعصب ولاړ متابعت په حقیقت كې د شیطان متابعت وي او پایله ئې هم د لمبه ناك عذاب په لوري د دوی بېول وي!!

وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَـٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿٢٢﴾

او څوك چې خپل مخ (ځان) الله ته تسلیم كړي په داسې حال كې چې نېك وي نو یقیناً چې په مضبوطې كړۍ ئې منګولې ټینګې كړې دي، او د كارونو پایله الله ته (راجع كېدونكې) ده.

(۲۲)- دا مبارك آیت وايي: څوك چې خپل ځان الله تعالی ته په بشپړه توګه تسلیم كړي، په داسې حال كې چې نېك وي نو یقیناً چې هغه په مضبوطې كړۍ منګولې ټینګې كړې دي، الله تعالی ئې ساتونكی او پالونكی دئ او تل او په هر حال او هر ځای كې د خپل رب تر رعایت لاندې دئ، د هغه رب په حفظ او امان كې چې د ټولو كارونو پایلې د هغه له لوري ټاكل كېږي.

وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُۥٓ ۚ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٢٣﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٢٤﴾

او څوك چې كفر وكړي نو د ده كفر دې تا غمجن نه كړي، بېرته ګرځېدا زموږ په لوري ده، نو په هغه څه به ئې خبر كړم چې كول ئې، یقیناً چې الله د سینو په شته وو ښه پوه دئ، لږ به ئې متمتع كړو بیا به ئې د سخت عذاب لوري ته اړ كړو.

(۲۳-۲٤)- په دې مباركو آیتونو كې رسول الله ﷺ ته د دغو كافرانو په اړه دا لارښوونه شوې:

- څوك چې د كفر لار غوره كړي نو د هغه كفر دې تا غمجن نه كړي، د دوی بېرته ګرځېدا زموږ په لوري ده، نو په هغه څه به ئې خبر كړم چې دوی كول، یقیناً چې الله تعالی ښه پوهېږي چې د دوی په خپلو سینو كې څه لري، ولې ئې د كفر لار غوره كړې، كومو موخو ته د رسېدو په طمع ئې كفر ته مخه كړې، كېدی شي ځینې هیلې ئې ترسره شي، د دنیا له متاع ئې لږ برخمن كړم، خو په پای كې به د دوزخ په لوري كش كړی شي او د سخت عذاب په منګولو كې پرېوتو ته به اړ شي.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ

أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٥﴾

او که دوی وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي؛ حتماً به ووايي: الله، (ورته) ووایه: الحمد لله (ټولې ستاینې الله ته دي)، خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

(٢٥)- دا مبارك آيت په دې ټينګار کوي چې هيڅوك د آسمانونو او زمکې د پيدايښت په اړه له دې پرته بل څه نشي ويلی چې دا الله تعالی پيدا کړي، له دې پرته بل داسې خواب چې د انسان عقل پرې قانع شي نشي وړاندې کولی، رسول اللهﷺ او د ده له لارې د قرآن هر مخاطب ته وايي: که دوی وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي؛ نو حتماً به ووايي: الله، ورته ووايه: الحمد لله چې تاسو په دې حقيقت اعتراف کوئ، دا په داسې حال کې چې د دوی ډېری نه پوهېږي.

لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿٢٦﴾

او څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي (ټول) د الله دي، يقيناً چې الله ستايل شوی بې نياز دئ.

(٢٦)- الله تعالی نه يوازې د دې عالم خالق دئ بلکې پر دې سربېره د اسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالی په واك کې دي، څه چې په دې عالم کې شته، که دا په آسمانونو کې دي يا په زمکې کې؛ ټول د الله تعالی دي، يقيناً چې هغه ستايل شوی بې نياز دئ.

وَلَوۡ أَنَّمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن شَجَرَةٍ أَقۡلَٰمٞ وَٱلۡبَحۡرُ يَمُدُّهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦ سَبۡعَةُ أَبۡحُرٖ مَّا نَفِدَتۡ كَلِمَٰتُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٢٧﴾

او که په زمکې کې چې کومې ونې دي؛ (دا ټولې) قلمونه وي او سمندر ئې په داسې حال کې (د قلم) رنګ شي چې له تماميدو وروسته ئې اوه نور سمندرونه وي نو د الله کلمې به پای ته ونه رسيږي، يقيناً چې الله باحکمته عزتمن دئ.

(٢٧)- که دا مبارك آيت د مخکنيو آيتونو په رڼا کې او له هغوی سره په تړاو وڅېړو نو معنی ئې دا ده: د الله تعالی هغه احکام چې له کبله ئې په آسمانونو او زمکې کې څه پيدا شوي وشمېرو او د شمېرلو لپاره ئې د زمکې د سر ټولې ونې قلمونه او سمندر ئې رنګ کړو، اوه نور سمندرونه ئې هم په خوا کې کېږدو، نو د سمندرونو اوبه به ختمې شي خو د الله کلمې به پای ته ونه رسيږي، يقيناً چې الله باحکمته عزتمن دئ. له دې وينا څو خبرې معلومېږي: ١- د عالم هر مخلوق د الله تعالی د يوې کلمې او حکم مظهر دئ، ٢- د الله تعالی مخلوقات دومره زيات دي چې انسان ئې له شمېرلو عاجز دئ، ٣- مسيحيان هسې دوکه شوي چې عيسی عليه السلام د الله تعالی يوازينی کلمه ګڼي.

دې ته مو پام وي چې انسانان د عالم په عظمت، پراخوالي او د مخلوقاتو د شمېر په زياتوالي اوس او د پرمخ تللو وسائلو په مرسته پوه شوي، تر دې وړاندې او د قرآن د نزول په وخت کي به د قرآن دغې وينا ته ډېرو د حيرت په سترګه کتلي وي او ښايي دښمنانو به ښه ډېر پرې خندلي وي، خو که تاسو د قرآن دغه وينا هغه ستور پېژاندي ته وکړئ چې د هبل ټيلسکوب شا ته ناست دئ او د خپلو محاسباتو له مخي دې نتيجې ته رسېدلى چې په آسمان کي تر سل مليارډه زيات ستور ليکي دي او په هر ستور ليکي کي په اوسط توګه تر سل مليارډه زيات ستوري دي،،، نو يقيناً چې هغه به تا ته ووايي: د مخلوقاتو د شمېر په اړه د قرآن دا وينا ډېره دقيقه ده!!

د دې مبارك آيت ارتباط له مخکنيو سره په دې توګه دئ: چا چې د کفر لار غوره کړې، له الله تعالى او د هغه له پيغمبرانو انکار کوي، په قيامت او بياژوندون باور نه لري، له الله تعالى پرته د جعلي معبودانو عبادت کوي، آيا دې ته متوجه نه دئ چې انکار ئې له هغه رب څخه دئ چې دا ستر او پراخ عالم ئې پيدا کړى او هر څه ئې د ده په واك کي دي؟! د ده دا مخالفت او انکار به څه ارزښت ولري؟! څنګه دا الله تعالى د انسان له بياپيدا کولو عاجز ګڼي؟!! وروسته آيت د دې مزيد وضاحت کوي او وايي: د انسانانو لومړى پيدايښت او د قيامت په ورځ پاڅون داسي دئ لکه د يوه نفس پيدايښت.

مَّا خَلۡقُكُمۡ وَلَا بَعۡثُكُمۡ إِلَّا كَنَفۡسٖ وَٰحِدَةٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾

ستاسو پيدايښت او پاڅون نه دئ مګر داسي لکه د يوه نفس، يقيناً چې الله ليدونکى اورېدونکى دئ.

(۲۸)- د دې مبارك ايت لارښووني دا دي:

- د ټولو انسانانو لومړنى او ورځنى پيدايښت او د قيامت په ورځ د دوى پاڅون او بيارا‌ژوندي کول داسي دي لکه د يوه انسان پيدايښت او پاڅون، کوم ذات چې انسان ئې په لومړي ځل پيدا کړ بيا راپيدا کول ئې ورته ډېر آسان دئ.
- د آيت په پاى کي د الله تعالى دوه صفات راغلي او ويل شوي: يقيناً چې الله (ليدونکى) (اورېدونکى) دئ. د دې فقرې ارتباط له مخکنى سره په دې توګه دئ:
- الله تعالى عليم (ډېر پوه) دئ، ډېر پوه ذات ته د کوم څه پيدايښت آسان دئ، هغه څوك د يوه څه له پيدا کولو عاجز وي چې لازم او اړين علم او پوهه ونه لري، الله تعالى سميع (ښه اورېدونکى) دئ؛ د مخالفينو ټولي هغه ويناوي ئې اورېدلي دي چې د الله تعالى او آخرت په اړه ئې کړې دي، د خپل دغه جامع او کامل علم له مخي ئې د هغوى په ځواب کي دا حکيمانه ارشادات او لارښووني کړې دي.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ

وَٱلۡقَمَرَ كُلࣱّ يَجۡرِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلࣲ مُّسَمࣰّى وَأَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرࣱ ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ
ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٣٠﴾

آیا نه ګورې چې الله شپه په ورځ کي ننباسي او ورځ په شپه کي ننباسي، او لمر او سپوږمۍ ئې داسي مسخر کړي چې هر یو ئې تر ټاکلې نېټې درومي او دا چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ. دا له دې کبله چې همدا الله حق دئ او هغه څه چې له ده پرته ئې لمانځي (مرستي ته ئې بلي) باطل دي، او دا چې همدا الله ستر لوړ دئ.

(۲۹-۳۰)- په دې مبارکو آیاتونو کي څو طبیعي ښکارندویو ته ګوته نیول شوې چې هره یوه ئې د یوه ستر حقیقت څرګندونه کوي، ته ګورې چې کله شپه وي او کله ورځ، کله شپه په ورځ کي ننوځي او کله ورځ په شپه کي، یوه خپل ځای ورو ورو بلي ته پرېږدي او بله ورو ورو وړاندي ځي او د هغې ځای نیسي، ته لمر او سپوږمۍ ګورې چې مسخر دي، هر یو ئې په خپل خپل مسیر کي له کوم تغییر او انحراف پرته درومي، تګ ئې د ثابتي او نه بدلېدونکي نېټې مطابق، داسي چې ته د هغوی د تګ له مخي کولی شې په دقیقه توګه اوقات وټاکې، همدا راز ته ګورې چې دا زمکه او آسمان داسي جوړ شوي چې ستا لپاره ئې مناسب کارځی برابر کړی، ستا د ټولو هغو کارونو لپاره ټول مناسب شرائط مهیا شوي چې ته ئې کوې، دا ښیي چې ستا او د دې عالم پیدا کوونکی داسي ذات دئ چې هم ستا په اړه کامل علم لري او هم د ټول عالم په اړه، هر عقلمن انسان له دغو څرګندو ښکارندویو څو نتائج ترلاسه کوي: الله تعالی حق دئ او هغه څه چې له ده پرته ئې لمانځئ او مرستي ته ئې دربلئ باطل دي، او دا چې همدا الله ستر او لوړ دئ. آیا کېدی شي له دغو مشهودو واقعیتونو له دې پرته بله نتیجه ترلاسه کړو؟ آیا دا واقعیتونه په جګ ږغ نه وایي چې الله حق دئ او بل معبود نشته؟ آیا نه وایي چې د دې عالم پیدا کوونکی، ساتونکی او پالونکی ستر دئ او د لوړ عظمت خاوند؟

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنۡ ءَايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَٰتࣲ لِّكُلِّ صَبَّارࣲ شَكُورࣲ ﴿٣١﴾ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوۡجࣱ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ
ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ فَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدࣱۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارࣲ
كَفُورࣲ ﴿٣٢﴾

آیا نه ګورې چې دا بېړۍ د الله له فضل سره په بحرونو کي خوځي، تر څو ځیني خپل

آیتونه دروښيي، یقیناً چې په دې کې هر صبر کوونکي شکور (بنده) ته ځرګندې نښې دي، او کله چې ئې څپې د چتر په څېر وپوښي، (څپې ئې احاطه کړي، نو هغه مهال) الله پداسي حال کې مرستې ته رابلي چې په دین کې ورته مخلص وي، خو چې کله ئې د وچې په لوري وژغوري (په نتیجه کې به ئې ګورې چې یوازې) د دوی ځینې مقتصد او منځ لاري وي، او زموږ له آیتونو انکار نه کوي مګر هر ناشکر عهد ماتوونکی.

(۳۱-۳۲)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- نه ګورئ چې الله تعالی تاسو ته داسي کشتۍ پیدا کړې چې په سمندر کې دروميي او ستاسو ضروري تجارتي اموال له یوې سیمي بلې ته انتقالوي، په دې کې د الله تعالی د قدرت ګڼ شمېر ځرګند مظاهر زموږ په وړاندې ځلېږي. څوك چې د الله د نعمتونو قدر کوي، له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو پر مهال د صبر لار غوره کوي، هغوی ته په دې وینا کې ډېرې نښې او لارښووني دي، دا بحرونه الله تعالی درته مسخر کړي، په دې عالم کې ئې داسي ضوابط او سنن وضع کړې چې ته له هغوی په استفادې سره کشتۍ جوړه کړی شې، څوك چې د نعمتونو قدر پېژني او د منعم شکر په ځای کوي؛ هغوی ته په دې مقدمه کې یقینا ډېرې ځلاندې نښې دي. او دا چې ګورئ کله کشتۍ په بحر کې له طوفانونو سره مخامخ او د بحر له څپو سره ټکر شي، خو الله جل شأنه ئې له خطره وژغوري او د نجات ساحل ته ئې ورسوي، په دې کې صبر کوونکو لره دا لارښوونه ده چې که دوی هم له داسي ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي او صبر وکړي نو کشتۍ به ئې له څپو روغه تېرېږي او ساحل ته به رسېږي، خو تر ساحله پوري تر رسېدو له طوفانونو سره مخامخېدل شته او له موجونو او څپو سره ټکرونه په مخکې دي، پدې کې هر شاکر او صابر بنده ته ډېرې نښې دي.

د دې په مقابل کې د عجول، ناسپاس او بې عهده انسان وضع داسي وي چې له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په وخت کې الله تعالی ته پناه وړي، هغه ته دعا کوي، مرسته ترې غواړي، د اخلاص او مخلصانه بندګۍ ژمنه کوي، خو څو شېبې وروسته او کله چې د مصیبتونو او کړاوونو څپې تېرې شي، له خطرونو وژغورل شي، ساحل ته ورسېږي، بیا نو خپلې ټولې ژمنې هېرې کړي، د الله تعالی د پېرزوینو ناشکري کوي!! د هر ناسپاس او بدعهد انسان حال او کار داسي وي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمْ وَٱخْشَوْاْ يَوْمًا لَّا يَجْزِى وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿٣٣﴾

اې خلکو! د خپل رب پروا وکړئ او له هغې ورځې ووېرېږئ چې نه به کوم پلار د خپل زوی بدله ورکولی شي او نه به کوم زوی د خپل پلار د څه بدلې ورکوونکی وي، یقیناً

چې د الله وعده حق ده، نو نه دې دنیایي ژوند تاسو دوکه کړي او نه دې غولوونکی (شیطان) تاسو د الله په اړه وغولوي.

(۳۳)- په دې مبارك آیت کې د قرآن مخاطبینو ته دا سپارښتنې شوې:

- د خپل رب پروا وکړئ او له هغه څه ځان وساتئ چې ستاسو رب پرې ناراض کېږي.
- د قیامت له هغې ورځې ووېرېږئ چې نه به کوم پلار کولی شي د خپل زوی بدله ورکړي او له سزا ئې وژغوري او نه به کوم زوی د خپل پلار د څه بدلې ورکوونکی وي.
- په دې کلك باور ولرئ چې د الله تعالی وعده حق او حتماً ترسره کېدونکې ده.
- دنیایي ژوند او د هغه لذتونه او مال متاع دې تاسو دوکه نه کړي.
- د خپل رب په اړه دې غولوونکی شیطان تاسو ونه غولوي.

إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٌ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ﴿٣٤﴾

یقیناً چې (د قیامت) د نېټې علم له الله سره دئ، هغه باران وروي او په هغه څه علم لري چې د میندو په رحم کې وي، او هیڅوك نه پوهېږي چې سبا به څه ترلاسه کړي، او نه پوهېږي چې په کومې ځمکې کې به مري، یقیناً چې الله ښه باخبره پوه دئ.

(۳٤)- د دې مبارك آیت په ځلاندو لارښوونو د ښه پوهېدو لپاره لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دا مبارك آیت د دې سورې وروستی آیت او د ټولو مضامینو لپاره ئې یوه ښکلې تتمه او خلاصه ده.
- دلته د څو امورو علم الله تعالی ته مختص شوی:

الف- د قیامت وخت: قرآنکریم په متعددو آیتونو کې دا مطلب بیان او روښانه کړی چې له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي چې قیامت به کله راځي.
ب - د باران د ورېدو وخت او سیمه. چې پدې اړه باید دوه ټکي په پام کې ولرو: ۱- د باران په اړه د انسان وړاندوینه په حدس او گمان ولاړه وي، د حدس (گمان) او علم ترمنځ ژور توپیر باید هیر نه کړو، گمان ته علم ونه وایو، په هر حدس او گمان کې گڼ شمېر احتمالات وي؛ خو علم احتمالات یوې خوا ته پردي او قاطع فیصله صادروي، په علم کې متعددو احتمالاتو ته ځای نه وي. ۲- کله چې مونږ د پرمختللو وسائلو په مرسته د بادونو سرعت او استقامت او د ورېځو حالت او کیفیت معلوموو او بیا په همدې اساس او د دغه معلومات په رڼا کې وایو چې په فلانې وخت او فلانې ځای کې د باران ورېدو احتمال شته، دا وړاندوینه که

هرڅومره دقیقه وي، د حدس او گمان له دائرې نشي وتی، انسان نشي کولی ټول هغه عوامل چې د وريځو په جوړېدو، حرکت او د باران، ږلی یا واورې په ورېدو کې لږ یا زیات ونډه او اغېز لري؛ درك او په دقیقه توگه ئې وپېژني او بیا د هغه په رڼا کې سل په سلو کې علمي وړاندوینه وکړي. هغه وړاندوینه چې په هغې کې د یوې ثانیي ۱/۱۰۰۰ ، یا د یوه ملیمتر ۱/۱۰۰۰ د اشتباه احتمال وي دا په حدس او گمان ولاړه ده او نه بنایي هغه ته علم ووایو، ځکه په علم کې د اشتباه هیڅ احتمال نه وي. همدا وريځ چې په خاص سرعت سره د خاص استقامت او سمت په لور روانه ده او هغه سره وږمه چې د باران سبب کېږي، په څو کیلومترۍ کې ورته انتظار باسي، دا احتمال شته چې له یوه بل استقامت دیوه تېز باد په لگېدو سره خپله لاره بدله کړي او په بله خوا لاړه شي، د همدې ډول احتمالاتو د شته والي له امله د انسان وړاندوینې ته علم نشو ویلی، خو الله تعالی عالم الغیب دئ او په ټولو عواملو پوره علم لري.

ج - الله تعالی پدې پوره علم لري چې په رحم کې څه دي، پدې عالم دئ چې دا د مور په رحم کې نوی جوړ شوی ماشوم نېکمرغه دئ که بدمرغه، ښکلی دئ که بدرنگه، ذکي دئ که غبي، هلك دئ که نجلۍ، روغ دئ که ناروغ، ځواکمن دئ که کمزورئ... الله پدې علم لري؛ خو انسان نه شي کولی د مور په گېډه کې د ماشوم د ټولو مواصفاتو په هکله علم ولري. دا چې اوس د اشعې په واسطه او په هغو پرمختللو وسائلو چې د رحم د بل لوري جدار ښکاره کوي، د نطفې د تأنیث او تذکیر حالت معلومېدی شي، دا باید د پورته ذکر شوي آیت منافي ونه بلل شي. پدې وسائلو سره په رحم کې د ماشوم په حالت خبرېدل داسي دي لکه چې د یوه دېوال شا ته د نصب شوې ویډیویي کامرې په واسطه هغه کسان ووینې چې د دېوال شاته ولاړ دي، ته ئې په خپلو سترگو نشې لیدلی خو د همدې کامرې په واسطه ئې وگورې او بیا ووایې چې هلته فلانی او فلانی ولاړ دي، آیا دېته علم غیب ویلی شو؟ هیڅکله نه، همدا راز که د یوه قوي دوربین په ذریعه څو کیلومتره لرې چې هلته په سترگو څه نشو لیدی، ته یو څوك په آس سپور ووینې، بیا خپلو ملگرو ته ووایې چې اوس به فلانی زمونږ خوا ته راشي، آیا دا علم غیب دئ؟ نه، هیڅکله نه، علم غیب دا دئ چې ته بې له وسائلو او ذرائعو او بې له دې چې په حواسو ئې درك کړې په پټو شیانو پوه او خبر شې.

دې ته مو پام وي چې که څه هم په سطحي نظر سره دا درې خبرې (قیامت، د باران ورېدا او دا چې د مور په رحم کې څه دي) بېل بېل موضوعات برېښي، خو حقیقت دا دئ چې دا خبرې په خپلو کې ژور تړاو لري، د قیامت یوه اساسي برخه د انسان بیا ژوندون دئ، د قیامت منکرین دا خبره نه مني چې انسانان به بېرته راژوندي کېږي، قرآن په وار وار دغو منکرینو ته ویلي: آیا هغه الله تعالی چې د یوه باران په ورولو سره مړه زمکه راژوندۍ کوي له دې عاجز گڼئ چې انسان به د قیامت په ورځ بیاژوندی کوي؟!! آیا هغه علیم خلاق چې له خاورې نطفه جوړوي او له دغې نطفې انسان پیدا کوي له دې عاجز گڼې چې په خاورو بدل شوي انسانان بیا راژوندي کړي؟!

د - انسان په دقیقه توگه پدې نه پوهېږي چې سبا به څه کوي، سبا غائب دئ او څه چې سبا راتلونکي دي هغه له انسان پټ دي، هلته په ملیونونو احتمالات شته، هیڅوك نه شي کولی په دقیقه توگه په دې پوه شي چې سبا به په څه حالت کې وي او څه به کوي؟ ستا تصمیم صرف

يو احتمال كېدى شي، له ډېرو او بې شمېره احتمالاتو يو احتمال، كولى شي گمان وكړي، ممكنه ده گمان او تخمين دي واقعيت ته ډېر نږدې وي، خو دانشي كولى په هغه څه دقيقاً او په يقيني توگه پوه شي چې سبا پېښېدونكي دي، نشي كولى په هغه څه چې سبا به ئې كوي بشپړ علم ولري.

هـ - هيڅوك پدې نه پوهيږي چې چېري به مري، څه وخت به د مرگ قاصد ورته راځي او په كوم ځاى او كوم حالت كي به د روح امانت خپل مالك ته سپاري.

د آيت په پاى كي ويل شوي: يقيناً چې الله ښه باخبر پوه دئ. دا فقره هم د آيت له لومړى برخي سره ژور تړاو لري او هم له دوهمي برخي سره، له لومړى برخي سره ئې تړاو ډېر څرگند دئ، خو له دوهمي برخي سره ئې تړاو داسي دئ: د انسان په اړه د الله تعالى دا وينا چې هغه نه پوهيږي سبا به څه كوي او نه پوهيږي چې چېري به مري؛ د هغه علم او پوهي له مخي كوي چې د انسان په اړه ئې لري، دا د عليم او خبير خداى وينا ده چې هيڅوك نه د سبا ورځي له پېښو خبريږي او نه دا چې كله، څنگه او چېري به مري. كه څوك د خپل ځان په اړه خبر نه وي نو د بل چا د مړيني د ځاى، وخت او څرنگوالي په اړه پوهېدا خو لازيات ورته محال او ناممكنه ده، څوك چې په دې آيت ايمان لري هيڅكله به داسي خبره په خوله رانه وړي چې كوم انسان ته د بل د مړيني د وخت، ځاى او څرنگوالي په اړه د پوهي نسبت وكړي، صحابه نه پوهېدل چې پيغمبر عليه السلام به كله رحلت كوي، د رحلت په ورځ ئې صحت نسبتاً ښه شو، د لمانځه په مهال ئې له دروازې جومات ته وكتل او تبسم ئې وكړ، ټول صحابه خوشحال شول چې هغه روغ شوى، ابوبكر رضى الله عنه له همدې كبله هغه شپه له مديني بهر د خپلي يوې مېرمني كره ولاړ، ناڅاپي ئې د رسول اللهﷺ د رحلت خبر واورېد او بېرته په تلوار مديني ته راستون شو، عمر ﷺ جلالي شوى وو او ويل ئې چې په خداى قسم محمد عليه السلام نه دئ وفات شوى، ... كه د ابوبكر او عمر **رسول** په څېر جليل القدره صحابه له دې غيبه خبر نه ول بل څوك به څنگه پرې پوهيږي؟!! په قرآن د ايمان غوښتنه دا ده چې ټول هغه روايات يوې خوا ته لري كېږدو چې له دې پرېكنده او صريح آيت سره تعارض لري. مخصوصاً هغه چې ډېر غريب وي.

د دې مبارك آيت په ارتباط يو روايت لرو چې داسي دئ:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ "مِفْتَاحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ الله لاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى غَدٍ، وَلاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى الأَرْحَامِ، وَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَمَا يَدْرِى أَحَدٌ مَتَى يَجِىءُ الْمَطَرُ". (بخاري:۱۰۳۹)

له ابن عمر **رسول** روايت دئ چي وايي: رسول اللهﷺ فرمايلي: (د غيب كلياني پنځه دي چي له الله تعالى پرته هيڅوک پرې نه پوهيږي، هيڅوک نه پوهيږي چي سبا به څه كيږي، هيڅوک نه پوهيږي چي د مور په رحم كي څه دي، هيڅوك نه پوهيږي چي سبا به څه كوي، هيڅوک پدې نه پوهيږي چي چيرې به مري او هيڅوک پدې نه پوهيږي چي كله به باران وريږي).

دا روايت په بخاري كي څلور ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلى: ۴۶۲۷، ۴۶۹۷، ۴۷۷۸، ۷۳۷۹ ، د دغو پنځو رواياتو تر منځ دا توپيرونه تر سترگو كيږي: په يوه كي مِفْتَاحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ الله، په بل كي مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ ثُمَّ قَرَأَ (إِنَّ الله عِنْدَهُ عِلْمُ

السَّاعَةِ....، په يوه کي لاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى غَدٍ، وَلاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى الأَرْحَامِ، وَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَمَا يَدْرِى أَحَدٌ مَتَى يَجِىءُ الْمَطَرُ، په بل کي إِنَّ الله عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ، وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ، وَيَعْلَمُ مَا فِى الأَرْحَامِ، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، إِنَّ الله عَلِيمٌ خَبِيرٌ، په بل کي لاَ يَعْلَمُ مَا فِى غَدٍ إِلاَّ الله، وَلاَ يَعْلَمُ مَا تَغِيضُ الأَرْحَامُ إِلاَّ الله وَلاَ يَعْلَمُ مَتَى يَأْتِى الْمَطَرُ أَحَدٌ إِلاَّ الله، وَلاَ تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَلاَ يَعْلَمُ مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ إِلاَّ الله راغلي.

د دې رواياتو په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- دا روايات د لقمان د سورې د ۳٤ آيت شرح او تفسير زموږ په وړاندي ږدي چي وايي په پنځو شيانو له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي.
- هيڅوك نه پوهېږي چي قيامت به کله وي، څوك چي په دې اړه وړاندويني کوي دروغ وايي، د قيامت د راتلو په نېټي يوازي هغه ذات پوهېږي چي د ټول عالم، زمکي او آسمانونو، ستورو او ستور ليکو په اړه علم لري، دا ځکه چي قيامت په دې ټولو پوري تړلې پېښه ده.
- **د باران په اړه وړاندويني يا تخميني دي يا د هغه معلومات له مخي دي چي د ورېځو د حرکت سمت او سرعت ته په پام سره په تخميني توگه وايي چي دغه ورېځ اوس په دې سيمي باران وروي، سرعت ئې دومره دئ، په هغه لوري روانه ده، فلان ځای ته به په فلان ساعت کي ورسيږي او هلته به باران وورويی، خو دا وړاند ويني تخميني دي، کېدی شي ناڅاپي له بل لوري تيز باد راشي او د ورېځي لوری او سرعت بدل کړي.**
- **د مور په رحم کي د پرمخ تللو وسائلو په مرسته دا معلومېدی شي چي ماشوم هلك دئ که نجلۍ، روغ دئ که ناقص الاعضاء، خو د وسائلو په مرسته د څه ليدل په غيب د پوهېدا په معنی نشو تعبيرولی، دې ته مو بايد پام وي چي په آيت کي داسي نه دي ويل شوي چي هيڅوك نه پوهيږي د مور په رحم کي هلك دئ که نجلۍ، بلکي داسي صيغه کارول شوې چي د ماشوم ټولي ځانگړتياوي احتوی کوي او يقيناً چي په ټولو له الله تعالی پرته هيڅوك د هيڅ وسيلې په مرسته نشي پوهېدی. څوك دا ويلی شي چي دا ماشوم به څنگه انسان وي، ښه که بد، صالح که طالح؟!**
- **هيڅوك په يقيني توگه نشي ويلی چي سبا به له کوم برخليك سره مخامخ کيږي. په دې اړه ئې هر تصميم تخميني او احتمالي وي.**
- **هيڅوك نه پوهيږي چي کله او چېري به مري، نه د ځان په اړه وړاندوينه کولی شي او نه د بل په اړه، نه ډاکټر په يقيني توگه وړاندوينه کولی شي، نه فرشتې پوهيږي، نه پيغمبران عليهم السلام او نه اولياء الله، چا چي داسي وړاندوينه وکړه دروغ وايي او چا چي له الله تعالی پرته بل چا ته د دې علم منسوب کړ دروغ ئې ويلي.**

ځيني تېگماران د خلکو د غولولو لپاره وايي چي دلته الله تعالی د مفتاح او کلي يادونه کړې، او گواکي د دې معنی دا ده چي الله تعالی ځينو ته په دغو خبرو د پوهېدا مفتاح او کلي ورکوي نو ځکه پرې پوهېدی شي!! حال دا چي د مفتاح يادونه د دې لپاره شوې چي تا ته ووايي: د دغو امورو علم په داسي ځای کي دئ چي دروازې ته ئې قفل (کولپ) اچول شوی، په ډاگ پرته خزانه نه ده، کلياني ئې له الله تعالی سره دي، هيڅوك ورننوتی نه شي او پرې

پوهېدی نشي.

دا ضروري برېښي چې دلته د بخاري هغه روايت هم وځېړو چې د عمار ﷺ د شهادت په اړه راغلی، او ګواکي رسول اللهﷺ دا وړاندوينه کړې وه چې دی به د يوې باغي ډلې له لوري شهيد شي، روايت دا دئ:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخدري رضي الله عنه: أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ يَوْماً حَتَّى أَتَى ذِكْرُ بِنَاءِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: كُنَّا نَحْمِلُ لَبِنَةً لَبِنَةً، وَعَمَّارٌ لَبِنَتَيْنِ لَبِنَتَيْنِ، فَرَآهُ النَّبِيُّ ﷺ فَيَنْفُضُ التُّرَابَ عَنْهُ، وَيَقُولُ: "وَيْحَ عَمَّارٍ تَقْتُلُهُ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ يَدْعُوهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ"قَالَ: يَقُولُ عَمَّارٌ: أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ. (بخاري:٤٤٧)

له ابو سعيد خدري ﷺ روايت دئ چې هغه يوه ورځ خبري کولې، تر دې چې د نبوي جومات د جوړېدو د يادوني وار راغی، نو وئې ويل: موږ به يوه، يوه خښته راوړله او عمار ﷺ به دوه، دوه خښتي راوړلې، رسول الله وليد، نو په داسي حال کي چې خاوري ئې ترې څنډلې وئې فرمايل: (افسوس د عمار په حال! يوه باغي ډله به ئې ووژني، دی به هغوی د جنت لوري ته رابولي او دوی به ئې دوزخ ته بولي). ابو سعيد وايي: عمار ﷺ به ويل: له فتنو خدای تعالی ته پناه وړم.

دا روايت په بخاري کي دوه ځلي راغلی؛ له دې توپيرونو سره: په يوه کي فَانْطَلَقْنَا فَإِذَا هُوَ فِي حَائِطٍ يُصْلِحُهُ، په بل کي فَأَتَيْنَاهُ وَهُوَ وَأَخُوهُ فِي حَائِطٍ لَهُمَا يَسْقِيَانِهِ، په يوه کي فَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَاحْتَبَى، ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُنَا حَتَّى أَتَى ذِكْرُ بِنَاءِ الْمَسْجِدِ، په بل کي فَلَمَّا رَآنَا جَاءَ فَاحْتَبَى وَجَلَسَ، په يوه کي فَرَآهُ النَّبِيُّ ﷺ فَيَنْفُضُ التُّرَابَ عَنْهُ، په بل کي فَمَرَّ بِهِ النَّبِيُّ ﷺ وَمَسَحَ عَنْ رَأْسِهِ الْغُبَارَ، په يوه کي عَمَّارٌ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللهِ وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ، په بل کي يَدْعُوهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ، وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ راغلي.

دا روايت د سند له مخي تر ټولو زيات غريب دئ، په صحاح سته کي يوازې بخاري او النسائي راوړی، د احاديثو په ځينو نورو کتابونو کي هم راغلی، په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يو يو راوي لري، د متن په اړه ئې څو خبري په پام کي ولرئ:

- قرآن په ډېر قاطع، او واضح توګه وايي چې هيڅوك نه پوهېږي، کله او چېري به مري، که څوك د خپل مرګ د وخت او ځای په اړه نه پوهېږي نو د بل په اړه خو په هيڅ توګه نشي پوهېدی.
- که د عمار ﷺ په اړه دا خبره شوې وی نو ډېر صحابه به ترې خبر شوي وو او هيڅا به د هغي ډلي په خلاف په جنګ کي د برخي اخيستو جرأت نه وو کړی چې عمار ﷺ ئې يو جنګيالی وو.
- د معاويه او علي **رسول** د پلويانو تر منځ د نښتو په اړه قضاوت بايد د داسي رواياتو له مخي ونه شي، داسي روايات ډېر جوړ شوي او په ډېره آسانی د يوه او بل په ګټه توجيه کېدی شي، د همدغه پورتني روايت په اړه راغلي چې هري ډلي بله د عمار ﷺ په قتل تورنوله، يوې ويل چې اصلي قاتلان ئې هغه دي چې عمار ﷺ ئې جنګ ته راوستی وو او د وژلو باعث ئې شول او بلي ډلي ويل چې قاتل ئې مقابل لوری دئ!! په دې اړه بايد د نورو حقائقو له مخي دا

پرېکړه وشي چې کوم لوری په حقه وو. په دې کې هیڅ شك نشته چې علي ﷺ د مسلمانانو شرعي امیر وو، د مسلمانانو د شرعي بیعت له مخې امیر ټاکل شوی وو، د عثمان ﷺ د قاتلانو عدم محاکمه د دې مجوز نه وو چې څوك د ده په ضد وسله واخلي او مسلحانه پاڅون وکړي، په دې کې هم هیڅ شك نشته چې د دوی تر منځ نښته د عبدالله بن سبا او د هغه د پلویانو د شرارتونو نتیجه وه، هغوی عثمان ﷺ شهید کړ، علي ﷺ ئې دې ته اړ کړ چې د خلافت مرکز له مدینې کوفې ته انتقال کړي، چې دا یوه ستره دردوونکې پېښه وه، دوی باعث شول چې علي ﷺ د قاتلانو له محاکمې ډډه وکړي، دوی د هغې جګړې اور بل کړ، همدغو علي ﷺ او بیا حسین ﷺ شهیدان کړل او همدغو د شیعه وو د رافضي او شرکي مذهب بنسټ کېښود.

یادونه: عمار ﷺ وروسته د علي ﷺ د خلافت په دوران کې د علي ﷺ په پلوی کې په شهادت ورسېد.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

السجده

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم (السجده) دئ، دا نوم د همدې سورې له پنځلسم آیت اخیستل شوی، دېرش آیتونه لري، د لړو آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (العالمین) ته او د اکثرو ئې د درېیم آیت (یهتدون) ته ورته دي، څو آیتونه ئې د (الرحیم او اسرائیل) په صیغو پای ته رسېدلي چې وزن ئې (العالمین) ته نږدې دئ، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په منځنیو کلونو کي نازل شوي. د سورې مضامینو ته په پام سره معلومېږي چې دا سوره د عنکبوت تر سورې وړاندي نازله شوې.

لکه څنګه چې دا سوره په دریو مقطعاتو حروفو (الف، لام، میم) پیل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي، دا درې اساسي مضامین په داسي توګه په دې سورې کي راغلي لکه چې په همدغو حروفو پیل شوو نورو سورتونو کي راغلي، یو په بل پسي او خلاصه ئې د سورې په آخري دریو آیتونو کي چې داسي سره تړلي دي لکه چې درې واړه یوآیت وي او په ګډه یو مضمون وړاندي کوي، د دې سورې آخري آیتونه دا دي:

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡفَتۡحُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلۡ يَوۡمَ ٱلۡفَتۡحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ

إِيمَٰنُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾ **: او وایي: که**

رښتیني یئ دا فتح به کله وي؟ ووایه: د فتحي په دې ورځ به هغو ته د دوی ایمان ګټه ونه رسوي چې کفر ئې کړی او نه به مهلت ورکړی شي، نو له دوی ډډه وکړه او انتظار وکړه چې دوی هم منتظر دي). **دا درې آیتونه د دې سورې د دریو اساسي مضامینو لپاره د عنوانونو په څېر دي، لومړی آیت وایي: کافران رسول الله ﷺ او مسلمانان په خپلو خبرو کي رښتیني نه ګڼي، نه په دې باور کوي چې قیامت به راشي او د الله تعالی له محاسبې سره به مخامخ شي او نه په دې چې الله تعالی به حق او حقپال پر باطل او د باطل پر پلویانو برلاسي کوي. تاسو به وګورئ چې د سورې لومړۍ برخه په همدې اړه بحث کوي، په لومړنیو آیتونو کي ویل شوي چې دا قرآن د رب العالمین له لوري لیږل شوی، ویناوي ئې رښتیني، قطعي او کره دي، د شك مجال په کي نشته، دا رسول الله ﷺ له ځانه نه دئ جوړ کړی، د هغه الله تعالی له لوري ده ته ورکړی شوی چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پیدا کړل، د ټول عالم ټولي چاري د ده په واك کي دي، له ده پرته نه کوم مولا لرئ او نه کوم شفیع، هغه چې د عالم د**

چارو سمبالولو لپاره ئې داسې فرشتې گمارلې دي چې اوږدمهاله منصوبې ورسپارل کېږي او د خپل مأموريت په پای کې د خپل رب لوري ته ستنېږي او نوې مأموريتونه ورسپارل کېږي.
هغه چې هر څه ئې ښه، ښکلې او په خپل حد کې بشپړ پيدا کړي، انسان ئې له ختې پيدا کړ او د نسل دوام ئې له داسې اوبو چې ده ته سپکې برېښي، بيا ئې ده ته روح ورکړه او غوږونه، سترگې او زړه ئې ورکړل، دا ولې د انسان بيا پيدايښت تاسو ته گران او محال برېښي؟! مگر هره شېبه له خاورې د ژوو د پيدايښت شاهد نه يئ؟! بيا د قيامت په ورځ د هغو حالت انځور شوی چې د دې ورځې راتگ ورته محال برېښېدو، او په څنگ کې ئې هغه وگړي معرفي شوي او ځانگړتياوې ئې ښودل شوې چې په دې ورځې ايمان لري، ويل شوي چې په دې ورځ به د يوې ډلې مېشت ځی دوزخ او د بلې جنت وي، بيا ويل شوي چې دغو منکرينو ته به حتماً د قيامت د ورځې تر لوی عذاب وړاندې د دنيا د لنډ عذاب خوند وروڅکو، له دوی سره به همغه څه کېږي چې له فرعون او فرعونيانو سره وشول، او مؤمنانان به له همغه برخليك سره مخامخ کېږي چې موسى **صلعم** او د ده مؤمن پلويان ورسره مخامخ شول، د ايمان او صبر په نتيجه کې هغه لوړ مقام ته ورسېدل چې د نړۍ والو قيادت او زعامت د دوی په برخه شو. د تاريخ په اوږدو کې تل او يو په بل پسې د سترو سترو مجرمينو مؤاخذه او په سخت الهي عذاب د دوی اخته کېدل ښيي چې الله تعالى حتماً له مجرمينو انتقام اخيستونکی دئ، سپېره ډاگونه او شاړې زمکې په يوه باران سره ښېرازه کول ښيي چې الله تعالى به جهل ځپلې او شرك وهلې ټولنې چې شاړې زمکې او سپېره ډاگ ته ورته وي؛ د خپل فضل او لطف په باران، د وحې نزول او د پيغمبر په بعثت سره ښېرازه کوي، نوی نسل، له نويو او غوړېدلو افکارو او غوره اخلاقو سره به په کې راپيدا کوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۚ
بَلۡ هُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٖ مِّن قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ
يَهۡتَدُونَ ﴿٣﴾

الف، لام، میم، په دې کې کوم شك نشته چې د دې کتاب لیږنه د رب العالمین له لوري ده، آیا وایي: ده (له ځانه) افتراء کړی؟ داسې نه ده؛ بلکې هغه په رښتیني توګه ستا د رب له لوري دئ، تر څو هغه وګړي (پرې) انذار کړې چې تر تا وړاندې کوم نذیر نه وو ورغلی، هیله ده چې هدایت به شي.

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره باید لاندې خبرې په پام کې ولرو:

- **لکه څنګه چې دا سوره په دریو مقطعاتو حروفو (الف، لام، میم) پیل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي، دا درې اساسي مضامین په داسې توګه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پیل شوو نورو سورتونو کې راغلي، یو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې د پای په آیتونو کې، د دې سورې آخري آیتونه دا دي:**

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡفَتۡحُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلۡ يَوۡمَ ٱلۡفَتۡحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ
إِيمَٰنُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾ **: او وایي: که**
رښتیني یئ دا فتح به کله وي؟ ووایه: د فتحې په دې ورځ به هغو ته د دوی ایمان ګټه ونه رسوي چې کفر ئې کړی او نه به مهلت ورکړی شي، نو له دوی ډډه وکړه او انتظار وکړه چې دوی هم منتظر دي). دا درې آیتونه د دې سورې د دریو اساسي مضامینو لپاره د عنوانونو په څېر دي، لومړی آیت وایي: کافران رسول اللهﷺ او مسلمانان په خپلو خبرو کې رښتیني نه ګڼي، نه په دې باور کوي چې قیامت به راشي او د الله تعالی له محاسبې سره به مخامخ شي او نه په دې چې الله تعالی به حق او حقپال پر باطل او د باطل پر پلویانو برلاسي کړي. تاسو به وګورئ چې تر څوارلسم آیت پورې په همدې لومړی موضوع بحث شوی، ورپسې د دوو هغو ډلو او د هغوی د مواصفاتو په اړه بحث شوی چې ایمان راوړي او هغه چې ایمان نه راوړي، د دوی دواړو د تګلارو پایلې انځور شوې او د موسی علیه السلام قصه د یوې

تاريخي ښېلګې په توګه وړاندې شوې.
دلته ويل شوي چې په دې کې هيڅ شك نشته چې د دغه کتاب ليږنه د رب العالمين له لوري ده. دا کتاب په خپله شهادت ورکوي چې ليږونکى ئې د عالمونو له رب پرته بل څوك نشي کېدى، که څوك په شفاف ذهن، صفا زړه، له عناد او تعصب لرې، د حق او حقيقت په لټه کې دې کتاب ته رجوع وکړي، نو ډېر ژر به پر دې پوه شي چې واقعاً او له شك پرته دا کتاب هغه الله رالېږلى چې د دې ټول عالم رب، پيداکوونکى، ساتونکى او پالونکى دئ، هغه ذات چې د ټول عالم په اړه وسيع علم لري، دا ځکه چې ده پيدا کړي، د هر څه پالنه او روزنه کوي، همغه الله دا کتاب رالېږلى، په دې کتاب کې د رب العالمين د پراخ علم آثار او مظاهر د هر مخاطب په وړاندې ځلېږي، او په دې ئې متيقن کوي چې رالېږونکى ئې رب العالمين دئ.
همدا راز دلته ويل شوي چې د هغو مخالفينو دا ادعاء بې بنسټه ده چې وايي: دا کتاب رسول الله ﷺ له ځانه افتراء کړى!! داسي نه ده؛ بلکي هغه په ريښتيني توګه ستا د رب له لوري دئ، تر څو هغه وګړي پرې انذار کړې چې تر تا وړاندې کوم نذير نه وو ورغلى، هيله ده چې هدايت به شي. دلته په ضمني توګه د مخالفينو د معاندانه دريځ دوه اساسي وجوهات په ګوته شوي: د دوى د مخالفت يوه وجه دا ده چې رسول الله ﷺ د يوه نذير په توګه لېږل شوى، دوى د خپلو تګلارو له بدو پايلو وېروي، او دا دغو مغرورو مخالفينو ته د منلو وړ نه ده چې څوك ئې پرکړنو اعتراض وکړي، د دوى سياسي، اجتماعي او اقتصادي برلاسي وګواښي او پايلي ئې بدې وګڼي، دوهمه وجه ئې دا ده چې په دوى کې تر رسول الله ﷺ وړاندې بل پيغمبر نه وو مبعوث شوى، دا ئې نوې پېښه ګڼله، ويل ئې الله تعالى به څنګه يو انسان د پيغمبر په توګه غوره کوي، ولي تر رسول الله ﷺ وړاندې زموږ په قوم کې داسي پيغمبر نه وو مبعوث شوى؟! د دوى په ځواب کې ويل شوي: مګر تر رسول الله ﷺ وړاندې موسى عليه السلام نه وو لېږل شوى؟ مګر د موسى عليه السلام تر مشرى لاندې بني اسرائيلو ته دا اعزاز او افتخار ورپه برخه نشو چې الله تعالى د نړۍ د نورو ولسونو لپاره لارښود کړ او له معنوي، فکري او اخلاقي پلوه ئې د نړۍ والو لپاره اسوه او ښېلګه وګرځاوو.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا شَفِيعٍ ۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٤﴾

الله همغه (ذات) دئ چې آسمانونه، زمکه او هر څه چې په دوى کې دي په شپږو ورځو کې ئې پيدا کړل، بيا ئې پر عرش استوى وکړه، له ده پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم شفاعت کوونکى، نو آيا پند نه اخلئ؟!

(٤)- په دې مبارك آيت کې څو مهمي لارښووني زموږ په وړاندې ځلېږي:

- دا قرآن د هغه الله تعالى له لوري لېږل شوى چې آسمانونه، زمکه او هر څه چې په دوى کې دي؛ په شپږو ورځو کې ئې پيدا کړل، نه يوازې دا چې د ټول عالم خالق دئ بلکي د عالم د

ټولو چارو واګې هم عملاً او مخامخ د ده په واك كي دي، هغه د ټول عالم واكمن او مالك دئ او د دې عالم د واكمنى پر هغه عرش ئې استوى كړې چي ټول كائنات ترې لاندې دئ، له ده پرته نه كوم مولا درته شته او نه كوم شفاعت كوونكى. په ټول عالم كي داسي څوك نه مومئ چي د عالم د چارو په سمبالولو كي له الله تعالى سره شريك وي، د كوم څه د وركړې، د كوم حالت د بدلولو، د رنا راوستو، د تيارې ختمولو، د مصيبت دفع كولو، باران ورولو، د دانې او مېوې راټوكولو كي څه ونډه ولري او څه اختيار ورسره وي، نو آيا پند نه اخلئ؟!

- دلته ويل شوي چي الله تعالى د مخلوقاتو له پيدا كولو وروسته پر عرش استوى وكړه، په وروستي آيت كي ويل شوي چي (يدبر الامر: كارونه سمبالوي)، همدا د استوى على العرش تفسير او تشريح ده، يعني د استوى على العرش معنى دا ده چي الله تعالى د دې عالم ټولواك دئ، دلته د ده حكم حاكم دئ، د عالم هر څه اداره كوي، د عالم د چارو تدبير د ده په واك كي دئ.
- همدا راز دلته ويل شوي چي له ده پرته نه كوم مولا درته شته او نه كوم شفاعت كوونكى، يعني د داسي چا لټه مه كوئ چي د الله تعالى په وړاندي به ستاسو شفاعت وكولى شي او د هغه مرسته او خواخوږي به تاسو ته كومه ګټه ورسولى شي، داسي څوك نشئ موندلى.

د آيت په پاى كي ويل شوي: نو آيا پند نه اخلئ؟! يعني: آيا د پند اخيستو لپاره همدا مقدمه او همدا دلائل كفايت نه كوي؟

يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ يَعۡرُجُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥٓ أَلۡفَ
سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٥﴾ ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦﴾ ٱلَّذِيٓ
أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ ﴿٧﴾ ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن
سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ﴿٨﴾ ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ
وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴿٩﴾

له آسمانه تر زمكي پوري (اوامر لېږي چي پرې) چاري سمبالوي، بيا په داسي ورځ كي د ده لوري ته بر درومي چي مقدار ئې د هغو زرو كلونو په اندازه دئ چي تاسو ئې شمېرئ. همدا په پټ او ښكاره پوه مهربان عزتمن دئ، همغه چي هر هغه څه ئې ښكلى جوړ كړى چي ده پيدا كړى، او د انسان پيدايښت ئې له ختې پيل كړ، بيا ئې د ده نسل د سپكو اوبو له خلاصې وګرځاوو، بيا ئې برابر كړ او خپله روح ئې په كي پو كړه، او تاسو ته ئې غوږونه، سترګي او زړونه جوړ كړل، لږ دئ هغه شكر چي تاسو ئې كوئ!

(۵-۹)- د دې مبارکو آيتونو په ارتباط بايد لاندې ټکي په پام کې ولرو:

• په پنځم آيت کې د (استوى على العرش: پر عرش برابريدو) معنى او حقيقت توضيح شوی، يعني پر عرش د استوی معني او شرح دا ده چې الله تعالى د عالم چارې سمبالوي، د عالم د ټولو امورو تدبير د ده په واک کې دئ. د ځمکې چارې د هغو اوامرو مطابق ترسره کيږي چې الله تعالى ئې له آسمانه د ځمکې په لورې لېږي. دلته ويل شوي چې د دغو اوامرو پلي کوونکي فرشتې په داسې ورځ کې د ده لورې ته بېرته بر درومې چې مقدار ئې د هغو زرو کلونو په اندازه دئ چې تاسو ئې شمېرئ. يعني دوی ته زر کلنه منصوبه سپارل کيږي، د ځمکې په لورې لېږل کيږي او د خپل مأموريت له بشپړولو وروسته بېرته د خپل رب په لورې درومي. د المعارج په سورې کې ويل شوي: تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ ۝ : فرشتې او روح د ده لورې ته بر درومي؛ په داسې يوې ورځ کې چې مقدار ئې پنځوس زره کالونه دئ. يعني فرشتې او د دوی سالار او سردار جبرئيل عليه السلام چې د روح او ژوند متعلق چارې ورسپارل شوې، د لوړ تلو لپاره ځانګړی او خاص مَعْرَجْ لري، پنځوس زره کلنه منصوبه ورسپارل کيږي، د خپل مأموريت په پای کې لوړ درومي او د الله تعالى په حضور مشرف کيږي، تر څو د مخکنيو مأموريتونو معلومات وړاندې او نوې دندې په غاړه واخلي، يعني دلته هر کار د دقيقې او اوږدمهالې منصوبې له مخې په خپل خپل وخت ترسره کيږي، د قيامت منکران هسې تلوار او عجله کوي او د الهي عذاب د فوري راتلو غوښتنه کوي. له دې معلوميږي چې دا منصوبې کله لنډمهالې او کله اوږدمهالې وي، د حالت او موضوع له مخې ئې موده تغيير کوي.

• هغه ذات چې تاسو ئې د پيدايښت، پالنې، ساتنې، ټولواکۍ، حاکميت، سلطې او ادارې آثار تل او هر لورې ته ګورئ، هغه الله تعالى دئ چې په پټ او ښکاره پوه او مهربان عزتمن دئ.

• دلته ويل شوي چې الله تعالى همغه ذات دئ چې څه ئې پيدا کړي نو په خپل خپل حد کې ئې ښکلی او بشپړ جوړ کړی، يعني په مخلوقاتو کې ئې نقص او عيب نشته. په دې اړه پوښتنه راولاړيږي چې د مخلوقاتو په يوه نوع کې کله کله د داسې ژوو شاهد يو چې د خپلو نورو همنوعو په پرتله نقص او عيب لري، لکه دا چې ړوند، کوڼ، ګونګ، کمزوری او بيمار وي، دا استثنائي حالت به د دې آيت په رڼا کې څنګه توجيه کوو؟! د دې پوښتنې لومړی ځواب دا دئ: تل د يوه شي د ځرنګوالي په اړه د اکثريت له مخې حکم او قضاوت کېدی شي، که اکثريت ئې ښه وي نو د ښو حکم پرې کوو، استثنائي حالت په ځانګړې توګه هغه مهال چې دا استثناء په سلو کې يو او تر دې هم لږ احتوی کوي نه محاسبه کوو او د اعتناء وړ ئې نه ګڼو، دوهم ځواب دا دئ: دا استثنائي حالت داسې دئ لکه چې حامله مور د بيمارۍ، لوږې، له لوړې راپرېوتو او نورو عواملو له کبله بيمار، کمزوری او ناقص اولاد وزيږوي، د دې نقص اعتراض هغه ذات ته نشي راجع کېدی چې د انسان د پيدايښت په اړه ئې دقيقه، جامع او کامله منصوبه وضع کړې، دريېم ځواب دا دئ چې ړوند د سترګه وړ په پرتله ناقص ګڼو حال دا چې هغه په خپل حد کې يو بشپړ مخلوق دئ، يو حس ئې تر نورو کم دئ خو کېدی شي په خپلو

نورو حواسو کې تر سترګه ورو ډېر وړاندې وي، د دې حس په بدل کې د ده نورو حواسو ته پیاوړتیا ورپه برخه شوې وي. معمولاً ګورو چې ړانده همداسې وي، یا ډېره پیاوړې حافظه ورکړی شوې وي یا ئې د غوږونو او لامسې حس ډېر قوي وي. دا راته مناسب برېښي چې دا مطلب د یوې قصې په ترڅ کې لازیات واضح کړم: زموږ په کلي کې یوه مدرسه وه، معمولاً به هغو کسانو د قرآن حفظ ته ملا تړله چې ړانده به ول، د دې عمومیت دومره وو چې هر ړوند طالب به د قاري او حافظ په نامه یادېدو، په دې مدرسې کې د سکندر په نامه یو قاري وو، په دې مشهور وو چې هر څوك به ئې له غږ علاوه د لاس له پوستکي پېژندو، زما له شهید ورور اختر محمد سره ئې ملګرتیا وه، څه موده وروسته بلې مدرسې ته ولاړ، څو کاله پرې تېر شول، یوه ورځ چې د یوې ورا په ضمن کې له چهاردرې امام صاحب ته راتلو، موټر مو د یوه کلي خوا ته ودرېدو، دلته د سړك خوا ته یوه مدرسه وه، موږ تېر مابښام دې ځای ته رسېدلي وو، زما ورور تږی شوی وو، د اوبو لپاره مدرسې ته ورغی، همغه قاري ئې تر سترګو شو، ورو ورو وروړاندې شو او تر شا ئې د هغه پر سترګو لاس کېښود، هغه ئې د لاس په شا خپل لاس راکش کړ، له لږ ځنډ وروسته ئې وویل: اختر محمد یې؟! زما ورور ته دا ډېره حیرانوونکې وه چې څنګه ئې له دومره کلونو تېرېدو وروسته دی د لاس له پوستکي وپېژندو، له دومره مودې تېرېدو وروسته خو اکثراً په سترګو لیدلی کس هم له انسانه هېر شي او په پېژندو کې ئې اشتباه وکړي، په ځانګړې توګه د شپې له لوري. او د دې څلورم ځواب دا دئ چې که الله تعالی داسې ناقص الاعضاء مخلوقات نه وی پیدا کړي نو هیڅوك به د بشپړ او کامل مخلوق په څرنګوالي او اهمیت نه پوهېدو.

- دلته ویل شوي چې الله تعالی د انسان پیدایښت له ختې پیل کړ، بیا ئې د ده نسل د سپکو اوبو له خلاصې وګرځاوو، بیا ئې برابر کړ او خپله روح ئې په کې پو کړه. په دې سره له یوې خوا د انسان لومړني پیدایښت ته اشاره شوې، د زمکې پر سر د انسان او ټولو نورو ژوو پیدایښت هغه مهال پیل شو چې په زمکې کې لومړی خاوره او بیا خټه پیدا شوه، دا خټه ورسته، توره او بوی ناکه شوه، او په دې توګه د ژوو د پیدایښت لپاره مناسب او ضروري شرائط برابر شول. بیا د انسان د نسل دوام ئې د داسې اوبو (مني) له خلاصې وګرځاوو چې انسان ته سپکې برېښي او ترې کرکه لري. د ده لومړی نطفه یو داسې بشپړ انسان نه وي چې ورو ورو وده کوي، بلکې یوه وړه نطفه وي چې ورو ورو تکمیل کېږي او له څه مودې وروسته د یوه مکمل انسان صورت غوره کړي او د بېلو بېلو غړو او اعضاء خاوند شي، الله تعالی د ده په کالبوت کې په یوې خاصې مرحلې کې خپله روح پو کړي او د یوه ژوندي مخلوق بڼه غوره کړي، د دې معنی دا ده چې انسان او هر ژوی دوه برخې لري: کالبوت او روح، لومړی ئې کالبوت جوړ شي، بیا روح ورکړی شي او بیا یو بشپړ ژوی ترې جوړ شي. دا داسې وګڼئ لکه یو کمپیوټر چې د هارډ وېر او سافټ وېر په نامه دوې برخې لري، یو ئې د کمپیوټر ټولې پرزې احتوی کوي او بل ئې هغه پروګرامونه چې په کمپیوټر کې نصب کېږي، که دا پروګرامونه نه وي نو کمپیوټر هیڅ کار نشي کولی، که څه هم ټولې پرزې ئې بشپړې وي، کله چې په کمپیوټر کې د مثال په توګه د تفسیر کوم پروګرام او اړوند پروګرامونه ئې نصب شي نو له دې وروسته کولی شو د خپل کمپیوټر له لارې د هر آیت تفسیر ولولو. یا کله

چي په کمپیوټر کي د ریاضي اړوند پروګرام نصب شي کولی شو د ریاضي ټول عملیات د خپل کمپیوټر له لاري اجراء کړو.

د دې آیت او ځینو نورو له ویٔنا معلومیږي چي لومړی د انسان غوږونه، بیا سترګي او بیا زړه جوړ شي. دلته دا خبره غور غواړي: د غوږونو یادونه ئې تر سترګو او زړونو وړاندي کړې، دا ولي؟ آیا غوږونه تر سترګو او زړونو وړاندي جوړیږي؟ راشئ د دې ځواب له ساینسپوهانو او هغو ډاکټرانو وغواړو چي د ماشوم د پیدایښت د څرنګوالي په اړه ئې ژوري څېړني کړې دي او کلونه کلونه ئې د پرمختللو وسائلو څنګ ته تېر کړي، نن هغوی همدا خبره کوي چي قرآن څوارلس پېړی وړاندي کړې!! دوی وایي: د مور په رحم کي لومړی د ماشوم د غوږونو جوړېدا پیل شي، بیا ئې د سترګو او بیا ئې د زړه، او دا هغه حقیقت دئ چي علم د شلمي پېړی په پای کي د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته پرې پوه شو. دوی وایي: دا هر غړی د یوه ځانګړي ژن له لوري په داسي توګه جوړیږي چي د هر غړي لومړنی سلول وده کوي، شمېر ئې ډېرېږي او ورو ورو بشپړ غړی ترې جوړ شي، د جوړېدا لپاره ئې تر ټولو غوره صیغه همغه ده چي قرآن ورته غوره کړې، قرآن دلته د (جعل) او په نورو آیتونو کي د (أنشأ) صیغه کارولې، ځکه د ورو ورو ودې له لاري بشپړ غړی جوړیږي.

همدا راز تر سترګو وړاندي د غوږ د یادولو بله وجه دا ده چي غوږ تر سترګي ډېر حساس دئ، غوږ د حجاب او پردې له شا هم خبرېږي خو سترګي دا کار نشي کولی، غوږ ستا له حکم پرته تا خبروي خو سترګي به ته په خپله یوه لوري ته اړوې او پرانیستې به ئې نیسي چي اطلاع درکړي، د دماغ پرېکړه د هغو معلوماتو له مخي وي چي د غوږونو او سترګو له لاري ئې ترلاسه کوي، تل ئې کار تر دوی دواړو وروسته پیل کیږي.

دلته یوه بله موضوع هم زموږ په وړاندي ځان ښیي، هغه دا چي آیا د انسان نطفه په تسلسل سره د نیکونو او نیاګانو په صلب او بدن کي د ده تر مور او پلار رارسي، که په خپل وخت کي او له وړاندي سره له کوم تعلق او اړیکي پرته پیدا کیږي؟ آیا د هر انسان نطفه د آدم او حوا علیهما السلام د پیدایښت په ورځ پیدا شوې او همدا لړی تر قیامت پوري همداسي دوام کوي او له یوه بل ته انتقالیږي؟ دا پوښتنه د دې لپاره ځواب غواړي چي په مسلمانانو کي ځیني ګمان کوي چي رسول اللهﷺ تر آدم صلعم وړاندي پیدا شوی، دی یو نور وو، دا نور د صالح کسانو او مؤمنانو په سلب کي د رسول اللهﷺ د پلار او مور بدن ته په تسلسل سره انتقال شوی، دوی ادعاء کوي چي د رسول اللهﷺ پلار او مور مؤمنان ول، په شرك او خرافاتو کي غرق جاهل شیعه او متصوفین داسي انګېري چي د پیغمبرانو صلی هم اجداد تر آدم صلعم پوري مؤمنان وي او هم ئې تر قیامته پوري اولاد، دوی په نسبي سپېڅلیتا او تقدس باور لري، د شیعه وو ناپوه آخوندان کله چي د ابوطالب او نورو نومونه اخلي نو وایي: حضرت ابوطالب، حضرت عبدالله، حضرت آمنه، حضرت هاشم او ... فقط دومره پاته دي چي ووایي: حضرت ابوجهل، حضرت ابولهب او حضرت آزر!! دوی وایي: ابراهیم صلعم او اسمعیل صلعم په ګډه دعاء کړې وه چي زموږ په اولاد کي ځیني یو مسلم ټولګی کړه، ګواکي د دغي دعاء له مخي دا مسلم ټولګی همغه کړی ده چي له دوی تر عبدالله او آمنې (د رسول اللهﷺ پلار او مور) پوري غزېدلې او تر قیامت پوري به همداسي دوام کوي!! په دې اړه څو خبري په پام

کې ولړئ:

• د ابراهيم صلعم د دې دعاء (رَبَّنَا وَ اجْعَلْنَا مُسلِمَينِ لَك وَ مِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسلِمَةً لَّك وَ أَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَ تُب عَلَيْنَا إِنَّك أَنت التَّوَّاب الرَّحِيمُ * البقره: ۱۲۸)، په (مِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسلِمَةً لَّك) کې من د تبعيض لپاره نه دئ او معنی ئې قطعاً دا نه ده چې زموږ ځينې اولاد مسلم ټولګی کړه، معنی ئې دا ده چې زموږ له اولاد يو مؤمن ټولګی جوړ کړه، د ټول اولاد په اړه ئې دعاء کړې نه د ځينو لپاره. او دا يادونه د دې لپاره شوې چې قريشو ته وواييږ: ستاسو د جد دعاء دا وه خو تاسو د هغه د دعاء مصداق نه يئ، تاسو د شرك او د الله تعالی له دين د بغاوت لار غوره کړې.

• څوك چې ادعاء کوي د رسول اللهﷺ د نسب لړۍ له پيل تر پای، له آدم صلعم يا له ابراهيم صلعم تر عبدالله او آمنې پورې او تر قيامت پورې د مؤمنانو لړۍ ده، د دين، علم او عقل خلاف خبره کوي، د ترديد لپاره ئې دا دلائل کافي دي: قرآن په ډېر صراحت سره وايي چې د ابراهيم صلعم والد (آزر) مشرك او د الله دښمن وو، ابراهيم صلعم تر هغه ده ته بخښنه غوښته چې ورته معلومه شوه د الله دښمن دئ:

وَمَا كَانَ ٱسْتِغْفَارُ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ۚ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾

التوبه: ۱۱٤

او خپل پلار ته د ابراهيم بخښنه غوښتل خو يوازې د هغې وعدې له مخې وو چې له ده سره ئې د هغې ژمنه کړې وه، خو کله چې ورته جوته شوه چې هغه د الله دښمن دئ نو ترې بې زاره شو، يقيناً چې ابراهيم ډېر نرم زړی او د زغم خاوند وو.

په دې مبارك آيت کې مسلمانانو ته ويل شوي چې ستاسو جد؛ ابراهيم عليه السلام هغه مهال له خپل پلار سره خپلې اړيکې وشلولې او خپل برائت ئې ترې اعلان کړ چې ورته معلومه شوه هغه د خدای دښمن دئ. تر يوې مودې ئې د دې لپاره هغه ته د بخښنې دعاء کوله چې د همدې استغفار ژمنه ئې ورسره کړې وه، خو کله چې پوه شو هغه د الله دښمن دئ او له خپل شرك او کفر لاس نه اخلي نو خپل برائت ئې ترې اعلان کړ. د دې معنی دا ده چې کېدی شي د يوه پيغمبر پلار دومره ستر کافر وي چې د الله د دښمن خطاب ورته کولی شو. يعنې خبره داسې نه ده چې مؤمن به له مؤمن پيدا کيږي او کافر له کافر، لکه څنګه چې الله تعالی ژوندی له مړي او مړی له ژوندي پيدا کوي همداسې کله له کافر مؤمن پيدا کړي او کله له مؤمن کافر، کله له شپې ورځ راپيدا کړي او کله له ورځې شپه، د قرآن له نظره نسبي تقدس او سپېڅلتيا هيڅ بنسټ نه لري، هر انسان له روغ او سالم فطرت سره پيدا کيږي، مور او پلار ئې هغه يهودي، نصراني او مجوسي کړي، که داسې نه وی نو له نوح صلعم به کافر زوی نه پيدا کېدو او له بُت لمانځونکی آزر به د تاريخ ستر بُت ماتوونکی ابراهيم صلعم نه پيدا کېدو.

رسول اللهﷺ فرمايي: ما له الله تعالی اجازه وغوښته چې د مور لپاره بخښنه وغواړم،

اجازه ئې رانکړه، بیا مې اجازه وغوښته چې د مور د قبر زیارت وکړم؛ د دې اجازه ئې راکړه.
عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ « اسْتَأْذَنْتُ رَبِّى أَنْ أَسْتَغْفِرَ لأُمِّى فَلَمْ يَأْذَنْ لِى وَاسْتَأْذَنْتُهُ أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأَذِنَ لِى ». رواه مسلم

د دې حدیث معنی دا ده چې د رسول اللهؐ والدین مشرکان ول او رسول اللهؐ له دې منع شوی وو چې هغوی ته مغفرت وغواړي.

قرآن وايي چې الله تعالی د انسان نطفه له دوو برخو په مختلطه توګه پیدا کوي، یوه برخه ئې د پلار او بله ئې د مور په بدن کې جوړیږي، د دغو دواړو له اختلاط او ګډېدو د ده نطفه جوړه شي، دا دواړه برخې نه وي، د قرآن په اصطلاح (لم یکن شیئاً مذکورا) وي، په خپل خپل وخت کې د مور او پلار په بدن کې جوړیږي او دا له هغو خوړو چې له خاورې ئې د دانې، مېوې، سابو او نورو خوراکي توکو په توګه ترلاسه کوي، یعني د هر انسان د نطفې اصلي ماده مړه خاوره ده، دغه مړه خاوره د مور او پلار په بدن کې په دوو داسې نطفو بدله شي چې له یو ځای کېدو ئې د انسان نطفه جوړه شي، دا نطفه دومره وړه وي چې په سترګو نه لیدل کیږي، ورو ورو وده کوي او له څه مودې وروسته د یوه ماشوم بڼه غوره کړي او بیا په خاص پړاو کې روح ورکړی شي او بشپړ ژوندی مخلوق ترې جوړ شي.

قرآن وايي چې د ټولو انسانانو لومړی جد آدم **صلعم** دئ، څوك چې د دې خلاف خبره کوي او د عیسی **صلعم** یا رسول اللهؐ پیدایښت تر آدم **صلعم** وړاندې ګڼي وینا او ادعاء ئې په بشپړه توګه د قرآن او عقل خلاف ده، هم له دې پلوه چې د اولاد پیدایښت تر جد وړاندې ګڼي او هم له دې پلوه چې قرآن وايي انسان له خاورې پیدا شوی او هغه ادعاء کوي چې رسول اللهؐ نور وو او دا نور په ازل کې وو او د هغه له مخې نور مخلوقات پیدا شوي!! دا عقیده نه په قرآن کې کوم بنسټ لري او نه په صحیح الإسناد احادیثو کې، جرړه ئې په بایبل کې ده، بایبل د عیسی **صلعم** په اړه همدا خبره کوي، دوی د بایبل دا غلطه وینا اقتباس کړې او د عیسی **صلعم** پر ځای ئې د رسول اللهؐ نوم راوړی، بایبل لیکي: (په ازل کې، مخکې له دې چې څه پیدا شي، (کلمه) وه او د خدای په خوا کې وه، هغه تل ژوندی وو او دی په خپله خدای دئ، چې څه شته د ده په وسیله پیدا شوي، داسې څه نشته چې ده نه وي پیدا کړي، دا تلپاته ژوندی خلکو ته نور او رڼا بخښي، خدای یحیی پیغمبر راولیږو چې دا نور خلکو ته معرفي کړي او خلك پرې ایمان راوړي، ... که څه هم نړی ده پیدا کړې وه خو کله چې دنیا ته راغی هیچا ونه پېژاندو، حتی په خپل ټاټوبي کې او په خپل قوم یهودانو کې چا ونه منلو، یوازې څو کسانو پرې ایمان راوړ، خو ده ټولو هغو کسانو ته چې ایمان ئې پرې راوړ دا حق ورکړ چې د خدای زامن شي، هو؛ یوازې دا کافي ده چې پر ده ایمان راوړي او نجات ومومي... د خدای کلمه انسان شو او د دې زمکې پر سر او زموږ په منځ کې ئې ژوند وکړ!!)

متأسفانه په مسلمانانو کې ځینې د رسول اللهؐ په اړه دې ته ورته خبرې کوي، حال دا چې نه عیسی **صلعم** ازلي نور وو او نه رسول اللهؐ، که د دوی په اړه په انجیل یا قرآن کې د نور او څراغ الفاظ راغلي نو دا په مجازي معنی دي نه په حقیقي معنی.

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۭۚ بَلۡ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ
﴿١٠﴾ قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ﴿١١﴾

او وئې ویل: آیا کله چي په زمکي کي ورك (او خاوري) شو بیا به په نوي پیدایښت کي وو؟! بلکي دوی د خپل رب د ملاقات په اړه کافران دي، ورته ووایه: د مرگ هغه فرشته تاسو وفات کوي (ستاسو روح قبض کوي) چي پر تاسو گمارل شوې، بیا د خپل رب په لوري گرځول کېږی.

(۱۰-۱۱)- په دې مبارکو آیتونو کي دا لارښووني گورو:

● ~~د آخرت منکرین وایي: آیا دا ممکنه ده چي موږ ومرو، جسدونه مو خاوري او په زمکي~~ کي متلاشي او ورك شي؛ بیا به په نوي پیدایښت کي پیدا کېږو؟! د دوی په اړه ویل شوي: دوی په اصل کي له خپل رب سره په مخامخېدو باور نه لري، له بیا ژوندون ئې انکار له دې کبله نه دئ چي دا کار ورته مستحیل او ناممکن برېښي، د انکار اصلي وجه ئې دا ده چي له خپل رب سره د ملاقات او د خپلو جرمونو له سزا سره د مخامخېدا منل ورته گران کار دئ، په دې اړه د دوی کفر د دې باعث شوی چي له بیاژوندون انکار کوي.

● د دوی په ځواب کي ویل شوي: ستاسو مرگ کومه تصادفي او خپل سره پېښه نه ده، دا ځکه چي الله تعالی ستاسو د حفاظت او ساتني بند و بست کړی او له خپلي خوا ئې ستاسي لپاره ساتونکي موظف کړي، دا ساتونکي د مرگ تر ثابتي نېټې ستاسو ساتنه کوي او د دې نېټې په رارسېدو سره ټاکلې فرشتې ستاسو روح قبض کوي. نو ستاسو د روح وتل د یوې دقیقي منصوبې له مخي ترسره کېږي، بدن مو متلاشي کېږي خو روح مو ساتل کېږي. الله تعالی به هغه ورځ چي ستاسو د بېرته ستنېدو لپاره ئې ټاکلې ده؛ دغي روح ته بیا بل کالبوت ورکړي.

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلۡمُجۡرِمُونَ نَاكِسُواْ رُءُوسِهِمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ رَبَّنَآ أَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا
فَٱرۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴿١٢﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا لَأٓتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدَىٰهَا
وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴿١٣﴾
فَذُوقُواْ بِمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمۡۖ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ بِمَا
كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٤﴾

او کاش هغه مهال وګورې چې مجرمين د خپل رب په وړاندې د خپلو سرونو کوز نيوونکي وي (او وايي): اې زموږ ربه! ومو ليدل، واموورېدل، نو بېرته مو ستانه کړه چې نېك عمل وکړو، يقيناً چې باور کوونکي يو!! او که مو غوښتي وی نو هر کس ته به مو د ده لارښوونه ورپه برخه کړې وه، خو زما له لوري دغه وينا محققه شوه چې حتماً به دوزخ له پېريانو او خلکو يو ځايي ډکوم. نو د هغه څه له کبله ئې وڅکئ چې د خپلي دغې ورځې ملاقات مو هېر کړی وو، يقيناً چې موږ هېر کړي يئ، او تلپاتی عذاب د هغه څه له کبله وڅکئ چې تاسو کول.

(۱۲-۱٤)- په دې مبارکو آيتونو کې د آخرت د منکرينو هغه حالت انځور شوی چې د قيامت په ورځ او د الله تعالى په وړاندې د قيام په وخت به ئې په برخه وي: خپل سرونه به ئې کوز نيولي وي، د غرور غاړه به ئې کږه شوې وي، سترګي به نشي لوړولی، په ټيټ سر، لاندې نيولو سترګو او ټيټ ږغ به د الله تعالى په وړاندې وايي: اې زموږ ربه! ټول حقائق مو هم په خپلو سترګو وليدل او هم مو واورېدل، اوس په حقائقو پوه شوي يو، نو بېرته مو دنيا ته ستانه کړه، يو بل فرصت راپه برخه کړه چې نېك عمل وکړو، يقيناً چې باور کوونکي يو!! الله تعالى د دوی په اړه فرمايي: که مو غوښتي وی نو هر چا ته به مو د ده لارښوونه ورپه برخه کړې وه، داسي حالت به مو ورباندې راوستي وو لکه چې د آخرت منکرين به د قيامت په ورځ ورسره مخامخ کېږي، حقائق به په خپلو سترګو وګوري، وينا به ئې دا وي چې اوس په بشپړه توګه متيقن شوي يو، د صالح عمل ژمنه کوو، له مخکني انکار او بدو عملونو نادم يو، يو بل فرصت راکړه چې خپل صداقت عملاً درته ثابت کړو!! خو د الله تعالى سنت داسي نه دئ چې انسان ايمان راوړلو ته اړ کړي او داسي حالت پرې راولي چې د انکار اختيار ترې سلب شي، بلکي انسانان او پېريان ئې داسي پيدا کړي چې له دوو لارو د يوې د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی، دغه واك او اختيار په دې منتج شي چې ځيني د کفر او انکار لار غوره کړي او د دوی په اړه د الله تعالى هغه وينا محققه شي چې دوزخ به حتماً له پېريانو او انسانانو يو ځايي ډکوم. که دوی په دوزخ کي پرېوځي وجه ئې دا ده چې په دوزخ کي د پرېوتو لار ئې غوره کړې وه، تګلاره او کړنلاره ئې داسي وه چې دوی ئې دوزخ ته ورسول، نو د قيامت په ورځ به ورته وويل شي: د هغه څه له کبله ئې وڅکئ چې د خپلي دغې ورځې ملاقات مو هېر کړی وو، يقيناً چې موږ هېر کړي يئ، او تلپاتی عذاب د هغه څه له کبله وڅکئ چې تاسو کول.

إِنَّمَا يُؤۡمِنُ بِـَٔايَـٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِهَا خَرُّواْ سُجَّدًا وَسَبَّحُواْ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ۩ ﴿١٥﴾ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمۡ عَنِ ٱلۡمَضَاجِعِ يَدۡعُونَ رَبَّهُمۡ خَوۡفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقۡنَـٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾

يقيناً چې زموږ پر آيتونو يوازې هغه وګړي ايمان راوړي چې کله پند پرې ورکړی شي

سجده کوونکي پرېوځي او د خپل رب له ستاينې سره د هغه تسبيح کوي، په داسې حال کې چې لويي غوښتونکي (او کبر کوونکي) نه وي. اړخونه ئې له بسترونو لرې وي او له وېرې او طمعې سره خپل رب بلي، او له هغه څه چې موږ ورروزي کړي انفاق کوي.

(۱۵-۱٦)- دلته د منکرينو په مقابل کې د هغو وګړو حالت بيان شوی چې د ايمان راوړلو اهليت او استعداد لري، د دوی ځانګړتياوې داسې ښودل شوې:

- زموږ پر آيتونو يوازې هغه وګړي ايمان راوړي چې کله پند ورکړی شي سجده کوونکي پرېوځي. دوی نه يوازې د قرآن د آيتونو په اورېدو سره فوراً او له ځنډ پرته ايمان راوړي بلکې د خپل رب په وړاندې خپل بشپړ انقياد د هغې سجدې په ترڅ کې څرګندوي چې د دغو آيتونو په اورېدو سره ئې کوي، د خپل رب په وړاندې سجده کوي او تندی پر زمکه ږدي.
- د خپل رب تسبيح وايي او ستاينه ئې کوي، له هر عيب او نقص ئې لوړ او د هرې ستاينې وړ ئې ګڼي.
- په داسې حال کې ده ته سجده کوي او تسبيح او تحميد وايي چې لويي غوښتونکي او کبر کوونکي نه وي، بلکې د خپل رب په وړاندې خاضع او خاشع وي.
- اړخونه ئې له بسترونو لرې وي، په عبادت بوخت وي او خپل رب په داسې حال کې بلي او مرسته ترې غواړي چې هم وېرېږي او هم طمع ورته لري. دلته د مؤمنانو حال داسې ښودل شوی چې د شپې له خوائې اړخونه له مضجع او د پرېوتو له ځايه لرې او کناره کېږي، خوب او آرام بستر پرېږدي، د شپې په خلوت کې خپل رب ته دعاء کوي، د خپل رب په وړاندې په دعاء او عبادت مصروف شي، خوفاً و طمعاً: له وېرې او هيلې سره، له يوې خوا له الله جل جلاله او د هغه له عذابه وېرېږي او له همدې کبله د شپې په زړه کې د الله په عبادت لګيا شي، خوب پرېږدي او له آرام بستر کناره شي او له بلې خوا الله تعالی ته طمع او هيله لري چې د همدې طمعې او هيلې په وجه بستر پرېږدي، د الله په وړاندې ودرېږي او د هغه عبادت کوي.
- او له هغه څه چې الله تعالی ورروزي کړي انفاق کوي.

فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٧﴾ أَفَمَن
كَانَ مُؤۡمِنٗا كَمَن كَانَ فَاسِقٗاۚ لَّا يَسۡتَوُۥنَ ﴿١٨﴾ أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡمَأۡوَىٰ نُزُلَۢا بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُواْ
فَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَآ أُعِيدُواْ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمۡ ذُوقُواْ عَذَابَ

ٱلنَّارِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَدۡنَىٰ دُونَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَكۡبَرِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٢١﴾

نو هیڅوك په هغو د سترګو یخولو (نعمتونو او څرنګوالي ئې) نه پوهېږي چي ورته مخفي کړی شوي ، د هغه څه بدله چي دوی کول، نو آیا هغه چي مؤمن دئ د هغه په څېر به وي چي فاسق دئ؟! نشي سره برابرېدی، اما هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ نو دوی ته به د جنت مېشت ځی وي، د هغه څه (په بدل کي) یوه مېلمستیا چي دوی کول، او هغه چي فسق ئې کړی نو مېشت ځی ئې دوزخ دئ، کله چي وغواړي ترې ووځي بېرته به ورستانه کړی شي او ورته وبه ویل شي: د هغه اور عذاب وڅکئ چي تاسو تکذیبولو. او هرو مرو به تر لوی عذاب وړاندي ووړ (رالنډ دنیایي) عذاب وروڅکو؛ تر څو راوګرځي.

(۱۷-۲۱)- په دې مبارکو آیتونو کي دا لاربښووني شوي:

- الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره په جنت کي داسي نعمتونه تیار کړی چي د هغوی په لیدو سره به ئې سترګي یخي او زړونه ښاد شي، دا نعمتونه دومره خوندور، ښکلي او په زړه پوري دي چي د انسان له زعم، خیال او تصور ډېر لوړ او داسي دي چي هیڅوك ئې په څرنګوالي پوهېدی نشي، د رسول اللهﷺ په یوه مبارك حدیث کي په دې اړه داسي راغلي:

عَنْ سَهْلِ بن سَعْدٍ، قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَصِفُ الْجَنَّةَ حَتَّى انْتَهَى إِلَيْهَا، ثُمَّ قَالَ:"فِيهَا مَا لا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلا عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ خَطَرَ"، ثُمَّ اقْتَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: {تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ} إِلَى قَوْلِهِ: {جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ}. المعجم الكبير للطبراني

له سهل بن سعد ﷺ روایت دئ چي وئې ویل: په داسي حال کي چي موږ د رسول اللهﷺ په خوا کي وو او هغه د جنت صفت بیاناوو تر دې چي د هغې پای ته ورسېدو؛ بیا ئې وفرمایل: په جنت کي هغه څه دي چي نه کومي سترګي لیدلي، نه کوم غوږ اورېدلي او نه د کوم بشر په زړه کي ګرځېدلي، بیا ئې دا آیت قرائت کړ: {تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ} إِلَى قَوْلِهِ: {جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ}

- دا نعمتونه د مؤمنانو لپاره د هغه څه بدله ده چي دوی کول.
- مؤمنان نه له فاسقانو سره په خپلو کړنو کي ورته وي، نه په خپلو تګلارو کي او نه د خپلو کړنو په پایلو کي، هغه چي ایمان ئې راوړی، عملونه ئې نېك وي، پایله ئې هغه جنت چي د دوی مېشت ځی به وي، او دا به د هغه څه په بدل کي د دوی لپاره د یوې مېلمستیا په توګه ورکړی شي چي دوی کول، خو هغه چي فسق ئې کړی نو مېشت ځی به ئې دوزخ وي، کله چي وغواړي ترې ووځي بېرته به ورستانه کړی شي او ورته وبه ویل شي: د هغه اور عذاب وڅکئ چي تاسو دروغ ګڼلو.

• دغو فاسقانو ته به د آخرت تر لوی عذاب وړاندې په دنيا كې ووړ او لنډ دنيايي عذاب وروڅكل شي؛ او دا په دې موخه چې د خپل رب لوري ته راوګرځي او له كفر او عصيان لاس واخلي.
دلته د فاسقانو د دنيايي عذاب يادونه ښيي چې په مخكنې آيت كې د مؤمنانو بدله هم عامه ده، هم دنيايي بدله احتوی كوي او هم اخروي. دوی به لومړی په دنيا كې داسې بدله ترلاسه كوي چې زړونه ئې پرې ښاد شي او بيا په آخرت كې.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَآ ۚ إِنَّا مِنَ ٱلْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾

او تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چې د خپل رب پر آيتونو پند وركړی شي (خو) بيا دی ترې ډډه وكړي، يقيناً چې موږ له دغو مجرمينو انتقام اخيستونكي يو.

(٢٢)- دا مبارك آيت وايي چې تر ټولو ستر ظالم هغه مجرم انسان دئ چې د خپل رب پر آيتونو پند وركړی شي خو دی ترې ډډه وكړي، الله تعالی به حتماً له دغو مجرمينو انتقام اخلي.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ فَلَا تَكُن فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦ ۖ وَجَعَلْنَـٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا۟ ۖ وَكَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾

او يقيناً چې موسی ته مو هغه كتاب وركړ، نو د مخامخېدو په اړه ئې په شك كې مه اوسه، او هغه مو د بني اسرائيلو لپاره لارښود وګرځاوو، او له دوی مو ځينې داسې امامان وګرځول چې زموږ د امر مطابق ئې (د خلكو) لارښوونه كوله، (دا) هغه مهال چې دوی صبر وكړ او زموږ پر آيتونو ئې باور كولو. يقيناً چې همدا ستا رب به د قيامت په ورځ د دوی تر منځ د هغه څه په اړه پرېكړه كوي چې دوی په كې اختلاف كولو.

(٢٣-٢٥)- د دې مباركو آيتونو په مهمو لارښوونو د ښه پوهېدو لپاره بايد لاندې خبرې په پام كې ولرو:

- دلته موسى **صلعم** ته د کتاب ورکړه د مخکنيو مطالبو لپاره د يوه تاريخي مثال او يوه دليل په توګه وړاندي شوې، لکه چي رسول الله ﷺ ته کتاب ورکړی شو همداسي موسى **صلعم** ته کتاب ورکړی شوی وو، ځينو ايمان پرې راوړ، د دې کتاب په لارښوونو د عمل او د ايمان په لار کي د صبر له کبله الله تعالی له دوی داسي امامان جوړ کړل چي د الله تعالی له امر سره سم ئې د خلکو لارښوونه کوله، يعني د ولسونو امامت او زعامت د دوی په برخه شو، دې جليل مقام ته د رسېدو دوه اساسي وجوهات ول: د ايمان په لار کي د دوی صبر او پر الهي آيتونو د دوی باور. په مقابل کي ئې د موسى **صلعم** څواکمن، مغرور او مجرم مخالفين له عبرتناك برخليك سره مخامخ کړل، مؤمنان بايد ډاډه او مطمئن وي چي دا تجربه به يو ځل بيا تکرارېږي، دوی ته به هم د نړۍ والو فکري زعامت او قيادت وړپه برخه کېږي، دغه رفيع او جليل مقام ته د (ايمان) او (صبر) په نتيجه کي رسېدلی شي، قريش او د رسول الله ﷺ مخالفين بايد پوه شي چي دوی به هم له همغه برخليك سره مخامخ کېږي چي د موسى **صلعم** مخالفين، فرعون او فرعونيان ورسره مخامخ شول.
- دلته ويل شوي چي (د مخامخېدو په اړه ئې په شك کي مه اوسه)، پوښتنه راولاړېږي چي له څه سره مخامخېدا؟ په لقائه کي ضمير چا او څه ته اشاره کوي؟ او دا خطاب يوازي رسول الله ﷺ ته متوجه دئ که د قرآن هر مخاطب ته؟! په تفاسيرو کي ګڼ شمېر توجيهات او تعبيرونه مومو، ځيني ئې په يادولو نه ارزي، د اعتناء وړ تعبيرونه دا دي: لومړی دا: کوم څه چي موسى **صلعم** ته د کتاب ورکولو په نتيجه کي رامنځته شول، فرعون او فرعونيان چي نه پر الله تعالی او د هغه پر آيتونو ايمان راوړو ته چمتو ول، نه ئې پر آخرت ايمان درلود او نه ئې د الله تعالی غوره پيغمبر موسى **صلعم** د پيغمبر په توګه منلو، ستر ستر مجرمين ول، د دغه کفر، انکار او جرمونو له کبله د الله تعالی له سخت عذاب سره مخامخ او غرق شول، بني اسرائيل د (ايمان) او (صبر) له کبله د نړۍ والو لپاره امامان شول، د همداسي حالت د بيا تکرار او له همداسي برخليك سره د قريشو د مخامخېدو او همداسي مقام ته د مؤمنانو د رسېدو په اړه شك مه کوه، دا تاريخي تجربه به بيا هم تکرارېږي، قريش به د خپل سلف او مؤمنان د خپل سلف له برخليك سره مخامخ کېږي. دوهم تعبير دا دئ چي د مخکني آيت په پای کي ويل شوي: موږ هرو مرو له دغو مجرمينو انتقام اخيستونکي يو، موسى **صلعم** ته هم دغه وينا په ليکلي توګه ورکړی شوې وه، همداسي وشول، ته هم د داسي حالت راتلو او له دغو مجرمينو د الهي انتقام د تحقق او په خپلو سترګو د هغه د ليدو په اړه شك مه کوه، درېيم تعبير دا چي دلته خطاب يوازي هغو قريشو ته متوجه دئ چي د رسول الله ﷺ رسالت او د الله تعالی له لوري هغه ته د کتاب ورکړه ئې نه منله او ګواکي دلته هغوی ته ويل شوي: لکه څنګه چي تر دې وړاندي موسى **صلعم** ته تورات ورکړی شوی وو، همداسي رسول الله ﷺ ته قرآن ورکړی شوی! په دې کي شك مه کوئ!! لومړی تعبير له هره پلوه دقيق او صحيح دئ او د آيت له الفاظو او سياق و سباق سره په بشپړه توګه تطابق لري او دوهم تعبير د آيتونو تر منځ د تړاو او نظم له پلوه دقيق برېښي او درېيم تعبير په څو دلائلو کمزوری دئ: عام خطاب له کوم دليل او وجهي پرته خاص کړی شوی، د الفاظو له ترکيب داسي نه معلومېږي

چې خطاب یوازې مخالفینو ته متوجه دئ، همدا راز دا تعبیر د آیت له سیاق و سباق سره اړخ نه لګوي، تر آیت وړاندې ویل شوي چې موږ له دغو مجرمینو حتماً انتقام اخیستونکي یو، او وروسته ویل شوي چې بني اسرائیل مو د (ایمان) او (صبر) له کبله د نړۍ والو امامان کړل، د دې سیاق و سباق غوښتنه دا ده چې دلته به یوازې د همداسې حالت د بیا راتلو په اړه خبره شوې وي او د قرآن هر مخاطب ته به ویل شوي وي چې له همداسې حالت سره د مخامخېدو په اړه شك مه کوه، او داسې تعبیر د فهم او منلو وړ نه دئ چې ګواکې دلته یوازې قریشو ته ویل شوي چې په دې کې شك مه کوئ چې رسول الله ﷺ ته هم د موسی صلعم په څېر کتاب ورکړی شوی!!

- نه یوازې دا چې په دنیا کې به مؤمنان او د دوی مخالفین له همغه حالت سره مخامخ کېږي چې موسی صلعم او د ده مؤمن ملګري او فرعون او د ده پلویان ورسره مخامخ شول، بلکې د قیامت ورځ راتلونکې ده او هغه مهال به ستا رب د دوی تر منځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو، د قیامت په ورځ به هم د حق او باطل او د دوی د پلویانو تر منځ وروستی الهي پرېکړه کېږي.

أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ ۖ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾

آیا دوی ته دې (حقیقت) لارښوونه ونه کړه چې تر دوی وړاندې مو څومره هغه نسلونه هلاك کړل چې دوی ئې په استوګنځیو کې ګرځي، یقیناً چې په دې کې (ډېرې) څرګندې نښې دي، آیا نه ئې اوري؟! او آیا نه ئې دي لیدلي چې موږ اوبه د شاړې زمکې په لوري بیایو او په دې سره داسې کښت (بوټي) راباسو چې څیني ئې هم د دوی څاروي خوري او هم دوی په خپله، نو آیا نه ګوري؟!

(۲۶-۲۷)- په دې مبارکو آیتونو کې د هغو منکرینو او مخالفینو په ځواب کې چې په دنیا او آخرت کې د الله تعالی د وعدو د تحقق په اړه شك څرګندوي دوه مضبوط دلائل وړاندې شوي:

لومړی دا چې د الله تعالی د وعدو د تحقق څرګندې بېلګې د تاریخ په مختلفو پړاوونو کې موندلی شئ، آیا د دوی د اقناع لپاره دا تاریخي حقائق کافي نه دي چې د کفر، شرك، ظلم او فساد ستر ستر ځواکونه له الهي محاسبې سره مخامخ او د الله تعالی په ستر عذاب اخته شوي، نه ګوري چې تر دوی وړاندې څومره هغه نسلونه هلاك شوي چې نن دوی د هغوی په استوګنځیو کې ګرځي؟!! یقیناً چې په دې کې د عقلمنو لپاره ډېرې څرګندې نښې دي، آیا سره له دې د حق وینا ته غوږ نه ږدي او حقائق نه اوري؟!

دوهم دا چې عملاً ګورئ الله تعالی په شاړې زمکې باران ورروي او په دې سره مړه

زمکه راژوندۍ کړي او داسي سمسور بوټي په کي راوټوکوي چي ځيني ئي هم د دوی څاروي خوري او هم دوی په خپله، الله تعالی همداسي جهل وهلي او شرك ځپلي ټولني چي مړې زمکي ته ورته وي؛ د پيغمبرانو صلی د بعثت او د وحي د نزول له لاري ښېرازه کوي، نوی نسل، له نويو او غوړېدلو افکارو او غوره اخلاقو سره په کي راپيدا کوي.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡفَتۡحُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلۡ يَوۡمَ ٱلۡفَتۡحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِيمَٰنُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

او وايي: كه رښتيني يئ دا فتح به كله وي؟ووايه: د دې فتحي په ورځ به هغو ته د دوي ايمان ګټه ونه رسوي چي كفر ئي كړی او نه به مهلت وركړی شي، نو له دوي ډډه وكړه او انتظار وكړه چي دوی هم منتظر دي.

(۲۸-۳۰)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- منكرين وايي: تاسو چي د حق او باطل تر منځ د الهي پرېكړي او د قيامت د راتلو په اړه څه وايئ دا به كله تر سره كېږي؟ دا ورځ ولي ځنډېدلې؟ كه رښتيني يئ نو ووايئ چي دا فتح به كله وي؟ دوی له يوې خوا د الهي عذاب په راتلو كي ځنډ داسي تعبيروي چي د عذاب دا ګواښونه هسي تهديدونه دي او حقيقت نه لري، له بلې خوا د مسلمانانو ضعف او كمزوري او د دوی د مخالفينو زور او ځواك داسي تعبيروي چي د مسلمانانو د بريا او برلاسي هغه وعدې هيڅ حقيقت نه لري چي رسول اللهﷺ ئې دوی ته وركوي او وايي چي الله تعالی به حتماً او ډېر ژر دوی ته د كفر او شرك پر ځواكونو برى وركوي!!
- د دوی په ځواب كي رسول اللهﷺ ته ويل شوي: ووايه: د دې فتحي په ورځ به هغو ته د دوي ايمان ګټه ونه رسوي چي كفر ئي كړی او نه به مهلت وركړی شي. دا ورځ به راشي، ستاسو د انګېرونو خلاف او د مؤمنانانو له انتظار سره سم، هغه مهال به تاسو په هغه حقيقت پوه شئ چي نن ترې انكار كوئ، خو هغه مهال به دا ايمان تاسو ته هيڅ ګټه ونه رسوي.
- رسول اللهﷺ او د ده له لاري مؤمنانو ته ويل شوي: نو له دوی ډډه وكړه او انتظار وكړه چي دوی هم منتظر دي.
- دا درې آيتونه چي په ګډه يو مضمون جوړوي؛ د دې مباركي سورې يوه جامع تتمه ده او د سورې د ټولو مطالبو خلاصه زموږ په وړاندي ايږدي، درې اساسي مضامين زموږ په وړاندي ږدي: ۱- منكرين وايي: د حق او باطل تر منځ د الهي پرېكړي او د قيامت د راتلو په اړه د مؤمنانو ادعاء حقيقت نه لري، دا د خپلو مخالفينو د وېرولو لپاره دروغجن ګواښونه او تهديدونه دي، ۲- د دوی په ځواب كي ويل شوي: دا ورځ به راشي، ستاسو د انګېرونو خلاف او د مؤمنانانو له انتظار سره سم، هغه مهال به تاسو په هغه حقيقت پوه شئ چي نن ترې

انکار کوئ، خو هغه مهال به دا ایمان تاسو ته هیڅ ګټه ونه رسوي. ۳- رسول اللهﷺ او د ده له لاري مؤمنانو ته ویل شوي: نو له دوي ډډه وکړه او انتظار وکړه چي دوی هم منتظر دي.

د سورې د شرحي په پای کي دا راته مناسب برېښي چي د دې سورې په اړه هغه روایت هم وڅېړو چي وايي: رسول اللهﷺ به د جمعي د ورځي د سهار په لمانځه کي دا سوره لوستله. روایت دا دئ:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ كَانَ النَّبِىُّ ﷺ يَقْرَأُ فِى الْجُمُعَةِ فِى صَلاَةِ الْفَجْرِ (الم * تَنْزِيلُ، السَّجْدَةَ) وَ (هَلْ أَتَى عَلَى الاِنْسَانِ) (بخاري:۸۹۱)

له ابوهریره ﷺ روایت دئ چي وایي: رسول اللهﷺ به د جمعي په ورځ د سهار په لمانځه کي د (الم تنزیل، السجده) او (هل اتی علی الانسان) سورتونه تلاوت کول.

دا روایت په بخاري کي دوه ځلي راغلی، چي دواړه سره ورته دي. له امیرالمؤمنین علي، ابن عباس او عبد الله بن مسعود وسلم هم روایت شوی.

خو که تاسو ټول هغه روایات له نظره تېر کړئ چي په ځینو لمونځونو کي د ځینو خاصو سورتونو د تلاوت یادونه په کي شوې نو دې نتیجې ته به ورسېږئ چي دا نه عمومیت لري او نه وجوب او لزوم ترې ثابتیږي، ارجح خبره دا ده چي امام وضعیت ته په پام سره داسي سوره انتخاب کړي چي له روان او موجود حالت سره هم د مطالبو له پلوه مناسبت ولري او هم د اوږدوالي او لنډوالي له پلوه، د قرآن وینا هم دا مطلب افاده کوي چي د سورې انتخاب لمونځ کوونکي ته پرېښودل شوی، داسي چي که د منافقینو په اړه څه ویل ګټور وي نو غوره دا ده چي د منافقینو سوره ولوستل شي، که جهاد ته د خلکو د هڅولو وخت وي نو د التوبه له سورې دي یوه برخه غوره کړي، د هر وخت او هري موضوع لپاره مناسبه سوره په قرآن کي موندلی شئ، که امامت در په غاړه شو نو د جمعي په لمونځونو کي له حالت سره متناسبه سورې غوره کوئ، دې ته مو هم پام وي چي تاسو به داسي مشهور او عزیز روایت ونه مومئ چي په خاصو لمونځونو کي د خاصي سورې تلاوت ئې لازم او ضروري ګڼلی وي. په دې اړه اکثر روایات داسي دي چي په صحابه وو او تابعینو کي یو یو راوي لري او په مقابل کي ئې متعارض روایت شته.

دې ته مو هم پام وي چي ځیني محققین په دې نظر دي چي د جماعت په لمونځونو کي او هغه مهال چي مقتدیان ډېر وي او په دوی کي ډېری ئې عوام او د شریعت له احکامو بې خبره خلك وي نو غوره دا ده چي د داسي سورې له لوستلو ډډه وشي چي د قرائت سجده ایجابوي، دا ځکه چي د یوه جائز یا مستحب کار لپاره خلك په شك کي غورځول او د لمانځه نظم مختل کول سم کار نه دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الاحزاب

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الأحزاب) دئ، دا نوم د همدې سورې د دوه ويشتم آيت له (يحسبون الاحزاب لم يذهبوا) اخيستل شوی، دري اويا آيتونه لري، د ټولو آيتونو فواصل ئې د لومړي او دوهم آيت (حکيماً) او (خبيراً) ته ورته دي، يوازې څلورم آيت ئې په (السبيل) پای ته رسېدلی، خو دا آيت په حقيقت کې له وروستي سره داسې تړلی دئ چې په ګډه يو آيت ترې جوړېږي او په (رحيماً) پای ته رسي. د آيتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي. د سورې مضامين په خپله موږ ته وايي چې دا سوره د احزاب له جګړې وروسته نازله شوې او په حقيقت کې د نورو مهمو قضاياوو په څنګ کې د دې جګړې يو دقيق انځور زموږ په وړاندې ږدي. دا جګړه د پنځم هجري کال د شوال مياشت کې رامنځته شوه.

په دې سورې کې د يوې بلې غزا په اړه هم بحث شوی چې د بني قريظه جګړه ده او د همدې کال د ذي القعدې په مياشت کې او د احزاب له جګړې وروسته متصل رامنځته شوې.

په دې سورې کې له رسول اللهﷺ سره د زينب صلی د نکاح قضيه هم څېړل شوې چې منافقينو ترې لويه او ستره تبليغاتي وسيله جوړه کړه.

لکه څنګه چې په جګړو کې ماتې له يوې خوا کورنی ستونزې زېږوي، د منافقينو د جسارت او زړه ورتوب باعث کېږي، د فتنو راولاړولو او له دښمن سره د خپلو پټو اړيکو مزيد ټينګولو او په ګډه لازياتو خطرناکو توطئو ته ئې هڅوي، همداراز بهرني دښمنان زړه ور کوي، پټ دښمنان او هغه چې تر دې وړاندې ئې خپله دښمني پټه ساتله دې ته هڅوي چې خپله دښمني څرګنده کړي او له څرګند دښمن سره لاس يو کړي، د احد له ماتې وروسته هم دې ته ورته فضاء رامنځته شوه، کورني او بهرني دښمنان زړه ور شول، کورنيو دښمنانو؛ منافقينو او په مدينه کې مېشت يهودانو قريشو ته بلنه ورکوله چې که پر مدينه بريد وکړي نو دوی به ئې کلکه ملګرتيا او مرسته کوي، د عربو ډېرې مشرکې قبيلې چې تر دې وړاندې ئې د مسلمانانو په ضد د قريشو ملګرتيا او ملاتړ نه کولو او د مسلمانانو په ضد جګړو کې ئې برخه نه اخيستله د احد له ماتې وروسته زړه ور شول، ځينو قريشو ته اطمئنان ورکولو چې په راتلونکو جګړو کې به د دوی ملګرتيا کوي، ځينو په خپله پر مدينه د بريد تياری نيولو، ځينو د دوکې او خدعې له لارې مسلمانانو ته د ضرر او تاوان رسولو توطئې جوړولې، په همدې لړ کې د احد له جګړې دوه مياشتې لا نه وې تېرې شوې چې د نجد بني اسد قبيلې پر مدينې د حملې تياری وکړ چې رسول اللهﷺ د دې بريد د مخنيوي په موخه د ابوسلمه سريه

ولېږله، ورپسې د څلورم هجري کال د صفر په میاشت کې د عضل او قاره قبیلو له رسول الله ﷺ وغوښتل چې د خلکو د دعوت او لارښوونې په موخه څو مبلغین ورولېږي، رسول الله ﷺ د اصحابو یو شپږ کسیز ټولی ورسره ولېږو، خو هغوی دوکه وکړه او کله چې دا وفد د جده او رابغ تر منځ د رجیع سیمې ته ورسېد نو د دوی د وژلو لپاره ئې د هذیل له قبیلې سره مرسته وکړه، چې په برید کې څلور تنه شهیدان شول او دوه ئې خبیب بن عدي او زید بن الدثنه له ځان سره بوتلل او د څو پیسو په بدل کې ئې پر قریشو وپلورل، که څه هم په دې اړه بل روایت داسې دئ چې ګواکې رسول الله ﷺ دا ټولی د استطلاع په موخه لېږلی وو، د ټولي د شمېر په اړه هم په روایاتو کې اختلاف تر سترګو کېږي، ځینې ئې شپږ او ځینې ئې لس بولي، ورپسې په همدې میاشت کې رسول الله ﷺ د بني عامر د قبیلې د یوه مشر په غوښتنه یو بل تبلیغي وفد چې څلوېښت یا اویا کسان ول د نجد په لوري ولېږل، له دوی سره هم غداري وشوه، د بني سلیم درې قبیلو: عُصَیَّه، رِعل او ذَکْوان؛ د بئر معونه په سیمې کې دوی ته کمین ونیو او په ناڅاپي توګه ئې پر دوی برید وکړ او ټول ئې شهیدان کړل. په همدې دوران کې د مدینې یوې یهودي قبیلې بني نضیر د همدې کال په ربیع الاول کې د رسول الله ﷺ د شهیدولو توطئه جوړه کړه چې بریالي نشول، ورپسې د همدې کال په جمادي الاولی کې د بني غطفان دوو قبیلو: بنو ثعلبه او بنو محارب پر مدینې د برید لپاره چمتو شول چې د دوی د ځپلو لپاره رسول الله ﷺ په خپله د یوه لښکر په ملګرتیا هلته ولاړ.

د احد د جګړې په پای کې او هغه مهال چې قریش د جګړې له ډګر په شا شول څو څو فرسخه آخوا متوجه شول چې تر شا کېدا ئې ستره غلطي وه، باید مسلمانان ئې تعقیب کړي وی او پر مدینې ئې برید کړی وی، په الروحاء کې تم شول، غوښتل ئې بېرته راستانه شي او پر مدینې برید وکړي، خو رسول الله ﷺ ته اطلاع ورسېده چې دښمن پر مدینې د برید اراده لري، په داسې حال کې چې په خپله ټپي شوی وو، د احد د جګړې قائد حمزه ؓ له اویاوو جلیل القدرو زړه ورو جنګیالیو اصحابو سره شهیدان شوي ول او ګڼ شمېر نور مجروح ول، اعلان وکړ چې له دښمن سره مقابلې لپاره چمتو شئ، له شاوخوا شپږ سوه دېرش مجاهدینو سره یو ځای له مدینې ووتل او تر حمراء الاسد پورې د دښمن په استقامت وړاندې ولاړل، هلته ئې درې ورځې انتظار وکړ، ابوسفیان د قریشو د لښکر سالار ته د دې اقدام اطلاع ورسېده، له نورو مشرانو سره له مشورې وروسته دا ورته مناسب وبرېښېده چې خپل تصمیم بدل کړي او د مکې په لوري خپل سفر ته دوام ورکړي، رسول الله ﷺ ته د یوه غیرمسلم خو د مسلمانانو خواخوږي له لوري دا خبر ورسېد چې قریش له خپلې ارادې په شا شول او د مکې په لوري وخوځېدل، نو بېرته مدینې ته د ستنېدو پرېکړه ئې وکړه، دې حکیمانه تدبیر نه یوازې د قریشو همت کمزوری او پر مدینې ئې د دوی د برید اراده شنده کړه بلکې نورو پټو او ښکاره دښمنانو ته ئې وښوده چې د احد ماتې نه د مسلمانانو عزم او همت ځپلی او نه ئې د دوی د قرباني جذبه او جنګي روحیه کمزورې کړې.

همداراز کله چې بني اسد پر مدینې د برید تیاری شروع کړ، رسول الله ﷺ ته د ده د خواخوږو له لوري اطلاع ورکړی شوه، تر دې وړاندې چې دښمن پر مدینې برید وکړي د ابوسلمه ؓ تر مشرۍ لاندې ئې شاوخوا یو نیم سل سرتېري ورولېږل، د دوی ناڅاپي برید

دښمن داسي وارخطاء کړ چي يوې بلې خوا ته وتښتېدل او هر څه ئې تر شا پرېښودل او ټولې شتمنۍ ئې مسلمانانو غنيمت کړې.

کله چي د بني نضير يهودي قبيلې توطئه افشاء شوه او رسول اللهﷺ او صحابه وو ته جوته شوه چي دوی د رسول اللهﷺ د قتل منصوبه جوړه کړې وه، نو رسول اللهﷺ په همغه ورځ دوی ته اعلان کړه چي تر لسو ورځو به له مديني وځي او له دې ټاکلي مودې وروسته چي د دوی هر څوك پاته وي هغه به وژل کيږي، د منافقينو سالار عبدالله بن ابی بن سلول هغوی هڅول چي د دې ګواښ پروا ونه کړي، له مديني ونه وځي، دی تيار دئ له دوو زرو جنګياليو سره د دوی مرسته وکړي، د بني قريظه يهودي قبيله به د دوی مرسته کوي، د بني غطفان قبيله به د دوی مرستي ته رادانګي، دغو دروغجنو ډاډيېنو ته په پام سره هغوی رسول اللهﷺ ته ځواب ورکړ چي وتلو ته چمتو نه يو، څه چي کولی شې وئې کړه!! رسول اللهﷺ د دغه لس ورځنی مهلت په پای کي د دوی سيمه محاصره کړه، هيچا دا جسارت ونه کړ چي د دوی مرستي ته راوړاندي شي، د محاصرې په پای کي بني نضير دې ته چمتو شول چي له مديني ووځي او هغه هم په دې شرط چي هر درې تنه يو اوښ او دومره سامان له ځان سره وړی شي چي دا اوښ ئې وړلی شي. په دې توګه د مديني شاوخوا ټول هغه کلي، زمکي او باغونه د مسلمانانو لاس ته ورغلل چي بني نضير په کي اوسېدل.

بيا ئې د بني غطفان لوري ته مخه کړه چي پر مديني د برید لپاره ئې تياری نيولی وو، رسول اللهﷺ له څلورو سوو جنګياليو سره د دوی په لور وخوځېدو او په ذات الرِّقاع کي له هغوی سره مخامخ شو، د مسلمانانو ناڅاپي بريد داسي وارخطاء کړل چي له جګړې پرته ئې خپل کورونه او هر څه پرېښودل او يوې بلې خوا ته خواره شول.

د احد جګړي په پای کي ابوسفيان مسلمانانو ته په خطاب کي ويلي وو: په راتلونکي کال کي به په بدر کي يو ځل بيا سره مخامخ کيږو!! رسول اللهﷺ د يوه صحابي په خوله هغوی ته ويلي وو: صحيح ده همدا دي زموږ او ستاسو تر منځ موعد وي، له دغي ژمني سره سم رسول اللهﷺ د څلورم هجري کال د شعبان په مياشت کي له يو زر پنځه سوو مجاهدينو سره د بدر سيمي ته ولاړ، د مکي له لوري ابوسفيان له دوو زرو جنګياليو سره د بدر په لور وخوځېدو، خو کله چي مر الظهران (ننی فاطمه نومي ځای) ته ورسېدو او خبر شو چي رسول اللهﷺ له خپلو مجاهدينو سره د ده انتظار کوي، د وړاندي تللو همت ئې ونه کړ او بېرته د مکي په لوري ستون شو، رسول اللهﷺ تر اتو ورځو پوري هلته پاته شو، او له کومي جګړې پرته ئې داسي بريا په برخه شوه چي يقيناً د احد ماته ئې جبران کړه.

دغو پېښو ټول دښمنان دې ته متوجه کړل چي د عربو هيڅ قبيله د قريشو په شمول په يوازې توګه او د نورو له مرستي او ملګرتيا پرته د مسلمانانو مقابله نشي کولی، له دې پرته بله چاره نه لري چي ټول په ګډه او د يوه ستر بريد له لاري د مسلمانانو له دې ورځ په ورځ زياتېدونکي ګواښ ځان د تل لپاره وژغوري. دښمنانو د يوه ګډ لوی بريد ضرورت هغه مهال لازيات احساس کړ چي رسول اللهﷺ د حجاز او شام تر منځ پرتې سيمي دومة الجندل کي د مېشت شوکه مارو هغه ډله وځپله چي دلته به ئې تجارتي قافلې لوټلې، رسول اللهﷺ د پنځم هجري کال د ربيع الاول په مياشت کي له زرو مجاهدينو سره د دې لوټمارو د تأديب لپاره په

هغه لوري وخوځېدو، هغوی خپله سيمه پرېښوده او وتښتېدل، د مسلمانانو دغې ستري بريا دښمنان لازيات هيبت وهلي کړل او د دوی د خيرنو زړونو کينه ئې لازياته تشديد کړه، همدا د احزاب د تاريخي جګړې شاليد او محرکات ول.

دې ته مو پام وي چې د الاحزاب د سورې په اړه يو داسي روايت هم تر سترګو کېږي چې وايي: دا سوره په سر کي دومره اوږده وه لکه د البقره سوره، د رجم آيت هم د دې سورې يو آيت وو، خو نور آيتونه ترې حذف شوي او يوازي ۷۳ آيتونه ئې پاتي شوي**!!** راشئ وګورو چې دا روايت څومره د اعتبار وړ دئ، روايت داسي دئ:

عن زر بن حبيش قال : قال لي أبي بن كعب : « كم تعدون سورة الأحزاب ؟ » فقلت : نعدها اثنتين أو ثلاثا وسبعين آية قال : « إن كانت لتوازي سورة البقرة ، ولقد كان فيها : الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا، فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ نَكَالًا مِنْ اللَّهِ وَاَللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ » تحفة ۲۲ معتلى ۲٤ مسند احمد

له زر بن حبيش روايت دئ چې وايي: ابی بن کعب راته وويل: د الاحزاب سوره څومره ګڼئ؟ ومي ويل: دوه اويا يا دري اويا آيتونه، وئې ويل: يقيناً چې دا د بقره له سورې سره برابره وه، او يقيناً چې په دې کي دا هم وو: سپين ږيری او سپين سرې چې زنا وکړي نو دواړه حتماً سنګسار کړئ، د الله له لوري يوه عبرتناکه سزا، او الله باحکمت عزتمن دئ.

دا مطلب په ځينو نورو رواياتو کي هم له ځينو توپيرونو سره راغلی، لکه دا روايت:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ : قَدْ خَشِيتُ أَنْ يَطُولَ بِالنَّاسِ زَمَانٌ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ مَا نَجِدُ الرَّجْمَ فِى كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيَضِلُّوا بِتَرْكِ فَرِيضَةٍ أَنْزَلَهَا اللَّهُ عز وَجَلَّ أَلاَ وَإِنَّ الرَّجْمَ حَقٌّ إِذَا أَحْصَنَ الرَّجُلُ وَقَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ الْحَمْلُ أَوِ الاِعْتِرَافُ فَقَدْ قَرَأْنَاهَا : الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ وَقَدْ رَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ فِى الصَّحِيحِ عَنْ عَلِىِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ أَبِى بَكْرِ بْنِ أَبِى شَيْبَةَ وَغَيْرِهِ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ. السنن البيهقي

له عبدالله بن عباس رسول روايت دئ چې عمر ﷻ وويل: له دې وويرېدم چې پر خلکو زمانه اوږده شي تر هغه چې يو ويونکی ووايي: د الله په کتاب کي د رجم حکم نه مومو، نو د يوې داسي الهي فريضې په اړه بې لاري شي چې الله تعالی نازله کړې، پام چې رجم حق دئ، هغه مهال چې سړي واده کړی وي، ګواهي ورکړی شي، حمل واقع شي، يا اعتراف وشي، يقيناً چې موږ دا (آيت) لوستلی: سپين ږيری او سپين سرې چې زنا وکړي نو دواړه حتماً سنګسار کړئ، ... او يقيناً چې رسول اللهؐ د رجم حکم اجراء کړی او تر ده وروسته موږ د رجم حکم اجراء کړی.

دا روايات ګڼ شمېر داسي ستونزي لري چې ښيي په هيڅ توګه د اعتبار وړ نه دي، ځيني ئې دا دي:

- **وايي: دا (الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا، فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ نَكَالًا مِنْ اللَّهِ وَاَللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ) د الاحزاب د سورې يو آيت وو چې حکم ئې پاته او الفاظ ئې حذف شوي!! حال دا چې دا ادعاء په بشپړه توګه بې بنسټه ده، ځکه د الاحزاب د سورې د ټولو آيتونو فواصل د لومړي او دوهم آيت (حکيماً) او (خبيراً) ته ورته دي، يوازي څلورم آيت ئې په (السبيل) پای ته رسېدلی، خو**

دا آيت په حقيقت کي له وروستي سره داسي تړلی دئ چي په ګډه يو آيت تری جوړيږي او په (رحيماً) پای ته رسي. خو پورتنی مضمون په وَاَللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ پای ته رسېدلی!!! او د دې مضمون آخري برخه په اصل کي د مائدې د سورې د ۳۸ آيت وروستی فقره ده، د المائدې د آيتونو فواصل دغو صيغو ته ورته دي: خاسرين، رحيم، قدير، يريد، تشکرون، صدور او عقاب، اکثر آيتونه ئې خاسرين ته په ورته صيغو پای ته رسېدلي چي حکيم، رحيم، قدير او يريد ته هم ورنږدې دي.

• قرآن خپل ځانګړي اصطلاحات لري، د نکاح شوي سړي او ښځي لپاره د محصن او محصنة الفاظ کاروي، د دوی لپاره د قرآن په هيڅ آيت کي د الشيخ او الشيخة الفاظ نه دي راغلي، دا الفاظ نه يوازي په قرآن کي نه دي راغلي بلکي دلته ئې کارول جدي التباس رامنځته کوي، ځکه معنی ئې داسي کيږي چي که نارينه او ښځينه په زړښت کي زنا وکړي نو رجم کيږي به!! يعني رجم په زړښت پوري تړي نه په نکاح پوري!! او دا هم له قرآن سره تعارض لري او هم له عدل او عقل سره.

• همدا راز د قرآن په هيڅ آيت کي د (البتة) لفظ نه تر سترګو کيږي.

• دا رأيه د الله تعالی د هغي ژمني خلاف ده چي د قرآن د حفاظت په اړه ئې کړې، دا شك راولاړوي چي ښايي د قرآن ډېري برخي به حذف شوې وي!! صحيح او دقيقه رأيه دا ده چي د قرآن يو حرف هم نه دئ حذف شوی، يوه برخه يا ګڼ شمېر آيتونه خو ئې پرځای پرېږدئ.

• د قرآن د آيتونو تر منځ دومره ژور نظم او تړاو مراعات شوی چي که يو لفظ ئې حذف يا بدل شي نظم او ښکلا ئې صدمه ګوري، داسي لکه د مرغلرو يو ښکلی هار چي تار ئې وشلېږي او مرغلري ئې خورې شي، څوك چي له قرآن سره آشنا وي پوهيږي چي نه له قرآن څه حذف شوي او نه پورتنی مضمون د قرآن له آيتونو سره د محتوی، ادبي ترکيب، ښکلا او ښايست له پلوه ورته والی او شباهت لري. هيڅ په قرآن پوه انسان به دا ادعاء ونه مني چي له قرآن څه حذف شوي.

• ټولو صحابه وو پر دې اجماع کړې چي پر رسول اللهؐ نازل شوی قرآن همدغه دئ چي په اوسني مصحف کي راغونډ شوی، د دوی دا اجماع کافی ده چي ووايو داسي روايات په بشپړه توګه بې اعتبار دي چي وايي د قرآن کومه برخه حذف شوې.

• د دې روايت په اړه د ابوعبدالرحمن رأيه هم واورئ چي وايي: لا أعلم أن أحدا ذكر في هذا الحديث الشيخ والشيخة فارجموهما البتة غير سفيان وينبغي أنه وهم والله أعلم: له سفيان پرته بل داسي څوك نه پېژنم چي په دې حديث کي ئې دا خبره هم ذکر کړې وي چي که بوډا او بوډۍ زنا وکړي دواړه رجم کړئ، ښايي ده به وهم کړی وي، الله تعالی ښه پوهيږي.

• دې ته مو هم پام وي چي ټول مفسرين او فقهاء په دې اړه متفق دي چي د محصن زناکار سزا رجم (سنګسارول) دي. خو په دې اړه بېل بېل آراء لري چي د دې حکم منشأ څه ده، دقيقه رأيه دا ده چي رسول اللهؐ دې ته په پام سره محصن زناکار د رجم په سزا محکوم کړی چي د مجرد زناکار سزا سل درې ده نو طبيعي ده چي د متأهل زناکار سزا به تر دې زياته وي، او دا به همغه سزا وي چي په مخکني شريعت کي راغلې او قرآن هغه نه ده منسوخ کړې. همغسي لکه چي د آزادي ښځي او وينځي سزا توپير لري، وينځې ته د دې لپاره

چي محدوديتونه ئې تر آزادي زيات دي، د خپلي خوښي نکاح ئې نه ده په برخه شوې نو سزا ئې تر آزادي نيمه ټاکل شوې. د دې تفصيل د النور د سورې د دوهم آيت په تفسير کي وګورئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا
حَكِيمًا ﴿١﴾ وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرًا
﴿٢﴾ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٣﴾

اې نبي! د الله پروا لره او د کافرانو او منافقينو اطاعت مه کوه، يقيناً چې الله ښه باحکمته پوه دئ. او د هغه څه متابعت کوه چې ستا د رب له لوري درته وحي کيږي، يقيناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ. او پر الله توکل کوه چې الله د وکيل (ذمه وال) په توگه کافي دئ.

(۱-۳)- په دې مبارکو آيتونو کي رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چې تل او په هر څه او هر ~~حال کي د الله تعالی پروا کوه او له داسي څه ځان ساته چې الله تعالی پرې ناراض کيږي.~~ د دې تقوی تقاضاء دا ده چې د کافرانو او منافقانو خبري مه منه، د دوی تگلاري او کړنلاري مه غوره کوه. ستا رب (عليم) او (حکيم) دئ، تا ته ئې داسي لارښووني کړې دي چې بنسټ ئې د ده پر کامل او بشپړ علم او پراخ حکمت ايښودل شوی. نو د هغه څه متابعت کوه چې ستا د رب له لوري درته وحي کيږي، هم په پټه او هم په ښکاره، هم د نورو تر څنگ او په ټولني کي او هم يوازي يا په خپلي کورنۍ کي، يقيناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ، هم ستاسو له پټو کارونو خبر دئ او هم د ښکاره کارونو له څرنگوالي، موخو او محرکاتو، او پر الله توکل کوه چې الله د کفيل (ذمه وال) په توگه کافي دئ، د الله د حکم مطابق عمل کوه او نتائج ئې خپل رب ته محول کوه او ډاډه اوسه چې الله تعالی د کفيل په توگه درته کافي دئ.

مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلۡبَيۡنِ فِي جَوۡفِهِۦۚ وَمَا جَعَلَ أَزۡوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔي تُظَٰهِرُونَ
مِنۡهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمۡۚ وَمَا جَعَلَ أَدۡعِيَآءَكُمۡ أَبۡنَآءَكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ قَوۡلُكُم بِأَفۡوَٰهِكُمۡۖ وَٱللَّهُ يَقُولُ

ٱلۡحَقَّ وَهُوَ يَهۡدِي ٱلسَّبِيلَ ۝ ٱدۡعُوهُمۡ لِأٓبَآئِهِمۡ هُوَ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ فَإِن لَّمۡ
تَعۡلَمُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمۡۚ وَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٞ فِيمَآ
أَخۡطَأۡتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتۡ قُلُوبُكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ۝

الله د هيڅ سړي په ټټر کي دوه زړونه نه دي ګرځولي، او ستاسو هغه مېرمني ئي ستاسو ميندي نه دي ګرځولې چي ترې ظهار کوئ (ورته وايئ چي زما د مور په څېر شوې)، او ستاسو زوى بوللي ئي ستاسو زامن نه دي ګرځولي، دا ستاسو د خپلو خولو وينا ده، او الله حقه وينا کوي او هغه سمه لار ښيي، خپلو پلرونو ته منسوب ئې دروبلئ (د خپلو پلرونو په نامه ئې ياد کړئ)، همدا د الله په وړاندي ډېره عادلانه ده، او که ئې پلرونه نه پېژنئ نو په دين کي ستاسو ورونه او ستاسو دوستان دي، او په هغه څه کي کومه ګناه درباندي نشته چي په کي خطاء شئ، ليکن په هغه څه کي (ګناه شته) چي ستاسو زړونو ئې قصد کړى وي، او الله مهربان بخښونکى دئ.

(٤-٥)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالى هر چا ته يوازې يو زړه ورکړى، دا زړه به يا له ايمان، صدق او اخلاص ډکوي او يا له شرك، کفر او نفاق، داسي نشي کېدى چي څوك دي مؤمن هم وي او داسي افکار او عقائد دي هم ولري چي منشأ ئې کفر او نفاق وي او له ايمان سره نه ښايي، داسي نشي کېدى چي عمل ئې د کافر او منافق وي خو دعوى ئې دا چي په زړه کي ئې ايمان دئ او له الله تعالى وېرېږي!! د يوه زړه له خاوند سره دوه ګوني او غبرګ معيارونه نه ښايي، داسي چي يو څوك هم دوست وګڼي او هم دښمن، عقيده ئې داسي وي چي يوه ډله ورته د دښمنانو ډله ګڼي خو دى ورسره دوستي کوي، ايمان يو څه ورته حلال او جائز ګڼي خو دى د حرام په سترګه ورته ګوري.
- که تاسو خپلي مېرمني ته سل ځلي ووايئ چي زما د مور په څېر راباندي حرامه شوې، په دې وينا سره هغه ستاسو مور نه ګرځي، مور مو يوازې هغه ده چي تاسو ئې زېږولي يئ، که تاسو څوك په زوى ولى ونيسئ په دې سره هغه ستاسو اصلي زوى نه دئ ګرځېدلى، اصلي زوى مو يوازې هغه دئ چي تاسو ئې پلار يئ او ستاسو له نطفې پيدا شوى. په دغو مواردو کي به نه دود دستور معتبر ګڼئ او نه ستاسو له خولې وتلي يناوې، يوازې د الله تعالى احکام او د خپل دين لارښووني به معتبر ګڼئ. د الله تعالى هره وينا حق ده او تاسو ته سمه لار ښيي.
- څوك چي تاسو په زوى ولى نيسئ هغه ځان ته نه بلکي خپل اصلي پلار ته منسوبوئ او د خپلو پلرونو په نامه ئې ياد کړئ، همدا د الله تعالى په وړاندي ډېره عادلانه وينا او د حقيقت مطابق انتساب دئ. که احياناً د هغه پلار نه پېژنئ نو د ورور او دوست په نامه ورته

خطاب کوئ، هغه په دين کي ستاسو ورور او دوست دئ.

• که احياناً اشتباه وکړئ او دا الهي لارښوونه اشتباهاً مراعات نه کړئ نو په هغو مواردو کي چي خطاء شوي يئ کومه ګناه درباندي نشته، خو په هغه څه کي ګناه شته چي ستاسو زړونو ئی قصد کړی وي، او عمداً مو د دې الهي لارښووني خلاف عمل کړی وي. خو سره له دې الله تعالی مهربان بخښونکی دئ، اميد دئ ستاسو غلطي او ګناه معاف کړي.

دلته بايد څو خبري په پام کي ولرو:

• تر اسلام وړاندي او د جاهليت د دور يو جاهلانه دود دا وو چي خلکو به خپلو مېرمنو ته د دائمي طلاق ورکولو لپاره دا الفاظ کارول چي پر ما داسي شوې لکه خپله مور، ستا شا راته داسي شوه لکه د خپلي مور شا، همداراز که به چا کوم څوك په زوی ولی ونيولو نو نه يوازي دا چي د ده زوی به ګڼل کېدو او په همدې نامه به يادېدو بلکي په ميراث کي به ئې هم برخه د اصلي زامنو په اندازه وه، اسلام د جاهليت دا دودونه هم د نورو ناوړه دودونو په څېر لغو کړل او د دې مبارکي سورې په ترڅ کي ئې دغه لارښووني وکړې چي په داسي مواردو کي ستاسو د خپلو خولو ويناوې څه ارزښت نه لري او حقيقت نه شي بدلولی، داسي ويناوي نه له مېرمني مور جوړولی شي او نه پردي زوی اصلي زوی. د طلاق او ميراث په جامع احکامو سره ئې دا دودونه لغو کړل. که څوك د شفقت او ترحم له کبله چا ته د ورور، خور، مور او پلار خطاب وکړي، په دې کي څه حرج نشته، د پورتني آيت مراد دا نه دئ چي دا راز خطاب منع کوي، بلکي مراد ئې دا دئ چي دا الفاظ به په حقيقي معنی نه کاروئ، په دې الفاظو سره هغوی ستاسو اصلي خپلوان نه جوړېږي، نه د اصلي خپلوانو حکم پرې کېدی شي او نه ئې حقوق د هغوی په څېر کېدی شي.

ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡۗ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفۡعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِكُم مَّعۡرُوفٗاۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا ﴿٦﴾

مؤمنانو ته دا نبي د دوی تر خپلو ځانونو لومړی توب لري، او مېرمني ئی د دوی ميندي دي، او د الله په کتاب کي مؤمن او مهاجر خپلوان ځيني تر ځينو نورو لومړی توب لري، مګر دا چي له خپلوانو سره مو په معروفه توګه کومه ښېګڼه وکړئ، همدا په دې کتاب کي ليکل شوي.

(٦)- په دې مبارکو آيتونو کي مؤمنانانو ته څو لارښووني شوې:

• د دوی د ايمان تقاضاء دا ده چي رسول الله ﷺ ته به تر خپل ځان لومړی توب او ترجيح ورکوي، د ده وينا به تر خپلي وينا غوره ګڼي، د ده له لوري بلنه به د خپل نفس له بلني مقدمه ګڼي، د ده ژوند به تر خپل ژوند مهم ګڼي، له ده سره به ئې مينه دومره وي چي له الله

تعالی پرته له هیڅ سره دومره مینه ونه لري، تر مور، پلار، اولاد، مېرمنې او نږدې خپلوانو او دوستانو به ئې له هغه سره مینه زیاته وي. دا ځکه چې انسان له هغه چا سره زیاته مینه کوي چې تر نورو ئې له ده سره زیاتې پېرزوینې کړې وي، د رسول اللهﷺ د بعثت له کبله چې الله تعالی پر دوی کومه پېرزوینه کړې او د هغه په لاس ئې له شرك، کفر، ظلم، جهل، فساد، سپکاوي او رسوايي ژغورلي او او د دنیا عزت او د آخرت سعادت ئې ورپه برخه کړی، د دې سترې پېرزوینې عظمت ته په پام سره باید له رسول اللهﷺ سره د دوی مینه پر بلې هرې مینې غالبه وي.

• د رسول اللهﷺ مېرمنې به داسې ګڼې لکه خپلې میندې، رسول اللهﷺ د ټولو مؤمنانو؛ نارینه او ښځو معنوي پلار دئ او حقوق ئې تر پلار زیات او د ده مېرمنې ئې د عزت او درناوي له پلوه داسې دي لکه د دوی میندې. دلته باید دوه خبرې په پام کې ولرئ: لومړی دا چې دا حکم یوازې د درناوي او احترام په اړه دئ او ټولو مؤمنانانو؛ نارینه او ښځو ته راجع دئ، د حجاب په اړه نه دئ، ځکه تر دې وړاندې ویل شوي چې داسې مجازي نسبتونه حقیقت نه شي بدلولی. دوهم دا چې د قرآن د بل آیت په ترڅ کې دا لاربښوونه شوې چې د رسول اللهﷺ له رحلت وروسته به د هغه له مېرمنو سره له نکاح ډډه کوئ، دا درباندې حرام ده او د الله تعالی په وړاندې ستر قبیح عمل، ځینو درنو مفسرینو له همدې فقرې (و ازواجه امهاتهم) له امهات المؤمنین سره د نکاح د حرمت حکم رااېستلی حال دا چې دلته د دې حرمت خبره نه یوازې مطرح نه ده بلکې داسې تعبیر له مخکني آیت سره تعارض رامنځته کوي، ځکه هلته ویل شوي چې ستاسو د خولې وینا حقیقت نه شي بدلولی. د دواړو فقرو تر منځ یوازې هغه مهال همغږي رامنځته کېدی شي چې مجازي حرمت (درناوی) د ستر او حجاب د عدم مراعات په معنی تعبیر نشي، په بلې بڼې کې او د دغو درنو مفسرینو د تعبیر له مخې خو مجازي حرمت د حقیقي حرمت په معنی تعبیر شوی نو په دې صورت کې خو د حجاب حکم هم باید منتفي وګڼل شي.

• مؤمنان باید دې ته متوجه وي او له خپلوانو سره په چلن کې دا خبره په پام کې ولري چې د خپلوانو درجې او حقوق یو تر بل توپیر لري، د ځینو درجې او حقوق تر نورو زیات دي، خو د (ایمان) او (هجرت) په شرط، د الله په کتاب کې مؤمن او مهاجر خپلوان ځیني تر ځینو نورو لومړی توب لري، خو د دې لاربښوونې معنی دا نه ده چې له غیرمؤمن او غیر مهاجر خپلوانو سره له هر ډول خپلوۍ پاللو او ښېګڼې کولو منع شوي یئ، داسې نه ده؛ له داسې خپلوانو سره کولی شئ چې په معروفه توګه کومه ښېګڼه وکړئ، همدا د الله تعالی په دې کتاب کې لیکل شوي.

• ځینو درنو مفسرینو د دې آیت دا برخه ﴿ وَأُوْلُواْ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ ﴾ داسې ژباړلې: (او د الله په کتاب کې خپلوان ځیني تر ځینو نورو لومړی توب لري؛ تر نورو مؤمنانو او مهاجرینو)، دا ژباړه هم له ادبي پلوه رکاکتونه او ستونزې لري او هم د آیت له سیاق سره اړخ نه لګوي. تر دې فقرې

وروسته راغلی دغه استثناء (إِلَّآ أَن تَفۡعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِكُم مَّعۡرُوفٗاۚ) نه يوازي د دوی له تعبير سره اړخ نه لګوي بلکي په واضح توګه ښيي چي دلته هغه خپلوان مستثنی شوي چي مؤمن او مهاجر نه دي. د آيت وروستی فقره (كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا) هم د دوی له تعبير سره مناسبت نه لري، ځکه په قرآن کي تر دې وړاندي دا لارښوونه نه مومو چي خپلوان (که کافر او غير مهاجر هم وي) تر مؤمنانو او مهاجرينو اَوْلٰی دي او مؤمنان بايد دوی ته لومړی توب ورکړي، خو په قرآن کي دا لارښوونه مومو چي له غير مؤمن او غيرمهاجر سره که خپل وي او که پردی په معروفه توګه ښېګڼه کولی شو. قرآن فرمايي:

لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ﴿٨﴾

الممتحنه: ٨

الله له هغو نه يئ منع کړي چي له تاسو سره نه دي جنګېدلي او تاسو ئې له خپلو مېنو نه يئ ايستلي، چي ښېګڼه ورسره وکړئ او عادلانه چلن ورسره وکړئ، يقيناً چي الله مقسطين خوښوي.

په حقيقت کي د الاحزاب د سورې په دغه مبارك آيت کي د الممتحنه د سورې د اتم آيت مزيد وضاحت شوی.

دې ته مو هم بايد پام وي چي د دې الهي ارشاد له مخي د رسول اللهﷺ ټولي مېرمني د احترام او درناوي له پلوه د مؤمنانو د ميندو حيثيت لري، که څوك د رسول اللهﷺ د مېرمنو درناوی نه کوي، خپلي معنوي ميندي ئې نه ګڼي، د هغوی د شأن او حيثيت په اړه کړه کړه خوله خوځوي، هغه نه يوازي د الله تعالی د صريح حکم خلاف عمل کوي، بلکي د اسلام او د اسلام د ستر پيغمبرﷺ په اړه داسي ستره دښمني کوي چي تر بلي هري دښمنی سخته، قبيح او کرکجنه ده، خدای وهلي شيعه په همدې بيماری اخته شوي، هغوی د عائشې صلی په څېر د هغه ستر شخصيت په اړه ناروا تبليغات کوي چي د قرآن يوه مکمله سوره د هغې په دفاع کي نازله شوې، د النور سوره له سر تر پايه د هغه اتهام د رد او غندلو په اړه نازله شوې چي د منافقينو له لوري د عائشې صلی په ضد وارد شوی وو. له دې پلوه له رسول اللهﷺ وروسته هيڅا ته دا شرف او افتخار نه دئ په برخه شوی چي په قرآن کي دي په دومره صريحو الفاظو د هغه برائت اعلان شي، د شيعه ځيني بدمغزه او بدطينته آخوندان وايي چي رسول اللهﷺ تر رحلت وړاندي علي ﷻ ته دا واك ورکړی وو چي کولی شي د رسول اللهﷺ د کومي مېرمني نوم د امهات المؤمنين له فهرست حذف کړي او هغه دا کار وکړ او عائشه صلی ئې له دې فهرست وايستله!! دا بدبختان نه دې ته ګوري چي قرآن د رسول اللهﷺ ټولي مېرمني د مؤمنانو ميندي ګڼلي دي او د قرآن يوه مکمله سوره د عائشې صلی په برائت او پاك لمنی شهادت

ورکوي او نه دي ته چي په داسي کرکجنو ادعاګانو او جعلي روایاتو سره د رسول اللهﷺ او د هغه د درنې او متقي کورنی هتك حرمت کوي!! آیا دا ممکنه ده چي د چا په زړه کي دي یوه ذره ایمان وي او هغه دي د رسول اللهﷺ د ټبر په اړه داسي هتك حرمت وکړي؟!

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ وَإِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۖ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿٧﴾ لِّيَسۡـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدۡقِهِمۡۚ وَأَعَدَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿٨﴾

او هغه مهال چي له انبیاوو مو د دوی تړون واخیست، له تا، له نوح، ابراهیم، موسی او عیسی د مریمي زوی، او له دوی مو کلك تړون واخیست، تر څو له رښتینو د دوی د رښتینولۍ پوښتنه وکړي، او کافرانو ته ئې ځانګړی دردوونکی عذاب تیار کړی.

(۷-۸)- په دې مبارك آیت کي له پیغمبرانو ﷺ د یوه تړون اخیستلو موضوع ته اشاره شوې او ویل شوي چي له دې لاري الله تعالی له رښتینو د دوی د رښتینولۍ پوښتنه کوي، په داسي حال کي چي کافرانو ته ئې ځانګړی دردوونکی عذاب تیار کړی. دا پوښتنه راولاړیږي چي دا تړون څه دئ؟ دلته دغه تړون ته په واضحو الفاظو اشاره نه ده شوې، د قرآن په نورو آیتونو کي د دې میثاق مختلف بندونه توضیح شوي، لکه دا چي له الله تعالی پرته به د بل چا عبادت نه کوي، د دین په مضبوطي رسۍ به خپلي منګولي کلکي ساتي، د الله تعالی پیغام به په پشړه توګه او په امانت سره خلکو ته رسوي، په دین کي به له تفرق ډډه کوي، د نورو پیغمبرانو ملاتړ او تأیید به کوي، له الله تعالی پرته به له بل چا وېره نه لري، د پیغام په رسولو کي به د خلکو د مخالفتونو پروا نه کوي، خو دا چي د رښتینو رښتینولي څنګه له دې لاري معلومېدی شي په دې پوهېدل لږ وضاحت غواړي او هغه دا چي ډېر خلك پر الله تعالی د ایمان دعوی کوي، کله په خپله د خپل ځان په اړه داسي انګېري چي مؤمن او متقي دئ او کله نور د ده په اړه همدا ګمان کوي، خو په حقیقت کي او د الهي معیارونو له مخي نه مؤمن وي نه صالح او متقي، قرآن د پیغمبر اطاعت د ایمان او تقوی لپاره معیار او ملاك ګڼي؛ هغه څوك د ایمان، تقوی او له الله تعالی سره د مینې په ادعاء کي رښتینی بولي چي عملاً او د ژوند په ټولو ډګرونو کي د پیغمبر اطاعت وکړي، د پیغمبرانو د بعثت او د هغه تړون له لاري چي الله تعالی له دوی اخیستی هغه وګړي څرګندیږي چي د ایمان په دعوی کي رښتیني دي، له همدې لاري د کافرانو په اړه حجت بشپړ کیږي او د هغه دردناك عذاب مستحق ګرځي چي الله تعالی د دوی لپاره تیار کړی. که دلته د آیت سیاق و سباق ته په پام سره دا مطلب توضیح کړو چي له پیغمبرانو د تړون اخیستل او له رښتینو د دوی د رښتینولۍ پوښتلو تر منځ تړاو څنګه دئ نو د وروستي آیت په رڼا کي دا مطلب راته جوتیږي چي د الهي میثاق له مخي پر پیغمبرانو او د دوی پر صادقو پلویانو داسي سخت آزمېښتونه راځي چي په ترڅ کي ئې صادق او کاذب سره

ببلېږي، په وروستي آيت کي به وګورئ چي مسلمانان له همداسي يوې سختي آزمويني سره مخامخ شوي وو چي په نتيجه کي رښتيني مؤمنان او هغه چي په زړونو کي ئې بيماري او نفاق وو جوت شول. په ۱۵ آيت کي دې ژمني ته اشاره شوې چي له دښمن سره د مقابلې په دوران کي به تېښته نه کوئ او دښمن ته به شا نه اړوئ، او د آيت په پای کي ويل شوي چي د الهي ژمني پوښتنه کېږي، له دې په ډېر صراحت سره معلومېږي چي په آيت کي له پيغمبرانو صلى د تړون اخيستلو دقيق تعبير همدا دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَآءَتۡكُمۡ جُنُودٞ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا
وَجُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾ إِذۡ جَآءُوكُم مِّن فَوۡقِكُمۡ
وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ وَإِذۡ زَاغَتِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلۡقُلُوبُ ٱلۡحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ
ٱلظُّنُونَا۠ ﴿١٠﴾ هُنَالِكَ ٱبۡتُلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَزُلۡزِلُواْ زِلۡزَالٗا شَدِيدٗا ﴿١١﴾ وَإِذۡ يَقُولُ
ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورٗا ﴿١٢﴾ وَإِذۡ
قَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ يَٰٓأَهۡلَ يَثۡرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمۡ فَٱرۡجِعُواْۚ وَيَسۡتَـٔۡذِنُ فَرِيقٞ مِّنۡهُمُ ٱلنَّبِيَّ
يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوۡرَةٞ وَمَا هِيَ بِعَوۡرَةٍۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارٗا ﴿١٣﴾ وَلَوۡ دُخِلَتۡ
عَلَيۡهِم مِّنۡ أَقۡطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُواْ ٱلۡفِتۡنَةَ لَأٓتَوۡهَا وَمَا تَلَبَّثُواْ بِهَآ إِلَّا يَسِيرٗا ﴿١٤﴾ وَلَقَدۡ
كَانُواْ عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ لَا يُوَلُّونَ ٱلۡأَدۡبَٰرَۚ وَكَانَ عَهۡدُ ٱللَّهِ مَسۡـُٔولٗا ﴿١٥﴾

اې هغو چي ايمان ئې راوړی! پر تاسو د هغه مهال الهي پېرزوينه درياد کړئ چي لښکري درته راغلې نو موږ سيلۍ پرې ولېږله او داسي لښکري چي تاسو ونه ليدلې، او الله د هغه څه ښه ليدونکی وو چي تاسو کول، هغه مهال چي له بره مو هم درباندي راغلل او ستاسو له کوز لوري هم، او هغه مهال چي سترګي تتي شوې وې او زړونه ستونو ته رسېدلي وو او د الله په اړه مو ډول ډول ګمانونه کول، هملته مؤمنان وآزمويل شول او په سختي لړزېدا سره ولړزول شول، او هغه مهال چي منافقينو او هغو چي په زړونو کي ئې مرض دئ ويل: الله او د ده رسول له يو ډول غولولو پرته د بل څه وعده نه وه راسره

کړې، او هغه مهال چې د دوی يوې ډلې وويل: اې د يثرب استوګنو! د تېکي ځای درته نشته؛ نو بېرته ستانه شئ، او د دوی يوې لويې ډلې په داسي حال کي له پيغمبر اجازه غوښتله چې ويل ئې: يقيناً چې زموږ کورونه نامحفوظ دي، حال دا چې نامحفوظ نه ول، له تېښتي پرته ئې بل څه نه غوښتل، او که له اطراف ئې پرې ورننوتي وی بيا فتنه ترې غوښتل شوې وی؛ حتماً به ورغلي وو او د هغې په اړه به له معمولي درنګ پرته نه وو تم شوي. په داسي حال کي چې تر دې وړاندي ئې له الله سره ژمنه کړې وه چې شا به نه اړوي، او الهي ژمنه خو داسي ده چې پوښتنه ئې کېږي.

(۹-۱۵)- په دې مبارکو آيتونو کي د احزاب د جګړې يو دقيق او زړه راښکونکی انځور وړاندي شوی چې په ترڅ کي ئې د ايمان په لار کي او د پيغمبرانو صلى په ملګرتيا کي د مؤمنانو د آزمويلو يوه بېلګه زموږ په وړاندي اېښودل شوې، په دې تاريخي بېلګې کي له يوې خوا د ستر بريد په وړاندي له مؤمنانو سره د الله تعالى مرسته، په ډېر سخت حالت کي د مؤمنانو آزمېښت، د صبر او استقامت په نتيجه کي پر ستر دښمن او د ټولو دښمنانو د ګډ لوی بريد په وړاندي د دوی حيرانوونکې بريا، د مسلمانانو له ليکو د منافقينو او بيمارزړو د بېلېدا هڅه، د الهي وعدو په اړه د دوی د عدم باور او اعتقاد څرګندېدا، له خپلو مخکنيو ژمنو تر شا کېدا او د کافرانو لوري ته د دوی د تمايل په څېر ستر ستر مسائل په کي څېړل شوي. بحث مؤمنانو ته په دې الهي خطاب پيل شوی: اې هغو چې ايمان ئې راوړی! پر تاسو د الله تعالى هغه پېرزوينه درياد کړئ چې ډېرې لښکرې ستاسو خوا ته راورسېدې، الله تعالى سيلۍ پرې مسلطه کړه او داسي لښکرې ئې د دوی د خورولو لپاره ولېږلې چې تاسو په خپلو سترګو نه ليدلې، تاسو چې هغه مهال په کوم وضعيت کي وئ، هر يوه مو څه کول، هر يوه مو کوم دريځ غوره کړی وو؛ الله تعالى ليدلئ، ستاسو د هر څه ښه ليدونکی وو، هغه مهال چې له بره مو هم د دښمن لښکري درباندي راغلې او ستاسو له کوز لوري هم، ځيني د نجد او خيبر له لوري راغلل چې تر مدينې بر سيمه ګڼل کېده او ځيني د مکې له لوري چې د مدينې لر سيمه ګڼل کېده، هغه مهال چې د هيبت او وېرې له کبله د ډېرو سترګې خړې شوې وې، زړونه ئې ستونو ته رسېدلي وو او د الله په اړه ئې ډول ډول ګمانونه کول، هملته مؤمنان وآزمويل شول او په سختي لړزېدا سره ولړزول شول. همدا هغه مهال وو چې منافقينو او هغو چې په زړونو کي ئې مرض دئ ويل: د الله او د ده د رسول هغه د برې او برلاسي وعدې چې موږ ته ئې راکولې له يو ډول غولولو پرته بل څه نه وو، هغه مهال چې د دوی يوې ډلې وويل: اې د يثرب استوګنو! د تېکي ځای درته نشته؛ چې له دې خبرې ئې يا مراد دا وو چې نه دلته تم کېدی شئ او نه دا د خندق خوا ته تم کېدا ستاسو لپاره مناسبه او ګټوره ده، غوره دا ده چې بېرته ستانه شئ، او يا ئې مراد دا وو چې په اسلام تينګار هيڅ ګټه درته نه لري راشئ بېرته خپل پلرني دين ته واوړئ، او د دوی يوې لويې ډلې په داسي حال کي له پيغمبر صلعم اجازه غوښتله چې ويل ئې: يقيناً چې زموږ کورونه نامحفوظ دي، مجبور يو خپلو کورونو ته ستانه شو او د حفاظت څه انتظام ئې وکړو، حال دا چې کورونه ئې نامحفوظ نه ول، له تېښتي پرته ئې بل څه نه غوښتل، له دې خبرې ئې قصد او اراده يوازې دا وه چې خپلې تېښتي ته يوه

بهانه جوړه کړي، او که په همدې حالت کې د دښمن لښکري مدينې ته ننوتي وی او له دغو منافقينو ئې په کومې فتنې کې د برخې اخيستو غوښتنه کړې وی نو له کوم ځنډ پرته به په دې فتنې کې د برخې اخيستو لپاره چمتو شوي وو، يعنې که دوی ته د کفارو له لوري د اسلام او مسلمانانو په ضد د کوم کار او د کافرانو د ملګرتيا بلنه ورکړی شوې وی نو له کوم ځنډ پرته به ئې دا بلنه منلې وه او په فتنې کې د پرېوتو په اړه به ئې له معمولي درنګ پرته ځنډ نه وو کړی. دا په داسې حال کې چې تر دې وړاندې ئې له الله تعالی سره ژمنه کړې وه چې شا به نه اړوي، او الهي ژمنه خو داسې ده چې پوښتنه ئې کېږي. نه به دښمن ته شا اړوي او نه به له اسلام د کفر لوري ته اوړي.

په دې مبارکو آيتونو کې دښمن ته شا کول او خپله مورچل ورته پرېښودل د هغې ژمنې خلاف کار ګڼل شوی چې هر مسلمان ئې له خپل رب سره لري؛ هغه ژمنه چې پر خدای د ايمان او په قرآن د باور غوښتنه ده. دا څه عادي ژمنه نه ده، الله تعالی حتماً د هغې پوښتنه کوي. له دښمن تېښته او سنګر ورته پرېښودل، نه تا له مرګ ژغورلی شي او نه له وژل کېدو. که فرضاً د تېښتې په نتيجه کې له وژل کېدو وژغورل شې، ما ته ووايه چې څومره وخت به نور ژوندی وې، چا دا تضمين درکړی؟!! آيا داسې څوك او يا داسې کوم تدبير په نظر درځې چې له الله تعالی دې وساتلی شي؟ که خدای ستا لپاره د کوم ضرر اراده وکړي هغه څوك دئ چې د دې ضرر مخه ونيسي؟ او که خدای ستا د بري او فتحې اراده کړې وي هغه څوك دئ چې د دې مانع شي. له الله تعالی پرته نه کوم مولا او چاري سمبالوونکی لرې او نه کوم مرستندوی.

لکه چې ګورئ په دې مبارکو آيتونو کې د احزاب د سترې جګړې او د مخالفينو له لوري د دوی د وروستې ستر ګډ بريد ډېر جامع او دقيق انځور زموږ مخې ته خلېږي، او ښيي چې د ايمان په لار کې د احزاب له جګړې سره مخامخېدل يو طبيعي بهير او د هغه تړون يو بند دئ چې الله تعالی له اولوالعزمه پيغمبرانو او د دوی له لارې له ټولو مسلمانانو اخيستی دئ، ټول بايد ذهناً او عملاً دې ته چمتو وي چې د خپلې مبارزې په بهير کې به حتماً له داسې حالت سره مخامخ کېږي چې د کفر، شرك، نفاق او فساد ټول ځواکونه د دوی په ضد ګډه جبهه پرانيزي او د ګډ ستر بريد پرېکړه وکړي، که له دې طبيعي پړاو سره مخامخ شول نو بايد ډاډه وي چې د صبر، استقامت او پر خپل رب د توکل په نتيجه کې به الله تعالی په خپلو غيبي لښکرو د دوی مرسته کوي، دوی ته به بريا ورکوي او دا بريد به د دوی په ضد د دښمن وروستی ناکام بريد ثابتېږي. يوه سړه سيلۍ، د دښمن د جنګياليو په زړه کې وېره او يأس اچول، له بريا ئې ناهيلي کول، د دوی تر منځ اختلاف راولاړول او دې ته ورته هغه کارونه چې الله تعالی ئې په غيبي لښکرو ترسره کوي؛ کافي دي چې لوی لوی مجهز ځوځونه خواره واره شي او تش لاس د جګړې له ډګر په شا شي، آيا د احزاب ستره تاريخي جګړه د دې حقيقت لپاره يو څرګند او انکار نه منونکی ثبوت نه دئ؟!!

د دې سورې په مقدمه کې دا مطلب واضح شوی چې د احد له ماتې وروسته داسې فضاء رامنځته شوه چې کورني او بهرني دښمنان زړه ور شول، کورنيو دښمنانو؛ منافقينو او په مدينه کې مېشت يهودانو قريشو ته بلنه ورکوله چې که پر مدينه بريد وکړي نو دوی به ئې کلکه ملګرتيا او مرسته کوي، د عربو ډېرې مشرکې قبيلې چې تر دې وړاندې ئې د مسلمانانو

په ضد د قریشو ملګرتیا او ملاتړ نه کولو او د مسلمانانو په ضد جګړو کې ئې برخه نه اخیستله د احد له ماتې وروسته زړه ور شول، ځینو قریشو ته اطمئنان ورکولو چې په راتلونکو جګړو کې به د دوی ملګرتیا کوي، ځینو په خپله پر مدینې د برید تیاری نیولو، ځینو د دوکې او خدعې له لارې مسلمانانو ته د ضرر او تاوان رسولو توطئې جوړولې، خو الله تعالی د دښمنانو ټولې توطئې شنډې کړې، رسول الله ﷺ هر دښمن ته په خپل وخت مناسب ځواب ورکړی او د هغه برید ئې شنډ کړی، دغو پیښو ټول دښمنان دې ته متوجه کړل چې د عربو هیڅ قبیله د قریشو په شمول په یوازې توګه او د نورو له مرستې او ملګرتیا پرته د مسلمانانو مقابله نشي کولی، له دې پرته بله چاره نه لري چې ټول په ګډه او د یوه ستر برید له لارې د مسلمانانو له دې ورځ په ورځ زیاتېدونکې ګواښ ځان د تل لپاره وژغوري. دښمنانو د یوه ګډ لوی برید ضرورت هغه مهال لازیات احساس کړ چې رسول الله ﷺ د حجاز او شام تر منځ پرتې سیمې دومة الجندل کې د مېشت شوکه مارو هغه ډله وځپله چې دلته به ئې تجارتي قافلې لوټلې، رسول الله ﷺ د پنځم هجري کال د ربیع الاول په میاشت کې له زرو مجاهدینو سره د دې لوټمارو د تأدیب لپاره په هغه لوري وخوځېدو، هغوی خپله سیمه پرېښوده او وتښتېدل، د مسلمانانو دغې سترې بریا دښمنان لازیات هیبت وهلي کړل او د دوی د خیرنو زړونو کینه ئې لازیاته تشدید کړه، همدا د احزاب د تاریخي جګړې شالید او محرکات ول. په دې جګړې کې د مسلمانانو ټولو دښمنانانو په یوې او بلې بڼې کې برخه واخیسته، د پنځم هجري کال د شوال په میاشت کې د دښمن لښکرې د مدینې په لور وخوځېدې، له مکې د قریشو د سردارانو تر مشرۍ لاندې لوی لښکر د مدینې له لاندې لورې او له نجد او خیبر د دغو سیمو د یهودانو او مشرکانو د مذهبي او قومي مشرانو تر قیادت لاندې د مدینې له بر لوري وخوځېدل او د مدینې په شمال کې سره یو ځای شول. دا مخالفین د بني نضیر د هغې یهودې قبیلې مشرانو دې جګړې ته هڅولي ول چې د یوې ناکامې توطئې له کبله له مدینې وشړل شوه، دوی لومړی قریشو ته او بیا د عربو نورو قبائلو ته په ننواتې ورغلل او هغوی ئې یو ګډ لوی برید ته چمتو کړل. دا لښکر دومره ستر وو چې د عربو په تېر تاریخ کې هیڅکله دومره ستر لښکر په یوه برید کې برخه نه وه اخیستې، د مسلح جنګیالیو شمېر ئې تر لس زره زیات وو، هیچا دا ګمان نه کولو چې مسلمانان به د دې برید په وړاندې مقاومت وکړی شي، د هر چا انګېرنه دا وه چې دا ځل به مدینه د دښمن په لاس کې پرېوځي او مسلمانان به یا وژل کېږي او یا به د مدینې پرېښودو ته اړ کېږي. خو داسې ونه شول، کله چې دښمن د مدینې شمالي څنډې ته ورسېدو په ناڅاپي توګه له داسې څه سره مخامخ شو چې تر دې وړاندې ئې نه لیدلی وو او نه اورېدلی، یوه ژور (او احتمالاً له اوبو ډک) خندق ئې مخه ډب کړې، نه ترې اوښتی شي او نه د مدینې په لوري د پرمختګ لپاره بله لار او ګودر مومي، د دې خندق د کیندلو پرېکړه رسول الله ﷺ د سلمان فارسي ﷛ په مشوره کړې وه، لا دښمن سیمې ته نه وو رسېدلی چې د خندق کیندلو کار بشپړ شوی وو، په شپږو ورځو کې د خندق کار بشپړ شو، رسول الله ﷺ له درې زرو زړه ورو مجاهدینو سره د خندق په امتداد کې مورچلې ونیولې، دښمن یوازې له همدې لوري پر مدینې د برید امکان درلود، نورو لوریو ته داسې طبیعي خنډونه او موانع ول چې د دوی د برید مخه ئې نیولې وه، مجبور شول همدلته واړوي

او مدينه محاصره کړي، دا کلکه محاصره تر يوې مياشتې اوږده شوه، نه دښمن شاتګ ته تيار وو او نه مسلمانان له مقاومت لاس اخيستو ته، په پای کې دښمن دا هڅه وکړه چې په مدينه کې مېشت د بني قريظه يهودي قبيله دې ته چمتو کړي چې له دوی سره لاس يو کړي، په لومړي سر کې هغوی منفي ځواب ورکړ او ورته وئې ويل چې موږ له مسلمانانو سره په خپلې معاهدې ولاړ يو، تر نن پورې مو نه له دوی د معاهدې خلاف کوم عمل ليدلی او نه کوم تاوان، خو وروسته د دښمن د دې وينا تر اغېز لاندې راغلل چې ورته ويل ئې: داسې مناسب فرصت له لاسه مه ورکوئ، دومره ستر لښکر بيا نشي راغونډېدی، همدا د مسلمانانو د ځپلو وروستی فرصت دئ... د بني قريظه مشرانو توافق وکړ چې له دوی سره به د مسلمانانو په ضد ملګرتيا کوي، رسول الله ﷺ ته د دې موضوع اطلاع ورسېده، د انصارو مشران ئې د سعد بن معاذ او سعد بن عباده په شمول دوی ته ورولېږل چې حقيقت معلوم کړي، په خپلو ژمنو ودرېدو ته ئې تشويق کړي، دوی ته ئې ويلي وو چې که د بني قريظه ځواب منفي وو نو يوازې ده ته به اطلاع ورکوي او که ئې ځواب مثبت وو او له دښمن سره د ملګرتيا پرېکړه ئې نه وه کړې نو په لوړ ږغ دې ټولو مسلمانانو ته دا خبره اعلان کړي، خو وفد له دوی سره له خبرو وروسته متوجه شو چې د خيانت اراده لري، له دوی ئې نه يوازې منفي ځواب ترلاسه کړ بلکې دا ئې ترې واورېدل چې ويل ئې: زموږ او محمد تر منځ نه کوم تړون شته او نه کومه ژمنه، که څه هم دې پلاوي خبره پټه وساتله او يوازې رسول الله ﷺ ته ئې حقيقت څرګند کړ خو دا خبره ډېر ژر هر لوري ته خوره شوه، د دوی غداري مسلمانان سخت اندېښمن کړل، منافقينو ته دا فرصت په لاس ورغی چې خپل تبليغات تشديد کړي او د مسلمانانو د همت کمزوري کولو لپاره ترې استفاده وکړي، مسلمانان د بني قريظه له لوري ډاډه ول او رسول الله ﷺ هغه لوري ته د دفاع کوم ځانګړی انتظام نه وو کړی، حتی ځينو مسلمانانو خپلې کورنۍ دې لوري ته لېږلې وې، منافقينو به ويل: موږ ته د روم او فارس د فتحې زېرې راکول کېدل خو اوس مو حالت داسې دئ چې له خپلو مورچلو بهر نشو وتلی، دا د فتحې او برياوو زېرې هسې زموږ د غولولو لپاره ول، ځينو ويل چې غوره دا ده قريشو ته تسليم شو، د هغوی شرائط ومنو، له اسلام او مسلمانۍ لاس واخلو او خپل مخکني دين ته ستانه شو، ځينو لا دا هم ويل چې د دې ستونزې حل يوازې دا دئ چې محمد (صلعم) قريشو ته تسليم کړو!! رسول الله ﷺ دا مهال د بني غطفان له قبيلې سره خبرې پيل کړې وې، غوښتل ئې هغوی دې ته چمتو کړي چې له جګړې لاس واخلي او د قريشو ملګرتيا پرېږدي چې په بدل کې به ئې د مدينې د حاصلاتو درېيمه برخه دوی ته ورکړي، خو کله چې ئې په دې اړه د انصارو له مشرانو سعد بن معاذ او سعد بن عباده وپوښتل هغوی ورته وويل: يا رسول الله! دا ستا خپله رأيه ده او پر موږ د زړه سوي لپاره ئې وړاندې کوې که د الله تعالی له لوري وحې؟ که وحې وي موږ له اطاعت پرته بل ځواب نه لرو خو که پر مو ږ د زړه سوي له کبله وي نو په خدای قسم چې موږ د شرک په حالت کې دوی ته جزيه نه وه ورکړې نو اوس چې الله تعالی په اسلام سره موږ ته عزت راپه برخه کړ څنګه به هغوی ته جزيه ورکوو؟!!، اوس به زموږ او دوی تر منځ پرېکړه په توري سره کېږي!! رسول الله ﷺ د دوی د همتناک ځواب له اورېدو وروسته دا لړۍ متوقفه کړه او حتی ويل شوي چې د معاهدې مسوده ئې وشلوله.

دغه مهال د غطفان د قبيلې د اشجع څانگې يو كس د نعيم بن مسعود په نامه چې نوى مسلمان شوى وو او هيڅوك د ده له مسلمانېدو خبر نه وو رسول اللهﷺ ته راغى او وئې ويل: يا رسول الله! زه نوى مسلمان شوى يم، هيڅوك زما له مسلمانېدو خبر نه دئ، كه ما ته د څه كولو امر كوې چمتو يم، كولى شم د دوى تر منځ تفرقه او اختلاف راولاړ كړم، رسول اللهﷺ د ده له وړانديز سره توافق وكړ چې همدا كار وكړي، هغه لومړى بني قريظه ته ورغى او ورته وئې ويل: كېدى شي قريش او غطفان د محاصرې له اوږدېدو تنگ او بېرته ستانه شي، دا كار هغوى ته نه گران دئ او نه كوم تاوان وررسوي، خو تاسو به همدلته په مدينه كې له مسلمانانو سره يوازې پاته يئ، نه به قريش د مسلمانانو په وړاندې ستاسو مرسته كولى شي او نه غطفان او نورې قبيلې، ښه به دا وي چې هغوى ته همدا خبره وكړئ او ورته ووايئ: په جگړې كې به يوازې هغه مهال برخه اخلو چې تاسو څو كسان موږ ته د يرغمل په توگه راكړئ چې مطمئن شو تاسو به موږ يوازې نه پرېږدئ، هغوى دا وړانديز خوښ كړ او پرېكړه ئې وكړه چې خپله مطالبه او شرط به قريشو ته وايي، نعيم له دې وروسته د قريشو او غطفان مشرانو ته ورغى او هغوى ته ئې وويل: داسې معلومېږي چې قريظه له خپلو ژمنو په شا شوي او غواړي ستاسو ځيني كسان يرغمل كړي او محمد (صلعم) ته ئې تسليم كړي او په دې توگه د هغه باور بېرته ترلاسه كړي، بايد له دوى سره په خپلې معاملې كې محتاط وو، كله چې هغوى د قريظه مشرانو ته دا خبره وكړه چې محاصره اوږده شوه، جنگيالي تنگ شوي، بايد گډ بريد پيل كړو، هغوى د يرغمل كسانو غوښتنه ترې وكړه، د متحده محاذ مشران پوه شول چې د نعيم وينا دقيقه وه، د دوى دا شرط ئې قبول نه كړ، بني قريظه هم متوجه شول چې د نعيم مشوره سمه وه او د متحده محاذ مشران دوى په دې جگړې كې ښكېلوي او بيا ئې يوازې پرېږدي!! په دې توگه گډ بريد وځنډېدو، له محاصرې نږدې پنځه ويشت ورځې تېرې شوې وې، په همدې ظروفو او شرائطو كې يوه شپه سخته سړه سيلۍ راغله، داسې تياره خوره شوه چې چا خپل لاس نشو ليدلى، د دښمن خيمې ئې ونړولې، د پخلي ديگونه ئې نسكور كړل، اوښانو او آسونو ئې پړي وشلول او په تېښته شول، د دښمن د هر جنگيالي همت ئې داسې وځپلو چې د سيمې له پرېښودو پرته ئې بله پرېكړه نه شوى كولى، سحر چې رڼا خوره شوه او مسلمانانو د لښكر مورچلو ته وكتل ټوله سيمه ئې په بشپړه توگه تشه وموندله!! دغه مهال رسول اللهﷺ وفرمايل: دوى به له دې وروسته بيا پر تاسو بريد ونه كړى شي تاسو به پرې بريدونه كوئ.

وعن جابر بن عبد الله أن رسول اللهﷺ قال يوم الأحزاب ... "لا يغزوكم بعدها أبداً ولكن تغزوهم". مجمع الزائد

دا د دښمن د وضعيت په اړه د رسول اللهﷺ ژور او دقيق معلومات، د جزيرة العرب د هغه مهال د حالت په ارتباط د ده صحيح پېژندنه او تحليل او يوه دقيقه وړاندوينه وه چې په بشپړه توگه رښتيني ثابته شوه، همداسې وشول، قريشو او نورو مشركينو بيا پر مسلمانانو د بريد امكان ترلاسه نه كړ.

قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلۡفِرَارُ إِن فَرَرۡتُم مِّنَ ٱلۡمَوۡتِ أَوِ ٱلۡقَتۡلِ وَإِذٗا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا
قَلِيلٗا ١٦ قُلۡ مَن ذَا ٱلَّذِي يَعۡصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ سُوٓءًا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ رَحۡمَةٗۚ
وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٧

ووايه: كه وتښتئ دا تېښته به هيڅکله تاسو ته له مړيني او وژل كېدو (كومه) ګټه درونه رسوي، او په هغه صورت كي به له لږ شاني پرته برخمن نه كړى شئ، ووايه: هغه څوك دئ چي له الله مو خوندي وساتي كه كوم بدوالى درته وغواړي او يا كومه پېرزوينه درته وغواړي؟! او له الله پرته به نه ځان ته كوم مولا ومومي او نه كوم مرستندوى.

(١٦-١٧)- په دې مباركو آيتونو كي رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چي منافقينو او هغو ته چي د دې جګړې په دوران كي ئې بې همتي كړې، داسي سخته وېره پرې مسلطه شوې چي غوښتل ئې سنګر پرېږدي او وتښتي؛ ووايي: كه وتښتئ او دښمن ته شا كړئ نو دا تېښته نه تاسو له مړيني ژغورلى شي او نه له وژل كېدو، ستاسو دا د تېښتي غلط تدبير په دې اړه هيڅ ګټه نه دررسوي، كه احياناً ستاسو مرګ او وژل كېدا وځنډېږي نو دا ژوند به له دې پرته بل څه نه وي چي څو لنډي ورځي د دنيا له مال متاع برخمن شئ!! كه الله تعالى ستاسو په اړه دا پرېكړه كړې وي چي تاوان دررسېږي او له كوم كړاو سره مخامخ شئ آيا داسي څوك مومئ چي له الله تعالى مو خوندي وساتي او له ستونزي او كړاو سره له مخامخېدو مو وژغوري؟! او كه د جنګ په ميدان كي او هغه مهال چي ستر لښكر ستاسو په ضد راغونډ شوى الله تعالى وغواړي خپله پېرزوينه درپه برخه كړي؛ آيا داسي څوك شته چي د الله تعالى د پرېكړې او ارادې مخه ونيسي؟! مګر نه پوهېږئ چي له الله تعالى پرته نه ځان ته كوم مولا موندلى شئ او نه كوم مرستندوى؟!

قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلۡمُعَوِّقِينَ مِنكُمۡ وَٱلۡقَآئِلِينَ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ هَلُمَّ إِلَيۡنَاۖ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلۡبَأۡسَ
إِلَّا قَلِيلًا ١٨ أَشِحَّةً عَلَيۡكُمۡۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلۡخَوۡفُ رَأَيۡتَهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ تَدُورُ
أَعۡيُنُهُمۡ كَٱلَّذِي يُغۡشَىٰ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلۡخَوۡفُ سَلَقُوكُم بِأَلۡسِنَةٍ
حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلۡخَيۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يُؤۡمِنُواْ فَأَحۡبَطَ ٱللَّهُ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى

ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾ يَحۡسَبُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ لَمۡ يَذۡهَبُواْۖ وَإِن يَأۡتِ ٱلۡأَحۡزَابُ يَوَدُّواْ لَوۡ أَنَّهُم
بَادُونَ فِي ٱلۡأَعۡرَابِ يَسۡـَٔلُونَ عَنۡ أَنۢبَآئِكُمۡۖ وَلَوۡ كَانُواْ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓاْ إِلَّا
قَلِيلٗا ﴿٢٠﴾

بې شکه چي الله ستاسو خنډ کېدونکي وګړي او هغه ښه پېژندلي چي خپلو ورونو ته (د دې وینا) ویوونکي وو: زموږ لوري ته راشئ په داسي حال کي چي په جګړي کي برخه نه اخلي مګر ډېر لږ، پر تاسو (د هري ښېګڼي) په اړه بخل کوونکي، کله چي د وېري حالت راشي نو دوی به ووينې چي ستا په لوري به داسي ګوري چي سترګی به ئې رغړي، د هغه چا په څېر چي د مرګ (د وېري او هیبت) له کبله بې سده شوی، خو کله چي وېره (او د خوف حالت) له منځه ولاړ شي له تاسو سره به په تېرو ژبو مخامخ کېږي، د مال ډېر حرص لرونکي، دوی ایمان نه دئ راوړی، نو الله د دوی عملونه حبط کړل او دا کار الله ته آسان دئ. داسي انګېري چي (د دښمنانو) ډلي لا نه دي تللي او که احزاب (بیا) راشي دا به خوښوي چي د کوچیانو په ډلي کي په بېدیا کي اوسېدی او ستاسو خبري ئې (له يوه او بل) پوښتلی، او که (احياناً) په تاسو کي وی نو نه به وو جنګېدلي مګر ډېر لږ.

(۱۸-۲۰)- په دې مبارکو آيتونو کي د جهاد مخالفين داسي معرفي شوي:

- **الله جل شأنه دوی ښه پيژني، که هرڅومره بهانې وکړي، خلك وغولوي، د خپل ناروا دريځ لپاره غولوونکي دلائل وړاندي کړي، الله تعالى ته هم د دوی عملونه معلوم دي او هم ئې د زړه کيفيت.**
- **دوی په عملي جهاد کي برخه نه اخلي مګر ډېر لږ او هغه هم د مجبوريت له کبله.**
- **خپل ملګري او خپلوان هم له جهاد او په جګړو کي له برخې اخيستو منع کوي.**
- **د الله د لاري پر مجاهدينو ئې برى او فتح نه لورېږي.**
- **د خوف او وېري په حالت کي ئې وضعيت داسي وي لکه مرګ چي په سترګو ګوري او د مرګ وېرونکې بلا دوی ته خپله خوله پرانيستې وي.**
- **کله چي د وېري حالت ختم شي نو د خپلو تېرو ژبو توري له تېکو راوباسي او د مجاهدينو په خلاف شديد تبليغات پيل کړي.**
- **د تبليغاتو اصلي وجه او موخه ئې مال او مقام ترلاسه کول وي.**
- **دوی ايمان نه دئ راوړی، د الهي معيارونو له مخي د دوی ايمان حقيقي ايمان نه دئ او الله تعالى د دوی د ايمان دعوى نه قبلوي.**
- **الله تعالى د دوی هڅي شنډوي، هلي ځلي ئې حبطوي، پر هغو عملونو ئې هم د بطلان**

کړښه راکاږي چې په ظاهر کې ښه او نېك برېښي، د دوی ظاهري نيك عملونه د الله تعالی په وړاندې هېڅ قدر او قيمت نلري.

- الله ته دا آسانه ده چې د مسلمانانو په ضد د دغو منافقينو هڅې حبط کړي.
- داسې انګېري چې دښمنان ئې سر ته ولاړ دي او خپلې تېرې توري ئې د دوی پر سر نيولې دي، د دښمن د خوړېدو په وخت کې هم داسې ګمان کوي چې لا د دوی جنګيالي نه دي تللي.
- که دښمن بېرته راستون شي نو دا به خوښوي چې له مسلمانانو او د جنګ له ډګر لرې په بيديا کې له کوچيانو سره اوسېدی او شېبه په شېبه ئې د جنګ حال معلومولی او له يوه بل ئې د جنګ او په جنګ کې د مسلمانانو له وضعيت پوښتنې کولی.
- که احياناً د جنګ په دغسې يوه حالت کې د مسلمانانو په څنګ کې پاتې کېدو ته اړ شي نو په جنګ کې به برخه وانه خلي مګر ډېر لږ.

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْأَخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾

يقيناً چې تاسو ته د الله په استازي کې نېکه بېلګه او اسوه ده. هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځې ته اميد ساتي او الله زيات يادوي.

(۲۱)- په دې مبارك آيت کې موږ ته لارښوونه شوې چې رسول الله ﷺ د مؤمنانو لپاره داسې ځلانده قدوه دئ چې پر الله تعالی او آخرت باندې د ايمان او الله تعالی او آخرت ته د اميد او هيلې ساتلو څرنګوالی د هغه په سنت او کړنلارې کې پېژندی شي، يعنې څوك چې غواړي الله تعالی ته د هيلې درلودو په څرنګوالي وپوهېږي او هغه عملونه وپېژني چې له کبله ئې انسان د الله د مرستې، رعايت او عنايت طمع او هيله کولی شي، نو دا دې له پيغمبر صلعم زده کړي، څوك چې غواړي وپوهېږي آخرت ته هيله او اميد درلودل يعنې څه؛ او غواړي هغه عملونه وپېژني چې په آخرت کې به ګټه وررسوي او له دې لارې کولی شي د نېك آخرت طمع ولري نو هغه دې آخرت ته د طمعې او هيلې څرنګوالی له پيغمبر ﷺ زده کړي او څوك چې غواړي د الله د زيات ذکر په څرنګوالي پوه شي بايد په دې کې د پيغمبر صلعم متابعت وکړي، پيغمبر بايد د ده لپاره اسوه او قدوه وي او د هغه په شخصيت کې او د ده د اخلاقو او کړنو په رڼا کې د دې خبرو په حقيقت ځان پوه کړي، د ژوند په ټولو مسائلو کې بايد پيغمبر صلعم موږ ته بېلګه، اسوه او قدوه وي، الله ته د هيلې درلودو په څرنګوالي کې، د آخرت په نسبت ايمان درلودلو، د اعمالو د نتائجو په اړه آخرت ته طمع او هيله ساتلو او د الله د زيات يادولو او ذکر په څرنګوالي کې بايد پيغمبر زموږ قدوه او اسوه وي.

دلته بايد څو مهمې خبرې په پام کې ولرو:

- دا موضوع د داسې بحث په ترځ کې راغلې چې يو ستر جنګ او په هغه کې د بېلو بېلو

ډلو دريځونه څېړل شوي، د دې معنى دا ده چې دلته پر الله تعالى ايمان او هغه ته طمع او هيله درلودل، په آخرت باور او اخروي سعادت ته هيله درلودل هغه مهال حقيقي ايمان او پر ځای طمع او هيله ده چې د جنګ په سخت حالت کې د انسان دريځ داسي وي لکه د رسول اللهﷺ دريځ، څوك چې پر الله تعالى او آخرت د ايمان دعوى کوي، ګمان او انګېرنه ئې دا وي چې ايمان ئې د الله تعالى په وړاندې مقبول او هيله ئې پر ځای ده خو نه د دين دښمنو ځواکونو په ضد هغه څه کوي چې رسول اللهﷺ کړي او نه د جګړو په سختو حالتونو کې داسي دريځ غوره کوي چې رسول اللهﷺ غوره کړی؛ نه ئې د ايمان دعوى ارزښت لري او نه ئې هيلي او ګمانونه صحيح او پر ځای دي. تاسو به ډېر داسي اشخاص او ډېري داسي مذهبي فرقې او ډلي وګورئ چې پر الله تعالى، آخرت او رسول اللهﷺ د ايمان دعوى کوي، د رسول اللهﷺ په ستاينې کې به دومره مبالغه کوي چې مسيحيانو د عيسى **صلعم** په اړه کوله، دومره غلو چې عيسى **صلعم** ئې د خدای زوی، د خدای ځای ناستی او حتى درېيم خدای او په خپله خدای وګڼلو!! دومره غلو چې الله تعالى هغوى ته وفرمايل:

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا

 النساء: ۱۷۱

اې اهل کتابو! په خپل دين کې غلو مه کوئ او د الله په اړه له حق پرته بل څه مه وايئ، بې شکه چې مسيح د مريمي زوی خو يوازې د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چې مريمي ته ئې القاء کړې وه او د ده يوه روح، نو پر الله او پيغمبرانو ئې ايمان راوړئ او مه وايئ چې درې دي، ډډه وکړئ، چې دا درته غوره دئ، الله خو يوازينى اله دئ، له دې منزه دئ چې کوم زوی ئې وي، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د ده دي او الله د وکيل په توګه کافي دئ.

په دې مبارك آيت کې د محرف مسيحيت د ترديد لپاره په موجزو او مختصرو الفاظو سره داسي پرېکنده او قاطع استدلال شوی چې د دې او هر هغه جعلي مذهب د ترديد لپاره کفايت کوي چې د پيغمبرانو په اړه ئې غلو کړې، دا آيت وايي:

- دوی په دين کې غلو کړې.
- د الله په اړه د دوی وينا د حق خلاف ده.
- مسيح په الوهيت کې شريکوي، حال دا چې هغه پيغمبر وو، هغه يو انسان وو، له مريمي

پيدا شوی انسان، د الله په يوه امر له پلار پرته پيدا شو، الله ورته روح ورکړه او راژوندی ئي کړ.

- هم په الله باندي د دوی باور ناسم دئ او هم په پيغمبرانو.
- د يوه الله پر ځای په دريو خدايانو باور لري. حال دا چي الله يو دئ، نه شريك لري او نه زوی.
- زوی درلودل خو د فناء کېدونکي مخلوق د بقاء ذريعه ده او شريك درلودل خو د ضعيف او ناتوانه واکمن اړتيا ده، الله خو له دې منزه دئ چي زوی، ځای ناستی يا شريك ولري.
- هغه ذات چي د زمکي او آسمانونو هر څه د ده وي ولي به ځان ته شريك، زوی او ځای ناستی نيسي؟!!
- دوی له الله پرته بل خيالي معبود ځان ته وکيل او د چارو سنبالوونکی نيولی، حال دا چي الله د وکيل په توګه کافي دئ.

دا عجيبه مه ګڼئ چي څنګه د اهل کتابو ځينو مذهبي مشرانو د عيسی عليه السلام د وژلو دعوی کوله او پر دې ئي فخر کاوو او بلي ډلي هغه د خدای زوی او ځای ناستی کړ، دا ځکه چي دوی د طاغوت د دربار سرکاري مفتيان ول، د يوه طاغوت لپاره ئي پيغمبر ته باغي ويل او د بل لپاره ئي له هماغه مزعوم باغي (اله) جوړولو، د تاريخ په اوږدو کي دين پلورونکو سرکاري مفتيانو تل همداسي کړي. د عباسيانو په دور کي د رسول اللهﷺ د اهل بيت په اړه دومره له مبالغو ډك جعلي روايات جوړ شول چي ډېر د دين له روح بې خبر خلك ئي د شرك په ډنډ کي پرې غرق کړل، د هر روايت په بدل کي دغو جعلکارانو له عباسي حکامو له درهمو ډکي کڅوړي ترلاسه کړې!! همدغه جعلي روايات نه يوازي د شيعه خرافي مذهب بنسټ وګرځېدو بلکي ډېري نوري په خرافاتو او مبالغو کي غرقي ډلي ئي رامنځته کړې!! نامناسبه ئي مه ګڼئ که دلته له دغو ډلو يوه تاسو ته معرفي کړم: يوه پاکستاني ډله چي مرکز او مشر ئي په بريتانيا کي دئ، د بريتانيا حکومت يوه تلويزيوني شبکه په واك کي ورکړې، د دې شبکي د نشراتو محوري برخي دا دي: د عرس په نامه په زيارتونو کي د جوړو شوو مسخره غونډو او محفلونو فيلمونه، داسي نعتونه چي له ډېرو مبالغو ډك وي، رسول اللهﷺ په داسي صفاتو ستايل چي الله تعالی نه دئ پرې ستايلی، د سينګار شوو پېغلو په غږ او تصوير کي نعتونه، د خپل مشر هغه ويناوي خپرول چي هم ئي د قرآن په آيتونو استناد دومره ناسم وي چي د صريح تحريف نوم ورکولی شو، هم ئي په رواياتو استناد داسي وي چي اکثراً پر جعلي، ضعيف، غريب او له قرآن سره متضاد او متصادم او له صحيح احاديثو سره متعارض رواياتو باندي استناد کوي، خو همدې ته له رسول اللهﷺ سره د محبت، د سنت حُجِيَّت او ... نوم ورکوي!! دې جناب او د ده پلويانو ته وايو: له رسول اللهﷺ سره د ميني او د ده سنت ته د حجت په سترګه د کتلو معنی دا ده چي عملاً د هغه اطاعت وکړو او پر سنتونو ئي عمل وکړو، موږ ته ووايئ چي تاسو له دغو مهمو مهمو سنتونو په کوم يوه عمل کړی؟ رسول اللهﷺ په خپل ټول ژوند کي، له بعثت تر رحلت پوري، د کفر او شرك ځواکونو له سردارانو او سالارانو سره مقابله کړې خو تاسو نه يوازي هيڅکله د دوی مقابله نه ده کړې بلکي تل مو د هغوی ملاتړ کړی او د هغوی مشري او زعامت مو منلی!! رسول اللهﷺ د همدې مقابلې په يوه پړاو

کي مکه له دې کبله پرېښوده او مدينې ته ئې هجرت وکړ چي د ابوجهل واکمني ئې نه منله او کله چي د مدينې په څېر پناه ځی ورته ميسر شو له ځنډ پرته ئې هجرت وکړ، خو ستاسو مشر د پاکستان له اسلامي هېواد د بريتانيا په څېر د اسلام او مسلمانانو ستر او تاريخي دښمن ته پناه وړې!! رسول الله ﷺ د مدني ژوند په لسو کلونو کي تر اويا زياتي ښنتي له دښمن سره درلودې خو ما ته ووايئ: آيا تاسو او ستاسو مشرانو په خپل ټول ژوند کي يوه شېبه په سنگر کي تېره کړې؟!! رسول الله ﷺ له هيچا په هيڅ نامه د ځان لپاره صدقه او خيرات نه دئ ترلاسه کړی او پر خپلي کورنۍ ئې د صدقاتو اخيستل حرام کړي، دا تاسو او ستاسو مشران ولي ټول ژوند د نورو په صدقاتو او خيراتونو تېروئ؟! رسول الله ﷺ په هيڅ قبر د گنبدي جوړولو اجازه نه ده ورکړې، د هيڅ مړي لپاره ئې د عرس محفل نه دئ جوړ کړی، په مدينه کي د هيڅ صحابي پر قبر نه زيارت جوړ شوی او نه گنبده، تر هغه مهاله چي پر قبرونو زيارتونه ول، جنډې ئې درلودې، مجاوران ئې درلودل، نو رسول الله ﷺ قبرونو او هدېرو ته له تلو ممانعت کولو، هغه مهال ئې اجازه ورکړه چي د قبرونو ليدو او هغوی ته د دعاء کولو او له ليدو ئې د پند اخيستلو په موخه ورشو چي پر قبرونو نه جنډې ليدل کېدې، نه گنبدي او نه ئې خوا ته د صدقاتو په طمع ناست مجاورين، دا تاسو ولي له قبرونو زيارتونه جوړ کړي او هغه مو هم دکان دئ، هم دفتر او هم آدرس؟!! قرآن وايي: کله چي به منافقين د رسول الله ﷺ حضور ته ورغلل نو هغه به ئې په داسي القابو ستايو چي الله تعالی نه دئ پرې ستايلی، نن تاسو همدغه کار کوئ!! رسول الله ﷺ په داسي القابو ستايئ چي الله تعالی نه دئ پرې ستايلی!! الله تعالی فرمايي چي آدم صلعم د ټولو انسانانو جد او لومړی انسان او لومړی پيغمبر دئ خو تاسو وايئ چي رسول الله ﷺ تر آدم صلعم وړاندي پيدا شوی!! الله تعالی فرمايي چي انسان مي له خاوري پيدا کړی تاسو وايئ: رسول الله ﷺ د الله تعالی په خوا کي او په ازل کي او د ټولو مخلوقاتو له پيدا کېدو وړاندي يو نور وو، ټول عالم له دغه نور يا د دغه نور له طفيله پيدا شوی!! او دا همغه څه دي چي مسيحيانو د عيسی صلعم په اړه ويلي او قرآن د دوی وينا او ادعاء تکذيب کړې او ويلي ئې دي چي عيسی صلعم يو انسان وو او له خپلي مور پيدا شوی، تاسو ادعاء کوئ چي د رسول الله ﷺ دا نور له آدم صلعم بيا د رسول الله ﷺ تر پلار عبدالله پوري د صالح او مؤمنو شخصيتونو په صلب او رحم کي له يوه بل ته انتقال شوی!! حال دا چي قرآن دا خرافي باور له بنسټه ردوي او وايي: د هر انسان د لومړنۍ نطفې يوه برخه د مور په بدن کي او بله ئې د پلار په بدن کي له هغو موادو جوړېږي چي له خاوري راټوکېدلي، دا دواړه برخي د مور په رحم کي سره يو ځای شي، ورو ورو وده کوي او له څه مودې وروسته يو بشپړ ماشوم ترې جوړ شي او په دې وخت کي الله تعالی هغه ته روح ورکړي، داسي نه دي چي نطفه ئې د اجدادو په بدن کي له وړاندي جوړه شوې او له يوه بل ته انتقال شوې!! قرآن وايي: د رسول الله ﷺ يو جد؛ د ابراهيم صلعم پلار آزر؛ دومره ستر کافر او مشرك وو چي د (عدو لله) يعني د الله دښمن نوم ئې ورته غوره کړی، همغه چي خپل زوی ابراهيم صلعم ته ئې وويل: أَرَاغِبٌ أَنت عَنْ ءَالِهَتِى يَاِبْرَهِيمُ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لأَرْجُمَنَّكَ وَ اهْجُرْنِى مَلِيًّا* اې ابراهيمه! آيا زما له معبودانو تېر شوی (څنگ ته شوی) يې؟ که دده ونه کړې نو

حتماً به دې رجم (سنگسار) کړم، او د تل لپاره له ما لرې شه!! ما ته ووايئ: تاسو د رسول اللهﷺ په کوم سنت عمل کړی؟! تاسو د رسول اللهﷺ په اړه د قرآن کومې وينا ته اعتناء کړې؟ تا ته چا ويلي چې د دې او هغه شخصيت په ستايلو سره ځوك جنت ته رسېدی شي او د الله تعالی رضاء ترلاسه کولی شي، په داسې حال کې چې قرآن د ابراهيم صلعم، اسمعيل صلعم، اسحاق صلعم او يعقوب صلعم په څېر سترو شخصيتونو په اړه موږ ته وايي:

تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٣٤﴾

البقرة: ١٣٤

دا خو يوه تېره شوې ډله ده، چې دوی لره به خپله لاسته راوړنه وي او تاسو ته خپله لاسته راوړنه او تاسو به د دوی له کړنو نه پوښتل کېږئ.

په دې مبارك آيت کې نه يوازې د دين يو بنيادي اصل توضيح شوی، بلکې د مذهبي انحراف يوه اساسي او بنيادي اړخ ته هم گوته نيول شوې، د دين اساسي خبره دا ده چې هر څوك به د خپل عمل سزا گوري، يو د بل پېټی نشي وړی، يو د بل لپاره نه مجازات کېږي، نه پلار د زوی په گناه نيول کېږي او نه زوی د پلار د ښو عملونو په وجه جنت ته درومي، هر څوك به د خپلو لاسته راوړنو پېټی په اوږو وړي. او د مذهبي انحراف تر ټولو ستره او اساسي خبره دا ده چې د الله صالحو بندگانو ته د انتساب تر نامه لاندې څوك ځان د جنت مستحق او د مذهب وارث وگڼي او له دې لارې د امتيازاتو د ترلاسه کولو په لټه کې وي، مذهب قومي رنگ غوره کړي، قومي تعصب ته د مذهب جامه ورواغوستل شي او مذهبي مشران ئې ځان د پيغمبرانو د امتيازاتو وارث وگڼي نه د دوی د مسئوليتونو او دندو وارث. الله تعالی دا نه خوښوي چې څوك د ده صالحو بندگانو ته خپل ناوړه عمل او ناسمه عقيده منسوب کړي، هم د مذهب نوم بد کړي او هم د الله د صالحو بندگانو نوم.

الله تعالی په دې آيت کې مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې د مخکنيو صالحانو په اړه له جاهلانو سره په شخړو او منازعاتو کې ځان مه مصروفوئ، د دې پر ځای خپل عمل ته پام وکړئ، هغه څه چې تاسو له عذاب ژغورلی شي ستاسو خپل عمل دئ نه بل څه، له تاسو دا پوښتنه نه کېږي چې فلان نيك او صالح شخصيت څنگه وو او عملونه ئې څنگه ول، تاسو به د خپلو عملونو په اړه پوښتل کېږئ نه د نورو د عملونو په اړه، د نورو په ستايلو سره نه جنت ترلاسه کولی شئ او نه د الله تعالی رضاء، خپله عقيده او خپل عمل مو جنت ته رسولی شي.

وَلَمَّا رَءَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمۡ إِلَّآ إِيمَٰنٗا وَتَسۡلِيمٗا ﴿٢٢﴾

او کله چې مؤمنانو هغه ډلې ډلې (لښکري) وليدلې وئې ويل: دا همغه څه دي چې الله او پيغمبر ئې له موږ سره ژمنه کړې وه، او الله او د هغه پيغمبر رښتيا ويلي، او زيات ئې

نه کړ مگر د دوی ایمان او انقیاد.

---

(۲۲)- په دې مبارك آیت کې د احزابو جنگ ته اشاره شوې، هغه مهال ته چې د مسلمانانو په خلاف ټول دښمنان راغونډ شوي وو، مدینه محاصره وه، تر دې وړاندې د عربو په تاریخ کې هیڅکله دومره ستر لښکر د چا په خلاف نه وو وتلی، مسلمانانو د دې ستر لښکر د مخامخ مقابلې توان نه درلود، مجبور شوي وو چې د مدینې منورې شا و خوا خندق وکیني، خو کله چې مؤمنان گوري چې د دوی په خلاف ټول دښمنان په مدینې باندې د پرېکنده ستر برید لپاره راغونډ شوي، راشئ وگورو چې د دې حالت په لیدو او له دغه ستر لښکر سره د مخامخېدو په دوران کې د دوی حالت څنگه او وینا ئې څه وه؟ قرآن موږ ته د دوی حالت داسې انځور کړی: د لښکر په لیدو سره هغوی وویل: دا همغه څه دي چې الله تعالی ئې له موږ سره وعده کړې وه، دا وعده چې پر دوی به فتح او غلبه راکوي، ډاډه او مطمئن دي چې د الله تعالی دا وعده ربښتینې ده، د دې په ځای چې د ستر لښکر راغونډېدل په دوی کې وېره او خوف راولاړ کړي، د دوی په زړونو کې شك او ریب راپیدا کړي، د دوی د اضطراب او پرېشانۍ باعث شي، برعکس مطمئن دي چې الله او د هغه پیغمبر په خپلو وعدو کې ربښتیني دي، دا همغه د الله تعالی ربښتینې وعده ده چې له موږ سره ئې کړې ده، حتماً به موږ ته په دوی باندې فتح او غلبه راکوي، که د دښمنانو راغونډېدا په دوی کې څه زیات کړی وي نو هغه د دوی ایمان او پوخ باور په الله تعالی او د ده په وعدو وو نه بل څه: وَ مَا زَادَهُمْ إلا إِيمَاناً وَ تَسلِيماً : په دوی کې ئې بل څه زیات نه کړ مگر ایمان او د الله تعالی په وړاندې انقیاد، یعنې دغه حالت باعث شو چې پر الله جل شأنه د دوی اعتماد او باور مزید مضبوط او اړیکې ئې له خپل رب سره لازیاتې ټینگې شي، او د الله تعالی د اوامرو په وړاندې ئې انقیاد او تسلیمي لازیاته شي، گورئ چې په سختو حالاتو کې، د اضطراب او پرېشانۍ په وخت کې، د دې په ځای چې د مؤمنانو په زړونو کې خوف، وېره، جبن او پرېشاني راپیدا شي، برعکس د هغوی ایمان تقویه کېږي، داسې حالات په دوی کې نه راپیدا کوي مگر د ایمان ټینگوالی او د انقیاد زیاتوالی. دا دئ گورئ چې په دغسې سختو حالاتو کې به د ایمان په وجه د انسان په زړه کې اطمئنان او ډاډ راپیدا کېږي او د عدم ایمان له کبله به انسان مضطرب او پرېشان وي.

مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِۖ فَمِنۡهُم مَّن قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ وَمِنۡهُم مَّن يَنتَظِرُۖ وَمَا بَدَّلُواْ تَبۡدِيلٗا ﴿٢٣﴾ لِّيَجۡزِيَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدۡقِهِمۡ وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٢٤﴾

له مؤمنانو ځینې مېړنې داسې دي چې له الله سره کړې ژمنې ئې ربښتینې کړې، نو د دوی ځینې هغه دي چې خپل نذر ئې ترسره کړ، او ځینې هغه چې انتظار کوي او په هیڅ ډول بدلون سره ئې (د خپلې ژمنې) بدلون نه دئ کړی، تر څو الله ربښتینو ته د

خپلي رښتينولی بدله ورکړي او منافقين يا له خپل مشيت سره سم تعذيب کړي يا ئې توبه قبوله کړي، يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ.

(۲۳-۲٤)- په دې مبارکو آيتونو کي د الهي ميثاق يو بل بند زموږ مخي ته ايښودل شوی او د هغو مؤمنانو په څېرو او تگلاري کي انځور شوی چي يا ئې د دغه الهي ميثاق له تقاضاء سره سم خپل سر او ويني د الله په لار کي نذرانه کړي او يا منتظر دي داسي فرصت ترلاسه کړي چي پر خپلي ژمني عمل وکړي، خپل سر په رغوي کي ونيسي او خپل رب ته ئې وړاندي کړي، قرآن دوی داسي معرفي کړي: له مؤمنانو ځيني مېړني داسي دي چي له الله تعالی سره ئې خپلي ژمني رښتيني کړې دي، ځينو ئې خپل نذر ترسره کړ، او ځيني ئې منتظر دي چي پر خپلو ژمنو د وفا کولو فرصت ترلاسه کړي، د ميثاق پر نورو بندونو ئې په بشپړه توگه او له بدلون او تغيير پرته عمل کړی يوازي دومره پاته دي چي د الله تعالی په لار کي د شهادت مقام ترلاسه کړي او په دې توگه د ميثاق په وروستي بند د عمل کولو سعادت ئې په برخه شي.
همدا د الله تعالی د لاري او د الهي ميثاق تقاضاء ده او په همدې توگه او له همدې لاري له يوې خوا صادقان معلوموي او د دوی د صداقت او رښتينولی بدله ورکوي او له بلي خوا منافقين معلوموي چي يا به ئې له خپل مشيت سره سم تعذيبوي او يا به ئې توبه قبلوي، د توبې دروازه ئې ځکه د دوی په وړاندي پرانيستي پرېښې چي هغه مهربان بخښونکی دئ.

وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُواْ خَيۡرًاۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴿٢٥﴾ وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن صَيَاصِيهِمۡ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ فَرِيقًا تَقۡتُلُونَ وَتَأۡسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾ وَأَوۡرَثَكُمۡ أَرۡضَهُمۡ وَدِيَٰرَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُمۡ وَأَرۡضًا لَّمۡ تَطَـُٔوهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾

او الله هغه وگړي له خپلو غصو (ډکو زړونو) سره په شا وتمبول چي کفر ئې کړی وو په داسي حال کي چي په هيڅ خير او ښېگڼي نه وو نائل شوي، او الله د دې جنگ په اړه مؤمنانو ته کافي شو، او الله عزتمن ځواکمن دئ، او د اهل کتاب هغه وگړي ئې له خپلو کلاگانو راکوز کړل او د دوی په زړونو کي ئې رعب واچولو چي د هغوی ملاتړ ئې وکړ، ځيني مو وژل او ځيني مو اسيرول، او د دوی زمکه، کورونه او اموال مو تاسو ته په ميراث درکړل او هغه زمکه هم چي لا تراوسه مو گام نه دئ پرې ايښی، او الله په هر څه توانمن دئ.

(۲۵-۲۷)- په دې مبارکو آيتونو کې له يوې خوا د دې لوی برید د اصلي لوري په اړه ویل شوي چې الله تعالی دوی نامراد، له غصې ډك او تش لاس په شا وتمبول، د دوی په وړاندې الله تعالی مؤمنانو ته کفايت وکړ، د بل له مرستې پرته ئې ستره او وړيا بريا د دوی په برخه کړه، دې بريا مؤمنانو ته هم او کافرانو ته هم عملاً وښوده چې الله تعالی عزتمن ځواکمن دئ، له بلې خوا د هغو يهودانو د خيانت بده پايله ئې انځور کړې چې له يرغلګر دښمن سره ئې لاس يو کړ، خپلې ژمنې ئې تر پښو لاندې کړې، غوښتل ئې له قريشو سره په دې جګړې کې مرسته وکړي او د شا له لوري پر مسلمانانو برید وکړي، د دوی په اړه ئې په څو جامع فقرو کې داسې ويلي: د اهل کتاب هغه وګړي ئې له خپلو کلاګانو راکوز کړل چې د يرغلګرو ملتيا ئې کړې وه، د دوی په زړونو کې ئې رعب واچولو، په خپلو مضبوطو کلاګانو کې ئې ځان خوندي نه ګڼلو او د مقاومت توان ئې په خپلو مټو کې نه ليدلو، الله تعالی داسې حالت پرې راوست چې مسلمانانو د دوی ځيني وژل او ځيني ئې اسيرول، د دوی زمکه، کورونه او اموال ئې مسلمانانو ته په ميراث ورکړل، د همدې بريا په نتيجه کې الله تعالی د ډېرو نورو فتوحاتو لار ورته آواره کړه، داسې سيمې ئې هم په لاس کې ورټوتي چې لاتر دې مهاله دوی پرې ګام نه وو اېښی. دغو پېښو وښوده چې يقيناً الله تعالی په هر څه توانمن دئ.

د يرغلګر فوځ له ماتې وروسته له غدارو بني قريظه وو سره د محاسبې او تصفيې وخت رارسېدلی وو، رسول اللهﷺ له خندق د کور په لور له ستنېدو وروسته او په داسې حال کې چې لا ئې د خندق دوړې له سر او بدن نه وې څنډلې دا پرېکړه مسلمانانو ته واوروله چې د مازديګر لمونځ د بني قريظه وو سيمې ته ورسوئ، سيمه محاصره شوه، په لومړي سر کې دښمن داسې انګېرله چې خپلې مضبوطې کلاګانې به ئې وساتي، له يوه او بل لوري به داسې څوك راپيدا شي چې د دوی مرسته وکړي، د مسلمانانو په ليکو کې به داسې خواخوږي ومومي چې رسول اللهﷺ ته د دوی د بخښنې سپارښتنه وکړي، دغې طمعې فوري تسليمېدو ته نه پرېښودل، نو څکه محاصره اوږده شوه او پنځه ويشت ورځې ئې دوام وکړ، خو کله چې متوجه شول دا هيلې ئې نه ترسره کېږي او له تسليمېدو پرته بله چاره نه لري نو په دې شرط تسليم شول چې د انصارو ستر سالار سعد بن معاذ ﷻ به د حکم په توګه منې او دواړه لوري به د هغه پرېکړې ته غاړه ږدي، دوی ګمان کولو چې سعد بن معاذ ﷻ به د هغې مخکنۍ دوستې له کبله د دوی په ګټه پرېکړه کوي چې تر اسلام وړاندې د دوی او سعد ﷻ او د ده د قبيلې تر منځ وه، رسول اللهﷺ د دوی شرط او وړانديز قبول کړ، سعد ﷻ چې د احزاب په جګړې کې سخت ټپي شوی وو، او له همدې جراحت وفات شو، د حکميت لپاره په کټ کې د سورلۍ په واسطه راوستل شو، مسلمانان د ده په درناوي ودرېدل، له دواړو لوريو ئې دا ډاډ ترلاسه کړ چې د ده پرېکړه به مني، د ده د قوم ځينو ترې وغوښتل چې د بني قريظه وو په اړه نرمښت وښيي او له دوی سره د مخکنۍ دوستې پاس وساتي، خو سعد ﷻ دومره ستر شخصيت او د داسې مضبوط ايمان خاوند وو چې تر هر څه د الله تعالی رضاء او د اسلام او مسلمانانو عزت او سر لوړي ورته مهم وو او له دې پرته ئې نه د بل څه پروا وه او نه انديښنه، پرېکړه ئې داسې وه چې په اورېدو سره ئې رسول اللهﷺ په لوړ غږ الله اکبر وويلو او وئې فرمايل: "لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ اللهِ مِنْ فَوْقِ سَبْعَةِ أَرْقِعَةٍ": يقيناً چې له اوو آسمانونو بر د

الله تعالی له حکم سره سم دي د دوی په اړه فیصله وکړه، فیصله ئې دا وه: د دوی جنګیالي دي ووژل شي، د دوی پاته شوني (اولاد او ښځي) دي مریان کړی شي، د دوی زمکي دي یوازي مهاجرینو ته ورکړی شي نه انصارو ته، دا ځکه چي انصار زمکي لري او مهاجرین ئې نه لري. په ځینو روایاتو کي راغلي چي د بني قریظه وو شپږ سوه جنګیالي ووژل شول، ځیني نور دا شمېر له اوه سوو تر نه سوو پوري ګڼي.

ښه به وي چي په دي اړه هغه روایت هم له نظره تېر کړو چي په بخاري کي راغلی او وایي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ لَنَا لَمَّا رَجَعَ مِنَ الأَحْزَابِ "لاَ يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الْعَصْرَ إِلاَّ فِى بَنِى قُرَيْظَةَ". فَأَدْرَكَ بَعْضُهُمُ الْعَصْرَ فِى الطَّرِيقِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لاَ نُصَلِّى حَتَّى نَأْتِيَهَا، وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ نُصَلِّى لَمْ يُرَدْ مِنَّا ذَلِكَ. فَذُكِرَ لِلنَّبِيِّ فَلَمْ يُعَنِّفْ وَاحِدًا مِنْهُمْ. (بخاري:٩٤٦)

له ابن عمر **رسول** روایت دئ چي وایي: کله چي رسول الله ﷺ د احزاب له غزا راستون شو راته وئې فرمایل: (هیڅوک دي د مازدیګر لمونځ له بني قریظه پرته بل ځای کي نه کوي). پر ځینو د لاري په اوږدو کي د مازدیګر وخت راغی، ځینو ئې وویل: تر څو چي بني قریظه ته نه وو رسېدلي لمونځ نه کوو، او ځینو نورو وویل: لمونځ همدلته کوو ځکه له موږ دا نه دي غوښتل شوي (چي لمونځ قضاء کړو)، دا خبره رسول الله ﷺ ته یاده شوه او هغه هیڅ یوه ته عتاب ونکړ.

دا روایت په بخاري کي یو ځل بیا هم په دې شمېرې ٤١١٩ راغلی، دواړه سره ورته دي، مطلب ئې دا دئ چي رسول الله پر هغو خلکو اعتراض ونه کړ چي د مازدیګر لمونځ ئې د جنګ لپاره وځنډولو.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ
أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٢٨﴾ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ
ٱلْـَٔاخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَـٰتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾ يَـٰنِسَآءَ ٱلنَّبِىِّ مَن يَأْتِ
مِنكُنَّ بِفَـٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَـٰعَفْ لَهَا ٱلْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ
يَسِيرًا ﴿٣٠﴾ وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعْمَلْ صَـٰلِحًا نُّؤْتِهَآ أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ
وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ يَـٰنِسَآءَ ٱلنَّبِىِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ ۚ إِنِ
ٱتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِٱلْقَوْلِ فَيَطْمَعَ ٱلَّذِى فِى قَلْبِهِۦ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٣٢﴾

وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ﴿٣٣﴾ وَٱذۡكُرۡنَ مَا يُتۡلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱلۡحِكۡمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾

اې نبي! خپلو مېرمنو ته دي ووايه: که د دنيوي ژوند او د هغه د سينګار په لټه کي يئ نو راشئ چي څه متاع درکړم او په ښه توګه خوشي کولو سره مو خوشي کړم، او که داسي يئ چي الله، د هغه رسول او د آخرت کور غواړئ نو يقيناً چي الله ستاسو نېکو ته ستر اجر برابر کړی. اې د نبي مېرمنو! که له تاسو څوك کوم څرګند فحش کار ته اقدام وکړي نو عذاب به ئې په دوه ځلي زياتوالي سره زيات کړی شي، او الله ته دا کار آسان دئ، او له تاسو چي څوك الله او د هغه رسول ته منقاد شي او نېك عمل وکړي اجر به ئې دوه ځلي ورکړو او غوره رزق به ورته برابر کړو. اې د پيغمبر مېرمنو! تاسو د هيڅ بلي ښځي په څېر نه يئ که تقوی وکړئ، نو په وينا کي پوستوالی مه کوئ داسي چي هغه څوك څه طمع وکړي چي په زړه کي ئې کوم مرض وي، او په معروفي غوره وينا سره خبري کوئ، په خپلو کورونو کي تم شئ او د مخکني جاهليت د دور څرګندېدو په څېر مه څرګندېږئ، لمونځ اقامه کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، الله خو يوازي دا غواړي چي له تاسو اې کوروالو؛ ناپاکوالی لري وساتي او په ځانګړي پاکولو سره مو پاکي وساتي، او هغه څه ياد کړئ چي ستاسو په کورونو کي له الهي آيتونو او حکمت کوم څه درباندي لوستل کېږي، يقيناً چي الله ډېر باخبر د لطافت خاوند دئ.

(۲۸-۳٤)- په دې مبارکو آيتونو کي رسول اللهﷺ ته د خپلو مېرمنو په اړه څو مهمي او ارزښتناکي لارښووني شوې او ورته ويل شوي چي هغوی ته دا خبري وکړي:

- که د سوکاله دنيوي ژوند او د هغه د سينګار په لټه کي يئ نو راشئ چي څه متاع درکړم او په ښه توګه طلاق درکړم، او که داسي يئ چي الله، د هغه رسول او د آخرت کور غواړئ نو يقيناً چي الله ستاسو نېکو ته ستر اجر برابر کړی. يعني زما په ملګرتيا کي به د قناعت او صبر لار غوره کوئ، په هغه محدود رزق او روزي او لږ مال متاع به اکتفاء کوئ چي زه ئې په واك کي لرم، زما په شان ساده او له تکلف لري فقيرانه ژوند به غوره کوئ، له ما به دا غوښتنه نه کوئ چي له وافرو نعمتونو او سوکاليو ډك ژوند درته برابر کړم، له نورو سره د سينګار او ګاڼو په درلودو کي سيالي بايد تاسو دې ته ونه هڅوي چي له ما د سينګار سامان

وغواړئ، که په دې حالت صبر او قناعت نشئ کولی نو راشئ په ښه توگه طلاق درکړم، له دغو دواړو يو غوره کړئ: يا قناعت يا طلاق، بايد متوجه وئ چي که د الله تعالی رضاء او د هغه د رسول ملگرتيا خوښوئ او غواړئ چي جنت او اخروي سعادت مو په برخه شي نو يقيناً چي الله تعالی داسي نېکو مېرمنو ته ستر اجر برابر کړی.

• اې د پيغمبر مېرمنو! په دې دې پوه وئ چي که له تاسو څوك کوم څرگند فحش کار ته اقدام وکړي نو عذاب به ئې تر نورو دوه څلي زيات وي، گمان مه کوئ چي ستاسو حيثيت او مقام به تاسو له الهي عذاب وژغوري او له دې کبله به له الهي مؤاخذې وژغورل شئ چي د پيغمبر مېرمني يئ، الله تعالی ته دا کار آسان دئ چي تاسو ته په دنيا او آخرت کي داسي عذاب درکړي چي د نورو په پرتله دوه برابره زيات وي، د زياتوالي سبب ئې دا دئ چي تاسو بايد د رسول اللهﷺ د مصاحبت او ملگرتيا له کبله له گناه ډېري لري وئ، د ده د مسلسلي روزني له کبله بايد د تقوی هغه پړاو ته رسېدلي وئ چي شيطان ستاسو خوا ته له نږدې کېدو او د خپلو وسوسو په دام کي ستاسو له غورځولو عاجز وی، داسي چا ته بايد هم د خپلي گناه سزا ورکړی شي او هم د خپل لارښود مسلسلو لارښوونو ته د بې اعتنائي سزاء، له بلي خوا ستاسو غلطي او گناه اسلام او د رسول اللهﷺ دعوت ته صدمه رسوي، ناپوه او په غرض او مرض لړلي کسان له دې غلطه استفاده کوي او د ساده وگړو په زړونو کي شکوك او شبهات راولاړوي.

• او له تاسو چي څوك الله او د هغه رسول ته منقاد او په بشپړه توگه تسليم وي او نېك عمل وکړي؛ نو الله تعالی به ئې اجر دوه څلي ورکړي او غوره رزق به ورته مهيا او برابر کړي، هم په دنيا کي ښه رزق او هم په آخرت کي. داسي گمان مه کوئ چي د رسول اللهﷺ په ملگرتيا کي به تل له دغو ستونزو سره مخامخ يئ، دا د امتحان څو ورځي دي، د صبر او قناعت په نتيجه کي به سرلوړې تري تېري شئ او د رزق او روزي د پراخوالي پړاو به راورسېږي.

• اې د پيغمبر مېرمنو! که د تقوی لمن کلکه ونيسئ نو د رسول اللهﷺ د مصاحبت له کبله به دومره ستر او لوړ مقام ستاسو په برخه شي چي هيڅ مېرمن به له تاسو سره سيالي او برابري نشي کولی، ستاسو د دغه مقام تقاضاء دا ده چي په بشپړه توگه احتياط وکړئ، حتی له داسي وينا هم ډډه وکړئ چي پوستوالی او تيتوالی ئې د هغو وگړو په زړونو کي شيطاني طمع راپاروي چي زړونه ئې بېمار او په غرض او مرض ککړ وي، ستاسو وينا بايد ستاسو له شأن سره ورته وي، داسي لکه مور چي زوی ته وينا کوي، لکه مؤمنه داعي خپل مخاطب ته، لکه لارښوده او معلمه خپلو شاگردانو ته.

• په خپلو کورونو کي تم شئ، بهر ته په هغه توگه مه وځئ چي د مخکني جاهليت په دور کي به ښځي له خپل جلبوونکي سينگار سره بهر وتلې او ځان به ئې پردېو ته ښودو، لمونځ کوئ، زکات ورکوئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ، الله تعالی په دغو لارښوونو سره يوازي دا غواړي چي له تاسو اې کوروالو؛ ناپاکوالی لري وساتي او په ځانگړي پاکولو سره مو پاکي وساتي، د دغو لارښوونو موخه او پايله دا ده چي ستاسو لمن به له گناهونو پاکه ساتل کېږي او معنوي پاکوالی به مو په برخه کېږي. له دې نېکمرغه فُرصت اعظمي استفاده

وکړئ چي د رسول الله ﷺ مصاحبت مو په برخه شوی، د هغه د کور واکمني يئ او ستاسو په خپل کور کي او د همدې مهربان او حکيم لاربښود له لوري د قرآن آيتونه او د حکمت خبري دراورول کيږي، دا الهي آيتونه او د حکمت ويناوي زده او حفظ کړئ.

- ستاسو معامله له هغه رب سره ده چي له هر څه مو خبر دئ، نه ئې حجابونه مانع کېدی شي او نه تياري، نه پټي خبري او پټ کارونه او نه لوړي ويناوي او څرګند کارونه، دا ځکه چي الله تعالی (لطيف) او (خبير) دئ.

د دې مبارکو آيتونو په ارتباط بايد څو مهمي خبري په پام کي ولرو:

- دلته د رسول الله ﷺ مېرمنو ته د (اهل البيت) نوم ورکړی شوی، دا لقب د قرآن په يوه بل آيت کي د ابراهيم صلعم مېرمني سارا صلی لپاره هم کارول شوی، او له دې معلومېږي چي قرآن د مېرمنو لپاره دغه ښکلی لقب غوره کړی او همدا ورسره ښايي، د دې لقب معنی دا ده چي د قرآن له نظره مېرمن د مېړه د کور واکمنه او خاونده شمېرل شوې، ګواکي کور د مېرمني اصلي (کارځی) او (دفتر) دئ، د اصلي کار تر څنګ نور فرعي کارونه کولی شي، د ضرورت په صورت کي له خپل اصلي مقر وتلی شي، جومات ته تلی شي، د تعليم او زده کړي لپاره له خپل کور وتلی او مدرسې ته تلی شي، د حج په موخه اوږد سفر کولی شي، په جهاد کي په ځانګړې توګه هغه مهال برخه اخيستی شي چي نفير عام او جهاد په ټولو فرض شوی وي، او دا هغه کارونه وو چي د رسول الله ﷺ په وخت کي امهات المؤمنين او د صحابه وو مؤمنو او متقي مېرمنو او لوڼو کول، هغه مهال هيڅا دا آيت داسي نه دئ تعبير کړی چي مېرمني له خپل کور په هيڅ توګه او هيڅ صورت کي بهر نه شي وتلی. دې ته مو هم پام وي چي د دې آيتونو له سياق و سباق او فحوی په ډېر صراحت سره معلومېږي چي حکم ئې د رسول الله ﷺ تر مېرمنو پوري مختص دئ او په هيڅ توګه نورو مؤمنو مېرمنو ته نه دئ راجع.

- د هغو کړيو دريځ او تګلاره ډېره کرکجنه ده چي د قرآن څرګند او واضح اصطلاحات په غلطه توګه تعبيروي، پر قرآن د ايمان تقاضاء دا ده چي قرآني اصطلاحات په خپل خپل ځای کي او په خپلي خپلي معنی وکاروو، که قرآن يوازي مېرمنو ته د (اهل البيت) اصطلاح کارولی نو موږ به ئې هم يوازي په همدې معنی کاروو، عجيبه ده چي يوه مذهبي فرقه د (اهل البيت) قرآني اصطلاح د مېرمنو پر ځای د زوم، لور او لمسيانو لپاره کاروي او مېرمني ترې باسي، وايي: د رسول الله ﷺ اهل البيت يوازي علي، فاطمه، حسن او حسين دي وسلم!! نه د رسول الله ﷺ مېرمني او نه بل زوم او نوري لوڼي او نور خپلوان په کي شامل ګڼي!! او دا هم فقط د جاهلانه تعصب په حکم، نه د کوم عقلي او نقلي دليل له مخي، په دې اړه پر داسي رواياتو استناد کوي چي يا په بشپړه توګه جعلي دي، يا د سند له مخي د اعتبار وړ نه دي، يا له نورو سره تعارض لري او يا د قرآن خلاف خبره کوي. قرآن مېرمنو ته د اهل البيت، زامنو، لوڼو او لمسيانو ته د اولاد او ذرية، پلويانو ته د (آل)، خپلوانو ته د عشيره، قوم ته د قوم، ټبر ته د قبيله ... اصطلاحات غوره کړي، که پر قرآن ايمان لرو نو دا اصطلاحات به په همدې معانيو کاروو او بل تعبير به نه ترې لرو او په بلي معنی به ئې نه کاروو. دا د شيطان په لومي کي نښتي، لاروركي او په خرافاتو کي غرق؛ په جهل او تعصب کي هغه پړاو ته رسېدلي چي

وايي: رسول اللهﷺ علي جلاله ته دا واك وركړى وو چې كولى شي د رسول اللهﷺ د كومي مېرمني نوم د امهات المؤمنين له نوم لړ حذف كړي او هغه هم د عائشې صلى نوم ترې حذف كړ!! دا په داسي حال كي چي قرآن د رسول اللهﷺ ټولي مېرمني بلااستثناء د دومره درناوي او احترام وړ گڼي چي ټولي د مؤمنانو ميندي گڼي، او د عائشې صلى په اړه خو ئي يوه بشپړه سوره مختص كړې او دومره ئي ستايلې چي هيڅ صحابي ئي په داسي صفاتو نه دئ ستايلى.

- په قرآن كريم كي د اهل بيت لفظ د مېرمنو لپاره كارول شوى، كه دا د پيغمبر عليه السلام په ارتباط استعمال شوى او كه د ابراهيم عليه السلام په ارتباط. په دواړو مواردو كي يوازي مېرمني مراد دي، نه ئي ابناء په كي شامل دي او نه اقرباء. د احزاب په سوره كي د اهل البيت مراد يوازي د پيغمبر عليه السلام مېرمني دي، ځكه چي تر دې مخكي د يا نساء النبي په صيغه هغوى ته مكرر خطاب شوى او وروسته د اهل البيت په نامه يادي شوې او ورته ويل شوي:

... إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ﴿٣٣﴾ : ... خبره دا ده چي الله له تاسو اې اهل بيتو ناپاكي لري ساتل او ستاسو ښه پاكول غواړي.

د قرآن معمولي فهم خو پرېږده چي څوك په عربي پوه وي او لږ ادبي سليقه ولري نو دلته له (اهل البيت) څني له (نساء النبي) پرته بله هيڅ معنى نشي اخيستى.

او د هود د سورې په ٧٣ آيت كي دا لفظ د ابراهيم عليه السلام د بي بي لپاره په دې توگه راغلى: قَالُوٓاْ أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ رَحۡمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٞ مَّجِيدٞ ﴿٧٣﴾ : وئي ويل: آيا د الله په كار كي تعجب كوئ، د الله رحمتونه او بركتونه دي پر تاسو وي اې اهل البيتو، بې شكه چي هغه ستايلى د مجد خاوند دئ.

دې څرگندو آيتونو ته په پام سره پوښتنه كوو: آيا كوم عاقل انسان به دا خبره وكړي چي زما اهل بيت زما مېرمن نه بلكي زما زوم، لور او لمسيان دي، هغه هم نه ټولي لوڼي او نه بل زوم، بلكي څيني ئې؟!! تاسو څنگه پيغمبر عليه السلام ته د عقل او عرف خلاف خبره منسوبوئ؟!! الله تعالى د پيغمبر عليه السلام ازواج مطهرات د اهل بيت په نامه يادوي او تاسو پيغمبر عليه السلام ته داسي قول منسوبوئ چي گواكي هغه د قرآن د صريح وينا خلاف خپلي مېرمني له اهل بيت ايستلي دي!! زه او هر هغه څوك چي په قرآن ايمان لري هغه روايت په دېوال وهو چي پيغمبر عليه السلام ته داسي غلطه او د عقل، عدل، عرف او قرآن خلاف وينا منسوبوي!!

رسول اللهﷺ به كله د دعوت، ارشاد او تبليغ په چارو كي سخت مصروف وو، كله په جهاد پوري اړوند كارونو كي او كله په عبادت كي، په فارغ فرصتونو كي به ئي كورنيو چارو ته پام اړولو، د دې لپاره ئي ډېر لږ وخت مومو، د ژوند په ډېرو كلونو كي ئي لاس تنگ او امكانات محدود ول، فقيرانه ژوند ئي درلود، په داسي ژوند قناعت كول لوى زړه او زيات صبر او زغم غوښتو، مېرمنو ئي دا حالت ورسره منلى وو، تر ډېرو كلونو ئي دا حالت ورسره وزغملو، خو

ورو ورو د مسلمانانو اقتصادي حالت ښه شو، د رسول اللهﷺ مېرمنو د نورو مسلمانو مېرمنو حالت ته په پام سره وغوښتل چي د دوی په اقتصادي حالت کي هم بايد تبديلي راشي او تر مخکي په نسبي توگه ښه شي، دا هيله او تلوسه ئي په وار وار په ويناوو او چلن کي څرگنده شوې، دومره چي رسول اللهﷺ پرې خوربدلی، په دغو مبارکو آيتونو کي دغه حالت انځور شوی. خبره دې حد ته رسېدلې وه چي رسول اللهﷺ يوه مياشت له ټولو مېرمنو بېل او په يوې جلا خونې کي دېره شو، الله تعالی د دې ستونزې د حل لپاره دا لارښوونه وکړه چي مېرمنو ته دې ووايه: يا پر دې ساده ژوند قناعت وکړئ او يا بېلېدا غوره کړئ، ټولو ورسره ومنله چي د قناعت او صبر لار نيسو. ښه به وي چي د دې پېښې اړوند يو روايت هم له نظره تېر کړو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ، وَهْيَ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ، وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى رَسُولِ اللهِ يَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا، فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِخَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ وَغَيْرِهِ، وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، فَنَزَلَ صَاحِبِي الأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ، فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا. فَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَدَثَ أَمْرٌ عَظِيمٌ. قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ طَلَّقَكُنَّ رَسُولُ اللهِ قَالَتْ لاَ أَدْرِي. ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ فَقُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ قَالَ "لاَ". فَقُلْتُ اللهُ أَكْبَرُ. (بخاري:۸۹)

له عمر ﷺ روايت دئ چي وايي: ما او زما يوه انصاري گاونډي چي د بني اميه بن زيد د قبيلې وو چي د عوالي په نامه يادېدله، (عوالي ځکه ورته ويل کېدو چي د مدينې په برنی برخې کي پرته وه)، د رسول الله حضور ته د ورتلو لپاره نوبت ټاکلی وو، يوه ورځ به هغه ورتلو او بله ورځ به زه ورتلم، کله چي به زه ورغلم نو خپل گاونډي ته به مي د هغې ورځې د وحي او نورو مسائلو خبر وروړ، او کله چي به هغه ورغی نو هغه به همداسي وکړل، نو يوه ورځ زما همدا انصاري ملگری پخپل وار ورغلی وو، نو زما د کور دروازه ئي په زوره وټکوله او وئي ويل: فلانی شته؟ زه وارخطا شوم او ورووتلم، نو راته وئي ويل: لويه پېښه شوې ده. عمر ﷺ وايي: زه حفصې صلی ته ورغلم (حفصه د عمر ﷺ لور او د رسول الله مېرمن وه)، ومي ليدل چي هغه ژاړي، ورته ومي ويل: آيا رسول الله تاسو ته طلاق درکړی؟ هغې راته وويل: نه يم خبره، بيا د رسول الله حضور ته ورغلم، او په داسي حال کي چي ولاړ وم ومي ويل: آيا خپلې مېرمني دي طلاقي کړې دي؟ وئي فرمايل: (نه)، نو ما وويل: الله اکبر!

دا روايت په بخاري کي نه ځلي نور په دغو شمېرو تکراراً راغلی: ۲٤٦۸، ٤۹۱۳، ٤۹۱٤، ٤۹۱٥، ٥۱۹۱، ٥۲۱۸، ٥۸٤۳، ۷۲٥٦، ۷۲٦۳

په دې روايتو کي ښه ډېر توپيرونه شته، ما دوه ترې غوره کړي چي دوهم ئي دا دئ:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍرسول قَالَ لَمْ أَزَلْ حَرِيصًا أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ اللَّتَيْنِ قَالَ اللهُ تَعَالَى (إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا) حَتَّى حَجَّ وَحَجَجْتُ مَعَهُ، وَعَدَلَ وَعَدَلْتُ مَعَهُ بِإِدَاوَةٍ، فَتَبَرَّزَ، ثُمَّ جَاءَ فَسَكَبْتُ عَلَى يَدَيْهِ مِنْهَا فَتَوَضَّأَ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ الْمَرْأَتَانِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ اللَّتَانِ قَالَ اللهُ تَعَالَى (إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا) قَالَ وَاعَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، هُمَا عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ. ثُمَّ اسْتَقْبَلَ عُمَرُ الْحَدِيثَ يَسُوقُهُ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ، وَهُمْ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ، وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى

النَّبِيِّ فَيَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا، فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِمَا حَدَثَ مِنْ خَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ أَوْ غَيْرِهِ، وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ، فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى الأَنْصَارِ إِذَا قَوْمٌ تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ، فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَأْخُذْنَ مِنْ أَدَبِ نِسَاءِ الأَنْصَارِ، فَصَخِبْتُ عَلَى امْرَأَتِي فَرَاجَعَتْنِي فَأَنْكَرْتُ أَنْ تُرَاجِعَنِي قَالَتْ وَلِمَ تُنْكِرُ أَنْ أُرَاجِعَكَ فَوَاللهِ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ لَيُرَاجِعْنَهُ، وَإِنَّ إِحْدَاهُنَّ لَتَهْجُرُهُ الْيَوْمَ حَتَّى اللَّيْلِ. فَأَفْزَعَنِي ذَلِكَ وَقُلْتُ لَهَا وَقَدْ خَابَ مَنْ فَعَلَ ذَلِكَ مِنْهُنَّ. ثُمَّ جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي فَنَزَلْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا أَىْ حَفْصَةُ أَتُغَاضِبُ إِحْدَاكُنَّ النَّبِيَّ الْيَوْمَ حَتَّى اللَّيْلِ قَالَتْ نَعَمْ. فَقُلْتُ قَدْ خِبْتِ وَخَسِرْتِ، أَفَتَأْمَنِينَ أَنْ يَغْضَبَ اللهُ لِغَضَبِ رَسُولِهِ فَتَهْلِكِي لاَ تَسْتَكْثِرِي النَّبِيَّ وَلاَ تُرَاجِعِيهِ فِي شَيْءٍ، وَلاَ تَهْجُرِيهِ، وَسَلِينِي مَا بَدَا لَكِ، وَلاَ يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ أَوْضَأَ مِنْكِ، وَأَحَبَّ إِلَى النَّبِيِّ - يُرِيدُ عَائِشَةَ- قَالَ عُمَرُ وَكُنَّا قَدْ تَحَدَّثْنَا أَنَّ غَسَّانَ تُنْعِلُ الْخَيْلَ لِغَزْوِنَا، فَنَزَلَ صَاحِبِي الأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ، فَرَجَعَ إِلَيْنَا عِشَاءً فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا وَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ، فَقَالَ قَدْ حَدَثَ الْيَوْمَ أَمْرٌ عَظِيمٌ. قُلْتُ مَا هُوَ، أَجَاءَ غَسَّانُ قَالَ لاَ بَلْ أَعْظَمُ مِنْ ذَلِكَ وَأَهْوَلُ، طَلَّقَ النَّبِيُّ نِسَاءَهُ. فَقُلْتُ خَابَتْ حَفْصَةُ وَخَسِرَتْ، قَدْ كُنْتُ أَظُنُّ هَذَا يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ، فَجَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي فَصَلَّيْتُ صَلاَةَ الْفَجْرِ مَعَ النَّبِيِّ فَدَخَلَ النَّبِيُّ مَشْرُبَةً لَهُ، فَاعْتَزَلَ فِيهَا، وَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ مَا يُبْكِيكِ أَلَمْ أَكُنْ حَذَّرْتُكِ هَذَا أَطَلَّقَكُنَّ النَّبِيُّ قَالَتْ لاَ أَدْرِي هَا هُوَ ذَا مُعْتَزِلٌ فِي الْمَشْرُبَةِ. فَخَرَجْتُ فَجِئْتُ إِلَى الْمِنْبَرِ فَإِذَا حَوْلَهُ رَهْطٌ يَبْكِي بَعْضُهُمْ، فَجَلَسْتُ مَعَهُمْ قَلِيلاً ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ، فَجِئْتُ الْمَشْرُبَةَ الَّتِي فِيهَا النَّبِيُّ فَقُلْتُ لِغُلاَمٍ لَهُ أَسْوَدَ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ الْغُلاَمُ فَكَلَّمَ النَّبِيَّ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ كَلَّمْتُ النَّبِيَّ وَذَكَرْتُكَ لَهُ، فَصَمَتَ. فَانْصَرَفْتُ حَتَّى جَلَسْتُ مَعَ الرَّهْطِ الَّذِينَ عِنْدَ الْمِنْبَرِ، ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ فَجِئْتُ فَقُلْتُ لِلْغُلاَمِ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ. فَرَجَعْتُ فَجَلَسْتُ مَعَ الرَّهْطِ الَّذِينَ عِنْدَ الْمِنْبَرِ، ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ فَجِئْتُ الْغُلاَمَ فَقُلْتُ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيَّ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ. فَلَمَّا وَلَّيْتُ مُنْصَرِفًا- قَالَ- إِذَا الْغُلاَمُ يَدْعُونِي فَقَالَ قَدْ أَذِنَ لَكَ النَّبِيُّ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ فَإِذَا هُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ فِرَاشٌ، قَدْ أَثَّرَ الرِّمَالُ بِجَنْبِهِ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ. فَرَفَعَ إِلَيَّ بَصَرَهُ فَقَالَ "لاَ". فَقُلْتُ اللهُ أَكْبَرُ. ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَسْتَأْنِسُ يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ رَأَيْتَنِي، وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ إِذَا قَوْمٌ تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ، فَتَبَسَّمَ النَّبِيُّ ثُمَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ رَأَيْتَنِي وَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا لاَ يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ أَوْضَأَ مِنْكِ وَأَحَبَّ إِلَى النَّبِيِّ يُرِيدُ عَائِشَةَ فَتَبَسَّمَ النَّبِيُّ تَبَسُّمَةً أُخْرَى، فَجَلَسْتُ حِينَ رَأَيْتُهُ تَبَسَّمَ، فَرَفَعْتُ بَصَرِي فِي بَيْتِهِ، فَوَاللهِ مَا رَأَيْتُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا يَرُدُّ الْبَصَرَ غَيْرَ أَهَبَةٍ ثَلاَثَةٍ، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ فَلْيُوَسِّعْ عَلَى أُمَّتِكَ، فَإِنَّ فَارِسًا وَالرُّومَ قَدْ وُسِّعَ عَلَيْهِمْ، وَأُعْطُوا الدُّنْيَا وَهُمْ لاَ يَعْبُدُونَ اللهَ. فَجَلَسَ النَّبِيُّ وَكَانَ مُتَّكِئًا. فَقَالَ "أَوَفِي هَذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ، إِنَّ أُولَئِكَ قَوْمٌ عُجِّلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا". فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ اسْتَغْفِرْ لِي....
(بخاري: ۵۱۹۱)

له ابن عباس رسول روايت دئ چي وايي: تل مي دا تلوسه وه چي له عمر بن الخطاب د رسول الله د هغو دوو مېرمنو په اړه پوښتنه وکړم چي الله تعالی د هغوی په اړه فرمايي: (إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا: که تاسو دواړه توبه وکړئ (درته غوره ده)، يقيناً چي ستاسو زړونه کاږه

شوي)، تر هغه چي حج ته ولاړ او زه هم ورسره حج ته ولاړم، يو ځای دی هم له لاري يوې خوا ته کوږ شو او زه هم ورسره کوږ شوم، د اوبو له لوښي سره، هغه صحرا ته ولاړ بيا چي بېرته راغی پر لاسونو مي اوبه تري ورتوی کړي، اودس ئي پرې وکړ نو ورته ومي ويل: اې اميرالمؤمنين! د رسول الله هغه دوه مېرمني کومي دي چي الله تعالی د هغوی په اړه فرمايي: (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا)؟ وئي ويل: اې ابن عباس! تا ته حيرانتيا ده! دوی عائشه او حفصه وې، بيا عمر خبره مخکي بېوله او وئي ويل: زه او زما يو گاونډی چي د انصارو د بني اميه بن زيد د قبيلي وو او دا د مديني د برنۍ سيمي له قبيلو يوه قبيله وه، موږ دواړو د رسول الله حضور ته د ورتلو لپاره نوبت ټاکلی وو، يوه ورځ به هغه ورتلو او بله ورځ به زه ورتلم، کله چي به زه ورغلم نو خپل گاونډي ته به مي د هغي ورځي د وحي او نورو مسائلو خبر وروړ، او کله چي به هغه ورغی نو هغه به همداسي وکړل، موږ قريش پر خپلو مېرمنو برلاسي وو، کله چي انصارو ته راغلو دوی داسي ول چي مېرمني ئي پرې غالبي وې، نو ورو ورو زموږ مېرمنو د انصارو د مېرمنو خصلتونه خپلول، يو ځل مي پر خپلي مېرمني چيغه کړه، هغې همداسي ځواب راکړ؛ نو د دې ځواب راباندي بد ولگېدو، هغې وويل: ولي زما ځواب درباندي بد ولگېدو؟! په خدای قسم چي د رسول الله مېرمني هغه ته همداسي ځواب ورگرځوي، ځيني ئي يوه ورځ حتی شپه ترې لري پاتي کېږي، دې خبري ووېرولم او ورته ومي ويل: له دوی چي هر څوك دا كار كوي تباه شوه، بيا مي جامي راغونډي كړې، راكوز شوم او حفصي ته ورغلم، او ومي پوښتله: آيا تاسو له رسول الله مروري كېږئ، يوه ورځ حتى تر شپې پوري؟! وئي ويل: هو؛ ورته ومي ويل: يقيناً تباه او تاواني شوې، آيا د دې پروا نه كوئ چي د رسول الله د غضب له وجهي الله تعالى پر تاسو غضب نازل كړي او هلاكي شئ؟! مه له رسول الله زياتي غوښتني كوه، مه ځواب ورگرځوه او مه ترې مروره كېږه، څه چي دي زړه غواړي له ما ئي وغواړه، دا دي تا ونه غولوي چي گاونډۍ (بن) دي تر تا ښايسته او رسول الله ته گرانه ده، (مراد ئي عائشه صلی وه)، عمر ﷻ وايي: موږ د غسان په اړه خبري كولي چي خپل آسونه ئي زموږ لپاره تيارول (د بريد تيارى ئي نيولو)، يوه ورځ زما همدا انصاري ملگرى پخپل وار (رسول الله صلى الله عليه و سلم) ته ورغلى وو، ماخستن راوگرځېدو، نو زما د كور دروازه ئي په زوره وټكوله او وئي ويل: فلانى شته؟ زه وارخطا شوم او ورووتلم، نو راته وئي ويل: لويه پېښه شوې ده. ما ورته وويل: هغه څه دي؟ آيا غسانيان راغلي؟ وئي ويل: نه؛ تر دې هم ستر او هيبتناك! رسول الله خپلي مېرمني طلاقي كړې دي، ومي ويل: حفصه تباه او هلاكه شوه، ما همداسي گمان كاوو چي دا كار به وشي، نو جامي مي پر ځان برابري كړې او د سحر لمونځ مي له رسول الله سره وكړ، بيا رسول الله د خپل كور د دروازې پر سر خوني ته ننوت، په هغې كي گوښى پاته شو، زه حفصي صلی ته ورغلم (حفصه د عمر ﷻ لور او د رسول الله مېرمن وه)، ومي ليدل چي هغه ژاړي، ومي ويل: ولي ژاړې، آيا له دې مي نه وې وېرولې؟ آيا رسول الله تاسو ته طلاق دركړى؟ هغې راته وويل: نه يم خبره، هغه دئ په خپلي خوني كي گوښه شوى، بيا راووتم او د منبر خوا ته راغلم، گورم چي په خوا كي ئي يوه ډله راغونډه ده او ځيني ئي ژاړي، لنډه شيبه ورسره كښېنستم، زړه مي طاقت ونه كړ، بيا هغې خوني ته راغلم چي رسول الله په كي وو، د ده توروپوستي خادم ته مي وويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، هغه

ورغی، له رسول الله سره ئې خبره وکړه او بېرته راغی او راته وئې ويل: له رسول الله سره مې خبره وکړه او ستا يادونه مې وکړه خو څه ئې ونه ويل، تر شا شوم او د منبر خوا ته ټولګي ته راغلم، بيا مې زړه طاقت ونه کړ، خادم ته راغلم او ومې ويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، ننوت، بېرته راغی او وئې ويل: ورته ياد مې کړې خو څه ئې ونه ويل، د منبر خوا ته ټولګي ته راغلم، بيا مې زړه طاقت ونه کړ، خادم ته راغلم او ومې ويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، ننوت، بېرته راغی او وئې ويل: ورته ياد مې کړې خو څه ئې ونه ويل، نو راستون شوم خو ناڅاپه خادم راغږ کړل او وئې ويل: رسول الله اجازه درکړه، نو رسول الله ته ورغلم که ګورم چې هغه په اوبدل شوي پوزي باندې ډډه لګولې چې د ده او پوزي تر منځ کوم فرش نشته، د پوزي کرښو د ده پر اړخ نښې پرېښې، د پوستکي پر داسې بالښت ئې تکيه کړې وه چې د خرما له پوسته ډك وو، بيا مې سلام پرې واچاوو او په داسې حال کې چې ولاړ وم ومې ويل: يا رسول الله! آيا خپلې مېرمنې دې طلاقې کړې دي؟ نو سترګې ئې زما لوري ته راپورته کړې او وئې فرمايل: (نه)، نو ما وويل: الله اکبر! بيا په داسې حال کې چې لا ولاړ وم ومې ويل: که ئې راته مناسبه ګڼې څو خبرې درسره کوم، موږ قريش پر خپلو مېرمنو برلاسي وو، کله چې انصارو ته راغلو دوی داسې ول چې مېرمنې ئې پرې غالبې وې، رسول الله تبسم وکړ، بيا مې وويل: يا رسول الله! که ئې راته مناسبه ګڼې حفصې ته مې وويل: دا دې تا ونه غولوي چې ګاونډۍ دې تر تا ښايسته او رسول الله ته ګرانه ده، (مراد ئې عائشه صلی وه)، نو رسول الله يو ځل بيا تبسم وکړ، کله چې مې هغه د تبسم په حالت کې وليد نو کښېنستم او سترګې مې د ده په کوټه کې وغړولې، په خدای قسم چې له دريو اومو پوستکو پرته مې بل څه په کې ونه ليدل، (ښايي د اوبو ژي به وو)، نو ومې ويل: يا رسول الله! الله تعالی ته دعاء وکړه چې ستا امت ته ئې پراخه کړي، فارس او روم ته په داسې حال کې پراخي او د دنيا نعمتونه ورکړی شوي چې د الله تعالی عبادت او بندګي نه کوي، نو رسول الله کښېنستو په داسې حال کې چې تکيه ئې کړې وه او وئې فرمايل: اې ابن خطابه! آيا ته په همدې فکر کې يې؟! دا خو هغه خلك دي چې دا نعمتونه په همدې دنيايي ژوند کې ژر ورکړی شوو، نو ما وويل: يا رسول الله! ما ته بخښنه وغواړه،....

که لږ ځير شئ نو وبه ګورئ چې د دې روايت موضوع د عبدالله بن عباس رسول له پوښتنې سره هيڅ ارتباط نه لري او د ده د پوښتنې ځواب په کې نشته، دا موضوع کاملاً بېله موضوع ده، دا له دوو مېرمنو (له عائشه او حفصه رضي الله عنهما) د خفګان اړونده قصه نه ده بلکې له ټولو مېرمنو د يوې مياشتې لپاره د بېلېدو قصه ده او وجه ئې دا وه چې مېرمنو ئې د پيغمبر عليه السلام په ساده ژوند قناعت نشو کولی او داسې غوښتنې ئې درلودې چې رسول الله ئې له پوره کولو عاجز وو، په لومړيو کې او د نيستيو پر مهال ئې قناعت کاوو خو وروسته چې د وفرت او د شتمنيو د ډېروالي زمانه شوه، دوی هم غوښتل د نورو په څېر سوکاله ژوند ولري، دا پر پيغمبر عليه السلام ګرانه تمامېده او د خپل انتظار خلاف ورته معلومېده، په دې اړه د احزاب د سورې برنې آيتونه نازل شول، د پيغمبر عليه السلام بيبيانې وګواښلې شوې، چې که په دې فقيرانه ژوند قناعت نشئ کولی راشئ چې پيغمبر عليه السلام طلاق درکړي. په روايت کې حفصې صلی ته د عمر رضي الله عنه دا وينا چې له رسول الله څخه زياتي

غوښتني مه کوه ښيي چي د رسول الله د خفګان وجه همدا وه. که چېري د رسول اللهﷺ د خفګان وجه د عائشې او حفصې رسول د سلوك له کبله وی نو بيا خو به ئې يوازې له دوی څېله نارضايتي څرګندوله نه له ټولو، ولي به رسول اللهﷺ ټولو تر يوې مياشتې بېلېدو؟!

خو د پورتني روايت په اړه دا وينا ضروري ده چي دا ډېر ښکلی، په زړه پوري او اغېزناك روايت دئ او ډېري مهمي او ارزښتناکي لارښووني لري، په دې روايت کي د تحقيق په دوران کي ما د عمر ﷺ د هغي وينا په اړه تبسم کړی چي پيغمبر عليه السلام پرې موسکی شوی او هغي وينا ئې زما اوښکي بهولې دي چي د پيغمبر عليه السلام د ژوند فقيرانه حالت ئې انځور کړی، له دغه روايت معلومېږي چي عمر ﷺ څومره مدبر، حکيم او ستر شخصيت وو، د پيغمبر عليه السلام په اړه ئې څومره درناوی، احترام، مينه او زړه سوی درلود، د هغو پېښو په اړه څومره حساس وو چي اسلام ته ئې تاوان رساوو. د خپل ګران قائد او لارښود رسول اللهﷺ لارښوونو ته په پام سره ئې هغه مهال هم د خپل مرشد په څېر فقيرانه ژوند غوره کړی وو چي نه يوازې د اسلام د ستر خلافت مشري وروسپارل شوه بلکي د فارسي واکمن تاج او روميانو خزاني د ده په لاس کي پرېوتې!!

بل روايت داسي دئ چي پيغمبر عليه السلام يو مازديګر د خپلي مېرمني زينب بنت جحش په کور کي تر معمول زيات ځنډ وکړ، هغې ورته د شاتو شربت جوړ کړ، عائشه صلى وايي چي ما ته په دې باندي رشك راغی، نو د رسول الله له نورو مېرمنو حفصه، سوده او صفيه رضي الله عنهن سره مي دا خبره جوړه کړه چي کله هره يوه له رسول الله سره مخامخ شي ودي وايي چي له تا د مغافير ګل بوی راځي (دا يو ګل دئ چي بوی ئې ښکلی نه دئ، کله چي د شاتو موچۍ له دې ګل شات جوړ کړي هغه هم ښه بوی نه لري)، دوی پوهېدلې چي رسول الله په داسي مواردو کي ډېر حساس دئ، د دوی تدبير خپل کار وکړ، کله چي رسول الله د يوې او بلې له لوري دا خبره واورېده نو د دغه شات د نه خوړلو وينا ئې تر خولې ووته، په ځينو رواياتو کي راغلي چي لوړه ئې وکړه او په ځينو کي دا چي کلکه ژمنه ئې وکړه، خو په دې روايت کي هم دا پوښتنه راولاړېږي چي قرآن د دوو مېرمنو يادونه کوي نه د دريو يا څلورو، په دې روايت کي خو د څلورو مېرمنو يادونه شوې ده.

يو بل روايت هم دئ چي وايي پيغمبر عليه السلام د حديبيې له صلحي وروسته د نورو مشرانو او زعماءو په ضمن کي مقوقيس د اسکندريې مشر ته هم يو ليك ولېږو، حاطب بن ابي بلتعه دا ليك ورساوو، خو هغه که څه هم اسلام ونه مانو خو د رسول الله د ليك په ځواب کي ئې وليکل: (زه په دې باور وم چي يو پيغمبر راتلونکی دئ، خو زما ګمان دا دئ چي هغه به په شام کي مبعوث کېږي، خو زه ستا د پلاوي درناوی کوم او له هغوی سره دوه د قدر وړ وينځې هم درلېږم)، دغو دواړو په لاري کي ايمان راوړ، يوه سيرين نومېده چي پيغمبر عليه السلام هغه د حسان بن ثابت په نکاح کړه او بله ئې ماريه صلى ځان ته په نکاح کړه، له دې ابراهيم پيدا شو، دا ډېره ښايسته وه، يو روايت وايي چي عائشې صلى د دې په اړه ويلي: پر ما د هيڅ مېرمني راتګ دومره ګران نه دئ تمام شوی لکه د ماريه راتګ، ويل کېږي چي يوه ورځ پيغمبر عليه السلام د حفصې په کور کي وو خو هغه هلته نه وه، ماريه صلى هلته ورغله او

څه وخت ورسره پاته شوه، له دې خبرې حفصه خبره شوه، اعتراض ئې وکړ، پیغمبر علیه السلام د حفصې د ارضاء لپاره وویل چې له دې وروسته به له ماریه سره نږدېوالی نه کوي، په ځینو روایاتو کې راغلي چې لوړه ئې وکړه او په ځینو کې دا چې هغه ئې پر ځان حرامه کړه.

دا هم نه یوازې له دې کبله د منلو نه دئ چې اکثر محدثین ئې ضعیف ګڼي بلکې له دې پلوه هم چې دلته خو یوازې د حفصې یادونه شوې حال دا چې عبدالله بن عباس د دوو مېرمنو اړوند آیت وضاحت غوښتی. همداراز د دې روایت الفاظ، محتوی او موضوع داسې ده چې قطعاً د نقل او اعتبار وړ نه برېښي.

إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾

یقیناً چې نارینه مسلمانان او ښځینه مسلمانانې، نارینه مؤمنان او ښځینه مؤمنانې، منقاد نارینه او منقادې ښځې، رښتیني نارینه او رښتینې ښځې، صبرناك نارینه او صبرناکې ښځې، خاشع نارینه او خاشع ښځې، صدقه ورکوونکي نارینه او صدقه ورکوونکې ښځې، روژتي نارینه او روژتۍ ښځې، د خپل عورت ساتونکي نارینه او (د خپل عورت) ساتونکې ښځې، او د الله زیات یادوونکي نارینه او ذکر کوونکې ښځې؛ الله ورته د بخښني او ستر اجر تیاری نیولی.

(۳۵)- په دې مبارك آیت کې د نارینه او ښځینه مؤمنانو څو ځانګړتیاوې او مواصفات زموږ مخې ته ځلېږي او ښيي چې د ایمان مدعي؛ که نارینه وي یا ښځینه باید کوم کوم صفات ولري چې د الله تعالی له لورې ئې مغفرت او ستر اجر په برخه شي، دا صفات په دې توګه ښودل شوي: ۱- اسلام یعني ټولو الهي احکامو ته عملاً او په بشپړه توګه غاړه ایښودل، ۲- ایمان یعني پر ټولو هغو شیانو او مفاهیمو د زړه له کومې باور او یقین درلودل چې دین موږ ته راښودلي، ۳- داسې بشپړ انقیاد چې د سرغړاوې هیڅ شائبه په کې نه وي، ٤- رښتینولي او صداقت په خپلو ټولو وینااوو، ژمنو او کړنو کې، ٥- صبر د دیني احکامو په پلي کولو کې او د الله تعالی په لار کې له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په صورت کې، ٦- د الله تعالی په

وړاندي خشوع درلودل او له هر راز کبر او لويي ډډه کول، ۷- د الله په لار کي مالي او ځاني قرباني ته چمتو والی، د دين په چارو کي او له محتاجو سره د مرستي لپاره خپل مال لګول، ۸- روژه نيول او په دې توګه عملاً ښودل چي د الله تعالی لپاره حتی دې ته هم چمتو دئ چي خپلو انساني اړتياوو ته شا کړي او يوه مياشت هره ورځ له سحر تر ماښام له خوراك او څښاك ډډه وکړي او خپل جائز جنسي غرائز مهار کړي او په دې توګه ثابت کړي چي تل به له حرامو ځان لري ساتي، ۹- خپل عورت ساتي او له حرامو لارو خپل جنسي غريزه نه اشباع کوي، ۱۰- او الله تعالی زيات يادوي، تل ئې ژبه د خپل رب په ذکر لنده وي، په ولاړه، ناسته او ملاسته خپل رب يادوي، په هر کار کي د خدای پار او پاس په پام کي لري. د دغو صفاتو خاوندان د الله تعالی له لوري بخښنه او ستر اجر ترلاسه کوي.

په دې مبارك آيت کي د الله تعالی زيات ذکر د نورو صفاتو په پای کي راغلی، دې ته په پام سره چي د آيت په سر کي د اسلام ذکر تر ايمان وړاندي راغلی، حال دا چي يوازي هغه اسلام د اعتبار وړ دئ چي بنسټ ئې ايمان وي، د انسان نېك اعمال هم هغه وخت ارزښت لري چي باعث ئې ايمان او د الله تعالی د حکم په وړاندي انقياد وي او د دين له لارښوونو سره سم ترسره شي، په اصل کي ايمان له هره پلوه تر اسلام وړاندي دئ، هم د اهميت له پلوه او هم د قدر او ارزښت له پلوه، همداسي د الله تعالی ذکر د ټولو مخکنيو ښېګڼو بنسټ دئ، هغه نېك عمل زيات ارزښت لري چي د الله تعالی له ذکر سره توأم وي، دا مطلب په لانديني حديث کي داسي توضيح شوی:

عَنْ سَهْلِ بنِ مُعَاذِ بنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَن رَسُولِ اللَّهِ أَنَّ رَجُلا سَأَلَهُ، فَقَالَ: أَيُّ الْمُجَاهِدِينَ أَعْظَمُ أَجْرًا؟ قَالَ:"أَكْثَرُهُمْ لِلَّهِ ذِكْرًا"، قَالَ: وَأَيُّ الصَّائِمِينَ أَعْظَمُ لِلَّهِ أَجْرًا؟ قَالَ:"أَكْثَرُهُمْ لِلَّهِ ذِكْرًا"، ثُمَّ ذَكَرَ الصَّلاةَ وَالزَّكَاةَ وَالْحَجَّ وَالصَّدَقَةَ، كُلُّ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:"أَكْثَرُهُمْ لِلَّهِ ذِكْرًا" المعجم الكبير للطبراني و مسند احمد

سهل بن معاذ بن انس له خپل پلار او هغه له رسول اللهﷺ روايت کوي چي يوه سړي وپوښتو: په مجاهدينو کي ستر اجر د چا په برخه کېږي؟ وئې فرمايل: څوك چي تر نورو زيات الله يادوي، وئې ويل: په روژتيو کي به د الله په وړاندي د چا اجر ستر وي؟ وئې فرمايل: څوك چي تر نورو زيات الله يادوي، بيا ئې د لمانځه، زکات، حج او صدقي يادونه وکړه، رسول اللهﷺ د دې ټولو په اړه فرمايل: څوك چي تر نورو زيات الله يادوي.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾

او هيڅ مؤمن او مؤمني ته نه ښايي چي کله الله او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي (بيا دي) دوی ته په خپل کار کي څه اختيار وي، او څوك چي له الله او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي يقيناً چي په څرګند لارورکتوب سره لاوورکی شو.

(۳٦)- دا مبارك آيت د ايمان يوه ستره او اساسي تقاضاء زموږ مخي ته ږدي او وايي: له

هيڅ مؤمن او مؤمنې سره دا نه ښايي چې کله الله تعالى او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي بيا دې دوی په خپل کار کې کوم اختيار ولري او د خپلې خوښې پرېکړه دې وکړي، د الله تعالى او د هغه د رسول د پرېکړې په وړاندې د دوی اختيار په بشپړه توګه سلبيږي او له دې پرته چې پرېکړې ته غاړه کېږدي او له کوم بدلون او ځنډ پرته ئې عملي کړي د بل څه کولو حق نه لري، له دې پرته بل څه کول سرغړاوی دئ او څوك چې له الله تعالى او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي يقيناً چې لارورکی شوی او سمه لار ترې ورکه شوې.

هر مؤمن انسان د خپل رب عبد او مربی دئ، دا د عبد او مربي يوه اساسي ځانګړتيا او خصوصيت وي چې په خپل ټول ژوند کې د خپل آقا د فرمان مطيع وي، هغه له خپل لوري او په خپل سر د هيڅ کار په اړه فيصله نه کوي، هغه ته چې د څه کولو کوم دستور او هدايت ورکول کيږي همغه کوي، کوم اقدام چې د خپل آقا او مالك د اذن او حکم پرته ترسره کړي دا اقدام ئې بغاوت ګڼل کيږي، دا د غلامۍ او مربيتوب له حده تجاوز ګڼل کيږي، هغه د ژوند په هيڅ برخې کې په خپله تصميم نه نيسي، هره خبره چې کوي او هر تصميم چې نيسي نو هغه به د خپل آقا له امر او هدايت سره سم نيسي، د کوم کار په اړه د الله تعالى او د ده د رسول له پرېکړې وروسته له هر مؤمن بنده دا اختيار سلبيږي چې له خپل لوري بله پرېکړه وکړي، له دې وروسته هغه په بشپړ اطاعت مکلف دئ، د بلې پرېکړې او فيصلې حق نه لري، څوك چې له دې پرته بل څه وکړي او د سرغړاوي لار غوره کړي د هغه په بې لاريتوب او ضلالت کې هيڅ شك نشته، همدا د هغه په ضلالت شهادت ورکوي.

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ
وَتُخْفِى فِى نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ ۖ فَلَمَّا قَضَىٰ
زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا لِكَىْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ
إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾ مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ مِنْ حَرَجٍ
فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ ۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا
﴿٣٨﴾ ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ
بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾

او کله چې تا هغه کس ته چې هم الله پرې انعام کړی وو او هم تا پرې پېرزوينه کړې

وه؛ ویل: خپله مېرمن درسره تم کړه او له الله ووېرېږه، او هغه څه دي په خپل زړه کي پټ ساتل چي الله ئې ښکاره کوونکی وو او له خلکو وېرېدې په داسي حال کي چي الله د دې زيات وړ دئ چي ترې ووېرېږې، نو کله چي زيد خپل حاجت ترې پوره کړ تا ته مو په نکاح کړه، د دې لپاره چي پر مؤمنانو په دې اړه کومه تنگسه نه وي چي د خپلو زوی بوللو مېرمني هغه مهال په نکاح کړي چي هغوی خپل حاجت ترې پوره کړی وي، او د الله امر تر سره کېدونکی وو، پر پيغمبر په هغه څه کي هيڅ حرج نشته چي الله ورته ټاکلي، د الله هغه سنت چي تر دې وړاندي تېر شوی او د الله امر په ټاکلي توگه سرته رسېدونکی وي، هغه (انبياء) چي الهي رسالتونه رسوي او ترې وېرېږي او له الله پرته له هيچا نه وېرېږي او الله د حساب کوونکي په توگه کافي دئ.

(۳۷-۳۹)- په دې مبارکو آيتونو کي د جاهليت د دوړ يوه داسي دود ته گوته نيول شوې چي تصحيح او له منځه وړلو ئې لويه غوغا رامنځته کړه، په جاهليت کي معمول دا وه چي چا به څوك په زوی ولی ونيو نو هغه به له هره پلوه د رښتيني او اصلي زوی په توگه گڼل کېدو، په ميراث کي به ئې د زامنو په څېر برخه وه او مېرمن به ئې ړنور گڼل کېده او د ده له کونډې يا مطلقه سره به نکاح حرام تلقي کېده. همدا راز خلکو په نسبي شرافت او اصالت باور درلود، ځينو به د ځينو نورو په پرتله له نسبي پلوه ځان لوړ گڼلو او هغه ته به ئې د خپل سيال په سترگه نه کتلو، د نکاح او ازدواج په چارو کي به دې ته جدي پاملرنه کېده، او دا هغه څه وو چي په الهي دين کي هيڅ ارزښت نه لري، د دين له نظره د ټولو انسانانو نسب يو دئ، هيڅ قوم پر بل او هيڅ انسان پر بل له نسبي پلوه هيڅ امتياز نه لري، قرآن د دې جاهلي دود د اصلاح لپاره همغه تگلاره غوره کړه چي د نورو کچه دودونو د اصلاح او تصحيح لپاره ئې غوره کړې، الله تعالی غوښتل چي د رسول الله ﷺ په عملي کړنلاري سره او د ده په خپل تېر کي د يوې معاملي په ترځ کي د دې جاهلي دود الغاء اعلان کړي، بايد د رسول الله ﷺ په عملي ژوند کي داسي څه خلکو ته وروښيي چي د الله تعالی له لوري او په الهي دين کي د دې دود بشپړه الغاء تلقي شي، نو ځکه ئې داسي شرائط برابر کړل چي رسول الله ﷺ د خپل هغه آزاد کړي غلام مطلقه مېرمن په نکاح کړي چي په زوی ولی ئې نيولی وو، رسول الله ﷺ زيد ﷛ په زوی ولی نيولی وو، خلکو به تر هغه دی د زيد بن محمد په نامه ياداوو چي قرآن امر وکړ دوی خپل اصلي پلار ته منسوبوئ، رسول الله ﷺ وغوښتل چي ده ته د خپلي ترور لور زينب بنت جحش په نکاح کړي، خو د رسول الله ﷺ له وړانديز سره نه زينب صلی موافقه کوله او نه ئې ورور او د کورنۍ نورو غړو، هغه ئې د قريشو سيال نه گڼلو، خو د قرآن لارښوونو او د رسول الله ﷺ ارشاداتو ته په پام سره هم زينب صلی له دې وړانديز سره موافقه وکړه او هم ئې کورنۍ او له زيد ﷛ سره د دې نکاح ترسره شوه، خو څه موده وروسته د دوی دواړو مناسبات دومره خړپړ شول چي زيد ﷛ غوښتل دې ته طلاق ورکړي، رسول الله ﷺ له ستونزي خبر شو، زيد ته ئې توصيه وکړه چي له طلاق ډډه وکړي او خپله مېرمن له ځان سره وساتي، خو هغه د خپلي مېرمني له چلن تنگ شوی وو او له طلاق پرته ئې بله چاره نه ليده، رسول الله ﷺ نه غوښتل د

دوی ستونزه په طلاق منتج شي، دا ځکه چي دا نکاح د ده په وړانديز او هڅو ترسره شوې وه، زينب صلی د ده د غوښتني په احترام دې نکاح ته چمتو شوې وه، دا اندېښنه هم ورسره وه چي که زيد ﷺ خپلي مېرمني ته طلاق ورکړي او په دې توګه د هغې حيثيت ته صدمه ورسېږي له کومي لاري او څنګه به دا صدمه جبرانېږي، معلومه نه ده چي بل څوك به له دې سره نکاح ته چمتو شي که نه، په داسي حال کي چي د رسول الله زوی بوللي هغې ته طلاق ورکړی بل مسلمان به څنګه دې ته حاضر شي چي هغه نکاح کړي، که ئې رسول الله ځان ته نکاح کړي نو دښمنان به له دې ستره غوغا جوړه کړي، په همدغه حالت کي زيد ﷺ خپلي مېرمني ته طلاق ورکړ، همغه څه وشول چي رسول الله ترې وېرېدو، رسول الله ته له دې پرته بل بديل نه وو پاته چي زينب صلی ځان ته په نکاح کړي. په پورتنيو آيتونو کي دغي پېښي ته په دې توګه اشاره شوې: هغه مهال درپه ياد کړه چي تا هغه کس ته چي هم الله پرې انعام کړی وو او هم تا پرې پېرزوينه کړې وه؛ وويل: خپله مېرمن درسره تم کړه او له الله ووېرېږه، الله تعالی زيد ته د ايمان سعادت، د رسول الله د نږدې مصاحبت شرف او ښه استعدادونه ورپه برخه کړي وو، رسول الله هغه له غلامی آزاد کړ، په زوی ولی ئې ونيولو او خپله د ترور لور ئې هغه ته په نکاح ورکړه، د دې پېرزوينو تقاضاء دا وه چي د زينب صلی په اړه له بشپړ احتياط، زغم او حوصلې کار واخلي، نو ځکه رسول الله ورته ويل له الله ووېرېږه او مېرمن دي درسره وساته، ورپسې رسول الله ته ويل شوي: هغه څه چي تا په خپل زړه کي پټ ساتل الله تعالی غوښتل هغه څرګند کړي، له تا سره دا وېره وه چي دښمنان به ستره غوغا جوړه کړي، حال دا چي وېره دي بايد يوازې له الله تعالی وی، د دښمنانو د غوغا او تبليغاتو هيڅ پروا دي نه کولی، ته له دې وېرېدې چي که زيد ﷺ هغې ته طلاق ورکړي او ته دې ته اړ شې چي هغه په نکاح کړې نو دښمن به غوغا جوړه کړي، خو الله تعالی غوښتل همدا کار وشي، له طلاق وروسته ته هغه په نکاح کړې، چي په دې سره د جاهليت هغه غلط دود ستا په لاس په بشپړه توګه لغو شي، نو کله چي زيد ﷺ خپل حاجت له زينب صلی پوره کړ هغه مو تا ته په نکاح درکړه، د دې لپاره چي پر مؤمنانو په دې اړه کومه تنګسه نه وي چي د خپلو زوی بوللو مېرمني هغه مهال په نکاح کړي چي هغوی خپل حاجت ترې پوره کړی وي او طلاق ئې ورکړی وي، او په دې توګه د جاهليت دغه جاهلانه دود د تل لپاره لغو شي، الله تعالی چي د کوم کار پرېکړه کړې وي هغه هرو مرو ترسره کېږي، هيڅوك ئې د تحقق مخه نشي نيولی، د الله تعالی له لوري چي څوك د پيغمبر په توګه غوره شي په هغه څه کي به هيڅکله د زړه تنګي احساس نه کوي چي الله پرې مأمور کړی، همدا د ټولو پيغمبرانو په اړه د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت دئ، د الله تعالی هر کار په خپلي ټاکلي نېټي او له الهي مقدراتو سره سم ترسره کېږي، انبياءو ته د الهي رسالت رسولو دنده سپارل کېږي، دوی د خپل مأموريت په ترسره کولو او خلکو ته د الهي رسالت په رسولو کي يوازې له الله تعالی وېرېږي او له الله پرته له هيچا وېره نه لري، الله تعالی د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

دا مطلب هم بايد واضح کړو چي په ځينو رواياتو کي داسي څه تر سترګو کېږي چي

وايي: کله چې د دې سورې ۳۶ آيت نازل شو نو زينب صلى او د هغې کورنی د دغه آيت له اورېدو وروسته د زيد ﷛ په اړه له خپل مخکني دريځ راکوز شول او د رسول اللهﷺ له وړانديز سره ئې موافقه وکړه، خو که د آيت متن ته ځير شو او د نکاح په اړه د اسلام دا لارښوونه په پام کې ونيسو چې د نکاح واك ئې په بشپړه توگه مېړه او مېرمني ته ورکړی په پوره ډاډ سره ويلی شو چې دا آيت له دې موضوع سره خاص تړاو نه لري او ارتباط ئې له مخکنيو مطالبو سره دئ، ځکه نه رسول اللهﷺ زينب ته د نکاح حکم کړی او نه د هغې عدم رضايت د الله تعالى او د هغه د رسول له حکم سرغړای تلقي کولی شو، آيت وايي: وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ﴿٣٦﴾ : او هيڅ مؤمن او مؤمني ته نه ښايي چې کله الله او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي (بيا دي) دوی ته په خپل کار کې څه اختيار وي، او څوك چې له الله او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي يقيناً چې په ځرگند لاروركتوب سره لاروركی شو.

که احياناً د زينب صلى او د دهغې د کورنی دريځ د دې آيت يو مصداق وگڼو نو هغه به يوازې له دې پلوه وي چې هغوی د رسول اللهﷺ د ارشاداتو له اورېدو وروسته د نسبي توپير مخکنی احساس او خپل تېر ته د زيد ﷛ تر تېر په لوړه سترگه کتل پرېښی او له دې ازدواج سره ئې توافق کړی. نه دا چې رسول اللهﷺ د نکاح امر کړی، هغوی په ابتداء کې مخالفت او وروسته ئې د دې آيت په اورېدو سره موافقه کړې.

دې ته مو بايد پام وي چې د اسلام دښمنانو له دې قضيې ستره غوغا جوړه کړې، پر رسول اللهﷺ ئې ډول ډول تورونه لگولي، مستشرقينو په خپلو ليکنو کې پر دې قضيې ډېر ترکيز کړی او له هغې ئې ستره تبليغاتي حربه جوړه کړې، ځينو ويلي چې رسول اللهﷺ يوه ورځ زينب صلى په داسې حال کې ليدلې چې زړه ئې پرې بايللی... زيد ﷛ دې ته متوجه شوی او د همدې لپاره ئې هغې ته طلاق ورکړ!!!... دا په داسې حال کې چې زينب صلى د رسول اللهﷺ تر نظر لاندې ستره شوې، که رسول اللهﷺ غوښتلی نو هغه به ئې له زيد ﷛ سره تر نکاح وړاندې په نکاح کړې وه، که زينب صلى له يوه آزاد شوي غلام سره چې نه ئې مال او دولت درلود او نه دې خپل سيال گڼلو نکاح ته چمتو کېږي نو آيا له رسول اللهﷺ سره د دې د نکاح په وړاندې څه خنډ او مانع وو؟!! دښمنان په خپلو معاندانه تبليغاتو کې دې ته هم اعتناء نه کوي چې ادعاء ئې هم د عقل خلاف ده او هم د تاريخي واقعيتونو خلاف، بس له هر فرصت په استفادې سره د خپل خيرن زړه براسې باسي او دروغجن تورونه لگوي.

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ

بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾

او محمد ستاسو د هيڅ نارينه پلار نه دئ خو هغه د الله استازى او د انبياوو خاتم (مُهْر او پاى) دئ او الله په هر څه ښه پوه دئ.

(٤٠)- دا مبارك آيت د مخكني مبحث تتمه ده او مطلب ئې دا دئ: محمدﷺ په ژونديو مسلمانانو كي د هيڅ يوه نسبي پلار نه دئ، په زوى ولې نيولى زيد ﷛ د ده زوى نه دئ، د دوى دواړو ترمنځ اړيكي د اصلي پلار او زوى تر منځ اړيكي نه دي، رسول اللهﷺ د الله تعالى استازى او د مؤمنانو معنوي پلار دئ، وروستى پيغمبر دئ، تر ده وروسته بل پيغمبر نه راځي، د ده په ژوند كي بايد ټول هغه الهي لاربښووني او احكام بشپړ شي چي الله تعالى ئې پر انسانانو پېرزو كوي، د ده په لاس بايد د جاهليت د دور ټول جاهلانه دودونه لغو شي، هيڅ داسي څه پاته نشي چي د بل پيغمبر بعثت ايجاب كړي، د نورو انبياوو په ارتباط د ده حيثيت داسي دئ لكه د يوه ليك په پاى كي د ليكوال مُهْر، چي هم د ليك پاى په ګوته كوي او هم د ليك د ټولو مطالبو د تصديق او تأييد نښه ګڼل كيږي، نو رسول اللهﷺ او د هغه رسالت د ټولو پيغمبرانو د اوږدې لړى وروستى كړى او د دې ضخيم كتاب د وروستى پاڼي د آخري كرښي په پاى كي هغه مهر دئ چي د كتاب پاى او د هغه د ټولو مطالبو تصديق او تأييد په ګوته كوي. دا وينا د هغه عليم رب له لوري ده چي په هر څه ښه پوه دئ.

په دې مبارك آيت سره نه يوازې هغه مهم مبحث پاى ته ورسېدو چي په ترڅ كي ئې د جاهليت د دور دوه كركجن او جاهلانه دودونه لغو شول، هم د نسبي توپيرونو او امتيازاتو بت مات كړى شو او هم معنوي اړيكو ته د نسبي اړيكو رنګ وركولو ناوړه دود لغو شو بلكي د ډېرو سترو فتنو مخه پرې ونيول شوه، په دې مبارك آيت سره د ټولو هغو ټګمارو او دوكه مارو مخه ډب شوې چي د نبوت جعلي مدعيان ترې جوړ شي، يا ځان د مخكني پيغمبر د نبوت وارث ګڼي او يا مستقل نبي!! په تاريخ كي د داسي ټګمارو او د نبوت جعلي مدعيانو شمېر ډېر زيات دئ، د رسول اللهﷺ په ژوند كي هم راټوكېدلي او له هغه وروسته هم، غلام احمد قادياني ئې يوه بېلګه دئ، چي انګرېزانو د مسلمانانو لپاره د نبي په توګه غوره كړى!! د دغو دجالانو د ترديد او تكذيب لپاره د قرآن دغه آيت كافي دئ، الله تعالى نوى پيغمبر يوازې هغه مهال لېږلى چي د مخكني پيغمبر او د هغه د رسالت ټولي نښې زائل شوې، كتاب ئې تحريف شوى، د دعوت اغېز او آثار ئې له منځه تللي، داسي حالت پرې راغلى لكه چي د عيسى صلعم پر رسالت او دعوت راغى، تورات او انجيل تحريف شول، له دواړو بايبل دا له خرافاتو ډك كتاب جوړ شو، هغه بايبل چي كه ووايو د اصلي تورات او انجيل يوه جمله هم په كي نشته نو مبالغه مو نه ده كړې، ځكه دا بايبل د رومي واكمنو په وينا او په يوناني ژبي ليكل شوى او موجودي نسخي ئې له يوناني نسخي ژباړل شوې، حال دا چي تورات او انجيل د بني اسرائيلو په ژبي نازل شوي نه په يوناني ژبي، هغه مهال چي عيسى صلعم د خداى ځاى ناستى وګڼل شو، دين د ټګمارو په لاس كي دام او د عوامو د غولولو په وسيلي بدل شو، دغه مهال د بل پيغمبر بعثت او د بل كتاب د لېږلو ضرورت رامنځته شو او د همدې لپاره الله تعالى

رسول الله ﷺ د نوي پیغمبر په توګه غوره کړ او د خلکو د لارښوونې لپاره ئې داسي کتاب ولېږو چي نه یوازي کامل او بشپړ دئ، پر ټولو مخکنیو کتابونو شامل دئ، د انسان ټولو پوښتنو ته ځواب وایي، ټولي معنوي غوښتني ئې ترسره کوي، د ژوند په ټولو برخو کي ئې لارښوونه کوي بلکي تر قیامته ئې د هغه د حفاظت انتظام هم کړی. الله تعالی د دې ذمه وال دئ چي تر قیامت پوري به داسي حالت نه رامنځته کېږي چي د قرآن ځای خالي وي او د بل کتاب لېږلو ضرورت احساس شي، نو ځکه د بل پیغمبر او نبي د بعثت اړتیا په بشپړه توګه او د تل لپاره منتفي شوې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُصَلِّي عَلَيۡكُمۡ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا ﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمۡ يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهُۥ سَلَٰمٞۚ وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا ﴿٤٤﴾

اې هغو چي ایمان ئې راوړی! الله په ډېرو یادولو سره یاد کړئ، او سبا او بېګاه ئې تسبیح وایئ، دی همغه (ذات) دئ چي پر تاسو رحمتونه لېږي او فرشتې ئې هم، ترڅو تاسو له تیارو د نور په لوري وباسي، او هغه پر مؤمنانو مهربان دئ، په هغه ورځ چي ورسره مخامخ کېږي ښه راغلی به ئې (په) سلام (سره) وي او غوره اجر ئې ورته تیار کړی.

(۴۱-۴۴)- په دې مبارکو آیتونو کي مؤمنانو ته څو سپارښتني شوې:

- الله تعالی په ډېرو یادولو سره یاد کړئ.
- سبا او بېګاه ئې تسبیح وایئ، له عیب او نقص ئې منزه او لوړ ګڼئ، د ده له حکم او إذن سره سم چي څه د ده په ملك کي ترسره کېږي په دې ټولو کي نه یوازي الله تعالی ته کوم عیب او نقص نشي منسوبېدی بلکي هغه په ذات، صفاتو او افعالو کي له هر عیب منزه دئ.
- ستاسو رب همغه ذات دئ چي پر تاسو رحمتونه او سلامونه لېږي او فرشتې ئې هم، غواړي تاسو له تیارو د نور په لوري بوځي، پر مؤمنانو مهربان دئ، د پیغمبر بعثت او د لارښود کتاب لېږنه د ده د رحمت او پېرزویني ستره او ځلانده بېلګې دي.
- کله چي مؤمنان د قیامت په ورځ له خپل رب سره مخامخ کېږي نو د دوی ښه راغلی به په سلام سره وي، د الله تعالی او فرشتو له لوري به دوی ته د سلام په صیغه ښه راغلی ویل کېږي.
- الله تعالی مؤمنانو ته غوره او ښایسته اجر تیار کړی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴿٤٥﴾ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ

وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ
ٱلْكَٰفِرِينَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَدَعْ أَذَىٰهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾

اې نبي! يقيناً چي ته مو شاهد، زېرى وركوونكى، انذار وركوونكى، د الله په حكم د الله لوري ته بلونكى او لكه روڼ څراغ لېږلى يې. او مؤمنانو ته دا زېرى وركړه چي ستر الهي فضل ئې په برخه دئ، او د كافرانو او منافقينو متابعت مه كوه، ځوروني ئې له پامه وغورځوه، او پر الله توكل وكړه، او الله د وكيل په توګه كافي دئ.

(٤٥-٤٨)- په دې مباركو آيتونو كي د رسول اللهﷺ څو صفاتو ته اشاره شوې:

- نبي: هغه څوك چي له حقائقو خبر او په خبرو پوه وي.
- رسول: هغه استازى چي له يوه پيغام او رسالت سره لېږل شوى.
- شاهد: هغه څوك چي د يوه مطلب په حقانيت په خپل قول او عمل سره شهادت وركوي او د نورو لپاره بېلګه او اسوه وي.
- مبشر: زېرى وركوونكى.
- نذير: له بدو پايلو او خطرناكو پېښو او عواقبو د خلكو وېروونكى.
- داعياً الى الله: د الله په لوري بلونكى.
- سراجاً منيرا: روڼ او روښانه څراغ.

په دې مباركو آيتونو كي نه يوازي د پيغمبر عليه السلام ځانګړتياوي ښودل شوې بلكي د دعوت د بېلو بېلو مراحلو تسلسل ته هم اشاره شوې، په دې توګه:

- د پيغمبرانو هر دعوت له داسي خلكو پيل شوى چي لومړى ئې په خپله پوهه او بصيرت په برخه شوى، الله تعالى د وحي له لاري په حقائقو پوه كړي، بيا له الهي پيغام او رسالت سره د خلكو د هدايت او لارښووني لپاره لېږل شوي، بيا همدغه پيغام او دعوت د دوى او د دوى د پلويانو په عملي شخصيت كي عيني تجسم مومي، له هر يوه د خپل دعوت د ټولو مفاهيمو لپاره ژوندى شاهد او بېلګه جوړ شوى، ګورئ چي دلته په دې صف كي يوازي پوهه او بصيرت كافي نه دئ، بلكي له پوهي وروسته ګڼ شمېر مراحل شته، پيغمبر عليه السلام فرمايي: د علم دوه ډولونه دي: يو ئې هغه چي يوازي په ژبه وي، داسي علم به د قيامت په ورځ د انسان په خلاف حجت ګرځي او بل ئې هغه نافع علم چي د عمل لارښود وي او انسان پرې عمل كوي.
- د پيغمبرانو عليهم السلام په لار تلونكي بايد د خپلي الهي تګلاري د دقيقي پېژندني ترڅنګ د الهي پيغام حامل وي، دا پيغام او رسالت بايد د دوى په عملي شخصيت كي داسي راڅرګند شي چي هر ليدونكى د دوى په كړنو كي د دې دعوت څرنګوالى او اغېز په خپلو سترګو وګوري. دا ځكه چي پيغمبر عليه السلام د شاهد او ګواه په توګه لېږل شوى، داسي چي د ده عمل د ده د دعوت او رسالت په حقانيت شهادت وركوي او دا دعوت او عقيده د ده په

عملي شخصيت كي په داسي توگه راڅرگندېږي چي هر ليدونكى د دې عقيدې په حقانيت متقاعد كړي.

- **د پيغمبر بل مهم صفت دا دئ چي هغه د مبشر په توگه لېږل شوى، د مأيوسو او نا اميدو خلكو طرف ته تللى، د هغوى مړې هيلي ئې راژوندئ كړې، د هغوى مأيوس زړونه ئې ډاډه كړي، او له ياس او نا اميدئ ئې ژغورلي، هغوى ته ئې د ايمان په لار كي د روښانه مستقبل او ځلانده راتلونكي زېرى وركړى، د پيغمبرانو عليهم السلام په لار تلونكي هر دعوتگر بايد تر ټولو د مخه مبشر وي، د يأس او نا اميدئ مقابله به كوي، هغه دعوتگر چي په خپلي بريا باور نه لري، د خپل رب په رعايت، عنايت او مرستي ئې بشپړ يقين نه وي، د خپل دعوت راتلونكي ته هيله من نه وي، مأيوس وي، خپل مخاطب ته د بريا، فتحي، غلبې او روښانه مستقبل زېرى نشي وركولى، هغه يو ناكام داعي دئ، دا ځكه چي له نبوت او رسالت وروسته د هر پيغمبر لومړى صفت مبشر دئ، هغه په خپله هيله من دئ، داسي چي په سختو سختو حالاتو كي نه مأيوس كېږي او هغه خپل امت ته هم د روښانه راتلونكي او حتمي بريا او فتحي زېرى ور كوي او د مبشر په توگه د مأيوسو ولسونو طرف ته درومي.**

او هغه نذير دئ، د ظلم مقابله كوي، د فساد، جهل او شرك مقابله كوي، خلك د فساد، شرك، جهل او ظلم له بدو پايلو وېروي، هغه د منكراتو او مفاسدو په وړاندي چوپ او بې اعتناء نه پاته كېږي، بلكي خلك وېروي، كه له يوې خوا مؤمنانو ته د ايمان په خط كي د برې او غوره پايلي زېرى وركوي، له بلي خوا هغه چا ته چي له دې لاري منحرف شي او مفسدينو او ظالمانو ته انذار وركوي او د كفر، ظلم او فساد له بد عاقبت ئې وېروي.

هغه يو دعوتگر دئ، په خپل قول او عمل سره، بلنه ئې د الله تعالى لوري ته وي، نه د ځان لوري ته، او نه د كوم دنيوي غرض او مقصد لپاره، داسي بلونكى او دعوتگر چي د خپل رب په اذن او حكم او د ده له سننو او لارښوونو سره سم خلكو ته بلنه وركوي، غواړي خلك د الله لوري ته لاړ شي، هغه ته ورنږدې شي، په الهي اخلاقو مزين او سمبال شي.

هغه په انساني ټولني كي داسي دئ لكه په تياره كي روڼ او روښانه ځراغ، خپله سوزي خو نورو ته رڼا وركوي، لكه شمع په خپل سر اور وړي چي د نورو ماحول او د پښو مخه روښانه كړي، د نورو لپاره سوزي، د نورو د هدايت او لارښووني لپاره ځان وقفوي، كله چي خلك په تياره كي وي او روڼ مشعل ته اړوي نو دى د روڼ او روښانه ځراغ په څېر دوى ته لار ښيي او له تيارو ئې باسي.

پيغمبر مؤمنانو ته د دې خبري زېرى وركوي چي د الله له لوري ئې ستر فضل په برخه دئ، دوى بايد ډاډه وي چي الله تعالى به خپل ستر فضل ورپه برخه كړي، پر دښمنانو به فتح، برلاسي او غلبه وركړي او خپل تأييد به د دوى په حال شامل كړي.

پيغمبر په دې گمارل شوى چي د كافرانو او منافقانو اطاعت به نه كوي، له كافرانو او منافقينو به ځان لري ساتي، د هغوى تگلاري او كړنلاري به مردود شمېري، د ژوند په هيڅ برخي او هيڅ كار كي به د دوى كړنلاره نه غوره كوي، هدف ته د رسېدو لپاره به هغه لاري چاري او تدبيرونه نه غوره كوي چي كافران او منافقان ئې غوره كوي، د دوى د اذيتونو او ځورونو، تبليغاتو او غوغاوو پروا به نه كوي.

پیغمبر پر الله تعالی توکل لري، ځان الله تعالی ته سپاري او هغه ځان ته کافي ګڼي.
دې آیتونو نه یوازي د رسول اللهﷺ لوړ اخلاقي صفات زموږ مخي ته انځور کړي بلکي موږ ته وايي: د پیغمبر **صلعم** په لار تلونکي مؤمنان باید دغه ځانګړتیاوي او مواصفات ولري.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحْتُمُ ٱلْمُؤْمِنَـٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾

اې هغو چي ایمان ئې راوړی! کله چي مؤمني مېرمني په نکاح کړئ بیا وړاندي تر دې چي نږدېکت ورسره وکړئ طلاق ورکړئ نو تاسو پر دوی د عدت داسي کوم حق نه لرئ چي شمېرل به ئې کوئ، نو څه متاع ورکړئ او په ښه توګه خوشي کولو سره ئې خوشي کړئ.

(٤٩)- دا مبارك آیت مؤمنانو ته لارښوونه کوي چي له هغو مېرمنو سره به څه کوي چي له نکاح وروسته او تر نږدېکت وړاندي طلاق ورکړي، وايي: اې هغو چي ایمان ئې راوړی! کله چي مؤمني مېرمني په نکاح کړئ بیا وړاندي تر دې چي نږدېکت ورسره وکړئ طلاق ورکړئ نو تاسو پر دوی د عدت تېرولو حق نه لرئ، دا ځکه چي د کوندو او طلاق شوو مېرمنو لپاره د عدت موده د دې لپاره ټاکل شوې چي معلومه شي آیا له مخکني خاوند حامله شوې که نه، په دې مودې کي به حالت څرګند شي، داسي نه چي هغه مېرمن به هم د عدت په نامه درې حیضه انتظار کوي او له بل چا سره به د نکاح حق نه لري چي له نږدېکت وړاندي طلاق ورکړی شوی. له داسي مېرمنو سره به ستاسو چلن ډېر مؤدبانه او له پېرزوینې ډك چلن وي، په ښه توګه او په احترام سره ئې رخصت کړئ او د خپل وس په اندازه مرسته ورسره وکړئ.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَٰجَكَ ٱلَّـٰتِىٓ ءَاتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّـٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَـٰلَـٰتِكَ ٱلَّـٰتِى هَاجَرْنَ مَعَكَ وَٱمْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِىِّ إِنْ أَرَادَ ٱلنَّبِىُّ أَن يَسْتَنكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۗ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِىٓ

أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا
رَّحِيمٗا ﴿٥٠﴾ ۞تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ مِمَّنۡ
عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ
بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمٗا ﴿٥١﴾ لَّا
يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعۡدُ وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ حُسۡنُهُنَّ
إِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا ﴿٥٢﴾

اې نبي! تا ته مو ستا هغه مېرمني روا کړې دي چي تا ئې مهر ورکړی، او ستا هغه وينځې چي الله درباندې پېرزو کړې دي، او ستا هغه ترلې، او ستا هغه ترنډو لوڼې دي، د ماما لوڼې دي، د توريو (خاله ګانو) لوڼې دي چي له تا سره ئې هجرت کړی او هغه مؤمنه مېرمن چي غواړي خپل نفس پيغمبر ته وبخښي، خو که پيغمبر وغواړي هغه په نکاح کړي، دا خاص ستا لپاره دي، نه د (ټولو) مؤمنانو لپاره، موږ په يقين سره پوهېږو چي پر دوی مو د خپلو مېرمنو او وينځو په اړه څه فرض کړي، ترڅو پر تا کومه تنګسه نه وي، او الله مهربان بخښونکی دئ. هغه ئې وروسته کړه چي ته ئې غواړې او هغه درنږدې کړه چي ته ئې غواړې، او که له هغو چي تا جلا کړې دي څوك ئې دروغواړې نو څه ګناه درباندې نشته، همدا دې ته نږدې ده چي د دوی سترګې يخې شي او غمجنې نه شي، او په هغه څه راضي وي چي تا دوی ټولو ته ورکړي، او الله په هغه څه پوهېږي چي ستاسو په زړونو کي دي، او الله د حلم او صبر خاوند پوه دئ، تر دې آخوا تا ته نوري ښځې روا نه دي او نه دا چي په نورو مېرمنو ئې تعويض کړې، که څه هم د هغوی ښکلا دې حيران کړي، مګر هغه چي ستا وينځې وي، او الله پر هر څه څارونکی دئ.

(۵۰-۵۲)- په دې مبارکو آيتونو کي رسول الله ﷺ ته د خپلو مېرمنو په اړه څو مهمې لارښوونې شوې:

- **دغه مېرمني درته روا دي: هغه چي تا ئې مهر ورکړی، ستا هغه وينځې چي الله درباندې پېرزو کړې دي، ستا هغه ترلې، د ترنډو لوڼې، د ماما لوڼې او د توريو (خاله ګانو) لوڼې چي له تا سره ئې هجرت کړی او هغه مؤمنه مېرمن چي غواړي خپل نفس پيغمبر ته وبخښي، خو که پيغمبر وغواړي هغه په نکاح کړي، دا خاص ستا لپاره دي، نه د ټولو مؤمنانو لپاره، پر**

مؤمنانو چې د خپلو مېرمنو او وينځو په اړه څه فرض شوي هغه د الله تعالى د کامل علم مطابق دي.

- ستا لپاره د مېرمنو په اړه استثنائي لاربښوونه د خاص او ځانګړي مصلحت له مخې ده، الله تعالى غواړي ته له کوم حرج او کړاو سره مخامخ نه وې، دا مېرمني د دعوت په چارو کي مخصوصاً ښځو ته د پيغام او دعوت رسولو په برخه کي ستا مرستيالي وي، دا په حقيقت کي د الله تعالى يوه پېرزوينه او د ده د رحمت او بخښني نښه ده، الله مهربان بخښونکی دئ.
- د خپلو مېرمنو په اړه په نوبت او وار هم مکلف نه يې، کولی شې يوه وروسته او بله وړاندي کړې، کومه چې غواړې وروسته ئې کړه او کومه چې غواړې درنږدې ئې کړه، او که له وروسته او جلا کړی شوو د کومي يوې خوا ته دروستل وغواړې نو څه ګناه دربانديې نشته، ستا د مېرمنو لپاره ستا د مصاحبت شرف او افتخار کافي دئ، په هغه څه چې ته ئې ورسره کوې بايد خوشحاله او راضي وي، نه په وروسته وړاندي کېدو غمجني شي، نه تر دې زيات وغواړي او نه اعتراض وکړي.
- ستاسو ټولو معامله له هغه رب سره ده چې ستاسو د زړونو له حالت او کيفيت خبر دئ او په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو ئې په خپلو زړونو کي ساتئ، خو الله تعالى هغه عليم ذات دئ چې د حلم او صبر خاوند دئ، له خپلو بندګانو سره د خپلو صفاتو له مخي معامله کوي.
- تر دې آخوا تا ته نوري ښځي روا نه دي او نه دا چې په نورو مېرمنو ئې تعويض کړې، داسي چې يوه طلاق کړې او پر ځای ئې بله په نکاح کړې، که څه هم د هغوی ښکلا دې حيران کړي، مګر هغه چې ستا وينځي وي.
- الله تعالى پر هر څه څارونکی دئ، ستاسو حالت څاري.

که څه هم د دې آيتونو په ترڅ کي رسول الله ﷺ ته د خپلو مېرمنو د نوبت او وار په اړه اختيار ورکړی شوی، خو رسول الله ﷺ تل او د ژوند تر وروستيو شپېو پوري د وار مراعات کړی، ډېر ځلي داسي شوي چې رسول الله ﷺ غوښتي دي چې ټوله شپه به عبادت تېره کړي، نو د خپل وار له مېرمني ئې د دې اجازه غوښتې ده او هغې ورسره موافقه کړې ده.

که څه هم په دې مبارکو آيتونو کي داسي څه نشته چې دښمنان پرې اعتراض وکړي او دا په حقيقت کي د دښمنانو د هغه اعتراض په ځواب کي راغلي چې له زينب صلی سره د رسول الله ﷺ د واده په ارتباط ئې کول خو د دښمنانو دا اعتراض ځواب غواړي چې ولي رسول الله ﷺ ته په ځانګړې توګه او مسلمانانو ته په عامه توګه تر يوې مېرمني د زياتو درلودو اجازه ورکړی شوې، آيا دا د عدل او مساوات خلاف پرېکړه نه ده؟

په دې اړه بايد ووايو چې داسي اعتراضات يا له هغه کينه کښ زړه راټوکېدلي چې له الهي اديانو سره کلکه او نه پخلا کېدونکې دښمني لري او يا هغه چې د تعدد زوجات له حکمت او فلسفې بې خبره وي او ګمان کوي چې د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چې په دې کار کي نغښتی وو. راشئ وګورو چې د پيغمبر عليه السلام د ودونو حقيقت څنګه وو؟ ولي هغه ته د (نه) ښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې، د دې دليل څه دئ او دا کار په

كومي زماني كي او د پيغمبر عليه السلام د مبارك ژوند په كوم پړاو كي تر سره شوي؟
ټولو ته جوته ده چي رسول الله په پنځه ويشت كلنی كي واده وكړ، خديجه صلی د ده لومړۍ بي بي ځلوېښت كلنه وه، د هغې تر وفات پوري ئې بله ښځه نده كړې، تر پنځوس كلنی پوري ئې يوازي يوه ښځه درلوده، د خديجې صلی له وفات وروسته ئې سوده صلی چي كونډه وه په نكاح كړه، سوده له لومړيو مسلمانانو ښځه وه، له خپل مخكني مېړه سره ئې يو ځای حبشي ته هجرت وكړ او د هجرت سختي شپېې او كړاوونه ئې وگالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او پېغلتوب، امتياز ئې قوي ايمان او د ايمان په لار كي قرباني وو، پيغمبر عليه السلام صرف يوه ښځه په پېغلتوب كي كړې. نوري بيبياني ئې كونډي وې، هره يوه ئې د يوه لوی اجتماعي مصلحت لپاره په نكاح كړې، شايد د حفصه صلی د نكاح څرنگوالی د پاته ودونو د موخو لپاره ښه مثال وي:
حفصه صلی د عمر ﷺ لور وه، مخكني مېړه ئې د بدر په جگړي كي برخه اخيستې وه، هغه وفات شو، عمر رضي الله عنه، ابوبكر او عثمان رسول ته ورغی او له هغوی ئې وغوښتل چي حفصه په نكاح كړي، خو دوی د خپلو معاذيرو په وجه ډډه وكړه، عمر ﷺ دا مشكل له پيغمبر عليه السلام سره ياد كړ او هغه پدې خاطر له حفصې صلی سره د نكاح اراده وكړه چي له خپل نږدې او مخلص ملگري سره د يوې داسي ستونزي په حل كي مرسته وكړي چي نورو ورته حل نكړی شوه.
همدا راز زينب بنت خزيمةصلی چي مېړه ئې د احد په جگړي كي په شهادت ورسېد، عمر خوړلې كونډه وه، په نېكو كارونو كي هومره مشهوره وه چي خلكو به د (بې وزلو مور) په نامه يادوله، پيغمبر عليه السلام هغه پدې خاطر ځانته نكاح كړه چي له يوې خوا ئې د يوه بدري مجاهد په اړه خپله خواخوږي ښودلې وي او له بلي خوا ئې د يوې داسي نوميالۍ، خيري او با ايمانه ښځي ستونزه حل كړې وي. دا نېكه بي بي يوازي دوه كاله نور ژوندی وه.
همدا راز ام سلمه چي ٦ اولاده ئې درلودل، مېړه ئې د احد په جگړي كي زخمي شو، د بلي جگړي په دوران كي د ده زوړ پرهار پرې شو او له همدې كبله وفات شو، پيغمبر عليه السلام د ده په مړيني هومره خواشينی شو چي اوښكي ئې توی شوې، د ده له مړيني ٤ مياشتي وروسته ئې ام سلمی ته ځوك د خطبې لپاره ورولېږو، هغې خپل عذر داسي وړاندي كړ: زه عمر خوړلې يم، ډېر اولادونه لرم، نه غواړم ستا د اذيت باعث شم. خو پيغمبر عليه السلام غوښتل پدې نكاح سره مسلمانانو ته د خپلو ديني ورونو په نسبت د وفادارۍ او د كونډو او يتيمانو د پالني او روزني نه هېرېدونكې اسوه وړاندي كړي. ام سلمی ته ئې قناعت وركړ او دا نكاح ترسره شوه. د پيغمبر عليه السلام ټول ودونه همداسي وو.
په دې ودونو كي يو بل ستر مصلحت هم مضمر وو او هغه دا چي د پيغمبر عليه السلام د بيبيانو له لاري د دين يوه لويه برخه مسلمانانو ته رسېدلې، دوی د نورو ښځو لپاره د ښوونكو حيثيت درلود، نورو ښځو به لدوی دين زده كاوو، كه تاسو د رواياتو كتابونه وڅېړئ په څرگنده به وگورئ چي د دې كتابونو په هر مخ كي له همدې بيبيانو يو په بل پسي روايتونه ستاسو مخي ته راځي.

د تعدد زوجات وجه د جنسي قوت زياتوالى نه ده، بلکي وجه ئې دا ده چي په دې سره د ټولني يوه لويه ستونزه حل کېږي، د کونډو او يتيمانو د کفالت په موخه خلکو ته تر څلورو ښځو اجازه ورکړى شوې، قرآن په هغه ځاى کي د تعدد زوجات يادونه کوي چي د يتيمانو د کفالت موضوع څېړي. همدا وجه ده چي رسول الله له يوې پرته نوري ټولي کونډي په نکاح کړې دي. متأسفانه ځينو بې بنسټو رواياتو د دښمنانو لاس ته هغه څه ورکړي چي د اسلام په ضد ترې استفاده وکړي، دوى د دښمنانو تبر ته لاستى برابر کړى چي د اسلام جرړي پرې پرې کړي، زه د داسي رواياتو دوه بېلګې ستاسو په وړاندي ږدم:

عن صفوان بن سليم قال قال رسول اللهـ أتانى جبريل بقِدْرٍ فأكلت منها فأُعطيتُ قوة أربعين رجلاً فى الجِمَاع. الطبقات الكبرى لابن سعد

له صفوان بن سليم روايت دئ چي رسول اللهـ وفرمايل: ما ته جبرئيل د پخلي لوښى راوړ، له هغه مي څه وخوړل، په همدې سره د څلوېښتو سړيو برابر د جماع قوت راکړى شو!!

د دې جعلي روايت په اړه بايد ووايو:

- **دا روايت په هيڅ معتبر کتاب کي، د صحاح سته په شمول؛ نه دئ راغلى، يوازي د ابن سعد په الطبقات الکبرى کي راغلى، الباني د دې روايت په اړه ليکلي چي باطل او موضوعي دئ، أتاني جبريل بقدر فأكلت منها فأعطيت قوة أربعين رجلا في الجماع . (باطل)، قال الشيخ الألباني : (موضوعٌ) انظر حديث رقم : ٦٣ في ضعيف الجامع**

همداراز بل محقق حافظ احمد الغمارى موضوعي ګڼلى: والحديث موضوعٌ كما قال الحافظ أحمد الغمارى فى المغير (ص ٨) .

په بخاري کي دې ته ورته يو روايت راغلى په دې صيغه:

عَنْ قَتَادَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّـ يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الْوَاحِدَةِ مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ. قَالَ قُلْتُ لأَنَسٍ أَوَكَانَ يُطِيقُهُ قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ أُعْطِيَ قُوَّةَ ثَلاَثِينَ. وَقَالَ سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ إِنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ تِسْعُ نِسْوَةٍ. (بخاري:٢٦٨)

له انس ﷻ روايت دئ چي وايي: رسول الله به د شپې او يا د ورځي په يوې برخي کي له خپلو ټولو مېرمنو سره يو ځاى کېدو، او د مېرمنو شمېره ئې يولس او په بل روايت نه (٩) وه، انس ﷻ ته وويل شول: آيا رسول الله دومره طاقت درلود؟ ده وويل: موږ به سره ويل چي رسول الله ته د دېرشو کسانو قوت او طاقت ورکړى شوى.

دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دې شمېرو تکرار شوى: ٢٨٤، ٥٠٦٨، ٥٢١٥ چي تر منځ ئې دا توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کي يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الْوَاحِدَةِ مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ او په بل کي كَانَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ فِي اللَّيْلَةِ الْوَاحِدَةِ، په يوه کي وَلَهُ يَوْمَئِذٍ تِسْعُ نِسْوَةٍ او په بل کي وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ راغلي. لکه چي ګورئ په دغو رواياتو کي تعارض دئ، يو ئې وايي په شپه او ورځ کي او بل ئې وايي په يوه شپه کي، يو ئې وايي چي يولس مېرمني ئې وې او بل ئې وايي چي نه (٩) وې!!

دا روايت د سند له مخي تر ټولو زيات غريب روايت دئ، ځکه په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يوازي يو يو راوي لري، او د متن له مخي داسي دئ چي هيڅ وزن او اعتبار نه لري، روايت دوه برخي لري، يوه ئې دا چي رسول الله به د ورځي يا د شپې په کومي برخي

کي په خپلو ټولو مېرمنو راګرځېدو، دا برخه په ځینو نورو روایاتو کي هم راغلي او مطلب ئي دا دئ چي د ټولو پوښتنه به ئي کوله، په دې کي دقیقه خبره دا ده چي کله به ئي مازدیګر دا کار کاوو او کله تر ماښام وروسته. بله برخه ئي انس ﷺ ته منسوب دا دوه ویناوي دي: ۱- رسول الله یا نه (۹) یا یولس (۱۱) مېرمني درلودې او ګواکي په همدې وخت کي به ئي له ټولو سره نږدېکت کاوو! ۲- دا ځکه چي موږ به ویل: رسول الله ته د دېرشو کسانو طاقت ورکړی شوی دئ. د دې دواړو خبرو په اړه باید ووایو چي دا په بشپړه توګه بې بنسټه او د حقیقت خلاف خبري دي، په څو دلائلو:

- راوي ته داسي خبره منسوب شوې چي په هیڅ توګه نشي ترې خبرېدی، انس ﷺ څه پوهېدو چي د رسول الله او د هغه د مېرمنو تر منځ څه تېرېدل؟! چا دا خبره ورته کړې؟ څنګه ترې خبر شوی؟! په کار خو دا وه چي دغه روایت ته په پام سره معاذ بن هشام د ضعیفو او غیر ثقه راویانو په جمعي کي نیول شوی وی او هر هغه روایت یوې خوا ته پرېښودل کېدی چي د ده له لوري روایت شوی.
- **په روایاتو کي تعارض دئ، او دا د ټولو محدثینو او فقهاوو له لوري منل شوی اصل دئ چي کله د یوې موضوع په اړه متعارض روایات مومو داسي چي تر منځ ئي نه تلفیق ممکن وي او نه داسي دلیل مونډلی شو چي یوه ته پر بل ترجیح ورکړو، په قرآن کي کوم شاهد ورته ونه مومو، په خپله دغو روایاتو کي هم د ترجیح وجه پیدا نه کړو نو په کار دا ده چي ټول یوې خوا ته پرېږدو، نه استناد پرې وکړو، نه ئي نورو ته ووایو او نه کوم یو د خپلي سلیقي له مخي غوره کړو.**
- روایت کي د شك الفاظ دي، یو ځای نه (۹) راغلي او بل ځای یولس (۱۱)، یو ځای یوازي شپه راغلي او بل ځای شپه او ورځ، دا شك د روایت اعتبار له منځه وړي.
- راوي ته داسي خبره منسوب شوې چي د هغه په بې خبری دلالت کوي حال دا چي د داسي بې خبری احتمال نشته، څنګه ومنو چي انس ﷺ نه پوهېدو چي درسول اللهﷺ په حرم کي څو مېرمني وې؟!!
- په روایت کي د عقل، درایت او فطرت خلاف خبره راغلې، د انسان جنسي طاقت دومره نه دئ چي په یوه شپه کي یولس ځلي جنسي قربت وکړي، حتی د ځوانی په وخت کي، په زړښت کي او له پنځه پنځوس کلنی وروسته د دې تصور هم نشي کېدی، په یوه شپه کي یو لس ځلي جنسي قربت او هغه هم له بېلو بېلو مېرمنو سره مستحیل دئ!!
- **راوي له دې خبر نه دئ چي په یوه وخت کي د پیغمبر علیه السلام په حرم کي څو مېرمني وې، په خپله وایي چي نه یا یولس! څوك چي له دې خبر نه وي نو له دې به څنګه خبرېدو چي له خپلو مېرمنو سره د لیدو پر مهال څه تېر شوي، پیغمبر علیه السلام خو خاوند او مېرمن له دې منع کړي چي د خپل خلوت خبري د بل چا په وړاندي وکړي، د خلوت له خبرو له خاوند او مېرمني پرته بل هیڅوك نه خبرېږي، د راوي د دې ادعاء مرجع کومه ده؟ چا دا خبره ورته کړې؟**
- **نه قرآن دا خبره کړې چي رسول الله د دېرشو کسانو جنسي قوت درلود او نه پیغمبر علیه**

السلام په خپله دا خبره کړې ده، نو راوي د کوم دليل له مخي دا ادعاء کړې ده؟

- د دې روايت په دوهمي برخي کي انس ﷻ ته منسوب ويناوي داسي دي چي هيڅ مسلمان بايد د هغوی د ويلو جسارت ونه کړي، دا هم د عقل خلاف دي، هم د فطرت او هم د حقيقت، دا د رسول الله په شأن کي جسارت او هتك حرمت دئ، هغه نه پوهېږي چي که دښمنانو ته داسي خبري په لاس ورغلې نو د اسلام په ضد به څومره استفاده تري کوي؟!! څوك چي دا خبره په خوله راوړي بايد د رسول الله هغه حديث ئې مخي ته ودرېږي چي وايي: چا چي ما ته داسي څه منسوب کړل چي ما نه وي ويلي د جهنم اور ته دي چمتو شي. داسي خبري هغه څوك کولی شي چي د رسول الله د تعدد زوجاتو له حکمت او فلسفې بې خبره وي او گمان کوي چي د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چي په دې کار کي نغښتی وو.

زه حيران يم چي موږ څنگه د احاديثو په کتابونو کي داسي بې بنسټه خبري راوړې چي زموږ د گران او محبوب پيغمبر محمدﷺ په اړه داسي ژبه په کي کارول شوې!! په کار خو دا وه چي د دې روايت په وجه ټول هغه کسان بې اعتباره گڼل شوي وی او نور روايات ئې هم له اعتباره ساقط شمېرل شوي وی چي د دې روايت د اسنادو په لړ کي د هغوی نومونه راغلي، د رسول الله په اړه دا وينا خو څه عادي خبره نه ده، څوك چي دا روايت گوري نو د پيغمبر عليه السلام په اړه به ئې تصور دا وي چي هغه خپل زيات وخت، په شپه ورځ کي نږدې نيمايي، له خپلو مېرمنو سره او هغه هم په جنسي تعلق کي تېراوو!! نعوذ بالله من ذالك!!! ما ته د رسول الله په اړه داسي خبري همغسي معلومېږي لکه چي يهودانو د داؤد عليه السلام په اړه وکړې او په محرف تورات کي ئې وليکل چي هغه نه نوي مېرمني درلودې او سلمه ئې هم وکړه، خو دا د هغه چا مېرمن وه چي يو مخلص جنگيالی وو، داؤد عليه السلام امر وکړ چي هغه د جنگ لومړي خط او خطرناك لوري ته ولېږئ چي ووژل شي او مېرمن ئې دی په نکاح کړي، بايبل د داؤد او بتشبع (د سليمان عليه السلام مور) تر عنوان لاندي هغه د يوه دروند پيغمبر په توگه نه بلکي (نعوذ بالله) د يوه عياش پاچا په څېر انځوروي

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّآ أَن يُؤۡذَنَ لَكُمۡ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيۡرَ نَـٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَـٰكِنۡ إِذَا دُعِيتُمۡ فَٱدۡخُلُواْ فَإِذَا طَعِمۡتُمۡ فَٱنتَشِرُواْ وَلَا مُسۡتَـٔۡنِسِينَ لِحَدِيثٍۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ يُؤۡذِي ٱلنَّبِيَّ فَيَسۡتَحۡيِۦ مِنكُمۡۖ وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ مَتَـٰعًا فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍۚ ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ وَقُلُوبِهِنَّۚ وَمَا كَانَ لَكُمۡ أَن تُؤۡذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓاْ

أَزْوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًاۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾ إِن تُبْدُوا۟ شَيْـًٔا
أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٥٤﴾

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د پيغمبر کورونو ته تر هغه مه ننوځئ چې اجازه درکړی شي، د داسي خوړو لپاره چې پخېدو ته ئې منتظر نه وئ، او کله چې وبلل شئ نو ننوځئ او کله چې خواړه وخوړئ خواره شئ، او نه د خبرو تلوسه کوونکي، يقيناً چې ستاسو دا کار پيغمبر ځوروي او هغه له تاسو حياء کوي، او الله د حق (له ويلو) حياء نه کوي، او کله چې له مېرمنو (ئې) څه غواړئ نو د حجاب له آخوا ئې ترې وغواړئ، همدا مو ستاسو او د دوی د زړونو لپاره د زيات پاکوالي باعث دئ، او تاسو ته نه ښايي چې رسول الله وځوروئ او نه ابداً دا (درسره ښايي) چې له ده وروسته د ده مېرمني په نکاح کړئ، يقيناً چې دا مو د الله په نزد کي ستر (بد کار) دئ. که کوم څه ځرگند کړئ يا ئې پټ کړئ نو يقيناً چې الله پر هر څه ښه پوه دئ.

(٥٣-٥٤)- په دې مبارکو آيتونو کي مسلمانانو ته د هغو آدابو لارښوونه شوې چې د رسول الله ﷺ **د کور او کورنۍ په اړه ئې بايد مراعات کړي، ورته ويل شوي:**

- **د پيغمبر کورونو ته تر هغه مه ننوځئ چې اجازه درکړی شي، که خوړو ته وبلل شئ نو داسي مه کوئ چې له خپل وخت وړاندي ورشئ او د خوړو تر پخېدو منتظر وئ، په خپل وخت ورشئ او له خوړو وروسته خواره شئ، داسي نه چې له رسول** الله ﷺ **سره د خبرو تلوسه هلته ستاسو د زيات پاته کېدو سبب شي، دا کار پيغمبر صلعم ځوروي، د ډېري حياء له کبله تاسو ته څه نه وايي، دا دئ الله تعالی تاسو ته لارښوونه کوي او حق خبره له کومي حياء پرته تاسو ته کوي.**
- **کله چې د رسول** الله ﷺ **له مېرمنو څه غواړئ نو د حجاب له شا ئې ترې غواړئ، د دړې، دروازې، دېوال يا پردې له شا پرې غږ کوئ چې مورې د دې غرض لپاره راغلی يم، همدا مو ستاسو او د دوی د زړونو لپاره د زيات پاکوالي باعث دئ.**
- **تاسو ته نه ښايي چې رسول** الله ﷺ **وځوروئ، نه په خپلو زيات ورتلو، نه په خپلو وخت ناوخت پوښتنو، نه په خپلو غيرمؤدبانه حرکاتو او نه د ده د خوښي او مرضي خلاف کړنو سره.**
- **او دا تر ابده درته جائز نه دي او له تاسو سره نه ښايي چې له رسول** الله ﷺ **وروسته د ده مېرمني په نکاح کړئ، هغوی ستاسو معنوي ميندي دي، د خپلو ميندو په سترگه ورته گورئ، د الله تعالی په وړاندي دا ستر قبيح کار دئ چې د خپل پيغمبر او معنوي پلار له هغو مېرمنو سره د نکاح اراده وکړئ چې ستاسو معنوي ميندي دي.**
- **بايد متوجه وئ چې معامله مو له هغه رب سره ده چې ستاسو په پټو او ځرگندو کارونو پوهېږي، نه مو بد خيالات ترې پټ پاته کېږي او نه نيک عزائم.**

د دې جامع الهي لارښوونو په اړه څو وضاحتونه ضروري برېښي:

- دلته د (حجاب) یادونه شوې، حجاب هغه څه ته وایي چې د دوو تر منځ حائل شي او د هغه له کبله یو بل ونه ویني، اطلاق ئې هم په دېوال کېږي، هم په دروازې او دړې او هم په پردې، یوه مشهوره غلطي دا ده چې موږ حجاب د پړوني او ټکري په معنی نیسو چې دا یوه اشتباه ده، قرآن واړه ټکري ته د خمار لفظ کارولی، د هغه لوی پړوني لپاره ئې د جلباب لفظ غوره کړی چې ټول ځان پرې پټېږي، د مېرمنو پړوني او ټکري ته د حجاب نوم ورکول او هغې مېرمنې ته چې پړونی ئې پر سر وي د محجبه اصطلاح کارول هم له ادبي پلوه غلطه کارونه ده او هم د قرآني اصطلاحاتو او قاموس له مخې.
- ځیني داسې گمان کوي چې د حجاب دغه آیت د النور د سورې تر نازلېدو وړاندې نازل شوی، حال دا چې خبره د دې عکس ده، په دې اړه د النور په سورې کې تفصیلي بحث شوی، امید دئ هلته ئې وگورئ، دلته څو وضاحتونه ضروري برېښي: د ښځو د حجاب د څرنگوالي په اړه د فقهاوو تر منځ ژور او جدي اختلاف دئ، دا اختلاف له هغو متعارضو روایاتو راولاړ شوی چې ځیني ئې یو څه او ځیني ئې د هغوی خلاف بل څه وایي، د حجاب او ستر په اړه په دوو سورتونو کې لارښووني شوې؛ یوه همدا د الاحزاب سوره او بله د النور سوره، که ومنو چې د النور سوره تر الاحزاب وړاندې نازله شوې نو په دې سره به مونږ هغه روایات بې اعتباره گڼلي وي چې دا سوره ترې وروسته بولي او په هغوی کې د مخ پټولو یادونه شوې، او که ئې وروسته وگڼو نو هغه روایات به مو بې اعتباره گڼلي وي چې د دې عکس خبره کوي.

د څو دلائلو له مخې په یقین سره ویلی شو چې د النور سوره تر الاحزاب وړاندې نازله شوې:

- له دوو روایاتو پرته نور ټول روایات همدا خبره کوي.
- د النور په سوره کې په عامه توگه ویل شوي چې کورونو ته د ننوتلو پر مهال له هستوگنو اجازه وغواړئ او سلام پرې واچوئ او د الاحزاب په سوره کې ویل شوي چې د رسول اللهﷺ کور ته له اجازې پرته مه ننوځئ، که بلنه درکړی شوه نو له خوراك وروسته خواره شئ او د رسول اللهﷺ د خبرو اورېدو تلوسه دې تاسو زیات پاته کېدو ته ونه هڅوي چې دا کار د رسول اللهﷺ د مزاحمت باعث کېږي. هغه لارښوونه عامه او دا خاصه ده، معمولاً عامه لارښوونه تر خاصي وړاندې وي.
- د الاحزاب په سورې کې ویل شوي چې د رسول اللهﷺ له وفات وروسته به د هغه مېرمنې داسې گڼئ لکه خپلې میندې او له هغوی سره به نکاح نه کوئ. دا لارښوونه ښیي چې د الاحزاب سوره د رسول اللهﷺ له رحلت لږ وړاندې نازله شوې، په همداسې وخت کې داسې لارښوونې ته ضرورت وو نه تر دې ډېر وړاندې.
- د النور سورې ۵۳ آیت وایي: وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ۖ قُل لَّا تُقْسِمُوا ۖ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾ : په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله

په نامه لوړه وکړه چې که امر ورته وکړې نو حتماً به د جهاد لپاره ووځي، ووایه: لوړه مه کوئ، پېژندل شوې اطاعت دئ (ستاسو دنده)، یقیناً چې الله په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ، له دې آیت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره په هغو کلونو کې نازله شوې چې لا د مسلمانانو او د دوی د دښمنانو تر منځ ډېرې نښتې نه وې شوې او لا د منافقینو هغه خصلت عملاً نه وو جوت شوی چې د نښتو په وخت کې د مسلمانانو له ملګرتیا او په جګړو کې له برخې اخیستو ډډه کوي، له دې معلومېږي چې دا سوره د احزاب له سورې وړاندې نازله شوې.

- کوم روایت چې وایي د الاحزاب سوره تر النور وړاندې نازله شوې په هغه کې داسې خبرې تر سترګو کېږي چې د روایت اعتبار ته کلکه صدمه رسوي، لکه دا چې وایي: رسول الله ﷺ له هغه چا په جومات کې او د مسلمانانو په وړاندې شکایت وکړ چې دا افتراء ئې جوړه کړې وه، په ځواب کې ئې سعد بن معاذ ﷜ وویل: یا رسول الله! که دا د اوس له قبیلې وي نو موږ به ئې سر غوڅ کړو او که د خزرج د قبیلې وي نو هغه څه به ورسره کوو چې ته ئې امر وکړې. دا په داسې حال کې چې سعد بن معاذ ﷜ د الاحزاب په غزوې کې ټپي شوی وو او د همدې ټپ له کبله لږ وروسته وفات شو!! که سعد بن معاذ ﷜ دا خبره کړې وي نو معنی ئې دا ده چې دا غزوه تر الاحزاب او د سعد بن معاذ ﷜ تر وفات وړاندې وه. د دې اختلاف او د دې روایاتو تفصیل به د سورې په تفسیر کې وګورئ.

ځینې د ابن شهاب الزهري په هغه روایت استناد کوي چې د افك د قضیې په ارتباط راغلی او په هغه کې عائشې صلی ته دا وینا منسوب شوې چې د حجاب آیت نازل شوی وو نو ځکه ما خپل مخ په ټکري پټ کړ. د دې روایت په اړه څو پوښتنې شوې چې هیڅ ئې ځواب نه دئ ویلی: د الاحزاب سوره او په هغې کې د حجاب آیت د بني المصطلق له غزوې او د افك له پېښې وړاندې نازله شوې که وروسته؟ که وایې چې وروسته نازله شوې نو د روایت دا برخه ردوي چې د حجاب حکم د بني المصطلق له غزوې مخکې راغلی وو او که وایې چې وړاندې نازله شوې نو په دې سره د روایت هغه برخه ردوي چې د سعد بن معاذ ﷜ او په جومات کې د هغه د وینا یادونه کوي ځکه سعد بن معاذ ﷜ د احزاب په غزوې کې ټپي شوی او لږ وروسته له همدې ټپ وفات شوی!! همدا راز عائشې صلی ته دا وینا منسوبول چې د حجاب آیت ته په پام سره ئې خپل مخ پټ کړی، صحیح انتساب نه دئ، ځکه د حجاب د آیت موضوع د مخ پټول نه بلکې له امهات المؤمنین څخه د پردې له شا څه غوښتل دي، که په ټکري سره د مخ پټولو یادونه ئې کړې وی نو د احزاب د سورې ۵۹ آیت ته به ئې اشاره کوله چې وایي: يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَـٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾ : اې پیغمبره! خپلو مېرمنو، او خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووایه چې خپل پړوني ورباندې راتاو کړي، همدا دې ته نږدې ده چې وپېژندی شي او ونه ځورول شي، او الله مهربان بخښونکی دئ.

لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ ۗ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾

پر دوی نه د خپلو پلرونو په اړه څه ګناه شته، نه د خپلو ورونو، نه د خپلو وريرونو، نه د خپلو خوريیو، نه د خپلوانو ښځو، او نه د وینځو په اړه، او له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله پر هر څه شاهد دئ.

(٥٥)- په دې مبارك آيت كې دغه كسان له مخكني حكم مستثنی شوي او پر دې مكلف نه دي چې د رسول اللهﷺ له مېرمنو سره به د حجاب له شا خبري كوي: د دوی پلرونه، ورونه، وريرونه، خوريي، خپلواني ښځې او وينځې.

د آيت د پای دا فقرې چې وايي: له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله پر هر څه شاهد دئ؛ ښيي چې دا آيت له مخكني سره تړلی دئ او دا فقرې د مخكنيو مطالبو په ارتباط راغلي دي.

إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيْهِ وَسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾

یقیناً چې الله او فرشتې ئې پر پیغمبر درود لېږي، اې هغو چې ایمان ئې راوړی! پر هغه درود لېږئ او ځانګړی سلام پرې وایئ.

(٥٦)- په دې مبارك آيت كې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې پر رسول اللهﷺ به درود او سلام لېږي، همغسې لكه چې الله تعالی او فرشتې ئې پر هغه درود لېږي. بايد متوجه وو چې د درود او سلام لېږلو معنی دا ده چې رسول اللهﷺ د ستاينو وړ شخصيت او له عيبونو او اعتراض وړ نیمګړتیاوو لوړ انسان وګڼو، په دې باور وو چې رسول اللهﷺ له فكري، اخلاقي او عملي پلوه دومره ستر او لوړ شخصيت دئ چې الله تعالی او فرشتې پرې درود وايي، هغه شخصيت چې د لوړوالي تر ټولو لوړې څوكې ته رسېدلی وو، هغې څوكې ته چې تر دې وړاندې د هيڅ انسان وزرونه د الوت توان نه لري. دا سلام او درود يوازې د خولې دوه الفاظ نه دي، بايد ستا د زړه او دماغ هغه شعور او احساس منعكس كړي چې ته ئې د رسول اللهﷺ د لوړ او ستر شخصيت په اړه لرې. څوك چې د رسول اللهﷺ د لوړ شخصيت په اړه خبري كوي او هغه د الله تعالی د يوه غوره استازي په توګه ستايي كه د خپلې وينا په دوران كې د رسول اللهﷺ د نوم خوا ته احياناً دا الفاظ تكرار نه كړي څه حرج په كې نشته خو څوك چې له دغه شعور او احساس پرته دا الفاظ تكراروي هيڅ ګټه ورته نه لري. دې ته مو بايد پام وي چې دا آيت د

هغه مضمون په لړ کي راغلی چي مسلمانانو ته د رسول اللهﷺ د کور او کورنۍ په اړه د خاص ادب ښوونه کوي. ښايي له ځينو سره به دا پوښتنه راولاړه شي چي په قرآن کي خو دا الفاظ نه مومو چي الله تعالی پر رسول اللهﷺ درود او سلام لېږلی وي، همغه الفاظ چي موږ ئې وايو صلی الله عليه وسلم، نو د دې آيت معنی څه ده (إن الله و ملائكته يصلون على النبي)، د دې پوښتني ځواب دا دئ چي د رسول اللهﷺ ستاينه او توصيف او د يوه امين او صادق نبي په توگه د هغه معرفي پر نبي **صلعم** د درود لېږلو په معنی دي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابٗا
مُّهِينٗا ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ بِغَيۡرِ مَا ٱكۡتَسَبُواْ فَقَدِ
ٱحۡتَمَلُواْ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ﴿٥٨﴾

يقيناً هغه چي الله او د ده رسول (په خپلو غلطو خبرو سره) ځوروي الله په دنيا او آخرت كي پر دوی لعنت کړی او سپکوونکی عذاب ئې ورته تيار کړی. او هغه چي مؤمنان او مؤمناني له دې پرته ځوروي چي څه (غلط کارونه) ئې کړي وي نو يقيناً چي د بهتان او څرگندي گناه (پېټی) ئې پر شا کړی.

(۵۷-۵۸)- دا مبارك آيت هغه كسان په دنيا او آخرت كي د الهي لعنت او سپکوونکي عذاب وړ گڼي چي په خپلو غلطو خبرو سره الله تعالی او د ده رسول ځوروي، او هغه چي د مؤمنانو په ضد غلط تبليغات كوي هغوی به په داسي حال كي د الله تعالی د سختي محاسبې په وړاندي ودرېږي چي د دې بهتان او څرگندي گناه پېټی به ئې پر شا وي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن
جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٩﴾ لَّئِن
لَّمۡ يَنتَهِ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡمُرۡجِفُونَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ
لَنُغۡرِيَنَّكَ بِهِمۡ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٦٠﴾ مَّلۡعُونِينَۖ أَيۡنَمَا ثُقِفُوٓاْ
أُخِذُواْ وَقُتِّلُواْ تَقۡتِيلٗا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ

ٱللَّهِ تَبۡدِيلاً ﴿٦٢﴾

اې نبي! خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووايه چې خپل پړوني پر خپلو ځانونو راتاو کړي، همدا دې ته نږدې ده چې وپېژندی شي او ونه ځورول شي، او الله مهربان بخښونکی دئ. که منافقين او هغه چې په زړونو کې ئې بېماري ده او د مدينې مرجفين دېده ونه کړي حتماً به تا پرې برلاسی کړو چې بيا به دلته ستا مجاورت ونه کړي مګر لږ شانتې، لعنت کړی شوي، چې چېرې وموندی شي ونيول شي او په ځانګړې وژلو سره ووژل شي. دا د الله هغه سنت دئ چې په مخکنيو کې تېر شوی او هيڅکله به د الله سنت ته تغيير او بدلون ونه مومې.

(٥٩-٦٢)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول اللهﷺ ته سپارښتنه شوې چې:

• خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووايي: خپل پړوني درباندې راتاو کړئ، په دې سره به وپېژندی شئ او د مفسدينو له ځورونو به وساتل شئ. يعني ستاسو جلباب او پړونی نورو ته دا پيغام لېږي چې تاسو عفيفې، پاك لمنې او متقي مېرمنې يئ، همدا پړونی به تاسو د هغو مفسدينو له ځورونو خوندي ساتي چې په کوڅه او بازار کې د بدلمنو مېرمنو په لټه کې وي.

• که منافقين او هغه چې په زړونو کې ئې بېماري ده او د مدينې مرجفين چې ګنده او چټې خبرې خوروي، د مسلمانانو په ضد تبليغات کوي، عفيفې مېرمنې ځوروي، تورونه پرې لګوي، له دغو ګنده کارونو لاس وانه خلي، نو تا ته به دا اجازه او امکان درکړو چې دوی مهار کړې، په مدينې کې اوسېدا ورته ګرانه کړې، داسې حالت راپيدا کړې چې په مدينه کې له هر لورې ورټل شي، ونيول شي او ووژل شي، د داسې مفسدينو په اړه د الله تعالی دائمي او نه بدلېدونکی سنت همدا دئ، تر دې وړاندې همداسې شوي، بيا به همداسې کېږي، هيڅکله به د الله سنت ته تغيير او بدلون ونه مومې.

دلته د څو خبرو وضاحت ضروري برېښي:

• ځينو د آيت د دې فقرې د صحيح تعبير په اړه اشتباه کړې چې وايي: ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَ، دوی داسې ژباړلې: دا دې ته نږدې ده چې ونه پېژندل شي نو اذيت نه کړی شي!! دوی تر يعرفن وړاندې (لا) مقدر ګڼې او (لايعرفن: ونه پېژندل شي) ترې جوړوي، د دې بې ځايه او جسورانه تصرف وجه دا ده چې دوی د مخ پټول د ستر برخه ګڼې او ګمان کوي چې په جلباب سره مخ هم پټېږي، نو ځکه مېرمنې نه پېژندل کېږي!! متأسفانه دا يوه ستونزه ده چې ځينې د قرآن په آيتونو کې د تصرف جسارت هم کوي، کله څه پرې زياتوي او کله څه ترې کموي، کله وايي دلته لا يا بل توری مقدر دئ او کله وايي دلته لا يا بل توری زائد دئ!! خو څوك چې پر قرآن ايمان لري وايي: په قرآن کې نه زائد شته او نه کم، همداسې لکه چې په دې آيت کې (لا) مقدر ګڼل او له (يعرفن) (لايعرفن) جوړول ستره غلطي ده همداسې په

نورو موارد و كي هم د دوی تصرف غلط دئ.

- ځيني ادعاء كوي چي اوس د فتنو وخت دئ، زمانه خرابه شوې، فساد زيات شوی، هغه حالت نه دئ چي د رسول اللهﷺ په وخت كي وو نو ځكه په كار ده ښځي جومات ته له تلو منع شي او په ستر كي مخ هم شامل كړی شي!! په دې اړه څو عرائض لرو:
- له فساد او فتنو د ښځو د مخنيوي لار دا ده چي هغوی جومات ته راشي او وعظ واوري.
- څوك چي وايي د پيغمبر عليه السلام په وخت كي تر نن فتني لږي وې، دغه آيت د دوی د غلطي ادعاء د رد لپاره كافي دئ، دا آيت وايي چي منافقينو، مرجفينو او مفسدينو به هغه عفيفي مېرمني ځورولې چي جومات ته به تلې يا د بل غرض لپاره به له كوره وتلې، دا ادعاء يوازي هغه څوك كولی شي چي له حقائقو بې خبر وي، په مدينه كي ښځي هغه مهال جومات ته تللې چي محدود شمېر كسانو ايمان راوړی وو، دا دئ قرآن وايي چي ډېر ځلي به منافقينو، مرجفينو او د بيمارو زړونو خاوندانو هغه ښځي ځورولې چي جومات ته به تللې، الله تعالی د دغو مفسدينو له امله ښځي جومات ته له تلو منع نه كړې بلكي امر ئې ورته وكړ چي له جلباب سره جومات ته ولاړې شي.
- كه مخ په ستر كي شامل وی نو شريعت به مېرمني هرومرو په دې ګمارلې وې چي د حج په موسم كي مخ پټ وساتي، آيا څوك دا حق لري چي ووايي: اوس د فتني دور دئ نو ښځي دي حج نه كوي، يا د حج په دوران كي دي مخ او لاسونه هم پټوي؟ كه دا حق نه لرو نو له جومات ئې څنګه منع كوو؟ رسول اللهﷺ خو د خپل مبارك ژوند په وروستيو شپېو او په خپلو وروستنيو خطبو كي فرمايلي: كه ستاسو ښځي غواړي چي په جومات كي لمونځ وكړي نو مخنيوی ئې مه كوئ!!!
- دا آيت ښيي چي حجاب بېل شی دئ او جلباب بېل، كه جلباب او حجاب سره ورته وی نو بيا ئې تكرار ته ضرورت نه وو، په همغه مخكني آيت به اكتفاء شوې وه. اميد دئ د حجاب او ستر په اړه تفصيلي بحث د النور سورې د ۳۰ آيت په تفسير كي وګورئ.

يَسۡـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِۚ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾

خلك د قيامت په اړه تا پوښتي، ووايه: علم ئې يوازي له الله سره دئ، او څه شي خبر كړی يې ښايي دا نېټه به نږدې وي؟!

---

(٦٣)- دلته د منكرينو هغه تكراري پوښتنه يو ځل بيا راغلې چي د قيامت د ټاكلې نېټي په اړه ئې كوي او وايي: كه د قيامت د راتلو خبره رښتيا وي ولي تر اوسه رانه غی؟ كله به راځي؟ هر پيغمبر راغلی او د قيامت خبره ئې كړې خو تر اوسه رانه غی، دوی د قيامت په راتلو كي ځنډ د نه راتلو دليل ګڼي!! د دوی په ځواب كي ويل شوي: د قيامت د ټاكلې نېټي علم له الله تعالی سره دئ، له ده پرته هيڅوك نه پرې پوهېږي، ولي ئې بعيد او محال ګڼئ، ښايي هغه به

ستاسو د وهم او تخمين خلاف ډېر نږدې وي.

دا پوښتنه راولاړېږي چې د دې آيت ارتباط له مخکنيو سره څنګه دئ او ولې د مخکنی موضوع په ضمن کې د قيامت يادونه شوې؟ د دې پوښتنې ځواب دا دئ چې له قيامت او الهي محاسبې انکار د ټولو ګناهونو بنسټ دئ، پر آخرت عدم باور او له الهي محاسبې انکار انسان ته دا جسارت ورکوي چې ګناه وکړي او په فساد لاس پورې کړي، که منافقين، بېمارزړي او مرجفين پاکلمني مېرمنې ځوروي، د مسلمانانو په ضد تبليغات کوي او تهمتونه پرې لګوي وجه ئې دا ده چې دوی د قيامت په اړه شکمن دي. د دوی دغې اساسي ستونزې ته په پام سره په دې آيت کې ويل شوي چې دا خلك د قيامت په اړه تا پوښتي، ووايه: علم ئې يوازې له الله سره دئ، او څه شي خبر کړی يې ښايي دا نېټه به نږدې وي؟!

إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَـٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾ يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَـٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ ﴿٦٦﴾ وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ وَٱلۡعَنۡهُمۡ لَعۡنًا كَبِيرًا ﴿٦٨﴾

يقيناً چې الله کافران لعنت کړي او لمبه ناك اور ئې ورته تيار کړی. تر ابده به هغه کې تلپاتې، نه به کوم مولا موندی شي او نه کوم مرستندوی. هغه ورځ چې مخونه به ئې په اور کې (يوه او بل لورې ته) اوړول کېږي؛ په داسې حال کې چې وايي به: ای کاش د الله او د رسول اطاعت مو کړی وی، او وايي به: اې زموږ ربه! يقيناً چې موږ د خپلو سالارانو او لويانو اطاعت وکړ چې له (سمې) لارې ئې منحرف کړو، اې زموږ ربه! دوه برابره عذاب ورکړه او په سترې رټنې سره ئې ورټه.

(٦٤-٦٥)- هغه کافران چې په قيامت باور نه لري او د همدې عدم باور له کبله ئې له مسلمانانو سره د دښمنۍ او عداوت لار غوره کړې، د دوی په ضد تبليغات کوي او پاك لمنې ئې تورنوي سزا ئې دا ده: الهي لعنت، د دوزخ لمبه ناك اور، په دې اور کې د تل لپاره پاته کېدا، نه په دنيا کې له الهي عذاب د نجات لپاره کوم مولا او مرستندوی موندی شي او نه په آخرت کې. په هغې ورځ کې چې مخونه به ئې په اور کې يوه او بل لورې ته اوړول کېږي؛ هغه مهال به په خپل کفر او نفاق نادم وي او وايي به: ای کاش د الله او د هغه د رسول اطاعت مو کړی وی، پر خپلو ګناهونو او اشتباهاتو به اعتراف کوي او وايي به: اې زموږ ربه! يقيناً چې موږ د خپلو سالارانو او لويانو اطاعت وکړ چې له سمې لارې ئې منحرف کړو، هغه مهال به خپلو مشرانو ته دوه برابره عذاب غواړي، هم د خپلو ګناهونو سزا او هم د دوی د بې لارې کولو سزا، وايي به: اې زموږ ربه! دوه برابره عذاب ورکړه او په سترې رټنې

سره ئې ورته.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ﴿٦٩﴾

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د هغو وګړو په څېر مه کيږئ چې موسی ئې وځوراوو او الله له هغه څه برائت ورکړ چې دوی ويل او د الله په وړاندې مخور وو.

(٦٩)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې د هغو يهودانو په څېر نشي چې خپل ګران پيغمبر موسی صلعم ئې په خپلو ناروا او دروغجنو تورونو سره وځوراوو او الله تعالی هغه تورونه شنډ کړل او موسی صلعم ته ئې برائت ورکړ. هغه د الله تعالی په وړاندې مخور او د عزت خاوند وو او دښمنان ونه توانېدل چې په خپلو غلطو او دروغجنو تبليغاتو او تورونو سره د ده عزت او اعتبار ته صدمه ورسوي.

له دې مبارك آيت څو خبرې په ډېر وضاحت سره معلوميږي:

- **پر موسی صلعم د يهودانو له لوري داسې تور وارد شوی وو چې د منافقينو له لوري پر رسول اللهﷺ وارد شوی، په دې مبارکې سورې کې موږ ته هغه تور څرګند شوی چې د دښمنانو له لوري پر رسول اللهﷺ وارد شوی، دا همغه تور دئ چې د زينب صلی د نکاح په اړه لګېدلی او په دې سورې کې د هغه د ترديد او تکذيب په ارتباط جامع او مفصل بحث شوی. خو بايد وګورو چې آيا پر موسی صلعم دې ته ورته تور لګېدلی که بل ډول تور؟ د دې آيت له فحوی په ډېر صراحت سره معلوميږي چې دا تور به حتماً دې ته ورته وو، په دې اړه دوه روايات زموږ مخې ته راځي يو دا چې وايي يهودانو د موسی صلعم په اړه ويل چې دی ځکه له نورو سره يو ځای او بربنډ غسل نه کوي او د نورو له نظره پټ دا کار کوي چې په ځان کې څه عيب لري يا پر پوستکي ئې سپين داغونه دي او ګواکي الله تعالی داسې شرائط برابر کړل چې موسی صلعم د خلکو په وړاندې بربنډ او لوڅ څرګند شي او په دې توګه دا تور ترديد شي!! روايت داسې دئ:**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ قَالَ "كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُونَ عُرَاةً، يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ، وَكَانَ مُوسَى يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ، فَقَالُوا وَاللهِ مَا يَمْنَعُ مُوسَى أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلاَّ أَنَّهُ آدَرُ، فَذَهَبَ مَرَّةً يَغْتَسِلُ، فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ، فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ، فَخَرَجَ مُوسَى فِي إِثْرِهِ يَقُولُ ثَوْبِي يَا حَجَرُ. حَتَّى نَظَرَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ إِلَى مُوسَى، فَقَالُوا وَاللهِ مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ. وَأَخَذَ ثَوْبَهُ، فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا". فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاللهِ إِنَّهُ لَنَدَبٌ بِالْحَجَرِ سِتَّةٌ أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبًا بِالْحَجَرِ. (بخاري:٢٧٨)

له ابوهريره ﷺ روايت دئ چې رسول الله فرمايلي دي: (بني اسرائيلو به لوڅ غسل کاوو، يوه به بل ته کتل، او موسی (عليه السلام) به يوازې غسل کاوو، بني اسرائيلو ويل: قسم په خدای چې موسی (عليه السلام) ځکه له موږ سره غسل نه کوي چې هغه د خصيو رنځ لري (خصيې

ئې پرسېدلې)، نو يو ځل موسی (علیه السلام) لاړ چې غسل وکړي، خپلې جامې ئې پر يوې تيږې کېښودې، تيږې ئې جامې ترې وتښتولې، موسی (علیه السلام) ورپسې ووت، ويل ئې: اې تيږې! زما جامې، اې تيږې! زما جامې، تر هغه چې بني اسرائيلو موسی علیه السلام ته وکتل نو وئې ويل: قسم په خدای چې موسی (علیه السلام) خو هيڅ مرض نه لري، نو خپلې جامې ئې واخستلې او پر تيږې ئې د گوزارونو کول پيل کړل، ابوهريرة ﷺ وايي: په خدای قسم چې پر هغه تيږې د شپږو يا اوو گوزارونو نښې موجودې دي.

دا روايت په بخاري کې دوه ځلې نور هم په دې شمېرو راغلی ٣٤٠٤، ٤٧٩٩

دا روايت د سند له مخې دومره کمزوری دئ چې په څلورو طبقو کې يوازې يو يو راوي لري!! يعني تر اغرب هم اوښتی دئ. او د متن له پلوه داسې دئ چې له نورو سره په ډېرو مواردو کې ژور توپيرونه لري، په دوی کې دا توپيرونه تر سترگو کېږي: په يوه کې راغلي كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُونَ عُرَاةً، يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ په نورو کې دا خبره نشته، په يوه کې إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلاً حَيِيًّا سِتِّيرًا، لاَ يُرَى مِنْ جِلْدِهِ شَيْءٌ، اسْتِحْيَاءً مِنْهُ، په بل کې وَكَانَ مُوسَى يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ، په بل کې وَإِنَّ اللهَ أَرَادَ أَنْ يُبَرِّئَهُ مِمَّا قَالُوا لِمُوسَى فَخَلاَ يَوْمًا وَحْدَهُ، په يوه کې فَقَالُوا وَاللهِ مَا يَمْنَعُ مُوسَى أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلاَّ أَنَّهُ آدَرُ، په بل کې فَقَالُوا مَا يَسْتَتِرُ هَذَا التَّسَتُّرَ إِلاَّ مِنْ عَيْبٍ بِجِلْدِهِ، إِمَّا بَرَصٌ وَإِمَّا أُدْرَةٌ وَإِمَّا آفَةٌ، په يوه کې فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ، فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ، فَخَرَجَ مُوسَى فِي إِثْرِهِ يَقُولُ ثَوْبِى يَا حَجَرُ، په بل کې فَآذَاهُ مَنْ آذَاهُ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، په بل کې، وَإِنَّ الْحَجَرَ عَدَا بِثَوْبِهِ، فَأَخَذَ مُوسَى عَصَاهُ وَطَلَبَ الْحَجَرَ، فَجَعَلَ يَقُولُ ثَوْبِى حَجَرُ، ثَوْبِى حَجَرُ، په يوه کې حَتَّى انْتَهَى إِلَى مَلاءٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَرَأَوْهُ عُرْيَانًا أَحْسَنَ مَا خَلَقَ اللهُ، وَأَبْرَأَهُ مِمَّا يَقُولُونَ، په بل کې حَتَّى نَظَرَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ إِلَى مُوسَى، فَقَالُوا وَاللهِ مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ، په يوه کې وَأَخَذَ ثَوْبَهُ، فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا، په يوه کې وَاللهِ إِنَّهُ لَنَدَبٌ بِالْحَجَرِ سِتَّةٌ أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبًا بِالْحَجَرِ، په بل کې فَوَاللهِ إِنَّ بِالْحَجَرِ لَنَدَبًا مِنْ أَثَرِ ضَرْبِهِ ثَلاَثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا، په يوه کې يوازې دا راغلي "إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلاً حَيِيًّا، وَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى فَبَرَّأَهُ اللهُ مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِنْدَ اللهِ وَجِيهًا او ځينې نور توپيرونه، د دې متعارضو رواياتو له مخې څوك دا نشي ويلی چې بني اسرائيلو موسی علیه السلام په څه تورن کړی، په دې چې د برص په مرض اخته دئ، که پر پوستکي ئې کوم داغ دئ، که د خصيو مرض لري، که کوم بل آفت؟ دا نشي ويلی چې پر هغه تيږې څو نښې دي: درې، څلور، پنځه، شپږ که اوه؟ دا تيږه چېرې ده؟ له دې علاوه که تاسو دغه آيت ته چې د دې روايت په ضمن کې راغلی او ويل شوي چې گواکې د آيت مطلب او تفسير همدا دئ لږ ځير شئ نو درته جوته به شي چې دا تعبير په بشپړه توگه ناسم دئ، که تاسو دا آيت په خپل ځای کې او له مخکنيو او وروستنيو آيتونو سره يو ځای وڅېړئ نو په آسانۍ به درته جوته شي چې د دې آيت معنی قطعاً دا نه ده چې په دغه روايت کې ئې ادعاء شوې. له دې آيت وروسته راغلي: اې مؤمنانو له الله ووېرېږئ او سمه خبره کوئ، دا آيت د احزاب د سورې په هغې برخې کې راغلی چې په سر کې ئې د هغو کسانو سزا بيان شوې چې الله، د هغه پيغمبر او مؤمنان اذيت کوي، بيا پيغمبر علیه السلام ته ويل شوي چې خپلو مېرمنو، لوڼو او د مسلمانانو مېرمنو ته ووايه چې له جلباب سره ووځي، بيا منافقين، مرجفين او بيمار زړي په دې گواښل شوي چې

که له خپلو عملونو لاس وانه خلي له بدو پايلو سره به مخامخ شي، دوی به مسلماني مېرمني څورولي، غلط تبليغات به ئې کول او رنګ رنګ افواهات به ئې خورول، دا آيت د همدې لړۍ يوه برخه ده، او معنى ئې دا ده چې پام کوئ له خپل پيغمبر سره هغه کار ونه کړئ چې بني اسرائيلو له موسى عليه السلام سره وکړ، دا چې په مسلمانانو کي ځينو کسانو له رسول الله سره څه کړي چې دا آيت د هغوی په اړه نازل شوی؟ که په قرآن کي ئې ولټوو نو ځواب ئې موندلی شو، قرآن دوو هغو تورونو ته اشاره کوي چې منافقينو پيغمبر عليه السلام پرې تورن کړی: يو د عائشې صلى په اړه تور او بل د زيد ﷺ د هغې مېرمني په اړه تور چې طلاق ئې ورکړ او بيا رسول الله هغه په نکاح کړه، له دې معلومېږي چې د موسى عليه السلام په اړه دې ته ورته کوم تور لګېدلی او الله تعالى هغه ته برائت ورکړی، په موسى عليه السلام باندي دوه ستر ستر تورونه لګېدلي: يو دا چې هارون عليه السلام ئې وژلی او بل دا چې منافقينو يوه مېرمن دې ته چمتو کړې وه چې پر موسى عليه السلام باندي د زنا تور ولګوي، خو دې مېرمني اعتراف وکړ چې دا خبره دروغ ده. له دغو دواړو تورونو څخه دا وروستنی ئې له هغه تور سره ورته دئ چې د زيد ﷺ د مطلقه مېرمني زينب صلى په اړه پر رسول الله لګېدلی. نو په پشپړ يقين سره ويلی شو چې پر موسى عليه السلام لګېدلی تور دغسي وو نه هغسي چې په دې روايت کي راغلی.

د څو دلائلو له مخې په قطعي توګه ويلی شو چې دا روايت د اعتبار وړ نه دئ:

- له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي.
- ډېره بعيده ده چې الله تعالى دې خپل درونډ او مخور پيغمبر د دښمنانو په وړاندي لوڅ او بربنډ وښيي او هغه دې سپك کړي.
- نه دا عقل مني چې ډېري دې د موسى صلعم جامې تښتولې وي، نه دا چې موسى صلعم د خلکو په وړاندي بربنډ ظاهر شوی، نه دا چې موسى صلعم دې ډېري ته ګوزارونه ورکړي وي او د ګوزارونو نښې دې د ابوهريره ﷺ تر ژوند پوري پر ډېري پاتې شوې وي، که داسي وی نو بني اسرائيلو به دا ډېره د موسى صلعم له عصاء او من او سلوی سره يو ځای په صندوق کي ساتلې وه او په قرآن کي به هرومرو د دې ستري معجزې يادونه شوې وه. لږ تر لږه په بايبل کي به د دې پېښې يادونه شوې وه.
- په صحابه وو کي به د ابوهريره ﷺ تر څنګ ډېرو نورو صحابه وو هم دا خبره کړې وه، ولې دا خبره يوازي ابوهريره ته منسوب شوې او په څنګ کي ئې بل راوي نشته؟!

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ﴿٧٠﴾ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د الله پروا وکړئ او په صفا او سمي وينا سره وينا کوئ، چې په دې سره به ستاسو عملونه درته اصلاح کړي او ګناهونه به مو درته وبخښي،

او څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړ نو یقیناً چې په ستري بريا سره بريالى شو.

(۷۰-۷۱)- دلته مؤمنانو ته لارښووني شوې چې د الله تعالى پروا وکړئ او په صفا او سمي وينا سره وينا کوئ، د دې دوارو په سبب به الله تعالى د دوی عملونه اصلاح کړي او ګناهونه به ئي ورته وبخښي، د دې معنى دا ده چې د عملونو د اصلاح او د ګناهونو د بخښني اساسي او بنيادي اسباب دوه دي: (تقوى) او (سمه وينا)، عدم تقوى او غلطه وينا د بدو عملونو جرړه او له الهي مغفرت د محروميت سبب دئ، او حقيقي بريا هغه څوك ترلاسه کولى شي چې د الله تعالى او د هغه د رسول اطاعت وکړي.

إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْمُشْرِكِينَ وَٱلْمُشْرِكَٰتِ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًۢا ﴿٧٣﴾

یقیناً چې موږ دا امانت آسمانونو، زمکي او غرونو ته وړاندې کړ خو هغوی له دې ډډه وکړه چې حمل ئي کړي (په غاړه ئي واخلي او قبول ئي کړي) او (له ستروالي او عظمت ئي) ووېرېدل او انسان حمل کړ، (دا امانت ئي په غاړه واخيست) یقیناً چې هغه ډېر ظالم او ډېر نا پوه او جاهل وو. تر څو منافقين او منافقاني، مشرکين او مشرکاني تعذيب کړي او پر نارينه او ښځينه مؤمنانو (په خپل رحمت سره) رجوع وکړي (د دوی توبه قبوله کړي)، او یقیناً چې الله مهربان بخښونکى دئ.

(۷۲-۷۳)- دا مبارك آيتونه چې په حقيقت کي يو آيت دئ او د دې سورې جامع تتمه او خلاصه زموږ په وړاندې ږدي څو اساسي مطالب افاده کوي:

- ~~**د آيت په لومړئ برخي کي الهي کتاب د امانت په نامه ياد شوى او ويل شوي چې دا**~~ **امانت آسمانونو، زمکي او غرونو ته وړاندي شو خو هغوى ئې له قبلولو ډډه وکړه، بايد وګورو چې د دې معنى څه ده؟ آيا معنى ئې دا ده چې دوی د الله تعالى له حکمه سرغړاوى وکړ؟ او که دا چې دوی داسي لارښود کتاب ته ضرورت نه درلود؟ آيا معنى ئې انکاري اجتناب دئ که په فطري توګه او د عدم ضرورت او عدم اهليت له کبله اجتناب؟ دې پوښتني ته قرآن په خپله ځواب وايي، د قرآن نور آيتونه موږ ته دا حقيقت بيانوي چې د آسمانونو او زمکي هر څه ته په فطري توګه لارښوونه شوې، هر څه همغه کار کوي چې الله تعالى پرې ګمارلى، د زمکي او آسمانونو هر څه طوعاً او کرهاً الله تعالى ته منقاد دي او د هغه اوامرو ته غاړه**

ږدي، د دغو آيتونو په رڼا کي وايو چي د آسمانونو، زمکي او غرونو ډېره کول هيڅکله د الله تعالى له امره د سرغړاوي، عصيان او عدم اطاعت په معنى نه ده، ځکه قرآن فرمايي:

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ 

آل عمران: ۸۳

آيا (دا کافران) د الله له دين پرته (بل دين) لټوي، حال دا چي د آسمانونو او زمکي هرڅه طوعاً اوکرهاً (په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه اېښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي.

يعني د زمکي او آسمان هر څه الله ته تسليم دي، د ټولو دين اسلام دئ، هغه څه کوي چي الله پرې ګمارلي، په همغه لار درومي چي الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کي خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځای راخېژي او پرېوځي، ونې، بوټي او حيوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لګيا دي، په ټولو مخلوقاتو کي يوازي کافر او عاصي انسان دئ چي د الله له دين پرته د بل څه په لټه کي شي، هم د الله د دين په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دين ئې بغاوت کړی چي د زمکي او د آسمان د هر څه دين دئ.

له دې آيتونو په ځرګنده معلومېږي چي د زمکي، آسمانونو او غرونو د اجتناب او اعراض مفهوم دا نه دئ چي ګواکي د الله له امره ئې عصيان او سرغړونه کړې، د قرآن عظيم الشأن د نورو آيتونو په رڼا کي معلومېږي چي الله جل شأنه د زمکي او د آسمانونو هر څه ته د هغوی د فطرت او طبيعت سره سم وحي کړې، هر يوه ته ئې خپله خپله لار ښودلې، هغوی خپل مسير پېژني، په کوم څه چي ګمارل شوي او کومه وظيفه چي ورکړی شوې هغه ترسره کوي، د کوم هدف لپاره چي پيدا شوي د هغه د تحقق هڅه کوي، نو د دې لپاره چي دوی ته ښه وحي شوې، خپله لار ئې پېژندلې، په رڼا کي خوځېږي، په خپل مسير پوهېږي او له بلي خوا دا انسان ته لېږل شوی امانت، د دغو شيانو له طبيعت سره متناسب نه وو، په دې خاطر هغوی د دې له منلو اجتناب وکړ، دا داسي وګڼئ لکه د چا چي موټر ځراغونه ولري، خو په دې خاطر چي رڼا او ورځ وي د موټر د ځراغونو له بلولو اجتناب کوي، په رڼا کي څوك ځراغ نه بلوي، د دغو شيانو اجتناب هم دغسي وګڼئ، دوی په رڼا کي دي، هغوی ته وحي شوې، هغوی خپله لار پېژني، بلي رڼا ته ضرورت نه لري، دا د هغوی له طبيعت او فطرت سره جوړښت نه خوري او د دوی لپاره مناسب نه دئ، له دې امله له هغه ډډه کوي، خو په دې مبارك آيت کي دې ته هم اشاره شوې چي د دې امانت، عظمت، لوړوالی او سترتوالی دومره دئ چي حتی آسمانونو، زمکي او غرونو هم د هغه له حملولو وېره وکړه، دا دومره ستر امانت دئ چي هغوی د ده له حمل ځان عاجز وګڼلو، خو همدا امانت انسان حمل کړ.

د دې آيت د وروستۍ برخي په اړه د مفسرينو ترمنځ ډېر اختلاف رأی ليدل کېږي، په دې کي دومره مختلف آراء وړاندي شوي چي انسان په حيرت کي اچوي او کله کله خو همدا متعدد او مختلف آراء هر ابتدائي لوستونکی په شك او تشويش کي غورځوي او حقيقت پرې مغشوشوي، خو د دې ساده او بسيط مطلب دا دي:

وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَـٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولاً: او انسان حمل كړ (له دې كبله چې) يقيناً هغه ډېر ظالم او ډېر جاهل او ناپوه وو.

يعني په آسمانونو او زمكي كي يوازې انسان داسي څوك وو چي د (ظلم) او (جهل) له تيارې دنيا د وتلو لپاره ئې دغسي يوې رڼا ته ضرورت وو، هغه له دې پرته په خپلو قضاوتونو كي (ډېر ظالم) او د ځان او جهان په پېژندو كي (ډېر جاهل) وو، يوه (معيار او ملاك) او يوه (څراغ او رڼا) ته اړ وو، ځكه ئې دا الهي امانت قبول كړ.

د دې لپاره چي انسان په خپل قضاوت او له نورو سره په خپل چلن او معاملې كي له ظلم او تېري ځان وژغوري، د عدل يوه ملاك او معيار ته ئې ضرورت درلود، د همدې لپاره ئې دا كتاب قبول كړ، له انسان پرته نور مخلوقات له دې بې نياز ول، هر يوه ته بېله بېله لارښوونه شوې، خو انسان د عدل لپاره يوه معيار ته اړ او محتاج وو، غوښتل ئې داسي ملاك او معيار ترلاسه كړي چي (عدل) له (ظلم) تفكيك كړى شي، د دې لپاره چي له ظلم وژغورل شي يوې تلې، معيار او ملاك ته محتاج وو، نو ځكه ئې دا الهي امانت قبول كړ، همدا راز هغه ډېر ناپوه او جهول وو، نه ئې ځان پېژندلى شو او نه دا عالم، هر څه ورته مجهول وو، نور او رڼا ته محتاج وو، هغه څه ته ئې ضرورت درلود چي ده ته خپل ځان او دا عالم او كائنات وروپېژني، هغه دا الهي امانت د دې لپاره قبول كړ چي هغه د ناپوهۍ په تيارو كي وو، يوه داسي روڼ څراغ ته اړ وو چي له تيارو ئې وباسي، نو ځكه ئې دا امانت حمل كړ، خو آسمانونو، زمكي او غرونو د دې لپاره حمل نه كړ چي هغوى خپله لاره پېژندله، هغوى ته خپل خپل مسير ټاكل شوى، هغوى ته د خپل طبيعت او فطرت سره سم وحي او لارښوونه شوې.

حقيقت دا دئ چي انسان نشي كولى يوازې د خپل عقل په مرسته او د تجربو له لارې ټول مفيد او مضر شيان تشخيص كړي او د ژوند داسي تګلاره ځان ته غوره كړي چي د ده له فطرت سره ښايي، دې هدف ته د رسېدو لپاره يوازې په خپل عقل، شعور، پوهې او تجربې اكتفاء نشي كولى، داسي تګلاره يوازې په هغه صورت كي ځان ته ټاكلى شي چي د خپل ځان او د دې پراخ عالم په اړه بشپړ او كامل علم ولري، كه څوك وغواړي د انساني ژوند د ښه تنظيم لپاره قوانين وضع كړي او داسي ژوند ته د رسېدو لپاره ده ته تګلاره وټاكي، هغه بايد په دغو دواړو برخو كي بشپړ او كامل علم ولري، د انسان لپاره د تګلارې ټاكل په دغو دواړو برخو كي داسي بشپړې پوهې او علم ته ضرورت لري چي په رڼا كي ئې هم د انسان د فطري جوړښت او د هغه د نفس ټول مادي او معنوي ابعاد تشخيص كړى شي او هم د دې پراخ او پېچلي عالم له ټولو اجزاوو سره د ده د اړيكو څرنګوالى وروښيي، سره له دې چي انسان د عالم د پېژندو په اړه ډېر پرمختګ كړى، د پرون ورځي ډېري مجهولي برخي نن ورته څرګندې شوې، خو دا علم ئې له ضروري حده ډېر محدود او ناقص دئ او د دې لپاره قطعاً كافي نه دئ چي ده ته د يوه صالح او سالم ژوند صحيح لار وروښيي، هغه الهي لارښوونو ته اړ دئ او له دې پرته بله چاره نه لري. انسان ته د خپل نفس يوازې د محدودې برخي پېژندل ممكن دي او تر يوه حده خپل ماحول پېژندلى شي، خو د خپل نفس او د ټول عالم او د عالم په اړه كامل او جامع علم؛ د انسان له وس او توان بهر دئ، دا ځكه چي د هغه عمر محدود دئ او دا عالم ډېر خور، وسيع، پراخ او بې انتهاء، هغه په دې محدود عمر كي نه خپل ځان په

بشپړه توګه پېژندلی شي او نه دا خور عالم او هستي، د دې عالم وسعت او پراخوالی او د ده د استعدادونو ضعف او محدوديت، د دې ټول عالم پېژندګلوي هغه ته محال کړې ده، انسان ته امکان نه لري چي دا ټوله هستي وپېژني، د دې عالم يوه برخه خو د انسان تر تجربې لاندي راځي او هغه ئې پېژندلی شي او کېدی شي دا تجارب له يوه نسله بل ته انتقال شي او په دې توګه ورو ورو د انسان علم وسيع شي، خو په دې عالم او د ده په خپل نفس کي داسي مجهولي برخي شته چي لږ تر لږه دومره ويلی شو چي تر ننه پوري انسان نه دئ توانېدلی چي هغه وپېژني، دا عالم دومره خور او پراخ دئ چي د ځينو ستورو نور ئې د سرعت او لري والي په وجه زمکي ته نشي رسېدلی او ځيني نور ئې داسي دي چي په زرهاوو نوري کلونو ته ضرورت لري چي نور ئې زمکي ته راورسېږي. ساينسي علوم دا عالم او کائنات بې انتهاء ګڼي، يعني دا چي دا عالم پای او انتهاء نه لري، تر اوسه په دې نه دئ توانېدلی چي د ستورو او ستورليکو (کهکشانونو) شمېر ئې دقيقاً معلوم کړي، د زمکي د سر او منځ د ډېرو برخو په اړه دقيق او بشپړ معلومات نه لري او د خپل ذات په اړه هم د انسان علم ډېر محدود دئ، حتی د انسان د فزيولوژي او جسمي جوړښت ګڼ شمېر برخي ورته مجهولي دي، تر نن پوري علم د انسان د مغز شاوخوا ٢٥% کارونو او وظائفو باندي څه ناڅه پوهېږي، خو متباقی برخي ئې ورته مجهولي دي، نه پوهېږي چي دا څه کار کوي او د څه لپاره پيدا شوي؟ تر اوسه خو علم لا د انسان د دماغ پنځه او يا په سلو کي ٧٥% نه پېژني، څه دا چي د هغه د روحي جوړښت په نسبت د څه ويلو جرأت وکړي.

په داسي حال کي چي انسان مجهول دئ او هغه تر اوسه پوري نه دئ توانېدلی چي خپل ځان وپېژني او دا عالم او هستي هومره وسيع او پراخه ده چي انسان ئې بې انتهاء ګڼي، تر اوسه د هغه پای او نهايت ورته معلوم نه دئ، د هغه ټول اجزاء او توکي خو پرېږده، له دې محدود علم سره انسان څنګه کولی شي د ځان لپاره تګلاره، قواعد او ضوابط وضع کړي؟ حال دا چي د هر مادي توکي او عنصر په اړه قوانين او ضوابط هلته وضع کېدلی شي چي هم د هغه د فزيکي خصوصياتو په نسبت پوره علم په واك کي ولرو او هم ئې د کيمياوي خصوصياتو په نسبت، په دغو خصوصياتو له پوهېدو وروسته موږ وايو چي دا له کومو کومو عناصرو سره تعامل کولی شي او څه ترې جوړېدی شي او له کومو سره ئې تعامل محال او ناممکن دئ. اول بايد د هغه په اتومي جوړښت او فزيکي خواصو پوه شو، د هغه کيمياوي خصوصيات درك کړو او په دې پوه شو چي له کومو عناصرو سره تعامل کولی شي او له کومو سره نه، له دې وروسته د نوموړي عنصر په اړه قواعد او ضوابط وضع کولی شو، نه له دې مخکي.

کله چي د انسان لپاره دين، د ژوند تګلاره او قوانين وضع کېږي، نو لومړی بايد په خپله انسان وپېژندل شي او د هغه په اړه کامل علم حاصل شي او بيا د هغه د ټول ماحول په اړه جامع او کامل علم ترلاسه شي، له دې وروسته د انسان لپاره قواعد او ضوابط وضع کېدلی شي، خو دا کار انسان ته ممکن نه دئ، د همدې لپاره الله جل شأنه په خپله د دې انتظام کړی، پيغمبران ئې مبعوث کړي، هغوی ته ئې وحي کړې، د انسان د لارښوونې او هدايت لپاره ئې کتاب لېږلی، هغه ته ئې د ژوند ضابطه وضع کړې او هغه ته ئې حدود ټاکلي.

قرآن د انسان دغه نقص او کمښت ته ګوته نيسي او وايي: که ده ته د ميراث د وېش په

څېر د خپل اجتماعي ژوند د يوې عادي قضيې پرېکړه وسپارل شي د کوم بنسټ له مخې به عادلانه پرېکړه کوي، د پلار او زوی ترمنځ به چا ته ترجيح ورکوي، د چا برخه به زياته او د چا لږ ټاکي، که ده ته وويل شي چې ميراث دې په نږدې خپلوانو ووېشه، وواياست چې پلار به ډېر نږدې ګڼي که زامن، د کوم يوه برخه به تر بل زياته ټاکي؟ قرآن په دې اړه فرمايي:

... ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا 

النساء: ۱۱

... نه پوهېږئ چې کوم يو به ئې په نفع کې تاسو ته نږدې وي، پلرونه مو که زامن مو؟ دا الهي فريضه ده، بې شکه چې الله ډېر باحکمته پوه دئ.

دلته ويل شوي: که دا د ميراث وېش ستاسو خپلې خوښې ته پرېښودی شي، پخپله د هر يوه برخه وټاکئ، نو وواييئ چې د هر يوه برخه به څنګه ټاکئ؟ د برخو په ټاکلو کې به کوم څه د ملاك او معيار په توګه غوره کوئ؟ نږدېوالی که ګټه او منفعت؟ پلار ډېر درنږدې او ګټور دئ که زوی؟ د کوم برخه به زياته غوره کوئ او د کوم لږ؟ تاسو ته ممکن نه ده چې په دې اړه حکيمانه او عالمانه پرېکړه وکړی شئ. دا برخې د هغه الله له لوري ټاکل شوې چې هم ښه پوه دئ او هم د حکمت خاوند، هره پرېکړه ئې حکيمانه او په علم ولاړه پرېکړه ده.

که انسان ته په خپلو نږدې خپلوانو د ميراث د وېشلو عادي مسئله پرېښودی شي وواياست چې د هر يوه حقوق به څنګه ټاکي؟ کوم ته به څومره برخه ورکوي؟ د پلار او زامنو حقوق به د کوم معيار له مخې ټاکي؟ که ده ته حتی دا هم ګرانه وي چې په خپل نږدې ماحول کې، د خپلو نږدې خپلوانو حقوق وټاکي، نو د ژوند په نورو پېچلو برخو کې به څنګه تصرف کوي او څان ته به عادلانه او حکيمانه تګلاره غوره کوي؟!!

له دې علاوه موږ ګورو چې انسان په دې عالم کې د يوه داسې امتيازي مخلوق حيثيت لري چې د عالم هر څه د ده په خدمت کې او ده ته مسخر شوي، د قرآن په اصطلاح انسان د زمکې خليفه دئ، هغه په دې عالم کې د الله د خليفه په توګه تصرف کوي، دا تصرف جامع او کلي علم ته ضرورت لري، جامع او کلي علم انسان ته ممکن نه دئ، په دې خاطر الله جل شانه په خپله انسان ته د دې انتظام کوي چې هغه په پوره بصيرت سره په دې عالم کې تصرف وکولی شي، الله جل شأنه هغه ته د جامع علم انتظام کړی او د ده د لارښوونې لپاره ئې کتاب رالېږلی. قرآن دغه مطلب په دې توګه زموږ مخې ته ږدي چې وايي: د انسان لپاره د دين ټاکل او د حدودو او ضوابطو وضع کول د هغه ذات کار دئ چې هم د ټول عالم په اړه جامع او بشپړ علم لري او هم په خپله د انسان د طبيعت په اړه کامل علم، په همدې ارتباط فرمايي چې الهي کتابونه د هغه الله له لوري لېږل شوي چې په زمکه او آسمانونو کې هيڅ شی ترې پټ نه دئ او تاسو ئې پيدا کړي يئ.

د آل عمران په سورې کې د تورات، انجيل او فرقان د نزول له يادونې وروسته فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ۝ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ

كَيۡفَ يَشَآءُ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٦﴾

آل عمران:٥-٦

يقيناً چي په الله باندي هيڅ څه نه شي پټېدی، نه په زمكي كي څه او نه په آسمان كي څه. دی خو همغه ذات دئ چي تاسو ته د (ميندو) په رحم كي هغسي صورت او شكل دركوي چي دی ئې غواړي، پرته له ده چي عزيز او حكيم دئ بل معبود نشته.

دلته د كتاب په اړه څو ډېري اساسي او بنيادي خبري شوې چي په مطلب ئې پوهېدل لږ غور او دقت غواړي:

هغه څوك كولی شي د انسان لپاره قانون وضع كړي چي هم د انسان د خلقت، جوړښت او فطرت له ټولو زواياوو او د ده له ټولو فطري اړتياوو خبر وي او هم د انسان د ماحول په ټولو هغو شيانو پوه وي چي دی ئې احاطه كړی او دی ورسره په يوه او بله بڼه كي څه تعلق لري. هم انسان پېژني او هم د انسان په مبشت ځای كي هرڅه پېژني، په دې پوه وي چي انسان څه ته ضرورت لري، څه ورته ګټور دي او څه تاواني. په قانون كي به انسان ته ويل كېږي چي څه كول ورته جائز دي او څه ناجائز، د كوم څه خوړل ورته روا دي او كوم څه ناروا، د روا، ناروا، جائز او ناجائز او مفيد او مضر پرېكړه هغه څوك كولی شي چي هم د انسان له طبيعت دقيقاً خبر وي او هم په زمكي كي د ټولو موجودو شيانو له ماهيت خبر وي او په دې پوه وي چي كوم څه انسان ته څه تاوان رسولی شي. قانون په حقيقت كي يو كشف دئ نه اختراع، قانون جوړوونكی قانون كشفوي، له خپل ځان او په خپل سر ئې نه شي جوړولی، د انسان لپاره قانون وضع كول داسي دي لكه يو فزيك پوه، كيميا پوه او د ساينس عالم چي د يوه عنصر په اړه وايي: د دې عنصر فزيكي او كيمياوي خواص دا دي، د حرارت او برق د انتقال توان ئې دومره دئ، د حرارت په كومه درجه كي سوزي، له فلاني عنصر سره ئې تركيب ممكن دئ او له هر يوه سره ئې د تركيب فورمول دا دئ. د دې عنصر په اړه چي دوی څه ويلي دا ټول ئې د تحقيقاتو او تجاربو په ترڅ كي موندلي، دا هر څه كشف دي نه اختراع، كشف يعني د څېړني په ترڅ كي موندل او اختراع يعني په خپله نوی شی جوړول، دوی په خپل سر او په خپلي خوښي څه نه دي وضع كړي، بلكي شته او حاكم قوانين ئې كشف كړي او په خاصو الفاظو سره ئې بيان كړي. د ساينس ټول فورمولونه په حقيقت كي په طبيعت حاكم قوانين دي چي ساينس پوهانو كشف كړي، د انسان لپاره قوانين هم بايد همداسي كشف شي، د دې لپاره (انسانپوه) ته ضرورت دئ، نه يوازي انسان پوه ته بلكي (طبيعتپوه) ته هم، هغه چا ته چي هم د انسان په اړه دقيق علم ولري او هم د ده د ټول ماحول په اړه.

كه د يوه ساده عنصر په اړه د نړی هيڅ فزيك پوه او د ساينس هيڅ عالم دا جرأت نه شي كولی چي له ځانه قانون وضع كړي او هره خبره ئې د كشف نتيجه وي، نو د انسان لپاره قانون جوړوونكي څنګه جرأت كوي چي په داسي حال كي د ده لپاره قانون جوړوي چي تر اوسه خو لا د انسان د جسمي جوړښت له ډېرو پېچلو برخو خبر نه دي، روحي جوړښت خو ئې پرېږده، روحي جوړښت خو ئې هومره پېچلی دئ چي دا برخه لا تراوسه اصلاً د ده تر بحث لاندي نه ده راغلې او په دې اړه څه ويل ورته ممكن نه دي، دا برخه په لابراتوار كي د

ميکروسکوب لاندې هم نه شي نيولی. الکسيس کارل د شلمې پېړۍ يو معروف غربي عالم په خپل کتاب (انسان يو ناپېژانده موجود) کې ليکي: زه له نن ورځې د خپل ژوند ترپايه د انسان په اړه هومره سؤالونه يو په بل پسې کولی شم چې علم ئې له ځواب ويلو عاجز دئ او ډېر سؤالونه داسې چې ساينس ئې هيڅکله ځواب نه شي ويلی!

په دغو مبارکو آيتونو کې دغه حقيقت ته اشاره شوې، کوم ذات چې تاسو ته کتاب رالېږلی هغه ته هم د زمکې او آسمانونو ټول پټ اسرار معلوم دي او هم ستاسو د وجود له ټولو اسرارو خبر دئ، تاسو خو هغه پيدا کړي يئ، دی ستاسو د صورت او جوړښت خالق دئ، ستاسو د روحي او جسمي جوړښت له ټولو زواياوو خبر دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

سبإ

د سورې پيژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (سبأ) دئ، دا نوم د همدې سورې د پنځلسم آيت له (لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ ...) اخيستل شوى، څلورپنځوس آيتونه لري، د ډېرى آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (خبير) او د لړو ئې د دوهم آيت (غفور) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالى ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي.

د سورې د بحث اصلي او محوري موضوع آخرت او په آخرت د ايمان او عدم ايمان نتائج او پايلي دي، په لومړيو دوو آيتونو کې د الله تعالى داسې ستاينه شوې چې په ترڅ کې ئې د آخرت يادونه شوې، بيا د کافرانو دا وينا راوړل شوې چې وايي: دا د قيامت نېټه به هيڅکله پر موږ رانشي، د دوى په ځواب کې ويل شوي: نه؛ داسې نه ده، په خپل رب مې چې پر غيب پوه دئ قسم چې حتماً به درباندې راشي، نه په آسمان کې د يوې ذرې په وزن کوم شى ترې پټ پاته کېدى شي او نه په زمکې کې او نه تر دې ووړ او نه ترې ستر شته مګر دا چې په څرګندوونکي کتاب کې ئې يادونه شوې. الله تعالى قيامت د دې لپاره ټاکلى چې هغو ته نېکه بدله ورکړي، بخښنه او غوره رزق ورپه برخه کړي چې ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې کړي او هغو ته مناسبه سزا ورکړي چې د الله تعالى له آيتونو ئې نه يوازې انکار کړى بلکې هڅه ئې کړې چې د الهي سننو خلاف عمل وکړي او د الله تعالى د وعد او وعيد د تحقق په وړاندې مانع شي. ورپسې ويل شوي چې د علم خاوندان پوهېږي چې د قيامت په اړه د قرآن وينا حق ده او قرآن سمې لارې ته لارښوونه کوي، بيا د آخرت په اړه د کافرانو دا وينا راوړل شوې چې ويل به ئې: آيا داسې سړى دروښيو چې تاسو ته دا خبره کوي چې کله ومرئ، هډوکي مو وراسته شي او بدنونه مو په بشپړ شړېدو سره وشړېږي بېرته به په نوي پيدايښت کې پيدا کړى شئ، آيا پر الله دروغجنه افتراء کوي که پېريانى شوى، د دوى په ځواب کې ويل شوي: دا سې نه ده؛ بلکې هغه چې پر آخرت باور نه کوي په عذاب اخته او په ژور لاروركتوب کې دي، آيا د آسمان او زمکې هغه څه ته ئې پام نه دئ کړى چې د دوى په وړاندې او د دوى تر شا دي؟ ټول پر دې ګواهي ورکوي چې قيامت راتلونکى دئ، که الله تعالى وغواړي په زمکې کې به ئې ښخ کړي او يا د آسمان کومه ټوټه به پرې راپرې باسي، يقيناً چې په دې کې هر انابت کوونکي بنده ته يوه څرګنده نښه ده. له دې وروسته پر آخرت د ايمان

لرونكو او منكرينو بېلې بېلې بېلگې زموږ په وړاندې انځور شوې، په دې دقيقو انځورونو كې گورو چې پر آخرت باور لرونكي د عزت او عظمت لوړو ځوكو ته رسېدلي او منكرين ئې له ذلت، سپكاوي او الهي عذاب سره مخامخ شوي، پر آخرت د ايمان لرونكو لومړى مثال داؤد **صلعم** دئ چې د هغه په اړه ويل شوي: پر داؤد مو خپل فضل ولوراوو، په قرآن كې د دې الهي فضل ډېر مصداقونه مومو، لا نوى ځوانى ته رسېدلى وو چې الله تعالى ده ته دا سعادت ورپه برخه كړ چې د دښمن د يوه ستر لښكر سالار د ده په لاس ووژل شو او په همدې سره په يوې لويې جگړې كې ستره او تاريخي بريا د مؤمنانو په برخه شوه، د ولس قيادت ده ته وسپارل شو، لوى او ستر سلطنت ئې په برخه شو، الله تعالى داسې اغېزناك او مؤثر غږ ورپه برخه كړى وو چې مرغانو او غرونو به د ده له ذكر او تلاوت سره همغږي كوله، د اوسپنې كشف او د جنگي مقاصدو لپاره له هغې استفاده او زغري ترې جوړول د ده په وخت كې پيل شوي، دا پر آخرت د ايمان او صالح عمل اغېز وو چې په سبب ئې الله تعالى داؤد **صلعم** ته دومره ستر فضيلت او عزت وركړ او د عظمت هغې لوړې ځوكې ته ئې ورسولو. له ده خپل مجاهد زوى سليمان **صلعم** ته دومره ستر ملك او واكمني په ميراث ورسيده چې په تاريخ كې ئې نظير نه وو ليدل شوى.

ورپسې د سليمان **صلعم** په څېره كې پر آخرت د ايمان لرونكو يوه بله بېلگه انځور شوې، د ده په اړه لاندې مطالب راغلي: الله تعالى داسې باد ورته مسخر كړى وو چې سبانى مزل به ئې يوه مياشت او بېگانى به ئې يوه مياشت وو، يعنې دا سليمان **صلعم** وو چې د الله تعالى په فضل سره ئې تر ټولو وړاندې داسې بېړى جوړه كړه چې د باد په وسيله به خوځېده، سرعت ئې دومره وو چې له سحر تر غرمې پورې به ئې د يوې مياشتې مزل وهلو او له غرمې تر ماښام به ئې د يوې مياشتې مزل.

• د مسو چينه (معدن) ئې كشف او د ويلي كولو او له مسو د ضروري سامان او لوښو جوړول ئې ورزده كړل.

• هغه پېريان ئې ورته مسخر كړي ول چې د الله تعالى په حكم به د ده په وړاندې په ډول ډول كارونو لگيا ول، سرغړاوى ئې نشو كولى، كه د دوى كوم چا به سرغړاوى او كوږوالى وكړ نو سزا به ئې لمبه ناك عذاب وو، هغه څه به ئې جوړول چې ده غوښتل، لكه جنگي كلاگانې، تماثيل او انځورونه، د حوضونو په څېر ستر ستر طشتونه او ځاى پر ځاى ولاړ ستر ستر دېگونه.

ورپسې پر آخرت د ايمان او عدم ايمان اغېز د سبأ د قوم په يوې عبرتناكې قصې كې څېرل شوى او ويل شوي: يقيناً چې د سبأ اوسېدونكو ته د دوى په هغه ټاټوبي كې د عبرت يوه ځرگنده نښه وه چې ښى او كيڼ لورى ئې په ښېرازه بڼونو سمسور وو، الله تعالى دا فرصت وركړى وو چې د خپل رب رزق وخوري او د هغه شكر پر ځاى كړي، ټاټوبى ئې سُتره او پاكيزه او خپل رب پرې مهربان او بخښونكى. خو دوى اعراض او سرغړاوى وكړ، نو الله تعالى له دغو نعمتونو محروم كړل، هغه بند ونړېدو چې له كبله ئې د دوى ټاټوبى ښېرازه او سمسور وو، درونډ ورانوونكى سيلاب پرې راغى، كلي ئې وران او كورونه ئې نسكور شول او ونې او فصلونه ئې ونړېدل، يوه او بل لورې ته په بشپړه توگه خواره واره شول، هغه

سمسور باغونه ئې په داسې دوو بڼونو بدل شول چې مېوې ئې بې خونده او ونې ئې يا د غز ونې وې يا د بېرې. همدا د دوی هغه سزا وه چې وجه ئې کفر او د الله تعالی د نعمتونو په وړاندې ناسپاسي وه، او دا ثابت الهي سنت دئ چې د هر ناسپاس ولس په برخه کېږي.

الله تعالی د سبأ ولس ته بشپړ امن ورپه برخه کړی وو، تجارتي سفرونه ئې خوندي او مصئون ول، د دوی تجارتي قافلې به هم د شپې له لوري په ډاډ او اطمئنان سره تر شام او فلسطين پورې تلې راتلې او هم د ورځې له لوري، په دې اوږدې لارې کې ځای ځای داسې کلي جوړ شوي وو چې د کاروانونو تمځايونه ګڼل کېدل، له يوه کلي به لاړېر لرې نه وو تللي چې بل کلی به په نظر ورغی، دا په هر تمځای کې د کليو رامنځته کېدا يوه الهي پيرزوينه وه چې له کاروانيانو سره ئې زياته مرسته کوله او د دوی ستونزې ئې رفع کولې. خو کله چې دوی د ظلم لار غوره کړه، نو له هغو الهي نعمتونو محروم شول، لنډ، آرام، آسان او مصئون سفرونه ئې اوږده، ستوزمن او ناامن شول، حالت ئې داسې وو لکه چې دوی په خپله له الله تعالی غوښتي وي چې زموږ سفرونه اوږده کړه!! نو داسې عبرتناکه سزا ورکړی شوه چې د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت قصه ترې جوړه شوه، په بشپړ خورېدو سره خواره واره شول. ځينې شام او اردن ته ولاړل او ځينې د عربو نورو سيمو ته، اَوس او خزرج هم د دغه قوم دوه قبيلې وې چې له سبأ يثرب ته ولاړې او هلته مېشت شوې.

د قصې په پای کې ويل شوي: يقيناً چې په دې قصې کې هر ډېر صبرناك او ډېر شکر کوونکي انسان ته ځرګندې عبرتناکې نښې دي. ځوك چې د نعمتونو د وفرت په حال کې د خپل منعم رب شکر پر ځای کوي، د شيطاني وسوسو او د نفسي غوښتنو په وړاندې استوار ودرېږي او د صبر لمن له لاسه نه ورکوي او له خپل حد او حق آخوا پښه نه ږدي، هغوی ته په دې عبرتناکې قصې کې د پند او عبرت ډېرې نښې دي.

وروسته مشرکينو ته ويل شوي:

- له الله پرته چې پر هر چا او هر څه د معبود ګمان کوئ هغه مرستې ته دروبلئ، په دې پوه شئ چې دا کاذب معبودان په هېڅ څه کې ستاسو مرسته نه شي کولی، هغوی نه په آسمانونو کې د ذرې برابر څه په واك کې لري او نه په ځمکې کې، نه د دې دواړو په کوم څه کې له الله تعالی سره شريك دي، نه د الله تعالی په وړاندې داسې ځوك موندلی شئ چې ستاسو ملاتړی شي، او نه داسې ځوك موندلی شئ چې د الله تعالی په وړاندې د هغه شفاعت کومه ګټه دررسوي، دا شفاعت به يوازې هغه ځوك کولی شي چې الله تعالی د شفاعت اجازه ورکړې او هغه چا ته به داسې شفاعت ګټه رسولی شي چې الله تعالی غوښتي وي. د قيامت په ورځ به حالت داسې وي چې د سختې وېرې او هيبت له کبله به هيڅوك د څه ويلو توان نه لري، يوازې هغه مهال به د څه ويلو امکان ترلاسه کړي چې د هيبت او وېرې حالت پای ته ورسېږي، کله چې د دوی له زړونو وېره وايستل شي ورته وبه ويل شي: ستاسو رب څه ويلي وو؟ هغه مهال به له خنډ پرته اعتراف کوي چې د الله تعالی ټولې ويناوې حق وې، د قيامت په اړه چې د الله تعالی پيغمبرانو څه ويلي وو مصداق ئې نن په خپلو سترګو ګورو، د الله تعالی په ستروالي او لوړوالي به اعتراف کوي.

بيا د قيامت په ورځ د منکرينو هغه عبرتناك حالت انځور شوی چې د الله تعالی په وړاندې د ودرېدو په وخت کې به ئې لري، هغه مهال چې دا ظالمان به د خپل رب په وړاندې درول

شوي وي په داسي حال کي چي ځيني به ئي ځينو نورو ته په دې توګه وينا ورګرځوي چي په ضعف کي ساتل شوي به هغو ته چي لويي ئي غوښتله وايي: که تاسو نه وی نو موږ به حتماً مؤمنان شوي وو، تاسو له ايمان راوړلو منع کړو، د دوی په ځواب کي به هغه چي لويي ئي غوښتله وايي: آيا موږ له هدايت منع کړئ له هغه وروسته چي درته راغی؟! نه؛ بلکي تاسو په خپله مجرمين وئ، موږ له ايمان راوړلو نه يئ منع کړي په خپله ګنهګار او مجرم وئ، مستضعفين (هغه چي ضعف ئي غوښتل شوی وو) مستکبرينو ته (هغو ته چي لويي ئي غوښتله) وايي: نه؛ بلکي ستاسو هغه د شپې او ورځي مکر له ايمان راوړلو منع کړي وو چي موږ ته به مو امر کولو چي د الله په اړه کفر وکړو او سيالان ورته وټاکو، د دوی تر منځ به دا لانجه تر هغه روانه وي او يو به بل ملامتوي چي عذاب راڅرګند شي، د عذاب له راڅرګندېدو سره سم به پټه خوله شي، نه به يو بل ملامتوي او نه به خپل ندامت څرګندوي، دا ځکه چي د عذاب رعب او هيبت به دا مجال ترې سلب کړي چي يو پر بل اعتراض وکړي، دا مهال به د هغو په غاړو کي زنځيرونه واچول شي چي د کفر لار ئي غوره کړې وه، د خپلو عملونو مناسبه سزا به وګوري، دوی په دنيا کي د نورو په غاړو کي زنځيرونه اچولي وو، هغوی ئي د غلامانو په توګه ساتلي ول، له سمي لاري ئي منحرف کړي ول نو نن به د دوی د مخکنيو کړنو مناسبه او ورته سزا ورکړی شي او زنځيرونه به ئي په غاړو کي واچول شي.

بيا د انبياءو په وړاندي د هغو وګړو دريځ انځور شوی چي د ټولني حاکم اجتماعي، سياسي، اقتصادي او مذهبي جوړښت دوی ته سوکالي او تر نورو زيات امتيازات ورپه برخه کړي، يو ئي واکمن دئ، بل ئي شتمن دئ، بل ئي قومي مشر دئ، بل ئي مذهبي مشر دئ، هر يو ئي له خپل خپل موقعيت ګټه اوچتوي او امتيازات ترلاسه کوي، چا له سياست دام جوړ کړی، چا له مذهب دکان، چا له خپل اجتماعي وجاهت د خلکو پر اوږو د سپرېدو وسيله، چا ته د عوامو جهل ګټور دئ او چا ته په شرك او خرافاتو کي د ولس پرېوتل، دوی نه غواړي دا حالت بدل شي، نو ځکه د هر هغه چا مخالفت ته ملا تړي چي په ټولني کي له فکري، ديني، مذهبي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي پلوه تبديلي غواړي، قرآن دا حالت په خپلو ښکلو او موجزو الفاظو سره داسي انځور کړی: هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی نه دئ لېږلی مګر دا چي مترفينو ئي (هغو چي سوکالي ورپه برخه شوې) وويل: مونږ په قطعي توګه له هغه څه منکر يو چي تاسو ورسره لېږل شوي يئ!!

د قيامت په ورځ او هغه مهال چي مشرکين د الله تعالی په وړاندي حاضر کړی شي؛ الله تعالی به فرشتو ته ووايي: آيا دغو مشرکينو ستاسو عبادت کولو؟ هغوی به وايي: پاکي تا لره ده، ته مو د دوی په وړاندي مولا يې، دوی زموږ نه بلکي د پيريانو (شيطانانو) بندګي کوله، د دوی ډېری پر هغوی باوري ول، هغه ورځ به دوی ته جوته شي چي دغو جعلي معبودانو نه دوی ته کومه ګټه په واك کي درلوده او نه کوم تاوان، د جهل او ناپوهی له کبله ئي له هغوی د ګټي رسولو او تاوان دفع کولو طمع درلوده.

بيا رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چي مخالفينو ته ووايي: يوازې په يوې خبري پند درکوم او هغه دا چي د الله لپاره دوه دوه او يو يو ودرېږئ بيا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو مخالفت هيڅ معقوله وجه نه لري، عدم غور او عدم تفکر د دې سبب شوی چي زما او زما د دعوت مخالفت وکړئ، لږ له خپلو تعصباتو، دود پالنو او جاهلانه حميت ګوښه شئ او په سړه

سينه او شفاف ذهن زما د بلني په اړه غور وكړئ.

بيا په الهي عذاب د كافرانو د اخته كېدو پر مهال او د قيامت په ورځ د دوی حالت داسي انځور شوی: سختي وېري به خپل وزر پرې خور كړی وي، د خلاصون هيڅ مجال او امكان به نه مومي، له نږدې واټن به ونيول شي، هغه عذاب چي دوی لري او محال ګڼلو ډېر ژر او د دوی له يوې او بلي خوا به پرې راپرېوځي. د قيامت په ورځ او هغه مهال چي د حق منكرين او مخالفين له الهي عذاب سره مخامخ شي او هغه حقائق په خپلو سترګو وګوري چي پيغمبرانو به دوی ته ويل او دوی به انكار كولو؛ نو وبه وايي: ايمان مو پرې راوړ، خو هغه مهال به دا ايمان دوی ته هيڅ ګټه نه رسوي.

د سورې په پای كي ويل شوي: د منكرينو مثال هغه چا ته ورته دئ چي له لري واټن د داسي هدف په لوري غشي ولي چي ترې پټ دئ، هغه چا ته ورته دي چي په تياره كي او په پټو سترګو د نامعلوم هدف په لوري كاڼي شړي، آيا داسي كس هدف په نښه كولی شي؟! له دوی سره به دې ته ورته چلن كېږي، د دوی او هغه څه تر منځ به خنډ رامنځته شي چي دوی ئې تمناء كوي، غشي به ئې پر هدف نه لګېږي، خپل مراد ته به رسېدلی نه شي، همغسي لكه چي تر دې وړاندي د دوی له هممشربانو سره وشول، ټول نامراده ولاړل، پرته له دې چي شيطاني هيلي ئې ترسره شي. يقيناً چي هغوی په دوكه كوونكي شك كي ول.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ وَهُوَ
ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۚ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلۡغَفُورُ ٢

ستايني هغه الله ته دي چې څه په آسمانونو کې دي او څه په زمکې کې دي ټول د ده دي، او ستايني په آخرت کې هم ده ته دي، او هغه باخبره د حکمت خاوند دئ، په هغه څه چې په زمکې کې ننوځي او له زمکې وځي او له آسمان راکوزيږي يا په هغه کې لوړ ځي پوهيږي، او هغه بخښونکی مهربان دئ.

(١-٢)- په دې مبارکو آيتونو کې الله تعالى په دې توګه موږ ته معرفي شوی:

- ~~**ټولې ستاينې له ده سره ښايي، په ذات، صفات او افعالو کې د ټولو ستاينو وړ دئ.**~~
- **څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د ده دي، دی ئې خالق او مالك دئ، د دې پريکړه د ده له لوري کيږي چې د آسمان او زمکې کوم څه چا ته ورکړي او کله ئې ورکړي.**
- **د آخرت په اړه او په هغه ورځ د ده پريکړې هم داسې دي چې ښيي الله تعالى د ستاينو وړ دئ.**
- **هغه باخبر د حکمت خاوند دئ.**
- **په ټولو هغو شيانو ښه پوهيږي چې په زمکې کې ننوځي، له زمکې وځي، له آسمان راکوزيږي يا په هغه کې لوړ ځي.**
- **هغه بخښونکی مهربان دئ.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ لَا
يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ

أَكۡبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ۝٣ لِّيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۚ
أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ۝٤ وَٱلَّذِينَ سَعَوۡ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ
لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٞ ۝٥

او هغو چې کفر ئې کړی وویل: دا د قیامت نېټه به هیڅکله پر موږ رانشي، وواېه: نه؛ داسي نه ده، په خپل هغه رب مي قسم چې پر غیب پوه دئ حتماً به دربانديِ راشي، نه په آسمان کي د یوې ذرې په وزن کوم شی ترې پټ پاته کېدی شي او نه په زمکي کي او نه تر دې ووړ او نه ترې ستر شته مګر دا چې په څرګندوونکي کتاب کي (ئې یادونه شوې) ده. تر څو هغو ته چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي نېکه بدله ورکړي، بخښنه او غوره رزق به دوی ته ورپه برخه شي، او هغو چې زما د آیتونو په اړه ئې د عاجزوونکو په توګه هڅه کړې دوی ته د دردناك اضطراب عذاب (تاکل شوی) دئ.

(٣-٥)- د دې مبارکو آیتونو لاربښووني دا دي:

- <u>کافران وايي: دا د قیامت نېټه به هیڅکله پر موږ رانشي، د قیامت په اړه د پیغمبر صلعم</u> **وینا نه مني او راتګ ئې محال ګڼي.**
- **رسول اللهؐ په دې مکلف شوی چې هغوی ته ووايي: داسي نه ده چې تاسو ئې وايئ، په خپل هغه رب مي قسم چې پر غیب پوه دئ، حتماً به دربانديِ راشي. دا د هغه ذات پرېکړه ده چې نه په آسمان کي د یوې ذرې په وزن کوم شی ترې پټ پاته کېدی شي او نه په زمکي کي، زما رب او په دې عالم کي د ده د ربوبیت مظاهر په دې ګواهي ورکوي چې قیامت به حتماً او ستاسو د غلطو انګېرنو خلاف راځي.**
- **زما رب هغه ذات دئ چې نه تر یوې ذرې ووړ شی او نه ترې ستر شی داسي دئ چې د هغه یادونه دې په څرګندوونکي کتاب کي نه وي کړې.**
- **قیامت به ځکه راځي چې الله تعالی غواړي هغو ته چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي نېکه بدله ورکړي، بخښنه او غوره رزق ورپه برخه کړي، او هغه چې د الله آیتونه تکذیبوي او دا هڅه کوي چې د الله تعالی د وعد او وعید د تحقق مخه ونیسي د اضطراب او پرېشانۍ په داسي عذاب ئې اخته کړي چې سخت دردناك وي. د عالم الغیب رب له کامل عدالت سره همدا ښایي چې قیامت راولي او هر انسان ته د خپلو کړنو سزا او جزاء ورکړي.**

وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلۡحَقَّ وَيَهۡدِيٓ إِلَىٰ

صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ۝٦

او هغه چې علم ورکړی شوی هغه (کتاب) ته چې ستا لوري ته درلیږل شوی (په داسي سترګه) ګوري چې هغه ستا د رب له لوري دئ، (سر تر پای) حق دئ او د ستایلي عزتمن (رب) لاري ته لارښوونه کوي.

(٦)- په دې مبارك آیت کي ویل شوي:

- د علم خاوندان پوهیږي چې د رسول اللهﷺ لوري ته لیږل شوی قرآن د الله تعالی له لوري لیږل شوی، سر تر پای حق دئ او د ستایلي عزتمن رب لاري ته لارښوونه کوي. یعني دا قرآن ستا د رسالت په اړه څرګند شاهد دئ، ټول مطالب او لارښووني ئې داسي دي چې ښیي دا کتاب د الله تعالی له لوري نازل شوی، د هغه الله له لوري چې ټولي ستاینې له ده سره ښایي او عزتمن دئ، په دې کتاب د تمسك له لاري او په لارښوونو ئې د عمل په نتیجه کي کولی شئ د عزت لوړو پوړو ته ورسیږئ او د ستایلي عزتمن رب تأیید ترلاسه کړئ.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلۡ نَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ يُنَبِّئُكُمۡ إِذَا مُزِّقۡتُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمۡ لَفِي
خَلۡقٖ جَدِيدٍ ۝٧ أَفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةُۢۗ بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ
بِٱلۡأٓخِرَةِ فِي ٱلۡعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلۡبَعِيدِ ۝٨ أَفَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا
خَلۡفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِن نَّشَأۡ نَخۡسِفۡ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ نُسۡقِطۡ عَلَيۡهِمۡ
كِسَفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّكُلِّ عَبۡدٖ مُّنِيبٖ ۝٩

او هغو چې کفر ئې کړی وویل: آیا داسي سړی دروښیو چې تاسو پر دې خبروي چې کله په بشپړ شړېدو سره وشړول شئ تاسو به حتماً په نوي پیدایښت کي (پیدا کړی) شئ، آیا پر الله دروغجنه افتراء کوي که پېریانی شوی، نه؛ بلکي هغه چې پر آخرت باور نه کوي په عذاب اخته او په ژور لارورکتوب کي دي، آیا د آسمان او زمکي هغه څه ته ئې پام نه دئ کړی چې د دوی په وړاندي او د دوی تر شا دي؟ که وغواړو په زمکي کي به ئې ښخ کړو او یا د آسمان کومه ټوټه به پرې راپرې باسو، یقیناً چې په دې کي هر انابت کوونکي بنده ته یوه څرګنده نښه ده.

(٧-٩)- د رسول اللهﷺ او د قیامت په اړه د ده وینا او د قرآن په اړه د علم خاوندان هغه څه وایي چې په مخکني آیت کي ورته اشاره وشوه، دوی قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی

کتاب ګڼي او د قيامت په اړه د قرآن وينا ربښتيني ګڼي، خو د دوی په مقابل کې هغه جاهل وګړي چې د کفر او انکار لار ئې غوره کړې وايي: آيا هغه سړی دروښيو چې خلکو ته وايي: قيامت به راځي، مړي به بېرته راژوندي کېږي، سره له دې چې د هغوی جسدونه شړېدلي او په خاورې کې خواره شوي!! همدا شړېدلي، وراسته شوي او خاورې شوي بدنونه به بېرته په نوي بڼې او پيدايښت کې بيا راپيدا کېږي، داسې وينا به يا د هغه چا له لوري وي چې پر الله دروغجنه افتراء کوي او يا د هغه چا له لوري چې پېرياني شوی او په لېونتوب اخته وي!!
قرآن د دوی په ځواب کې وايي: خبره هغسې نه ده چې دوی ئې وايي، حقيقت دا دئ چې پر آخرت باور نه کوونکي د الهي عذاب وړ او په ژوړ لاروركتوب کې دي. آيا د آسمان او ځمکې هغه څه ته ئې پام نه دئ کړی چې د دوی په وړاندې او د دوی تر شا دي؟ آيا دا هر څه د دې خبرې شهادت نه ورکوي چې قيامت حتماً راتلونکی دئ؟ د دوی شيطان ورته ويلي: که د قيامت ګواښونه ربښتيا وی نو تر اوسه به ئې کومه واضح نښه تر سترګو شوې وه، ولې نه راځي؟ ولې دومره وځنډېدو؟ الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: که وغواړو په ځمکې کې به ئې ښخ کړو او يا د آسمان کومه ټوټه به پرې راپرې باسو، نه ئې په ځمکې کې د ښخېدو مخه څوك نيولی شي او نه له آسمان پر دوی د يوې ټوټې راپرېوتو مخه، دا خو د مهربان رب يوه ستره پېرزوينه ده چې قيامت ئې ځنډولی او انسان ته ئې د انابت، رجوع، توبې او ځان اصلاح کولو فرصت ورکړی، يقيناً چې په دې کې هر انابت کوونکي بنده ته يوه څرګنده نښه ده.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضۡلٗاۖ يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ وَٱلطَّيۡرَۖ وَأَلَنَّا لَهُ ٱلۡحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ ٱعۡمَلۡ سَٰبِغَٰتٖ وَقَدِّرۡ فِي ٱلسَّرۡدِۖ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿١١﴾

او داؤد ته مو له خپل لوري فضل ورپه برخه کړ، (ومو ويل:) اې غرونو! له ده سره همغږي کوئ او مارغانو ته هم، او اوسپنه مو ورته نرمه کړه، چې زغري جوړې کړه او کړی په اندازه ولګوه، او نېك عمل کوئ، يقيناً چې زه په هغه څه پوهېږم چې تاسو ئې کوئ.

(۱۰-۱۱)- دلته او ورپسې څو آيتونو کې پر آخرت د ايمان لرونکو او منکرينو بېلې بېلې ګې زموږ په وړاندې انځور شوې، په دې دقيقو انځورونو کې ګورو چې پر آخرت باور لرونکي د عزت او عظمت لوړو څوکو ته رسېدلي او منکرين ئې له ذلت، سپکاوي او الهي عذاب سره مخامخ شوي، پر آخرت د ايمان لرونکو لومړی مثال داؤد صلعم دئ چې دلته د هغه په اړه ويل شوي:

- پر داؤد مو خپل فضل ولوراوو، په قرآن کې د دې الهي فضل ډېر مصداقونه مومو، لا نوی ځوانی ته رسېدلی وو چې الله تعالی ده ته دا سعادت ورپه برخه کړ چې د دښمن د يوه ستر لښکر سالار د ده په لاس ووژل شو او په همدې سره په يوې لويې جګړې کې ستره او تاريخي بريا د مؤمنانو په برخه شوه، د ولس قيادت ده ته وسپارل شو، لوی او ستر سلطنت

ئې په برخه شو، الله تعالی داسې اغېزناك او مؤثر غږ ورکړی وو چې مرغانو او غرونو به د ده له ذکر او تلاوت سره همغږي کوله، د اوسپنې کشف او د جنګي مقاصدو لپاره له هغې استفاده او زغرې ترې جوړول د ده په وخت کې پيل شوي، تاريخي څېړنې هم ښيي چې د داؤد عليه السلام د بعثت زمانه تر ميلاد زر دولس سوه کاله وړاندې ده او اوسپنه په همدغو کلونو کې کشف او د جنګي وسائلو جوړولو په اړه ترې استفاده پيل شوې. مؤمن او صالح آل او پلويان ئې په برخه شول، دا پر آخرت د ايمان او صالح عمل اغېز وو چې په سبب ئې الله تعالی داؤد **صلعم** ته دومره ستر فضيلت او عزت ورکړ او د عظمت هغې لوړې څوکې ته ئې ورسولو. له ده څخه مجاهد زوی سليمان **صلعم** ته دومره ستر ملك او واکمني په ميراث ورسيده چې په تاريخ کې ئې نظير نه وو ليدل شوی. چې قرآن دلته د هغه په اړه فرمايي:

وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهۡرٞ وَرَوَاحُهَا شَهۡرٞۖ وَأَسَلۡنَا لَهُۥ عَيۡنَ ٱلۡقِطۡرِۖ وَمِنَ ٱلۡجِنِّ
مَن يَعۡمَلُ بَيۡنَ يَدَيۡهِ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَمَن يَزِغۡ مِنۡهُمۡ عَنۡ أَمۡرِنَا نُذِقۡهُ مِنۡ عَذَابِ
ٱلسَّعِيرِ ﴿١٢﴾ يَعۡمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٖ كَٱلۡجَوَابِ وَقُدُورٖ
رَّاسِيَٰتٍۚ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ وَقَلِيلٞ مِّنۡ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ﴿١٣﴾ فَلَمَّا قَضَيۡنَا
عَلَيۡهِ ٱلۡمَوۡتَ مَا دَلَّهُمۡ عَلَىٰ مَوۡتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلۡأَرۡضِ تَأۡكُلُ مِنسَأَتَهُۥۖ فَلَمَّا خَرَّ
تَبَيَّنَتِ ٱلۡجِنُّ أَن لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٱلۡغَيۡبَ مَا لَبِثُواْ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ﴿١٤﴾

او سليمان ته مو هغه باد مسخر کړ چې سبانی (مزل) به ئې يوه مياشت او بېګانی به ئې يوه مياشت وو، د مسو چينه مو ورته راخوټولې وه، او له پېريانو مو هغه ورته مسخر کړي وو چې د ده د رب په حکم به د ده په وړاندې (په کار) لګيا ول، او که د دوی کوم چا به زموږ له حکم سرغړاوی او کوږوالی وکړ لمبه ناك عذاب مو ورڅکلو، هغه څه به ئې جوړول چې ده غوښتل؛ لکه لوړې جنګي کلاګانې، تماثيل (انځورونه)، د حوضونو په څېر طشتونه او تم شوې ثابت دېګونه، (ورته ويلي مو وو:) اې د داؤد پلويانو! د شکر په توګه عمل کوئ، او زما لږ بندګان شکر کوونکي دي، نو کله چې موږ د ده د مرينې پرېکړه وکړه د زمکې له يوې خزندې پرته چې د ده عصاء ئې خوړله بل څه دوی د هغه په مرينې پوه نه کړل، نو کله چې راپرېوت پېريان پوه شول چې که په غيب پوهېدی نو په سپکوونکي عذاب کې به نه ځنډېدل.

(۱۲-۱٤)- په دې مبارکو آيتونو کې د سليمان صلعم په اړه لاندې مطالب راغلي:

- الله تعالی داسې باد ورته مسخر کړی وو چې سبانۍ مزل به ئې يوه مياشت او بېګانۍ به ئې يوه مياشت وو، يعني دا سليمان صلعم وو چې د الله تعالی په فضل سره ئې تر ټولو وړاندې داسې بېړۍ جوړه کړه چې د باد په وسيله به خوځېده، سرعت ئې دومره وو چې له سحر تر غرمې پورې به ئې د يوې مياشتې مزل وهلو او له غرمې تر ماښام به ئې د يوې مياشتې مزل.
- د مسو معدن ئې کشف کړ او د مسو د ويلې کولو او له هغه د ضروري سامان او لوښو جوړول ئې ورزده کړل.
- هغه پېريان ئې ورته مسخر کړي ول چې د الله تعالی په حکم به د ده په وړاندې په ډول ډول کارونو لګيا ول، سرغړاوی ئې نشو کولی، که د دوی کوم چا به سرغړاوی او کوږوالی وکړ نو سزا به ئې لمبه ناك عذاب وو، هغه څه به ئې جوړول چې ده غوښتل، لکه جنګي کلاګانې، تماثيل او انځورونه، د حوضونو په څېر ستر ستر طشتونه او ځای پر ځای ولاړ ستر ستر دېګونه.
- د الله تعالی له لوري ده او د ده اهل او پلويانو ته دا لارښوونه شوې وه چې د شاکرو بندګانو په څېر به عمل کوئ، د الله تعالی د نعمتونو پاس به ساتئ او په همغه توګه به په کې تصرف کوئ چې ستاسو حقيقي منعم ئې درته خوښوي.
- کله چې الله تعالی د ده د مړيني پرېکړه وکړه نو په داسې حال کې روح ترې قبض شوه چې پر خپلې عصاء ئې تکيه کړې وه، ليدونکو داسې انګېرله چې دی ژوندی دئ، تر هغه همداسې پاته وو چې د زمکې يوې خزندې د ده عصاء داسې وخوړله چې ماته شي او دی راپرېوځي، بل څه دوی د هغه په مړيني پوه نه کړل، پېريان له دې وروسته پوه شول چې هغه وفات شوی، ويل ئې که موږ په غيب پوهېدی نو تر ننه به په دې سپکوونکي عذاب کې نه پاتي کېدلو.

دلته بايد څو خبرې په پام کې ولرو:

- دا د سليمان صلعم معجزه وه چې د پېريانو يوه ډله ورته مسخر او تسليم وه او د ده د خوښې کارونه به ئې ورته کول، نه دا معجزه له ده پرته بل پيغمبر ته ورکړی شوې او نه له ده پرته بل چا ته پېريان مسخر شوي، ځينې ټګماران د خلکو د غولولو لپاره وايي چې پېريان ئې مسخر کړي او د غيب خبرې ورته ښيي!! دوی د خلکو د غولولو لپاره وايي: موږ د هغه څه په مرسته پېريان مسخر کړي چې سليمان صلعم پرې مسخر کړي ول، د پېريانو له لارې په غيبي خبرو پوهېږو، کولی شو خلکو ته ووايو چې په راتلونکي کې به له کوم برخليك سره مخامخ شي!! هر څوك چې دا ادعاء کوي يو ټګمار او دوکه مار دئ او د قرآن د وينا خلاف خبره کوي، قرآن دلته د پېريانو له قوله وايي: که موږ پر غيب پوهېدلی نو تر ننه به په سپکوونکي عذاب کې نه پاتې کېدو، دوی له دې هم عاجز ول چې د سليمان صلعم له وفات خبر شي، له نورو غيبي امورو به څنګه خبرېږي؟!!
- دا چې سليمان صلعم پر زمکې د ناستې په حالت کې وفات شوی که پر کرسۍ د ناستې

په حالت کي او که په ولاړه، او دا چي څومره موده همداسي پاته شوی، دلته او د قرآن په بل آيت کي د دې وضاحت نه دئ شوی، په صحيح رواياتو کي هم څه نه مومو، غالب احتمال دا دئ چي سليمان **صلعم** پر هغې کرسی د ناستي په حالت کي وفات شوی چي هره ورځ به د خپل کار پر مهال د څه وخت لپاره پرې ناست وو، خپلوان او مقربين ئې پرې پوه شوي، د دې لپاره ئې هغه په همدې حالت تر يوې مودې پرېښی او يوه بله ورځ ئې دا ځای پرانيستی چي د پېريانو مسخر ټولګی د ده له مړيني خبر نشي، خو دې حالت زيات دوام نه دئ کړی او هغه عصاء ماته شوې چي ده پرې تکيه کړې وه. دا په وار وار ليدل شوي چي د سترو سترو واکمنانو د مړيني خبر تر يوې مودې پټ پاته شوی.

- دلته د هغو کارونو په ضمن کي چي پېريانو به سليمان **صلعم** ته کول د (تماثيل) جوړول هم راغلي، تمثال هغه تصوير او انځور ته ويل کېږي چي انسان، حيوان، بوټی، يا کوم بل څه تمثيلوي، لسان العرب د تمثال په اړه ليکي: التمثال اسم للشيء المصنوع مشبهاً بخلق من خلق الله: تمثال د هغه مصنوع نوم دئ چي د الله تعالی له مخلوقاتو کوم مخلوق ته ورته وي، د کشاف تفسير وايي: کل ما صور علی صورة غيره من حيوان و غيرحيوان: تمثال هر هغه تصوير ته ويل کېږي چي د کوم حيوان يا غيرحيوان په بڼي کي انځور شوی وي. متأسفانه ځيني دا د مجسمي په معنی تعبيروي او وايي: په مخکنيو اديانو کي د مجسمي جوړول جائز وو، او ګواکي پېريانو سليمان **صلعم** ته مجسمې جوړولې، دا رأيه ئې د بايبل د غلطو ويناوو تر اغېز لاندي وړاندي کړې، خو دا يوه ستره اشتباه او غلطه رأيه ده، د مجسمي جوړول په ټولو الهي اديانو کي تحريم شوي، سليمان **صلعم** ته د مجسمو درلودلو غلطه خبره منسوبول د هغه چا کار دئ چي د بايبل خبره ئې په پټو سترګو منلې او دا په داسي حال کي چي د بايبل په ګڼ شمېر نورو ځايونو کي د مجسمو له جوړولو جدي ممانعت تر سترګو کېږي، بايبل وايي: خدای د هرراز مجسمو له جوړولو او د دوی په وړاندي د عبادت له کولو ممانعت کړی او فرمايلي ئې دي: بُت مه جوړوئ او بُتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو څلي او تراشلي ډبري د لمانځني لپاره مه جوړوئ... همداراز وايي: نو بيا خدای له موسی وغوښتل چي بني اسرائيلو ته ووايه: تاسو وليدل چي څنګه مي له آسمانه له تاسو سره خبري وکړې!!! نو له دې وروسته له سرو او سپينو زرو ځان ته بتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ...

بايبل د (مختلف قوانين) تر عنوان لاندي ځيني داسي خبري لري چي حتماً ئې له اصلي انجيل اقتباس کړې خو ځيني ئې خپلي پرې علاوه کړې، ليکي: ... بت مه جوړوئ او بتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو څلي او تراشلي ډبري د لمانځني لپاره مه جوړوئ...د مور او پلار احترام کوئ، غلا مه کوئ، درواغ مه وايئ، څوك مه دوکه کوئ، ... جادوګري مه کوئ، فال مه نيسئ، د بت لمانځونکو په څېر پر خپلو مړو ماتم مه کوئ او خپل مخ او ځان مه زخمي کوئ، د سر وېښتان مو د ماتم په توګه مه ګونځي کوئ او خپل ګرېوان مه څيرئ او د دوی په څېر خالونه مه وهئ، کله چي د عبادت خيمي ته درومئ نو هيځکله شراب او نور مست کوونکي مشروبات مه څښئ... د خنزير غوښه مه خورئ... زنا او لواطت کوونکي بايد ووژل شي، جادوګران او د روح احضاروونکي بايد ووژل شي... دا دئ ګورئ بايبل داسي خبري هم راوړې چي هر الهي دين ئې کوي خو بايبل د دې تر څنګ ليکي: که د قربانۍ غوښه تر

دربیمي ورځي پاتي شوه وئي سوزوئ، ځکه دا نجسه ده... که چا وخوړه ګناهګار دئ، خدای ته ئي بې احترامي کړې باید له قومه وشړل شي... په خپل پټي کي دوه ډوله داني مه کرئ، دوه جنسه جامي مه اغوندئ...که چا له وینځي سره زنا وکړه نو کاهن ته دي یو پسه د قربانئ لپاره وروړي په دې سره به ئي ګناه وبخښل شي... کله چي موعود سیمي ته ورسېدئ او ډول ډول مېوه لرونکي وني مو وکرلي نو تر دریو کلونو ئي مېوې مه خورئ چي نجسي دي... د ځلورم کال ټول حاصل به زما وي... کاهنان به د هارون له نسله وي... دوی به مړو ته د عادي خلکو په څېر لاس نه وروړي چي نجس کېږي... د سر او ږیرې وېښتان به نه لنډوي...له طلاق شوې ښځي او کونډي سره به نکاح نه کوي، یوازي باکره پېغلي به په نکاح کوي، که نه نو زامن به ئي سپېڅلي نه وي...له کاهنانو پرته به بل څوك د سپېڅلي قربانئ توکي نه خوري.. دا ټولي خبري بې بنسټه، د عقل او علم خلاف او له الهي حق دین سره متعارضي خبري دي.

په دې کي هیڅ شك نشته چي په تورات کي به د الله تعالی لومړئ لارښوونه دا وه چي له الله جل شأنه پرته بل معبود نشته، د انسان، حیوان، مارغه او بل څه بت به نه جوړوئ او عبادت به ئي نه کوئ، دا د هر الهي دین اساسي او لومړنی خبره ده، خو د بایبل منونکي د بایبل د دغي ځرګندي او پرېکنده وینا په خلاف عیسی علیه السلام په الوهیت کي شریك کړی، د ده او د مریمي علیهما السلام مجسمي ئي جوړي کړې، ټولي کلیساوي ئي په دغو مجسمو ډکي دي، کشیشان ئي د دغو مجسمو په وړاندي په ګونډه کېږي، عبادت ئي کوي او مرسته تري غواړي!! د بایبل د وینا معنی خو دا ده چي چا له الله تعالی سره څوك یا څه شریك کړ، د هغه مجسمه ئي جوړه او د هغه په وړاندي په ګونډه شو له الله تعالی سره ئي دښمني کړې، داسي دښمني چي الله تعالی به ده او د ده دري او ځلور پُشته ته سزا ورکوي!!

د بایبل دا خبره هم د دین له بنیادي اساساتو سره ټکر کوي چي خدای تر دري ځلور پُشته خپل دښمن ته سزا ورکوي او تر زر پُشته خپل دوست په خپل رحمت او پېرزوینو نازوي!! دا باور او نظر هم د دیني اصولو او باورونو خلاف دئ او هم د عدل او عقل خلاف، ولي به عادل خدای یو چا ته د پلار او غور نیکه په جرم سزا ورکوي؟!! او ولي به د غور نیکه په خاطر د ده کړوسیانو ته نېکه بدله ورکوي که څه هم د الله تعالی د پېرزوینو او رحمت مستحق نه وي؟!! که داسي وی نو د آدم علیه السلام په زر پُشته اولاد به د الهي رحمت سیوری غوړېدلی وو، خو بایبل په خپله اعتراف کوي چي د آدم علیه السلام په تېرو شپېتو پُشته کي ډېر د الله تعالی له رحمته محروم او په الهي عذاب اخته شوي!!! د بایبل د ادعاء په اساس خو باید د نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام او نورو پیغمبرانو علیهم السلام په زر پُشته کي د الله تعالی د لعنت او عذاب مستحق اولاد نه راپیدا کېدو!!

مجسمي جوړول او ساتل یا د هغه چا دود دئ چي مشرك شوی او د الله تعالی تر څنګ د بل چا او بل څه لمانځنه کوي، یا د هغه ذلیل انسان چي د شخصیتونو او د ځان په څېر یوه انسان په لمانځني او ستاینې کي مبالغه کوي، او دا هم اکثراً د مادي اغراضو په طمع، یا د هغه چا چي په خرافاتو کي غرق دئ، په بېهوده کارونو او مشغولتیاوو کي ښکېل شوی او خپل وخت او امکانات په بېهوده، عبث او بې ګټي شیانو او امورو کي ضائع کوي. د سپېڅلو توکیو په نامه داسي مجسمي او هغوی ته ورته شیان ساتل او هغوی ته په درواغو کرامات منسوبول په

ټولو جاهلو قومونو کي شته، له چا سره سپېڅلي دېري، له چا سره سپېڅلي جندې، له چا سره سپېڅلي جامي، له چا سره سپېڅلي مجسمي او ... هر يو يا خلك پرې غولوي، يا خپل څواکمن دښمن پرې ماتوي او يا خپل غرض او مراد پرې تر لاسه کوي!! د احد په جنگ کي د قريشو فوځ درې زره او د مسلمانانو شمېر اوه سوه وو، خو دوى خپله بريا د هبل او عزا په طفيل گڼله او د هبل او عزا مجاورانو دا بريا د دغو بتانو کرامت ته منسوبوله!!

• ځينو درنو مفسرينو د دې آيت په تفسير کي د تصوير او انځور په اړه هم تفصيلي بحثونه کړي، چا ليکلي چي تصوير په مطلقه توگه حرام دئ، چا ليکلي چي يوازي د ژوو انځورونه جوړول حرام دي، چا ليکلي چي د تعظيم او درناوي په توگه د انځورونو ساتل حرام دي، له تعظيم پرته ئې ساتل شرعي مانع نه لري، دا اختلاف هم له متعارضو او متضادو رواياتو راولاړ شوى. په قرآن کي نه يوازي د عکس او انځور د حرمت په اړه کوم واضح او صريح حکم نه مومو بلکي ځيني فقهاء د دې آيت په استناد وايي چي که سليمان صلعم د پېريانو په لاس تماثيل جوړ کړي نو داسي تماثيل جوړول څه مانع نه لري، ممکنه نه ده چي يو څه دي په الهي شريعت کي د يوه پيغمبر په دوران کي حلال وي او په بل دور کي حرام، په داسي مواردو کي د ټولو پيغمبرانو شريعت په بشپړه توگه سره ورته دئ.

زه د تحقيق په ترځ کي د تصوير او انځور په اړه دې نتيجې ته رسېدلى يم چي:

• نانځکي ساتل هيڅ مانع نه لري، که څه هم مجسمو ته ورته وي. نور خو پرېږده حتى عائشې صلى نانځکي درلودې، نه ابوبکر ﷺ ترې منع کړې او نه رسول اللهﷺ.

• د غير ذي روح شيانو انځورونه جوړول او ساتل څه مانع نه لري، دې ته مو پام وي چي نن د صنعت يوه اساسي او ضروري برخه انځور دئ، هره فابريکه چي څه جوړوي که دا موټر وي، يا طياره يا رېل، يا موټر سيکل، يا کمپيوټر يا بل هر څه نو انجنيران ئې لومړى تصوير جوړوي او بيا د همدې تصوير له مخي هغه شى، يوه انجنير ته له مخکني انځور پرته د يوه شي جوړول تقريباً شبه محال دئ.

• د تعظيم او درناوي په توگه د انسان انځورونه جوړول او ساتل حرام دي.

• په خپل لاس د داسي انځورونو جوړول او دا ځان ته يوه حرفه، کسب او دنده گرځول ناجائز دي.

• په خپل لاس او د رسامي له لاري انځورنه له اوسنى عکاسي او فيلم سره ژور توپيرونه لري، روايات ټول د رسامي په اړه دي، پر اوسنى عکاسي او فيلم ئې اطلاق نه شي کېدى. هغه کسان چي د دغو رواياتو په استناد عکاسي حرام گڼي دوى اوسنى عکاسي په مخکنى رسامي قياسوي، خو دا په بشپړه توگه قياس مع الفارق دئ، د دې او هغه تر منځ ژور توپير دئ، هغه د انسان د لاس او ذهن زېږنده رسم او تصوير وو، اکثراً د واقع خلاف، او په دې کي نه د انسان ذهن څه اغېز لري او نه لاس، دا داسي دئ لکه په هينداري کي د چا انځور، کامره له دې پرته بل څه نه کوي چي دغه د هينداري انځور کاغذ او فيلم ته انتقالوي. دې ته بايد متوجه وو چي په دې اړه علماء په دوو ډلو وېشل شوي: هغه چي عکاسي په رسامي قياسوي، او هغه چي له دې قياس سره موافق نه دي، د يوه څه د حل و حرمت په اړه حکم صريح نص ته ضرورت لري، د رسامي په اړه روايات د عکاسي په اړه صريح نص نشو

گټلی، ځکه د دې دواړو تر منځ ژور توپيرونه شته، دې ته مو هم بايد پام وي چې د هر حرمت تر شا يو حکمت مضمر وي، مجسمې او د تعظيم لپاره انځورونه د دې لپاره تحريم شوي چې په شرك او بُتپالنې منتج کيږي، که داسې نه وی نو هم به د نانځکو جوړول او ساتل تحريم شوي وو او هم داسې انځورونه چې پر فرش وي.

• د ضرورت په صورت کې او د پېژندګلوی په موخه د تصوير ساتل او د روا مقاصدو لپاره او په ګټورو چارو کې له فيلم استفاده مانع نه لري، د تبليغ، روزنې، تربيت او لاربښوونې په ډګر کې فيلم داسې مهمه او ارزښتناکه وسيله ده چې هيڅ خبير داعي او مصلح ترې انکار نشي کولی، متأسفانه اوس دا وسيله د شريرو او مفسدو ځواکونو په لاس کې پرېوتې او د خلکو د بې لارې کولو په اړه ترې پراخه استفاده کيږي. د نانځکو په بڼې کې هم دين دښمنه ځواکونه ماشومانو ته د بې عفتی او بربنتوب تلقين کوي.

• هغو خلکو ته حيران يم چې له يوې خوا ادعاء کوي چې پېريانو سليمان **صلعم** ته مجسمې جوړولې او ګواکې په مخکني شريعت کې مجسمې جوړول او ساتل جائز وو له بلې خوا د عکس په اړه داسې فتوی ورکوي چې ګواکې په بشپړه توګه حرام دي، فتوی ئې هم د هغو رواياتو په استناد چې د رسم په اړه دي حال دا چې عکس په رسامې انځور قياسول غلط قياس دئ.

لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٖ وَشِمَالٖۖ كُلُواْ مِن رِّزۡقِ رَبِّكُمۡ
وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥۚ بَلۡدَةٞ طَيِّبَةٞ وَرَبٌّ غَفُورٞ ﴿١٥﴾ فَأَعۡرَضُواْ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سَيۡلَ ٱلۡعَرِمِ
وَبَدَّلۡنَٰهُم بِجَنَّتَيۡهِمۡ جَنَّتَيۡنِ ذَوَاتَيۡ أُكُلٍ خَمۡطٖ وَأَثۡلٖ وَشَيۡءٖ مِّن سِدۡرٖ قَلِيلٖ ﴿١٦﴾
ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم بِمَا كَفَرُواْۖ وَهَلۡ نُجَٰزِيٓ إِلَّا ٱلۡكَفُورَ ﴿١٧﴾ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ
ٱلۡقُرَى ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا قُرٗى ظَٰهِرَةٗ وَقَدَّرۡنَا فِيهَا ٱلسَّيۡرَۖ سِيرُواْ فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا
ءَامِنِينَ ﴿١٨﴾ فَقَالُواْ رَبَّنَا بَٰعِدۡ بَيۡنَ أَسۡفَارِنَا وَظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَحَادِيثَ
وَمَزَّقۡنَٰهُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ﴿١٩﴾ وَلَقَدۡ صَدَّقَ
عَلَيۡهِمۡ إِبۡلِيسُ ظَنَّهُۥ فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيۡهِم مِّن

سُلۡطَٰنٍ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يُؤۡمِنُ بِٱلۡأٓخِرَةِ مِمَّنۡ هُوَ مِنۡهَا فِي شَكّٖۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ﴿٢١﴾

يقيناً چې سبأ (والو) ته د دوی په ټاټوبي کې يوه څرګنده نښه وه، ښي او کيڼ لوري ته (ئې) دوه بڼه، د خپل رب رزق وخورئ او د هغه شکر پر ځای کړئ، ټاټوبی (مو) سُتره او رب (مو) بخښونکی. دوی اعراض وکړ نو موږ د عرم (بند) سېل پرې راوست او د دوی دوه بڼه مو په داسي دوو بڼو وربدل کړل چې بې خونده خواړه (مېوې)، د غز وني او لږ څه بېري ئې درلودې. همدا د دوی سزا وه چې له دې کبله مو ورکړه چې کفر ئې وکړ، او آيا موږ له ډېر ناسپاس پرته بل چا ته سزا ورکوو؟ او د دوی او هغو کليو تر منځ مو څرګند کلي رامنځته کړل چې برکت مو په کې اېښی، او په هغوی کې مو تګ مقدر کړی وو، په شپو شپو او ورځو ورځو په دې لارو کې سفر کوئ؛ په داسي حال کې چې په امن کې به وئ، نو وئې ويل: ای زموږ ربه! زموږ په سفرونو کې لرېوالی راوله، او پر خپل ځان ئې ظلم وکړ، نو موږ قصې ترې جوړې کړې او په بشپړ خورېدو سره مو خواره واره کړل، يقيناً چې په دې کې هر ډېر صابر او ډېر شاکر ته زياتي څرګندي نښي دي، او يقيناً چې شيطان خپل ګمان پرې رښتينی کړ نو د مؤمنانو له يوې ډلي پرته نورو د هغه متابعت وکړ، پر دوی ئې څه سلطه نه وه مګر دا چې موږ غوښتل پر آخرت ايمان راوړونکي له هغه جوت کړو چې د هغه په اړه په شك کې دئ، او ستا رب پر هر څه ساتونکی (څارونکی) دئ.

(۱۵-۲۱)- په دې مبارکو آيتونو کې پر آخرت د ايمان او عدم ايمان اغېز د سبأ د قوم په يوې عبرتناکي قصې کې څېړل شوی، تفصيل ئې داسي دئ:

- يقيناً چې د سبأ اوسېدونکو ته د دوی په هغه ټاټوبي کې د عبرت يوه څرګنده نښه وه چې ښی او کيڼ لوري ئې په ښېرازه بڼو سمسور وو، الله تعالی دا فرصت ورکړی وو چې د خپل رب رزق وخوري او د هغه شکر پر ځای کړي، ټاټوبی ئې سُتره او پاکيزه او خپل رب پرې مهربان او بخښونکی.
- <u>دوی اعراض او سرغړاوی وکړ، نو الله تعالی له دغو نعمتونو محروم کړل، هغه بند</u> ونړېدو چې له کبله ئې د دوی ټاټوبی ښېرازه او سمسور وو، درونـد ورانوونکی سيلاب پرې راغی، کلي ئې وران او کورونه ئې نسکور شول او وني او فصلونه ئې ونړېدل، يوه او بل لوري ته په بشپړه توګه خواره واره شول، هغه سمسور باغونه ئې په داسي دوو بڼو بدل شول چې مېوې ئې بې خونده او وني ئې يا د غز وني وې يا د بېرې.
- همدا د دوی هغه سزا وه چې وجه ئې کفر او د الله تعالی د نعمتونو په وړاندي ناسپاسي وه، او دا ثابت الهي سنت دئ چې د ناسپاس ولس په اړه هرومرو تحقق مومي.
- الله تعالی بشپړ امن ورپه برخه کړی وو، تجارتي سفرونه ئې خوندي او مصئون ول، د

دوی تجارتي قافلې به هم د شپې له لوري په ډاډ او اطمئنان سره تر شام او فلسطين پورې تلې راتلې او هم د ورځې له لوري، په دې اوږدې لارې کې ځای ځای داسې کلي جوړ شوي وو چې د کاروانونو تمځايونه ګڼل کېدل، له يوه کلي به لاړېر لرې نه وو تللې چې بل کلی به په نظر ورغی، دا په هر تمځای کې د کليو رامنځته کېدا يوه الهي پېرزوينه وه چې له کاروانيانو سره ئې زياته مرسته کوله او د دوی ستونزې ئې رفع کولې.

- خو کله چې دوی د ظلم لار غوره کړه، نو له هغو الهي نعمتونو محروم شول، لنډ، آرام، آسان او مصئون سفرونه ئې اوږده، ستونزمن او ناامن شول، حالت ئې داسي وو لکه چې دوی په خپله له الله تعالی غوښتي وي چې زموږ سفرونه اوږده کړه!! نو داسي عبرتناکه سزا ورکړی شوه چې د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت قصه ترې جوړه شوه، په بشپړ خورېدو سره خواره واره شول. ځيني شام او اردن ته ولاړل او ځيني د عربو نورو سيمو ته، اَوْس او خزرج هم د دغه قوم دوه قبيلې وې چې له سبأ يثرب ته ولاړې او هلته مېشت شوې.
- يقيناً چې په دې قصې کې هر ډېر صبرناك او ډېر شکر کوونکي انسان ته ځرګندي عبرتناکي نښې دي. ځوك چې د نعمتونو د وفرت په حال کې د خپل منعم رب شکر پر ځای کوي، د شيطاني وسوسو او د نفسي غوښتنو په وړاندي استوار ودرېږي او د صبر لمن کلکه نيسي او له خپل حد او حق آخوا پښه نه ږدي، هغوی ته په دې عبرتناکي قصې کې د پند او عبرت ډېري نښې دي.
- هغه شيطان خپل ګمان پرې رښتينی کړ چې د خپل رب له حکم د بغاوت په ورځ ئې ويلي وو: ستا ډېری بندګان به بې لارې کړم، لږ به ئې شاکر ومومې!! همداسي وشول، د مؤمنانو له يوې ډلې پرته نورو د همدې شيطان متابعت وکړ، پر دوی ئې څه سلطه نه وه، خو الله تعالی غوښتل پر آخرت ايمان راوړونکي معلوم او له هغو ئې بېل کړي چې د آخرت په اړه په شك کې دي، انسان ئې داسي پيدا کړی چې کولی شي له دوو لارو يوه غوره کړي او شيطان ته ئې دا مجال ورکړی چې د انسان د غولولو او بې لارې کولو په ډګر کې خپل زور وآزمويي، په دې توګه به په آخرت باور کوونکي له هغو بېلېږي چې د شيطاني وسوسو له کبله د آخرت په اړه شك کوي.
- او دا ټول له دې امله چې ستا رب پر هر څه څارونکی دئ. د هر چا حال ته په پام سره له هغه سره مناسبه او عادلانه معامله کوي.

سبأ د يوه سړي نوم وو، اولاد ئې په همدې نامه ياد شو، په هغي سيمي کې مېشت ول چې اوس د يمن په نامه يادېږي، مرکزي ښار ئې د مأرب په نامه يادېدو چې له اوسني صنعاء شاوخوا درې فرسخه لرې پروت وو.

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ﴿٢٢﴾

وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ
مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٢٣﴾

ووايه: له الله پرته چي پر چا (د معبود) گمان كوئ (مرستي ته ئې) دروبلئ، (دوى) نه په آسمانونو كي د ذرې برابر څه په واك كي لري او نه په زمكي كي، او نه په دوى دواړو كي كوم شراكت لري او نه د ده په وړاندي كوم ملاتړى لري، او نه د ده په وړاندي شفاعت گټه رسولى شي مگر هغه چا ته چي اجازه وركړي، تر هغه چي له زړونو ئې وېره وايستل شي وبه وايي: ستاسو رب څه ويلي؟ وايي به: حق، او هغه ستر لوړ دئ.

(۲۲-۲۳)- په دې مباركو آيتونو كي رسول الله ﷺ ته ويل شوي چي مشركينو ته ووايي:

- **له الله پرته چي پر هر چا او هر څه د معبود گمان كوئ هغه مرستي ته دروبلئ، په دې پوه شئ چي دا كاذب معبودان په هېڅ څه كي ستاسو مرسته نه شي كولى، هغوى نه په آسمانونو كي د ذرې برابر څه په واك كي لري او نه په زمكي كي، نه د دې دواړو په كوم څه كي له الله تعالى سره شريك دي، نه د الله تعالى په وړاندي داسي څوك موندلى شئ چي ستاسو ملاتړى شي، او نه داسي څوك موندلى شئ چي د الله تعالى په وړاندي د هغه شفاعت كومه گټه دررسوي، دا شفاعت به يوازي هغه څوك كولى شي چي الله تعالى د شفاعت اجازه وركړي او هغه چا ته به داسي شفاعت گټه رسولى شي چي الله تعالى غوښتي وي. د قيامت په ورځ به حالت داسي وي چي د سختي وېرې او هيبت له كبله به هيڅوك د څه ويلو توان نه لري، يوازي هغه مهال به د څه ويلو امكان ترلاسه كړي چي د هيبت او وېرې حالت پاى ته ورسېږي، كله چي د دوى له زړونو وېره وايستل شي ورته وبه ويل شي: ستاسو رب څه ويلي وو؟ هغه مهال به له ځنډ پرته اعتراف كوي چي د الله تعالى ټولي ويناوي حق وې، د قيامت په اړه چي د الله تعالى پيغمبرانو څه ويلي وو مصداق ئې نن په خپلو سترگو گورو، د الله تعالى په ستروالي او لوړوالي به اعتراف كوي.**

قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُلِ ٱللَّهُۖ وَإِنَّآ أَوۡ إِيَّاكُمۡ لَعَلَىٰ
هُدًى أَوۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٢٤﴾ قُل لَّا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّآ أَجۡرَمۡنَا وَلَا نُسۡـَٔلُ عَمَّا
تَعۡمَلُونَ ﴿٢٥﴾ قُلۡ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفۡتَحُ بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَهُوَ ٱلۡفَتَّاحُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٢٦﴾
قُلۡ أَرُونِيَ ٱلَّذِينَ أَلۡحَقۡتُم بِهِۦ شُرَكَآءَۖ كَلَّاۚ بَلۡ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٧﴾

ووايه: څوك له آسمان او زمكي روزي دركوي؟ ووايه: الله، نو يا موږ او يا تاسو به په هدايت (او سمي لاري روان) يو يا په ښكاره ګمراهۍ كې، ووايه: له هغو جرمونو چې موږ كړي وي تاسو نه پوښتل كيږئ او موږ له هغه څه نه پوښتل كيږو چې تاسو ئې كوئ، ووايه: زموږ رب به مو سره يو ځای كوي، بيا به په حق سره زموږ تر منځ پريكړه كوي او هغه ښه پوه پريكړه كوونكی دئ. ووايه: هغه راوښيئ چې د شريكانو په توګه مو ورسره نښلولي، هيڅكله داسي نه ده؛ هغه باحكمته عزتمن دئ.

(۲٤-۲۷)- په دې مباركو آيتونو كې رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چې مشركينو ته ووايي:

- هغه څوك دئ چې له آسمان او زمكي روزي دركوي؟ آيا له الله تعالى پرته بل داسي څوك شته چې له آسمان د اوبو په ورولو او له زمكي د داني او مېوې په راټوكولو كې څه برخه او اغېز ولري؟
- يا به د الله تعالى په اړه زموږ وينا او باور صحيح وي او يا ستاسو ادعاء، يا د هغه چا وينا چې وايي الله يو دئ او شريك نه لري او يا د هغه چا چې ادعاء كوي الله تعالى شريكان لري، كه خبره داسي وي چې د آسمانونو او زمكي په هيڅ څه كې هيڅوك له الله تعالى سره شريك نه دئ، نه د باران په ورولو كې او نه د داني او مېوې په راټوكولو كې، نو يقيناً هغه څوك په بشپړه توګه لاروركی دئ چې مشرك دئ او له الله تعالى پرته بل معبود لمانځي.
- نه تاسو زموږ له جرمونو پوښتل كيږئ او نه موږ ستاسو له كړنو، ولې زموږ مزاحمت كوئ؟ ولې مو زموږ دښمنی ته ملا تړلي ده؟
- الله تعالى به موږ او تاسو د قيامت په ورځ سره يو ځای كوي، بيا به زموږ تر منځ په حق سره پريكړه كوي او هغه ښه پوه پريكړه كوونكی دئ.
- هغه ذوات راوښيئ چې تاسو د الله تعالى په څنګ كې ودرولي او د هغه شريكان مو ګرځولي، كوم يو ئې په څه كې د الله تعالى شريك دئ؟!! ستاسو ادعاء خوشې او بې بنسټه ده، الله تعالى شريك نه لري، هغه باحكمته عزتمن دئ، نه د پوهې او حكمت له پلوه كوم شريك ته اړ دئ او نه د ځواك او توان له پلوه، شريك ته هغه څوك اړ كيږي چې يا ئې پوهه او حكمت ناقص وي او يا ئې زور او ځواك.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَعۡلَمُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قُل لَّكُم
مِّيعَادُ يَوۡمٖ لَّا تَسۡتَـٔۡخِرُونَ عَنۡهُ سَاعَةٗ وَلَا تَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٣٠﴾

او ته مو نه يې لېږلی مګر د ټولو خلكو لپاره د بشارت وركوونكي او انذار وركوونكي په توګه خو ډېری خلك نه پوهيږي، او وايي: (د قيامت) دا وعده به كله وي كه رښتيني يئ؟ ووايه: تاسو ته داسي نېټه ټاكل شوې چې نه يو ساعت ترې وروسته كېدی شئ او

نه وړاندې کېدی شئ.

(۲۸-۳۰)- دلته رسول الله ﷺ ته ویل شوي چې ته مو ټولو خلکو ته د بشیر او نذیر په توګه لیږلی یې، ستا دنده دا ده چې مؤمنانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکړې او هغه د خپل کفر له بدو پایلو ووېروې چې پر آخرت ایمان نه راوړي. ډېری خلك داسي دي چې د ناپوهی له کبله ستا پر رسالت له ایمان راوړو ډډه کوي او وايي: د قیامت د راتګ نېټه به کله وي که رښتیني یئ؟ دوی نه پوهېږي چې د پیغمبر دنده دا نه ده چې خلکو ته د قیامت نېټه وښيي، له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي چې قیامت به کله راځي، هغو ته چې پر قیامت باور نه لري او راتګ ئې محال ګڼي؛ وواېه: تاسو ته داسي نېټه ټاکل شوې چې نه یو ساعت ترې وروسته کېدی شئ او نه وړاندې کېدی شئ.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ بِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَلَا بِٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ
إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوۡقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمۡ يَرۡجِعُ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ ٱلۡقَوۡلَ يَقُولُ
ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ لَوۡلَآ أَنتُمۡ لَكُنَّا مُؤۡمِنِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ
ٱسۡتَكۡبَرُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُوٓاْ أَنَحۡنُ صَدَدۡنَٰكُمۡ عَنِ ٱلۡهُدَىٰ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَكُمۖ بَلۡ
كُنتُم مُّجۡرِمِينَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ بَلۡ مَكۡرُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ
إِذۡ تَأۡمُرُونَنَآ أَن نَّكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجۡعَلَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ
وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَغۡلَٰلَ فِيٓ أَعۡنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٣٣﴾

او هغو چې کفر ئې کړی وویل: نه به هیڅکله پر دې قرآن ایمان راوړو او نه پر هغه چې ترې وړاندې دئ، او کاش هغه مهال وګورې چې ظالمان د خپل رب په وړاندې ودرول شوي وي په داسي حال کي چې ځیني ئې ځینو نورو ته دا وینا ورګرځوي چې په ضعف کي ساتل شوي به هغو ته چې لويي ئې غوښتله وايي: که تاسو نه وی نو موږ به حتماً مؤمنان وو، هغه چې لويي ئې غوښتله هغو ته چې په ضعف کي ساتل شوي وو، وايي: آیا موږ له هدایت منع کړئ له هغه وروسته چې درته راغی؟! نه؛ بلکي تاسو په خپله مجرمین وئ، او هغه چې ضعف ئې غوښتل شوی وو هغو ته چې لويي ئې غوښتله وايي: نه؛ بلکي ستاسو هغه د شپې او ورځي مکر ئې (سبب وو) چې

موږ ته به مو امر کولو چې د الله په اړه کفر وکړو او سیالان ورته وټاکو، او کله چې عذاب وګوري (خپل) ندامت به پټ کړي، او د هغو په غاړو کې به زنځیرونه واچوو چې کفر ئې کړی، آیا له هغه پرته چې کول ئې د بل څه سزا ورکول کیږي؟!

(۳۱-۳۳)- په دې مبارکو آیتونو کې له یوې خوا د کافرانو دا وینا راوړل شوې چې وايي: نه پر قرآن ایمان راوړو ته تیار یو او نه پر هغو چې تر قرآن وړاندې ول، د دوی حالت داسې دئ چې په هیڅ توګه پر الهي کتابونو ایمان راوړلو ته تیار نه دي، له بلې خوا د دوی هغه عبرتناك حالت انځور شوی چې د قیامت په ورځ او د الله تعالی په وړاندې د ودرېدو په وخت کې به ئې لري، هغه مهال چې دا ظالمان به د خپل رب په وړاندې ودرول شوي وي په داسې حال کې چې ځيني به ئې ځينو نورو ته په دې توګه وینا ورګرځوي چې په ضعف کې ساتل شوي به هغو ته چې لويي ئې غوښتله وايي: که تاسو نه وی نو موږ به حتماً مؤمنان شوي وو، تاسو له ایمان راوړلو منع کړو، د دوی په ځواب کې به هغه چې لويي ئې غوښتله وايي: آیا موږ له هدایت منع کړئ له هغه وروسته چې درته راغی؟! نه؛ بلکې تاسو په خپله مجرمین وئ، موږ له ایمان راوړلو نه يئ منع کړي په خپله ګنهګار او مجرم وئ، مستضعفین (هغه چې ضعف ئې غوښتل شوی وو) مستکبرینو ته (هغو ته چې لويي ئې غوښتله) وايي: نه بلکې ستاسو هغه د شپې او ورځې مکر له ایمان راوړلو منع کړي وو چې موږ ته به مو امر کولو چې د الله په اړه کفر وکړو او سیالان ورته وټاکو، د دوی تر منځ به دا لانجه تر هغه روانه وي او یو به بل ملامتوي چې عذاب راڅرګند شي، د عذاب له راڅرګندېدو سره سم به پټه خوله شي، نه به یو بل ملامتوي او نه به خپل ندامت څرګندوي، دا ځکه چې د عذاب رعب او هیبت به دا مجال ترې سلب کړي چې یو پر بل اعتراض وکړي، دا مهال به د هغو په غاړو کې زنځیرونه واچول شي چې د کفر لار ئې غوره کړې وه، د خپلو عملونو مناسبه سزا به وګوري، دوی د نورو په غاړو کې زنځیرونه اچولي وو، هغوی ئې د غلامانو په توګه ساتلي ول، له سمې لارې ئې منحرف کړي ول نو نن به د دوی د مخکنیو کړنو مطابق سزا ورکړی شي او زنځیرونه به ئې په غاړو کې واچول شي.

د قرآن له دې وینا معلومیږي چې دلته د مستکبرینو (لويي غوښتونکو) اصطلاح د هغو مذهبي مشرانو لپاره غوره شوې چې د شرك مبلغین او حامیان ول، جاهل عوام به ئې شرك ته بلل او د الله له لارې به ئې منحرف کول، او مستضعفین (هغه چې ضعف او ناتواني ئې غوښتل شوې) د هغو جهل ځپلو او شرك وهلو عوامو لپاره کارول شوې چې د دغو مذهبي مشرانو تقلید ئې کولو او د دوی په لومو کې نښتي ول.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾

وَقَالُواْ نَحۡنُ أَكۡثَرُ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾

او هیڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی (پیغمبر) نه دئ لیږلی مګر دا چې مترفینو ئې (هغو چې سوکالي ورپه برخه شوې) وویل: موږ په قطعي توګه له هغه څه منکر یو

چي تاسو ورسره لېږل شوي يئ، او وئې ويل: موږ (تر نورو) زيات مال او اولاد لرو او هيڅکله تعذيبېدونکي نه يو!

(۳۴-۳۵)- په دې مبارك آيت كي د انبياءو په وړاندي د هغو وګړو دريځ انځور شوی چي د ټولني حاكم اجتماعي، سياسي، اقتصادي او مذهبي جوړښت دوی ته سوكالي او تر نورو زيات امتيازات وړيه برخه كړي، يو ئې واكمن دئ، بل ئې شتمن دئ، بل ئې قومي مشر دئ، بل ئې مذهبي مشر دئ، هر يو ئې له خپل خپل موقعيت ګټه اوچتوي او امتيازات ترلاسه كوي، چا له سياست دام جوړ كړی، چا له مذهب دكان، چا له خپل اجتماعي وجاهت د خلكو پر اوږو د سپرېدو وسيله، چا ته د عوامو جهل ګټور دئ او چا ته په شرك او خرافاتو كي د ولس پرېوتل، دوی نه غواړي دا حالت بدل شي، نو ځكه د هر هغه چا مخالفت ته ملا تړي چي په ټولني كي له فكري، ديني، مذهبي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي پلوه تبديلي غواړي، قرآن دا حالت په خپلو ښكلو او موجزو الفاظو سره داسي انځور كړی: هيڅ كلي ته مو كوم خبرداری وركوونكی نه دئ لېږلی مګر دا چي مترفينو ئې (هغو چي سوكالي وړيه برخه شوې) وويل: مونږ په قطعي توګه له هغه څه منكر يو چي تاسو ورسره لېږل شوي يئ، يعني ستاسو له رسالت منكر يو، او وئې ويل: موږ تر نورو زيات مال او اولاد لرو او هيڅكله تعذيبېدونكي نه يو! ګورئ چي د (مال) او (اولاد) ډېرښت د پيغمبرانو ﷺ له رسالت سره تضاد او مخالفت ته هڅولي او همدا د (مال) او (اولاد) ډېرښت د فلاح او نجات معيار او ملاك ګڼي، وايي: كه موږ د الهي عذاب وړ وی نو الله به تر نورو زيات مال او پلويان نه راكول!!!

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾
وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُكُم بِٱلَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا
فَأُو۟لَـٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا۟ وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَـٰتِ ءَامِنُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ
يَسْعَوْنَ فِىٓ ءَايَـٰتِنَا مُعَـٰجِزِينَ أُو۟لَـٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّى
يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥ ۚ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَىْءٍ فَهُوَ
يُخْلِفُهُۥ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٣٩﴾

ووايه: يقيناً زما رب چا ته چي وغواړي رزق پراخوي او محدودوي، خو د خلكو ډېری

نه پوهېږي، او ستاسو مالونه او اولادونه هغه څه نه دي چې زموږ خوا ته مو د نږدې والي په حقيقي معنى نږدې کوي، مګر هغه چې ايمان راوړي او نېك عمل وکړي؛ نو دوی ته د خپلو کړنو له کبله غبرګه بدله ده او همدا دوی به په دنګو دنګو ماڼيو کې خوندي اوسي، او هغه چې زموږ د آيتونو په اړه د عاجزوونکو په توګه هڅه کوي همدا دوی به په عذاب کې حاضر کړی شوي وي. ووايه: يقيناً چې زما رب چې له خپلو بندګانو هر چا ته وغواړي روزي پراخوي او ورته محدودوي ئې، او کوم څه چې تاسو (د الله په لار کې) انفاقوئ نو هغه ئې معاوضه ورکوي او هغه تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ.

(۳۶-۳۹)- په دې مبارکو آيتونو کې د هغو مستکبرينو او مترفينو (واکمنو او شتمنو) غلطي انګېرنې ترديد شوې چې خپلې واکمنې او شتمنې د پيغمبرانو صلی مخالفت ته هڅولي او د (مال) او (پلويانو) ډېرښت د ښه والي معيار ګڼي، دوی ته ويل شوي:

• د رزق او روزي ورکړه د الله تعالی له لوري ده، دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چې چا ته څومره رزق ورکړي، د رزق د پراخوالي او تنګوالي پرېکړه د ده له لوري او د خاص الهي حکمت له مخې کېږي، خو د خلکو ډېری نه په دې پوهېږي چې د رزق د پراخوالي او تنګوالي پرېکړه د رزاق خدای له لوري کېږي او نه په دې چې دا پرېکړه د خاص الهي حکمت له مخې وي، هغه خلك څومره ناپوه او جاهل دي چې د دې حقيقت له درك عاجز دي، ولې دې ته پام نه کوي چې د رزق ټول اسباب او وسائل د الله تعالی په واك کې دي، باران د ده په حکم له آسمانه ورېږي او دانې، مېوې او بوټي د ده په اراده له زمکې راټوکېږي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې د يوې سيمې د خلکو رزق دې پراخ او زيات وي که محدود او لږ، ډېر او ګټور باران دې پرې ووريږي که لږ او بې وخته، د دوی فصلونه دې ښېرازه او سمسور وي که مړاوي او ژېړبخن. خو دې ته مو بايد په جدي او دقيقه توګه پام وي چې د خلکو ظالمانه وېش او په الهي نعمتونو کې د دوی ناعادلانه تصرف د الله تعالی د وېش په معنی تعبير نه کړئ، که چا د ظلم او د نورو په حق کې د تېري له لارې زيات مال او دولت او د رزق زيات اسباب او ذرائع ترلاسه کړي وي داسې نه چې دا الله تعالی ته منسوب کړئ، دا کار يا هغه څوك کوي چې ناپوه او جاهل وي او يا هغه څوك چې خپلې ناروا شتمنی د الله تعالی له لوري پر ده يوه پېرزوينه ګڼي!! په پورتنيو آيتونو کې دغو دواړو ډلو ته اشاره شوې او دا د دغو دواړو ډلو غلطه انګېرنه ګڼل شوې.

• قرآن د دوی په رد کې فرمايي: ستاسو مالونه او اولادونه هغه څه نه دي چې تاسو د الله تعالی خوا ته د نږدې والي په حقيقي معنی نږدې کوي، دا تقرب او نږدې والی يوازې د هغه چا په برخه کېږي چې ايمان راوړي او نېك عمل وکړي، دوی ته به د خپلو کړنو له کبله غبرګه بدله ورکول کېږي او د جنت په دنګو دنګو ماڼيو کې به په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره اوسي. او هغه چې الهي وعد او وعيد تکذيبوي او هڅه کوي چې له مؤمنانو سره د الله تعالی د وعدو او د کافرانو په اړه د ده د وعيد مخنيوی وکړي او د هغوی د تحقق په وړاندې خنډونه راولاړ کړي په الهي عذاب به اخته کېږي.

- په داسې حال کې چې د رزق د پراخوالي او تنګوالي پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، د هر انسان په واك کې چې لږ یا ډېر رزق دئ په حقیقت کې د الله تعالی له لوري ورکړی شوی، خو که همدا انسان دغه د الله تعالی له لوري ورکړی شوی رزق د ده په لار کې لګوي نو هغه ئې بدله او معاوضه ورکوي.
- الله تعالی تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ، خپله روزي له ده وغواړئ او له هغو جائزو او روا لارو ئې ولټوئ چې د الله تعالی له لوري درته ټاکل شوې.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾
قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ بَلْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم بِهِم
مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَٱلْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَلَا ضَرًّا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟
ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّتِى كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾

او هغه ورځ چې دوی ټول راغونډ کړي بیا فرشتو ته ووایي: آیا دغو خلکو ستاسو عبادت کولو؟ وبه وایي: پاکي تا لره ده، ته مو د دوی په وړاندې مولا يې، بلکې دوی د پېریانو (شیطانانو) بندګي کوله، د دوی ډېری پرې باوري ول، نو نن به نه ځینې ځینو نورو ته کومه ګټه په واك کې لري او نه کوم تاوان، او هغو ته به ووایو چې ظلم ئې کړی: د هغه اور عذاب وڅکئ چې تاسو دروغجن ګڼلو.

(٤٠-٤٢)- د قیامت په ورځ او هغه مهال چې مشرکین د الله تعالی په وړاندې حاضر کړی شي، الله تعالی به فرشتو ته ووایي: آیا مشرکینو ستاسو عبادت کولو؟ هغوی به وایي: پاکي تا لره ده، ته مو د دوی په وړاندې مولا يې، دوی زموږ نه بلکې د شیطانانو بندګي کوله، د دوی ډېری پر هغوی باوري ول، هغه ورځ به دوی ته جوته شي دغو جعلي معبودانو نه دوی ته کومه ګټه په واك کې درلوده او نه کوم تاوان، د جهل او ناپوهۍ له کبله ئې له هغوی د ګټې رسولو او تاوان دفع کولو طمع درلوده، هغه ورځ به دغو مشرکینو ته چې هم ئې پر ځان ظلم کړی وو او هم د خپل رب په اړه؛ وویل شي: د هغه اور عذاب وڅکئ چې تاسو دروغجن ګڼلو.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ
يَعْبُدُ ءَابَآؤُكُمْ وَقَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا

جَآءَهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿٤٣﴾ وَمَآ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّن كُتُبٖ يَدۡرُسُونَهَاۖ وَمَآ
أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ قَبۡلَكَ مِن نَّذِيرٖ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَمَا بَلَغُواْ مِعۡشَارَ مَآ
ءَاتَيۡنَٰهُمۡ فَكَذَّبُواْ رُسُلِيۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾

او کله چې زما څرګند آيتونه پرې ولوستل شي وايي: دا له داسې سړي پرته بل څوك نه دئ چې غواړي تاسو له هغه څه منع کړي چې ستاسو پلرونو لمانځل، او وايي: دا له دروغجنې افتراء پرته بل څه نه دي، او هغو چې کفر ئې کړی د دې حق (دين) په اړه هغه مهال چې دوی ته راغی وويل: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ، دوی ته مو نه داسې کتابونه ورکړي چې دوی ئې لولي او نه مو تر تا وړاندې دوی ته کوم خبرداری ورکوونکی لېږلی، او هغو هم دروغ وګڼلو چې تر دوی وړاندې ول، او د هغه څه لسمې ته هم نه دي رسېدلي چې هغوی ته مو ورکړي وو او زما استازي ئې تکذيب کړل نو (آيا پوهېږئ چې) زما انکار څنګه وو؟!

(٤٣-٤٥)- دلته د هغو مشرکينو وضعيت انځور شوی چې رسول الله ﷺ ورسره مخامخ وو، په دې توګه:

- **کله چې د قرآن څرګند آيتونه واوري نو د رسول الله ﷺ په اړه د دوی وينا او قضاوت دا وي: دا خو همغه سړی دئ چې غواړي تاسو له خپل پلرني دين او مذهب واړوي او د هغو معبودانو له لمانځلو مو منع کوي چې ستاسو پلرونو لمانځل، او د قرآن د لاربښوونو په اړه کله وايي چې: دا له دروغجنې افتراء پرته بل څه نه دي، او کله بيا وايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!! کله ادعاء کوي چې قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب نه بلکې رسول الله ﷺ له ځانه جوړ کړی او الله تعالی ته ئې منسوب کړی!! او کله د رسول الله ﷺ د دعوت ژور اغېز ته په پام سره وايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!!**
- **دوی په هيڅ الهي کتاب باور نه لري، نه داسې کتابونه ورکړی شوي چې دوی ئې لولي او نه تر رسول الله ﷺ وړاندې په دوی کې کوم پيغمبر مبعوث شوی، مخالفت ئې له رسول الله ﷺ او قرآن سره هيڅ ديني بنسټ نه لري.**
- **هسې پر خپلو شتمنيو مغرور دي، تر دوی وړاندې داسې قومونو پيغمبران تکذيب کړي چې قريش ئې په دوړو پسې هم نشي رسېدلی، قريش د هغه څه لسمې ته هم نه دي رسېدلي چې هغوی ته ورکړی شوي وو، خو راشئ تاريخ ته رجوع وکړئ او وګورئ چې د پيغمبرانو د تکذيب له کبله له کوم دردناك برخليك سره مخامخ شول، قريشو ته دې ته ورته برخليك منتظر دئ.**

قُلْ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍ ۖ أَن تَقُومُوا۟ لِلَّهِ مَثْنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا۟ ۚ مَا
بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَىْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ مَا
سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ
﴿٤٧﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ ٱلْبَٰطِلُ
وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ إِن ضَلَلْتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِى ۖ وَإِنِ ٱهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِىٓ
إِلَىَّ رَبِّىٓ ۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾

ووایه: یوازې په یوې خبرې پند درکوم چې د الله لپاره دوه دوه او یو یو ودرېږئ بیا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو ملګری په کوم لېونتوب نه دئ اخته شوی، هغه فقط تاسو ته تر یوه سخت عذاب وړاندې خبرداری درکوونکی دئ، ووایه: که مې کوم اجر درنه وغوښت هغه دې ستاسو وي، زما اجر یوازې پر الله دئ، او هغه پر هر څه ګواه دئ، ووایه: یقیناً چې زما رب په دقیقه او سمه توګه نښه ولې په پټو (اسرارو) ډېر ښه پوه دئ، ووایه: حق راغی، او باطل (معبودان) نه څه پیلولی شي او نه ئې اعاده کولی شي، ووایه: که زه بې لارې شوی وم نو یوازې د ځان په ضرر به بې لارې شوی وم، او که هدایت شوی وم نو دا د هغې وحې له کبله دي چې زما رب ئې راته کوي، یقیناً چې هغه نږدې اورېدونکی دئ.

(٤٦-٥٠)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چې مخالفینو ته ووایې:

- **یوازې په یوې خبرې پند درکوم او هغه دا چې د الله لپاره دوه دوه او یو یو ودرېږئ بیا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو مخالفت هیڅ معقوله وجه نه لري، عدم غور او عدم تفکر د دې سبب شوی چې زما او زما د دعوت مخالفت وکړئ، لږ له خپلو تعصباتو، دود پالنو او جاهلانه حمیت ګوښه شئ او په سړه سینه او شفاف ذهن زما د بلنې په اړه غور وکړئ.**
- **ښه پوهېږئ چې ستاسو ملګری (رسول اللهﷺ) نه پېریانی شوی او نه په لېونتوب اخته دئ، د کینې او رخې له مخې هغه ته دا نسبتونه کوئ، وجه ئې دا ده چې هغه ستاسو په تګلارو او کړنلارو نیوکې کوي او پایلې ئې خطرناکې ګڼي، تاسو ته د هغه سخت عذاب راتلو خبرداری درکوي چې ستاسو د تګلارو طبیعي سزا او پایله ده.**
- **له تاسو هیڅ طمع نه لرم، هیڅ مادي او معنوي بدله نه غواړم، که مې له تاسو د خپل دعوت په بدل کې کوم اجر وغوښت هغه دې ستاسو وي، زما اجر یوازې پر الله دئ.**

- زما رب پر هر څه ګواه دئ، هم زما حالت ګوري او هم ستاسو.
- يقيناً چې زما رب په دقيقه او سمه توګه نښه ولي، د هر څه په اړه د ده وينا دقيقه او رښتينې وي، داسي لکه ماهر غشی ويشتونکی چې سم او په دقيقه توګه هدف په نښه کوي، د غيبي امورو په اړه چې څه وايي په بشپړه توګه صحيح وي، دا ځکه چې هغه په پټو اسرارو ډېر ښه پوه دئ.
- دا دئ حق درته راغی، رښتينې وينا همغه ده چې قرآن ئې تاسو ته وايي، د قرآن خلاف هره وينا باطله وينا ده، له الله تعالی پرته بل معبود نشته، نور معبودان باطل معبودان دي، باطل معبودان نه څه پيلولی شي او نه ئې بېرته اعاده کولی شي، له الله تعالی پرته داسي څوک نشئ په ګوته کولی چې د څه پيدا کولو او بېرته اعاده کولو توان ولري.
- که زه بې لارې شوی وم نو يوازې د ځان په ضرر به بې لارې شوی وم او که هدايت شوی وم نو دا د هغې وحې له کبله دې چې زما رب ئې راته کوي، زما د هدايت او ضلالت په اړه تاسو نه پوښتل کېږئ، ولي زما مخالفت کوئ؟ څه زيان مي دررسېدلی؟ ولي مي خپلې مخې ته نه پرېږدئ؟
- يقيناً چې زما رب نږدې اورېدونکی دئ، هم زما د کړنو شاهد او د ويناوو اورېدونکی دئ او هم ستاسو د کړنو او ويناوو.

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ فَزِعُواْ فَلَا فَوۡتَ وَأُخِذُواْ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ﴿٥١﴾

او ای کاش هغه مهال وګورې چې وېرې اخيستي وي، نو د خلاصون (امکان) هم نه وي او له نږدې واټن ونيول شي!!

(۵۱)- په الهي عذاب د کافرانو د اخته کېدو پر مهال او د قيامت په ورځ به د دوی حالت داسي وي چې سختې وېرې به خپل وزر پرې غوړولی وي، د خلاصون هيڅ مجال او امکان به نه مومي، له نږدې واټن به ونيول شي، هغه عذاب چې دوی لري او محال ګڼلو ډېر ژر او د دوی له يوې او بلې خوا به پرې راپرېوځي.

وَقَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٢﴾ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِهِۦ مِن
قَبۡلُۖ وَيَقۡذِفُونَ بِٱلۡغَيۡبِ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٣﴾ وَحِيلَ بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ مَا يَشۡتَهُونَ
كَمَا فُعِلَ بِأَشۡيَاعِهِم مِّن قَبۡلُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ فِي شَكّٖ مُّرِيبِۭ ﴿٥٤﴾

او وايي به: ايمان مو پرې راوړ، حال دا چې له لرې واټن به څنګه دوی ته دا لاس رسی وي؟! په داسي حال کې چې تر دې وړاندې ئې د هغه په اړه کفر کړی وو، او له لرې واټن په غياب کې ويشتل کوي، او د دوی او هغه څه تر منځ به خنډ رامنځته شي

چې دوی ئې تلوسه کوي؛ همغسې لکه چې تر دې وړاندې د دوی له هممشربانو سره وشول، یقیناً چې هغوی په دوکه کوونکې شك کې ول.

(۵۲-۵٤)- د قیامت په ورځ او هغه مهال چې د حق منکرین او مخالفین له الهي عذاب سره مخامخ شي او هغه حقائق په خپلو سترګو وګوري چې پیغمبرانو به دوی ته ویل او دوی به انکار کولو؛ نو وبه وایي: ایمان مو پرې راوړ، خو هغه مهال به دا ایمان دوی ته هیڅ ګټه نه رسوي، هغه مهال به له هغه ځای ډېر لرې وي چې ایمان ګټه رسوله، له دومره لرې واټن به څنګه هغه ایمان ته لاس رسی ولري؟! په داسې حال کې چې تر دې وړاندې ئې د هغه په اړه کفر کړی وو.

د دوی مثال هغه چا ته ورته دئ چې له لرې واټن د داسې هدف په لوري غشی ولې چې ترې پټ دئ، هغه چا ته ورته دي چې په تیاره کې او په پټو سترګو د نامعلوم هدف په لوري کاڼي شړي، آیا داسې کس هدف په نښه کولی شي؟! له دوی سره به دې ته ورته چلن کېږي، د دوی او هغه څه تر منځ به خنډ رامنځته شي چې دوی ئې تمناء کوي، غشي به ئې پر هدف نه لګېږي، خپل مراد ته به رسېدلی نه شي، همغسې لکه چې تر دې وړاندې د دوی له هممشربانو سره وشول، ټول نامراده ولاړل، پرته له دې چې شیطاني هیلې ئې ترسره شي. یقیناً چې هغوی په دوکه کوونکې شك کې ول.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

فاطر

د سورې پېژندنه:

دا مبارکه سوره په دوو معروفو نومونو یاده شوې: (فاطر) او (الملائکة)، دواړه نومونه د همدې سورې د لومړي آيت له دغي برخي (ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ...) اخيستل شوي، پنځه څلوېښت آيتونه لري، له لومړي آيت تر اته دېرشم پوري د آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (قدير) او د درېيم آيت (تؤفكون) ته ورته دي، له نه دېرشم تر پای پوري (خساراً) ته ورته دي. د آيتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چي د مکي دور په منځنيو کلونو کي نازل شوي. د سورې له متن معلومېږي چي هغه مهال له رسول اللهﷺ سره د قريشو مخالفت زيات او تشديد شوی وو.

د سورې د بحث اصلي او محوري موضوعات دا دي:

- **په لومړيو آيتونو کي ويل شوي: ټولي ستايني له الله تعالی سره ښايي. هغه چي د آسمانونو او زمکي پنځوونکی او پيدا کوونکی دئ، هر څه ئې داسي پيدا کړي چي تر لومړي پيدايښت وړاندي هيڅ نه وو. هغه چي فرشتې ئې د پيغام رسوونکو په توګه ګمارلې دي. څه چي غواړي په پيدايښت کي زياتوالی ورکوي، نوي نوي مخلوقات پيدا کوي، يوه ته پر بل د پيدايښت له پلوه وړاندي والی او زياتوالی ورکوي. پر هر څه په بشپړه توګه قادر دئ. الله تعالی چي د خلکو لپاره د رحمت کومه دړه پرانيزي نو هيڅوك ئې بندولی نشي، او چي بنده ئې کړي نو هيڅوك ئې پرانيستلی نشي. هغه باحکمته عزتمن دئ.**
- **بيا خلکو ته ويل شوي: د خپل منعم رب نعمتونه په ياد ولرئ، پاس ئې کوئ، دې ته مو پام وي چي کوم رزق له آسمان يا زمکي درکول کېږي نو له الله تعالی پرته بل داسي خالق نشته چي د هغوی په درکولو کي څه ونډه او برخه ولري.**
- **وروسته رسول اللهﷺ ته د يوې ډاډېيني او اطمئنان په توګه ويل شوي: که نن د حق دښمنان ستا مخالفت کوي او تا او ستا دعوت تکذيبوي نو تر تا وړاندي له نورو پيغمبرانو سره هم دې ته ورته چلن شوی.**
- **بيا د قرآن مخاطبينو ته ويل شوي: د الله وعده رښتيني ده، حتماً به په خپل ټاکلي وخت تحقق مومي، نو نه دې دنيوي ژوند تاسو د الله تعالی او د هغه د وعدو په اړه وغولوي او نه دا غولوونکی شيطان.**

- ورپسې رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چې د هغو خلکو د مخالفتونو په اړه زیاته اندېښنه او د دوی ایمان نه راوړولو له کبله حسرت مه کوه چې شیطان هغوی ته خپل بد عملونه مزین کړي او ښکلي ورته ښکاري، د دوی هدایت او لارورکتوب د هغو الهي سننو مطابق دي چې تغییر او بدلون نه مومي، الله تعالی هغه چا ته د هدایت توفیق ورکوي چې د هدایت وړتیا ولري او هغه څوك په تیارو کي پرېږدي چې د رڼا لوري ته د تلو تلوسه نه لري، الله تعالی د دوی ځانګړتیاوو او وړتیاوو ته په پام سره دا پرېکړه کوي چې په سمي لار د تلو توفیق ورکړي او که د کفر په تیارو کي د دوی د پاته کېدو پرېکړه وکړي او د رڼا په لوري د تلو توفیق ورنه کړي، ته خپل مأموریت تر سره کړه، د دوی د مخالفتونو پروا مه کوه، دا الله تعالی ته پرېږده چې له دوی سره څه وکړي، الله تعالی ښه پوهېږي چې دوی څه کوي او د کومي سزا وړ دي.
- ورپسې د خلکو هدایت او لارښوونه او په یوې ټولني کي د دعوت اغېز له دې سره تشبیه شوي چې پر وچ او سپېره ډاگ د پسرلي ګټور باران وورېږي، د زمکي له زړه تازه بوټي راټوکېږي او په همدې سره له هغه سپېره ډاگ ښېرازه او سمسور ورشو جوړ شي.
- بیا ویل شوي: څوك چې عزت غواړي باید متوجه وي چې عزت یوازي د الله تعالی په خوا کي موندلی شي، په بل ځای کي عزت نشي ترلاسه کولی، دا ځکه چې عزت په بشپړه توګه له الله تعالی سره دئ.
- بیا ویل شوي: الله تعالی تاسو له خاوري پیدا کړئ، بیا له نطفي، بیا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځینه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي مګر د ده له علم سره سم، او نه د کوم عمروال عمر ورزیاتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کي (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.
- ورپسې د انسان پام هغو دریابونو او سمندرونو ته اړول شوی چې تر منځ ئې ژور توپیرونه شته، یو ئې خوږ، تنده ماتوونکی او څښناك ئې خوندور، او بل ئې مالګین او تریو، له هر یوه د ډول ډول کبانو تازه غوښه خورئ او هغه غمي راباسئ چې ځان ته ګاڼې ترې جوړوئ، او کښتۍ ګورې چې په سیندونو او سمندرونو کي داسي توندي او تېزي درومي چې د اوبو څپې څیري او وړاندي ځي، الله تعالی دا ټول فرصتونه او امکانات د دې لپاره تاسو ته مهیا کړي چې د الهي نعمتونو او د خپل رب د فضل په لټولو او ترلاسه کولو کي ستاسو مرسته وکړي او دا د دې لپاره چې د خپل منعم رب د نعمتونو شکر پرځای کړئ.
- ورپسې ویل شوي: د رزق او روزي ورکړه او د چا د عزت او سرلوړۍ پرېکړه د هغه مالك الملك الله له لوري کېږي چې شپه او ورځ د هغه په اراده ځي راځي، لکه څنګه چې شپه په ورځ کي ننباسي او ورځ په شپې کي، له الله تعالی پرته نه بل څوك د لمانځني وړ دئ او نه د استعانت او مرستي غوښتلو وړ، یوازي له هغه ذات مرسته وغواړئ چې شپه په ورځ کي ننباسي او ورځ په شپه کي.
- بیا خلکو ته ویلي شوي: تاسو په هر څه کي الله تعالی ته اړ یئ، هم په خپل پیدایښت کي او هم په خپل رزق او روزي کي، او الله تعالی نه یوازي له دې عیب منزه دئ چې په کوم څه کي چا ته اړ وي بلکي په ذات او صفاتو کي د ټولو ستاینو وړ دئ، که وغواړي ټول انسانان

به له منځه يوسي او د دوی پر ځای به نوی مخلوق پيدا کړي، نه د دوی له منځه وړل الله تعالی ته ګران کار دئ او نه د بل مخلوق پيدايښت.

- بيا ويل شوي: د قيامت په ورځ به هر څوك د خپلو ګناهونو پيټی پر خپلو اوږو وړي، هيڅوك به نشي کولی له بل سره په دې اړه څه مرسته وکړي او پيټی ئې ورسپك کړي، که د کوم ګنهګار د ګناهونو پيټی دومره دروند وي چې له وړلو ئې عاجز او د بل مرستي ته اړ وي او له نورو مرسته وغواړي هيڅوك به ئې مرسته نشي کولی، هيڅوك به ئې پيټی نشي ورسپکولی، که څه هم د هغه نږدې خپلوان وي.
- بيا رسول اللهﷺ او د ده له لارې هر داعي ته لارښوونه شوې چې له هر مخاطب د ملګرتيا او له حق سره د توافق طمع او توقع مه کوئ، ځيني مخاطبين د جهل، بد ذهن، مړ ضمير، ځېل شوو عواطفو او مشاعرو له پلوه داسي پړاو ته رسېدلي وي چې يا ړندو ته ورته وي يا هغو ته چې په تيارو کي پراته وي او يا په قبرونو کي پرتو مړو ته، دوی د حق او باطل تر منځ تفکيك نشي کولی، د سمي او کږې لارې له پېژندو عاجز وي، د ښې او بدې وينا په توپير نه پوهېږي، د دوی د مخالفت او ايمان نه راوړلو له کبله مه مأيوس کېږئ، لکه څنګه چې ړوند او سترګور، تيارې او رڼا، سيوری او د غرمې تودوخه، مړي او ژوندي نشي سره برابرېدی، همداراز هغه چې د ايمان راوړلو استعداد په کي ځپل شوی، ضمير ئې مړ او د وجدان حساسيت ئې خفه شوی د هغه چا په څېر نشي کېدی چې د حق پېژندلو او ايمان راوړلو وړتيا لري، ضمير ئې ويښ او انساني مشاعر او عواطف ئې ژوندي او حساس دي، له هغه چا د حق وينا اورېدلو او منلو طمع مه کوئ چې مړو ته ورته دي، هغه چې د الهي سننو له مخي دا وړتيا نه لري چې الله تعالی د حق وينا اورېدلو توفيق ورکړي.
- بيا رسول اللهﷺ ته ويل شوي چې ستا دنده دا ده چې خلك د کفر له بدو پايلو ووېروې، ته يوازې يو خبرداری ورکوونکی يې، د دوی د هدايت او عدم هدايت پرېکړه د الله تعالی له لوري او د خاصو الهي سننو مطابق کېږي. دا لومړی ځل نه دئ چې الله تعالی کوم قوم ته پيغمبر لېږي او هغوی د الله تعالی رسول تکذيبوي، تر دې وړاندي هيڅ داسي امت نه دئ تېر شوی چې د الله تعالی له لوري کوم پيغمبر نه وي ورلېږل شوی. که دا خلك تا تکذيب کړي نو هغو هم مخکني پيغمبران تکذيب کړل چې تر دوی وړاندي ول، په داسي حال کي چې پيغمبرانو ئې څرګندي نښې، صحيفې او روښانه کتابونه وروړل. الله تعالی د حق هغه مخالفين په خپل عذاب اخته کړي چې د کفر او انکار لار ئې غوره کړې وه او د پيغمبرانو مخالفت ئې کړی. تاريخ ته رجوع وکړه او وګوره چې پر منکرينو د الله تعالی له لوري نازل شوي عذابونه څنګه ول او د پيغمبرانو مخالفين له کوم بدمرغه برخليك سره مخامخ شوي!!
- بيا د توحيد اړوند څو عميق او مضبوط دلائل وړاندي شوي، په دې کي قرآن خپل مخاطب ته وايي: آيا نه ګورې چې الله تعالی له آسمان اوبه وروي او بيا په دغو اوبو سره له زمکي داسي ډول ډول مېوې راباسي چې رنګونه ئې مختلف او بېل بېل دي، دا د زمکي او آسمان تر منځ ژور تنسيق او همغږي د چا په اراده رامنځته شوی؟ دا کوم خلاق ذات دئ چې له خاورې خوندورې رنګيني مېوې جوړوي، هغه هم نه يو ډول مېوه او په يوه رنګ کي بلکي ډول ډول مېوې چې هم په خوند کي ژور توپيرونه لري، هم په شکل او بڼې کي او هم په رنګ کي؟ دا

خو هر عقلمن ناظر ته په جگ غږ وايي: د دغو خوندورو، رنگينو او ښکلو مېوو پيدايښت هرومرو د يوه داسي عليم، حكيم او خلاق ذات كار دئ چي هم آسمان د ده تر واك او حكم لاندي دئ او هم زمكه.

• بيا د هغو كسانو ځو ځانگړتياوي بيان شوي چي الله تعالى د دوى د كړنو قدرونه كوي، بشپړ اجر وركوي، زياتي پېرزويني پري كوي او گناهونه ئې بخښي، د دوى ځانگړتياوي دا دي: د الله تعالى كتاب لولي، لمونځ قائموي او له هغه څه چي الله تعالى وركړي په پټه او ښكاره توگه انفاق كوي.

• بيا رسول الله ﷺ ته ويل شوي: كوم كتاب چي تا ته دركړى شوى ربښتينى كتاب دئ، ټول هغه الهي كتابونه تصديقوي چي تر ده وړاندي نازل شوي. الله تعالى خبير او بصير دئ، هم د خپلو بندگانو له ظاهر او باطن خبر دئ او هم ئې كړني گوري.

• بيا ويل شوي: د قرآن وارثين په دريو ډلو وېشل شوي:

١. ځيني ئې د ايمان او نېك عمل تر څنگ خطاگاني او گناهونه هم لري، كله كله له سمي لاري كاږه شوي او په دې توگه ئې پر خپل ځان ظلم كړى او په الهي عذاب ئې اخته كړى.
٢. ځيني ئې منځ لاري دي، د منځنۍ درجې وگړي دي، كه څه هم له سمي لاري ښي او كيڼ لوري ته نه دي كاږه شوي خو هغه لوړي پوړي ته نه دي رسېدلي چي د لومړۍ درجې برياليو په ډلي كي محسوب شي.
٣. ځيني ئې د ښېگڼو په لور تلوار كوونكي دي، تر ټولو وړاندي او له اخلاقي، فكري او معنوي پلوه لوړو پوړو ته رسېدلي.

• بيا ويل شوي: د كتاب دا وارثين به له هغي الهي محاسبې وروسته تلپاتي جنتونو ته ننوځي چي د قيامت په ورځ به ترسره كېږي، له هري ډلي سره د دوى كړنو ته په پام سره مناسبه محاسبه، په داسي حال كي چي هلته به د سرو زرو او مرغلرو په لاسونديو سينگار كړى شي او جامې به ئې وربښمني وي.

• بيا د كافرانو وضعيت په دوزخ كي داسي انځور شوى: هغه چي كفر ئې كړى د دوزخ اور به ئې په برخه شي، نه به د دوى په اړه دا پرېكړه كېږي چي ومري او نه به د دوزخ له ډول ډول عذابونو كوم عذاب ترې كمېږي، الله تعالى به دا سزا هر ناسپاس انسان ته وركوي، په دوزخ كي به چيغي وهي: اې زموږ ربه! ترې ومو باسه چي نېك عمل وكړو، له هغه عملونو متفاوت چي موږ كولو!!

• بيا رسول الله ﷺ ته ويل شوي: له مشركانو وپوښته چي ستاسو هغو معبودانو چي له الله پرته ئې لمانځئ او مرسته ترې غواړئ د زمكي څه ئې پيدا كړي او يا ئې په آسمانونو كي څه شركت په برخه دئ، د آسمانونو په كوم څه كي له الله تعالى سره شريك دي، د زمكي د كوم څه په پيدايښت كي څه ونډه لري او د آسمان كوم څه د دوى په واك كي دي، د آسمانونو او زمكي كوم څه تاسو ته دركولى او يا له تاسو سپمولى شي؟!! آيا د شرك لپاره كوم نقلي دليل لرئ؟ داسي كوم آسماني كتاب موندلى شئ چي شرك توجيه كړي او كوم دليل او برهان په لاس دركړي؟! يعني دا مشركين د خپل شرك لپاره نه كوم عقلي دليل لري او نه نقلي دليل، نه په آسمان او زمكي كي داسي څه په گوته كولى شي چي شرك توجيه كړي او نه داسي الهي

کتاب ښودلی شي چې د مشرکینو لپاره مستمسك شي، د دوی د شرك اصلي وجه دا ده چې يو د بل له لوري دوکه شوی، ټګمارو مذهبي مشرانو د دوی ناپوهان او جاهلان غولولي.

- بیا ویلي شوي: آسمانونه او زمکه د الله تعالی په واك کي دي، هغه ئې اداره کوي او د زوال مخه ئې نیسي، که هغه وغواړي چې زمکه زائل شي نو په ټول عالم کي به له ده پرته داسي څوك ونه مومئ چې تم ئې کړي او د زوال مخه ئې ونیسي، خو الله تعالی حلیم او بخښونکی دئ، له خپلو بندګانو سره د دوی د کړنو او چلن له مخي معامله نه کوي، بلکي د (حلم) او (غفران: بخښني) له مخي معامله کوي، که داسي نه وی نو د دوی د عصیان او بغاوت له کبله به ئې دا آسمانونه پرې رانسکور کړي وو او زمکه به ئې زائل کړې وه.
- بیا ویل شوي: دغو مشرکینو د رسول الله ﷺ تر بعثت وړاندي کلك کلك قسمونه کول چې که کوم پیغمبر ورته راشي نو تر ټولو نورو امتونو به زیات هدایت او په سمي لار تلو ته چمتو شوي وو، خو کله چې پیغمبر ورته راغی نو دې راتګ په دوی کي یوازي يو شی زیات کړ چې له حق تېښته ده، آیا دا د حق دښمنان او د پیغمبر له ملتیا تښتېدونکي په زمکي کي نه دي ګرځېدلي او د تېر تاریخ پاڼي ئې نه دي اړولي چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندي ول، هغه چې د ځواك له پلوه تر دوی ډېر پیاوړي او ځواکمن ول، هغه چې په الهي عذاب اخته شوي، نه خپل زور او ځواك له دې عذاب ژغورلي او نه ئې مکر او تدبیر، نه ئې په آسمانونو کي داسي څوك موندلی وو چې په مرسته ئې د الله تعالی پرېکړي وځنډوي او د عذاب مخه ئې ونیسي او نه په زمکي کي، د دوی کلکي نیوني او د الهي عذاب په وړاندي د دوی د زور، ځواك او تدبیر شنډېدا وښوده چې الله تعالی هم قدیر او توانمن دئ او هم علیم او پوه. که د حق مخالفینو ته فُرصت ورکول کېږي نو دا مهلت او فُرصت دي دوی نه غولوي، دا دي د خپل زور، ځواك او تدبیرونو حاصل او نتیجه نه ګڼي، په دې دي پوه وي چې دا مهلت پای لري، نه بدلېدونکی پای، وخیم او دردناك پای.
- په پای کي ویل شوي: که الله تعالی غوښتی چې خلك د هغو ګناهونو له کبله مؤاخذه کړي چې دوی کړي نو د زمکي پر سر به ئې هیڅ خزنده نه وو پرېښی، خو الله تعالی د خپل پراخ رحمت او بې سارې پېرزوینې له امله دوی ته مهلت او فرصت ورکوي او تر ټاکلې نېټې ئې ځنډوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١﴾ مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ وَمَا يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢﴾

ستاینه الله ته ده، د آسمانونو او زمکي پنځوونکی، د هغو فرشتو استازي ګرځوونکی چي د دوه ګونو، درې ګونو او څلور ګونو وزرونو والي دي، چي څه غواړي په پیدایښت (مخلوقاتو) کي ئې زیاتوي، یقیناً چي الله پر هر څه په بشپړه توګه قادر دئ، الله چي د رحمت کومه برخه د خلکو لپاره پرانیزي نو هیڅ بندوونکی ئې نشته او څه چي بند کړي نو له ده وروسته ئې هیڅ لیږونکی نشته، او هغه باحکمته عزتمن دئ.

(۱-۲)- په دې مبارکو آیتونو کي الله تعالی داسي ستایل شوی:

- **ټولي ستایني له ده سره ښایي.**
- **د آسمانونو او زمکي پنځوونکی او پیدا کوونکی دئ، هر څه ئې داسي پیدا کړي چي تر لومړي پیدایښت وړاندي هیڅ نه وو.**
- **هغه فرشتې ئې د پیغام رسوونکو په توګه ګمارلې دي چي دوه ګوني، درې ګوني او څلور ګوني وزرونه لري.**
- **څه چي غواړي په پیدایښت کي زیاتوالی ورکوي، په دوه تعبیره: ۱- نوي نوي مخلوقات پیدا کوي او پر مخکنیو ئې زیاتوي، ۲- یوه ته پر بل د پیدایښت له پلوه وړاندي والی او زیاتوالي ورکوي. دا دوهم تعبیر په دې دلیل ارجح دئ چي له مخکني مضمون سره ژور او نېږدې تړاو لري، تر دې وړاندي د ډول ډول فرشتو یادونه شوې چي ځیني ئې تر ځینو نورو د وزرونو د شمېر له پلوه وړاندي والی او زیاتوالی لري.**
- **یقیناً چي الله پر هر څه په بشپړه توګه قادر دئ.**
- **الله تعالی چي د خلکو لپاره د رحمت کومه دروه پرانیزي نو هیڅوک ئې بندولی نشي، او چي بنده ئې کړي نو هیڅوک ئې پرانیستلی نشي.**

- هغه باحکمته عزتمن دئ.

دلته د فرشتو د دندي په اړه ویل شوي چي پیغامونه رسوي او د دوی د جوړښت په اړه ویل شوي چي دوه ګوني، دري ګوني او څلور ګوني وزرونه لري. وزر د الوت نښه ده او شمېر ئې د سرعت نښه، یعني فرشتې د الله تعالی د پیغامونو د ابلاغ او د اوامرو د تعمیل لپاره د آسمان او زمکي تر منځ تګ راتګ کوي، د ځينو سرعت لږ او د ځينو زیات دئ، دلته د نورو متشابه آیتونو په څېر وزر په مجازي معنی راغلی، په هغي معنی ئې نشو تعبیرولی چي د مرغانو وزر ته ئې ورته وګڼو، نه فرشتې د مرغانو په څېر دي او نه ئې وزرونه، د فرشتو وزر ته په هغه سترګه مه ګورئ چي د مرغانو وزر ته ګورئ، دې ته په پام سره چي په روایت کي راغلي چي جبرئیل **صلعم** شپږ سوه وزرونه لري، نو دا دوه ګوني، دري ګوني او څلور ګوني وزرونه هم د وزرونو د شمېر محدودیت نه بلکي د هغوی سرعت او عظمت په ګوته کوي، الله تعالی ځيني داسي پیدا کړې چي د سترګو په رپ کي خپل کار ته ځان رسوي او ځيني تر هغوی ورو درومي، هره ډله په خپل ټاکلي وخت خپله دنده ترسره کوي. روایت داسي دئ:

... قَالَ مَسْرُوقٌ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ؟ فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَىْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِى قُلْتُ رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى) قَالَتْ أَيْنَ يُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِى قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ) فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِى صُورَتِهِ إِلاَّ مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِى جِيَادٍ لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الأُفُقَ. الترمذي

... مسروق وايي: عائشې صلی ته ورغلم ومي ویل: آیا محمد (صلعم) خپل رب لیدلی؟ وئې ویل: داسي خبره دي وکړه چي وېښتان مي ورته ځيږ شول، ومي ویل: لږ حوصله وکړه، بیا مي دا آیت تلاوت کړ (وَ لَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَى.... لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى...)، وئې ویل: چېري ئې بېولی يې؟ دا خو جبرئیل وو، چا چي درته وویل: محمد (صلعم) خپل رب لیدلی، یا ئې له هغه وحي کوم څه پټ کړي چي پر ابلاغ ئې مأمور شوی، او یا په هغو پنځو شیانو پوهېږي چي الله تعالی د هغوی په اړه فرمایلي: (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ...) نو ستره بدغوني خبره ئې کړې (ستر دروغ ئې ویلي)، خو هغه جبرئیل لیدلی، په خپلي اصلي بڼي کي ئې یوازي دوه ځلي لیدلی، یو ځل په سدرة المنتهی کي او بل ځل په جیاد کي، شپږ سوه وزري ئې وې، ټول افق ئې پوښلی وو.

دې ته مو پام وي چي د رسول اللهﷺ له رحلت وروسته ځيني غلط افکار او باورونه په مسلمانانو کي خواره شول، ځينو خلکو به ویل: رسول اللهﷺ الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی، ځينو نورو به ویل: رسول اللهﷺ ته له قرآن پرته نوره وحي هم شوې، خو هغه ئې یا پټه ساتلې یا ئې ځينو خاصو وګړو ته ویلې، ګواکي وحي په قرآن کي نه راخلاصه کېږي، ځينو نورو به ویل: رسول اللهﷺ په غیب پوهېدو!! عائشې **صلی** دغو غلطو او د قرآن خلاف افکارو او باورونو د تردید لپاره مسروق ﷺ ته پورتنۍ خبري کړې، د هغې د وېناوو معنی دا ده چي رسول اللهﷺ نه خپل رب په خپلو سترګو لیدلی، نه له قرآن پرته داسي وحي شته چي له خلکو

ئې پټه ساتلې وي او نه پر غيب پوهېدو.

په دې اړه له علي ﷛ هم پوښتنه شوې او ورته ويل شوي: آيا د رسول اللهﷺ په اهل بيت کې له تا يا بل چا سره له قرآن پرته بل کتاب (ليکنه) هم شته؟ د پوښتنې موخه دا وه چې آيا رسول اللهﷺ ته داسې وحې هم شوې چې تا يا کوم بل خاص کس ته ئې ويلې وي او په قرآن کې د هغې يادونه نه وي شوې؟ روايت داسې دئ:

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ لِعَلِيٍّ هَلْ عِنْدَكُمْ كِتَابٌ قَالَ لاَ، إِلاَّ كِتَابُ الله، أَوْ فَهْمٌ أُعْطِيَهُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ، أَوْ مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ. قَالَ قُلْتُ فَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ قَالَ الْعُقْلُ، وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ. (بخاري: ۱۱۱)

له ابو جحيفه روايت دئ چې وايي: علي ﷛ ته مې وويل: آيا کوم خاص کتاب درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مگر د الله کتاب، او هغه پوهه چې يوه مسلمان سړي ته په برخه کېږي او هغه څه چې په دې پاڼې کې دي، وايي: ورته و مې ويل: نو په دې پاڼې کې څه دي؟ وئې ويل: د ديت حکم، د اسير آزادول او دا چې مسلمان د کافر په بدل کې نه وژل کېږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٣﴾

اې خلکو! پر تاسو د الله (پېرزو شوې) نعمت ياد کړئ، آيا له الله پرته بل کوم خالق شته چې تاسو ته له آسمان او زمکې روزي درکوي؟ له ده پرته بل معبود نشته، نو له کومه دوکه کېږئ؟

(۳)- په دې مبارك آيت کې خلکو ته ويل شوي چې د خپل منعم رب نعمتونه په ياد ولرئ، پاس ئې کوئ، دې ته مو پام وي چې کوم رزق له آسمان يا زمکې درکول کېږي نو له الله تعالى پرته بل داسې خالق نشته چې د هغوی په درکولو کې څه ونډه او برخه ولري، نه له آسمان د باران او واورې په ورولو کې او نه له زمکې د دانې او مېوې په راټوکولو کې له الله تعالى پرته بل څوك څه ونډه لري، آيا له الله پرته بل کوم خالق شته چې تاسو ته له آسمان او زمکې روزي درکوي؟ له ده پرته بل معبود نشته، نو سره له دې څنگه او ولې دوکه کېږئ؟!!

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٤﴾

او که تا تکذيب کړي نو يقيناً چې تر تا وړاندې پيغمبران تکذيب شوي، او کارونه د الله لورې ته راجع کېږي.

(٤)- دلته رسول اللهﷺ ته د يوې داډينې او اطمئنان په توگه ويل شوي چې که نن د حق دښمنان ستا مخالفت کوي او تا او ستا دعوت تکذيبوي نو تر تا وړاندې له نورو پيغمبرانو سره هم دې ته ورته چلن شوی، هغوی هم د همدغو څواکونو له لورې له مخالفت او تکذيب

سره مخامخ شوي، باید ډاډه او مطمئن وي چې د حق او باطل تر منځ د تصادم او ټکر پایلې د بل چا له لوري نه بلکې یوازې د الله تعالی له لوري ټاکل کیږي، ټول کارونه هغه ته راجع کیږي او د پایلو پرېکړه ئې یوازې د ده له لوري کیږي. پایله ئې نه د دښمنانو د مخالفت په څرنګوالي پورې تړلې ده او نه د دوی په زور او ځواک پورې.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿٥﴾ إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُوا۟ حِزْبَهُۥ لِيَكُونُوا۟ مِنْ أَصْحَـٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٦﴾ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾

اې خلکو! یقیناً چې د الله وعده رښتینې ده، نو نه دې دنیوي ژوند تاسو غولوي او نه د الله په اړه هغه غولوونکی (شیطان)، یقیناً چې شیطان ستاسو دښمن دئ نو دښمن ئې وبولئ، هغه خو خپله ډله یوازې دې ته بلي چې د دوزخیانو په ډلې کې وي، هغه چې کفر ئې کړی سخت عذاب به د دوی (په برخه) وي، او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي د دوی به بخښنه او ستر اجر (په برخه) وي.

(۵-۷)- خلکو ته ویل شوي: د الله وعده رښتینې ده، حتماً به په خپل ټاکلي وخت تحقق مومي، نو نه دې دنیوي ژوند تاسو د الله تعالی او د هغه د وعدو په اړه وغولوي او نه دا غولوونکی شیطان، په دې دې پوه وئ چې شیطان ستاسو دښمن دئ، د دښمن په سترګه ورته وګورئ، د هغه خوښه او هڅه دا ده چې خپله ډله د دوزخیانو په صف کې ودروي، بلنه ئې د هغو کارونو په لوري ده چې په دوزخ منتج کیږي. غواړي چې تاسو د کفر لار غوره کړئ، څوک چې کافر شي سخت عذاب به ئې په برخه شي، او هغه چې ایمان راوړي او نېک عملونه وکړي بخښنه او ستر اجر به ئې په برخه شي.

أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا ۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٨﴾

آیا هغه چې خپل بد عمل ورته مزین کړی شوی او ښکلی ورته ښکاري، نو یقیناً چې الله هغه څوک بې لارې کوي چې دی ئې غواړي او د هغه لارښوونه کوي چې دی ئې غواړي، نو ستا خپل ځان دې پر دوی د حسرت له کبله له منځه نه ځي، یقیناً چې الله په

هغه څه ښه پوه دئ چې دوی ئې کوي.

(۸)- دلته رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چې د هغو خلکو د مخالفتونو په اړه زياته انديښنه او د ايمان نه راوړولو له کبله ئې حسرت مه کوه چې شيطان هغوی ته خپل بد عملونه مزين کړي او ښکلي ورته ښکاري، د دوی هدايت او لارورکتوب د هغو الهي سننو مطابق دي چې تغيير او بدلون نه مومي، الله تعالى هغه چا ته د هدايت توفيق ورکوي چې د هدايت وړتيا ولري او هغه څوك په تيارو کي پرېږدي چې د رڼا لوري ته د تلو تلوسه نه لري، نه ستا تلوسه او تلوار ګټه وررسوي او نه حسرت او افسوس. ځيني خلك په تيارو کي داسي ډوب شي چې نه يوازي د خپلو بدو عملونو په بدوالي د پوهېدو توان او توفيق له لاسه ورکړي بلکي خپل بد عملونه، ګنده اخلاق، خرافي افکار، غلط عقائد او کرکجني ويناوي ورته ښه او ښکلي ښکاري، د دوی د هدايت په اړه نه د زړه سواند داعي هڅي څه نتيجه ورکوي او نه د حکيم مبلغ وعظ او نصيحت.

دا مبارك آيت يو ځل بيا موږ ته وايي چې رسول اللهﷺ د خلکو د هدايت په اړه دومره تلوسه درلوده او په جهل، شرك او کفر کي د دوی پاته کېدا دومره ځورولو چې نږدې وه د ده په سختي ببماري او مړيني منتج شي.

د آيت په پای کي دا وينا (يقيناً چې الله په هغه څه ښه پوه دئ چې دوی ئې کوي) دوه مطلبه افاده کوي: ۱- الله تعالى د دوی عملونو ته په پام سره دا پرېکړه کوي چې په سمي لاري د تلو توفيق ورکړي او که د کفر په تيارو کي د دوی د پاته کېدو پرېکړه وکړي او د رڼا په لوري د تلو توفيق ورنه کړي، ۲- ته خپل مأموريت تر سره کړه، د دوی د مخالفتونو پروا مه کوه، دا الله تعالى ته پرېږده چې له دوی سره څه وکړي، الله تعالى ښه پوهېږي چې دوی څه کوي او د کومي سزا وړ دي.

وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَسُقۡنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَحۡيَيۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ﴿٩﴾

او الله هغه ذات دئ چې بادونه ئې راولېږل چې ورېځي خوځوي، نو د مړه ټاټوبي په لور مو بوتلې، بيا مو زمکه د هغې له مړيني وروسته پرې راژوندۍ کړه، خوربدا (بياژوندون) په همداسي وي.

(۹)- په دې مبارك آيت کي د خلکو هدايت او لارښوونه او په يوې ټولني کي د دعوت اغېز له دې سره تشبيه شوي چې پر وچ او سپېره ډاګ د پسرلي ګټور باران وورېږي، د زمکي له زړه تازه بوټي راټوکېږي او په همدې سره له هغه سپېره ډاګ ښېرازه او سمسور ورشو جوړ شي، وايي: الله تعالى هغه ذات دئ چې بادونه رالېږي او په دې سره ورېځي خوځوي، دا ورېځي د مړه ټاټوبي په لور بيايي، په دې ورېځ سره زمکه د هغې له مړيني وروسته راژوندۍ کوي، نشور (بياژوندون) به همداسي وي. که څه هم د قرآن په ځينو آيتونو کي د قيامت د ورځي

بیاژوندن د (نشور) په نامه یاد شوی او هغه د مړې زمکې له راژوندی کېدو سره تشبیه شوی، خو دلته د آیت سیاق و سباق ته په پام سره نشور هغه معنوي ژوندون افاده کوي چې د ایمان له کبله د خلکو په برخه کېږي، قرآن کفر له مرگ سره تشبیه کوي او ایمان له ژوندون سره، دا ځکه چې د کفر له کبله د انسان ټول مشاعر او عواطف مړي، د ضمیر او وجدان حساسیت ئې ځپل کېږي، ایمان د هغه ټولو انساني مشاعرو ته ځلا وربخښي، ویښ ضمیر او حساس وجدان ورپه برخه کوي، دلته د بحث موضوع د قیامت بیاژوندون نه بلکې هغه معنوي ژوندون دئ چې د هدایت له کبله د یوه انسان او ټولنې په برخه کېږي، په مخکنیو آیتونو کې له یوې خوا داسې څوك انځور شوی چې د خپلو بدو او کرکجنو کړنو بدوالی او گنده والی نشي احساسولی او له بلې خوا هغه څوك چې د نورو د بدو کړنو له کبله دومره ځورېږي چې نږدې ده غمونه او اندیښنې ئې له پښو وغورځوي!! دلته رسول اللهﷺ ته اطمئنان ورکړی شوی چې اندیښنې پرېږده، الله تعالی به په دغې شرك ځپلې او جهل وهلې مړې ټولنې کې ستا د دعوت په طفیل ځلاندې ځېرې او د ژوندیو زړونو او حساس ضمیر خاوندان را پیدا کړي. همغسې لکه چې په یوه باران سره سپېره ډاگ په سمسور ورشو بدلوي.

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ
يَرۡفَعُهُۥۚ وَٱلَّذِينَ يَمۡكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَمَكۡرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾

څوك چې عزت غواړي نو (پوه دې شي چې) عزت ټول له الله سره دئ، د ده لوري ته پاکه وینا بر درومي او نېك عمل ته لوړوالی ورکوي، او هغه چې بدې کړنې د تدبیر په توگه کاروي سخت عذاب ئې په برخه دئ، او د دوی مکر شنډېدونکی دئ.

(۱۰)- په دې مبارك آیت کې ویل شوي: څوك چې عزت غواړي باید متوجه وي چې عزت ~~یوازې د الله تعالی په خوا کې موندلی شي، په بل ځای کې عزت نشي ترلاسه کولی، د عزت~~ ورکړه د ده له لوري وي، دا ځکه چې عزت په بشپړه توگه له الله تعالی سره دئ. د عزت اصلي اسباب دوه دي: پاکه وینا او صالح عمل، یوازې په دې سره انسان کولی شي د عزت لوړو څوکو ته ورسېږي، دا ځکه چې پاکه وینا د الله تعالی په لوري لوړه درومي او نېك عمل ته لوړوالی ورکوي، نو رفعت، لوړوالی او عزت یوازې له دغې لارې ترلاسه کېدی شي، څوك چې غواړي له نورو لارو عزت ترلاسه کړي، بدې کړنې او ناروا تگلارې د تدبیر په توگه کاروي چې له دې لارې عزت ته ورسېږي هغه دې پوه وي چې د عزت پر ځای به ئې شدید الهي عذاب په برخه شي او تدبیرونه به ئې شنډ او بې حاصله شي. دلته د (والعملُ الصالحُ یرفعُه) دوه د اعتناء وړ ژباړې کېدی شي: ۱- الله تعالی صالح عمل ته لوړوالی ورکوي او ۲- صالح عمل مؤمن بنده ته رفعت او لوړوالی ورکوي. په دې دواړو کې لومړۍ ژباړه مناسبه برېښي.

په دې سره هغو وگړو ته لارښوونه شوې چې د عزت په لټه کې په غلطو لارو درومي، دوی ته ویل شوي: تاسو عزت ته د رسېدو په موخه داسې لارې غوره کړې چې هیڅکله په

عزت نه منتهي کېږي، څه چي تاسو له الله تعالى لري کوي له عزت او سرلوړۍ مو هم محروموي، د الله تعالى په لوري تلو سره په حقيقت کي د عزت او شرف په لوري درومئ. يعني له الله تعالى د بخښني په غوښتلو او د الله په لوري رجوع سره به نه يوازي د آسمان او زمکي د برکتونو دروازې ستاسو پر مخ پرانيستى شي، الله تعالى به ستاسو اموال او اولاد درزيات کړي او ستاسو ممد به ئي وگرځوي، بلکي عزت او سر لوړى ته به ورسېږئ. نو تاسو ولي د هغه عزت او وقار هيله نه کوئ چي اصلي مالك ئي الله تعالى دئ او پرېکړه ئي د ده له لوري کېږي؟!! ولي له غير الهي لارو عزت ته د رسېدو هيله کوئ؟ !

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾

او الله تاسو له خاوري پيدا کړئ، بيا له نطفې، بيا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځينه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي مگر د ده له علم سره سم، او نه د کوم عمروال عمر ورزياتېږي او نه ئې عمر کمېږي مگر دا چي په کتاب کي (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

(۱۱)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

● ~~الله تعالى انسانان له خاوري پيدا کړي، يعني د انسان د پيدايښت لومړى ماده او لومړى~~ حالت خاوره ده، له خاوري هغه توکي جوړېږي چي د انسان د مور او پلار په بدن کي هغه نطفه ترې جوړه شي چي له يوځاى کېدو ئې د انسان پيدايښت د يوې مختلطي نطفې په توگه پيل شي.

● د انسان د پيدايښت دوهم پړاو او حالت هغه دئ چي د يوې مختلطي نطفې بڼه غوره کړي.

● دې نطفې ته يا د يوه نارينه انسان بڼه او جوړښت ورکړى شي يا د ښځينه، په دې توگه انسانان جوړه جوړه پيدا کېږي.

● نه کومه ښځينه څه په خېل رحم کي حمل کوي او نه ئې زېږوي مگر د الله تعالى له علم سره سم، په دوه تعبيره: ۱- الله تعالى پوهېږي چي دا ښځينه انسان او حيوان په خپل رحم کي څه ساتلي او څه زېږوي، ۲- دا د نوي مخلوق جوړښت او زېږېدا د هغه حکيمانه منصوبې له مخي ترسره کېږي چي عليم رب وضع کړې. دوهم تعبير له مضمون سره زيات مناسبت لري او له ورپسي فقرې سره اړخ لگوي.

● د چا د عمر زياتېدا او لږېدا د هغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي چي الله تعالى له وړاندي وضع کړي او د مقدراتو په کتاب کي ئې ليکلي، په دې کي هيڅ بدلون نه راځي.

- الله تعالی ته دا کار آسان دئ چې د هر مخلوق مقدرات له وړاندې وضع کړي او په هغوی کې د هرراز تغيير او بدلون مخه ونيسي.

که دې مبارك آيت ته لږ ځير شئ نو يو بل مهم مطلب هم په ډېر صراحت او وضاحت سره ترې معلومېږي او هغه دا چې د انسان لومړی جوړه له يوې نطفې جوړه شوې، دلته الله تعالی فرمايي چې تاسو مو لومړی له خاورې، بيا له يوې نطفې پيدا کړئ او بيا مو جوړه جوړه پيدا کړئ، يعني د انسان پيدايښت لومړی له خاورې د يوې نطفې په بڼه کې پيل شوی او بيا ئې د زوج زوج پيدا کېدو لړۍ پيل شوې. له دې مبارك آيت څو خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

- د انسان د پيدايښت لومړۍ ماده خاوره ده.
- له خاورې د ده نطفه جوړه شوې.
- بيا له دغې نطفې د ده جوړه پيدا شوې. يعني هغه (واحد نفس) دغه له خاورې جوړه شوې نطفه وه چې له هغې ئې د ده (زوج او جوړه) پيدا کړه او بيا له دغې جوړې د ده د نسل د پيدا کېدو لړۍ پيل شوې.

د دې مبارك آيت له دغه قاطع او صريح بيان سره سره چې څوك په دې خبرې کې شك کوي چې د آدم عليه السلام پيدايښت له نطفې پيل شوی او گمان يا ادعاء کوي چې لومړی د آدم صلعم مجسمه جوړه شوې بيا روح په کې پو کړی شو، هغه به په قرآن باور نلري او د الله تعالی د قول په مقابل کې به د بل چا قول ته اعتبار ورکوي!! څوك چې له دې پرته بله رأيه وړاندې کوي د قرآن له دې څرگند آيت سره مخالفت کوي.

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡبَحۡرَانِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ سَآئِغٞ شَرَابُهُۥ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞۖ وَمِن كُلّٖ تَأۡكُلُونَ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُونَ حِلۡيَةٗ تَلۡبَسُونَهَاۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٢﴾

دا دوه سمندرونه سره برابر نه دي: دا يو خوږ، تنده ماتوونکی او څښاك ئې خوندور، او دا بل مالگين او تريو، او له هر يوه تازه غوښه خورئ او هغه گاڼه راباسئ چې پر تن کوئ ئې، او کښتۍ په کې گورې چې څيروونکې دي د دې لپاره چې فضل ئې ولټوئ او چې شکر وکړئ.

(۱۲)- دلته د انسان پام هغو دريابونو او سمندرونو ته اړول شوی چې تر منځ ئې ژور توپيرونه شته، ~~يو ئې خوږ، تنده ماتوونکی او څښاك ئې خوندور، او بل ئې مالگين او تريو،~~ له هر يوه د ډول ډول کبانو تازه غوښه خورئ او هغه غمي راباسئ چې ځان ته گاڼې ترې جوړوئ، او کښتۍ گورې چې په سيندونو او سمندرونو کې داسې توندې او تېزې درومې چې د اوبو څپې څيرې او وړاندې ځي، الله تعالی دا ټول فرصتونه او امکانات د دې لپاره تاسو ته

مهيا کړي چې د الهي نعمتونو او د خپل رب د فضل په لټولو او ترلاسه کولو کې ستاسو مرسته وکړي او دا د دې لپاره چې د خپل منعم رب د نعمتونو شکر پرځای کړئ.

دلته د دې موضوع وضاحت هم ضروري برېښي چې يوه ډله ادعاء کوي: په قرآن کې ټول احکام نه دي راغلي، ځينې احکام داسي دي چې يوازې ئې په احاديثو کې موندلی شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره وايي: په قرآن کې يوازې هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چې د ذبحي پر مهال ئې د الله تعالی نوم ياد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آيت نه بلکې د پيغمبر عليه السلام حديث دئ، په ډېر زور شور سره وايي: راوښيئ د قرآن کوم آيت دا استثناء جائز ګڼي؟!! دوی ته په ځواب کې وايو: په قرآن کې دا استثناء شته خو څه وکړو چې تاسو نه يئ ورته متوجه شوي! قرآن کب (ماهي) د (لحماً طرياً) يعني تازه غوښې په نامه ياد کړی او دا ښيي چې ماهي د تازه او پاکې غوښې حکم لري، پيغمبر عليه السلام د قرآن دغې وينا ته په پام سره ويلي چې ماهي له ذبحي پرته حلال دئ.

يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ﴿١٣﴾ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ﴿١٤﴾

شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپې کې ننباسي او لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر کړي چې هر يو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي، دا ستاسو هغه رب دئ چې واکمني د ده ده، او هغه چې له ده پرته ئې دربلئ د کجورې د زړي کوم پوستکی هم په واك کې نه لري، که ئې دروبلئ نو ستاسو بلنه نه اوري او که ئې واوري درته منلی ئې نشي، او د قيامت په ورځ به ستاسو د شرك په اړه انکار کوي، او د کوم باخبره په څېر به دې خبر نه کړي.

(۱۳)- چا ته د رزق او روزې ورکړه او د چا د عزت او سرلوړۍ پرېکړه د هغه مالك الملك الله له لوري کېږي چې شپه او ورځ د هغه په اراده په اراده ځي راځي، لکه څنګه چې شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپې کې، او لمر او سپوږمۍ د هغه له حکم سره سم خوځي او په خپل خپل وخت راخېژي او پرېوځي او په دې کار کې له الله تعالی پرته هيڅوك هيڅ ډول ونډه او اغېز نه لري همداسي د رزق او عزت پرېکړه يوازې د هغه له لوري وي. هغه چې لمر او سپوږمۍ ئې داسي درته مسخر کړي چې هر يو ئې له ټاکلې نېټې سره سم ځي راځي، همدا ستاسو هغه رب دئ چې د ټول عالم واکمني په بشپړه توګه د هغه په لاس کې ده، او له ده پرته چې هر څوك مرستې ته دربلئ او د خپلو حاجتونو ترسره کولو طمع ترې لرئ په دې خور او پراخ

عالم کي د کجوري د زړي کوم پوستکی هم په واك کي نه لري، که ئې دروبلئ نو ستاسو بلنه نه اوري او که احياناً وائې وري نه مو حاجت ترسره کولی شي او نه مو دعاء منلی شي، د قيامت په ورځ به ستاسو د شرك په اړه انکار کوي، د دوی له ډلي چي د چا په اړه دا ګمان کوئ چي په غيب پوه دئ او ستاسو له برخليك خبر دئ او له راتلونکو ناخوالو مو ژغورلی شي هغوی له هيڅ څه خبر نه دي او په هيڅ څه مو نشي خبرولی، د هيڅ باخبره په څېر به تاسو له کومي راتلونکي پېښي خبر نه کړي.

په دې مبارك آيت کي موږ ته لارښوونه شوې چي له الله تعالی پرته نه بل څوك د لمانځني وړ دئ او نه د استعانت او مرستي غوښتلو وړ، يوازي له هغه ذات مرسته وغواړئ چي شپه په ورځ کي ننباسي او ورځ په شپه کي، او دواړه له داسي څواکمني او دقيقي قاعدې سره سم چي هيڅ بدلون نه مومي، هغه ذات چي لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر يوه ته ئې معين مدار ټاکلی چي دغه مدار په معين وقت کي پلي کوي، هر يو د داسي ټاکلي اجل او نېټې په مراعات مکلف دئ چي نه يوه شېبه ترې وړاندي کېدی شي او نه وروسته کېدی، همدغه الله ستاسو رب دئ چي پاچايي او ټولواکي د ده ده او څوك چي له ده پرته بل څوك مرستي ته بلي او د هغه عبادت کوي هغه د خرما د زړي د پوستکي خاوند هم نه دئ.

ګورئ چي هره ورځ څو شېبې په هغه کي تفاوت راځي، شپه په ورځ کي داخله شي او ورځ په شپه کي، ورځ د شپې ځای ونيسي اوشپه د ورځي، په خپل ماحول کي ګورو چي کله شپه وي او کله ورځ، اوس دلته ورځ ده خو دا ده ورو ورو شپه راروانه ده او د ورځي ځای شپې ته خالي کېږي، يا شپه کله اوږده شي او ورځ را لنډه شي، کله ګورو چي ورځ اوږده شي، شپه لنډه شي. دا د شپې او ورځي يو په بل کي داخلېدل، د الله جل شأنه کار دئ، دا الله جل شأنه دئ چي شپه په ورځ کي داخلوي او ورځ په شپه کي. ووايئ: څوك دئ چي دا کارونه کوي؟ شپه په ورځ کي داخلوي؟ ورځ په شپه کي داخلوي، لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي او هر يو په خپل مدار کي له معيني نېټې سره سم خوځېږي او د هغه اراده په هر څه کي او هر ځای حاکمه او نافذه ده؟ يعني هغه ذات چي دا کارونه د هغه په اراده تر سره کېږي او موږ ګورو چي دا د هغه د سلطنت، سيطرې او تسلط مظاهر دي، همغه ستاسو رب دئ. او له هغه پرته چي څوك مرستي ته دربلئ او د هغه عبادت کوئ حتی د خرما د زړي د پوستکي خاوند هم نه دئ. دومره لږ څه هم د دوی په واك کي نه دي، هيڅ څه هغوی ته نه دي سپارل شوي، د هيڅ شي واك او اختيار نه لري، کوم څه چي له الله تعالی پرته مرستي ته دربلئ او د هغه عبادت او لمانځنه کوئ، په دې عالم کي هيڅ واك او اختيار نه دئ ورکړی شوی، وښيئ؛ د کوم څه مالك دي، چېري د هغوی اراده حاکمه ده او څه کولی شي؟

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ﴿١٧﴾

اې خلکو! تاسو الله ته حاجتمن يئ او الله ستايلی غني دئ، که وغواړي تاسو به له

منځه یوسي او نوی مخلوق به رامنځته کړي، او دا الله ته ګران (کار) نه دئ.

(۱۵-۱۷)- په دې مبارك آيت كي خلكو ته لارښوونه شوې چي په هر څه كي الله تعالى ته اړ يئ، هم په خپل پيدايښت كي او هم په خپل رزق او روزي كي، او الله تعالى نه يوازي له دې عيب منزه دئ چي په كوم څه كي چا ته اړ وي بلكي په ذات او صفاتو كي د ټولو ستاينو وړ دئ، كه وغواړي ټول انسانان به له منځه يوسي او د دوی پر ځای به نوی مخلوق پيدا كړي، نه د دوی له منځه وړل الله تعالى ته ګران كار دئ او نه د بل مخلوق پيدايښت.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ وَإِن تَدۡعُ مُثۡقَلَةٌ إِلَىٰ حِمۡلِهَا لَا يُحۡمَلۡ مِنۡهُ شَيۡءٞ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰٓۗ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفۡسِهِۦۚ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٨﴾

او هيڅ په شا كوونكی د بل بار نه په شا كوي، او كه كوم درونډ بار شوی (كس) د خپل بار وړلو لپاره (چا ته) بلنه وركړي نو څه به ترې په شا نه كړی شي كه څه هم د خپلوۍ خاوند وي، يقيناً چي ته يوازي هغو ته خبرداری وركوې چي له نه ليدو سره سره له خپل رب وېرېږي او لمونځ قائموي، او چا چي پاكيزګي غوره كړه نو يوازي د ځان په ګټه پاكيزګي غوره كوي، بيا د الله په لوري ببرته ګرځېدا ده.

(۱۸)- په دې مبارك آيت كي ويل شوي:

● د قيامت په ورځ به هر څوك د خپلو ګناهونو پېټي پر خپلو اوږو وړي، هيڅوك به نشي كولی له بل سره په دې اړه څه مرسته وكړي او پېټی ئې ورسپك كړي، كه د كوم ګنهګار د ګناهونو پېټی دومره درونډ وي چي له وړلو ئې عاجز او د بل مرستي ته اړ وي او له نورو مرسته وغواړي هيڅوك به ئې مرسته نشي كولی، هيڅوك به ئې پېټی نشي ورسپكولی، كه څه هم د هغه نږدې خپلوان وي.

● رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چي ته يوازي هغو ته خبرداری وركوې چي له نه ليدو سره سره له خپل رب وېرېږي او لمونځ قائموي، يعني ستا انذار يوازي هغو ته ګټه رسوي چي دغه دوه ځانګړتياوي لري: په غائبانه توګه له خپل رب وېرېږي، او خپل رب لمانځي او خپلي اړيكي ورسره ټينګوي.

● څوك چي د تزكيې لار غوره كړي، له ګنده افكارو، ګنده اخلاقو، ناوړو كړنو او كركجنو تګلارو ځان لري ساتي او پاكيزګي غوره كوي نو ګټه ئې ده ته رسي، هم په دنيا كي او هم هغه مهال چي د الله په لوري ستون شي، د ټولو ببرته ګرځېدا د الله تعالى په لوري ده.

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا ٱلظُّلُمَٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ﴿٢٠﴾ وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا

ٱلۡحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَحۡيَآءُ وَلَا ٱلۡأَمۡوَٰتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُسۡمِعُ مَن يَشَآءُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسۡمِعٖ مَّن فِي ٱلۡقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنۡ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾

نه ړوند او سترګور سره برابرېدی شي او نه تیارې او رڼا، او نه سیوری او (د غرمې) تودوخه، او نه ژوندي سره برابرېدی شي او نه مړي، یقیناً چې الله هغه چا ته اورول کوي چې دی ئې غواړي، او ته هغو ته چې په قبرونو کې دي اوروونکی نه یې، ته یوازې یو خبرداری ورکوونکی یې.

(۱۹-۲۳)- دا مبارك آیتونه رسول الله ﷺ او د ده له لارې هر داعي ته لارښوونه کوي چې له هر مخاطب د ملګرتیا او له حق سره د توافق طمع او توقع مه کوئ، ځیني مخاطبین د جهل، بد ذهن، مړ ضمیر، ځپل شوو عواطفو او مشاعرو له پلوه داسي پړاو ته رسېدلي وي چې یا ړندو ته ورته وي یا هغو ته چې په تیارو کې پراته وي او یا په قبرونو کې پرتو مړو ته، دوی د حق او باطل تر منځ تفکیك نشي کولی، د سمې او کږې لارې له پېژندو عاجز وي، د ښې او بدې وینا په توپیر نه پوهېږي، د دوی د مخالفت او ایمان نه راوړلو له کبله مه مأیوس کېږئ، لکه څنګه چې ړوند او سترګور، تیارې او رڼا، سیوری او د غرمې تودوخه، مړي او ژوندي نشي سره برابرېدی، همداراز هغه چې د ایمان راوړلو استعداد په کې ځپل شوی، ضمیر ئې مړ او د وجدان حساسیت ئې خفه شوی د هغه چا په څېر نشي کېدی چې د حق پېژندلو او ایمان راوړلو وړتیا لري، ضمیر ئې ویښ او انساني مشاعر او عواطف ئې ژوندي او حساس دي، له هغه چا د حق وینا اورېدلو او منلو طمع مه کوئ چې مړو ته ورته دي، هغه چې د الهي سننو له مخې دا وړتیا نه لري چې الله تعالی د حق وینا اورېدلو توفیق ورکړي، الله تعالی هغه چا ته له حق سره د ملتیا او له حقپالو سره د ملګرتیا توفیق ورکوي چې د الهي مشیت له مخې د دې وړتیا ولري، لکه څنګه چې ته هغو ته کومه خبره نشې اورولی چې په قبرونو کې دي همداراز هغه کافران هم ستا د دعوت له اورېدلو او منلو محروم دي چې له معنوي پلوه په قبرونو کې پرتو مړو ته ورته دي.

رسول الله ﷺ ته ویل شوي چې ستا دنده دا ده چې خلك د کفر له بدو پایلو وویروې، ته یوازې یو خبرداری ورکوونکی یې، د دوی د هدایت او عدم هدایت پرېکړه د الله تعالی له لورې او د خاصو الهي سننو مطابق کېږي.

دې ته مو باید پام وي چې په دغو مبارکو آیتونو کې رسول الله ته ویل شوي چې ته مړو او هغو ته چې په قبرونو کې دي خبره نشې اورولی، یعني نه یوازې دا چې مړي خبره نه اوري او داسي دي لکه کاڼه او ګونګیان؛ بلکي که هڅه وکړې چې څه ورواوروې نو هڅه به دې څه نتیجه نه لري. د مړو د عدم سماع او نه اورېدلو په اړه د دې آیت حکم ډېر صریح او قاطع دئ، هیڅ تأویل نه مني، په هیڅ بلې معنی ئې نشو تعبیرولی، هره هغه وینا له دې آیت سره په بشپړه توګه تعارض لري چې وایي: مړي خبري اوري!! پوښتنه راولاړېږي چې د هغو روایاتوپه اړه به څه وایو چې ادعاء کوي: مړي خبري اوري!! دې پوښتني ته یوازې یو

ځواب ویلی شو او هغه دا چې یا به قرآن منو یا دغه روایات، که پر قرآن ایمان لرو او هغه د الله تعالی کتاب ګڼو نو هره هغه وینا به لرې غورځوو چې له قرآن سره تعارض او تضاد لري او د قرآن خلاف خبره کوي، هغه روایات قطعاً د اعتبار او اعتناء وړ نه دي چې وايي: مړي خبري اوري، دا روایات نه یوازې له دې پلوه د اعتناء وړ نه دي چې د قرآن خلاف وینا کوي بلکې د سند له پلوه هم د اعتبار وړ نه دي، که د دغو روایاتو په اسنادو کې غور وکړئ وبه ګورئ چې ځینې ئې په صحابه وو کې یوازې یو راوي لري او ځینې ئې په تابعینو او تبع تابعینو کې هم یو یو راوي، داسې غریب روایت چې نه یوازې په قرآن کې کوم شاهد ورته نه مومو بلکې د قرآن له څو څرګندو آیتونو سره تعارض لري او هغه خبره کوي چې د عائشې **صلی** په څېر په قرآن او حدیث پوه شخصیتونه ئې ردوي هیڅکله د اعتبار وړ نشو ګڼلی، دا د ټولو محدثینو، محققینو او فقهاوو اتفاقي وینا ده چې د یوه روایت د اعتبار لپاره لومړی شرط دا دئ چې له قرآن سره تعارض ونه لري، غریب روایات یوازې هغه مهال د اعتبار وړ ګڼلی شو چې په قرآن کې کوم شاهد ورته ومومو. پر قرآن د ایمان تقاضاء دا ده چې داسې غریب روایات په درناوي سره یوې خوا ته کېږدو چې له قرآن سره اړخ نه لګوي؛ نه پرې استناد وکړو او نه ئې بل ته ووایو.

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۚ وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ ﴿٢٤﴾ وَإِن
يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ
وَبِٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَخَذۡتُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾

یقیناً چې ته مو حقیقتاً یو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لېږلی یې، هیڅ داسې امت نشته چې کوم نذیر نه وي په کې تېر شوی، او که تا تکذیب کړي نو یقیناً چې هغو هم تکذیب کړل چې تر دوی وړاندې ول، په داسې حال کې چې پیغمبرانو ئې څرګندې نښې، صحیفې او روښانه کتابونه وروړل، بیا مې هغه ونیول چې کفر ئې کړی وو، نو (وګوره) چې زما انکار او عذاب څنګه وو**!!**

(۲٤-۲٦)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته ویل شوي:

- په دې کې هیڅ شك نشته چې الله تعالی ته حقیقتاً یو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لېږلی یې.
- دا لومړی ځل نه دئ چې الله تعالی کوم قوم ته پیغمبر لېږي او هغوی د الله رسول تکذیبوي، تر دې وړاندې هیڅ داسې امت نه دئ تېر شوی چې د الله تعالی له لوري کوم پیغمبر نه وي ورلېږل شوی او خلکو همداسې معامله نه وي ورسره کړې.
- که دا خلك تا تکذیب کړي نو یقیناً چې هغو هم مخکنې پیغمبران تکذیب کړل چې تر دوی وړاندې ول، په داسې حال کې چې پیغمبرانو ئې څرګندې نښې، صحیفې او روښانه کتابونه

وروړل.

• الله تعالی د حق هغه مخالفین په خپل عذاب اخته کړي چې د کفر او انکار لار ئې غوره کړې وه او د پیغمبرانو مخالفت ئې کړی.

• تاریخ ته رجوع وکړه او وګوره چې پر منکرینو د الله تعالی له لوري نازل شوي عذابونه څنګه ول او د پیغمبرانو مخالفین له کوم بدمرغه برخلیك سره مخامخ شوي!!

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾

آیا نه ګورې چې الله له آسمان اوبه وروي او په دې سره داسې مېوې راباسو چې رنګونه ئې ډول ډول دي، او له غرونو ځینې ئې سپیني او سرې ګاري دي چې رنګونه ئې ډول ډول دي او ځیني ئې تك تور، او همداسې د خلکو، خزنده وو او څارویو رنګونه ډول ډول دي، یقیناً چې له الله یوازې د ده پوه بندګان وېرېږي، یقیناً چې الله بخښونکی عزتمن دئ.

(۲۷-۲۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د توحید اړوند څو عمیق او مضبوط دلائل وړاندې شوي، په دې کې قرآن خپل مخاطب ته وايي: آیا نه ګورې چې الله تعالی له آسمان اوبه وروي او بیا په دغو اوبو سره له زمکې داسې ډول ډول مېوې راباسي چې رنګونه ئې مختلف او بېل بېل دي، دا د زمکې او آسمان تر منځ ژور تنسیق او همغږي د چا په اراده رامنځته شوې؟ دا کوم خلاق ذات دئ چې له خاورې خوندورې رنګینې مېوې جوړوي، هغه هم نه یو ډول مېوه او په یوه رنګ کې بلکې ډول ډول مېوې چې هم په خوند کې ژور توپیرونه لري، هم په شکل او بڼې کې او هم په رنګ کې؟ دا خو هر عقلمن ناظر ته په جګ غږ وايي: د دغو خوندورو، رنګینو او ښکلو مېوو پیدایښت هرومرو د یوه داسې علیم، حکیم او خلاق ذات کار دئ چې هم آسمان د ده تر واك او حکم لاندې دئ او هم زمکه، آسمان ته وايي اوبه ووروه او زمکې ته وايي په دغو اوبو ډول ډول مېوې راوټوکوه، دواړو ته ئې لارښوونه کړې چې د انسان په خدمت کې اوسئ او د ده اړتیاوې پوره کړئ!! دا په زرګونو ډوله خوندورې مېوې چې نه یوازې د نوع، شکل، رنګ، خوند، جوړښت، ترکیب، بوی، ذائقې ... له پلوه ژور توپیرونه لري بلکې د انسان ډول ډول غذائي اړتیاوو ته ځواب وايي، انسان ئې له رنګ، شکل، بوي او ذائقې خوند اخلي، په یوه نوع مېوې کې یوه له بلې دومره توپیرونه لري چې هر انسان پرې پوهېدی شي، آیا دا نه ښیي چې د عالم د ټولو مخلوقاتو تر شا د یوه داسې حکیم خلاق رب نامرئي لاس لګیا دئ

چي نه غواړي يو مخلوق او مصنوع ئې له هره پلوه بل ته ورته وي، په هر يوه کي بايد د ده د خلاقيت او حکمت بېل بېل اړخونه راڅرګند شي، د عالم ټول مخلوقات بايد د ده د بې انتهاء علم، حکمت او خلاقيت مظاهر زموږ په وړاندي انځور کړي؟!! که دا عالم يوې فابريکې ته ورته وی او خلاق رب ئې نه درلودی نو هيڅکه به د دومره بې شمېره تنوع، بې انتهاء ښايست او ژور تنسيق شاهد نه وو، لکه څنګه چي يوه فابريکه له يو ډول خامو توکو يوازي يو ډول يا په ډېر پرمخ تللي حالت کي څو ډوله شيان جوړولی شي نو د آسمان له اوبو او د ځمکي له خاوري به يوازي څو محدود ډوله شيان پيدا کېدل او هغه هم په بشپړه توګه يو بل ته ورته، خو دا دئ ګورو چي خبره کاملاً بل ډول ده، له دې ځمکي دومره ډول ډول مېوې پيدا کېږي چي انسان ئې هم له شمېرلو عاجز دئ او هم له توصيف!! دا تنوع چي د حکيم خلاق ذات د بې انتهاء قدرت يو څرګند مظهر دئ يوازي په مېوو کي نه بلکي د عالم په هري برخي کي تر سترګو کېږي، په غرونو کي سپيني او سرې ګاري ګورئ چي رنګونه ئې ډول ډول دي، داسي ګاري هم ګورئ چي رنګ ئې تک تور دئ، نه يوازي د رنګ له پلوه يوه له بلي توپيرونه لري بلکي د ترکيب له پلوه هم د دوی تر منځ ژور او پراخ توپيرونه شته، همداسي د خلکو، خزنده وو او څارويو رنګونه ډول ډول دي، د انسان له پيدايښت بيا تر نن پوري داسي دوه انسانان نه دي پيدا شوي چي له هره پلوه په بشپړه توګه سره ورته وي، او د رنګ، شکل، جوړښت، استعدادونو او ځواکونو له پلوه توپيرونه ونه لري!! دا پراخه تنوع هر سترګور او عقلمن انسان ته څه وايي؟ د دې تنوع د خالق په اړه موږ ته څه لارښوونه کوي؟!! يقيناً چي د علم خاوندان نه يوازي دا د رب العالمين د قدرت څرګند مظاهر ګڼي او همدغي تنوع ته په پام سره پر رب العالمين ايمان راوړي بلکي دا (علم) او (ايمان) په دوی کي د خپل رب په وړاندي د قصور داسي احساس راولاړوي چي زړونه ئې رېږدوي، همغسي لکه چي الله تعالی فرمايي: له الله يوازي د ده يوه بندګان وېرېږي. هو؛ د الله تعالی په اړه ښه معرفت او د هغه ښه پېژندنه په انسان کي خشوع راپيدا کوي، څوک چي تر نورو زيات پوه او عالم وي هغه به تر نورو زيات له خپل رب وېرېږي، د ده په وړاندي به ځان قاصر بنده ګڼي او خپل الهي مسئوليت به تر هغه څه ډېر ډېر لوړ ګڼي چي کړي ئې دي يا ئې کوي. دا آيت موږ ته حقيقي (عالم) راښيي، وايي: عالم هغه دئ چي له الله تعالی ډېر وېرېږي؛ نه هغه چي ډېر کتابونه ئې لوستلي، عالم هغه نه دئ چي ځان يا نور ئې په لويو لويو او اوږدو القابو ستايي، عالم هغه دئ چي په وينا، کړنو او څېرې کي ئې له الله تعالی د وېري آثار له ورايه برېښي. عالم هغه دئ چي په عالم کي د ځواکمن او عزتمن رب د قدرت، حکمت او عظمت مظاهر د دوی په زړونو کي وېره راولاړوي او خپل قصور ته په پام سره د هغه مغفرت او بخښني ته طمع ساتي، او په دې باور وي چي يقيناً الله تعالی بخښونکی عزتمن دئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتۡلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ يَرۡجُونَ تِجَٰرَةٗ لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ

غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾

يقيناً هغه چې د الله كتاب لولي او لمونځ قائموي او له هغه څه په پټه او ښكاره توګه انفاق كوي چې موږ ورروزي كړي؛ د داسې تجارت هيله لري چې هيڅكله نه تباه كيږي. تر څو دوى ته خپله بدله په بشپړه توګه وركړي او خپل فضل لاورزيات كړي، يقيناً چې هغه شكور بخښونكى دئ.

(۲۹-۳۰)- دلته د هغو كسانو څو ځانګړتياوي بيان شوې چې الله تعالى د دوى د كړنو قدرونه كوي، بشپړ اجر وركوي، زياتې پېرزوينې پرې كوي او ګناهونه ئې بخښي، د دوى ځانګړتياوې دا دي: د الله تعالى كتاب لولي، لمونځ قائموي او له هغه څه چې الله تعالى وركړي په پټه او ښكاره توګه انفاق كوي، دوى په حقيقت كې داسې تجارت كوي چې يقيني ګټې او حاصل ته ئې طمع او هيله لري او هيڅكله نه تباه كيږي. دا له هغه رب سره يوې ګټورې تجارتي معاملې ته ورته تجارت دئ چې له شكور او بخښونكي رب سره ترسره كيږي، هغه چې د خپل صالح بنده د كړنو قدر كوي او قصور ئې بخښي.

وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ
بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾ ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ
ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ
الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ
وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٣٣﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ۖ إِنَّ
رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٤﴾ الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا
نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾

او له كتاب مو چې څه تا ته وحې كړي هغه حق دئ؛ د هغه تصديقوونكى چې تر ده وړاندې وو، يقيناً چې الله د خپلو بندګانو په اړه باخبر ليدونكى دئ. بيا مو دا كتاب خپلو هغو بندګانو ته په ميراث وركړ چې موږ غوره كړي، نو له دوى ځيني پر خپل ځان ظالم، ځيني ئې منځلارى او ځيني ئې د ښېګڼو په لور تلوار كوونكى دي، همدا ستر

فضيلت دئ، تلپاتي جنتونه چې دوی به ورننوځي په داسي حال کي چې هلته به د سرو زرو او مرغلرو په لاسونديو سينګار کړی شي او جامې به ئې ورېښمني وي، او وايي به: ستاينې ټولې هغه الله ته دي چې اندېښنې ئې له موږ ختمې کړې، يقيناً چې زموږ رب شکور بخښونکی دئ. هغه چې موږ ئې د خپل فضل له امله په تلپاته هستوګنځي کي مېشت کړو په داسي حال کي چې نه په کي ستوماني رارسي او نه په کي ستړيا رارسي.

(۳۱-۳۵)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

• رسول اللهﷺ ته ويل شوي: کوم کتاب چې تا ته درکړی شوی رښتينی کتاب دئ، ټول هغه الهي کتابونه تصديقوي چې تر ده وړاندي نازل شوي.

• الله تعالی خبير او بصير دئ، هم د خپلو بندګانو له ظاهر او باطن خبر دئ او هم ئې ګوري.

• الله تعالی دا کتاب خپلو هغو بندګانو ته په ميراث ورکړی چې د همدې لپاره ئې غوره کړي، د دوی ځيني پر خپل ځان ظالم، ځيني ئې منځلاري او ځيني ئې د ښېګڼو په لور تلوار کوونکي دي، همدا ستر فضيلت دئ، يعني د دې کتاب وارثين په دريو ډلو وېشل شوي:

• ځيني ئې د ايمان او نېك عمل تر څنګ خطاګاني او ګناهونه هم لري، کله کله له سمي لاري کاږه شوي او په دې توګه ئې پر خپل ځان ظلم کړی او په الهي عذاب ئې اخته کړی.

• ځيني ئې منځ لاري دي، د منځنۍ درجې وګړي دي، که څه هم له سمي لاري ښې او کيڼ لوري ته نه دي کاږه شوي خو هغه لوړي پوړي ته نه دي رسېدلي چې د لومړۍ درجې برياليو په ډلي کي محسوب شي.

• ځيني ئې د ښېګڼو په لورو تلوار کوونکي دي، تر ټولو وړاندي او له اخلاقي، فکري او معنوي پلوه لوړو پوړو ته رسېدلي.

• د کتاب دا وارثين به له هغې الهي محاسبې وروسته تلپاتو جنتونو ته ننوځي چې د قيامت په ورځ به ترسره کېږي، له هري ډلي سره د دوی کړنو ته په پام سره مناسبه محاسبه، په داسي حال کي چې هلته به د سرو زرو او مرغلرو په لاسونديو سينګار کړی شي او جامې به ئې ورېښمني وي.

• په جنت کي به د دغو جنتيانو وينا دا وي: ستاينې ټولې هغه الله ته دي چې زموږ اندېښنې ئې له منځه يوورې، يقيناً چې زموږ رب شکور بخښونکی دئ، د خپلو بندګانو د نېکو کړنو قدرونه کوي او له ګناه او قصور ئې تېرېږي، موږ ئې د خپل فضل له امله په تلپاته هستوګنځي کي مېشت کړو په داسي حال کي چې نه په کي ستوماني رارسي او نه په کي ستړيا رارسي. موږ د خپلو عملونو له کبله د دې وړ نه وو چې داسي جنتونه راپه برخه شي، زموږ رب د خپل پراخ فضل له مخي دې مقام ته راورسولو، زموږ ګناهونه ئې وبخښل او زموږ د وړو وړو عملونو ئې زياته قدرونه وکړه.

دې ته مو پام وي چې درنو مفسرينو د دغو آيتونو په اړه بېل بېل تعبيرونه وړاندي کړي،

ځینو د رازي او زمخشري په شمول ویلي چې د آیت دغه فقره (ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ)

یوازې مخکنۍ فقرې (وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ) ته راجع ده او مطلب ئې دا دئ چې همدا د

ښېګڼو په لوري تلوار کوونکي د الله تعالی له ستر فضل برخمن شوي او همدا دوی به جنت ته ننوځي، خو دا تعبیر ضعیف دئ، دا فقره یوازې مخکنۍ ته نشي راجع کېدی، د آیت ټول مخکني

مضمون ته راجع ده، په ځانګړې توګه د آیت لومړۍ برخې ته چې وایي: (ثُمَّ أَوۡرَثۡنَا ٱلۡكِتَٰبَ

ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَا) همدا خپلو غوره کړو بندګانو ته کتاب په وراثت ورکول د الله

تعالی ستر فضل دئ، دلته فضل د فضیلت په معنی نه بلکې د ورکړې او عطاء په معنی راغلی، له بلې خوا جنت ته یوازې سابق بالخیرات نه ننوځي بلکې د مؤمنانو دوه نورې ډلې هم له مناسبې محاسبې وروسته ننوځي، نو ځکه په یقین سره ویلی شو چې غوره او دقیق تعبیر پورتنی دئ، په دې اړه په یوه روایت کې داسې راغلي:
عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ (ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ) فَأَمَّا الَّذِينَ سَبَقُوا بِالْخَيْرَاتِ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ وَأَمَّا الَّذِينَ اقْتَصَدُوا فَأُولَئِكَ يُحَاسَبُونَ حِسَاباً يَسِيراً وَأَمَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ يُحْبَسُونَ فِى طُولِ الْمَحْشَرِ ثُمَّ هُمُ الَّذِينَ تَلَقَاهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَتِهِ فَهُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ) ». إِلَى قَوْلِهِ (لُغُوبٌ). مسند احمد
له ابو درداء ﷺ روایت دئ چې له رسول اللهﷺ مې داسې واورېدل: الله عز و جل فرمایلي: (ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ)، نو هغه چې په ښېګڼو کې ئې تلوار کړی هغه کسان دي چې جنت ته به له حساب پرته ننوځي، او هغه چې منځلاري وو له هغوی سره به آسان حساب کېږي، او هغه چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی هغوی به د محشر ټوله موده متوقف ساتل کېږي، بیا همدا دوی دي چې الله تعالی به ئې له خپل رحمت سره مخامخ کړي او همدا دوی دي چې وایي به: ستاینې ټولې هغه الله ته دي چې اندېښنې ئې له موږ ختمې کړې، یقیناً چې زموږ رب شکور بخښونکی دئ. هغه چې موږ ئې د خپل فضل له امله په تلپاتې هستوګنځي کې مېشت کړو په داسې حال کې چې نه په کې ستوماني رارسي او نه په کې ستړیا رارسي.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقۡضَىٰ عَلَيۡهِمۡ فَيَمُوتُواْ وَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُم مِّنۡ

عَذَابِهَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي كُلَّ كَفُورٖ ٣٦ وَهُمۡ يَصۡطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا

نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ أَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُۖ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٣٧﴾

او هغه چي كفر ئې كړى دوى ته د دوزخ اور دئ، نه به د دوى په اړه داسي پرېكړه كيږي چي ومري او نه به د هغه كوم عذاب ترې كميږي، همداسي هر ناسپاس ته سزا وركوو، په داسي حال كي چي دوى به په هغه كي چيغي وهي: اې زموږ ربه! ومو باسه چي نېك عمل وكړو، له هغه عمل متفاوت چي موږ كولو، آيا تاسو ته مو دومره عمر نه وو دركړى چي هغه څوك په كي پند اخيستى شي چي پند قبلوي، او نذير هم درغلى وو، نو وڅكئ چي ظالمانو ته هيڅ مرستندوى نشته.

(٣٦-٣٧)- په دې مباركو آيتونو كي د كافرانو وضعيت په دوزخ كي داسي انځور شوى: هغه چي كفر ئې كړى د دوزخ اور به ئې په برخه شي، نه به د دوى په اړه دا پرېكړه كيږي چي ومري او نه به د دوزخ له ډول ډول عذابونو كوم عذاب ترې كميږي، الله تعالى به دا سزا هر ناسپاس انسان ته وركوي، په دوزخ كي به چيغي وهي: اې زموږ ربه! ترې ومو باسه چي نېك عمل وكړو، له هغه عملونو متفاوت چي موږ كولو، دوى ته به په ځواب كي وويل شي: آيا تاسو ته مو دومره عمر نه وو دركړى چي د هر پند اخيستونكي لپاره كافي وو، او د دې فرصت تر څنگ نذير هم درغلى وو، نو اوس د خپل كفر سزا وڅكئ، ظالمانو ته هيڅ مرستندوى نشته.

إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيۡبِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٣٨﴾ هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيۡهِ كُفۡرُهُۥۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ إِلَّا مَقۡتٗاۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ إِلَّا خَسَارٗا ﴿٣٩﴾

يقيناً چي الله د آسمانونو او زمكي په غيبو پوه دئ، يقيناً چي هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ، دى همغه ذات دئ چي تاسو ئې په زمكي كي خليفه وگرځولئ، نو څوك چي كفر وكړي نو د خپل كفر بده پايله به ئې په برخه وي، او د كافرانو كفر د خپل رب په وړاندي له غضب پرته بل څه نه ورته زياتوي، او كافرانو ته د دوى كفر له تاوان پرته بل څه نه زياتوي.

(٣٨-٣٩)- په دې مباركو آيتونو كي موږ ته لارښوونه شوې چي د آسمانونو او زمكي هيڅ څه له الله تعالى پټ نه دي، په ټولو شيانو پوه دئ، د انسانانو د سينو په پټو اسرارو هم ښه پوه دئ، د الله تعالى په اراده د زمكي خلافت انسان ته وسپارل شو، نو څوك چي د كفر لار

غوره کړي د خپل کفر بده پایله به ئې په برخه وي، د کافرانو کفر د خپل رب په وړاندې له غضب پرته بل څه نه ورته زیاتوي، او د دوی کفر له تاوان پرته بل څه نه ورته زیاتوي.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾

ووایه: آیا پام مو دئ چې ستاسو هغو شرکاوو چې له الله پرته ئې دربلئ راوښیئ چې د زمکې څه ئې پیدا کړي او یا ئې په آسمانونو کې څه شرکت په برخه دئ، یا مو کوم کتاب ورکړی چې له مخې ئې پر کوم څرګند دلیل (متمسك) دي، نه؛ بلکې ظالمان یو له بل سره له دوکې پرته د بل څه وعده نه کوي.

(٤٠)- په دې مبارك آیت کې د شرك د نفي لپاره څو مضبوط دلائل ویل شوي:

- ~~رسول الله ﷺ ته ویل شوي: له مشرکانو وپوښته چې ستاسو هغو معبودانو چې له الله پرته~~ ئې لمانځئ او مرسته ترې غواړئ د زمکې څه ئې پیدا کړي او یا ئې په آسمانونو کې څه شرکت په برخه دئ، د آسمانونو په کوم څه کې له الله تعالی سره شریك دي، د زمکې د کوم څه په پیدایښت کې څه ونډه لري او د آسمان کوم څه د دوی په واك کې دي، د آسمانونو او زمکې کوم څه تاسو ته درکولی او یا له تاسو سپمولی شي؟!!
- آیا د شرك لپاره کوم نقلي دلیل لرئ؟ داسې کوم آسماني کتاب موندلی شئ چې شرك توجیه کړي او کوم دلیل او برهان په لاس درکړي؟!
- دا مشرکین د خپل شرك لپاره نه کوم عقلي دلیل لري او نه نقلي دلیل، نه په آسمان او زمکې کې داسې څه په ګوته کولی شي چې شرك توجیه کړي او نه داسې الهي کتاب ښودلی شي چې د مشرکینو لپاره مستمسك شي، د دوی د شرك اصلي وجه دا ده چې یو د بل له لوري دوکه شوی، ټګمارو مذهبي مشرانو د دوی ناپوهان او جاهلان غولولي.

إِنَّ ٱللَّهَ يُمْسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾

یقیناً چې الله آسمانونه او زمکه له دې تموي چې زوال ومومي، او که زائل شي نو له ده وروسته داسې څوك نشته چې تم ئې کړي، یقیناً چې هغه بخښونکی حلیم دئ.

(٤١)- دا مبارك آیت وایي چې آسمانونه او زمکه د الله تعالی په واك کې دي، هغه ئې اداره

کوي او د زوال مخه ئې نيسي، که هغه وغواړي چي آسمان او زمکه زائل شي نو په ټول عالم کي به له ده پرته داسي څوك ونه مومئ چي تم ئې کړي او د زوال مخه ئې ونيسي، خو الله تعالی حليم او بخښونکی دئ، له خپلو بندگانو سره د دوی د کړنو او چلن له مخي معامله نه کوي، بلکي د (حلم) او (غفران: بخښني) له مخي معامله کوي، که داسي نه وی نو د دوی د عصيان او بغاوت له کبله به ئې دا آسمانونه پرې رانسکور کړي وو او زمکه به ئې زائل کړې وه.

وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ ٱسْتِكْبَارًا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَكْرَ ٱلسَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلْمَكْرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِۦ ۚ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾

او په خپلو کلکو قسمونو سره ئې لوړه وکړه چي که کوم پيغمبر ورته راشي نو د نورو امتونو تر هر يوه به زيات هدايت شوي وو، خو کله چي نذير ورغی نو له نفرت (تېښتي) پرته ئې بل څه ورزيات نه کړل. په زمکي کي د لويي غوښتني او بد تدبير په توگه، په داسي حال کي چي بد تدبير له خپل خاوند پرته په بل چا نه پرېوځي، نو آيا دوی د مخکنيو له سنت پرته بل څه ته انتظار لري؟ په داسي حال کي چي هيڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تبديلي ونه مومې او هېڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تحويل (تغيير) ونه مومې.

(٤٢-٤٣)- دوی د رسول الله ﷺ تر بعثت وړاندي کلك کلك قسمونه کول چي که کوم پيغمبر ورته راشي نو تر ټولو نورو امتونو به زيات هدايت او په سمي لار تلو ته چمتو شوي وو، خو کله چي پيغمبر ورته راغی دې راتگ په دوی کي يوازي يو شی زيات کړ چي له حق تېښته ده، د دې تېښتي موخه هم لويي غوښتنه او د بدو تدبيرونو له لاري ناولو اهدافو او اغراضو ته رسېدل وو، په داسي حال کي چي بد تدبيرونه له خپل خاوند پرته په بل چا نه پرېوځي، د بدو تدبيرونو تاوان تر نورو زيات او وړاندې خپل خاوند ته رسي، دا ثابت الهي سنت دئ چي په مخکنيو کي تېر شوی او مصداق ئې د تاريخ په اوږدو کي په وار وار ليدل شوی، نو آيا دوی د مخکنيو له سنت پرته بل څه ته انتظار لري؟ په داسي حال کي چي هيڅکله به د الله تعالی د سننو لپاره هيڅ تبديلي ونه مومې او هېڅکله به د الله تعالی د سننو لپاره هيڅ تحويل او تغيير ونه مومې. الهي سنن ثابت او تغيير نه منونکي دي، نه ئې څوك په خپلو ناوړو تدبيرونو سره بدلولی شي او نه کوم تغيير په کي راوستلی شي.

أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَكَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعۡجِزَهُۥ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمٗا قَدِيرٗا ﴿٤٤﴾ وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُواْ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهۡرِهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِۦ بَصِيرَۢا ﴿٤٥﴾

آیا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول او د ځواك له پلوه (تر دوی) ډېر پیاوړي، او الله داسې نه وو چې په آسمانونو کې ئې کوم شی عاجز کړی شي او نه هم په زمکې کې، یقیناً چې هغه توانمن پوه دئ، او که الله خلك د هغه څه له کبله مؤاخذه کولی چې دوی کړي نو (د زمکې) پر شا به ئې هیڅ خزنده نه وو پرېښی، خو دوی تر ټاکلې نېټې ځنډوي، نو کله چې د دوی اجل (ټاکلې نېټه) راورسیږي نو الله (هغه مهال) له کوم شك پرته د خپلو بندګانو په اړه ښه لیدونکی وي.

(٤٤-٤٥)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- **آیا دا د حق دښمنان او د پیغمبر له ملتیا تښتېدونکي په زمکې کې نه دي ګرځېدلي او د تېر تاریخ پاڼې ئې نه دي اړولې چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، هغه چې د ځواك له پلوه تر دوی ډېر پیاوړي او ځواکمن ول، هغه چې په الهي عذاب اخته شوي، نه خپل زور او ځواك له دې عذاب ژغورلي او نه ئې مکر او تدبیر، نه ئې په آسمانونو کې داسې څوك موندلی وو چې په مرسته ئې د الله تعالی پرېکړې و ځنډوي او د الهي عذاب مخه ونیسي او نه په زمکې کې؟ د دوی کلکې نیونې او د الهي عذاب په وړاندې د دوی د زور، ځواك او تدبیر شنډېدا وښوده چې الله تعالی هم قدیر او توانمن دئ او هم علیم او پوه، د هر چا له حال خبر دئ، پوهیږي چې څوك د کومې سزا مستحق دئ، څنګه او کله سزا ورکړي، نه د چا تدبیرونه د علیم خدای په وړاندې تم کېدی شي او نه د چا زور او ځواك د قدیر خدای په وړاندې څه اغېز درلودی شي.**
- **که الله تعالی غوښتی چې خلك د هغو ګناهونو له کبله مؤاخذه کړي چې دوی کړي نو د زمکې پر سر به ئې هیڅ خزنده نه وو پرېښی، خو الله تعالی د خپل پراخ رحمت او بې سارې پېرزوینې له امله دوی ته مهلت او فرصت ورکوي او تر ټاکلې نېټې ئې ځنډوي، د حق مخالفین دې دا مهلت او فُرصت نه غولوي، دا دې د خپل زور، ځواك او تدبیرونو حاصل او نتیجه نه ګڼي، په دې دې پوه وي چې دا مهلت پای لري، نه بدلېدونکی پای، وخیم او دردناك**

پای، کله چي دا پای او د دوی لپاره ټاکلي نېټه راورسېږي نو الله هغه مهال ښه پوهېږي چي له دوی سره څه وکړي، د کومي سزا وړ دي، دا ځکه چي الله تعالی د خپلو بندګانو په اړه ښه ليدونکي دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

يٰس

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم (يس) دئ، د سورې په سر کي د (ياء او سين) دوه توري د هغې نوم ګرځول شوی، دري اتيا آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (حکيم) او د شپږم آيت (غٰفلون) ته ورته دي، ځيني آيتونه ئې لنډ لنډ دي او د ځينو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چي د مکي دور په منځنيو کلونو کي نازل شوي.د سورې له متن معلومېږي چي هغه مهال له رسول اللهؐ سره د قريشو مخالفت زيات او تشديد شوی وو او مسلمانان ئې ګواښل چي که له خپل دعوت لاس وانه خلي له دردناك عذاب سره به مخامخ شي.

لکه څنګه چي دا سوره په دوو مقطعاتو حروفو پيل شوې د سورې محوري مضامين هم دوه دي: رسالت او معاد، ټوله سوره د همدغو دواړو اساسي موضوعاتو پر محور څرخي. د سورې په پيل کي ويل شوي: دا له حکمتونو ډك قرآن شهادت ورکوي چي حامل ئې د الله تعالی پيغمبر دئ؛ دا ځکه چي له يوه پيغمبر پرته بل څوك داسي له حکمتونو ډك کتاب نه شي راوړلی. قرآن د داسي شاهد په توګه وړاندي شوی چي څو خبري ترې ثابتېږي: ۱- رسول اللهؐ د الله تعالی پيغمبر دئ، ۲- لار ئې سمه او مستقيمه ده، ۳- د مهربان عزتمن ذات له لوري رالېږل شوی. يعني د قرآن له ځلاندو لارښوونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا لارښود کتاب د مهربان عزتمن ذات له لوري رالېږل شوی.

ورپسې ويل شوي: د رسول اللهؐ دنده د هغو وګړو انذار او خبرداری ورکول دي چي نه په دوی کي کوم پيغمبر مبعوث شوی او نه د دوی په څو پېړيو مخکنيو کي، بيا د هغو وګړو د ايمان نه راوړلو ځيني اسباب ښودل شوي چي د مخالفت لار ئې غوره کړې، وايي: دوی ته غلط عقائد او باورونه له پلار نيکه په ميراث پاته شوي، نه په دوی کي کوم لارښود پيغمبر تېر شوی او نه ئې په پلرونو کي، غافل او جاهل پاته شوي، د دوی د اکثريت په اړه دا وينا صدق کوي چي له حقائقو بې خبر او غافل دي نو ځکه ايمان نه راوړي، د دوی بدو افکارو او اخلاقو، جاهلانه غرور او کبر داسي بڼه غوره کړې لکه چي د دوی د غاړو پرېړ پرېړ زنځيرونه وي او د دوی سرونه ئې نېغ ساتلي او لاندي کتلو ته ئې نه پرېږدي، حالت ئې داسي دئ لکه چي تر مخ ئې هم خنډونه وي او څو ګامه آخوا نشي ليدلی او تر شا ئې هم خنډونه وي او نه پوهېږي آخوا څه تېر شوي، نه له ماضي پند اخلي او نه مستقبل ته پام او اعتناء لري، هغه پړاو ته رسېدلي چي د ايمان راوړلو استعداد او وړتيا ئې په بشپړه توګه ځپل شوي نو ځکه ايمان نه راوړي.

بيا رسول اللهؐ ته ويل شوي: ته يوازې هغه څوك انذار کولی شې چي د پند متابعت وکړي

او له رحمن رب په غیاب کي ووېرېږي، دوی ته د بخښني او غوره رزق زېری ورکړه.
ورپسي د رسول اللهﷺ د دعوت په وړاندي د قریشو غبرګون د یوې داسي سیمي له غبرګون سره تشبیه شوی چي لومړی دوه پیغمبران ورغلل او هغوی دواړه تکذیب کړل، بیا د دواړو مرستي ته دریم هم ولېږل شو چي د سیمي استوګنو ته ئې وویل: موږ په یقیني توګه ستاسو لوري ته د الله تعالی لخوا لېږل شوي استازي یو، هغوی ورته وویل: تاسو خو زموږ په څېر بني آدمان یئ، له موږ مو په هیڅ څه کي کوم توپیر نشته، نه الله تعالی تاسو د استازو په توګه لېږلي یئ او نه ئې ستاسو په لاس کوم پیغام لېږلی، تاسو دروغ وایئ، تاسو ځان ته د بدمرغی سبب بولو، که له خپلو خبرو لاس وانه خلئ نو هرو مرو مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب دروررسېږي، پیغمبرانو په ځواب کي ورته وویل: د بدمرغی اسباب مو په خپله له تاسو سره دي، آیا موږ له دې کبله په رجم او دردناك عذاب ګواښئ چي نصیحت درته کوو؟ آیا سمه ده چي هغه کسان په دردناك عذاب وګواښئ چي تاسو ته پند درکوي؟ اصلي خبره دا ده چي تاسو په خپل چلن کي تل تېری او اسراف کوئ، زموږ په خلاف ستاسو دا ګواښونه هم له همدې اسراف راټوکېدلي. د اتلسم آیت له وروستی فقرې معلومېږي چي دا مبارکه سوره هغه مهال نازله شوې چي قریشو هم د رسول اللهﷺ په خلاف دې ته ورته دریځ غوره کړی وو او رسول اللهﷺ او د ده یاران ئې ګواښل چي له خپل دعوت لاس واخلي که نه نو له دردناك عذاب سره به مخامخ شي.
بیا ویل شوي: د ښار له لري څنډې یو سړی په داسي حال کي راغی چي تلوار ئې کولو او وئې ویل: اې زما قومه! د دغو پیغمبرانو متابعت وکړئ، د هغو متابعت وکړئ چي له تاسو د هیڅ بدلي طمع نه لري، مخلص او بې غرضه ناصحان دي، په سمه لار روان دي او هدایت ئې په برخه شوی، ستاسو ئې خوښه خو زه به ولي او د کوم دلیل له مخي د هغه ذات عبادت نه کوم چي زه ئې پیدا کړی یم او تاسو هم په پای کي د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ، د دې مؤمن بنده په ویناوو کي تولي هغه اساسي خبري راغلي چي رسول اللهﷺ د دې آیتونو د نزول پر مهال قریشو ته کولې. دا د پیغمبرانو زړه ور مدافع مؤمن د مخالفینو له لوري شهید شو. له شهادت سره سم هغه ته وویل شول چي جنت ته داخل شه، دې مؤمن شهید له ځان سره دا هیله یووړه چي ویل ئې: کاش زما قوم په هغه څه پوهېدلی چي له کبله ئې زما رب بخښنه راته وکړه او له معززینو ئې وګرځولم، د ده مشرك قوم داسي هلاك شو لکه د اور لمبې چي مړې شي او په سړو ایرو بدلي شي، دې ته څه اړتیا نه وه چي د دوی د هلاکت لپاره له آسمانه کوم لښکر ولېږل شي، بس یوه تونده چیغه کافي وه چي هر څه پرې رانسکور کړي او له منځه ئې یوسي.
د قصې په پای کي ویل شوي: وای افسوس پر هغو خلکو چي کله کوم پیغمبر ورغلی نو پر ده او د ده پر وینا ئې ملنډې وهلې دي او له بد برخلیك سره مخامخ شوي!!
بیا قرآن خپل مخاطبین هغو الهي نعمتونو ته متوجه کوي چي الله تعالی د دوی په برخه کړي، هغه نعمتونه چي په ورکړې کي ئې له الله تعالی پرته هیڅوك هېڅ ډول ونډه نه لري، لکه دا چي مړه زمکه ژوندۍ کړي، سپېره او وچ ډاګونه ئې، وچ شوي بوټي او فصلونه ئې، هغه ونې چي د ژمي یخني وهلې دي او پاڼې ئې رژېدلې، دا ټول بېرته راژوندي کوي، مېوې، دانې

او بوټي راټوکوي، ټول ئې داسي جوړ کړي چي د انسان لپاره د خوراك توکي شي، په هغې کي ئې د کجورو او انګورو بڼونه پيدا کړل، په هغې کي ئې چينې وبهولې، دا ډول ډول خوندوري ميوې او هغه څه چي تاسو ترې ډول ډول خواړه جوړوئ چا پيدا کړي؟!! د دغو بې شميره نعمتونو تقاضاء خو دا وه چي تاسو د خپل مهربان منعم رب د پراخو نعمتونو شکر پر ځای کړی وئ، آيا عجيبه نه ده چي تاسو شکر نه کوئ؟!

بيا د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندي ځلېږي، وايي: الله تعالى ټول جوړه جوړه مخلوقات پيدا کړي، که دا له زمکي راټوکېدونکي بوټي او ونې دي، که انسانان دي او که ډېر نور هغه مخلوقات چي خلك ئې نه پېژني، د قرآن د وينا له مخي د عالم هر څه جوړه جوړه پيدا شوي، او دا هغه څه دي چي ساينس په شلمې پېړۍ کي پرې پوه شو.
بيا ويل شوي: د عالم ټول اشياء او اجزاء محکوم او مقهور دي او د عالم ټول تحولات د معينو ضوابطو او سننو سره سم تر سره کېږي، هيڅ څه له خپل حد تېرى نشي کولى، په خپل وخت کي راځي، په خپل ځای کي راځي. شپه او ورځ د طبيعت دوه حالته دي او لمر، سپوږمۍ د طبيعت دوه اجزاء، ګورئ چي دا دواړه مقهور او محکوم دي، خپل مدار طى کوي، يو د بل مدار ته نه داخلېږي، يو له بل سره ټکر او تصادم نه کوي، مالك الملك الله هر يو په خپل مسير او مدارکي ساتي، د هغه ساتنه کوي او د دغو په حرکت باندي چي کوم نتائج مرتب کېږي، کوم تحولات چي په عالم کي راځي دا هم د معينو سننو او ضوابطو سره سم، يو په بل باندي سبقت نشي کولى، آيا دا دليل د دې خبري د ثبوت لپاره کفايت نه کوي چي دا هر څه يو مالك ټولواك اداره کوي، او هر څه د هغه مالك الله د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

بيا د انسان پام د الله تعالى يوې بلي پېرزوينې ته اړول شوى: الله تعالى انسان ته د کشتۍ جوړولو استعداد ورکړى، په طبيعت کي ئې داسي سنن ايښې چي له انسان سره د کشتۍ په جوړولو کي مرسته کوي او داسي توکي ئې پيدا کړي چي انسان کولى شي له هغوى په استفادې سره کشتۍ جوړه کړي، اوبه ئې داسي جوړي کړې چي ځيني توکي پر خپل سر وړي او له ډوبولو ئې ډډه کوي، انسان ته ئې د داسي کښتيو جوړولو استعداد او توفيق ورکړ چي د بحر اوبه څيري او وړاندي درومي، له همدغو کښتيو په استفادې سره له يوې سيمي بلې ته ځي.

وروسته په ٤٥ آيت سره د سورې دوهمه برخه پيل شوې، په دې برخي کي د بحث دوهمه موضوع څېړل شوې، د قيامت په اړه د منکرينو غلطي انګېرني او له دې انګېرنو راولاړ شوي غلطي کړنلاري او تګلاري څېړل شوې، د دوى اعتراضاتو او پوښتنو ته مضبوط ځوابونه ويل شوي، دا لړۍ د سورې تر پايه دوام کوي.

په سر کي ويل شوي: پر قيامت د عدم باور لومړۍ نتيجه دا ده چي منکرين ئې د سپېڅلو اهدافو لپاره مالي قربانۍ او له مظلومانو او حاجتمنو سره مرستي ته نه چمتو کېږي او کومه توجيه نه ورته مومي، نه يوازي د قربانۍ جذبه او له همنوع سره زړه سوى ئې ځپي بلکي دا کار ورته ناسم او د عقل خلاف برېښي، بيا د قيامت ناڅاپي راتګ او د کافرانو د انګېرنو او تصوراتو خلاف راتګ او هغه مهال د منکرينو بد حالت داسي انځور شوى چي قيامت به ناڅاپي راشي، داسي چي په شپېلۍ کي به پو کړى شي او په همدې سره به دوى له خپلو قبرونو راپاڅي او د خپل رب په لور به ځغلي، اوس خو دوى قيامت لري ګڼي او په راتلو کي

ئې څنډ داسي تعبيروي چي قيامت نشته، خو هغه ورځ به وايي: افسوس پر موږ؛ چا له خوبه راپاڅولو؟ له خپلي مړيني تر قيامت پوري اوږده موده به داسي ګڼي لکه د خوب څو شېبې، هغه مهال به دوی په خپله وايي: دا همغه څه دي چي رحمن رب ئې وعده کړې وه او پيغمبرانو رښتيا ويلي وو، همغه مهال به ټول د الله تعالی په وړاندي په محاسبې لپاره حاضر کړی شي، نه به پر چا کوم ظلم کېږي او نه به له هغه څه پرته سزا ورکول کېږي چي کول ئې.

بيا د جنتيانو حالت داسي انځور شوی: جنتونه به ئې په برخه شي، د خوښيو په جامو کي به پټ او له خوښيو ډکو مشغولتياوو کي به بوخت وي، د جنت د ونو سيوري کي پر تختونو ناست او تکيه به ئې وهلې وي، ډول ډول مېوې به ئې مخي ته پرتې وي او هر هغه څه به ئې په برخه وي چي د دوی زړه ئې غواړي، د مهربان رب د وينا مطابق به ئې په سلام سره استقبال کېږي.

او په مقابل کي ئې د دوزخيانو حالت به داسي وي: دوی ته به وويل شي: اې مجرمانو! له نورو بېل شئ، اې د آدم بچيانو! آيا فرمان مي نه وو درلېږلی چي د شيطان بندګي مه کوئ؛ يقيناً چي هغه ستاسو څرګند دښمن دئ؟ آيا تاسو ته مي نه وو ويلي چي يوازي زما عبادت وکړئ چي همدا يوازينی مستقيمه لار ده؟ آيا نه مي وو درته ويلي چي شيطان ستاسو ډېر نسلونه بې لاري کړل؟

د قيامت په ورځ او د الهي محاسبې په يوه ځانګړي پړاو کي به الله تعالی د کافرانو پر خولو مهر ولګوي، د څه ويلو توان به ترې سلب شي، لاسونه به ئې له الله تعالی سره خبري کوي او پښې به ئې د دوی پر مخکنيو کړنو ګواهي ورکوي.

بيا د مخالفينو دا تبليغات رد شوي چي ويل به ئې: محمد (صلعم) يو پياوړی شاعر او ليکوال دئ او د ده کتاب (قرآن) د شعر کتاب دئ، الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمايي: موږ چي څه ورښودلي هغه شعر نه دئ او د ده شأن تر دې ډېر لوړ دئ چي يو شاعر وي، د ده له لوري چي تاسو ته څه وړاندي شوي دا خو له ځانګړي پند او څرګندوونکي قرآن پرته بل څه نه دي.

بيا قرآن خپل مخاطبين هغو الهي پېرزوينو او نعمتونو ته متوجه کوي چي د څارويو په بڼې کي د انسانانو په برخه شوي؛ فرمايي: آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي الله تعالی هغه څاروي ورته پيدا کړي چي په خپل لاس ئې داسي جوړ کړي چي دوی ته مسخر او رام وي، د دوي په خدمت کي وي او د دوی ګڼ شمېر اړتياوي رفع کړي.

ورپسې د مشرکينو او د دوی د جعلي معبودانو په اړه ويل شوي: مشرکينو له الله تعالی پرته داسي معبودان ځان ته غوره کړي چي ګمان کوي هغوی به ئې خپلو موخو ته په رسېدو کي يا په خپله مرسته وکړي او يا به الله تعالی د هغوی په طفيل او سپارښتنه د دوی حاجتونه ترسره کړي، حال دا چي هغوی نه يوازي د دوی مرسته او ملاتړ نشي کولی بلکي دوی په خپله د هغوی لپاره چمتو شوی لښکر وي.

بيا رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چي د مخالفينو د معاندانه تبليغاتو له کبله مه غمجن کېږه، الله تعالی د دوی په پټو او څرګندو تبليغاتو او توطئو او په دې چي څنګه ئې شنډ او بې اغېزه کړي ښه پوهېږي.

بيا دغه كافر او مشرك انسان چي له الله تعالى پرته نور معبودان لمانځي او له بيا ژوندون انكار كوي ته متوجه كوي چي الله تعالى له يوې نطفې پيدا كړى، هغه ځاى ته ئي رسولى چي له خپلې تګلاري او دريځ دفاع كولى شي، خو هغه خپل زور ځواك د حق او حقيقت په ضد كاروي، حتى د خپل رب په ضد استدلال كوي او وايي: څوك به دا هډوكي په داسي حال كي بياراژوندي كوي چي وراسته شوي وي، رسول اللهﷺ ته ويل شوي چي دې منكر انسان ته ووايي:

۱. همغه ذات به ئې بياراژوندي كوي چي په لومړي ځل ئې پيدا كړل،

۲. همغه ذات به ئې بياراپيدا كوي چي په هر ډول پيدايښت ښه پوه دئ،

۳. همغه ذات به ئې بياراژوندي كوي چي تاسو ته ئې له شنې ونې داسي اور پيدا كړ چي ترې بلول كوئ،

٤. آيا هغه چي آسمانونه او زمكه ئې پيدا كړي پر دي قادر نه دئ چي دوى ته ورته انسانان پيدا كړي؟!

٥. كله چي الله تعالى د كوم كار اراده وكړي نو يوازي همدا اراده او دا حكم كافي دئ چي ووايي: وشه، او هغه كار له كوم ځنډ پرته ترسره كېږي.

د سورې په پاى كي او د يوې جامع او ښكلې تتمې په توګه ويل شوي: نو سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چي د هر څه واك د ده په لاس كي دئ او د هغه لوري ته ورګرځول كېږئ. يعني هر څه د ده په اختيار كي او د هغه د ارادې په وړاندي مقهور دي، په پاى كي د خپل رب په لوري درومي، تاسو هم د نورو شيانو په څېر د خپل ژوند په پاى كي د خپل رب خوا ته درومئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يسٓ ﴿١﴾ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣﴾ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤﴾
تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٥﴾

ی س، قسم په باحکمته قرآن چي ته یقیناً یو له پیغمبرانو یې، پر مستقیمي لاري، د مهربان عزتمن ذات (له لوري) لاندي لیږل‌نه.

(۱-۵)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دادي:

- دلته پر قرآن لوړه شوې او ورپسې د دې قسم د ځواب په توګه ویل شوي: یقیناً چي ته

يو له پيغمبرانو يې، پر مستقيمې لارې، د مهربان عزتمن ذات له لورې لانديې لېږنه. بايد وګورو چې د دې قسم او د هغه د ځواب تر منځ تړاو څنګه دئ، آيا مطلب ئې دا دئ چې الله تعالی د دې لپاره د قرآن پر عظمت لوړه کړې چې مخاطب مطمئن کړي چې له کوم شك او ترديد پرته رسول اللهؐ د الله تعالی استازی او پيغمبر دئ؟ او که ئې مطلب دا دئ چې دا له حکمتونو ډك قرآن شهادت ورکوي چې حامل ئې د الله تعالی پيغمبر دئ؛ دا ځکه چې له يوه پيغمبر پرته بل څوك داسې له حکمتونو ډك کتاب نه شي راوړلی؟ د دې پوښتنو ځواب دا دئ: د قسم اصلي معنی دا ده چې په دې سره قسم کوونکی هغه څه د خپلې مدعا لپاره د شاهد په توګه وړاندې کوي چې قسم ئې پرې خوړلی، پر الله تعالی د قسم معنی دا ده چې قسم کوونکی الله تعالی پر خپلې مدعاء شاهد نيسي او وايي: الله تعالی شاهد دئ چې زما وينا رښتيا ده. د قرآن ټول قسمونه دې ته ورته دي او په ټولو کې مقسم به (هغه څه چې قسم پرې ياد شوی) د شاهد په توګه وړاندې شوی، دلته هم قرآن د داسې شاهد په توګه وړاندې شوی چې څو خبرې ترې ثابتېږي: ۱- رسول اللهؐ د الله تعالی پيغمبر دئ، ۲- لار ئې سمه او مستقيمه ده، ۳- د مهربان عزتمن ذات له لورې رالېږل شوی.

- دې ته مو پام وي چې مسلمان ته له الله تعالی پرته په بل څه لوړه کول حرام دي، که څه هم هغه د قرآن او کعبې په څېر يو سپېڅلی شی وي، دا ځکه چې نه قرآن د چا د مدعاء لپاره شاهد کېدی شي او نه کعبه، داسې قسم هم له ادبي پلوه ناسم دئ او هم له شرعي پلوه ناجائز، قسم د يوه شي پر عظمت د لوړې کولو په معنی نه دئ که داسې وی نو پر داسې سپېڅلو شيانو به قسم جائز وو، خو قسم په عامه توګه او په قرآن کې په خاصه توګه د دې لپاره وي چې مقسم به د شاهد په توګه وړاندې شي داسې لکه په پورتني قسم کې چې قرآن د وروستيو دريو مدعاوو د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې شوی. بايد وګورو چې قرآن څنګه د دغو مدعاوو د اثبات شهادت ورکوي. حقيقت دا دئ چې قرآن د رسول اللهؐ ستره معجزه ده، دومره ستره چې د هيڅ پيغمبر هيڅ معجزه نشي ورسره برابرېدی، دا د موسی **صلعم** تر عصاء او يد بيضاء، او د عيسی **صلعم** د مړي له ژوندي کولو او د ړوند تر روغولو ډېره ډېره لوړه او ستره معجزه ده، د مخکنيو پيغمبرانو معجزې داسې وې لکه د دوی رسالت، د هغوی د دعوت ساحه او موده محدوده وه، معجزې ئې هم د هغو کسانو لپاره وې چې په خپلو سترګو ئې ليدلې، يوازې دوی ئې پرې قانع کولی شو، نه ئې د خپلې زمانې هغه خلك قانع کولی شو چې دا معجزې ئې په خپلو سترګو نه وې ليدلې او نه د دوی تر رحلت وروسته وګړي، د عيسی **صلعم** د هغو سترو سترو معجزو په ليدلو سره د ګوتو په شمېر خلکو پرې ايمان راوړ، د خپل ښار خلکو ئې نه يوازې ايمان رانه وړ بلکې د هغوی د مخالفتونو او تورونو له کبله مجبور شو سيمه پرېږدي!! د رسول اللهؐ دعوت عام دئ، ټوله نړۍ او ټول خلك احتوی کوي، تر قيامت پورې دوام لري، د ده معجزه هم بايد د ده د دعوت او رسالت په څېر پراخ ابعاد ولري او اغېز ئې تلپاتی وي، قرآن دغسې يوه ستره او تلپاتې معجزه ده، الله تعالی هغو خلکو ته چې ويل به ئې: ولې محمد (**صلعم**) ته هغه معجزې نه دي ورکړی شوې چې مخکنيو پيغمبرانو ته ورکړی شوې وې، دا ځواب ورکړی: رسول اللهؐ ته هغه ډول معجزې ځکه نه دي ورکړی شوې چې مخکنيو خلکو پرې ايمان رانه وړ، آيا تاسو به په داسې معجزو قانع شوي

وئ؛ سره له دې چې ستاسو پلرونو ونه منلې؟!! آيا دا قرآن د معجزې په توګه کافي نه دئ؟!!
لکه چې فرمايي:

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾ أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ 

العنکبوت: ٥٠-٥١

او وئې ويل: ولې د خپل رب له لوري څرګندي نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ ووايه: يقيناً چې نښې خو له الله سره دي، او زه يوازې يو څرګند نذير يم، آيا دا ورته کفايت نه کوي چې موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، يقيناً چې په دې کې د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

دا آيتونه وايي: چا چې له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي؛ نه په دلائلو قانع کېږي او نه په معجزو، دا دئ ګورئ چې د قريشو په وړاندې د رسول اللهﷺ په څېر ستر شخصيت ولاړ دئ، د الله تعالی لوري ته بلنه ورکوي، د قرآن په څېر له معجزو ډک کتاب ورته وړاندې شوی، خو هغوی نه يوازې له ايمان راوړو ډډه کوي بلکې له رسول اللهﷺ د داسې خارق العاده معجزو غوښتنه کوي چې د دوی شيطان پرې قانع شي، وايي: ولې د ده د رب له لوري څرګندي نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ ولې داسې معجزې نه دي ورکړې شوې چې مخکنيو پيغمبرانو ته ورکړې شوې وې؟ رسول اللهﷺ ته ويل شوي چې د دوی په ځواب کې ووايي: يقيناً چې نښې له الله سره دي، او زه يوازې يو څرګند نذير يم، له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د ښودلو واك، زه فقط يو نذير يم چې د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو تاسو ته خبرداری درکوم. د دوی د غلطې غوښتنې په ځواب کې فرمايي: آيا د دوی د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډك کتاب چې ته ئې پرې لولې کفايت نه کوي؟!! يقيناً چې په دې کې د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً (رحمت) او (ذکر) دئ، هغه چې د ايمان راوړو استعداد او وړتيا ئې نه ده ځپل شوې هغوی به هرومرو دا کتاب د الله تعالی يوه لويه پېرزوينه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

همداراز فرمايي:

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ لَوۡلَآ أُوتِيَ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ مُوسَىٰٓۚ أَوَلَمۡ يَكۡفُرُواْ بِمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۖ قَالُواْ سِحۡرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓاْ إِنَّا بِكُلّٖ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾

القصص: ٤٨

نو کله چې زموږ له لوري حق ورغی وئې ويل: ولې ده ته هم موسی ته د ورکړی شوو (معجزو) په څېر (معجزې) نه دي ورکړی شوې؟! آيا تر دې د مخه په هغه څه کافران نشول چې موسی ته ورکړی شوي وو؟ وئې ويل: دوه کوډې (سحر) چې يو د بل ملاتړ کوي، او وئې

ويل: موږ له هر يوه انکار کوونکي يو.

دا دئ ګورئ چې قريشو له رسول اللهﷺ داسي معجزې غوښتلې چې موسی صلعم ته ورکړی شوي وې، د دوی په ځواب کي ويل شوي: آيا د موسی عليه السلام له ټولو معجزو سره سره له ده او معجزو ئې انکار ونه شو؟ ستاسو پلرونو د هغه معجزو ته د سحر په سترګه وکتل او تاسو د محمد عليه السلام دعوت ته، دواړه مو کوډي او سحر او يو د بل موئيد وګڼل.

قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی کتاب دئ، د دې ادعاء اثبات لپاره يوازې دا کافي ده چي د اسلام دښمنانو په تېرو څوارلسو پېړيو کي په ټول قرآن کي يو داسي مورد ونه شو موندلی چي له علمي او عقلي پلوه د اعتراض وړ وي او د علم او عقل خلاف خبره ئې کړې وي!! نه يوازې دا بلکي د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کي داسي حقائقو ته اشاره شوې چي انسان ډېر وروسته او د زياتو علمي تحقيقاتو او څېړنو په نتيجه کي پرې پوه شوی، د هغو آيتونو شمېر سلګونو ته رسېږي چي هر يو ئې ستر علمي اعجاز دئ، داسي حقائق ئې په ګوته کړي چي انسان په نولسمي، شلمي او حتی يووېشتمي پېړی کي پرې پوه شوی، ما د (ساينس او د قرآن علمي اعجاز) په نامه کتاب کي نږدې دوه سوه داسي آيتونه راغونډ او تشريح کړي چي هر يو ئې له علمي پلوه داسي ستره معجزه ده چي د هيڅ پيغمبر معجزه برابري نشي ورسره کولی. هر هغه څوك چي ضمير او وجدان ئې نه وي مړ شوی، انساني مشاعر او عواطف ئې له منځه نه وي تللي، د ايمان راوړلو استعداد ئې په بشپړه توګه نه وي ځپل شوی، د دې آيتونو د هر يوه په ليدلو سره به په قطعي توګه دې نتيجې ته رسېږي چي قرآن حتماً د داسي ذات کتاب دئ چي د عالم پر ټولو اسرارو پوه دئ، دا د يوه عادي انسان وينا نه شي کېدی، هيڅ انسان که هر څومره نابغه وي په داسي حقائقو پنځلس پېړۍ وړاندي نه شو پوهېدی چي ساينس او ساينسپوهان له ډېرو ژورو او پر له پسي تحقيقاتو او څېړنو وروسته دا دئ اوس په شلمي او يووېشتمي پېړی کي پرې پوه شول. ما او زما د پېړۍ همزولو رسول اللهﷺ نه دئ ليدلی، د ده داسي معجزه مو نه ده ليدلې چي مخکنيو پيغمبرانو صلی ته ورکړی شوي وې، قرآن وايي چي ده ته دا ډول معجزې نه وې ورکړی شوې، خو د قرآن او د قرآن دغو آيتونو ته په پام سره پر رسول اللهﷺ د الله تعالی د يوه رښتيني پيغمبر په توګه ايمان لرو او د زړه سلول سلول مو ګواهي ورکوي چي دا قرآن د الله تعالی کتاب دئ او رسول اللهﷺ د هغه پيغمبر، هيڅ انسان نشي کولی د قرآن په څېر له حکمتونو او اعجازونو ډك کتاب وړاندي کړي، د دې اعتقاد او باور لپاره دومره مضبوط دلائل لرو چي زړه او دماغ مو په بشپړه توګه پرې قانع شوی، د زړه په هيڅ ګوښي کي مو هيڅ شك او تردد ته هيڅ مجال نه دئ پاته. که داسي معجزه هم وګورو چي مخکنيو انبياوو ته ورکړی شوې وې نو زموږ په ايمان کي به هيڅ تغيير رانشي.

- همداراز دا آيتونه وايي: د رسول اللهﷺ تګلاره مستقيمه ده، د ده له شخصيت او تګلارې معلومېږي چي دی د الله تعالی رسول دئ، هر انسان او شخصيت ئې له خپلي کړنلارې او تګلارې معلومېدی شي، د هر انسان تګلاره موږ ته وايي چي رحماني ده که شيطاني، د حق په لوري تمايل لري او که د باطل په لوري، بنسټ ئې پر حق او عدالت ولاړ دئ که پر ظلم او

باطل، رسول اللهﷺ ته چي په قرآن کي کومه فکري، اخلاقي او عملي تګلاره ترسیم شوې؛ پر حق او عدالت ولاړه تګلاره ده، کوږوالی په کي نشته، د حق او عدالت خلاف خبره پکي نشته، د عقل او علم خلاف وینا په کي نشته، له هر څه ئې معلومېږي چي دا تګلاره د داسي رحمن رب له لوري ورته ترسیم شوې چي پر انسان زیات مهربان او رؤف دئ، په دې تګلاري کي داسي مورد نشو موندلی چي د اعتراض وړ وي، داسي چي له حق او عدالت بنې یا کيڼ لوري ته د انحراف کومه وړه او معمولي نښه په کي تر سترګو شي.

د قرآن له ځلاندو لاربښوونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا لاربښود کتاب د مهربان عزتمن ذات له لوري رالېږل شوی. یقیناً چي هر هغه څوك به هرومرو دا کتاب د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ګڼي او له هغه به پند اخلي چي د حق په لټه کي وي، په مستقیمي لار د تلو تلوسه لري او د ایمان راوړو استعداد او وړتیا ئې نه وي ځپل شوې. د قرآن له ویناوو معلومېږي چي دا لاربښود کتاب د عزتمن مهربان رب له لوري نازل شوی، په قرآن کي د انسان په اړه د دې رحمن رب د پراخ رحمت او پېرزویني مظاهر له ورایه ځلېږي، عزت ته د رسېدو څرګنده لار ئې د انسان په وړاندي ترسیم کړې.

لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمْ فَهُمْ غَٰفِلُونَ ﴿٦﴾ لَقَدْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَىٰٓ أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٧﴾ إِنَّا جَعَلْنَا فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ أَغْلَٰلًا فَهِىَ إِلَى ٱلْأَذْقَانِ فَهُم مُّقْمَحُونَ ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٩﴾ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾

تر څو هغه وګړي انذار کړې چي پلرونه ئې نه دي انذار شوي نو ځکه غافل دي، یقیناً چي دا وینا د دوی پر ډېریو محققه (رښتینې) شوې نو ځکه ایمان نه راوړي، یقیناً چي موږ د دوی په غاړو کي داسي زنځیرونه اچولي چي تر زنو پوري (رسېدلي) دي نو ځکه دوی سر نېغ نیونکي دي، او موږ هم د دوی تر مخ ځانګړې خنډونه ګرځولي او هم د دوی تر شا ځانګړې خنډونه، نو دوی مو داسي پوښلي چي لیدل نشي کولی، او پر دوی برابره ده چي انذار ئې کړې یا ئې انذار نه کړې؛ (هیڅکله) ایمان نه راوړي.

(٦-١٠)- په دې مبارکو آیتونو کي له یوې خوا د رسول اللهﷺ د بعثت دې اړخ ته اشاره شوې چي دنده ئې د هغو وګړو انذار او خبرداری ورکول دي چي نه په دوی کي کوم پیغمبر مبعوث شوی او نه د دوی په څو پېړیو مخکنیو کي، له بلې خوا د هغو وګړو د ایمان نه راوړلو ځیني اسباب ښودل شوي چي د مخالفت لار ئې غوره کړې، وایي: دوی ته غلط عقائد او باورونه له پلار نیکه په میراث پاته شوي، نه په دوی کي کوم لاربښود پیغمبر تېر شوی او نه ئې په پلرونو کي، غافل او جاهل پاته شوي، د دوی د اکثریت په اړه دا وینا صدق کوي چي له

حقائقو بې خبره او غافل دي نو ځکه ايمان نه راوړي، د دوی بدو افکارو او اخلاقو، جاهلانه غرور او کبر داسې بڼه غوره کړې لکه چې د دوی د غاړو پړې پړې زنځيرونه ترې جوړ شوي وي او د دوی سرونه ئې نېغ ساتلي او لاندې کتلو ته ئې نه پرېږدي، حالت ئې داسې دئ لکه چې تر مخ ئې هم خنډونه وي او څو گامه آخوا نشي ليدلی او تر شا ئې هم خنډونه وي او نه پوهېږي آخوا څه تېر شوي، نه له ماضي پند اخلي او نه مستقبل ته پام او اعتناء لري، داسې لکه چې پر سترگو ئې پردې وي، د جهل او تعصب تورو پردو د دوی سترگې پوښلې دي، د حقائقو له ليدلو عاجز شوي، د دوی په اړه انذار او عدم انذار څه توپير نه لري، پر دوی کوم اغېز نه کوي او کومه گټه نه وررسوي، هغه پړاو ته رسېدلي چې د ايمان راوړلو استعداد او وړتيا ئې په بشپړه توگه ځپل شوې نو ځکه ايمان نه راوړي.

دې ته مو بايد پام وي چې دلته أَغْلَٰلًا: زنځيرونه، سَدًّا: بند او خنډ، فَأَغْشَيْنَٰهُمْ: دوی مو پوښلي؛ په مجازي معنی راغلي، هيڅ يو ئې په حقيقي معنی او د جسمي زنځير، خنډ او پردې په معنی نه دئ راغلی، د دوی پر سترگو د جهل او تعصب توري پردې پرتې دي، په جهل وهلي او شرك ځپلي ماحول کې نښتي دي، نه له ماضي د پند اخيستلو وړتيا لري او نه له تيارو د وتلو او د روښانه مستقبل په لوري د تللو استعداد، کبر او بې ځايه غرور د دوی سرونه داسې لوړ ساتلي چې د حق په وړاندې سر ټيټولو ته ئې نه پرېږدي.

إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكْرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ ۖ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾ إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا۟ وَءَاثَٰرَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَىْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ فِىٓ إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿١٢﴾

يقيناً چې ته يوازې هغه څوك انذار کولی شې چې د پند متابعت وکړي او له رحمن رب په غياب کې ووېرېږي، نو هغه ته د ځانگړې بخښنې او ځانگړي غوره رزق زېری ورکړه، يقيناً چې موږ مړي راژوندي کوو او هغه څه ليکو چې دوی وړاندې کړي او د گامونو نښې ئې هم، او هر څه مو په يوه څرگند پرانيستي کتاب کې درج کړي.

(۱۱-۱۲)- دلته رسول اللهﷺ ته ويل شوي: ته يوازې هغه څوك انذار کولی شې چې د پند متابعت وکړي او له رحمن رب په غياب کې ووېرېږي، داسې وگړو ته د ځانگړې بخښنې او ځانگړي غوره رزق زېری ورکړه، الله تعالی به هغوی ته بخښنه کوي او په دنيا او آخرت کې به غوره رزق ورپه برخه کوي. دې ته دې پام وي چې الله تعالی مړي راژوندي کوي، همداسې به د هغو خلکو مړه زړونه هم راژوندي کوي چې د کفر له کبله د دوی عواطف او مشاعر مړه شوي، په ايمان سره به دغه مړه زړونه راژوندي کړي، خو د الله تعالی معامله له خپلو بندگانو سره د دوی د کړنو له مخې وي، دا انتظام ئې کړی چې د هر يوه وړاندې او

وروسته عملونه او آثار او نتائج په دقيقه توګه او په ليکلي بڼه ثبت او په پرانيستي کتاب کي درج شي، د همدې کتاب له مخي له هر انسان سره مناسبه معامله کوي.

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلًا أَصۡحَٰبَ ٱلۡقَرۡيَةِ إِذۡ جَآءَهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿١٣﴾ إِذۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ
فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم مُّرۡسَلُونَ ﴿١٤﴾ قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ
مِّثۡلُنَا وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَكۡذِبُونَ ﴿١٥﴾ قَالُواْ رَبُّنَا يَعۡلَمُ إِنَّآ
إِلَيۡكُمۡ لَمُرۡسَلُونَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّا تَطَيَّرۡنَا بِكُمۡۖ
لَئِن لَّمۡ تَنتَهُواْ لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٨﴾ قَالُواْ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمۡۚ
أَئِن ذُكِّرۡتُمۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ ﴿١٩﴾

او د هغو کليوالو مثال ورته تېر کړه چي پيغمبران ورغلل، هغه مهال چي دوه مو ورولېږل خو دوی تکذيب کړل نو په درېيم مو د دوی ملاتړ وکړ، نو وئې ويل: يقيناً چي موږ ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي يو، وئې ويل: تاسو خو له دې پرته بل څه نه يئ چي زموږ په څېر بني آدمان يئ، او رحمن رب هيڅ څه نه دي لېږلي، تاسو له دې پرته بل څه نه يئ چي دروغ وايئ، وئې ويل: زموږ رب ښه پوهېږي چي موږ په يقيني توګه ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي يو، او پر موږ له څرګند ابلاغ پرته بل څه (ذمه والي) نشته، وئې ويل: يقيناً چي تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، که ډېره ونه کړئ حتماً مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب دروررسېږي، وئې ويل: بدمرغي مو په خپله له تاسو سره ده، آيا سره له دې چي پند درکړی شي، نه؛ بلکي تاسو مسرف وګړي يئ.

(۱۳-۱۹)- په دې مبارکو آيتونو کي رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چي خپلو مخاطبينو ته د هغو وګړو مثال وړاندي کړي چي پيغمبران ورغلل، لومړی دوه ورولېږل شول خو هغوی دواړه تکذيب کړل، بيا د دواړو مرستي ته درېيم هم ولېږل شو چي د سيمي استوګنو ته ئې وويل: موږ په يقيني توګه ستاسو لوري ته د الله تعالی لخوا لېږل شوي استازي يو، هغوی ورته وويل: تاسو خو زموږ په څېر بني آدمان يئ، له موږ مو په هيڅ څه کي کوم توپير نشته، نه الله تعالی تاسو د استازو په توګه لېږلي يئ او نه ئې ستاسو په لاس کوم پيغام لېږلی، تاسو له دې پرته بل څه نه يئ چي دروغ وايئ، پيغمبرانو ورته وويل: زموږ رب ښه پوهېږي چي موږ په يقيني توګه ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي يو، دنده مو يوازي دا ده چي د

الله تعالی پیغام په بشپړ امانت او په واضح توګه تاسو ته ورسوو، هغوی ورته وویل: تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، که له خپلو خبرو لاس وانه خلئ نو هرو مرو مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب دروررسیږي، پیغمبرانو په ځواب کي ورته وویل: د بدمرغۍ اسباب مو په خپله له تاسو سره دي، ستاسو کفر، شرك، ظلم، فساد او ګناهونه د بدمرغۍ اصلي اسباب دي، آیا موږ له دې کبله په رجم او دردناك عذاب ګواښئ چي نصیحت درته کوو؟ آیا سمه ده چي هغه کسان په دردناك عذاب وګواښئ چي تاسو ته پند درکوي؟ اصلي خبره دا ده چي تاسو په خپل چلن کي تل تېری او اسراف کوئ، زموږ په خلاف ستاسو دا ګواښونه هم له همدې اسراف راټوکېدلي.

د اتلسم آیت له وروستۍ فقرې معلومېږي چي دا مبارکه سوره هغه مهال نازله شوې چي قریشو هم د رسول اللهﷺ په خلاف دې ته ورته دریځ غوره کړی وو او رسول اللهﷺ او د ده یاران ئې ګواښل چي له خپل دعوت لاس واخلي که نه نو له دردناك عذاب سره به مخامخ شي.

وَجَآءَ مِنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ رَجُلٞ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُواْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢٠﴾ ٱتَّبِعُواْ
مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا لِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ
تُرۡجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ عَنِّي
شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّيٓ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّيٓ ءَامَنتُ
بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ ﴿٢٥﴾

او د ښار له لرې څنډې یو داسي سړی راغی چي تلوار ئې کولو؛ وئې ویل: اې زما قومه! د دغو پیغمبرانو متابعت وکړئ، د هغو متابعت وکړئ چي کومه بدله نه درنه غواړي او دوی هدایت شوي دي. او څه راباندي شوي چي د هغه ذات عبادت ونه کړم چي زه ئې پیدا کړی یم او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ، آیا له ده پرته داسي معبودان ونیسم چي که رحمن رب د کوم تاوان اراده راته وکړي نه د دوی شفاعت کوم څه رانه دفع کولی شي او نه مي ژغورلی شي، یقیناً چي زه به هغه مهال په څرګندي تېروتني کي یم، نو له ما ئې واورئ چي ما په یقیني توګه ستاسو پر رب ایمان راوړی.

(۲۰-۲۵)- دلته د هغه تاریخي پېښي ته اشاره شوې چي د ښار له لرې څنډې یو سړی په داسي حال کي راغی چي تلوار ئې کولو او وئې ویل: اې زما قومه! د دغو پیغمبرانو متابعت وکړئ، د هغو متابعت وکړئ چي له تاسو د هیڅ بدلې طمع نه لري، مخلص او بې غرضه ناصحان دي، په سمه لار روان دي او هدایت ئې په برخه شوی، ستاسو ئې خوښه خو

زه به ولي او د كوم دليل له مخي د هغه ذات عبادت نه كوم چي زه ئي پيدا كړی يم او تاسو هم په پای كي د هغه لوري ته ورګرځول كيږئ، آيا له الله تعالی پرته داسي معبودان غوره كړم چي كه رحمن رب د كوم تاوان اراده راته وكړي نو د دوی شفاعت نه كوم څه رانه دفع كولی شي او نه مي ژغورلی شي، يقيناً چي زه به هغه مهال په څرګندي تېروتني كي يم، نو له ما ئي واورئ چي ما په يقيني توګه ستاسو پر رب ايمان راوړی.

د دې مؤمن انسان په دې زړه راښكونكو ويناوو كي څو مهم مطالب ځليږي: پيغمبران ئي په څو موجزو جملو كي په ډېره دقيقه توګه معرفي كړي، وايي: له خلكو نه مادي طمع لري او نه معنوي، نه شكراني او نذراني ترې غواړي او نه د ستايني، تقدير او تمجيد طمع او د دوی لويي منل او غاړه ورته ايښودل، هدايت ئي په برخه شوی، په سمه لار روان دي او خلكو ته په سمي لار د تلو بلنه وركوي، دا په حقيقت كي د يوه صالح او رښتيني داعي اساسي ځانګړتياوي دي، په همدې سره يو مخلص داعي له ټګمار او دوكه مار مبلغ بېلولی شو، د پيغمبرانو له معرفي وروسته وايي: ستاسو ئي خوښه خو زه به ولي او د كوم دليل له مخي د هغه ذات عبادت نه كوم چي زه ئي پيدا كړی يم او تاسو هم په پای كي د هغه لوري ته ورګرځول كيږئ، ولي به د الله تعالی پر ځای داسي جعلي معبودان لمانځم چي نه زما په پيدايښت كي څه ونډه لري او نه مي برخليك د هغوی په واك كي دئ، يعني هغه هم پر الله تعالی خپل پوخ او پر دلائلو ولاړ ايمان اعلان كړ او هم پر آخرت، قوم ته ئي ويلي: كه وغواړئ يا ونه غواړئ د خپل رب لوري ته تلونكي يئ، آيا له الله تعالی پرته داسي معبودان غوره كړم چي كه رحمن رب د كوم تاوان اراده راته وكړي نو د دوی شفاعت نه كوم څه رانه دفع كولی شي او نه مي ژغورلی شي، تاسو په دې باور يئ چي دا جعلي معبودان د الله تعالی په وړاندي ستاسو سپارښتنه او شفاعت كوي، دوی الله تعالی ته ستاسو په اړه سپارښتني كوي چي حاجتونه مو ترسره كړي، حال دا چي د دوی سپارښتني او شفاعت نه كومه ګټه رسولی شي او نه كوم ضرر دفع كولی شي، كه زه داسي جعلي معبودان غوره كړم او له هغوی كومه طمع ولرم نو سخته غلطي به مي كړې وي او له سمي لاري به كوږ شوی يم، نو تاسو ته په جګ ږغ وايم: ښه ئي واورئ چي ما لا له وړاندي ستاسو پر حقيقي رب ايمان راوړی.

د دې مؤمن بنده په ويناوو كي ټولي هغه اساسي خبري راغلي چي رسول اللهﷺ د دې آيتونو د نزول پر مهال قريشو ته كولي.

قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ
ٱلۡمُكۡرَمِينَ ﴿٢٧﴾ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِن جُندٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا
كُنَّا مُنزِلِينَ ﴿٢٨﴾ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ ﴿٢٩﴾ يَٰحَسۡرَةً عَلَى

ٱلۡعِبَادِۚ مَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٣٠﴾

(ورته) وويل شول: دې جنت ته ننوځه، وئې ويل: كاش زما قوم په هغه څه پوهېدلی چي له كبله ئې زما رب بخښنه راته وكړه او له معززينو ئې وګرځولم، او له ده وروسته مو نه د ده پر قوم له آسمانه كوم لښكر ولېږلو او نه ئې لېږونكي وو، دا خو له يوې توندي چيغې پرته بل څه نه وو چي له كبله ئې همغه مهال سړې ايرې شول، وای افسوس پر دغو بندګانو، هيڅ پيغمبر نه دئ ورغلی مګر دا چي پر هغه ئې استهزاء كړې!!

(۲٦-۳۰)- په دې مباركو آيتونو كي څو مهمي لارښووني زموږ په وړاندي ځلېږي:
● دا د پيغمبرانو زړه ور مدافع مؤمن د مخالفينو له لوري شهيد شو. له شهادت سره سم هغه ته وويل شول چي جنت ته داخل شه، له دې څو خبري معلومېږي: ۱- د شهيد او جنت ته د ده د فوري ننوتلو تر منځ نه خنډ شته او نه ځنډ، له حق د دفاع په لار كي شهادت جنت ته د داخلېدو سند دئ، ۲- د برزخ ژوند حق دئ، د قيامت د ورځي تر محاسبې وړاندي جنت ته يو ډول ننوتل شته، له دې حقيقته انكار د قرآن له دغه څرګند آيت د انكار په معنی دئ. په دې اړه دا روايت ډېر وضاحت كوي چي وايي:
عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْنَا عَبْدَ اللهِ عَنْ هَذِهِ الآيَةِ (وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِى سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ) قَالَ أَمَا إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ « أَرْوَاحُهُمْ فِى جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِى إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمُ اطِّلاَعَةً فَقَالَ هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئًا قَالُوا أَىَّ شَىْءٍ نَشْتَهِى وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا فَفَعَلَ ذَلِكَ بِهِمْ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يُسْأَلُوا قَالُوا يَا رَبِّ نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِى أَجْسَادِنَا حَتَّى نُقْتَلَ فِى سَبِيلِكَ مَرَّةً أُخْرَى. فَلَمَّا رَأَى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا ». رواه مسلم
له مسروق ﷺ روايت دئ چي له عبدالله ﷺ مو د دې آيت په اړه وپوښتل (وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِى سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ: هغه كسان مړه مه انګېره چي د الله په لار كي شهيدان شوي، بلكي دوی ژوندي دي او د خپل رب خوا ته روزي وركول كېږي)، وئې ويل: موږ په دې اړه پوښتنه كړې ده نو وئې ويل: "د دوی ارواح به د شنو مرغانو په كالبوت كي وي، داسي قناديل به ئې وي چي تر عرش لاندي به راځوړند وي، د جنت هر ځای ته چي وغواړي ځي به او بېرته به دغو قنديلونو ته ستنېږي، يو ځل به الله تعالی هغوی ته په يوه ډول څرګند شي او وبه وايي: آيا كوم څه مو زړه غواړي؟ وبه وايي: زړه به مو نور څه وغواړي په داسي حال كي چي د جنت هر ځای ته چي وغواړو درومو؟!! درې ځلي به همداسي وكړي نو كله چي وګوري موږ نه پرېښودل كېږو او بيا بيا به پوښتل كېږو نو وبه وايي: اې زموږ ربه! غواړو زموږ ارواح زموږ جسدونو ته وګرځول شي چي يو ځل بيا ستا په لار كي ووژل شو! كله چي د دوی حالت داسي وليدلی شي چي هيڅ څه ته حاجت نه لري نو پرې به ښودی شي.
له دې روايت دغه خبري معلومېږي: ۱- شهيدان به تر قيامت وړاندي جنت ته تللی شي،

۲- د دوی ارواح ته به نوی کالبوت ورکړی شي، ۳- استوګنځی به ئې تر عرش لاندي وي، ٤- له دې پرته به بله هيله او آرمان نه لري چي ارواح ئې مخکني جسد ته وګرځول شي او بيا د الله تعالی په لار کي وجنګيږي.

- دې مؤمن شهيد له ځان سره دا هيله يووړه چي ويل ئې: کاش زما قوم په هغه څه پوهېدلی چي له کبله ئې زما رب بخښنه راته وکړه او له معززينو ئې وګرځولم، يعني پر الله تعالی او آخرت ايمان، د پيغمبرانو ملتيا، له حق د دفاع په لار کي له مرګ وېره نه درلودل، د همدغو له کبله الله تعالی زما ګناهونه راوبخښل او په جنت کي ئې دا لوړ مقام راپه برخه کړ.
- د ده مشرک قوم داسي هلاک شو لکه د اور لمبې چي مړې شي او په سړو ايرو بدلي شي، دې ته څه اړتيا نه وه چي د دوی د هلاکت لپاره له آسمانه کوم لښکر ولېږل شي، بس يوه تونده چيغه کافي وه چي هر څه پرې رانسکور کړي او له منځه ئې يوسي.
- وای افسوس پر هغو خلکو چي کله کوم پيغمبر ورغلی نو پر ده او د ده پر وينا ئې ملنډي وهلې دي او له همدې کبله له بد برخليک سره مخامخ شوي!!

أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ أَنَّهُمۡ إِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴿٣١﴾ وَإِن كُلٌّ لَّمَّا
جَمِيعٌ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ﴿٣٢﴾

آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي تر دوی وړاندي مو څومره نسلونه داسي هلاک کړل چي د دوی په لوري بېرته نه راستنيږي او هر يو به ئې زموږ په وړاندي غونډ حاضر کړی شوي وي.

(۳۱-۳۲)- آيا د پيغمبرانو صلی د دعوت مخالفينو هغو تاريخي پېښو ته پام نه دئ کړی چي په ترڅ کي ئې ګڼ شمېر هغه سرکښ قومونه په شديد الهي عذاب اخته شوي چي د دوی په څېر او د دوی اسلاف ول، جرړي ئې داسي قطع شوې او تغر ئې داسي د تل لپاره ټول شو چي نه د دوی د بيا راستنېدو څه امکان شته او نه د دوی د تهذيب او تمدن د اعادې امکان، ټول د الله تعالی په لور تللي او د ده په وړاندي به راغونډ او حاضر کړی شي. د رسول اللهﷺ مغرور دښمنان او په خپل زور ځواک دوکه شوي مخالفين دي پوه شي چي دوی ته هم دغسي برخليک منتظر دئ.

وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا وَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهَا حَبًّا فَمِنۡهُ يَأۡكُلُونَ ﴿٣٣﴾
وَجَعَلۡنَا فِيهَا جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعۡنَٰبٍ وَفَجَّرۡنَا فِيهَا مِنَ ٱلۡعُيُونِ ﴿٣٤﴾ لِيَأۡكُلُواْ مِن
ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۚ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ﴿٣٥﴾

او دوی ته دا مړه زمکه یوه څرګنده نښه ده چې موږ ژوندۍ کړه او له هغې مو هغه دانه راوایستله چې دوی ئې خوري، او په هغې کې مو د کجورو او انګورو بڼونه پیدا کړل او په هغې کې مو چینې وبهولې، ترڅو ئې مېوه او هغه څه وخوري چې دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آیا شکر نه کوي؟!

(۳۳-۳۵)- دلته قرآن خپل مخاطبین هغو الهي نعمتونو ته متوجه کوي چې الله تعالی د ~~دوی په برخه کړي، هغه نعمتونه چې په ورکړې کې ئې له الله تعالی پرته هیڅوك هیڅ~~ ډول ونډه نه لري، آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې دا مړه زمکه، سپیره او وچ ډاګونه ئې، وچ شوي بوټي او فصلونه ئې، هغه ونې چې د ژمي یخنې وهلې دي او پاڼې ئې رژېدلې، دا ټول په پسرلي کې څوك بېرته راژوندي کوي؟ دا مېوې، دانې او بوټي د چا په اراده راټوکېږي، چا داسې جوړ کړي چې د انسان لپاره د خوراك توکي شي؟!! چا په هغې کې د کجورو او انګورو بڼونه پیدا کړل؟! چا په هغې کې چینې وبهولې، دا ډول ډول خوندوري مېوې او هغه څه چې تاسو ترې ډول ډول خواړه جوړوئ چا پیدا کړي؟!! د دغو بې شمېره نعمتونو تقاضاء خو دا وه چې تاسو د خپل مهربان منعم رب د پراخو نعمتونو شکر پر ځای کړی وئ، آیا عجیبه نه ده چې تاسو شکر نه کوئ؟!

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ وَمِنۡ أَنفُسِهِمۡ وَمِمَّا لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٦﴾

سپېڅلتیا هغه ذات ته چې ټول جوړه جوړه (مخلوقات) ئې پیدا کړل، له هغه څه هم چې زمکه ئې راټوکوي او د دوی له خپلو ځانونو هم او له هغه څه هم چې نه پرې پوهېږي.

<u>(۳٦)- په دې مبارك آیت کې د قرآن یو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندې ځلېږي، دا آیت</u> وایي: الله تعالی ټول جوړه جوړه مخلوقات پیدا کړي که دا له زمکې راټوکېدونکې بوټي او ونې دي، که انسانان دي او که ډېر نور هغه مخلوقات چې خلك ئې نه پېژني، د قرآن د وینا له مخې د عالم هر څه جوړه جوړه پیدا شوي، د قرآن په نورو آیتونو کې هم دې مطلب ته اشاره شوې او ویل شوي چې نه یوازې د زمکې نباتات زوج زوج یعني جوړه جوړه (نارینه او ښځینه) پیدا شوي بلکې الله تعالی هر څه جوړه جوړه پیدا کړي، دې آیت ته ځیر شئ:

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَسَلَكَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّن نَّبَاتٖ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُواْ وَٱرۡعَوۡاْ أَنۡعَٰمَكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾

طه: ۵۳-۵٤

(الله) هغه (ذات دئ) چې زمکه ئې تاسو ته زانګو ګرځولې او په هغې کې ئې لارې درته پرانیستې دي، او له آسمانه ئې اوبه راورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې

جوړې راوایستلي، تاسو ئې هم وخورئ او خپل څاروي هم وڅروئ، یقیناً چي په دې کي عقلمنو ته څرګندي نښې دي.
ګورئ چي دلته قرآن یو ځل بیا وایي چي بوټي او نباتات مو جوړه جوړه پیدا کړي، یعني نر او ښځه، د قرآن له نظره انسان، حیوان او ټول ژوي او د عالم هر څه جوړه جوړه پیدا شوي، په دې حقیقت انسانان تر شلمي پېړۍ پوري نه پوهېدل، هیچا دا ګمان نه کولو چي بوټي به د انسانانو په څېر جوړه جوړه وي او نر ښځه به لري، او د دوی دانې او مېوې به د داسي ګردونو له یو ځای کېدا جوړېږي چي ځیني ئې نارینه خصوصیات لري او ځیني ئې ښځینه، له ډېرو علمي څېړنو او تحقیقاتو وروسته په دې حقیقت پوه شول، لکه څنګه چي قرآن وایي الله تعالی د هري مېوې دوه ګوني جوړه پیدا کړې، نن علم او ساینس همدا خبره کوي، تر دې وروستیو پوري هیڅوک په دې نه پوهېدو چي د ژوو او حیواناتو په څېر په نباتاتو (ونو او بوټو) کي هم نر او ښځه شته او مېوه د نر او ښځي د نطفو له یو ځای کېدو راپیدا کېږي، دا نارینه او ښځینه نطفې ئې په ګلانو او نورو برخو کي وي، د دوی القاح یا د بادونو په واسطه تر سره کېږي او یا د موچیو په څېر حشراتو په واسطه، د مختلفو نباتاتو او ونو ګلان د تذکیر او تأنیث له پلوه درې ډوله وي: مذکر، مؤنث، او خنثی چي په هغوی کي هم د نارینتوب خصلت وي او هم ښځینه خصلت، د دواړو له القاح څخه مېوه رامنځته کېږي. د مثال په توګه د خرما ونې چي مذکر او مؤنث لري او د جوار په یوه بوټي کي دواړه ډوله راپیدا کېږي. که تاسو د قرآن دا وینا د کوم ساینس پوه مخي ته کېږدئ نو یقیناً چي دا به د قرآن یو ستر علمي اعجاز ګڼي.
قرآن د طبیعت د ټولو توکو تر منځ (زوجیت) د کمال او دوام باعث ګڼي. دا دقیقه نظریه د هغه بې بنسټه او غلط تصور کاملاً خلاف ده چي د کمونستانو ماتریالستي فلسفه ئې د تکامل د عواملو په اړه وړاندي کوي، هغوی (تضاد) او د متضادو توکو ترمنځ دائمي (نزاع) د تکامل وسیله ګڼي!! دا په داسي حال کي چي ټول عالم د (ازواج) او جوړه جوړه توکو مجموعه ده، همغسي لکه چي قرآن وایي، د دې خور عالم په هیڅ برخي کي د تضاد او عدم زوجیت بېلګه نه شو موندلی، د عالم په هري برخي کي د دې حقیقت شاهد یو چي تکامل د ازواج او جوړو ترمنځ د ګډ کار او ژور تنسیق نتیجه ده، په حیواناتو او نباتاتو کي په څرګنده ګورو چي یو ئې څه د (ورکولو) لپاره لري او بل ئې د (اخیستلو) لپاره، د یوه ورکول یوه اړتیا وي او د بل اخیستل، همدغه احساس یو بل ته نږدې کړي، یو د بل نقص او اړتیا ته ځواب وایي او ضرورت ئې رفع کوي، همدا د دواړو ترمنځ د راکړي ورکړي رابطه او تنسیق د نوي موجود د پیدایښت باعث شي او د دغي (جوړې او زوج) د نسل دوام او بقاء میسر او ممکن کړي. د طبیعت په عناصرو کي هم ګورو چي دوه توکي یوازې هغه وخت یو له بل سره ترکیب کېدی شي او نوی او ځوان توکی رامنځته کولی شي چي یو ئې د بل مکمل وي، یو ئې د ورکړي لپاره کوم اضافي شی ولري او بل ئې د اخیستو لپاره تش ځای، دا دواړه یو بل ته لاس ورکړي، سره یو شي، یو د بل مکمل شي، یو ئې د بل بار په اوږو واخلي او بل ئې د خپلي جوړې تشه ډکه کړي او په همدې سره نوی ترکیب رامنځته کړي، د عالم ټول مرکبات همداسي جوړ شوي، د (تضاد) نظریه په بشپړه توګه واهي او بې بنسټه ده او په عالم کي د تکامل د عواملو له توجیه سخت عاجز او ناتوانه او د هیڅ څه د تکامل د څرنګوالي په اړه

صدق نه کوي.
د قرآن په يوه بل آيت کي دا ستر حقيقت په دغو الفاظو راغلى:
وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنْهَٰرًا ۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾
الرعد: ٣
او دى همغه ذات دئ چي زمکه ئې خوره کړه او په هغې کي ئې غرونه او نهرونه جوړ کړل، او په هغې کي ئې د هري مېوې دوه ګوني جوړه پيدا کړه، شپه پر ورځ راکاږي، يقيناً چي په دې کي د تفکر کوونکو وګړو لپاره نښې دي.
قرآن دلته د الله تعالى د ډول ډول نعمتونو د بيانولو په لړ کي وايي چي الله تعالى هغه ذات دئ چي زمکه ئې خوره کړه، په هغې کي ئې غرونه او نهرونه جوړ کړل، په هغې کي ئې د هري مېوې دوه ګوني جوړه پيدا کړه او شپه پر ورځ راکاږي.
تاسو پوهېږئ چي زمکه داسي جوړه شوې چي ځيني برخي ئې آواري دي او ځيني ئې لوړي او غرونه، د زمکي دا جوړښت د دې سبب شوى چي هم نهرونه، چيني او کاريزونه په کي وبهيږي او آواري زمکي خړوبي کړي او هم داسي بېلي بېلي سيمي او موسمي حالات په کي راپيدا شي چي د راز راز بوټو او ونو د تولېدو او ودي لپاره ضروري دي، که زمکه داسي نه وى نو نه به نهرونه بهېدل او نه به بېل بېل موسمونه ول او نه رنګ رنګ بوټي او وني. دا وني او بوټي نه يوازي بېل بېل انواع دي او د رنګ او بڼي له پلوه په خپلو کي ژور توپيرونه لري بلکي هر نوع ئې داسي جوړه جوړه پيدا شوي چي ځيني ئې نارينه خصوصيات لري او ځيني ئې ښځينه، دا ډول ډول مېوې د همدغه زوجيت نتيجه او ثمره ده.
تاسو پوهېږئ چي ماترياليستان وايي ماده ازلي او ابدي ده خو قرآن وايي پيدا شوې او له منځه تلونکي ده، نن ساينس همدا د قرآن خبره کوي، کمونيستان دا عالم د اضدادو مجوعه ګڼي او قرآن ئې د ازواجو مجموعه، ساينس په دې اړه هم د قرآن وينا تأييدوي، دوى په تدريجي تکامل باور لري، موږ په بشپړ او کامل پيدايښت له لومړۍ ورځي، دوى له خالق انکار کوي، حال دا چي د عالم هر څه د خالق په شته والي شهادت ورکوي، دوى په تصادف باور لري او قرآن او علم تصادف منتفي ګڼي.

وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلشَّمْسُ تَجْرِى لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَٱلْقَمَرَ قَدَّرْنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلْعُرْجُونِ ٱلْقَدِيمِ ﴿٣٩﴾ لَا ٱلشَّمْسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدْرِكَ ٱلْقَمَرَ وَلَا ٱلَّيْلُ سَابِقُ

ٱلنَّهَارِۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ ﴿٤٠﴾

او دوی ته یوه څرګنده نښه شپه ده چي ورځ ترې راباسو چي له کبله ئې دوی هغه مهال په تیاره کي شي، او لمر په خپل مستقر او تمځای کي درومي، دا د پوه ځواکمن ذات مقدره ټاکنه ده، او سپوږمۍ ته مو منازل ټاکلي تر هغه چي د کجوري د وچي زړې څانګي په څېر شي، نه لمر ته ښایي چي سپوږمۍ لاندي کړي او نه شپه پر ورځ وړاندي کېدونکې ده، او هر یو په خپل خپل فلك کي لامبي (په فضاء کي درومي).

(۳۷-۴۰)- دا مبارك آیتونه څو ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته ږدي:

- ورځ د شپې په پرتله داسي ده لکه د یوه شي له پاسه د هغه پوستکی، شپه هغه مهال رامنځته کېږي چي د ورځي د رڼا دا روڼ پوښ ورو ورو ترې وایستل شي، شپه او تیاره د زمکي اصلي حالت دئ، زمکه تیاره ده، له ځانه رڼا نه لري، د لمر رڼا ئې روښانه کوي، رڼا کول ئې داسي دي لکه چي د نور پرده ورو ورو پرې غوړېږي او تیاره کېدا ئې داسي لکه دا د رڼا پرده چي ورو ورو ترې لري کېږي، د شپې او ورځي په اړه د قرآن دا علمي تعبیر دومره دقیق او په زړه پوری دئ چي په اهمیت او ارزښت ئې هغه څوك ښه پوهېږي چي د شپې ورځي د تلو راتلو حالت د فضاء له لوړو وګوري، هلته انسان ته څرګندېږي چي رڼا د زمکي له یوې برخي بلي ته په داسي بڼي کي وځي لکه له یوه تور رنګي شي چي سپینه رڼه پرده ورو ورو ایستل کېږي.
- لمر د حرکت ثابت او ټاکلی مدار لري او دا هغه حقیقت دئ چي انسان په شلمي پېړۍ کي پرې پوه شو. قرآن دې مدار ته د مستقر او فلك نوم ورکړی، وایي لمر درومي خو په یوه ثابت مستقر او مدار کي، او دا هغه علمي حقیقت دئ چي ساینس اوس پرې پوه شوی.
- سپوږمۍ د حرکت ټاکلي پړاوونه لري، په هر پړاو کي موږ ته په یوې بڼي کي راښکاري، د نرۍ سپیني ګاري په څېر راڅرګنده شي، ورو ورو ستره شي، بشپړه شي، بیا ورو ورو وړېږي، تر هغه چي له سترګو پټه شي. په ۳۹ آیت کي د سپوږمۍ لپاره د (عرجون القدیم) الفاظ کارول شوي، عرجون القدیم زړي وچي څانګي ته وایي، د سپوږمۍ لپاره دا الفاظ کارول ډېر عجیب بریښي، په سطحي او ظاهري نظر خو دا مطلب ترې اخیستل کېږي چي سپوږمۍ د میاشتي په آخري شپو کي د خرما د وچي څانګي په څېر نرۍ شي، خو ولي دا مطلب په نورو الفاظو سره نه دئ بیان شوی؟ د دې پوښتني ځواب د هغو څېړنو په نتائجو کي ترلاسه کولی شئ چي سپوږمۍ ته د انسان له ختلو وروسته ترلاسه شول، کله چي انسان د سپوږمۍ پر سر کوز شو، ډېري ئې زمکي ته راکوزي کړې، د سپوږمۍ د ډبرو د ترکیب په اړه ئې تحقیقات وکړل، د سپوږمۍ ډېري برخي ئې له نظره تېرې کړې، ورته معلومه شوه چي په سپوږمۍ کي نه اوکسیجن شته، نه اوبه، نه نباتات او نه ژوي، تر دې وړاندي ئې داسي انګېرله چي ښایي د سپوږمۍ جوړښت او د سطحي او فضاء د موادو او غازاتو ترکیب به ئې زمکي ته ورته وي، خو هلته ئې حالات د خپلو انګېرنو او انتظار خلاف وموندل، د مزیدو تحقیقاتو په ترځ کي دا هم ورته ثابته شوې چي سپوږمۍ له سره او په ابتداء کي داسي نه وه، په لومړیو کي ئې اوبه

درلودې خو ورو ورو ئې دا اوبه له لاسه ورکړې دي او اوس يوه داسي کُره ده چي نه د ژوند آثار په کي تر سترګو کيږي او نه د اوبو!! لکه هغه ځانګه چي وچه شوې وي هم ئې خپل لوندوالى له لاسه ورکړى وي او هم د ژوند نښي او آثار!! ما ته ووايئ: آيا د سپوږمى په اړه د قرآن دا علمي وينا يو ستر علمي اعجاز نه دئ.

• لمر د سپوږمى د جذبولو، له خپل ځانګړي مداره د هغې د ايستلو فرصت نه ترلاسه کوي، يو د بل په مدار کي نه ننوځي، هر يو په خپل مسير کي خوځيږي، د دوى ترمنځ ټکر او تصادم نه راځي، په دې وسيع کائنات کي دا بې شمېره اجرام، هر يو په يوه معين مدار کي خوځيږي، يو بل نه مومي چي له هغه سره ټکر وکړي او هغه جذب کړي، هر يو خپل حد پيژني، له هغه تېرى او تجاوز نشي کولى، نه لمر له خپل ټاکلي مدار او مستقر بل لوري ته خوځېدلى شي او د سپوږمى په مدار کي داخليدلى شي او نه هغه جذبولى شي، نه د دغو دواړو ترمنځ تصادم او ټکر راځي او نه هم شپه په ورځ باندى سبقت کولى شى، برعکس هره يوه په خپل وخت او نېټه راځي، دا د سپوږمى او لمر لپاره معين حدود چا وضع کړي چي له هغه د يوې ذرې په اندازه د تجاوز او تېري توان نه لري، دا څنګه او د چا د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

ګورئ چي لمر، زرګونه کاله په پرله پسې او منظمه توګه، له يوه ځايه طلوع کوي او په يوه ځاى کي غروب کوي!! دغه معين مسير طوعاً او کرهاً پلي کوي او له هغه يوه خوا بله خوا د انحراف قدرت نه لري، دا څوك اداره کوي؟ دا په وسيع آسمان کي د ستورو ترمنځ ټکر او تصادم ولې نه راځي؟ ولې يو د بل مسير ته نه داخليږي؟ دا هر يو په خپل خپل مسير کي څوك اداره کوي؟ د دې تر شاه د چا اراده ده؟ د چا د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي چي په داسي منظم ډول او په ټول انقياد سره په خپل معين مدار کي خوځيږي او يو انچ، له هغه يوه او بل لوري ته انحراف نشي کولى؟!

همدا راز شپه او ورځ خپل هغه حد پيژني چي ورته ټاکل شوى، له هغه تېرى نشي کولى، نه اوږدېږي او نه هم لنډېږي، يوه له بلي سبقت نه کوي چي د شپې پر ځاى ورځ راشي يا د ورځي پر ځاى شپه راشي او يوه له بلي سبقت وکړي، بلکي هره يوه خپل حد پيژني او په خپل وخت کي راځي.

په دغي مقدمي سره دوو حقائقو ته اشاره شوې: لومړى دا چي د عالم ټول اشياء او اجزاء محکوم او مقهور دي او دا چي تحولات د معينو ضوابطو او سننو سره سم تر سره کيږي، له خپلو حدودو تېرى نشي کولى، په خپل وخت کي راځي، په خپل ځاى کي راځي. او دوهم دا چي شپه او ورځ د طبيعت دوه حالته دي او لمر، سپوږمى د طبيعت دوه اجزاء، ګورئ چي دا دواړه مقهور او محکوم دي، خپل مدار طى کوي، يو د بل مدار ته نه داخليږي، يو له بل سره ټکر او تصادم نه کوي، مالك الملك الله هر يو په خپل مسير او مدارکي ساتي، د هغه ساتنه کوي او د دغو په حرکت باندي چي کوم نتائج مرتب کيږي، کوم تحولات چي په عالم کي راځي دا هم د معينو سننو او ضوابطو سره سم، يو په بل باندي سبقت نشي کولى، آيا دا دليل د دې خبري د ثبوت لپاره کفايت نه کوي چي دا هر څه يو مالك ټولواك اداره کوي، او هر څه د هغه مالك الله د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

وَءَايَةٌ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا
يَرۡكَبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيخَ لَهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحۡمَةً مِّنَّا
وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٤٤﴾

او دوي ته يوه څرګنده نښه دا ده چې د دوی اولاد مو په ډکې کشتۍ کې سپاره کړل، او دې ته ورته هغه څه مو ورته پيدا کړي چې پرې سپريږي، او که وغواړو غرق به ئې کړو نو بيا به ئې نه چيغي اورېدونکی وي او نه به وژغورل شي، مګر زموږ له لوري کومه پيرزوينه او تر يوه وخته څه متاع.

(٤١-٤٤)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښووني شوې:

- **الله تعالی انسان ته د کشتۍ جوړولو استعداد ورکړی، په طبيعت کې ئې داسې سنن ايښي چې له انسان سره د کشتۍ په جوړولو کې مرسته کوي او داسې توکي ئې پيدا کړي چې انسان کولی شي له هغوی په استفادې سره کشتۍ جوړه کړي، اوبه ئې داسې جوړې کړې چې ځينې توکي پر خپل سر وړي او له ډوبولو ئې ډډه کوي، انسان ته ئې د داسې کښتيو جوړولو استعداد او توفيق ورکړ چې د بحر اوبه څيري او مخکې درومي، له همدغو کښتيو په استفادې سره له يوې سيمې بلې ته ځي، تجارتي اموال وړي راوړي، نن په دې يويشتمې پيړۍ کې د انسان د انتقالاتو تر ټولو مهمه، ارزانه او خوندي ذريعه همدا کشتۍ دي، يقيناً چې په دې سره الله تعالی خپل ستر فضل د انسان په برخه کړی.**
- **الله تعالی انسان ته د کشتۍ په څېر د نورو داسې وسائلو جوړولو استعداد او توفيق ورکړی چې له يوه ځای بل ته د دوی تګ ممکن او آسان کړي. ټول هغه وسائل چې انسان تر نن پورې د حمل و نقل لپاره جوړ کړي او يا له دې وروسته به ئې جوړوي د دې آيتونو مظهر او مصداق ګڼل کيږي.**
- **که الله تعالی وغواړي غرق به ئې کړي نو بيا به نه داسې څوک مومي چې د دوی چيغي واوري او نه داسې څوک چې دوی وژغوري، مګر دا چې الله تعالی په خپله وغواړي پرې ورحميږي او تر يوې مودې مهلت ورکړي او له خپلو نعمتونو ئې تر يوه وخته برخمن کړي، يعني نه دا امکانات په دائمي توګه او له کوم بدلون پرته د دوی په واک کې دي او نه دا فرصتونه دائمي دي، الله تعالی د خپل پراخ رحمت له امله دوی ته فرصت ورکوي او دا تسهيلات ئې دوی ته برابر کړي.**

ځينو درنو مفسرينو د دې آيت (وَءَايَةٌ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ) د (فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ) فقرې ته په پام سره ويلي دي چې مراد ئې د نوح صلعم کشتۍ ده، خو

دې ته اړ شوي چې د (ذُرِّيَّتَهُم) په اړه له تکلف ډك تأويل وکړي او ووايي چې د ذرية کلمه د اضدادو کلماتو له ډلي ده، هم ئې پر پلرونو اطلاق کېدی شي او هم پر اولاد، خو دا تعبير په څو دلائلو ضعيف دئ: ۱- د قرآن په هيڅ ځای کي ذرية د پلرونو په معنی نه ده راغلې. ۲- له وروستي آيت سره اړخ نه لګوي، ځکه هغه د سپرلی د وسائلو عموميت افاده کوي او وايي: (دې ته ورته هغه څه مو ورته پيدا کړي چې پرې سپرېږي)؛ ۳- تر دې وړاندي او وروسته د نوح صلعم يادونه نه ده شوې، دا کشتی نوح صلعم ته منسوبول بې دليله انتساب دئ.

غوره تعبير دا دئ چي دلته د کشتيو او انسانانو نويو نسلونو ته اشاره شوې، لکه څنګه چي د انسانانو نسلونه زياتېږي د کشتيو ډولونه هم زياتېږي، پر زړو کشتيو نوي نوي او پرمخ تللي ډولونه ئې اضافه کېږي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُواْ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيكُمۡ وَمَا خَلۡفَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٍ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ﴿٤٦﴾

او کله چي ورته وويل شي: له هغه څه ووېرېږئ چي ستاسو مخي ته دي او له هغه څه هم چي تر شا مو دي، تر څو رحم درباندي وشي، او د خپل رب له آيتونو هيڅ آيت نه ورځي مګر دا چي دوی ترې انکار کوي.

(٤٥-٤٦)- د دې مبارکو آيتونو په مطلب پوهېدل لږ دقت غواړي، دلته ويل شوي چي کله کافرانو ته وويل شي: له هغه څه ووېرېږئ چي ستاسو مخي ته دي او له هغه څه هم چي تر شا مو دي، تر څو رحم درباندي وشي، بايد وګورو چي په دې سره د دوی پام څه ته اړول شوی او له څه وېري ته بلل شوي!! الفاظ عام دي، که د آيت سياق و سباق ته توجه ونه کړو نو اطلاق ئې په ډېرو شيانو کېدی شي، خو که لږ ځير شو ګورو چي تر دې دوه آيته وروسته ويل شوي: متى هذا الوعد إن كنتم صادقين: که رښتيني يئ ووايئ چي دا وعده به کله وي؟ له دې په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چي له (مابين ايديكم) د قيامت ورځ او له (ما خلفكم) هغه الهي عذابونه مراد دي چي پر مخنکيو باغي ولسونو نازل شوي.

وروسته ويل شوي: دوی ته چي د خپل رب له لوري هر آيت او هره څرګنده نښه ورشي انکار ترې کوي، په هيڅ دليل نه قانع کېږي چي د دوی کړني او تګلاري د الهي عذاب سبب او موجب دي.

په دې آيت سره د سورې دوهمه برخه پيل کېږي، په دې برخي کي د بحث دوهمه موضوع څېړل شوې، د قيامت په اړه د منکرينو غلطي انګېرني او له دې انګېرنو راولاړې شوې غلطي کړنلاري او تګلاري څېړل شوې، د دوی اعتراضاتو او پوښتنو ته مضبوط ځوابونه ويل شوي، دا لړۍ د سورې تر پايه دوام کوي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنُطۡعِمُ مَن
لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطۡعَمَهُۥٓ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا
ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ تَأۡخُذُهُمۡ وَهُمۡ
يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ تَوۡصِيَةٗ وَلَآ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٥٠﴾

او کله چي ورته وويل شي: له هغه څه ئې انفاق کړئ چي الله درروزي کړي، هغه چي کفر ئې کړی هغو ته چي ايمان ئې راوړی وايي: آيا هغه چا ته خواړه ورکړو چي که الله غوښتی په خپله به ئې خواړه ورکړي وو؟! تاسو نه يئ مګر په څرګندي تېروتني کي، که ربښتيني يئ وواياست چي دا وعده به کله وي؟ (دوی خو) له يوې داسي لوړي چيغي پرته د بل څه انتظار نه لري چي دوی به ونيسي، په داسي حال کي چي په شخړو به بوخت وي، نو نه به وصيت کولی شي او نه به خپلي کورنۍ ته ستنېدی شي.

(٤٧-٥٠)- دا آيتونه موږ ته وايي: پر قيامت د عدم باور لومړۍ نتيجه دا ده چي منکرين ئې د سپېڅلو اهدافو لپاره مالي قرباني او له مظلومانو او حاجتمنو سره مرستي ته نه چمتو کېږي ~~او د داسي انفاق لپاره کومه توجيه نه مومي، نه يوازي د قرباني جذبه او له همنوع سره زړه~~ سوی ئې څپي بلکي دا کار ورته ناسم او د عقل خلاف برېښي، دا آيت په دې اړه وايي: کله چي مؤمنان دوی ته وايي: له هغه څه ئې انفاق کړئ چي الله درروزي کړي، ورته وايي: آيا هغه چا ته خواړه ورکړو چي که الله غوښتی په خپله به ئې خواړه ورکړي وو؟! دا ستاسو تېروتنه ده چي له موږ داسي مطالبه لرئ، چا ته چي خدای څه نه دي ورکړي موږ ئې ولي ورکړو؟!! قيامت او له بندګانو سره الهي محاسبه نشته، که په دې اړه ستاسو ادعاء حقيقت لري نو وواياست چي دا وعده به کله ترسره کېږي؟ **ولي ډېر ناصحان راغلي او خلکو ته ئې ويلي چي قيامت راتلونکی دئ او الله تعالی له خپلو بندګانو سره محاسبه کوي خو نه قيامت راغی او نه دا محاسبه ترسره شوه؟!! د دوی په ځواب کي ويل شوي: دوی خو له يوې داسي لوړي چيغي پرته د بل څه انتظار نه لري چي ناڅاپي به ئې ونيسي، په داسي حال کي چي په خپلو کي به په ورځنيو شخړو بوخت وي، داسي ناڅاپي به پرې راشي چي نه به د وصيت کولو مجال ترلاسه کړي او نه به خپلي کورنۍ ته د ستنېدو مجال.**

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا
مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜۗ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٥٢﴾ إِن

كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ٥٣ فَٱلۡيَوۡمَ لَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗا وَلَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٥٤

او په شپېلۍ کي به پو کړی شي چي په نتيجه کي به ئې دوی له خپلو قبرونو د خپل رب په لور ځغلي، وايي به: وای افسوس پر موږ؛ چا له خپلو خوب ځايونو راپاڅولو؟ دا همغه څه دي چي رحمن رب ئې وعده کړې وه او پيغمبرانو رښتيا ويلي وو، دا خو به له يوې توندي چيغي پرته بل څه نه وي چي له کبله به ئې همغه مهال ټول زموږ په وړاندي حاضر کړی شوي وي، نو په دې ورځ به نه پر چا کوم ظلم کېږي او نه به له هغه څه پرته سزا درکول کېږي چي تاسو کول.

(٥١-٥٤)- په دې مبارکو آيتونو کي د قيامت ناڅاپي راتګ او د کافرانو د انګېرنو او تصوراتو خلاف راتګ او هغه مهال د منکرينو حالت داسي انځور شوی:

- ~~قيامت به ناڅاپي راشي، داسي چي په شپېلۍ کي به پو کړی شي او په همدې سره به دوی~~ له خپلو قبرونو راپاڅي او د خپل رب په لور به ځغلي، همغسي لکه چي په پسرلي کي د تالندي له يوه ږغ سره د باران وربېدل پيل شي او همدا باران د دې باعث شي چي تر خاورو لاندي د بوټو زړي وخوځېږي، وده وکړي او له زمکي راوټوکېږي، د قيامت په ورځ به د دوی بياژوندون همداسي وي.
- اوس خو دوی قيامت لري ګڼي او په راتلو کي ئې ځنډ داسي تعبيروي چي قيامت نشته، خو هغه ورځ به وايي: افسوس پر موږ؛ چا له خوبه راپاڅولو؟ له خپلي مړيني تر قيامت پوري اوږده موده به داسي ګڼي لکه د خوب څو شېبې، هغه مهال به دوی په خپله هم وايي: دا همغه څه دي چي رحمن رب ئې وعده کړې وه او پيغمبرانو رښتيا ويلي وو، **همغه څه چي موږ ترې انکار کولو، په خپله د قيامت صحنه به هم دوی ته همدا خبره کوي او له مؤمنانو به د خپلي پوښتني په ځواب کي هم همدا ځواب اوري.**
- **همغه مهال به ټول د الله تعالی په وړاندي د محاسبې لپاره حاضر کړی شي، نه به پر چا کوم ظلم کېږي او نه به له هغه څه پرته سزا ورکول کېږي چي کول ئې.**

إِنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ ٱلۡيَوۡمَ فِي شُغُلٖ فَٰكِهُونَ ٥٥ هُمۡ وَأَزۡوَٰجُهُمۡ فِي ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ٥٦ لَهُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ٥٧ سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ٥٨

يقيناً چي جنتيان به دغه ورځ خوښ خوښ په ځانګړو مشغولتياوو کي بوخت وي، دوی

او مېرمنې به ئې په سیورو کې پر تختونو (ناست) تکیه وهونکې وي، هلته به ډول ډول مېوې او هر هغه څه د دوی په برخه وي چې غواړي ئې، یو سلام، د رحمن رب له لوري یوه وینا.

(٥٥-٥٨)- دلته د جنتیانو حالت داسې انځور شوی: جنتونه به ئې په برخه شي، د خوښیو په جامو کې به پټ او له خوښیو ډکو مشغولتیاوو کې به بوخت وي، د جنت د ونو سیوري کې پر تختونو ناست او تکیه به ئې وهلې وي، ډول ډول مېوې به ئې مخې ته پرتې وي او هر هغه څه به ئې په برخه وي چې د دوی زړه ئې غواړي، د مهربان رب د وینا مطابق به ئې په سلام سره استقبال کېږي.

وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٥٩﴾ أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ
ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٦١﴾
وَلَقَدۡ أَضَلَّ مِنكُمۡ جِبِلّٗا كَثِيرًاۖ أَفَلَمۡ تَكُونُواْ تَعۡقِلُونَ ﴿٦٢﴾ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي كُنتُمۡ
تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱصۡلَوۡهَا ٱلۡيَوۡمَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿٦٤﴾

اې مجرمانو! نن بېل شئ، اې د آدم بچیانو! آیا فرمان مې نه وو درلېږلی چې د شیطان بندګي مه کوئ؛ یقیناً چې هغه ستاسو ښکاره دښمن دئ؟ او زما عبادت وکړئ، همدا مستقیمه لار ده، او یقیناً چې ستاسو ډېر نسلونه ئې بې لارې کړل آیا تعقل مو نه کولو، همدا هغه دوزخ دئ چې وعده ئې درکول کېده، نن د هغه کفر له کبله ورننوځئ چې تاسو کولو.

(٥٩-٦٤)- دلته د قیامت په ورځ د دوزخیانو حالت په دې توګه انځور شوی: دوی ته به وویل شي: اې مجرمانو! له نورو بېل شئ، اې د آدم بچیانو! آیا فرمان مې نه وو درلېږلی چې د شیطان بندګي مه کوئ؛ یقیناً چې هغه ستاسو ښکاره دښمن دئ؟ آیا تاسو ته مې نه وو ویلي چې یوازې زما عبادت وکړئ چې همدا یوازینۍ مستقیمه لار ده؟ آیا نه مې وو درته ویلي چې شیطان ستاسو ډېر نسلونه بې لارې کړل؟ ولې مو په دې اړه تعقل نه کولو؟ دا همغه دوزخ دئ چې وعده ئې درکول کېده او تاسو دا وعده دروغجنه ګڼله او د هغې له منلو مو انکار کولو، نن د خپل کفر له کبله ورننوځئ.

ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ

﴿٦٥﴾ وَلَوۡ نَشَآءُ لَطَمَسۡنَا عَلَىٰٓ أَعۡيُنِهِمۡ فَٱسۡتَبَقُواْ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبۡصِرُونَ ﴿٦٦﴾
وَلَوۡ نَشَآءُ لَمَسَخۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمۡ فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مُضِيّٗا وَلَا يَرۡجِعُونَ


په دغه ورځ به د دوی پر خولو مهر ولګوو او د دوی لاسونه به له موږ سره خبري کوي او پښې به ئې پر هغو کړنو ګواهي ورکوي چي دوی کولې، او که وغواړو پر سترګو به ئې ړوندوالی راولو نو د لاري لټه به کوي خو څنګه به ئې ويني، او که وغواړو پر خپل خپل ځای به ئې داسي مسخ کړو چي په نتيجه کي به ئې نه وړاندي تللی شي او نه وروسته ستنېدلی شي.

(٦٥-٦٧)- د قيامت په ورځ او د الهي محاسبې په يوه ځانګړي پړاو کي به الله تعالی د کافرانو پر خولو مهر ولګوي، د څه ويلو توان به تري سلب شي، لاسونه به ئې له الله تعالی سره خبري کوي او پښې به ئې د دوی پر مخکنيو کړنو ګواهي ورکوي. که الله تعالی وغواړي نو نن او په همدې دنيا کي به د دوی سترګي ړندې کړي، داسي ړندې چي د سترګو هيڅ نښه هم پاتې نشي، بيا به دوی د لاري لټه کوي خو له موندلو او ليدلو به ئې عاجز وي، خو الله تعالی د خپل پراخ رحم له امله له هغو کافرانو هم د سترګو دا نعمت نه بېرته اخلي چي د حق په اړه ئې چلن داسي دئ لکه د ړندو، دوی خو د عدالت له مخي د دې وړ دي چي الله تعالی د سترګو دا نعمت بېرته تري واخلي، خو مهربان رب داسي نه کوي، او د دوی د کفر او عصيان سره سره پرېږدي چي دا سترګي د دوی په خدمت کي وي او د لاري په موندلو کي د دوی مرسته وکړي، که الله تعالی غوښتلی نو دوی به ئې داسي پر خپل خپل ځای مسخ کړي ول چي په نتيجه کي به ئې نه وړاندي تللی شول او نه وروسته ستنېدلی، خو مهربان رب داسي نه کوي، د وړاندي او وروسته تلو راتلو توفيق نه تري سلبوي.

قرآن وايي چي د انسان هر څه، هره وينا او هر عمل، د زړه هره خبره، اراده او نيت ثبت کېږي او د قيامت په ورځ به ده ته په ليکلي او مجسمه بڼه کي وروښودل شي، د الهي محاسبې په ورځ به د زمکي تر څنګ د انسان سترګي، غوږونه، لاس او پښې او پوستکی هم د ده په عملونو شهادت ورکوي، لکه چي فرمايي:

حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيۡهِمۡ سَمۡعُهُمۡ وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُواْ
لِجُلُودِهِمۡ لِمَ شَهِدتُّمۡ عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيۡءٖ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ
وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ 

فصلت ٢٠-٢١

تر هغه چي (اور ته) نږدې ورشي، غوږونه، سترګي او پوستكي به ئې پر عملونو شهادت وركوي. او خپلو پوستكو ته به وايي: ولې زموږ په ضد شهادت وركوئ؟ ورته وايي به: هغه الله په خبرو راوستي يو چي هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پيدا كړئ او د هغه لوري ته ورګرځول كېږئ.

دا آيتونه ښيي چي د انسان لاسونه، پښې او پوستكى او د زمكي هر څه به هغه ورځ شهادت وركوي. د قرآن دغو آيتونو ته هم ځير شئ:

إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝١ وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ۝٢ وَقَالَ ٱلْإِنسَـٰنُ مَا لَهَا ۝٣ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ۝٤ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ۝٥

الزلزال: ١-٥

كله چي دا زمكه په خپلي لړزېدا سره ولړزي، او دا زمكه خپل درانه راوباسي، او انسان ووايي چي څه پرې شوي؟ په دې ورځ به خپل اخبار بيانوي. دا ځكه چي ستا رب به ورته وحي كړې وي.

بايد وګورو چي څه به په دې ورځ د انسان د حيرانتيا سبب شي؟! د زمكي كوم حركت به دى په حيرت كي واچوي او دې ته به ئې مجبور كړي چي ووايي: په دې زمكي څه شوي؟ آيا د زمكي هيبتناكه زلزله به ئې حيران كړي؟ يا له قبرونو د انسانانو راپاڅېدا او يا د انسان په خلاف د زمكي شهادت؟

په لږ دقت سره په دې خبري پوهېدى شو چي په دې آيت كي ښودل شوى حيرت به نه خو د زمكي د سختي زلزلي په وجه وي، ځكه چي دا زلزله به مخكي او له قبرونو د انسانانو له راپاڅېدو د مخه وي او نه به له قبرونو د انسانانو د راوتو په سبب وي، ځكه چي دوى په خپلو سترګو له قبرونو خپل راوتل نه ګوري او نه پرې پوهېږي، داسي لكه چي له مېندو خپل راپيدا كېدا نه ګوري او نه وروسته ور په ياد وي. دا هم سمه نه ده چي ووايو ځيني به د ځينو نورو بياراپاڅېدا ګوري، ځكه د دې خبري لپاره هم څه دليل نشته. د يس د سورې ٥٢ آيت ښيي چي د آخرت منكران به له راژوندي كېدو وروسته يو له بله پوښتنه كوي چي موږ چا له خپلو خوب ځايونو راپاڅولو؟ من بعثنا من مرقدنا؟ دا آيت ښيي چي د قيامت په ورځ به انسانان په دې نه پوهېږي چي څنګه بياراژوندي شوي.

له دې ټولو معلومېږي چي د انسان د حيرت سبب به د زمكي هغه شهادت وي چي د انسانانو د كړو وړو په اړه به ئې وركوي.

ابوهريره رضی الله عنه روايت كوي چي پيغمبر عليه السلام دا آيت (يومئذ تحدث أخبارها) تلاوت كړ او وئې فرمايل: آيا پوهېږئ چي زمكه به كوم اخبار بيانوي؟ صحابه وو وويل: الله او رسول ئې ښه پوهېږي، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: د زمكي اخبار بيانول هغه شهادت دئ چي زمكه به ئې د بندګانو د هغو عملونو په اړه وركوي چي د زمكي پر سر ئې كړي، وايي به: په فلانى ورځ ئې فلانى فلانى كار وكړ، دا د زمكي اخبار دي چي هغه به ئې بيانوي.

عن أبي هريرة قال: قرأ رسول الله صلى الله عليه وسلم هذه الآية "يومئذ تحدث أخبارها" قال "أتدرون ما أخبارها؟" قالوا الله ورسوله أعلم. قال "فإن أخبارها" أن تشهد على كل عبد أو أمة بما عمل على ظهرها أن تقول عمل كذا وكذا يوم كذا فهذه أخبارها" رواه النسائي

عن ربيعة الجرشي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال تحفظوا من الأرض فإنها أمكم وإنه ليس من أحد عامل عليها خيرا أو شرا إلا وهي مخبرة. رواه الطبراني

له ربيعة الجرشي رضي الله عنه روايت شوی چي پيغمبر عليه السلام وفرمايل: له زمکي سره په خپل چلن کي احتياط کوئ، ځکه چي زمکه ستاسو مولد او بنسټ دئ (چي ترې پيدا شوي يئ) او هيڅ داسي عمل کوونکی نشته چي د زمکي پر سر ئې ژوند کړی وي او دا دي د ده په ښه او بد عمل شهادت ورنکړي.

د علی رضي الله عنه په اړه راځي چي کله به ئې د بيت المال اموال په مستحقينو ووېشل او هغه به ئې تش کړ نو دوه رکعته لمونځ به ئې هملته اداء کړل او بيت المال ته به ئې په خپل خطاب کي وويل: ته شاهد يې چي ما په حقه ډك او په حقه تش کړې (يعني نه مي څه حرام مال درکي واچاوو او نه مي ستا کوم څه په حرامه لار مصرف کړ).

پيغمبر عليه السلام فرمايي: (چي کله د لمانځه وخت راورسيږي په لوړ غږ آذان وکړئ، د غرونو او زمکي څه چي ئې واوري د قيامت په ورځ به شهادت ورکوي.

دغه زمکه چي ته ئې مړه او بې حسه ګڼې او په بې باکی سره ئې پر سر ګناهونه کوې، د قيامت په ورځ به ستا ټول ښه او بد عملونه بيان کړي.

ما ته ووايئ: ١٤٠٠ کاله مخکي به د دې وينا په اړه د مخالفينو عکس العمل څنګه وو چي د انسان لاسونه به خبري کوي، پښې او پوستکی به ئې شهادت ورکوي، زمکه به خپل ټول اخبار بيان کړي؟ آيا په دې خبري به ئې په خپلو کي ډېر ډېر نه وي خندلي او په ټوکو ټوکو به يوه بل ته نه وي ويلي چي دا دئ محمد (عليه السلام) دا ادعاء هم وکړه چي دا مړه زمکه به په خبرو راشي او د انسان په ښه او بد عمل به شهادت ورکوي؟!! خو راشئ د قرآن دا وينا نن يوه داسي ساينس يوه ته وکړئ چي د علمي څېړنو په نتيجه کي دا ورته معلومه شوې چي د انسان پوستکی، د زمکي سطح او فضاء د انسان هر هر غږ او هر هر حرکت ثبتوي، هغه ساينس پوه چي نن په ډېر قاطعيت سره وايي: د انسان د غږ او خوځښت څپې د زمکي په سطح او فضاء کي داسي ثبت کيږي چي د تل لپاره دوام کوي او زرګونه کاله وروسته هم کولی شو دا امواج او اثرات په پرمختللو وسائلو کشف او ترلاسه کړو. که دغه ساينس پوه ته ووايئ چي قرآن څوارلس پيړۍ مخکي دا خبره کړې، عکسل العمل به ئې څه وي؟ آيا کېدی شي له دې پرته بل څه ووايي چي قرآن حتماً له داسي مرجع راغلی چي په ټولو اسرارو پوه دئ؟

ستا ژبه او شونډې، ستا ستونی او حنجره چي ستا د تکلم وسائل دي او په دې سره د خپل زړه خبري بيانوې، ټول له دغو خاورو جوړ شوي، همدا خاوره ده چي ستا د ژبې، شونډانو او حنجرې ماليکولونه ترې جوړ شوي او د ما في الضمير په بيانولو کي ستا مرسته کوي، د قيامت په ورځ به په خپلواکه او مستقله توګه په خبرو راشي او شهادت به ورکوي.

ولي به زمکه په هغه ورځ خپل اسرار راباسي، ټولي خبري به بيانوي او هر هغه څه به په ډاګه کوي چي د دې پر سر تېر شوي؟ دا ځکه چي الله تعالی ورته وحي کړې چي نن هر څه

ثبت او د قیامت په ورځ ئې بیان کړه.
د (یوحی) په ځای د (اوحی) د صیغې راوړل ښیي چې زمکي ته له مخکې (الهام) شوی چې ټول جریانات به ثبتوي او د قیامت په ورځ به ئې بیانوي، یعنې زمکه دا اوس اوس د ټولو جریاناتو شاهده او ناظره ده، هر څه احساسوي، حفظ کوي ئې او د قیامت په ورځ به ئې د انسان مخې ته ږدي.

وَمَن نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي ٱلْخَلْقِ ۖ أَفَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٨﴾

چا ته چې عمر ورکوو بېرته ئې په خلقت کې رانسکوروو، نو آیا تعقل نه کوي؟!

(٦٨)- دا آیت د مخکنې مضمون په ارتباط وایي: الله تعالی چې چا ته عمر ورکوي بېرته ئې په خلقت کې نسکوروي، زوړوالی پرې راځي او ځواکونه او استعدادونه ئې ورو ورو کمزوري او ضعیف کېږي او په پای کې له منځه ځي، نو ولې تعقل نه کوي او دا وېره نه لري چې الله تعالی له دوی ټول شته ځواکونه او استعدادونه بېرته واخلي، نه ئې سترګې لار وروښیي او نه ئې پښې په تګ کې مرسته ورسره وکړي؟!
موږ په خپلو سترګو ګورو چې هر عمر لرونکی په زوال او زړښت محکومېږي، له یوې نبتې ئې ژوند پیل شي، د کمال خاص پړاو ته ورسېږي، د عمر په تېرېدو سره د زوال په لور درومي او په پای کې مري، د چا په اراده چې هر څه د زوړوالي او کهولت قاعدې محکوم دئ او د خپلې ځوانۍ نشاط ورو ورو له لاسه ورکوي هغه ذات کولی شي نن له انسان د ده ځواکونه او استعدادونه سلب کړي او د قیامت په ورځ په خپلو غړو د ده تسلط له منځه یوسي، غړي ئې د ده خلاف شهادت ورکړي.
لکه څنګه چې قرآن وایي د دې عالم هر مخلوق خاص عمر لري او د عمر په پای کې زوال مومي، نن ساینس او علم او ساینس پوهان همدا خبره کوي، وایي: هر څه زړېږي او زوال مومي، د کهولت عامه قاعده چې وایي: هر څه په زوړوالي او فنا باندې محکوم دئ، نن دا د ساینسي علومو یو عام او اساسي بنسټ دئ، خلقو دېر شیان ابدي او تلپاتې ګڼل، خو نن علم په دې پوهېږي چې د کهولت قاعده یوه عامه حاکمه قاعده ده، د عالم هر څه د دې په وړاندې محکوم دي، هر څه د کهولت او زوړوالي په لور درومي، قرآن عظیم الشأن فرمایي: لکه څنګه چې د فرد لپاره اجل ټاکل شوی او د قومونو لپاره اجل ټاکل شوی، همدا راز د عالم د هر توکي لپاره اجل ټاکل شوی.

وَمَا عَلَّمْنَٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْءَانٌ مُّبِينٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا وَيَحِقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٠﴾

او نه موږ شعر وربښودلی او نه له ده سره ښایي، دا خو له ځانګړې پند او څرګندوونکي قرآن پرته بل څه نه دي، ترڅو هغه انذار کړي چې ژوندی وي او د

کافرانو په اړه هغه وینا محققه شي.

(٦٩-٧٠)- د حق دښمنانو به د قرآن ښکلي او اغېزناك ترکیب ته په پام سره ویل: محمد (صلعم) یو پیاوړی شاعر او لیکوال دئ او د ده کتاب (قرآن) د شعر کتاب دئ، الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمایي: نه موږ شعر ورښودلی او نه له ده سره ښایي، موږ چي څه ورښودلي هغه شعر نه دئ او د ده شأن تر دې ډېر لوړ دئ چي یو شاعر وي، د ده له لوري چي تاسو ته څه وړاندي شوي دا خو له ځانګړي پند او څرګندوونکي قرآن پرته بل څه نه دي، په دې کي تاسو ته پند درکړی شوی او حقائق درته څرګند کړی شوي، موخه ئې دا ده چي د ژوندیو زړونو خاوندان انذار کړي او د کافرانو په اړه حجت بشپړ شي، یعني قرآن د بااحساسه وګړو لپاره پند دئ او د کافرانو لپاره نهائي حجت.

دې ته مو پام وي چي قرآن مکرراً د دښمنانو دا تور رد کړی چي رسول اللهؐ ته ئې د یوه شاعر خطاب کړی، دا نه د دې لپاره چي قرآن هر شاعر ته په سپکه سترګه ګوري، بلکي په دې سره مخالفینو ته ویل شوي: ستاسو دا قضاوت ظالمانه او د عقل او منطق خلاف قضاوت دئ چي رسول اللهؐ ته د یوه شاعر په سترګه ګورئ، نه د یوه پیغمبر په سترګه، د قرآن لوړ او اغېزناك ادبي ترکیب داسي تعبیروئ چي ګواکي دا د کوم شاعر د ادبي سلیقي او استعداد زېږنده دئ!! خو تاسو راشئ د خپلي ټولني شعراء او د دوی اشعار، افکار او اطوار د رسول اللهؐ له لوړ معنوي او اخلاقي شخصیت، او د ده له افکارو او افعالو سره او له هغه عظیم الشأن قرآن سره مقایسه کړئ چي د ده په لاس تاسو ته وړاندي شوی. قرآن شعر او شاعران په دوو ډلو وېشي:

۱- بد شعر او خراب شاعر چي دا ئې ځانګړتیاوي ګڼي:

لار ورکي او بدکاران به دی او د ده شعر خوښوي، د ده شعر به د دوی په محفلونو کي زمزمه کېږي، دی به د هغوی ملګری وممي او هغوی به د ده ملاتړي او مینه وال.

د ده د اشعارو له مخي به په دې پوه نه شې چي د ده هدف څه دئ؟ خپل مخاطب څه ته بلي؟ بس هغه چوتکي ته ورته دئ چي کله په یوې څانګي کښېني او کله په بلې، لالهانده، کله په یوې درې سر شي او کله په بل ناو، د ده په شعرونو کي به واضح او سپېڅلی پیغام ونه مومې، بس غواړي خپل مخاطب راضي کړي، له هغه څه ترلاسه کړي، که نور هیڅ نه وي نو یو شاباسی خو ئې په برخه شي!!

هسي د بې مقصده ویناوو او خوشو خبرو ګوډی وي، په رګونو کي ئې د عمل کولو جوهر نه وي، د خبرو د میدان اتل وي خو د عمل د میدان ملا ماتی او شل، هغه څه وایي چي نه ئې د کولو اراده لري او نه ئې همت!

۲- قرآن د شاعرانو له مخکنی ډلي هغه شاعر مستثنی کوي چي ځانګړتیاوي ئې دا وي:

د ایمان خاوند وي، شعر ئې له ایمان راخوټېدلی او د ایمان په خدمت کي، هغه چي د ده د هر شعر په هري مصرع کي به د ایمان نښي وګورې.

د عمل د میدان مېړنی وي، عمل ئې نېك وي، تر دې د مخه چي شاعر وي یو صالح انسان وي، داسي نه دئ چي په عمل پاتې کي ئې له شعر پرته بل څه نشته، د ژوند ټوله پانګه ئې یوازي څو اشعار دي، ټول عمر، وختونه او استعدادونه ئې د دغي پانګي په ترلاسه کولو کي ضایع کړي، بلکي هغه یوازي د فراغت وختونه د شعر لیکلو او ویلو ته مختص کړي.

تل ئې الله تعالی په یاد وي، ژبه ئې د الله په یاد لمده، زړه ئې د الله په یاد دربېږي، شعر ئې له ذاکر زړه راخوټېدلی، په خپلو اشعارو کې خدای ډېر یادوي، که څوك ستایي نو هغه خدای دئ، که له چا سره د مینې اظهار کوي هغه خدای دئ، که له چا طمع یا وېره لري نو هغه یوازې خدای دئ، خدای پالي، خدای لمانځي، له خدای مرسته غواړي، د الله په لورې بلنه ورکوي.

مبارز او مجاهد شاعر دئ، له مظلومانو دفاع کوي، له ظالمانو د غچ اخیستلو لپاره ملا تړي او په خپلو انقلابي او ظالم ځپونکو اشعارو سره د ظالمانو پر سر کلك کلك مرګوني ګوزارونه کوي، د ظالمانو په ضد پاڅون ته بلنه ورکوي او د مظلومانو دردونه منعکس کوي.

په دې مبارکو آیتونو کې د قرآن هر مؤمن مخاطب ته دا لارښوونه شوې چې د ښکلي شعر او د قدرمن، دروند او هدفمن شاعر د تشخیص او پېژندو په اړه باید دا دقیق الهي معیار په پام کې ولري او هر شعر او شاعر په دغې تلې وتلي؛ هغه شاعر ته د یوه مؤمن او متعهد شاعر په سترګه وګوري چې دغه ځانګړتیاوې ولري، د شعر هغه دیوان لري وغورځوي چې د لوړو معنوي ارزښتونو په خدمت کې نه وي، هغه خو تر پښو لاندې کړي او اورته ئې وغورځوي چې د ګنده مینې او عشق خبرې کوي، ساقي، مې او ساغر ستایي، د خپل ګاونډي د لور او خور سور شال، تور خال، زلفي، شونډې او د کمیس د لمنې نوم په خوله اخلي، په اشعارو کې ئې نه د حق ملاتړ وي او نه د باطل غندنه، نه د مظلوم ملګرتیا او نه د ظالم مخالفت. د هغه چا دیوان چې یا پاچایان او یا د هغوی رنګین رنګین دربارونه او محفلونه ستایي!!

أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَـٰمًا فَهُمْ لَهَا مَـٰلِكُونَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنَـٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَـٰفِعُ وَمَشَارِبُ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې موږ هغه څاروي ورته پیدا کړي چې زموږ لاسونو جوړ کړي او دوی ئې خاوندان دي، او دوی ته مو رام کړي نو ځیني ئې د دوی سورلۍ دي او له ځینو ئې خوراك کوي، او په هغوی کې دوی ته ځیني ګټې او څښاکونه دي، نو آیا شکر نه کوي؟!!

(۷۱-۷۳)- دلته قرآن خپل مخاطبین هغو الهي پېرزوینو او نعمتونو ته متوجه کوي چې د څارویو په بڼې کې د انسانانو په برخه شوي؛ فرمایي: آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې الله تعالی هغه څاروي ورته پیدا کړي چې په خپل لاس ئې داسې جوړ کړي چې دوی ته مسخر او رام وي، د دوی په خدمت کې وي او د دوی ګڼ شمېر اړتیاوې رفع کړي، ځیني ئې د دوی سورلۍ دي، د ځینو غوښه خوري، له شیدو ئې ګڼ شمېر خوندور او ګټور خواړه لکه مستې،

پېروی، تروې، کوچ او پنیر جوړوي، له پوستکي، وړیو او هډوکو ئې ګټه اخلي، خپل بارونه پرې انتقالوي، او ډېري نوري ګټي تري اخلي، آسونه، کچري او خره ئې پیدا کړل چي پرې سپاره شئ، تاسو ته تابع او رام او سپرېدو ته مو چمتو، داسي ئې پیدا کړي چي له ښایست ئې خوند اخلئ، رنګونه ئې ښایسته، جوړښت ئې ښکلی او حرکات ئې په زړه پوري. ستاسو د سورلئ لپاره ئې ډېر نور داسي شیان پیدا کړي چي لا تر اوسه ئې تاسو نه پېژنئ، ډېر نور داسي څاروي شته چي ستاسو په سیمي کي نه تر سترګو کېږي او تاسو نه دي لیدلي، همداراز د داسي وسائلو جوړولو امکانات ئې په دې عالم کي ایښي چي ورو ورو به ئې جوړول زده کړئ، د سورلئ او حمل و نقل ټول هغه وسائل په دې لړ کي راځي چي انسانانو تر نن پوري جوړ کړي او یا له دې وروسته به ئې جوړ کړي. آیا عجیبه نه ده چي انسان د دغو نعمتونو شکر ونه کړي او د خپل منعم رب پاس ونه ساتي؟!!

دې ته مو باید پام وي چي (مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعٰماً: له هغو څارویو چي زموږ لاسونو جوړ کړي) معنی دا نه ده چي الله تعالی د انسان په څېر لاسونه لري او کوم څه د انسان په څېر په خپل لاس جوړوي، ځیني کمعقله او کمعلمه دا آیت همداسي تعبیروي، حال دا چي دا تعبیر د همدې سورې د همدې برخي له ۸۲ آیت سره په بشپړه توګه تعارض لري، څکه هلته ویل شوي: إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ: یقیناً چي د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چي کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وایي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته ترسره) کېږي!! الله تعالی نه په ذات کي مخلوقاتو ته ورته دئ، نه په صفاتو کي او نه په افعالو کي، نه د انسان په څېر جوارح او غړي لري او نه د انسان په څېر کوم کار په خپل لاس کوي، یوازي امر او اراده ئې کافي ده چي یو کار له ځنډ پرته ترسره شي. د ټولو امورو د تدبیر او ترسره کېدو لپاره یوازي د الله تعالی اراده کافي ده، د شیانو پیدایښت، مرګ، ژوند، ساتنه، پالنه، تدبیر، ورکړه، تملیك، اخیستل، امساك، بطش، دا ټول د الله تعالی په ارادې سره او د كُنْ په حکم ترسره کېږي.

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لَّعَلَّهُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَهُمۡ وَهُمۡ لَهُمۡ جُندٌ مُّحۡضَرُونَ ﴿٧٥﴾

له الله پرته ئې داسي معبودان ونیول چي ښایي (په دې سره به) د دوی ملاتړ وشي، (نه یوازي) ملاتړ ئې نشي کولی (بلکي) دوی په خپله د هغوی لپاره چمتو شوی لښکر وي.

(۷٤-۷٥)- دا مبارك آیتونه د مشرکینو او د دوی د جعلي معبودانو په اړه وایي: مشرکینو له الله تعالی پرته داسي معبودان ځان ته غوره کړي چي ګمان کوي هغوی به ئې خپلو موخو ته په رسېدو کي یا په خپله مرسته وکړي او یا به الله تعالی د هغوی په طفیل او سپارښتنه د دوی حاجتونه ترسره کړي، حال دا چي هغوی نه یوازي د دوی مرسته او ملاتړ نشي کولی بلکي

دوی په خپله د هغوی لپاره چمتو شوی لښکر وي، داسي چي همدا دروغجن معبودان دوی د خپلو غرضونو لپاره د مطیع لښکر په توګه کاروي. معبودان ئي نه یوازي دوی ته کومه ګټه نشي رسولی بلکي په خپله د خپلو غولېدلو جاهلو بندګان مرستو ته سترګي په لار وي، شکراني او نذراني ترې اخلي او د خپلو ګټو لپاره ئي استعمالوي، دوی ورته تبلیغات کوي، کرامتونه ورته ثابتوي، د ځان په څېر جاهلان د هغوی لمانځني ته بلي، له هغوی دفاع کوي او د هغوی لپاره له حقپالو سره جنګېږي، که دا لښکر نه وي نو د هغوی خدایي نه چلېږي.

فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾

نو د دوی وینا دي تا غمجن نه کړي، یقیناً چي موږ په هغه څه هم پوهېږو چي دوی ئي پټوي او په هغه څه هم چي دوی ئي څرګندوي.

(٧٦)- دلته رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چي د مخالفینو د معاندانه تبلیغاتو له کبله مه غمجن کېږه، الله تعالی د دوی په پټو او څرګندو تبلیغاتو او توطئو او په دې چي څنګه ئي شنډ او بې اغیزه کړي ښه پوهېږي.

أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا
مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي
أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ
نَارًا فَإِذَا أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾ أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ
عَلَىٰ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم ۚ بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ ﴿٨١﴾ إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَن
يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾ فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ
تُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

آیا دغه انسان دې ته پام نه دئ کړی چي موږ له یوې نطفې پیدا کړی، او بیا دی څرګند جګړاوو شو، او زموږ لپاره ئي متل تېر کړ په داسي حال کي چي خپل پیدایښت ئي هېر کړی، وئي ویل: څوک به دا هډوکي په داسي حال کي راژوندي کړي چي وراسته شوي وي، ووایه: همغه ذات به ئي راژوندي کړي چي په لومړي ځل ئي پیدا کړل، او هغه په

هر ډول پيدايښت ښه پوه دئ، همغه چي تاسو ته ئې له شنې ونې داسې اور پيدا کړ چي ترې بلول کوئ، آيا هغه چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي پر دې قادر نه دئ چي دوی ته ورته پيدا کړي؟! ولې نه؛ هغه ډېر پوه غوره پيدا کوونکی دئ، يقيناً چي د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چي کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته ترسره) کيږي!! نو سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چي د هر څه ټولواکي د هغه په لاس کي ده او د هغه لوري ته ورگرځول کيږئ.

(۷۷-۸۳)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- آيا دغه کافر او مشرك انسان چي له الله تعالی پرته نور معبودان لمانځي او له بيا ژوندون انکار کوي دې ته متوجه نه دئ چي الله تعالی له يوې نطفې پيدا کړی، هغه ځای ته ئې رسولی چي له خپلې تگلارې او دريځ دفاع کولی شي، په شخړو لاس پورې کولی شي، خو هغه خپل زور ځواك د حق او حقيقت په ضد کاروي، حتی د خپل رب په ضد استدلال کوي او وايي: **څوك به دا هډوکي په داسې حال کي بيارا‌ژوندي کوي چي وراسته شوي وي، دا خبره په داسې حال کي کوي چي خپل پيدايښت ئې هېر کړی. قريشو له هغې ورځې چي رسول الله ﷺ پر آخرت ايمان ته وبلل او ورته وئې ويل: دا عالم د پای يوه ثابته نېټه لري، قيامت به راځي، د نړۍ دا موجود نظام به متلاشي کيږي، بله دنيا به له بلې زمکې او آسمان سره راپيدا کيږي، ټول انسانان به بيا راژوندي کيږي، ټول به د الله په لوري درومي او د خپلو عملونو له ثواب او عقاب سره به مخامخ کيږي، قريشو به کله په حيرت او تعجب سره او کله په تمسخر او ملنډو سره يوه له بله پوښتل: آيا اورېدلي مو دي چي ستاسو دا ملگری څه وايي؟!! آيا دا خبره د منلو ده چي له مرگه وروسته او پس له هغه چي هډوکي مو وراسته او په خاورو بدل شي بېرته به راژوندي کيږو؟!! که دا خبره رښتيا وي نو زمونږ له پلرونو او نيکونو څخه خو کوم څوك بايد تراوسه راژوندی شوی وی!!**
- **رسول الله ﷺ ته ويل شوي چي دې منکر انسان ته ووايي:**

۱. همغه ذات به ئې بيارا‌ژوندي کوي چي په لومړي ځل ئې پيدا کړل، څوك چي يو شی په لومړي ځل او له مخکني مثال پرته پيدا کولی شي ولې ئې له بيا پيداکولو عاجز گڼئ؟! دوهم ځل پيدايښت خو تر لومړي ځل ډېر آسان وي!!

۲. همغه ذات به ئې بيارا‌پيدا کوي چي په هر ډول پيدايښت ښه پوه دئ، ډول ډول مخلوقات ئې پيدا کړي، د دې دومره زياتو او بې شمېره مخلوقاتو خالق څنگه د انسان له بياپيدا کولو عاجز گڼئ؟!!

۳. همغه ذات به ئې بيارا‌ژوندي کوي چي تاسو ته ئې له شنې ونې داسې اور پيدا کړ چي ترې بلول کوئ، چا چي په سرو شنو ونو کي د تودوخې پيدا کولو استعداد ايښی، انسان ته ئې دا توان ورکړی چي د اور بلولو په اړه ترې کار واخلي او تودوخه ترې ترلاسه کړي، همغه به مړي بيا راژوندي کوي، تاسو ښه پوهيږئ چي تودوخه او حرارت د ژوندون اساسي تومنه ده، يو ژوی تر هغه ژوندی وي چي په وجود کي ئې تودوخه او انرژي پيدا کيږي، په کومه شېبه چي د هغه په وجود کي د حرارتي انرژي توليد متوقف شي مري، که انسان دا د

الله تعالى يو مخلوق؛ كولى شي له شني سرې وني تودوخه ترلاسه كړي ولي د ده خلاق رب له دې عاجز ګڼئ چي له مړې سرې خاورې ژوندون راوټوكوي؟!! آيا هره شېبه له خاورې د ډول ډول ژوو پيدايښت په خپلو سترګو نه ګورئ؟!!

• آيا هغه چي آسمانونه او زمكه ئې پيدا كړي پر دې قادر نه دئ چي دوى ته ورته انسانان پيدا كړي؟! ولې نه؛ هغه ډېر پوه غوره پيدا كوونكى دئ. د ده د (علم) او (خلاقيت) څرګند مظاهر د عالم هر لوري ته، په هر ګام كي او هره شېبه ګورو.

• يقيناً چي د الله تعالى كار داسې دئ چي كله د كوم څه اراده وكړي نو ورته وايي: وشه او هغه له ځنډ پرته كېږي.

• نو سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چي د هر څه واك د ده په لاس كي دئ او د هغه لوري ته ورګرځول كېږئ. هغه ذات چي د هر څه واګي د ده په لاس كي دي، په عالم كي واكمني، سلطنت او سيطره د ده په واك كي دي، د ټولو شيانو ساتنه او پالنه كوي، د ټولو امورو تدبير ئې په لاس كي دئ، هغه له هر عيب منزه او له هرنقص او ضعف لوړ دئ. هر څه د هغه په اختيار كي او د هغه د ارادې په وړاندې مقهور دي، په پاى كي د خپل رب په لوري درومي، تاسو هم د نورو شيانو په څېر د خپل ژوند په پاى كي د خپل رب خوا ته درومئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الصٰفٰت

د سورې پېژندنه:

د دې مباركې سورې نوم (الصٰفٰت) دئ، د سورې له لومړي آيت اخيستل شوی، ۱۸۲آيتونه لري، د لومړيو څلورو آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (صفاً) ته ورته دي، له پنځم آيت تر يولسم آيت پورې (مشارق) ته ورته دي، له دې وروسته د ټولو نورو آيتونو فواصل ئې د دولسم آيت (يسخرون)، او د پنځلسم آيت (مبين) ته ورته دي، آيتونه ئې لنډ لنډ او هغو سورتونو ته ورته دي چې د مكي دور په لومړيو كې نازل شوي.

د سورې له متن معلومېږي چې دا سوره د مكي دور په لومړيو كې او هغه مهال نازله شوې چې د مسلمانانو او قريشو تر منځ د جدي بحثونو لړۍ پيل شوې وه خو خبره د مسلمانانو ګواښلو او تعذيب ته نه وه رسېدلې او د مسلمانانو او قريشو د ناستې ولاړې لړۍ هم پای ته نه وه رسېدلې، د سورې په يوې برخې كې د هغه جنتي يادونه شوې چې له يوه دوزخي سره ئې په دنيا كې ناسته ولاړه درلوده، په جنت كې به دا لټه وكړي چې د هغه له برخليك او حال خبر شي، د دوزخ په تل كې به ئې ومومي او ورته وبه وايي: قسم په خدای چې نږدې وه ما په دوزخ كې وغورځوې، او كه زما د رب فضل او پېرزوينه نه وی نو زه به هم په دوزخ كې له حاضر كړی شوو سره وم. له دې معلومېږي چې دا سوره په دغسې يوه ماحول كې نازله شوې.

كه د سورې مضامينو ته ځير شو نو ډېر ژر به راته جوته شي چې ټول اساسي مطالب ئې د سورې په آخري اوو آيتونو كې راغلي، آيتونه دا دي:

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٧٦﴾ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٧﴾ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٨﴾ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٩﴾ سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾

نو آيا زموږ د عذاب په اړه تلوار كوي، خو كله چې د دوی پر سيمې پرېوځي هغه مهال به د دغو ګواښل شوو سباوون ډېر بدغونی وي، نو تر يوه وخته مخ ترې واړوه، او وئې ګوره چې دوی به هم ډېر ژر وګوري، سپېڅلتيا ستا رب ته ده، د عزت خاوند رب، له هغه څه چې دوی ئې بيانوي، او پر پيغمبرانو دې سلام وي په داسې حال كې چې ستاينې ټولې د عالمونو رب ته دي.

تاسو به وګورئ چې دا وروستي اوه آيتونه داسې دي چې د سورې د ټولو اساسي مطالبو خلاصه زموږ په وړاندې ږدي، پر الله تعالی ايمان، پر آخرت باور او په دې اړه د پيغمبرانو ﷺ دعوت او د دې دعوت پايلې د سورې د بحث اساسي موضوعات دي چې خلاصه ئې په همدغو آخري اوو آيتونو کې راغلي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ۝١ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ۝٢ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ۝٣ إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ۝٤ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَرَبُّ ٱلۡمَشَٰرِقِ ۝٥

په يوه صف کې ليکه کېدونکو قسم، بيا په ځانګړې رټلو سره رټونکو قسم، بيا د ذکر لپاره په پر له پسې راتلونکو قسم، بې شکه چې ستاسو رب يو دئ، هماغه د آسمانونو، زمکې او د هرهغه څه رب چې د دوی دواړو تر منځ دي او د ټولو ختيځونو رب.

(۱-۵)- د دې مبارکو آيتونو په معنی د ښه پوهېدو لپاره بايد دا مطالب په پام کې ولرو:

• ~~دلته د (مقسم به: هغه څه چې لوړه پرې شوې) درې صفات ذکر شوي: الصافات: صف~~
تړونکي، الزاجرات: رټونکي او التاليات: پر له پسې راتلونکي. د دې الفاظو اطلاق په ډېرو شيانو کېدی شي، خو په دې پوهېدل چې دلته د هر يوه دقيقه معنی څه ده او د څه لپاره کارول

شوی، دا باید د لغت په کتابونو کې نه بلکې په خپله په قرآن کې، په دغو آیتونو او په همدې سوره کې ولټوو.

- د دوو وروستنیو آیتونو په سر کې د (فاء) توري دا مطلب په ګوته کوي چې دا دواړه له مخکني سره تړلي دي او په ټولو کې د یوه شي په اړه خبره روانه ده، یعني الصافات، الزاجرات او التالیات د یوه شي درې حالتونه او صفات دي.
- دا شیان باید د قرآن د نورو قسمونو په څېر هر مخاطب ته څرګند شیان وي او دا ادعاء ثابته کړي چې ستاسو رب یو دئ، د آسمانونو، زمکې او پدوی کې د هرڅه رب دئ.
- د قرآن په څو آیتونو کې ستوري د رڼونکو په نامه یاد شوي.
- په قرآن کې د سپوږمۍ په هکله ویل شوي چې دا ورپسې راتلونکې ده، په شپه کې د لمر له پرېوتو وروسته راڅرګنده شي، ستوري هم د سپوږمۍ په څېر په شپه کې ورو ورو او یو په بل پسې راڅرګندېږي.
- د ستورو په لیدو سره انسان د دې عالم په عظمت او ستروالي پوهېږي، د ورځې لخوا انسان یوازې خپله زمکه او په آسمان کې لمر ګوري، خو چې شپه شي او ستوري راڅرګند شي نو هلته په دې پوه شي چې دا عالم څومره ستر او خور دئ، همدا ستوري ده ته خپل رب ورپه یاد کړي، په حقیقت کې ستوري د الله تعالی د یادولو سبب کېږي. د المرسلات په سوره کې بادونه د (الملقیات ذکراً) په صیغه سره د الله تعالی د ذکر القاء کوونکې ګڼل شوي او دلته ستوري د الله تعالی د ذکر موجب.
- که په دې عالم کې سترګې وغړوو او دا ولټوو چې په یوه لیکه کې لیکه کېدونکې، رڼونکې او پر له پسې راتلونکې به څه وي، نو ستوري مو مخې ته ودرېږي، له ستورو پرته داسې شی نه شو موندلی چې د دغو صفاتو مصداق وي، د شپې لخوا په آسمان کې یوه لویه لیکه ګورو چې د ستورو او ستور لیکو (کهکشانونو) مجموعه ده او د آسمان ټول ستوري په حقیقت کې د همدې لویې لیکې اجزاء دي، زموږ زمکه، لمر او شمسي نظام هم د دغې لیکې اجزاء دي. همداراز د آسمان په یوه او بله ګوښه کې د شهاب ثاقب په واسطه د رڼلو صحنې ګورو، او دا هم ګورو چې ستوري ورو ورو رابرسیره کېږي، ځینې د تیارې له زیاتېدو سره سم راڅرګندېږي او ځینې نور د شپې په سر کې نه وي وروسته راپورته شي.
- له قسمونو او ځواب وروسته دوه آیتونه داسې راغلي چې په ډېر وضاحت سره ښیي چې په لومړنیو آیتونو کې ستورو ته اشاره شوې: آیتونه دا دي:

إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ۝٦ وَحِفۡظٗا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ۝٧

دا موږ یو چې د دنیا آسمان مو په ستورو ښایسته کړی او له هر متمرد شیطان د ساتنې په توګه (مو ګمارلي).

په آیت کې د رب المشارق فقره هم ښیي چې دلته د ټولو ستورو مشارقو ته اشاره شوې، ټول له شرق طلوع کوي او په غرب کې پرېوځي.

له دغو ټولو خبرو په ډاګه معلومېږي چې په لومړیو دریو آیتونو کې د ستورو دریو صفاتو ته اشاره شوې.

دغه د آسمان بې شمېره ستوري چې په يوې عظيمې ليکې کې تنظيم شوي، هر يو ئې په خپل مدار او فلك کې په منظم طور خوځي، طلوع او غروب ئې منظم، نه يوه شېبه وروسته مخکې کېږي او نه يو له بل سره تصادم کوي، دا شهادت ورکوي چې د زمکې او آسمانونو رب يو دئ. دا استدلال قرآن په بل ځای کې هم کوي او وايي: که په زمکه او آسمان کې له يوه الله پرته متعدد خدايان وی نو حتماً دواړه تباه کېدل او دا موجود نظم متلاشي کېدو او تباهي خورېده. نظم، يووالی، له تصادم او ټکر مخنيوی، هرڅه په خپل خپل ځای کې ساتل او خپل خپل کار ترې اخيستل دا ثابتوي چې دا هرڅه د واحد ځواکمن ذات په اداره کې دي.

د ستورو په اړه د قرآن دا بيان نه يوازې د عالم يو دقيق انځور زموږ په وړاندې ږدي بلکې د قرآن يو ستر علمي اعجاز څرګندوي، ستور پېژاندي له ډېرو دقيقو او علمي څېړنو وروسته او د قوي ټلسکوپونو په مرسته دې نتيجې ته ورسېدل چې د عالم ټول ستوري او ستور ليکې په يوې ستري ليکې کې د يوه صف په څېر واقع شوي، دا د ستورو همغه صف او ليکه ده چې د شپې له لوري تته او د دوړو يوې ليکې ته ورته تر سترګو کېږي، دا دوړې په حقيقت کې ستوري او ستور ليکې دي چې د لرې والي له کبله د سپينو دوړو په توګه معلومېږي. د عالم ټول اجرام او ستوري په همدې ليکې کې راغونډ شوي، موږ ته چې له ليکې بهر کوم ستوري ښکاري دا زموږ د ستور ليکې اړوند ستوري دي چې تر نورو موږ ته رانږدې دي او له همدې کبله موږ ته له هغې لويې ليکې بهر برېښي، په حقيقت کې دا هم د همدې ليکې اړوند ستوري دي. آيا دا د قرآن يو ستر علمي اعجاز نه دئ چې ټول ستوري په يوه صف کې په ليکه شوي ګڼي؟!! همغسې لکه چې د دې سورې په لومړي آيت کې راغلي: وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفًّا: په يوه صف کې ليکه کېدونکو قسم!!!

بايد متوجه وو چې په تفسيرونو کې د دغو قسمونو په اړه د ډېرو مختلفو آراوو شاهد يو، دومره چې که ئې ټول وڅېړو نو د لوستونکو حوصله به ورته تنګه شي، ډېری آراء داسې دي چې يا په يادولو نه ارزي يا د هغه په تأييد کې نه له قرآن کوم شاهد وړاندې شوی او نه له صحيح الاسنادو رواياتو، که څه هم اختلاف په خپله پدې دلالت کوي چې پدې هکله موثق روايت نشته، خو په ځينو تفسيرونو کې پداسې رواياتو استناد ګورو چې نورو هغه ضعيف ګڼلي. د اختلاف يوه وجه دا ده چې ځينو (التاليات) د تلاوت کوونکو په معنی تعبير کړې، حال دا چې دلته د (پر له پسې راتلونکو) معنی افاده کوي، لکه څنګه چې د الشمس د سورې په دوهم آيت کې وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا: قسم په دې سپوږمۍ چې ورپسې شي، د (تلا) لفظ ترشا راتګ افاده کوي. ځينو (الصافات، الزاجرات او التاليات) د فرشتو بېل بېل ټولګي ګڼلي!! دا تعبير له يوې خوا د قسمونو په اړه د قرآن له عام اسلوب سره تعارض لري، ځکه قرآن تل په مشهود او څرګندو شيانو استشهاد کوي او د خپلې مدعاء د اثبات لپاره ئې د شاهد په توګه وړاندې کوي، ملائکې د استشهاد لپاره نشي وړاندې کېدی، آيا څوك کولی شي يو غائب شی د بل غائب شي او د خپلې داسې مدعاء د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې کړي چې مخاطب ئې نه مني او دليل ترې غواړي؟!! له بلې خوا قرآن وايي چې فرشتې ښځينه او نارينه نه لري، د دوی لپاره معمولاً د تذکير صيغې کاروي، لکه دا آيت:

وَتَرَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنْ حَوْلِ ٱلْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۖ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ وَقِيلَ

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾

الزمر: ۷۵

په دې آيت کې د ملائکو لپاره د (حافات) پر ځای د (حافين) صيغه راغلې چې د جمع مذکر صيغه ده. حال دا چې الصافات، الزاجرات او التاليات د جمع مؤنث صيغې دي، په فرشتو ئې اطلاق نه شي کېدی، په عربي کي په (الف) او (تاء) سره يا حقيقي مؤنث جمع کيږي او يا د غيرذوی العقول صفت، نو په يقين سره ويلی شو چي د الصافات د سورې قسمونه او دې ته ورته قسمونه په ملائکو نه شو حمل کولی.

که د دې قسمونو په اړه دا ټول مختلف آراء او تعبيرونه يو د بل څنګ ته کېږدئ او قضاوت وکړئ نو دا به ډېر ژر او په آسانئ درته جوته شي چي ترټولو دقيق او په قرآن مستند تفسير همدا پورتنی تفسير دئ.

إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِزِينَةٍ ٱلْكَوَاكِبِ ﴿٦﴾ وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَٰنٍ مَّارِدٍ ﴿٧﴾ لَّا

يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰ وَيُقْذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٍ ﴿٨﴾ دُحُورًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ

وَاصِبٌ ﴿٩﴾ إِلَّا مَنْ خَطِفَ ٱلْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُۥ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴿١٠﴾

يقيناً چي دا مونږ يو چي د دنيا آسمان مو په ستورو ښايسته کړی او له هر متمرد شيطان د ساتني په توګه (مو ګمارلي). ملاء اعلی ته غوږ نشي نيولی، او له هر لوري ويشتل کيږي، د شړلو په موخه، په داسي حال کي چي دوی ته دائمي عذاب دئ، خو که کوم څه اختطاف کړي نو شهاب ثاقب (تېزه شعله) ورپسې شي.

(۶-۱۰)- په دې مبارکو آيتونو کي دا لارښووني ځليږي:

● ~~زمکي ته نږدې آسمان په ستورو ښايسته کړی شوی، له دې وينا جوته کيږي چي ټول~~ ستوري تر لاندني او زمکي ته نږدې آسمان لاندي دي.

● شيطانان نشي کولی لوړ پوړو فرشتو ته نږدې شي او د دوی خبرو ته غوږ ونيسي، ستوري د دوی د بر تللو مخنيوی کوي، که د بر تللو او غوږ نيولو هڅه وکړي نو له هر لوري ويشتل کيږي، په دې سره څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې: د کاهنانو او نجوميانو دا ادعاء له بنسټه رد شوې چي وايي: د پېريانو له لاري د غيب خبري ترلاسه کوي، ګواکي هغوی د آسمان په لوري لوړ درومي، د فرشتو خپلمنځي خبري اوري، له راتلونکو پېښو خبرېږي، او خپلو ملګرو کاهنانو ته اطلاع ورکوي، نو ځکه دوی توانېدی شي چي خلک په خپل برخليک خبر کړي او ورته ووايي چي له کومو پېښو سره به مخامخ شي، که شکرانې او نذرانې ورکړي نو

له خطر او ضرر به د خوندي پاته کېدو مرسته ورسره وکړي!! په دې وينا سره د دوی دغه غولوونکي ادعاګاني او دروغجني خبري رد شوې. دلته ويل شوي چي دا ستوري د هر متمرد شيطان رټونکي دي او د دوی د بر تللو مخنيوی کوي، نو څکه ملاء اعلی ته غوږ نشي نيولی، او که احياناً کوم يو ئې بر ولاړ شي او کوم څه اختطاف کړي نو ځلانده سوزوونکي لمبه ورپسي شي.

دي ته مو بايد پام وي چي نن ساينسپوهان او ستور پېژاندي د فضاء په اړه همدغه خبره کوي چي قرآن څوارلس پېړی وړاندي کړې او وايي: آسمان ته د بر تللو په وړاندي تر ټولو ستر خنډ هغه شهاب ثاقب دي چي له هر لوري راپرېوځي، سرعت او حرارت ئې دومره زيات وي چي هر څه ايرې کوي، په طبيعت کي داسي ماده نشته چي د هغوی په وړاندي مقاومت وکولی شي.

فَٱسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَم مَّنْ خَلَقْنَآ ۚ إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍۭ ﴿١١﴾ بَلْ
عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ذُكِّرُوا۟ لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوْا۟ ءَايَةً يَسْتَسْخِرُونَ
﴿١٤﴾ وَقَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا
لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾ أَوَءَابَآؤُنَا ٱلْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾ قُلْ نَعَمْ وَأَنتُمْ دَٰخِرُونَ ﴿١٨﴾ فَإِنَّمَا هِىَ
زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَا هَٰذَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿٢٠﴾ هَٰذَا يَوْمُ
ٱلْفَصْلِ ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾

نو وئې پوښته چي آيا دوی د پيدايښت له پلوه مضبوط دي او که هغه څه چي موږ پيدا کړي، موږ خو دوی له سرښناکي خټي پيدا کړي. نه؛ بلکي ته حيرانتيا ښيې او دوی تمسخر کوي، او کله چي پند ورکړی شي پند نه اخلي، او که کومه څرګنده نښه وګوري نو مسخرې پرې کوي، او وايي: دا خو له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ، آيا کله چي ومرو او خاوري او هډوکي شو آيا بيا به هم موږ بېرته راپاڅول کېږو؟ او زموږ لومړني پلرونه هم؟! ووايه: هو؛ او په داسي حال کي چي تاسو به سرکوزي او ذليل وئ، يقيناً چي دا به يوازي يوه تونده چيغه وي چي بيا به دوی هغه مهال (هر څه) ګوري، او وايي به: افسوس پر موږ! دا همغه د جزاء ورځ ده، دا همغه د پرېکړي ورځ ده چي تاسو تکذيبوله.

(۱۱-۲۰)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- رسول اللهﷺ ته ویل شوي چي مخالفین وپوښته: آیا دوی د پیدایښت له پلوه مضبوط دي او که هغه څه چي موږ پیدا کړي، موږ خو دوی له سرېښناکي خټې پیدا کړي. یعني هغه وګړي چي له الله تعالی او له بیاژوندون انکار کوي ودي وایي چي د دوی پیدایښت د دې پراخ عالم د پیدایښت په پرتله څنګه تعبیروي، د کوم یوه پیدایښت شدید، مضبوط او پیدا کوونکي ته ئې ګران ګڼي، د ټول عالم پیدایښت که د انسان بیا پیدایښت، د هغه انسان پیدایښت چي الله تعالی له سرېښناکي خټې پیدا کړی؟!!
- نه؛ له شکه پرته چي خبره هغسي نه ده چي دوی ئې انګېري، بلکي حقیقت دا دئ چي ته د خپل رب د عظمت او قدرت او د هغه عالم او مخلوقاتو د پراخوالي په اړه حیرانتیا ښیې چي ستا رب پیدا کړي؛ خو دوی تمسخر کوي، او کله چي پند ورکړی شي پند نه اخلي، او که کومه څرګنده نښه وګوري نو مسخرې پرې کوي، او وایي: دا خو له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ، آیا کله چي ومرو او خاوري او هډوکي شو آیا بیا به هم موږ بېرته راپاڅول کېږو؟ او زموږ لومړني پلرونه هم؟!
- دوی ته ووایه: هو؛ تاسو به هم بیا راژوندي کېږئ او ستاسو پلرونه هم، په داسي حال کي چي تاسو به سرکوزي او ذلیل وئ.
- د دوی بیاراژوندي کول به داسي په آسانۍ ترسره شي چي یوازي په یوې توندي چیغي سره به دا لړی پیل شي او په همدې سره به له قبرونو راپاڅي او هغه مهال به دوی هر څه د خپلو غلطو انګېرنو خلاف وګوري، هغه مهال به وایي: افسوس پر موږ! دا همغه د جزاء ورځ ده، دوی به په خپله هم یو بل ته وایي او له هري لوري به هم ورته ویل کېږي: دا همغه د پرېکړي ورځ ده چي تاسو تکذیبوله.
- په یوې توندي چیغي سره د دوی راژوندي کول به داسي وي لکه په دنیا کي چي د تالندي په توندي چیغي سره له زمکي د بوټو د راټوکېدا لړی پیل کېږي، تالنده د باران راتګ اعلان کړي او په همدې باران سره د مړې زمکي بیاژوندی کېدا پیل شي او ډول ډول ژوندي بوټي راوټوکېږي.

ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ﴿٢٢﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ
إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ﴿٢٤﴾ مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلۡ
هُمُ ٱلۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُونَ ﴿٢٦﴾ وَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ
كُنتُمۡ تَأۡتُونَنَا عَنِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٢٨﴾ قَالُواْ بَل لَّمۡ تَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيۡكُم
مِّن سُلۡطَٰنِۭۖ بَلۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا طَٰغِينَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيۡنَا قَوۡلُ رَبِّنَآۖ إِنَّا لَذَآئِقُونَ ﴿٣١﴾

فَأَغْوَيْنَـٰكُمْ إِنَّا كُنَّا غَـٰوِينَ ﴿٣٢﴾

هغه راغونډ کړئ چې ظلم ئې کړی وو او د دوی جوړې هم او هغه هم چې دوی له الله پرته لمانځل؛ او د دوزخ لارې ته ئې سم کړئ، او وئې دروئ چې پوښتل کېدونکي دي، څه دربانديې شوي چې يو د بل مرسته نه شئ کولی؟ نه؛ بلکې دوی به دغه ورځ د تسليمولو غوښتونکي وي، او ځيني به ځينو نورو ته مخ اړوي په داسې حال کې چې يو به بل پوښتي؛ وايي به: دا تاسو وئ چې موږ ته به له يمينه راتلئ، وبه وايي: نه؛ بلکې تاسو په خپله ايمان راوړونکي نه وئ، او موږ پر تاسو کومه سلطه نه درلوده، بلکې تاسو په خپله سرکښ وګړي وئ، نو ځکه پر موږ (ټولو) د خپل رب وينا محققه شوه، يقيناً چې موږ ئې هرو مرو (د خوند) څکونکي يو، يقيناً چې موږ همغسې بې لارې کړئ چې په خپله بې لارې شوي وو.

(۲۳-۳۲)- دا مبارك آيتونه د قيامت په ورځ د دوزخيانو حالت داسې انځوروي:

- الله تعالی به د دوی په اړه امر وکړي چې: ټول هغه وګړي راغونډ کړئ چې ظلم ئې کړی وو؛ له خپلو جوړو او هغو سره چې دوی له الله پرته لمانځل؛ له جوړو يا د دوی مېرمنې مراد دي، يا ئې ملګري او يا هغه چې د دوی په څېر ول.

- بيا به امر وکړي چې د دوزخ لارې ته ئې سم کړئ، د لارې په اوږدو کې به د دوی د ودرولو امر وکړي او وبه فرمايي: وئې دروئ چې پوښتل کېدونکي دي، دا پوښتنه به ترې وشي چې ولې يو د بل مرسته نه شئ کولی، دوی به نه يوازې يو د بل مرسته نشي کولی بلکې هر يو به د بل تسليمول غواړي، ځيني به ځينو نورو ته په داسې حال کې مخ اړوي چې ترې پوښتي به او ورته وايي به: آيا دا تاسو نه وئ چې تل به موږ ته له يمينه راتلئ، د يمين ښېلو ښېلو معانيو ته په پام سره به د دوی مطلب يا دا وي چې تاسو ځواکمن او زورور وئ، د زور او ځواك له اړخه به راتلئ او موږ به مو په غلطو لارو تلو ته اړ کولو، يا دا چې موږ ته به راتلئ او قسمونه به مو خوړل چې ستاسو وينا سمه ده، يا دا چې له دې لورې به راتلئ چې ګواکې زموږ خير او ښېګڼه غواړئ او زموږ خواخوږي يئ او سمه لار را ښيئ، يا دا چې له ښي لورې به موږ ته په وار وار راتلئ او په غلطو لارو تلو ته به مو هڅولو. مشران به ئې ورته وايي: داسې نه وه؛ بلکې تاسو په خپله ايمان راوړونکي نه وئ، موږ پر تاسو کومه سلطه نه درلوده، بلکې تاسو په خپله سرکښ وګړي وئ، نو ځکه نن پر موږ ټولو د خپل رب وينا محققه شوه، موږ د الله تعالی له پرېکړې سره سم د عذاب وړ وګڼل شوو نو اوس به ئې هرو مرو د خوند څکونکي يو، هو؛ موږ همغسې بې لارې کړئ چې په خپله بې لارې شوي وو. داسې خو نه وه چې موږ په يوه لار روان وو او تاسو مو په بله سر کړي يئ، نه؛ تاسو مو په هغې لار ببولي يئ چې په خپله پرې روان وو.

فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ

كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا
لِشَاعِرٖ مَّجۡنُونِۭ ﴿٣٦﴾ بَلۡ جَآءَ بِٱلۡحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣٧﴾ إِنَّكُمۡ لَذَآئِقُواْ ٱلۡعَذَابِ
ٱلۡأَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٣٩﴾

نو دوی به په دغه ورځ په عذاب کې سره ګډ وي، یقنیاً چې موږ له مجرمینو سره همداسې کوو، دوی داسې ول چې کله به ورته وویل شو: له الله پرته بل معبود نشته؛ نو تکبر به ئې کولو، او ویل به ئې: آیا موږ د یوه مجنون شاعر لپاره د خپلو معبودانو پرېښودونکي شو، داسې نه ده؛ بلکې حق ئې وروړ او ټول پیغمبران ئې تصدیق کړل، یقیناً چې تاسو د دردناك عذاب څکونکي یئ، او له هغه پرته چې کول مو د بل څه سزا نه درکول کېږي.

(٢٣-٢٩)- دا مبارك آیتونه وایي:

- **د دوزخیانو مشران او کشران به په دغه ورځ په عذاب کې سره ګډ وي.**
- ~~**له مجرمینو سره د الله تعالی معامله همداسې ده.**~~

- **دوی په دنیا کې داسې ول چې کله به ورته وویل شو: له الله پرته بل معبود نشته؛ نو تکبر به ئې کولو، او ویل به ئې: آیا کېدی شي موږ د یوه مجنون شاعر لپاره د خپلو معبودانو پرېښودونکي شو؟!!**
- **داسې نه ده؛ بلکې رسول الله ﷺ دوی ته حق وروړ او ټول پیغمبران ئې تصدیق کړل، خو دوی له حق سره نه پخلا کېدونکې دښمني درلوده او له ټولو پیغمبرانو سره ئې د مخالفت لار غوره کړې وه نو ځکه ئې د رسول الله ﷺ په ضد دا دریځ غوره کړی وو.**
- **یقیناً چې اوس او د الله تعالی د محاسبې له مخې تاسو د دردناك عذاب مستحق یئ، اوس به ئې خوند وڅکئ.**
- **د خپلو کړنو مطابق سزا به درکول کېږي.**

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٤٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ رِزۡقٞ مَّعۡلُومٞ ﴿٤١﴾ فَوَٰكِهُ وَهُم مُّكۡرَمُونَ
﴿٤٢﴾ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٤٣﴾ عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيۡهِم بِكَأۡسٖ مِّن مَّعِينِۭ
﴿٤٥﴾ بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيهَا غَوۡلٞ وَلَا هُمۡ عَنۡهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾ وَعِندَهُمۡ

قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ عِينٞ ﴿٤٨﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيۡضٞ مَّكۡنُونٞ ﴿٤٩﴾

مګر د الله مخلص بندګان، دوی ته به ټاکلی غوره رزق وي؛ مېوې، او دوی به عزتمن کړی شوي وي، له نعمتونو ډکو جنتونو کي، پر تختونو یو بل ته مخامخ، پر دوی به د ځانګړې چینې د شرابو جامونه راچورلي، تك سپین او څښونکو ته خوندور، نه به په هغه کي کوم خرابوالی وي او نه به ترې بې سده کېږي، خوا ته به ئې داسي د نظر لنډوونکې د (ښکلو) غټو غټو سترګو والي وي لکه چي پوښلې هګۍ وي.

(٤٠-٤٩)- دلته د جنتیانو حالت د دوزخیانو په پرتله داسي انځور شوی:

- **د الله مخلص بندګان به له هغه څه خوندي وي چي دوزخیان به ورسره مخامخ وي.**
- **د الله تعالی له لوري غوره شوی معلوم رزق به ئې په برخه وي، دا به د جنت مېوې وي.**
- **د عزتمنو په توګه به ئې درناوی کېږي.**
- **له نعمتونو ډکو جنتونو کي به اوسي.**
- **پر تختونو به یو بل ته مخامخ ناست وي.**
- **د ځانګړې چینې له شرابو ډك جامونه به ئې شاوخوا چورلي، تك سپین او څښونکو ته خوندور، نه به په هغه کي کوم خرابوالی وي او نه به ترې بې سده کېږي، نه به ئې په بوی او خوند کي د دنیا د شرابو په څېر کومه ستونزه وي، نه به کوم تاوان اړوي او نه به په بې سده کېدا منتج کېږي.**
- **خوا ته به ئې د نظر لنډوونکې د (ښکلو) غټو غټو سترګو والي وي، داسي ښکلې لکه چي پوښلې هګۍ وي. دلته د جنتیانو دا جوړې په دې صفتونو یادي شوې: سترګې ئې ښکلې غټې غټې، د نظر لنډوونکې یعني حیاناکې او له خپل مېړه پرته بل ته له کتلو ډډه کوونکې، داسي لکه بیض مکنون: پوښلې هګۍ، په دې اړه څو وضاحتونه ضروري برېښي: ١- آیا په بیض مکنون سره د دوی د سترګو ګاټې (بیضه) او د هغوی لوی والی تشبیه شوی که دوی په خپله؟ په دې اړه بېل بېل تعبیرونه شوي خو غوره تعبیر دا دئ چي د سترګو ګاټې ئې او په ځانګړې توګه د ګاټې سپینه برخه ورسره تشبیه شوې، د سترګو ګاټې وړې سپینې هګۍ ته ورته وي، موږ ئې د بیضه په نامه یادوو، د انسان په مخ کي تر ټولو ښایسته عضو همدا سترګې دي، د سترګو اندازه، د سپین او تور تر منځ ئې دقیق تناسب، بانوګان او وروځې، او د سترګې حرکات په مجموع کي د ښایست له پلوه داسي امتیازي مقام لري چي هیڅ عضو ورسره برابري نشي کولی. د تشبیه له پلوه د (بیض) او (مکنون) اطلاق یوازې په سترګې کېدی شي، ځکه د سترګې سپین ګاټې داسي دي چي په بانوګانو او د سترګو په پورتنی او لاندینی پردو کي پټ وي، دا دواړه د بدن په اړه صدق نه کوي، نه د بدن رنګ هګۍ ته ورته وي او نه ئې پټېدا، ٢- آیا دا جوړې د جنتیانو انساني مېرمني دي که کوم بل مخلوق؟ ځواب دا دئ چي دا به د دوی خپلې مېرمني وي، ځکه تر دې وړاندې د دوزخیانو د مېرمنو یادونه شوې چي له دوی سره به یو ځای په دوزخ کي وي.**

فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٞ ﴿٥١﴾
يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ
﴿٥٣﴾ قَالَ هَلۡ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِي سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَٱللَّهِ إِن
كِدتَّ لَتُرۡدِينِ ﴿٥٦﴾ وَلَوۡلَا نِعۡمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ﴿٥٧﴾ أَفَمَا نَحۡنُ بِمَيِّتِينَ
﴿٥٨﴾ إِلَّا مَوۡتَتَنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٥٩﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٦٠﴾
لِمِثۡلِ هَٰذَا فَلۡيَعۡمَلِ ٱلۡعَٰمِلُونَ ﴿٦١﴾

نو ځيني (جنتيان) به ځينو نورو ته مخ کړي په داسي حال کي چي يو به بل پوښتي، د دوی يو ويونکی به ووايي: زه خو داسي وم چي يو ملګری مي وو، ويل به ئې: آيا ته له باور کوونکو يې؟، آيا کله چي ومرو او خاوري او هډوکي شو آيا موږ به محاسبه او مجازات کېدونکي يو، وبه وايي: آيا تاسو اطلاع موندونکي يئ، نو نظر به واچوي او د دوزخ په منځ کي به ئې وګوري، وبه وايي: قسم په خدای چي نږدې وه ما (په دوزخ کي) وغورځوې، او که زما د رب فضل او پېرزوينه نه وی نو زه به هم (په دوزخ کي) له حاضر کړی شوو سره وم. نو آيا داسي نه ده چي اوس مړه کېدونکي نه يو، مګر زموږ همغه لومړنی مړينه؟ آيا موږ عذاب کېدونکي يو؟ يقيناً چي همدا ستره بريا ده، نو عمل کوونکي دي د داسي بريا لپاره عمل وکړي چي دې ته ورته وي.

(٥٠-٦١)- دلته د جنتيانو د دوو ډلو تر منځ د يوې ليدني او د يوه له لوري نورو ته د يوه دوزخي ملګري په اړه د وينا په ارتباط داسي راغلي: ځيني جنتيان به ځينو نورو ته په داسي حال کي مخ کړي چي يو به بل پوښتي، يو به ئې ووايي: زه په دنيا کي داسي وم چي يو ملګری مي وو او ما ته به ئې ويل: آيا ته له باور کوونکو يې؟، آيا کله چي ومرو او خاوري او هډوکي شو بېرته به راژوندي کېږو او د خپلو کړنو له کبله به محاسبه او مجازات کېږو؟، وبه وايي: آيا غواړئ چي د هغه له حالته خبر شئ او وګورئ چي چېري دئ؟ نو نظر به واچوي او د دوزخ په تل کي به ئې ومومي، دا جنتي به هغه ته ووايي: قسم په خدای چي نږدې وه ما هم د ځان په څېر په دوزخ کي وغورځوې، که زما د رب فضل او پېرزوينه نه وی نو زه به هم اوس له نورو دوزخيانو سره يوځای په دوزخ کي حاضر کړی شوی وم، نو آيا اوس له همغه لومړنۍ مړيني پرته بيا مړه کېدونکي يو؟ آيا له کوم عذاب او کړاو سره مخامخېدونکي يو؟ يقيناً چي همدا ستره بريا ده، نو عمل کوونکي دي د داسي بريا لپاره عمل

وکړي چې دې ته ورته وي.
په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دا کس به د جنتیانو د دوهمې کچې له ډلې وي، داسې کس چې په دنیا کې ئې له داسې خلکو سره هم څه نا څه روابط او ناسته ولاړه وه چې خپلو باورونو او کړنو دوزخ ته رسولي.
- له دې معلومېږي چې دا سوره هغه مهال نازله شوې چې د مسلمانو او کافرانو تر منځ اړیکي لا په بشپړه توګه نه وې شلېدلې او خبره ځرګندې دښمنۍ او مخالفت ته نه وه رسېدلې.

د دې مضمون په ترڅ کې مسلمانانو ته ویل شوي چې له داسې ملګرو همدا اوس ځان لرې وساتئ که نه نو کېدی شي له ځان سره مو دوزخ ته بوځي.

- دا جنتي به خپل یو ملګری په جنت کې ونه مومي، نورو جنتیانو ته به ووایي: راشئ هغه ولټوو، ډېر ژر به ئې د دوزخ په تل کې ومومي، دلته لږ توقف په کار دئ، باید په دې خبرې غور وکړو چې یو جنتي به څنګه په دې توانېږي چې یو دوزخي د ملیاردونو انسانانو په منځ کې تشخیص کړي، د دوزخ په تل کې ئې ومومي او بیا له هغه سره خبرې پیل کړي، سره له هغه لرې واټن چې د دوی دواړو په منځ کې به وي او سره له دې چې د دوی له بېلوالي بیا تر هغه نېټې چې یو جنت ته او بل دوزخ ته تللی اوږده موده تېره شوې؟!! دا داسې وګڼئ لکه څوك چې نن خپل کوم ملګری زموږ په شمسي نظام یا ستورلیکي کې ولټوي او د سترګو په رپ کې ئې په یوه لرې ستوري کې ومومي!! او د زمکې له سر له هغه سره داسې خبرې وکړي چې هم ئې غږ اوري او هم ئې شکل ګوري!! له دې معلومېږي چې هلته به د انسان حواس د نن په څېر محدود او کمزوري نه وي بلکې داسې به وي لکه چې په دغو آیتونو کې انځور شوي.

له دې او دې ته ورته آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې په جنت کې به نه د انسان حواس اوسني حواس وي او نه ئې د درك ساحه دومره محدوده لکه نن، هم به ئې لرې لید ډېر پراخ وي او هم حواس دومره حساس چې له داسې جنت سره ښايي، قرآن د دغه حقیقت د بیانولو لپاره د هغه جنتي مکالمه له هغه دوزخي سره زموږ په وړاندې ږدي، هغه په دنیا کې له یوه دوزخي سره پېژندل، هغه ئې د غولولو هڅه کوله خو دی د الله تعالی په فضل ترې خوندي پاتې شوی وو، په جنت کې به ورپه یاد شي، زړه به ئې وغواړي چې له حاله ئې خبر شي، خپلو ملګرو ته به ووایي زما داسې یو دوست وو، راشئ وګورو چې هغه چېرې دئ، په یوه نظر سره به هغه د ټولو دوزخیانو له منځه د دوزخ په یوې کندې کې ومومي او له جنته به پرې غږ کړي، که لږ ځیر شو او دا په پام کې ولرو چې د آدم **صلعم** له پیدایښت بیا د قیامت تر ورځې به څومره انسانان په زمکې کې پیدا شوي وي؟ آیا دا اوس چې موږ پر زمکه ګرځو، هر قدم چې اخلو د څو انسانانو پر خاوره شوو ککرو به پښه ږدو، تر قیامت پورې به د دوی شمېر څومره شوی وي، څومره به په جنت کې وي او څومره په دوزخ کې، د دوزخونو او جنتونو تر منځ به واټن څومره وي؟ یو انسان څنګه توانېږي له دومره واټن د دومره کسانو تر منځ یو ملګری په یوه نظر پیدا کړي؟!! آیا پوهېږئ چې په داسې خبرو به یو مهال د اسلام مخالفینو څومره ملنډې وهلې وي او هغه به ئې دروغجنې او د حقیقت خلاف او له مبالغو ډکې ګڼلې وي؟!! خو دا دئ نن د افغانستان له یوه لرې پراته کلي یو کس د یوه

وروکي مبايل په مرسته د نړۍ په لرې ګوټ کي له خپل دوست سره داسي خبري کوي چي هم ئي غږ اوري او هم ئي مخ ګوري!! دا نن د يوه قوي او ستر ټلسکوپ خوا ته ناست ستور پېژاندی د ستور ليکي په لرې اړخ کي يو ستوری ګوري او وايي: دا ستوری زموږ له زمکي په دومره واټن کي پروت دئ، حجم ئې زموږ د زمکي په پرتله دومره ځله زيات دئ!! آيا د قرآن دا وينا داسي نه ده چي د ساينس د نني معيارونو له مستوی هم وړاندي ده؟!! آيا دا د قرآن يو ستر علمي اعجاز نه دئ؟!!

أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَٰهَا فِتْنَةً لِّلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ
تَخْرُجُ فِىٓ أَصْلِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٦٥﴾ فَإِنَّهُمْ لَءَاكِلُونَ
مِنْهَا فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا ٱلْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ إِنَّ
مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾ إِنَّهُمْ أَلْفَوْا۟ ءَابَآءَهُمْ ضَآلِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمْ
يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾

آيا دا د مېلمستيا په توګه غوره دئ که د زقوم ونه، يقيناً چي هغه مو د ظالمانو لپاره فتنه ګرځولې، دا داسي ونه ده چي د دوزخ په تل کي راټوکېږي، وږي ئې داسي دي لکه د شيطانانو سرونه، نو دوی به ترې خوراك کوي، او له همدې به د (خپلو) خېټو ډکوونکي وي، بيا به حتماً دوی ته پر هغې د تودو اوبو ګډونه وي، بيا به ئې ګرځېدا حتماً د دوزخ د اور کندي په لوري وي، يقيناً چي دوی خپل پلرونه تېروتي موندلي ول، نو د هغوی پر پلونو ځغلېدونکي ول، او يقيناً چي تر دوی وړاندي ډېری لومړني بې لاري شوي ول.

(٦٢-٧١)- دلته قرآن د خپل مخاطب په وړاندي دا پوښتنه ږدي: په دغو دواړو کي کوم حالت غوره دئ، د جنتيانو که د دوزخيانو، هغه چي په جنت کي به د مېلمنو په توګه اوسي او که هغه چي خوراك به ئې د زقوم له زهرجني او ترخي ونې وي؟! هغه چي الله تعالی د ظالمانو لپاره د فتنې او آزموينې سبب او د عذاب وسيله ګرځولې، دا داسي ونه ده چي د دوزخ په تل کي راټوکېږي، وږي ئې داسي دي لکه د شيطانانو سرونه، نو دوی به ترې خوراك کوي، او له همدې به خپلي خېټي ډکوي، کله چي ترږي او ځښاك ته اړ شي نو ايشېدلې اوبه به ئې په برخه شي، همدا به له زقوم سره ګډوي، بېرته به د اور کندي ته ستنېږي. له دې بد برخليك سره د مخامخېدو ستره وجه دا وه چي دوی خپل پلرونه تېروتي موندلي ول خو سره له دې ئې نه يوازي په پټو سترګو د هغوی تقليد کولو بلکي د هغوی پر پلونو ځغلېدل، دا په داسي حال کي

چي تر دوی وړاندي ډېرى لومړني بې لاري شوي وو.

دلته دوه پوښتني بايد ځواب شي: د زقوم ونه څنگه د دوزخيانو لپاره فتنه ده؟ د دوزخ په تل کي، هلته چي ډېري او انسانان په کي سوزي د زقوم بوټى او ونه څنگه راټوکېږي؟ د دې دواړو پوښتنو ځوابونه دا دي: په قرآن کي کله فتنه د آزمويني په معنى راځي او کله د عذاب په معنى، د زقوم ونه له يوې خوا د دوزخيانو لپاره د تعذيب وسيله ده، او له بله پلوه يوه آزموينه، په دنيا کي آزموينه او په آخرت کي عذاب، په آخرت کي د عذاب اړخ ئې کاملاً واضح دئ خو په دنيا کي د آزمويني اړخ ئې لږ وضاحت غواړي، قرآن په خپله د دې وضاحت کوي، کله چي د زقوم د ونې او د دوزخ په تل کي د هغې د راټوکېدا يادونه وشوه نو مخالفينو ستره غوغا جوړه کړه او په هر مجلس کي ئې په ټوکو ټوکو او مسخرو سره ويل: دا محمد (صلعم) ادعاء کوي چي د زقوم ونه به د دوزخ په سره اور کي راټوکېږي!! په اور کي خو بوټي او وني سوزي؛ څنگه ومنو چي د دوزخ په څېر تېز او سخت اور کي به ونې راټوکېږي؟!! د قرآن د وينا له مخي دوى د رسول اللهﷺ په ځو ويناوو تر ټولو زيات تبليغات وکړل چي په قرآن کي ئې په دې توگه يادونه شوې:

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِ ۚ وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِىٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِى ٱلْقُرْءَانِ ۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾

الإسراء: ٦٠

او کله چي مو درته وويل: يقيناً چي ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې، او هغه رؤيا (خوب) چي تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه گرځولې، او په قرآن کي (ياده شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېروو ئې، نو (دغو خبرو) يوازي د دوى ستر طغيان لازيات کړ.

د دې آيت په څلورو فقرو کي داسي څلورو خبرو ته گوته نيول شوې چي د مخالفينو عناد، دښمني او طغيان ئې لازيات کړ.

لومړى خبره ئې د قرآن دا وينا وه چي الله تعالى پر خلکو احاطه کړې، داسي څه نشي کولى چي الله تعالى ئې د کولو توان او توفيق ورنه کړي، مخالفينو ويل: موږ خو په خپلې شاوخوا کي داسي څوك نه گورو چي موږ ئې احاطه کړي يو!! موږ خو ډېر داسي څه کوو چي ته وايې الله تعالى ئې نه خوښوي، ستا د رب احاطه چېري ده؟

دوهمه خبره د رسول اللهﷺ هغه رؤيا وه چي د اسراء او معراج په نامه ياده شوه، خلکو ته دا رؤيا يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل گران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وگڼله، ځينو د تبليغاتو لپاره وکاروله او ويل به ئې دا دئ دا پيغمبر اوس ادعاء کوي چي په يوه شپه کي تر مسجدالاقصى پورى تللى، د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ئې کړى، تر اوم آسمان پوري رسېدلى، په هر آسمان کي ئې يو يو پيغمبر ليدلى، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترگو ليدلي او...

درېيمه خبره د قرآن دا وينا وه چي د دوزخيانو خوراك به د زقوم هغه تريخ بوټى وي

چې د دوزخ په تل کې به راټوکېږي، او کافرانو وويل: آيا د اور په منځ کې هغه هم د دوزخ د تېز اور په منځ کې؛ ونه راشنه کېدی شي؟!!

څلورمه خبره د قرآن دا وينا وه چې الله تعالی به ستا د دښمنانو د تنبيه لپاره داسې څه وکړي چې دوی پرې ووېروي، مخالفينو وويل: دا تنبيه او تهديد ولې ځنډېدلی، ولې د دومره کلونو له تېرېدو وروسته هم دا ګواښونه ترسره نشول؟

د زقوم په اړه د دوی د اعتراض ساده او لنډ ځواب دا دئ: په دوزخ کې به دوزخيان هم سوزي او هم به ژوندي وي، خو نه به ئې ژوند داسې وي لکه د دنيا ژوند او نه به ئې سوزېدا داسې وي لکه په دنيا کې سوزېدا، د دوزخ اور د دنيا له اور سره مه تشبيه کوئ، په هغه اور کې به هم انسان سوزی او هم به ژوندی پاته کېږي، په کوم اور کې چې انسان ژوندی پاته کېدی شي بوټي هم راټوکېدی شي. دا خبره که د قرآن لومړنيو مخاطبينو ته د ملنډو او خندا وړ برېښېده، خو نن نه يوازې ساينسپوهان ورسره موافق دي بلکې عادي خلك ئې هم ښېلګې په خپلو سترګو ګوري، ما نږدې پنځه ويشت کاله وړاندې او هغه مهال چې د ليزر او مايکرو ويو په څېر وړانګو د پخولو او سوزولو په موخه کار اخيستل پيل شوي وو؛ په کويټ کې د يوه شيخ په پخلنځي کې د پخلي داسې لوښی وليد چې له رابړ جوړ شوی وو، په څو دقيقو کې ئې غوښه پخولی شوه، په داسې حال کې چې نه د اور لمبه تر سترګو کېده او نه به لوښی تودېدو!! که داسې اور شته چې غوښه پخوي خو د پخلي رابړي لوښی نه سوزوي، نو ولې د دوزخ د داسې اور په اړه شك کوې او هغه د نه منلو وړ ګڼې چې د انسان پوستکی به سوزوي خو د ده په مړيني او وژلو به نه منتج کېږي، ډېري به په کې سوزي خو زقوم به په کې راټوکېږي!! ستا ئې خوښه؛ خو موږ د قرآن دې وينا ته د يوه ستر علمي اعجاز په سترګه ګورو، يقيناً که د قرآن دا وينا د شلمې پېړۍ يوه منصف ساينسپوه په وړاندې کېږدو او ترې وپوښتو: آيا داسې اور هم شته چې يو شی سوزوي او پخوي او د هغه لوښی روغ رمټ پرېږدي؟! نو پوهېږې چې ځواب به ئې څه وي؟ ځواب به ئې دا وي: هو؛ داسې اور شته او موږ اوس په ډېرو مواردو کې ترې استفاده کوو!! د هغو ئې خوښه چې عالم او اسرارو ته ئې د يوه کمعقله ماشوم په سترګه ګوري او پر داسې ژورو ويناوو ئې سر نه خلاصېږي او ملنډې پرې وهي، موږ په دې باور يو چې د دوزخ اور نه يوازې دغه پورتنی ځانګړتيا لري بلکې هغه به دوزخيان له څېرې او په نوم پېژني، د ځان لوري ته به ئې بلي، کله چې انسانان د هغه خوا ته تېرېږي نو د سوزېدو وړ دوزخيان به له نورو راباسي او په خپلو سرو منګولو کې به ئې نيسي!! او دا هغه څه دي چې قرآن ويلي!!

دې ته مو هم بايد پام وي چې د دې آيتونو له فحوی په وضاحت سره معلومېږي چې کله دوزخيان وږي او تږي شي نو د زقوم خوړلو او اېښېدلو اوبو د څښلو لپاره به د دوزخ ځانګړي ځای ته بېول کېږي او له خوراك څښاك وروسته به بېرته خپل خپل ځای ته ستنېږي،

(ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى ٱلْجَحِيمِ : بيا به ئې ګرځېدا حتماً د دوزخ د اور کندې په لوري وي)

له دې په وضاحت سره معلومېږي چې په دوزخ کې به د دوی د اوسېدا ځای بېل وي او د زقوم د راټوکېدا ځای بېل.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا
عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٧٤﴾

او يقيناً چي په دوی كي مو ګواښونكي (انبياء) ولېږل، نو وګوره چي د انذار شوو پايله څنګه وه، د الله د مخلصو بندګانو په استثناء.

~~**(۷۲-۷٤)**- دا مبارك آيتونه وايي: الله تعالى له خپل لوري خلكو ته داسي خبرداری وركوونكي~~ او ګواښونكي لېږلي چي دوی د كفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو وويروي، د تاريخ پاڼي واړوه او وګوره چي له هغو خلكو سره څه شوي چي پيغمبران ورغلي، چا چي د دوی انذار ته اعتناء نه ده كړې له څنګه برخليك سره مخامخ شوی او له مخلصو او صالح بندګانو سره څه شوي. په راتلونكو آيتونو كي د دې وينا څو عملي تاريخي بېلګي زموږ په وړاندي ځلېږي.

وَلَقَدۡ نَادَىٰنَا نُوحٞ فَلَنِعۡمَ ٱلۡمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ
﴿٧٦﴾ وَجَعَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلۡبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٧٨﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٖ
فِي ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨١﴾
ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٨٢﴾

او يقيناً چي نوح موږ ته غږ كړ په داسي حال كي چي غوره اجابت كوونكي يو، او دی او د ده اهل مو له ستر كړاو وژغورل، او د ده اولاد مو باقي پاتي شوي وګرځول، او د ده په اړه مو په وروستنيو كي (دا وينا) پرېښوده چي په ټولو عالمونو كي دي پر نوح سلامونه وي، يقيناً چي موږ نېكانو ته همداسي بدله وركوو، يقيناً چي هغه زما د مؤمنو بندګانو له ډلي وو، بيا مو هغه نور غرق كړل.

(۷۵-۸۰)- لومړی بېلګه ئې نوح **صلعم** او د ده تېر او ملګري دي، دوی د خپل قوم له كلك مخالفت سره مخامخ ول، دعوت او مبارزه ئې اوږده شوه، د ستونزمني اوږدې مبارزې په نتيجه كي د ګوتو په شمېر كسانو ايمان راوړ، دې ته اړ شو چي خپل رب ته دعاء وكړي او پر خپل عجز، بې وسي او ناكامي اعتراف وكړي او له الله تعالى وغواړي چي د ده او قوم تر منځ وروستۍ پرېكړه وكړي، الله تعالى د ده دعاء قبوله كړه، همغسي لكه چي په دې آيتونو كي راغلي: نوح موږ ته غږ كړ په داسي حال كي چي غوره اجابت كوونكي يو، او دی او د ده اهل مو له ستر كړاو وژغورل، او د ده اولاد مو باقي پاتي شوي وګرځول، او د ده په اړه مو په

وروستنيو كي (دا وينا) پرېښوده چي په ټولو عالمونو كي دي پر نوح سلامونه وي، يقيناً چي موږ نېكانو ته همداسي بدله وركوو. يقيناً چي هغه زما د مؤمنو بندګانو له ډلي وو، بيا مو هغه نور غرق كړل. يعني دی او اهل ئې (ټبر او پلويان ئې) له هغه ستر كړاو وژغورل شول، مخالفين ئې د ستر طوفان په څپو كي غرق شول، له دوی پرته نه بل څوك په هغې سيمې او د ده په قوم كي ژوندی پاته شو او نه ئې نسل، د هغوی جرړي وختې او تخم ئې د تل لپاره ټول شو. كه څه هم ځينو درنو مفسرينو داسي انګېرلې چي ګواكي له نوح صلعم وروسته يوازې د ده اولاد پاته شوی، خو دا تعبير د قرآن له نورو ويناوو سره تعارض لري، قرآن د نوح صلعم د قصې په ترڅ كي وايي چي له ده سره پر خپل ټبر سربېره نور مؤمنان هم په كشتۍ كي سپاره شوي او په نورو ځايونو كي دا وضاحت هم كوي چي د ده پر قوم علاوه نور خلك هم په ځمكي كي اوسېدل، لكه د هود د سورې ٤٨ آيت چي وايي:

قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٨﴾ : وويل شول: اې نوح! زما له لوري له سلامتيا او هغو بركتونو سره كوز شه چي پر تا او هغه ډلو (نازل شوی) دئ چي له تاسره دي. او ځيني ډلي داسي دي چي (د دنيا له متاع به ئې) برخمن كړو بيا به زموږ په دردوونكي عذاب اخته شي.

هغه طوفان داسي نه وو چي د ځمكي د سر ټول ولسونه او ژوي ئې له منځه وړي، دا د بايبل غلطه ادعاء ده، تفصيل ئې د هود سورې د څلوېښتم آيت او تر هغه وړاندي څو آيتونو په تفسير كي وګورئ.

دلته ويل شوي چي الله تعالی نه يوازې نوح صلعم او د ده ملګري وژغورل او د دوی نسل ئې باقي پرېښود بلكي دا پرېكړه ئې وكړه چي له دوی وروسته به په ټول عالم كي پر ده سلامونه لېږل كېږي، يعني نېك نوم به ترې پاته شي او خلك به دعاګاني ورته كوي. دا د الله تعالی دائمي او نه بدلېدونكی سنت دئ، د دې سنت له مخي نېكانو ته تل همداسي بدله وركوي. يقيناً چي هغه زما د مؤمنو بندګانو له ډلي وو، له مؤمنانو سره د الله تعالی وعده همداسي ده، هغوی به حتماً ژغوري، او د دوی له مخالفينو سره به همغه څه كوي چي د نوح صلعم له مخالفينو سره ئې وكړل، الله تعالی د هغوی په اړه فرمايي: بيا مو هغه نور غرق كړل.

وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبۡرَٰهِيمَ ﴿٨٣﴾ إِذۡ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلۡبٖ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَاذَا تَعۡبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفۡكًا ءَالِهَةٗ دُونَ ٱللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظۡرَةٗ فِي ٱلنُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٞ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ مُدۡبِرِينَ

﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمۡ فَقَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمۡ لَا تَنطِقُونَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيۡهِمۡ
ضَرۡبَۢا بِٱلۡيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقۡبَلُوٓاْ إِلَيۡهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَٱللَّهُ
خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ﴿٩٦﴾

او يقيناً چي ابراهيم حتماً د ده د تابعانو له ډلي وو، هغه مهال چي خپل رب ته له روغ زړه سره راغی، هغه مهال چي خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا څه دي چي تاسو ئې لمانځئ، آيا له الله پرته جعلي او دروغجن معبودان غواړئ؟ نو د رب العالمين په اړه مو څه گمان دئ؟ بيا ئې په ستورو کي په يوه نظر سره وکتل، بيا ئې وويل: يقيناً چي زه ناروغ يم، نو په داسي حال کي ئې مخونه تري واړول چي تر شا کېدونکي ول، نو د دوی معبودانو ته پټ پټ ورغی او (ورته) وئې ويل: آيا (څه) نه خورئ؟!! څه دربانذي شوي چي خبري نه کوئ؟! نو د ښي لاس په گوزار سره ئې مضبوط گوزار پرې وکړ، نو په منډه منډه ئې د ده لوري ته مخه کړه، وئې ويل: آيا هغه څه لمانځئ چي په خپله مو تراشلي؟ په داسي حال کي چي الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه څه چي تاسو ئې جوړوئ.

(۸۳-۹۶)- د دې مبارکو آيتونو په معنی د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کي ولرئ:

- **دلته ابراهيم صلعم د خپل جد نوح صلعم په لار د تلونکو په توگه ياد شوی، داسي لکه چي دی په خپله او د ده دعوت د نوح صلعم د دعوت د اغېزو او تسلسل يوه بېلگه وي، په ځانگړې توگه په دوو مواردو کي: ۱- هغه مهال چي خپل رب ته له روغ زړه سره راغی، ۲- او هغه مهال چي خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا څه دي چي تاسو ئې لمانځئ؟ آيا له الله پرته جعلي او دروغجن معبودان غواړئ؟ نو د رب العالمين په اړه مو څه گمان دئ؟**
- **وروسته ويل شوي چي ابراهيم صلعم ستورو ته ځير شو او وئې ويل: يقيناً چي زه ناروغ يم، دلته بايد لږ توقف وکړو او وگورو چي ستورو ته د کتلو او د دې وينا تر منځ څه تړاو دئ چي زه ناروغ يم؟! متأسفانه ځينو داسي انگېرلې چي گواکي ابراهيم صلعم ستورو ته په کتلو سره خلکو ته داسي ښودلې چي د ستورو له وضعيت راته جوته شوه چي زه ناروغ يم!! عجيبه ده! ډېره عجيبه! څنگه د ابراهيم صلعم په څېر ستر موحد ته داسي غلطه خبره منسوبوي، د ستورو ئې د انسان له روغتيا، ناروغۍ، مرگ، ژوند او برخليك سره څه؟!! آيا هغه دې ته اړ وو چي د ستورو د حالت په استناد خلك پر خپلي ناروغۍ باوري کړي چي مبلې ته له تلو ئې معذور وگڼي؟! آيا څوك د خپلي ناروغۍ د اثبات لپاره داسي وينا کوي؟! حقيقت دا دئ چي د دې دواړو خبرو تر منځ هيڅ داسي تړاو نشته چي دوی ئې انگېري، ستورو ته نظر کول کاملاً مستقله موضوع ده او تفصيل ئې په قرآن کي راغلی، قرآن وايي چي هغه ستورو، سپوږمۍ او لمر ته وکتل او خلکو ته ئې د هر يوه په اړه وويل: آيا دا او دا زما رب کېدی شي،**

حال دا چې پرېوځې، زه پرېوتونكې د رب په توګه نه منم. او د مريضې عذر وړاندې کول په بشپړه توګه بېله موضوع ده. د قرآن له وينا معلومېږي چې ابراهيم **صلعم** د ستورو په اړه له خپل استدلال او د پلار له لوري په شړلو او رجم کولو د ده له ګواښلو وروسته پرېکړه کړې چې دا بُتان به نسکوروي، دا کار به هغه ورځ کوي چې خلك د کلني جشن لپاره له ښار بهر وځي او معبد تش پاته کېږي، د پاته کېدو لپاره به دا بهانه وړاندې کوي چې ناروغ دئ، بهانه ئې هم د حقيقت خلاف او دروغجنه نه وه، څه ناروغي ئې درلوده، همداسې ئې وکړل، د ناروغۍ او ستورو ته د کتلو تر منځ تړاو دغسې دئ نه هغسې چې دوی انګېرلې. هغه چې ګمان کوي دا دواړه آيتونه فَنَظَرَ نَظۡرَةٗ فِي ٱلنُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٞ ﴿٨٩﴾ د فاء په توري سره وصل شوي نو ځکه ستورو ته د کتلو او ناروغتيا تر منځ دا تړاو دئ چې نجوميانو به همداسې کول او د ستورو له مخې به ئې خلکو ته د دوی د ناروغتيا خبر ورکولو، دوی يقيناً چې ستره اشتباه کوي، د آيتونو دقيقه ژباړه دا ده: بيا ئې په ستورو کې په يوه نظر سره وکتل، بيا ئې وويل: يقيناً چې زه ناروغ يم.

که د سورۍ د آيتونو ترکيب ته لږ ځير شئ نو ډېر ژر به درته جوته شي چې دلته موضوعات په ډېر مجمل طور وړاندې شوي، هره وړه فقره د يوه بشپړ تفصيلي مضمون پر ځای راغلې، د اجمال او اختصار په خاطر د آيتونو او فقرو تر منځ ډېر څه پرېښودل شوي. دا هم ډېره عجيبه خبره ده چې ځينو د يوه داسې ډېر ضعيف او بې اعتباره روايت په استناد ويلي چې ګواکې ابراهيم **صلعم** په خپل ژوند کې درې درواغ ويلي چې يو ئې د ده همدا وينا وه چې قوم ته ئې وويل: زه ناروغ يم، ګواکې دی اصلاً ناروغ نه وو، په دروغو ئې خلکو ته دا خبره کړې، په دې سره ئې غوښتل خلك قانع کړي چې مېلې ته له تلو ئې معذور وګڼي!! نه پوهېږم چا دوی ته ويلي چې ابراهيم **صلعم** هغه مهال هيڅ بيماري نه درلوده او خبره ئې په بشپړه توګه د حقيقت خلاف وه؟!! ولې د يوه داسې بې اعتباره او کمزوري روايت له کبله چې له سر ترپايه غلط دئ؛ د ابراهيم **صلعم** په څېر صادق او رښتينی پيغمبر ته د دروغ ويلو نسبت کوي؟!! که ده دروغ ويلی نو هغه مهال به ئې د بتانو له ماتولو انکار کړی وو چې ټول قوم د ده د وژلو او په اور کې د اچولو پرېکړه کوله!! ده خو د انکار پر ځای دوی سخت وغندل چې ولې د داسې څه عبادت کوي چې نه ګټه وررسولی شي او نه تاوان ترې دفع کولی شي، دا دئ له خپل ځان ئې دفاع ونکړی شوه، ماتوونکی نشي درښودلی، که نه منئ وئې پوښتئ چې چا مات کړئ!! د دې تفصيل په حکمة الباریٔ او د الانبياء د سورۍ د ٦٣ آيت په تفسير کې وګورئ.

خلك ترې ولاړل، معبد تخليه شو، ابراهيم **صلعم** ته مناسب فرصت په لاس ورغی، معبد ته ننوت، د بتانو خوا ته په داسې حال کې ورغی چې هيڅوا ونه ليد، د دوی دروغجنو معبودانو ته ئې مخ کړ او د اهانت په توګه ئې ورته وويل: ولې څه نه خورئ؟!! معلومېږي چې خلکو د بتانو خوا ته رنګ رنګ خواړه د شکرانو او نذرانو په توګه ايښي وو، پوښتنه ترې کوي: څه درباندې شوي چې خبرې نه کوئ؟! نو د ښي لاس په ګوزار سره ئې مضبوط ګوزار پرې وکړ، ټول ئې مات مات کړل، تبر ئې د لوی بت په غاړې کې ځوړند کړ او له معبد ووت.

دلته دا برخه پربښودل شوې چي خلك له مېلي راستانه شول، معبد ته ننوتل، بتان ئې نسکور او مات مات وموندل، پوښتنه ئې وکړه چي دا کار چا کړی، ځواب ورکړی شو چي د ابراهيم په نامه يو ځوان دوی په بد نامه يادوي، دا کار به حتماً هغه کړی وي، نو ځکه په منډه منډه د ده لوري ته ورغلل، بيا د قصې ډېره برخه پرېښودل شوې او د ابراهيم **صلعم** دا وينا راغلې چي خلکو ته ئې وويل: آيا هغه څه لمانځئ چي په خپله مو تراشلي؟ په داسي حال کي چي الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه څه چي تاسو ئې جوړوئ. د ابراهيم **صلعم** دا وروستۍ وينا په حقيقت کي د ده د هغې مخکنۍ وينا شرح ده چي خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا څه دي چي تاسو ئې لمانځئ، آيا له الله پرته جعلي او دروغجن معبودان غواړئ؟ نو د رب العالمين په اړه مو څه گمان دئ؟ دلته ئې همغه خبره په دې الفاظو کړې: أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾، په دې دواړو آيتونو کي د بتانو يادونه په دوو صيغو شوې: په لومړي کي په (ما تنحتون) سره او په دوهم کي په (ما تعملون) سره، يعني هغه بُتان چي تاسو ئې په خپل لاس تراشئ او هغه بُتان چي تاسو ئې په خپل لاس جوړوئ.

دې ته مو پام وي چي د دې مبارکي سورې دغه آيت او د التکوير د سورې آخري آيت وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾ هغه دوه آيتونه دي چي هم په تفسيرونو کي د هغوی رنگ رنگ تأويلونه شوي او هم د بېلو بېلو مذهبي فرقو له لوري د هغوی په اړه له شخړو او منازعاتو ډك بښه ډېر لانجمن بحثونه، حتی ويلی شو چي ځينو مذهبي فرقو دغه آيتونه د خپل اعتقادي مشرب او مسلك بنسټ گرځولی، قدريه، جبريه، ماتريديه، معتزله، اشاعره، شيعه او اهل سنت و جماعت ... د دې آيتونو په اړه ځانته ځانته تعبيرونه او تأويلونه لري، هري ډلي د دې آيتونو په استناد او په رڼا کي دې پوښتنو ته د ځواب موندلو هڅه کړې چي آيا انسان د اختيار خاوند دئ که مجبور، د انسان د (افعالو) خالق الله تعالی دئ که په خپله انسان؟ دی د خپلو عملونو موجد او اصلي باعث دئ که يوازي مکتسب؟ آيا له دوو لارو د يوې د انتخاب او پر هغې د تلو واك او اختيار ورکړی شوی او که په داسي لار تلو ته اړ دئ چي له وړاندي ورته ترسيم شوې؟ آيا د ده په مقدراتو کي ټول هغه عملونه چي دی ئې سرته رسوي له وړاندي او د ده تر پيدايښت مخکي درج شوي او که کولی شي په خپله خوښه عمل وکړي؟ که د خپل تقدير په وړاندي په بشپړه توگه محکوم او مقهور وي او هيڅ څه په خپله خوښه او اراده نشي کولی ولي د خپلو کړنو له کبله مجازات کېږي؟ په دې اړه څو عرائض لرم:

• دا بحث له دې مبارك آيت سره هيڅ تړاو نه لري، له دې آيت او په دې ځای کي دا موضوع رااېستل په حقيقت کي د بحث له اصلي موضوع انحراف او په غلط لوري تگ سره مترادف کار دئ، دا آيت په دې ارتباط راغلی چي ولي هغه بُتان لمانځئ چي په خپل لاس مو تراشلي، ولي د رب العالمين پر ځای هغه څه لمانځئ چي تاسو په خپل لاس جوړ کړي، نه يوازي ستاسو په پيدايښت کي څه ونډه نه لري بلکي تاسو دوی پيدا

کړي او جوړ کړي؟!! د بحث موضوع دا نه ده چي انسان په خپلو کړو وړو کي څومره اغېز او استقلال لري.

• له چا سره چي د قرآن د څلاندي رڼا يوه تته شمع هم وي او د قرآن له لاربښوونو ئې لږ څه هم په برخه شوې وي په دې پوهېږي چي د قرآن له نظره انسان محکوم او مجبور نه دئ پيدا شوی، بلکي د خپلي لاري په انتخاب کي آزاد دئ، له کفر او ايمان يو په خپله خوښه انتخابوي، انتخاب د ده له لوري دئ او إذن او توفيق د الله له لوري.

• انسان د خپل فعل فاعل، د خپل کسب کاسب او د خپل عمل عامل دئ، د فعل او عمل لپاره د فاعل، کاسب او عامل په ځای د خالق يا موجد لفظ کارول له هيڅ پلوه د توجيه وړ نه دئ، فعل او عمل (شی) نه دئ چي د خلق اطلاق پرې وشي او موجد ورته په ګوته شي، چا چي د لومړي ځل لپاره دا بحث پيل کړی او د (فعل او عمل) لپاره ئې د (خلق) لفظ کارولی همدا د الصافات د سورې له دغه ۹٦ مبارك آيت ئې غلطه انتباه اخيستې، آيت وايي:

وَاللّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ *

دوی دا آيت داسي ژباړي: او الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم ستاسو عملونه! يعني دا تاسو نه يئ چي خپل عملونه ترسره کوئ بلکي ستاسو عملونه هم د الله تعالی له لوري پيدا کېږي!! د خپلو عملونو پرېکړه تاسو نه کوئ؛ الله تعالی ئې کوي!!

د دغي ژباړي او استدلال په هکله بايد ووايو:

• دا ژباړه ناسمه او د آيت د مراد او مقصد خلاف ده. راشئ د دې آيت الفاظو ته لږ ځير شو او وګورو چي د آيت دقيقه او سمه ترجمه کومه ده؟ دا په اصل کي د ابراهيم عليه السلام د هغي جامع وينا يوه برخه ده چي خپل مشرك قوم ته ئې کړې، په صحيح ترجمې او معنی ئې په هغه صورت کي سم پوهېدی شو چي دا آيت او ترې مخکنی يو ځای په پام کي ونيسو، د دواړو آيتونو ترتيب داسي دئ:

قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

الصافات: ۹۵-۹٦

وئې ويل: آيا د هغه څه عبادت کوئ چي تاسو ئې (په خپله) تراشئ؟ حال دا چي الله تعالی هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه څه چي تاسو ئې جوړوئ.

په مخکني آيت کي د دوی بُتان د ماتنحتون په نامه ياد شوي او په وروستني آيت کي همدا (ماتنحتون) د (ماتعملون) په صيغه راغلي، يعني الله تعالی هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه بتان چي تاسو په خپل لاس جوړ کړي.

دلته (ما تعملون) داسي دئ لکه په لاندنيو آيتونو کي چي راغلي:

أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿٧١﴾

يس: ۷۱

آيا دې ته ئې پام نه دئ كړی چي موږ هغه ځاروي ورته پيدا كړل چي زموږ لاسونو جوړ كړي او اوس ئې دوی خاوندان دي.
او يا دا آيت:

لِيَأْكُلُوا۟ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٥﴾

يس: ٣٥
ترڅو ئې ميوه او هغه څه وخوري چي دوی په خپلو لاسونو جوړ كړي، نو آيا شكر نه كوي؟!
نو د دې آيت (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ) دا الفاظ (وَمَا تَعْمَلُونَ) داسي تعبيرول چي الله تعالی د انسان عملونه پيدا كوي، غلط تعبير دئ، له دې آيت دا انتباه اخيستل چي انسان په خپل عمل كي هيڅ راز استقلال نه لري ډېره بې بنسټه انتباه ده.

قَالُوا۟ ٱبْنُوا۟ لَهُۥ بُنْيَـٰنًا فَأَلْقُوهُ فِى ٱلْجَحِيمِ ﴿٩٧﴾ فَأَرَادُوا۟ بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَـٰهُمُ ٱلْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾ وَقَالَ إِنِّى ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِى مِنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنَـٰهُ بِغُلَـٰمٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعْىَ قَالَ يَـٰبُنَىَّ إِنِّىٓ أَرَىٰ فِى ٱلْمَنَامِ أَنِّىٓ أَذْبَحُكَ فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَـٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾ فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَـٰدَيْنَـٰهُ أَن يَـٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَـٰذَا لَهُوَ ٱلْبَلَـٰٓؤُا۟ ٱلْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنَـٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْـَٔاخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَـٰمٌ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١١﴾

وئې ويل: يو بنيان ورته جوړ كړئ او د لمبه ناك اور په كندي كي ئې وغورځوئ، نو د ده په اړه ئې د يوه تدبير اراده وكړه خو موږ دوی په خپله لاندي شوي كړل. او وئې ويل: زه خو د خپل رب په لوري تلونكی يم، يقين لرم چي هغه به حتماً لار راوښيي، اې زما ربه! د صالحينو له ډلي ئې راپه برخه كړې، نو د يوه صبرناك زلمي زېری مو وركړ، نو چي كله له ده سره د سعي (عمر) ته ورسېدو، وئې ويل: اې گرانه زويه! په

خوب کې وینم چې تا ذبح کوم، وګوره چې ستا رأیه څه ده؟ هغه وویل: پلار جانه! په کوم کار چې ګمارل شوی یې هغه ترسره کړه، که خدای کول ما به د صبر کوونکو له ډلې ومومې، کله چې دواړه (خپل رب ته) تسلیم شول او هغه ئې پرمخې پرې ایست او غږ مو ورته وکړ چې ای ابراهیمه! بې شکه چې تا خپل خوب رښتیا کړ، موږ خو نېکانو ته داسې بدله ورکوو، یقیناً چې دا څرګنده ابتلاء او آزموینه وه او لویه قرباني مو په بدل کې ورکړه او د ده په اړه مو په وروستنیو کې دا (خبره) پرېښوده چې پر ابراهیم دې سلامونه وي، همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو، یقیناً چې هغه زموږ د مؤمنو بندګانو له ډلې دئ.

(۹۷-۱۱۱)- په دې مبارکو آیتونو کې د ابراهیم صلعم د قصې دا برخې مومو:

- قوم د ده د وژلو او په سره اور کې د اچولو پرېکړه وکړه، غوښتل ئې د ده د تعذیب وېروونکې صحنه ټول خلك په خپلو سترګو وګورې او په دې سره ټول هغه خلك ووېروي چې د نمرود او نمرودیانو له دین د بغاوت لار غوره کوي او د ابراهیم صلعم په لار د تلو هوډ کوي، د لمبه ناك اور ژوره کنده ئې ورته جوړه کړه، خلکو ته ئې وویل چې د کندې په کیندلو او د اور لپاره د لرګیو د راغونډولو په سپېڅلي کار کې برخه واخلي، او په دې توګه د خپلو معبودانو رضاء ترلاسه کړي، د آیت له فحوی معلومېږي چې د ابراهیم صلعم د سوزولو لپاره هم کوم بنیان جوړ شوی او هم جحیم یعني د سره اور کنده، ښایي له بنیان به مراد داسې څلی وي چې ابراهیم صلعم به ئې د هغه له سر د منجنیق په وسیله په اور کې اچولی وي. څکه دا آیت وایي: وئې ویل: یو بنیان ورته جوړ کړئ او د اور په کندې کې ئې وغورځوئ، یعني بنیان بېل ځای وو او جحیم بېل ځای، د دوی تدبیر معکوسه نتیجه ورکړه، خپل مراد ته په رسېدو کې پاتې راغلل، ابراهیم صلعم له هغه اور روغ رمټ ووت، په دې سره ټولو خلکو ته د ابراهیم صلعم د لارې حقانیت او د نمرودیانو د مذهب بطلان ثابت شو.
- ابراهیم صلعم له عراق د هجرت پرېکړه وکړه او وئې ویل: زه خو د خپل رب په لورې تلونکی یم، یقین لرم چې هغه به حتماً لار راوښیي.
- ډېر کلونه وروسته او هغه مهال چې ابراهیم صلعم سپین ږیری شوی وو؛ د زوی درلودو هیله ئې په زړه کې راوټوکېده او په دې اړه ئې خپل رب ته په دې الفاظو دعاء وکړه: ای زما ربه! د صالحینو له ډلې ئې راپه برخه کړې، یعني یو صالح زوی راکړې، الله تعالی د ده دعاء اجابت کړه او د یوه صبرناك زلمي زېری ئې ورکړ.
- هغه مهال چې زوی ئې له ده سره د یو ځای ګرځېدو شو او تنکی ځوان ترې جوړ شو؛ داسې خوب ئې ولید چې تعبیر ئې د الله تعالی لپاره د خپل زوی ذبح کول وو، نو خپل یوازینی زوی اسمعیل صلعم ته ئې وویل: ګرانه زویه! په خوب کې وینم چې تا ذبح کوم، وګوره چې ستا رأیه څه ده؟ هغه له ځنډ او تأمل پرته ورته وویل: پلار جانه! په کوم کار چې ګمارل شوی یې هغه ترسره کړه، که خدای کول ما به د صبر کوونکو له ډلې ومومې. کله چې دواړه د خپل رب پرېکړې ته تسلیم شول، پلار د خپل یوازیني زوی قربانۍ ته او زوی د الله تعالی لپاره

شهادت ته چمتو شول، او هغه ئې د ذبح کولو لپاره پرمخې پرې ایست؛ دغه مهال د الله تعالی له لوري پرې غږ شو چې اې ابراهیمه! بې شکه چې تا خپل خوب رښتیا کړ، موږ خو نېکانو ته داسې بدله ورکوو، کومه بدله؟ په یوه ستر امتحان کې د بریا توفیق، یقیناً چې دا څرګنده ابتلاء او آزموینه وه او په هغې کې بریا د الله تعالی له لوري ستره بدله، پر دې سربېره مو لویه قرباني په بدل کې ورکړه او د ده په اړه مو په وروستنیو کې دا خبره پرېښوده چې پر ابراهیم دې سلامونه وي، همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو، یقیناً چې هغه زما د مؤمنو بندګانو له ډلې وو. دلته د بدلې څو نور موارد هم ښودل شوي چې یوه ئې لویه قرباني ده، چې مراد ئې یا هغه پسه دئ چې الله تعالی د اسمعیل صلعم پر ځای د ده تر چاړې لاندې کړ او یا هغه قرباني چې د قیامت تر ورځې پورې به ئې هر کال په لکونو مؤمنان په همدې ورځ او په همغه ځای کې چې اسمعیل صلعم قرباني کېدو وړاندې کوي، دلته دوهم تعبیر له دې کبله دقیق برېښي چې په ورپسې آیت کې ویل شوي: او د ده په اړه مو په وروستنیو کې دا خبره پرېښوده چې پر ابراهیم دې سلامونه وي. په وروستنیو کې د قربانۍ هغه دود هم د ابراهیم صلعم په سنت عمل کول دي.

وَبَشَّرْنَٰهُ بِإِسْحَٰقَ نَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٢﴾ وَبَٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَىٰٓ إِسْحَٰقَ ۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ مُبِينٌ ﴿١١٣﴾

او د اسحاق زېرې مو ورکړ؛ د صالحینو له ډلې یو نبي، او پر ده او اسحاق مو برکت نازل کړ، په داسې حال کې چې له اولاد ئې څوک نېك او څوك په څرګنده توګه پر خپل ځان ظلم کوونکی.

(۱۱۲-۱۱۳)- په دې مبارکو آیتونو کې ابراهیم صلعم ته د نېکې بدلې څو نورو مواردو ته اشاره شوې: ۱- د الله تعالی له لوري پر مخکنې حلیم زوی (اسمعیل صلعم) سربېره د بل زوی اسحاق صلعم زېرې ورکړ شو؛ چې هغه هم د صالحینو له ډلې یو نبي وو، ۲- ده او اسحاق علیهما السلام ته برکتونه ورپه برخه شول، ۳- الله تعالی ډېر اولادونه ورکړل، په اولاد کې ئې ګڼ شمېر پیغمبران مبعوث شول، په داسې حال کې چې له اولاد ئې ځینې نېك او ځینې په څرګنده توګه پر خپل ځان ظلم کوونکی ول.

د اسحاق صلعم په اړه د قرآن وینا ډېره واضح ده او په دې اړه بشپړ صراحت لري چې هغه تر مخکنې زوی (اسمعیل صلعم) وروسته پیدا شوی، لومړی ئې د اسمعیل صلعم یادونه په دې الفاظو کړې: فَبَشَّرْنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾ : نو د یوه صبرناك زلمي زېرې مو ورکړ، یعني په ځوانۍ کې د حلم (صبر او درایت) خاوند، د قربانۍ یادونه هم د دغه صبرناك زوی په اړه

کوي، بیا د اسحاق صلعم یادونه په دې الفاظو سره کوي: وَبَشَّرْنَٰهُ بِإِسْحَٰقَ نَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٢﴾ : او د اسحاق زېرى مو ورکړ؛ د صالحینو له ډلې یو نبي، د قرآن دا وینا په بشپړ صراحت سره ښیي چې لومړى د یوه حلیم زوى زېرى ورکړى شوى او بیا د قربانۍ له پېښې وروسته د دوهم زوى چې اسحاق نومېدو او صالح نبي وو زېرى ورکړى شوى. که څه هم دلته د لومړي زوى نوم نه دئ اخیستل شوى او یوازې په څو ځانګړتیاوو سره توصیف او معرفي شوى، په ځوانۍ کې حلیم وو، له پلار سره ئې وعده وکړه چې ذبح کېدو ته چمتو دئ او خپله وعده ئې ربښتینې کړه، خو قرآن په نور ځایونو کې وضاحت کړى چې دا حلیم زلمى اسمعیل صلعم وو، تل ئې هغه مهال د ده نوم تر اسحاق صلعم وړاندې یاد کړى چې د ابراهیم صلعم د اولاد یادونه کوي، په یوه آیت کې ئې دى د صابر په صفت ستایلى او یو ځاى ئې د صادق الوعد په صفت، او دا په ډېر صراحت سره ښیي چې دا حلیم زلمى اسمعیل صلعم وو.

او دا هغه خبره ده چې یهودان او د دوى سپېڅلي کتابونه ئې نه مني، د دوى د مذهب بنسټ پر دې غلطې عقیدې اېښودل شوى چې اسحاق صلعم د ابراهیم صلعم یوازینى اصلي مشر زوى دئ، د نبوت مقام له ده دغه مشر زوى ته په مېراث رسېدلى. دوى د هاجر صلی په اړه کرکجنه ژبه کاروي، ګواکې ابراهیم صلعم هغه د سارا صلی په وینا له کوره شړلې وه، د هاجر صلی په اړه د دوى کرکجن اظهارات سړي ته د شیعه وو هغه اظهارات وروپه یادوي چې دوى د عائشې صلی په اړه کړي!! راشئ وګورو چې بایبل په دې اړه څه وایي.

بایبل ادعاء کوي چې اسحاق صلعم د ابراهیم صلعم هغه زوى دئ چې د قربانۍ لپاره غوره شوى وو، د قربانۍ ځاى ئې په فلسطین کې ګڼي، دا مني چې اسمعیل صلعم د ده مشر زوى وو خو دا نه مني چې هغه د قربانۍ لپاره غوره شوى وو!! دا په داسې حال کې چې په خپله اعتراف کوي چې ده ته ویل شوي وو: خپل یوازینى زوى دې قرباني کړه، د یوازیني زوى اطلاق فقط په مشر زوى کېدى شي نه په کشر زوى، او هغه هم تر هغه چې بل ورور ئې پیدا شي، د دې خبرې معنى خو دا ده چې دا یوازینى زوى اسمعیل صلعم وو، او اسحاق صلعم هغه مهال پیدا شوى چې د اسمعیل صلعم د قربانۍ پېښه نږدې دیارلس څوارلس کاله وړاندې تېره شوې وه!! یعنې هغه نږدې دیارلس کاله تر ده مشر وو.

بایبل په دې اړه له داسې یوه څرګند حقیقت انکار کوي چې د لمر په څېر روښانه دئ، د ابراهیم علیه السلام له زمانې او له هغې ورځې چې مبارکه کعبه د ده او اسمعیل علیهما السلام په لاسونو جوړه شوه، تر نن پورې په تېرو نږدې څلورو زرو کلونو کې په سلګونو ملیونو خلکو د دغې کعبې طواف کړى او دا لړۍ تر اوسه روانه ده، هر کال په ملیونونو خلك د صفا او مروې تر منځ د هاجر سعي رایادوي، د اسمعیل علیه السلام د ذبحې په ځاى کې الله تعالی ته قرباني وړاندې کوي، د اسمعیل علیه السلام اولاد بني اسمعیل په مکې مکرمې او د هغې شاوخوا سیمو کې مېشت دي، بایبل دا ټول تاریخي شواهد له پامه غورځولي او داسې بې

بنسټه ادعاء ئې کړې چې د ثبوت لپاره ئې هیڅ دلیل نه شي وړاندي کولی، که ابراهیم علیه السلام په بل ځای کي کوم معبد جوړ کړی وی او د خپل زوی د قرباني کولو مظاهره ئې په کوم بل ځای کي کړې وی نو نن به خلك هغه معبد ته تلل او په هغه ځای کي به ئې قرباني وړاندي کوله!!

بایبل تر دې عنوان (د ابراهیم امتحان) لاندي لیکلي: (څه وخت تېر شو، خدای وغوښتل چي ابراهیم امتحان کړي، نو هغه ته ئې غږ کړ: اې ابراهیمه! خپل یوازینی زوی یعني اسحاق چي ډېر درباندي ګران دئ، درسره روان کړه او د موریا سیمي ته ولاړ شه او هلته ئې د هغه غره پر سر د سوزېدونکې هدیې په توګه قرباني کړه، چي زه به ئې دروښیم، ابراهیم سحر وختي پاڅېدو، څه د سوند لرګي ئې د قربانۍ سوزولو لپاره په خره بار کړل، زوی او دوه نوکران ئې له ځان سره په همغه لوري روان کړل او درې ورځي وروسته ئې هغه ځای له لري ولید، نوکرانو ته ئې وویل: تاسو له خره سره دلته پاتي شئ، زه او زوی مي ځو چي هلته د خدای عبادت وکړو ... لرګي ئې اسحاق ته ورپه شا کړل او په خپله ئې چاړه او هغه څه واخیستل چي د قربانۍ لرګي به پرې بلوي، ... اسحاق پوښتنه ترې وکړه: موږ لرګي او اور راسره لرو خو د قربانۍ وری چېري دئ؟ ځواب ئې ورکړ چي خدای به د وري بندوبست وکړي!! ... کله چي هغه ځای ته ورسېدل، لرګي ئې پرې کېښودل او اسحاق ئې وتاړو او پر لرګو ئې پرې باسو، ... چاړه ئې اوچته کړه چي اسحاق قرباني کړي، په همدې وخت کي د خدای فرښتې له آسمانه پرې غږ کړ: ابراهیمه ابراهیمه! چاړه پر زمکه کېږده او زوی ته دې تاوان مه رسوه، اوس پوه شوم چي د خدای مطیع بنده یې، دا ځکه چي یوازینی زوی دې ترې ونه سپماوو!!)

دلته څو اعتراضات لرو:

- په دې وخت کي اسحاق علیه السلام د ابراهیم علیه السلام یوازینی زوی نه وو، د بایبل د اعتراف له مخي اسمعیل علیه السلام تر ده وړاندي پیدا شوی وو. که فرښتې ورته ویلي وي چي یوازینی زوی دي له خدایه ونه سپماوو نو دا باید اسحاق نه بلکي اسمعیل علیه السلام وي. ځکه د یوازیني زوی صیغه یوازي پر اسمعیل علیه السلام صدق کولی شي. د مشر زوی په شته والي کي کشر زوی ته یوازینی زوی نه شي ویل کېدی.
- د بایبل وینا داسي ده چي ګواکي ابراهیم علیه السلام خپلو نوکرانو ته رښتیا خبره ونه کړه، د دې په ځای چي ووایي زوی مي قرباني کوم ورته وئې ویل: موږ عبادت کوو او بېرته راځو!! اسحاق علیه السلام ئې هم په حقیقت نه وو پوه کړی. معلومه نه ده چي هلته ئې په زور راڅملولی او که په خپله خوښه قربانۍ ته چمتو شوی، د بایبل له الفاظو خو داسي معلومېږي چي هغه ئې په زور تړلی او د لرګیو له پاسه ئې څملولی!!

قرآن د بایبل دا ادعاګاني ردوي، د اسمعیل علیه السلام د قرباني کولو خبره کوي، خو داسي چي ابراهیم علیه السلام د خپل خوب او د ده د قرباني کولو خبره ورته کړې او هغه په ځواب کي ورته ویلي: مهربانه پلاره! په څه چي الله تعالی مأموره کړی یې هغه ترسره کړه، إن شاء الله ما به صابر ومومي، اسمعیل ئې له ځان سره روان کړی، د قربانۍ لپاره ئې پرمخي څملولی، چاړه ئې په غاړه ورته ایښې، خو چي سترګي ئې پرانیستې د اسمعیل پر ځای ئې پسه تر خپلي چاړې لاندي موندلی!!

بايبل د ټولو تاريخي شواهدو خلاف او د ابراهيم عليه السلام په هكله د يوه ناروا او ظالمانه تور په توګه ليكي چي ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر د ساره په وينا له كوره وشړله او هغه په بئر شبع كي ځاى په ځاى شوه: (يوه ورځ ساره متوجه شوه چي د مصري هاجر زوى اسمعيل اسحاق ځوروي، نو ابراهيم ته ئې وويل: دا وينځه او زوى ئې له كوره وباسه، ځكه اسمعيل به زما د زوى اسحاق ترڅنګ ستا وارث نه وي!! دې خبري ابراهيم سخت وځوراوو، ځكه چي اسمعيل هم د ده زوى وو، خو خداى ورته وفرمايل: د خپل زوى او وينځي په اړه اندېښنه مه كوه، څه چي ساره ويلي همغسي وكړه!! نو ابراهيم سحر وختي پاڅېدو، ډوډۍ او د اوبو ډك ژى ئې د هاجر پر اوږو كېښود او له زوى سره ئې يو ځاى له كوره وايسته، هاجر په بئر شبع كي لالهانده ګرځېده... كله چي د مشك اوبه تمامي شوې، خپل زوى ئې د بوټو لاندي پرېښود او دا سل ګزه لري كېښناسته او له ځان سره ئې وويل: نه غواړم د خپل زوى مرګ په خپلو سترګو وګورم او په زوره زوره ئې وژړل، دغه وخت خداى د ماشوم چيغو ته متوجه شو او د خداى فرشتي هاجر ته غږ كړ: اې هاجر! څه شوې ، مه ژاړه! ځكه خداى ستا د ماشوم چيغي اورېدلي دي، ورشه هغه درواخله او په خپلي غېږ كي ئې ونيسه... بيا خداى د هاجر سترګي پرانستلي او هغې په خپلي خوا كي چينه وليده، مشك ئې ترې ډك كړ او خپل زوى ته ئې اوبه وركړې، خداى له اسمعيل سره وو، هغه د فاران په دشتي كي ستر شو او مور ئې يوه مصرى نجلى ورته وكړه...)

دلته ډېري داسي خبري ترسترګو كېږي چي د حقيقت خلاف او د يوه ستر پيغمبر په اړه ستر تور او اتهام ګڼل كېږي:

- بايبل له يوې خوا ليكي چي دغه مهال اسمعيل عليه السلام دومره وړوكى ماشوم وو چي مور په غېږ كي ګرځاوو، د يوه بوټي سيوري لاندي ئې څملاوو، خو له بلي خوا ليكي چي ساره متوجه شوه اسمعيل اسحاق ځوروي!! پوښتنه كوو: آيا يو تى خور وړوكى ماشوم هم كولى شي بل ماشوم هومره وځوروي چي د ساره په څېر صبرناكه مور ئې ونه شي زغملى او له ابراهيم عليه السلام وغواړي چي دا او مور ئې له دې له كوره وشړه؟!!
- ټول تاريخي شواهد په دې شهادت وركوي چي ابراهيم عليه السلام، د الله تعالى په حكم، خپله مېرمن هاجر رضي الله عنها او خپل زوى اسمعيل صلعم د مكي په وادي كي پرېښني. دلته د اسمعيل عليه السلام تر پښو لاندي د زمزم چينه راخوټېدلې او همدلته د ده له نسله د بني اسمعيل لويه قبيله جوړه شوې.
- نه ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن له كوره شړلې ده او نه دا په بئر شبع كي ځاى په ځاى شوې او نه هغه چينه په بئر شبع كي راخوټېدلې، په دې هكله د بايبل ادعاء په بشپړه توګه بې بنسټه او د تاريخي حقائقو خلاف ده. كه دا كار شوى وى نو اوس به خلكو د زمزم د چينې په ځاى د بئر شبع چينې ته مخه كوله او هغې ته به ئې دومره په درنه سترګه كتل چي زمزم ته ګوري!!
- څنګه به د ابراهيم عليه السلام په څېر يو ستر شخصيت، د ګڼ شمېر پيغمبرانو پلار او نيكه، داسي د عدالت او عاطفي خلاف كار كوي چي خپله يوه مېرمن د بلي د خوشحالولو لپاره په داسي حال كي له كوره وشړي چي تى خور ماشوم ئې په غېږ كي دئ؟!!

- قرآن دا خبره له بنسټه ردوي او وايي چي ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعيل عليه السلام د مکي په بېديا کي هغه مهال پرېښودل چي هغه ناو سپېره ډاگ وو او هېڅ بوټی په کي نه راټوکېدو.
- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چي دلته به څو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بيت الله) جوړوي.
- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لوري ئې د خلکو د زړونو د راماتېدو دعاء وکړه. دا ځکه چي په هغي وچي بېديا کي نه بل انسان اوسېدو او نه بوټي، ونې او اوبه وې.
- مطمئن وو چي الله تعالی به دا دعاء داسي قبلوي لکه ده ته چي ئې په زړښت کي اولاد ورکړ. د دعاء له الفاظو معلومېږي چي اسمعيل تر اسحق مشر وو.
- د دعاء په الفاظو کي د ده قوي عاطفه او د مېرمني او زوی په نسبت د ده ژور زړه سوی او قوي مينه د ځپانده سيند په څېر انځور شوې. د دې دعاء په اورېدو سره به د هر مهربان پلار له سترگو اوښکي بهېږي.
- که څه هم د بايبل ليکوال هڅه کړې چي اسحاق يوازينی زوی او د اسمعيل عليه السلام همزولی معرفي کړي خو داسي الفاظ ئې کارولي چي له ده سره ئې د دې ادعاء په اثبات کي مرسته نه ده کړې، برعکس د ده له اظهاراتو هم معلومېږي چي اسمعيل تر اسحاق مشر وو، هغه الفاظ دا دي: کله چي هاجر حامله شوه ... ساره د دې چلند ونشو زغملی، ابراهيم عليه السلام ته ئې شکايت وکړ. اسمعيل اسحاق ځوراوو نو ځکه ساره له ابراهيم عليه السلام وغوښتل چي دا له کوره وشړي. له دې الفاظو خو معلومېږي چي اسمعيل عليه السلام تر اسحاق عليه السلام مشر وو او د يوازيني زوی خطاب خو پر ده صدق کوي نه پر اسحاق عليه السلام.

دې ته مو هم پام وي چي په مسلمانانو کي هم داسي اشخاص شته او حتی په مفسرينو کي!! چي د بايبل د غلطو اظهاراتو او ادعاگانو تر اغېز لاندي او د قرآن د صريح وينا خلاف دا خبره کوي چي گواکي اسحاق صلعم ذبيح دئ نه اسمعيل صلعم!! حتی ځينو صحابه وو او تابعينو ته دا رأيه منسوب کړي!! زه نه پوهېږم پر دغو خلکو څه مصيبت نازل شوی، څنگه دقرآن صريح آيتونه له پامه غورځوي، ولي دا هڅه کوي چي د محرف بايبل غلطي ويناوي توجيه کړي که څه هم د دې توجيه لپاره قرآن داسي تأويل کړي چي څرگند تحريف ته ورته وي!! قرآن تل د اسمعيل صلعم نوم تر اسحاق صلعم وړاندي او د صابر او صادق الوعد په نامه ئې يادوي (إِنَّهُ كانَ صادِقَ الْوَعْدِ)، (وَ إِسمَعِيلَ وَ إِدْرِيس وَ ذَا الْكِفْلِ كلٌّ مِّنَ الصبرِينَ)، او په دې سره هغي وعدې ته اشاره کوي چي له خپل پلار سره ئې کړې وه او وفا ئې پرې وکړه، هغه وعده چي پلار ته ئې ويلي وو: پلار جانه هغه څه تر سره کړه چي د الله تعالی له لوري پرې گمارل شوی يې إن شاء الله ما به صابر ومومې!! دې ته مو هم بايد پام وي چي د قربانۍ دا ستره آزموينه هغه مهال لازياته گرانه کېږي او ترسره کول ئې لوی زړه او ستر ايمان غواړي چي څوك د يوازيني زوی قرباني کولو ته وبلل شي، ابراهيم صلعم په دغي ستري آزمويني آزمويل شوی وو، تر هغه ئې بل زوی نه درلود چي دا آزموينه ترسره شوه، الله تعالی له دې وروسته د اسحاق صلعم او په هغه پسي د يعقوب صلعم زيری ورکړ.

دا پوښتنه راولاړېږي چې الله تعالى ولي او د کوم حکمت له مخې ابراهيم صلعم د يوازينى او مشر زوى په ذبح کولو مأمور کړ او هغه هم نه د ويښې په حالت کې په کومې وحې سره بلکې د يوې رؤيا له لارې؟ د دې ځواب دا دئ: په دې سره مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې ستاسو جد ابراهيم صلعم د الله تعالى د يوه داسې حکم د تعميل لپاره د خپل زوى ذبح کولو ته چمتو شو چې د رؤيا او خوب له لارې ورته شوى، زوى ئې اسمعيل صلعم د خپل پلار د دغې رؤيا له کبله دې ته چمتو شو چې پر غاړه ئې چاړه کېښودى شي او ذبح شي، خو الله تعالى تاسو ته په خپل کتاب قرآن کې په صريحو الفاظو حکم کړى چې د الله په لار کې د سر او مال قربانى ته چمتو اوسئ، دا به عجيبه وي چې تاسو ځان ابراهيم صلعم ته منسوبوئ، هغه د خپل ملت او مشرب جد ګڼئ، د هغه په لار د تلو دعوى کوئ خو کله چې د الله دين له تاسو د قربانى غوښتنه وکړي ډېره کوئ!! ځيني مو بهانې وړاندې کوي، ځيني مو حيلې جوړوي او ځيني مو تأويلونه کوي، موخه ئې دا وي چې له دې قربانۍ وژغورل شئ!!

وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيۡنَٰهُمَا وَقَوۡمَهُمَا مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ
﴿١١٥﴾ وَنَصَرۡنَٰهُمۡ فَكَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٦﴾ وَءَاتَيۡنَٰهُمَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلۡمُسۡتَبِينَ ﴿١١٧﴾
وَهَدَيۡنَٰهُمَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِمَا فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١١٩﴾ سَلَٰمٌ
عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٢١﴾ إِنَّهُمَا
مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٢٢﴾

او يقيناً چې پر موسى او هارون مو لورېينه وکړه او دوى دواړه او د دوى قوم مو له ستر کړاو وژغورل، او د دوى ملاتړ مو وکړ چې له کبله ئې همدا دوى غالب ول، او دوى دواړو ته مو همغه ښه بيانوونکى کتاب ورکړ، او دواړو ته مو سمه لار وښوده، او د دواړو په اړه مو په وروستنيو کې (دا وينا) پرېښوده چې پر موسى او هارون دې سلام وي، يقيناً چې موږ نېکانو ته همداسې بدله ورکوو، يقيناً چې دواړه زموږ د مؤمنو بندګانو له ډلې ول.

(١١٤-١٢٢)- د برياليو بله بېلګه موسى او هارون عليهما السلام دي چې دلته د دوى په اړه ويل شوي:

- الله تعالى پر موسى او هارون عليهما السلام لويه لورېينه وکړه، دوى دواړه او د دوى قوم ئې له ستر کړاو وژغورل، د دښمن په وړاندې ئې د دوى ملاتړ وکړ چې له کبله ئې همدا دوى برياليي او برلاسي شول.

- دوی ته ئې د تورات په څېر داسي کتاب ورکړ چي هر څه په کي بيان شوي وو، الله تعالى په سمي لار د تلو توفيق ورکړ.
- د دواړو په اړه ئې په وروستنيو کي دا وينا پرېښوده چي پر موسى او هارون عليهما السلام دي سلامونه وي.
- الله تعالى ټولو نېکانو ته همداسي بدله ورکوي، څه چي ئې له دوی سره کړي همداسي له هر نېک بنده سره کوي.
- دواړه د الله تعالى د مؤمنو بندګانو له ډلي ول.

وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ أَتَدْعُونَ بَعْلًا
وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴿١٢٥﴾ ٱللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾
فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى
ٱلْأَخِرِينَ ﴿١٢٩﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلْ يَاسِينَ ﴿١٣٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣١﴾
إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾

او بې شکه چي الياس هم د دغو مرسلينو له ډلي وو، کله چي ئې خپل قوم ته وويل: آيا ځان ساتنه نه کوئ، آيا بعل لمانځئ (مرسته ترې غواړئ) او تر ټولو غوره خالق پرېږدئ، هغه الله چي هم ستاسو رب دئ او هم ستاسو د لومړنيو پلرونو رب؟! نو هغه ئې تکذيب کړ چي له کبله به ئې حتماً احضار شوي وي، مګر د الله مخلص بندګان، او د ده په اړه مو په وروستنيو کي (دا وينا) پرېښوده چي پر الياس دي سلام وي، يقيناً چي موږ نېکانو ته همداسي بدله ورکوو، يقيناً چي هغه زموږ د مؤمنو بندګانو له ډلي وو.

(۱۲۳-۱۳۲)- دلته د بريالیو په ډله کي د الياس صلعم يادونه په دې توګه شوې:

- يقيناً چي الياس هم د دغو مرسلينو له ډلي وو، هغه مهال چي خپل قوم ته ئې وويل: آيا ځان ساتنه نه کوئ، آيا بعل لمانځئ او مرسته ترې غواړئ او تر ټولو غوره خالق پرېږدئ، هغه الله تعالى چي هم ستاسو رب دئ او هم ستاسو د لومړنيو پلرونو رب؟!
- نو هغه ئې تکذيب کړ چي له کبله به ئې حتماً احضار شوي وي.
- له دې بد برخليک هغه ژغورل شوي چي د الله مخلص بندګان ول.
- الله تعالى د ده په اړه په وروستنيو کي دا وينا پرېښوده چي پر الياس دي سلام وي.
- دا د الله تعالى ثابت او دائمي سنت دئ چي نېکانو ته همداسي بدله ورکوي.
- يقيناً چي هغه د الله تعالى د مؤمنو بندګانو له ډلي وو.

وَإِنَّ لُوطًا لَّمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٣٣﴾ إِذۡ نَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿١٣٤﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِي
ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ دَمَّرۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿١٣٦﴾ وَإِنَّكُمۡ لَتَمُرُّونَ عَلَيۡهِم مُّصۡبِحِينَ ﴿١٣٧﴾ وَبِٱلَّيۡلِۚ
أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٣٨﴾

او بې شکه چې لوط هم له دغو مرسلينو وو، هغه مهال چې دی او د ده ټول اهل مو وژغورل، په وروسته پاتو کې له يوې بوډۍ پرته، بيا مو نور ويجاړ کړل، او يقيناً چې تاسو سبا سبا او په شپه کې پرې تېرېږئ، نو آيا تعقل نه کوئ؟!

(۱۳۳-۱۳۸)- دلته د برياليو او ژغورل شوو بل مثال لوط صلعم او د ده تېر دئ چې په اړه يې داسي ويل شوي:

- **بې شکه چې لوط هم له دغو مرسلينو وو، هغه مهال چې دی او د ده ټول اهل مو وژغورل، په وروسته پاتو کې له يوې بوډۍ پرته. يوازې د ده هغه مېرمن له دې ژغورنې او بريا محرومه شوه چې د ده له ملګرتيا يې ډډه وکړه او په وروسته پاتو کې پاتې شوه او د هغوی په برخليك اخته شوه.**
- **بيا الله تعالی پر نورو هر څه رانسکور کړل او د دوی ورانه سيمه يې د هر ليدونکي لپاره د پند او عبرت وسيله وګرځوله، قريش به د خپلو سفرونو په لړ کې د دې ورانې سيمې خوا ته سبا او ماښام تېرېدل.**
- **دوی ته ويل شوي: آيا تعقل نه کوئ؟!**

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذۡ أَبَقَ إِلَى ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ
مِنَ ٱلۡمُدۡحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَٱلۡتَقَمَهُ ٱلۡحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٞ ﴿١٤٢﴾ فَلَوۡلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ
ٱلۡمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِي بَطۡنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذۡنَٰهُ بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ
سَقِيمٞ ﴿١٤٥﴾ وَأَنۢبَتۡنَا عَلَيۡهِ شَجَرَةٗ مِّن يَقۡطِينٖ ﴿١٤٦﴾ وَأَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلۡفٍ أَوۡ
يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾ فَـَٔامَنُواْ فَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ﴿١٤٨﴾

او يقيناً چې يونس هم له دغو پيغمبرانو وو، کله چې د ډکې کشتۍ په لور وتښتېدو. پچه يې ورسره واچوله او دی پړ وخوت. نو کب په داسې حال کې تېر کړ چې (د خپل ځان)

ملامتوونکی وو، که له تسبیح ویونکو څني نه وی نو تر هغي ورځي به د هغه په نس کي پاته وو چي (خلك) بیا راپاڅول کیږي. نو په داسي حال کي مو په لوڅ ډاګ وغورځاوو چي ناروغ وو، او د کدو بوټی مو پري راشین کړ. او سلو زرو یا تر دې څه زیاتو (خلکو) ته مو استازی لیږلی وو، نو ایمان ئې پرې راوړ او تر یوه وخته مو مهلت ورکړ.

(۱۳۹-۱٤۸)- په دې مبارکو آیتونو کي د یونس **صلعم** په اړه ویل شوي:

- یونس هم له دغو پیغمبرانو وو چي بریا ئې په برخه شوې او له کړاوونو ژغورل شوي.
- هغه مهال چي د ډکي کشتی په لور وتښتېدو، د قوم له مخالفتونو ستومانه شو، خپل مأموریت ئې نیمګړی پرېښود، د تېښتي لار ئې غوره کړه او په کشتی کي سپور شو.
- کشتی په ناڅاپي توګه له حادثې سره مخامخ شوه، خبره د سورلیو تر منځ پچي ته ورسېده، انګېرنه ئې دا وه چي په سورلیو کي کوم کس داسي ګناه کړې چي له کبله ئې دا پېښه رامنځته شوې، باید د قرعې له لارې دا کس معلوم شي او له کشتی لاندې وغورځول شي، په نتیجه کي ئې دی پر وخوت او سمندر ته وغورځول شو. یا ښایي سورلیو به داسي انګېرلې وي چي د کشتی بار زیات دئ، که یو کس ترې کم نشي نو ټول به د طوفان له کبله غرقیږي، پرېکړه ئې کړې چي دا کس د قرعې له لارې غوره شي، په قرعه کي د یونس **صلعم** نوم راختلی.
- یوه کب په داسي حال کي تېر کړ چي ده خپل ځان ملامتولو، خپلي اشتباه ته متوجه شوی او پرې نادم وو.
- په همدې حالت کي ئې د خپل رب تسبیح ویله، که د تسبیح ویونکو له ډلي نه وی نو د قیامت تر ورځي او تر هغه به د کب په نس کي پاته وو چي خلك بیا راپاڅول کیږي.
- د همدې تسبیح او ندامت له کبله الله تعالی وژغورو، او په داسي حال کي ئې د سمندر ساحل کي په لوڅ ډاګ وغورځاوو چي د کب په ګېډې کي د پاته کېدو له کبله ناروغ وو.
- سیوري ته اړ وو، الله تعالی د کدو د بوټي سیوری ورپه برخه کړ.
- دی سلو زرو یا تر دې څه زیاتو خلکو ته د پیغمبر په توګه لیږل شوی وو.
- خپل قوم ته له ستنېدو وروسته هغوی ایمان پرې راوړ او الله تعالی پر دوی نازلېدونکی عذاب تم کړ او تر یوه وخته ئې مهلت ورکړ.

لکه چي ګورئ د یونس علیه السلام په قصې کي د الله د لارې مجاهدینو او دعوتګرانو ته یو ستر درس او لارښوونه پرته ده، دوی ته وایي: پام کوئ چي له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په سبب خپله مبارزه نیمګړې پرېنږدئ، د خلکو مخالفتونه باید تاسو مأیوس نه کړي، د خپل دعوت له پایلو او نتائجو مه مأیوسه کیږئ، سنګر مه پرېږدئ، دا ګمان مه کوئ چي د سنګر په پرېښودو سره ستاسو ستونزې حل کېدی شي!! وګورئ یونس علیه السلام مخکي له وخته خپل سنګر پرېښود، له ولس او د دوی له ایمان راوړلو مأیوس شو، بلي سیمي ته ئې د تلو پرېکړه وکړه، نتیجه ئې دا شوه چي د کب په کومي کي پرېوځي!! خو کله

چي ده په خپلي اشتباه اعتراف وكړ نو له هغه سخت مصيبت وژغورل شو، له مؤمنانو سره د الله تعالى معامله همداسي وي!!

څوك چي د يونس صلعم دا قصه لولي نو څو پوښتني ئې ذهن تخنوي:

۱- دلته ولي په استثنايي توګه د يونس صلعم د قوم شمېر په ګوته شوى حال دا چي په ټول قرآن كي د بل هيڅ پيغمبر د قوم شمېر نه دئ راغلى؟

۲- د كدو د بوټي د يادولو حكمت څه دئ؟

په تفسيرونو كي به د دې پوښتنو ګڼ شمېر ځوابونه ومومئ، خو دقيق ځواب به هغه مهال وموموئ چي د يونس صلعم قصه په بايبل كي ولولئ، هغه مهال به پوه شئ چي قرآن په دې سره د بايبل غلطي ادعاګاني تصحيح كړې!! راشئ دا قصه ولولو:

بايبل د (يونس) په نامه يو باب لري، د دې باب په مقدمه كي داسي راغلي: يونس نبي د خداى له لوري په دې وګمارل شو چي د آشور پلازمېني نينوا ته ولاړ شي، ... او خلك خداى ته راوبلي، خو يونس له دې دِډه كوي، دا ځكه چي د هغه ځاى اوسېدونكي د اسرائيليانو دښمنان ول او د يونس هيله دا وه چي خداى دوى مجازات كړي!!! نو ځكه يونس نينوا ته د تلو په ځاى ترشيش ته روان شو، ... خو د دې سفر په دوران كي خداى داسي څه وكړل چي دى نينوا ته په تلو مجبور شو!! د نينوا خلكو د خداى د كلام په اورېدو سره توبه وكړه او خداى ته ئې رجوع وكړه، يونس له دې كار خفه شو او خداى ته ئې شكايت وكړ، خو خداى ده ته وويل: بايد هغو خلكو ته ارزښت وركړې چي ما پيدا كړي، ځكه خداى په خلكو كي توپير نه كوي!!!

دغه مقدمه كافي ده چي د دې كتاب په ماهيت پوه شو او ووايو چي له ځانه جوړ شوى جعلي كتاب دئ، څنګه ممكن ده چي الله تعالى يو څوك د پيغمبر په توګه غوره كړي او يوه قوم ته ئې په تلو مأمور كړي، دى انكار وكړي او په بل لوري روان شي؟! د بايبل د وينا معنى دا ده چي د ده خداى په خپل انتخاب كي كمزورى دئ، نه پوهېږي څوك د رسالت لپاره غوره كړي!! په داسي چا لاس ږدي چي د ده خبره نه مني او د رسالت وړتيا او اهليت په كي نشته!! د بايبل له منونكو پوښتنه كوم: تاسو نن او د موسى او عيسى عليهما السلام له بعثت څو زره كاله وروسته د تورات او انجيل له احكامو په دې خاطر سرغړاوى نه كوئ چي دا احكام د خداى له لوري دي، نو هغه پيغمبر به څنګه د خداى له حكم سرغړاوى كوي چي خداى په خپله غوره كړى او وحي ئې ورته كړې؟!!

بايبل ليكي: خداى يونس ته دا پيغام ولېږو: د نينوا لوى ښار ته ولاړ شه او اوسېدونكو ته ئې ووايه چي خداى داسي فرمايي: زه ستاسو له شرارتونو غافل نه يم، ډېر ژر به مو هلاك كړم!!

كه پر الله تعالى د ايمان په رڼا كي دې خبرو ته ځير شو نو پوهېږو چي دا نه الهي پيغام كېدى شي او نه د يوه پيغمبر رسالت، داسي پيغامونه يوازي هغه څوك لېږي چي له يوه قوم سره د جنګ اراده لري، داسي پيغامونه د هيټلر او موسوليني په څېر جلادانو ته منسوبول صحيح دي خو الله تعالى ته ئې انتساب لوى ظلم او ستر جسارت دئ، الله تعالى د خپل رحمت او پېرزوينې په سبب او د خلكو د هدايت لپاره پيغمبران لېږي، د عذاب پرېكړه هغه وخت كوي

چي د خلکو د هدايت ټولي هڅي ناکامي شي، ولس خپل پيغمبر ته د رد ځواب ورکړي، اتمام حجت وشي، نه د زړه سواندو پيغمبرانو عليهم السلام مسلسل دعوت څه نتيجه ورکړي او نه ئې معجزې، په دې وخت کي خلك په الهي عذاب گواښل هم معقول کار دئ او هم عادلانه، خو تر دې وړاندي گواښل له مهربان رب سره نه ښايي!!

تاسو گورئ چي بايبل او يهودي پلويان ئې حتى دا نه خوښوي چي د دوی خدای نورو قومونو ته پيغمبران ولېږي، يونس عليه السلام داسي معرفي کوي چي بل قوم ته ئې د هدايت په ځای د هلاکت تلوسه درلوده، د خپل خدای له امره ئې له دې کبله سرغړاوی وکړ چي غوښتل ئې بابل وران شي او په اوسېدونکو ئې د خدای عذاب نازل شي، د خدای دا خبره ئې هم ونه منله چي زه د ټولو انسانانو خدای يم، په دوی کي توپير نه کوم، زما بندگانو ته ارزښت ورکړه!!

بايبل وړپسي ليکي: يونس چي نه ئې غوښتل نينوا ته ولاړ شي، فيصله ئې وکړه چي له خدای ترشيش ته وتښتي!!... په کشتی کي سور شو... طوفان راغی، نږدې وه کشتی غرقه شي... د دې لپاره پچه واچول شوه چي معلومه شي چا خدای غصه کړی... پچه د يونس په نامه وختله، يونس ئې سيند ته وغورځاوو... ماهي له کومي تېر کړ، درې ورځي د ماهي په نس کي پاته شو، يونس اوږده دعاء وکړه، خدای ماهي ته امر وکړ چي يونس په ساحل کي وغورځوه او ماهي همداسي وکړل!! خدای بيا يونس ته وويل: نينوا ته ولاړ شه او هغوی ته ووايه چي بد برخليك درته منتظر دئ!! يونس اطاعت وکړ، نينوا ته ولاړ، چي لوی ښار وو، له يوه سر تر بل سر ئې رسېدل درې ورځي مزل غوښت، موعظه ئې پيل کړه، وئې ويل چي له څلوېښتو ورځو وروسته به ښار وران شي!! پاچا او ټول خلك ووېرېدل، توبه ئې وکړه... خدای هم پر دوی رحم وکړ او هغه بلا ئې دفع کړه!! خو يونس په دې کار سخت ناراضه او غصه شو!! ... خدای ته ئې وويل: ما ووژنه! تر دې ژوند مرگ راته غوره دئ!! خدای ورته وويل: آيا دا سم کار دئ چي ته د دې خلکو په ژغورني غصه شوی يې؟ يونس له ښاره ووت چي وگوري څه پرې راځي، ناست وو چي ناڅاپي خدای يو بوټی راشين کړ، په ده ئې خپلي پاڼي وغوړولي، له سيوري ئې خوښ شو، خو سبا دا بوټی وچ شو، يونس په دې کار ډېر خفه شو...خدای ورته وويل: آيا د دې بوټي په وچېدو خفه شوې؟ ده ځواب ورکړ: هو!... خدای ورته وويل: ته د هغه بوټي لپاره خفه کېږې چي په يوه شپه کي راپيدا شو او په بله شپه کي له منځه ولاړ، سره له دې چي تا ئې په راپيدا کېدو کي هيڅ زحمت نه وو ايستلی، نو آيا زما زړه دي د نينوا لپاره ونه سوزېږي چي په هغه کي يوسل شل زره بې گناه ماشومان او ډېر حيوانات اوسېږي؟!!

په دې هکله څو عرائض لرم:

- د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوم: دلته چي تا خدای ته کومه وينا منسوب کړې، يونس ته ئې ځواب ورکړی او هغه ته ئې ويلي: ته د هغه بوټي لپاره خفه کېږې چي په يوه شپه کي راپيدا شو او په بله شپه کي له منځه ولاړ، سره له دې چي تا ئې په راپيدا کېدو کي هيڅ زحمت نه وو ايستلی، نو آيا زما زړه دي د نينوا لپاره ونه سوزېږي چي په هغه کي يوسل شل زره بې گناه ماشومان او ډېر حيوانات اوسېږي؟!! دا ولي دلته خدای د يونس غوښتنه نه مني، د بابل خلکو ته د سزا په ورکولو کي تلوار نه کوي، د دوی توبه ئې قبوله کړه او عذاب ئې تم

کړ؟ سره له دې چې دوی اسرائیلیان نه دي او ستا په وینا د خدای زامن نه دي!! دا وینا ستا د ټولو مخکنیو ویناوو خلاف ده او په ټولو تېرو کتابونو کي دا لومړی او یوازینی وار دئ چي ته خپل خدای ته دا صفت منسوبوې، تر دې د مخه خو تا خپل خدای داسي انځور کړی چي د عذابونو له نازلولو خوند اخلي، له اسرائیلیانو پرته د نورو قومونو په وژلو، شړلو او د دوی د کورونو په ورانولو خوشحاله کیږي، هغه پاچایان ئې نه دي بخښلي چي پر نورو قومونو ئې رحم کړی او د دوی د اسیرانو په وژلو کي ئې لټي کړې؟!! د الله تعالی په اړه ستا دا وینا سمه ده که مخکنۍ؟ دا ولي دلته خدای د یوه مهربان ذات په توګه معرفي کوې او نبي د یوه سخت زړي انسان په توګه، خو تر دې د مخه دي خدای سخت زړی او غضبناك معرفي کاوو او نبي زړه سواند؟ فقط یوه وجه په نظر راځي او هغه دا چي نبي باید داسي انځور شي چي د خپل قوم په اړه تعصب لري، که خدای د اسرائیلیانو په ضد د عذاب پرېکړه وکړي نو نبي ئې باید مخنیوی وکړي او که د اسرائیلیانو د دښمنانو په اړه د کومي پېرزویني پرېکړه کوي نو نبي باید داسي شدید اعتراض وکړي چي خدای ته ووایي: د دې حالت تر لیدو خو دا راته غوره ده چي زه مړ شم!!

که د بایبل دا کتاب د پیغمبر علیه السلام له بعثت وروسته لیکل شوی وي نو په یقین سره ویلی شو چي دا قصه ئې له قرآن اخیستې او په هغې کي ئې کرکجن تصرف او تحریف کړی او که تر دې د مخه لیکل شوی وي نو قرآن د هغې تصحیح کوي او حقیقت ئې په ګوته کوي. د بایبل د تدوین او په اوسنۍ بڼې کي د هغه د خپرولو واضح او یقیني تاریخ نه دئ معلوم، محققین وایي چي احتمالاً له شپږمي تر لسمي میلادي پېړی کي دا کار شوی.

قرآن فرمایي چي یونس علیه السلام په داسي سیمي کي مبعوث شوی وو چي د اوسېدونکو شمېر ئې سل زره یا څه زیات وو. دا یوازینی مورد دئ چي قرآن د یوه قوم د شمېر خبره کوي او هغه هم په دې توګه چي سل زره او یا څه ترې زیات او دا د دې لپاره چي قرآن د تاریخ او احصائیې کتاب نه دئ، قانون او لارښود دئ او ښایي دا هم د دې لپاره چي د بایبل د ادعاء پوچ والی په ګوته کړي، د بایبل خبره له مبالغې ډکه ده، دومره ښار چي اوږدوالی یا سور ئې د دریو ورځو مزل په اندازه وي، یعني نږدې پنځوس کیلومتره، دا باید د اوسني بغداد، تهران او حتی د کراچی په اندازه پراخ وي او نفوس به ئې هم نږدې لس ملیونه او د ماشومانو شمېر به ئې یو سل شل زره نه بلکي نږدې څلور ملیونه وو، په داسي ښار کي به د یوه مسافر خبره څنګه په یوه ورځ کي د ټولو ښاریانو حتی د پاچا غوږ ته رسېږي؟ هلته خو نه راډیو وه او نه ټلویزیون!! څنګه به خلك د یوه ناآشنا مسافر دا خبره مني چي په څلوېښتو ورځو کي به دا ښار وران شي او بیا به ټول د پاچا په شمول توبه کوي؟!! عجیبه ده چي ځینو درنو مفسرینو د قرآن اسلوب او په دې هکله وضاحتونو ته پام نه دئ کړی او د قوم د شمېر په اړه ئې ارقام ورکړي، چا یو لك شل زره، چا یولك دېرش زره او چا تر دې څه کم یا څه زیات ښودلی!! او ځیني بیا د بایبل تر اغېز لاندي تللي او نینوا ئې د یونس علیه السلام د دعوت سیمه ښودلې!! حال دا چي په کار ده د قرآن په الفاظو اکتفاء وکړو او داسي څه له خپل لوري ونه وایو چي قرآن نه دي ویلي او نه ئې خوښوي. قرآن دا نه خوښوي چي مخاطب ئې د شمېرو او ارقامو په بې ګټې بحثونو کي مصروف شي.

قرآن فرمایي چي یونس علیه السلام په قوم کي مبشت وو، ډېره موده ئې خلك د الله تعالی

لوري ته وبلل، هغوی پرې ایمان رانهووړ، ستومانه او غصه شو، خپل مأموریت ئې نیمگړی پرېښود او له وخته مخکې له سنگر راکوز شو او د تیښتې لار ئې غوره کړه، الله تعالی د دغې تیښتې په سبب د سیند څپو ته وسپارو او د کب نس ته تېر شو، خو سیند ته د لوېدو په مهال ئې په خپلې اشتباه اعتراف وکړ او په دې الفاظو سره ئې ندامت وښود:

وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَـٰضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَىٰ فِى ٱلظُّلُمَـٰتِ أَن لَّآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَـٰنَكَ إِنِّى كُنتُ مِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَنَجَّيْنَـٰهُ مِنَ ٱلْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِى ٱلْمُؤْمِنِينَ 

الانبیاء: ٨٧-٨٨

او هغه کب وال در په یاد کړه چې کله په غصې روان شو او گمان ئې وکړ چې موږ به هیڅکله تنگې پرې رانه ولو، نو په تیارو کې ئې غږ کړ: له تا پرته بل معبود نشته، سپېڅلتیا تا ته ده، یقیناً چې زه له ظالمانو څخه یم!! نو د ده دعاء مو قبوله کړه او له غمه مو وژغورو او مؤمنان همداسې ژغورو.

یعني یوازینی معبود ته یې، زما په اړه ستا پرېکړه عادلانه ده، زه پرې قانع یم او اعتراض نه لرم، اعتراف کوم چې له ما تېرې شوې!!

الله تعالی عفو ورته وکړه، د کب له نسه روغ رمټ ووت، خپل قوم ته ستون شو، هغوی الهي عذاب د نازلېدو په حال کې لیدلی وو، ایمان ئې راووړ او الله تعالی هغه عذاب تم کړ او قرآن فرمایي چې دا یوازینی قوم دئ چې د عذاب پرېکړه ئې معطله او مسترده شوه او دا ځکه چې پیغمبر خپل مأموریت نه وو بشپړ کړی او اتمام حجت نه وو شوی، که نه نو د الله تعالی پرېکړې نه بدلېږي، دا پرېکړې هغسې نه دي لکه چې بایبل ئې د ژر ژر بدلېدو ادعاء کوي!!

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَـٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَـٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ 

یونس: ٩٨

د یونس له قوم پرته بل داسې کلی نه دئ لیدل شوی چې د عذاب له پرېکړې وروسته ئې ایمان راوړلو گټه وررسولې وي، خو کله چې دې قوم ایمان راووړ نو د سپکاوي عذاب مو په دنیوي ژوند کې ترې لرې کړ او تر یوه وخته مو له خپلو پېرزوینو برخمن کړل.

فَٱسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ ٱلْبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾ أَمْ خَلَقْنَا ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ إِنَـٰثًا وَهُمْ
شَـٰهِدُونَ  ﴿١٥٠﴾ أَلَآ إِنَّهُم مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَدَ ٱللَّهُ وَإِنَّهُمْ لَكَـٰذِبُونَ 

﴿١٥٢﴾ أَصْطَفَى ٱلْبَنَاتِ عَلَى ٱلْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ
﴿١٥٥﴾ أَمْ لَكُمْ سُلْطَٰنٌ مُّبِينٌ ﴿١٥٦﴾ فَأْتُواْ بِكِتَٰبِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾

نو وئې پوښته چې آيا ستا د رب به لوڼې وي او د دوی زامن؟ او آيا فرشتې مو ښځينه پيدا کړې په داسې حال کې چې دوی شاهد ول؟ پام چې دا د دوی يو دروغ دي چې وايي: الله زېږولی کړي او بې شکه چې دوی حتماً دروغجن دي، آيا لوڼو ته ئې پر زامنو غوره والی ورکړی؟ څه درباندې شوي؛ څنګه قضاوت کوئ؟ نو آيا پند نه اخلئ؟ او آيا کوم څرګند برهان درسره شته؟ نو خپل کتاب راوړئ که رښتيني يئ.

(١٤٩-١٥٧)- په دې مبارکو آيتونو کې د الله تعالى په اړه د مشرکينو ځينو غلطو باورونو او انګېرنو ته اشاره شوې، لکه دا چې ځينو فرشتې د الله تعالى لوڼې ګڼلې، چا يو او چا بل انسان د هغه زوی او ځای ناستی ګڼلی، يهودو عزير صلعم ته او مسيحيانو عيسى صلعم ته د خدای د زوی په سترګه وکتل، ځينو پېريان په نسب او خپلوۍ کې خدای ته منسوب کړل!! د دغو غلطو عقائدو ترديد د داسې پوښتنو په ترڅ کې شوی چې له حيرت سره توأم دي، فرمايي: نو وئې پوښته چې آيا ستا د رب به لوڼې وي او د دوی زامن؟! آيا عجيبه نه ده چې تاسو ځان ته زامن خوښوئ او الله تعالى ته لوڼې؟!! آيا هغه مهال چې الله تعالى فرشتې پيدا کولې تاسو د صحنې شاهد وئ او په خپلو سترګو مو ليدلي چې دوی مو ښځينه پيدا کړې؟! پام چې دا د دوی يو دروغ دي چې وايي: الله زېږولی کړي او بې شکه چې دوی حتماً دروغجن دي، دوی ښه پوهېږي چې دا يوه دروغجنه ادعاء ده او هيڅ حقيقت نه لري خو عمداً دروغ وايي، الله تعالى نه اولاد لري او نه ځای ناستی. آيا لوڼو ته ئې پر زامنو غوره والی ورکړی؟ څه درباندې شوي؟ څنګه قضاوت کوئ؟ نو آيا پند نه اخلئ؟ او آيا کوم څرګند برهان درسره شته؟ نو خپل کتاب راوړئ که رښتيني يئ، آيا په کوم الهي کتاب کې مو داسې کوم دليل موندلی چې ستاسو دا ادعاګانې تأييد کړي؟ يعني د دې غلطو ادعاګانو لپاره نه کوم عقلي دليل لرئ او نه کوم علمي او نقلي دليل.

وَجَعَلُواْ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا ۚ وَلَقَدْ عَلِمَتِ ٱلْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ سُبْحَٰنَ
ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَآ
أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَٰتِنِينَ ﴿١٦٢﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾

او د ده او پېريانو تر منځ ئې يوه نَسَبي اړيکه رامنځته کړه، حال دا چې دا پېريان پوه شوي چې دوی به حتماً احضار کړی شوي وي، الله ته له هغه څه سپېڅلتيا ده چې دوی

ئې بیانوي، مګر د الله مخلص بندګان، نو یقیناً چې تاسو او هغه څه چې تاسو ئې لمانځئ د ده په اړه په فتنه کې اچوونکي نه یئ مګر د هغه چا چې دوزخ ته ننوتونکی وي.

(۱۵۸-۱۶۳)- دلته د هغو مشرکینو د وینا یادونه او تردید شوی چې پېریان الله تعالی ته په خپلوی او قرابت منسوبوي، په دې اړه ویل شوي:

- دوی وایي: د الله تعالی او پېریانو تر منځ یوه نَسَبي اړیکه شته!! حال دا چې دا پېریان په خپله پوهېږي چې نه یوازې له الله تعالی سره کومه نسبي اړیکه نه لري بلکې د هغو محکومو مخلوقاتو په ډلې کې دي چې د الله تعالی په وړاندې به د محاسبې او مجازات لپاره احضار کړی شي. د دوی د دغې وینا دوه تعبیرونه شوي: یو دا چې دوی وایي: د عالم چارې د دوو سیالو ذواتو له لوري سمبالېږي، یو ئې د خیر کارونه کوي او بل ئې د شر، یو ئې یزدان او بل ئې اهریمن دئ، یو ئې خدای او بل ئې شیطان دئ، دواړه له نسبي پلوه سره ورته دي، عالم او چارې ئې په خپلو منځونو کې سره وېشلي دي!! بل تعبیر ئې دا دئ چې دوی وایي: د خدای زامنو د انسانانو له لوڼو سره جنسي نږدېکت کړی او له دې داسې نسل رامنځته شوی چې دېوانو ته ورته وو، همغه څه چې په بایبل کې راغلي، بایبل (د نوح طوفان) تر عنوان لاندې لیکي:

(په دې وخت کې چې د زمکې پر سر د انسانانو شمېر په زیاتېدو وو، د خدای زامن د انسانانو د ښایسته لوڼو مجذوب شول (پرې مین شول) او هره یوه ئې چې خوښه شوه خپله مېرمن ئې کړه، په دې وخت کې خدای وفرمایل: زما روح به د تل لپاره په انسانانو کې نه پاتې کېږي، ځکه هغه فاني کېدونکی او نفساني مخلوق دئ، نو یو سل شل کاله فرصت ورکوم، ترڅو ځان اصلاح کړي، نو کله چې د خدای زامنو د انسانانو له لوڼو سره نږدېکت وکړ، د دېوانو په څېر دنګ دنګ سړي ترې پیدا شول، دا د مخکنی زمانې نومیالي او معروف باتوران دي، کله چې خدای ولیدل چې انسانان په ګناهونو کې غرق دي او تل د بدو کارونو په لوري درومي د انسانانو په پیدا کولو پښېمان او ناراض شو.)

د بایبل د دې مسخره خبرو په اړه څو عرائض لرم:

داسې معلومېږي چې د بایبل لیکوال غوښتل د هغو افسانوي شخصیتونو د پیدایښت د څرنګوالي لپاره یوه توجیه جوړه کړي چې د بوډیو په نکلونو کې یاد شوي، د دېوانو په څېر ستر ستر او دنګ دنګ چې فیل به ئې په یوې ګوتې پورته کاوو او د بحر له تله به ئې نهنګ په لاس رااېستو، دا دئ بایبل دې پوښتنې ته ځواب ورکوي چې دا دېوانو ته ورته معروف شخصیتونه څنګه پیدا شول؛ د خدای زامنو د انسانانو ښایسته ښایسته لوڼې خپلې مېرمنې کړې، د دوی له نږدېکته دا معروف پهلوانان پیدا شول. ډېره عجیبه ده چې کوم انسان د داسې خبرې کولو جسارت کوي او تر دې هم ډېره د حیرانتیا خبره دا ده چې کوم انسان داسې خوشې او مسخره خبره مني.

د بایبل ځینو مفسرینو بې ځایه هڅه کړې چې دا الفاظ توجیه کړي او د خدای له زامنو د

شيث صلعم صالح زامن جوړ کړي، په حاشيه کي ئې ليکي: (ښايي د خدای له زامنو مراد د شيث خدای پالونکي زامن وي، دا ځکه چي د خدای د زامنو اطلاق په خدای پالونکو انسانانو هم کيږي، خو ځيني نور مفسرين په دې باور دي چي له دې هغه فرشتې مراد دي چي د خدای له امره ئې سرغړونه وکړه) خو هر څوك پوهيږي چي دا خوشې خبري او بې ځايه هڅه ده، د بايبل ليکوال په ډېر صراحت سره ويلي چي دا د خدای زامن وو نه انسانان وو او نه هم فرشتې، وايي: د خدای زامنو د انسانانو لوڼي نکاح کړې، د دوی له وصلته نوی نسل پيدا شو، جسد ئې دېوانو ته ورته خو روح ئې د خدای روح!! خو خدای وفرمايل: زما روح به د تل لپاره په انسانانو کي نه پاتې کيږي، دا ځکه چي انسان فاني او نفساني دئ، يعني د انسانانو دا خدايي نسل د تل لپاره دوام نه کوي، د خدای روح به د تل لپاره په انسانانو کي نه پاتې کيږي!! د همدې لپاره اوس هغه دېوانو ته ورته مخکني انسانان نشته، که څوك پوښتنه کوي چي اوس ولې داسي دېو صفته او دېو هيکله انسانان نشته، د بايبل ليکوال ورته لنډ او آسانه ځواب ورکړی!! خدای ويلي وو چي زما روح به د تل لپاره په انسانانو کي نه پاتې کيږي!!

نه پوهيږو د دې جملې (نو يو سل شل کاله فرصت ورکوم، ترڅو ځان اصلاح کړي) له مخکنيو سره څه ارتباط دئ؟!! موږ ته ووايه: د بايبل خدای د خپلو زامنو په کوم کار غصه شوی، د انسانانو د لوڼو په نکاح کولو که د دېو هيکله انسانانو په پيدا کېدو؟ او ولې پوره يو سل شل کاله فرصت؟

تاسو ګورئ چي د بايبل خدای په دې نه پوهېدو هغه انسان چي دی ئې پيدا کوي څنګه مخلوق به وي، ښه کارونه به کوي که بد، ګناه ته به ئې ميلان زيات وي که نېکو کارونو ته؟ خو کله چي خدای وليدل چي انسانان په ګناهونو کي غرق دي او تل د بدو کارونو په لورې درومي، د انسانانو په پيدا کولو پښېمان او ناراض شو. د بايبل جاهل او ظالم ليکونکی د دې پروا هم نه لري چي د الله تعالی په اړه داسي غلطي خبري وليکي!! بايبل د دې عنوان په اومي جملې کي داسي ليکي: نو خدای وفرمايل:زه هغه انسان د زمکي له سره محو کوم چي پيدا مي کړ، حتی حيوانات، مرغان او خزندې هم له منځه وړم، دا ځکه چي د دوی په پيداکولو متأسف يم!!

- قرآن د دغو کچه او کرکجنو خبرو په رد کي فرمايي: الله تعالی ته له تولو هغو غلطو ويناوو بشپړه سپېڅلتيا ده چي دا مشرکين ئې کوي، الله تعالی له هيڅ مخلوق سره نَسَبي اړيکي نه لري، هيڅ مخلوق ئې د زوی او ځای ناستي په توګه نه دئ نيولی.
- د الله مخلص بندګان د مشرکينو له غلطو باورونو، ناسمو تګلارو او بد برخليك مستثنی او خوندي دي.
- دا مشرکين او هغه څه چي دوی ئې لمانځي د الله تعالی په اړه هيڅوك په فتنه کي نشي اچولی او له سمي لاري ئې نشي منحرف کولی مګر هغه چي په خپله د خپلو غلطو باورونو او ناسمو کړنو له کبله دوزخ ته ننوتونکی وي.

وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٞ مَّعۡلُومٞ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلصَّآفُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَإِنَّا لَنَحۡنُ

ٱلۡمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾

او زموږ هيڅ يو داسي نه دئ چي ټاکلی مقام دي ونه لري، او يقيناً چي موږ صف صف کېدونکي يو، او يقيناً چي موږ تسبيح ويونکي يو.

(١٦٤-١٦٦)- دلته د مشرکينو د غلطو ويناوو د ترديد لپاره د فرشتو له قوله ويل شوي:

- **زموږ هر يو ټاکلی مقام لري، د هر يوه مقام او منزلت د الله تعالی له لوري ټاکل شوی.**
- **موږ د خپل رب په وړاندي د مطيع بندګانو په څېر صف صف ودرېږو.**
- **موږ د الله تعالی په تسبيح مشغول يو.**

وَإِن كَانُواْ لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوۡ أَنَّ عِندَنَا ذِكۡرٗا مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ
ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُواْ بِهِۦۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿١٧٠﴾

او يقيناً چي دوی داسي ول چي ويل ئې: که له موږ سره د مخکنيو کوم ذکر وی نو موږ به حتماً د الله مخلص بندګان وو، خو بيا ئې د هغه په اړه کفر وکړ، نو حتماً به پوه شي.

(١٦٧-١٧٠)- دوی به د رسول الله ﷺ تر بعثت او د قرآن تر نزول وړاندي ويل: که موږ ته د مخکنيو امتونو په څېر کوم کتاب او پيغمبر راغلی وی نو موږ به حتماً د الله مخلص بندګان شوي وو، خو کله چي دا د پند او ذکر کتاب د رسول الله ﷺ په لاس ورته راغی د هغه په اړه ئې کفر وکړ، نو حتماً او ډېر ژر به پوه شي چي دا کفر ئې له کوم شوم برخليك سره مخامخ کوي!!

وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ
جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿١٧٣﴾

او يقيناً چي زموږ وينا لا دمخه زموږ انبياوو بندګانو په اړه تېره شوې چي يقيناً همدا دوی به بريالي وي او يقيناً چي همدا زموږ لښکر غالب دئ.

(١٧١-١٧٣)- دا مبارك آيتونه وايي: دا د انبياوو صلی په اړه د الله تعالی مخکنی ثابته او نه بدلېدونکې وينا او دائمي سنت دئ چي همدا دوی به بريالي وي او د الله د لاري د مؤمنو مجاهدينو لښکر به هرو مرو غالب او برلاسی وي.

فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿١٧٤﴾ وَأَبۡصِرۡهُمۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُونَ ﴿١٧٥﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسۡتَعۡجِلُونَ

﴿فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلْمُنذَرِينَ ١٧٧ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ١٧٨ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ١٧٩﴾ ١٧٦

نو تر یوه وخته مخ ترې واړوه، او وئې ګوره چې دوی به هم ډېر ژر وګوري، نو آیا زموږ د عذاب په اړه تلوار کوي؟ خو کله چې د دوی پر سیمې پرېوځي هغه مهال به د ګواښل شوو سباوون ډېر بدغونی وي، نو تر یوه وخته مخ ترې واړوه، او وئې ګوره چې دوی به هم ډېر ژر وګوري.

(١٧٤-١٧٩)- دلته رسول الله ﷺ ته دا لارښوونې شوې:

- ~~تر یوه وخته له دغو مخالفینو مخ واړوه، خاصه اعتناء مه ورته کوه او پر خپل حال ئې~~ پرېږده.
- وګوره چې الله تعالی له دوی سره څه کوي او له کوم برخلیك سره ئې مخامخ کوي.
- دوی به هم ډېر ژر وګوري چې د دوی د شرك او کفر پایله څه ده، په کوم لوري ئې بیایي او څه په لاس ورکوي. دلته هغه څه ته اشاره شوې چې دوی به په دنیا کې ورسره مخامخ شي.
- آیا په تلوار سره زموږ عذاب غواړي؟! آیا وایي: هغه عذاب چېرې دئ چې پیغمبر مو پرې ګواښي، ولې تر اوسه رانه غی، د ده په څېر ډېرو نورو دې ته ورته ګواښونه کړي ولې ترسره نه شول؟! خو کله چې د دوی پر غولې پرېوځي نو هغه ورځ به د دغو ګواښل شوو سباوون ډېر بدغونی وي.
- مکرر ورته ویل شوي چې وګوره الله تعالی له دوی سره څه کوي او له کوم برخلیك سره ئې مخامخ کوي. دوی به هم حتماً وګوري چې د دوی د شرك او کفر پایله څه ده او څه په لاس ورکوي. دلته په آخرت کې د دوی د کفر او شرك بدو پایلو ته اشاره شوې.

﴿سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٨٠ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ١٨١ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ١٨٢﴾

سپېڅلتیا ستا رب ته ده، د عزت خاوند رب، له هغه څه چې دوی ئې بیانوي، او پر پیغمبرانو دې سلام وي په داسې حال کې چې ستاینې ټولې د عالمونو رب ته دي.

(١٨٠-١٨٢)- دا مبارك ایتونه چې د سورې د ټولو موضوعاتو لپاره یوه جامع او ښایسته تتمه ده؛ وایي:

- سپېڅلتیا ستا رب ته ده، له هر عیب او نقص منزه او د عزت او عظمت خاوند رب ته، له ټولو هغو عیبونو منزه چې مشرکان ئې الله تعالی ته منسوبوي.

- پر پیغمبرانو دې سلام وي په داسې حال کې چې ستاینې ټولې د عالمونو رب ته دي.
- لکه چې ګورئ دا وروستي اوه آیتونه داسي دي چې د سورې د ټولو اساسي مطالبو خلاصه زموږ په وړاندي ږدي، پر الله تعالی ایمان، پر آخرت باور او په دې اړه د پیغمبرانو صلی دعوت او د دې دعوت پایلې د سورې د بحث اساسي موضوعات دي چې خلاصه ئې په همدغو آخري اوو آیتونو کې راغلي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

ص

د سورې پېژندنه:

د دې مباركي سورې نوم (ص) دئ، د سورې لومړی حرف د سورې د نوم په توګه غوره شوی، ٨٨ آيتونه لري، د ډېری آيتونو فواصل ئې د لومړيو آيتونو شقاق، مناص او كذاب ته ورته دي، د ځينو ئې النار او فجار ته، د ځينو ئې معرضون او يختصمون ته او د ځينو ئې مبين او طين ته ورته دي، لومړی آيت ئې له دې پلوه له ټولو بېل برېښي خو كه غور وكړو دا آيت له دوهم سره داسي تړلی دئ لكه چي دواړه يو آيت وي او په شقاق پای ته رسېدلی، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط دئ او هغو سورتونو ته ورته دئ چي د مكي دور په منځنی دورې كي نازل شوي.

كه د سورې مضامينو ته ځير شو نو ډېر ژر به راته جوته شي چي د بحث اصلي موضوع ئې د قرآن دا اړخ ځرګندول دي چي خپل مخاطب ته اغېزمن پند او نصيحت ډالۍ كوي، تاسو به وګورئ چي دا سوره هغو سورتونو ته ورته ده چي په يوه توري پيل شوې، لكه څنګه چي دا سوره په يوه توري پيل شوې د بحث اساسي مضمون او موضوع ئې هم يوه ده، كوم چي په لومړي آيت كي راغلی، همدا د سورې د مضامينو لپاره د عنوان حيثيت لري، دا آيت وايي: وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِى ٱلذِّكۡرِ: قسم پر دې د ذكر خاوند قرآن، يعني قرآن خپل مخاطب ته اغېزمن پندونه لري، د دې پند ښېلګي به د دغي سورې په ګڼ شمېر آيتونو كي وګورئ، لكه څنګه چي همدا لومړی آيت د دې سورې د مضامينو لپاره عنوان دئ همدا راز آخري دوه آيتونه ئې د ټولي سورې لپاره يوه جامع خلاصه او تتمه ده، او په هغوی كي هم د قرآن دغه اړخ ته ګوته نيول شوې، آخري آيتونه دا دي: إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۢ ﴿٨٨﴾ : دا خو د ټولو عالميانو لپاره فقط يو اغېزمن پند دئ او د ويناوو په حقيقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ. په دې اړه په نه ويشتم آيت كي هم راغلي: كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٩﴾ : داسي مبارك كتاب چي موږ ستا لوري ته لېږلی تر څو د هغه په آيتونو كي تدبر وكړي او عقلمن ترې پند واخلي.

په دې سوره كي د (ذكر) لفظ ديارلس ځلي راغلی او دا ښيي چي د دې سورې محوري

موضوع همدا مطلب دئ چي قرآن د ذكر او پند كتاب دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

صٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ ﴿١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ ﴿٢﴾ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن
قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ فَنَادَواْ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ ﴿٣﴾ وَعَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡۖ
وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٞ كَذَّابٌ ﴿٤﴾ أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا
لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ﴿٥﴾ وَٱنطَلَقَ ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا
لَشَيۡءٞ يُرَادُ ﴿٦﴾ مَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِي ٱلۡمِلَّةِ ٱلۡأٓخِرَةِ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ ﴿٧﴾ أَءُنزِلَ

عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ مِنۢ بَيۡنِنَاۚ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّن ذِكۡرِيۚ بَل لَّمَّا يَذُوقُواْ عَذَابِ ﴿٨﴾ أَمۡ
عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡوَهَّابِ ﴿٩﴾ أَمۡ لَهُم مُّلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ فَلۡيَرۡتَقُواْ فِي ٱلۡأَسۡبَٰبِ ﴿١٠﴾ جُندٞ مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُومٞ مِّنَ ٱلۡأَحۡزَابِ ﴿١١﴾

ص، قسم پر دې د ذکر خاوند قرآن، نه؛ بلکې هغه په (مزعوم) تکبر او اختلاف کې دي چې کفر ئې کړی، تر دوی وړاندې مو څومره نسلونه هلاك کړل چې چيغې ئې وختې خو هغه مهال د تېښتې هيڅ مجال نه وو، او پر دې ئې تعجب وکړ چې د دوی له منځه يو خبرداری ورکوونکی ورغی او کافرانو وويل: دا خو ستر دروغجن کوډګر دئ، آيا ټول معبودان ئې يو معبود ګرځولی، دا خو حيرانوونکې خبره ده!! مشران او سرداران ئې روان شول او وئې ويل: ځئ او پرخپلو معبودانو صبر وکړئ، بې شکه چې همدا مطلوب کار دئ، دا مو په دې وروستني مذهب کې هم ندي اورېدلي، دا له کذب او افتراء پرته بل څه نه دي. آيا زموږ په منځ کې په همدا ده دا ذکر نازل شوی، نه؛ بلکې دوی زما د ذکر په اړه په شك کې دي، نه؛ بلکې تر اوسه ئې زما عذاب نه دئ څکلی، آيا ستا د ډېر عطا کوونکي عزتمن رب د پېرزوينې خزانې له دوی سره دي، آيا د آسمانونو او زمکې او هغه څه واك له دوی سره دئ چې په دواړو کې دي، (که داسې وي) نو په دغو اسبابو کې دې لوړ ولاړ شي. د لويو ډلو په پرتله يو وړوکی شانته لښکر چې همدلته ماتېدونکی دئ.

(۱-۱۱)- د دې مبارکو آيتونو په اړه دا خبرې په پام کې ولرئ:

• لکه څنګه چې دا سوره په يوه توري پيل شوې د سورې اساسي مضمون هم يو دئ، کوم چې په لومړي آيت کې راغلی، همدا د سورې د مضامينو لپاره د عنوان حيثيت لري، دا آيت وايي: وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ: قسم پر دې د ذکر خاوند قرآن، يعنې قرآن خپل مخاطب ته اغېزمن پندونه لري، د دې پند بېلګې به د دغې سورې په راتلونکو آيتونو کې وګورئ، که څه هم ذي ذکر نوميالي او د شرف خاوند ته هم ويل کېږي خو د دې سورې نه ويشتم او اوه اتيايم آيتونو ته په پام سره دلته ذي ذکر د پند خاوند په معنی راغلی. لکه څنګه چې همدا لومړی آيت د دې سورې د مضامينو لپاره عنوان دئ همدا راز آخري دوه آيتونه ئې د ټولې سورې لپاره يوه جامع خلاصه او تتمه ده، آخري آيتونه دا دي: إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۭ ﴿٨٨﴾ : دا خو د ټولو عالميانو لپاره فقط يو اغېزمن پند دئ او د ويناوو په حقيقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ. په دې اړه په نه ويشتم آيت کې

هم راغلي: كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٩﴾ : داسي مبارك كتاب چي موږ ستا لوري ته ليږلی تر څو د هغه په آيتونو كي تدبر وكړي او عقلمن ترې پند واخلي.

- په دې سوره كي د (ذكر) لفظ ديارلس ځلي راغلی او دا ښيي چي د دې سورې محوري موضوع همدا مطلب دئ چي قرآن د ذكر او پند كتاب دئ.
- دلته قرآن يو ځل بيا د يس د سورې په څېر د شاهد په توګه وړاندي شوی خو ورپسي او په لوړي پسي متصل دا نه دي ويل شوي چي دا قرآن د كومي مدعاء د اثبات شهادت وركوي، د قرآن په نورو دا ډول قسمونو كي تل د قسم ځواب په قسم پسي متصل راځي او مخاطب پوهيږي چي د لوړي موخه څه ده او د كومي وينا د اثبات لپاره شوې، په دې اړه په تفسيرونو كي د پراخ اختلاف شاهد يو، ګڼ شمېر تعبيرونه او تأويلونه شوي، ځيني وايي: همدا دوهم آيت (بل الذين كفروا في عزة و شقاق) د قسم ځواب دئ، ځيني دا (إِنْ كُلٌّ إِلا كَذَّبَ الرُّسُلَ) او ځيني (إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ) د قسمونو ځواب ګڼي، حال دا چي دا فقرې له قسمونو ډېري لري واقع شوي او تر منځ ئې ګڼ شمېر نور مطالب راغلي او په هيڅ توګه داسي نه برېښي چي د قسم ځواب دي وي، ځيني د قسم ځواب محذوف بولي، غوره او دقيق تعبير دا دئ چي دلته قرآن مقسم به دئ او ذي الذكر ئې هم صفت دئ او هم د قسم ځواب، يعني قرآن په خپله شهادت وركوي چي خپل مخاطب ته ئې اغېزمن او ګټور ذكر او پند په خپلي لمني كي راوړی، له قرآن او د هغه له حامل سره د معاندينو د مخالفت وجه دا نه ده چي ګواكي قرآن د پند او ذكر له پلوه څه كمی، ابهام او ستونزه لري او د مخاطب د اقناع په اړه ئې كافي دلائل او څرګندي لاربښووني نه دي كړې، بلكي وجه ئې د مخالفينو تكبر او عناد دئ، دوی خپله لويي غواړي او قرآن ئې له كبر او لويي منع كوي او مساوات او عدالت ته ئې بلي، دوی له حق او حقيقت سره عناد او دښمني لري او تري تښتي او قرآن ئې حق ته بلي. نو د دوی مزعوم تكبر او له حقيقت تېښته له قرآن او د هغه له حامل او د هغه له لاربښوونو او ذكر سره د كافرانو د اختلاف اصلي وجه ده. د دې تعبير په تأييد كي څو مضبوط دلائل لرو: ۱- دوهم آيت په (بل) سره پيل شوی او ښيي چي د قسم او دې آيت تر منځ داسي څه شته چي د قسم ځواب وي او هغه له كوم شك پرته فقط همدا د ذي الذكر صفت دئ چي د قسم لپاره مقسم له (هغه څه چي د اثبات لپاره ئې قسم خوړل شوی) دئ. ۲- ټوله سوره پر دې محور راڅرخي چي قرآن ذي الذكر كتاب دئ او مخاطب ته له پندونو او نصحيتونو ډكي لاربښووني لري، ۳- آخري دوه آيتونه ښيي چي په دې سوره كي په همدې موضوع بحث شوی چي قرآن ذي الذكر دئ، هغه آيتونه دا دي: إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۢ ﴿٨٨﴾ : دا خو د ټولو عالميانو لپاره فقط يو اغېزمن پند دئ او د ويناوو په حقيقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ.
- دا يوازي دوی نه دي چي له الهي حق دين سره ئې د دښمنۍ لار غوره كړې، تر دوی وړاندي ډېرو نورو همداسي كړي او په سخت الهي عذاب اخته شوي، آيا دې ته ئې پام نه دئ

کړی چي تر دوی وړاندي څومره نسلونه د خپل کفر او بغاوت له کبله هلاك شوي، کله چي الـهي عذاب خپل وزر پرې غوړولی نو چيغي ئې اوچتي شوې او د تېښتي په لټه کي شوي خو نه ئې چيغي چا اورېدلې دي او نه ئې د تېښتي هيڅ مجال ترلاسه کړی.

• دوي پر دې تعجب کوي چي ولي د دوی له منځه يو خبرداری ورکوونکی ورغی او دغو کافرانو وويل: دا خو ستر دروغجن کوډګر دئ، ادعاء ئې دروغجنه ده چي د الله تعالی له لوري د پيغمبر په توګه لېږل شوی او قرآن د الله له لوري پرې نازل شوی، که د ده په ويناوو کي څه اغېز دئ او پر خلکو اثر کوي او د هغوی په شخصيت کي ژور بدلون راولي نو وجه ئې دا ده چي دی يو ماهر کوډګر دئ!!

• دوی ته تر ټولو زياته د قرآن دا وينا د منلو وړ نه برېښي چي وايي: له الله تعالی پرته بل معبود نشته، دوی وايي: آيا ټول معبودان ئې يو معبود ګرځولی، دا خو ډېره حيرانوونکي خبره ده!! آيا موږ به له پلار نيکه راپاتي ټول سپېڅلي معبودان پرېږدو او يوازي هغه معبود به منو چي دا ساحر موږ د هغه لمانځني ته بلي؟!!

• لومړی مخالفت د دوی هغو قومي سردارانو او مذهبي مشرانو پيل کړ چي د دغو جعلي معبودانو په طفيل مشرۍ او سردارۍ ته رسېدلي ول، هغوی حق ته شا کړه او روان شول او خپلو خپلو پلويانو او تابعانو ته ئې وويل: ځئ او پرخپلو معبودانو او خپل مذهب صبر وکړئ، بې شکه چي همدا مطلوب او غوره کار دئ، هغه څه چي دا ساحر ئې ادعاء کوي په هيڅ مذهب کي ئې نه مومو، حتی په وروستي مذهب کي نه دي راغلي او د دې مذهب له پلويانو مو نه دي اورېدلي، مطلب ئې دا وو چي مسيحيان هم نه وايي چي يوازي يو الله ولمانځئ، هغوی هم د الله تعالی تر څنګ مسيح او مور ئې لمانځي!! د دې نوي دين داعي دروغجن دئ او ادعاء ئې له کذب او افتراء پرته بل څه نه ده.

• هغوی خلکو ته وويل: آيا زموږ په منځ کي په همدا ده دا ذکر نازل شوی، الله تعالی تر ده بل زيات مناسب کس او د پيغمبرۍ وړ شخصيت ونه موندو؟!! دا ستر مذهبي شيخان او د نوم او اعتبار خاوند قومي زعماء او مشران ئې پرېښي او د ده په څېر يو امي او بې نوم او نښان کس ئې غوره کړی.!!

• د دوی په خواب کي ويل شوي: له پيغمبر سره د مخالفت وجه او دليل دا نه دئ چي د هغه د شخصيت او اهليت په اړه شکمن دي او د زعامت وړتيا په کي نه ګوري، نه؛ بلکي مخالفت ئې له قرآن او د هغه له لارښوونو سره دئ، دوی هغه څه نشي منلي چي قرآن ئې پرې ګماري، په شخصي او اجتماعي ژوند کي هغه حدود او مقررات نه شي منلی چي قرآن ئې ورته ترسيموي، د حق او باطل، عدل او ظلم، روا او ناروا په اړه هغه معيارونه نه قبلوي چي قرآن ئې د دوی په وړاندي ږدي.

• په خپلو غلطو عقائدو او ناسمو او ظالمانه تګلارو د دوی د ټينګار او له قرآن سره د دوی د مخالفت سبب دا دئ چي لا له هغه الـهي عذاب سره نه دي مخامخ شوي چي د دوی د کفر، شرك، ظلم او فساد سزا ده، هغه مهال به ئې عقل سر ته راشي چي د الـهي عذاب خوند وڅکي.

• آيا د الـهي پېرزوينو وېش دوی ته سپارل شوی چي د خپلي خوښي په شخصيتونو ئې

ووېشي او له هغه چا ئې وسپموي چې دوی ئې نه خوښوي؟!! آیا الله تعالی د خپلو پېرزوينو د خزانو کلیاني دوی ته ورکړي او دا اختیار ئې دوی ته ورکړی چې ستا د هغه رب پېرزوينې د خپلې خوښې مطابق ووېشي چې ډېر عطا کوونکی او عزتمن دئ، هغه رب چې هر څه په خپله عطا کوي او هر چا ته د هر څه په ورکولو قادر دئ؟! د خپلو خزانو واك خو هغه څوك بل ته سپاري چې د بل مرستې ته اړ وي او په یوازې توگه ئې له وېشلو او عطا کولو عاجز وي!! آیا دوی ستا (عزيز) او (وهاب) رب ته همدا عیب او نقص منسوبوي؟!!

- **آیا د آسمانونو او زمکې او هغو شیانو واك له دوی سره دئ چې په دغو دواړو کې دي؟ آیا په آسمانونو او زمکې کې داسې څه ښودلی شي چې واك ئې د دوی په لاس کې وي، د لمر په راختو او لوېدو کې، د شپې او ورځې په تلو او راتلو کې، د باران او واورې په ورېدو کې، د دانې او مېوې په راټوکېدو کې، او ... څه ونډه لري، په کوم څه کې له ټولواك رب العالمين سره شريك دي؟! که داسې وي نو بیا خو دي له خپلو وسائلو او ذرائعو استفاده وکړي او د لوړ تللو مظاهره دي وکړي او خپل توان او قدرت دي خلکو ته وښيي!!**
- **قريش هسې مغرور دي او ځان ورته ستر او ځواکمن برېښي،** دوی په حقیقت کې د نورو لويو لويو ډلو په پرتله یوه هغه وړوکې شانته لښکر ته ورته دي چې ماته ئې حتمي ده، همدلته به ماته خوري.

گورئ چې پیغمبر د یوه معبود لوري ته بلنه ورکوي او نور ټول معبودان باطل او مردود گڼي، خلکو ته وايي: خدای یو دئ، د ټولو خدای دئ او تاسو ټول د هغه په وړاندې برابر یاست، هم د خدایانو تعدد مردود گڼي او هم له دې تعدد راولاړ شوی طبقاتي نظام، خو د شرك ځېلې ټولنې سرداران، چې د معبوانو تعدد دوی ته د ټولنې سرداري ورپه برخه کړي، د یوه معبود پر ځای د متعددو خدایانو په وجود ټینگارکوي، دوی له دین او مذهب هم د طبقاتي نظام د توجیه وسیله او د بقاء او دوام ذریعه جوړوي او خپلو پلویانو ته وايي: پرخپلو سابقه، له پلار نیکه راپاته معبوادانو صبر وکړئ! پیغمبر پر توحید او د یوه معبود پر عبادت اصرار کوي، خو د شرك ځېلې ټولنې سرداران او سالاران د شرك او متعددو خدایانو شعار پورته کوي! پیغمبران علیهم السلام توحید د خلکو د نجات وسیله گڼي خو د کفر مشران شرك د خپل قدرت د بقاء راز بولي.

د قرآنکريم له نظره د قريشو دا عقیده د شرك عقیده ده او دې ته ورته هره عقیده د شرك عقیده. لدې شرك سره نه د توحید ادعاء د منلو وړ گڼي او نه پر خدای ایمان او اعتقاد د اعتبار وړ. قرآن خلکو ته وايي: الله یو دئ، داسې نده چې د څو خدایانو له جملې یو وي، بلکې احد او یوازینی دئ. هغه د ټولو رب دئ، ور ئې د ټولو په وړاندې برابر پرانیستې دئ، د ده او بنده ترمنځ نه فاصله شته او نه واسطه او وسیله، هرڅوك مخامخ او له واسطې او وسیلې پرته هغه ته رجوع کولی شي، د هرچا دعاء اوري، هرچا ته د غاړې تر رگ زيات ورنږدې دئ، شريك نه لري، خپل ملك او واکمنې ئې په شريکانو نده وېشلې. ستا د توحید معنی دا ده چې له واحد خدای پرته نه پر بل معبود باور ولرې او نه بل چا ته د دعاء او حاجت لاس اوږد کړې. که قرآنکريم ته رجوع وکړئ نو دا به درته څرگنده شي چې د پیغمبرانو علیهم السلام مبارزه اکثراً د شرك خلاف وه، نه د الحاد او له خدای د انکار په خلاف. د ملحدينو په نسبت

ئې له مشرکينو سره زياته مقابله راغلې. د پيغمبرانو عليهم السلام اساسي او ستر مشکل يا له هغو تېگمارانو سره وو چې له دين ئې ځان ته دام او دکان جوړ کړی وو او يا له هغو ديندارانو سره چې غولېدلي ول او د دغو تېگمارانو په لومو کې نښتي ول، هغه چې شرك ئې له ايمان سره خلط کړی وو او دې ته تيار نه ول چې خپل جعلي معبودان پرېږدي. د پيغمبرانو عليهم السلام مخالفينو به د هغوی د توحيد پر بلنه دا اعتراض کاوو چې: آيا دوی راغلي چې موږ له نورو ټولو خدايانو لاس واخلو او يوازې د يوه خدای عبادت وکړو؟!! د پلرونو او نيکونو خدايان پرېږدو، اصنام يا بتان چې الهي دربار ته زموږ د تقرب وسيله ده، پرېږدو؟!! قرآنکريم په پورتنيو آيتونو کې همدا حالت انځور کړی.

د دې آيتونو په اړه په ځينو تفسيرونو کې څو روايتونه مومو چې که څه هم په الفاظو کې ئې ځينې توپيرونه شته خو د ټولو خلاصه داسې ده: کله چې د رسول اللهؐ تره ابوطالب له مړيني وړاندې ناروغ شو نو د قريشو مشرانو په يوې غونډې کې پرېکړه وکړه چې ده ته ورشي او ترې وغواړي چې د دوی او رسول اللهؐ تر منځ په دې روغه جوړه وکړي چې هغه دې زموږ پر دين او معبودانو نيوکې نه کوي او موږ به دی خپلې مخې ته پرېږدو چې خپل رب څنګه چې غواړي وئې لمانځي، داسې نه چې هغه ومري او بيا موږ له محمد **(صلعم)** سره داسې کوم سخت چلن ته اړ شو چې ټول عرب مو پرې ملامت کړي او ووايي: تر څو چې ابوطالب ژوندی وو نو د هغه لپاره ئې د ده وراره ته څه نه ويل خو د ده له مړينې وروسته ئې زياتی ورسره وکړ، د دوی يو پنځه ويشت کسيز پلاوی ابوطالب ته ورغی، لومړی ئې د معمول په څېر له رسول اللهؐ خپل شکايتونه وکړل، بيا ئې وويل: موږ ستا په وړاندې د انصاف خبره کوو: ستا وراره دې موږ خپل دين ته پرېږدي، موږ به دی پر خپل دين پرېږدو، دی چې کوم معبود لمانځي موږ پرې اعتراض نه کوو، خو دی به زموږ د معبودانو مذمت نه کوي او دا هڅه به نه کوي چې موږ خپل معبودان پرېږدو، په همدې منصفانه شرط زموږ او ده تر منځ روغه جوړه وکړه، ابوطالب رسول اللهؐ وروغوښت او ورته وئې ويل: ستا د قوم دا مشران راغلي او دا وړانديز ئې کړی، رسول اللهؐ هغه ته وويل: ګرانه تره! زه خو دوی داسې کلمې ته بلم چې که ئې ومني نو ټول عرب به ئې تابع شي او عجم به ورته تسليم، کله چې هغوی دا خبره واورېده نو وئې ويل: يوه نه بلکې لس کلمې به ووايو، ووايه چې هغه کلمه څه ده؟ رسول اللهؐ وفرمايل: لا إله إلا الله، د دې خبرې په اورېدو سره ټول له خپل خپل ځای پورته شول او هغه خبرې ئې وکړې او روان شول چې په پورتنيو له پنځم تر اتم آيتونو کې راغلې: آيا ټول معبودان ئې يو معبود ګرځولی، دا خو حيرانوونکې خبره ده!! مشران او سرداران ئې روان شول او وئې ويل: ځئ او پرخپلو معبودانو صبر وکړئ، بې شکه چې همدا مطلوب او غوره کار دئ، دا مو په دې وروستني مذهب کې هم ندي اورېدلي، دا له کذب او افتراء پرته بل څه نه دي. آيا زموږ په منځ کې په همدا ده دا ذکر نازل شوی؟!

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ﴿١٢﴾ وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَابُ

لْـَٔيْكَةِ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلْأَحْزَابُ ﴿١٣﴾ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿١٤﴾

تر دوی وړاندې د نوح قوم، عاد، د مېخونو خاوند فرعون، ثمود، د لوط قوم او ایکه والو (انبیاء) تکذیب کړل، دوی همغه لویې لویې ډلې دي چې هري یوې ئې له دې پرته بل څه نه دي کړي چې پیغمبران ئې تکذیب کړل چې په پایله کې ئې زما تعذیبوَنه ترسره شوه.

(۱۲-۱٤)- په دې مبارکو آیتونو کې مغرور قریش د هغو لویو قومونو تور برخلیك ته متوجه کړی شوي چې تر دوی وړاندې تېر شوي، د دوی په څېر ئې پیغمبران تکذیب کړل او په الهي عذاب اخته شول: د نوح قوم، عاد، د مېخونو خاوند فرعون، ثمود، د لوط قوم او ایکه وال چې لویې لویې ډلې وې او د انبیاوو د تکذیب له کبله الله تعالی مجازات کړل.

وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴿١٥﴾ وَقَالُواْ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا

قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْحِسَابِ ﴿١٦﴾

او دا وګړي له یوې داسې توندې چیغې پرته بل څه ته انتظار نه کوي چې هیڅ ځنډېدل به ئې نه وي. دا په داسې حال کې چې دوی وایي: اې زموږ ربه! د حساب تر ورځې وړاندې زموږ برخه راکړه.

(۱۵-۱٦)- دلته د قریشو په اړه مزید ویل شوي: دوی له یوې داسې توندې چیغې پرته بل څه ته انتظار نه کوي چې هیڅ ځنډېدل به ئې نه وي، هیڅوك او هیڅ څه به ئې نشي ځنډولی، دوی خو اوس وایي: که د قیامت او الهي محاسبې ادعاء رښتینې وي نو ولې موږ ته همدا نن د خپلو عملونو سزا نه راکول کېږي، پیغمبر ته وایي: ستا د رب هغه عذاب چېرې دئ چې موږ پرې ګواښې؟!! خو کله چې الهي عذاب خپل وزر پرې وغوړوي بیا به ئې د ځنډېدو هیله کوي خو هیله به ئې په هیڅ توګه نه تر سره کېږي.

ٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلْأَيْدِ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿١٧﴾ إِنَّا سَخَّرْنَا

ٱلْجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحْنَ بِٱلْعَشِيِّ وَٱلْإِشْرَاقِ ﴿١٨﴾ وَٱلطَّيْرَ مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿١٩﴾

وَشَدَدْنَا مُلْكَهُۥ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْحِكْمَةَ وَفَصْلَ ٱلْخِطَابِ ﴿٢٠﴾ وَهَلْ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ ٱلْخَصْمِ

إِذْ تَسَوَّرُواْ ٱلْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾ إِذْ دَخَلُواْ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ ۖ قَالُواْ لَا تَخَفْ ۖ

خَصۡمَانِ بَغَىٰ بَعۡضُنَا عَلَىٰ بَعۡضٍ فَٱحۡكُم بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَلَا تُشۡطِطۡ وَٱهۡدِنَآ إِلَىٰ
سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ هَٰذَآ أَخِي لَهُۥ تِسۡعٞ وَتِسۡعُونَ نَعۡجَةٗ وَلِيَ نَعۡجَةٞ وَٰحِدَةٞ
فَقَالَ أَكۡفِلۡنِيهَا وَعَزَّنِي فِي ٱلۡخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ
نِعَاجِهِۦۖ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٞ مَّا هُمۡۗ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسۡتَغۡفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّۤ
رَاكِعٗا وَأَنَابَ ۩ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرۡنَا لَهُۥ ذَٰلِكَۖ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٢٥﴾
يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ
فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا
نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٦﴾

په هغه څه صبر وکړه چې دوی ئې وايي او زموږ بنده داؤد در په ياد کړه چې د (پياوړو او هنرمندو) لاسونو خاوند وو، يقيناً چې هغه (خدای ته ډېر ډېر او بيا بيا) ورگرځېدونکی وو، يقيناً چې موږ غرونه ورسره رام کړي وو چې سهار او ماښام به ئې تسبيح ويله او مرغان ورته راغونډ کړی شوي، ټول ورته راگرځېدونکي، د ده پاچايي مو ورته مضبوطه کړه، حکمت او پرېکنده وينا مو ورپه برخه کړه، او آيا د هغو شخړه کوونکو خبر دررسېدلی چې له دېواله محراب (د عبادت ځای) ته واوښتل، کله چې د داؤد محضر ته داخل شول، دی ترې ووېرېدو، وئې ويل: مه وېرېږه! موږ دوه مدعيان يو چې يوه پر بل تېری کړی، نو زموږ تر منځ په حقه سره پرېکړه وکړه، ظلم مه کوه او د سمې لارې لارښوونه راته وکړه، دا زما ورور دئ چې نه نوي مېږې لري او زما يوه مېږه ده، نو ما ته ئې وويل: دا هم ما ته وسپاره او په خبرو کې ئې زور زياتی راسره وکړ، وئې ويل: يقيناً چې په خپلو مېږو سربېره ستا د مېږې په غوښتلو سره ئې ظلم درباندې کړی او يقيناً چې ډېری شريکان يو پر بل تېری کوي پرته له هغو چې ايمان ئې راوړی او نېک عمله دي او دوی څومره لږ دي، او داؤد گمان وکړ چې موږ

آزمويلی نو له خپل رب ئې بخښنه وغوښته، په سجده پرېوت او خدای ته ئې مخه کړه، نو موږ دا ورته وبخښله او يقيناً چي ده ته زموږ تقرب حاصل وو او غوره پايله، اې داؤده! يقيناً چي ته مو په زمکي کي خليفه گمارلی يې، نو د خلکو ترمنځ په حقه پرېکړه کوه، د هوی او هوس متابعت مه کوه چي د الله له لاري به دي تېرباسي، يقيناً هغه چي د الله له لاري منحرف شي په دې سبب دوی ته سخت عذاب (تاکل شوی) دئ چي د حساب ورځ ئې هېره کړې.

(۱۷-۲٦)- د دغو مبارکو آيتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- رسول اللهؐ ته لارښوونه شوې چي د داؤد عليه السلام په څېر صبر وکړه، له دې معلومېږي چي د داؤد **صلعم** په ضد هم ناروا او ظالمانه تبليغات شوي، د دې کرکجنو تبليغاتو مفصل بابونه او د اتهاماتو اوږد فهرست په بايبل کي موندلی شئ.
- پيغمبر **صلعم** ته ويل شوي چي ته هم د دښمنانو د تبليغاتو پروا مه کوه او د خپل ديني ورور داؤد عليه السلام په څېر صبر وکړه.
- داؤد عليه السلام د کمال خاوند وو، د زغرو جوړولو په صنعت کي پر ټولو برلاسی وو او د دې ترڅنگ د الله تعالی منقاد او مطيع بنده وو.
- سبا او ماښام به د خدای په ذکر او د زبور په تلاوت مشغول وو او په خوږ غږ کي ئې دومره ستر اغېز وو چي غرونو او مارغانو ورسره زمزمه کاوو.
- مضبوط حکومت ئې وو، الله تعالی ورته پوهه او حکمت ورکړی وو او د پېچلو شخړو او منازعاتو د عادلانه او حکيمانه حل او فصل استعداد ئې ورپه برخه کړی وو.
- د دې عادلانه قضاوت يوه بېلگه ئې دا ده چي الله تعالی دوه فرشتي د دوو مدعيانو په بڼه کي ورولېږلي، له دېواله هغه ځای ته ورواوښتلي چي داؤد عليه السلام به په کي په تلاوت او عبادت مصروف وو، دی ووېرېدو، هغوی ورته وويل: مه وېرېږه، موږ د يوې شخړي د حل و فصل لپاره درته راغلي يو، يوه ئې وويل: دا نه نوي مېږي لري او زه يوه، په زور سره غواړي دا هم رانه واخلي، ته زموږ تر منځ عادلانه او سمه پرېکړه وکړه او سمه لار راوښيه، هغه له دې مخکي چي د دوهم کس دلائل واوري او بيا فيصله وکړي، د مدعي د دعوی له مخي ئې پرېکړه وکړه او وئې ويل: ده درباندي تيری کړی، خو د دغي خبري له کولو سره سم او متصل متوجه شو چي غلطي ئې وکړه، د عادلانه قضاوت تقاضاء دا وه چي د مدعی عليه دلائل مي هم اورېدلي وی او بيا مي قضاوت کړی وی، له الله تعالی ئې بخښنه وغوښته او په سجده پرېوت!!
- ورپسې ويل شوي چي الله تعالی د دې اشتباه په اړه بخښنه ورته وکړه، د الله تعالی مقرب بنده وو او غوره پايله ئې ورپه برخه کړه.
- هغه ته ئې وويل: اې داؤده! يقيناً چي ته مو په زمکي کي خليفه گمارلی يې، نو د خلکو ترمنځ په حقه پرېکړه کوه، د هوی او هوس متابعت مه کوه چي د الله له لاري به دي تېرباسي، يقيناً هغه چي د الله له لاري کاږه شي په دې سبب به ئې سخت عذاب په برخه شي چي د حساب ورځ ئې هېره کړې، يعنې د حساب ورځ ئې هېره کړې له همدې کبله له سمي

لاري منحرف شوي او په الهي عذاب اخته شوي.

• قرآن په دې وينا سره نه يوازې د داؤد عليه السلام ستر شخصيت موږ ته معرفي کوي بلکې موږ ته د دې لارښوونه هم کوي چې عادل او له الله تعالى وېرېدونکى قاضي بايد هغه وخت هم يوازې د مدعي د وينا له مخې پرېکړه ونه کړي چې په سلو کې نه نوي ځان په حقه ګڼي او بل ملامت او پړ ثابتوي، بايد په سړه سينه د بل دلائل هم واوري او په پاى کې قضاوت وکړي.

• دې ته مو بايد پام چې د داؤد **صلعم** په اړه دا وينا په حقيقت کې د بايبل د هغې دروغجنې ادعاء په رد کې راغلې چې هغه ئې په دې تورن کړى چې ګواکې نه نوي مېرمنې ئې درلودې او سلمه ئې هم وکړه، خو دا سلمه د يوه مخلص جنګيالي مېرمن وه، ده د خپل قصر له بامه هغه د خپل کور په تشناب کې بربنډه ليدلې وه او زړه ئې پرې بايللى وو، دا جنګيالى ئې د جنګ داسې کرښې ته ولېږو چې ووژل شي او مېرمن ئې ده ته په لاس ورشي!! ښه به وي چې دا دروغجنه قصه په بايبل کې وګورو، بايبل تر دې عنوان (داؤد او بتشبع) لاندې د داؤد عليه السلام په اړه داسې ليکلي چې هغه د يوه دروند پيغمبر په توګه نه بلکې (نعوذ بالله) د يوه عياش پاچا په څېر انځوروي او ليکي:

(يوه ورځ مازديګر داؤد په خپل قصر کې د بام سر ته وخوت چې آزاده هوا تنفس کړي، قدم ئې واهو چې ناڅاپه ئې سترګې په يوې ښکلې ښځې ولګېدې چې لمبېده، داؤد يو څوك ولېږو چې پوښتنه وکړي دا ښځه څوك ده، معلومه شوه چې نوم ئې بتشبع او د اوريا مېرمن ده، نو داؤد څو کسان ورولېږل او دا ښځه ئې د ده قصر ته راوستله او داؤد ورسره څملاست... بتشبع ولمبېده... او کور ته ولاړه... څه وخت وروسته پوه شوه چې حامله ده، نو داؤد ته ئې د دې خبرې اطلاع ورکړه... داؤد د ښځې مېړه اوريا راوغوښت، (دى د جنګ له ميدانه راستون شوى وو)، داؤد د جنګ د وضعيت په اړه څه پوښتنې ترې وکړې... بيا ئې رخصت کړ او د ده له تلو وروسته ئې څه تحفې هم کور ته ورولېږلې... اوريا شپه د قصر په خوله کې له ساتونکو سره تېره کړه... داؤد خبر شو او دى ئې راوغوښت او ترې وئې پوښتل: ولې دې شپه په کور کې تېره نه کړه؟ ... ده ورته وويل: فوځ د عهد له صندوق سره په بېديا کې دئ زه څنګه کور ته ولاړ شم او شپه له خپلې مېرمنې سره تېره کړم!! داؤد ورته وويل: ډېر ښه! نن شپه دلته پاته شه او سبا بېرته د جنګ ميدان ته ولاړ شه، داؤد دى ماښامنې ته وبالو، په شرابو ئې مست کړ، خو سره له دې کور ته د تلو په ځاى همدلته پاته شو... سهار داؤد د يوآب په نامه خط وليکو او د اوريا په لاس ئې ورولېږو...په خط کې ئې ليکلي وو: کله چې جګړه تونده شي اوريا لومړي خط ته ولېږه او يوازې ئې پرېږده چې ووژل شي!!! يوآب همداسې وکړل او اوريا ووژل شو!! ... يوآب اطلاع ورکړه او ده په ځواب کې خبر ورولېږو چې ستا له کاره راضي يم!! بتشبع د ماتم ورځې تېرې کړې، بيا داؤد قصر ته راوسته او په نکاح ئې کړه...خداى په دې کار ناراضه شو او ناتان نبي ئې داؤد ته له دې پيغام سره ولېږو: په يوه ښار کې دوو کسانو ژوند کاوو، يو فقير وو او بل غني، شتمن ډېر څاروي درلودل او نېستمن يوازې يوه سېرلۍ درلوده... يوه ورځ د شتمن کور ته مېلمه راغى خو ده د دې په ځاى چې خپل کوم څاروى ورته حلال کړي د فقير سېرلۍ ئې ورته حلاله کړه...داؤد وويل: په خداى

قسم چا چې دا کار کړی وي باید ووژل شي!! په دې وخت کې ناتان نبي ورته وویل: هغه شتمن ته یې!! ... تا اوریا وواژو او د ده مېرمن دې ځان ته نکاح کړه... نو زه به هم ستا په مېرمنو همداسې حالت راولم، د ګاونډیو په لاس کې به پرېوځې او هغوی به په رڼا ورځ ورسره څملې... داؤد اعتراف وکړ... ناتان ورته وویل: خدای هم ته وبخښلې او د دې ګناه په سبب به تا نه هلاکوي خو ستا دا زوی به ومري!! همداسې وشول... ماشوم مړ شو، خو بتشبع بیا حامله شوه، زوی ئې وزېږاوو او نوم ئې سلیمان پرې کېښود...

بایبل د ټولو پیغمبرانو صلی په اړه دې ته ورته تورونه لګولي، د پیغمبرانو علیهم السلام په اړه د بایبل له دې تورونو او د هر یوه په ضد د داسې کرکجنې ژبې له کارولو معلومېږي چې دا کار عمداً او په دې خاطر کوي چې د نورو پیغمبرانو علیهم السلام شخصیت داغجن کړي، د خلکو پام او توجه له هغوی راوګرځوي او په دې ئې قانع کړي چې یوازینی د منلو وړ شخصیت مسیح علیه السلام دئ!! له دې پرته د بایبل د دې عمدي تورونو او الزاماتو لپاره بله معقوله توجیه نه شو موندلی. دا نن چې په مسلمانانو کې یوه ډله د پیغمبر علیه السلام له نږدې یارانو او د ده په مبارکو لاسونو روزل شوو صحابه وو یوازې علي رضي الله عنه او د ده درې څلور ملګري تأییدوي او د نورو په اړه حتی د دې خبرې له کولو ډډه نه کوي چې وایي: هغوی ټول له اسلامه واوښتل او منافق شول!! دوی هم د بایبل د لیکونکي په بیماری اخته شوي.

دلته د بایبل له لیکوال څو پوښتنې لرو:

- د اوریا کور د داؤد علیه السلام له قصر په څومره واټن کې وو؟ طبیعي ده چې د یوه عادي عسکر کور باید د پاچا له قصر ډېر لرې وي، که دا کور نږدې وی نو داؤد علیه السلام به حتماً پېژاندو او له نورو به ئې دا پوښتنه نه کوله چې دا څوک دئ؟ نو داؤد څنګه وتوانېدو چې د خپل قصر له بامه د اوریا د کور په حمام کې د ده ښځه د لمبېدو په حال کې داسې وګوري چې ښکلا ئې هم ورته معلومه شي؟ د یوه انسان ښکلا خو په سل ګزه واټن کې هم نه شي تشخیصېدی، سل ګزه خو به یوازې د قصر دېوالونه له دې بامه لرې وو!!
- د کوم پاچا چې عسکر دومره مذهبي جذبه لري چې د جنګ له میدانه راغلی خو خپل کور ته له تلو او له خپلې مېرمنې سره د شپې له تېرولو په دې خاطر ډډه کوي چې د عهد صندوق د جنګ په میدان کې او د ده ملګري په سنګر کې د دښمن مقابله کوي!! نو د پاچا دیني او مذهبي جذبه به څنګه او څومره لوړه او قوي وي؟ په کار خو دا ده چې پاچا ئې لړ تر لږه د دغه عسکر په څېر وي!! موږ ته خو قرآن داؤد علیه السلام د یوه ستر عابد، ذاکر، مجاهد، خدای پالونکي، له الله تعالی وېرېدونکي او د بصیرت او کمال خاوند په توګه معرفي کوي او پیغمبر علیه السلام ته فرمایي چې د دښمنانو د ناروا تبلغیاتو په مقابل کې د داؤد علیه السلام په څېر صبر وکړه.
- د قرآن له وینا معلومېږي چې د داؤد علیه السلام په اړه په اصلي تورات کې همدا مطلب راغلی خو د بایبل ظالم او دروغجن لیکوال یوه کرکجنه، ناروا او غلطه قصه ترې جوړه کړې.

متأسفانه زموږ ځینې مفسرین هم د اسرائیلي روایاتو تر اغېز لاندې تللي او د قرآن د دغو مبارکو آیتونو په تفسیر کې ئې د بایبل دا دروغجنه او بې بنسټه قصه رانقل کړې، او

حتى ځينو له همدې قصې داسې روايات جوړ کړي چي بې خبره خلك د حديث په سترګه ورته ګوري، په داسې حال کي چي دلته په قضاوت کي د (عدالت) موضوع څېړل کېږي، فرشتې هم داؤد عليه السلام ته وايي چي زموږ تر منځ سم او عادلانه قضاوت وکړه او الله تعالى هم ورته فرمايي چي د قضاوت په دوران کي د خپل هوس متابعت مه کوه، د خپلو احساساتو په حکم قضاوت مه کوه، د مدعي او مدعى عليه تر منځ عدالت مراعات کړه، د يوه خبره دې واورېده بل ته هم موقع ورکړه چي خپله خبره وکړي، داسې نه چي عدالت تر پښو لاندې کړې، په قضاوت کي عجله وکړې او د شخړې د يوه لوري د وينا له مخې پرېکړه وکړې، دوی دا ټول صراحتونه له پامه غورځولي او د بايبل قصې ته ئې اعتبار ورکړی!! دا مفسرين هغه دې چي بايبل ئې په دقت سره نه دئ لوستلی او دې ته ئې توجه نه ده کړې چي قرآن د بايبل تأييد او تصديق نه بلکي ترديد او تصحيح کوي، بايبل هغه انجيل او تورات نه دئ چي قرآن ئې تصديق کوي!! بايبل په تورات او انجيل کي ژور او نه بخښونکی تحريف کړی، په بايبل کي د دې الهي کتابونو ډېره لږه برخه هغه هم په کچه الفاظو کي تر سترګو کېږي، قرآن راغلی چي د دې محرف کتاب ټولي دروغجني خبري بربنډې او حقائق خلکو ته څرګند کړي، په بايبل استناد او د قرآن د آيتونو په تفسير کي د هغه مطالب رانقلول او دا هڅه کول چي دواړه سره تلفيق شي لويه اشتباه ده!!

ما د بايبل هغه قصې په دقت سره لوستلي دي چي په قرآن کي هم د هغوی يادونه شوې، دې ته متوجه شوی يم چي قرآن د بايبل هغه قصې رانقل کړې چي تصحيح ئې ضروري وه، بايبل په غلطي بڼې کي راوړې او قرآن هغه تصحيح کړې، ما په ټول قرآن کي يوه داسې قصه ونه موندله چي له بايبل سره په بشپړه توګه ورته والی ولري او هغه ئې نه وي تصحيح کړې، قرآن د آدم صلعم، نوح صلعم، ابراهيم صلعم، لوط صلعم، اسحاق صلعم، يعقوب صلعم، موسى صلعم، ايوب صلعم، يوسف صلعم، يونس صلعم، داؤد صلعم، سليمان صلعم او زکريا صلعم، قصې راوړې دي چي ټولي ئې د بايبل له قصو سره نه يوازي ژور توپيرونه لري بلکي د دوی په اړه ئې د بايبل قصې تصحيح کړې دي، د داؤد صلعم د قصې دغه برخه هم په قرآن کي په داسې توګه راغلې چي د ده په اړه د بايبل دروغجن تورونه ئې ترديد کړي، بايبل ويلي چي ناتان نبي د ده قصر ته ورغی او د يوه مالدار او نيستمن قصه ئې ورته وکړه ... قرآن وايي: دوه فرشتې د مدعي او مدعى عليه په توګه له دېوال وراوښتې، محراب ته ورغلې او د خپلې شخړې عادلانه پرېکړه ئې ترې وغوښتله، بايبل وايي: ده د اوريا په نامه يو مخلص جنګيالی د جنګ جبهې ته په دې موخه ليږلی وو چي ووژل شي او د ده مېرمن ځان ته نکاح کړي، قرآن وايي: ده د مدعي ادعاء واورېدله او وړاندې تر دې ئې پرېکړه وکړه چي د مدعى عليه دلائل هم واوري، ژر خپلې اشتباه ته متوجه شو او له الله تعالى ئې بخښنه وغوښته، هغه کمعلمه کسان چي محرف او له خرافاتو ډك بايبل ته د يوه سپېڅلي کتاب په سترګه ګوري همدا غلطي قصې رااخلي او د قرآن آيتونه د هغوی په تأييد کي په تکلف سره تأويلوي.

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا بَٰطِلٗاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلۡمُفۡسِدِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلۡمُتَّقِينَ كَٱلۡفُجَّارِ ﴿٢٨﴾

او موږ آسمان او زمکه او څه چي په دوی کي دي خوشي او بېهوده نه دي پیدا کړي، دا هسي د هغو کسانو ګمان دئ چي کافران شوي، نو دغو کافرانو ته د اور لویه کنده ده. آیا هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي په زمکي کي د فساد کوونکو په څېر کړو، آیا متقین به د فاجرانو په څېر کړو.

(٢٧-٢٨)- پر الله تعالی، آخرت او الهي محاسبې عدم ایمان داسي دئ لکه چي څوك ووايي: آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي خوشي او بېهوده پیدا شوي، د مؤمن او کافر، او متقي او فاجر تر منځ هیڅ توپیر نشته، د انسان ځینو عملونو ته ښه او ځینو ته بد ویل، ځیني انسانان ښه او ځیني بد ګڼل صحیح نه دي!! خو دا داسي کږه وینا ده چي نه ئې د انسان عقل مني، نه علم ورسره توافق کوي او نه د عدل په تله صحیح خېژي، دا له وهم او ګمان راټوکېدلې وینا ده، دا د هغو کسانو ګمان دئ چي کافران شوي او له حقائقو انکار کوي، موږ په آسمان او زمکي کي خوشي او بېهوده توکی نه مومو، په دنیا کي د مجازات او مکافات ځرګند مظاهر ګورو، موږ د خپل ضمیر او وجدان په هنداري کي ځیني څېرې ښکلي او ځلانده وینو او ځیني سپېرې او کرغېړني، ځیني انسانان راته ښه او ځیني راته بد برېښي، ځینو ته د متقي نوم ورکوو او ځیني د فاجر په نامه یادوو، یو ستایو او بل غندو، یو د مکافات وړ بولو او بل د مجازات، هغه رب چي موږ ته ئې دا وجدان راکړی او زموږ په ضمیر کي ئې دا معیارونه ایښي، آیا هغه به د انسان د کړنو په اړه قضاوت نه کوي؟!! آیا الله تعالی به هغه انسان چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي له هغو سره برابر ګڼي چي په زمکي کي فساد کوي؟! آیا هغه به متقین د فاجرانو په څېر ګڼي؟!! څومره ظالمانه او د عقل خلاف قضاوت؟ د عقل او عدل قضاوت خو دا دئ چي کافرانو ته د دوی د ظلمونو او فسادونو له کبله د دوزخ اور د سزا په بڼې کي ورکړی شي.

حقیقت دا دئ چي که په ټول عالم کي یو عیب او نقص ترسترګو شي او څوك په دې وتوانېږي چي په دې پراخ عالم کي کومه تشه او خلأ او کوم اضافي یا بېهوده شی په ګوته کړي او دا ثابته کړی شي چي واقعي دا شی بېهوده دئ نو له الله تعالی د انکار لپاره همدا کافي دئ!! د قرآن وینا دا ده چي په ټول عالم کي خوشی او بېهوده شی نشته، په مقابل کي ئې بایبل سلیمان علیه السلام ته داسي اقوال منسوبوي چي د عالم هر څه خوشي او بېهوده ګڼي، د داسي ناپېرتو خبرو د کولو جسارت خو یوازي هغه څوك کولی شي چي نه په الله تعالی باور لري او نه دا عالم او په هغه کي بدلونونه د یوه علیم او حکیم خدای د تصرف نتیجه ګڼي!! چا چي د یونان هغه فلسفي افکار وړاندي کړل چي عالم بېهوده او بې هدفه ګڼي، هغه ملحد او د

الله تعالی له شته والي منکر وو. خو دا دئ د بايبل بې عقله ليکونکی همدا الحادي افکار يوه پيغمبر ته منسوبوي او مذهبي رنګ ورکوي!! د عالم په اړه دغه انګېرنه چې بايبل ئې سليمان عليه السلام ته منسوبوي يوازې د هغه چا انګېرنه کېدی شي چې يا خدای نه مني، يا دا عالم د ده ملك او دی ئې ټولواك نه ګڼي، يا په دې باور وي چې د عالم هر څه په خپل سر او له کومي خاصي منصوبې پرته د تصادف له مخي رامنځ ته شوي او ټولي پېښې ئې تصادفي دي!! او دا نه يوازې په الله تعالی باندي له ايمان سره سخت تصادم کوي بلکي د حقيقت خلاف او دروغجني خبري دي، هيڅوك نه شي کولی په دې پراخ عالم کي يو بېهوده، بې مقصده او خوشی شی په ګوته کړي!!

خدای منونکی انسان ټول موجودات د خپل رب د صفاتو او افعالو مظهر ګڼي او په دې عقيده وي چې هيڅ څه بېهوده او عبث نه دئ پيدا شوی، په دې خور عالم کي نه څه خلأ او تشه شته، نه څه کموالی او زياتوالی، نه داسي کوم څه پاته دئ چې کموالی ئی احساس شي او نه داسي څه چې اضافي او غيرضروري وګڼل شي، هرڅه پوره او په خپله اندازه پيدا شوي. موحد ته د دې عالم هر څه ښايسته او ښېړ برېښي او هيڅ عيب په کي نه ګوري او که ئې کوم عيب تر سترګو شي نو دا يا د خپل لنډ او محدود فکر او نظر عيب ګڼي او يا ئې د خپلي نامناسبې معاملې او ناسمو کړو محصول عيب. تل د خدای ستاينه کوي، په هر حالت او هر صورت کي، دی د دې خور عالم په غېږ کي هره ښکلا، کمال او جمال د همدې ښکلا، کمال او جمال د خالق ستايني ته هڅوي، د هر بدلون او تحول تر شا حکمتونه او مصلحتونه ګوري، که له کوم نعمت برخمن شي هغه د خپل مهربان او منعم خدای ورکړه او عنايت ګڼي او که له کوم نقمت، کړاو او ستونزې سره مخ شي هغه د خپلو کړو عادلانه بدله او جزاء بولي. د ملحد او کافر انسان عيب دا دئ چې خپله غلطي او د ده له غلطو تصرفاتو راولاړې شوې ستونزې خدای ته راجع کوي، د دې پر ځای چې د ظلم او بې عدالتۍ په ليدو سره ظالم محکوم کړي خدای محکوموي، د دې پر ځای چې ووايي الله تعالی انسان ته د واك او اختيار په ورکولو سره خپله ستره پېرزوينه پر انسان کړې او په دې سره ئې انسان ته پر ټولو مخلوقاتو شرف او فضيلت ورکړی، خو انسان له دې واك او اختيار چې پر ټولو مخلوقاتو د ده د فضيلت نښه او امتياز دئ، غلطه استفاده کوي، برعکس خدای په هغه څه ملامتوي چې په کار ده د هغه په سبب ئې د الله تعالی ستاينه او مننه کولی!!

له هر ملحد هم او د بايبل له ليکونکي هم پوښتنه کوم: ستا د بدن کوم غړی بېهوده او بې فايدې دئ، سترګې، غوږونه، خوله، ژبه، غاښونه، لاس، پښه، ګوتي، نوکان... ؟ نور خو پرېږده دا د سترګو څو بانوګان، چې ښايي تا ته بې فايدې وښښتان معلوم شي، پرې کړه او بيا په هينداري کي خپل مخ ته وګوره او قضاوت وکړه، وروځي دي بېهوده وګڼه او وئې خرېيه ... که ستا په وجود کي څو وېښتان هم ضروري وي او هر يو ئې خاصه دنده لري او نشتوالی ئې هم ستا وجود او هم ستا ښايست ته تاوان رسوي، نو ته څنګه په ټول عالم د بېهوده حکم کوې؟ تا ته خو په کار وه چې سليمان عليه السلام ته دې داسي وينا منسوب کړې وی چې دا عالم موږ ته په جګ غږ وايي: دا هر څه يوه عليم او خبير ذات پيدا کړي، دلته هر څه سم پيدا شوي، دلته بېهوده شی نشته، هغه ذات چې دا عالم ئې پيدا کړی، د هغه ساتنه او پالنه کوي، په هر څه او ټولو برخو کي ئې د رب (پالونکي) په حيث تصرف کوي او د ربوبيت او پالنې او

روزني دا آثار او مظاهر هري خوا ته په هرگام کي تر سترگو کېږي، بې شکه چي دا ذات د ټولو ستاينو وړ دئ، له هر عيب منزه، د ده په اړه دا خبره کول چي بېهوده او عبث شيان ئې پيدا کړي لوی ظلم او ستر جهالت دئ، دا عالم او په هغه کي دا بې شمېره توکي موږ دغه حقيقت ته هدايت کوي او په دغه اعتراف مو مجبوروي، دا هري خوا ته تر سترگو کېدونکي ښکلا او ښايست، کمال او جمال، نظم او دقت او دا چي گورئ هر څه سم پيدا شوي، هر څه د خاص مقصد لپاره پيدا شوي، سمه پالنه او روزنه ئې کېږي، هر يو ئې په ډېر دقت او ظرافت سره، په ډېره غوره او ښايسته بڼه کي پيدا شوی، هر يو ئې د يوه مشخص هدف او ځانگړې غايې د تحقق لپاره په کار گمارل شوی، چي په منظم او پرله پسې توگه او په کامل انهماك سره په خپل خاص کار او د خپل ځانگړي مأموريت په ترسره کولو کي شپه ورځ لگيا دئ، په خپله او په خپل وجود سره ئې هم يوه تشه ډکه کړې او په هغه څه هم چي د ده په کار او هلو ځلو مرتب کېږي هم يوه تشه ډکوي او يوې اړتيا ته ځواب وايي. په ټول خور وور عالم کي، خوشې، بې هدفه، له اړتياوو زيات او له ضرورت کم څه نه شئ موندلی، هغه ذات چي دا بې انتهاء پراخ عالم ئې له ټولو دغو ښکلاوو او ښېگڼو او له دې ژور او دقيق نظم سره پيدا کړی، د عالم پالنه او روزنه ئې په واك کي ده، هره ذره ئې ساتي او پالي، رشد ورکوي، کمال ته ئې رسوي، د کمال په لوري د خوځېدو توفيق ورکوي او له مخکي ټاکلي نتيجې ورباندي مرتب کوي، بې له شکه چي دا ذات د ټولو ښېگڼو واجد او د ټولو ستاينو وړ دئ. د دې هستۍ هري خوا ته چي مخ واړوم، گورم چي هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلي ارتقاء او کمال آخری پوړي ته ورسولی شي، يو ضروري او لازم کار ورباندي ترسره شي، يو ضرورت ورباندي رفع کړی شي، يوه خلأ ورباندي ډکه کړی شي، بيا ئې زوال پيل شي، په زړښت او مرگ محکوم شي او ځای ئې بل نوي، ځواکمن او وده مونډونکي توکي ته خالي کړی شي، هرڅه ښه پيدا شوي او د واضح هدف او مقصد لپاره پيدا شوي، په پيدايښت کي ئې د (علم)، (حکمت) او (قدرت) څرگند آثار گورو. د دې مظاهرو تر شا ما ته د ربوبيت او پالني يو نامرئي او ناڅرگند لاس په نظر راځي، هماغه زما الله دئ او هماغه د دې هستي الله دئ. زه نه يوازي په دې عالم کي د روزني او پالني يو نامرئي لاس احساسوم، بلکي گورم چي د هرڅه پيدايښت، پالنه، روزنه او ساتنه په ډېر دقت سره ترسره کېږي. د دې عالم په هر جزء او د هرجزء په حرکت او خوځښت کي زه ښايست، ښکلا، کمال او هدفمني گورم. خوشې، بې مقصده، اضافي او غيرضروري شی په نظر نه راځي. زما هري خوا ته خواره شيان، هر يو بېل بېل هم او ټول په گډه هم، د خاص مقصد لپاره په کار لگيا دي، د ټولو ترمنځ د نظم، يووالي او ژور تنسيق شاهد يم. د دې عالم همدا ملموس او مشهود کيفيت، زما په ژبه د دې الفاظو د جاري کېدو لامل دئ چي: ټولي ستايني د عالمونو رب الله لره دي. موږ د دې خور عالم په پراخي غېږ کي داسي شی نه شو موندلی چي پيدايښت ئې بې مقصده او بې هدفه وي، داسي شی نه شو په گوته کولی چي ځای ئې خالي وي، د دې عالم هرڅه د الله په شته والي شهادت ورکوي، په الله له ايمان پرته نه د دې ستر او خور عالم عظمت او په ډېر دقت سره د هغه ساتنه او پالنه تعبيرولی شو او نه په دې عالم کي نظم، ښايست او هدفمني تفسيرولی شو.

كِتَـٰبٌ أَنزَلۡنَـٰهُ إِلَيۡكَ مُبَـٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَـٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَـٰبِ ﴿٢٩﴾

داسي مبارك كتاب چي موږ ستا لوري ته ليږلی تر څو د هغه په آيتونو كي تدبر وكړي او عقلمن ترې پند واخلي.

(٢٩)- په دې مبارك آيت كي له يوې خوا د قرآن دا ځانګړتياوي زموږ په وړاندي ځليږي: ١- له بركتونو ډك كتاب دئ، ٢- الله تعالی رالیږلی، ٣- آيتونه ئې له موږ د تدبر او غور غوښتنه كوي، ٤- عقلمن انسانان به پند ترې اخلي، له بلي خوا ښيي چي د سورې محوري موضوع د دغه قرآن معرفي او پيژندل دي.

ګورئ چي دا كتاب د عقلمنو لپاره راغلی، تر څو په هغه كي تدبر وكړي او پند ترې واخلي، عقلمن ئې په اهميت پوهيږي او پند ترې اخلي، د عقلمنو عقل تخنوي او تدبر ته ئې اړ كوي، متأسفانه د هغه بې عقله معتقد ئې په جامو كي ونغاړي، په تاخچه كي ئې كيږدي اوكله كله ئې د دې لپاره راكوز كړي چي قسم پرې ياد كړي او يا د رخصتولو په وخت كي د هغه له لاندي خپل زوی او ورور تېر كړي او ورته ووايي: دا قرآن دي حافظ او ناصر شه، دا قرآن دي وساته، خو دا آيتونه موږ ته وايي: دا كتاب د دې لپاره راغلی چي په هغه كي تدبر و كړې او د عقل خاوندان له هغه پند و اخلي، يعني د تفكر، تدبر او پند اخيستلو لپاره راغلی.

وَوَهَبۡنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيۡمَـٰنَۚ نِعۡمَ ٱلۡعَبۡدُۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾ إِذۡ عُرِضَ عَلَيۡهِ بِٱلۡعَشِيِّ
ٱلصَّـٰفِنَـٰتُ ٱلۡجِيَادُ ﴿٣١﴾ فَقَالَ إِنِّيٓ أَحۡبَبۡتُ حُبَّ ٱلۡخَيۡرِ عَن ذِكۡرِ رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتۡ
بِٱلۡحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوهَا عَلَيَّۖ فَطَفِقَ مَسۡحَۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلۡأَعۡنَاقِ ﴿٣٣﴾

او پر داؤد مو سليمان ولوراوو، غوره بنده، يقيناً چي هغه (خپل رب ته) ډېر ستنېدونكی وو، هغه مهال چي مازديګر تېز ځغاستي ښه آسونه ور وړاندي كړی شول، نو وئې ويل: د خپل رب د ذكر په سبب مي د آسونو مينه غوره كړې، تر څو چي (د دوړو) په حجاب كي پټ شول، (وئې ويل) بېرته ئې ما ته راوګرځوئ، نو (د دوی) پر پښو او غاړو ئې لاس راكاږو.

(٣٠-٣٣)- په دې مباركو آيتونو كي پر داؤد صلعم يوه الهي پېرزوينه او له جهاد او د جهاد له آسونو سره د سليمان صلعم مينه داسي انځور شوې:

- **پر داؤد مو سليمان ولوراوو، غوره بنده، يقيناً چي هغه خپل رب ته ډېر ستنېدونكی وو.**
- **د دې غوره والي او خپل رب ته د ستنېدو يوه څرګنده بېلګه دا ښودل شوې: هغه وخت درپه ياد كړه چي سليمان صلعم ته مازديګر مهال تېز ځغاستي ښه آسونه وروړاندي كړی شول، نو وئې ويل: د خپل رب د ذكر په سبب مي د آسونو مينه غوره كړې، تر هغه ئې دوی**

ته کتل چې لرې ولاړل او د خپلو دوړو په حجاب کې ترې پټ شول، نو وئې ویل: بېرته ئې ما ته راوګرځوئ، نو د دوی پر پښو او غاړو ئې لاس راکاږو. یعني هغه د الله تعالی غوره او نېك بنده وو، تل ئې خدای ته مخه وه، مجاهد وو او د الله تعالی لپاره ئې له ښو او ګړندیو آسونو سره مینه وه، د دوی د ځغاستې تماشا به ئې کوله، بیا بیا به ئې غوښتل چې د ده مخې ته تېر شي، د دوی په پښو او غاړو به ئې لاس راکاږو.

که څه هم د دې مبارکو آیتونو الفاظ ډېر واضح دي او هر څوك چې په شفاف ذهن او صفا زړه ورته وګوري نو همدا پورتنی مطلب به ترې اخلي، خو متأسفانه ځینو همدا څرګند آیتونه هم داسې غلط تعبیر کړي چې قبیح تحریف ته ورته دئ!! وایي: دلته د (توارت بالحجاب) معنی دا ده چې لمر په حجاب کې پټ شو، د (رُدُّوهَا عَلَیَّ) معنی دا ده چې لمر بېرته پر ما راوګرځوئ او د (فَطَفِقَ مَسحَا بِالسوقِ وَ الأَعْنَاقِ) معنی دا ده چې د آسونو پښې او غاړې ئې پرې کړې او د (إني احببت حب الخير عن ذكر ربي) معنی دا ده چې ما پر ذکر او لمانځه آسونو ته ترجیح ورکړه نو ځکه ئې غاړې او پښې ورقطع کوم!!! ډېره ډېره عجیبه او د حیرانتیا وړ ده!!

ما ته ووایئ: آیا ډېره عجیبه نه ده چې څوك په دې آیت کې (توارت بالحجاب) د لمر لوېدل ګڼي او (رُدُّوهَا عَلَیَّ) د لمر بېرته راګرځول!! او (فَطَفِقَ مَسحَا بِالسوقِ وَ الأَعْنَاقِ) د آسونو پښې او غاړې قطع کول؟!! په داسې حال کې چې دلته نه په خپله آیت کې او نه له هغه مخکې یا وروسته د لمر هیڅ ذکر نه دئ شوی او هر عادي انسان هم پوهېږي چې دا د (صافنات الجیاد) په اړه دي، همدا آسونه له سترګو پټ شوي، د دوی د بېرته راګرځولو امر ئې کړی او د دوی په غاړو او پونډیو ئې لاس راکش کړی، نه پوهېږو چا دوی ته ویلي چې سلیمان صلعم د مازدیګر لمونځ قضاء کړی؟ چا ورته ویلي چې پر سلیمان صلعم باندې د مازدیګر لمونځ داسې فرض وو لکه پر موږ؟ چا ورته ویلي چې د لمانځه د قضاء کېدو له کبله د آسونو پونډۍ او غاړې په توري وهل جائز دي او د سلیمان صلعم په څېر ستر مجاهد شخصیت داسې غلطي کړې؟!! آیا هغه رأیه، تعبیر، تفسیر او روایت د منلو وړ دئ چې د قرآن د دغه صریح آیت داسې غلط تفسیر او تعبیر په کې راغلی وي؟ متأسفانه د ځینو پر زړونو او ذهنونو جعلي او ضعیفو روایاتو خپل تور وزر داسې غوړولی چې نه د قرآن وینا ته د پام کولو فرصت ورکوي او نه د خپل عقل او ضمیر غږ اورېدو مجال، زه د تفسیر له یوه مبتدي لوستونکي پوښتنه کوم: آیا کله چې په لومړي ځل او د دغو مفسرینو د رأیې له اورېدو وړاندې تا دا آیتونه لوستلي؛ انتباه دې څه وه؟ آیا د زړه او ذهن په کومې ګوښې کې دې دا ګرځېدلي چې د دغو آیتونو تعبیر به هغسې وي لکه چې دا جنابان ئې ادعاء کوي؟!! آیا ستا عقل دا مني چې د الله تعالی یو ستر پیغمبر او صالح او متقي بنده او د جهاد مینه وال به داسې د عقل او عدل خلاف کار وکړي او د آسونو پونډۍ او غاړې به قطع کړي؟ پوهېږې چې د دې آفت جرړې چېرې دي؟ دا مصیبت له کومه راټوکېدلی چې ځیني د قرآن څرګند آیتونه داسې تعبیروي چې هم په خپله د قرآن له آیتونو سره جدي تعارض لري او هم له انساني عقل او فطرت سره؟!! آفت دا دئ چې ځیني په دې بیمارۍ اخته شوي چې روایت ته هم د قرآن پر آیت ترجیح ورکوي او هم پر عقل او درایت، په روایت کې هم یوازې سند ته ګوري نه د

روايت متن او محتوى ته، روايت ته د وروستي معيار په سترګه ګوري، كه څه هم له قرآن سره تعارض ولري!! حال دا چي د يوه مؤمن انسان لپاره د الله تعالى كتاب وروستى معيار او ملاك دئ، يوازي هغه روايت مني چي په قرآن كي كوم شاهد ورته ومومي او يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري. راشئ وګورو چي په دې اړه په رواياتو كه څه راغلي او دا روايات د سند او محتوى له پلوه څومره د اعتبار او اعتناء وړ دي.

عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّمْسَ لَمْ تُحْبَسْ لِبَشَرٍ إِلَّا لِيُوشَعَ لَيَالِيَ سَارَ إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ. مسند أحمد

له ابو هريره ﷺ روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل: لمر له يوشع پرته هيڅ انسان ته نه دئ ودرول شوى، څو شپې چي د بيت المقدس په لوري ولاړ.

دا روايت د سند له پلوه داسي دئ چي په څلورو طبقو (صحابه وو، تابعينو، تبع تابعينو او تبع تبع تابعينو) كي يو يو راوي لري، يعني د محدثينو په اصطلاح تر اغرب (ډېر غريب) هم اوښتى، پنځم راوي ئې هم يو كس په نامه د اسود بن عامر دئ، د متن له پلوه داسي دئ چي:

١- له قرآن او عقل سره هيڅ اړخ نه لګوي، ٢- په قرآن كي هيڅ شاهد ورته نه مومو، ٣- د بايبل له يوې داسي برخي اخيستل شوى برېښي چي وينا ئې سل په سلو كي غلطه ده. ٥- كه پيغمبر عليه السلام دا خبره كړې وى نو حتماً به ډېرو صحابه وو اورېدلې وه، ډېرو نورو به هم ويلي وو چي موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خبره واورېده. ٦- د لمر د درېدو په څېر يوه عجيبه او نادره خبره خو حتماً بايد ډېرو يوه بل ته كړې وى، ولي له ابوهريرة رضي الله عنه پرته بل چا دا خبره نه ده كړې؟

د دې روايت په اړه غالب ګمان دا دئ چي يا خو په بشپړه توګه موضوعي دئ او يا ابوهريرة رضي الله عنه د پيغمبر عليه السلام دا خبره كړې چي إن الشمس لم تحبس لبشر: لمر د هيڅ انسان لپاره نه دئ ودرول شوى، وروسته ئې د اهل كتابو دا خبره كړې چي هغوى وايي يوازي د يوشع لپاره ودرول شوى، اورېدونكي دا ګمان كړى چي دا هم د پيغمبر عليه السلام د قول ضميمه ده!!

راشئ په دې اړه د بايبل ادعاء هم واورو او په حقيقت ئې ځان پوه كړو، بايبل تر دې سرليك (لمر له حركته ودرېږي) لاندي ليكي:

(د اورشليم پاچا ادوني صَدَق د عاى او اريحا د سقوط او د دوى د پاچايانو له وژل كېدو خبر شو... دى او خلك ئې ډېر ووېرېدل... نو د شا و خوا پاچايانو ته ئې احوال ولېږو چي زما مرسته وكړئ چي جبعون ونيسم... ځكه چي خلكو ئې له اسرائيليانو سره روغه جوړه كړې... پنځو پاچايانو د ده مرسته وكړه...د جبعون مشران يوشع ته ورغلل او له ده ئې وغوښتل چي د دښمن په مقابل كي ئې مرسته وكړي... يوشع خپل فوځ هغې سيمې ته وخوځاوو... په شپه كي ئې ځان دښمن ته ورساوو... دښمن وارخطا شو... اسرائيليانو د دوى ډېر كسان ووژل... او نور ئې پسې واخيستل...كله چي دښمن د بيت حورون ځوړ ته ورسېدو خداى له آسمانه درنه ږلى پرې وورولې... دومره خلك دلته ووژل شول چي د اسرائيليانو په لاس تر وژل شوو ئې شمېر زيات وو...په همدې مهال يوشع خداى ته دعاء وكړه او وئې ويل: اې لمره! د جبعون پر سر او اې سپوږمۍ د ايلون پر سر له خوځېدو ودرېږه!!... لمر سپوږمۍ له حركته

ودرېدل تر څو اسرائيليان دښمن تباه کړي!! نو لمر ټوله ورځ د آسمان په نيمايي کې ولاړ وو... د دې پېښې نظير نه مخکې ليدل شوی او نه به وروسته وليدل شي!!... پنځه پاچايان په يوه غار کې پټ شول... يوشع خبر شو، امر ئې وکړ چې د غار خوله په لويې ډبرې بنده کړئ او څو ساتونکي پرې وګمارئ.... تاسو دښمن تعقيب کړئ... له لړ کسانو پرته ټول ئې ووژل... بيا ئې دا پاچايان له غاره راوايستل... يوشع ټول اسرائيليان راغونډ کړل... بيا ئې د قوم مشرانو ته وويل: د دغو پاچايانو پر څټ پښه کېږدئ او پرې تېر شئ... بيا ئې په خپلې توري ټول ووژل... او بيا ئې تر مازديګره پر دار ځوړند پرېښودل... او بيا ئې په هماغه غار کې کېښودل او خوله ئې وربنده کړه... او دا غار تراوسه هماغسې پاته دئ!!

د دې وينا څو برخو ته لږ ځير شئ:

- په ړلی دومره خلك ووژل شول چې په جنګ کې نه وو وژل شوي!! بايبل نه دي ليکلي چې په دې ړلی کې له اسرائيليانو څومره کسان ووژل شول، دوی خو ورنږدې او ورپسې ول، که ئې ليکلي وی چې ړلی به يوازې پر دښمن راپرېوته او اسرائيليان به ترې خوندي وو نو د بايبل منونکو ته به ئې قصه لا ډېره خونده وره او حيرانونکې وه!!
- يوشع لمر او سپوږمۍ ته وويل چې پر ځای پر ځای ودرېږئ او همداسې وشول او دا کار نه تر دې د مخه شوی او نه به وروسته وشي!! بايبل خپله دا خبره څو صفحې وروسته بېرته اخلي او د يوه بل نبي اليشع په اړه ليکي چې هغه هم د پاچا لپاره نه يوازې لمر ودرولو بلکې لس ساعته ئې شا ته بوت!! پوښتنه کوو چې د بايبل کومه خبره رښتيا ده؟ حقيقت دا دئ چې په دې دواړو کې ئې يوه هم رښتيا نه ده، نه په دې ورځ لمر ودريدلی نه تر دې د مخه او نه تر دې وروسته!! خدای د لمر او سپوږمۍ واګې چا ته نه سپارې او د داسې وړو خبرو لپاره د ستر عالم په نظم کې تبديلي نه راولي، د بايبل ليکونکی په دې نه پوهېږي چې که لمر او سپوږمۍ يوه ثانيه توقف وکړي نو د عالم ټول موجود نظم متلاشي کېږي!! د بايبل ليکونکی دې ته هم نه دئ متوجه چې سپوږمۍ په تکنده غرمه کې په آسمان کې څه کول او ودرېدلو ئې اسرائيليانو ته څه ګټه رسوله؟!!
- دا پاچايان څنګه ټول په يوه غار کې يوازې راغونډ شوي وو، نه ورسره خپل فوځ وو او نه ساتونکي!! او څنګه ئې په ړېو ړېو سترګو د يوشع جنګياليو ته کتل چې د غار خوله بندوي!! آيا له بايبل پرته بل چا او د تاريخ کوم بل کتاب هم دا خبره کړې؟ کوم بې عقله انسان به دا خبره ومني چې د پنځو ملکونو پاچايان له خپلو لښکرو لرې په يوه غره کې راغونډ او په يوه غار کې پټ شي، پاچايان خو اکثراً په جنګونو کې له برخې اخيستلو ډډه کوي، که برخه اخلي نو د فوځ تر شا په داسې خوندي ځای کې ولاړ او د جنګ تماشا کوي چې د ماتې په صورت کې په آسانۍ ځان وباسي!!
- څنګه ومنو چې يوشع عليه السلام به له اسيرانو سره داسې له مروت او مېراني لرې سلوك کړی وي؟!!

راشئ د لمر ودرېدو په اړه د بايبل بله خندوونکې قصه هم له نظره تېره کړو، بايبل تر دې عنوان (دوهم پاچايان) لاندې د څو پاچايانو شجرې او د دوی جنګونه بيانوي او په ضمن کې ئې د اشعيا نبي يادونه کوي او ليکي: په دې ورځو کې حزقيا پاچا بيمار وو، اشعيا نبي

عيادت ته ورغی او د خدای له لوري ئې دا پيغام وروور: وصيت دي وکړه، عمر دي پای ته رسېدلی او له بيماری څخه نه روغېږې! حزقيا خپل مخ دېوال ته واړاوو او دا دعاء ئې وکړه: خدايه! څومره ستا لپاره وفادار او امين وم او څنګه مې هغه څه کړې چې ستا له خوښې سره سم عمل وکړم! ستونی ئې ونښت او ډېر ئې وژړل، مخکې له دې چې اشعيا له قصره ووځي خدای يو ځل بيا ورسره خبري وکړې او وئې فرمايل: حزقيا ته ورستون شه او ورته ووايه: ستا خدای، ستا د جد داؤد خدای، ستا دعاء واورېده، ستا اوښکې ئې ولېدې، هغه به شفا درکړي، درې ورځې وروسته به له بستره پاڅې... او پنځلس کاله به ستا عمر دراوږد کړي!! بيا اشعيا نبي وويل: لږ انځر درواخلئ، وئې ټکوئ او د پاچا په دانو ئې کېږدئ، همداسې ئې وکړل او هغه روغ شو!! خو حزقيا اشعيا ته وويل: يوه نښه راته وښيه چې ډاډه شم خدای روغتيا راکوي! هغه ورته وويل: دې ساعت ته چې د سيوري له مخې وخت ټاکي وګوره، آيا غواړې سيوری ئې لس درجې مخکې ولاړ شي که وروسته؟ (يعني لمر مخکې ولاړ شي که وروسته)، حزقيا ورته وويل: غوره به دا وي چې سيوری وروسته راشي، اشعيا له خدايه وغوښتل چې سيوری شا ته کړي او همداسې وشول!!

بايبل له دې د مخه د اليشع په اړه ليکلي وو چې لمر او سپوږمی د ده لپاره ودرېدل او دا کار نه تر دې د مخه شوی او نه به وروسته وشي، خو څېله هغه خبره ئې هېره کړې او دلته ئې ويلي چې لمر د اشعيا په امر لس ساعته شا ته ولاړ!!

د بايبل د دې خبري معنی دا ده چې د خدای پرېکړې د انسانانو په څېر بدلېږي رابدلېږي، حتی پرېکنده او قاطع پرېکړې ئې هم، پاچا ته ئې پيغام ولېږو چې مرې، خو څو شېبې وروسته ئې بل پيغام ولېږو او ورته وئې ويل: نه يوازې دا چې روغ به شې بلکې پنځلس کاله نور هم ستا عمر زياتوم!! او د ده د انديښنې ختمولو لپاره ئې لس ساعته لمر شا ته بوت، که د مازديګر څلور بجې وې نو د سهار شپږ بجې ئې کړې!!! نو حزقيا ډاډه شو!!

د بايبل ليکوال په دې نه پوهېږي چې د الله تعالی پرېکړې قاطع او نه بدلېدونکې دي او سنن ئې تغيير نه منونکې، نه اجل مخکې وروسته کېږي او نه لمر او سپوږمی!! بايبل خدای په داسې انسان قياس کړی چې هره شېبه ئې افکار او عزائم بدلېږي، په دې نه پوهېږي چې په انسان کې دا عيب د کم علمی په وجه دئ، دا شېبه يو کار ښه ورته معلوم شي او د هغې له مخې پرېکړه وکړي، خو څو شېبې وروسته يا په خپلې غلطی پوه شي، يا تر مخکنی پرېکړې غوره په نظر ورشي نو ځکه خپل تصميم بدل کړي او له مخکنی پرېکړې په شا شي، دا يو نقص دئ، دا د علم د کم والي او د هوډ او عزم د سست والي نښه ده، الله تعالی له دې نقص او عيب مبراء دئ، هغه خدای خدای نه دئ چې علم ئې ناقص وي او پرېکړې ئې بدلېږي رابدلېږي، قرآن په دې هکله فرمايي:

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي ضَرّٗا وَلَا نَفۡعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَلَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ 

يونس: ٤٩

ووايه: خپل ځان ته نه د ضرر (دفع کولو) واك لرم او نه د ګټې (رسولو واك)، پرته له هغه

څه چې الله غوښتې، د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، کله چې د دوی اجل راورسيږي نه يوه شېبه وروسته کيږي او نه مخکې کيږي.

ګورئ چې قرآن پيغمبر عليه السلام ته وايي: په خپله خوله خلکو ته ووايه چې د تاوان او ګټې پرېکړه زما په واك کې نه ده، نېټې نه شم بدلولی، د ګټې او تاوان پرېکړه الله تعالی کوي او د هر چا نه بدلېدونکی اجل هغه ټاکلی!!

دا مطلب په قرآن کې څو ځله تکرار شوی او دا د دې لپاره چې د بايبل د ليکونکي په څېر د هغو ټګمارانو مخه ونيسي چې خلکو ته وايي: راشئ په يوه دم او دعاء سره ستاسو تقدير بدلولی شو، مرګ مو ځنډولی شو، عمر مو زياتولی شو، تاوانونه دفع کولی شو، مرادونو ته د رسېدلو لارې درته پرانيستلی شو!!

قرآن همدا راز فرمايي: الهي سنن ثابت او نه بدلېدونکي دي، هيڅوك نه شي کولی د الله تعالی هغه ثابت سنن بدل کړي چې په دې عالم کې ئې وضع کړي او هر څه د هغوی مطابق تر سره کيږي:

سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلاً ﴿٦٢﴾

الاحزاب: ٦٢

دا د الله هغه سنت دئ چې په مخکنيو کې تېر شوی او هيڅکله به د الله د سننو لپاره تغيير او تبديلي ونه مومې.

...فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلۡأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلاً ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلاً ﴿٤٣﴾

فاطر: ٤٣

آيا دوی د مخکنيو له سنت پرته بل څه ته انتظار لري؟ په داسې حال کې چې هيڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تبديلي ونه مومې او هېڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ بدلون ونه مومې.

د بايبل ليکونکی په دې نه پوهيږي چې الله تعالی د دې عالم نظم هومره دقيق جوړ کړی او هر څه ئې په خپل خپل ځای کې داسې مناسب پيدا کړي چې که په دې نظم کې معمولي تبديلي راشي هر څه ئې يو له بل سره تصادم کوي، که لمر لس ساعته په شا کېدل خو پرېږده که لس ثانيې په خپل ځای ودريږي دا عالم له منځه ځي!! قرآن په دې اړه فرمايي:

وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّ ..

المؤمنون: ٧١

که حق د دوی د هوس تابع شي، نو آسمانونه او زمکه او هر هغه څه چې په دوی کې دي، تباه کيږي، ...

يعني که د عالم دا حقيقي نظام د انسان د هوس تابع کړی شي او ده ته د خپل هوس مطابق د تصرف موقع ورکړی شي، د دې عالم هر څه له تباهئ سره مخامخ کيږي. د دې عالم نظم داسې وګڼئ لکه په يوه ډېر ستر هوائي ميدان کې چې هره شېبه ګڼ شمېر جهازونه تری

الوزي او په کي کښېني او دا ټول د يوه حساس کمپيوټر په واسطه اداره کېږي، که د دې کمپيوټر سر انجنير خپل نازولی ماشوم زوی له ځان سره د کمپيوټر خونې ته بوځي او اجازه ورکړي چي د کمپيوټر په هري بټنې چي زړه ئې غواړي ګوته کېږدي، د دې پايله به څه وي؟!! همدا راز که د دې عالم په نظم او اداره کي د انسان هوس دخالت وکړي، د تودوخي کم والی زياتوالی، د ورځي او شپې اوږدوالی او لنډ والی، د لمر او سپوږمۍ د راختو او لوېدو اوقات د ده د خوښې مطابق بدل رابدل شي، دا عالم تباه کېږي!!

دا وضاحت هم ضروري دئ چي دغو اسرائيلي رواياتو پر مسلمانانو هم خپل اغېز کړی، په مسلمانانو کي هم داسي روايات خواره شوي چي ځيني ئې وايي: پيغمبر عليه السلام ته لمر ودرېدو، سليمان عليه السلام ته لمر په شا راغی، علي رضي الله عنه ته لمر ودرېدو او يو روايت هم هغه دئ چي ابوهريرة رضي الله عنه ته منسوب شوی چي وايي: پيغمبر عليه السلام وفرمايل: إن الشمس لم تحبس لبشر إلا ليوشع ... لمر له يوشع پرته هيچا ته نه دئ ودرېدلی... د دې رواياتو په اړه څو خبرو ته پام په کار دئ:

- ځيني محدثين د دې وروستي روايت اسناد صحيح ګڼي، خو نور ئې ضعيف او حتی موضوعي ګڼي.
- دا روايت ټول هغه روايات ردوي چي د بل چا لپاره د لمر د ودرېدو خبره په کي راغلې، يوازي يوشع ته د لمر د ودرېدو معنی دا ده چي دا نور روايات چي وايي د سليمان عليه السلام، پيغمبر عليه السلام، علي رضي الله عنه... لپاره لمر ودرېدلی حقيقت نه لري، ډېره عجيبه ده چي څوك دا حديث هم مني او نور روايات هم!! زه هغه چا ته حيران يم چي د قرآن دا صريح او واضح آيت د دغو اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندي غلط تفسيروي.

وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَـٰنَ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِۦ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى
وَهَبْ لِى مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِى لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ
ٱلرِّيحَ تَجْرِى بِأَمْرِهِۦ رُخَآءً حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَٱلشَّيَـٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾
وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴿٣٨﴾ هَـٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ
﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴿٤٠﴾

او يقيناً چي سليمان مو وآزمويو او د ده پر کرسۍ مو يوه (هسي) جثه واچوله، بيا ئې انابت وکړ، وئې ويل: اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، داسي پاچايي راپه برخه کړه چي له ما وروسته له هيچا سره نه ښايي، بې شکه چي ته ډېر لوروونکی يې، نو هغه باد مو ورته مسخر کړ چي د ده په امر به آرام آرام هغه لوري ته خوځېدو چي ده غوښتو او

هغه پېریان چي ماڼۍ جوړوونکي او غوټه وهونکي وو او نور ئې تړلي په زنځيرونو کي، دا زموږ پېرزوينه ده، نو احسان کوه يا لاس راتموه؛ له (کوم) حساب پرته، او يقيناً چي ده ته زموږ په خوا کي تقرب او نېږدېوالی دئ او غوره پایله.

(۳٤-٤٠)- په دې مبارکو آيتونو کي د سليمان **صلعم** په اړه ويل شوي:

- سليمان **صلعم** له يوې الهي آزموينې سره مخامخ شو، د دې آزموينې له کبله ئې پر کرسۍ يو کالبوت واچول شو، د دې الهي آزموينې له کبله ئې خپل رب ته انابت وکړ او وئې ويل: اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، داسي پاچايي راپه برخه کړه چي له ما وروسته له هيچا سره نه ښايي، بې شکه چي ته ډېر لورووونکی يې، د ده دعاء قبوله شوه او له کبله ئې الله تعالی هغه ته داسي باد مسخر کړ چي د ده په امر به آرام آرام هغه لوري ته خوځېدو چي ده غوښتو او هغه پېريان ئې ورته مسخر کړل چي ماڼۍ به ئې ورته جوړولې او په سمندر کي به ئې غوټې وهلې، ځينې نور ئې د خپلو سرکشيو له کبله په زنځيرونو تړل شوي، دا د الله تعالی پېرزوينې وې چي د ده په برخه شوې وې، ده ته لارښوونه شوې وه چي د الله تعالی د دغو پېرزوينو په بدل کي له هغو سره احسان کوه چي د احسان وړ وي او د هغو په اړه له ورکړې او احسان لاس راتموه چي د احسان او ښېگڼې وړ نه وي؛ دا يو الهي احسان وو چي له کومې محاسبې پرته ئې پر سليمان **صلعم** لورولی وو، د الله تعالی په وړاندي ئې نږدېوالی او غوره پايله په برخه وه.
- د آيت له الفاظو معلومېږي چي سليمان **صلعم** لومړی له يوې الهي آزموينې سره مخامخ شوی، د دغې آزموينې له کبله داسي زوی ورپه برخه شوی چي هسې تش کالبوت او له اوچتو انساني ارزښتونو خالي جسد وو، پر (کرسۍ) د يوه (کالبوت) د اچولو معنی همدا کېدی شي نه بل څه، خپلي اشتباه ته متوجه شوی او خپل رب ته ئې انابت او رجوع کړې، له دې وروسته ئې ويلي چي ما ته داسي پاچايي راپه برخه کړه چي له ما وروسته له هيچا سره نه ښايي!! يعني دا پاچايي ئې په خپل نااهل زوی نه لورېده، په يوه آيت کي او يوه په بلي پسې د دې دواړو خبرو ذکر همدا مطلب په گوته کوي. بايبل هم د ده زوی د رحبعام په نامه يادوي او همداسي نااهل ئې گڼي. خو دا چي د کومې اشتباه بخښنه ئې له الله تعالی غوښتې او ولي دلته د هغې يادونه شوې، د آيت له فحوی داسي معلومېږي چي سليمان **صلعم** د يوه زوی هيله کړې په دې موخه چي د ده وارث شي او پاچايي ئې له ده وروسته هغه ته انتقال شي، که څه هم د زوی او وارث هيله کول کومه گناه نه ده خو د الهي معيارونو له مخي دا صحيح هيله او هوډ نه دئ چي څوک زعامت او مشري ميراثي کړي او دا وغواړي چي اقتدار د ده اولاد ته په ميراث ورسېږي، او د همدې لپاره د زوی طمع کول هغه څه دي چي الله تعالی ئې نه خوښوي او له ديني اصولو سره اړخ نه لگوي، د الهي دين لارښوونه دا ده چي زعامت او امامت به صالح او اهل ته سپارل کېږي، سليمان **صلعم** د اقتدار په لومړيو کي زوی نه درلود، له خپل مجاهد پلار داؤد **صلعم** لوی خلافت ورته پاته شوی وو، د دې خلافت اهل او وړ وو، په مخکنيو آيتونو کي مو ولیدل چي د ده په اړه ويل شوي: (او پر داؤد مو سليمان ولوراوو، غوره بنده، يقيناً چي هغه (خپل رب ته) ډېر ستنېدونکی وو، هغه مهال چي مازديگر

تېز ځغاستي ښه آسونه ور وړاندي کړی شول، نو وئي ويل: د خپل رب د ذکر په سبب مي د آسونو مينه غوره کړې)، له دې وينا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دی د خپل پلار صالح او اهل وارث او مجاهد پيغمبر وو، د خپل ځای ناستي په اړه ئې يو له دغو بديلونو انتخابولی شو: ۱- د زوی هيله وکړي او بيا هغه خپل ځای ناستی وټاکي، ۲- له خپلو مجاهدو او صالحو يارانو يو کس ځای ناستی وټاکي، ۳- د هيچا په اړه سپارښتنه ونه کړي او د ځای ناستي ټاکل خپل امت او يارانو ته پرېږدي، د دغو آيتونو له فحوی معلومېږي چي هغه په سر کي د زوی درلودو هيله کړې او د ځای ناستي په توگه ئې د هغه د ټاکلو پرېکړه کړې، الله تعالی د ده پر دې هيلي او پرېکړي نه دئ راضي شوی، د ده د انتظار او زعم خلاف داسي زوی ورپه برخه شو چي هسي يو کالبوت او ډېر نااهل او بې کفايت وو، خو کله چي د خپل زوی بې کفايتی او نااهلی ته متوجه شوی نه يوازي له دې هوډ په شا شوی بلکي خپله مخکنی پرېکړه ئې اشتباه گڼلې او له الله تعالی ئې د هغې بخښنه غوښتې، او دا پرېکړه ئې کړې چي د ځای ناستي له ټاکلو به ډډه کوي، اسرائيلي روايت هم وايي چي سليمان **صلعم** په داسي حال کي وفات شو چي هيڅوك ئې د ځای ناستي په توگه نه وو ټاکلی.

- قرآن موږ ته وايي چي الله تعالی د ابراهيم **صلعم** دا دعاء قبوله نه کړه چي زما اولاد هم امامان کړه! په ځواب کي ئې ورته فرمايلي وو: لا ينال عهدي الظالمين: ظالمان زما په ژمني کي شامل نه دي، يعني ستا هغه زامن زما د عهد مشمول نه دي او هغوی ته د امامت سپارلو ژمنه نه کوم چي ظالمان وي. کله چي سليمان **صلعم** د خپل زوی نااهلي ته متوجه شوی نو الله تعالی ته ئې رجوع کړې، له خپلي مخکنی رأيي په شا شوی او د خپلي اشتباه بخښنه ئې غوښتې ده او ويلي ئې دي: ما ته داسي پاچايي راپه برخه کړه چي له ما وروسته له هيچا سره نه ښايي!! دا پاچايي ئې په خپل نااهل زوی نه ده لوربدلې، الله تعالی د ده دا له معنويت ډك دريځ خوښ کړی او په بدل کي ئې ستره پاچايي ورکړه.
- د دغې رجوع او استغفار له کبله بادونه ورته مسخر شوي وو، يعني بادي کښتی تر ټولو وړاندي د ده له لوري جوړي شوې.
- الله تعالی پېريان ورته مسخر کړل چي بنائي کارونه ئې پرې کول او له سيندونو ئې مرجان او مرغلري پرې راايستلې.
- د الله تعالی په خوا کي ئې لوړ مقام وو او د غوره پايلي خاوند.

د دې آيتونو مطالب هم هغو خلکو ته ډېر واضح او له ابهام لري دي چي په صفا زړه او شفاف ذهن ورته ځير کېږي، خو متأسفانه له دې هم قصه خوښو داسي څه جوړ کړي چي د سالم فطرت خاوند ورته حيرانېږي.

ځيني وايي: له سليمان **صلعم** دا غلطي شوې وه چي په قصر کي ئې يوې مېرمني تر څلوېښتو ورځو بُت لمانځلو او دی ترې خبر نه وو، يا دا چي څو ورځي په خپل کور کي ناست وو او د هيڅ مظلوم چيغه ئې نه اورېدله، چي له کبله ئې دا سزا ورکړی شوه چي هغه گوتی شيطان ترې غلا کړه چي له کبله ئې دا ستره پاچايي د ده په برخه شوې وه او شيطانان ورته تابع ول، تر څلوېښتو ورځو له پاچايي محروم شو او پر کرسی ئې شيطان کښېناست، گواکي د ده پر کرسی د جسد اچولو معنی همدا ده!!! ځيني په خپلو خرافاتو کي دومره وړاندي تللي چي

ويلي ئې دي: په دې موده کې حتی د سليمان صلعم حرم او مېرمني هم د شيطان له تېري خوندي نه وې ځکه هغه د سليمان صلعم په بڼې او شکل کې څرګند شوی او پر کرسی ئې ناست وو!! او ګواکې څلوېښت ورځې وروسته د دربار ځيني مشران په شك کې پرېوتل او د شيطان په وړاندې ئې تورات پرانيستلو چې له کبله ئې هغه وتښتېدو او هغه سليماني ګوتې ئې سمندر ته واچوله او بېرته په دې توګه سليمان صلعم ته په لاس ورغله چې د يوه کب نس ئې د پاکولو او پخولو لپاره څيرې کړ او ناڅاپي ئې خپله ورکه شوې ګوتې په کې وموندله او په همدې سره ئې ټللي پاچايي بېرته راستنه شوه او تښتېدلي پېريان بېرته ورته تسليم شول!!!
دا خندوونکي قصه له سر تر پای غلطه او له خرافاتو ډکه ده او هغو خلکو په مسلمانانو کې خوره کړې چې د تلمود په څېر د يهودو له کتابونو ئې اخيستې ده. نه د سليمان صلعم ستره پاچايي د يوې جادويي ګوتې له کبله وه، نه شيطان له چا څه تښتولی شي، نه شيطان د انسان او پيغمبر په بڼې کې څرګندېدی شي، د قرآن وينا په دې اړه ډېره صريح ده چې د سليمان صلعم ستره پاچايي د ده او د ده د مجاهد پلار د جهادونو نتيجه وه نه د جادويي ګوتې، دا ادعاء د قرآن له دغو آيتونو سره په بشپړه توګه تعارض لري ځکه دا آيتونه وايي چې سليمان صلعم ته پېريان له يوې ابتلاء او فتنې وروسته او له بخښني غوښتلو او د ده له يوې دعاء وروسته مسخر کړی شول، حال دا چې دا خرافي قصه ادعاء کوي چې پېريان تر دې وړاندې ده ته د يوې ګوتې په طفيل مسخر ول!!
بله ډله وايي چې الله تعالی سليمان صلعم ته له شلو کلونو وروسته زوی ورکړ، پېريان وويرېدل چې که دا زوی ئې ستر شي او د ده ځای ناستی شي نو دوی به د سليمان صلعم له وفات وروسته هم تر اوږدې مودې په اسارت او محکوميت کې پاتې شي، نو پرېکړه ئې وکړه چې هغه ووژني، سليمان صلعم پرې خبر شو، نو خپل زوی ئې په وريځو کې پټ کړ چې هم د دوی له شر خوندي وي او هم ئې همله پالنه وشي، ګواکې همدا هغه فتنه وه چې ورسره مخامخ شوی وو، پر الله تعالی ئې د توکل پر ځای پر وريځو توکل وکړ!! چې په سزا کې ئې همدا زوی مړ شو او جسد ئې د ده پر کرسی راپرېوت!! د دې مسخره قصې د ترديد لپاره دا کافي ده چې ووايو: باد تر دغې فتنې وړاندې نه بلکې تر دې وروسته سليمان صلعم ته مسخر شوی، او د مسخر کېدو معنی ئې دا نه ده چې د ده زوی به د وريځو پر سر ورته ساتي بلکې معنی ئې دا ده چې بادې کشتۍ ئې جوړې کړې.
بله ډله ئې وايي: سليمان صلعم يوه ورځ لوړه وکړه چې نن شپه به له خپلو سلو مېرمنو سره مجامعت کوم چې له هرې يوې د الله د لارې يو مجاهد پيدا شي، خو إن شاء الله ئې ونه ويل، نو ځکه يوازې يوه مېرمن ئې حامله شوه او له هغې هم يو معيوب او ناقص الخلقة زوی پيدا شو او قابلې راوړ او د ده پر کرسی ئې واچاوو!! دوی په دې اړه پر يوه روايت هم استناد کوي چې ابوهريرة ﷺ ته منسوب شوی، ښه به وي چې لومړی دغه روايت له نظره تېر کړو، روايت دا دئ:
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ قَالَ « قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ - عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ - لأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ

عَلَى مِائَةِ امْرَأَةٍ - أَوْ تِسْعٍ وَتِسْعِينَ - كُلُّهُنَّ يَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ . فَلَمْ يَقُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ . فَلَمْ يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلاَّ امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ ، جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ ، وَالَّذِى نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ، لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ ، لَجَاهَدُوا فِى سَبِيلِ اللَّهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ » . رواه البخاري.
له ابو هريره ﷺ روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل: سليمان د داؤد زوى عليهما السلام وويل: حتماً به نن شپه په خپلو سلو يا نه نوي مېرمنو راگرځم، هره يوه به يو شهسوار زېږوي چي د الله په لار كي به جهاد كوي، نو ملگري ئې ورته وويل: إن شاء الله ووايه، خو ده إن شاء الله ونه ويل، نو له دوى ټولو يوازې يوه مېرمن حامله شوه چي ناقص الخلقه او نيمگړى زوى ئې وزېږولو، قسم په هغه ذات چي زما ژوند د ده په واك كي دئ چي كه إن شاء الله ئې ويلي وى نو ټولو به د الله په لار كي د شهسوارو په توگه جهاد كړى وو.

دا روايت په بخاري كي شپږ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ٢٨١٩، ٣٤٢٤ ، ٥٢٤٢ ، ٦٦٣٩ ، ٦٧٢٠ ، ٧٤٦٩، د سند له پلوه غريب دئ او په صحابه وو كي يوازې يو راوي لري چي ابوهريره ﷺ دئ او له بل هيڅ صحابي نه دئ روايت شوى. د متن له پلوه داسي دي چي تر منځ ئې جدي توپيرونه شته، په يوه كي لأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى سَبْعِينَ امْرَأَةً راغلي، په بل كي لأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ بِمِائَةِ امْرَأَةٍ أَوْ تِسْعٍ وَتِسْعِينَ، په بل كي لأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِينَ امْرَأَةً او په بل كي كَانَ لَهُ سِتُّونَ امْرَأَةً فَقَالَ لأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى نِسَائِى، په يوه كي فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ راغلي په بل كي فَقَالَ لَهُ الْمَلَكُ قُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ او په بل كي فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ - قَالَ سُفْيَانُ يَعْنِى الْمَلَكَ - قُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ.. په يوه كي ويل شوي چي إِنْ شَاءَ اللَّهُ ئې ونه ويل او په بل كي ويل شوي چي ترې هېر شو...

لكه چي گورئ ځيني ئې وايي چي د سليمان صلعم د مېرمنو شمېر شپېته وو، ځيني ئې اويا، ځيني ئې نوي، ځيني ئې نه نوي او ځيني ئې سل بولي، په ځينو كي ويل شوي چي يوه ملگري ئې ورته وويل: قُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، په بل كي ويل شوي چي يوې فرشتې دا خبره ورته وكړه او په بل كي د دې خبرې هيڅ يادونه نه ده شوې، پوښتنه دا ده: په دغو رواياتو كي كوم ئې صحيح دئ؟ د سليمان صلعم د مېرمنو شمير څومره وو؟ ملگري ئې ورته ويلي چي إن شاء الله ووايه كه فرشتې؟ ولي په ټولو صحابه وو كي يوازې يوه كس دا خبره كړې؟ ولي يوه كس ته منسوب روايت كي دومره جدي او ژور توپيرونه تر سترگو كېږي؟ څنگه به داسي روايت د اعتبار وړ گڼو چي د سند او متن له پلوه دومره ضعفونه لري، له قرآن سره هيڅ اړخ نه لگوي، د عقل او فطرت خلاف خبره كوي؟! آيا په يوه شپه كي له سلو مېرمنو سره مجامعت ممكن دئ؟! دا كار خو نه د يوې شپې په دولسو ساعتونو كي ممكن دئ او نه د انسان جنسي طاقت ته مقدور او ممكن دئ!! د دې خبرې معنى خو دا ده چي هغه شپه لږ تر لږه سل ساعته اوږده شوې، سپوږمۍ او لمر له حركته لوېدلي چي په نتيجه كي ئې دا شپه دومره اوږده شوې چي سليمان صلعم توانېدلي له خپلو سلو مېرمنو سره قربت وكړي!! په داسي حال كي چي بل روايت وايي: لمر له يوشع صلعم پرته هيچا ته نه دئ ودرېدلى!! آيا كوم عاقل انسان به دا خبره وكړي چي زه نن شپه له خپلو ټولو مېرمنو سره مجامعت كوم او له ټولو به هرو مرو توريالي او جنگيالي زامن پيدا شي؟!! آيا يوه پيغمبر ته دا د عقل او انساني فطرت خلاف خبري منسوبول لوى جسارت نه دئ؟!!

قرآن وايي: دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چې چا ته اولاد ورکړي، کله ئي ورکړي، زوی ورکړي که لور، په آسمان او زمکي کي له الله تعالی پرته هيڅوك نه په دې اړه څه واك لري او نه پوهېږي چي کله به ئي څنگه اولاد په برخه شي، ابراهيم **صلعم** ته په زړښت کي د اولاد زېرى ورکړى شو خو نه پوهېدو چي دا زوى به ئي څنگه او کله په برخه کېږي، زکريا **صلعم** ته هم په زړښت کي دا زېرى ورکړى شو خو نه پوهېدو الله تعالی به څنگه او کله زوى ورکوي، د خپل زړه د ډاډ لپاره ئي د نښي غوښتنه وکړه او ورته وويل شو: نښه ئي دا ده هغه مهال به تر دريو ورځو خبري نه شي کولی!! سليمان **صلعم** تر ډېرو کلونو زوى نه درلود، پوښتنه دا ده چي په آخري عمر کي به هغه څنگه دا خبره کوله چي نن شپه به داسي کار کوم چي سل جنگيالي زامن مي په برخه شي؟!! هغه روايت به څنگه او ولي منو چي د قرآن او عقل خلاف وي او د سليمان **صلعم** په څېر ستر پيغمبر ته داسي غلطه وينا منسوب کړي؟!!

د دې کمزورو او متعارضو رواياتو په مقابل کي دا روايات هم په پام کي ولرئ چي وايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"وُلِدَ لِسُلَيْمَانَ بن دَاوُدَ ابْنٌ، فَقَالَ لِلشَّيَاطِينِ: أَيْنَ نُوَارِيهِ مِنَ الْمَوْتِ؟ فَقَالُوا: نَذْهَبُ بِهِ إِلَى الْمَشْرِقِ. قَالَ: يَصِلُ إِلَيْهِ الْمَوْتُ. قَالُوا: فَإِلَى الْمَغْرِبِ. قَالَ: يَصِلُ إِلَيْهِ الْمَوْتُ. قَالُوا: إِلَى الْبِحَارِ، قَالَ: يَصِلُ إِلَيْهِ، قَالُوا: نَضَعُهُ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، وَنَزَلَ عَلَيْهِ مَلَكُ الْمَوْتِ، فَقَالَ: يَابْنَ دَاوُدَ: إِنِّي أُمِرْتُ بِقَبْضِ نَسَمَةٍ طَلَبْتُهَا فِي الْمَشْرِقِ فَلَمْ أُصِبْهَا، فَطَلَبْتُهَا فِي الْمَغْرِبِ فَلَمْ أُصِبْهَا، وَطَلَبْتُهَا فِي الْبِحَارِ، وَطَلَبْتُهَا فِي تُخُومِ الأَرَضِينَ فَلَمْ أُصِبْهَا، فَبَيْنَا أَنَا أَصْعَدُ إِذْ أَصَبْتُهَا، فَقَبَضْتُهَا، وَجَاءَ جَسَدُهُ حَتَّى وَقَعَ عَلَى كُرْسِيِّهِ، فَهُوَ قَوْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ". المعجم الاوسط للطبراني

له ابو هريره ﷺ روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل: د سليمان ﷺ زوى وزېږېدو، شيطانانو ته ئي وويل: له مرگ ئي چېري پټ کړو؟ وئې ويل: مشرق ته ئي وړو، وئې ويل: مرگ وررسېدى شي، وئې ويل: مغرب ته ئي وړو، وئې ويل: مرگ وررسېدى شي، وئې ويل: سمندرونو ته ئي وړو، وئې ويل: وررسېدى شي، وئې ويل: د آسمان او زمکي ترمنځ ئي ږدو، ملك الموت ورته راغی او وئې ويل: اې د داوُد زويه! زه د يوه کس د روح په قبضولو وگمارل شوم، نو په ختيځ کي مي ولټولو خو پيدا مي نه کړ، بيا مي په لوېديځ کي ولټولو پيدا مي نه کړ، او په سمندرونو او د زمکي چارچاپېر مي ولټولو پيدا مي نه کړ، خو کله چي د آسمان په لوري تلم نو ومي موندو او روح مي قبض کړه، دغه مهال د هغه جسد راغی او د ده پر کرسۍ پرېوت!! او همدا د الله تعالی د قول مصداق دئ چي فرمايي: " وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ".

څو پوښتني لرو: د ابوهريره ﷺ دا روايت صحيح دئ او که هغه شپږ مخکني چي په بشپړه توگه له دې سره تعارض لري؟!! آيا يو مؤمن انسان بيا يو پيغمبر به داسي کار وکړي چي خپل زوى له ملك الموت پټوي او په دې اړه له شيطان سره مشوره کوي او شيطانانو ته ئي سپاري چي په وربځو کي ئي له فرشتي پټ کړي؟!! آيا داسي مسخره روايات د دې وړ دي چي زموږ په کتابونو کي راشي؟!

دې بل روایت ته هم ځیر شئ:

عن ابن عباس رضي الله عنهما ، في قوله عز وجل : (وألقينا على كرسيه جسدا) قال : « هو الشيطان الذي كان على كرسيه يقضي بين الناس أربعين يوما ، وكان لسليمان جارية يقال لها : جرادة وكان بين بعض أهلها وبين قومه خصومة، فقضى بينهم بالحق إلا أنه ود أن الحق لأهلها، فأوحى الله إليه أنه سيصيبك بلاء، وكان لا يدري يأتيه من السماء أو من الأرض » «هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه » المستدرك على الصحيحين للحاكم!!!

له ابن عباس **رسول** روایت دئ د الله تعالی د دې کلام په اړه: (وألقينا على كرسيه جسدا) وئې ویل: دا شیطان وو چې د ده پر کرسئ کښېنستی وو او څلوېښت ورځې ئې د خلکو تر منځ قضاوت کولو، د سلیمان یوه وینځه وه چې د جراده په نامه یادېدله، د دې د کورنئ د ځینو غړو او د قوم تر منځ ئې یوه شخړه وه، نو سلیمان **صلعم** د دوی تر منځ سمه فیصله وکړه خو زړه ئې دا غوښتل چې د دې د قوم په ګټه پرېکړه وکړي، نو الله تعالی ورته وحي وکړه چې په یوه مصیبت به اخته شې، نه پوهېدو چې دا مصیبت به له آسمانه راشي که له زمکې، (ګواکي مصیبت دا وو چې اقتدار ترې واخیستل شو او تر څلوېښتو ورځو د شیطان په لاس کي پرېوت او هغه به د ده له کرسئ د خلکو تر منځ قضاوت کولو)!!

د دغو متعارضو او د قرآن، عقل، درایت او فطرت خلاف روایاتو په اړه څو خبري کولی شو: یا خو دا په بشپړه توګه جعلي او موضوعي روایات دي، د اسلام دښمنانو جوړ کړي او لویو لویو شخصیتونو ته ئې منسوب کړي او یا دا چې رسول الله او کوم صحابي له اهل کتابو نقل قول کړی او دا ئې د هغوی د ویناوو او روایاتو په ضمن کي یاده کړې خو اورېدونکي دا انتباه اخیستې چې ګواکي دا په خپله د رسول الله یا د هغه صحابي خپله رأیه ده.

ښه به وي چې دلته د دې آیت په اړه د امام رازي رأیه هم له نظره تېره کړو، هغه ټول پورتني روایات بې اعتباره ګڼلي او آیت ئې داسي تعبیر کړی: سلیمان **صلعم** یا په یوې سختې ناروغئ مبتلا شوی یا د کوم خطر له کبله دومره اندېښمن شوی وو چې ډېر ئې کمزوری او ضعیف کړ، دومره چې پر هډوکو ئې فقط پوستکی پاته شو، داسي شو لکه په یوه پوستکي کي پټ کالبوت، او ګواکي همدا د دې آیت (و القینا علی کرسیه جسداً) تفسیر دئ. موږ په دې اړه ورسره موافق یو چې پورتني روایات او تعبیرونه ناسم دي خو په دې کي شك نشته چې د ده تعبیر له ټول مضمون سره اړخ نه لګوي، په آیت کي ویل شوي: (... او د ده پر کرسئ مو یوه (هسي) جثه واچوله، بیا ئې انابت وکړ، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه،) له دې الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې له سلیمان **صلعم** کومه اشتباه شوې، د اشتباه له کبله ئې مکرر انابت کړی او بخښنه ئې غوښتې.

دې ته مو پام وي چې د ټولو محققینو، فقهاوو او محدثینو دا اتفاقي رأیه ده چې د روایت د صحت اساسي شرائط دا دي: له قرآن سره به تعارض نه لري، د عقل او فطرت خلاف خبره به ئې نه وي کړې، له نورو صحیح روایاتو سره به تضاد او تعارض نه لري، راوي ته به داسي قول نه وي منسوب شوی چې هغه په هیڅ توګه ترې خبرېدی نشي، له دې اساسي شرائطو وروسته به دا ګورو چې سند ئې صحیح دئ که نه، متأسفانه ځینو یوازي سند ته اعتبار ورکړی او دغه اساسي شرائط ئې له پامه غورځولي او له همدې کبله ئې داسي روایات

هم صحیح ګڼلي چي د دغو شرائطو له مخي قطعاً د اعتبار او اعتناء وړ نه دي. پورتني روايات ئې ځرګندي بېلګي دي.

وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ وَعَذَابٍ ﴿٤١﴾
ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ ﴿٤٢﴾ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ
رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٤٣﴾ وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ وَلَا تَحۡنَثۡۗ
إِنَّا وَجَدۡنَٰهُ صَابِرٗاۚ نِّعۡمَ ٱلۡعَبۡدُۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ﴿٤٤﴾

او زموږ بنده ايوب درپه ياد کړه، کله چي ئې خپل رب ته غږ کړ: شيطان په کړاو او عذاب اخته کړی يم، (ورته ومو ويل): په خپلي پښې سره ئې ووهه، دا ئې د غسل سوړ ځای او څښاك، او ده ته مو د ده ټول ټبر او له هغوی سره ورته ئې ورپه برخه کړل، زموږ له لوري يوه پېرزوينه او د عقلمنو لپاره يو پند، او په خپل لاس يوه ګېډۍ واخله او وهل پرې وکړه او لوړه دي مه ماتوه، يقيناً چي هغه مو صبرناك وموند، غوره بنده، يقيناً چي هغه ډېر رجوع کوونکی وو.

(٤١-٤٤)- دلته د ايوب صلعم په اړه ويل شوي:

- خپل رب ته ئې په دې الفاظو دعاء وکړه: شيطان په کړاو او عذاب اخته کړی يم، يعني د ~~شيطان د کومي وسوسې له کبله مي داسي څه کړي چي د دې کړاو او عذاب وړ ګرځېدلی يم،~~ معنی ئې دا ده چي شيطان او وسوسې ئې د کړاو او عذاب سبب شوي، نه دا چي شيطان په خپله مخامخ دی له کړاو او عذاب سره مخامخ کړی. شيطان نه شي کولی څوك په کړاو او عذاب اخته کړي خو کولی شي ګناه ته ئې وهڅوي او د ګناه له کبله له کړاو او عذاب سره مخامخ شي. د ايوب صلعم د وينا معنی دا ده چي په خپلي اشتباه ئې اعتراف کړی او له مزيد څه ويلو ئې ډډه کړې، د الانبياء د سورې په ٨٣ آيت کي د ده دا وينا په دغو الفاظو راغلې: وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾: او ايوب چي خپل رب ته ئې (د دعاء لپاره) غږ کړ چي يقيناً ما ته کړاو رارسېدلی او ته تر ټولو رحم کوونکو زيات مهربان يې، دلته هم په همدې اکتفاء کوي او مزيد څه نه وايي. که څه هم د دې آيت بل د پام وړ تعبير دا دئ: د شيطان وسوسو تر ناروغۍ هم زيات په کړاو او عذاب اخته کړی يم، خو لکه څنګه چي په مخکنيو قصو کي پر اشتباهاتو د اعتراف بېلګي ترسترګو کېږي او د ايوب صلعم اعتراف ته ورته اعترافات ګورو نو ځکه په يقين سره ويلی شو چي د ايوب صلعم د وينا صحيح تعبير همغه لومړنی تعبير دئ نه بل څه.

• د دې اعتراف او دعاء په ځواب کې ورته ویل شوي: زمکه په خپلي پښې سره ووهه، په دې سره له زمکي چینه راخوټېدلي، او ورته ویل شوي: دا ئې ستا د غسل لپاره سوړ ځای او ستا د څښاك لپاره سړې اوبه، له الفاظو داسي معلومېږي چي همدا سړه چینه او اوبه ئې د ده کړاو ته علاج وو، په داسي ناروغۍ مبتلا شوی وو چي د دې چینې د اوبو په څښلو او په هغې کې د لامبلو له کبله ترې روغ شوی. په غالب گمان سره هغه په کوم جلدي ناروغۍ مبتلا شوی وو، بایبل هم دې ته ورته وینا لري.

• ورپسې ویل شوي: ده ته مو د ده ټول ټبر او له هغوی سره ورته ئې ورپه برخه کړل، له دې وینا په ډېر صراحت سره معلومېږي چي د دغي ناروغۍ له کبله د ده ټول ټبر ترې بېل شوی، له بل آیت معلومېږي چي یوازې مېرمن ئې تر پایه ورسره پاتې شوې او د ده خدمت ئې کړی. له روغېدو وروسته نه یوازې د خپلي کورنۍ ټول مخکني غړي بېرته ورسره یوځای شوي بلکي همدومره نور ئې پر ټبر زیات شوي. نه یوازې مخکني دوستان او خپلوان ئې بېرته پر شاوخوا راغونډ شول بلکي الله تعالی همدومره نور دوستان او خپلوان هم ورپه برخه کړل.

• دا د ده په اړه د الله تعالی یوه پېرزوینه وه او د عقلمنو لپاره یو پند، الله تعالی د خپلي پېرزویني له مخي دا احسان پرې وکړ او په همدې کې د الله تعالی د ټولو مخلصو بندگانو لپاره د پند او عبرت لوی درس دئ، دوی باید ډاډه او مطمئن وي چي که د آزموینو په وړاندي د صبر او استقامت لمن پرې نږدي، بې حوصلي نشي، د ایوب علیه السلام په څېر صبر وکړي او د مشکلاتو حل له خپل مهربان رب وغواړي نو الله تعالی به تر هر مهربان زیات مهربان ومومي.

• ورته ویل شوي: په خپل لاس یوه گېډۍ واخله او وهل پرې وکړه او لوړه دي مه ماتوه. د آیت له الفاظو معلومېږي چي ایوب **صلعم** لوړه کړې وه چي کوم کس به په لښتو وهي، خو دا نه دي ویل شوي چي څوك به وهي، ولي به ئې وهي او څو لښتي به ئې وهي، د آیت له الفاظو دومره معلومېږي چي د لښتو شمېر به د یوې گېډۍ په اندازه وو، ځکه ده ته ویل شوي: لوړه دي ترسره کړه، همدومره شمېر لښتي یوه گېډۍ کړه او هغه کس یو ځل پرې ووهه چي تا ئې د وهلو لوړه کړې وه، په روایاتو کي راځي چي دا کس د ده وفاداره مېرمن وه، په کوم څه پرې غصه شوی وو او لوړه ئې کړې وه چي هغه به وهي، خو وروسته متوجه شوی چي غصه ئې بې ځایه وه، کله چي روغ شو نو دا اندېښنه ورسره وه چي له خپلي لوړي سره څه وکړي، الله تعالی ئې لاربښوونه وکړه چي خپله لوړه په دې توگه ترسره کړه.

د آیتونو په پای کي ویل شوي: هغه مو صبرناك وموند، غوره بنده، یقیناً چي هغه ډېر رجوع کوونکی وو.

د دې تفصیل د الانبیاء د سورې د ۸۳-۸٤ آیتونو په تفسیر کي وگورئ. خو دلته دومره وضاحت په کار دئ چي ځینو داسي انگېرلي چي د ایوب **صلعم** ټوله کورنۍ له منځه تللې او گواکي مړه شوي، په داسي حال کي چي د آیت له الفاظو قطعاً داسي نه معلومېږي، بلکي ښیي چي د کورنۍ غړي ترې بېل شوي او له روغېدو وروسته ټول د ده خوا ته راغونډ شوي، د دوی د مړیني وینا د بایبل ده خو په دې اړه د بایبل وینا دومره کچه او غلطه ده چي هیڅ

عقلمن انسان ئې نشي منلی، ښه به وي چې تفصيل ئې د (بايبل د قرآن په رڼا کې) کتاب کې وګورئ.

په دې مبارك آيت کې ايوب صلعم ته د خپل قسم په ارتباط ويل شوي چې هغه مه ماتوه او تر سره ئې کړه، په دې اړه دوه پوښتنې راولاړيږي: يوه دا چې آيا کولی شو داسي څه وکړو لکه چې ايوب صلعم پرې ګمارل شوی وو؟ مثلاً يو کس د اتيا درو په وهلو محکوم شوی خو هغه دومره ضعيف او کمزوری دئ چې اتيا درې نشي تحمل کولی؛آيا کولی شو اتيا درې سره يو ځای کړو او يو ځل ئې پرې ووهو؟ بله دا چې آيا انسان په هغه قسم هم مکلف دئ چې په يوې ناسمې خبرې ئې کړی وي، لکه دلته چې ايوب صلعم ته له خپلي لورې وروسته معلومه شوې چې د خپلې مېرمنې د وهلو په اړه د ده لوړه ناسمه او بې ځايه وه؟ په دې اړه د فقهاوو تر منځ دوه رأيي زموږ مخې ته راځي: يوه رأيه دا چې د داسې قسم کفاره دا ده چې دا ناسم کار ترسره نشي او بله رأيه دا چې د ناسم کار پر ځای دې سم کار وکړي او د قسم کفاره به ورکوي. د احنافو رأيه دا ده چې د قسم کفاره به ورکوي او ايوب صلعم ته دا الهي لارښوونه عموميت لري او تر ده محدوده او مختصه نه ده، د دوی رأيه نه يوازې د دې آيت مطابق ده بلکې په تأييد کې ئې دا روايت هم وړاندې کوي:

وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ كَانَ بَيْنَ أَبْيَاتِنَا رُوَيْجِلٌ ضَعِيفٌ فَخَبَثَ بِأَمَةٍ مِنْ إِمَائِهِمْ فَذَكَرَ ذَلِكَ سَعْدٌ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : اضْرِبُوهُ حَدَّهُ فَقَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ أَضْعَفُ مِنْ ذَلِكَ قَالَ : خُذُوا عِثْكَالًا فِيهِ مِائَةُ شِمْرَاخٍ ثُمَّ اضْرِبُوهُ بِهِ ضَرْبَةً وَاحِدَةً فَفَعَلُوا . رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ

له سعيد بن سعد بن عباده روايت دئ چې وئې ويل: زموږ په کورونو کې يو وړوکی کمزوری سړی وو، له يوې وينځې سره ئې زنا وکړه، سعد ﷺ دا خبره رسول الله ته ياده کړه، وئې فرمايل: د زنا حد پرې جاري کړئ، وئې ويل: يا رسول الله! هغه تر دې ډېر ضعيف دئ (چې دا تحمل کړی شي) وئې فرمايل: د کجورې داسې لويه څانګه درواخلئ چې سل وړې څانګې لري او په همدې سره ئې يو ځل ووهئ، نو همداسې ئې وکړل.

وَٱذۡكُرۡ عِبَٰدَنَآ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿٤٥﴾ إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ ذِكۡرَى ٱلدَّارِ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّهُمۡ عِندَنَا لَمِنَ ٱلۡمُصۡطَفَيۡنَ ٱلۡأَخۡيَارِ



او زموږ بندګان ابراهيم، اسحاق او يعقوب درپه ياد کړه؛ د پياوړو لاسونو خاوندان او سترګور، يقيناً چې دوی ته مو د آخرت يادولو خصلت سره ځانګړتيا ورکړې وه، او يقيناً چې دوی زموږ په وړاندې د غوره شوو نېکانو له ډلې ول.

<u>(۴۵-۴۷)- دلته ابراهيم، اسحاق او يعقوب صلی د هغو شخصيتونو په توګه زموږ په وړاندې</u>

انځور شوي چي پند ترې واخلو او د هغوی خصلتونه غوره کړو، د دوی دا ځانګړتیاوې راښیي: د پیاوړو او هنرمنو لاسونو خاوندان او سترګور ول، تل ئې آخرت په یاد وو، د الله تعالی په وړاندي د غوره شوو نېکانو له ډلي ول.

وَٱذۡكُرۡ إِسۡمَٰعِيلَ وَٱلۡيَسَعَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ وَكُلّٞ مِّنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ﴿٤٨﴾ هَٰذَا ذِكۡرٞۚ وَإِنَّ
لِلۡمُتَّقِينَ لَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٩﴾ جَنَّٰتِ عَدۡنٖ مُّفَتَّحَةٗ لَّهُمُ ٱلۡأَبۡوَٰبُ ﴿٥٠﴾ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا
يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ﴿٥١﴾ وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ أَتۡرَابٌ ﴿٥٢﴾
هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾

او اسمعیل، یسع او ذالکفل درپه یاد کړه، چي هر یو ئې د نېکانو له ډلي وو، دا ذکر دئ، او یقیناً چي دغو متقیانو ته حتماً د ورګرځېدو ښکلی ځای دئ؛ داسي تلپاتی جنت چي دروازې به ئې ورته پرانیستي وي، په هغه کي داسي تکیه کوونکي چي ډېري مېوې او څښاك به غواړي، خوا ته به ئې د نظر لنډوونکي همزولې وي، دا همغه څه دي چي د حساب د ورځي په اړه ئې وعده درسره کېده، یقیناً دا زموږ همغه رزق دئ چي پای ته رسېدل ئې نشته.

(٤٨-٥٤)- دلته له یوې خوا د نېکو شخصیتونو درې نوري بېلګي موږ ته معرفي شوې: اسمعیل، یسع او ذاکفل ﷺ، او له بلي خوا په جنت کي د ټولو متقینو د ورګرځېدو ښکلی ځای داسي انځور شوی: داسي تلپاتی جنت چي دروازې به ئې ورته پرانیستي وي، په تختونو به ئې تکیه وهلې وي، ډېري مېوې او څښاك به ئې په برخه وي، خوا ته به ئې د نظر لنډوونکي همزولې وي، دوی ته به وویل شي: دا همغه څه دي چي الله تعالی ئې له تاسو سره په دنیا کي وعده کړې وه چي د حساب په ورځ به ستاسو په برخه شي، دا زموږ همغه رزق دئ چي پای ته رسېدل ئې نشته.

هَٰذَاۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٖ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَا فَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هَٰذَا
فَلۡيَذُوقُوهُ حَمِيمٞ وَغَسَّاقٞ ﴿٥٧﴾ وَءَاخَرُ مِن شَكۡلِهِۦٓ أَزۡوَٰجٌ ﴿٥٨﴾ هَٰذَا فَوۡجٞ مُّقۡتَحِمٞ
مَّعَكُمۡۖ لَا مَرۡحَبَۢا بِهِمۡۚ إِنَّهُمۡ صَالُواْ ٱلنَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُواْ بَلۡ أَنتُمۡ لَا مَرۡحَبَۢا بِكُمۡۖ أَنتُمۡ

قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا ۖ فَبِئْسَ ٱلْقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا
فِي ٱلنَّارِ ﴿٦١﴾

همدا؛ او د سرکشانو لپاره حتماً د ورگرځېدو بد ځای دئ، داسي دوزخ چي دوی به ورننوځي، څومره بد استوگنځی، همدا؛ تودې اوبه او نو (زوي)؛ نو خوند دې وڅکي، او دې ته ورته نور ډول ډول عذابونه، دا داسي فوځ دئ چي له تاسو سره یو ځای ننوتونکی دئ، هیڅ هرکلي دي ورته نه وي، یقیناً چي دوی هرو مرو اور ته ننوتونکي دي. وبه وایي: نه؛ بلکي تاسو هغه یئ چي هیڅ هرکلی دي درته نه وي، تاسو دا راپه برخه کړی، نو د تمبېدو څومره بد ځای!! وبه وایي: اې زموږ ربه! چا چي دا راپه برخه کړ په اور کي ئې عذاب دوه برابره ورزیات کړه.

(٥٥-٦١)- دلته د متقینو په مقابل کي د سرکشانو اخروي پایله داسي انځور شوې: د دوی لپاره د ورگرځېدو بد ځای تیار شوی، داسي دوزخ چي دوی به ورننوځي، ډېر بد استوگنځی، تودې اوبه او نو به ئې په برخه وي او ورته ویل کېږي به: خوند ئې وڅکئ، دې ته ورته ډول ډول نور عذابونه، یوه ډله به وړاندې او بله به ورپسې دوزخ ته ننوځي، یوې ته به د بلې په اړه ویل کېږي: دا فوځ به هم له تاسو سره یو ځای دوزخ ته ننوځي، هیڅ هرکلي دي ورته نه وي، هرو مرو به اور ته ننوځي، دا ننوتونکی فوځ به ووایي: نه؛ بلکي تاسو هغه یئ چي هیڅ هرکلی دي درته نه وي، تاسو له دې برخلیك سره مخامخ کړو، دا د تمبېدو بد ځای به ئې په برخه وي!! د تابعانو دوزخي ډله به د خپلو مشرانو په اړه ووایي: اې زموږ ربه! چا چي دا راپه برخه کړ په اور کي ئې عذاب دوه برابره ورزیات کړه.

وَقَالُواْ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذْنَٰهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ
زَاغَتْ عَنْهُمُ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴿٦٣﴾ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ ٱلنَّارِ ﴿٦٤﴾

او وبه وایي: څه راباندې شوي هغه سړي نه گورو چي موږ به د اشرارو له ډلي گڼل؟!، آیا موږ تر ملنډو لاندې نیولي ول که سترگي ترې کږې شوې، یقیناً چي د دوزخیانو دا شخړه یو حقیقت دئ.

(٦٢-٦٤)- دلته د دوزخیانو د هغه مهال حالت انځور شوی چي په دوزخ کي به یوې خوا بلې خوا ته سترگي وغړوي او هغه مؤمنان به ئې تر سترگو نشي چي دوی به د اشرارو په نامه یادول نو وبه وایي: ولي هغه سړي نه وینو چي موږ به د اشرارو له ډلي گڼل، څه راباندې شوي، سترگي مو سم کار نه کوي که دا زموږ غلطي وه او پر هغوی مو ملنډې وهلې؟!! الله تعالی فرمایي چي د دوزخیانو دا شخړه یو حقیقت دئ او حتماً به ترسره کېږي.

قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٞۖ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ﴿٦٦﴾ قُلۡ هُوَ نَبَؤٌاْ عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمۡ عَنۡهُ مُعۡرِضُونَ
﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنۡ عِلۡمِۭ بِٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰٓ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِن يُوحَىٰٓ إِلَيَّ إِلَّآ أَنَّمَآ
أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾

ووايه: خبره فقط دا ده چي زه يو منذر يم، او له يوازيني ډېر برلاسي الله پرته بل معبود نشته، همغه د آسمانونو، زمکي او هر هغه څه بخښونکی عزتمن رب چي په دوی دواړو کي دي، ووايه: دا ستره خبره ده، تاسو ترې ډډه کوئ، زه د ملأ اعلی د هغه مهال په اړه څه علم نه لرم چي دوی مناقشه کوي، ما ته له دې پرته بله وحي نه کېږي چي زه يو څرگند نذير يم.

(٦٥-٧٠)- دلته رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چي خپلو مخاطبينو ته ووايي: زه فقط يو منذر (خبرداری ورکوونکی) يم، د کفر او شرك له بدو پايلو مو خبروم، او درته وايم چي له يوازيني ډېر برلاسي الله پرته بل معبود نشته، همغه بخښونکی عزتمن رب چي د آسمانونو، زمکي او هر هغه څه پالونکی دئ چي په دوی دواړو کي دي، ووايه: ستره خبره همدا ده خو تاسو ترې ډډه کوئ، زه په دې نه پوهېږم چي په ملأ اعلی کي هغه مهال څه تېر شوي چي د الله تعالی مقربو فرشتو مناقشه کوله، ما ته يوازي د هغه څه وحي کېږي چي له کبله ئې تاسو ته يو څرگند نذير يم، يعني زه په غيب نه پوهېږم، فقط يو څرگند نذير يم، تاسو ته ستاسو د خپلو تگلارو د بدو پايلو خبرداری درکوم او دا هم د هغي الهي وحي په رڼا کي چي ما ته د الله تعالی له لوري کېږي.

إِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن طِينٖ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن
رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ﴿٧٣﴾ إِلَّآ
إِبۡلِيسَ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا
خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ ﴿٧٥﴾ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن

نَّارٍ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٍ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٧٨﴾

کله چي ستا رب فرشتو ته وويل: يقيناً زه له خټي د يوه انسان پيدا کوونکی يم، نو کله چي مي هغه برابر کړ او خپله روح مي په کي پو کړه نو هغه ته په سجده شئ، نو ټولو فرشتو يو ځايي سجده وکړه مګر ابليس چي د لويي لټه ئې وکړه او له کافرانو وو، وئې ويل: اې ابليسه! څه شي هغه چا ته له سجدې کولو منع کړې چي ما په خپل لاس پيدا کړ؟ لويي دي وغوښته که ته له لوړو وې؟ وئې ويل: زه ترې ښه يم، زه دي له اور پيدا کړی يم او هغه دي له خټي پيدا کړی، وئې ويل: ترې ووځه چي ته له شك پرته رټل شوی يې، او يقيناً چي پر تا د قيامت تر ورځي زما لعنت دئ.

(۷۱-۷۸)- په دې مبارکو آيتونو کي د ملأ اعلی هغي مناقشي ته اشاره شوې چي الله تعالی په زمکي کي د بشر په نامه د يوه نوي مخلوق د پيدا کولو اراده وکړه، خپله پرېکړه ئې فرشتو ته ابلاغ کړه او وئې فرمايل: زه له خټي د يوه انسان پيدا کوونکی يم، نو کله چي مي هغه برابر کړ او خپله روح مي په کي پو کړه نو هغه ته په سجده شئ، ټولو فرشتو د الله تعالی له حکم سره سم سجده وکړه، يوازينی مخلوق چي له سجدې ئې ډډه وکړه ابليس وو چي د لويي لټه ئې وکړه او له کافرانو وو، الله تعالی ورته وفرمايل: اې ابليسه! څه د دې باعث شو چي هغه چا ته دي له سجدې ډډه وکړه چي ما په خپلو لاسونو پيدا کړی؟ لويي دي وغوښته که ته له لوړو وې؟ يعني غوښتل دي تر ده ستر او لوړ وګڼل شې او د هغه مقام او منزلت ستا په برخه شي او که حقيقتاً ته تر ده لوړ وې نو ځکه دي هغه ته سجده ونه کړه؟!! وئې ويل: زه ترې ښه يم، زه دي له اور پيدا کړی يم او هغه دي له خټي پيدا کړی، يعني زه له نَسَبي پلوه تر آدم صلعم غوره او ښه يم، زما د خلقت ماده تر ده ښه ده، اور تر خټي غوره دئ، زه دي له اور پيدا کړی يم او دی دي له خټي، کوم مقام چي تا ده ته ورکړی دا له ده سره نه ښايي؛ زه ئې مستحق يم!! الله تعالی وفرمايل: له هغه ځای ووځه چي ته او آدم صلعم په کي اوسئ، ته رټل شوی يې او د قيامت تر ورځي به پر تا زما لعنت وي. دلته څو مهمي مهمي لارښووني شوې:

الله تعالی انسان ته دومره لوړ مقام ورکړی چي پر ټولو مخلوقاتو د فرشتو په شمول ئې هغه ته فضيلت ورکړی، فرشتې ئې پر دې وګمارلې چي د هغه په وړاندي مطيع وي او د هغه فضيلت ومني. د عالم په ټولو مخلوقاتو کي يوازينی مخلوق شيطان دئ چي د انسان فضيلت ئې ونه منلو، له سجدې ئې ډډه وکړه او ځان ئې تر هغه لوړ وګڼلو، او الله تعالی د همدې کبر او بغاوت له کبله ورټلو، يعني د زمکي پر سر لومړی ګناه کبر او له نَسَبي پلوه ځان پر بل غوره ګڼل دي، چا چي تر ټولو وړاندي او د لومړي ځل لپاره دا ګناه کړې الله تعالی هغه ته د ابليس نوم ورکړ، ابليس يعني د الله له رحمت ډېر ډېر مأيوس، او هغه ئې ورټلو او له مخکني ځای او منزلت ئې هم کوز کړ او د لعنت وړ وګرځېدو؛ داسي لعنت چي د قيامت تر ورځي به

دوام کوي!!

ځینو د آیت دې فقرې ته (فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ﴿٧٣﴾ إِلَّآ إِبۡلِيسَ ...) ته په پام سره ویلي چي ښایي شیطان به له فرشتو سره یو ځای اوسېدو، او ځیني تر دې هم وړاندې تللي او ویلي ئې دي چي ښایي شیطان به د فرشتو له ډلي او حتی د هغوی استاد وو!! دا بې بنسټه واهمې دي او د قرآن له صریحو لارښوونو سره تعارض لري، نه شیطان په آسمان کي وو، نه آدم صلعم او نه د ده هغه لومړنی جنت، د قرآن د وینا له مخي شیطان آسمان ته لوړ نشي تللی، که د لوړ تللو هڅه وکړي په شهاب ثاقب ویشتل کېږي، د آدم صلعم په وړاندې د ټولو فرشتو انقیاد او سجده په دې معنی ده چي د عالم هر څه انسان ته مسخر کړی شوي، د عالم له ټولو مخلوقاتو یوازې شیطان له دې الهي پرېکړې سرغړاوی وکړ. د دې تفصیل د البقره سورې د ٣٠-٣٤ او د الاعراف سورې د ١١-١٦ آیتونو په تفسیر کي وګورئ.

ځیني نور د ٧٥ آیت دغه فقره قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ : وئې ویل: اې ابلیسه! څه شي هغه چا ته له سجدې کولو منع کړې چي ما په خپل لاس پیدا کړ؟ داسي تعبیروي چي دلته د آدم صلعم کوم ځانګړي خلقت ته اشاره شوې، ګواکي الله تعالی هغه په خپل لاس داسي جوړ کړی لکه چي انسان په خپل لاس کوم شی جوړوي!!

دوی د (خلقت بیدی) الفاظ د آدم علیه السلام په خاص او ځانګړي پیدایښت حمل کوي او وایي چي الله تعالی آدم علیه السلام په خپل لاس جوړ کړ!! حال دا چي په قرآن کي د نورو شیانو د خلقت په اړه هم دې ته ورته الفاظ راغلي لکه د یس د سورې ٧١ آیت: أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمٗا فَهُمۡ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿٧١﴾ : آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي موږ دوی ته هغه څاروي راپیدا کړل چي په خپلو لاسونو مو جوړ کړي او دوی ئې خاوندان دي.

لکه څنګه چي په دې آیت کي (ما عملت ایدینا) عام خلقت افاده کوي نه کوم ځانګړی او خاص خلقت او له دې الفاظو هیڅوك دا غلطه معنی نه اخلي چي الله تعالی دغه شیان په خپلو لاسونو جوړوي، همدارنګ له (خلقت بیدی) دا معنی اخیستل چي الله تعالی په خپل لاس د آدم علیه السلام مجسمه جوړه کړه، لویه او قبیح اشتباه ده. دا اشتباه به هغه څوك کوي چي الله تعالی نه پېژني، په پیدایښت کي د ده سننو ته پام نه کوي، دا هره ورځ چي الله تعالی په کوم ترتیب مخلوقات پیدا کوي دا له پامه غورځوي، الله تعالی له انسان سره تشبیه کوي او هغه هم له یوه کلال سره، په خپل کچه ذهن کي ئې کلال ته ورته کوم خدای انځور کړی او ګمان کوي چي هغه به آدم علیه السلام دغسي په خپل لاس جوړ کړی وي لکه کلال چي له ختې منګی جوړوي. ډېره ډېره عجیبه ده چي یو انسان هره ورځ په خپلو سترګو ګوري چي الله تعالی خپل مخلوقات څنګه او په څه ترتیب پیدا کوي، څنګه ئې جوړوي، څنګه ئې له یوه حالته بل ته

بيايي، خو سره له دې دومره ستره غلطي كوي او د آدم عليه السلام پيدايښت د الهي سننو خلاف او د يوه كلال له كار سره ورته گڼي. په دې نه پوهېږي چي الله تعالى نه په ذات كي مِثل لري، نه په صفاتو كي او نه په افعالو كي، د پيدا كولو په فعل كي هم بايد الله تعالى له مخلوق سره تشبيه نه كړو، ځوك چي د الله تعالى د پيدا كولو فعل د انسان له فعل سره تشبيه كوي او لكه څنگه چي انسان په خپلو لاسونو يو كار ترسره كوي، خټه راواخلي، خښتي ترې جوړې كړي، سر پر سر ئې كيږدي او دېوال ترې جوړ كړي، كه څوك د الله تعالى په اړه همداسي گمان وكړي هغه لويه اشتباه كړې او الله ئې له مخلوق سره تشبيه كړی. حال دا چي قرآن فرمايي: ليس كمثله شئ: الله ته ورته شی نشته.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ﴿٨١﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٢﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٨٣﴾ قَالَ فَٱلۡحَقُّ وَٱلۡحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٥﴾

وئې ويل: اې زما ربه! تر هغي ورځي مهلت را چي بيارا پاڅول كيږي، وئې ويل: نو ته له مهلت وركړی شوو يې، د يوه معلوم وخت تر ورځي، وئې ويل: ستا پر عزت قسم چي حتماً به دوی ټول تېرباسم، مگر د دوی له ډلي ستا مخلص بندگان، وئې ويل: نو همدا حق دئ او زه هم حق وايم، چي حتماً به دوزخ له تا او د دوی له هغو ټولو ډكوم چي ستا متابعت ئې كړی.

(٧٩-٨٥)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- شيطان وويل: اې زما ربه! د قيامت تر هغي ورځي مهلت را چي انسانان به له خپلو قبرونو بيا راپاڅول كيږي.
- الله تعالى وفرمايل: ستا د غوښتني له كبله ته له هغو شوې چي د قيامت تر معلومي ورځي مهلت وركړی شوی.
- شيطان وويل: ستا پر عزت قسم چي حتماً به دوی ټول تېرباسم، مگر د دوی له ډلي ستا مخلص بندگان.
- الله تعالى وفرمايل: دا وينا دي حق ده چي زما مخلص بندگان تېرايستلی نشي، او زه هم حق وايم چي حتماً به دوزخ له تا او د دوی له هغو ټولو ډكوم چي ستا متابعت ئې كړی.

قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ

﴿وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۢ ٨٨﴾

ووايه: له تاسو كوم اجر نه پرې غواړم او نه زه له تكلف كوونكو يم، دا خو د ټولو عالميانو لپاره فقط يو اغېزمن پند دئ او د ويناوو په حقيقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ.

(٨٦-٨٨)- په دې مباركو آيتونو كي دا ځلانده لاربښووني مومو:

- **رسول الله ﷺ ته ويل شوي: خپلو مخاطبينو ته ووايه: د خپل دعوت او مبارزې او د قرآن د تبليغ په بدل كي له تاسو هيڅ ډول اجر او بدله نه غواړم، د هغو خلكو له ډلي نه يم چي په ډېر تكلف سره له ځانه څه جوړوي، ما د رب العالمين له لوري هغه پيغام تاسو ته راوړى چي د ټولو عالميانو لپاره فقط يو اغېزمن پند دئ، د دې قرآن ټولي ويناوي حق دي، مصداق به ئې په خپلو سترګو او يو په بل پسي وګورئ، او د ويناوو په حقيقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ.**
- **لكه چي ګورئ د سورې د آخري دوه آيتونه د ټولي سورې لپاره يوه جامع خلاصه او تتمه ده، په دې سوره كي د (ذكر) لفظ ديارلس ځلي راغلى او دا ښيي چي د دې سورې محوري موضوع همدا مطلب دئ چي قرآن د ذكر او پند كتاب دئ.**

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الزمر

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم (الزمر) دئ، دا نوم د سورې په ۷۱ او ۷۳ آيتونو کي راغلی، ۷۵ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړ آيت (حکيم)، د درېيم آيت (کفار)، د شپږم آيت (تصرفون)، د اوم آيت (صدور) او د نهم آيت (الباب) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالی ئې تر متوسط زيات او هغو سورتونو ته ورته دئ چي د مکي دور په وروستيو کي نازل شوي. د سورې له متن معلومېږي چي تر لومړي هجرت (حبشې ته هجرت) لږ وړاندي نازله شوې. د سورې دا آيت په دې اړه ډېر صراحت لري: قُلۡ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۗ وَأَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ



که د سورې مضامينو ته ځير شو نو ډېر ژر به راته جوته شي چي په دې سورې کي د توحيد مهمه موضوع او د هغې پراخ ابعاد او د انسان پر ژوند او د هغه پر شخصيت د دې باور اغېز څېړل شوي، پر الله تعالی د ايمان معنی، د دې ايمان غوښتني او مقتضيات، د توحيد او خدای پالني مظاهر او مصداقونه، د الله تعالی په اړه کفر او شرک او د کفر او شرک مظاهر او په دنيا او آخرت کي د دې کفر او شرک بدي پايلي په دې مبارکي سورې کي په دقيقي او جامع توگه څېړل شوي.

د سورې په سر کي ويل شوي:

- **قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چي باحکمت او عزتمن دئ، يعني په دې کتاب کي هم د الهي حکمت ژور او پراخ مظاهر مومئ او هم عزت ته د رسېدلو هغه لاري چي عزيز رب درښودلي، هغه عزيز رب چي وعدې او پرېکړي ئې هرو مرو ترسره کېږي او هيڅوک ئې مخنيوی نشي کولی.**
- **په دې کي هيڅ شك نشته چي دا کتاب د الله تعالی له لوري تا ته درلېږل شوی، هره وينا ئې حق ده او حق په همدې کتاب کي خلاصه شوی.**
- **په داسي حال کي د الله تعالی عبادت کوه چي خپل دين دي په بشپړه توگه ورته سوچه**

كړی وي، يوازې د الهي دين متابعت کوې او ستا د ژوند په هيڅ برخي کي له دې دين پرته بل دين خپل وزر نه وي غوړولی.

- دې ته دي تل پام وي چي د الله تعالی په وړاندي بشپړ اطاعت او انقياد او په کامله توګه په الهي دين کي ننوتل د الله تعالی مسلم حق دئ.
- څوك چي له الله تعالی پرته نور اولياء غوره کړي، د هغوی لمانځنه وکړي او حکم ته ئې غاړه کېږدي؛ که څه هم ادعاء ئې دا وي چي غواړي له دې لاري د الله تعالی تقرب ترلاسه کړي او وايي: دا ذوات يوازې د دې لپاره لمانځو چي په ښه توګه مو الله تعالی ته ورنږدې کړي، دوی دروغ وايي، ادعاء ئې غلطه او بې بنسټه ده، الله تعالی به حتماً د دوی تر منځ په هغه څه کي پرېکړه کوي چي دوی په کي اختلاف کوي.
- د الهي معيارونو له مخي د دې وينا ويونکي او د دې ادعاء کوونکي هم کافران دي او هم دروغجن، او هم له الهي هدايت او لارښووني محروم، ځکه الله تعالی هغه څوك نه هدايتوي چي دروغجن کافر وي.

له الله تعالی پرته بل مولا نشته، بل څوك نه څه درکولی شي او نه ئې درنه اخيستلی شي، دا ځکه چي الله تعالی زوی او ځای ناستی نه لري، نه ئې د دې عالم د کومي برخي واك بل ته سپارلی او نه د عالم د چارو په سمبالولو کي کوم شريك او ځای ناستی لري، که الله تعالی شريك، زوی او ځای ناستی غوره کولی نو دا ځای ناستی او شريك به نه يوازې ټولو ته څرګند وو بلکي هر چا به د هغه د واکمنۍ ښېلګي او مصداق په واضح توګه ليدلو، خو خبره په بشپړه توګه د دې انګېرني خلاف ده او د عالم په هيڅ برخي کي د داسي شريك نښه نه مومو.

الله تعالی له دې عيب منزه دئ، شريك او ځای ناستی نه لري، هغه يوازينی برلاسی الله دئ، حقيقت دا دئ چي آسمانونه او زمکه ده پيدا کړي، سم ئې پيدا کړي، دا دی دئ چي شپه پر ورځ راتاووي او ورځ پر شپې، لمر او سپوږمی ئې مسخر کړي، هر يو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي. ووايئ: آيا داسي څوك مومئ چي په دې چارو کي څه اغېز ولري او کوم واك او اختيار ورسره وي؟!!

دغه مطالب د سورې په لومړيو پنځو آيتونو کي راغلي، شرح او تفصيل ئې او په همدې اړه نور مطالب د سورې تر پايه زموږ په وړاندي ځلېږي. د سورې ژورو او جامع بحثونو ته په پام سره ويلی شو چي دا مبارکه سوره د قرآن د ټولو هغو آيتونو خلاصه د مخاطب په وړاندي ږدي چي د توحيد او شرك په اړه بحث کوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿١﴾ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ
فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿٢﴾ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ
مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي
مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ﴿٣﴾

د دې کتاب لیږنه د باحکمت عزتمن الله له لوري ده، یقیناً چې دا کتاب مو په رښتیني توګه ستا لوري ته لیږلی نو په داسي حال کي د الله عبادت کوه چې ده ته د دین سوچه کوونکی وې، پام چې سوچه دیانت (انقیاد) د الله حق دئ، او هغه چې له ده پرته ئې اولیاء غوره کړي (په داسي حال کي چې وايي:) له دې پرته ئې د بل څه لپاره نه لمانځو چې په ښه نږدېکت سره مو الله ته ورنږدې کړي، یقیناً چې الله به د دوی تر منځ په هغه څه کي پرېکړه کوي چې دوی په کي اختلاف کوي، یقیناً چې الله هغه څوك نه هدایتوي چې دروغجن کافر وي.

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- **قرآن د هغه الله تعالی له لوري لیږل شوی چې باحکمت او عزتمن دئ، یعني په دې کتاب کي هم د الهي حکمت ژور او پراخ مظاهر مومئ او هم عزت ته د رسېدلو هغه لاري چې عزیز رب درښودلي، هغه عزیز رب چې وعدې او پرېکړي ئې هرو مرو ترسره کېږي او هیڅوك ئې مخنیوی نشي کولی.**
- **په دې کي هیڅ شك نشته چې دا کتاب د الله تعالی له لوري تا ته درلیږل شوی، هره وینا ئې حق ده او حق په همدې کتاب کي خلاصه شوی.**
- **په داسي حال کي د الله تعالی عبادت کوه چې خپل دین دي په بشپړه توګه ورته سوچه کړی وي، یوازې د الهي دین متابعت کوې او ستا د ژوند په هیڅ برخي کي له دې دین پرته بل دین خپل وزر نه وي غوړولی.**
- **دې ته دي تل، په هر ګام کي او د ژوند په ټولو چارو کي کلك پام وي چې د الله تعالی په وړاندي بشپړ اطاعت او انقیاد او په کامله توګه په الهي دین کي ننوتل د الله تعالی مسلم حق دئ.**
- **څوك چې له الله تعالی پرته نور اولیاء غوره کړي، د هغوی لمانځنه وکړي او حکم ته ئې غاړه کېږدي؛ که څه هم ادعاء ئې دا وي چې غواړي له دې لاري د الله تعالی تقرب ترلاسه**

کړي او وايي: دا ذوات يوازې د دې لپاره لمانځو چې په ښه توګه مو الله تعالى ته ورنږدې کړي، دوى دروغ وايي، ادعاء ئې غلطه او بې بنسټه ده، الله تعالى به حتماً د دوى تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چې دوى په کې اختلاف کوي.

- د الهي معيارونو له مخې د دې وينا ويونکي او د دې ادعاء کوونکي هم کافران دي او هم دروغجن، او هم له الهي هدايت او لارښوونې محروم، ځکه الله تعالى هغه څوک نه هدايتوي چې دروغجن کافر وي.

لَّوۡ أَرَادَ ٱللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدٗا لَّٱصۡطَفَىٰ مِمَّا يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٤﴾ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيۡلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيۡلِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمًّىۗ أَلَا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ﴿٥﴾

که الله غوښتى چې کوم زوى (او ځاى ناستى) ونيسي نو له هغه څه به ئې کوم يو غوره کړى وو چې دى ئې پيدا کوي، سپېڅلتيا ده ته ده، هغه يوازينى برلاسى الله دئ، آسمانونه او زمکه ئې سم پيدا کړي، شپه پر ورځ راتاووي او ورځ پر شپې راتاووي، او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر يو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي، پام چې هغه بخښونکى عزتمن دئ.

(٤-٥)- دا مبارک آيتونه موږ ته وايي:

- له الله تعالى پرته بل مولا نشته، بل څوک نه څه درکولى شي او نه ئې درنه اخيستلى شي، دا ځکه چې الله تعالى زوى او ځاى ناستى نه لري، نه ئې د دې عالم د کومې برخې واک بل ته سپارلى او نه د عالم د چارو په سمبالولو کې کوم شريک او ځاى ناستى لري، که الله تعالى شريک، زوى او ځاى ناستى غوره کولى نو دا ځاى ناستى او شريک به نه يوازې ټولو ته څرګند وو بلکې هر چا به د هغه د واکمنۍ ښېلګې او مصداق په واضح توګه ليدلو، خو خبره په بشپړه توګه د دې انګېرنې خلاف ده او د عالم په هيڅ برخې کې د داسې شريک نښه نه مومو.
- الله تعالى له دې عيب منزه دئ، شريک او ځاى ناستى نه لري، هغه يوازينى برلاسى الله دئ، حقيقت دا دئ چې آسمانونه او زمکه ده پيدا کړي، سم ئې پيدا کړي، دا دى دئ چې شپه پر ورځ راتاووي او ورځ پر شپې راتاووي، او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر يو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي. وواېئ: آيا داسې څوک مومئ چې په دې چارو کې څه اغېز ولري او کوم واک او اختيار ورسره وي؟!!
- پام چې الله تعالى بخښونکى عزتمن دئ. چا چې له الله تعالى پرته بل مولا غوره کړى او د

شرك په كړې لار تللى د خپل بخښونكي عزتمن رب لوري ته دې راوګرځي، توبه دې وكړي چې بخښونكى رب ئې وبخښي، كه نه نو د عزيز رب له سختې نيوني سره به مخامخ شي.

- **په دې مبارك آيت كې د شپې او ورځې تلو راتلو لپاره د تكوير صيغه كارول شوې، تكوير داسې راتاوولو ته وايي چې يو شى پر كوم ګرد څه راتاو كړى شي، لكه پګړۍ پر سر تاوول، پوښتنه راولاړېږي چې قرآن ولې د شپې او ورځې تګ راتګ او د يوې پر ځاى د بلې راتلو ته دا صيغه كارولې؟ آيا د دې پر ځاى راكاږل، راوستل، راكشول، اچول، غوړول ... غوره نه وو او مطلب ئې په سمه توګه نه شوى تعبيرولى؟ ځواب دا دئ: د بيان په دې تركيب كې د قرآن يو ستر علمي اعجاز مضمر دئ، نن خلك په دې پوهېږي چې زمكه ګرده ده، شپه او ورځ يوه په بلې پسې داسې پر زمكې راتاوېږي لكه سپينه او توره پګړۍ پر سر، د شپې توره پرده او د ورځې سپينه پرده ورو ورو د زمكې پر ګرد سر غوړېږي، كټ مټ داسې لكه توره او سپينه پګړۍ د انسان پر سر. د دې وينا پر اهميت هغه څوك پوهېږي چې له فضاء د زمكې لوري ته ځير شي او وګوري چې د شپې او ورځې تګ راتګ څنګه دئ او د دې حالت د دقيق تعبيرولو لپاره كوم الفاظ له څنګه تركيب سره ډېر مناسب دي، يقيناً چې داسې حساس او پوه انسان به پر دې اعتراف كوي چې د قرآن دا بيان يو ستر علمي اعجاز دئ. دا بيان دقيقاً همغه مطلب افاده كوي چې زمكه ګرده ده او شپه او ورځ داسې پرې راتاوېږي لكه څوك چې خپله اوږده پګړۍ پر سر راتاووي.**
- **لمر او سپوږمۍ خپلې مخې ته آزاد نه دي پرېښودل شوي چې په خپل سر او په كوم نامعلوم لوري خوځي، بلكې مسخر دي او په ثابت او ټاكل شوي مسير او لوري درومي. هر يو د ټاكلې نېټې مطابق درومي، او دا هغه حقيقت دئ چې انسان ته اوس معلوم شوى، اوس پوه شوى چې زمكه، سپوږمۍ، لمر او ټول ستوري خپل خپل مدار د ټاكلې نېټې مطابق بشپړوي.**

خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْأَنْعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ۚ يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِى ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٦﴾

له يوه ژوي ئې پيدا كړئ، بيا ئې له هغه د ده جوړه پيدا كړه، او له څارويو ئې تاسو ته اته جوړې نازلې كړې، تاسو د خپلو ميندو په بطن كې، په دريو تيارو كې، يو په بل پسې پيدايښت سره پيدا كوي، همدا ستاسو پالونكى رب دئ چې ټولواكي د ده ده او له ده پرته بل معبود نشته، نو كوم لوري ته اړول كېږئ؟!

(٦)- دلته د الله تعالى د ربوبيت څو څرګندو بېلګو ته اشاره شوې:

- **انسان ئې له يوه ژوي او ساكښ پيدا كړ، بيا ئې له هغه د ده جوړه پيدا كړه.**
- **د څارويو اته جوړې (اوښان، غوايان، پسونه او وزې) ئې ورته پيدا كړې.**

- تاسو د خپلو میندو د بطن په دريو تيارو کي د پيدايښت په داسي لړۍ کي پيدا کوي چي په پرله پسي توګه بدليږي، د پيدايښت له يوه پړاو بل ته درومئ.
- د چا په اراده چي دا ستر ستر کارونه ترسره کيږي همدا ستاسو پالونکی رب دئ چي ټولواکي د ده ده او له ده پرته بل معبود نشته.
- نو کوم لوري ته اړول کيږئ، پر بل معبود د باور درلودو لپاره څه دليل لرئ؟!

په دې مبارك آيت کي ويل شوي چي د انسان پيدايښت داسي دئ چي له يوه حالته بل ته اوړي، په بېلو بېلو مراحلو کي بېل بېل خلقت او جوړښت ورپه برخه کيږي، داسي نه دئ چي لومړنی جوړښت ئې ورو ورو وده کوي او تر پايه خپل لومړنی شکل او بڼه ساتي. او دا هغه ستر حقيقت دئ چي انسان اوس پرې پوه شوی.

علم ته له څوارلسو پېړيو وروسته دا خبره څرګنده شوه چي د انسان جوړښت د خاوري د اجزاوو له خلاصي څخه دئ او د ده په وجود کي د خاوري ټول اجزاء را غونډ شوي او په دې هم پوه شوی چي په ماشوم باندي د مور په رحم کي همغه مراحل او پړاوونه يو په بل پسي راځي چي په پورتني آيت کي ذکر شوي، د نطفې په شکل کي راپيدا شي، ورو ورو دا نطفه په داسي ځوړند توکي بدله شي چي ژوري ته ورته وي او بيا د داسي يوې ټوټې غوښي شکل غوره کړي چي ژوول شوې ته ورته وي، وروسته د ده هډوکي راپيدا شي او بيا دغو هډوکو ته غوښه ورواغوستی شي او په پای کي د يوه مکمل ماشوم شکل غوره کړي او دنيا ته راشي.

علم ته داحقيقت هم جوت شوی چي د انسان نطفه د مور د بدن په دريو تيارو کي جوړيږي، د مور او پلار هغه نطفې چي له يو ځای کېدو ئې د ماشوم لومړنی مختلطه نطفه جوړيږي د مور د بدن په يوې ځانګړې برخي کي سره يو ځای کيږي، له هغه ځايه رحم ته درومي، هلته په يوه ځانګړي غلاف کي ساتل کيږي، په همدې غلاف کي دا لومړنی نطفه د تجزيې له لاري په دوو ، څلورو، اتو، شپاړسو او ... بدليږي، تر هغه چي په رحم پوري د ځوړند توکي بڼه غوره کړي، د تغيير او بدلون له مختلفو پړاوونو تېريږي او له يوه حالت بل ته اوړي، ورو ورو وده کوي او په پای کي د يوه بشپړ ماشوم هيئت غوره کړي. د انسان د پيدايښت لومړۍ نطفه د مور په زيلنځ کي جوړه شي، د زيلنځ له منځه د هغه خولې ته انتقال شي او هلته د زيلنځ او رحم تر منځ د هغې لاري په خوا کي د القاح لپاره منتظر او تم شي چي د رحم په لوري درومي، له القاح وروسته د رحم په لوري وخوځيږي، هلته داسي کڅوړه ترې راتاو شي چي د ملا (پېروان) په نامه يادېږي، دلته تر هغه پاته وي چي د زېږېدو نېټه ئې راورسيږي. نو د انسان لومړنی نطفه د مور په بدن کي دقيقاً په دريو تياره ځايونو (زيلنځ، د زيلنځ او رحم تر منځ او رحم) کي تم کيږي، په هر موقعيت کي د هغه جوړښت او خلقت تر بل توپير لري، دا درې بېل بېل موقعيتونه او په هر يوه کي د نطفې بېل بېل حالتونه هغه مهال انسان ته جوت شول چي د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته وتوانېدو د نطفې د جوړښت مختلف مراحل وګوري، تر دې وړاندي ئې ګمان دا وو چي نطفه په رحم کي جوړيږي او همدلته وده کوي او بشپړ ماشوم ترې جوړيږي، زموږ مفسرينو هم دا آيت چي يقيناً د قرآن يو ستر علمي اعجاز ګڼل کيږي داسي تعبيرولو چي ګواکي دا درې تيارې د نس، رحم او پېروان

(ملا) جدارونه او د هغوی تر شا تیارې دي. خو د قرآن الفاظ داسي دي چي وايي: تاسو د خپلو ميندو په بطن كي په دريو تيارو كي، يو په بل پسي پيدايښت سره پيدا كوي،... يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖۚ او دا له شك پرته همغه علمي حقيقت ته اشاره كوي چي انسان اوس پرې پوه شوی.

إِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمۡۖ وَلَا يَرۡضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلۡكُفۡرَۖ وَإِن تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ لَكُمۡۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٧

كه كافر شئ نو يقيناً چي الله له تاسو بې نياز دئ، او خپلو بندگانو ته دا كفر نه خوښوي، او كه شكر وكړئ نو درته خوښوي ئې، او هيڅ بار وړونكی د بل بار نه وړي، بيا مو د خپل رب په لوري ببرته گرځېدا ده نو په هغه څه به مو پوه كړي چي تاسو كول، يقيناً چي هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ.

(٧)- دا مبارك آيت وايي: كه د الله تعالى په اړه كافر شئ او د الهي نعمتونو ناسپاسي وكړئ نو پوه شئ چي الله تعالى له تاسو او ستاسو له لمانځني، عبادت او شكر كولو بې نياز دئ، خپلو بندگانو ته دا كفر او ناسپاسي نه خوښوي، او كه شكر وكړئ نو درته خوښوي ئې. په دې هم پوه شئ چي هيڅ بار وړونكی د بل بار نه شي وړي، هيڅوك نه شي كولی د كوم مجرم د گناهونو او جرمونو پېټی سپك كړي او سزا ئې راكمه كړي، د ټولو ببرته گرځېدا د خپل رب په لوري ده، په هغه څه به تاسو پوه كړي چي كول مو، الله تعالى نه يوازې ستاسو په پټو او څرگندو عملونو پوه دئ بلكي ستاسو د سينو له اسرارو او ستاسو له عزائمو او موخو خبر دئ.

وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَا رَبَّهُۥ مُنِيبًا إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعۡمَةٗ مِّنۡهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدۡعُوٓاْ إِلَيۡهِ مِن قَبۡلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِۦۚ قُلۡ تَمَتَّعۡ بِكُفۡرِكَ قَلِيلًاۖ إِنَّكَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ ٨

او كله چي انسان ته كوم كړاو ورسېږي نو خپل رب ته په داسي حال كي دعاء كوي چي ده ته په پر له پسې توگه انابت كوونكی وي، بيا كله چي له خپل لوري كوم نعمت پرې

ولوروي نو هغه څه هېر كړي چې تر دې وړاندي ئې د هغه په اړه دعاء كوله او الله ته سيالان جوړ كړي چې نور د الله له لاري پرې تېرباسي، ووايه: په خپل كفر سره لږ شانته برخمن شه، يقيناً چې ته د اور له خاوندانو يې.

(۸)- په دې مبارك آيت كي ويل شوي: د الله تعالى لمانځنه او له هغه مرسته غوښتل د انسان د فطرت غوښتنه او د ده د ضمير غږ دئ، دا غوښتنه او غږ هغه مهال خپل ځان وښيي او راڅرګند شي چې انسان له كوم كړاو سره مخامخ شي، وايي: كله چې انسان ته كوم كړاو ورسېږي نو خپل رب ته په داسي حال كي دعاء كوي چې ده ته په پر له پسې توګه انابت كوونكى وي، د فطرت دا نداء د نعمتونو د وفرت له كبله خفه شي، سوكالي او د شتمنيو او امكاناتو وفرت د انسان پر زړه او ضمير تياره پرده وغوړوي، د نعمت قدر او ارزښت او د منعم قدرونه او پاس ترې هېر كړي، همغسي لكه چې دا آيت وايي: بيا كله چې له خپل لوري كوم نعمت پرې ولوروي نو هغه څه هېر كړي چې تر دې وړاندي ئې د هغه په اړه دعاء كوله، يعني د نعمتونو وفرت د ده فطري حالت اغېزمن كړي، اصلي منعم ترې هېر كړي، ناسپاس او ناشكر بنده ترې جوړ كړي، حتى كار ئې هغه ځاى ته ورسوي چې خپل حقيقي مولا او منعم رب ته سيالان جوړ كړي، نه يوازي بې لاري شي بلكي د نورو تېر ايستلو او بې لاري كولو ته ملا وتړي!! ده ته ويل شوي: په خپل كفر سره لږ شانته برخمن شه، يقيناً چې ته د اور له خاوندانو يې، پايله دي د دوزخ په اور كي پربوتل دي.

أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ ٱلْأَٰخِرَةَ وَيَرْجُواْ رَحْمَةَ رَبِّهِۦ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٩﴾ قُلْ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمْ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُواْ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ وَأَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾

آيا هغه چې د شپې له لوري په داسي حال كي سجده كوونكى او قيام كوونكى وي چې (خپل رب ته) قانت (غاړه ايښودونكى) وي، له آخرت وېرېږي او د خپل رب د رحمت هيله لري، ووايه: آيا هغه چې پوهېږي او هغه چې نه پوهېږي سره برابر دي، يقيناً چې يوازي عقلمن وګړي پند اخلي، ووايه: اې زما هغو بندګانو چې ايمان ئې راوړى! له خپل رب ووېرېږئ، هغه چې ښېګڼه ئې كړې په دنيا كي به ئې ښېګڼه په برخه شي، او د الله زمكه پراخه ده، يقيناً چې صبرناكو ته د دوى پوره پوره اجر په بې حسابه توګه وركول كېږي.

(۹-۱۰)- په دې مباركو آيتونو كي له يوې خوا يوه داسي څرګنده پوښتنه زموږ په وړاندي

ځلېږي چي ځواب ئې څرګند دئ او هغه دا: آيا هغه چي د شپې له لوري په داسي حال کي سجده کوونکی او قيام کوونکی وي چي خپل رب ته قانت او غاړه ايښودونکی وي، له آخرت وېرېږي او د خپل رب رحمت ته هيله لري، او هغه چي پوهېږي له هغو سره برابر دي چي نه پوهېږي او دا ځانګړتياوي نه لري؟!! د دې پوښتني ځواب څرګند دئ، د هيڅ معيار له مخي دا دواړه نشي سره برابرېدی، دا دواړه ډلي نه د شخصيت له پلوه سره برابرېدی شي او نه د خپلو کړنو له پلوه، يو به هرو مرو نېك وي او له ګناه، ظلم او د بل پر حق له تېري به ډډه کوي او بل به له دغو ټولو وړتياوو او ځانګړتياو محروم وي، له بلي خوا ويل شوي چي يوازي عقلمن وګړي پند اخلي، له بلي خوا هر مؤمن ته د الله تعالی له لوري او د رسول اللهﷺ له لاري دا ښکلي ډاډېينه ورکړی شوې: اې زما هغو بندګانو چي ايمان ئې راوړی! له خپل رب ووېرېږئ، هغه چي ښېګڼه ئې کړې په دنيا کي به ئې ښېګڼه په برخه شي، که د ايمان او تقوی له کبله خپل وطن پرې تنګ او هجرت ته اړ شو نو د الله تعالی زمکه به پراخه وموموي او په بلې سيمي کي به د ډاډمن ژوند او په ډاډه زړه د خپل رب د لمانځني امکانات ترلاسه کړي، الله تعالی له خپلو صبرناکو بندګانو سره دا وعده کړې چي د دوی بشپړ اجر به په دنيا او آخرت کي ورکوي، هغه هم داسي چي تر خپل ټاکلي حق به ډېر زيات او په بې حسابه توګه د خپلو عملونو اجر ترلاسه کوي.

قُلۡ إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرۡتُ لِأَنۡ أَكُونَ أَوَّلَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٢﴾ قُلۡ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٣﴾ قُلِ ٱللَّهَ أَعۡبُدُ مُخۡلِصٗا لَّهُۥ دِينِي ﴿١٤﴾ فَٱعۡبُدُواْ مَا شِئۡتُم مِّن دُونِهِۦۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٥﴾ لَهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ ظُلَلٞ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحۡتِهِمۡ ظُلَلٞۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥۚ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ﴿١٦﴾

ووايه: يقيناً چي زه الله په داسي حال کي لمانځم چي ديانت مې ورته سوچه کړی، او پر دې ګمارل شوی يم چي د مسلمانانو لومړی وم، ووايه: يقيناً چي زه د لويي ورځي له عذاب وېرېږم که د خپل رب سرغړاوی وکړم، ووايه: الله په داسي حال کي لمانځم چي خپل دين ورته سوچه کوونکی يم، نو تاسو هغه څه ولمانځئ چي له ده پرته مو (د هغه لمانځل) غوښتي، ووايه: يقيناً چي زيانمنان هغه دي چي خپل ځان او خپل اهل ته ئې د قيامت په ورځ زيان رسولی، پام چي همدا څرګند زيان دئ، دوی ته به له پاسه ئې هم د اور چتری وي او له لاندي ئې هم چترئ، دا همغه څه دي چي الله خپل بندګان پرې وېروي، نو اې زما بندګانو! له ما ووېرېږئ.

(۱۱-۱٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- رسول اللهﷺ ته ویل شوي چې خپلو مخاطبینو ته ووایي: زه الله تعالی په داسي حال کي لمانځم چي دیانت مي ورته سوچه کړی، په بشپړه توگه په الهي دین کي ننوتم یم، نه غواړم زما د ژوند په کومي برخي کي بل دین سیوری وغوړوي، له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټیټ کړم او وئې لمانځم. زه د الله تعالی له لوري پر دې گمارل شوی یم چي د الهي اوامرو په وړاندي لومړی مسلمان او غاړه اېښودونکی وم، په اطاعت او بندگۍ کي تر نورو وړاندي وم او تر هیڅا شاته پاته نه شم. زه د قیامت د لویي ورځي له عذاب وېرېږم، په دې باور یم چي که د خپل رب له اوامرو سرغړاوی وکړم نو د قیامت د ورځي له ستر عذاب سره مخامخ کېږم. زه الله تعالی په داسي حال کي لمانځم چي خپل دین ورته سوچه کوونکی یم، نو تاسو هغه څه ولمانځئ چي له ده پرته ئې لمانځل غواړئ. یقیناً چي هغه خلك زیانمن دي چي خپل ځان او خپل اهل ته ئې د قیامت په ورځ زیان رسولی، پام چي همدا څرگند زیان دئ، د قیامت په ورځ به د اور لمبو احاطه کړي وي، له پاسه او له لاندي به ئې د اور لمبې وي، الله تعالی خپل بندگان له داسي بد برخلیك وېروي او سپارښتنه ورته کوي چي د کفر او شرك له بدو پایلو ځان وساتئ او له خپل رب ووېرېږئ.

وَٱلَّذِينَ ٱجۡتَنَبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعۡبُدُوهَا وَأَنَابُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰۚ فَبَشِّرۡ عِبَادِ ﴿١٧﴾ ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٨﴾

او هغه چي له طاغوت ئې له دې پلوه ځان لري وساتو چي بندگي ئې وکړي او د الله لوري ته ئې انابت وکړ؛ دوی ته زېری دئ، نو زما هغو بندگانو ته زېری ورکړه چي وینا ته غوږ ږدي او تر ټولو د غوره خبري متابعت کوي، دوی هغه خلك دي چي الله هدایت کړي او همدا دوی عقلمن دي.

(۱۷-۱۸)- په دې مبارکو آیتونو کي د هغو مؤمنانو څو ځانگړتیاوي انځور شوې چي د الله تعالی له لوري زېری ورکړی شوی:

- د طاغوت په وړاندي له سر ټیټولو ډډه کوي. د قرآن له نظره طاغوت هغه څوك دئ چي د لمانځني او اطاعت له پلوه د الله تعالی سیال او ند وگڼل شي او د هغه سلطه او حاکمیت ومنل شي، پر سرکښ نفس، شیطان، بُت او هر هغه حاکم ئې اطلاق کېږي چي انسان هغه ته سر ټیټوي.
- تل او د ژوند په ټولو چارو کي د الله تعالی لوري ته انابت کوي.
- وینا ته غوږ ږدي او تر ټولو د غوره خبري متابعت کوي.
- دوی هغه خلك دي چي الله هدایت کړي او همدا دوی عقلمن دي.

لکه چې ګورئ قرآن هغه څوك هدايت شوی او عقلمن ګڼي چې د نورو څانګړتياوو تر څنګ دا صفت هم لري چې د بل خبره په سړه سينه اوري او تر ټولو غوره او صحيح رأيه او خبره مني او متابعت ئې کوي. حقيقت دا دئ چې د يوې موضوع په اړه بېل بېل نظريات اورېدل او په شفاف ذهن سره تر ټولو صحيح وينا غوره کول د مؤمنو او عقلمنو انسانان کار دئ، کمعقله او کمعلمه انسانان نه د بل رأيي اورېدلو حوصله لري او نه د غوره رأيي د تشخيص او پېژندلو او د هغې د متابعت اهليت. حقيقت هغه وخت ښه څرګندېدلی شي چې د خپل معارض او ضد تر خوا کېښودل شي، د حق پلويان له مناقشې او له مخالفو نظرياتو وېره نه لري، بلکې دا يو ضرورت ګڼي او په پراخه ټنده او سړه سينه ئې اوري، دا د باطل خاصيت دئ چې په تياره کې او يوازې خوښ وي، د مقابلې او مناقشې توان او جرأت نه لري، حقيقت خو د مؤمن ورکه متاع ده، مؤمن د هرې خبرې د اورېدو حوصله لري، مؤمن ټولې خبرې اوري بيا ئې له منځه حق انتخابوي او هغه څه مني او متابعت ئې کوي چې حق وي.

أَفَمَنۡ حَقَّ عَلَيۡهِ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِي ٱلنَّارِ ﴿١٩﴾

نو آيا هغه چې په اړه ئې د عذاب وينا محققه شوې نو آيا ته هغه څوك ژغورلی شې چې په اور کې (پرېوتی) دئ.

(۱۹)- دا مبارك ايت وايي: ځينې په ګناه کې داسې غرق شي او د شرك او کفر په ګنده ډنډ کې داسې ونښلي چې وتل ورته ګران او الهي عذاب ئې محتوم برخليك شي، رسول اللهﷺ ته ويل شوي چې ته نه شې توانېدی داسې خلك له خپل قطعي او محتوم برخليك وژغورې، د دوی په اړه ستا زړه سوی او د دوی د هدايت تلوسه ګټه نه لري، مه خپل وخت پرې ضايع کوه او مه زياته اندېښنه لره.

لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ غُرَفٞ مِّن فَوۡقِهَا غُرَفٞ مَّبۡنِيَّةٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ ٱلۡمِيعَادَ ﴿٢٠﴾

خو هغه چې له خپل رب وېرېدلي؛ دوی ته داسې ماڼۍ دي چې له پاسه ئې نورې جوړې شوې ماڼۍ دي، ترې لاندې ويالې بهېږي، د الله وعده، الله له وعدې تخلف نه کوي.

(۲۰)- د مخکنۍ ډلې په مقابل کې ځينې نور داسې دي چې له خپل رب وېرېږي، دغه وېره او تقوی به داسې جنتونه ورپه برخه کړي چې ماڼۍ به ئې يوه د بلې له پاسه وي، په ځانګړې بڼې او شکل کې جوړې شوې، ويالې به ترې لاندې بهېږي، دا د هغه الله تعالی له لوري حتمي ترسره کېدونکې ژمنه ده چې هيڅکله له خپلې وعدې تخلف نه کوي.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ يُخۡرِجُ بِهِۦ

زَرۡعٗا مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا ثُمَّ يَجۡعَلُهُۥ حُطَٰمًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢١﴾

آیا پام دي نه دئ کړی چي الله له آسمانه هغه اوبه ورولې چي په زمکي کي ئې د چينو په توگه ننايستې، بيا په همدې سره هغه کښت راباسي چي رنگونه ئې ډول ډول دي، بيا وچ شي نو ته ئې زېړبخن گورې، بيا ئې مات مات کړي، يقيناً چي په دې کي حتماً عقلمنو ته ځانگړی پند دئ.

(۲۱)- دلته د خلکو د هدايت او عدم هدايت په اړه د الله تعالی سنت له هغه باران سره تشبيه شوی چي د الله تعالی په حکم له آسمانه ورېږي، چينې ترې جوړې شي، په همدې سره له زمکي ډول ډول او رنگ رنگ بوټي راوټوکېږي، د وخت په تېرېدو سره وچ شي، مخکني رنگونه ئې ستا له سترگو پټ شي او ټول ئې زېړبخن گورې، بيا ئې مات مات کړې. د الله تعالی له لوري د خلکو د لارښوونې لپاره د کتاب لېږنه دې ته ورته ده، په شفافو سينو کي ځای ونيسي، مړه زړونه پرې ژوندي شي، په ټولني کي د سترو سترو شخصيتونو او ښېرازه څېرو د راټوکېدو باعث شي، يو دور او نسل پای ته ورسېږي او بل ئې ځای ونيسي، دا لړۍ همغسې ده لکه چي په طبيعت کي موسمونه بدلېږي، يو درومي بل ئې ځای نيسي، له ژمي وروسته پسرلی راشي او په باران سره له مړې زمکي ښېرازه بوټي راوټوکېږي. يقيناً چي په دې کي حتماً عقلمنو ته ځانگړی پند دئ.

أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٖ مِّن رَّبِّهِۦۚ فَوَيۡلٞ لِّلۡقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ كِتَٰبٗا مُّتَشَٰبِهٗا مَّثَانِيَ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمۡ وَقُلُوبُهُمۡ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٍ ﴿٢٣﴾

نو آيا هغه چي الله ئې د اسلام په لوري سينه ورته پرانيستې ده او هغه د خپل رب له رڼا برخمن دئ، نو افسوس د هغو پر حال چي زړونه ئې د الله د ذکر په اړه سخت دي، همدا دوی په څرگندې تېروتنې کي دي، الله هغه ذات دئ چي تر ټولو غوره وينا ئې د داسې کتاب په توگه لېږلې چي سره ورته بيا بيا راغلي، د هغو وگړو پوستکي ورته ځيږ کېږي چي له خپل رب وېرېږي، بيا ئې پوستکي او زړونه د الله د ذکر په لوري مايل او نرم شي، همدا هغه الهي هدايت دئ چي الله هغه څوک پرې هدايتوي چي دی ئې

غواړي، او هغه چې الله ئې بې لارې کړي نو هيڅ لارښود ئې نشته.

(۲۲-۲۳)- دلته بله هغه ډله په ګوته شوې چې د هيڅ انساني معيار له پلوه د دوی مقابل لوری ورسره برابري نه شي کولی، هغه چې الله تعالی د هغوی د زړه دړه د اسلام په لوري پرانيستې ده او د خپل رب له لوري ئې رڼا په برخه شوې، د دوی مقابل لوری هغه سخت زړي دي چې د الله تعالی له ذکر د غفلت له کبله د دوی زړونه سخت شوي، د دوی بد حال، مړ ضمير او بې احساسه وجدان د افسوس وړ دئ، دوی په څرګنده توګه لاورکي دي. د دغو لاورکو او سخت زړو د عدم ايمان وجه دا نه ده چې د الله تعالی اغېزمن کتاب د پند، تأثير او اغېز له پلوه دومره ځواکمن او مؤثر نه دئ چې د دوی د سختو زړونو دړه پرانيزي، نه؛ د دوی د زړه زمکه داسې شوره او شګلنه ده چې د هيڅ بوټي د راټوکېدا وړتيا په کې نشته، د پسرلي ښکلی باران به دې شاړې زمکې ته څه ګټه ورسوي؟!! الله تعالی داسې اغېزمن کلام لېږلی چې نه د محتوی له پلوه کومه وينا ورسره برابري کولی شي او نه د اغېزله پلوه، د داسې کتاب په بڼې کې چې ټول مضامين ئې د لوړې او په زړه پورې محتوی او اغېزمن اسلوب له پلوه سره ورته دي، نه څوك کوم اختلاف په کې موندلی شي او نه د شك کوم مورد، د خپلو مخاطبينو د استعدادونو او سليقو توپيرونو ته په پام سره ئې خپل مطالب کله په يوه صيغه او کله په بلې صيغې بيان کړي، د لوړو استعدادونو خاوندان د خپل لوړ ظرفيت په کچه ترې خړوبېږي او د ټيټو استعداونو او ظرفيتونو خاوندان په خپله کچه، اغېزناك بيان ته ئې د هغو وګړو پوستکي ځيږ شي چې له خپل رب وېرېږي، خو همدا ځيږ شوي پوستکي او پوړېدونکي زړونه ئې د الله تعالی په همدې ذکر سره نرم، آرام او ډاډمن شي، همدا هغه الهي هدايت دئ چې د بختورو په برخه کېږي، هغه چې الله تعالی د هدايت وړ موندلي او دا سعادت ئې ورپه برخه کړی. او هغه چې د الهي معيارونو په تلې کې د هدايت وړ نه دي او د دوی سختو زړونو ته په پام سره الله تعالی له دې سعادت محروم کړي هيڅ لارښود نه شي موندلی او هيڅوك ئې نه شي هدايت کولی.

أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۚ وَقِيلَ لِلظَّـٰلِمِينَ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾

نو آيا هغه چې د قيامت په ورځ به په خپل مخ سره له بد عذاب ځان ساتنه کوي، په داسې حال کې چې دغو ظالمانو ته به وويل شي: د هغه څه خوند وڅکئ چې تاسو ترلاسه کول.

(۲٤)- د ظالمانو هغه ډله به له جنتيانو او متقيانو سره څنګه برابره ګڼل کېږي چې د قيامت په ورځ به ئې حالت داسې وي: د دوزخ لمبو به احاطه کړي وي، د لمبو دفع کولو لپاره به هيڅ څه په واك کې نه لري او له دې پرته به بل څه نشي کولی چې خپل مخ يوې خوا بلې خوا ته واړوي، په همدې حالت کې به هغوی ته ويل کېږي: د هغه څه خوند وڅکئ چې تاسو کول.

كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَأَتَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ
ٱلۡخِزۡيَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾

هغو هم تكذيب كړل چي تر دوی وړاندې ول چي له كبله ئې هغه عذاب په داسي توگه ورغی چي تصور ئې نشو كولی، نو الله د دنيا سپك عذاب وروڅكلو او د آخرت عذاب حتماً تر هغه ستر دئ، كاش پوهېدی.

(۲۵-۲٦)- دا مبارك آيت وايي: تر دغو منكرينو وړاندي د دوی سلف هم د تكذيب او له حق سره د مخالفت لار غوره كړه، د دوی د تكذيب سزاء دا وه چي په الهي عذاب په داسي توگه اخته شول چي دوی ئې تصور هم نشو كولی، په دنيا كي له سپكاوي سره مخامخ شول، عذاب ئې داسي وو چي ذلت او سپكاوی ئې ورپه برخه كړ او په آخرت كي به تر دې ستر عذاب سره مخامخ كېږي، كاش پوهېدی.

وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ لَّعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرۡءَانًا
عَرَبِيًّا غَيۡرَ ذِي عِوَجٖ لَّعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾

او يقيناً چي خلكو ته مو په دې قرآن كي هر ډول مثال بيان كړی په دې موخه چي پند واخلي، داسي عربي قرآن چي هيڅ كوږوالی نه لري، ښايي ځان ساتنه وكړي.

(۲۷-۲۸)- دا مبارك آيت وايي: الله تعالی د خلكو د پوهاوي لپاره په قرآن كي ډول ډول مثالونه بيان كړي، په هغه قرآن كي چي هره وينا ئې شفافه، صفا او واضح ده، په هيڅ وينا كي ئې ابهام، اغماض او كوږوالی نه شته، د كتاب د لېږني موخه دا ده چي خلك پند واخلي او له هغه څه ځان ساتنه وكړي چي له بدو پايلو سره ئې مخامخ كوي.

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلٗا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلٗا سَلَمٗا لِّرَجُلٍ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ
مَثَلًاۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٩﴾

الله د داسي يوه سړي مثال بيان كړی چي په خپلو كي شخړه كوونكي شريكان (مالكان) ئې وي او د داسي سړي چي په بشپړه توگه د يوه كس وي؛ آيا دا دواړه د مثال له پلوه سره برابر دي؟! ستايني ټولي الله ته دي، خو د دوی ډېری نه پوهيږي.

(۲۹)- په دې مبارك آيت كي د يوه مشرك او يوه موحد انسان حالت د دوو ښكليو مثالونو په ترڅ كي بيان شوی، مشرك له هغه غلام سره تشبيه شوی چي مالكان ئې ډېر وي، ټول ئې

بدخلق او په خپلو منځونو کي په شخړو بوخت، هر يو ئې دا غلام خپل اطاعت او خدمت ته بلي او دا نه خوښوي چي د بل مالك او آقا خدمت وکړي، طبيعي ده چي داسي غلام به تل لالهاند او په اضطراب او پرېشانۍ کي وي، د يوه کار او يوې موضوع په اړه به بېل بېل احکام ترلاسه کوي، يو به ئې په کولو ګماري او بل په نه کولو، يو به ئې جائز ګڼي او بل ئې ناجائز، يو به ئې په يوه لوري د تګ امر ورته کوي او بل ئې په بل لوري!! په مقابل کي ئې موحد او خداپپال انسان له هغه غلام سره تشبيه شوی چي په بشپړه توګه د يوه کس وي، دوهم مالك او آقا نه لري، طبيعي ده چي داسي انسان به له هغه اضطراب او پرېشانۍ خوندي وي چي مشرك انسان ورسره مخامخ وي، آيا دا دواړه د حالت او وضعيت له پلوه سره برابر دي؟! هيڅ علقمن انسان دا دواړه برابر نه شي ګڼلی. دې ته مو بايد پام وي چي د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دلته د (فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَـٰكِسُونَ : په خپلو کي شخړه کوونکي شريکان (مالکان) ئې وي) معنی بُتان نه؛ بلکي د انسان په څېره کي هغه معبودان دي چي مشرك انسان ئې سپېڅلي ګڼي او د هغوی اطاعت کوي، ځکه بُتان نه په خپلو کي شخړي کوي او نه اوامر صادروي، قرآن هر هغه څوك د جعلي معبود په نامه يادوي چي انسان ئې له الله تعالی پرته لمانځي او د هغه اطاعت کوي، که دا د ده نفس وي، که شيطان او که د ده په څېر کوم انسان.

په دې مثال کي چي کوم حقيقت ته اشاره شوې د قرآن په نورو ځايونو کي هم دا حقيقت څېړل شوی خو په بېلو بېلو الفاظو او بېل بېل اسلوب سره، دا مطلب د يوسف په سوره کي او خپلو زنداني ملګرو ته د يوسف صلعم د وينا په ترڅ کي داسي راغلی: ... موږ ته نه ښايي چي له الله سره کوم څه شريك کړو، دا پر موږ او پر ټولو خلکو د خدای يو فضل او پېرزوينه ده؛ خو اکثر خلك شکر نه کوي، (يعني دا د الله تعالی لويه پېرزوينه ده چي موږ ته ئې فرمايلي: له الله پرته بل چا ته سر مه ټيټوئ او بل ته لاس لمن مه اوږدوئ)، د زندان ملګرو! آيا ډول، ډول اربابان غوره دي او که يو غالب خدای چي (پر ټولو کائناتو) مسلط دئ؟ له ده پرته خو تاسو د داسي څه عبادت کوئ چي هسي څو نومونه دي چي تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، الله هيڅ دليل ورته نه دئ نازل کړی، حکم (صادرول) خو يوازي الله لره دئ، امر ئې کړی چي له ده پرته د هيچا عبادت مه کوئ، سم او سيده دين همدا دئ، خو ډېری خلك نه پوهېږي.

يعني يوسف صلعم خپلو ملګرو ته وايي: له ذلت او سپکاوي د خلاصون يوازينۍ لار دا ده چي له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټيټ نه کړو، له شرك ډډه وکړو، يوازي په همدې سره د الله تعالی عنايت او فضل زموږ او د ټولو انسانانو په برخه کېدی شي، الله تعالی په خپل دې پرېکنده او قاطع حکم او امر سره چي له ده پرته هيچا ته د بندګۍ سر ټيټ نه کړو او هيچا ته د احتياج او نيازمندۍ لاس اوږد نه کړو، پر موږ لويه پيرزوينه کړې ده، خپل خاص احسان او فضل ئې زموږ په برخه کړی او زموږ سرلوړي او عزت ئې غوښتی دئ. خو ډېر انسانان د دې الهي احسان او ستر نعمت پاس نه ساتي، د شرك په ګنده ډنډ کي لوېږي او په همدې سره ئې ذلت او سپکاوی په برخه کېږي، څوك چي د زمکي او آسمانونو د يوازيني پالونکي رب له

عبادته ډېره وکړي، د ډول ډول اربابانو او دروغجنو خدايانو د بندګۍ په دام کي پرېوځي، د هغه چا په څېر شي چي د کومي رسۍ په وسيله پورته تللی خو د لاري په نيمايي کي نابېره رسۍ شلېدلې، له بره سره ئې اړيکي غوڅي شوي، راپرېوتی، يا د ښکاري مرغانو منګولو کي ګېر شوی او يا توندو سيليو پر سر اخيستی او په کومي ژوري کندي کي ئې غورځولی، آيا نه وينئ چي زموږ پر دې شرك وهلې او له الله تعالی بې خبري ټولني څومره ډول ډول اربابان حکومت کوي؟!! آيا غوره نه ده چي د دوی له ظالمانه واکمنۍ د نجات او خلاصون لپاره يوه خدای ته پناه يوسو او يوازي د هغه عبادت وکړو؟ له الله تعالی پرته ټول معبودان او هر هغه څه چي تاسو ئې لمانځئ، مرسته ترې غواړئ او پناه وروړئ، تش په نامه معبودان دي، هسي خوشي نومونه دي، هيڅ حيثيت نه لري، هيڅ نه شي کولی، په حقيقت کي دا تاسو او ستاسو پلرونه دي چي دوی مو په خاصو نومونو او القابو نومولي، داسي کرامات، ځانګړتياوي او خصوصيات مو ورته منسوب کړي چي په کي نشته، هسي ګومان کوئ چي ستاسو دعاګاني اوري، ستاسي مرسته کولی شي، ستاسي حاجتونه پوره کوي او دعاګاني مو قبلوي؛ په داسي حال کي چي نه د دې پراخي هستۍ په غېږکي داسي دليل تر سترګو کېږي چي الله تعالی شريك لري او نه په کوم الهي کتاب کي ويل شوي چي له الله تعالی پرته د بل عبادت، هغه ته سر ټيټول او له هغه مرسته غوښتل جائز دي، هغه څوك چي دا ادعاء او ګمان ئې کړی چي د دې عالم کوم څېز يا کوم څوك په الوهيت او ربوبيت کي د الله تعالی سيال او شريك دئ او الله تعالی هغه د هستي په اداره او د چارو په سمبالولو کي له ځان سره شريك کړی، ادعاء ئې پوچه او ګمان ئې بې بنسټه دئ، داسي چي په ټولي هستۍ کي به د دې ادعاء د اثبات لپاره کوم دليل وړاندي نه کړی شي!! هغه دين په ډېوال ووهئ او هيڅکله د الهي دين په سترګه مه ورته ګورئ چي شرك ته بلنه ورکوي. الله تعالی ټولواك دئ، د عالم د ساتلو او پاللو واګي ئې په لاس کي دي، د هر کار پرېکړه د ده له لوري کېږي، حکم او فرمان صادرول ده لره مختص دئ، پر ټول عالم د ده جل جلاله حکم نافذ دئ، په دې واکمنۍ او حکومت کولو کي هيڅوك ورسره شريك نه دئ. الله تعالی د قانون جوړولو او پرېکړو کولو صلاحيت او اختيار هيچا ته نه دئ ورکړی، بايد د ژوند په ټولو چارو کي له الله تعالی او د هغه له دين هدايت او لارښوونه تر لاسه کړو او د هغه له حکم او امر سره سم عمل وکړو. ستاسي د ټولني مطلق العنانه حاکمان ظالمان دي، له خپل حد او حق ئې تېری کړی او په خپلي دې ادعاء سره د شرك مرتکب شوي چي د قانون جوړول د دوی حق دئ. د الله تعالی دائمي او پرېکنده حکم دا دئ چي له ده پرته د بل څيز او بل چا عبادت مه کوئ، د بل چا له درشل او درباره وېره او طمع مه لرئ، له الله تعالی پرته هيچا ته د بندګۍ سر مه ټيټوئ او د فرمان او حکم اطاعت ئې مه کوئ، کوم مذهب او دين چي تا ته وايي: له غير الله مرسته غوښتل جائز دي؛ نو پوه شه چي دا دروغجن دين او کوږ اوږ مذهب دئ، داسي دين او مذهب چي فقط جاهل وګړي ئې په دام کي ښکار کېږي!!

دا مطلب د الحج د سورې په ۳۱ آيت کي په دې الفاظو راغلی:

حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِۦ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ

تَهۡوِي بِهِ ٱلرِّيحُ فِي مَكَانٖ سَحِيقٖ ﴿٣١﴾

الله ته مخه كوونكي په داسي حال كي چي د ده په اړه مشركين نه وي، او څوك چي د الله په اړه شرك وكړي نو دا داسي ده لكه چي له آسمانه راپرېوځي نو بيا ئې يا مارغان وتښتوي او يا ئې باد پر سر واخلي او په ژوري كندي كي ئې وغورځوي.

يعني څوك چي د الله په اړه شرك وكړي مثال ئې هغه چا ته ورته دئ چي د آسمان له لوړي لاندي راپرېوځي، نو يا ئې ښكاري مارغان وتښتوي او يا ئې باد پر سر واخلي او په ژوري كندي كي ئې وغورځوي. يعني يا د ټگمارو مذهبي مشرانو په منگولو كي پرېوځي، هم ئې دنيا تباه شي او هم ئې ايمان او يا د خرافاتو، جهل، سپكاوي او ذلت په ژورو كندو كي وغورځي.

د آيت په پاى كي ويل شوي چي ستايني ټولي الله ته دي، خو د دوى ډېرى نه پوهېږي. پوښتنه راولاړېږي چي د دې برخي ارتباط له مخكنيو سره څنگه دئ؟ په دې اړه ښېل ښېل تعبيرونه مومو خو تر ټولو غوره تعبير دا دئ: الله تعالى انسان ته لارښوونه كړې چي له شرك ډډه وكړي او له بدو پايلو ئې ځان وساتي، د اغېزمنو مثالونو په ترڅ كي ئې هغه ته د كفر او شرك بدي پايلي ښودلي، توحيد ته ئې بللى او په دنيا او آخرت كي ئې د توحيد نېكي پايلي د ده په وړاندي انځور كړې او په دې سره ئې پر ده لويه پېرزوينه كړې، د دې پېرزويني تقاضاء دا ده چي د خپل رب ستاينه وكړي او ووايي: الحمد لله: ستايني ټولي الله ته دي، خو د دوى ډېرى د دې ستر حقيقت له درك او پر هغه له اعتراف عاجز دي او نه پوهېږي.

إِنَّكَ مَيِّتٞ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمۡ تَخۡتَصِمُونَ ﴿٣١﴾

يقيناً چي ته هم مرې او دوى هم مري، بيا به تاسو د قيامت په ورځ حتماً د خپل رب په وړاندي په خپلو كي شخړه كوئ.

(٣٠-٣١)- په دې مبارك آيت كي رسول اللهﷺ ته ويل شوي چي ستا او ستا د مخالفينو تر منځ روانه مناقشه دائمي نه ده، ډېر ژر به پاى ته ورسېږي، ته هم مرې او دوى هم مري، او په دې سره دا لړۍ دلته او په دنيا كي پاى ته رسي خو بيا به تاسو ټول د قيامت په ورځ حتماً د خپل رب په وړاندي ودرېږئ او هلته به د دې مناقشې آخري پړاو او د هغې پايلي په خپلو سترگو وگورئ.

فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى ٱللَّهِ وَكَذَّبَ بِٱلصِّدۡقِ إِذۡ جَآءَهُۥٓۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّذِي جَآءَ بِٱلصِّدۡقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ

﴿٣٣﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٣٤﴾ لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ
عَنۡهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٣٥﴾

نو تر هغه چا به لوى ظالم څوك وي چي د الله په اړه ئې درواغ وويل، او رښتيني وينا ئې له هغه وروسته دروغ وګڼله چي ورته راغله، آيا د دغو كافرانو مېشت ځى به په دوزخ كي نه وي؟ او هغه چي رښتيا ئې راوړل او هغه ئې تصديق كړ همدا دوى متقيان دي، دوى ته د خپل رب په خوا كي هر هغه څه دي چي دوى ئې غواړي، همدا د نېكانو بدله ده، ترڅو الله له دوى هغه بد بد عملونه محو كړي چي دوى كړي او د هغه غوره عمل په تناسب بدله وركړي چي دوى كولو.

(٣٢-٣٥)- دلته بيا د يوه بل تقابل او مقايسي شاهد يو: يوې خوا ته تر ټولو ستر ظالم، هغه چي د الله په اړه دروغ وايي او هغه رښتينى او حق دين دروغ ګڼي چي د يوه رښتيني پيغمبر په لاس ورته راغلى، آيا له دغو كافرانو سره دوزخ نه ښايي او مناسب مېشت ځى به ئې په دوزخ كي نه وي؟ په مقابل كي ئې هغه چي رښتيا ئې راوړل او هغه ئې تصديق كړ، پيغمبر حق دين راوړ او مؤمنانو د ده په لاس راغلى حق دين تصديق كړ او ايمان ئې پرې راوړ، هغه چي متقيان دي، دوى ته به د خپل رب په خوا كي هر هغه څه وي چي دوى ئې غواړي، همدا د نېكانو بدله ده، او دا د دې لپاره چي الله تعالى غواړي د دوى له عملپاڼي هغه بد بد عملونه محو كړي چي دوى كړي او د هغه غوره عمل په پرتله بدله وركړي چي دوى كولو. يعني ګناهونه به ئې معاف كړي او د دوى د هغه عمل له مخي به بدله وركړي چي تر ټولو غوره وي.

أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا
لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ﴿٣٦﴾ وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّضِلٍّۗ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِعَزِيزٖ ذِي ٱنتِقَامٖ



آيا الله خپل بنده ته كافي نه دئ؟!! په داسي حال كي چي دوى دي له ده پرته په نورو سره وېروي، او الله چي څوك بې لارې كړي نو هيڅ لارښود ئې نشته، او الله چي څوك هدايت كړي نو هيڅ بې لارې كوونكى ئې نشته، آيا الله عزتمن غچ اخيستونكى نه دئ؟

(٣٦-٣٧)- دلته د مخكنيو مثالونو او بحثونو په ارتباط او د هغوى د يوې قطعي نتيجې په توګه پوښتنه شوې چي: آيا الله خپل بنده ته كافي نه دئ؟!! ستا مشركو مخالفينو الله تعالى هېر كړى او تا په خپلو دروغجنو معبودانو سره وېروي، دوى لارورکي دي، حالت ئې داسي دئ

چې د هدايت وړتيا او استعداد ئې خپل شوی، له همدې کبله الله تعالی د دوی د بې لاريتوب پرېکړه کړې، او الله تعالی چې څوك بې لاري کړي نو هيڅ لاربنود ئې نشته، او الله تعالی چې څوك هدايت کړي نو هيڅ بې لاري کوونکی ئې نشته، آيا له حق دين او د الله تعالی له پيغمبر سره د دوی مخالفت له هغې غلطې انګېرنې راولاړ شوی چې ګمان کوي الله تعالی له ظالمانو انتقام نه اخلي او سزا نه ورکوي؟ څومره غلطه انګېرنه او څومره کچه او ناسم ګمان!! په داسې حال کې چې الله تعالی عزتمن غچ اخيستونکی دئ.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَنِىَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوْ أَرَادَنِى بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَٰتُ رَحْمَتِهِۦ ۚ قُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ ۖ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٣٨﴾

او که ئې وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي؟ حتماً به ووايي: الله، ووايه: آيا پام مو نه دئ کړی چې که الله د کوم تاوان اراده راته وکړي هغه چې تاسو ئې (مرستې ته) دربلئ آيا دوی ئې د تاوان رفع کوونکي دي؟ او که د کومې پېرزوينې اراده راته وکړي آيا دوی ئې د پېرزوينې تموونکي دي؟ ووايه: الله راته کافي دئ، توکل کوونکي پر ده توکل کوي.

(٣٨)- دلته له مشرکينو د يوې داسې پوښتنې شاهد يو چې ځواب ئې څرګند دئ او د دوی د غلطو باورونو په بشپړه توګه ترديد کوي، پوښتنه دا ده: آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي؟ د دوی ځواب به حتماً دا وي: الله!! آيا له دې پرته بل ځواب درلودی شي؟ که بل ځواب نه لري او په ټول عالم کې داسې څه نه شي په ګوته کولی چې له الله تعالی پرته بل چا پيدا کړی وي؛ نو دوی څنګه داسې څوك او څه لمانځي چې د آسمانونو او زمکې د هيڅ څه په پيدا کولو کې هيڅ ونډه نه لري؟!! همداراز که ئې وپوښتې: که ما ته الله تعالی د کوم ضرر او تاوان اراده وکړي آيا هغه چې تاسو ئې لمانځئ او مرسته ترې غواړئ کولی شي د دې ضرر مخنيوی وکړي؟ او که د کومې پېرزوينې اراده راته وکړي آيا دوی کولی شي دا الهي پېرزوينه تم کړي؟ د دې پوښتنو يوازينی ځواب له دې پرته بل څه نشي کېدی چې: الله تعالی راته کافي دئ، له ده پرته د اعتماد، طمعې او توکل بله مرجع نشته، څوك چې غواړي په کوم ذات توکل وکړي نو له الله تعالی پرته د معتمد توکل بله مرجع نشي موندلی.

قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَٰمِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ مَن يَأْتِيهِ

عَذَابٌ يُخۡزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٤٠﴾ إِنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ لِلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾

ووایه: اې زما قومه! پر خپل خپل ځای (او کړنلارې) عمل وکړئ؛ زه هم عمل کوونکی یم، نو ژر به پوه شئ چې چا ته به داسې عذاب ورسېږي چې سپک به ئې کړي او تلپاتې عذاب به پرې راپرېوځي، یقیناً چې موږ په رښتینې توګه دا کتاب د خلکو لپاره پر تا نازل کړی، نو څوک چې په سمې لارې روان شي نو د ځان لپاره ئې ده، او څوک چې بې لارې شي نو د ځان په ضرر بې لارې کېږي، او ته پرې ذمه وال نه یې.

(۳۹-۴۱)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چې خپلو معارضو مخاطبینو ته ووايي: تاسو د خپلې کړنلارې مطابق عمل وکړئ؛ زه د خپلې تګلارې مطابق عمل کوم، ژر به په دې حقیقت پوه شئ چې چا ته به داسې عذاب ورسېږي چې سپک به ئې کړي او تلپاتې عذاب به پرې راپرېوځي، د خپلې کړنلارې بدې پایلې به هم په دنیا کې په خپلو سترګو وګورئ او هم په آخرت کې، په دنیا کې سپکوونکی عذاب او په آخرت کې تلپاتې عذاب. رسول الله ﷺ ته اطمئنان ورکړی شوی چې دا پر حقیقت مبني کتاب رښتینی الهي پیغام دئ چې د خلکو د لارښوونې لپاره پر تا نازل شوی، څوک چې دا کتاب ځان ته لارښود کړي او په رڼا کې ئې په سمې لارې روان شي نو د ځان په ګټه ئې کار کړی او څوک چې بې لارې شي او په کږو لارو سر شي د ځان په ضرر بې لارې کېږي، ته ئې د هدایت ذمه وال نه یې.

ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَاۖ فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾

الله له ساه لرونکو د مرګ په وخت کې ساه اخلي او له هغو چې مړه شوي نه وي د خوب په وخت کې، نو د چا چې د مرګ پرېکړه شوې وي ساه ئې له ځان سره ساتي او بله تر ټاکلې نېټې بېرته لېږي، بې شکه چې پدې کې فکر کونکو ته ډېرې نښې دي.

(۴۲)- دلته د الله تعالی د ربوبیت یو بل ځرګند مظهر د انسان د مرګ په بڼې کې زموږ په وړاندې ځلېږي، لکه څنګه چې د ژوبو پیدایښت د یوه ژوندي خالق د شته والي ځرګنده نښه

ده همدا راز د ژويو مرگ د هغه ذات د شته والي نښه ده چې د مرگ پرېکړه د هغه له لوري کېږي، هر انسان د مرگ په ليدلو سره خپل عقل پوښتي: د مرگ پرېکړه د چا له لوري کېږي؟ ولې ټول ژوي د دې پرېکړي په وړاندي مقهور او محکوم دي او سرغړاوی نه شي کولی؟ دا څواکمن ذات څوك دئ چې زما لاس پښې د مرگ په وړاندي تړي، له ما اختيار سلبوي او هڅې مې بې نتيجې گرځوي؟ په دې مبارك آيت کي دغو پوښتنو ته دا ځواب ويل شوی: الله تعالی هغه ذات دئ چې له ژوو د مرگ په وخت کي ساه اخلي او له هغو چې مړه شوي نه وي د خوب په وخت کي، نو د چا چې د مرگ پرېکړه شوې وي ساه ئې له ځان سره ساتي او بله تر ټاکلې نېټې بېرته لېږي، بې شکه چې پدې کي فکر کونکو ته ډېري نښې دي.

په دې مبارك آيت کي څو مهمي لارښووني شوې:

- خوب د مرگ يوه بيلگه ده، د آيت الفاظ صراحت لري چې د خوب په حالت کي هم د انسان روح له بدنه وځي، همغسي لکه د مرگ په حالت کي چې له بدنه وځي، خو داسي چې رابطه ئې له بدن سره په کامله توگه نه شلېږي بلکي رابطه ئې ورسره وي او بېرته ورستنېږي، له مرگ سره ئې توپير په دې کي دئ چې د مرگ په حالت کي ئې رابطه له بدن سره کاملاً شلېږي او بېرته نه ورستنېږي، د دې آيت له فحوی دا هم معلومېږي چې له مرگ وروسته د روح او بدن تر منځ رابطه قطع کېږي او الله تعالی د مړي روح د ده له بدن بېله له ځان سره ساتي. آيت وايي: خدای هم د مرگ په وخت کي د ساه لرونکو روح قبض کوي او هم د خوب په وخت کي، که ئې د مرگ پرېکړه شوې وي نو روح ئې ساتل کېږي او بل ته خپله روح تر ټاکلې نېټې بېرته ورگرځوي.
- د فکر خاوندان پدې خبري کي د حقائقو ډېري نښې گوري.

أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَۚ قُلۡ أَوَلَوۡ كَانُواْ لَا يَمۡلِكُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤٣﴾ قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعٗاۖ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ



آيا له الله پرته ئې شفاعت کوونکي غوره کړي؟ ووايه: که څه هم نه کوم شی په واك کي لري او نه تعقل کولی شي؟ ووايه: سپارښتنه په بشپړه توگه د الله (په واك کي) ده، د آسمانونو او زمکي واکمني د ده ده، بيا د ده لوري ته ستنول کېږئ.

(۴۳-۴۴)- په دې مبارکو آيتونو کي (توحيد) او (شرك) له يوه بله اړخه څېړل شوي، مشرکين د الله تعالی تر څنگ په داسي مزعوم مخورو ذواتو باور لري چې گمان کوي الله تعالی د هغوی سپارښتنو ته په پام سره پرېکړي کوي، که چا ته څه ورکوي نو د هغوی په سپارښتنه ئې ورکوي او که له چا څه سپموي نو د هغوی په سپارښتنه ئې سپموي، دوی د عالم د چارو په سمبالولو کي د رب العالمين شريکان دي، همغسي لکه پاچايان چې مشاورين،

وزيران او واليان لري!!! په دې مبارك آيت كي د دې شركي انگېرني د ترديد په اړه ډېر مضبوط او په زړه پوري استدلال شوی او ويل شوي: آيا له الله تعالی پرته ئې داسې شفاعت كوونكي غوره كړي چي يا خو د عالم هيڅ څه په واك كي نه لري او يا تعقل نشي كولی؟ يعني ستاسو شريكان يا په قبرونو كي پراته ذوات دي چي نه څه په واك كي لري او نه څه كولی شي، يا داسي جعلي معبودان چي ستاسو د وهم زېږنده دي چي نه د عالم د چارو په سمبالولو كي څه ونډه لري او نه د څه وركولو او سپمولو اختيار، يا هغه بُتان چي عقل او شعور هم نه لري!! بيا رسول اللهﷺ ته ويل شوي چي هغوی ته ووايي: سپارښتنه په بشپړه توگه د الله تعالی په واك كي ده، هيچا ته ئې د سپارښتني واك او اختيار نه دئ وركړی، دا پرېكړه يوازي د ده له لوري كېږي چي چا ته څه وركړي او څه تري وسپموي، هغه د آسمانونو او زمكي ټولواك دئ، هيڅ شريك نه لري، په پای كي د ده لوري ته ستنول كېږئ.

وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُ ٱشۡمَأَزَّتۡ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٤٥﴾

او كله چي الله په يوازي توگه ياد كړی شي نو د هغو زړونه كركه ښيي چي پر آخرت ايمان نه لري، او كله چي هغه ياد شي چي له ده پرته دي نو ناڅاپه به هغوی خوښي كوي.

(٤٥)- دا مبارك آيت وايي: د دغو مشركينو او په آخرت ايمان نه لرونكو حالت داسي دئ چي كله الله تعالی د يوازيني معبود په توگه ياد شي نو د دوی زړونه له كركي او نفرت ډك او د دې كركي آثار د دوی په څېرو كي راڅرگند شي او كله چي د دوی هغه جعلي معبودان ياد كړی شي چي دوی ئې له الله تعالی پرته لمانځي نو شيطان د دوی پر زړونو چونډې لگوي او خوښي كولو ته ئې هڅوي!!

قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ عَٰلِمَ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ تَحۡكُمُ بَيۡنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَوۡ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلۡعَذَابِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمۡ يَكُونُواْ يَحۡتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٤٨﴾

ووايه: اې د آسمانونو او زمكې پنځوونكيه! پر پټو او ښكاره وو پوه ذاته! دا ته ئې چې د خپلو بندګانو تر منځ په هغه څه كې پرېكړه كوې چې دوى په كې اختلاف كولو، او كه دغو ظالمانو ته ټول هغه څه وي چې په زمكې كې دي او ورسره دې ته ورته نور هم نو حتماً به ئې د قيامت په ورځ د بد عذاب په بدل كې فديه كړي، او د الله له لوري به هغه څه ورته جوت شي چې ګمان ئې نه كولو، او د خپلو لاسته راوړنو بدوالى به ورته جوت شي او هغه څه به پرې محقق شي چې ملنډې ئې پرې وهلې.

(٤٦-٤٨)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چې ووايي: اې د آسمانونو او زمكې پنځوونكيه! پر پټو او ښكاره وو پوه ذاته! دا يوازې ته ئې چې د خپلو بندګانو تر منځ به په ټولو هغو مواردو كې وروستۍ پرېكړه كوې چې دوى په كې اختلاف كولو.
- د قيامت په ورځ به د دغو ظالمانو حالت داسې وي چې كه د زمكې هر څه د دوى په واك كې وي او ورسره دې ته ورته نور هم نو حتماً به ئې د قيامت د ورځې د بد عذاب په بدل كې فديه كړي چې له عذاب وژغورل شي؛ خو ګټه به نه وررسوي.
- دوى ته به د الله تعالى له لوري ټول هغه څه جوت شي چې ګمان ئې نه كولو او هغه ئې محال ګڼل.
- دوى ته به د خپلو هغو لاسته راوړنو بدوالى هم جوت شي چې شيطان ورته ښايسته كړې وې.
- او هغه عذاب به ئې په برخه شي چې ملنډې ئې پرې وهلې او تش ګواښونه ئې ګڼل.

فَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنَٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍۭ ۚ بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٩﴾ قَدْ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٥٠﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ ۚ وَٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْ هَٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيبُهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ وَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥١﴾ أَوَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾

نو كله چې انسان ته كوم كړاو ورسېږي موږ بلي (دعاء راته كوي)، بيا كله چې له خپل لوري كوم نعمت ورپه برخه كړو وايي: دا خو يوازې د علم له مخې راكړى شوى، نه؛ بلكې دا خو يوه آزموينه ده خو د دوى ډېرى نه پوهېږي، يقيناً هغو هم دا خبره وكړه چې تر دوى وړاندې ول، نو هغو چې دوى ترلاسه كول كوم څه ترې دفع نه كړى شو،

نو د هغه څه بدوالی ورورسېدو چې دوی ترلاسه کړي ول، او له دغو چې چا ظلم کړی حتماً به د هغه څه بدوالی وروسېږي چې ترلاسه کړي ئې دي او دوی عاجزوونکي نه دي، آیا په دې نه دي پوه شوي چې الله هر چا ته چې دی ئې وغواړي رزق پراخوي او تنګوي، یقیناً چې په دې کې هغو وګړو ته ډېرې نښې دي چې ایمان راوړي.

(۴۹-۵۲)- د دې مبارکو آیتونو لاربښوونې دا دي:

- دلته له یوې خوا د انسان یوه فطري ضعف او کمزورۍ ته اشاره شوې، له بلې خوا همدا ضعف او کمزوري د توحید د یوې څرګندې نښې په توګه وړاندې شوې، او هغه دا چې کله انسان ته کوم کړاو ورسېږي الله تعالی ته د دعاء لاسونه لوړ کړي او له کړاو د ژغورنې هیله ترې کوي، بیا کله چې الله تعالی له خپل لوري کوم نعمت ورپه برخه کړي نو وایي: دا خو یوازې د علم له مخې راکړی شوی، د دې وینا یو تعبیر دا دئ چې: الله تعالی زما په وړتیاوو پوه دئ او زه ئې د دې نعمت وړ موندلی یم نو ځکه ئې دا نعمت راباندې پېرزو کړی، یعنې خپله شتمنې د خپلې وړتیا او ښه والي نښه ګڼي، او بل تعبیر ئې دا دئ چې دا نعمتونه خو زما د خپلې پوهې او هنر محصول دي نه د چا پېرزوینه او احسان!! دقیق تعبیر همدا دوهم تعبیر دئ، له وروستیو آیتونو هم معلومېږي چې مراد ئې همدا دئ. د ده دا انګېرنه غلطه ګڼل شوې او په ځواب کې ورته ویل شوي: داسې نه ده، بلکې دا خو یوه آزموینه ده، دا ستا د اهلیت او قابلیت بدله نه ده، ته په خپلو سترګو ګورې چې دا نعمتونه هم د باغي او ظالم انسان په واک کې دي او هم د صالح او مؤمن انسان په واک کې، چا له روا لارو ترلاسه کړي او چا له ناروا لارو، یو له مشروع او حلالو لارو دومره څه ترلاسه کوي چې خپله ګوزاره پرې کوي او بل له نامشروع او حرامو لارو دومره څه ترلاسه کوي چې پرې مست شي او پر نورو ظلم او تېري ته ئې وهڅوي، څوک ئې د خیر په چارو کې لګوي او څوک ئې د شر او فساد په چارو کې، دا ښیي چې دا نعمتونه د امتحان او آزموینې داسې وسیله ده چې الله تعالی خپل بندګان پرې آزمويي، خو د دوی ډېری نه پوهېږي، کله د انسانانو ظالمانه وېش الله تعالی ته منسوب کړي، کله د ظالم او مفسد په واک کې نعمتونه د هغه د ښه والي نښه وګڼي، کله له پراخو نعمتونو د صالح انسان محرومیت د هغه د بدوالي او شقاوت نښه بولي او قضاوت ئې دا وي چې الله تعالی د خپلو نعمتونو وړ نه دئ موندلی نو ځکه ئې له محرومیتونو سره مخامخ کړی، که څه هم پر هغه به د بل انسان له لوري ظلم شوی وي او د ده حقوق به ئې غصب کړي وي!!
- د الهي نعمتونو او پېرزوینو په اړه د مخکنیو مشرکینو انګېرنه هم دې ته ورته وه، د هغوی وینا هم د دوی په څېر وه، الهي پېرزوینې او نعمتونه ئې د خپل هنر، کمال او وړتیاوو محصول ګڼلو، خو لاسته راوړنو ئې کوم څه ترې دفع نه کړی شو، د خپلو لاس ته راوړنو بدې پایلې ئې ولېدې، کمال او هنر ئې دا مرسته ورسره ونه کړی شوه چې له بد برخلیک ئې وژغوري. له دې آیت په څرګنده توګه معلومېږي چې په مخکنیو دوو تعبیرونو کې دوهم تعبیر دقیق دئ او د بحث له موضوع سره زیاته همغږي لري. ځکه دا آیت وایي چې د دوی کسب څه ترې دفع نه کړی شو، یعنې دوی پر خپل هنر او کمال مغرور ول خو هیڅ ګټه ئې ورونه رسوله، د دې معنی دا ده چې د دوی په واک کې نعمتونه د دوی د کمال او هنر محصول نه،

بلكي د آزمويني په توګه وركړى شوي.

• د رسول اللهﷺ د مخاطبينو په ډلي كي به هم هغو ته چي ظلم ئې كړى حتماً د خپلو كړنو بدي پايلي ورسيږي، دوى نشي كولى د خپل زر او زور او مكر او تدبير په مټ د الهي عذاب مخنيوى وكړي.

• آيا دوى ته دا حقيقت نه دئ جوت شوى چي د رزق د پراخوالي او تنګوالي پرېكړه د هغه رزاق رب له لوري كيږي چي د رزق ټولي خزانې د هغه په واك كي دي، باران د ده په امر له آسمانه وريږي او دانه او مېوه د ده په حكم له زمكي راټوكيږي؟

• له بلي خوا د انسان دا فطري حالت چي د كړاوونو پر مهال الله تعالى ته مخه كوي، د هغه په وړاندي د احتياج لاس لوړوي او له كړاوونو د وتلو په اړه مرسته ترې غواړي ښيي چي پر الله تعالى ايمان د ده د فطرت غوښتنه ده، د ده د ضمير غږ دئ، د ده د عقل حكم دئ، كله چي له كبر او مستي ولويږي او فطري حالت ته راوګرځي نو فوراً خپل رب وريپه ياد شي او هغه ته مخه كړي، ځان هغه ته اړ ګڼي او مرسته ترې غواړي. د ۵۲ آيت وروستى فقره همدا مطلب افاده كوي چي وايي: يقيناً چي په دې كي هغو وګړو ته ډېري نښي دي چي ايمان راوړي.

قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ
ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝٥٣ وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ مِن
قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ۝٥٤ وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحۡسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم
مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ بَغۡتَةً وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ۝٥٥ أَن
تَقُولَ نَفۡسٌ يَٰحَسۡرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ۝٥٦
أَوۡ تَقُولَ لَوۡ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ۝٥٧ أَوۡ تَقُولَ حِينَ تَرَى
ٱلۡعَذَابَ لَوۡ أَنَّ لِي كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝٥٨ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَتۡكَ ءَايَٰتِي
فَكَذَّبۡتَ بِهَا وَٱسۡتَكۡبَرۡتَ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٥٩

ووايه: اې زما هغو بندګانو چي پر خپلو ځانونو ئې تېرى كړى! د الله له رحمت مه ناهيلي كيږئ، يقيناً چي الله ټول ګناهونه بخښي، يقيناً چي هغه مهربان بخښونكى دئ،

او د خپل رب لوري ته ستانه شئ او د ده په وړاندي تر هغه د مخه تسليم شئ چي عذاب درته راشي بيا مو كومه مرسته ونه كړى شي، او د هغه ډېر غوره څه متابعت وكړئ چي ستاسو د رب له لوري درته نازل شوي، تر دې وړاندي چي عذاب په داسي حال كي په ناڅاپي توگه درته راشي چي په خيال كي مو نه گرځي، داسي چي يو كس به وايي: زما پر حال دي له دې كبله افسوس وي چي د الله په خوا كي مي تېرى وكړ او يقيناً چي زه د ملندو وهونكو له ډلي وم، يا دا چي ووايي: كه الله هدايت كړى وى نو حتماً به د متقينو له ډلي وم، يا دا چي كله عذاب وگوري نو ووايي: كاش بېرته گرځېدا مي په برخه شي چي د نېكانو له ډلي شم، داسي نه ده؛ بلكي زما آيتونه په يقيني توگه درغلي ول خو تا هغوى درواغ وگڼل، لويي دي وغوښتله او د كافرانو له ډلي وې.

(٥٣-٥٩)- د دې مباركو آيتونو مهم مهم مطالب دا دي:

- رسول اللهﷺ ته سپارښتنه شوې چي د الله تعالى له لوري مؤمنانو ته ووايي: ١- اې زما هغو بندگانو چي گناه ئې كړې او په دې سره ئې پر خپلو ځانونو تېرى كړى! د الله له رحمت مه ناهيلي كېږئ، ٢- يقيناً چي الله تعالى ټول گناهونه بخښي، ٣- يقيناً چي هغه مهربان بخښونكى دئ، ٤- د خپل رب لوري ته ستانه شئ او د ده په وړاندي تر هغه د مخه تسليم شئ چي عذاب درته راشي بيا داسي څوك ونه مومئ چي ستاسو مرسته وكړى شي او له الهي عذاب مو وژغورلى شي.
- د هغو ډېرو غورو الهي ارشاداتو متابعت وكړئ چي ستاسو د رب له لوري درته نازل شوي، تر دې وړاندي چي عذاب په داسي حال كي په ناڅاپي توگه درته راشي چي په خيال كي مو نه گرځي.
- د دې الهي عذاب د راتلو په وخت كي به ځيني وايي: زما پر حال دي له دې كبله افسوس وي چي د الله تعالى په خوا كي مي تېرى وكړ او يقيناً چي زه د ملندو وهونكو له ډلي وم.
- ځيني نور به وايي: كه الله هدايت كړى وى نو حتماً به د متقينو له ډلي وم!!
- ځيني به هغه مهال چي عذاب وگوري وايي: كاش بېرته گرځېدا مي په برخه شي چي د نېكانو له ډلي شم.
- د هر يوه په ځواب كي به وويل شي: داسي نه ده؛ ستا وينا سمه نه ده، ستا هيلي نه شي ترسره كېدى، بلكي زما آيتونه درغلي ول خو تا هغوى درواغ وگڼل، لويي دي وغوښتله او د كافرانو له ډلي وې.

وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسۡوَدَّةٌۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٦٠﴾ وَيُنَجِّي ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ بِمَفَازَتِهِمۡ لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ

وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٦١﴾

او د قيامت په ورځ به هغه خلك چې د الله په اړه ئې دروغ ويلي وو وګورې چې مخونه به ئې تك تور وي، آيا د دغو كبرجنو (مناسب) مېشت ځاى دوزخ نه دئ؟ او الله به هغه چې تقوى ئې كړې د خپلو برياوو له امله وژغوري، داسې چې نه به په كوم كړاو اخته كيږي او نه به غمجن كيږي.

(٦٠-٦١)- په دې مباركو آيتونو كې د مشرك او موحد وضعيت د قيامت په ورځ داسې انځور شوى:

- د قيامت په ورځ به هغه خلك چې د الله تعالى په اړه ئې دروغ ويلي وو داسې ومومې چې مخونه به ئې تك تور وي، تور مخونه به ئې له ورايه هر چا ته وايي: له دغو كبرجنو سره دوزخ ښايي، د دوى مناسب مېشت ځاى دوزخ دئ.
- او هغه چې د تقوى لمن ئې كلكه نيولې وه الله تعالى به ئې له دې رسوايي وژغوري چې مخ ئې تور او مېشت ځې ئې دوزخ وي، نه به په كوم كړاو اخته كيږي او نه به غمجن كيږي.

د دې ژغورنې وجه به دا وي چې دوى په خپلې آزموينې كې بريالي شوي ول. دنيا د دوى د آزموينې ځاى، نعمتونه او محروميتونه ئې د آزموينې اسباب او ژوند ئې د دې الهي آزموينې فرصت وو، دوى په دې آزموينو كې د بريا له كبله له دې الهي ژغورنې او سعادت سره مخامخ شول.

ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴿٦٢﴾ لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٣﴾

الله د هر څه خالق دئ، او هغه پر هر څه وكيل (څارونكى) دئ، د آسمانونو او زمكې كلياني د ده دي، او هغه چې د الله د آيتونو په اړه ئې كفر كړى همدا دوى زيانمن دي.

(٦٢-٦٣)- دا مبارك آيتونه وايي:

- الله تعالى د هر څه خالق دئ، د عالم هر څه ده پيدا كړي، په ټول عالم كې داسې څه نشته چې له الله تعالى پرته بل خالق ولري.
- الله تعالى د عالم د هر څه څارنه كوي، له پيدايښت وروسته ئې مهمل نه پرېږدي بلكې څارنه او پالنه ئې كوي.
- د آسمانونو او زمكې د ټولو خزانو كلياني د ده په واك كې دي، دا پرېكړه د ده له لوري كيږي چې چا ته څه وركړي.
- هغه چې د الله تعالى د آيتونو په اړه كفر كوي حقيقي زيانمن وګړي همدا دوى دي، كه څه هم د شتمنيو خاوندان وي او بادئ الرأى وګړي د شتمنو په سترګه ورته ګوري.

قُلۡ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَأۡمُرُوٓنِّيٓ أَعۡبُدُ أَيُّهَا ٱلۡجَٰهِلُونَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٦﴾

وواية: اې ناپوهانو! نو آيا پر دې مي ګمارئ چي غيرالله ولمانځم، او يقيناً چي تا ته هم او هغو ته هم چي تر تا وړاندي ول وحي شوې چي كه شرك وكړې نو عمل به دي تباه شي او حتماً به د زيانمنو له ډلي شې، نه؛ بلكي الله لمانځه او د شاكرانو له ډلي اوسه.

(٦٤-٦٦)- د دې مباركو آيتونو مطالب دا دي:

- **رسول اللهﷺ ته سپارښتنه شوې چي جاهلو مشركينو ته ووايي: اې ناپوهانو! آيا ما پر دې ګمارئ چي له الله تعالى پرته بل معبود ولمانځم.**
- **ستا په شمول هر پيغمبر ته د الله تعالى له لوري وحي شوې چي كه شرك وكړې نو عمل به دي تباه شي او حتماً به د زيانمنو له ډلي شې.**
- **نو د مشركينو بلني ته د رد قاطع ځواب وركړه، يوازي الله تعالى لمانځه او د شاكر بنده په توګه د هغه د نعمتونو پاس ساته.**

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٦٧﴾

او د الله په اړه ئې د ده له قدر سره وړ قدرونه ونه كړه، په داسي حال كي چي د قيامت په ورځ به ټوله ځمكه د ده په موټ كي وي او آسمانونه به د ده په ښي لاس كي راتاو كړى شوي وي، ده ته سپېڅلتيا ده او له هغه څه لوړتيا چي دوى ئې (ورسره) شريكوي.

(٦٧)- د دې مبارك آيت مهمي لارښووني دا دي:

- **مشركينو الله تعالى سم او د ده له شأن سره وړ نه دئ پېژندلى، د الله تعالى د ذات او صفاتو په اړه ئې انګېرني او باورونه داسي نه دي چي د ده له عظمت سره ښايي، د قيامت په ورځ به پوه شي چي خپل رب ئې سم نه وو پېژندلى، هلته به ورته جوته شي چي دا ټول عالم؛ ځمكه او آسمانونه ئې د الله تعالى په وړاندي داسي دي لكه يو وړوكى توپ د انسان په موټ كي يا يوه تاو شوې پاڼه د چا په لاس كي، الله تعالى له هغو عيبونو منزه او له هغو نقصونو ډېر ډېر لوړ دئ چي مشركين ئې الله تعالى ته منسوبوي، ځوك چي الله تعالى ته شريك منسوبوي په حقيقت كي هغه ته ستر ستر عيبونه منسوبوي، باور ئې دا وي چي الله تعالى په**

يوازې توګه او له شريك پرته د عالم د چارو له سمبالولو عاجز او د شريك او مرستيال مرستې او ملتيا ته اړ دئ، حال دا چې دا عالم او د چارو سمبالول ئې الله تعالی ته داسې آسان دي لکه د انسان په موټ کې د يوه وړوکي توپ سمبالول يا يوه تاو شوي پاڼه په ښي لاس کې نيول او په هر لوري ئې تاوول او خوځول.

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ۖ ثُمَّ
نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾ وَأَشْرَقَتِ ٱلْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ
ٱلْكِتَٰبُ وَجِاْىٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٦٩﴾
وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٧٠﴾ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ
جَهَنَّمَ زُمَرًا ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ
مِّنكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنْ
حَقَّتْ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ ٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ
فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾

او په شپېلۍ کې به پو شي نو څوك چې په آسمانونو کې دي او څوك چې په زمکې کې دي (ټول به) بې سده شي، مګر هغه چې الله غوښتي، بيا به بل ځل په کې پو شي نو ناڅاپه به دوی په داسې حال کې ودرېدلي وي چې انتظار به کوي، او زمکه به د خپل رب په نور سره ځلانده شي، کتاب به کېښودی شي، پيغمبران او شاهدان به راوستی شي او د دوی تر منځ به په حق سره پرېکړه وشي؛ په داسې حال کې چې پر دوی به ظلم نه کېږي. او هر چا ته به د هغو عملونو بشپړه بدله ورکړی شي چې کړي ئې دي په داسې حال کې چې دی په هغه څه ښه پوه دئ چې دوی ئې کوي، او هغه وګړي به د دوزخ په لوري ډلي ډلي وخوځول شي چې کفر ئې کړی، تر هغه چې ورشي او دروازې ئې ورته پرانيستل شي او ځارونکي ئې ورته ووايي: آيا تاسو ته ستاسو له ډلې داسې پيغمبران نه وو درغلي چې ستاسو د رب آيتونه ئې درته لوستل او د خپلې دغې ورځې له مخامخېدو ئې وېرولئ، وبه وايي: ولې نه؛ خو د کافرانو په اړه د عذاب وينا ترسره

شوه، وبه ويل شي: د دوزخ پر دروازو ننوځئ په هغه کي تلپاتي، نو د دغو کبرجنو مېشت ځای څومره بد دئ!!

(٦٨-٧٢)- د دغو مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- **د قيامت په ورځ به په شپېلۍ کي پو شي، په همدې سره به ټول هغه بې سده شي چي په آسمانونو او زمکي کي دي، مګر هغه چي الله غوښتي، بيا به بل ځل په کي پو شي نو ناڅاپه به دوی په داسي حال کي ودرېدلي وي چي انتظار به کوي. دلته په شپېلۍ کي دوه ځلي پو کېدا راغلي، په لومړۍ سره به د آسمانونو او زمکي ټول ژوي بې سده او مړه شي، له هغو پرته چي الله تعالی ئې لا د مرګ پرېکړه نه وي کړې، ښايي دا به هغه اته فرشتي وي چي د عرش حمله نومول شوي، اسرافيل به هم له دغي ډلي وي، دوی به هم په خپل وخت مري او له الله تعالی پرته به هيڅ څه نه پاته کېږي، بيا به دوهم ځل په شپېلۍ کي پوه شي او په دې سره به ټول مړي راژوندي شي او له قبرونو به راپاڅي، بيا به ټول د محشر په لوري ډلي ډلي روان شي او هلته به الهي پرېکړي ته انتظار کوي. د قرآن له ويناوو په صراحت سره معلومېږي چي په صور کي به دوه ځلي پو شي: په لومړي سره به قيامت راشي او د عالم موجود نظم به په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي او بل سره به بعثت پيل شي، نوی آسمان او نوې زمکه به راپيدا شي او ټول مړي به راژوندي شي.**
- **زمکه به د خپل رب په نور سره ځلانده شي، دا به بله زمکه وي، مخکنۍ زمکه به د قيامت د هولناکو پېښو په ترڅ کي له منځه تللي وي او الله تعالی به نوی آسمان او نوې زمکه پيدا کړي، د دې زمکي د روښانه کولو لپاره به الله تعالی نوی انتظام وکړي.**
- **محاکمه به پيل شي، د هر چا عمل پاڼه به پرانيستی شي، پيغمبران او شاهدان به راوستی شي او د خلکو تر منځ به د حق مطابق عادلانه پرېکړه وشي، داسي چي په هيچا به هيڅ ډول ظلم نه کېږي، هر چا ته به د هغو عملونو بشپړه بدله ورکړی شي چي کړي ئې دي.**
- **په داسي حال کي چي الله تعالی په هغه څه ښه پوه دئ چي خلك ئې کوي، خو سره له دې به د قيامت په ورځ له خلکو سره محاسبه کوي، يوازي د خپل علم له مخي د دوی په اړه پرېکړه نه کوي، د هر يوه عمل پاڼه به د هغه مخي ته ږدي، پيغمبران او شاهدان به د دوی په وړاندي د شهادت لپاره راولي، پيغمبران به دا ګواهي ورکوي چي د الله پيغام ئې دوی ته رسولی، شاهدان به د دوی پر کړنو شهادت ورکوي، د دوی لاسونه، پښې او پوستکي به د دوی په خلاف شهادت ورکوي.**
- **له محاکمي وروسته به هغه وګړي د دوزخ په لوري ډلي ډلي وخوځول شي چي کفر ئې کړی، تر هغه به وړاندي خوځول کېږي چي دوزخ ته ورسېږي او دروازې ئې ورته پرانيستل شي، د دوزخ څارونکي به ورته ووايي: آيا تاسو ته ستاسو له ډلي داسي پيغمبران نه وو درغلي چي ستاسو د رب آيتونه ئې درته لوستل او د خپلي دغي ورځي له مخامخېدو ئې وېرولئ، دوی به ځواب ورکړي: ولي نه؛ راغلي ول او له دې ورځي ئې وېرولي وو، خو د کافرانو په اړه د عذاب وينا ترسره شوه، موږ د انکار او کفر لار غوره کړه او د الله تعالی له پرېکړي سره له دې برخليك سره مخامخ شوو.**

- دوی ته به وويل شي: د دوزخ پر دروازو ننوځئ، په هغه کي به تلپاتي وئ.
- وگوره چي د دغو کبرجنو مېشت ځای څومره بد دئ!!

وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا
وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ طِبۡتُمۡ فَٱدۡخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ
ٱلَّذِي صَدَقَنَا وَعۡدَهُۥ وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُۖ فَنِعۡمَ أَجۡرُ
ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾

او هغه وگړي به د جنت په لوري ډله ډله وخوځول شي چي له خپل رب وېرېدلي، تر هغه چي ورشي او دروازې ئې ورته پرانيستل شي او ځارونکي ئې ورته ووايي: سلام پر تاسو، ښه‌راز دي وئ، نو د تلپاتو په شان ورننوځئ، او وبه وايي: ستايني تولي هغه الله ته دي چي خپله وعده ئې راسره رښتيني کړه او دا زمکه ئې په داسي حال کي موږ ته په ميراث راکړه چي د جنت په هر ځای کي غواړو اوسو، نو د دغو عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ!!

(۷۳-۷٤)- دلته د قيامت په ورځ او له الهي محاسبې وروسته د متقيانو حالت داسي انځور شوی:

- ~~هغه وگړي به د جنت په لوري ډله ډله وخوځول شي چي له خپل رب وېرېدلي، تر هغه به~~ وړاندي درومي چي جنت ته ورسېږي، دروازې به ئې ورته پرانيستل شي او د جنت ځارونکي به ورته ووايي: سلام پر تاسو، ښه‌راز دي وئ، د تلپاتو په شان جنت ته ننوځئ.
- جنتيان به ووايي: ستايني تولي هغه الله ته دي چي خپله وعده ئې راسره رښتيني کړه او دا زمکه ئې په داسي حال کي موږ ته په ميراث راکړه چي د جنت په هر ځای کي غواړو اوسو. دې مقام ته د الله تعالی د پېرزويني له کبله رسېدلي يو، نه د خپل عمل له کبله، خپل رب ستايو او د ده د لطف او احسان مرهون يو چي جنت ئې راپه برخه کړ، زمکه ئې راته جنت کړ او د دې جنت په هر ځای کي چي زموږ زړه ئې غواړي اوسو!!
- وگوره چي د دغو عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ!!

وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۖ وَقُضِيَ
بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾

او فرشتې به گورې چې د عرش چاپېر راڅرخي په داسي حال کي چې د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايي، او د دوی تر منځ به په حق سره پرېکړه وشي او وبه ويل شي: ستاينې د عالمونو رب الله ته دي.

(۷۵)- په داسي حال کي چې فرشتې به گورې چې د عرش چاپېر راڅرخي او د خپل رب حمد او ثنا وايي، په همدې حالت کي به د خلکو تر منځ په حق سره عادلانه پرېکړه وشي، هر څوک به د خپلو کړنو عادلانه سزا او بدله ترلاسه کړي، هر لوري ته به هرڅه د حال او قال په ژبه وايي: ستاينې د عالمونو رب الله ته دي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

المؤمن

د سورې پېژندنه:

دا مباركه سوره په دوو معروفو نومونو ياده شوې: (المؤمن) چې د دې سورې د ۲۸ آيت له دې فقرې (وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَـٰنَهُۥٓ أَتَقْتُلُونَ رَجُلاً أَن يَقُولَ رَبِّىَ ٱللَّهُ وَقَدْ جَآءَكُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ مِن رَّبِّكُمْ) اخيستل شوى، او غافر چې د سورې له لومړي آيت اخيستل شوى، ۸۵ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (عليم)، د څلورم آيت (بلاد)، او د لسم آيت (تكفرون)، ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالى ئې تر متوسط زيات او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مكي دور په وروستيو كي نازل شوي. يو روايت وايي چې دا سوره په الزمر پسي متصل نازله شوې. د سورې له متن معلومېږي چې د مكي دور په داسي پړاو كي نازله شوې چې د قريشو ځينو مشرانو د رسول اللهﷺ د وژلو فكرونه كول، د سورې ۲٦ آيت چې وايي: فرعون خپلو درباريانو ته وويل: ما پرېږدئ چې موسى ووژنم ... همدې مطلب ته اشاره كوي.

د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: د لاربنود الهي كتاب لېږنه د الله تعالى له لوري ده، د الهي كتابونو په وړاندي خلك په دوو ډلو وېشل كېږي، ځيني ايمان راوړي او ځيني انكار كوي، هره ډله به له خپل خپل تاكلي برخليك سره مخامخ كېږي.

د سورې په سر كي ويل شوي:

- **د قرآن رالېږنه د يوه عزتمن الله له لوري ده، يعني دا كتاب د داسي ذات له لوري تاسو ته لېږل شوى چې پوهېږي ستاسو خير په څه كي دئ، د دنيا عزت او د آخرت سعادت څنگه ترلاسه كولى شئ، د دې كتاب په لاربښوونو كي به د الله تعالى د پراخ علم مظاهر په خپلو سترگو وگورئ، هغه ذات چې عزيز دئ او د پرېكړو په وړاندي ئې هيڅ ځواك نشي خنډ كېدى، هغه الله چې د گناه بخښونكى، د توبې قبلوونكى، كلك تعذيبوونكى او د فضل خاوند دئ، هغه چې له ده پرته بل معبود نشته او بېرته ستنېدا د ده لوري ته ده.**
- **د الله تعالى د آيتونو په اړه يوازي هغه وگړي مجادله كوي چې د كفر او له حقائقو د انكار لار ئې غوره كړې.**
- **پام كوه چې په ښارونو كي د دغو كافرانو لر او بر خوځېدا او يوې خوا بلې خوا ته تگ**

راتګ تا دوکه نه کړي، داسي نه چي په ښارونو کي د دوی ګڼه ګوڼه او پر بازارونو د دوی واکمني تا اندېښمن او د دوی د پایلي په اړه تا شکمن کړي.

• تر دوی وړاندي د نوح قوم او تر دوی وروسته ډېرو نورو ډلو د الله تعالی آیتونه دروغ ګڼلي او هري ډلي هوډ کړی چي خپل پیغمبر ونیسي او د باطل په مټ ئي په دې موخه مجادله کړې چي حق پرې محو کړي، چي له کبله ئي الله تعالی ونیول، نو وګوره چي د الله تعالی تعذیب څنګه وو او دا مکذبین له کوم برخلیك سره مخامخ شوي!!

• الله تعالی به د زماني په هر پړاو له هر کافر ټولګي سره هغه څه کوي چي د دوی له سلف سره ئي کړي.

• د دوی په مقابل کي مؤمنان داسي دي چي د دوی په اړه هغه فرشتي دعاء کوي چي الله تعالی ته ډېري نږدې او مقربي دي، عرش پر اوږو وړي او د عرش شاوخوا کي د خپل رب په ستاینې او تسبیح لګیا دي، هغه چي د مؤمنانو په څېر دي او پر الله تعالی ایمان لري، دوی هغو ته بخښنه غواړي چي ایمان ئي راوړی، په خپلو دعاګانو کي وایي: اې زموږ ربه! ستا رحمت او علم پراخ دئ، هر څه ئي احتوی کړي، د خپل رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پیمانه رسېدلی یې، یعني ستا رحمت پر هر څه وزر غوړولی او هیڅ څه ستا د پراخ علم له دائرې بهر نه دئ پاته. هغو ته بخښنه وکړه چي توبه ئي کړې او ستا د لاري متابعت ئي کړی او د دوزخ له عذاب ئي وساته، ته د خپل رحمت له مخي د هغوی توبه قبوله کړه، ته ښه پوهېږې چي څوك په ریښتیني توګه توبه کوي او څوك ستا د لاري متابعت کوي، اې زموږ ربه! هغه تلپاتي جنت ته ئي ننباسه چي تا ئي ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له مېرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چي صالح وي، یقیناً چي ته باحکمت عزتمن یې، د مؤمنانو په اړه د فرشتو وروستی دعاء دا ده: اې زموږ ربه! له بدیو ئي وساته، څوك چي ته په دې ورځ له بدیو وساتې نو پېرزوینه دي پرې کړې، او دا همغه ستره بریا ده.

ټوله سوره د دغه مطلب پر محور څرخي، شرح او تفصیل ئي زموږ په وړاندي ږدي او د تاریخي او عملي مثالونو په ترڅ کي ئي موږ ته مزید توضیح کوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ۝٢ غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ۝٣

حاء میم، د دې کتاب رالیږنه د یوه عزتمن الله له لوري ده، د ګناه بخښونکی او د توبې قبلوونکی، کلك تعذیبوونکی، د فضل خاوند، له ده پرته بل معبود نشته، بېرته ستنېدا د ده لوري ته ده.

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- **لکه چې ګورئ دا سوره د (حاء) او (میم) په دوو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، لکه د (طٰهٰ) سوره، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: د لاربښود الهي کتاب لیږنه د الله تعالی له لوري ده، د الهي کتابونو په وړاندې خلك په دوو ډلو وېشل کیږي، ځیني ایمان راوړي او ځیني انکار کوي، هره ډله به له خپل خپل ټاکلي برخلیك سره مخامخ کیږي.**
- **د قرآن رالیږنه د یوه عزتمن الله له لوري ده، یعني دا کتاب د داسې ذات له لوري تاسو ته لیږل شوی چې پوهیږي ستاسو خیر په څه کې دئ، د دنیا عزت او د آخرت سعادت څنګه ترلاسه کولی شئ، د دې کتاب په لاربښوونو کې به د الله تعالی د پراخ علم مظاهر په خپلو سترګو وګورئ، هغه ذات چې عزیز دئ او د پرېکړو په وړاندې ئې هیڅ ځواك نشي خنډ کېدی، هغه الله چې د ګناه بخښونکی، د توبې قبلوونکی، کلك تعذیبوونکی او د فضل خاوند دئ، هغه چې له ده پرته بل معبود نشته او بېرته ستنېدا د ده لوري ته ده.**

مَا يُجَٰدِلُ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَا يَغۡرُرۡكَ تَقَلُّبُهُمۡ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ۝٤ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۖ وَهَمَّتۡ كُلُّ أُمَّةِۭ بِرَسُولِهِمۡ لِيَأۡخُذُوهُۖ وَجَٰدَلُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّ فَأَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ۝٥ وَكَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ۝٦

د الله د آیتونو په اړه یوازې هغه وګړي مجادله کوي چې کفر ئې کړی، نو په ښارونو کې د دوی اوښتل راواوښتل دې تا دوکه نه کړي، تر دوی وړاندې د نوح قوم او تر دوی وروسته ډلو دروغ ګڼلي، او هرې ډلې هوډ کړی چې خپل پیغمبر ونیسي او د باطل په

مېږ ئې په دې موخه مجادله کړې چې حق پرې محو کړي، چې له کبله ئې موږ ونیول، نو (وګوره چې) زما تعذیب څنګه وو، او همداسې ستا د رب وینا د هغو په اړه محققه شوې چې کفر ئې کړی (په دې توګه) چې دوی حتماً د اور خاوندان دي.

(٤-٦)- دا مبارك آیتونه وایي:

- د الله تعالی د آیتونو په اړه یوازې هغه وګړي مجادله کوي چې د کفر او له حقائقو د انکار لار ئې غوره کړې.
- پام کوه چې په ښارونو کې د دغو کافرانو لر او بر خوځېدا او یوې خوا بلې خوا ته تګ راتګ تا دوکه نه کړي، داسې نه چې په ښارونو کې د دوی ګڼه ګوڼه او پر بازارونو د دوی واکمنې تا اندېښمن او د دوی د پایلې په اړه شکمن کړي.
- تر دوی وړاندې د نوح قوم او تر دوی وروسته ډېرو نورو ډلو د الله تعالی آیتونه دروغ ګڼلي او هرې ډلې هوډ کړی چې خپل پیغمبر ونیسي او د باطل په مېږ ئې په دې موخه مجادله کړې چې حق پرې محو کړي، چې له کبله ئې الله تعالی ونیول، نو وګوره چې د الله تعالی تعذیب څنګه وو او دا مکذبین له کوم برخلیك سره مخامخ شوي!!
- له دغو کافرانو سره به هم هغه څه کیږي چې د دوی له سلف سره شوي، ستا د رب وینا د هغو په اړه محققه شوې چې کفر ئې کړی، الهي عذاب به ئې د اور په بڼې کې حتماً په برخه شي.

ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ
وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ
تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٧﴾ رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي
وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ
﴿٨﴾ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ
ٱلۡعَظِيمُ ﴿٩﴾

هغه چې عرش پر اوږو وړي او هغه چې شاوخوا ئې دي د خپل رب له ستاینې سره تسبیح وایي، پر ده ایمان لري او هغو ته بخښنه غواړي چې ایمان ئې راوړی؛ (وایي) اې زموږ ربه! د رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پیمانه رسېدلی یې، نو هغو ته بخښنه وکړه چې توبه ئې کړې او ستا د لارې متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب

ئې وساته، اې زموږ ربه! هغه تلپاتې جنت ته ئې ننباسه چې تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له مېرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چې صالح وي، يقيناً چې ته باحکمت عزتمن يې، له بديو ئې وساته، څوك چې ته په دې ورځ له بديو وساتې نو پېرزوينه دې پرې کړې، او دا همغه ستره بريا ده.

(۷-۹)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- مؤمنانو ته هغه فرشتې دعاء کوي چې الله تعالی ته ډېرې نږدې او مقربې دي، عرش پر اوږو وړي او د عرش شاوخوا کې د خپل رب په ستاينې او تسبيح لګيا دي، هغه چې د مؤمنانو په څېر دي او پر الله تعالی ايمان لري، دوی هغو ته بخښنه غواړي چې ايمان ئې راوړی، په خپلو دعاګانو کې وايي: اې زموږ ربه! ستا رحمت او علم پراخ دئ، هر څه ئې احتوی کړي، د خپل رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پيمانه رسېدلی يې، يعني ستا رحمت پر هر څه وزر غوړولی او هيڅ څه ستا د پراخ علم له دائرې بهر نه دئ پاته. هغو ته بخښنه وکړه چې توبه ئې کړې او ستا د لارې متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب ئې وساته، ته د خپل رحمت له مخې د هغوی توبه قبوله کړه، ته ښه پوهېږې چې څوك په رښتينې توګه توبه کوي او څوك ستا د لارې متابعت کوي، اې زموږ ربه! هغه تلپاتې جنت ته ئې ننباسه چې تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له مېرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چې صالح وي، يقيناً چې ته باحکمت عزتمن يې، د مؤمنانو په اړه د فرشتو وروستۍ دعاء دا ده: اې زموږ ربه! له بديو ئې وساته، څوك چې ته په دې ورځ له بديو وساتې نو پېرزوينه دې پرې کړې، او دا همغه ستره بريا ده، د دې دعاء په تعبير کې د مفسرينو تر منځ د اختلاف شاهد يو، ځينې (يومئذ) د قيامت ورځ ګڼي او ځينې ئې د دنيا نننۍ ورځ، ځينې (السيئات) د ګناهونو سزا بولي او ځينې ئې په اصلي معنی نيسي او د بديو او ګناهونو په معنی ئې تعبيروي، غوره او دقيق تعبير د دوهمې ډلې تعبير دئ، په څو دلائلو: ۱- د دوزخ له اور د مؤمنانو د ژغورنې دعاء تر دې وړاندې تېره شوې (وقهم عذاب الجحيم) تکرار ته ئې ضرورت نشته، ۲- د (السيئات) اصلي معنی ګناه او بدي ده نه سزا ئې، صحيح نه ده چې اصلي معنی ئې له کومې اړتيا پرته پرېږدو او د سزا په معنی ئې ونيسو. ۳- د فرشتو دا دعاء د قيامت د ورځې دعاء نه ده چې يومئذ د قيامت ورځ وګڼو، نن او دغه مهال چې مؤمنان په دنيا کې ژوند کوي فرشتې هغوی ته دعاء کوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ مِن مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ إِذْ
تُدْعَوْنَ إِلَى ٱلْإِيمَٰنِ فَتَكْفُرُونَ ﴿١٠﴾ قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا ٱثْنَتَيْنِ
فَٱعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴿١١﴾ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِيَ ٱللَّهُ وَحْدَهُۥ

كَفَرْتُمْ وَإِن يُشْرَكْ بِهِۦ تُؤْمِنُوا۟ فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِىِّ ٱلْكَبِيرِ ﴿١٢﴾

يقيناً چې هغو ته به ورغږ شي چې كفر ئې كړى: ستاسو تر هغه قهر چې د ځان په اړه ئې لرئ د الله د هغه مهال قهر ډېر ستر وو چې ايمان ته بلل كېدئ او تاسو كفر كولو، وايي به: اې زموږ ربه! دوه ځلي دې مړه كړو او دوه ځلي دې ژوندي كړو نو پر خپلو گناهونو مو اعتراف وكړ، نو آيا د وتلو لوري ته كومه لار شته، دا مو د دې لپاره ده چې كله به الله په يوازې توگه وبلل شو نو تاسو به انكار كولو او كه به د هغه په اړه شرك كېدو نو تاسو به باور كولو، نو پرېكړه د ستر لوړ الله په واك كې ده.

(١٠-١٢)- دا مبارك آيتونه وايي: د قيامت په ورځ او هغه مهال چې كافران او د حق منكرين دوزخ ته ننوځي او په خپلو سترگو وگوري چې غلطو تگلارو او ناسمو باورونو ئې له دې برخليك سره مخامخ كړل نو پر خپل ځان او خپل عقل او يو پر بل به سخت غصه وي، ځيني به ئې خپل عقل ملامتوي چې ولي ئې په غلطو لارو تگ ورته ښايسته كړى وو او ځيني به ئې پر هغو مذهبي او سياسي مشرانو غصه وي او مضاعف عذاب به ورته غواړي چې دوى ئې دوكه كړل، دغه مهال به هغوى ته غږ شي: ستاسو تر هغه قهر چې د ځان او خپلو تېگمارو مشرانو په اړه ئې لرئ د الله د هغه مهال قهر ډېر ستر وو چې ايمان ته بلل كېدئ او تاسو كفر كولو، د (مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ) دوه تعبيرونه كېدى شي: هغه قهر چې د خپل ځان په اړه ئې لرئ او هغه قهر چې يو ئې د بل په اړه لرئ، دوهم تعبير غوره دئ، د دې تعبير لپاره په قرآن كې گڼ شمېر شواهد لرو، په ډېرو آيتونو كې راغلي چې د قيامت په ورځ به كافران يو پر بل سخت غصه وي او تابعان به متبوعين د خپلو تېروتنو باعث گڼي، هغوى ته به دوه برابره عذاب غواړي او دا هيله به كوي چې تر خپلو پښو ئې لاندې كړي.

دغه مهال به وايي: اې زموږ ربه! دوه ځلي دې مړه كړو او دوه ځلي دې ژوندي كړو، پر خپلو گناهونو اعتراف كوو، آيا د وتلو لوري ته كومه لار شته؟! آيا كېدى شي بېرته دنيا ته ستانه شو او خپله ماضي جبران كړ؟ دوه ځلي مړينه او دوه ځلي ژوند يعني دا چې مړه توكي وو تا ژوند راكړ، بيا ستا په حكم مړه شوو او د قيامت په ورځ دې بېرته راژوندي كړو، موږ په دنيا كې له دې دوهم ژوندون انكار كولو او هغه مو محال گڼلو، اوس مو په خپلو سترگو وليد، پر خپلې مخكنۍ غلطۍ اعتراف كوو، پر دوهم ژوند عدم باور د گناهونو د ارتكاب جسارت راكړى وو، پر خپلو گناهونو معترف يو، آيا له دوزخ د وتلو كومه لار شته؟ هر څه كولو ته تيار يو او د هرې خبرې منلو ته چمتو، په ځواب كې به ورته وويل شي: له دې برخليك سره ځكه مخامخ شوئ چې تاسو په دنيا كې د يوې سترې او ځرگندې خبرې منلو ته چمتو نه وئ، كله چې به الله تعالى په يوازې توگه وبلل شو نو تاسو به انكار كولو او كه به د هغه په اړه شرك كېدو نو تاسو به باور كولو، دا خبره مو نه منله چې الله تعالى يوازينى معبود دئ او له ده پرته بل معبود نشته او پر دې غلطې خبرې مو باور كولو چې الله تعالى شريكان او ځاى ناستي لري!! دغه شرك له دې تور او سپېره برخليك سره مخامخ كړئ، اوس په خپلو

سترګو ګورئ چې پربکړي په بشپړه توګه د (ستر) او (لوړ) الله په واك كي دي، هغه الله تعالى چې ستاسو شرك د هغه د (عظمت) او (لوړوالي) منافي دئ.

هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمۡ ءَايَـٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزۡقًاۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن
يُنِيبُ ﴿١٣﴾ فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَـٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ رَفِيعُ
ٱلدَّرَجَـٰتِ ذُو ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِى ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ
ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾ يَوۡمَ هُم بَـٰرِزُونَۖ لَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنۡهُمۡ شَىۡءٌۚ لِّمَنِ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَۖ لِلَّهِ
ٱلۡوَٲحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ﴿١٦﴾ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۚ لَا ظُلۡمَ ٱلۡيَوۡمَۚ إِنَّ
ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿١٧﴾

دى همغه ذات دئ چي تاسو ته خپل آيتونه درښيي او له آسمانه رزق درته رالیږي، او پند نه اخلي مګر هغه چي انابت كوي، نو الله په داسي حال كي دروبلئ چي (خپل) دين ورته سوچه كوونكي وئ، كه څه هم كافران كركه كوي، د لوړو درجو خاوند، د عرش څښتن، له خپلو بندګانو چي چا ته غواړي پر هغه د خپل حكم له مخي وحي لیږي چي د مخامخېدو له ورځي (خلك) انذار كړي، هغه ورځ چي دوى به راڅرګندېدونكي وي، د دوى هيڅ څه به له الله پټ نه پاته كیږي، دغه ورځ به ټولواكي د چا وي؟ د يوازيني برلاسي الله، په دې ورځ به هر چا ته د هغه څه له مخي بدله او سزا وركړى شي چي ترلاسه كړي ئې دي، په دې ورځ به هيڅ ظلم نه وي، يقيناً چي الله په محاسبې كي سريع دئ.

(۱۳-۱۷)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالى هغه ذات دئ چي تاسو ته خپل آيتونه درښيي، هره شيبه، په هر ګام كي او هر لوري ته د هغه د قدرت او ربوبيت مظاهر او نښي په خپلو سترګو ګورئ، همغه چي تاسو ته له آسمانه رزق دركوي، ستاسو د رزق او روزي ټول توكي په دوو شيانو پوري تړلي دي: اوبه او د لمر رڼا او تودوخه، كه دا دواړه نه وي نو په زمكي كي به نه بوټي وو، نه ونې، نه مېوې او نه داني، اوبه له آسمانه درباندي ورېږي او رڼا او تودوخه لمر دركوي، تاسو ښه پوهيږئ چي په دې دواړو له الله تعالى پرته هيڅوك هيڅ ډول سلطه او سيطره نه لري، هيڅ عاقل انسان له دې څرګند حقيقت انكار نه شي كولى، خو ستونزه دا ده چي له حقائقو پند اخيستل داسي ځانګړتياوو ته ضرورت لري چي ډېر انسانان ترې محروم دي، يوازي هغه

ځوك پند اخلي چې په هغه كې د الله تعالى په وړاندې د انابت استعداد وي.

- د الله تعالى صادقانه لمانځنه دا تقاضاء لري چې خپل ديانت له هر ډول شركي انګېرنو او كړنو سوچه كړو، كه څه هم كافران له دې كركه كوي، په دې اړه د هيچا پروا ونه كړو او د هيچا له مخالفت وېره او اندېښنه ونه لرو.
- د الله تعالى مقام تر هر چا لوړ دئ، هيڅوك په هيڅ څه كې مه ورسره برابروه، هغه د لوړو درجو خاوند دئ، دا عالم د ده ملك دئ او دى ئې يوازينى تولواك دئ، دا عالم د هغه عرش لاندې دئ چې څښتن ئې الله تعالى دئ، دا پرېكړه يوازې د ده له لوري كېږي چې د دې عالم څه او په كوم مقدار كې چا ته وركړي او له چا ئې وسپموي.
- دا پرېكړه د الله تعالى له لوري كېږي چې د خپلو بندګانو له منځه چا ته وحې ولېږي او د خلكو د لارښوونې او د كفر او شرك له بدو پايلو د دوى د انذار دنده وروسپاري. له هغې ورځې ئې ووېروي چې له خپل رب سره به مخامخ كېږي، هغه ورځ چې دوى به د الله تعالى په وړاندې داسې ولاړ وي چې هيڅ به ئې ترې پټ نه وي، دا پوښتنه به ترې كېږي چې نن تولواكي د چا ده؟ د هر چا يوازينى ځواب به دا وي: تولواكي په بشپړه توګه د يوازيني برلاسي او قهار الله په واك كې ده، په دې ورځ به هر چا ته د هغه څه له مخې بدله او سزا وركول كېږي چې په دنيا كې ئې ترلاسه كړي وي، په دې ورځ به هيڅ ظلم نه وي، پر هيچا به له هيڅ پلوه ظلم نه كېږي، هر چا ته به د خپلو كړنو عادلانه سزا او بدله وركول كېږي، له ټولو سره عادلانه او دقيقه محاسبه به زيات وخت هم نه نيسي، محاسبه به سريع وي او ژر به پاى ته ورسېږي، دا ځكه چې الله تعالى سريع الحساب دئ.

وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡأٓزِفَةِ إِذِ ٱلۡقُلُوبُ لَدَى ٱلۡحَنَاجِرِ كَٰظِمِينَۚ مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ حَمِيمٖ
وَلَا شَفِيعٖ يُطَاعُ ﴿١٨﴾ يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي ٱلصُّدُورُ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ يَقۡضِي
بِٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقۡضُونَ بِشَيۡءٍۗ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ


او له نږدې راتلونكې ورځې ئې ووېروه؛ له هغه مهال چې زړونه به په داسې حال كې د ستونو خوا ته وي چې د غمونو زغمونكي به وي، ظالمانو ته به نه كوم دوست وي او نه داسې شفاعت كوونكى چې خبره ئې منل كېږي، د سترګو په خيانت پوهېږي او په هغه څه هم چې سينې ئې پټوي، او الله په حقه سره فيصله كوي او هغه چې له الله پرته ئې (مرستې ته) بلي په هيڅ شي قضاوت او فيصله نه كوي، يقيناً چې الله اورېدونكى ليدونكى ذات دئ.

(۱۸-۲۰)- د دې مباركو آيتونو لارښوونې دا دي:

- رسول اللهﷺ ته لاربنوونه کوي چې خپل مخاطبين له نږدې راتلونکې ورځې ووېروي؛ له هغې ورځې چې له هيبته به ئې زړونه د ستونو خوا ته رسېدلي وي؛ په داسې حال کې چې غمونه به زغمي، نه به په خپله څه کولی شي او نه به داسې څوك مومي چې مرسته ترې وغواړي، دغو ظالمانو ته به نه کوم دوست وي او نه داسې شفاعت کوونکی چې خبره ئې منل کېږي.
- دوی به له هغه الله تعالی سره مخامخ وي چې هم د سترګو په خيانت پوهېږي او هم په هغه څه چې سينې ئې پټوي، څوك چې د سترګو په اشارو سره کوم خيانت وکړي له ده پټ نه پاته کېږي، څوك چې په خپل زړه کې څه پټ وساتي پرې پوهېږي.
- هغه الله چې پرېکړه ئې رښتيني او د حقيقت مطابق وي، قضاوت او فيصله ئې په حق مبتني وي، هغه ته ټول حقائق څرګند دي، د خلکو ترمنځ چې څه تېرېږي هغه اوري اوويني، خو له الله تعالی پرته چې خلك کوم څه يا کوم څوك مرستې ته وربلي او په الوهيت او ربوبيت کې ئې له الله تعالی سره شريکوي؛ نه د پرېکړو او فيصلو صادرولو واك او اختيار دوی ته سپارل شوی او نه په حق او واقعيت مبتني قضاوت کولی شي. د پرېکړو او فيصلو صادرولو اختيارات او واك په بشپړه توګه له الله تعالی سره دي او په دې کې هيڅوك له الله جل شأنه سره شريك نه دئ.

أَوَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ مِن قَبْلِهِمْۚ كَانُواْ هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِي ٱلْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٢١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَكَفَرُواْ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ قَوِيٌّ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٢﴾

آيا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې ليدلي ئې وی د هغو پايله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، تر دوی د ځواك او په زمکې کې د آثارو له پلوه ډېر مضبوط ول؛ نو الله په داسې حال کې د خپلو ګناهونو له کبله ونيول چې له الله هيڅ ساتونکی ورته نه وو، دا له دې کبله چې خپلو پيغمبرانو ئې څرګندې نښې وروړلې خو دوی کفر کولو؛ نو الله ونيول، يقيناً چې هغه سخت تعذيبوونکی ځواکمن دئ.

(۲۱-۲۲)- قرآن په دې مبارکو آيتونو کې د خپلو مخاطبينو پام د هغو ځواکمنو او متمدنو قومونو بدو پايلو ته اړوي چې د کفر لار ئې غوره کړې وه، وايي: آيا دوی په زمکې کې نه دي ګرځېدلي، د تاريخ پاڼې ئې نه دي اړولې، دې ته ئې پام نه دئ کړی چې د هغو پايله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، تر دوی د ځواك او په زمکې کې د آثارو له پلوه ډېر مضبوط ول؛ خو د خپلو ګناهونو له کبله الله تعالی ونيول؛ په داسې حال کې چې د الله تعالی په وړاندې ئې

هيڅ مدافع او ساتونکی نه درلود، له دې بد برخليك سره له دې کبله مخامخ شول چې هر يوه ته خپل خپل پيغمبر له څرګندو نښو سره ورتلل خو دوی کفر کولو نو الله تعالی مؤاخذه کړل او په الهي عذاب اخته شول، دغه تاريخي پېښې ښيي چې يقيناً الله تعالی هم څواکمن دئ او هم سخت تعذيبوونکی.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ
وَقَٰرُونَ فَقَالُواْ سَٰحِرٞ كَذَّابٞ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ
ٱقۡتُلُوٓاْ أَبۡنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ وَٱسۡتَحۡيُواْ نِسَآءَهُمۡۚ وَمَا كَيۡدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا
فِي ضَلَٰلٖ ﴿٢٥﴾

او يقيناً چې موږ موسی له خپلو آيتونو او څرګندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو، او هغوی ووېل: دروغجن کوډګر دئ. نو کله چې ئې زموږ له لوري حق دين وروړ وئې ويل: د هغو زامن ووژنئ چې له ده سره ئې ايمان راوړی او ښځې ئې ژوندۍ پرېږدئ، او د کافرانو تدبير له تېروتني پرته په بل څه کې نه وو.

(۲۳-۲۵)- په دې مبارکو آيتونو کې د مخکني مطلب يوه څرګنده تاريخي بېلګه وړاندې شوې، ~~په دې تاريخي بېلګې کې يوه لوري ته تش لاسی موسی صلعم دئ او بل لوري ته د مصر د~~ دريو څواکونو مشران (فرعون، هامان او قارون)، د زور، تزوير او زر خاوندان، موسی **صلعم** داسې حق دين وروړی چې په تأييد کې ئې آيتونه او څرګند دلائل وړاندې کړې، خو د مصر دغو واکمنانو لومړی د ده په ضد د دروغجنو تبليغاتو لړی پيل کړې، هغه ئې د دروغجن او کوډګر په نامه ياد کړی، خو تبليغاتو ئې هغه نتيجه نه ده ورکړې چې دوی ئې انتظار درلود، بيا ئې د ده د ملګرو د وژلو پرېکړه کړې، د مؤمنانو په وژلو سره هم نه دې توانېدلې خپلې موخې ترلاسه کړې او د موسی **صلعم** د دعوت مخه ډب کړې، تدبيرونو ئې نه يوازې کومه په زړه پورې نتيجه نه ده ورکړې بلکې په خپله دوی ته ئې تاوان رسولی. دا آيتونه وايي:

- الله تعالی موسی **صلعم** له خپلو آيتونو او څرګندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو، د دې لپاره ئې مصر ته ولېږو چې لومړی د فرعون، بيا د هامان او په پای کې د قارون مقابله وکړې، يعنې ده ته ئې اصلي دښمنان ورښودلي، دا وضاحت ئې ورته کړی چې په مصر کې به ستا مقابله له چا چا سره وي، خو دا ئې هم ورته ويلي چې څنګه به ئې مقابله کوې، لومړی د چا او وروسته د چا، د ټولو خو په تدريج سره، داسې چې يوه ته به پر بل اولويت ورکوې، اصلي او لومړی دښمن فرعون دئ، لومړی مقابله بايد له ده سره وي، داسې

نه چي په نورو جبهاتو کي تر دې وړاندي مصروف شي او تر ټولو خطرناك او اصلي دښمن درنه پاته شي!! په لومړي سر کي به د فرعون مقابله کوې، بیا د هامان او وروسته د قارون، موسى صلعم د همدغو دريو طبقو په ضد د مبارزې لپاره لیږل شوی وو، څوك چي د موسى صلعم په لار د تلو اراده لري نو د دغو دريو خطرناکو دښمنانو مقابلې ته به ملا تړي. دې ته مو بايد پام وي چي قرآن؛ پيغمبران عليهم السلام او د دوی تګلاره د موسى صلعم په څېره کي داسي انځوروي چي هم د ظالم فرعون، هم د ټګمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله کوي، يو ئي د ظالمانه اقتدار بېلګه، بل ئي د ټګمارو مذهبي مشرانو بېلګه او دريم ئي د حريصو شتمنو او بډايانو بېلګه. قرآن وايي چي د تاريخ په اوږدو کي تل دغو دريو طبقو د پيغمبرانو عليهم السلام مقابله کړې.

لکه چي ګورئ قرآن د فرعوني نظام واکمنان په دريو ډلو وېشي، د هري ډلي د مشر يادونه کوي، د (فرعون)، (هامان) او (قارون) نومونه اخلي، دا هر يو د يوې حاکمي طبقې ممثل دئ، دغه درې طبقې او په سر کي ئي دا درې مشران يوه بل ته لاس ورکوي او پر يوه ملت او هېواد حکومت کوي. په هرجاهلي نظام کي به وګورئ چي دغه درې طبقې په ګډه طبقاتي نظام چلوي، هر نظام درې اړخه لري، اعتقادي (فکري)، سياسي او اقتصادي اړخونه. فرعون د مصر د هغه وخت د حاکم سياسي نظام اړخ تمثيلوي، هامان ئي د ايديالوژيکي او فکري اړخ استازی او د دغه نظام مفکر او تيوريسن دئ، د ده طبقه ده چي فرعون ته مشورې ورکوي، مسلط فرعوني نظام توجيه کوي، د فرعون له تصرفاتو او اقداماتو دفاع کوي او د ولس د اقناع لپاره فتواګاني ورکوي او قارون د پانګي او شتمنۍ څښتن او د شتمني طبقې ممثل دئ. هدف له فرعون، هامان او قارون يوازي درې کسان نه بلکي د فرعوني نظام درې واکمني طبقې معرفي کول دي. په دې نظام کي فرعون محور دئ او هامان او قارون ئي ښی او کيڼ لاسونه.

- دلته ويل شوي چي د مصر واکمنانو د موسى صلعم په اړه وويل: دروغجن کوډګر دئ!! بايد وګورو چي له دې اتهاماتو د دوی مقصد څه وو، ولې ئي هغه د کوډګر په نامه ياد کړی؟ آيا مراد ئي دا وو چي د ده معجزې ئي له کوډو او جادو سره ورته ګڼلې دي او که پر خلکو د ده د دعوت اغېز ئي داسي تعبير کړی لکه د کوډګرو د کوډو اغېز پر خلکو؟! دې ته په پام سره چي نور پيغمبران صلى او حتى هغه چي دې ته ورته معجزې ئي نه درلودې همداسي د مخالفينو له لوري د کوډګرو په نامه ياد شوي؛ په يقين سره ويلی شو چي له دې تورونو د دوی مقصد يوازي دا نه وو چي د پيغمبرانو صلى معجزې ئي له کوډو سره ورته ګڼلې دي بلکي مقصد ئي يا دا وو چي خلکو ته وواېي: دا پيغمبران د هغو په څېر دي چي په خپلې ټولنې کي ئي هر لوري ته ګورو، هغه چي د خلکو د غولولو لپاره ئي دلته او هلته د کوډو، دم او تعويذ دکانونه پرانيستي، چا ته وايي: په يوه تعويذ د بخت دروازې درته پرانيزم، د زړه مرادونه دي پوره کوم، دښمنان درته څملوم، د لاري خنډونه او بندونه ختموم... خو د سمي شکراني په بدل کي!!!، چا ته وايي: جادو دربانديَ شوی، نښي ئي ستا په زېړ رنګ کي له ورايه برېښي، ماتول ئي ګران کار دئ، زه به ئي د اولياوو او پېريانو په مرسته د ماتولو هڅه وکړم که ئي د شکراني ورکولو توان لرې!! او يا ئي پر خلکو د دوی د اغېزمن دعوت ژور

اغېز داسي تعبير کړی لکه د کوډگرو د کوډو اغېز پر خلکو؟! دا چې د ټولني بې وزلي، له نظرونو لوېدلي، فقر او مسکنت ځپلي خلك، هغه چې پر ټولني د مسلطو ځواکونو؛ مترفينو او مستکبرينو په وړاندي به ئې د څه ويلو جرأت نشو کولی، په لوړو سترگو به ئې نشو کتلی، او په جگ ږغ به ئې له هغوی سره خبري نشوی کولی، د دوی په وړاندي به ئې سر ټيټ او غاړه کږه وه خو نن او پر پيغمبر له ايمان راوړلو وروسته بدل شوي، نه يوازي ځان تر دوی ټيټ نه بولي بلکي له دوی او د دوی له واکمنی او مذهب سرغړاوی کوي، خپل پرونی مشران بې لاري گڼي او تگلاري ئې ناسمي، د حق پر حتمي بري او د باطل پر فوري ماتي باور لري، دا ټول ئې داسي تعبيرول لکه چې پر دوی کوډې شوې وي!!

• کله چې موسی صلعم دوی ته د الله تعالی له لوري حق دين وروړ او د مصر زلميانو پرې ايمان راوړ، نو دغو د زر، زور او تزوير خاوندانو وويل: د هغو زامن ووژنئ چې له ده سره ئې ايمان راوړی او ښځي ئې ژوندۍ پرېږدئ. بايد وگورو چې د فرعونيانو د دې پرېکړې معنی څه ده، ولي ئې د مؤمنانو د زامنو د وژلو او د ښځو د ژوندۍ پرېښودو پرېکړه کړې؟ د قرآن په نورو آيتونو کي د دې وضاحت شوی چې فرعونيانو هم د موسی صلعم تر پيدايښت وړاندي د بني اسرائيلو د زامنو د وژلو او لوڼو د ژوندی پرېښودو پرېکړه کړې وه او هم د ده له بعثت وروسته، موخه ئې دا وه چې دا قوم په ضعف او کمزورۍ کي وساتي، د دوی د شمېر زياتېدو مخه ونيسي، د دوی لوڼي د هغوی وينځي وي، په خپلو قصرونو کي د دوی خدمت ته اړ ول، د دوی زامنو پر موسی صلعم ايمان راوړی، د دوی د شمېر له زياتېدو وېرېدل، نو ځکه ئې دا پرېکړه کړې وه.

• د دې آيتونو په پای کي راغلي: (د کافرانو تدبير له ضلالت پرته په بل څه کي نه وو)، د دې فقرې دوه تعبيرونه کېدی شي: ۱- د دوی د ټولو تدبيرونو موخه دا وه چې له خپلو غلطو تگلارو او کړنلارو دفاع وکړي، تدبيرونه ئې د ضلالت په حمايت کي وو، ۲- د دوی تدبيرونه شنډ او بې حاصله شول، هيڅ گټه ئې ورنه رسوله، نتيجه ئې د دوی په ضرر او تاوان وه. دوهم تعبير دقيق دئ او د آيت له سياق او سباق سره اړخ لگوي. د ورپسې آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دغو هڅو نتيجه نه ده ورکړې نو ځکه فرعون له خپلو مشاورينو غوښتي چې ده ته د موسی صلعم د وژلو اجازه ورکړي.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِىٓ أَقْتُلْ مُوسَىٰ وَلْيَدْعُ رَبَّهُۥٓ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ فِى ٱلْأَرْضِ ٱلْفَسَادَ ﴿٢٦﴾

او فرعون وويل: ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، او هغه دې خپل رب (مرستي ته) وروبلي، زه وېرېږم چې ستاسو دين به بدل کړي او يا به په زمکي کي فساد خور کړي!

---

(۲۶)- دا مبارك آيت وايي: فرعون خپلو مشاورينو او ولس ته څلور خبري وکړې: ۱- ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، ۲- موسی دي له خپل رب مرسته وغواړي، ۳- زه وېرېږم چې

ستاسو دين به بدل كړي، ٤- زه وېرېږم چي په زمكي كي به فساد خور كړي!

ګورئ چي هغه په پټه يوه خبره كوي او په څرګنده بله، خپلو درباريانو ته د ټولو دروازو تر شا وايي: ما پرېږدئ چي موسى ووژنم، موسى دي خپل خداى مرستي ته وروبلي، خو كله چي له عام ولس سره مخامخ كېږي وايي: زه وېرېږم چي موسى ستاسو غوره دين بدل نه كړي او په مصر كي بې امني او فساد خور نكړي!! دا دئ ګورئ چي هغه ستر مفسد اوس دا دعوى كوى چي موسى صلعم فساد خوروي، هغه له الله تعالى باغي او د دين ستر دښمن اوس د دين حامي شوى، قرآن په دې سره موږ ته لارښوونه كوي چي دا د هري ديني مبارزې يوه مرحله ده، د پيغمبرانو عليهم السلام په خط روانو نهضتونو باندي هرومرو دا مرحله راځي، د مبارزې په يوه خاص پړاو كي به دښمن هم د نهضت شعارونه عنوانوي، د دين په جامه كي به د دين مقابله كوي، موږ د خپلي مبارزې په جريان كي په وار وار دا حقيقت په خپلو سترګو وليد، په وار وار همداسي وشول، د كمونيستانو په ضد د مبارزې په دوران كي هغه پړاو راغى چي له الله تعالى منكر او د دين سرسختو دښمنانو به خپلي ويناوي په بسم الله الرحمن الرحيم شروع كولي او په من الله التوفيق به ئې ختمولي، بې اودسه به په لمانځه ودرېدل، د لمانځه فيلمونه به ئې په تلويزيون كي ښودل كېدل، د شئون اسلامي وزارت ئې جوړ كړ، ويل ئې چي دولت ئې څلرويشت زره ملايانو ته معاش وركوي، د مجاهدينو په اړه به ئې ويل چي دوى جوماتونه ورانوي او ملايان وژني!! د امريكايانو د اشغال په دوران كي مو وليدل چي په جوماتونو، مدرسو ښارونو او د خلكو د ګڼه ګوڼي ځايونو كي به ئې په خپله چاودني كولي او مجاهدينو ته به ئې منسوبولي، عظيم الشأن قرآن دغه مرحله د نهضت د يوې طبيعي او حتمي راتلونكي مرحلي او د يوه سنت په توګه معرفي كوي، او په دې سره د الله د لاري مجاهدينو ته لارښوونه كوي چي له داسي پړاو سره مخامخ كېدو ته ذهناً چمتو وي، هغه ورځ به راځي چي فرعون ووايي: إني اخاف أن يبدل دينكم: زه وېرېږم چي ستاسي دين بدل نكړي!! ستاسو د غوره پلرني دين په اړه اندېښنه لرم، داسي نه چي موسى په خپل سحر او جادو او په خپلو جادويي ويناوو سره ستاسو پلرنى لرغونى دين او مذهب بدل كړي، هغه لوى مفسد، د طبقاتي نظام سالار، چي ولس ئې په ډلو ډلو ويشلى وو، د بني اسرائيلو زامن ئې ذبح كول، لوڼي ئې د وينځو په توګه ساتلي، پر دې مظلوم او بې وزلي قوم ئې ټول هغه ظلمونه او ناروا وي له كلونو كلونو رااېسي روا ګڼلي، هغه ئې په استضعاف او ذلت كي ساتلى، د يوه بشپړ قوم فرد فرد د مريي او وينځي په توګه د فرعونيانو په دربارونو كي د ذلت شپې ورځي تېرولي، د همدې ظالم او طبقاتي نظام بې رحمه سالار؛ له ډېرو ظلمونو، ټولو او وژلو وروسته وايي: وېرېږم چي په هېواد كي بې امني خوره نشي!! دا خبره پرون روسانو تكرار كړه، نن ئې امريكايان تكراروي، پرون كمونيستانو وكړه؛ نن ئې د امريكا د فوځونو په زور مسلط شوي لنډه غر غربيالان كوي!! روسانو يو نيم مليون بې ګناه افغانان ووژل، ټول هېواد ئې په كنډوالو بدل كړ، كلي او كورونه ئې په توپونو او بمونو ويجاړكړل؛ خو سره له دې به ئې ويل: مجاهدين پلونه ورانوي، مدرسي، جوماتونه او مكتبونه ورانوي، نن امريكايان همدغه تبليغات كوي، په داسي حال كي چي په كليو، ښارونو، مدرسو او جوماتونو بمونه وروي، د خلكو د غم او ښادي په غونډو ډزي كوي، هره ورځ په لسګونو افغانان په خپلو وينو كي رغړوي، خو وايي چي مجاهدين مكتبونه، مدرسي

او جوماتونه او عام المنفعه تأسيسات ورانوي، په خپل لاس به په دغو ځایونو کې بمونه منفجر کړي چې مجاهدین پرې تورن کړي، ګورئ چې هماغه د فرعون خبره پرون د روسانو په خوله تکرارېده او نن د امریکایانو په خوله. او دا ښیي چې د قرآن قصې تاریخي بېلګې او مثالونه دي چې تل به تکرارېږي، د تاریخ په هر پړاو او د زمانې په هر موړ کې به یو فرعون وي او په مقابل کې ئې یو موسی، او دا مبارزه به د فرعون په غرقېدا پای ته رسي.

دا مبارك آیتونه موږ ته وایي: موسی صلعم په دې توګه لېږل شوی چې په لومړي سرکي به د فرعون مقابله کوي، د دښمن د متحدې جبهې له دریو اړخونو به لومړی د فرعون (د سیاسي حاکمي طبقې سالار) په خلاف د مبارزې جبهه پرانیزي، بیا به د هامان او په پای کې د قارون مقابله کوي، خو دغو دریو ځواکونو لومړی د بني اسرائیلو د زامنو په وژلو لاس پورې کړی، د مؤمنو ځوانانو د وژلو دې اقدام هغه نتیجه ورنه کړه چې دوی ئې انتظار درلود، د قرآن په اصطلاح : و ما کید الکافرین الافی ضلال: او د کافرانو کید او توطئه له دې پرته بله پایله نه درلوده چې معکوس نتائج ورکړي، نو بیا ئې د موسی صلعم د وژلو پرېکړه کړې خو دا هم عملي نه شوه، نو فرعون له خپلو درباریانو سره مشوره کوي چې اوس څه وکړو؟ په ۲۸ آیت کې د دې مشورې تفصیلات زموږ په وړاندې انځور شوي.

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٧﴾

او موسی وویل: زه خپل رب او ستاسو رب ته له هر هغه کبرجن پناه وړم چې د حساب په ورځې ایمان نه لري.

(۲۷)- له دې میارك آیت معلومېږي چې موسی صلعم د فرعون له تصمیم او پرېکړې خبر شوی نو ځکه ئې ویلي: زه خپل رب او ستاسو رب ته له هر هغه کبرجن پناه وړم چې د حساب په ورځې ایمان نه لري. وروستی آیت ښیي چې د موسی صلعم د دعوت لمن د فرعون تر دربار پورې غځېدلې او هلته ئې هم داسې خواخوږي درلودل چې دی ئې نه یوازې د دربار له جریاناتو او پرېکړو خبرولو بلکې له ده ئې دفاع کوله، وروستي آیت دغه مطلب ته اشاره کوي.

وَقَالَ رَجُلٞ مُّؤۡمِنٞ مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ أَتَقۡتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ
رَبِّيَ ٱللَّهُ وَقَدۡ جَآءَكُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ مِن رَّبِّكُمۡۖ وَإِن يَكُ كَٰذِبٗا فَعَلَيۡهِ كَذِبُهُۥۖ وَإِن
يَكُ صَادِقٗا يُصِبۡكُم بَعۡضُ ٱلَّذِي يَعِدُكُمۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ مُسۡرِفٞ كَذَّابٞ
﴿٢٨﴾ يَٰقَوۡمِ لَكُمُ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَ ظَٰهِرِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأۡسِ ٱللَّهِ إِن

جَآءَنَاۚ قَالَ فِرۡعَوۡنُ مَآ أُرِيكُمۡ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٢٩﴾
وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُم مِّثۡلَ يَوۡمِ ٱلۡأَحۡزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثۡلَ دَأۡبِ
قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلۡمٗا لِّلۡعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَيَٰقَوۡمِ
إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ يَوۡمَ ٱلتَّنَادِ ﴿٣٢﴾ يَوۡمَ تُوَلُّونَ مُدۡبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۗ
وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدۡ جَآءَكُمۡ يُوسُفُ مِن قَبۡلُ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ
فَمَا زِلۡتُمۡ فِي شَكّٖ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلۡتُمۡ لَن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ
بَعۡدِهِۦ رَسُولٗاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنۡ هُوَ مُسۡرِفٞ مُّرۡتَابٌ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِينَ
يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ سُلۡطَٰنٍ أَتَىٰهُمۡۖ كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْۚ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلۡبِ مُتَكَبِّرٖ جَبَّارٖ ﴿٣٥﴾

او د فرعونیانو یوه مؤمن سړي چې خپل ایمان ئې پټولو وویل: آیا یو سړی له دې کبله وژنئ چې وایي: زما رب الله دئ؛ په داسي حال کي چي په یقیني توګه ئې ستاسو د رب له لوري څرګندي نښي درته راوړې، که هغه دروغجن وي د درواغو پایله به ئې پر غاړه وي او که رښتینی وي نو له هغه څه به کومه برخه درورسیږي چي وعده ئې درکوي، یقیناً چي الله هغه څوك نه هدایتوي چي دروغجن تېری کوونکی وي، اې زما قومه! نن خو واکمني په داسي حال کي ستاسو په برخه ده چي په دې زمکي کي غالب یئ نو که د الله عذاب راورسیږي څوك به مو د هغه په وړاندي مرسته کوي؟! فرعون وویل: له هغه څه پرته بل څه نه دربښیم چي زه ئې (غوره) وینم او د کمال له لاري پرته بل څه ته ستاسو لارښوونه نه کوم، او هغه چي ایمان ئې راوړی وو وویل: اې زما قومه! زه پر تاسو د دغو ډلو د (بدي) ورځي په څېر (ورځي راتلو) وېرېږم، د نوح د قوم او د عاد، ثمود او هغو حالت ته ورته چي تر دوی وروسته ول، په داسي حال کي چي الله پر خپلو بندګانو د ظلم اراده نه لري، او اې زما قومه! زه پر تاسو یو بل ته د چیغو وهلو له ورځي وېرېږم، له هغي ورځي چي د شا ته کېدونکو په توګه به مخ

اړوئ، په داسي حال کي چي د الله له لوري به کوم ساتونکی نه لرئ، او الله چي څوك بې لاري کړي هيڅ لارښود به ئې په برخه نشي، او يقيناً چي تر دې وړاندي يوسف څرګندي نښي درته راوړې نو تاسو تل د هغه څه په اړه په شك كي وئ چي هغه درته راوړل؛ تر هغه چي وفات شو نو تاسو وويل: الله به تر ده وروسته هيڅكه كوم پيغمبر ونه لېږي، الله همداسي هر شكمن تېرى كوونكى بې لاري كوي، هغه چي د الله د آيتونو په اړه له داسي كوم دليل پرته مجادله كوي چي ورته راغلى وي، د الله او د هغو په وړاندي ستر (جرم) چي ايمان ئې راوړى، همداسي الله د هر كبرجن جابر پر زړه مهر لګوي.

(۲۸-۳۵)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- د فرعون په هغي غونډي كي چي له درباريانو ئې د موسى صلعم د وژلو موافقه غوښتله يوه مؤمن سړي چي خپل ايمان ئې پټولو وويل: آيا يو سړى له دې كبله وژنئ چي وايي: زما رب الله دئ؛ په داسي حال كي چي ستاسو د رب له لوري ئې څرګندي نښي درته راوړې، كه هغه دروغجن وي نو د درواغو بده پايله به ئې په برخه شي، او كه رښتينى وي نو كېدى شي په داسي كوم عذاب اخته شئ چي هغه مو ترې وېروي، په دې كي شك نشته چي الله تعالى هغه څوك نه هدايتوي چي دروغجن او تېرى كوونكى وي. د دې فقرې ګڼ شمېر تعبيرونه شوي چي تر ټولو غوره ئې دا دئ: څوك چي مسرف او دروغجن وي الله تعالى به ئې هيڅكله خپلو موخو ته د رسېدلو په لوري هدايت نه كړي، يعني كه د موسى صلعم په اړه ستاسو ادعاء سمه وي او دى حقيقتاً دروغجن او مسرف وي نو هيڅكله به خپلو موخو ته ونه رسېږي، خو په عين حال كي د دې مؤمن انسان دغه وينا فرعونيانو ته هم متوجه ده او په غير مستقيمه توګه هغوى ته وايي: تاسو به هم د خپل كذب او اسراف له كبله خپلو موخو ته ونه رسېږئ.
- اې زما قومه! نن خو واكمني په داسي حال كي ستاسو په برخه ده چي په دې زمكي كي غالب او برلاسي يئ خو كه د الله تعالى عذاب راورسېږي څوك به مو د هغه په وړاندي مرسته كوي؟!
- فرعون وويل: له هغه څه پرته بل څه نه درښيم چي ما ته غوره برېښېدلي، يوازي د رشد او كمال لوري ته ستاسو لارښوونه كوم.
- هغه چي ايمان ئې راوړى وو وويل: اې زما قومه! زه پر تاسو د داسي بدو ورځو له راتلو وېرېږم چي نور قومونه ورسره مخامخ شوي، د نوح د قوم او د عاد، ثمود او هغو حالت ته ورته چي تر دوى وروسته ول، دوى د ظلم لار غوره كړه او الله تعالى سزا وركړه، كه په سخت عذاب اخته شوي نو د همدې مستحق ول دا ځكه چي الله تعالى پر خپلو بندګانو د ظلم اراده نه لري. او اې زما قومه! زه پر تاسو د داسي سختي ورځي له راتلو وېرېږم چي يو به بل ته چيغي وهئ او مرسته به ترې غواړئ، له هغي ورځي چي د مرستي پر ځاى به يو له بل مخ اړوي او تر شا كېږي به، داسي څوك به نه مومي چي له الهي عذاب ئې وساتي. الله تعالى چي څوك بې لاري كړي هيڅ لارښود به ئې په برخه نشي.

- تر دې وړاندې يوسف صلعم څرګندې نښې درته راوړې خو تاسو تل د هغه د دعوت په اړه شكمن وئ؛ تر هغه چې وفات شو نو تاسو وويل: الله به تر ده وروسته هيڅكله كوم پيغمبر ونه لېږي، د دې وينا ښې ښې تعبيرونه شوي چې غوره ئې دا دئ: كه مصريانو د يوسف صلعم په څېر ستر شخصيت باندې ايمان رانه وړ نو دا ښيي چې په دوى كې د ايمان راوړلو استعداد په بشپړه توګه ځپل شوى، د دې وړ نه دي چې الله تعالى بل پيغمبر ورولېږي.
- الله تعالى همداسې هر شكمن تېرى كوونكى بې لارې كوي، هغه چې د الله د آيتونو په اړه له داسې دليل پرته مجادله كوي چې ده ته راغلى وي، له داسې دليل پرته د الله تعالى د آيتونو په اړه مجادله هم د الله تعالى په وړاندې ستر جرم دئ هم د هر مؤمن له نظره. قريشو د رسول اللهﷺ په اړه همغه سلوك غوره كړى چې مصريانو د يوسف صلعم په وړاندې غوره كړى وو، د دوى په سينو كې كبرجن او جابر زړونه دي او الله تعالى د هر كبرجن جابر پر زړه مهر لګوي.

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبۡنِ لِي صَرۡحٗا لَّعَلِّيٓ أَبۡلُغُ ٱلۡأَسۡبَٰبَ ﴿٣٦﴾ أَسۡبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبٗاۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِۚ وَمَا كَيۡدُ فِرۡعَوۡنَ إِلَّا فِي تَبَابٖ ﴿٣٧﴾

او فرعون وويل: اې هامانه! ما ته يوه دنګه ماڼۍ جوړه كړه؛ هيله ده دغو لارو ته ورسېږم، د آسمانونو لارو ته چې په دې توګه د موسى معبود ته وګورم په داسې حال كې چې زه ئې يقيناً دروغجن انګېرم، او فرعون ته د ده بد عمل همداسې ښايسته كړى شو او له سمې لارې واړول شو، او د فرعون تدبير له تباهۍ پرته په بل څه كې نه وو.

(٣٦-٣٧)- په دې مباركو آيتونو كې د موسى صلعم د هغه مؤمن مدافع او هوښيار حامي د اغېزمنو نصائحو او مضبوطو دلائلو په وړاندې د فرعون كبرجن غبرګون داسې انځور شوى: فرعون وويل: اې هامانه! ما ته يوه دنګه ماڼۍ جوړه كړه؛ هيله ده د دغې ماڼۍ په مرسته د آسمان هغو لارو ته ورسېږم چې موسى (صلعم) ئې يادونه كوي او وايي: له دغو لارو ما ته د الله تعالى له لوري وحې شوې، غواړم دغو لارو ته ورسېږم، او هلته د موسى معبود وګورم، سره له دې چې زه ئې دروغجن ګڼم!! قرآن د فرعون د دغې كچه او مسخره خبرې په اړه فرمايي: فرعون ته د ده دغه كركجن او بدغونې عمل ښايسته كړى شو او په دې توګه په سمې لارې له تلو منع كړى شو، د فرعون تدبير له تباهۍ پرته په بل څه كې نه وو!!

د دې مباركو آيتونو په ژورو مفاهيمو د ښه پوهېدو لپاره لږ غور او دقت ته ضرورت لرو، دلته د موسى صلعم د مؤمن حامي د اغېزمنو نصائحو په ځواب كې د فرعون داسې وينا راغلې چې په حقيقت كې د حق په وړاندې د هر فرعون غبرګون انځوروي، د حق خلاف

د دوی غبرگون تل همداسې وي، د دوی محاسبه هم د دنگو دنگو ماڼیو او مجللو قصرونو پر بنسټ وي او تکیه او اعتماد هم، د دوی له نظره د قصرونو لوړوالی د شخصیتونو د عظمت او لوړوالي نښه وي، د همدې له مخې ځان تر نورو غوره او لوړ گڼي، خو دې ته مو پام وي چې هغوی ځان ته د دنگو دنگو ماڼیو په جوړولو کې همداسې بهانې کاروي چې فرعون کارولې: هامان ته د دنگ قصر جوړولو امر کوي خو د موسی صلعم د ماتولو او پر کولو تر نامه لاندې!! آیا عجیبه نه ده چې فرعون د قصر جوړولو لپاره دا بهانه کاروي: غواړم لوړ ولاړ شم او د لوړ قصر له بام د موسی معبود وگورم او دا کار په داسې حال کې کوم چې پوهېږم موسی دروغجن دئ!! یعني غواړم ثابته کړم چې د الله تعالی په اړه د موسی ادعاء غلطه ده او زما باور سم!! د فرعون دا وینا ما ته د هغه روسي وینا رایادوي چې فضاء ته لیږل شوی وو او له راستنېدو ورسته ئې وویل: ما په فضاء کې خدای ونه موندو!! د ده د لیږنې یوه موخه همدا وه چې له راستنېدو وروسته همغه د فرعون وینا تکرار کړي، او په دې سره د کمونیستانو هغې غلطې ادعاء ته کوم سست بنسټ جوړ کړي چې وایي: خدای نشته!! یوازې په دومره توپیر سره چې فرعون د خپل قصر له بامه دا خبره وکړه او ده د سپوږمۍ له اړخه!! عجیبه ده، ډېره ډېره عجیبه!! آیا د هغه چا عقل ته حیران نشو او پرې ونه ژاړو چې خدای د خپل قصر پر بام او د سپوږمۍ په اړخ کې لټوي او غواړي په خپلو کمزورو سترگو هغه رب وگوري چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي او د عالم ذره ذره په لوړ ږغ د هغه د شته والي شهادت ورکوي!!

وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُونِ أَهۡدِكُمۡ سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٣٨﴾ يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلۡقَرَارِ ﴿٣٩﴾ مَنۡ عَمِلَ سَيِّئَةٗ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَاۖ وَمَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ يُرۡزَقُونَ فِيهَا بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٤٠﴾

او هغه چې ایمان ئې راوړی وو وویل: اې زما قومه! زما متابعت وکړئ چې د رشد او کمال لار دروښیم، اې زما قومه! یقیناً چې دا دنیایي ژوند فقط یوه متاع ده او یقیناً چې د تمېدو کور خو همغه آخرت دئ، چا چې بدغونی عمل وکړ نو یوازې هغه ته ورته سزا به ورکول کیږي او له نارینه او ښځینه وو چې چا نېك عمل وکړ په داسې حال کې چې مؤمن وي نو همدا دوی به جنت ته ننوځي چې هلته به له حساب پرته روزي ورکول کیږي.

(۳۸-٤۰)- دلته د فرعون د وینا او ادعاء په ځواب کې د هغه مؤمن انسان دا وینا وي راوړل شوې: اې زما قومه! زما متابعت وکړئ چې د رشد او کمال لار درو ښیم، او دا د فرعون د

هغي وينا په ځواب کي ده چي ويلي ئې وو: له هغه څه پرته بل څه نه درښيم چي ما ته غوره برېښېدلي، يوازي د رشد او کمال لوري ته ستاسو لارښوونه کوم. يعني سمه رأيه همدا زما رأيه ده، زما په متابعت کي ترقي کولی شئ او رشد او کمال ته رسېدلی شئ، خو د ده په ځواب کي هغه مؤمن انسان د سمي لاري ځانګړتياوي په ګوته کوي او خلك د فرعون په څېر د خپل هوس متابعت ته نه بلي بلکي سمي تګلاري ته ئې بلي او ورته وايي: اې زما قومه! يقيناً چي دا دنيايي ژوند فقط يوه متاع ده، د ګټي اخيستلو او استفادې لپاره فقط يوه وسيله او ذريعه ده، د آخرت په لوري د سفر توښه ده، د اوسېدو او قرار ځای د آخرت کور دئ، چا چي بدغونی عمل وکړ نو يوازي هغه ته ورته سزا به ورکول کېږي او له نارينه او ښځينه وو چي چا نېك عمل وکړ په داسي حال کي چي مؤمن وي نو همدا دوی به جنت ته ننوځي او هلته به بې حسابه روزي ورکول کېږي.

وَيَٰقَوۡمِ مَا لِيٓ أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدۡعُونَنِيٓ إِلَى ٱلنَّارِ ﴿٤١﴾ تَدۡعُونَنِي
لِأَكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشۡرِكَ بِهِۦ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٞ وَأَنَا۠ أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡغَفَّٰرِ
﴿٤٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِ لَيۡسَ لَهُۥ دَعۡوَةٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَلَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ
مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذۡكُرُونَ مَآ أَقُولُ
لَكُمۡۚ وَأُفَوِّضُ أَمۡرِيٓ إِلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٤٤﴾

او اې زما قومه! څه راسره کېږي چي زه مو د نجات لوري ته بلم او تاسو مي د اور لوري ته بلئ، دې ته مي بلئ چي د الله په اړه کفر وکړم او هغه څه ورسره شريك کړم چي په اړه ئې هيڅ علم نه لرم او زه مو د بخښونکي عزتمن لوري ته بلم، حقيقت له دې پرته بل څه نه دئ چي د کوم څه لوري ته ما بلئ نه په دنيا کي کومه بلنه ورته شته او نه په آخرت کي، او دا چي ستنېدا مو د الله لوري ته ده او دا چي مسرفين د اور خاوندان دي، نو حتماً به هغه څه درپه ياد کړئ چي زه ئې درته وايم، او خپل کار الله ته حواله کوم، يقيناً چي الله د خپلو بندګانو ښه ليدونکی دئ.

(٤١-٤٤)- دا مؤمن داعي او د موسی صلعم حامي ورو ورو خبره وړاندي بيايي، د موسی صلعم له دفاع وړاندي درومي، فرعونيان پر الله تعالی ايمان ته بلي او ورته وايي: اې زما قومه! دا زما څه حال دئ چي زه مو د نجات لوري ته بلم او تاسو مي د اور لوري ته، دې ته مي بلئ چي د الله تعالی په اړه کفر وکړم او هغه څه ورسره شريك کړم چي په اړه ئې هيڅ علم نه لرم او زه مو د بخښونکي عزتمن رب لوري ته بلم، حقيقت له دې پرته بل څه نه دئ چي د

کوم څه لورې ته ما بلئ نه په دنيا کې کومه بلنه ورته شته او نه په آخرت کې، نه په دنيا کې د بلنې د اجابت او قبلولو توان او واك لري او نه په آخرت کې، نه دلته ستاسو حاجتونه ترسره کولی شي او نه په آخرت کې کومه مرسته درسره کولی شي. زموږ ټولو ستنېدا د الله تعالی لورې ته ده او د مسرفينو او تېرې کوونکو پايله د دوزخ په اور کې لوېدل دي، داسې ورځ به حتماً راشي چې زما دغه وينا درپه ياد شي، زه خپل کار الله تعالی ته حواله کوم، يقيناً چې الله د خپلو بندگانو ښه ليدونکی دئ.

فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُواْۖ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ ﴿٤٥﴾ ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۖ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ﴿٤٦﴾

نو الله له هغو بدو تدبيرونو وساتو چې دوی وکړل او بد عذاب په خپله د فرعونيانو په برخه شو، هغه اور چې سبا او بيگا ورووړاندې کېږي او هغه ورځ چې قيامت راشي (وبه ويل شي:) فرعونيان ډېر شديد عذاب ته ننباسئ.

(٤٥-٤٦)- دا مبارك آيتونه وايي: الله تعالی هغه مؤمن بنده د فرعونيانو له دسيسو وساتو، نه يوازې ونه توانېدل هغه ته کوم تاوان ورسوي بلکې الله تعالی دوی په خپله په سخت عذاب اخته کړل، داسې اور ئې ورپه برخه کړ چې سبا او بيگا به ورووړاندې کېږي او د قيامت په ورځ به د دوی په اړه ووېل شي: فرعونيان ډېر شديد عذاب ته ننباسئ.

د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دلته دوه ډوله عذابونه په گوته شوي: ١- هر سبا او ماښام د اور عذاب ته د دوی وړاندې کېدل ٢- او د قيامت په ورځ شديد عذاب ته د دوی ننايستل، لومړی عذاب تر قيامت وړاندې او دوهم عذاب تر قيامت وروسته، د لومړي عذاب په اړه ويل شوي چې دوی به دغه عذاب ته عرضه کېږي او د دوهم عذاب په اړه ويل شوي چې دوی به ورننايستل کېږي، د دې معنی دا ده چې دوی به تر قيامت وړاندې په مسلسله توگه هر سبا او بيگا له عذاب سره مخامخ کېږي خو دا عذاب به په دوزخ کې له ننوتلو سره توپير لري، او همدا هغه عذاب دئ چې په رواياتو کې د برزخ عذاب په نامه ياد شوی، د آيت له الفاظو دا هم معلومېږي چې د برزخ عذاب روحي عذاب دئ نه بدني، د دوزخ له شديد عذاب سره ئې توپير په همدې کې دئ. همدا رأيه هم د قرآن له لارښوونو سره اړخ لگوي او هم له واقع سره، که د برزخ عذاب بدني عذاب وی نو نښې به ئې د معذب شوو پر بدن څرگندېدې.

وَإِذۡ يَتَحَآجُّونَ فِي ٱلنَّارِ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَـٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمۡ

تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟
إِنَّا كُلٌّ فِيهَآ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ ٱلْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِى ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ
جَهَنَّمَ ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوٓا۟ أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ
رُسُلُكُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ ۚ قَالُوا۟ فَٱدْعُوا۟ ۗ وَمَا دُعَٰٓؤُا۟ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ


او هغه مهال چې په اور کې به په خپلمنځي شخړې بوخت وي، نو مستضعفين به هغو ته چې لويي ئې غوښته ووايي: موږ خو ستاسو متابعين وو نو آيا تاسو له موږ د اور د کومې برخې دفع کوونکي يئ، هغه به وايي چې لويي ئې غوښته: موږ خو ټول په همدې (اور) کې يو، يقيناً چې الله د خپلو بندګانو تر منځ پرېکړه کړې ده، او هغه چې په اور کې دي د دوزخ ساتونکو ته به ووايي: خپل رب ته دعاء وکړئ چې يوه ورځ د دې عذاب کومه برخه له موږ سپکه کړي، وبه وايي: آيا داسې نه وه چې تاسو ته ستاسو پيغمبرانو ځرګندې نښې دروړلې، وبه وايي: ولې نه؛ وبه وايي: نو (په خپله) دعاء وکړئ، په داسې حال کې چې د کافرانو بلنه له ضلالت پرته په بل څه کې نه وي.

(٤٧-٥٠)- دلته يو ځل بيا په دوزخ کې د دوزخيانو هغه حالت انځور شوی چې يو به بل ملامتوي، کشران به خپلو مشرانو ته وايي: موږ خو په دنيا کې ستاسو لمن نيولې وه، په تاسو پسې روان وو، ګمان مو دا وو چې ستاسو سپارښتنه او شفاعت به موږ د الله تعالی له مؤاخذې ژغوري، تاسو راته ويل چې موږ سعادت ته د رسېدلو لار درښيو، نو آيا اوس کولی شئ د دې عذابونو کومه برخه له موږ سپکه کړئ، د دوی کبرجن مشران به ورته ووايي: نه ګورئ چې موږ ټول په دوزخ کې پراته يو!! دا پرېکړه د الله تعالی له لوري شوې، موږ ئې نشو بدلولی، زموږ په لاس کې هيڅ نشته، کله چې يو له بله ناهيلي او مأيوس شي نو د دوزخ ساتونکو ته به مخه کړي، هغوی ته به ووايي: خپل رب ته دعاء وکړئ چې يوه ورځ د دې عذاب کومه برخه له موږ سپکه کړي، د دوزخ ساتونکي به ځواب ورکړي: آيا تاسو ته ستاسو پيغمبران نه وو درغلي او ځرګندې نښې ئې نه وې دروړې؟!! دوزخيان به ووايي: ولې نه؛ فرښتې به ورته ووايي: موږ له څه کولو عاجز يو، په خپله دعاء وکړئ، خو په دې پوه شئ چې د کافرانو بلنه هيڅ حاصل نه لري، همغسې لکه په دنيا کې چې د دوی بلنه له ضلالت پرته په بل څه کې نه وه نن هم د دوی د دعاء غشی پر نښې نه لګېږي.

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ ٱلْأَشْهَٰدُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ
لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ ۖ وَلَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٥٢﴾

يقيناً چي موږ د خپلو پيغمبرانو او هغو چي ايمان ئې راوړی په دنيايي ژوند کي هم او په هغې ورځې هم مرسته کوو چي گواهان به ودرېږي، هغه ورځ چي ظالمانو ته به د دوی عذرونه گټه نه رسوي او دوی ته به لعنت ورپه برخه وي او بد استوگنځی به ئې وي.

(٥١-٥٢)- په دې مباركوآيتونو كي د الله تعالى دا نه بدلېدونكى او دائمي سنت بيان شوی چي په دنيا او آخرت كي د خپلو پيغمبرانو او مؤمنانو مرسته كوي، په دنيا كي به هم وروستۍ بريا د دوی وي او د قيامت په هغه ورځ به هم دوی بريالي وي چي ټول انسانان به د الله تعالى په وړاندي ولاړ وي، الهي محاكمه به پيل شوې وي او د هر چا د كړنو په اړه به گواهان وړاندي كيږي، هغه ورځ چي ظالمانو ته به د دوی عذرونه هيڅ گټه نه رسوي، په الهي لعنت به اخته وي او د دوزخ بد استوگنځی به ئې په برخه وي.

دې ته مو پام وي چي دلته گواهان په عامه صيغه راغلي، ټول هغه گواهان ترې مراد دي چي د انسان د كړنو په اړه به گواهي وركوي.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْهُدَىٰ وَأَوْرَثْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى
وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٤﴾

او يقيناً چي موسى ته مو لارښوونه ورپه برخه كړه او بني اسرائيلو ته مو هغه كتاب په ميراث پرېښود، د عقلمنو لپاره لارښوونه او پند.

(٥٣-٥٤)- دلته د موسى صلعم او بني اسرائيلو په خبرې كي د الله تعالى د هغه ثابت سنت يوه بېلگه زموږ په وړاندي ځليږي، الله تعالى خپل پيغمبر موسى صلعم ته لارښوونه وكړه، پر فرعون ئې برى وركړ، او بني اسرائيلو ته ئې د تورات هغه كتاب په ميراث پرېښود چي د عقلمنو لپاره لارښوونه او پند وو.

فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِىِّ
وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٥٥﴾

نو صبر كوه چي يقيناً د الله وعده رښتيني ده، او د خپلي گناه لپاره بخښنه غواړه او

سبا او ماښام د خپل رب د ستاينې تسبيح وايه.

(٥٥)- په دې مبارك آيت كې رسول الله ﷺ او د قرآن هر مؤمن مخاطب ته څو لارښووني شوې:

- **صبر كوه.**
- **د الله تعالى وعده رښتينې ګڼه.**
- **د خپلې ګناه لپاره بخښنه غواړه.**
- **سبا او ماښام د خپل رب حمد او تسبيح وايه، يعني تل ئې د ټولو ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه ګڼه.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۙ إِن فِى صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ ۚ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾ لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ



يقيناً هغه چې د الله د آيتونو په اړه مجادله كوي پرته له دې چې كوم دليل وركړى شوى وي؛ په سينو كې ئې داسې كبر دئ چې هيڅكله وررسېدلى نشي، نو په الله سره پناه غواړه، يقيناً چې هغه ليدونكى اورېدونكى دئ، د آسمانونو پيدايښت حتماً د خلكو تر پيدايښت ډېر ستر (كار) دئ؛ خو اكثر خلك نه پوهېږي.

(٥٦-٥٧)- دا مبارك آيتونه وايي:

- ~~څوك چې د الله د آيتونو په اړه مجادله كوي په داسې حال كې چې د خپلې ادعاء لپاره هيڅ~~ دليل نه لري، دوى غولوونكي كبر دې مجادلې ته هڅولي، هيڅكله به خپلو موخو ته ونه رسېږي او په دې مجادلې كې به بريا تر لاسه نه كړي.
- د دغو كبرجنو مخالفينو د مخالفتونو پروا مه كوه، د دوى د مخالفت په وړاندې الله تعالى ته پناه يوسه، يقيناً چې هغه ليدونكى اورېدونكى دئ، د دوى خبرې اوري او ستا له حالته خبر دئ او د ده تر رعايت او عنايت لاندې يې.
- دوى د انسان بيا ژوندون محال ګڼي، په آخرت او الهي محاسبې او مكافات او مجازات باور نه لري، دې ته ئې پام نه دئ چې د آسمانونو پيدا كوونكي رب ته د وړوكي انسان بيا پيدا كول ډېر ساده او آسان كار دئ!!
- ستونزه دا ده چې ډېرى خلك نه پوهېږي، كه پوهېدلى نو هيڅكله به ئې د الهي آيتونو مخالفت نه وو كړى او د انكار لار به ئې نه وه غوره كړې.

وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَلَا ٱلْمُسِىٓءُ ۚ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾

او نه ړوند او سترګور سره برابر دي، او نه هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او نه بدکار، لږ شانته پند اخلئ، يقيناً چې (د قيامت هغه) نېټه حتماً راتلونکې ده، هيڅ شك په کې نشته؛ خو ډېری خلك ايمان نه راوړي.

(۵۸-۵۹)- په مخکنيو آيتونو کې د قيامت دا اړخ څېړل شوی چې مړي به بيارااژوندي کېږي، په دې اړه دا دليل وړاندې شوی چې د آسمانونو پيدا کوونکي رب ته د وړوکي انسان بيا پيدا کول ډېر ساده او آسان کار دئ**!!**

په دې مبارکو آيتونو کې د مسئلې دا اړخ څېړل شوی چې الهي محاسبه او مکافات او مجازات داسې څرګند حقيقت دئ چې حتماً به تر سره کېږي، دا ځکه چې انسان په خپله دا مني چې نه ړوند او سترګور سره برابر دي او نه هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او نه بدکار، آيا د ښه او بد، ړوند او سترګور په اړه د انسان دا قضاوت د دې څرګنده نښه نه ده چې د انسان خالق به حتماً په همدې صفت متصف وي، په هر مخلوق او مصنوع کې هر صفت په حقيقت کې د هغه د خالق او صانع د ځانګړتياوو مظهر وي، په انسان کې د توپير دا قضاوت ښيي چې رب ئې حتماً په همدې صفت متصف دئ، حتماً به داسې نېټه راځي چې هغه حقيقي قاضي د انسان د کړنو په اړه خپله پرېکړه وکړي. د عقل حکم همدا دئ خو ستونزه دا ده چې تاسو لږ شانته پند اخلئ، او ډېری خلك داسې دي چې په هغه څه ايمان راوړلو ته چمتو نه وي چې د ده فطرت او عقل ئې غوښتنه کوي.

د آيت دا ترکيب چې وايي: نه ړوند او سترګور سره برابر دي، او نه هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او نه بدکار، لږ دقت غواړي، داسې نه دي ويل شوي چې نېك عمل مؤمن او بد کار سره برابر نه دي، بلکې د الفاظو له فحوی او ترکيب داسې معلومېږي چې مؤمنان او نېك عمله انسانان هم سره برابر نه دي او بدکاران هم، په دوی کې هم ژور توپيرونه شته، ځيني د ايمان له مخې ډېر لوړ، ځيني د نېك عمل له پلوه ډېر وړاندې او ځيني د بد عمل له له کبله ډېر بدمرغه او پرېوتي، د آيت غوره او دقيق تعبير همدا دئ.

وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِى سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾

او ستاسو رب وويل: ما ته دعاء وکړئ چې درته وئې منم، يقيناً هغه کسان چې زما له

عبادت لويي (او سرغړاوی) کوي ډېر ژر به جهنم ته ذليل او سپك داخل شي.

(٦٠)- په دې مبارك آيت کي دا الهي لارښوونه انځور شوې: ما ته دعاء وکړئ چي ستاسو دعاء قبوله کړم، ځوك چي تكبر او لويي وکړي، ځان تر دې لوړ وګڼي چي خپل رب ته د دعاء لاسونه اوچت کړي، دا غرور او لويي به ئې له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کړي، پايله به ئې دوزخ ته ننوتل وي.

په دې مبارك آيت کي د عبادت او دعاء په ارتباط ځو مهم مطالب ذکر شوي:

- **لومړی دا چي الله جل شأنه موږ په دعاء کولو مکلف کړي يو (وَ قَالَ رَبُّکمُ ادْعُونی: ستاسو رب ويلي: ماته دعاء وکړئ)، او د دې وعده ئې راسره کړې چي ستاسو دعاء به منم (أَستَجِب لَکم)**
- **دوهم مطلب دا چي د لويي احساس، تكبر او غرور د دې باعث شي چي انسان له الله تعالی د مرستي او استعانت له غوښتلو ډډه او د هغه له عبادت سرغړاوی وکړي، (إِنَّ الَّذِينَ يَستَکْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتی سيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ)، تكبر، د لويي احساس او غرور د دې باعث شي چي انسان د الله تعالی له عبادت او بيا د هغه له استعانت ډډه وکړي، همدا استغناء ده چي انسان طغيان ته رسوي، او په پای کي ئې له ذلت او رسوايی سره مخامخ کوي.**

رسول اللهﷺ فرمايي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ « مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللَّهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ ». الترمذی

له ابوهريره ﷺ روايت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمايل: چا چي الله ته سؤال ونه کړ؛ پرې غصه کيږي.

يعني ځوك چي الله تعالی ته دعاء ونه کړي او له هغه مرسته و نه غواړي، الله تعالی پرې غصه کيږي، هر ځومره چي الله تعالی ته زياته دعاء وکړې او زياته مرسته ترې وغواړې همدومره راضي کيږي. داسي نه ده چي يوازي د لويو لويو شيانو دعاء به کوې، بلکي له واړه تر ستر شي، حتی که مو په کور کي مالګه نه وه، دا هم له الله تعالی وغواړئ، حتی که د څپلی بند مو وشلېدو؛ دا هم له الله تعالی وغواړئ، دا د رسول اللهﷺ وينا او لارښوونه ده.

- **درېيم مطلب چي په دې آيت کي ذکر شوی هغه دا دئ چي عبادت ئې د دعاء په ځای راوستی، تاسو د آيت په سر کي دا الفاظ ګورئ: وَ قَالَ رَبُّکمُ ادْعُونی: ستاسو رب وويل: ماته دعاء وکړئ، خو د آيت په وروستی برخي کي ويل شوي: إِنَّ الَّذِينَ يَستَکْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتی سيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ: يقيناً هغه چا چي زما له عبادت ئې لويي وکړه، ځان ئې له دې ستر وګاڼو چي ما ته دعاء وکړي، ګورئ چي د آيت په وروستی برخي کي د دعاء په ځای عبادت راغلی، دا په خپله ښيي چي استمداد، استغاثه او دعاء له عبادت سره مترادف ده. پيغمبر صلعم فرمايي:**

وَعَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إنَّ الدُّعَاءَ هُوَ الْعِبَادَةُ. رَوَاهُ الْأَرْبَعَةُ ، وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِيُّ

له نعمان بن بشير ﷺ روايت دئ چي رسول اللهﷺ فرمايلي: دعاء په خپله عبادت دئ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِىِّﷺ قَالَ « الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ »* رواه الترمذي

له انس بن مالك ﷺ روايت دئ چي رسول اللهﷺ فرمايلي: دعاء د عبادت مغز دئ.
همدا راز فرمايي:
عَنْ عَلِيٍّ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم : الدُّعَاءُ سِلاحُ الْمُؤْمِنِ ، وَعِمَادُ الدِّينِ ، وَنُورُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ * المستدرك
له علي ﷺ روايت دئ چي رسول اللهﷺ فرمايلي: دعاء د مؤمن وسله، د دين ستنه او د آسمانونو او زمكي نور دئ.
كله چي انسان الله تعالى ته دعاء كوي؛ د ده دعاء د دې مظهر دئ چي هغه د الله جل شأنه په وړاندي ځان اړ او محتاج ګڼي، د اړتيا او احتياج دغه احساس د دې باعث شي چي د الله جل شأنه په وړاندي دعاء وكړي او مرسته ترې وغواړي، همدغه احساس ئې د الله تعالى عبادت او بندګۍ ته رابلي، عدم دعاء او عدم استعانت ئې په دې دلالت كوي چي هغه له الله جل شانه ځان مستغني ګڼي، دا د ده د استغناء او بې نيازۍ نښه ده. د قرآن عظيم الشأن په متعددو آيتونو كي عبادت او استعانت له يوه بل سره مترادف او يو د بل په ځای ذكر شوي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ خَٰلِقُ كُلِّ شَىۡءٍ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ يُؤۡفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ﴿٦٣﴾

الله هغه ذات دئ چي شپه ئې ستاسو لپاره داسي ګرځولې چي په هغې كي هوسا شئ او ورځ ئې د ليدو وسيله، بې شكه چي الله پر خلكو د پېرزوينې خاوند دئ خو د خلكو ډېرى شكر نه كوي، همدا ستاسو رب دئ، د هر څه خالق، له ده پرته بل معبود نشته، نو څنګه دوكه كېږئ؟ همداسي هغه دوكه كړى شوي وو چي د الله له آيتونو ئې انكار كولو.

(٦١-٦٣)- د دې مباركو ايتونو لارښووني دا دي:

- د چا په اراده چي شپه او ورځ ځي راځي، يوه ئې ستاسو د هوسايني لپاره بله ئې تاسو ته د رڼا او تودوخي دركولو لپاره، او په دې توګه ئې خپل ستر فضل ستاسو په برخه كړى، همدا ذات الله تعالى دئ.
- د شپې او ورځي همغږي او هدفمني او هغه نتائج چي د دوى په تلو راتلو مرتب كېږي، داسي چي شپه ستاسو د هوسايني او سكون لپاره ده، تر څو د ورځي له خوا د مسلسل كار په نتيجه كي ضايع شوې انرژي جبران او خپل قوت تجديد او اكمال كړئ او د سبا ورځي لپاره

مستعد او تيار شئ او ورځ ئې ستاسو د معاش د تأمين وسيله گرځولې، داسې چې هر څه د هغې په رڼا کې پېژندلی او کارولی شئ، په دې ترتيب رحمان رب خپل ستر فضل ستاسو په حال شامل کړی، چې ستاسو اړتياوو ته د دې طبيعت په غېږ کې او د هغه په تحولاتو او بدلونونو کې ځواب وايي.

• شپه او ورځ په دې برسېره چې د الله د فضل او پېرزوينې نښې او مظاهر دي؛ د هغوی تگ راتگ د دې عالم له گڼ شمېر اجرامو سره لکه لمر، سپوږمۍ، زمکه، حتی ستوري، ستور ليکو، او هر څه چې په آسمانونو او زمکه کې دي؛ عميق ربط او تړاو لري، د دغو ټولو خاص تنظيم او په خپلو منځونو کې خاص تعلق، په دې منتج شي چې شپه او ورځ په خپل موجوده شکل کې په يوه بل پسې راشي، د دې ټول عالم د بېلو بېلو اجرامو ترمنځ تناسق، يووالی او هم غږي او بيا د دوی او د انسان د طبيعت ترمنځ دا موزون او متناسب پيوند او تعلق په خپله ثابتوي چې د ټول عالم پيدا کوونکی او پالونکی رب يو دئ، هغه دا عالم اداره کوي، هر څه ته ئې د خوځېدو خاص لوری او جهت ټاکلی او د ټولو ترمنځ ئې دا توافق او يووالی راپيدا کړی.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٤﴾

الله هغه ذات دئ چې زمکه ئې تاسو ته تم ځای وگرځوله او آسمان ئې چت، او تاسو ته ئې صورت درکړ، بيا ئې ستاسو صورت غوره او ښايسته کړ او له پاکيزه وو ئې تاسو ته روزي درکړه، همدا ستاسو پالونکی رب دئ، نو با برکته دئ د عالمونو رب الله.

(٦٤)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

• هغه ذات چې زمکه او آسمانونه ئې پيدا کړل، د دوی ترمنځ ئې داسې وحدت، تنسيق او يووالی رامنځته کړ چې يو ستا د اوسېدو لپاره تم ځای او مستقر وي او بل ئې چت او پدغه کور کې چې زمکه ئې فرش او آسمان ئې چت دئ، ته ئې له داسې جوړښت سره پيدا کړې چې په دې کور کې اوسېدی شې، هغه ستا له طبيعت سره متوازن او متناسب دئ، فشار ئې، حرارت ئې، يخني ئې، سختوالی او نرم والی ئې او هر څه ئې ستا لپاره مناسب دي.

• ستا د دې کور چت او فرش يو بل ته لاس ورکوي او په گډه کار کوي، يو اوبه راوروي، بل دانه او مېوه راشنه کوي او په دې ترتيب ستا لپاره د داسې پاك رزق انتظام کوي چې ته ئې هم له رنگ، هم له خوند او هم له بوی لذت او خوند اخلې، ستا اړتياوو ته ځواب وايي او ستا د ژوند او بقاء عوامل برابروي.

• هغه ذات چې د آسمان، زمکې او ستا ترمنځ ئې دا يووالی او تناسق راپيدا کړی هماغه ستاسو رب او د عالمونو رب دئ.

يعنې په آسمانونو او زمکې کې د يوه الله حکم نافذ دئ او له يوې مرجع د ټولو ساتنه او پالنه کېږي، له همدې کبله ده چې له يوې خوا ګورو چې د عالم د دې بې حسابه اجسامو او اجرامو ترمنځ ټکر او تصادم نه راځي او هر څه په خپل خپل مدار او مسير کې اداره کېږي، له بلې خوا زمکه او آسمان په ګډه کار کوي او د انسان اړتياوو ته ځواب وايي، که چېرې د دې خور او پراخ عالم اداره، حفاظت او ساتنه په مختلفو لاسونو کې وی، هرومرو به د ارادو اختلاف په ټکر او تصادم منتج کېدو او د دنيا نظم به متلاشي کېدو. د زمکې او آسمان ترمنځ يووالی او هم جهتي دا ثابتوي چې د دواړو الله يو دئ.

هُوَ ٱلْحَىُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ۗ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ

﴿٦٥﴾ قُلْ إِنِّى نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِىَ ٱلْبَيِّنَٰتُ

مِن رَّبِّى وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٦﴾

دی همغه ژوندی ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، نو په داسې حال کې ئې دربله چې (خپل) ديانت ورته سوچه کوونکی يې، ستاينې ټولی د عالمونو پالونکي الله ته دي، ووايه: له کله چې زما د رب له لوري څرګند آيتونه راته راغلي زه له دې منع کړی شوی يم چې هغه ولمانځم چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، او پر دې ګمارل شوی يم چې د عالمونو پالونکي ته منقاد اوسم.

(٦٥-٦٦)- په دې مبارك آيت کې رسول اللهؐ ته څو لارښووني شوې:

- الله تعالى هغه ژوندی ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، نو په داسې حال کې ئې دربله چې خپل ديانت دې ورته سوچه کړی وي، ستاينې ټولی د عالمونو پالونکي الله ته دي.
- خپلو مخاطبينو ته ووايه: له هغې ورځې چې ما ته زما د رب له لوري څرګند آيتونه راغلي زه له دې منع کړی شوی يم چې له الله تعالى پرته هغه معبودان ولمانځم چې تاسو ئې لمانځئ، او پر دې ګمارل شوی يم چې د ژوند په ټولو اوقاتو او ټولو چارو کې د عالمونو پالونکي رب ته منقاد اوسم.

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ

لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا۟ شُيُوخًا ۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ ۖ وَلِتَبْلُغُوٓا۟ أَجَلًا

مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا

يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾

دی هغه ذات دئ چي تاسو ئې له خاوري پيدا کړئ، بيا ئې له نطفې، بيا ئې له علقې، بيا تاسو د ماشوم په توګه راباسي، بيا (ستاسو روزنه کوي) تر هغه چي خپل پياوړتيا او قوت ته ورسئ، بيا تر هغه چي زاړه شئ، له تاسو ځيني تر دې وړاندې وفات کړی شي، او تر څو ټاکلي اجل ته ورسئ او ښايي تعقل وکړئ. دی همغه ذات دئ چي ژوند ورکوي او مړول کوي (وژني)، او کله چي د کوم کار پرېکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو کېږي.

(٦٧)- پدې مبارکو آيتونو کي دا لارښووني زموږ پام ځانته اړوي:

- الله جل شأنه د انسان پيدايښت په لومړي سر کي له خاوري پيل کړ، اوس هم د ده نطفه له هغو شيانو راپيدا کوي چي له خاورو جوړيږي، له خاورو پيدا شوي غله او ميوه د انسان په وجود کي د ده په نطفې بدله کړي.
- دا نطفه وروزي، د مور په رحم پوري ځوړند شي، مزيد ئې ستر کړي او د مکمل ماشوم په بڼه کي ئې دنيا ته راوباسي، مزيد ئې وپالي او د پياوړتوب وروستي پړاو ته ئې ورسوي او له هغه ځايه ئې د ضعف پړاو پيل شي او بوډاتوب ته ورسيږي، ځيني په مخکنيو مراحلو کي ومري او ځيني تر ټاکل شوې نېټې ورسيږي.
- د کوم چا په اراده چي تاسو پيدا شوي يئ او د ژوند دا بېل بېل پړاوونه پلي کوئ، د مرګ ژوند پرېکړي همدغه ذات کوي.
- يوازي د يوه حکم په صادرولو سره د هر هغه کار د ترسره کېدو لړی پيل کېږي چي ده ئې د ترسره کېدو پرېکړه کړې.
- که د عقل خاوند پدې مقدمې کي تعقل وکړي په ډېرو حقائقو پوهېدی شي.
- څوك چي ژوند او مرګ طبيعت او طبيعی پېښو ته منسوبوي، ناپوه دئ او د بې بنسټه ګمان په اساس دا خبره کوي.

دا مبارك آيت زموږ دې پوښتنو ته ځواب وايي چي انسان څنګه پيدا شوی؟ څنګه پيدا کېږي؟ څوك ئې پيدا کوي؟ د پيدايښت لړی ئې څنګه پيل کېږي؟ له کومو کومو پړاوونو تېرېږي او په پای کي په کوم لوري درومي؟

الله تعالی همغه ذات دئ چي له مړې خاوري دانه او ميوه راشنه کوي او له هغه انسان ته داسي غذا جوړوي چي له مزاج سره ئې مطابقه ده او طبيعي اړتياوو ته ئې ځواب ويوونکې، بيا د انسان په خوراك کي د زمکي له همدې مړو اجزاوو د انسان نطفه جوړوي او همدا وړه نطفه چي په سترګو نشي ليدل کېدی، د ليدلو لپاره ئې داسي سترو سترو ميکروسکوپونو ته اړ يو چي په مرسته ئې هر شی له خپل اصلي حجم په سلګونو ځله ستر ګورو، همدا نطفه له مختلفو مراحلو له تېرېدو وروسته د يوه بشپړ ماشوم په بڼې کي دنيا ته راولي، روزنه ئې کوي، ټولي اړتياوي ئې لومړی د مور په تي کي او بيا د دې عالم په غېږ کي ورته تهيه کوي، وده ورکوي، د خپل قوت، ځوانی او کمال آخري حد او پړاو ته ئې

رسوي، له هغه ځايه ئې زوال پيل شي، زړښت ته ورسيږي او په مرگ محكوم شي. د چا په اراده دا ټول تحولات، تغييرات او بدلونونه رامنځته كيږي؟ په داسي حال كي چي انسان دا د ټولو مخلوقاتو اشرف، اكرم او اعلم په خپله په خپل پيدايښت، مرگ او ژوند، د كمال په لوري خوځښت، د زوال په لوري نزول او پربوتو كي د داسي مقدراتو او ضوابطو په وړاندي مقهور او محكوم دئ چي له مخكي وضع شوي او د ده په طبيعت او پر ټول عالم حاكم او مسلط دي، د دغو حاكمو او قاهرو مقدراتو او مسلطو سننو تر شا د چا اراده حكومت كوي؟ آيا له دې پرته بل خواب لرو چي دا هر څه د هغه الله تعالى د قدرت مظاهر دي چي د عالمونو خالق او رب دئ او له ده پرته بل معبود نشته؟!!

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟
بِٱلْكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرْسَلْنَا بِهِۦ رُسُلَنَا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِىٓ
أَعْنَٰقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِى ٱلْحَمِيمِ ثُمَّ فِى ٱلنَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ
قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالُوا۟ ضَلُّوا۟ عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن
نَّدْعُوا۟ مِن قَبْلُ شَيْـًٔا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾ ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ
تَفْرَحُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَمْرَحُونَ ﴿٧٥﴾ ٱدْخُلُوٓا۟ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ
خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٦﴾

آيا هغو ته دي پام نه دئ كړی چي د الله د آيتونو په اړه مجادله كوي؛ كوم لوري ته اړول كيږي؟!! هغه چي دا كتاب او هغه څه ئې تكذيب كړل چي خپل پيغمبران مو ورسره ليږلي، ژر به پوه شي، هغه مهال چي زولنې او زنځيرونه به ئې په غاړو كي وي، په تودو اوبو كي به راكښل كيږي، بيا به په اور كي سوزول كيږي، بيا به ورته وويل شي: هغه چيري دي چي تاسو له الله پرته پرې شرك كولو، وبه وايي: رانه ورك شوي، بلكي موږ تر دې وړاندي كوم څه نه دئ لمانځلی، الله كافران همداسي بې لاري كوي، دا مو له دې كبله چي تاسو په زمكي كي په ناحقه خوښ خوښ كېدئ او له دې كبله چي فخر او كبر مو كولو، دوزخ ته ننوځئ په هغه كي تلپاتي، نو د كبرجنو مېشت ځی څومره بد دئ.

(٦٩-٧٦)- په دې مباركو آيتونو كي د هغو مشركينو بده پايله انځور شوې چي د الله تعالى له

آيتونو انکار کوي او د هغه الهي پيغام له منلو ډډه کوي چي پيغمبرانو دوی ته وړاندي کړی، د دوی مخالفت د حيرانتيا وړ ګڼي او فرمايي: آيا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي د الله د آيتونو په اړه مجادله کوي؛ څه ئې دې مجادلې ته هڅوي او په کوم لوري درومي؟!! دا مجادله کوونکي هغه دي چي دا کتاب او هغه څه ئې تکذيب کړل چي خپل پيغمبران مو ورسره لېږلي، دوی به د دې مجادلې او تکذيب په بدو پايلو ډېر ژر پوه شي او په خپلو سترګو به ئې وګوري، هغه مهال چي زولنې او زنځيرونه به ئې په غاړو کي وي، په تودو اوبو کي به راکښل کېږي، بيا به په اور کي سوزول کېږي، بيا به ورته وويل شي: هغه چېري دي چي تاسو له الله تعالی پرته لمانځل او دوی مو په الوهيت او ربوبيت کي د الله شريکان ګڼل، په ځواب کي به کله دا وايي چي رانه ورک شوي او په نظر نه راځي او کله به وايي: موږ تر دې وړاندي هيڅ څه نه دي لمانځلي، د دې وينا تعبير يا دا دئ چي موږ شرک نه دئ کړی او داسي معبودان مو نه دي لمانځلي، او يا دا چي موږ چي څه لمانځل هغه داسي وو لکه هيڅ، موږ د وهم په لومو کي نښتي وو، معبودان مو زموږ د ذهن زېږنده ول، نه د لمانځلو وړ ول او نه د الله تعالی ند او سيال، د کافرانو په اړه د الله تعالی سنت همدا دئ، په دنيا او آخرت کي له الهي لارښوونې محروم، دوی ځکه له دې تور او سپېره برخليک سره مخامخ کېږي چي کبرجن ول، تر نورو ئې ځان لوړ ګڼلو، په خپلو غلطو کړنو او تګلارو خوښ ول، دوی ته به وويل شي: دوزخ ته ننوځئ په هغه کي تلپاتي، همدا په دوزخ کي د تل لپاره پاته کېدا د دوی برخليک دئ، نو د کبرجنو مېشت ځی څومره بد دئ!!

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ﴿٧٧﴾ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قُضِيَ بِٱلۡحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿٧٨﴾

نو صبر کوه چي د الله وعده رښتينې ده، يا به د هغه څه کومه برخه دروښيو چي له دوی سره ئې ژمنه کوو، يا به تا وفات کړو نو زما په لوري به بېرته ستنول کېږي، او يقيناً چي تر تا وړاندي مو داسي پيغمبران ولېږل چي د ځينو قصې مو دراورولې او د ځينو قصې مو نه دي دراورولې، او هيڅ پيغمبر ته نه ښايي چي د الله له اذن پرته کومه څرګنده نښه (معجزه) راوړي، نو کله چي د الله امر راشي د حق مطابق پرېکړه به وشي او هغه مهال به باطلپال زيانمن شي.

(۷۷-۷۸)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- رسول الله ﷺ ته ويل شوي چي صبر کوه او مطمئن اوسه چي د الله تعالی وعده رښتينې ده،

له تا او مؤمنانو سره هم او له کافرانو سره هم.

- له کافرانو سره د الهي وعدو مصداق به يا په خپلو سترګو وګورې او الله تعالى به ستا په ژوند کي هغه حالت راولي چي دوى له الهي عذاب سره مخامخ شي او يا ستا له وفات وروسته، دوى به حتماً ژر يا لږ وروسته د خپل کفر او بغاوت له دنيايي عذاب سره مخامخ کيږي او په پای کي به د الله تعالى په لور درومي او د خپل کفر اخروي سزا به ګوري. د ټولو ببرته ستنېدا د الله تعالى په لوري ده.
- الله تعالى تر تا وړاندي ګڼ شمېر پيغمبران ليږلي چي د ځينو قصې ئې دراوړولې او د ځينو قصې ئې نه دي دراوړولې. هيڅ پيغمبر ته نه ښايي چي خپلو مخاطبينو ته د الله له اذن پرته کومه څرګنده نښه او معجزه وړاندي کړي، د معجزې وړاندي کول نه د پيغمبر په خوښه وي او نه د دوى د مخاطبينو په وينا، دا پرېکړه يوازي د الله تعالى له لوري کيږي چي کوم پيغمبر کله او کومه معجزه وړاندي کړي.
- د الله تعالى هر امر او پرېکړه په خپل مناسب وخت کي صادرېږي او تر سره کيږي، کله چي د الله امر راشي نو د حق مطابق پرېکړه به وشي او هغه مهال به باطلپال زيانمن شي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَنْعَـٰمَ لِتَرْكَبُوا۟ مِنْهَا وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمْ فِيهَا
مَنَـٰفِعُ وَلِتَبْلُغُوا۟ عَلَيْهَا حَاجَةً فِى صُدُورِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٨٠﴾
وَيُرِيكُمْ ءَايَـٰتِهِۦ فَأَىَّ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ ﴿٨١﴾

الله هغه ذات دئ چي څاروي ئې تاسو ته داسي جوړ کړي چي پر ځينو ئې سپاره شئ او ځيني ئې وخورئ، او په دوى کي تاسو ته ځيني ګټې دي او چي په دوى سره د خپلو زړونو کوم حاجت ته ورسېږئ، او تاسو پر دغو څارويو او پر کشتيو سپاره (حمل) کيږئ. او تاسو ته خپل آيتونه درښيي، نو له کومو الهي آيتونو انکار کوئ؟!

(۷۹-۸۱)- دلته د څارويو په پيدايښت کي د الله تعالى د قدرت او حکمت دغو مظاهرو ته اشاره شوې: ~~الله هغه ذات دئ چي څاروي ئې تاسو ته داسي جوړ کړي چي پر ځينو ئې سپاره شئ~~ او ځيني ئې خورئ، ځيني ئې داسي جوړ کړي چي تاسو ته منقاد دي، د سورلى د وسيلې په توګه ترې کار اخلئ او ځيني ئې داسي چي تاسو ته ګڼ شمېر ګټور خوراکي توکي درکوي، غوښه، شيدې، مستې، کوچ، پوځه او نور درکوي، په دوى کي تاسو ته ګڼ شمېر نوري ګټې هم شته، له پوستکي، وړيو او هډوکو ئې استفاده کوئ، له سورلى ئې خوند اخلئ، داسي سيمو ته پرې رسېدلى شئ چي له بلي وسيلې په استفادې سره هلته رسېدل درته ممکن نه دي، لکه څنګه چي پر دغو څارويو له يوې سيمي بلي ته وړل کيږئ همداسي پر کشتيو سپاره حمل کيږئ. دا ټول د الله تعالى د قدرت او حکمت نښې او مظاهر دي، هر يو ئې د حال په ژبه تاسو ته په واضح توګه وايي: موږ ستاسو رب پيدا کړي يو، نو له کومو الهي آيتونو انکار کوئ؟!

أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوٓا۟
أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِى ٱلْأَرْضِ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾
فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَرِحُوا۟ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا
كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا رَأَوْا۟ بَأْسَنَا قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥ وَكَفَرْنَا بِمَا
كُنَّا بِهِۦ مُشْرِكِينَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَـٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْا۟ بَأْسَنَا ۖ سُنَّتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى قَدْ
خَلَتْ فِى عِبَادِهِۦ ۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

نو آیا په زمکي کي نه دي ګرځېدلي چي لیدلي ئې وی؛ د هغو پایله څنګه وه چي تر دوی وړاندي ول، تر دوی زیات ول، او د ځواك او په زمکي کي د آثارو له پلوه ډېر پیاوړي، نو هغه څه له دوی دفعه کول ونه کړی شو چي دوی ترلاسه کول. او کله چي د دوی پیغمبرانو څرګندي نښي وروړې په خپلي هغي پوهي ئې خوښي وکړه چي ورسره وه او هغه څه د دوی په اړه ترسره شول چي دوی ملنډي پري وهلې، نو کله چي دوی زموږ عذاب ولید وئې ویل: پر یوازینی الله مو ایمان راوړ او له هغه څه انکار کوو چي په اړه ئې مشرکان شوي وو، نو کله چي زموږ عذاب وګوري داسي به نه وي چي ایمان به ئې ګټه وررسوي، دا هغه الهي سنت دئ چي په بندګانو کي ئې تېر شوی او هغه مهال به کافران زیان وکړي.

(۸۲-۸۵)- دا مبارك آیتونه د سورې د پای آیتونه دي او زموږ په وړاندي د ټولي سورې خلاصه په دې توګه ړدي:

- آیا د حق دښمنان په زمکي کي نه دي ګرځېدلي چي د هغو پایله ئې په خپلو سترګو لیدلې وی چي تر دوی وړاندي ول؛ هغه چي هم د ځواك لـه پلوه تر دوی پیاوړي او ځواکمن ول او هم د آثارو او هغه څـه لـه پلوه چي هغوی جوړ کړي او ترې پاتي شوي، خو د خپل کفر او انکار له کبله له داسي بدي پایلي سره مخامخ شوي چي د دوی امکاناتو او هر هغه څـه چي پـه واك کي ئې وو هیڅ ګټه نـه ده وررسولې او د الهي عذاب پـه وړاندي ئې د دوی مرسته نـه ده کړې.
- کله چي مخکنیو کـافرانو تـه د دوی پیغمبرانـو څرګندي نښي وروړې نـو هغوی پـه خپلي هغي پوهي او علم مغرور شوي او هغه ئې غوره ګڼلی چي ورسره وو، هغه علم او پوهـه چي په مټ ئې توانېدلي ول په صنعت او مدني چارو کي تر نورو وړاندي شي، زمکـه آبـاده کړي او

دنگي دنگي بنگلي جوړي کړي، د خپلو پیغمبرانو پر دې وینا ئې ملنډې وهلې چې د خپل کفر، شرك، فساد او ظلم له کبله به له الهي عذاب سره مخامخ شئ، په پای کې له همغه څه سره مخامخ شوي چې ملنډي ئې پرې وهلې.

- کله چې الهي عذاب خپل سیوری پر دوی غوړولی ویلي ئې دي: پر یوازینی الله مو ایمان راوړ او له هغو معبودانو منکر یو چې له الله تعالی سره مو شریکول.
- خو دا یو ثابت الهي سنت دئ چې د عذاب له لیدلو وروسته د چا ایمان ته هیڅ ارزښت نه ورکوي او داسي ایمان کافرانو ته کومه گټه نه رسوي.
- دا هغه الهي سنت دئ چې تر دې وړاندې د ده په بندگانو کې په وار وار تېر شوی او هغه مهال کافرانو ته له زیان پرته بل څه په لاس نه ورځي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

د قرآن ۳٤ پلوشې
المؤمن

بسم الله الرحمن الرحيم

فصلت

د سورې پېژندنه:

دا مباركه سوره په دوو معروفو نومونو یاده شوې: (فصلت) چې د سورې له درېیم آیت اخیستل شوی، او (حٰم السجده) چې (حم) ئې د سورې له پیل او (السجده) ئې له ۳۸ آیت اخیستل شوی، د التباس د مخنیوي لپاره غوره دا ده چې دا سوره د (فصلت) په نامه یاده شي ځکه د (السجده) په نامه بله سوره هم شته، د فصلت سوره ٥٤ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (الرحیم)، او د درېیم آیت (یعلمون) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په منځنیو کلونو کي نازل شوي. په ځینو روایاتو کي راغلي چې دا سوره هغه مهال نازله شوې چې حمزه ﷻ ایمان راوړی وو او عمر ﷻ لا ایمان نه وو راوړی، محمد بن اسحاق د محمد بن کعب په حواله لیکي چې یو ځل د قریشو سرداران په مسجدالحرام کي راغونډ شوي وو، رسول اللهﷺ هم په مسجدالحرام کي وو، دا هغه وخت وو چې حمزه ﷻ ایمان راوړی وو او د مسلمانانو شمېر ورځ تر بلي زیاتېدو، د مسلمانانو زیاتېدا د قریشو سرداران مشوش کړي ول، عتبه بن ربیعه د قریشو نورو سردارانو ته وویل: ما ته اجازه راکړئ چې له محمد (صلعم) سره وګورم او څو وړاندیزونه ئې مخي ته کېښېږدم، ښایي کوم یو به ئې ومني او موږ به هم ورسره توافق وکړو او په دې توګه به هغه زموږ له مخالفت لاس واخلي، ټولو ورسره توافق وکړ او عتبه د رسول اللهﷺ خوا ته ورغی، کېښېناست او وئې ویل: وراره! ته چې د خپل نسب او کورنۍ له پلوه په قوم کي کوم اعتبار لرې هغه تا ته ښه معلوم دئ، خو تا خپل قوم له ستر مصیبت سره مخامخ کړی، په ټولني کي دي اختلاف او تفرقه راولاړه کړې، ټول قوم ته د کمعقلو او ناپوهانو په سترګه ګورې، د قوم د دین او معبودانو سپکاوی کوې، داسي خبري کوې چې معنی ئې دا ده: زموږ ټول پلرونه او نیکونه کافران ول، زما خبري ته لږ ځیر شه، زه څو وړاندیزونه درته لرم، غور پرې وکړه، ښایي کوم یو به ئې قبول کړې، رسول اللهﷺ وفرمایل: ابوالولیده! ته ئې ووایه، زه ئې اورم، هغه وویل: وراره! کوم کار چې تا پیل کړی که له دې دي موخه د مال ترلاسه کول وي نو موږ ټول به په ګډه دومره څه درکړو چې تر موږ ټولو زیات شتمن شې، که مقصد دي لویي او مشري وي نو موږ ټول به تا خپل سالار او مشر وټاکو، ستا له حضور او موافقې پرته به هیڅ پرېکړه نه کوو، که پاچایي غواړې موږ به تا خپل پاچا وټاکو، که داسي پېریان دربانډي راځي چې ته ئې په خپله دفع کولی نشې نو موږ به ماهر طبیبان راوغواړو او د علاج

ټول مصارف به په غاړه واخلو، عتبه دا خبري کولې او رسول اللهﷺ په سره سینه اورېدلې، د ده د خبرو په پای کي ئې وفرمایل: ابوالولیده! څه چي دي ویل غوښتل هغه دي وویل؟ هغه وویل: هو؛ رسول اللهﷺ وفرمایل: اوس زما خبري واوره، له دې وروسته ئې دغه سوره په بسم الله الرحمن الرحیم سره پیل کړه، عتبه دواړه لاسونه پر زمکه ایښي وو او په غور سره ئې غوږ نیولی وو، کله چي رسول اللهﷺ ۳۸ آیت ته ورسېدو سجده ئې وکړه او بیا ئې سر رااوچت کړ او وئې فرمایل: ابوالولیده! تا زما ځواب واورېدو اوس ته پوهېږې او کار دې، عتبه پورته شو او د قریشو د سردارانو غونډې ته روان شو، کله چي د هغه ملګرو له لرې ولید ځینو ئې وویل: په خدای قسم چي د عتبه څېره بدله شوې، دا هغه څېره نه ده چي تللو په وخت کي ئې وه، کله چي ورغی او کښېناست ورته وئې ویل: څه دي واورېدل؟ هغه وویل: په خدای قسم چي ما داسي کلام اورېدلی چي تر دې وړاندي مي هیڅکله نه وو اورېدلی، دا نه شعر دئ، نه سحر او نه کهانت، اې د قریشو سردارانو! زما خبره ومنئ او دا سړی خپلي مخي ته پرېږدئ، زه ګمان کوم چي دا کلام به حتماً رنګ راوړي، که چېري عرب پر ده غالب شي نو تاسو به د خپل ورور په خلاف له څه کولو ژغورل شوي یئ او دا کار به د پردیو په لاس ترسره شوی وي، او که دی پر عربو غالب شي نو د ده پاچایي به ستاسو پاچایي وي او د ده عزتمني به ستاسو عزتمني وي. کله چي د قریشو سردارانو د ده خبري واورېدې نو وئې ویل: اې د ولید پلاره! داسي معلومېږي چي بالآخره د ده جادو پرتا هم اغېز وکړ، عتبه وویل: ما خپله رأیه تاسو ته واوروله، اوس ستاسو خوښه چي منئ ئې که نه.

که د سورې مضامینو ته ځیر شو نو وبه ګورو چي په دوو اساسي موضوعاتو ترکیز کوي او همدا د سورې د بحث اصلي موضوعات دي، ترکیز ئې پر دې دئ چي د دې لاربنود الهي کتاب لېږنه د الله تعالی له لوري ده، دا کتاب ځینو ته زېری ورکوي او ځیني له خپل بدو پایلو وېروي، هغه چي ایمان راوړي په دنیا او آخرت کي به د الله تعالی له پېرزوینو برخمن شي او هغه چي د کفر او انکار لار غوره کړي په دنیا او آخرت کي به په سپېره برخلیك اخته شي.

د همدې اساسي موضوعاتو په ضمن که د توحید او معاد یادونه هم شوې او په دې اړه مضبوط دلائل او زړه راښکونکي لاربنووني شوې خو په داسي بڼي کي چي د قرآن د دوو اساسي مطالبو په توګه وړاندي شوي او د قرآن مخاطبینو ته ویل شوي: آیا تاسو له دې الهي کتاب سره له دې کبله مخالفت کوئ چي هغه مو پر الله تعالی او آخرت ایمان ته رابلي؟! پر هغه الله ایمان ته چي آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي، تاسو ئې پیدا کړي یئ، له آسمان او زمکي روزي درکوي!! آیا د قیامت په اړه شك لرئ او بیاژوندون درته ګران او محال برېښي، حال دا چي ګورئ الله تعالی هره شېبه له مړې خاوري ژوي راپیدا کوي!!

د سورې په آخري آیت کي همدا دوه اساسي مطالب په اجمال او اختصار سره په دې توګه راغلي: أَلَآ إِنَّهُمۡ فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمۡۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطُۢ ﴿٥٤﴾: پام چي یقیناً دوی له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کي دي، پام چي یقیناً هغه په هر څه محیط دئ.
په دې مبارك آیت کي دوه اساسي مطالب ځلېږي:

فصلت

د قرآن پلوشې

- دغه کافران له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کې دي، د قرآن له څرګندو آیتونو سره د دوی د مخالفتستره وجه دا ده چې دوی د قیامت او له خپل رب سره د ملاقات په اړه شکمن دي، په دې اړه هیڅ علمي او عقلي دلیل نه لري، مخالفت ئې له شك راولاړ شوی.
- الله تعالی په هر څه احاطه کړې، هیڅ څه د ده له واك او سیطرې بهر نه دي، دا کافران داسې څه په واك کې نه لري چې د الله تعالی له سلطې او ادارې بهر وي، نو مه د دوی د مخالفتونو پروا کوه او مه ئې له زر، زور او ځواك ویره او اندېښنه لره، له دوی سره به همغه څه کېږي چې ستا رب ئې غواړي نه هغه څه چې دوی ئې په لټه کې دي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢﴾ كِتَٰبٞ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّقَوۡمٖ
يَعۡلَمُونَ ﴿٣﴾ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ﴿٤﴾ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا
فِيٓ أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٞ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٞ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا
عَٰمِلُونَ ﴿٥﴾

حاء میم، د ډېر زیات مهربان له لوري یوه لېږنه، داسي کتاب چي آیتونه ئې سپړل شوي، په عربي لوستل کېدونکی؛ د هغو وګړو لپاره چي پوهېږي، زېری ورکوونکی او ګواښوونکی، نو اکثرو (ډېریو) ئې داسي ډډه وکړه چي نه اوري. او وئې ویل: زموږ زړونه د هغه څه په وړاندي په پردو کي دي چي ته مو وربلې او په غوږونو کي مو دروندوالی دئ او زموږ او ستا تر منځ ځانګړی حجاب دئ نو ته (خپل) کار کوه چي موږ ئې هم کوونکي یو.

(۱-۵)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندي مطالب په پام کي ولرئ:

• لکه چي ګورئ دا سوره هم د (حاء) او (میم) په دوو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چي په دې مبارکي سورې کي هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسي دئ لکه په همداسي دوو پر له پسي حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: د دې لارښود الهي کتاب لېږنه د الله تعالی له لوري ده، دا کتاب ځینو ته زېری ورکوي او ځیني له خپل بدو پایلو وېروي، هغه چي ایمان راوړي په دنیا او آخرت کي به د الله تعالی له پېرزوینو برخمن شي او هغه چي د کفر او انکار لار غوره کړي په دنیا او آخرت کي به په سپېره برخلیك اخته شي.

• د دې مبارك کتاب لېږنه د هغه ذات له لوري ده چي رحمت ئې بې انتهاء دئ، دا کتاب د انسان په اړه د الله تعالی د پراخ رحمت نښه او مظهر دئ. آیتونه ئې څرګند او واضح دي، له ابهام او اغماض خوندي دي، هر څه ئې په بشپړ تفصیل سره بیان کړي، په عربي لوستل کېدونکی کتاب دئ، د هغو وګړو لپاره چي پوهېږي او په حقائقو د پوهېدو وړتیا او اهلیت لري، هم زېری ورکوونکی دئ او هم ګواښوونکی.

• د قرآن په وړاندي د قریشو د اکثرو چلن داسي وو چي د هغه له منلو او اورېدلو ئې داسي ډډه وکړه لکه چي هغه ئې هیڅ نه وي اورېدلی، د حال او قال په ژبه ئې وویل: د دې

قرآن ویناوي زموږ زړونو ته لار نه مومي، د هغه څه په وړاندي زموږ زړونه په پردو کي
خوندي دي چي ته مو وربلې او په غوږونو کي مو دروندوالی دئ او زموږ او ستا تر منځ
ځانګړی حجاب دئ؛ نو ته پوهیږې او خپل کار دي، موږ خپل کار ته پریږده.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَٰحِدٌ فَٱسْتَقِيمُوٓا۟ إِلَيْهِ
وَٱسْتَغْفِرُوهُ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ﴿٦﴾ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْـَٔاخِرَةِ هُمْ
كَـٰفِرُونَ ﴿٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٨﴾

ووایه: یقیناً چي زه ستاسو په څېر یوازي یو بشر یم، دا وحي راته کیږي چي ستاسو معبود یوازینی معبود دئ؛ نو د ده لوري ته استقامت غوره کړئ او بخښنه ترې وغواړئ، او د مشرکینو پر حال افسوس، هغه چي زکات نه ورکوي او دوی د آخرت په اړه کافران دي، یقیناً هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي دوی ته نه پرې کېدونکی اجر دئ.

(٦-٨)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چي خپلو مخاطبینو ته ووایي: زه ستاسو په څېر یو انسان یم، دا وحي راته کیږي چي ستاسو معبود یوازینی معبود دئ، زه مو د دغه یوازیني معبود لوري ته بلم، هغه ته مخه کړئ، د ده لوري ته د تللو مستقیمه لار غوره کړئ، د خپلو تېرو ګناهونو بخښنه ترې وغواړئ، د مشرکینو پر حال افسوس، هغه چي شتمن دي خو زکات نه ورکوي او هغه چي په آخرت باور نه لري او همدغه بې باوري له ښېګڼو محروم کړي، خو هغه چي ایمان ئې راوړی او د همدې ایمان له کبله ئې نېك عملونه کړي، دوی به په دنیا او آخرت کي د خپل ایمان او نېکو عملونو بشپړه بدله په مسلسله توګه ترلاسه کوي.

قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَرْضَ فِى يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ
رَبُّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٩﴾ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ مِن فَوْقِهَا وَبَـٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَٰتَهَا فِىٓ
أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ ﴿١٠﴾ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا
وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَـٰوَاتٍ فِى

يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿١٢﴾

ووايه: آيا تاسو د هغه ذات په اړه كفركوئ چي زمكه ئې په دوو ورځو كي پيدا كړه او ده ته سيالان ټاكئ، همدا د عالمونو رب دئ، او په څلورو ورځو كي ئې په هغې كي له پاسه لنگرونه (غرونه) جوړ كړل، په هغې كي ئې بركت واچاوو، او په هغې كي ئې د غوښتونكو له حاجت سره سم روزي وټاكله، بيا ئې د آسمان لوري ته مخه كړه په داسي حال كي چي لوگی وو، نو هغه او زمكي ته ئې وويل: په خپله خوښه يا په نه زړه راوړاندي شئ، وئې ويل: په خپله خوښه راځو، نو هغه ئې په دوو ورځو كي اوه آسمانونه كړل او په هر آسمان كي ئې د هغه اړوند چارو وحي وكړه، او نږدې آسمان مو په ځراغونو (ستورو) سره ښايسته او خوندي كړ، همدا د پوه عزتمن رب ټاكنه ده.

(۹-۱۲)- په دې مباركو آيتونو كي د قرآن د علمي اعجاز يوه بله ځلانده او انكار نه منونكې ښېلگه زموږ په وړاندي ځليږي، داسي ښېلگه چي كه ئې د هر عادل محقق او منصف ساينس پوه په وړاندي كيږدو نو له دې پرته به د بل څه ويلو جسارت ونه كړي چي يقيناً دا قرآن د داسي ذات كتاب دئ چي د عالم په ټولو اسرارو ښه پوه دئ، په داسي اسرارو چي انسان نن او په شلمي پيړۍ كي پرې پوه شو. راځئ د دې آيتونو په وړاندي لږ توقف وكړو او مطالبو ته ئې ځير شو. دا آيتونه وايي:

- **رسول الله ﷺ ته لارښوونه كوي چي خپلو مخاطبينو ته ووايي: آيا تاسو د هغه ذات په اړه كفركوئ چي زمكه ئې په دوو ورځو كي پيدا كړه، آيا همدې ذات ته سيالان ټاكئ؟!! همدا د عالمونو پالونكی دئ، هغه ذات چي په زمكي كي ئې داسي غرونه پيدا كړل چي لنگرونو ته ورته دي، همغه كار كوي چي د كشتۍ په اړه ئې د هغې لنگرونه كوي، له بركتونو ئې ډكه كړه، او په څلورو ورځو كي ئې په هغې كي د ټولو هغو ژوو د ضرورت او اړتيا وړ رزق پيدا كړ چي د زمكي په غيږ كي ژوند كوي، د دوی د غوښتنو او اړتياوو په تناسب، نه زيات نه كم، بلكي په ټاكلې اندازه، بيا د آسمان لوري ته متوجه شو په داسي حال كي چي هغه لوگی وو نو هغه او زمكي ته ئې وويل: په خوښه او ناخوښه راشئ، دواړو وويل: په خوښه راغلو، يعني دواړه د هغو ضوابطو په وړاندي په بشپړه توگه منقاد دي چي الله تعالی وضع كړي، همغه څه كوي چي الله تعالی پرې گمارلي، همغسي جوړ شوي چي الله تعالی غوښتل، هغوی ئې اوه آسمانونه كړل، دا كار هم په همغو دوو ورځو كي بشپړ شو، په هر آسمان كي ئې د هغه د كار د څرنگوالي او تدبير په اړه اوامر صادر كړل، د دنيا آسمان ئې د ځراغونو په څېر رڼو ستورو سره ښايسته كړ او د حفاظت داسي انتظام ئې وكړ چي دا آسمان هم زموږ د زمكي لپاره يو محفوظ چت وي او هم ئې هر ستوری په خپل خپل ځای او مسير كي وساتو او د دوی تر منځ ئې د تصادم او ټكر مخه ونيوله. د زمكي او آسمانونو په دې پيدايښت او انتظام كي د داسي خالق، پالونكي او ساتونكي د پوهي او ځواكمنۍ مظاهر په څرگنده گورو چي دا ټاكنه او**

تقدير د ده له لوري دئ.

په دې مباركو آيتونو كې د دغو اساسي مطالبو شاهد يو:

- آسمانونه او زمكه په شپږو ورځو (مراحلو) كې پيدا شوي.
- په دوو مرحلو كې آسمانونه او زمكه پيدا كړى شوي او په څلورو مرحلو كې د زمكې تسويه او برابرول بشپړ شوي. چې په دې كې يوه مرحله هغه ده چې د زمكې پر سر غرونه د لنگرونو په څېر پيدا كړى شول او په همدې سره ئې د زمكې لړزېدا تم كړه، بله ئې زمكې ته داسې جوړښت وركول دي چې د بركت ټاټوبى ترې جوړ شو، هم ئې ژوي په كې راپيدا كړل او هم ئې د هغوى رزق او روزي، دومره چې د ټولو حاجت ته په صحيح او بشپړه توگه ځواب ووايي.
- ټول كائنات، آسمانونه او زمكه او څه چې د دوى تر منځ دي، تر لومړي پيدايښت وړاندې د لوگي په څېر ول.
- نږدې آسمان په ستورو ښايسته شوى او د هغه په غېږ كې ټول ستوري په خوندي او مصئون توگه ځاى پر ځاى شوي. دغو ستورو هم ښايست وركړى او هم ئې خوندي كړى.
- په ټولو آسمانونو كې د يوه الله سنن او اوامر حاكم دي، چې د عالم هري برخې ته ولاړ شئ او د هغه ځاى حاكم سنن او طبيعي ضوابط وڅېړئ نو وبه گورئ چې په بشپړه توگه سره ورته دي او ښيي چې منشأ ئې يوه ده او وضع كوونكى ئې يو دئ، نه دوه او يا تر دې هم زيات.
- په زمكې كې د ټولو ژوو لپاره دومره رزق او روزي تعبيه شوې چې د ټولو حاجتونو ته ځواب وايي.

كه د دغو مباركو آيتونو اساسي مطالبو ته لږ ځير شئ نو وبه گورئ چې فقره فقره ئې همغه څه وايي چې څېړونكي او ساينسپوهان اوس پرې پوه شوي.

دې ته مو پام وي چې په پورتنيو آيتونو كې ويل شوي چې زمكه ئې په دوو ورځو كې پيدا كړه او ورپسې ويل شوي چې په څلورو ورځو كې ئې هغه تسويه او برابره كړه، او ورپسې ويل شوي چې بيا ئې د آسمان لوري ته مخه كړه په داسې حال كې چې لوگى وو، نو هغه او زمكې ته ئې وويل: په خپله خوښه يا په نه زړه راوړاندې شئ، وئې ويل: په خپله خوښه راځو، نو هغه ئې په دوو ورځو كې اوه آسمانونه كړل، د قرآن په نورو آيتونو كې د ټول عالم د پيدايښت موده شپږ ورځې ښودل شوې او دا ښيي چې د زمكې د پيدايښت لومړۍ دوه ورځې همغه دي چې په ترڅ كې ئې آسمانونه او زمكه پيدا شوي او اړوند جوړښتونه ئې په برخه شوي، دې ته مو هم پام وي چې قرآن د آسمانونو او زمكې پيدايښت هممهال بولي او وايي چې دواړه سره نښتي ول او په يوه وخت سره بېل شوي، نو د دې معنى دا ده چې نه آسمان تر زمكې وړاندې پيدا شوى او نه زمكه تر آسمان وړاندې، دا بحث غلط او بې بنسټه دئ چې څوك د يوه پيدايښت تر بل وړاندې گڼي، دواړه په يوه وخت پيدا شوي، البته د زمكې تسويه او برابرول د دواړو له يو ځايي پيدايښت وروسته پيل شوې او څلور بېل بېل پړاوونه پرې تېر شوي چې اوسنى حالت ئې غوره كړى.

نن ساينسپوهان وايي:

- په سر کي د عالم ټول اجرام سره نښتي ول او يوه متکاثفه کتله وه، دا کتله لوګي ته ورته وه، د يوه انفجار په ترڅ کي سره بېل شوي، ورو ورو د لوګي دغو جلا شوو کتلو مادي بڼه غوره کړې، د لمر په څېر ځيني ستر اجرام لا تر اوسه د لوګي په بڼې کي پاته شوي.
- د ځمکي پر سر غرونه ډېر وروسته راپيدا شوي، د غرونو تر پيدا کېدو وړاندي ځمکه ډېره خوځېدله، بهرنی ډېرين قشر او پوټکی ئې په پر له پسي توګه ماتېدو او د همدې ماتېدلو له کبله زلزلي راتلي، خو د همدغو غرونو له پيدايښت وروسته دا خوځښت او زلزلي راکمي شوې او ځمکي اوسنی حالت غوره کړ.
- په دغو غرونو سره نه يوازي د ځمکي هغه پر له پسي خوځښت او زلزلي متوقف شوې بلکي په ځمکي کي داسي شرائط برابر شول چي بېلي بېلي سيمي ئې د بېلو بېلو ژوو د پيدايښت لپاره جوګه شي، په ځمکي کي د ژوو او د دوی د رزق او روزي د پيدايښت لړۍ له دې وروسته پيل شوه.

او دا ټول هغه څه دي چي قرآن په دغو او نورو آيتونو کي څوارلس پېړۍ وړاندي ويلي!!

فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَقُلۡ أَنذَرۡتُكُمۡ صَٰعِقَةٗ مِّثۡلَ صَٰعِقَةِ عَادٖ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾ إِذۡ جَآءَتۡهُمُ
ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ قَالُواْ لَوۡ شَآءَ رَبُّنَا
لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ فَإِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ
بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ
مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿١٥﴾ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِيٓ أَيَّامٖ
نَّحِسَاتٖ لِّنُذِيقَهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَخۡزَىٰۖ وَهُمۡ
لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيۡنَٰهُمۡ فَٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡعَمَىٰ عَلَى ٱلۡهُدَىٰ فَأَخَذَتۡهُمۡ
صَٰعِقَةُ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡهُونِ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٧﴾ وَنَجَّيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ
يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾

خو که دوی اعراض وکړ نو ورته ووايه: په يوه تندر مو وېروم؛ د عاد او ثمود تندر ته

ورته، هغه مهال چې پيغمبران ترې وړاندې او ترې وروسته ورغلل چې له الله پرته بل څه مه لمانځئ، وئې ويل: كه زموږ رب غوښتى نو حتماً به ئې ملائكې رالېږلې وې، نو موږ په هغه څه كافران يو چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ، او عاد خو په ناحقه په زمكې كې لويي غوښتنه او جاه طلبي وكړه او وئې ويل: څوك به تر موږ د قوت له پلوه ډېر پياوړى وي؟ آيا دې ته ئې پام ونه كړ چې هغه الله تر دوى ډېر قوي دئ چې دوى ئې پيدا كړي او زموږ له آيتونو ئې انكار كاوو. نو په سپېرو ورځو كې مو توندره سيلۍ پرې راوستله، چې په دنيايي ژوند كې سپك عذاب وروڅكو، او د آخرت عذاب خو هرومرو ډېر سپكوونكى دئ، په داسې حال كې چې مرسته به ئې نه كېږي، او ثموديان داسې ول چې د دوى لارښوونه مو وكړه خو ړوندوالى ئې تر هدايت غوره وګڼلو، نو د هغه څه له كبله د سپكوونكي عذاب تندر ونيول چې دوى ترلاسه كول، او هغه مو وژغورل چې ايمان ئې راوړى وو او ځان ساتنه ئې كوله.

(۱۳-۱۸)- په دې مباركو آيتونو كې رسول اللهؐ ته لارښوونه شوې چې د قريشو د اعراض او مخالفت په صورت كې هغوى ته ووايي: له داسې سخت الهي عذاب مو وېروم چې عاد او ثمود پرې اخته شول، پر هغوى راپرېوتي تندر ته ورته تندر، هغه مهال چې ګڼ شمېر پيغمبران ورغلل، تر هر يوه ئې وړاندې هم پيغمبر راغلى وو او ترې وروسته هم، د ټولو وينا دا وه: له الله تعالى پرته بل څه مه لمانځئ، هغوى ځواب وركړ: كه زموږ رب غوښتى چې كوم پيغمبر راولېږي نو حتماً به ئې ملائكې رالېږلې وې، تاسو خو زموږ په څېر انسانان يئ، موږ تاسو او ستاسو رسالت او هغه پيغام چې الله تعالى ته ئې منسوبوئ نه منو، عاديانو په ناحقه په زمكې كې كبر او جاه طلبي وكړه، ځان تر ټولو ځواكمن ورته وبرېښېدو او وئې ويل: څوك به تر موږ د قوت له پلوه ډېر پياوړى وي؟ دې ته ئې پام نه وو چې هغه الله تعالى تر دوى ډېر قوي دئ چې دوى ئې پيدا كړي. پر دې سربېره ئې د الله تعالى له آيتونو انكار كاوو. د دې كفر، كبر او له خپل پيغمبر او د هغه له رسالت سره د مخالفت له كبله له سپېرو ورځو سره مخامخ شول، توندره سيلۍ پرې راغله، وركاوى او سپكاوى ئې په برخه شو، د آخرت عذاب به تر دې هم هرومرو ډېر سپكوونكى وي، داسې څوك به نه مومي چې د دوى مرسته وكړي!! ثموديانو ته مو لارښوونه وكړه خو هغوى ړوندوالى تر هدايت غوره وګڼلو، نو د خپلو بدو كړنو له كبله د سپكوونكي عذاب تندر ونيول، او الله تعالى هغه وګړي وژغورل چې ايمان ئې راوړى وو او د تقوى او له ګناه او بغاوت د ځان ساتنې لار ئې غوره كړې وه.

قريش دې پر خپل زور ځواك نه مغرورېږي، كه عاديان او ثموديان له خپل هغه مادي پرمختګ، برلاسي، ترقي، تمدن، قوت او ځواكمنۍ چې هيڅ ورسره سيالي نه شوى كولى، ځان تر ټولو پياوړى او ځواكمن برېښېدو؛ د فساد، طغيان، ظلم او له پيغمبرانو صلى سره د مخالفت له كبله له هغه دردناك برخليك سره مخامخ شول او د ټولو متمدنو ظالمانو او ستمګرانو لپاره د عبرت وسيله شول، اوسني ستمګران بايد د دغه قوم د بد برخليك په هينداره كې خپل برخليك او راتلونكې وګوري، د دوى د ظلم توره شپه به هم پاى ته رسي او الهي عذاب به ئې رانيسي.

وَيَوۡمَ يُحۡشَرُ أَعۡدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمۡ يُوزَعُونَ ١٩ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ
عَلَيۡهِمۡ سَمۡعُهُمۡ وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٠ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمۡ لِمَ
شَهِدتُّمۡ عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيۡءٖ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ
وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢١ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَتِرُونَ أَن يَشۡهَدَ عَلَيۡكُمۡ سَمۡعُكُمۡ وَلَآ أَبۡصَٰرُكُمۡ وَلَا
جُلُودُكُمۡ وَلَٰكِن ظَنَنتُمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعۡلَمُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ٢٢ وَذَٰلِكُمۡ ظَنُّكُمُ
ٱلَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمۡ أَرۡدَىٰكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣ فَإِن يَصۡبِرُواْ فَٱلنَّارُ
مَثۡوٗى لَّهُمۡۖ وَإِن يَسۡتَعۡتِبُواْ فَمَا هُم مِّنَ ٱلۡمُعۡتَبِينَ ٢٤

او هغه ورځ چي د الله غليمان به د اور لوري ته ورغونډ کړی شي، په داسي حال کي چي دوی به ډلي ډلي کړی شوي وي، تر هغه چي (اور ته نږدې) ورشي، غوږونه، سترګي او پوستکي به ئې په هغه څه شهادت ورکوي چي دوی کول. او خپلو پوستکو ته به وايي: ولي زموږ په ضد شهادت ورکوئ؟ ورته وايي به: هغه الله په خبرو راوستي يو چي هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پيدا کړئ او د هغه لوري ته ورګرځول کيږئ. او تاسو چي (خپلي کړني) پټولی (داسي مو انګېرله چي نه به) ستاسو غوږونه درباندي ګواهي ورکوي، نه ستاسو سترګي او نه ستاسو پوستکي، خو دا ګمان مو کړی وو چي الله په ډېرو هغو کارونو نه پوهيږي چي تاسو ئې کوئ. همدا ستاسو هغه ګمان وو چي د خپل رب په اړه مو ګمان کولو، تباه ئې کړئ او له زيانمنو شوئ، نو که صبر وکړي استوګنځی ئې اور دئ او که عفو وغواړي نو په عفو شوو کي به شامل نشي.

(۱۹-۲٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- **د قيامت په ورځ به د الله تعالی دښمنان د اور لوري ته غونډ کړی شي، په داسي حال کي چي دوی به ډلي ډلي د اور په لوري وخوځول شي، تر هغه چي اور ته نږدې ورشي، غوږونه، سترګي او پوستکي به ئې په هغه څه شهادت ورکوي چي دوی کول. دوی به خپلو پوستکو ته وايي: ولي زموږ په ضد شهادت ورکوئ؟ ځواب به ورکړي: هغه الله په خبرو راوستي يو چي هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پيدا کړئ او د هغه لوري ته ورګرځول کيږئ.**

• دوی ته به وویل شي: په دنیا کې چې کله تاسو په پټه ګناهونه کول داسې مو انګېرله چې نه به ستاسو غوږونه درباندې ګواهي ورکوي، نه ستاسو سترګې او نه ستاسو پوستکي، هغه مهال مو ګمان نه کولو چې ستاسو د بدن غړي به ستاسو په کړنو ګواهي ورکوي، د الله تعالی په اړه ستاسو انګېرنه داسې وه چې ګواکې هغه ستاسو په پټو کارونو نه پوهېږي. د الله تعالی په اړه دغه غلط ګمان د ګناه جرأت درکړ، تباه ئې کړئ او له زیانمنو شوئ.
• هغه مهال به د دوی حالت داسې وي چې که صبر وکړي یا نه استوګنځی به ئې اور وي او که عفو وغواړي نو په عفو شوو کې به شامل نشي.
دا مبارك آیت ښیي چې د انسان د بدن غړي د پوستکي په شمول د انسان ټولې کړنې ګوري، په یوه ډول ئې ثبتوي او د قیامت په ورځ به د انسان په اړه ګواهي ورکوي، په کار ده د دې مطلب په وړاندې لږ توقف وکړو، ما ته ووایئ: ۱٤۰۰ کاله وړاندې به د دې وینا په اړه د مخالفینو عکس العمل څنګه وو چې د انسان پوستکی به د انسان په خلاف ګواهي ورکوي)؟ آیا په دې خبرې به ئې په خپلو کې ډېر ډېر نه وي خندلي او په ټوکو ټوکو به یوه بل ته نه وي ویلي چې دا دئ محمد (صلعم) دا ادعا هم وکړه چې دا بې ژبې پوستکی به په خبرو راشي او د انسان په ښه او بد عمل به شهادت ورکوي؟!! خو راشئ د قرآن دا وینا نن یوه داسې ساینس پوه ته وکړئ چې د علمي څېړنو په نتیجه کې دا ورته معلومه شوې چې نه یوازې د انسان پوستکی بلکې د زمکې سطح او فضاء د انسان هر هر غږ او هر هر حرکت ثبتوي، هغه ساینس پوه چې نن په ډېر قاطعیت سره وایي: د انسان د غږ او خوځښت څپې د زمکې په سطح او فضاء کې داسې ثبت کېږي چې د تل لپاره دوام کوي او زرګونه کاله وروسته هم کولی شو دا امواج او اثرات په پرمختللو وسائلو کشف او ترلاسه کړو. که دغه ساینس پوه ته ووایئ چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې دا خبره کړې، عکس العمل به ئې څه وي؟ آیا کېدی شي له دې پرته بل څه ووایي چې قرآن حتماً له داسې مرجع راغلی چې په ټولو اسرارو پوه دئ؟

وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُواْ لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ فِيٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ﴿٢٥﴾

او داسې همځنګ مو ورته ټاکلي چې دوی ته ئې هغه څه ښایسته کړي چې د دوی په وړاندې دي او د دوی تر شا دي او د دوی په اړه دا وینا د پېریانو او انسانانو په هغو ډلو کې محققه شوې چې تر دوی وړاندې تېر شوي، یقیناً چې دوی زیانمن دي.

(۲٥)- په دې مبارك آیت کې د الله تعالی دا سنت انځور شوی چې بد انسان ته بد ملګري ورپه برخه کوي، دا بد ملګري ئې غولوي، بد افکار او بد اعمال ئې ورته ښایسته کوي، ماضي او مستقبل ئې داسې ورته انځوروي چې ښکلی او ښایسته ورته وبرېښي، څومره چې په شیطاني لارو کې وړاندې درومي همدومره به ئې په شیطانت او شرارت کې ماهر ملګري په برخه کېږي، د بدکارانو له اسلافو سره همداسې شوي، که دا پېریان ول او که انسانان، د دوی ټولو

په اړه د الله تعالی پرېکړه دا ده چي هم به په دنیا کي زیانمن وي او هم په آخرت کي.
دلته ویل شوي چي د دوی په اړه دا وینا محققه شوه، د دې وینا په تعبیر کي د درنو مفسرینو تر منځ د اختلاف شاهد یو، غوره تعبیر دا دئ چي دلته په (القول) سره همدا مخکني قول (وَقَيَّضۡنَا لَهُمۡ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُواْ لَهُم مَّا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ) ته اشاره شوې، یعني همدا الهي وینا او سنت د دوی په اسلافو کي هم محقق شوی.
دې ته مو باید پام وي چي د دې الهي سنت معنی دا ده چي تل به بد انسان د بد انسان په څنګ کي مومئ، د بد انسان (قرناء: نږدې ملګري) او مشاورین به د دوی په خبر وي او غلط کارونه به ورته ښایسته کوي، دا وینا ناسمه او د دې الهي سنت خلاف ده چي د چا په اړه وویل شي: په خپله ښه سړی دئ خو ملګري او مشاورین ئې بد انسانان دي!! حقیقت دا دئ چي بد مشاورین د بد انسان خوا کي راغونډېږي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ ﴿٢٦﴾
فَلَنُذِيقَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَذَابٗا شَدِيدٗا وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٧﴾
ذَٰلِكَ جَزَآءُ أَعۡدَآءِ ٱللَّهِ ٱلنَّارُۖ لَهُمۡ فِيهَا دَارُ ٱلۡخُلۡدِ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ

﴿٢٨﴾

او هغو چي کفر ئې کړی وویل: دې قرآن ته غوږ مه ږدئ او په هغه کي غوغا جوړه کړئ چي غالب شئ، نو حتماً به هغو ته کلك عذاب وروڅکو چي کفر ئې کړی او هرومرو به د دغه ډېر بد عمل سزا ورکړو چي دوی کولو، همدا اور د الله د دښمنانو سزا ده، په هغه کي دوی ته د تلپاته کېدو کور دئ، د هغه څه سزا چي دوی زموږ د آیتونو په اړه انکار کولو.

(٢٦-٢٨)- په دې مبارکو آیتونو کي ویل شوي:
• د قرآن مخالفو کافرانو وویل: دې قرآن ته غوږ مه ږدئ، کله چي هغه د رسول اللهﷺ له لوري خلکو ته اورول کېږي نو شور او غوغا جوړوئ چي غالب شئ، دوی د قرآن پراخ او ژور اغېز په خپلو سترګو لیدلو، پوهېدل چي د رسول اللهﷺ د مقابلې تر ټولو مؤثره طریقه دا ده چي پرې نږدو د قرآن پیغام خلکو ته ورسېږي، دا د اسلام په ضد یوازي د قریشو د مشرکو سردارانو اسلوب نه وو؛ تل او د تاریخ په هر پړاو کي به د حق دښمنان همدا کار کوي، د هڅو محور به ئې دا وي چي د قرآن زړه راښکونکی او اغېزمن پیغام خلکو ته ونه رسېږي.
• الله تعالی پرېکړه کړې چي داسي کافرانو ته به حتماً کلك او شدید عذاب ورڅکي، او هرومرو به د دغه ډېر بد عمل سزا ورکوي، دوی د خدای دښمنان دي او مناسبه سزا ئې د

دوزخ اور دئ، همدا اور به ئې تلپاته استوګنځی وي، دا له الهي آيتونو د انکار سزا ده.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ رَبَّنَآ أَرِنَا ٱلَّذَيۡنِ أَضَلَّانَا مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ أَقۡدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ ٱلۡأَسۡفَلِينَ ﴿٢٩﴾

او هغو چې کفر ئې کړی وويل: اې زموږ ربه! د پيريانو او انسانانو هغه دوه راوښيه چې موږ ئې بې لارې کړو چې تر خپلو پښو ئې لاندې کړو، تر څو له لاندينيو (ذليلو) څخه شي.

(۲۹)- دلته په دوزخ کې د هغو دوزخيانو وينا راغلې چې خپلو مشرانو غولولي او دوزخ ته ئې رسولي، الله تعالی ته به سوال کوي چې د پيريانو او انسانانو هغه کسان وروښيي چې دوی ئې بې لارې کړل او په دوزخ کې ئې وغورځول، دا به غواړي چې تر خپلو پښو ئې داسې لاندې کړي چې ډېر سپک شي او تر ټولو لاندې پرېوځي. دا همغه مذهبي او سياسي مشران دي چې دوی به په دنيا کې د درنو او سپېڅلو ذواتو په سترګه ورته کتل، د هغوی په متابعت کې ئې د خپلو معبودانو رضاء لټوله او دا طمع ئې درلوده چې د دوی په ملګرتيا او متابعت کې به د دنيا عزت او د آخرت سعادت ترلاسه کړي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ﴿٣٢﴾

يقيناً هغه چې وئې ويل: زموږ رب الله دئ؛ بيا ئې استقامت وکړ، فرشتې به پرې نازلېږي (له دې وينا سره) چې مه وېره کوئ او مه غمجن کېږئ او د هغه جنت په زېري سره خوښ اوسئ چې وعده ئې درکول کېږي، موږ هم د دنيا په ژوند کې ستاسو دوستان يو او هم په آخرت کې، او تاسو ته په دې کې هر هغه څه شته چې ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چې تاسو ئې غوښتنه وکړئ، يوه مېلمستيا د ډېر مهربان بخښونکي له لوري.

(۳۰-۳۲)- د هغو په مقابل کې چې ملګري او مشاورين ئې جني او انسي شيطانان دي او بد کارونه ئې ورته ښايسته کوي؛ مؤمنان او هغه چې وايي: زموږ رب الله دئ او په همدې باور

او اعتقاد او غوښتنو ئې ثابت او ټينګ پاته کيږي؛ داسي معرفي شوي چي فرشتې به پرې نازليږي او دوی ته به وايي: مه ويره کوئ او مه غمجن کيږئ او د هغه جنت په زيري سره خوښ اوسئ چي وعده ئې درکول کيږي، موږ هم دلته په دنيا کي ستاسو دوستان يو او هم په آخرت کي، که په دنيا کي له آزموينو،کړاوونو او محروميتونو سره مخامخ شوئ پروا ئې مه کوئ، الله تعالی به ئې په بدل کي هغه جنت درکړي چي په هغه کي به تاسو ته هر هغه څه وي چي ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چي تاسو ئې غوښتنه وکړئ، يوه داسي مېلمستيا چي د ډېر مهربان بخښونکي رب له لوري به وي!!

دلته پوښتنه راولاړيږي چي دا فرشتې څنګه او په کومي بڼي کي پر مؤمنانو نازليږي؟ ځواب ئې دا دئ: همغسي لکه چي شيطانان بدو انسانانو ته ورځي او هغوی وسوسه کوي، فرشتې مؤمنانو ته ورځي او دغه ويناوي ورته تلقينوي چي په مخکنيو آيتونو کي راغلې.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾
وَلَا تَسْتَوِى ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِى بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ
عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِىٌّ حَمِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ
عَظِيمٍ ﴿٣٥﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ
ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾

او تر هغه چا به څوك د وينا له پلوه ډېر غوره وي چي د الله لوري ته ئې بلنه ورکړه، نېك عمل ئې وکړ او وئې ويل: زه په يقيني توګه د مسلمانانو له ډلي يم، په داسي حال کي چي نه ښېګڼي سره برابرېدی شي او نه بدي، په هغه څه سره ئې دفع کوه چي تر ټولو غوره وي، ناڅاپه به (وګورې) هغه چي ستا او د هغه ترمنځ کومه دښمني وه داسي شوی لکه کوم خواخوږی دوست، او دا له هغو پرته چي صبر ئې کړی د بل چا نه په برخه کيږي او دا له هغه پرته چي ستر بختور وي د بل چا نه په برخه کيږي، او که د شيطان له لوري کومه وسوسه او هڅونه درورسيږي نو په الله سره پناه غواړه، يقيناً چي هغه پوه اورېدونکی دئ.

(۳۳-۳٦)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- **د وينا له پلوه تر هغه چا غوره څوك نشته چي بلنه ئې د الله تعالی لوري ته وي، عمل ئې نېك وي او وايي: زه حق ته تسليم يم او د خپل رب اوامرو ته غاړه ږدم. او له دې معلوميږي چي د الله تعالی لوري ته د دعوت مقام او ارزښت څومره لوړ دئ، هيڅ څه ورسره برابري**

نشي كولی.

- نه ښېگنې په خپلو كي سره برابرېدی شي او نه بدي، او نه ښېگنه او بدي سره برابري دي، د ارزښت له پلوه هم او د اجر او پايلي له پلوه هم.
- د بدي ځواب په بدي سره مه وركوه، بدي په هغه څه سره دفع كوه چي تر ټولو غوره وي، كه دا كار وكړې نو وبه گورې چي هغه څوك ستا خواخوږی دوست گرځېدلی چي ستا او د هغه ترمنځ كومه دښمني وه.
- دا په ښېگڼو سره د بديو دفع كول هغه صفت دئ چي له هغو پرته د بل چا نه په برخه كيږي چي صبر ئې كړی، او دا د صبر خصلت له هغه چا پرته د بل چا نه په برخه كيږي چي ستر بختور وي، يعني په چا كي چي د صبر ماده ځواكمنه شوې وي، په وار وار له ستونزو سره مخامخ شوی وي خو خپل همت ئې له لاسه نه وي وركړی، د صبر لمن ئې كلكه نيولې وي او د صبر د زيات مشق په نتيجه كي يو همتناك او صبور انسان ترې جوړ شوی وي هغه دا سعادت ترلاسه كولی شي چي بدي په نېكي سره ځواب كړي، او دا د صبر مَلَكه او خصلت يوازي د ستر بختور انسان په برخه كېدی شي.
- كه كله د شيطان له لوري كومه وسوسه او هڅونه درورسيږي، د مخاطب د بد سلوك په وړاندي ستا احساسات تحريك شول، شيطان په خپلو شيطاني هڅونو او وسوسو سره وهڅولې چي بالمثله چلن ورسره وكړې نو الله تعالی ته پناه يوسه، مرسته ترې وغواړه چي له بدخويي او بدسلوكي دي وساتي، مطمئن اوسه چي الله تعالی پوه اورېدونكی دئ، ستا او مخاطب له حال خبر دئ او ستا دعاء اوري.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيۡلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُۚ لَا تَسۡجُدُواْ لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَٱسۡجُدُواْ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ﴿٣٧﴾ فَإِنِ ٱسۡتَكۡبَرُواْ فَٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمۡ لَا يَسۡـَٔمُونَ۩ ﴿٣٨﴾

او د ده له آيتونو دا شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، مه لمر ته سجده كوئ او مه سپوږمۍ ته، هغه الله ته سجده وكړئ چي دوی ئې پنځولي كه يوازي دی لمانځئ، او كه د لويي په لټه كي شول نو هغه چي ستا د رب خوا ته دي شپه او ورځ د ده تسبيح وايي په داسي حال كي چي نه ستومانه كيږي.

(۳۷-۳۸)- په دې مباركو آيتونو سره موږ ته دا لارښوونې شوې:

- دا شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ د الله تعالی د قدرت نښې او آيتونه دي.
- مه لمر ته سجده كوئ او مه سپوږمۍ ته او مه دوی ته ورته نورو مخلوقاتو ته، هغه الله ته سجده وكړئ چي دوی ئې پنځولي، كه غواړئ چي يوازي الله تعالی ولمانځئ، يعني د توحيد لومړنۍ او اساسي تقاضاء دا ده چي له الله تعالی پرته هيچا ته سر ټيټ نه كړو او تندی پر

زمکه کښېښږدو.

• که ستا مخاطبینو د الله تعالی له عبادت او لمانځني ډډه وکړه او ځان ئې تر دې ستر وګڼلو چې د خپل رب په وړاندې سر ټيټ کړي او سجده وکړي او د لويي په لټه کي شول نو پروا ئې مه کوه، هغه چې ستا د رب خوا ته دي، هغه فرشتې چې د عالم چارې سمبالوي، دوی شپه او ورځ د ده تسبيح وايي په داسې حال کې چې نه ستومانه کيږي. يعني دوی ټول همغه څه کوي چې ته ئې کوې، ستا په څېر الله تعالی لمانځي، نو ته ځان يوازې مه ګڼه، د مخالفينو ډيرښت او ظاهري زور ځواك ته په پام سره د ضعف او يوازيتوب احساس مه کوه، الله تعالی او فرشتې ئې ستا ملګري دي. په دې سره مؤمنانو ته دا لارښوونه هم شوې چې د خپل رب په عبادت کې بايد داسې وي لکه مقربې فرشتې چې هيڅکله د ستړيا او ستومانې احساس نه کوي، که غواړئ د خپل رب تقرب ترلاسه کړئ نو مه په خپل تېر عبادت اکتفاء کوئ او مه د ستومانۍ احساس کوئ.

وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَـٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ
ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ٣٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ
فِىٓ ءَايَـٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَآ ۗ أَفَمَن يُلْقَىٰ فِى ٱلنَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِىٓ ءَامِنًا يَوْمَ
ٱلْقِيَـٰمَةِ ۚ ٱعْمَلُوا۟ مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ٤٠

او د ده له آيتونو يو دا دئ چې ته زمکه وچه سپېره ګورې خو کله چې اوبه پرې ووروو وخوځيږي او وده وکړي، يقيناً هغه چې زمکه ژوندۍ کوي حتماً د مړو ژوندي کوونکی دئ، يقيناً چې هغه پر هر څه توانمن دئ، يقيناً هغه چې زما د آيتونو په اړه کږېږي پر موږ پټ نه پاتي کيږي، نو آيا هغه چې په اور کي اچول کيږي غوره دئ او که هغه چې د قيامت په ورځ به د خوندي په توګه راشي، څه چې غواړئ وئې کړئ، يقيناً چې دی د هغه څه ښه ليدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۳۹-٤٠)- د الله تعالی د قدرت له څرګندو نښو يوه دا ده چې ته زمکه وچه سپېره ګورې، داسې چې د ژوند او حرکت هيڅ نښه نه په کې تر سترګو کيږي، خو کله چې باران پرې ووروي ناڅاپه وخوځيږي او وده وکړي او ډول ډول بوټي راوټوکوي، د چا په امر او اراده چې دا کار کيږي هغه الله تعالی دئ، څوك چې په يوه باران سره مړه زمکه ژوندۍ کوي هغه حتماً مړي هم راژوندي کولی شي، او هغه حتماً پر هر څه توانمن دئ. الله تعالی هغو کافرانو ته خبرداری ورکوي چې د الهي آيتونو په اړه د انحراف لار غوره کوي، غلط ئې تعبيروي، ناسم او ناصحيح مطلب ترې اخلي، د خپل کاږه ذهن او کږه سليقې مطابق ئې تأويلوي، دوی بايد پوه وي چې هڅې ئې له الله تعالی پټې نه پاتې کيږي، سزا ئې د دوزخ سرې لمبې دي، نو

ورته ووایه: آیا هغه چې په اور کې اچول کېږي غوره دئ او که هغه چې د قیامت په ورځ به ئې امان په برخه شي، د دوزخ له لمبو به خوندي وي؟!! نو څه چې غواړئ هغه وکړئ، خو په دې باید پوه وئ چې الله تعالی د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلذِّكۡرِ لَمَّا جَآءَهُمۡۖ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٞ ﴿٤١﴾ لَّا يَأۡتِيهِ ٱلۡبَٰطِلُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهِۦۖ تَنزِيلٞ مِّنۡ حَكِيمٍ حَمِيدٖ ﴿٤٢﴾

یقیناً هغه چې د دې ذکر (پندناك قرآن) په اړه له هغه وروسته کفر کوي چې ورورالندې شي په داسې حال کې چې هغه له شك پرته عزتمن او درونډ کتاب دئ، چې باطل ئې نه مخې ته راتلی شي او نه ئې له شا، د ستایل شوي با حکمت له لوري یوه ځانګړې لېږنه.

(۴۱-۴۲)- یعنې هغه خلك چې له دې قرآن سره د مخالفت او عناد لار غوره کوي په داسې حال کې انکار او کفر ته ملا تړي چې قرآن له پند، نصیحت او ذکر ډکه لمن د دوی په وړاندې غوړوي، او په داسې حال کې چې ګوري قرآن له شك پرته عزتمن او درونډ کتاب دئ، داسې کتاب چې هره وینا ئې حق ده، هیڅوك په هغه کې د باطل شائبه نشي موندلی، که څوك وغواړي چې د قرآن کومه وینا، کومه لارښوونه او کوم حکم باطل او غلط ثابت کړي هیڅکله به بریالی نشي او خپل مقصد ته به ونه رسیږي، هیڅوك به د علمي څېړنو او تحقیقاتو په ترځ کې داسې کوم حقیقت کشف نه کړي چې د قرآن له وینا سره تعارض ولري او د قرآن وینا تردید کړي، څه ته چې قرآن حق ویلي هیڅوك به ئې باطل ثابت نه کړي او څه ته چې قرآن باطل ویلي هیڅوك به ئې حق ثابت نه کړي، باطل ئې نه مخې ته راتلی شي او نه ئې له شا، دا ځکه چې قرآن د هغه ذات له لوري لېږل شوی چې (حکیم حمید) یعنې ستایل شوی با حکمت دئ، څنګه به څوك وتوانیږي د داسې ذات له لوري لېږل شوي کتاب کې عیب، نقص او د علم او حکمت خلاف وینا ومومي؟!!

مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدۡ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبۡلِكَۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٖ ﴿٤٣﴾ وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَانًا أَعۡجَمِيّٗا لَّقَالُواْ لَوۡلَا فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥٓۖ ءَا۬عۡجَمِيّٞ وَعَرَبِيّٞۗ قُلۡ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ هُدٗى وَشِفَآءٞۖ وَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٞ وَهُوَ عَلَيۡهِمۡ عَمًىۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُنَادَوۡنَ مِن مَّكَانِۢ بَعِيدٖ ﴿٤٤﴾

تا ته له هغه څه پرته بل څه نه ویل کېږي چې تر تا وړاندې پیغمبرانو ته ویل شوي،

يقيناً چي ستا رب د بخښني والا دئ او د دردونكي عذاب خاوند. او كه مو هغه عجمي (غير عربي) قرآن گرځولی وی نو حتماً به ئې ويلي وو: ولي ئې آيتونه نه دي سپړل شوي، آيا يو عجمي او يو عربي؟ ووايه: دا د هغو لپاره لارښود او درمل دئ چي ايمان ئې راوړی، او هغه چي ايمان نه راوړي په غوږونو كي ئې يو ډول درونداوالی دئ او دا وربانديي ړوندوالی دئ، دوی داسي دي (لكه) چي له لري ځای ورغږ كېږي.

(۴۳-۴۴)- دلته رسول الله ﷺ ته ډاډېينه وركړی شوې چي ستا په خلاف د حق دښمنان همغه څه وايي چي د دوی اسلافو د مخكنيو پيغمبرانو په ضد ويلي، دوی خپل رب ته حواله كړه، هغه رب ته چي هم د بخښني والا دئ او هم د دردونكي عذاب خاوند، ځينو ته به بخښنه وكړي، د ايمان او هدايت دروازه به د هغوی پر مخ پرانيزي او ځيني به په دردناك عذاب اخته كړي.

دښمنانو دا تبليغات كول چي رسول الله ﷺ عرب دئ او قرآن هم عربي كتاب او گواكي دا د دې نښه ده چي دا كتاب ده په خپله جوړ كړی او الله تعالی ته ئې منسوب كړی!! دلته د دوی په ځواب كي ويل شوي: كه مو هغه غير عربي قرآن گرځولی وی نو حتماً به ئې ويلي وو: ولي ئې آيتونه نه دي سپړل شوي؟ ولي د مخاطب خيال نه دئ ساتل شوی او په داسي ښې كي نه دئ راغلی چي هر چا ته د فهم وړ وي؟ ولي يو عجمي كتاب د يوه عربي په لاس يوه عرب قوم ته لېږل شوی؟!! د داسي پوښتنو په ځواب كي ويل شوي: دا قرآن د هغو لپاره لارښود او درمل دئ چي ايمان ئې راوړی، له تيارو ئې د رڼا لوري ته بيايي، ځان او جهان ورپېژني، د ښه او بختور ژوند لاري ورښيي، داسي ځلانده مشعل په لاس وركوي چي په رڼا كي ئې ښه او بد، مفيد او مضر، دوست او دښمن، د سعادت لار او د شقاوت اسباب وپېژني، خو هغه چي ايمان نه راوړي او د ايمان راوړلو استعداد ئې ځپل شوی؛ د هغوی د زړه دروازه د قرآن د وينا په وړاندي تړلې ده، غوږونه ئې د قرآن د زړه راښكونكې بلنې له اورېدو عاجز دي، په غوږونو كي ئې داسي درونداوالی دئ چي د دې وينا د اورېدلو مجال نه وركوي، سترگي ئې بيماري دي، د دې پر ځای چي د قرآن په رڼا كي له تيارو د وتلو لار وومومي برعكس په برېښ اخته او له ليدلو ولوېږي، يعني دا رڼا ورته ړوندوالی شي او پر سترگو ئې تياره راولي، دوی هغه چا ته ورته دي چي څوك ئې له لري ځای بلي، يوازي غږ اوري خو په معنی او مفهوم ئې نه پوهېږي.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿٤٥﴾

او يقيناً چي موسی ته مو هغه كتاب وركړ چي په اړه ئې اختلاف وكړی شو، او كه ستا د رب له لوري داسي وينا نه وی چي وړاندي تېره شوې نو حتماً به د دوی تر منځ (تر دې وړاندي) پرېكړه شوې وه او يقيناً چي دوی ئې په اړه په حيرانوونكي شك كي دي.

(۴۵)- له مخكنيو پيغمبرانو چي ستا په څېر كتاب وركړی شوی او د حق دښمنانو د هغوی

مخالفت ته ملا نړلې يو هم موسى **صلعم** دئ چي تورات ورکړی شو او فرعونيانو د ده او د تورات مخالفت وکړ او په الهي عذاب اخته شول، که د الله تعالى دا سنت نه وی چي هر چا ته تر يوې ټاکلې نېټي مهلت ورکوي نو قريش به ډېر وړاندي له همغه برخليك سره مخامخ شوي وو چي فرعونيان ورسره مخامخ شول، دوی له قرآن سره د مخالفت په ارتباط هيڅ دليل او توجيه نه لري، د حيرانوونکي شك په بيماری اخته دي، ټول مخالفتونه ئې له دغه شك راولاړ شوي، دا توان نه لري چي د قرآن کومه وينا ترديد کړي، هيڅ دليل نشي وړاندي کولی، فقط د خپل بيمار زړه او ګنده ذهن شکوك څرګندوي!!

مَّنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿٤٦﴾ إِلَيۡهِ
يُرَدُّ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِۚ وَمَا تَخۡرُجُ مِن ثَمَرَٰتٖ مِّنۡ أَكۡمَامِهَا وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا
تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ أَيۡنَ شُرَكَآءِي قَالُوٓاْ ءَاذَنَّٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٖ
﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَدۡعُونَ مِن قَبۡلُۖ وَظَنُّواْ مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴿٤٨﴾

چا چي صالح عمل وکړ نو د ځان په ګټه ئې دئ او چا چي بد کار وکړ پر ده به (ئې وبال) وي، او ستا رب پر خپلو بندګانو ظلم کوونکی نه دئ، د قيامت (اړوند) علم ده ته ورګرځول کيږي، او د الله له علم سره له مطابقت پرته نه له مېوو کومه يوه له خپل پوټکي راوځي، او نه کومه ښځينه څه په خپل رحم کي وړي او نه ئې (پر زمکه) ږدي، او په کومه ورځ چي دوی ته غږ شي: زما شريکان او سيالان چېري دي؟!! وبه وايي: موږ درته عرض کړی چي هيڅ يو مو (د دې خبري) ګواهي ورکوونکی نه دئ، او هغه به ترې ورك شي چي تر دې وړاندي ئې لمانځل، او ګمان به وکړي چي د تېښتي هيڅ ځای نشته.

(٤٦-٤٨)- د دې مبارکو ايتونو لارښووني دا دي:

- د نېك او بد عمل ګټه او تاوان تر بل چا وړاندي او زيات په خپله عمل کوونکي ته رسي.
- الله تعالى هر چا ته د خپل عمل مناسبه او عادلانه سزا او جزاء ورکوي، هم په دنيا کي او هم په آخرت کي، الله تعالى پر خپلو بندګانو ظلم کوونکی نه دئ، نه د چا نېك عمل ضائع کوي، نه ئې بې بدلې پرېږدي او نه ئې بد عمل ته د عدالت خلاف سزا ورکوي.
- د قيامت اړوند علم يوازي الله تعالى ته مختص دئ، له ده پرته هيڅوك نه پوهيږي چي کله او څنګه به راځي.
- د الله له علم سره له مطابقت پرته نه کومه مېوه له خپل پوټکي بهر راوځي، نه کومه ښځينه څه په خپل رحم کي وړي او نه څه زيږوي. يعني الله تعالى پوهيږي چي کومه غوټی به

څنګه مېوه راټوکوي، د حيوان او انسان کومه ښځينه به کله حامله کيږي او څه به زيږوي، دا ټول د هغې دقيقې الهي منصوبې مطابق ترسره کيږي چې الله تعالى د خپل پراخ علم له مخې وضع کړې، دا علم هم يوازې الله تعالى ته مختص دئ.

• د قيامت په ورځ به د الله تعالى له لورې مشرکينو ته وويل شي: زما شريکان او سيالان چېرې دي؟!! هغه چې تاسو به زما شريکان او سيالان ګڼل چېرې دي؟!! د هغوی ځواب به دا وي: موږ لا له وړاندې ستا حضور ته عرض کړی چې زموږ هيڅ يو د دې خبرې ګواهي نه ورکوو چې ته سيال او شريک لرې، هغه به ترې ورك وي چې تر دې وړاندې ئې په دنيا کې لمانځل، په خپلو سترګو به ګوري چې د تېښتې هيڅ ځای نشته.

لَّا يَسۡـَٔمُ ٱلۡإِنسَـٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلۡخَيۡرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٞ قَنُوطٞ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنَّا مِنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ وَلَئِن رُّجِعۡتُ إِلَىٰ رَبِّيٓ إِنَّ لِي عِندَهُۥ لَلۡحُسۡنَىٰۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِمَا عَمِلُواْ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنۡ عَذَابٍ غَلِيظٖ ﴿٥٠﴾ وَإِذَآ أَنۡعَمۡنَا عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ أَعۡرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٖ ﴿٥١﴾

انسان د خير له غوښتلو نه ستومانه کيږي، او که کوم شر وروړسيږي نو بيا سخت نا هيلی او بې اسرې وي. او که له خپل لورې کومه پېرزوينه وروڅکو له هغه وروسته چې کوم کړاو وررسېدلی حتماً به ووايي: همدا له ما سره وړ دي، او ګمان نه کوم چې د قيامت نېټه قائمېدونکې (راتلونکې) ده، او که د خپل رب لورې ته وګرځول شم حتماً به د هغه خوا ته ښېګڼه راپه برخه کيږي، نو حتماً به هغه چې کفر ئې کړی په هغه څه خبر کړو چې دوی کړي او هرومرو به د سخت عذاب خوند وروڅکو، او کله چې پر انسان پېرزوينه وکړو ډډه کوي او اړخ اړوي، او کله چې شر وروړسيږي نو د اوږدې دعاء خاوند وي.

(٤٩-٥١)- په دې مبارکو آيتونو کې د انسان ځينې فطري کمزورتياوې انځور شوې، چې دا دي:

• انسان حريص دئ، د خير له غوښتلو نه ستومانه کيږي، غوښتنې ئې پای نه لري، سترګې ئې نه مړيږي.

• که له کوم کړاو سره مخامخ شي او کوم تاوان وروړسيږي نو بيا سخت نا هيلی او بې اسرې وي، دومره مأيوس شي چې د خپلو هيلو د ترسره کېدو هيڅ طمع ئې نه وي.

- که الله تعالی له خپل لوري کومه پېرزوینه ورپه برخه کړي په ځانګړې توګه هغه مهال چې له کوم کړاو ژغورل شوی وي؛ نو وايي: همدا له ما سره وړ وه، زه د همدې پېرزوینې مستحق وم. ګمان نه کوم چې قیامت راتلونکی دئ، که احياناً قيامت راشي او زه د خپل رب لوري ته وګرځول شم نو حتماً به د هغه خوا ته بیا هم د ده له پېرزوینو برخمن وم او د دنیا په څېر به ښېګڼې راپه برخه کېږي. دا کافرانه انګېرنې دي، الله تعالی د دوی په اړه فرمايي: حتماً به دغه کافران د هغه څه په بدو پايلو خبر کړم چې دوی ئې کوي او هرومرو به د سخت عذاب خوند وروڅکم.
- کله چې الله تعالی پر انسان کومه پېرزوینه وکړي نو د شکر او منني پر ځای د اعراض او کفران لار غوره کوي او اړخ اړوي.
- کله چې له کومې ستونزې سره مخامخ شي نو د اوږدو اوږدو دعاګانو خاوند شي.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾

ووایه: آیا دې ته مو پام کړی چې که دا د الله له لوري وي بیا تاسو د هغه په اړه کفر کړی وي، نو تر هغه به زیات تېروتی څوك وي چې په ژور اختلاف کې وي؟!

(۵۲)- دلته رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چې د قرآن مخالفینو ته ووایي: آیا کله مو دې ته پام کړی چې که دا قرآن د الله تعالی له لوري وي او تاسو د هغه په اړه کفر کړی وي، د دې کفر او انکار پایله به څه وي!! آیا تر هغه به زیات تېروتی انسان پیدا شي چې د الله تعالی له لوري لېږل شوي لارښود کتاب سره مخالفت کوي!! هغه هم نه په ځینو مواردو کې او سطحي اختلاف بلکې ژور اختلاف؟!

سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾

ډېر ژر به خپل آیتونه په آفاق (کائنات) کې هم او د دوی په خپلو نفسونو کې هم وروښیو تر څو ورته څرګنده شي چې هغه حق دئ، آیا ستا د رب په اړه دا کافي نه ده چې هغه په هرڅه شاهد دئ؟

(۵۳)- یعني ستا په نفس او خپل ځان کې د قدرت نښې او په دې آفاق او عالم کې د قدرت نښې، د دې مقروء کتاب قرآن په حقانیت شهادت ورکوي، دا ځکه چې الله د هرڅه شاهد دئ، د هرڅه شاهد خو به خود داسې څه وايي چې هر څه د ده د هرې وینا په حقانیت شهادت ورکړي.

په دې مبارك آيت سره الله تعالى فرمايي چي ژر به خپل آيتونه په آفاق او فضاء کي هم او د دوی په بدن کي هم وروښيم تر څو ورته څرګنده شي چي هغه حق دئ.

د دې مبارك آيت مدعاء دا ده چي الله تعالى به خلکو ته د قرآن د آيتونو مصداق او حقيقت هم په آفاق کي جوت کړي او هم د انسان د نفس په بېلو بېلو برخو کي، يعني قرآن چي د عالم او انسان په اړه کومي څرګندوني کړې دي؛ د دغو څرګندونو حقيقت به دوی ته جوت شي او په دې به پوه شي چي الله تعالى حق دئ او د ده کتاب رښتينى او له حقائقو ډك کتاب دئ. او دا ښيي چي د قرآن علمي اعجاز به ورو ورو خلکو ته جوتېږي.

دغو حقائقو ته په پام سره ده چي نن په غربي نړۍ کي هر کال په زرګونو خلك ايمان راوړي او په دوی کي ډېری ئې داسي څېړې دي چي په ساينسي علومو کي ئې څېړني او مطالعات کړي او په ترڅ کي ئې د قرآن حقيقت ورته څرګند شوی او ايمان ئې راوړی.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کي د عالم، آسمانونو، زمکي، لمر، ستورو، شپه، ورځ، د انسان پيدايښت، نباتاتو، حيواناتو، حشراتو، وريځو، بارانونو، بادونو، غرونو، سيندونو، سمندرونو او نورو طبيعي شيانو په اړه داسي دقيق او علمي بحثونه تر سترګو کېږي چي انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، انسان له اوږد علمي سفر وروسته او د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته توانېدلی دغه حقائق درك کړي او نن هغه خبره وکړي چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې وه.

يقيناً چي الله تعالى د خپلو آيتونو مصداق هم په آفاق، کائنات او عالم کي خلکو ته ښيي او هم ئې د دوی په خپلو نفسونو کي، ورو ورو د دوی علم د خپل نفس په اړه هم زياتېږي او د عالم او آفاق په اړه هم، په تدريج سره به د دوی علم، پوهه او تجارب اضافه کېږي، دا علم او پوهه به له يوه نسل بل نسل ته انتقالېږي او په دې توګه به دوی په آفاق او په خپل نفس کي د الهي آيتونو مصداق په خپلو سترګو وګوري او په دې به پوه شي چي دا حق دئ، الله حق دئ او د ده له لوري رالېږل شوی کتاب حق دئ. دا ځکه چي الله تعالى د دې عالم د هر جزء او توکي په اړه علم لري، د خپل دغه جامع او کامل علم له مخي ئې چي کوم کتاب رالېږلی د هغه د هري وينا حقانيت او د هر قضاوت مصداق به هم په آفاق کي وګوري او هم په خپلو نفسونو کي.

قرآن د دې ستري ادعاء د اثبات لپاره دا دليل او توجيه وړاندي کوي: أَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ **: آيا ستا د رب په اړه دا کافي نه ده چي هغه په هرڅه شاهد دئ؟**

يعني د هر شي په نسبت علم لري او د هغه د څرنګوالي شاهد دئ؟ د داسي شاهد ذات وينا خو به خود داسي وي چي هر څه د ده د هري وينا په حقانيت شهادت ورکړي.

په دې توګه قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د دې الهي کتاب آيتونه هم زموږ د نفسونو په پټو او څرګندو برخو احتواء کړې او اړوند حقائق ئې موږ ته ښودلي او هم ئې د عالم په آفاق کي خواره حقائق احتواء کړي او د هر څه حقيقت ئې موږ ته ښودلی، خو موږ به په تدريج سره او ورو ورو په دې حقائقو پوهېږو. دا آيت موږ ته دا هم ښيي چي انسان به په

تدريج سره او هر څومره چې د ده علم وده کوي او فهم او بصيرت ئې زياتيږي همدومره به د دې کتاب په حقانيت پوهيږي، د قرآن ډېر حقائق داسې دي چې انسان نن او د قرآن له نزوله څوارلس پېړۍ وروسته د هغوی په حقيقت پوه شو، تر دې د مخه ډېرو ته مبهم، غامض او غير قابل فهم برېښېدل.

أَلَآ إِنَّهُمۡ فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمۡۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطُۢ ﴿٥٤﴾

پام چې يقيناً دوی له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کې دي، پام چې يقيناً هغه په هر څه محيط دئ.

(٥٤)- په دې مبارك آيت کې دوه اساسي مطالب څليږي؛ چې د سورې له دوو محوري موضوعاتو سره ژور تعلق او مناسبت لري او د سورې خلاصه زموږ په وړاندې ږدي:

- دغه کافران له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کې دي، د قرآن له څرګندو آيتونو سره د دوی د مخالفت ستره وجه دا ده چې دوی د قيامت او له خپل رب سره د ملاقات په اړه شکمن دي، په دې اړه هيڅ علمي او عقلي دليل نه لري، مخالفت ئې له شك راولاړ شوی.
- الله تعالی په هر څه احاطه کړې، هيڅ څه د ده له واك او سيطرې بهر نه دي، دا کافران داسې څه په واك کې نه لري چې د الله تعالی له سلطې او ادارې بهر وي، نو مه د دوی د مخالفتونو پروا کوه او مه ئې له زر، زور او ځواك وېره او اندېښنه لره، له دوی سره به همغه څه کيږي چې ستا رب ئې غواړي نه هغه څه چې دوی ئې په لټه کې دي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الشورى

د سورې پېژندنه:

د دې مباركې سورې نوم (الشورى) دئ چې د سورې له ۳۸ آيت اخيستل شوى، ۵۳ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دربيم آيت (الحكيم)، او د درويشتم آيت (الشكور) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالى ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مكې دور په منځنيو كلونو كې نازل شوې. داسې معلومېږي چې دا سوره له مخكنيو دوو سورتونو سره په ورته ظروفو او شرائطو كې او يوه په بلې پسې نازله شوې.

دا سوره په پنځو مقطعاتو حروفو پيل شوې، د سورې محوري مطالب او د بحث اساسي موضوعات هم پنځه دي چې خلاصه ئې د سورې د پاى پنځو آيتونو كې راغلې، تاسو تر دې وړاندې د مريم سوره وليدله چې همداسې په پنځو حروفو (كهيعص) پيل شوې، پنځه اساسي موضوعات په كې څېړل شوي وو او خلاصه ئې په آخري پنځو آيتونو كې راغلې وه، دا سوره هم له دې پلوه كټ مټ د هغې په څېر ده، تاسو به وګورئ چې دلته هم د سورې په پنځو وروستيو آيتونو كې دغه مطالب په اجمال سره راغلي او په ټولې سورې كې په تفصيل سره څېړل شوي:

۱. الله تعالى د آسمانونو او زمكې ټولواك دئ.

۲. الله تعالى خالق دئ، هر هغه څه پيدا كوي چې وئې غواړي، چا ته لونې وركوي، چا ته زامن، او چا ته زامن او لونې ګډ، او هغه شنډ كړي چې دى ئې غواړي، يقيناً چې دى توانمن پوه دئ.

۳. هيڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تكلم وكړي مګر په وحي (خفي اشارې) سره، يا د حجاب له شا، يا يوه فرشته لېږي چې د ده له حكم سره سم هغه څه وحي كړي چې دى ئې غواړي، يقيناً چې هغه باحكمته لوړ دئ.

۴. همداسې مو تا ته له خپل لوري د خاص امر وحي وكړه، ته نه پوهېدې چې كتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنى او حقيقت) پوهېدې، خو موږ دا قرآن داسې نور وګرځاوو چې له خپلو بندګانو څني هغه څوك پرې هدايتوو چې غواړو ئې، او بې شكه چې ته د مستقيمې لارې خوا ته لارښوونه كوې. د هغه الله لارې ته چې څه په آسمانونو كې او څه په زمكې دي ټول د ده دي.

۵. پام چې كارونه د الله تعالى په واك كې دي، د ده لوري ته ورګرځي او پايلې ئې د ده له لوري ټاكل كېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ عٓسٓقٓ ﴿٢﴾ كَذَٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ
﴿٣﴾ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٤﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ
يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِمَن فِي
ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهُ
حَفِيظٌ عَلَيۡهِمۡ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ﴿٦﴾

حاء، میم، عین، سین، قاف، همداسې باحکمته عزتمن ذات تا او هغو ته چې تر تا وړاندې ول وحي کوي، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي (ټول) د ده دي، او هغه ستر لوړ دئ، نږدې ده چې آسمانونه له بره ئې وچوي، په داسې حال کې چې فرشتې د خپل رب له ستاینې سره تسبیح وايي او هغو ته بخښنه غواړي چې په زمکې کې دي، پام چې یقیناً الله مهربان بخښونکی دئ، او هغه چې له ده پرته ئې پالونکي نیولي الله پرې څارونکی دئ او ته پرې وکیل نه یې.

(١-٦)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- **لکه څنګه چې دا سوره په پنځو مقطعاتو حروفو پیل شوې؛ د دې سورې محوري مطالب او د بحث اساسي موضوعات هم پنځه دي چې خلاصه ئې د سورې د پای پنځو آیتونو کې راغلې، تاسو تر دې وړاندې د مریم سوره ولیدله چې همداسې په پنځو حروفو (کهیعص) پیل شوې، پنځه اساسي موضوعات په کې څېړل شوي وو او خلاصه ئې په آخري پنځو آیتونو کې راغلې وه، دا سوره هم له دې پلوه کټ مټ د هغې په څېر ده، تاسو به وګورئ چې دلته هم د سورې په پنځو وروستیو آیتونو کې دغه مطالب په اجمال سره راغلي او په ټولې سورې کې په تفصیل سره څېړل شوي:**

١. الله تعالی د آسمانونو او زمکې ټولواك دئ.
٢. الله تعالی خالق دئ، هر هغه څه پیدا کوي چې وئې غواړي، چا ته لوڼې ورکوي، چا ته

زامن، او چا ته زامن او لوڼې ګډ، او هغه شنډ کړي چې دی ئې غواړي، يقيناً چې دی توانمن پوه دئ.

٣. هيڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي (خفي اشارې) سره، يا د حجاب له شا، يا يوه فرشته لېږي چې د ده له حکم سره سم هغه څه وحي کړي چې دی ئې غواړي، يقيناً چې هغه باحکمته لوړ دئ.

٤. همداسې مو تا ته له خپل لوري د خاص امر وحي وکړه، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنی او حقيقت) پوهېدې، خو موږ دا قرآن داسې نور وګرځاوو چې له خپلو بندګانو څخه هغه څوك پرې هدايتوو چې غواړو ئې، او بې شکه چې ته د مستقيمې لارې خوا ته لارښوونه کوې. د هغه الله لارې ته چې څه په آسمانونو کې او څه په زمکې دي ټول د ده دي.

٥. پام چې کارونه د الله تعالی په واك کې دي، د ده لوري ته ورګرځي او پايلې ئې د ده له لوري ټاکل کېږي.

- رسول اللهﷺ ته ويل شوي چې تا او هغو ته چې تر تا وړاندې ول د هغه رب له لوري وحي کېږي چې باحکمته عزتمن دئ، (حکيم) دئ؛ پوهېږي چې خپل بنده ته څنګه د وحي له لارې لارښوونه وکړي، (عزيز) دئ؛ د ارادې په وړاندې ئې هيڅ څه نشي خنډ کېدی.
- څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د الله تعالی په واك کې دي، څښتن او مالك ئې دی دئ او دی ستر او لوړ دئ.
- هغه چې د الله تعالی په لمانځنې بوخت دي شمېر ئې دومره زيات دئ چې آسمانونه ترې ډك دي، نږدې ده چې آسمانونه له بره ئې وچوي، په داسې حال کې چې فرشتې د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايي او هغو ته بخښنه غواړي چې په زمکې کې دي، فرشتې له دې کبله بخښنه غواړي چې پوهېږي الله تعالی مهربان بخښونکی دئ، که داسې نه وی نو نه به فرشتو د زمکې استوګنو ته بخښنه غوښتې وی او نه به هغو ته مهلت ورکړی شوی وو چې د بغاوت لار ئې غوره کړې.
- هغه مشرکان چې له الله تعالی پرته ئې پالونکي نيولي او له جعلي معبودانو د پالنې هيله لري؛ الله پرې څارونکی دئ او ته پرې وکيل نه يې.
- دې ته مو پام وي چې ځينو درنو مفسرينو د پنځم آيت دا فقره (تَكَادُ ٱلسَّمَـٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّ) داسې تعبير کړې چې ګواکې دا همغه مطلب دئ چې د مريم په سوره کې په دې صيغه راغلی:

وَقَالُوا ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَـٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَـٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَـٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَـٰنِ أَن يَتَّخِذَ

وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدًا ﴿٩٣﴾
(۸۸-۹۳)

او وئي ويل: رحمن خدای (ځان ته) زوی ټاکلی، يقيناً چي دا يوه ډېره بده او بېهوده وينا ده چي تاسو (په خوله) راوړه، له دې خبري نږدې ده آسمان ټوټې ټوټې شي، زمکه وچوي او غرونه وران او رانسکور شي، چي رحمن خدای ته د زوی ادعا کوي، حال دا چي له رحمن خدای سره نه ښايي چي ځان ته کوم زوی غوره کړي، د آسمانونو او زمکي هر څه د ده په وړاندي د بنده په توګه رادرومي!!

خو که لږ ځير شو نو د دې دواړو تر منځ توپير په آسانۍ سره راته جوت کېږي، لومړی توپير دا دئ چي دلته د (فوقهن) صيغه راغلې او ښيي چي د کوم برني او پاسني فشار له کبله چاودېدو ته نږدې شوی، دوهم توپير دا دئ چي دلته د مخالفينو داسي کومه وينا او عمل نه دئ ذکر شوی چي د آسمانونو محتمل چاودل د هغه له کبله وګڼو، بلکي د فرشتو له تسبيح سره مربوط ذکر شوی، معنی ئې دا ده چي دومره فرشتې د آسمان له پاسه د الله تعالی په عبادت بوختې دي چي نږدې ده د هغوی له دروندوالي آسمانونه وچوي، او په دې سره د قريشو هغو تبليغاتو ته ځواب ويل شوی چي د رسول اللهﷺ په اړه به ئې ويل: په داسي حال کي چي له قوم او ولس تجريد شوی، د ګوتو په شمېر تنکي ځوانان ئې په خوا کي راغونډ شوي، ځواکمن مرستندويان نه لري، څنګه ګمان کوي چي دی به پر خپلو ځواکمنو مخالفينو بريالی کېږي، د ده حق دين به غالب شي او د مخالفينو باطل دين به له منځه ځي؟!!

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَتُنذِرَ يَوۡمَ
ٱلۡجَمۡعِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ فَرِيقٞ فِي ٱلۡجَنَّةِ وَفَرِيقٞ فِي ٱلسَّعِيرِ ﴿٧﴾ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمۡ أُمَّةٗ
وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ
﴿٨﴾ أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۖ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡوَلِيُّ وَهُوَ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٩﴾

او همداسي مو تا ته يو عربي قرآن د دې لپاره وحي کړ چي د کليو منځنۍ او هغه چي چاپېر ئې دي وګواښې، او د راغونډېدو له هغي ورځي خبرداری ورکړې چي هيڅ شك په کي نشته، يوه ډله به په جنت کي وي او يوه ډله به په لمبه ناك اور کي، او که الله غوښتي وی نو حتماً به ئې دوی يو امت ګرځولي ول، خو هغه څوك چي دی ئې غواړي په خپل رحمت کي ننباسي او ظالمان داسي دي چي دوی ته نه کوم مل شته او نه کوم

مرستندوی، آیا له ده پرته ئې پالونکي نیولي؟! نو همدا الله پالونکی دئ او همدا دی مړي ژوندي کوي او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ.

(۷-۹)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- **رسول اللهﷺ ته ویل شوي: تا ته مو دا عربي قرآن د دې لپاره وحي کړ چې د مکې استوګن او په شاوخوا کې ئې مېشت خلك د خپل کفر او شرك له بدو پایلو ووېروې او د قیامت په ورځ د الله تعالی په وړاندې د راغونډېدو له عواقبو خبرداری ورکړې، هغه ورځ چې په حتمي راتلو کې ئې هیڅ شك نشته، هغه ورځ چې یوه ډله به په جنت کې وي او یوه ډله به په لمبه ناك اور کې.**
- **که الله تعالی غوښتي وی نو حتماً به ئې دا کافران یو متحد امت ګرځولي ول، خو دا د الله تعالی سنت نه دئ چې خلك قهراً په سمې لارې تلو ته اړ کړي، سنت ئې دا دئ چې دوی ته خپل پیغمبران لېږي، د هغوی په لاس د دوی لارښوونه کوي، خلك په دوو ډلو ووېشل شي، ځیني ئې د الله تعالی د پېرزوینې وړ شي نو الله تعالی ئې له خپل رحمت برخمن کړي او ځیني د ظلم لار غوره کړي او دا ظالمان نه یوازې د الله تعالی له پېرزوینو محروم شي بلکې په زمکې او آسمان کې نه کوم مل موندی شي او نه کوم مرستندوی.**
- **آیا دغو مشرکانو له الله تعالی پرته نور پالونکي د معبودانو او مرستندویانو په توګه نیولي؟! په داسې حال کې چې الله تعالی یوازینی پالونکی دئ او همدا دی مړي ژوندي کوي او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ. آیا عجیبه نه ده چې تاسو دا یوازینی پالونکی رب هېر کړی او داسې جعلي پالونکي مو غوره کړي چې نه مړي ژوندي کولی شي او نه د کوم کار ترسره کولو توان لري؟!!**

وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبِّي عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ١٠

او په هر هغه څه کې چې تاسو اختلاف کړی نو حکم ئې د الله لورې ته (محول) دئ، همدا زما رب دئ، پر هغه مې توکل کړی او د هغه لورې ته انابت کوم.

(۱۰)- دا مبارك آیت د توحید یو ستر او مهم اصل زموږ مخې ته ږدي او رسول اللهﷺ ته لارښوونه کوي چې خپلو مخاطبینو ته ووایي:

- **په هر هغه څه کې چې تاسو اختلاف وکړئ حکم ئې د الله تعالی لورې ته محول دئ، یعني که تاسو په هرې قضیې کې اختلاف وکړئ، که دا فکري او اعتقادي وي، که حقوقي او اجتماعي، خپل اختلاف د الله تعالی دین ته محول کړئ او د الهي دین پرېکړه وروستۍ پرېکړه وګڼئ. د دې الهي ارشاد او حکم معنی او تقاضاء دا ده چې د ژند په ټولو برخو کې هر ډول اختلاف او نزاع باید قرآن ته راجع شي او د قرآن پرېکړه نهائي او وروستۍ پرېکړه وګڼل شي، یعني د انسان په ټول ژوند کې داسې اختلاف او نزاع نشو موندلی چې په قرآن کې ئې د حل**

حکم نه وي، مسلمانان بايد قرآن وروستی ملاك او معيار وګڼي او د هري قضيي په اړه د هغه حکم او پرېکړي ته غاړه کېږدي.

- همدا زما رب دئ، همدا د اختلافاتو د حل وروستی مرجع ګڼم، پر هغه مي توکل کړی، هغه ته مي ځان سپارلی، په هر څه کي د هغه لوري ته انابت او رجوع کوم.

فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ أَزۡوَٰجٗا
يَذۡرَؤُكُمۡ فِيهِۚ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُۥ مَقَالِيدُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١٢﴾

د آسمانونو او زمکي پنځوونکی، (هغه چي) تاسي ته ئې په خپله له تاسو جوړې جوړې پيدا کړې او له څارويو ئې هم جوړې جوړې، په همدې کي تاسي خوروي، هيڅ شی هغه ته ورته نه دئ، او هغه ليدونکی اورېدونکی دئ. د آسمانونو او زمکي کلياني د ده دي، چا ته چي وغواړي روزي پراخوي او تنګوي، يقيناً چي هغه په هر څه ښه پوه دئ.

(۱۱-۱۲)- د دې مبارکو آيتونو اساسي مطالب او لارښووني دا دي:

- الله تعالی د زمکي او آسمانونو خالق او پيداکوونکی دئ. پداسي حال کي چي:

الف- د دې شيانو خالق او پيداکوونکی وو او په څنګ کي ئې بل هيڅوك او هيڅ څه نه وو.
ب- نه زمکه وه او نه آسمان او نه د زمکي او آسمان هيڅ څه.

- انسانان او حيوانات ئې جوړه جوړه پيدا کړي؛ داسي چي:

الف- دا ټول (انسانان او حيوانات) نه وو، پيدا شول.
ب - تر دوی وړاندي ئې زمکه او آسمانونه پيدا کړل.
ج- د دوی د نسل د بقا او دوام لپاره ئې جوړه جوړه پيدا کړل، لدې پرته نه د دوی زياتېدا او تکثير ممکن دئ او نه ئې د نسل دوام.

- په زمکي او آسمانونو کي هيڅ شی د الله تعالی په څېر او مثل نه دئ، هيڅ شی په هيڅ څه کي له هغه سره ورته والی نه لري، د الله تعالی د مثل مثال هم نشته، ځکه:

الف- الله تعالی خالق دئ او دا نور ټول موجودات مخلوق دي.
ب- ژوندي مخلوقات پيدا کېږي، زېږول کېږي او نور زېږوي، جوړه جوړه پيدا شوي، پداسي حال کي چي الله تعالی فرد واحد دئ، نه له چا زېږېدلی او نه ئې څه زېږولي، نه سيال لري او نه مثال.

دلته ويل شوي چي د ده مثال ته ورته څه نشته او دی ليدونکی اورېدونکی دئ. يعنی که وغواړئ چي په خپل ذهن کي د الله تعالی لپاره کوم مثال مجسم کړئ، نو پوه شئ چي پدې کائناتو او موجوداتو کي به هيڅ شی دې مثال ته ورته ونه مومئ. د يوه شي مثال په حقيقت

کې د هغه شي تخميني او تقريبي تصوير وي، چې د همغه شي د پېژندلو لپاره کارول کېږي، کله چې د يوه شي د اصل او حقيقت ادراك ممكن نه وي نو د مثال په راوړلو سره ئې تشريح او توضيح کوو، خو د الله تعالى په هکله نه د مثال راوړل ممكن دي او نه ئې مثال او مثل شته.

د آيت په پای کې ويل شوي: وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ: او دی ليدونکی اورېدونکی دئ. يعني الله تعالى هغه خبري اوري چې جاهل وګړي ئې د ده په اړه کوي او دی له خپل مخلوق سره تشبيه کوي او ټول مخلوقات د ده تر نظر لاندي دي او ګوري چې هيڅ څه ده ته ورته نه دي.

په دې آيت کې داسي نه دي ويل شوي: ليس مثله شئ: ده ته ورته څه نشته، بلکي ويل شوي: لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ : د ده مثل ته ورته څه نشته او د دې معنى دا ده چې نه يوازي د الله تعالى د ذات دکيفيت ادراك ممكن نه دئ، بلکه دا هم ممکنه نده چې د الله تعالى د ذات او ذاتي صفاتو د کيفيت په هکله تخميني او تقريبي تصور ولرو. نو لازمه ده له هر هغه تأويل او توجيه په کلکه ځان وساتو چې د مخلوقاتو سره د الله تعالى تشبيه پکي وي.

که د الله تعالى د ذات د کيفيت په هکله بحث ضروري وی او د انسان لپاره ئې ادراك امکان درلودی نو الله تعالى به په خپله په پوره صراحت او وضاحت سره بيان کړی وی، مجمل به ئې نه پرېښود او يوازي په هغو آيتونو به ئې اکتفاء نه وه کړې چې له اسمای حسنى او لوړو صفاتو بحث کوي.

د آيت شريف دوهمه برخه (وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ) دا په ګوته کوي چې که څه هم انسان ته سميع او بصير ويل کېدی شي، الله تعالى د اورېدو او ليدو صفت انسانانو ته هم ورکړی، خو بيا هم پدې موجوداتو کي داسي څه نشته چې له الله تعالى سره ورته والى او شباهت ولري. د الله تعالى ذات او صفات هيڅ مثل او مثال نه لري.

د يوه څه د پېژندلو طريقه يا دا ده چې مستقيماً د همغه شي د ذات د کيفيت په هکله معلومات لاسته راوړې او وئې پېژني او يا دا چې د مثال او سيال له لاري ئې وپېژني او يا دا چې هغه ته ورته شی د ده په هکله تا ته خاص انځور درکړي او لدې لاري ئې په نسبي توګه وپېژني. قرآنکريم د الله تعالى د ذات د ادراك او د هغه د کيفيت د پېژندلو په رابطه دا ټول امکانات رد کړي دي او په پوره صراحت ئې ويلى دي چې الله تعالى نه سيال او مثل لري او نه د چا علم د هغه تعالى د ذات پرکيفيت احاطه او احتوا کولی شي.

- **د آسمانونو او ځمکي د ټولو شيانو د خزانو کلياني د ده په واك کې دي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته څه او څومره ورکړي، د رزق او روزي د پراخوالي او تنګوالي پرېکړې د ده له لوري کېږي، چا ته چې وغواړي روزي پراخوي او تنګوي، يقيناً چې هغه په هر څه ښه پوه دئ. ښه پوهېږي چې کله خپلو بندګانو ته رزق زيات کړي او کله ئې کم کړي، هره پرېکړه ئې د پراخ او دقيق علم له مخې وي.**

شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا

تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ  وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا
مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٖ
مُّسَمّٗى لَّقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ
﴿١٤﴾

تاسو ته ئې د دين هغه طريقه ټاکلې چې نوح ته ئې د هغې سپارښتنه کړې وه او هغه چې تا ته مو وحي کړې، او هغه چې ابراهيم، موسى او عيسى ته مو د هغې سپارښتنه کړې وه، او هغه دا چې دين قائم کړئ او په هغه کې مه متفرق کېږئ، مشرکينو ته هغه څه (منل) ګران دي چې ته ئې وربلې، الله هغه څوك خپل لوري ته غوره کوي چې دی ئې غواړي او هغه څوك هدايتوي چې د ده لوري ته انابت کوي، او دلې دلې نشول مګر له هغه وروسته چې علم ورته راغی؛ په خپلو کې د تېري له کبله، او که ستا د رب له لوري يوه وينا چې وړاندې تېره شوې نه وی، تر يوې ټاکلې نېټې (د فرصت ورکولو وينا)، نو هرو مرو به د دوی تر منځ پرېکړه شوې وه، او يقيناً هغه چې تر دوی وروسته کتاب په ميراث ورکړی شو په دې اړه په حيرانوونکي شك کې دي.

(١٣-١٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- **الله تعالى تاسو ته همغه ديني تګلاره ټاکلې چې نوح صلعم ته ئې د هغې سپارښتنه کړې وه او اوس ئې رسول اللهﷺ ته د وحي له لارې ښودلې. همغه چې ابراهيم، موسى او عيسى صلی ته ئې د هغې سپارښتنه کړې وه، ټولو ته د الله تعالى سپارښتنه دا ده چې دين قائم او حاکم کړئ او په هغه کې مه متفرق کېږئ. د دې معنى دا ده چې الله تعالى ټول پيغمبران او د دوی امتونه په دوو اساسي خبرو ګمارلي: ١- د دين اقامه، ٢- او له مذهبي او ديني اختلاف ځان ساتل. دلته له يوې خوا دغه دوه خبري د هغې وحي خلاصه ښودل شوې چې د الله تعالى له لوري ټولو پيغمبرانو ته شوې، او له بلې خوا د ټولو انبياوو شريعت او تګلاره يو شانته ګڼل شوې. دلته داسې نه دي ويل شوي چې په دين عمل وکړئ، بلکې ويل شوي چې دين قائم کړئ، د دې دواړو خبرو تر منځ ژور توپيرونه شته، په دين د عمل کولو معنى دا ده چې هر څوك په خپل شخصي ژوند کې همغه څه وکړي چې دين پرې مأمور کړی خو (د دين قائمولو) معنى بېله ده او تر دې ډېر پراخ ابعاد لري، معنى ئې دا ده چې دين حاکم کړئ، په دين ولاړه ټولنه جوړه کړئ، داسې ټولنه چې هلته دين حکومت کوي، دا د ټولو پيغمبرانو صلی اساسي او لومړنۍ دنده وه، له نوح صلعم تر محمد صلعم پورې ټول پيغمبران په همدې ګمارل شوي وو، له دوی سره د مستکبرينو د مخالفت اساسي وجه هم دغه وه، که دوی خلکو ته**

يوازې دا ويلى چې ځان اصلاح کړئ او د ټولنې په ښه او بد کار مه لرئ، دا هڅه مه کوئ چې ستاسو پر ټولنې دين په بشپړه توګه حاکم شي نو هيڅکله به د حاکمو ځواکونو له جدي او شديد مخالفت سره نه مخامخ کېدل. همداراز د دوى د دوهم مأموريت معنى دا ده چې دا يو اجتماعي مأموريت دئ، وحدت او يوالى ايجابوي، دين د تفرق مخالف دئ، د دين خاوندان په دې مکلف کوي چې په يوه صف کې به راغونډيږي او له بېل بېل اوسېدو به ډډه کوي. همدا په دين کې له اختلاف او تفرق ډډه کول د ټولو پيغمبرانو او د دوى د امتونو دوهم اساسي مأموريت دئ، حقيقت دا دئ چې الهي دين يو دئ، د ټولو پيغمبرانو شريعت او تګلاره يوه ده، دا تګلاره دوه رنګې نه قبلوي، محمد صلعم او د ده امت په همغه څه ګمارل شوي چې مخکنې پيغمبران او د دوى امتونه پرې ګمارل شوي وو، هيڅ تفرق ته شرعي مبنا او توجيه نه شو موندلى، قرآن وايي چې ديني او مذهبي تفرق او اختلاف عمداً رامنځته شوى او هغو رامنځته کړى چې دوه ځانګړتياوې ئې وې: غولوونکى علم ئې درلود او همدا علم ئې د نورو پر حقوقو د تېرې لپاره کارولى.

• مشرکينو ته د هغه څه منل ګران دي چې ته ئې وربلې، چې هغه دين په بشپړه توګه قائمول او له تفرق ډډه کول دي. د هغوى هره ډله ځانته ځانته معبود لري، بېل بېل مذهب لري، د يوه رب او يوه دين او يوې تګلارې منل ورته ګران دي، له تا سره ئې د مخالفت ستره وجه همدا ده.

• الله هغه څوک خپل لورې ته غوره کوي او د ده په لارې او د ده لورې ته تلو توفيق ورکوي چې دى ئې غواړي او هغه څوک هدايتوي چې د ده لورې ته انابت کوي، او د دې معنى دا ده چې الهي لاربښوونه د هغه چا په برخه کيږي چې د الله تعالى په لارې د تلو وړتيا او هوډ لري.

• د څوارلسم آيت دا فقره (وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ) په ډېر صراحت او وضاحت سره ښيي چې د تفرق پيل د غرضي علماوو له لورې شوى، وايي: ١- ډلې ډلې نشول مګر له هغه وروسته چې علم ورته راغى؛ ٢- په خپلو کې د تېرې له کبله.

• که ستا د رب دا ثابت او پخوانى سنت نه وى چې هر چا ته تر يوې ټاکلې نېټې مهلت ورکوي نو هرو مرو به د هغو په اړه ډېر پخوا الهي پرېکړه شوې وه چې د پيغمبرانو د بلنې مخالفت کوي.

• هغه چې تر دوى وروسته کتاب په ميراث ورکړى شو په دې اړه په حيرانوونکي شك کې دي. يعنې د اهل کتابو دا بېلې بېلې ډلې له دې کبله نه دي رامنځته شوې چې ګواکې د الله تعالى له لورې دوى او د دوى پيغمبرانو ته بېل بېل کتابونه ورکړى شوي وو او د اختلاف سبب ئې بېلې بېلې الهي لاربښوونې دي!! حقيقت دا دئ چې دوى ته کتاب په ميراث رسېدلى، داسې لکه يو ميراثي توکى، پرته له دې چې د کتاب په معنى او حقيقت پوه وي او د الهي کتاب د حملولو وړتيا ولري، نه يوازې د الهي کتاب علم او پوهه نه ده ورپه برخه شوې بلکې په ډېر حيرانوونکي شك کې دي.

فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ وَقُلۡ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡۖ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡۖ لَا حُجَّةَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٥﴾

نو د همدې لپاره وبله، او همغسې استقامت کوه چې ګمارل شوی یې، او د دوی د هوسونو متابعت مه کوه، او ووایه: په هر هغه کتاب مې ایمان راوړی چې الله نازل کړی، او پر دې ګمارل شوی یم چې ستاسو تر منځ عدالت وکړم، الله هم زموږ رب دئ او هم ستاسو، موږ ته خپل عملونه دي او تاسو ته خپل عملونه، زموږ او ستاسو تر منځ کومه شخړه نشته، الله به موږ او تاسې په خپلو کې راغونډ کړي او ورتګ د ده لوري ته دئ.

(١٥)- په دې مبارك آیت کې څو مهمې مهمې لاربښوونې زموږ په وړاندې ځلیږي:

- **د آیت په لومړۍ فقرې کې رسول الله ﷺ ته سپارښتنه شوې چې د همدې لپاره بلنې ته دوام ورکړه، د دې فقرې په اړه دوه د اعتناء وړ تعبیرونه شوي: ١- د همدې توحید لوري ته بلنه ورکړه، ٢- له دې کبله بلنه ورکړه چې مخکنیو په الهي کتاب کې شك وکړ او په اختلاف اخته شول، دوهم تعبیر دقیق دئ او له مخکني آیت او له ټول مضمون سره اړخ لګوي، ځکه تر دې وړاندې ویل شوي چې مخکنیو اهل کتابو د تفرق او اختلاف لار غوره کړه، اختلاف ئې عمدي او د نورو په حقوقو د تیري په موخه وو، نو اوس چې هغوی د الله دین ته شا کړې؛ ته دا دنده په غاړه واخله چې خلك حق دین ته وبلې.**
- **بیا په صبر او استقامت ګمارل شوی او ورته ویل شوي چې ستا استقامت باید همغسې وي لکه چې الله تعالی پرې ګمارلی یې.**
- **بیا لاربښوونه ورته شوې چې د دوی د هوسونو متابعت مه کوه.**
- **وروسته په دې ګمارل شوی چې خلکو ته دا خبري وکړي: ١- په هر هغه کتاب مې ایمان راوړی چې الله تعالی نازل کړی. ٢- پر دې ګمارل شوی یم چې ستاسو تر منځ عدالت وکړم، ٣- الله هم زموږ رب دئ او هم ستاسو، ٤- موږ ته خپل عملونه دي او تاسو ته خپل عملونه، ٥- زموږ او ستاسو تر منځ کومه شخړه نشته، ٦- الله به موږ او تاسې په خپلو کې راغونډ کړي. ٧- ورتګ د الله تعالی لوري ته دئ.**

دلته څو خبري باید په پام کې ولرو: متأسفانه ځیني دا فقرې (موږ ته خپل عملونه دي او تاسو ته خپل عملونه، زموږ او ستاسو تر منځ کومه شخړه نشته) داسې تعبیروي چې ګواکې دا یو ډول مصالحې او روغې جوړې ته بلنه ده، داسې چې یو به د بل په کړو وړو کار نه لري، هر څوك به خپلې مخې ته آزاد پرېښودل کیږي!! ځیني تر دې هم وړاندې ځي او له دغو او دې ته ورته فقرو داسې تعبیرونه کوي چې ثابته کړي دین یو انفرادي عمل او یوه شخصي دنده ده،

هر څوك پوهېږي او خپل دين او مذهب ئې، بل حق نه لري د ده مزاحم شي !! ځيني بيا گمان كوي چي زموږ مأموريت په دې كي خلاصه شوى چي خلكو ته بلنه وركړو او حق دين ورته بيان كړو؛ همدا او نه تر دې زيات!! دا تعبيرونه په بشپړه توگه ناسم او غلط دي او د قرآن له څرگندو اصولو سره تصادم كوي، دوى دې ته پام نه كوي چي په همدې آيت كي او تر دغو فقرو وړاندي ويل شوي: پر دې گمارل شوى يم چي ستاسو تر منځ عدالت تأمين كړم، يعني د مظلوم ملگرتيا كوم، هڅه كوم چي هغه ته د ده غصب شوى حق وسپارل شي او عدالت تأمين شي، او په مخكني آيت كي ويل شوي: **أَنْ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِ**: دا چي دين قائم كړئ او په هغه كي مه متفرق كېږئ، قرآن خو د دين قائمول او د خلكو تر منځ عدالت تأمينول د ټولو پيغمبرانو دنده گڼي، قرآن خو مؤمنان په امر بالمعروف او نهي عن المنكر، د الله په لار كي جهاد او د مستضعفينو د نجات لپاره پر جهاد گمارلي، او دا د هر مؤمن په فرائضو او وجائبو كي شمېري!! دوى دې ته هم متوجه نه دي چي تبليغ او دعوت بېله معنى لري او امر بالمعروف او نهي عن المنكر بېله معنى، دا گمارل او منع كول افاده كوي او هغه يوازي بلنه او وينا، موږ د الله تعالى له لوري يوازي په دعوت او تبليغ نه يو گمارل شوي بلكي په ژبه، لاس او توري جهاد باندي هم مكلف شوي يو. دا د جهاد او امر بالمعروف او نهي عن المنكر تاركين د كوم دليل او حجت له مخي دا كار نه كوي، بلكي يا د ضعف ايمان، حب دنيا، وېري او جبن له كبله دا كار كوي او يا د دښمن له لوري گمارل شوي، عمداً دين تحريفوي او د جهاد له ثابتي او څرگندي فريضې د خلكو پام بل لوري ته اړوي.

وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ٱسۡتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٌ وَلَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ وَٱلۡمِيزَانَۗ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ قَرِيبٞ ﴿١٧﴾ يَسۡتَعۡجِلُ بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهَاۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مُشۡفِقُونَ مِنۡهَا وَيَعۡلَمُونَ أَنَّهَا ٱلۡحَقُّۗ أَلَآ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُمَارُونَ فِي ٱلسَّاعَةِ لَفِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾

او هغه چي د الله په اړه له دې وروسته شخړه كوي چي لبيك ورته ويل شوى؛ حجت ئې د دوى د رب په وړاندي باطل دئ او پر دوى د الله غضب دئ او دوى ته شديد عذاب دئ. الله هغه ذات دئ چي پر حق مبني كتاب او ميزان ئې نازل كړى، او څه خبر كړى يې؟ بنايي د قيامت نېټه به نږدې وي، هغه ئې په تلوار سره غواړي چي ايمان پرې نه لري، او هغه چي ايمان لري ترې وېرېدونكي دي او پوهېږي چي هغه رښتينى ده، پام

چي هغه خلك په ژوري تېروتني كي دي چي د قيامت په اړه جدل كوي.

(١٦-١٨)- د دې مباركو آيتونو مهم مطالب دا دي:

- له هغه وروسته چي ځينو خلكو پر الله تعالى او د ده پر كتاب ايمان راوړى او الهي احكامو ته ئې عملاً غاړه ايښې، د هغو مخالفت بې بنسټه او بې دليله دئ چي د الله تعالى په اړه جدل كوي، د دوى هر حجت په الهي معيارونو كي باطل دئ، دوى د الله تعالى په غضب اخته او د شديد عذاب وړ دي. دا ځكه چي د ځينو ايمان راوړل او د الهي دين په وړاندي د دوى انقياد ښيي چي دومره كافي او اړين دلائل او لارښووني ئې ترلاسه كړې چي حقيقت ورته جوت شي او د ايمان لار غوره كړي، كه له دې وروسته څوك دا ادعاء وكړي چي د الله تعالى او د هغه د لارښود كتاب په اړه ئې قانع كوونكي دلائل نه دي ترلاسه كړي؛ دروغ وايي او ادعاء ئې بې اعتباره او باطله ده.
- دا له حقائقو ډك كتاب چي هره وينا ئې رښتيني ده او د حق او باطل، ښه او بد، مفيد او مضر، عدل او ظلم په اړه واضح او څرګند معيارونه زموږ په وړاندي ږدي، ښيي چي د الله تعالى له لوري نازل شوى.
- تاسو د قيامت په اړه د قرآن وينا نه منئ، خو آيا د دې مخالفت لپاره كوم دليل هم لرئ؟! چا او كوم څه درته ويلي او په دې ئې قانع كړى يې چي قيامت نشته؟! ښايي د قيامت نېټه به نږدې وي!! آيا د دې وينا د ترديد لپاره كوم دليل لرې؟!
- هغه څوك قيامت په تلوار سره غواړي چي ايمان پرې نه لري.
- خو هغه چي ايمان لري ترې وېرېږي او پوهېږي چي هغه ورځ رښتيني او حتماً راتلونكي ده.
- بايد متوجه وئ چي هغه خلك په ژوري تېروتني كي دي چي د قيامت په اړه جدل كوي.

ٱللَّهُ لَطِيفُۢ بِعِبَادِهِۦ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ﴿١٩﴾ مَن كَانَ يُرِيدُ
حَرۡثَ ٱلۡأٓخِرَةِ نَزِدۡ لَهُۥ فِي حَرۡثِهِۦۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَا
لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴿٢٠﴾

الله پر خپلو بندګانو د نرمښت خاوند دئ، چا ته چي وغواړي روزي وركوي، او هغه عزتمن ځواكمن دئ، څوك چي د آخرت كر غواړي په كښت كي به ئې ورزيات كړو او څوك چي د دنيا كښت غواړي څه به ترې وركړو په داسي حال كي چي په آخرت كي به ئې هيڅ برخه نه وي.

(١٩-٢٠)- دا مبارك آيتونه وايي:

- الله تعالى پر خپلو ټولو بندګانو (مؤمن او كافر) د لطف او نرمښت خاوند دئ، چا ته چي وغواړي روزي وركوي، دا په داسي حال كي چي هغه عزتمن ځواكمن دئ، عاصي او باغي

بنده ته که هر څومره ستر او مغرور وي سزا ورکولی شي ځکه هغه تر هر ځواکمن زيات ځواکمن دئ، تر هر غالب او عزتمن زيات عزتمن دئ، له بندګانو سره د هغه معامله د لطف او نرمښت معامله ده سره له دې چې هغه عزتمن ځواکمن دئ.

- څوك چې د آخرت کر غواړي، يعني دا خوښوي چې د خپلو عملونو حاصل او ثمره په آخرت کې ترلاسه کړي، هغه دي دا ډاډه وي چې په دې کښت کې به ئې ورزيات کړو او څوك چې د دنيا کښت غواړي، يعني د خپلو هڅو بدله يوازې په دنيا کې لټوي او د آخرت پروا نه لري، الله تعالی به ده ته څه ترې ورکړي؛ په داسې حال کې چې په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي. يعني مؤمن به هم د خپلو عملونو دنيايي بدله ترلاسه کوي او هم ډېره زياته اخروي بدله او کافر به يوازې د خپلو هڅو ځيني نتائج په دنيا کې ترلاسه کوي او په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي.

أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ ٱلْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾ تَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي رَوْضَاتِ ٱلْجَنَّاتِۖ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿٢٢﴾

آيا داسې شريکان ئې دي چې د دين هغه طريقه ئې ورته ټاکلې چې الله ئې إذن او اجازه نه ده ورکړې، او که د پرېکړې هغه وينا نه وی نو حتماً به د دوی تر منځ (وروستۍ) پرېکړه شوې وه او يقيناً چې دغو ظالمانو ته دردناك عذاب دئ، دا ظالمان به ګورې چې له هغه څه وېرېدونکي دي چې ترلاسه کړي ئې دي په داسې حال کې چې هغه پر دوی پرېوتونکی دئ، او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د جنتونو په بڼګوټو (باغچو) کې به وي، دوی ته به د خپل رب په خوا کې هر هغه څه وي چې غواړي ئې، همدا ستر فضل دئ.

(۲۱-۲۲)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- آيا دغو مشرکانو الله تعالی ته داسې شريکان جوړ کړي چې دوی ته ئې ديني طريقې ټاکلې دي، داسې ديني طريقې چې الله تعالی ئې إذن او اجازه نه ده ورکړې؟ دا دومره ستره ګناه او جرم دئ چې فوري مؤاخذه او سزا ئې ايجابوله، داسې ظالمان د دې وړ دي چې الله تعالی فوراً د دوی په اړه د سخت مجازات پرېکړه وکړي او سزا ورکړي، خو د الله تعالی سنت داسې دئ چې ژر پرېکړه نه کوي او مجرم ته که هر څومره ستر وي تر يوې نېټې مهلت ورکوي او د ده د سزا پرېکړه تر خاصې نېټې ځنډوي، که د پرېکړې په اړه دا الهي سنت نه وی نو حتماً به د دوی په اړه وروستۍ پرېکړه شوې وه او يقيناً چې دغو ظالمانو ته دردناك

عذاب دئ.

- **د قيامت په ورځ به دا ظالمان ګورې چي د خپل شرك او كفر له سزا وېرېږي؛ په داسي حال كي چي حتماً به پرې اخته كېږي.**
- **هغه چي ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې كړي د جنتونو په بڼګوټو او باغچو كي به وي، دوى ته به د خپل رب په خوا كي هر هغه څه وي چي غواړي ئې، همدا ستر فضل دئ.**

لكه چي ګورئ په دې مباركو آيتونو كي د شرك يو بل ډول انځور شوى، په دې كي مشركان الله تعالى ته داسي شريكان ټاكي چي ديني او مذهبي طريقې ورته جوړوي، په داسي حال كي چي الله تعالى هيڅا ته دا اجازه نه ده وركړې چي خلكو ته د خپلي خوښي دين او مذهب جوړ كړي، دا شرك له هغو سره توپير لري چي مشركان په (عبادت) او (استعانت) كي الله تعالى ته شريكان ټاكي، د الله تعالى تر څنګ نور معبودان لمانځي او له هغوى مرسته غواړي، دا هغه شرك دئ چي د ژوند په تګلاري او كړنكلاري او په شريعت او قانون پوري تړلى دئ، د قرآن له نظره دا د توحيد ستره تقاضاء ده چي الله تعالى به د يوازيني شارع په توګه منو، له الله تعالى پرته به هيڅا ته دا حق نه وركوو چي انسان ته شريعت او قانون وضع كړي، حلال او حرام ورته وټاكي، څوك چي له الله تعالى پرته بل چا ته د شارع په سترګه ګوري او هغه ته د شريعت او قانون وضع كولو حق وركوي او د بنده په لاس جوړ شوي قانون په وړاندي سر ټيټوي؛ هغه مشرك دئ، او داسي مشرك د سختي سزا وړ. دې ته مو پام وي چي قرآن هغه نظام او قانون د دين په نامه يادوي چي پر ټولني حاكم وي او د خلكو منازعات د هغه له مخي حل و فصل كېږي. قرآن د مصر فرعوني نظام د (دين الملك) په نامه يادوي، قرآن هغه واكمن او حاكم د (طاغوت) په نامه يادوي چي د خلكو منازعات له الهي دين پرته د بل قانون له مخي حل و فصل كوي، هغه څوك سخت تېروتى او د شيطان په لومي كي پرېوتى بولي چي دغه طاغوت ته خپل منازعات وړاندي كوي.

ذَٰلِكَ ٱلَّذِى يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا ٱلْمَوَدَّةَ فِى ٱلْقُرْبَىٰ ۗ وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُۥ فِيهَا حُسْنًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾

دا همغه څه دي چي الله ئې خپلو هغو بندګانو ته زېرى وركوي چي ايمان ئې راوړى او صالح عملونه ئې كړي، ووايه: له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم مګر په خپلوى كي دوستي، او څوك چي كومه ښېګڼه وكړي هغه ته ښېګڼه په كي زياتوو، يقيناً چي الله شاكر بخښونكى دئ.

(٢٣)- د دې مبارك آيت په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره دا خبري په پام كي ولرئ:

- **د مخكني آيت په ارتباط ويل شوي: دا همغه څه دي چي الله ئې خپلو مؤمنو او صالح**

بندګانو ته زيرى وركوي.

• رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چې خپلو مخالفينو ته ووايي: له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم مګر په خپلوۍ كي دوستي. اجر مي دا دئ چې خپلوان مي هدايت شي او په دې سره له خپلوانو سره زما د محبت او دوستۍ احساس اشباع او خړوب شي.

• څوك چې كومه ښېګڼه وكړي نو الله تعالى د هغه په ښېګڼي كي حسن او ښايست زياتوي، ښېګڼو ته ئې ځلا او ښايست وركوي، دا ځكه چې الله تعالى (شاكر) او (بخښونكى) دئ، د خپل بنده د عمل قدرونه كوي او له اشتباهاتو ئې تېرېږي او بخښنه ورته كوي.

• دا مبارك آيت د ځينو له لوري په داسي غلطي بڼي كي تعبير شوى چې قبيح تحريف ته ورته دئ، شيعه او ځيني جاهل متصوفين دا آيت داسي تعبيروي چې ګواكي رسول اللهﷺ په دې ګمارل شوى چې مؤمنانو ته ووايي: له تاسو يوازې يو اجر غواړم او هغه دا چې زما له اهل بيت سره مينه ولرئ!! په اهل بيت كي هم يوازې علي، فاطمه، حسن او حسين نيسي او نور ټول ترې حذفوي، نه د رسول اللهﷺ نوري لوڼي په كي شاملوي او نه ترونه او د ترونو نور زامن!! دوى له يوې خوا (القربى) د خپلوانو په معنى تعبيروي؛ حال دا چې د (القربى) اصلي معنى خپلوي ده؛ نه خپلوان، د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كي دا لفظ راغلى او په ټولو كي د خپلوۍ په معنى راغلى، له بلي خوا د پيغمبر **صلعم** خپلوان هم يوازې په فاطمه، علي، حسن او حسين **وسلم** كي راخلاصه كوي، له بلي خوا آيت داسي تعبيروي چې ګواكي پيغمبر **صلعم** ته ويل شوي چې مؤمنانو ته ووايه چې له تاسو د هغو زحمتونو اجر نه غواړم چې ستاسو د هدايت په لار كي مي ايستلي، تاسو ته مي عزت درپه برخه كړ او .... يوازې يو اجر درځني غواړم او هغه دا چې زما له خپلوانو (فاطمه، علي، حسن او حسين **وسلم**) سره محبت وكړئ!! په دې اړه څو خبرو ته ځير شئ:

• دا سوره په مكه كي نازله شوې، هغه مهال چې لا علي او فاطمې **رسول** ازدواج نه وو كړى، حسن او حسين **رسول** لا نه وو پيدا شوي، لا مسلمانان تر سختو ابتلاءاتو لاندي ول، د پيغمبر **صلعم** په ملګرتيا كي ئې له توهين، تهديد، زندان، تعذيب، هجرت او شهادت پرته هيڅ دنيوي امتياز او راحت نه وو په برخه شوى، هغه څه چې دوى ئې ادعاء كوي يو ئې هم نه وو ترلاسه كړى، نو په داسي حالت كي به پيغمبر **صلعم** څنګه دوى ته ويل چې د دغو لاسته راوړنو په سبب به زما د اهل بيت درناوى او احترام كوئ؟!! كوم عاقل او په قرآن پوه انسان د داسي غلط تعبير جسارت كولى شي؟!!

• څنګه به پيغمبر **صلعم** له خپلو سختو دښمنانو او هغو قريشو چې ډېر ئې د ده په اقرباوو كي راتلل؛ دا غوښتنه كوي چې له تاسو يو اجر غواړم او هغه هم تر ټولو ستر او دښمنانو ته د نه منلو وړ؛ او هغه دا چې له فاطمې او علي **رسول** او زما له هغو دوو لمسيانو سره به محبت كوئ چې لا تر اوسه نه دي پيدا شوي؟!! كه له دوى سره دا لفظي تحريف ومنو او القربى د اولواالقربى په معنى ونيسو نو مخاطبينو خو به له (اولوا القربى) يا ټول بني هاشم مرادول، يا يوازې بني عبدالمطلب چې په دوى كي تر ټولو سخت دښمن ابولهب هم راتلو، هيڅ

مخاطب به دا غلطه معنى نه وه ترې اخيستې چې محمد صلعم له دوى د فاطمې او علي رسول د مودت غوښتنه کړې؛ له دې آيت داسي تعبير يوازي يو متعنت او متعصب انسان درلودى شي.

• **ولي په اقرباوو کي يوازي څلور کسان؟!! کوم عقل، عدل او عرف دا خبره مني چې د اقرباوو عامه صيغه په څلورو داسي کسانو اطلاق شي چې دوى ته ورته نور اقربا هم شته؟!! ښايي دوى به په کوم داسي روايت باندي استناد کوي چې همدا د قرآن، عقل او عرف خلاف خبره کوي او يوازي څلور کسان د پيغمبر صلعم اهل بيت، عترت او اقربا ګڼي!! خو که څوك ورته ووايي چې دا روايت کوم غالي شيعه جوړ کړى او صحابه وو ته ئې منسوب کړى؛ او که ورته ووايي: روايت خو په هغه صورت کي د منلو دئ چې منشأ ئې قرآن وي يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري او د عقل خلاف نه وي، ځواب به ئې څه وي؟ که ورته ووايي: د قرآن صريح آيت ومنم که د عقل خلاف روايت؟ څه ځواب به ورکوي؟ که داسي نه وي او د روايت په نامه هر رطب و يابس (لانده او وچ) باندي استناد وکړو نو بيا خو به زموږ حالت همغسي شي لکه د شيعه وو، چې د دوى د رواياتو تر ټولو معتبر کتاب (اصول کافي) په اړه د شيعه وو مشهور عالم علامه برقعي وايي: د دې کتاب اکثر روايات جعلي، له قرآن سره متصادم او د عقل خلاف دي او روات ئې مجهول الهويه، کاذب او فاسق دي، برقعي د اصول کافي د ترديد په اړه يو ضخيم کتاب ليکلى چې په هغه کي ئې ليکلي: که دښمنان خبر شول چې زموږ د رواياتو په کتابونو کي داسي روايات هم راغلي چې راويان ئې خر او چنګښه دي؛ څه به کوو؟!**

دوى په دې آيت کي غور نه دئ کړى، د نورو آيتونو په رڼا کي ئې د هغه په حقيقي او اصلي مطلب د پوهېدو هڅه نه ده کړې، دي ته متوجه نه دي چې دا آيت په داسي ځاى کي او د داسي مضمون په ضمن کي راغلى چې خطاب مخالفينو ته متوجه دئ، همغه مخالفين چې د پيغمبر صلعم په ضد ئې له هيڅ ظلم، تېري او جفا ډډه نه کوله، همغه مخالفين چې قرآن په مکرره توګه پيغمبر صلعم ته ويلي چې دوى ته ووايه: له تاسو هيڅ اجر نه غواړم، څنګه ممکنه ده چې په دې آيت کي به د ګڼ شمېر نورو آيتونو خلاف خبره شوې وي او له قريشو به ئې داسي ستر اجر او بدله غوښتې وي چې هيڅ اجر ورسره برابري نشي کولى؟!! آيا ممکنه ده يو څوك خپل دښمن ته ووايي: له تا هيڅ اجر او بدله نه غواړم يوازي دا درنه غواړم چې زما له زوم، لور او دوو لمسيانو سره به مينه کوې؟!! آيا د پيغمبر صلعم په څېر ستر شخصيت به داسي مطالبه له خپلو دښمنانو کړې وي؟!! په آيت کي له استثناء ځني مراد دا نه دئ چې يوازي يو اجر ترې وغواړه؛ بلکي مراد ئې داسي دئ لکه د الفرقان د سورې په ٥٧ آيت کي چې راغلى:

قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿٥٧﴾

الفرقان: ٥٧

ورته ووايه: له تاسو هيڅ اجر پرې نه غواړم؛ مګر دا چې څوك وغواړي د خپل رب لوري ته

(د تلو لپاره) لار غوره کړي.
يعني زما اجر به يوازې دا وي چې په تاسو کې څوك ايمان راوړي او د الله تعالى لوري ته د تللو پرېکړه وکړي.

د قرآن د مخکني آيت معنى سل په سلو کې دې ته ورته ده او هغه دا چې زما اجر يوازې دا دئ چې له اقرباوو سره زړه سوى او دوستي څرګندوم او د دوى د هدايت هڅه کوم، که زما د هڅو په نتيجه کې له تاسو څني څوك ايمان راوړي نو معنى ئې دا ده چې زما له خپلوانو څخه ځينو ايمان راوړى، همدا به زما اجر وي، که زه په بل قوم کې مبعوث شوى وى او يوازې هغوى ته مې بلنه ورکولى، نو دا بدله او معاوضه به مې هم نه په برخه کېده، خپلوان به مې هم له هدايته محروم پاته کېدل. که څه هم ځينو محققينو ويلي چې د آيت مراد دا دئ: له تاسو يوازې دا بدله غواړم چې له ما سره خپلوى ته پام وکړئ او د پرديو دښمنانو په څېر راسره چلن مه کوئ، خو د دې لپاره چې دا هم يو ډول اجر او بدله ګڼل کېږي او د قرآن نور آيتونه په پرېکنده الفاظو سره وايي چې هيڅ اجر ترې مه غواړه، نو ځکه وايو چې غوره تعبير همغه برنى تعبير دئ.

د آيت دا فقره هم لږ غور غواړي چې وايي: **وَمَن يَقۡتَرِفۡ حَسَنَةٗ نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾** او څوك چې کومه ښېګڼه وکړي هغه ته ښېګڼه په کې زياتوو، يقيناً چې الله شاکر بخښونکى دئ. دلته ويل شوي چې په ښېګڼي کې ئې (حسن) زياتوو، د دې معنى دا ده چې د ده معمولي ښېګڼي ته لازياته ښکلا او ځلا ورکوو، که د ده په نېك کار کې کوم کمى وي هغه له پامه غورځوو او دا کمى ورته بښپړوو، که عمل ئې د لږ ثواب وړ وي داسې ئې ګرځوو چې د زيات ثواب وړ شي.

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗاۖ فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخۡتِمۡ عَلَىٰ قَلۡبِكَۗ وَيَمۡحُ ٱللَّهُ ٱلۡبَٰطِلَ وَيُحِقُّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٢٤﴾

آيا وايي چې پر الله ئې دروغجنه افتراء کړې، نو که الله غوښتى ستا پر زړه به ئې مهر لګولى وو، الله باطل محو کوي او حق محقق کوي په خپلو ويناوو سره، يقيناً چې هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ.

(٢٤)- دا مبارك آيت وايي: آيا ستا مخالفين دا ادعاء کوي چې تا پر الله تعالى له ځانه دروغجنه افتراء کړې، ته په دروغو ځان د الله تعالى رسول ګڼې او په دروغو وايي چې قرآن د الله تعالى له لوري درکړى شوى؟! آيا دا خلك دومره بې انصافه دي او په خپل تعصب، عناد او دښمنۍ کې هغه پړاو ته رسېدلي چې ستا په څېر ستر او سپېڅلى شخصيت په دې تورنوي چې پر الله تعالى ئې افتراء کړې؟!! آيا دوى تا پر خپل ځان قياسوي، ګمان کوي چې ته به هم د دوى په څېر وې چې رښتيا او دروغ ورته يو شانته دي؟ دا ستره ګناه خو داسې څوك کوي

چي پر زړه ئې مهر لګول شوی وي، کړني ئې د يوه تور زړي انسان په څېر وي، څنګه د رسول اللهﷺ په څېر پاك سيرت، صادق او امين شخصيت په داسي ګناه تورنوئ؟!! که الله تعالى غوښتى ستا پر زړه به ئې مهر لګولى وو، ته به هم د دوى په څېر شوى وې.

• د آيت په پای کي ويل شوي: الله باطل محو کوي او حق محقق کوي په خپلو وينااوو سره، يقيناً چي هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ. په دې اړه دوه د اعتناء وړ تعبيرونه مومو: ١- الله تعالى به د دوى تورونه، غلط تبليغات او باطل اظهارات شنډ کړي، حقيقت به ټولو ته جوت کړي، د باطل پلويان به له ماتي سره مخامخ کړي او حقپال به غالب کړي، الله تعالى پوهېږي دوى په خپلو سينو کي څه لري، کوم عزائم ئې د حق دښمنۍ او ستا په خلاف داسي تورونو ته هڅوي. ٢- د الله تعالى له لوري چي تا ته کومي لارښوونې شوې دي او کوم کتاب درکړى شوى دا خو د الله تعالى هغه کلام دئ چي باطل پرې محو کوي او حق پرې محقق کوي، دوى خو له تا دغه کلام اوري، د داسي الهي کلام له اورېدو سره سره څنګه تا ته داسي نسبتونه کوي؟!! د دې الهي کلام په کومي برخي کي د دې شائبه مومي چي دا به د کوم انسان له لوري افتراء شوی کلام وي؟!! د دوى د تبليغاتو وجه دا نه ده چي داسي کومه شائبه ئې تر سترګو شوې؛ وجه ئې د دوى هغه شوم عزائم دي چي په خپلو سينو کي ئې پټ ساتلي او الله تعالى پرې پوهېږي. دوهم تعبير د آيت له سياق و سباق سره زيات مناسبت لري.

وَهُوَ ٱلَّذِى يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ وَيَعْفُوا۟ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ
﴿٢٥﴾ وَيَسْتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِۦ ۚ
وَٱلْكَـٰفِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿٢٦﴾

او دى همغه (ذات) دئ چي د خپلو بندګانو توبه قبلوي او له ګناهونو تېرېږي او په هغه څه پوهېږي چي تاسو ئې کوئ، او د هغو اجابت کوي چي ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې کړي او له خپلو پېرزوينو لازياتي ورپه برخه کوي، او کافران داسي دي چي دوى ته شديد عذاب دئ.

(٢٥-٢٦)- دلته له مؤمنانو او کافرانو سره د الله تعالى معامله په دې توګه بيان شوې:

• الله تعالى د خپلو بندګانو توبه قبلوي.
• د دوى له ګناهونو تېرېږي او عفو ورته کوي.
• له هر يوه سره هغه معامله کوي چي ورسره وړ وي؛ ځکه په هغه څه پوهېږي چي دوى ئې کوئ.
• د هغو دعاګاني او عبادتونه قبلوي چي ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې کړي، دوى ته له خپلو پېرزوينو لازياتي ورپه برخه کوي.
• او کافران خو داسي دي چي شديد عذاب ئې ورته ټاکلى.

وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٖ مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ
بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ ﴿٢٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ
رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿٢٨﴾ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا
بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٖۚ وَهُوَ عَلَىٰ جَمۡعِهِمۡ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٞ ﴿٢٩﴾

او که الله خپلو بندګانو ته رزق پراخ کړی وی حتماً به ئې په زمکي کي بغاوت کړی وو؛ خو په همغه اندازه ئې نازلوي چي دی ئې غواړي، يقيناً چي هغه د خپلو بندګانو په اړه ښه ليدونکی باخبره دئ، او دی همغه ذات دئ چي باران له هغه وروسته نازلوي چي مأيوس شوي وي او خپل رحمت خوروي او دی ستايل شوی مولا دئ، او له آيتونو ئې د آسمانونو او زمکي پيدايښت او هغه خوځېدونکي دي چي په دوی دواړو کي ئې خواره کړي او دی کله چي وغواړي په راغونډولو ئې ښه توانمن دئ.

(۲۷-۲۹)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- که الله تعالی خپلو بندګانو ته رزق او روزي له هغه ټاکلي مقدار زيات کړی وی چي د ~~خپل حکمت له مخي ئې ورته ټاکلی نو حتماً به ئې په زمکي کي بغاوت کړی وو؛ خو په همغه~~ اندازه ئې نازلوي چي دی ئې غواړي او الهي حکمت ئې ايجابوي. يقيناً چي الله تعالی د خپلو بندګانو په اړه بشپړ علم لري، حالت ئې ګوري او له طبيعت او فطرت ئې خبر دئ.
- الله تعالی همغه ذات دئ چي باران له هغه وروسته وروي چي خلك مأيوس او ناهيلي شوي وي او په دې توګه د خپل پراخ رحمت وزر پرې غوړوي، دا ځکه چي هغه ستايل شوی مولا دئ، همغه مولا چي باران نازلوي او دا هم هغه مهال چي خلك مأيوس شوي وي، داسي څه نه مومي چي د باران د ورولو هيله ترې وکړي، په ټول عالم کي له الله تعالی پرته داسي کوم شی نه ګوري چي خپل اميد ورپوري وتړي، هغه ته انتظار ولري او پر هغه اعتماد او تکيه وکړي، داسي ځوك نه ګوري چي د ده احتياج ته ځواب ووايي، مشکل ئې رفع کړي، مأيوس او نااميده دئ، خو ناڅاپه د همدې مأيوس او نااميده انسان غوښتنه منل کېږي، دعاء ئې اورېدل کېږي او هيله ئې ترسره کېږي، دا ځوك کوي؟ انسان خو په ټول عالم کي داسي څه نه ګوري چي په دې اړه له هغه څه طمع ولري، په هغه پورې خپل اميد وتړي او له هغه د مرستي انتظار ولري، مأيوس دئ، په عالم کي داسي څه نه ګوري چي د ده احتياج او اړتيا تر سره کړي، ناڅاپه ئې دا يأس او نا اميدي ختمېږي، اړتيا او احتياج ته ئې ځواب ويل کېږي، دا کار ځوك کوي؟ دا ځوك دئ چي انسان ته له هغه وروسته چي مأيوس شوی، له قحطي او وچکالي سره مخامخ دئ، سختي تودوخي وارخطا کړی، هري خوا ته مرضونه خواره شوي، نباتات ئې، حيوانات ئې او په خپله دی باران او اوبو ته محتاج او اړ دئ، تر دې حده چي د

يأس مرحلې ته رسېدلی، خو ناڅاپه د همدغه مأيوس انسان غوښتنې ته ځواب ويل کېږي، دا ځواب څوك وايي؟ او د هغه دا احتياج څوك رفع کوي؟ څوك ئې ضرورت منتفي کوي؟ آيا له دې پرته بل ځواب لرو چې ووايو: دا د هغه ستايل شوي ذات کار دئ چې پر خپلو بندګانو مهربان، د دوی د اړتياوو او ستونزو د رفع کولو ذمه وال او د دوی مولا دئ.

• **د الله تعالی د قدرت له ځرګندو نښو د آسمانونو او زمکې پيدايښت او هغه خوځېدونکي دي چې په دوی دواړو کې ئې خواره کړي، آيا دا پراخ او په بې شمېرو ستورو ښايسته شوی آسمان، دا پراخه او له ډول ډول نعمتونو ډکه زمکه، دا بې شمېره ژوي چې په آسمانونو او زمکې کې خواره شوي د دې شهادت نه ورکوي چې يو ځواکمن، عليم او حکيم خالق لري؟!! آيا دا د دې خبرې ګواهي نه ورکوي چې د عالمونو خالق او پالونکی هر کله چې وغواړي د دوی په راغونډولو او بيا پيدا کولو ښه توانمن دئ؟!!**

• **دلته په آسمانونو او زمکې کې د خواره شوو ژوو يادونه شوې، آيا له آسماني ژوو مراد يوازې فرشتې او پېريان دي که دا چې ښايي په نورو ستورو کې به هم ژوي خواره شوي وي او که د زمکې په فضاء کې هغه بې شمېره بکترياوي چې په سترګو نه ليدل کېږي خو ټوله فضاء ئې ډکه کړې؟!! فرشتې او پېريان ځکه د دې مصداق نشو ګڼلی چې انسان ئې نشي ليدلی او د انسان لپاره د ځرګندې نښې په توګه نشي وړاندې کېدلی، مصداق ئې داسې ژوي دي چې انسان ئې ليدلی شي، نو مصداق ئې يا همدا د زمکې په فضاء کې خواره ژوي دي يا هغه چې ښايي له دې وروسته به ئې انسان په فضاء کې ومومي.**

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٍ ﴿٣٠﴾

او په کوم مصيبت چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاس ته راوړنو له کبله دئ او له ډېرو ئې (الله) تېرېږي.

(٣٠)- دا مبارك آيت په ډېر صراحت او قاطعيت سره وايي چې مصيبتونه ستاسو د کړو وړو په سبب راځي او دا چې دا ستاسو د ګناهونو يوازې د يوې برخې سزا ده، که الله عفو ونه کړي او له تاسو سره د فضل او عفوې پر ځای د عدل له مخې معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصيبتونه درباندې نازل کړي وو.

دلته يوه جدي پوښتنه راولاړېږي او هغه دا چې آيا انسان له ګناه پرته هم په مصيبت اخته کېدی شي که نه؟ هغه مصيبتونه به څنګه تعبيروو چې د الله تعالی نېك بندګان ورسره مخامخ شوي؟ پر پيغمبرانو ﷺ هم مصيبتونه راغلي دا به د دې آيت له مخې څنګه توجيه کوو؟ بې ګناه ماشومان هم مصيبتونه ګالي!! په دې اړه بايد لاندې خبرې په پام کې ولرو:

• **د حوادثو، مصيبتونو او پېښو په اړه څلور نظريې وړاندې کېږي:**

١. يوه د بايبل هغه نظريه ده چې وايي: په انسان باندې چې کوم مصيبتونه راځي؛ دا د شيطان کار دئ، خدای شيطان ته دا اجازه ورکوي چې انسان له کړاوونو او مصيبتونو سره مخامخ کړي.

٢. بله دا چې انسان د خپلو ګناهونو په سبب له مصيبتونو سره مخامخ کېږي، هر په

مصيبت اخته انسان په حقيقت کې يو ګناهګار انسان دئ!! دا ځکه چې مصيبتونه يوازې يو لامل لري او هغه د انسان ګناه ده او بس.

٣. درېيمه نظريه هغه ده چې وايي: ټولې پېښې تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سيلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښې، د يوه انسان له عادي بيمارۍ نيولې تر هغو لويو لويو پېښو چې په ميلونونو خلك ترې متأثره شي، دا ټول طبيعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هيڅ تعلق نشته، هم ګناهګار نيسي او هم بې ګناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کې څه ونډه لري او نه ئې ښه عملونه په مخنيوي کې.

٤. خو قرآن فرمايي چې د ښه او بد، راحت او مصيبت، نعمت او نقمت پرېکړه د الله تعالى له لوري کېږي، نه شيطان په دې کې څه تصرف او مداخله کولى شي او نه په زمکې او آسمان کې له الله تعالى پرته بل څوك. د هرې پېښې پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولنې سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخې ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښې دي او نه واړه واړه مصيبتونه، کله د انسان بد عملونه د دې مصيبتونو د راتلو لامل وي او نېك عملونه ئې د تم کېدو باعث او کله الله تعالى غواړي د مصيبتونو په ترځ کې انسان وروزي، کمال ته ئې ورسوي او هغه استعدادونه په کې راويښ او ځلانده کړي چې يوازې له کړاوونو سره د مخامخ کېدو په صورت کې په انسان کې وده کوي، لکه هغه ماشوم چې د لومړي ځل لپاره په خپلو پښو تګ زده کوي نو په وار وار لوېږي او لتېږي او په همدغو لوېدلو او لتېدلو کې د ده روزنه کېږي، ډېر څه ورښودل کېږي، هډوکي ئې مضبوطېږي او په لوړو ژورو کې د تلو هنر زده کوي.

قرآن فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١﴾

التغابن: ١١

هيڅ مصيبت نه راځي مګر د الله په إذن سره او څوك چې پر خداى ايمان لري زړه ئې ورهدايت کړي او الله په هر څه ښه پوه دئ.

- دا آيت هم په ډېر تأکيد او قاطعيت سره وايي چې هيڅ مصيبت په خپل سر او تصادفي نه راځي، د الله په حکم او إذن راځي، د ايمان خاوندان ئې په وجه او حقيقت پوهېږي او په دې اړه ئې الله زړونه روښانه کوي او له شك او اعتراض ئې خوندي ساتي.
- د قرآن ګڼ شمېر آيتونه په پرېکنده ډول وايي چې هيڅکله کوم داسې مصيبت نه دررسېږي چې الله تعالى له مخکې نه وي درته ليکلى، که دا مرګ ژوبله وي، په جګړې کې ماته وي، يا کوم بل مصيبت، مؤمنان به په خداى توکل کوي، د مصيبتونو په اړه به هيڅکله دا شك نه کوي چې دا په خپل سر او د الله تعالى له عادلانه پرېکړې پرته نازل شوي.
- کله مصيبت د ګناه دنيايي سزا وي، له داسې مصيبت سره کله يو انسان د خپلې ګناه له کبله مخامخ کېږي او کله يوه ټولنه د اکثريت د ګناه له کبله، کله فردي بڼه لري او کله

اجتماعي، کله یوه الهي آزموینه وي او په ترڅ کې ئې انسانان روزل کېږي او لوړو لوړو درجو ته د رسېدو لپاره جوګه کېږي. د دې تفصیل د الانبیاء سورې د (۸۳-۸۴) آیتونو په تفسیر کې وګورئ.

- په دې اړه دا روایت هم مخې ته راځي چې وایي:

عَنْ أَبِى مُوسَى أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ قَالَ « لاَ يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلاَّ بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللَّهُ عَنْهُ أَكْثَرُ ». قَالَ وَقَرَأَ (وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ
رواه الترمذي

له ابو موسی ﷜ روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ بنده ته کوم ستر یا ووړ مصیبت نه رسېږي مګر د کومې ګناه له کبله، او له هغه څه چې الله تېرېږي هغه ډېر دي، بیا ئې دغه آیت تلاوت کړ: (وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ).
که څه هم ځینو دا روایت د سند له پلوه ضعیف ګڼلی خو متن ئې د قرآن له آیت سره په بشپړه توګه مطابقت لري. متأسفانه موږ له دې ستونزې سره مخامخ یو، کله به داسې روایت ته صحیح ویل کېږي چې له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او کله به پورتنې روایت ته ورته روایت ضعیف ګڼل کېږي؛ په داسې حال کې چې هغه به د قرآن له څرګند آیت سره مطابقت لري. دا ستونزه له دې راولاړه شوې چې ځینو سند ته پر متن ترجیح ورکړې، سند ئې په لومړۍ درجې کې معتبر ګڼلی او متن په دوهمې درجې کې.

وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٣١﴾

او تاسو په زمکې کې عاجزوونکي نه یئ، او تاسو ته له الله پرته نه کوم مولا شته او نه کوم مرستندوی.

(۳۱)- قرآن په دې مبارک آیت کې خپلو مخاطبینو ته وایي:

- تاسو نه شئ کولی د الله تعالی د ارادې په وړاندې خنډ شئ، الهي پرېکړې او سنن بدل کړئ، د مؤمنانو او کافرانو د برخلیك په اړه چې الله تعالی څه ویلي او له دوی سره ئې کومې وعدې کړې د هغوی ترسره کېدل وځنډوئ. نو پر خپل زور او ځواك مه غره کېږئ او د حق مقابله مه کوئ.
- له الله تعالی پرته نه کوم مولا موندلی شئ او نه کوم مرستندوی.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلۡجَوَارِ فِي ٱلۡبَحۡرِ كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ﴿٣٢﴾ إِن يَشَأۡ يُسۡكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظۡلَلۡنَ رَوَاكِدَ
عَلَىٰ ظَهۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٍ ﴿٣٣﴾ أَوۡ يُوبِقۡهُنَّ بِمَا كَسَبُواْ
وَيَعۡفُ عَن كَثِيرٖ ﴿٣٤﴾ وَيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴿٣٥﴾

او له آيتونو ئې په سمندر کې دا غرونو ته ورته تلونکې (کشتۍ) دي، که وغواړي سيلۍ به په ټپه ودروي چې له کبله به ئې د هغې پر شا ولاړي پاتې شي، يقيناً چې په دې کې هر ډېر صبر کوونکي ډېر شکر کوونکي ته څرګندي نښې دي، يا به ئې د هغه څه له کبله تباه کړي چې دوی کړي او له ډېرو تېرېږي. او هغه چې زما د آيتونو په اړه مجادله کوي پوه دي شي چې کوم پناه ځی ورته نشته.

(۳۲-۳۵)- دا مبارك آيتونه موږ ته دا لارښووني کوي:

- د الله تعالی د قدرت له نښو يوه هم هغه ستري ستري بادي کشتۍ دي چې په سمندر کې درومي، که وغواړي هغه سيلۍ به په ټپه ودروي چې دا کشتۍ خوځوي چې له کبله به ئې د اوبو پر سر ولاړي پاتې شي.
- ساحل ته د دغو کشتيو په رسېدلو کې، د سمندر له خطرناکو او هيبتناکو څپو تېرېدلو کې، او خپل مقصد ته د دغو کشتيو د سورليو رسېدلو کې هغو وګړو ته څرګندي نښې دي او د پند او عبرت درسونه دي چې صابر او شاکر وي، څوك چې د صبر لمن کلکه ونيسي؛ کشتۍ به ئې د سمندر له خطرناکو څپو تېرېږي او آخري منزل ته به رسېږي، څوك چې د نعمتونو قدر پېژني هغه به هرومرو د داسي الهي پېرزوينو قدر کوي او د الله تعالی د نعمتونو شکر به پر ځای کوي.
- که الله تعالی وغواړي د داسي کشتيو سورلي د دوی د ګناهونو له کبله غرق کړي آيا داسي څوك شته چې مخه ئې ونيسي؟!! دوی ځکه له داسي برخليك سره نه مخامخ کېږي چې الله تعالی عفو کوونکی دئ، او د بندګانو له ډېرو ګناهونو تېرېږي.
- داسي صحنې که له يوه لوري صبر کوونکو او شکر کوونکو ته د عبرت سبب دئ له بل لوري هغو ته چې د الله تعالی د آيتونو په اړه مجادله کوي ښيي چې د الله تعالی له مؤاخذې د تېښتي ځای نه لري، نه په وچه کې نه په لمده کې.

فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُواْ
هُمۡ يَغۡفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ
وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡبَغۡيُ هُمۡ يَنتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَٰٓؤُاْ
سَيِّئَةٖ سَيِّئَةٞ مِّثۡلُهَاۖ فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾

وَلَمَنِ ٱنتَصَرَ بَعۡدَ ظُلۡمِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَا عَلَيۡهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى
ٱلَّذِينَ يَظۡلِمُونَ ٱلنَّاسَ وَيَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ
﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ﴿٤٣﴾

نو څه چې تاسو ته درکړی شوي؛ هر څه چې وي، دا د دنيوي ژوند متاع ده، او هغه څه چې له الله سره دي هغه غوره او دائمي دي، د هغو لپاره دي چې ايمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي. او هغه چې له کبيره ګناهونو او فحش کارونو ډډه کوي او کله چې غصه شي نو بخښنه کوي، او هغه چې د خپل رب حکم ته ئې لبيك ويلی، لمونځ ئې قائم کړی او کار ئې په خپلو کې مشوره وي او له هغه څه انفاق کوي چې موږ ورروزي کړي. او هغه چې کله تېری پرې وشي غچ اخلي، او د بدو سزا بدو ته ورته بد وي، نو څوك چې عفو وکړي او مصالحه وکړي نو اجر ئې د الله پر ذمه دئ، يقيناً چې هغه ظالمان نه خوښوي. او هغه چې پر ده له ظلم وروسته ئې غچ اخيستی پر دوی (د الزام) هيڅ لار نشته، (د ملامتيا) لار يوازې پر هغو ده چې پر خلکو ظلم کوي او په ناحقه په زمکې کې بغاوت (تېری) کوي، همدا دوی ته دردناك عذاب دئ، او چا چې صبر وکړ او بخښنه ئې وکړه يقيناً چې دا له همتناکو کارونو څني دئ.

(٣٦-٤٣)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- **څه چې تاسو ته درکړی شوي؛ هر څه او هر ډول نعمت چې وي، دا د دنيوي ژوند متاع ده، يوه وسيله او ذريعه ده، دا د ژوندانه د سفر توښه ده، دلته چې له نعمتونو کوم څه ګورئ، دا به يو هم د هدف او مقصد په توګه نه نيسئ، دا ټول د دنيوی ژوند لپاره د متاع حيثيت لري. د دنيا نعمتونه فنا کېدونکي دي، د دې لپاره درکړی شوي چې په خپل محدود دنيوی ژوند کې ګټه ترې واخلئ.**
- **هغه څه چې له الله تعالی سره دي هغه غوره او دائمي دي، څه چې تاسو د خپل رب په خوا کې ترلاسه کولی شئ هغه هم غوره دي او هم تلپاتي.**
- **خو دا غوره او تلپاتي نعمتونه هغه څوك ترلاسه کولی شي چې څو ځانګړتياوې او مواصفات ولري: ١- ايمان ئې راوړی وي، ٢- پر خپل رب توکل کوي، ٣- له کبيره ګناهونو او فحش کارونو ډډه کوي، ٤- کله چې غصه شي نو بخښنه کوي، ٥- د خپل رب حکم ته ئې لبيك ويلی، ٦- لمونځ ئې قائم کړی، ٧- کارونه ئې په مشوره وي، ٨- له هغه څه انفاق کوي چې الله تعالی ورروزي کړي، ٩- کله چې تېری پرې وشي غچ اخلي، خو د غچ اخيستلو په دوران کې دا په پام کې ساتي چې د بدو سزا بدو ته ورته وي، دومره ورسره کوي چې له دې سره ئې کړي، خو که دا مظلوم ظالم ته عفو وکړي او مصالحه وکړي نو اجر ئې د الله تعالی پر ذمه دئ، يقيناً چې هغه ظالمان نه خوښوي، يعني د عفوې دا الهي لارښوونه د ظالمانو په**

اړه د کومې خواخوږۍ له کبله نه ده، په دې کې نور مصالح په پام کې نيول شوي، پر چا چې ظلم وشي او له مظلوميت وروسته له ظالم غچ واخلي ملامت نه دئ، د هيڅ معيار له مخې هغه ملامت نشي ګڼل کېدی، ملامت يوازې هغه دئ چې پر خلکو ظلم کوي او په ناحقه په زمکې کې بغاوت او تېری کوي، همدا دوی ته دردناك عذاب دئ، او چا چې صبر وکړ او بخښنه ئې وکړه يقيناً چې دا له همتناکو کارونو څخه دئ.

لکه چې ګورئ دلته د مؤمنانو د صفتونو په ترڅ کې له لمانځه وروسته او تر انفاق وړاندې د مشورې يادونه شوې او ويل شوي چې د دوی کارونه په مشوره وي، دا ښيي چې په الهي دين کې د شورى اهميت څومره دئ، همدا راز دلته تر لمانځه او شورى وړاندې د دوی دا صفت راغلى: د خپل رب حکم ته ئې لبيك ويلى، دا ښيي چې شورى په هغو امورو کې ده چې پرېکړه ئې مؤمنانو ته پرېښودل شوې او په اړه ئې کوم صريح الهي حکم نه وي. د دې تفصيل د آل عمران د سورې د ۱۵۹ آيت په تفسير کې وګورئ.

دې ته مو پام وي چې دلته له يوې خوا له ظالمانو غچ اخيستل د مؤمنانو يوه ځانګړتيا ښودل شوې او له بلې خوا د صبر، زغم، عفو او مصالحې ستاينه شوې، دا ځکه چې په ځينو حالاتو کې غچ اخيستل ضروري وي او په ځينو کې صبر، عفو او مصالحه ګټوره، که پر مسلمان د يوه مغرور ظالم له لورې تېری وشي نو بايد د هغه سوك په سوك ځواب شي او څپېړه په څپېړې، د هغه غرور بايد مات شي، له مؤمن سره دا ښايي چې د دوی د ظلم په وړاندې د صبر او زغم پر ځای د انتقام لار غوره کړي، دوی بايد د کبرجنو په وړاندې سر ټيټ نه کړي، خو که د خپل مسلمان ورور له لورې کوم تېری پرې وشي او وګوري چې ده ته عفو کول غوره دي، ګټه ئې اسلام او مسلمانانو ته رسېږي او په دې عفو الله تعالى راضي کېږي نو همدا کار ورته غوره دئ، خو که سره له دې هغه خپل غچ واخيست د الله تعالى په وړاندې ملامت نه دئ.

وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن وَلِيّٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَتَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ يَقُولُونَ هَلۡ إِلَىٰ مَرَدّٖ مِّن سَبِيلٖ ﴿٤٤﴾ وَتَرَىٰهُمۡ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا خَٰشِعِينَ مِنَ ٱلذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرۡفٍ خَفِيّٖۗ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ فِي عَذَابٖ مُّقِيمٖ ﴿٤٥﴾ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنۡ أَوۡلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ﴿٤٦﴾

او الله چې څوك لاروركى كړي نو له ده وروسته ئې هيڅ مولا نشته، او كله چې ظالمان عذاب وګوري ته به ئې وينې چې وايي: آيا بېرته ستنېدو ته كومه لار شته، او دوى به ګورې چې په داسي حال كي به وروړاندي كړى شي چې د ذلت له كبله به داسي خشوع كوونكي وي چې د سترګي له كونجه به په پټه ګوري، او چا چې ايمان راوړى وايي به: بې شكه چې زيانمن همغه دي چې ځان او خپل ټبر ته ئې د قيامت په ورځ تاوان ورسولو، پام چې ظالمان به په تلپاتي عذاب كي وي، او له الله پرته به ئې داسي دوستان نه وي چې مرسته ئې وكړي، او الله چې څوك لاروركى كړي نو هيڅ لار ورته نشته.

(٤٤-٤٦)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالى چې څوك لاروركى كړي له ده پرته بل داسي مولا نشي موندلى چې لارښوونه ئې وكړي او له ضلالت ئې وژغوري.
- د قيامت په ورځ او هغه مهال چې دا ظالمان عذاب په خپلو سترګو وګوري ته به ئې وينې چې وايي: آيا دنيا ته د بېرته ستنېدو كومه لار شته؟! هڅه به ئې دا وي چې يو ځل بيا دنيا ته ستانه شي، خپله ماضي جبران كړي او داسي لار غوره كړي چې په دوزخ منتهي نشي، خو دا هيله به ئې نه ترسره كېږي، دوى به په داسي حال كي دوزخ ته وروړاندي كړى شي چې د ذلت او سپكاوي آثار به ئې په څېرو كي څرګند وي، له خپل مخكني غرور او كبر به لوېدلي وي، غاړي به ئې كړې وي، له هيبته به جګ نشي كتلي، په ټيټو سترګو او په پټه پټه به د سترګي له كونج اور ته ګوري.
- د دوى بد حال ته په پام سره به مؤمنان وايي: بې شكه چې زيانمن همغه دي چې ځان او خپل ټبر ته ئې د قيامت په ورځ تاوان ورسولو.
- پام چې دا ظالمان به په تلپاتي عذاب كي وي، هغه مهال به له الله تعالى پرته داسي څوك نه مومي چې د يوه دوست او خواخوږي په توګه وروړاندي شي او مرسته ئې وكړي.
- الله تعالى چې څوك لاروركى كړي نو هيڅكله به سمه لار ونه مومي، يوازينى سمه لار همغه ده چې الله تعالى موږ ته راښودلې، څوك چې په دې لار د تلو سعادت ترلاسه نه كړي په هيڅ توګه او هيڅكله به د نجات بله سمه لار پيدا نه كړي.

ٱسْتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۚ مَا لَكُم مِّن مَّلْجَإٍ
يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ ﴿٤٧﴾ فَإِنْ أَعْرَضُواْ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ إِنْ
عَلَيْكَ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ

بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَإِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ كَفُورٞ ﴿٤٨﴾

خپل رب ته لبيك ووايئ تر هغه وړاندې چې داسې ورځ راشي چې د الله له لوري بېرته ستنېدا ورته نشته، په دې ورځ به نه كوم پناه ځی درته وي او نه به كوم نكير (انكار كوونكی او بدلوونكی)، او كه اعراض وكړي نو ته مو پر دوی ساتونكی نه يې لېږلی، پر تا له ابلاغ پرته بل څه نشته، او موږ چې كله انسان ته له خپل لوري كومه پېرزوينه وروڅكو نو پرې خوښ شي او كه د هغه څه له كبله چې د دوی لاسونو وړاندې كړي كومه ستونزه ورورسېږي نو يقيناً چې (هغه مهال) دا انسان ډېر ناسپاس وي.

(٤٧-٤٨)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- **خپل رب ته تر هغه وړاندې لبيك ووايئ، بلنه ئې ومنئ او په لارښوونو ئې عمل وكړئ چې د قيامت هغه نه بدلېدونكې ورځ راشي، هغه ورځ چې د الله تعالی له لوري ئې بېرته ستنېدا نشته، نه د دې مجال په كې شته چې انسان بېرته دنيا ته ستون شي او خپله ماضي جبران كړي او نه د دې فرصت چې انسان له غلطې لارې سمې ته ستون شي.**
- **په دې ورځ به نه كوم پناه ځی مومئ او نه كوم نكير، د نكير په اړه بېل بېل تعبيرونه شوي، ځينو د انكار په معنی نيولی او آيت ئې داسې تعبير كړی: په دې ورځ به د انكار هيڅ مجال نه مومئ، ځينو د بدلوونكی په معنی نيولی او تعبير ئې دا دئ: په دې ورځ به داسې څوك نه مومئ چې ستاسو حال بدل كړي، له بدغوني او سپېره حالت مو وژغوري، ځينو د انكار كوونكي په معنی نيولی او آيت ئې داسې تعبير كړی: هيڅوك به ستاسو بد حالت د اعتراض وړ او ناآشنا نه ګڼي، هر څوك به تاسو د همداسې عذاب وړ بولي. د آيت سياق و سباق ته په پام سره دوهم تعبير غوره برېښي.**
- **رسول الله ﷺ ته ويل شوي: كه دوی اعراض وكړي نو ته مو پر دوی ساتونكی نه يې لېږلی، پر تا له ابلاغ پرته بل څه نشته، ستا دنده يوازې دا ده چې الهي پيغام په بشپړه توګه خلكو ته ورسوې، د كفر او شرك له بدو پايلو ئې ووېروې، ته مو د دوی د داسې ساتونكي په توګه نه يې لېږلی چې له بدو كړنو ئې په زور سره راتم كړې او له شرك او كفر ئې وساتې.**
- **انسان داسې دئ چې كله الله تعالی له خپل لوري د كومې پېرزوينې خوند وروڅكي نو پرې خوښ او مغرور شي او كه د هغو ګناهونو له كبله چې دوی كړي كوم كړاو ورورسېږي نو هغه مهال دا انسان ډېر ناسپاس وي، ټولې مخكنۍ ښېګڼې هېرې كړي.**

لِّلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثٗا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ ذُكۡرَانٗا وَإِنَٰثٗاۖ وَيَجۡعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًاۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٞ

قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾

د آسمانونو او زمکي واکمني د الله ده، هر هغه څه پیدا کوي چي وئې غواړي، چا ته چي وغواړي ښځینه اولاد ورکوي او چا ته چي وغواړي نارینه اولاد ورکوي، یا نارینه او ښځینه ګډ ورکوي، او هغه شنډ کړي چي دی ئې غواړي، یقیناً چي دی توانمن پوه دئ.

(٤٩-٥٠)- دا مبارك آیتونه وایي:

- الله تعالی د آسمانونو او زمکي ټولواك دئ، د عالم د ټولو چارو واګي د ده په واك کي دي.
- الله تعالی خالق او پیدا کوونکی دئ، هر څه ده پیدا کړي او دی ئې پیدا کوي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چي چا ته لوڼي ورکړي، چا ته زامن او چا ته زامن او لوڼې په ګډه، او څوك شنډ او د اولاد له درلود محروم کړي.
- یقیناً چي دی توانمن پوه دئ، هم د هر څه په کولو او د هر څه په پیدا کولو قادر دئ او هم ئې هر کار د علم او پوهي له مخي دئ.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولاً فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَـٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَـٰنُ وَلَـٰكِن جَعَلْنَـٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾ صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ ﴿٥٣﴾

او هیڅ انسان ته نه ښایي چي الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي (خفي اشارې) سره، یا د حجاب له شا، یا یوه فرشته لېږي چي د ده له حکم سره سم هغه څه وحي کړي چي دی ئې غواړي، یقیناً چي هغه باحکمته لوړ دئ، او همداسي مو تا ته د خپل امر ځانګړې وحي وکړه، ته نه پوهېدې چي کتاب څه دئ او نه د ایمان (په معنی او حقیقت) پوهېدې، خو موږ داسي نور وګرځاوو چي له خپلو بندګانو څني هغه څوك پرې هدایتوو چي غواړو ئې، او بې شکه چي ته د مستقیمي لاري خوا ته لارښوونه کوې. د هغه الله لاري ته چي څه په آسمانونو کي او څه په زمکي دي ټول د ده دي، پام چي کارونه د

الله لوري ته ورگرځي.

(٥١-٥٣)- په دې مبارکو آيتونو کي د وحي په اړه څو مهمي مهمي لارښووني شوې:

• هيڅ انسان ته نه ښايي چي الله ورسره مخامخ او له کوم حجاب پرته تکلم وکړي، يعني انسان ته دا توان او استعداد نه دئ ورکړی شوی چي الله تعالی ورسره مخامخ تکلم وکړي، يوازي د وحي له لاري کولی شي د الله تعالی هدايات او لارښووني ترلاسه کړي. وحي هغي خفي اشارې ته وايي چي په سريع توگه يو مطلب چا ته پرې القاء شي.

• دلته د وحي درې صورتونه ښودل شوي: ١- مخامخ وحي، ٢- تکلم خو د حجاب له شا، ٣- د فرشتې په لاس وحي. د قرآن په نورو آيتونو کي موږ ته ويل شوي چي د وحي دوهم صورت (د حجاب له شا تکلم) له موسی صلعم پرته له بل پيغمبر سره نه دئ شوی، دوه نور صورتونه ئې داسي دي چي يو ئې بلاواسطه وحي ده او بل ئې بالواسطه او د فرشتې له لاري وحي.

• دې ته مو بايد پام وي چي د وحي دا درې صورتونه پيغمبرانو صلی ته د وحي هغه صورتونه دي چي الله تعالی دوی ته احکام او هدايات ورکوي، خو په قرآن کي د وحي ځيني نور صورتونه هم په گوته شوي چي عموميت لري، لکه انسان او حيوان ته فطري وحي او د هغه په فطرت کي د ضروري لارښوونو القاء، چي په قرآن کي د دې وحي يو مثال د شاتو د موچيو په اړه راغلی او په دې کي هغو لارښوونو ته د وحي نوم ورکړی شوی چي د دوی په فطرت کي اېښودل شوي، کوم ځنگه او چېري جوړ کړي، شات ځنگه جوړ کړي، له مختلفو لارو ځنگه تگ راتگ وکړي. رؤيا د دې وحي يوه بله بېلگه ده، او الهام ئې بله بېلگه.

• دلته رسول اللهﷺ ته ويل شوي چي تا ته مو همداسي له خپل لوري د يوه خاص امر وحي وکړه، ته تر وحي وړاندي نه پوهېدې چي کتاب څه دئ او نه د ايمان په معنی او حقيقت پوهېدې، خو موږ دا قرآن داسي نور وگرځاوو چي له خپلو بندگانو هغه څوك پرې هدايتوو چي غواړو ئې، او بې شکه چي ته د مستقيمي لاري خوا ته لارښوونه کوې. دلته په ډېر صراحت سره او په پرېکنده توگه ويل شوي چي رسول اللهﷺ تر بعثت وړاندي نه د کتاب له ځرنگوالي خبر وو او نه د ايمان په معنی او حقيقت پوهېدو. رسول اللهﷺ د قرآن له راتلو وړاندي حتی په ليك لوست هم نه پوهېدو، دا خو پرېږده چي د ټول کتاب د علومو په اړه هغه وسيع او جامع علم ولري چي تر دې وروسته ئې په برخه شو، نه په ليك لوست پوهېدو او نه د کتاب او ايمان له حقيقته په دومره تفصيل سره خبر وو چي د دې کتاب له راتلو وروسته پرې خبر شو، خو الله تعالی دا کتاب د ده لپاره داسي نور وگرځاوو چي ټول حقائق ئې د هغه په رڼا کي وپېژندل. د رسول اللهﷺ ټول ژوند پر دې گواهي ورکوي چي هغه نه په غيب پوهېدو او نه د راتلونکي وحي له وخت او ځرنگوالي خبر وو، د قرآن گڼ شمېر آيتونه همدغه خبره کوي.

• د دوه پنځوسم آيت په لومړۍ فقرې کي ويل شوي: (وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا) بايد وگورو چي د دې فقرې معنی څه ده او دلته (روح) په کومي معنی راغلی، د روح معنی وحي ده، که جبرئيل، که ژوند، که په خپله د الله تعالی ذات؟ په تفسيرونو کي مختلف آراء

گورو، تر ټولو غوره او دقيق تعبير دا دئ چي دلته له روح مراد وحي ده، د آيت معنى دا ده: همداسي مو تا ته د خپل امر ځانګړې وحي وکړه، د وحي لپاره د روح نوم د قرآن په نورو آيتونو کي هم کارول شوى او دا ځکه چي الهي وحي د غوره انساني ژوند لپاره د روح حيثيت لري، په دې سره انسان کولى شي د صالح او سم ژوند په لارو چارو پوه شي، د النحل سورې په دوهم آيت کي داسي راغلي:

يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ﴿٢﴾ : **ملائکي د خپل فرمان له وحي سره په خپلو بندګانو کي هغه چا ته کوز ليږي چي دى ئې وغواړي، په دې توګه چي دا خبرداری ورکړئ چي له ما پرته بل معبود نشته، نو له ما ووېرېږئ.**

د المؤمن د سورې په ۱۵ آيت کي داسي راغلي:

رَفِيعُ ٱلدَّرَجَـٰتِ ذُو ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِى ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾ : **د لوړو درجو خاوند، د عرش څښتن، له خپلو بندګانو چي چا ته غواړي پر هغه د خپل حکم له مخي وحي ليږي چي د مخامخېدو له ورځي (خلك) انذار کړي.**

لکه چي ګورئ دا وروستي پنځه آيتونه د دې سورې تتمه او د ټولو مضامينو خلاصه ده، دلته د وحي په څرنګوالي ترکيز شوى، درې صورتونه ئې په ګوته کړي، راشئ وګورو چي په رواياتو کي د وحي د څرنګوالي په اړه څه ويل شوي. د بخاري دې روايت ته ځير شئ:

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَصلى أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ ﷺ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْىُ فَقَالَ رَسُولُ الله "أَحْيَانًا يَأْتِينِى مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ- فَيُفْصَمُ عَنِّى وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ رَجُلاً فَيُكَلِّمُنِى فَأَعِى مَا يَقُولُ". قَالَتْ عَائِشَةُ صلى وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْىُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ، فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا.

له عَائِشَې صلى روايت دئ چي حَارِثَ بْنَ هِشَام له رَسُولَ الله وپوښتل: يا رسول الله! وحي څنګه درباندي راځي؟ نو رسول الله وفرمايل: کله کله د زنګ د غږ په څېر راته راځي، او دا تر ټولو راباندي سخته وي، او په داسي حال کي رانه جلا شي چي په وينا ئې پوه شوى وم، او کله کله (د وحي حامل) فرشته د يوه سړي په بڼه کي راته تمثيل شي نو خبري راسره وکړي او په هغه څه پوه شم چي وايي ئې، عائشې صلىوويل: ما د سختي يخنۍ په ورځ ليدلى چي وحي پرې نازلېده او بيا په داسي حال کي ترې بېلېده چي پر تندى به ئې خولې بهېدې.

دا روايت په بخاري کي دوه ځلي راغلى، له دغو توپيرونو سره: په يوه کي (کل ذاك) الفاظ شته او په بل کي نشته، په يوه کي ويل شوي چي وحى د (صلصلة الجرس) په څېر راته

راځي او په بل کي ويل شوي چي فرشته د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي، په يوه کي د (وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ) الفاظ تر نورو مخکي او په بل کي دا الفاظ وروسته راغلي.

که غور وکړو نو دا راته جوته کېږي چي د فرشتې راتګ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه کول مناسب نه برېښي، خو د وحي راتګ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه کول موزون معلومېږي، نو په يقين سره ويلی شو چي لومړی روايت تر دوهم ارجح دئ. د قرآن له وينا سره يوازي لومړی روايت اړخ لګوي او همدا خبره کوي چي وحي دوه صورتونه لري: له فرشتې پرته وحي او د فرشتې له لاري وحي، يوه ئې صلصة الجرس ته ورته او بله ئې د انسان په بڼي کي د فرشتې له لاري، له دې معلومېږي چي هغه روايت دقيق نه دئ چي دواړه د فرشتې له لاري وحي ګڼي، يو ئې له لري او بل ئې د انسان په بڼي کي د تمثيل له لاري.

حديث د قرآن شرح دئ که مستقله وحي؟

دلته دا موضوع هم څېړل غواړي چي دغه پوښتنې دوه ډوله وحي په قرآن کي راخلاصه کېږي که نوري بېلګي هم لري، آيا حديث د قرآن شرح دئ که بېله وحي؟ دا ځکه چي دا يوه له هغو مسائلو ده چي په اړه ئې د مسلمانانو تر منځ د جدي اختلاف شاهد يو، دا چي آيا وحي يوازي تر قرآن پوري مختص ده که پر رسول الله ﷺ پر قرآن علاوه هم وحي نازله شوې؟ آيا د رسول الله ﷺ حديث ته به د قرآن د شرح او تفسير په سترګه ګورو که د بېلي او مستقلي وحي په سترګه؟ که دا بېله وحي وي نو په کوم نامه به ئي يادوو او له هغه بلي وحي سره به ئي توپير څه وي؟ آيا دا دواړه د وحي متلو او وحي غير متلو يا وحي جلي او وحي خفي په نامه يادولی شو؟ که د وحي اصلي معني رمز او خفي اشاره وي نو آيا کولی شو وحي د جلي په نامه ياده کړو او آيا د جلي اطلاق پر وحي کېدی شي؟

تر ټولو وړاندي بايد ووايو: که د قرآن په کوم آيت کي يا د رسول الله ﷺ په کوم صحيح حديث کي ويل شوي وی چي رسول الله ﷺ ته د احکامو اړوند وحي په قرآن کي نه خلاصه کېږي او داسي احکام هم شته چي اړوند وحي ئې په قرآن کي نه ده راغلې نو موږ به له کوم ځنډ پرته دا خبره منله او همدا رأيه به مو درلوده، خو که څوک د خپلي شخصي انګېرني له مخي دا خبره کوي نو هغه ته وايو: دليل دي څه دئ؟ له الله تعالی او د هغه له رسول ﷺ پرته د بل چا رأيه يوازي په هغه صورت کي منو چي کوم نص او عقلي دليل وړاندي کړي، ځيني ادعاء کوي چي وحي دوه ډوله ده: متلو او غير متلو يا جلي او خفي، وايي پر رسول الله ﷺ دوه ډوله وحي نازله شوې: يوه ئې هغه چي د قرآن په بڼي کي تر موږ رارسېدلې او بله ئې هغه چي د حديث په بڼي کي رارسېدلې، دوی د خپلي ادعاء د اثبات لپاره دا دليل وړاندي کوي چي د رسول الله ﷺ په احاديثو کي داسي احکام او لارښووني مومو چي په قرآن کي د هغوی لپاره کوم شاهد او اشاره نه ترسترګو کېږي، او قرآن وايي چي رسول الله ﷺ له وحي پرته بله خبره نه کوي، د قرآن دا آيت د دې ادعاء لپاره د دليل په توګه وړاندي کوي چي وايي: و ما ينطق عن الهوى إن هو إلا وحي يوحى: د خپل هوس له مخي خبري نه کوي، دا خو له هغي وحي پرته بل څه نه دي چي ده ته وحي کېږي. او ګواکي د دې آيت معنی دا ده چي د رسول الله ﷺ هره وينا او حديث وحي ده. راشئ دا دواړه ادعاګاني لږ په دقت او غور سره وڅېړو.

دوى له هغو مواردو چې وايي په قرآن كې ورته اشاره نه ده شوې خو د رسول اللهﷺ په سنت كې راغلي دغو مواردو ته په ډېر زور شور سره ګوته نيسي:
الف: وايي په قرآن كې دا حكم نه مومو چې د بيت المقدس لوري ته د قبلې په توګه مخ كړئ، رسول اللهﷺ په مكه كې او تر هغه چې په مدينه كې د قبلې بدلولو حكم راغى د بيت المقدس لوري ته لمونځ كولو او په قرآن كې راغلي چې بيت المقدس مو د دې لپاره قبله ګرځولې وه چې وګورو څوك د رسول اللهﷺ متابعت كوي او څوك پر خپلو پوندو شا ته اوړي: (... وَمَا جَعَلْنَا ٱلْقِبْلَةَ ٱلَّتِى كُنتَ عَلَيْهَآ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ ...
البقرة: ۱٤۳، **دوى وايي: له دې آيت معلوميږي چې رسول اللهﷺ ته د بيت المقدس په اړه وحي شوې وه خو په قرآن كې دا وحي نه ده راغلې!! د دوى په ځواب كې بايد ووايو:**
۱- دا ادعاء په هغه صورت كې د اعتناء او اعتبار وړ ګڼل كېدى شوى چې رسول اللهﷺ په خپله ويلي وى چې ما ته د بيت المقدس په لوري د مخ اړولو حكم شوى وو، حال دا چې رسول اللهﷺ دا خبره نه ده كړې او په هيڅ حديث كې صراحتاً يا اشارتاً دا خبره نه ده شوې، پوښتنه كوو: تاسو ولې دا جسارت كوئ چې رسول اللهﷺ ته هغه څه منسوبوئ چې هغه نه دي ويلي؟!! آيا دا بې ځايه جسارت نه دئ؟!!
۲- رسول اللهﷺ د بيت المقدس په لوري له دې كبله لمونځ كولو چې دى د مخكني شريعت په متابعت مكلف وو، نه دا چې ده ته د بېلې وحي له مخې حكم شوى وو چې بيت المقدس ته مخ كړي، ټول انسانان تر هغه د مخكني شريعت او مخكني پيغمبر په متابعت مكلف دي چې د الله تعالى له لوري نوى شريعت راشي او نوى پيغمبر مبعوث شي، رسول اللهﷺ به تر هغه بيت المقدس قبله ګڼله چې د نوى الهي حكم له مخې د هغې پر ځاى نوې قبله وټاكل شي، قرآن وايي: رسول اللهﷺ دا تلوسه درلوده چې ده ته د مخكنيو پيغبرانو په څېر داسې قبله وټاكل شي چې د ده د دعوت په سيمې كې وي، مخكني پيغمبران په شام او فلسطين كې تېر شوي او الله تعالى هغوى ته په همغې سيمې كې بيت المقدس د قبلې په توګه ټاكلې وه، ده غوښتل چې د بيت المقدس پر ځاى كعبه د ده او د ده د امت قبله شي، د همدې لپاره ئې په وار وار د آسمان لور ته مخ اړولو او د قبلې د تحويل په اړه ئې د وحي راتلو انتظار او توقع درلوده، كه ده ته بېله وحي شوې وى نو د الله تعالى پر حكم به په بشپړه توګه قانع او راضي وو او هيڅكله به ئې د قبلې د تحويل تلوسه نه وه كړې.
۳- رسول اللهﷺ په ټولو نورو مواردو كې تر هغه په مخكني شريعت عمل كړى چې يا اړوند حكم ئې منسوخ شوى، يا تعديل شوى يا تأييد شوى، رسول اللهﷺ د تقوى، طهارت، پاكلمنې، صدق، امانت، او نورو نېكو عملونو او د شراب، قمار، زنا، غلا، دروغ، خيانت، دوكه، او ټولو نورو ګناهونو په اړه تر هغه په مخكني شريعت عمل كولو چې په دې اړه په قرآن كې نوي احكام راغلل، آيا ويلى شو چې رسول اللهﷺ ته د دغو امورو په اړه د قرآن تر نازلېدو وړاندې بېله بېله وحي شوې وه؟!! كه څوك دا غلطه او بې بنسټه ادعاء كوي نو موږ ته دې د رسول اللهﷺ يو داسې حديث راوښيي چې په هغه كې ويل شوي وي: ما ته د قرآن تر نزول وړاندې په دې

اړه وحي شوې وه!!!
٤- د رجم په اړه په قرآن کي دا حکم نه مومو چي محصن زاني دي رجم شي، رسول الله ﷺ هم نه دي ويلي چي ما ته د محصن زاني د رجم په اړه بېله وحي شوې، خو رسول الله ﷺ داسي زاني او زانيه رجم کړي!! آيا د دې په توجيه کي له دې پرته بله خبره کولی شو چي د رجم حکم په مخکني شريعت کي راغلی، په قرآن کي د دې حکم په اړه نه دا ويل شوي چي مخکنی حکم منسوخ دئ، نه ئي هغه تعديل کړ او نه ئي د هغه پر ځای بل حکم ولېږو، نو له همدې کبله رسول الله ﷺ د محصن زاني په اړه د مخکني شريعت له حکم سره سم عمل کړی.

دې ته مو بايد پام وي چي نن تر ټولو زيات مسيحيان پر اسلام دا اعتراض کوي چي اسلام ولي د رجم سخت او د ترحم او عاطفي خلاف قانون وضع کړی!! پوهېږئ چي دوی ته به زموږ مضبوط او په اصطلاح غاښ ماتوونکی ځواب څه وي؟ ځواب مو دا دئ: دا خو ستاسو د مذهب قانون دئ، تاسو پر قرآن نه بلکي پر خپل بايبل اعتراض کوئ، ځواب ئي له خپلو کشيشانو وغواړئ!! موږ ستاسو د مذهب په يوه څرګند حکم عمل کوو، ولي او څنګه مو ملامتوئ؟ ښايي الله تعالی به د همدې لپاره په قرآن کي د رجم حکم نه وي ذکر کړی چي موږ د قرآن سخت زړو او نه پخلا کېدونکو معترضينو ته دغه ځواب ورکړی شو!!
ب: د دوی بل دليل دا دئ چي وايي: په قرآن کي داسي راغلي:

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَٱلْـَٔـٰنَ بَـٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُوا۟ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ ۚ ...

البقرة: ١٨٧
له خپلو مېرمنو سره د روژې د شپې نږدې والی (جماع) درته حلال کړی شوی، هغوی ستاسو لپاره لباس او تاسو د دوی لپاره لباس يئ، الله په دې پوه شوی چي تاسو له ځان سره خيانت کولو، نو پر تاسو (له خپل رحمت سره) راوګرځېدو او عفو ئي درته وکړه، نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چي الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو په نيت نږدې والی وکړئ) او خورئ او څښئ ترهغه چي د سباوون سپينه کرښه له توري درته څرګنده شي، ...

دوی دا آيت داسي تعبيروي: د دې آيت تر نزول وړاندي حکم دا وو چي د روژې له ماښام تر ماخستن پوري خوراك، څښاك او نور د روژې اړوند ممنوعات جائز وو او خو تر ماخستن وروسته بيا تر بل ماښام پوري ممنوع او حرام وو، ځينو له دې حکم سرغړاوی وکړ نو ځکه دا آيت نازل شو او دوی ئي خپل خيانت ته متوجه کړل، خو په ضمن کي ئي هغه مخکنی حکم منسوخ کړ او تر سحر پوري ئي دغه ممنوعات جائز وګرځول!! دوی په دې آيت استناد کوي او وايي: دا د ممنوعيت حکم په قرآن کي نه مومو که وحي يوازي په قرآن کي منحصره وی نو ولي به د هغو صحابه وو عمل د خيانت په نامه يادېدو!!

دوى ته په ځواب کي وايو: دا ډېر ډېر کمزورى استدلال دئ، هيڅ وزن او وقعت نه لري، لکه څنگه چي په قرآن کي دا ممانعت نشو موندلى همداراز په احاديثو کي هم دا ممانعت نشو موندلى، مهرباني وکړئ موږ ته هغه حديث راوښيئ چي دا ممانعت په کي راغلى!! که نه په قرآن کي د دې ممانعت حکم وي او نه د رسول الله ﷺ په احاديثو کي نو تاسو څنگه جسارت کوئ او وايئ چي د دې ممانعت حکم په وحي خفي او وحي غير متلو ثابت دئ؟!! تاسو خو يوازي په هغه صورت کي د دې خبري کولو حق درلود چي په دې اړه مو په قرآن او حديث کي کوم صريح حکم موندلى وى، نه دا چي په خپل سر او له کوم نص پرته داسي څه وايئ چي نه الله تعالى ويلي او نه د هغه رسول!! حقيقت دا دئ چي دا د ځينو صحابه وو خپل گمان وو چي د روژې په شپو کي بايد د ماخستن له لمانځه وروسته تر راتلونکي ماښام د روژې له ممنوعاتو ډډه وکړي، ځينو بيا د خپلي دغي رأيي خلاف عمل کړى، قرآن دا عمل د (تختانون انفسکم) په صيغه ياد کړى، ځکه دوى د خپلي رأيي خلاف هغه څه کړي چي گناه ئې گڼله، او دا له خپل ځان او نفس سره خيانت دئ، که دوى د الله تعالى او د هغه د رسول د کوم حکم مخالفت کړى وى نو بيا به د دوى عمل له ځان سره د خيانت په صيغه نه يادېدو بلکي د ذنب او اثم په نامه به يادېدو. ښه به وي چي تاسو په دې اړه تفهيم القرآن هم وگورئ چي په زړه پوري بحث ئې کړى.

د دې آيت دقيق تفسير دا دئ: مسلمانانو داسي گمان کاوو چي د روژې په شپه له ويدېدو وروسته بايد له مېرمنو سره له نږدې والي ډډه وکړي، په دې اړه دوى ته کوم حکم نه وو شوى، که څه هم ځيني په دې باور دي چي دا کار په دوى حرام کړى شوى وو، خو نه په قرآن کي د داسي حرمت په اړه څه حکم راغلى او نه په حديث کي، په خپله ئې همداسي انگېرله، خو کله کله به ئې د خپل دغه ذهنيت خلاف کار وکړ او په دې سره به ئې د گناه او خيانت احساس کاوو، الله تعالى ورته په صريحو الفاظو د دې اجازه ورکړه او وئې فرمايل چي مېرمن د خاوند لپاره او خاوند د مېرمني لپاره له گناهونو نه د حفاظت سبب دئ، داسي لکه لباس چي انسان له تودوخي او يخنى ساتي، همدا راز ئې ورته وويل چي د مباشرت هدف او غايه بايد د اولاد درلودل وي، نه فقط د جنسي غريزې اشباع. دا وضاحت ئې هم وکړ چي د روژې وخت د سباوون د سپيني گاري له راڅرگندېدو د شپې تر پيل پوري دئ، شپه د لمر په لوېدو سره پيل کېږي، د الله تعالى هغه بنده خوښېږي چي نه په دين کي څه زياتوي او نه څه کموي، هغه چي د روژې حدود مراعاتوي، نه څه پرې زياتوي او نه ئې ترې کموي، نه د روژې پيل تر خپل ټاکلي وخت ډېر وړاندي نيسي او نه ئې پاى تر خپل ټاکلي وخت ډېر وروسته، دا ځکه چي دا کار د دې نښه ده چي هغه د بې ځايه تقوى په نامه په دين کي له ځانه څه نه دي زيات کړي، د اکثرو امتونو انحراف له همدې ځايه پيل شوى، مذهبي مشرانو او علماوو ئې له خپل لوري په دين کي زياتوالى راوستى، د قرآن په اصطلاح د خلکو پېټي ئې درانه کړي او په لاس پښو کي ئې ورته زنځيرونه او زولني اچولي، د هر پيغمبر يوه لويه دنده دا گڼي چي راغلى ترڅو دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو راکوز کړي او دا زنځيرونه وشلوي. پيغمبر عليه السلام به د لمر له لوېدو سره سم خپله روژه ماتوله.

ج: د دوى يو بل دليل دا دئ چي وايي: په قرآن کي ټول احکام نه دي راغلي، ځيني احکام داسي دي چي يوازي ئې په احاديثو کي موندلى شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره وايي: په قرآن

کي يوازې هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چي د ذبحي پر مهال ئې د الله تعالی نوم ياد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آيت نه بلکي د پيغمبر عليه السلام حديث دئ، په ډېر زور شور سره وايي: راوښيئ د قرآن کوم آيت دا استثناء جائز ګڼي؟!! دوی ته په ځواب کي وايو: په قرآن کي دا استثناء شته خو څه وکړو چي تاسو نه يئ ورته متوجه شوي! قرآن کب (ماهي) د لحماً طرياً يعني تازه غوښي په نامه ياد کړی او دا ښيي چي ماهي د تازه او پاکي غوښي حکم لري، پيغمبر عليه السلام د قرآن دغي وينا ته په پام سره ويلي چي ماهي له ذبحي پرته حلال دئ. دوی دا هم وايي چي اهلي خر د حديث له مخي تحريم شوی نه د آيت له مخي، دوی ته وايو: ټول محقق علماء وايي چي اهلي خر له هره پلوه صحرايي خره ته ورته دئ، په څارويو کي شمېرل کېږي، واښه خوري او داړي نه لري، د حرمت دليل ئې فقط دا دئ چي دا هغه مهال د سورلی مهمه وسيله وه، رسول الله ﷺ د خيبر د جګړي په ورځ د هغه غوښه تحريم کړه، ځکه ځينو صحابه وو په غنيمت نيول شوي اهلي خره ذبح او پاخه کړي وو، رسول الله ﷺ ته اطلاع ورسېده او د حرمت امر ئې وکړ. دا حرمت داسي دئ لکه د آس د غوښي حرمت.

د: دوی دا هم وايي چي د ورېرې او عمه، خورزې او خاله د يو ځايي نکاح يادونه په قرآن کي نه ده شوې او حرمت ئې يوازې د حديث له مخي ثابت دئ!! يعني د هغو دوو ښځو يو ځايي نکاح جائزه نه ده چي په خپلو کي ورېره او عمه يا خورزه او خاله وي، دا چي د دې حرمت منشأ قرآن دئ او که له قرآن پرته بېله او مستقله وحي، بايد ووايم: د دې منشأ په خپله قرآن دئ، رسول الله ﷺ دې ته په پام سره چي د دوو خويندو، د ښځي او د دې د مور، د ښځي او د هغي د لور يو ځايي نکاح حرامه ګڼل شوې، دا وضاحت کړی چي د ټولو هغو ښځو يو ځايي نکاح ناجائزه ده چي که په دوی دواړو کي يو ئې نارينه فرض شي نو په خپلو منځونو کي ئې نکاح جائزه نه وي. ورېره او عمه، خاله او خورزه داسي دي چي که يو ئې نارينه وي نو د دواړو ترمنځ نکاح ناجائزه ده، نو د دوی يو ځايي نکاح ناجائزه ده. د هغو خلکو ادعاء بې بنسټه او له ځانه جوړه کړې ادعاء ده چي وايي د دوی حرمت د مستقلي وحي له مخي ثابت شوی نه د قرآن له مخي!! حال دا چي قرآن د ټولو قضاياوو په اړه اصول وضع کړي، رسول الله ﷺ دغه اصول تشريح کړي او تفصيلات ئې موږ ته بيان کړي، قرآن د مور او لور يادونه کړې او ويلي ئې دي (حرمت عليكم امهاتكم و بناتكم) خو د انا او لمسی يادونه ئې نه ده کړې، هر عاقل انسان پوهېږي چي د انا حکم د مور په څېر دئ او د لمسی حکم د لور په څېر. د فروعاتو او تفاصيلو په اړه د رسول الله ﷺ د لارښوونو منشأ په خپله قرآن دئ نه مستقله او بېله وحي، که دا مستقله وحي وی نو رسول الله ﷺ به ويلي وو چي ما ته وحي شوې چي داسي نکاح حرامه ده.

هـ: دوی دا ادعاء هم کوي چي په قرآن کي د لمانځه د ترتيب، اوقات او د رکعتونو د شمېر په اړه واضح لارښووني او احکام نه مومو، رسول الله ﷺ د مستقلي وحي له مخي په دې اړه موږ ته لارښووني کړې... دوی ته وايو: ستاسو دا ادعاء هم د نورو په څېر بې بنسټه ده، رسول الله ﷺ د لمانځه هر څه له قرآن اخيستي، د الله په نامه د لمانځه پيل، قيام، تلاوت، رکوع، سجده، په رکوع او سجده کي تسبيحات، د لمانځه پنځه وختونه او د رکعتونو شمېر؛ دا ټول هغه څه دي

چې په قرآن کې ورته یا په ډېر وضاحت سره یا تلویحاً اشاره شوې، په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چې حدیث د قرآن شرح او تفسیر دئ، د هر حدیث منشأ په قرآن کې شته، خو موږ د ځینو منشأ درك کولی شو او د ځینو نه، ځیني ئې داسي دي چې یوازې د قرآن لوموړني مفسر او حامل رسول الله ﷺ پرې پوهېدو او ځیني ئې داسي چې هر څوك پرې پوهېږي.

و: دوی د خپلې غلطې عقیدې په دفاع کې پر یوه بل آیت هم ناسم استناد کوي چې وایي:

وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍ ۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَا ۖ قَالَ نَبَّأَنِىَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ۝٣

التحریم: ٣

او کله چې پیغمبر له خپلو ځینو مېرمنو سره یوه خبره په سرې توګه یاده کړه، نو کله چې هغې دا خبره (نورو ته) بیان کړه او الله دی پرې پوه کړ، یوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلې ئې ډډه وکړه، نو کله چې ئې هغه پرې خبره کړه وئې ویل: چا دا خبره درته وکړه؟ وئې ویل: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم.

دوی د دې آیت پر دغې فقرې (قَالَ نَبَّأَنىَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ) استناد کوي او وایي: په قرآن کې دا مطلب نه دئ راغلی چې الله تعالی رسول الله ﷺ ته دا خبر ورکړ چې هغې مېرمنې ئې نورو ته هغه سرې خبره افشاء کړې، او ګواکې له دې معلومېږي چې رسول الله ﷺ ته په دې اړه بېله وحي شوې!!

دوی ته وایو: ستاسو دا استدلال هم د نورو په څېر په بشپړه توګه غلط دئ، رسول الله ﷺ نه دي ویلي چې ما ته الله تعالی مخامخ او بلاواسطه وویل، که داسې وی نو هغه به فرمایلي وو: قال لي ربي: زما رب راته وویل، دا ئې هم نه دي ویلي چې ما ته ئې په خپله یا د فرشتې په واسطه وحي وکړه، که داسې وی نو هغه به فرمایلي وو: اوحی إلي: ما ته ئې وحي وکړه، رسول الله ﷺ فرمایلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم، د دې معنی قطعاً دا نه ده چې الله تعالی ما ته بلاواسطه او مخامخ یا د فرشتې له لارې اطلاع راکړه، په حقیقي معنی ئې هر هغه څوك پوهېږي چې د آیت نورې فقرې هم په پام کې ونیسي، مخصوصاً دا فقره چې وایي: وَ أَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ: او الله دی پرې پوه کړ، یعني الله تعالی داسې انتظام وکړ چې رسول الله ﷺ له موضوع خبر شي، په قوي احتمال سره دا اطلاع د هغه چا له لورې ورکړی شوې چې دا خبره ئې اورېدلې وه، داسې بالواسطه خبرېدا الله تعالی ته منسوبول نه د حقیقت خلاف انتساب دئ او نه دروغ ګڼل کېدی شي، د کوم انسان په واسطه له کومې خبرې خبرېدل په حقیقت کې د الله تعالی په اراده او توفیق ترسره کېږي، د (أَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ) معنی همدا ده. په آیت کې ویل شوي: رسول الله ﷺ له اړوند مېرمنې پوښتنه وکړه چې ولې دې هغه سرې خبره افشاء کړې، خو دا ئې ترې پټ کړل چې چا اطلاع ورکړې، د آیت دا فقره چې وایي: عَرَّف بَعْضهُ وَ أَعْرَض عَن بَعْضٍ: یوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلې ئې ډډه وکړه، په یقیني توګه همدا مطلب افاده کوي، او په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې په داسې مواردو کې د هغه چا د نامه له افشاء کولو ډډه وکړئ چې که ئې نوم افشاء شي په فتنې او د دوو تر منځ په زړه بداوي او نزاع منتج کېږي. عجیبه ده

چې دوی د دې مبارك آيت له څرګندو الفاظو داسې غلطه انتباه اخلي!!
ز: دا هم بايد دوی ته وواېو چې د قرآن د دې آيت په اړه د دوی تعبير کاملاً غلط دئ چې وايي:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝٤ النجم: ٣-٤

د خپل هوس له مخې خبرې نه کوي، دا خو له هغې وحې پرته بل څه نه دي چې ده ته وحې کېږي.

د دې مبارکو آيتونو معنی دا ده چې د رسول الله ﷺ له لورې وړاندې شوی قرآن د ده خپل کتاب او د ده د وېناوو مجموعه نه دئ، دا خو يوازې هغه وحې ده چې د يوه پياوړي او شديدالقوی ملك له لورې ده ته وحې شوی، دلته په (هو) سره قرآن ته اشاره شوې نه بل څه ته او نه د رسول الله ﷺ هرې وينا ته، د رسول الله ﷺ ډېرې وېناوې نه وحې وې او نه د وحې شرح او تفسير، بلکې د ده خپلې خبرې وې، دا درې بايد سره خلط نه کړو، قرآن وحې ده، حديث د وحې شرح او تفسير دئ، او پر دې دواړو سربېره رسول الله ﷺ په خپل شخصي ورځني ژوند کې ډېرې داسې خبرې کړې چې نه د وحې نوم ورکولی شو او نه ئې د وحې شرح او تفسير ګڼلی شو، لکه دا چې رسول الله ﷺ هره ورځ چا ته د کوم کار کولو سپارښتنه کړې، څه ئې د خوراك او څښاك لپاره غوښتي، د کوم جنګ پرېکړه ئې کړې، کومه ډله ئې کوم لورې ته لېږلې، د ډلې غړي ئې غوره کړي، او دې ته ورته نور کارونه، آيا ويلی شو چې دا هره وينا ئې د وحې له مخې وه؟! جبرئيل صلعم ورته راغلی او دا لارښووني ئې هغه ته کړې؟!!

که رسول الله ﷺ ته پر قرآن علاوه نوره وحې هم شوې وی نو رسول الله ﷺ به د هغې د ليکلو او نورو ته د رسولو په اړه دومره جدي اهتمام کړی وو لکه چې د قرآن په اړه ئې کاوو، ولې به ئې صحابه وو ته ويل: زما حديث مه ليکئ، چا چې له قرآن پرته بل څه ما ته منسوب کړي او ليکلي ئې دي هغه دې له منځه يوسي!! څنګه به رسول الله ﷺ د الهي وحې له کتابت ممانعت کولو او حتی د هغه د محو کولو سپارښتنه به ئې کوله؟!! رسول الله ﷺ خو د وحې په اړه دومره جدي اهتمام کولو چې لا به د فرشتې له لورې د هغې القاء پای ته نه وه رسېدلې چې ده به له ځان سره تکراروله او د حفظولو هڅه به ئې کوله، د ده دغې تلوسې او تلوار ته په پام سره الله تعالی هغه ته لارښوونه وکړه چې تلوار مه کوه، پرېږده چې فرشته د وحې القاء پای ته ورسوي، ډاډه اوسه چې ستا په زړه کې د هغې جمع کول او ستا پر ژبې د هغې بيانول زموږ پر ذمه دي، د وحې متصل به ئې هغه هم د وحې کاتبانو ته ويله او هم خپلو صحابه وو ته، ځينو به ليکله او ځينو به حفظوله، آيا دا کافي نه ده چې وواېو: د رسول الله ﷺ حديث د وحې شرح او تفسير دئ نه بېله او مستقله وحې؟!!

دې جنابانو ته وايو: ستاسو د دغو ادعاګانو معنی دا ده چې ګواکې قرآن ناقص دئ او په حديث سره بشپړ کېږي، ګواکې قرآن د لارښود په توګه کافي نه دئ او ګواکې د ځينو امورو په اړه په قرآن کې لارښووني نشته، حديث دا نقص پوره کوي!! موږ الله تعالی ته له داسې غلطې وينا پناه وړو، هغه قول او وينا پر دېوال وهو چې قرآن ته نقص منسوبوي، قرآن کامل او بشپړ دئ، قرآن د لارښود په توګه کافي دئ، ټولې هغه ضروري لارښووني په قرآن کې راغلې چې انسان ورته ضرورت لري، د آدم صلعم له پيدايښت بيا د رسول الله ﷺ تر رحلت پورې چې د الله

تعالی له لوري پیغمبرانو ته د احکامو او هدایاتو کومه وحي شوې او کومي لارښووني شوې، قرآن پر ټولو دغو احکامو او لارښوونو احتوی کړې، قرآن پر ټولو مخکنیو کتابونو محیط او مهیمن دئ، داسي څه نه دي پاته چي قرآن دي نه وي بیان کړي، خو د رسول الله ﷺ په څېر یو امین او رښتیني حامل او شارح غواړي چي په خپل قول او عمل کي د هغه شرح او تفسیر د قرآن د ټولو مخاطبینو په وړاندي کېږدي، دا هم نه له دې کبله چي قرآن په کافي پیمانه واضح او مفصل نه دئ بلکي له دې کبله چي ځیني مخاطبین ئې د فهم له پلوه نقص لري، او شرح او تفصیل ته ضرورت لري. دا د قرآن په اړه زموږ شخصي وینا او ادعاء نه ده، الله تعالی قرآن په همدغه توګه معرفي کړی، د قرآن په اړه په قرآن کي داسي لولو:

.... وَكُلَّ شَىْءٍ فَصَّلْنَهُ تَفْصِيلاً *

الاسراء: ۱۲

او هر څه مو په تفصیل سره بیان کړي.

یعني په قرآن کي هر څه په بشپړ تفصیل سره راغلي.

أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِى حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَـٰبَ مُفَصَّلاً ۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾

الانعام: ۱۱٤

آیا له الله پرته بل حَکَم ولټوم؟ حال دا چي (الله) همغه ذات دئ چي دا مفصل کتاب ئې درته رالېږلی، او چا ته چي د کتاب (علم) ورکړی شوی په دې پوهېږي چي په رښتیا سره دا ستا د رب له لوري نازل شوی دئ، نو له شك کوونکو څخه مه کېږه.

په دې مبارك آیت کي رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چي مخالفینو ته ووایي: آیا له الله تعالی پرته بل حَکَم ځان ته ولټوم؟ آیا خپل ژوند د بل چا د حکم او دستور مطابق تنظیم کړم؟ آیا په ژوند پوري مربوط قضایا د بل چا د قانون مطابق حل و فصل کړم؟ په داسي حال کي چي الله تعالی د دې مقصد لپاره مفصل او جامع کتاب رالېږلی، د داسي جامع او مفصل کتاب په شته والي کي به څنګه او ولي بل چا ته رجوع کوم؟! چا ته چي د کتاب علم ورکړی شوی په دې پوهېږي چي دا مفصل او جامع لارښود کتاب ستا د رب له لوري نازل شوی، نو د دوی مخالفت دي تا په شك کي وانه چوي.

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً ۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَـٰتِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾ **الانعام:**

۱۱۵

او ستا د رب کلام د صداقت او عدالت له پلوه بشپړ دئ، هیڅوك ئې د پرېکړو بدلوونکی نشي کېدی، او هغه پوه اورېدونکی دئ.

دلته د دې الهي کتاب په اړه څو خبري شوې:

- **دا ستا د رب کلام دئ.**

- **هره خبره ئې په بشپړه توګه رښتينې ده.**
- **هر قضاوت او حکم ئې په بشپړه توګه عادلانه دئ.**
- **هيڅوك ئې د پرېکړو، وعد او وعيد د تحقق مخه نشي نيولی.**
- **الله تعالی چې په دې کتاب کې څه ويلي، که دا د مؤمنانو او کافرانو د قول او عمل په اړه دي، که د توحيد او شرك، حق او باطل، دنيا او آخرت په اړه دي، که د خلکو د عملونو د پايلو او عواقبو په اړه دي، ټول حق او رښتيني دي او دا د هغه ذات له لوري ويل شوي چې پوه اورېدونکی دئ.**

.... ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٣﴾

المائدة: ۳

.... نن مو ستاسو دين درته بشپړ کړ او خپل نعمت مې درباندې پوره کړ او اسلام مې د دين په توګه درته غوره کړ، خو که څوك په سخته لوږه کې اړ شو، په داسې حال کې چې د ګناه په لوري تلوسه کوونکی نه وي، نو الله مهربان بخښونکی دئ.

يعنې د دغو احکامو او لارښوونو په راتلو سره ستاسو دين بشپړ شو، الله د دين د بشپړتيا او پر کافرانو ستاسو د برلاسې په نتيجه کې خپل ستر نعمت او پېرزوينه درباندې مکمله کړه، اوس نو کافرانو ته له يأس او ناهيلې پرته بل څه نه دي پاته، نه پر تاسو د بريا طمع کولی شي او نه خپل دين ته ستاسو د راګرځولو هيله ساتلی شي.

د مستندو رواياتو له مخې پيغمبر عليه السلام د حجة الوداع په تاريخي خطبې کې د دې آيت دغه برخه ولوسته (اليوم اکملت لکم دينکم و اتممت عليکم نعمتي و رضيت لکم الاسلام دينا) له دې معلومېږي چې يا خو د آيت دا برخه په دغه وخت کې نازله شوې او يا له دې مخکې او د آيت له نورو برخو سره يو ځای. او دا ښيي چې قرآن کامل او بشپړ دئ، هيڅ نقص او کموالی په کې نشته.

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ
 **أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥١﴾**

العنکبوت: ۵۰-۵۱

او وئې ويل: ولې د خپل رب له لوري څرګندې نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ ووايه: يقيناً چې نښې خو له الله سره دي، او زه يوازې يو څرګند نذير يم، آيا دا ورته کفايت نه کوي چې موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، يقيناً چې په دې کې د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

دا آيتونه وايي: چا چې له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي؛ نه په دلائلو قانع کېږي او

نه په معجزو، دا دئ ګورئ چې د قريشو په وړاندې د رسول الله ﷺ په ځېر ستر شخصيت ولاړ دئ، د الله تعالى لورې ته بلنه ورکوي، د قرآن په څېر له معجزو ډک کتاب ورته وړاندې شوى، خو هغوى نه يوازې له ايمان راوړو ډډه کوي بلکې له رسول الله ﷺ د داسې خارق العاده معجزو غوښتنه کوي چې د دوى شيطان پرې قانع شي، وايي: ولې د ده د رب له لورې څرګندې نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ الله تعالى د دوى په ځواب کې رسول الله ﷺ ته لارښوونه کوي چې ورته ووايي: يقيناً چې نښې خو له الله سره دي، او زه يوازې يو څرګند نذير يم، له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د ښودلو واک، زه فقط يو نذير يم چې د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو تاسو ته خبرداری درکوم. د دوى د غلطې غوښتنې په ځواب کې فرمايي: آيا د دوى د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډک کتاب چې ته ئې پرې لولې کفايت نه کوي؟!! يقيناً چې په دې کې د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً (رحمت) او (ذکر) دئ، هغه چې د ايمان راوړو استعداد او وړتيا ئې نه ده ځپل شوې هغوى به هرومرو دا کتاب د الله تعالى يوه لويه پېرزوينه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

يعنې په چا کې چې د ايمان راړولو استعداد وي هغه ته دا کتاب په خپله د معجزې او دليل په توګه کافي دئ، تر دې لويه او ستره معجزه نشته. که څوك لږ له شفاف ذهن سره او د حق موندلو له تلوسې او تندې سره قرآن ته رجوع وکړي نو يقيناً چې د قرآن هره وينا به د دې عالم او د عالم د هر څه په اړه هومره علمي او دقيقه وهومي چې ورته ثابتوي دا کتاب هغه چا نازل کړی چې د دې ټول عالم او د عالم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا کتاب د هغه چا له لوري راغلى چې علم ئې په زمان او مکان پوري محدود نه دئ، هيڅ شی او حقيقت ئې ترې پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندې داسې حجاب نشته چې د يوه شي په حقيقت د پوهېدو مانع شي، موږ په دې کتاب کې ګورو چې د هر څه په باب ئې هره وينا او قضاوت دقيق او صحيح دئ، دا دقيق او سل په سلو کې صحيح او علمي قضاوتونه او پرېکړې موږ ته ثابتوي چې د دې کتاب لېږونکی د هر څه په اړه جامع او کامل علم لري، له دې ناحيې قرآن معجزه ده او د پيغمبر عليه السلام په حقانيت شهادت ورکوي. له دې مبارك آيت معلومېږي چې قرآن له هره پلوه کافي دئ.

وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ 

النحل: ٦٤

او پر تا مو دا کتاب يوازې د دې لپاره نازل کړی چې دوى ته هغه څه څرګند کړې چې اختلاف ئې په کې کړى، او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ايمان راوړي.

يعنې کوم پيغمبران چې تر تا د مخه لېږل شوي وو او د دوى په لاس کومې لارښوونې مخکنيو ته لېږل شوې وې، هغوى د خپلو پيغمبرانو لارښوونې شا ته وغورځولې، په اختلافاتو کې ونښتل، دا انحراف او اختلاف هغه پړاو ته رسېدلې چې د نوي پيغمبر له بعثت او د نوي کتاب له رالېږلو پرته ئې په بل څه علاج ممکن نه وو، الله تعالى ستا په بعثت او ستا په لاس د

قرآن په لېږلو سره هغو کسانو ته لارښوونه کوي او له خپل رحمت او پېرزويني ئې برخمن کوي چې ايمان راوړي. دا داسې ده لکه چې الله تعالی له آسمانه باران وروي او په دې باران سره زمکه له خپلې مړينې وروسته بيا راژوندۍ کوي، قرآن هم د انسان لپاره د ژوند تومنه ده، الله تعالی په همدې قرآن سره مړه زړونه راژوندي کوي، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چې اوري.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر آيتونه وايي: قرآن کامل دئ، هر څه ئې په تفصيل سره بيان کړي، د هر اختلاف په اړه که فکري وي، که حقوقي وي او که سياسي او اجتماعي، وروستۍ سمه پرېکړه کوي او وروستۍ صحيح قضاوت وړاندې کوي، تر هرې معجزې ستره معجزه ده، له هره پلوه کافي دئ او د انسان ټولو ضروري اړتياوو ته ځواب وايي. آيا د قرآن په اړه د الله تعالی له دې ويناوو سره سره دا لوی او ستر ظلم نه دئ چې څوك ووايي: قرآن ناقص دئ او په حديث سره ئې نقص او کموالی رفع شوی؟!!

قرآن کافي، مکمل او بشپړ دئ خو د رسول اللهﷺ په څېر يوه حامل او شارح ته ضرورت وو چې هغه خلکو ته ورسوي او ټول جامع مطالب ئې تشريح کړي. رسول اللهﷺ د الله تعالی هغه امين رسول او استازی دئ چې خپل لارښود پيغام ئې د ده په لاس خپلو بندګانو ته لېږلی، هغه د دې الهي پيغام هم امين حامل دئ او هم ئې ربنتينی شارح، داسې حامل چې په بشپړه توګه ئې عمل پرې کړی او په دقيقه توګه ئې خلکو ته قولاً او عملاً تشريح کړی، دې الهي پيغام داسې يوه امين حامل او ربنتيني عامل ته ضرورت درلود چې د ده په قول او عمل کې عيني تجسم ومومي، داسې چې که څوك وغواړي پوه شي چې الله تعالی څنګه انسان، له کومو فکري، اخلاقي او عملي ځانګړتياوو سره خوښوي نو ورته وويل شي: داسې انسان لکه د دې لارښود الهي کتاب لومړنی حامل، لکه رسول اللهﷺ، که ووايي: د الله تعالی صحيح لمانځنه او عبادت به څنګه وي، ځواب ئې دا وي: همغسې لکه چې رسول اللهﷺ د خپل رب عبادت او لمانځنه کوله، که پوښتنه وکړي: کوم څه حلال دي او کوم څه حرام، ځواب ئې دا وي: همغه څه چې رسول اللهﷺ د دغه الهي کتاب په رڼا کې د حلال او حرام په سترګه ورته کتلي، هو؛ رسول اللهﷺ يعني مجسم او ژوندی قرآن، همغسې لکه چې عائشه صلى وايي: کان خلقه القرآن: قرآن د ده اخلاق وو، يعني که غواړې پوه شې چې د رسول اللهﷺ اخلاق څنګه وو، تقوی ئې څنګه وه، عبادت ئې څنګه، جهاد ئې څنګه، صبر ئې څنګه او جرأت ئې څنګه وو او په کومو کومو صفاتو متصف وو، نو ځواب دا دئ: قرآن ولوله او وګوره چې الله تعالی کوم صفات خوښوي، رسول اللهﷺ په ټولو دغو صفاتو متصف وو. موږ د رسول اللهﷺ په کامل اطاعت مکلف يو، د ده اطاعت داسې دئ لکه د الله تعالی اطاعت، دا ځکه چې دی د الله تعالی استازی دئ او هره وينا او عمل ئې د الهي لارښوونو مطابق، د رسول اللهﷺ هره وينا او هر عمل موږ ته حجت دئ.

د دغو څرګندو دلائلو په رڼا کې په بشپړ يقين او اطمئنان سره ويلی شو چې د رسول اللهﷺ سنت (قول او عمل) ته بايد د قرآن د شرحې او تفسير په سترګه وګورو نه د مستقلې وحې په سترګه، هغه رأيه صحيح او د قرآن د وينا مطابق ده چې وايي: رسول اللهﷺ ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن دقيق او ربنتينی فهم، او د رسول اللهﷺ حديث د قرآن شرح او تفسير دئ، او هغه رأيه بې بنسټه او له ځانه جوړه شوې رأيه ده چې وايي: رسول اللهﷺ ته پر قرآن سربېره داسې

وحي هم شوې چې د احکامو منشأ ده، او د رسول اللهﷺ حديث د دې وحي مظهر دئ.

له دې بايد ډېره وکړو چې ووايو: قرآن کافي نه دئ، بايد پر دې ټينګار وکړو چې قرآن کافي او شافي دئ، په قرآن کې هر څه راغلي، دا د قرآن په اړه د الله تعالی وينا او لارښوونه ده، دا د قرآن په اړه د رسول اللهﷺ وينا ده، څوك چې له قرآن پرته په بل څه کې هدايت ولټوي الله تعالی ئې بې لارې کوي. د حديث په اړه بايد زموږ عقيده دا وي چې حديث د قرآن شرح او تفصيل دئ، رسول اللهﷺ د قرآن حامل، شارح، معلم او مفسر دئ، وحي په قرآن کې راخلاصه شوې، څه چې رسول اللهﷺ ته وحي شوي ټول په قرآن کې راغلي، د رسول اللهﷺ ټولې ويناوې او کړنې د قرآن مطابق دي، داسې صحيح حديث نشته چې منشأ ئې په قرآن کې نه وي، هغه روايت چې له قرآن سره تعارض ولري رسول اللهﷺ ته منسوبول ستر جسارت دئ، له دې بايد تل او په جدي توګه ډېره وکړو، ټول فقهاء او محدثين په دې متفق دي چې صحيح حديث هغه دئ چې نه له قرآن سره تعارض ولري او نه له عقل سره، د روايت سند په درېيمه درجه کې اهميت لري، کوم روايت چې په قرآن کې شاهد ونه لري، له عقل سره اړخ نه لګوي او د عام الهي سنت خلاف خبره کوي نه يوازې د اعتبار وړ نه دئ بلکې رسول اللهﷺ ته ئې منسوبول ستره ګناه ده، هر څه بايد قرآن ته راجع کړو او هغه مهال ئې ومنو چې له قرآن سره مطابقت ولري يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري. دا روحيه خلکو ته ورکول چې قرآن کافي نه دئ د هغو ضاله ډلو تبر ته لاستی برابروي چې قرآن شا ته غورځوي او په جعلي رواياتو پورې نښلي، داسې وينا نه يوازې بد عواقب لري بلکې د قرآن د صريحو او څرګندو آيتونو خلاف وينا ده.

دلته دا وضاحت هم ضروري برېښي چې دا ادعاګاني د يوه داسې پاکستاني مبلغ له لورې کېږي چې په خرافاتو کې تر ستوني غرق او د شرك مبلغ دئ، انګرېزانو يو ټلويزيوني چينل ورکړی، مرکز ئې په لندن کې دئ، هره ورځ د ده ويناګانې خپروي، باور وکړئ ډېر ځلې داسې شوي چې ما کله د کوم آيت په اړه د ده تفسير اورېدلی نو بلااختيار مې له خولې وتلي: ظالمه! دروغ وايې، تفسير دې په بشپړه توګه غلط دئ، ما اکثراً د ده تفسير داسې موندلی لکه څرګند او له غرض او مرض ټوکېدلی تحريف!!

ده او د ده پلويانو ته وايو: تاسو څنګه حديث ته د غير متلو وحي يا وحي خفي نوم ورکوئ او قرآن د وحي جلي او وحي متلو په نامه يادوئ؟ دا تسميه او نومَوَنې د چا له لورې شوې او دا نومونه چا غوره کړي؟ په قرآن او حديث کې خو په قطعي توګه دا نومَوَنې نشته، موږ هم حديث لولو، هم ئې ليکو او هم ئې حفظ کوو، ولې دې ته د غير متلو نوم ورکوئ؟ غير متلو خو هغه څه ته ويل کېږي چې څوك ئې په خوله نه تکراروي او له لوستلو او ويلو ئې ډېره کوي!! تاسو ولې وحي ته د جلي صفت ورکوئ؟ پر وحي د جلي اطلاق په بشپړه توګه غلط اطلاق دئ، وحي هغه رمز او اشارې ته وايي چې د جلي خلاف او خفي وي!! آيا صحيح ده چې د هر ژبې کتاب په حاشيې کې راغلی مطلب داسې سپېڅلی وګڼو چې مخالفت ئې کفر بواح وګڼو؟!! يو څوك پورته شوی او له ځانه ئې دا اصطلاحات رااېستلي او ته اوس داسې پرې ټينګ يې چې د قرآن تر آيت هم درته مهم برېښي!! جنابه! ستا ئې خوښه خو موږ دا اصطلاحات درسره نه منو ځکه په بشپړه توګه او له هره پلوه غلط دي!!

دې ته مو پام وي چې د رسول اللهﷺ له رحلت وروسته ځينې غلط افکار او باورونه په

مسلمانانو كي خواره شول، ځينو خلكو به ويل: رسول اللهﷺ ته له قرآن پرته نوره وحي هم شوې، خو هغه ئې يا پټه ساتلې يا ئې ځينو خاصو وګړو ته ويلې، ګواكي وحي په قرآن كي نه راخلاصه كېږي، ځينو به ويل: رسول اللهﷺ الله تعالى په خپلو سترګو ليدلى، ځينو نورو به ويل: رسول اللهﷺ په غيب پوهېدو!! عائشې صلى دغو غلطو او د قرآن خلاف افكارو او باورونو د ترديد لپاره مسروق ﷻ ته وويل: د دې خبرې په اورېدو مي وېښتان زيږ شول، رسول اللهﷺ نه خپل رب په خپلو سترګو ليدلى، نه له قرآن پرته داسې وحي شته چي له خلكو ئې پټه ساتلې وي او نه پر غيب پوهېدو. چا چي دا خبري وكړې ستر دروغ ئې ويلي!! روايت داسې دئ:

... قَالَ مَسْرُوقٌ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ؟ فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَىْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِى قُلْتُ رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى) قَالَتْ أَيْنَ يُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِى قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ) فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِى صُورَتِهِ إِلاَّ مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِى جِيَادٍ لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الأُفُقَ. الترمذي

... مسروق وايي: عائشې صلى ته ورغلم ومي ويل: آيا محمد (صلعم) خپل رب ليدلى؟ وئې ويل: داسې خبره دې وكړه چي وېښتان مي ورته ځيږ شول، ومي ويل: لږ حوصله وكړه، بيا مي دا آيت تلاوت كړ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى...)، وئې ويل: چېري ئې بېولى يې؟ دا خو جبرئيل وو، چا چي درته وويل: محمد (صلعم) خپل رب ليدلى، يا ئې له هغه وحي كوم څه پټ كړي چي پر ابلاغ ئې مأمور شوى، او يا په هغو پنځو شيانو پوهېږي چي الله تعالى د هغوى په اړه فرمايلي: (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ...) نو ستره بدغوني خبره ئې كړې (ستر دروغ ئې ويلي)، خو هغه جبرئيل ليدلى، په خپلې اصلي بڼې كي ئې يوازې دوه ځلې ليدلى، يو ځل په سدرة المنتهى كي او بل ځل په جياد كي، شپږ سوه وزرې ئې وې، ټول افق ئې پوښلى وو.

په دې اړه له علي ﷻ هم پوښتنه شوې او ورته ويل شوي: آيا د رسول اللهﷺ په اهل بيت كي له تا يا بل چا سره له قرآن پرته بل كتاب هم شته؟ د پوښتنې موخه دا وه چي آيا رسول اللهﷺ ته داسې وحي هم شوې چي تا يا كوم بل خاص كس ته ئې ويلې وي او په قرآن كي د هغې په اړه څه نه وي ويل شوي، روايت داسې دئ:

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ لِعَلِيٍّ هَلْ عِنْدَكُمْ كِتَابٌ قَالَ لاَ، إِلاَّ كِتَابُ الله، أَوْ فَهْمٌ أُعْطِيَهُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ، أَوْ مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ. قَالَ قُلْتُ فَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ قَالَ الْعَقْلُ، وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ. (بخاري:١١١)

له ابو جحيفه روايت دئ چي وايي: علي ﷻ ته مي وويل: آيا كوم خاص كتاب درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مګر د الله كتاب، او هغه پوهه چي يوه مسلمان سړي ته په برخه كېږي او هغه څه چي په دې پاڼې كي دي، وايي: ورته ومي ويل: نو په دې پاڼې كي څه دي؟ وئې ويل: د ديت حكم، د اسير آزادول او دا چي مسلمان د كافر په بدل كي نه وژل كېږي.

ما ته يو چا د همدې موضوع په ارتباط يوه ليكنه رالېږلې وه چي په كي راغلي وو: دوكتور احمد غازي وايي: په سنن ابى داؤد كي دا روايت راغلى: (إني أوتيت القرآن و مثله)، ما

په ځواب کې ورته وليکل: ما دا روايت نه په دې کتاب کې وموند او نه د صحاح سته په پاتې کتابونو کې، البته په ځينو نورو کتابونو کې راغلی، خو دا روايت د سند له پلوه غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کې يوازې يو يو راوي لري، د متن له پلوه دا اشکال لري چې وايي: رسول اللهﷺ ته قرآن ورکړى شوى او د قرآن مثل، د دې معنى خو دا ده چې رسول اللهﷺ ته پر قرآن سربېره کوم بل کتاب هم ورکړى شوى چې قرآن ته ورته دئ!! او دا ادعاء نه د توجيه وړ ده، نه د منلو وړ او نه په ټولو صحابه وو کې بل چا دا خبره کړې، په امت کې له شيعه وو پرته هيڅوك دا خبره نه کوي چې رسول اللهﷺ ته له قرآن پرته بل کتاب هم ورکړى شوى. تاسو د عائشې صلى او علي جلاله دوه روايات هم وليدل چې دغه ادعاء په کلکه ردوي.

- **هغه دا هم ليکلي وو چې دکتور احمد غازي وايي: داسې روايت هم شته چې وايي: پر رسول اللهﷺ څلرويشت زره ځلي وحي نازله شوې!! هغه ته مې وليکل: دا ادعاء او روايت هيڅ بنسټ نه لري، که دا خبره هم ده کړې وي نو معنى ئې دا ده چې ښايي د ده نورې خبرې به هم دې ته ورته وي او په کار ده د ده د ليکنو په اړه محتاط وو او د غير موثق او ضعيف ليکوال په سترګه ورته وګورو!! ما داسې روايت او دې ته ورته د احاديثو په هيڅ کتاب کې ونه موندو، په غالب ګمان چې دا به د شيعه وو له لوري جعل شوى روايت وي، او ښايي د هغوى په کتابونو کې به راغلى وي، ځکه هغوى وايي چې د قرآن د آيتونو اصلي شمېر د اوسنى قرآن تر درې ځلي هم زيات دئ!! يعني نږدې څلرويشت زره!!!**
- **په دې ليکنې کې د الانفال د سورې په دغه آيت هم استناد شوى وو:** (وَ إِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطائفَتَينِ أَنهَا لَكُمْ وَ تَوَدُّونَ أَنَّ غَيرَ ذَاتِ الشوْكةِ تَكُونُ لَكمْ وَ يُرِيدُ اللَّهُ أَن يحِقَّ الْحَقَّ بِكلِمَتِهِ وَ يَقْطعَ دَابِرَ الْكَفِرِينَ) **ګواکي له دې معلومېږي چې غيرمتلو وحي هم شته، په ځواب کې مې ورته وليکل: د (يعدکم الله احدى الطائفتين) معنى دا نه ده چې الله تعالى ټولو صحابه وو ته مخامخ او د وحي له لارې وعده ورکړې يا ئې د رسول اللهﷺ له لارې، معنى ئې دا ده چې الله تعالى دا پرېکړه کړې وه چې د دغو دواړو ډلو (تجارتي قافله او د قريشو مسلح لښکر) له منځه به پر يوې حتماً مسلمانانو ته غلبه او برلاسى ورکوي، دا د الله تعالى غير معلنه وعده وه، چې په قرآن کې ئې ډېرې ښېګې مومو، ځينو دا خوښوله چې له لښکر سره مخامخ نه شي خو الله تعالى همدا غوښتل. د احمد غازي په څېر خلکو ادعاء به په هغه صورت کې د منلو وړ وه چې په قرآن کې د دې وعدې يادونه شوې وى يا رسول اللهﷺ فرمايلي وى چې ما ته الله تعالى وحي وکړه چې له دغو دواړو به حتماً يوه تاسو ته په لاس درځي او الله تعالى دا خوښوي چې تاسو لښکرغوره کړئ، که داسې وى نو په صحابه وو کې به هيچا له قافلې سره د مخامخېدو هيله نه وه کړې، ټولو به په اتفاق سره ويلي وو چې موږ د الله تعالى پر وعدې باور کوو او د لښکر ماتول خوښوو.**

حقيقت دا دئ چې د ټولو جعلي، خرافي او غلطو مذاهبو بنسټ پر دې کچه او غلط باور او دروغجني ادعاء ايښودل شوى چې وايي: د الله کتاب کامل او کافي نه دئ، او الله تعالى نور داسې احکام هم لېږلي چې په قرآن او نورو الهي کتابونو کې ئې يادونه نه ده شوې، هر ټګمار خپل غرضي افکار او هغه غلط آراء چې د الله تعالى له کتاب سره په بشپړه توګه تعارض لري همداسې وحي ګڼلي او جاهلو عوامو ته ئې ويلي: دا هم د الله تعالى له لوري وحي شوي که څه

هم په الهي كتاب كې نه دي راغلي!!! د قاديانت بنسټ په همدې غلط بنياد ايښودل شوی، د شيعه مذهب بنسټ همدا باور دئ، د جاهلو متصوفينو مشرب او مسلك همدا دئ، ټول له دې سره په كلكه مخالفت كوي چې د الله تعالى كتاب وروستى معيار او محك وګڼل شي او وحې په قرآن كې خلاصه كړی شي. كه تاسو شيعه وو ته ووايئ: ولې په داسي څه عقيده كوئ او د خپل مذهب بنسټ ترې جوړوئ چې په ټول قرآن كې معمولي اشاره هم نه ده ورته شوې؟!! په قرآن كې نه د علي ﷺ د امارت يادونه شوې او نه ستاسو د پنځه كلن غائب امام زمان د امامت يادونه، نو ترې وابه ورئ چې د دغو خلكو خبره درته كوي او وايي: وحې په قرآن كې نه ده خلاصه شوې، رسول الله ﷺ ته د علي د امارت وحې هم شوې او زموږ ائمه وو ته د امام زمان د امامت وحې هم!!! كه تاسو قاديانيانو ته ووايئ: قرآن وايي: رسول الله ﷺ خاتم النبيين دئ، د وحې سلسله په قرآن پای ته رسېدلې، نو تاسو ته به ووايي: نه وحې په قرآن كې خلاصه شوې او نه ئې د راتلو لړی پای ته رسېدلې، غلام احمد قادياني ته داسي وحې كېده لكه رسول الله ﷺ ته!! يقيناً چې دا د ټولو خرافي مذاهبو ګډ بنسټ دئ، څوك چې وايي: رسول الله ﷺ ته پر قرآن سربېره وحې شوې هغوی په حقيقت كې د دغو منحرفو او دين دښمنو ډلو ملتيا كوي، د دغو ټګمارانو تبر ته لاستې اچوي او د هغوی غلط مشرب مضبوطوي!!

حقيقت دا دئ چې د ټولو فتنو، انحرافاتو، مذهبي اختلافاتو، فكري او اعتقادي تشنجاتو او د دجالانو او دوكه مارانو د مكرونو د مخنيوي يوازينی، اغېزمنه او ډاډمنه لار دا ده چې قرآن كامل او كافي وګڼو، هغه ته د بشپړ لارښود الهي كتاب په سترګه وګورو، هر اختلاف هغه ته راجع كړو او د هغه فيصله وروستۍ پرېكړه ومنو، باور مو دا وي چې قرآن له نقص او عيب منزه دئ، د هر ډول فكري او اعتقادي اختلاف د حل وروستۍ مرجع او د هري قضيې په اړه د هغه قضاوت او پرېكړه وروستۍ عادلانه او حقيقي پرېكړه ده، د رسول الله ﷺ حديث ته د قرآن د دقيقي او جامع شرحي او تفسير په سترګه وګورو، په دې باور وو چې د قرآن او صحيح حديث تر منځ هيڅكله تعارض او تضاد نشي رامنځته كېدی، يوازي هغه روايت د اعتبار وړ وګڼو چې په قرآن كې كوم شاهد ورته ومومو، يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري، پر الله تعالى او د هغه پر رسول د ايمان حقيقي معنی او د الله تعالى او د هغه د رسول د اطاعت رښتينی مصداق همدا دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الزخرف

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الزخرف) دئ چې د سورې له ۳۵ آیت اخیستل شوی، ۸۹ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (المبین)، او د درېیم آیت (تعقلون) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په منځنیو کلونو کې نازل شوي. داسې معلومېږي چې دا سوره له مخکنیو دریو سورتونو سره په ورته ظروفو او شرائطو کې او یوه په بلې پسې نازله شوې.

دا سوره هم په دوو مقطعاتو حروفو (حاء) او (میم) پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی، باعظمت او له حکمتونو ډك کتاب دئ، په خپله څرګند او د حقائقو څرګندوونکی کتاب، د عقلمنو د لارې مشعل، ۲- تاسو له همدې څرګند الهي کتاب سره د مخالفت لار غوره کړې، له الهي کتاب او له حامل سره ئې همغه څه کوئ چې ستاسو اسلافو کړي، یقیناً چې ستاسو برخلیك به همغسې سپېره وي چې د مخکنیو وو.

د دې سورې خلاصه هم په هغه وروستی آیت کې راغلې چې د ټولې سورې لپاره ښکلې او دقیقه تتمه او خلاصه ده او وایي: نو مخ ترې واړوه او ووایه: سلام، ژر به پوه شي. یعنې د دوی پروا مه کوه، د دوی په اړه اندیښنې پرېږده، اعتناء مه ورته کوه، په یوه سلام سره ترې تېرېږه، مطمئن اوسه چې ډېر ژر به پوه شي چې د دوی کفر، شرك او له حق دین سره مخالفت له کوم شوم برخلیك سره مخامخ کړل.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾ إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٣﴾
وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٤﴾ أَفَنَضۡرِبُ عَنكُمُ ٱلذِّكۡرَ صَفۡحًا أَن
كُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّسۡرِفِينَ ﴿٥﴾

حاء میم، قسم په دې ښکاره کتاب، یقیناً چې موږ هغه یو عربي قرآن ګرځولی ترڅو تاسو تعقل وکړئ او یقیناً چې هغه زموږ خوا ته په اصلي کتاب کې دئ، له شك پرته باحکمت او لوړ دئ، نو آیا له تاسو دا ذکر د مخ اړولو په توګه بند کړو، له دې کبله چې تاسو تېرى کوونکي وګړي یئ؟!

(١-٥)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرئ:

• دا سوره هم د (حاء) او (میم) په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ١- قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی، باعظمت او له حکمتونو ډك کتاب دئ، په خپله ښکاره او د حقائقو ښکاره‌کوونکی کتاب، د عقلمنو د لارې مشعل، لاربښوونې ئې په دې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ٢- تاسو له همدې ښکاره الهي کتاب سره د مخالفت لار غوره کړې، له الهي کتاب او له حامل سره ئې همغه څه کوئ چې ستاسو اسلافو کړي، یقیناً چې ستاسو برخلیك به همغسې سپېره وي چې د مخکنیو وو.

• دلته په مبین کتاب لوړه شوې او ویل شوي: قسم پدې ښکاره کتاب. وروسته د قسم ځواب راغلی او ویل شوي: یقیناً چې موږ دا یو عربي قرآن ګرځولی ترڅو تاسو تعقل وکړئ. یعني دا مبین کتاب په خپله د دې شاهد او ګواه دئ چې د الله تعالی له لوري لېږل شوی، دا د محمد صلعم په خپلو افکارو مشتمل کتاب نه دئ، د الله کتاب دئ، په عربي کې ئې راتګ تاسو پدې شك مبتلا نکړي چې مبادا دا د محمد عربي صلعم خپل کتاب وي، دا خو د دې لپاره موږ په عربي کې لېږلی چې تاسو ئې په مطلب پوه شئ. د دې مبین کتاب هرڅه شهادت ورکوي چې

الله تعالى رالېږلی. د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کي کله قرآن د دې شاهد او ګواه معرفي شوی چي دا د الله تعالى له لوري لېږل شوی او کله د دې خبري چي رسول اللهﷺ د الله تعالى پيغمبر دئ. پدې ټولو قسمونو کي دا ويل شوي چي د قرآن عظمت او شأن، د قرآن حکيمانه لارښووني، ذکر او پند ئي، پدې شهادت ورکوي چي محمد **صلعم** د نورو پيغمبرانو په څېر يو پيغمبر دئ، د ده د پيغمبرۍ د اثبات لپاره قرآن کافي دئ، د ده لار سمه ده او د عزيز رحيم خدای له لوري ښودل شوې لار ده. که څوك قرآن ته رجوع وکړي، په شفاف او صاف ذهن سره هغه مطالعه کړي، په هغه کي له ژور حکمته ډکو لارښوونو ته ځير شي، حکيمانه دعوت ته ئي دقيقاً پام وکړي، علمي څېړني ئې او د طبيعت په اړه د هغه دقيق او عميق علمي بحثونو ته ځير شي او بيا دا کتاب د يوه ستر ليکوال، لوی عالم، معروف حکيم او نوميالي محقق له کتاب او ليکني سره مقايسه کړي، ډېر ژر او په آسانۍ سره به پوه شي چي د کوم انسان له خوا د قرآن جوړېدا محال ده، خبري ئي، لارښووني ئي، مواعظ ئي، پرېکړي او قضاوتونه ئي، احکام او قوانين ئي، استدلال ئي، د طبيعت او هستي په اړه دقيق علمي بحثونه ئي، دا ټول په ځرګنده توګه ښيي چي دا يوه پيغمبر ته د الله له لوري ورکړی شوی کتاب کېدی شي نه د يوه انسان د ذهن زېږنده، که هرڅومره انسان پوه وي او د ډېر اوچت نبوغ خاوند، دا ورته ممکنه نده چي داسي کتاب جوړ کړی شي.

- آيا ستاسو مخالفت او اسراف ته په پام سره خپل برائت او بې زاري اعلان کړو، مخ درنه واړوو، د قرآن د اغېزمنو پندونو له لاري ستاسو لارښوونه متوقف کړو او د پند لړۍ پای ته ورسوو؟! ستاسو د دې تېري او مخالفت معنی او تقاضاء خو همدا ده، خو دا د مهربان رب سنت نه دئ چي د بندګانو د بغاوت له کبله د کتاب لېږلو لړۍ بنده کړي، لکه څنګه چي ئې نن د محمد **صلعم** په لاس قرآن لېږلی همداسي ئې تر دې وړاندي د ډېرو پيغمبرانو په لاس کتابونه لېږلي.

وَكَمۡ أَرۡسَلۡنَا مِن نَّبِيّٖ فِي ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٦﴾ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٧﴾ فَأَهۡلَكۡنَآ أَشَدَّ مِنۡهُم بَطۡشٗا وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٨﴾

او د پيغمبرانو څومره مو په لومړنيو کي لېږلي؟! او هيڅ نبي نه ورتلو مګر پر هغه به ئې استهزاء کوله، نو موږ هغه هلاك کړل چي د لاس اچوني له پلوه تر دوی ډېر پياوړي ول، او د دغو لومړنيو مثالونه تېر شوي.

(٦-٨)- دا مبارك آيتونه وايي:

- الله تعالى په مخکنيو ولسونو کي ډېر پيغمبران لېږلي.
- ډېرو ئې په هر هغه نبي استهزاء کړې چي دوی ته ورغلي.
- له پيغمبرانو **صلی** سره د مخالفت او پر دوی د استهزاء له کبله الله تعالى هغه ولسونه هلاك کړل چي تر قريشو د زور او ځواك له پلوه ډېر پياوړي ول.

- د دغو لومړنيو هلاك شوو ډېر مثالونه تېر شوي.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٩﴾
ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠﴾
وَٱلَّذِى نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَنشَرْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ
﴿١١﴾ وَٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْفُلْكِ وَٱلْأَنْعَٰمِ مَا تَرْكَبُونَ ﴿١٢﴾
لِتَسْتَوُۥا۟ عَلَىٰ ظُهُورِهِۦ ثُمَّ تَذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا ٱسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا۟ سُبْحَٰنَ
ٱلَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ ﴿١٣﴾ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿١٤﴾

او كه ترې وپوښتې: دا آسمانونه او زمكه چا پيدا كړي؛ حتماً به ووايي: ډېر پوه عزتمن ذات پيدا كړي، هغه چې زمكه ئې تاسو ته زانګو ګرځولې او په هغې كې ئې تاسو ته لارې جوړې كړې چې هدايت شئ. او هغه چې له آسمان ئې په تاكلې اندازه اوبه نازلې كړې چې په دې سره مو مړ ښاتوبې ژوندى كړى، همداسې به رااېستل كېږئ، او هغه چې ټولې جوړې ئې پيدا كړې او تاسو ته ئې د كشتيو او څارويو داسې څه پيدا كړي چې پرې سپرېږئ، چې پر شا ئې سم كښېنئ، بيا هغه مهال د خپل رب نعمت درپه ياد كړئ چې پرې سم كښېنئ او ووايئ: سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چې دا ئې موږ ته مسخر كړي په داسې حال كې چې موږ ئې اېلوونكي (تابع كوونكي) نه وو، او موږ د خپل رب لورې ته حتماً بېرته ورګرځېدونكي يو.

(٩-١٣)- دلته د توحيد په اړه د څو مضبوطو دلائلو شاهد يو:

- **په نهم آيت كې راغلي: كه له خپلو مخاطبينو وپوښتې چې دا آسمانونه او زمكه چا پيدا كړي؛ حتماً به ئې ځواب دا وي: ډېر پوه عزتمن ذات پيدا كړي، هيڅ عقلمن انسان له دې پرته بل ځواب نشي ويلى، دا ځكه چې د آسمانونو او زمكې په پيدايښت كې د يوه پوه او غالب ذات**

د قدرت او تصرف څرګندې او انكار نه منونكې نښې او آثار ګورو، له دوو ځانګړتياوو پرته هيڅوك يو وړوكى شى هم نشي جوړولى، له عدم ئې پيدا كول خو آخوا پرېږده، يو (د پيدا كولو اړوند علم) او بل (د پيدا كولو ځواك)، د پيدايښت په اړه خو نن ساينس وايي: انسان نه كوم شى پيدا كولى شي او نه ئې له منځه وړلى شي، د انسان ټول ځواك او توان دومره دئ چې كولى شي يو توكى له يوه حالته بل ته واړوي، نه ئې له عدم هستولى شي او نه ئې نېستولى او معدومولى شي، خاوره د يوې ونې له زړي ستره ونه او لرګى جوړولى شي خو

انسان ئې نشي جوړولی، انسان لرگی سوزولی شي خو په سوزولو سره ئې فقط په غاز او ايرو بدلوي، د لرگي يوه ذره هم په بشپړه توگه له منځه نشي وړلی. آيا د دې پراخ او بې انتهاء عالم پيدايښت د حال په ژبه او په جگ ږغ موږ ته نه وايي چې يوه (عليم او عزيز) ذات پيدا کړی؟

- زمکه داسې جوړه شوې چې د انسان لپاره يوه زانگو وي، په خپلې غيږ کې ئې خوندې وساتي، تولو اړتياوو ته ئې ځواب ووايي، آيا دا ښکارندويه د دې گواهي نه ورکوي چې زمکې ته دا جوړښت (عليم او حکيم) خالق ورکړی؟!!
- په زمکې کې د داسې لارو شاهد يو چې له يوې سيمې بلې ته تگ ئې انسان ته آسان او ممکن کړی، په زمکې کې طبيعي لارې هم مومو او داسې لارې هم چې له طبيعي تسهيلاتو په استفادې سره انسانانو جوړې کړې، که دا طبيعي تسهيلات نه وی نو انسان ته به د داسې لارو جوړول گران او حتی محال وو.
- گورو چې له آسمان په ټاکلې اندازه اوبه راورېږي، د ضرورت په اندازه، نه زياتي او نه کمې، دومره چې د زمکې پر سر د ټولو ژوو اړتيا ته ځواب وايي. په دې اوبو سره مړه زمکه راژوندۍ کړي، د زمکې او آسمان تر منځ دا تنسيق چا رامنځته کړی، په اوبو او خاورې کې دا استعداد چا ايښی، څوك په اوبو سره له مړې خاورې ژوي راباسي؟!!
- آيا هغه ذات چې هره شېبه له مړې خاورې ژوي راباسي له دې عاجز گڼئ چې انسان به له مړيني وروسته بيا راژوندی کوي؟! بايد باور وکړئ چې همداسې به راايستل کيږئ.
- دا جوړه جوړه مخلوقات او ژوي چا پيدا کړي؟ همدا جوړه جوړه پيدايښت هم په طبيعت کې د تکامل اساسي عامل دئ او هم د ژوو د نسل د بقاء او دوام ضامن.
- انسان د سمندري سفرونو لپاره کشتيو ته ضرورت لري او د پراخو بېدياوو په سفرونو کې د سورلی څارويو ته، د زمکې او انسان خالق او پالونکي رب د دواړو بندوبست ورته کړی، انسان ته ئې داسې کشتی او څاروي پيدا کړي چې پرې سپرېږي، د دې الهي نعمت تقاضاء دا ده چې د سپرېدو پر مهال د منعم رب پېرزوينه راپه ياد کړو او ووايو: سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چې دا ئې موږ ته مسخر کړي په داسې حال کې چې موږ ئې اېلوونکي او تابع کوونکي نه وو، او موږ د خپل رب لوري ته حتماً بېرته ورگرځېدونکي يو.

وَجَعَلُواْ لَهُۥ مِنۡ عِبَادِهِۦ جُزۡءًاۚ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا
يَخۡلُقُ بَنَاتٖ وَأَصۡفَىٰكُم بِٱلۡبَنِينَ ﴿١٦﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحۡمَٰنِ مَثَلٗا
ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾ أَوَمَن يُنَشَّؤُاْ فِي ٱلۡحِلۡيَةِ وَهُوَ فِي ٱلۡخِصَامِ
غَيۡرُ مُبِينٖ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمۡ عِبَٰدُ ٱلرَّحۡمَٰنِ إِنَٰثًاۚ أَشَهِدُواْ خَلۡقَهُمۡۚ

سَتُكۡتَبُ شَهَٰدَتُهُمۡ وَيُسۡـَٔلُونَ ﴿١٩﴾

او ده ته ئې د ده له بندګانو يوه برخه ټاکلې، يقيناً چې انسان څرګند ناسپاس دئ، آيا له هغه څه ئې لونړې نيولې چې دی ئې پيدا کوي او تاسو ته ئې په زامنو سره غوره والی درکړی؟ او کله چې د دوی کوم يوه ته په هغه څه زېرې ورکړی شي چې رحمن رب ته ئې د مثال په توګه منسوب کړی مخ ئې تك تور شي په داسې حال کې چې د غمونو زغمونکی وي، آيا هغه چې په ګاڼې کې وده کوي او هغه په شخړې کې ناڅرګند وي؟! او هغه فرښتې ئې ښځينه ګڼلې دي چې د رحمن بندګان دي، آيا د دوی د پيدايښت ئې مشاهده کړی، حتماً به ئې شهادت وليکل شي او وبه پوښتل شي.

(١٥-١٩)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- **مشرکينو د الله تعالی له بندګانو ځيني د ده جزء ګڼلی، د دې وينا څو تعبيرونه کېدی شي: ١- د الله تعالی ځيني بندګان ئې د الله تعالی زامن ګڼلي، ٢- ځيني بندګان ئې د ده لونړې ګڼلې دي، ٣- ځيني بندګان ئې د ده د خاصې کورنۍ غړي ګڼلي دي، ٤- ځيني بندګان ئې د ده ځای ناستي او په الوهيت او ربوبيت کې د الله تعالی شريکان او سيالان ګڼلي، د ربوبيت يوه برخه ئې الله تعالی ته پرېښې او نورې برخې ئې پر خپلو جعلي معبودانو وېشلې. په دې تعبيرونو کې تر ټولو غوره ئې څلورم تعبير دئ، په دوو دلائلو: ١- له بعدې فقرې سره چې وايي: (يقيناً چې انسان څرګند ناسپاس دئ) همدا تعبير اړخ لګوي، ٢- د لونړو يادونه وروسته راغلې.**
- **مشرکينو فرښتې د الله تعالی لونړې ګڼلې، د دوی په ځواب کې ويل شوي: آيا الله تعالی به له هغو چې دی ئې پيدا کوي ځان ته لونړې غوره کړې وي او تاسو ته به ئې په زامنو سره غوره والی درکړی وي؟ دا په داسې حال کې چې تاسو په خپلې کورنۍ کې د لور زېږېدو ته په سپکه سترګه ګورئ، عيب او د پېغور باعث ئې بولئ، کله چې ستاسو کوم يوه ته د لور زېږېدو زېرې درکړی شي، د داسې څه زېرې چې رحمن رب ته ئې منسوبوئ، نو مخ ئې تك تور شي، زړه ئې له غمونو او اندېښنو ډك شي!! آيا عجيبه نه ده چې تاسو الله تعالی ته داسې اولاد منسوبوئ چې ځان ته ئې نه خوښوئ؟!!**
- **دوی الله تعالی ته لونړې منسوبوي، هغه لونړې چې په ګاڼې کې وده کوي او هغه په شخړې کې ناڅرګندې وي؟! دلته د ښځو دوو ځانګړتياوو ته اشاره شوې: ١- په ګاڼې کې وده کوي، د دې معنی دا ده چې ګاڼه کارول د ښځو يوه فطري تقاضاء ده، ولې ګاڼه کاروي او ولې په ګاڼه کې وده کوي؟ دې پوښتنې ته به ځواب وايو، ٢- په شخړې کې ناڅرګنده وي، چې د دې دوه تعبيرونه کېدی شي: په جګړو کې نه راڅرګندېږي يعني برخه نه اخلي، د مجادلې په وخت کې ئې وينا ډېره څرګنده نه وي، دوهم تعبير دقيق برېښي، او دا د ښځو هغې ځانګړتيا ته اشاره کوي چې بنسټ ئې د دې قوي او ځواکمنه عاطفه ده، عاطفي انسان د شخړې پر مهال احساساتي شي او خپل ما في الضمير په ښه توګه، په سره سينه او په مناسبو الفاظو نشي بيانولی، همدا وجه ده چې ښځې د بحث او مناقشې په دوران کې ژر احساساتي کېږي، يا ئې اوښکې راشي، يا صحنه پرېږدي او ډېر ځلې ئې مناقشه په جګړې او لاس ګرېوان کېدو**

واوړي. قوي عاطفه د موروليۍ يوه اساسي اړتيا ده، دا عيب نه بلکي يو امتياز دئ، الله تعالی ښځو ته پر نارينه وو له دې پلوه ځرګند امتياز ورکړی.

• مشرکينو هغه فرشتې ښځينه ګڼلې دي چې د رحمن بندګان دي، داسي انګېري چې فرشتې ښځينه مخلوق او د الله تعالی لوڼې دي!! دوی ته ويل شوي: آيا د فرشتو پيدايښت ئې مشاهده کړی، هغه مهال چې الله تعالی دوی پيدا کولې حاضر ول او د دوی د پيدايښت ځرنګوالی ئې په خپلو سترګو ليدلی؟!! که داسي نه وي نو څنګه دا غلطه او بې بنسټه ادعاء کوي؟!! دا غلطه ادعاء ئې هرومرو ليکل کېږي او په دې اړه به حتماً وپوښتل شي.

دلته يوه پوښتنه راولاړېږي چې ښځې ولې ګاڼه کاروي؟ ولې په ګاڼه کي وده کوي؟ آيا له ګاڼې پرته د کمښت احساس کوي او غواړي دا کمښت په ګاڼې سره بشپړ کړي؟ د دې پوښتنې ځواب يوه لنډه مقدمه ايجابوي او هغه دا: که له يوه عادي سړي پوښتنه وکړې چې په انسانانو کي نارينه ډېر ښايسته دئ که ښځينه، نو که شرم ونه کړي ځواب به ئې دا وي چې ښځه تر سړي زياته ښايسته ده!! خو که ورته ووايې: په مارغانو کي نارينه ئې ښايسته وي او که ښځينه ئې؟ د مارغانو ګڼ شمېر جوړې ورته يادي کړه، لکه چرګان، طاوسان، هيلۍ، مرغۍ، ښارو (مينا)، زرکه او ... نو ځواب به ئې له ځنډه پرته دا وي: نارينه، نارينه، نارينه او نارينه، که ګڼ شمېر حيوانات ورته ياد کړي بيا به هم درته وايي: نارينه ئې ښايسته دي، نارينه ئې ښايسته دي. د داسي حيوان او مارغه نوم به وانه خيستی شي چې نارينه ئې تر ښځينه ښايسته نه وي!! پوښتنه دا ده چې آيا د انسان په اړه د ده قضاوت صحيح دئ، همدومره عادلانه او له کوم شخصي غرض لوړ چې د نورو په اړه ئې کوي؟ که نه دلته او د انسان په اړه ئې قضاوت له ځانګړو عواملو اغېزمن شوی او د حقيقت خلاف غلطه پرېکړه ئې کړې؟ ګواکي حقيقت دا دئ چې په انسانانو کي هم د ټولو نورو ژوو په څېر نارينه تر ښځينه ښايسته وي. خو ده دلته او د انسان په اړه د خپل عقل او ښايست پېژندنې استعداد او مَلَکې په حکم نه بلکي د شهوت تر اغېز لاندي پرېکړه کړې ده، که خپل عقل د شهوت له اغېز آزاد کړي او بيا د قضاوت پر کرسۍ کښېني نو يقيناً چې د انسانانو په اړه به هم هغه قضاوت کوي چې د ټولو نورو ژوو په اړه ئې کوي.

که ورته ووايې: ښځه ولې سينګار کوي، سترګي توروي، شونډې او ا‌ننګې سره کوي، پر تنې او زنې خالونه ږدي، رنګه رنګه جامې خوښوي، ګاڼې اغوندي...؟ سينګار ته خو هغه څوک اړ وي چې څه کمی احساسوي، غواړي دا کمی پوره کړي، په ډول ډول سينګارونو سره غواړي هغه تشه ډکه کړي چې د نارينه په پرتله ئې په خپل ښايست کي احساسوي.

په نورو ژوو کي د نارينه او ښځينه تر منځ توپير په دې کي وي چې د ښځينه په پرتله د نارينه قد لوړ وي، اندامونه ئې مضبوط وي، څه ښکې او وېښتان ئې تر ښځې زيات وي، په مرغانو کي د نارينه ښکې ډېر رنګونه او انځورونه لري او ښځينه ئې هم د رنګونو له پلوه او هم د انځورونو له پلوه ساده او کم رنګه وي.

د انسان د نارينه او ښځينه تر منځ پر نورو توپيرونو علاوه نارينه پر مخ ږيره لري او پر بدن وېښتان، داسي لکه د زمريانو نارينه چې تر زنې لاندي او د غاړې شاوخوا کي زيات وېښتان لري، دا توپيرونه فطري دي او په دې کي ډېر ستر ستر علمي بنسټونه، مصلحتونه او حکمتونه په پام کي نيول شوي، دا يو فطري ضرورت دئ چې د ژوو په هري جوړه کي د

ښځینه جوړښت له ساده والي او کم رنګوالي سره توأم وي، د دې عکس حالت د فطرت خلاف حالت دئ، په دې کي هر راز تبدیلي مضره او خطرناکه ده، بدي پایلي لري، دا تبدیلي داسي ده لکه له فطرت سره جنګ، داسي ده لکه د یوه ډېر ماهر رسام په یوه مهم انځور کي چي کوم ماشوم په خپل پنسل او قلم سره لاسوهنه کوي، ګوتي د رنګ په بوتل کي منډي او د انځور له پاسه ئې راکاږي. له انسان پرته نور ژوي خپل فطري حالت ثابت ساتي او په هغه کي بدلون نشي راوستی، یوازینی مخلوق انسان دئ چي کولی شي له فطرت سره د مخالفت لار غوره کړي او هغه څه وکړي چي د ده د فطري غوښتنو خلاف وي. خو هغه نه پوهېږي چي له فطرت سره جنګ څومره بد عواقب لري، نه پوهېږي چي دا جنګ دی له کوم تور، سپېره او کرغېړن عاقبت سره مخامخ کوي. لکه څنګه چي انسان په داسي حال کي چرس، تریاك، هیروئین، سګریټ، شراب او نور مضر توکي کاروي چي د ده صحت او سلامتیا ته تاوان رسوي، همداراز دی د ښایست په هیله پر خپل ځان داسي ملنډي ووهي چي هم ئې ښکلا له منځه یوسي او هم ئې انساني وقار. یوه بېلګه ئې له غربي لنډغر، مبتذل او ګنده فرهنګ متأثر شوي هغه مقلد او بد سلیقه زلمیان دي چي تنګ تنګ شړېدلي کوبایي پتلونونه اغوندي، پر مخ، ږیري او وېښتانو هره ورځ بېلي بېلي خندوونکي ملنډي وهي، په غاړه کي ئې زنځیر، په لاسونو کي ئې بنګړي، د پتلون پایڅې ئې سپخېدلي، د زنګنو او کوناټیو برخي ئې شړېدلي، کوړ کوږ به روان وي او ...

بله بېلګه ئې هغه څوك دئ چي پر خپلي ږیري ملنډي وهي!! کله یو ډول کله بل ډول، کله له بره او کله له لاندي ئې تراشي!! هغه څېره څومره بې مالګي او حتی کرکجنه ښکاري چي ایراني ډوله ږیره ئې وي، له لاندي او بره ئې په مستقیمه لیکه وهلې وي، نری کرښه ئې پر خپلي ژامي جوړه کړې وي، یا ئې د خپلي خولې شا وخوا د وېښتانو یوه دائره جوړه کړې وي، یا ئې د لاندنۍ شونډي لاندي تر زنې پوري څو وېښتان پرېښي وي، د سر وېښتان ئې له سرښناکي مایع په استفادې سره نېغ نېغ او شخ شخ ودرولي وي، او ... نه پوهېږم دا خلق د سلیقې له پلوه څومره بد سلیقه دي!! د ښایست پېژندني له پلوه څومره ناپوه او بدتمیزه دي، له اخلاقي پلوه څومره پربوتي دي، په ړانده تقلید کي څومره غرق دي، څومره پر ځان ملنډي وهي، نه پوهېږي چي الله تعالی هر څه ښایسته پیدا کړي، د هر څه طبیعي حالت ښایسته دئ، هر تغییر ښایست له منځه وړي، هغه ځوانکی څومره ښکلی او ښایسته ښکاري، ښایي په نړۍ کي تر هر ښایسته زیات ښکلی او ښایسته، چي ږیره ئې نوې رسېدلې، په غنم رنګي سپین نوراني مخ کي ئې د رښتیني ایمان، تقوی، متانت او ډاډه زړه نښي له ورایه برېښي!! زه هغې مېرمني ته حیران یم چي خپلي وروځي نری کوي، د وروځو، سترګو، شونډو، او د مخ د نورو برخو تر منځ هغه طبیعي او فطري تناسب له منځه وړي چي د ښایست اصلي برخه ده، همغه تناسب چي په ښایست منتج شوی، او ښایست یعني همدا تناسب، دوی نه پوهېږي چي ښایسته انځور هغه دئ چي د رنګونو تر منځ ئې دقیق او موزون تناسب وي، په انځور کي له یوه رنګ بل ته تګ ئې تدریجي وي، د غنمي مخ او تورو وروځو تر منځ باید یوه داسي غیرمستقیمه کرښه وي چي له یوه رنګ بل ته انتقال په تدریجي توګه تأمین کړي، د وروځو وېښتان داسي وي چي لومړنۍ او برنۍ برخه ئې په نریو نریو خفیف رنګه وېښتانو پوښل شوې وي، ورو ورو ئې وېښتان لوی او رنګ ئې غلیظ شي، د منځنۍ برخي ویښتان ئې تر

ټولو زيات لوی، پرېږ او تك تور وي، همغه ترتيب چي په فطري توگه د وروځو په جوړښت كي مراعات شوی، په مستقيمي ليكي او په مستقيمه ليكه ښېل شوي رنگونه د ښايست او دقيقي انځورني مغاير كار دئ. طبيعت ځكه ښايسته دئ چي نه مستقيمي ليكي لري او نه په مستقيمه ليكه ښېل شوي رنگونه، كه تاسو يوه گل، يوې ونې، په ونو او بوټو پوښلي يوه غره ته ځير شئ او زړه راښكونكي ښايست ته ئې پام وكړئ دا هر يو به ځكه درته ښاسيته بريښي چي د ښايست همدا اصل په كي مراعات شوی. كه د يوه ښايسته گل پاڼي ته ځير شئ وبه گورئ چي د پاڼي د بيخ او سر رنگ په تدريجي توگه له پاخه او غليظ رنگ ساده كمرنگه حالت ته تغيير كړی، همدغه تناسب هغې ته او ټول گل ته ښكلا او ښايست وركړی.

د انسان په مخ كي د وروځو، د سترگو د لاندي باندي منحني ليكو، د پزې د سر او سپېږمو منحني ليكو، د برنۍ او لاندنۍ شونډې منحني ليكو او نورو ليكو تر منځ خاص تناسب په پام كي نيول شوی، د وروځو تراشل، نرۍ كول او په مستقيمه ليكه د ږيرې لاندي باندي برخي خرېيل دا تناسب له منځه وړي او ښايست ته زيان رسوي.

دې ته مو پام وي چي اسلام ښځو ته سينگار او گاڼه جائز گڼي، هم سره زر كارولی شي او هم ورېښميني جامې، خو دا سينگار د خپل مېړه لپاره نه د پردي لپاره، پردې ته كه ښځه وي او كه نارينه بايد خپله گاڼه او سينگار ونه ښيي، خو نارينه ته د سرو زرو او ورېښمو كارول حرام بولي، گورئ چي اسلام په دې اړه هم انساني فطرت په پام كي نيولی.

وَقَالُواْ لَوْ شَآءَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مَا عَبَدۡنَٰهُم ۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍ ۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا
يَخۡرُصُونَ ﴿٢٠﴾ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبًا مِّن قَبۡلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسۡتَمۡسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلۡ قَالُوٓاْ
إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرۡسَلۡنَا
مِن قَبۡلِكَ فِي قَرۡيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ
ءَاثَٰرِهِم مُّقۡتَدُونَ ﴿٢٣﴾ قَٰلَ أَوَلَوۡ جِئۡتُكُم بِأَهۡدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمۡ عَلَيۡهِ ءَابَآءَكُمۡ ۖ
قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ ۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ
ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾

او وئې ويل: كه رحمن رب غوښتي وی نو موږ به نه وو لمانځلي، په دې اړه ئې هيڅ علم نشته، دوی له خوشي اټكل پرته بل څه نه كوي، آيا تر دې وړاندي مو داسي كوم

کتاب ورکړی چې دوی پرې تمسك كوونكي دي، بلكي وئې ويل: موږ خپل پلرونه په يوې تګلارې مونډلي او موږ ئې پر پلونو په سمه لار روان يو، او همداسې مو تر تا وړاندې په هيڅ كلي كي هيڅ نذير نه دئ لېږلی مګر دا چې مترفينو ئې وويل: موږ خپل پلرونه په يوې تګلارې مونډلي او موږ ئې پر پلونو پسې اقتداء كوونكي يو، وئې ويل: كه څه هم تر هغه څه مې ډېر ښه لارښود درته راوړی وي چې خپل پلرونه مو پرې مونډلي؟!! وئې ويل: موږ په قطعي توګه په هغه څه كافر يو چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ، نو له هغوی مو غچ واخيست، نو وګوره چې د تكذيبوونكو پايله څنګه وه!!

(٢٠-٢٥)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- مشركينو وويل: كه رحمن رب غوښتي وی نو موږ به نه وو لمانځلي، له دې وينا ئې مقصد دا وو: موږ چې د كومو معبودانو لمانځنه كووو الله تعالی پرې راضي دئ، كه داسې نه وی او الله تعالی پرې راضي نه وی چې موږ دا معبودان ولمانځو نو دا كار مو نشو كولی!! دا يوازې مخكني مشركين نه ول چې داسې غلطه انګېرنه ئې درلوده، ډېر جاهلان همداسې دي چې د ټولنې روان او موجود حالت د الله تعالی د مرضي مطابق ګڼي او ګمان كوي چې الله تعالی په همدې حالت راضي دئ، كه نه نو حتماً به ئې بدل كړی وو!! دلته د دې غلطې انګېرنې د ترديد په ارتباط ويل شوي: دوی په دې اړه هيڅ علم نه لري، له خوشې اټكل پرته بل څه نه وايي، آيا تر دې وړاندې مو داسې كوم كتاب وركړی چې دوی پرې تمسك كوي او د هغه له مخې دا ادعاء كوي؟! يعني دا جاهلانه وينا ده، خوشې او بې بنسټه اټكل دئ، په هيڅ الهي كتاب كي د دې انګېرنې لپاره كوم سند نشي مونډلی.
- يوازې دا نه؛ بلكي دا ئې هم وويل: موږ خپل پلرونه په يوې تګلارې، مذهب او مشرب مونډلي او موږ ئې پر پلونو په سمه لار روان يو، دا يوازې د قريشو وينا نه وه بلكي هر هغه نذير او نبي ته دا خبره شوې چې تر تا وړاندې لېږل شوی، هيڅ سيمې ته هيڅ نذير نه دئ لېږل شوی مګر دا چې مترفينو ئې ورته ويلي: موږ خپل پلرونه په يوې تګلارې مونډلي او موږ ئې پر پلونو پسې اقتداء كوونكي يو، د دې وينا اصلي او لومړني ويونكي د سيمې مترفين ول، مترفين يعني هغه چې رفاه او سوكالي ئې په برخه وه، د ټولنې فكري، اجتماعي او اقتصادي جوړښت دوی ته رفاه ورپه برخه كړې وه، په دې كي ئې هر بدلون د ځان او د خپلو ګټو او امتيازاتو په ضرر ګڼلو، تل دغو مترفينو د پيغمبرانو ﷺ مخالفت كړی او هر مخالفت د دوی له لورې پيل شوی، نور د دوی په اقتداء كي مخالفت ته راوړاندې شوي.
- پيغمبر هغوی ته ويلي: كه څه هم تر هغه څه مې ډېر ښه لارښود درته راوړی وي چې خپل پلرونه مو پرې مونډلي؟!! مترفينو په ځواب كي ورته ويلي: موږ په قطعي توګه په هغه څه كافر يو چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ، ستاسو رسالت، پيغام او دين په هيڅ صورت كي نه منو.
- الله تعالی تل له دغو مترفينو انتقام اخيستی، نو وګوره چې د تكذيبوونكو پايله څنګه وه!!

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦٓ إِنَّنِي بَرَآءٞ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُۥ
سَيَهۡدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةَۢ بَاقِيَةٗ فِي عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٢٨﴾ بَلۡ مَتَّعۡتُ
هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ وَرَسُولٞ مُّبِينٞ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ قَالُواْ
هَٰذَا سِحۡرٞ وَإِنَّا بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٠﴾

او كله چي ابراهيم خپل پلار او خپل قوم ته وويل: يقيناً چي زه له هغه څه په بې زارۍ كي يم چي تاسو ئې لمانځئ، له هغه پرته چي زه ئې پيدا كړی يم، هغه به مي حتماً (مزيد) هدايت كړي، او دا ئې په خپلو پاتي شونو كي باقي وينا كړه چي راوگرځي. بلكي دا خلك او د دوی پلرونه مي متمتع كړل تر هغه چي حق او ځرگند پيغمبر ورغی، او كله چي حق ورغی نو وئې ويل: دا كوډي دي او موږ ئې په اړه كافر يو.

(٢٦-٣٠)- دلته د مخكنيو مطالبو لپاره د ابراهيم صلعم په قصې كي يوه تاريخي ببلگه په دې توگه راوړل شوې:

- **كله چي ابراهيم صلعم خپل پلار او خپل قوم ته وويل: يقيناً چي زه له هغه څه په بشپړه توگه بې زار يم چي تاسو ئې لمانځئ، البته له هغه الله تعالى پرته چي زه ئې پيدا كړی يم، هغه به مي حتماً مزيد هدايت كړي.**
- **د توحيد دغه تاريخي او مهمه وينا ئې په خپل اولاد كي باقي وينا وگرځوله، خپل اولاد ئې پر همدې وينا وگمارل او دا هڅه ئې وكړه چي په اولاد كي ئې تلپاتې وينا شي، په دې هيله او موخه چي هغوی د خپل رب لوري ته راوگرځي.**
- **كه څه هم د ابراهيم صلعم دا موحدانه وينا د ده په اولاد كي هم پاتې وه؛ خو د قريشو د مخالفت وجه دا ده چي الله تعالى دا خلك او د دوی پلرونه متمتع كړل، نعمتونه ئې ورپه برخه كړل او تر هغه ئې مهلت وركړ چي حق او ځرگند پيغمبر ورغی، خو كله چي حق ورغی نو وئې ويل: دا كوډي دي او موږ ئې په اړه كافر يو.**

وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ
رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ
بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ



او وئې ویل: ولې دا قرآن د دواړو کلیو په یوه ستر سړي نازل نشو، آیا دوی ستا د رب رحمت وېشي، (آیا) موږ په دنیا کې د دوی تر منځ د دوی معیشت وېشلی او ځینې مو پر ځینو نورو د درجو له پلوه لوړ کړي چې ځینې ئې ځینې نور تر تمسخر لاندې ونیسي؟! او ستا د رب رحمت تر هغه څه ډېر غوره دئ چې دوی ئې غونډوي.

(۳۱-۳۲)- په دې مبارکو آیتونو کې ویل شوي:

- د رسول اللهﷺ مخالفینو وویل: ولې دا قرآن د دواړو کلیو په یوه ستر سړي نازل نشو، له دواړو کلیو د دوی مراد مکه او طائف وو، او له ستر سړي د دوی مراد د دغو دواړو مهمو ښارونو دوه معروف مشران ول، مقصد ئې دا وو چې ولې الله تعالی یو معروف، متلی، نومیالی، د مال، جاه او جلال خاوند مشر د پیغمبر په توګه غوره نه کړ او قرآن ئې پرې نازل نه کړ، دوی د قیادت او زعامت لپاره همدا معیارونه کارول، د قیادت او زعامت لپاره ئې قومي نفوذ، مال، جاه او جلال اساسي شرط ګڼلو، غوښتل ئې الله تعالی هم دغه معیارونه ورسره قبول کړي او د دوی له معیارونو سره سم قائد او زعیم ورته غوره کړي!!
- الله تعالی د دې کچه او غلط ذهنیت د تردید لپاره فرمایي: آیا دوی ستا د رب رحمت وېشي؟ آیا دا پرېکړه دوی ته سپارل شوې چې د الله تعالی د پېرزوینو وړ شخصیت د خپلو انګېرنو او معیارونو له مخې غوره او انتخاب کړي؟!
- د دوه دېرشم آیت دوهمه فقره داسې ده چې په مطلب ئې پوهېدل لږ غور او دقت غواړي، فقره داسې ده: (نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا): چې تحت اللفظي ژباړه ئې داسې ده: موږ په دنیا کې د دوی تر منځ د دوی معیشت وېشلی او ځینې مو پر ځینو نورو د درجو له پلوه لوړ کړي چې ځینې ئې ځینې نور (سخریاً) ونیسي، د (سخریاً) په اړه دوه تعبیرونه مومو: ځینو د تسخیر په معنی نیولې او دا برخه ئې داسې ژباړلې: چې ځینې ځینې نور تر خپلې سلطې لاندې ونیسي او استخدام ئې کړي، ځینو د استهزاء په معنی نیولې او داسې ئې ژباړلې: چې ځینې ځینې نور تر تمسخر لاندې ونیسي! د دواړو ژباړو په اړه داسې پوښتنې راولاړېږي چې وضاحت او ځواب غواړي، لکه دا پوښتنې: آیا الله تعالی د خلکو تر منځ اقتصادي توپیرونه د دې لپاره رامنځته کړي چې ځینې ځینې نور استخدام او استثمار کړي؟ آیا دا تعبیر له الهي عدل او د قرآن له لارښوونو سره اړخ لګوي؟ آیا په قرآن کې بل داسې آیت هم شته چې دا مفهوم ترې واخیستل شي؟ آیا دا اقتصادي توپیرونه د انسانانو د تصرفاتو او وېش نتیجه ده که د الله تعالی د وېش؟ د دوهم تعبیر په اړه دا جدي پوښتنه راولاړېږي: آیا الله تعالی د خلکو تر منځ اقتصادي توپیرونه په دې موخه رامنځته کړي چې شتمن پر نېستمنو استهزاء او تمسخر وکړي؟! دغو جدي پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره باید تر هر څه وړاندې په خپله قرآن ته رجوع وکړو او

وګورو چې دا د (سخرياً) صيغه په نورو آيتونو کې هم راغلې که نه؛ که راغلې وي نو په کومه معنى راغلې، د (تسخير) په معنى که د (تمسخر) په معنى؟ که قرآن ته رجوع وکړو نو راته جوته کېږي چې قرآن په ټولو مواردو کې هغه مهال چې د (سخر) صيغه ئې له (اتخذ) سره څنګ په څنګ او مربوط راوړې نو په ټولو کې د استهزاء په معنى راغلې، او له دې پرته کله د تسخير په معنى او کله د تمسخر په معنى راغلې، د قرآن په دوو آيتونو کې همدا ترکيب راغلى چې په دواړو کې ئې معنى تمسخر او استهزاء ده:

فَٱتَّخَذۡتُمُوهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوۡكُمۡ ذِكۡرِي وَكُنتُم مِّنۡهُمۡ تَضۡحَكُونَ ﴿١١٠﴾

المؤمنون: ١١٠

نو تاسو تر هغه تر ملنډو لاندې نيولي ول چې زما يادونه ئې درڅخني هېره کړه او په دوى پورې مو خندل.

أَتَّخَذۡنَٰهُمۡ سِخۡرِيًّا أَمۡ زَاغَتۡ عَنۡهُمُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٦٣﴾

ص: ٦٣

آيا موږ تر ملنډو لاندې نيولي ول که سترګې ترې کږې شوې؟

د قرآن په هيڅ ځاى کې دا نه مومو چې (سخرياً) دې د (تسخير) په معنى راغلې وي، د دې لپاره هيڅ موجه او د منلو وړ دليل نه شو وړاندې کولى چې دلته ئې د قرآن د عام اسلوب خلاف د تسخير په معنى ونيسو.

لکه چې په ټول قرآن کې داسې مورد نه مومو چې دا دواړه الفاظ دې څنګ په څنګ له تمسخر پرته په بله معنى راغلي وي، همداسې په ټول قرآن کې دا نه مومو چې په کې ويل شوي وي: د انسانانو تر منځ اقتصادي توپيرونه د دې لپاره رامنځته شوي چې اغنياء فقيران استخدام او استثمار کړي. خو د دې بېلګې ډېرې زياتې مومو چې کافر اغنياء پر فقيرانو استهزاء کوي. قرآن وايي: الله تعالى دا نه خوښوي چې مال او دولت د اغنياوو تر منځ لاس په لاس شي، (... كَيْ لا يَكُونَ دُولَةً بَينَ الأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ...)، قرآن وايي: (وَ أَن لَّيْس لِلانسنِ إِلا مَا سعَى): او دا چې انسان ته له هغې سعې پرته چې کړې ئې ده کوم څه نه ښايي، يعني هغه څه چې انسان ئې په خپل زيار او زحمت سره ګټي فقط همدغه د ده دي، په دنيا او آخرت کې يوازې د هغه اجر او بدلې مستحق دئ چې له زيار سره ئې ورته وي، قرآن وايي: مريى د مريي او غلام په نامه مه يادوئ هغه ستاسو ديني ورور او دوست دئ؛ د ورور او دوست په نامه ئې ياد کړئ، قرآن وايي: د اغنياوو په شتمنيو کې د نېستمنو او محرومانو مسلم حق دئ، دا حق بايد ورکړى شي، آيا له داسې څرګندو لارښوونو سره دا تعبير په واضح توګه تعارض نه لري چې څوك ووايي: د انسانانو تر منځ اقتصادي توپيرونه د دې لپاره رامنځته شوي چې اغنياء فقيران استخدام او استثمار کړي؟!!

- دلته د بحث موضوع دا ده چې قريشو ويل: ولې دا قرآن پر يوه ستر شخصيت نه دئ نازل شوى، له ستر شخصيت د دوى مراد ستر شتمن وو، دوى شتمنو ته په درنه سترګه کتل او نېستمنو ته په سپکه سترګه، له دې موضوع سره داسې کلام مناسبت لري چې وويل شي:

اقتصادي توپيرونه د دې لپاره نه دي چي ځيني ځيني نور تمسخر کړي، نه دا کلام چي اقتصادي توپيرونه خو د دې لپاره دي چي اغنياء فقيران استخدام کړي!! داسي تعبير نه يوازي له موضوع سره مناسبت نه لري بلکي د موضوع له سياق سره مغايرت لري او التباس رامنځته کوي.

که د آيت ټولو فقرو ته ځير شو او د بحث اصلي موضوع په پام کي ولرو نو دې نتيجې ته رسېږو چي د آيت دا فقره (نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗا) د مخکنۍ پوښتني په ځېر يوه پوښتنه ده، تر دې وړاندي دا فقره راغلې: أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ: آيا دوی ستا د رب رحمت وېشي؟

وروستۍ فقره پر مخکنۍ پوښتني عطف شوې او معنی ئې دا ده: آيا موږ په دنيا کي د دوی تر منځ د دوی معيشت د دې لپاره وېشلی او ځيني مو پر ځينو نورو د درجو له پلوه لوړ کړي چي ځيني ئې ځيني نور تر تمسخر لاندي ونيسي او په سپکه سترګه ورته وګوري؟!! په قرآن کي د دې ډېري بېلګي ګورو چي يو آيت د استفهام له علامې سره راغلی خو ورپسې ګڼ شمېر آيتونه له داسي علامې پرته راغلي، پر همدې عطف شوي او پوښتنه افاده کوي، لکه دا:

أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدٗا ۝٦ وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ۝٧ وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ۝٨ ....

النبأ: ٦-١٤

آيا دا زمکه مو يوه زانګو نه ده ګرځولې؟ او دا غرونه، څه مېخونه؟ مګر نه مو کړئ پيدا جوړه جوړه؟

أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ۝٨ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ۝٩ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ۝١٠ **البلد: ٨-١٠**

آيا ده ته مو ورنکړلې دوې سترګې؟ او يوه ژبه او دوې شونډې؟ او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟

- **دې ته مو بايد پام وي چي اصلي رازق الله تعالی دئ، د رزق ټول توکي الله تعالی پيدا کړي او الله تعالی ئې پيدا کوي، خو د الله تعالی وېش نه يوازي عادلانه دئ بلکي تر عدالت وراوښتی او د فضل له مخي دئ، مسلمان او کافر ته روزي ورکوي، د رزق مهم توکي لکه اوبه له آسمان وروي او د هري سيمې ټولو استوګنو ته ئې وړيا او برابر ورکوي، هوا او په هغې کي آکسيجن پيدا کوي او ټولو ته ئې ورکوي، د لمر رڼا او تودوخه ټولو ته ورکوي، له زمکي ټولو ته دانه، مېوه او بوټي راټوکوي، خو د ځينو توکو وېش ئې موږ ته پرېښی، د انسانانو تر منځ اقتصادي توپيرونه د دغه انساني وېش نتيجه ده، او دا وېش اکثراً د عدالت خلاف او ظالمانه وي، دا موږ يو چي د ظالمانه وېش او د عدالت خلاف تصرفاتو له کبله مو داسي حالت رامنځته کړی چي يو خولې تويوي خو دومره ترلاسه کوي چي پرې ژوندی پاته**

شي او بل له خولو پرته دومره ترلاسه کوي چي مغرور شي او پر نورو استهزاء او تمسخر وکړي!! دا وېش الله تعالی ته منسوبول او د هغه لپاره توجيه لټول او دفاع ترې کول د قرآن د مزاج خلاف کار دئ.

- دا هم بايد ووايو چي د دې آيت د (سخرياً) صيغه په دوو بڼو او قرائتونو کي راغلې: (سُخرياً) او (سِخرياً)، ضمه او کسره ئې پر معنی خاص اغېز نه لري، د مجاهد په څېر سترو مفسرينو دا صيغه د نورو په څېر د (سِخرياً) په بڼي کي بولي.

وَلَوۡلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ لَّجَعَلۡنَا لِمَن يَكۡفُرُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ لِبُيُوتِهِمۡ سُقُفٗا مِّن

فِضَّةٖ وَمَعَارِجَ عَلَيۡهَا يَظۡهَرُونَ (٣٣) وَلِبُيُوتِهِمۡ أَبۡوَٰبٗا وَسُرُرًا عَلَيۡهَا يَتَّكِـُٔونَ (٣٤)

وَزُخۡرُفٗاۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِينَ



او که خلك يوه ډله نه کېدلی نو موږ به حتماً هغو ته چي د رحمن رب په اړه کفر کوي د دوی خونو ته د سپينو زرو چتونه جوړ کړي وو او داسي زينې چي پرې اوچتېږي او د خونو دروازې ئې او داسي تختونه چي پرې تکيه کوي، او نور سينګاري شيان، او دا هر يو فقط د دنيايي ژوند يوه متاع ده، او ستا د رب خوا ته آخرت د متقيانو لپاره دئ.

(٣٢-٣٥)- دا مبارك آيتونه د مشرکينو د هغي غلطي انګېرني د تصحيح په اړه مزيد وايي: که د دې احتمال نه وی چي کافرانو ته د اشرافي او مرفه ژوند اسباب او وسائل ورکول به د دې باعث شي چي خلك د دوی لار غوره کړي نو الله تعالی به حتماً هغو ته چي د رحمن رب په اړه کفر کوي داسي مرفه ژوند ورپه برخه کړی وو چي د دوی د خونو چتونه به ئې له سپينو زرو جوړ کړي وو، هغه زينې ئې هم چي لوړ پوړ ته پرې خېژي، او د خونو دروازې ئې او داسي تختونه هم چي پرې تکيه کوي، او دې ته ورته د سينګار نور وسائل، او دا هر څه فقط د دنيايي ژوند يوه متاع ده او ستا د رب خوا ته آخرت د متقيانو لپاره دئ.

لکه چي ګورئ دلته هم ويل شوي چي الله تعالی د رزق په ورکړي او وېش کي د خپل حکمت له مخي تصرف کوي، داسي څه نه کوي چي د ده له لوري د رزق وېش د دې باعث شي چي خلك د کفر او کافرانو لوري ته متمايل شي، دا په خپله انسانان دي چي د خپلو غلطو تصرفاتو او ظالمانه وېش له کبله ئې داسي حالت رامنځته کړی چي يو له زيار پرته ډېر څه ترلاسه کوي او بل د خپل زيار له عادلانه بدلي محروم دئ.

وَمَن يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُۥ شَيۡطَٰنٗا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٞ (٣٦) وَإِنَّهُمۡ

لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَـٰلَيْتَ
بَيْنِى وَبَيْنَكَ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ
أَنَّكُمْ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾

او څوك چې د رحمن رب له ذكر سترگې پټې كړي داسي مسلط شيطان ورته ټاكو چې هغه ئې نږدې ملگرى وي، او يقيناً چې دوى به ئې له سمې لارې راتموي او داسي به انگېرې چې دوى هدايت شوي دي، تر هغه چې موږ ته راشي؛ وايي به: كاش زما او ستا تر منځ د مشرقينو په واټن لريوالى وى، نو څومره بد ملگرى!!، له دې كبله چې تاسو ظلم كړى نو په دې ورځ به دا تاسو ته هيڅكله گټه ونه رسوي چې په عذاب كې شريك يئ.

(٣٦-٣٩)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- **څوك چې د رحمن رب له ذكر اعراض وكړي او اعتناء ورته ونه كړي؛ الله تعالى به داسي شيطان ورته وټاكي چې تل به ورسره وي او تل به ئې غولوي او په سمې لارې تگ ته به ئې نه پرېږدي، خو سره له دې به داسي انگېرې چې هدايت ئې په برخه شوى او په صحيح سمت روان دئ.**
- **دوى به تر هغه همداسي د شيطان تر اغېز لاندې په كږو لارو سر وي چې له الله تعالى سره مخامخ شي، هلته به دې شيطان لارښود ته مخ كړي او وبه وايي: كاش زما او ستا تر منځ د مشرقينو په واټن لريوالى وى، يعنې دومره سره لرې وى لكه چې ته د زمكې پر يوې ژۍ او زه ئې په بلې ژۍ وى، نو څومره بد ملگرى!! كه څه هم ځينو درنو مفسرينو مشرقين د مشرق او مغرب په معنى تعبير كړى، خو په حقيقت كې بعد المشرقين هغه واټن ته ويل كېږي چې لمر ئې د دوو راختلو تر منځ پلې كوي، د زمكې پر سر دا واټن د زمكې ټول محيط دئ، چې مشرق او مغرب ئې نيمايي كېږي.**
- **د قيامت په ورځ به دوزخيانو ته هغه مهال چې دوى به يو ځاى دوزخ ته درومي وويل شي: نن به دا خبره تاسو ته كومه گټه نه رسوي چې ټول، مشران او كشران، تابعين او متبوعين، دوزخي انسانان او شيطانان سره يو ځاى دي، او په گډه عذاب گالي، داسي به نه وي چې عذاب درباندې ووېشل شي او شدت ئې راكم شي، د دوزخيانو ډېرښت د دوزخ د عذاب شدت او حدت نشي كمولى. د دوزخ عذاب كمېدونكى نه بلكې درجه په درجه زياتېدونكى دئ.**

أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ أَوْ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَمَن كَانَ فِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾ فَإِمَّا

نَذۡهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنۡهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿٤١﴾ أَوۡ نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِي وَعَدۡنَٰهُمۡ فَإِنَّا عَلَيۡهِم مُّقۡتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾ فَٱسۡتَمۡسِكۡ بِٱلَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيۡكَۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤٣﴾ وَإِنَّهُۥ لَذِكۡرٞ لَّكَ وَلِقَوۡمِكَۖ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾ وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ ﴿٤٥﴾

نو آیا ته کڼو ته اورول کولی شې یا ړندو ته او هغه ته لار ښودی شې چې په ښکاره ضلالت کې وي، نو یا خو به موږ تا بوځو چې بیا به موږ ترې انتقام اخیستونکي یو، یا به هغه څه دروښیو چې وعده مو ورسره کړې، یقیناً چې موږ پر دوی توانمن یو، نو په هغه څه منګولې لګوه چې تا ته مو وحي کړې، یقیناً چې ته پر سمې لارې یې، او یقیناً دا ستا او ستا د قوم لپاره یو ذکر دئ، او حتماً به وپوښتل شئ، او زما د رسولانو له هغو ځني وپوښته چې تر تا وړاندې ول: آیا له رحمن رب پرته مو داسې معبودان ټاکلي چې لمانځل کېږي.

(٤٠-٤٥)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته ویل شوي:

- **لکه چې ته نشې کولی کڼو ته څه واوروې یا د ړندو سترګې پرانیزې او لار وروښیې، همداسې نشې کولی هغو ته لار وښیې چې په ښکاره ضلالت کې وي، ستا ځینې مخاطبین په کفر، شرك او جهل کې داسې غرق دي او له سمې لارې او حقیقت دومره کاږه او لرې تللي چې د هدایت هیڅ طمع ئې نشي کېدی.**
- **دوی د الهي عذاب مستحق دي، همغه لورې ته روان دي چې ژر به په الهي عذاب اخته شي، یا خو به تر دې عذاب وړاندې تا وفات کړو او بیا به موږ ترې انتقام اخلو او یا به هغه څه دروښیو چې وعده مو ورسره کړې، ته به په خپلو سترګو وګورې چې دا الهي عذاب پرې نازل شوی. یقیناً چې موږ له دوی سره په هر څه کولو توانمن یو.**
- **دې ته خاصه اعتناء مه کوه چې کله او په کوم حالت کې به دا عذاب پر دوی نازل شي، په هغه قرآن منګولې لګوه چې تا ته مو وحي کړې، سمه تګلاره همدا ده او ته له کوم شك پرته پر سمې لارې روان یې.**
- **یقیناً چې دا قرآن هم ستا لپاره یو ذکر (پند) دئ او هم ستا د قوم لپاره، په دې اړه به ته هم پوښتل کېږې او ستا قوم هم. ځینو درنو مفسرینو دلته ذکر د شرف په معنی اخیستی، که څه هم د ذکر یوه معنی همدا ده؛ خو دلته ئې په دې معنی اخیستل موزون نه برېښي، دا ځکه چې ترې وروسته دا فقره راغلې: وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ: او حتماً به وپوښتل شئ، دې فقرې ته په پام سره غوره تعبیر دا دئ چې دلته ذکر د پند، نصیحت او یادونې په معنی راغلی، او معنی**

ئې دا ده: دا قرآن د ټولو لپاره پند دئ، تا ته هم او ستا قوم ته هم، ته هم مکلف یې چې پرې منګولې ولګوې او ستا قوم هم، حتماً به ته هم په دې اړه پوښتل کیږې او ستا قوم هم.

• ته او ټول هغه پیغمبران چې تر تا وړاندې ول پر دې ګمارل شوې يئ چې الله تعالی به د يوازيني معبود په توګه لمانځئ، ته د دغو پيغمبرانو په اړه وپوښته چې آيا د الله تعالی له لوري کوم يوه ته داسې لارښوونه شوې چې له رحمن رب پرته د لمانځلو وړ بل معبود هم شته او الله تعالی د داسې معبودانو د لمانځلو اجازه ورکړې؟!! هغه خلك چې خپل شرکي مذاهب خپلو پيغمبرانو ته منسوبوي او د جعلي معبودانو په اړه داسې روايات وړاندې کوي چې د هغوی لمانځل جائز ثابت کړي؛ هم دوی دروغجن دي او هم ئې روايات افتراء او درواغ.

• دې ته مو بايد پام وي چې ځينې ٤٥ آيت داسې تعبيروي چې ګواکې رسول اللهﷺ مکلف شوی چې له ټولو پيغمبرانو به دا پوښتنه کوي او ګواکې د دغه حکم له مخې رسول اللهﷺ د معراج په شپه دا پوښتنه کړې ده!! خو حقيقت دا دئ چې نه دا پوښتنه داسې ده چې رسول اللهﷺ ته ئې ځواب نه وو معلوم، او نه د آيت مطلب دا دئ چې ولاړ شه او له ټولو پيغمبرانو مخامخ پوښتنه وکړه، د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې دې ته ورته مطلب او د (واسئل) لفظ راغلی، په ټولو کې مراد دا دئ چې دا يقيني وينا ده او که ته له هر چا پوښتنه وکړې هيڅوك به ئې رد نه کړي. د دې رأيي خاوندانو دې ته هم پام نه دئ کړی چې دا سوره د معراج تر اړوند سورې شاوخوا پنځه شپږ کاله وړاندې نازله شوې!!

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَضۡحَكُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرِيهِم مِّنۡ ءَايَةٍ إِلَّا هِيَ أَكۡبَرُ مِنۡ أُخۡتِهَاۖ وَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٤٨﴾ وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهۡتَدُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾

اويقيناً چې موسی مو له خپلو څرګندو آيتونو سره فرعون او د ده ملأ (درباريانو) ته ولېږو، چې وئې ويل: يقيناً چې زه د رب العالمين استازی يم، نو کله چې ئې زموږ آيتونه وروړل ناڅاپه ئې د هغو آيتونو په اړه خنداګانې کولې، او دوی ته مو هيڅ داسې څرګنده نښه نه ده ښودلې چې هغه به تر سيالې ئې ستره نه وه، او په عذاب مو په دې موخه اخته کړل چې راوګرځي، او وئې ويل: اې کوډګره! خپل رب ته زموږ لپاره په هغه څه سره دعاء وکړه چې ته ئې پرې مختص کړی يې، يقيناً چې موږ حتماً هدايت

کېدونکي يو، نو کله چې به موږ هغه عذاب ترې لرې کړ ناڅاپه به دوی (خپله ژمنه) ماتوله.

(٤٦-٥٠)- په دې مبارکو آيتونو کې د مخکنيو مطالبو لپاره يوه تاريخي بېلګه وړاندې شوې، فرعونيانو ته د موسی صلعم د لېږنې په قصې کې دا تاريخي بېلګه داسې انځور شوې:

- الله تعالی خپل پيغمبر موسی صلعم له خپل څرګند پيغام او ګڼ شمېر معجزو سره فرعون او د ده ملأ او درباريانو ته ولېږو، پوښتنه راولاړېږې چې ولې دلته يوازې د فرعون او د ده درباريانو يادونه شوې او نور مصريان نه دي ياد شوي؟ وجه ئې دا ده چې له رسول اللهﷺ سره د قريشو د سردارانو چلن بايد د فرعون د درباريانو له هغه چلن سره مقايسه شي چې له موسی صلعم او د ده له څرګندو معجزو سره ئې کړی.
- موسی صلعم هغوی ته وويل: يقيناً چې زه د رب العالمين استازی يم، کله چې هغه فرعونيانو ته څرګند الهي آيتونه وروړل نو ځواب ئې له تمسخر او خنداګانو پرته بل څه نه وو، دا خنداګانې د هغو څرګندو آيتونو او معجزو په اړه وې چې موسی صلعم دوی ته وړاندې کړل، هره وروستنۍ معجزه ئې تر مخکنۍ ستره.
- نه يوازې معجزې او څرګند آيتونه ئې مخې ته کېښودل شول بلکې الله تعالی د دې لپاره له رنګ رنګ مصيبتونو سره مخامخ کړل چې له خپل ظلم او کفر راوګرځي.
- خو فرعونيانو دا معجزې کودې ګڼلې او موسی صلعم ته ئې د يوه کودګر په سترګه کتلې او له مصيبتونو سره د مخامخېدو په وخت کې به ئې هغه ته ويل: اې کودګره! خپل رب ته زموږ لپاره په هغه څه سره دعاء وکړه چې ستا رب درکړې، تا ته ئې دا مقام درکړی، دعا دې قبلوي، تعهد کوو چې که له دې مصيبته وژغورل شو حتماً په سمه لار درومو، خو هر ځل چې عذاب ترې لرې شوی خپله ژمنه ئې ماته کړې. دا مطلب د الاعراف د سورې په ١٣٤آيت کې هم راغلی، خو هلته ويل شوي چې فرعونيانو موسی صلعم په خپل نامه ياد کړی او دلته ګورو چې هغه ته د ساحر خطاب کوي او ترې غواړي چې الله تعالی ته دعاء وکړي او له مصيبته ئې وژغوري، په دې اړه بېل بېل تعبيرونه ګورو خو غوره تعبير دا دئ چې دلته هغه حالت ته اشاره شوې چې فرعونيانو موسی صلعم ته ويلې: موږ دا ګمان کوو چې ته کودګر يې، که ستا په دعاء سره له دې مصيبت وژغورل شو نو ايمان راوړو. وروسته او د نورو مصيبتونو په راتلو سره د دوی لهجه بدله شوې او موسی صلعم ئې په خپل نامه ياد کړی.

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِۦ قَالَ يَـٰقَوْمِ أَلَيْسَ لِى مُلْكُ مِصْرَ وَهَـٰذِهِ ٱلْأَنْهَـٰرُ تَجْرِى مِن تَحْتِىٓ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾ أَمْ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْ هَـٰذَا ٱلَّذِى هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْلَآ أُلْقِىَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَآءَ مَعَهُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِينَ ﴿٥٣﴾

فَٱسۡتَخَفَّ قَوۡمَهُۥ فَأَطَاعُوهُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمۡنَا
مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ سَلَفٗا وَمَثَلٗا لِّلۡأٓخِرِينَ ﴿٥٦﴾

او فرعون په خپل قوم کې په جګ غږ وویل: اې زما قومه! آیا د مصر پاچایي زما نه ده؟ او دا نهرونه چې زما تر واك لاندې بهېږي؟ آیا نه ګورئ؟ آیا زه غوره یم که دا چې سپك دئ او نشي کولی څرګنده وینا وکړي؟ ولې د سرو زرو لاسوندي نه دي پرې اچول شوي یا ولې صف تړلې فرشتې نه دي ورسره راغلې؟ نو خپل قوم ئې داسې تحمیق کړ چې د ده اطاعت ئې وکړ، یقیناً چې دوی فاسق وګړي ول، نو کله چې ئې موږ ناراض کړو انتقام مو ترې واخیست او ټول مو غرق کړل، نو دوی مو وروستنیو ته پخواني او متل وګرځول.

(٥١-٥٦)- په دې مبارکو آیتونو کې د فرعون هغه ویناوې راغلې چې هر فرعون ئې د خپل ولس د غولولو په موخه کوي او د هر حقپال داعي په خلاف ئې وايي:

- **فرعون خپل قوم ته په جګ غږ وویل: اې زما قومه! آیا د مصر پاچایي زما نه ده؟ او دا نهرونه چې زما تر واك لاندې بهېږي؟ آیا نه ګورئ؟ دا د فرعون او د هر فرعوني نظام د ټولواك وینا ده چې ولس ته ئې کوي، ځان د ټول هېواد د ګردو شتمنیو، نهرونو او زمکو بلامنازع څښتن ګڼي!! هغه ملك چې د یوه ولس پلرنی میراث وي، د ګټلو او ساتلو په لار کې ئې واکمنو نه بلکې ټول ولس قربانۍ ورکړې وي، خو فرعون صفته واکمن همدا هېواد خپل موروثي ملك ګڼي او په هغه کې هر ډول تصرف د ځان مسلم حق بولي، ولس ته د غلامانانو په سترګه ګوري نه د ملك د اصلي خاوندانو په سترګه، هر هغه نظام چې واکمنان ئې ځان د خلکو مالك الرقاب او د ملي شتمنیو بې رقیبه څښتن ګڼي او په دغو شتمنیو کې د هر راز تصرف حق ځان ته ورکوي د قرآن له نظره دا یو مفسد، ظالمانه او فرعوني نظام دئ.**
- **فرعون د ولس د غولولو لپاره د موسی صلعم په ضد وايي: ١- آیا زه غوره یم که دا چې سپك دئ او نشي کولی څرګنده وینا وکړي؟ ٢- ولې د سرو زرو لاسوندي نه دي وراچول شوي؟ ٣- ولې صف تړلې فرشتې نه دي ورسره راغلې؟ دا هغه خبرې دي چې د زمانې هر فرعون ئې د هر موسی په ضد کوي، ځان مخور، د نفوذ، زر، زور او ځواك خاوند ګڼي او د مقابل لوري په اړه وايي: کمزوری دئ، څوك ئې ملاتړ نه کوي، نه پوهېږو څه غواړي، خبرې ئې واضح او د فهم وړ نه دي، نه شتمن دئ او نه مجهز فوځ لري، د مصر په فرعوني نظام کې به واکمنانو ځانګړې ګاڼې کارولې چې همدا به د دوی د واکمنۍ نښه ګڼل کېده، د سرو زرو لاسوندي به ئې وو، په خوا کې به ئې داسې منظم او مجهز امنیتي ټولګي وو چې د دوی حفاظت او ساتنه به ئې کوله، فرعون د موسی صلعم په اړه ولس ته وايي: له ده سره خو د مشرۍ هیڅ نښه نشته، نه د سرو زرو لاسوندي لري او نه مجهز ساتونکي ورسره شته، نه ئې وینا داسې ده چې خلك پرې پوه شي، نامأنوس او ناآشنا خبرې کوي. که څه هم ځینو درنو**

مفسرينو ويلي چې ګواکي د موسی **صلعم** په ضد د فرعون د دې وينا چې په څرګنده توګه خبرې نشي کولی دا ده چې د موسی **صلعم** ژبه په ماشومتوب کې سوزېدلې وه او له همدې کبله ئې په واضح توګه خبرې نشوې کولی!! خو دا تعبير نه يوازې دقيق نه دئ بلکې د قرآن له ويناوو سره اړخ نه لګوي، د فرعون دا وينا په حقيقت کې د هر مؤمن داعي په ضد د هر فرعون وينا انځوروي، دوی تل د داعيانو په ضد همدا وايي: وينا ئې د فهم وړ نه ده، خبرې ئې نآشنا او عجيبې او غوښتنې ئې غيرعملي دي، موږ داسې خبرې تر دې وړاندې نه دي اورېدلې.

- په ويناوو سره ئې خپل قوم داسې تحميق کړ چې د ده اطاعت ئې وکړ، د دې تحميق وجه يوازې دا نه وه چې د فرعون د ويناوو تر اغېز لاندې راغلي او دوکه شوي بلکې اصلي وجه ئې دا وه چې دوی په خپله فاسق وګړي ول، نو ځکه ئې د فرعون له دغو ويناوو سره توافق کړی. او د دې معنی دا ده: کوم ولس چې د مشرتابه او زعامت لپاره هغه معيارونه کاروي چې فرعون په ګوته کړي؛ زر، زور، او مجهز ساتونکي د مشری او قيادت لازمي شرائط بولي؛ دا قوم د الهي لارښوونو له مخې فاسق دئ او د فرعونانو په لومې کې به نښلي.
- الله تعالی د فرعون او فرعونيانو د پايلې په اړه فرمايي: نو کله چې دوی موږ ناراض کړو انتقام مو ترې واخيست او ټول مو غرق کړل، نو دوی مو وروستنيو ته پخواني او متل وګرځول. هغه چې نن او سبا د فرعونيانو تګلاره غوره کړي خپل برخليك او پايله دې د خپلو اسلافو په هينداري کې وګوري، له همغه برخليك سره به مخامخ کېږي چې د مصر فرعونيان ورسره مخامخ شول.

وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوۡمُكَ مِنۡهُ يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾ وَقَالُوٓاْ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ أَمۡ هُوَۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلَۢاۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾ إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ أَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ وَجَعَلۡنَٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ وَلَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنَا مِنكُم مَّلَٰٓئِكَةً فِي ٱلۡأَرۡضِ يَخۡلُفُونَ ﴿٦٠﴾ وَإِنَّهُۥ لَعِلۡمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمۡتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسۡتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٢﴾

او کله چې د مريمې زوی د يوه مثال په توګه وړاندې شو ناڅاپه ستا قوم ئې له کبله شور ځوږ جوړوي او وايي: آيا زموږ معبودان غوره دي که دی؟ تا ته ئې يوازې د يوه جدل په توګه بيانوي، بلکې دوی شخړن وګړي دي، هغه خو يوازې يو داسې بنده وو چې پېرزوينه مو پرې وکړه او د بني اسرائيلو لپاره مو بېلګه وګرځاوو، او که مو

غوښتلی نو له تاسو به مو په زمکې کې داسې فرشتې جوړې کړې وې چې ځای ناستې کېږي، او هغه خو د قيامت لپاره يوه علامه او نښه ده؛ نو د هغې په اړه شك مه كوئ او زما متابعت وکړئ، همدا مستقيمه لار ده. او شيطان دې تاسو وانه ړوي، يقيناً چې هغه ستاسو څرګند دښمن دئ.

(٥٧-٦٢)- د دې مباركو آيتونو په مطلب د ښه پوهېدو لپاره لاندې خبرې په پام كې ولرئ:

• دلته ويل شوي: كله چې د عيسى صلعم يادونه د يوه مثال په توګه وشوه نو قريشو شور او ځوړ جوړ كړ او دا خبره ئې كوله: آيا زموږ معبودان غوره دي كه دی؟ دا خبره تا ته يوازې د يوه جدل په توګه كوي، هدف ئې دا نه دئ چې حقيقت ځان ته معلوم كړي، په خپله كومه مستدله او قانع كوونكې خبره وكړي يا د بل دليل واوري او وئې مني؛ بلكې خوشې جدل كوي او دا ځكه چې دوی د حقيقت په لټه كې نه دي بلكې شخړه او مجادله كوي. بايد وګورو چې د دې خبرې معنی څه ده، قريشو كله او څنګه د عيسى صلعم په يادولو سره شور جوړ كړی؟ د دې خبرې معنی څه ده چې دوی ويلې: آيا زموږ معبودان غوره دي كه دی؟ دا خبره يوه كس كړې كه ډېرو؟ ځينې داسې انګېرې چې ګواكې دا پېښه هغه مهال رامنځته شوې چې رسول اللهﷺ دا سوره قريشو ته اوروله، كله چې ٤٥ آيت ته رسېدلی نو يوه كس ويلې: آيا مسيحيان عيسى صلعم ته د معبود په سترګه نه ګوري او هغه نه لمانځي؟ ولې زموږ معبودان او د هغوی لمانځنه غندل كېږي؟!! خو رسول اللهﷺ د هغه ځواب همغه مهال ورنه كړ، د سورې تلاوت ته ئې دوام وركړ تر هغه چې د ده ځواب دلته وركړی شو!! ځينې وايي چې دا اعتراض د الانبياء د سورې د ٩٨ آيت په ارتباط شوی چې وايي: إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمۡ لَهَا وَٰرِدُونَ ﴿٩٨﴾: يقيناً چې تاسو به او هغه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ د دوزخ سون وئ، تاسو به ورننوتونكي وئ، او اعتراض دا وو: د لمر او سپوږمۍ عبادت شوی، مسيحيانو د عيسى صلعم او يهودانو د عزير صلعم عبادت كړی؛ آيا دوی به هم دوزخ ته ځي؟!! ګواكې د دې خبرې په اورېدو سره قريشو ځوړ جوړ كړ!! دوی په دې اړه په داسې رواياتو استناد كوي چې تر منځ ئې جدې او ژور تعارض شته، خو دا رأيه په څو دلائلو كمزورې ده: د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا وينا د يوه كس نه بلكې د ډېرو وه، دا د منلو وړ خبره نه ده چې د سورې د تلاوت په دوران كې اعتراض شوی او بيا په همدې سورې كې د اعتراض ځواب ويل شوی!! هر څوك پوهېږي چې دا سوره حتماً تر پېښې وروسته نازله شوې. دا تعبير د قريشو له دې وينا سره هم اړخ نه لګوي چې ويل ئې: زموږ معبودان ښه دي كه دی؟!

• د آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې قريشو د عيسى صلعم په اړه د قرآن په دغو وينااوو استدلال كړی چې وايي: عيسى صلعم په غيب پوهېدو، مړي ئې ژوندي كولی شول، له خټې جوړ شوي انځور ته ئې سا وركولی شوه، بيماران ئې روغولی شول، كه د هغه په اړه دا خبرې منلی شئ نو زموږ د معبودانو په اړه ئې ولې نه منئ، موږ هم دې ته ورته عقيده

لرو چي زموږ دا معبودان همدغه کارونه کولی شي چي عیسی صلعم کول. د آیت الفاظ داسي دي چي وايي: کله چي به د عیسی صلعم یادونه وشوه نو دوی به څوږ جوړولو، یعني دا کار په وار وار تکرار شوی. له وروستیو آیتونو هم په وضاحت سره معلومیږي چي خبره همداسي وه، څکه وروسته ویل شوي:

هغه خو یوازي یو داسي بنده وو چي پیرزوینه مو پرې وکړه او د بني اسرائیلو لپاره مو بېلګه وګرځاوو، او که مو غوښتلی نو له تاسو به مو په زمکي کي داسي فرشتې جوړې کړې وې چي ځای ناستې کېږي، او هغه خو د قیامت لپاره یوه علمي نښه ده؛ یعني تاسو هسې د عیسی صلعم په هغو معجزو استدلال کوئ او خپل شرکي عقائد پرې توجیه کوئ، هغه د الله تعالی بنده، د بني اسرائیلو لپاره یو مثال او د قیامت لپاره یوه نښه وو. د عیسی صلعم مثال یو استثنائي مثال دئ، بله بېلګه ئې نشته، داسي معجزې یوازي ده ته ورکړې شوې وې، او دا نه له دې کبله چي الله تعالی دا کار نشي کولی، الله تعالی دا هم کولی شي چي له تاسو داسي فرشتې جوړې کړي چي نسل به ئې په زمکي کي دوام کوي، خو نه هر څوك د عیسی صلعم په څېر کوي او نه تاسو د فرشتو په څېر. دې ته مو باید پام وي چي نن هم ډېر مشرکین د پیغمبرانو صلی په دغسي معجزو استناد کوي او خپلو مړو او ژوندیو پیرانو، مشائخو، اولیاوو او معبودانو ته همداسي خارق العاده چارې، علم غیب، د عالم په چارو کي د تصرف واك او اختیار ثابتوي.

- د ٦١ آیت په پای کي ویل شوي: نو د قیامت په اړه شك مه کوئ او زما متابعت وکړئ، همدا مستقیمه لار ده، له دې معلومیږي چي عیسی صلعم او د ده معجزې خلکو ته ښودله چي قیامت حق دئ، الله تعالی به مړي راژوندي کوي، الله تعالی عالم الغیب دئ او په دې پوهیږي چي خلك څه کوي، د عیسی صلعم په معجزو کي دغه مفاهیم انځور شوي او خلکو ته ښودل شوي چي که الله تعالی د یوه بنده په لاس دا کارونه کولی شي نو په خپله به ئې ولي نشي کولی!!
- ځینو درنو مفسرینو د یوه روایت په مټ ویلي چي د عیسی صلعم بیا راتګ به د قیامت لپاره نښه وي، خو دا رأیه او تعبیر په څو دلائلو موجه نه بریښي: دا تعبیر له موضوع او د آیت له سیاق و سباق سره قطعاً اړخ نه لګوي، آیا کېدی شي د داسي دوو خبرو تر منځ کوم تړاو وموموو: ١- مشرکینو به د عیسی صلعم د معجزو په اوریدو سره شور او څوږ جوړولو ٢- د عیسی صلعم له بیا راتګ به تاسو ته معلومه شي چي قیامت رانږدې شوی؟!! دا دواړه خبرې دومره سره لرې او بېلې بېلې دي چي تر منځ ئې هیڅ تړاو نشو موندلی. همداراز هغه قریش خو د عیسی صلعم بیاراتګ په خپلو سترګو نه ګوري چي د رسول اللهّ مخاطبین ول، په دې ئې هم باور نه درلود چي عیسی صلعم به بیا دنیا ته راځي، نو څنګه به دوی ته دا خبره کېدله؟!
- په پای کي مخالفینو ته ویل شوي: شیطان دې تاسو د دې حقیقت له منلو وانهړوي چي قیامت حتماً راتلونکی دئ، یقیناً چي شیطان ستاسو څرګند دښمن دئ.

وَلَمَّا جَآءَ عِيسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالَ قَدۡ جِئۡتُكُم بِٱلۡحِكۡمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعۡضَ ٱلَّذِي
تَخۡتَلِفُونَ فِيهِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٦٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا
صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٦٤﴾ فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ
عَذَابِ يَوۡمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾

او کله چې عيسی له څرګندو نښو سره راغی وئې ويل: يقيناً چې له حکمت سره درته راغلی يم او د دې لپاره چې ځيني هغه څه درته جوت کړم چې تاسو په کې اختلاف کوئ، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، يقيناً چې همدا الله هم زما رب دئ او هم ستاسو؛ نو وئې لمانځئ، همدا مستقيمه لار ده، نو دغو ډلو په خپل منځ کې اختلاف وکړ، نو د دردناکي ورځې د عذاب له کبله د هغو په حال افسوس چې ظلم ئې وکړ.

(٦٣-٦٥)- په دې مبارکو آيتونو کې هم د قريشو د هغه استدلال او بې ځايه شور ځوږ د مزيد ترديد لپاره د عيسی صلعم ويناوې په دې توګه راوړل شوې: کله چې عيسی صلعم له هغو څرګندو نښو او معجزو سره راغی نو وئې ويل: يقيناً چې له حکمت سره درته راغلی يم او د دې لپاره چې ځيني هغه څه درته جوت کړم چې تاسو په کې اختلاف کوئ، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، يقيناً چې همدا الله هم زما رب دئ او هم ستاسو، نو د الله تعالی عبادت وکړئ، همدا مستقيمه لار ده. لکه چې ګورئ دلته د عيسی صلعم هغه وينا راغلې چې په هغې کې ئې پر توحيد او يوازې د الله تعالی پر لمانځني تأکيد کړی او بني اسرائيلو ته ئې ويلي: يوازينی مستقيمه لار دا ده چې د الله تعالی عبادت وکړئ. د دې معنی دا ده چې قريشو د عيسی صلعم پر معجزو د شرك په اثبات کې غلط استناد کړی او الله تعالی په خپله د عيسی صلعم په وينا سره د دوی ادعاء رد کړې.

- **د بني اسرائيلو مختلفو ډلو د عيسی صلعم په اړه په خپل منځ کې اختلاف وکړ، ځينو پر ده او د ده پر مور تورونه ولګول، ځينو له روميانو سره لاس يو کړ او د ده د وژلو هڅه ئې وکړه، ځينو هغه د خدای زوی وګڼلو، ځينو د خدای ځای ناستی او شريك، ځينو په خپله خدای چې د انسان په بڼې کې زمکې ته راکوز شوی!! او د دوی محدود شمېر کسانو د يوه پيغمبر په توګه وپېژندو او په صحيح توګه ئې پر ده ايمان راوړ، د هغو په حال افسوس چې ظلم ئې وکړ، له دې کبله چې د دردناکي ورځې عذاب به ئې په برخه شي.**

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٦٦﴾ ٱلۡأَخِلَّآءُ

يَوۡمَئِذِۢ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ يَٰعِبَادِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَ
وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ﴿٦٨﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ مُسۡلِمِينَ ﴿٦٩﴾ ٱدۡخُلُواْ
ٱلۡجَنَّةَ أَنتُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ تُحۡبَرُونَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيۡهِم بِصِحَافٖ مِّن ذَهَبٖ وَأَكۡوَابٖۖ
وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ ٱلۡأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلۡأَعۡيُنُۖ وَأَنتُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٧١﴾ وَتِلۡكَ
ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِيٓ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٧٢﴾ لَكُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ كَثِيرَةٞ مِّنۡهَا
تَأۡكُلُونَ ﴿٧٣﴾

آیا له دې پرته د بل څه انتظار لري چي (د قیامت) نېټه په ناڅاپي توګه ورته راشي په داسي حال کي چي دوی به نه پوهېږي. په دې ورځ به دوستان ځیني د ځینو نورو لپاره غلیمان وي، مګر متقیان، اې زما بندګانو! نن نه کومه وېره درباندي شته او نه به تاسو غمجن کېږئ، هغه چي زما پر آیتونو ئې ایمان راوړی او مسلمانان ول، جنت ته ننوځئ تاسو هم او ستاسو مېرمني هم، په داسي حال کي چي خوښي به مو په برخه شي، پر دوی به د سرو زرو نالبکي او ګیلاسونه تاوراتاو کېږي، او په هغوی کي هغه څه چي زړونه ئې غواړي او سترګي ترې خوند اخلي، په داسي حال کي چي تاسو به په هغه کي تلپاتي وئ، او دا همغه جنت دئ چي تاسو ته د هغه څه له کبله په میراث درکړی شوی چي کول مو، په دې کي تاسو ته ډېري داسي مېوې دي چي ترې خورئ به ئې.

(٦٦-٧٣)- په دې مبارکو آیتونو کي ویل شوي:

- آیا دا مخالفین له دې پرته د بل څه انتظار لري چي د قیامت ټاکلې نېټه په ناڅاپي توګه ورته راشي په داسي حال کي چي د دوی په خیال کي به هم نه ګرځي؟
- د قیامت په ورځ به له متقیانو پرته د نورو تر منځ نه یوازي د دوستۍ اړیکي قطع وي بلکي نږدې دوستان به داسي ومومي چي ځیني به ئې د ځینو نورو لپاره غلیمان وي.
- د الله تعالی له لوري به وویل شي: اې زما بندګانو! نن نه کومه وېره درباندي شته او نه به تاسو غمجن کېږئ، جنت ته ننوځئ؛ تاسو هم او ستاسو مېرمني هم، په داسي حال کي چي خوښي به مو په برخه شي، دا به هغه بندګان وي چي د الله تعالی پر آیتونو ئې ایمان راوړی او عملاً ورته منقاد او تسلیم ول، پر دوی به د سرو زرو نالبکي او ګیلاسونه تاوراتاو کېږي، او په هغوی کي به هغه څه وي چي زړونه ئې غواړي او سترګي ترې خوند اخلي، په داسي

حال کې چې په دې جنت کې به تلپاتې وي، دوی ته به وويل شي: دا همغه جنت دئ چې تاسو ته د هغه څه له کبله په ميراث درکړی شوی چې په دنيا کې مو کول، په دې جنت کې ډېرې داسې مېوې دي چې تاسو ئې تل ترې خوړلی شئ.

إِنَّ ٱلۡمُجۡرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنۡهُمۡ وَهُمۡ فِيهِ مُبۡلِسُونَ
﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن كَانُواْ هُمُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوۡاْ يَٰمَٰلِكُ لِيَقۡضِ عَلَيۡنَا
رَبُّكَۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ﴿٧٧﴾ لَقَدۡ جِئۡنَٰكُم بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَكُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ


يقيناً چې دا مجرمين به د دوزخ په عذاب کې تلپاتې وي، له دوی به سست او سپک نه کړی شي او دوی به په کې ناهيلي وي، او موږ پر دوی ظلم نه دئ کړی بلکې دوی پر خپل ځان ظلم کولو، او غږ به کړي: اې مالکه! ستا رب دې پر موږ پای ته ورسوي، وبه وايي: تاسو پاته کېدونکي یئ، يقيناً چې حق مو دروړ خو ستاسو ډېری له حق کرکه کوونکي يئ.

(٧٤-٧٨)- دلته په دوزخ کې د مجرمينو حالت داسې انځور شوی:

- دا مجرمين به د دوزخ په عذاب کې تلپاتې وي.
- عذاب به ئې هيڅکله سست او سپک نه شي.
- دوی به له هره پلوه ناهيلي وي، او د نجات هيڅ هيله او طمع به نه لري.
- له دې بد برخليك سره د خپل ظلم له کبله مخامخ شوي، الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ کړی، بلکې دوی پر خپل ځان ظلم کولو.
- د دوزخ خازنانو ته به په دې صيغه غږ کړي: اې مالکه! ستا رب دې حتماً زموږ کار پای ته ورسوي، زموږ د مرگ پرېکړه دې وکړي!! خازن به ځواب ورکړي: تاسو دلته د تل لپاره پاته کېدونکي یئ، يقيناً چې موږ حق دروړ خو ستاسو ډېری له حق کرکه کوونکي وئ.

أَمۡ أَبۡرَمُوٓاْ أَمۡرٗا فَإِنَّا مُبۡرِمُونَ ﴿٧٩﴾ أَمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّا لَا نَسۡمَعُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۚ بَلَىٰ
وَرُسُلُنَا لَدَيۡهِمۡ يَكۡتُبُونَ ﴿٨٠﴾ قُلۡ إِن كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٞ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡعَٰبِدِينَ ﴿٨١﴾
سُبۡحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾ فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ

وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾

آیا د کوم کار قطعي پرېکړه ئي کړې؟ نو موږ هم فیصله کوونکي یو، آیا داسي انګېري چي موږ ئې سري خبري او پټي مشورې نه اورو؟ ولي نه؛ او د دوی په خوا کي زموږ استازي ئې لیکي، ووایه: که رحمن زوی درلودی نو زه د عابدانو لومړنی یم، له هغه څه چي دوی ئې بیانوي د آسمانونو او زمکي رب؛ د عرش مالك ته سپیڅلتیا ده. نو پرېږ ئې ږده چي هسي لګیا وي او لوبي کوي تر هغه چي له خپلي هغي ورځي سره مخامخ شي چي وعده ئې ورکول کېږي.

(۷۹-۸۳)- د دې مبارکو آیتونو مهم مهم مطالب دا دي:

- رسول اللهﷺ ته ویل شوي: آیا ستا مخالفینو د کوم جدي کار قطعي پرېکړه کړې؟ غواړي ستا په ضد کوم خطرناك اقدام وکړي؟ په دې دي پوه وي چي موږ به هم د همداسي کار پرېکړه کوو، وبه ګوري چي څوك خپله پرېکړه پلې کولی شي.
- آیا دوی داسي انګېري چي الله تعالی ئې سري خبري او پټي مشورې نه اوري؟ نه یوازي دا چي الله تعالی د دوی سري او د راز پټي خبري او مشورې اوري بلکي د دوی په خوا کي ګمارل شوې فرشتې هر څه لیکي. له دې آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا سوره هغه مهال نازله شوې چي د قریشو سردارانو په خپلو سري غونډو کي د رسول اللهﷺ په ضد د پرېکنده اقدام خبري او مشورې کولې او غوښتل ئې کوم خائنانه عمل وکړي، داسي چي عام ولس پرې خبر نشي او په پټه ترسره شي.
- رسول اللهﷺ ته ویل شوي چي مشرکینو ته ووایي: که رحمن خدای زوی درلودی نو تر هر چا وړاندي به ما دغه خبره کوله، زه خو د خپل رب مطیع بنده یم او غواړم په هر څه کي تر نورو وړاندي د الله تعالی اوامرو ته غاړه کېږدم. دې ته مو پام وي چي د اول العابدین معنی دا نه ده چي رسول اللهﷺ تر ټولو انسانانو وړاندي د الله تعالی عبادت پیل کړی، ګواکي هغه تر ټولو انسانو وړاندي پیدا شوی، دا په خرافاتو او شرك کي د غرقو منحرفینو خوشې خبري دي، معنی ئې دا ده چي زه تر هر چا وړاندي خپل رب ته مطیع یم، که الله تعالی زوی درلودی نو ما به تر تاسو وړاندي دغه خبره کوله.
- الله تعالی له هغه څه چي مشرکین ئې ورته منسوبوي منزه دئ، د آسمانونو او زمکي رب؛ د عرش مالك ته د دوی له دې وینا سپیڅلتیا ده چي زوی او ځای ناستی لري.
- دوی پرېږده چي په دغو خرافاتو او مسخره خبرو کي بوخت وي او د ماشومانو په څېر لوبي کوي، الله تعالی له دوی سره د محاسبې ثابته ورځ ټاکلې، له دغي ورځي سره به هرومرو مخامخ کېږي، له دوی سره شوې وعده حتماً ترسره کېږي.

وَهُوَ ٱلَّذِي فِي ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٞ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَٰهٞۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٨٤﴾ وَتَبَارَكَ

ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَعِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَإِلَيۡهِ
تُرۡجَعُونَ ﴿٨٥﴾ وَلَا يَمۡلِكُ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ
بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٨٦﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ
﴿٨٧﴾ وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ ﴿٨٨﴾ فَٱصۡفَحۡ عَنۡهُمۡ وَقُلۡ سَلَٰمٞۚ
فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿٨٩﴾

او دى هغه ذات دئ چي هم په آسمانو كي اله دئ او هم په زمكي كي اله، او هغه پوه باحكمته دئ، او هغه ذات مبارك دئ چي د آسمانونو او زمكي او هر هغه څه واك له ده سره دئ چي په دوى دواړو كي دي، او د قيامت د ورځي علم له ده سره دئ او د ده لوري ته ورگرځول كيږئ، او هغه د شفاعت واك نه لري چي له ده پرته ئې بلې مگر هغه چي په ربښتينې توگه گواهي وركړي په داسي حال كي چي پوهيږي. او كه ئې وپوښتې: چا پيدا كړي؛ حتماً به وايي: الله، نو له كومه دوكه كيږي؟! او دا وينا ئې گواه ده چي اې زما ربه! دا ټولى هغه وگړي دي چي ايمان نه راوړي، نو مخ ترې واړوه او ووايه: سلام، ژر به پوه شي.

(٨٤-٨٩)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- **الله تعالى هغه ذات دئ چي هم په آسمانو كي يوازينى معبود دئ او هم په زمكي كي، له ده پرته بل معبود نشته او هغه پوه باحكمت دئ، د (علم) او (حكمت) مظاهر ئې په ټول عالم كي جوت دي. الله تعالى هغه مبارك ذات دئ چي د آسمانونو او زمكي او هر هغه څه واك له ده سره دئ چي په دوى دواړو كي دي، دى په هر څه كي بركت اچوي او وده وركوي، هر څه د ده حكم ته تابع او منقاد دي او همغه كار كوي چي ده پرې گمارلي. د زمكي او آسمانونو هر څه د حال په ژبه گواهي وركوي چي (مالك) لري او دا مالك ئې (مبارك) دئ.**
- **د قيامت د ورځي علم له الله تعالى سره دئ، بل چا ته دا علم نه دئ وركړى شوى.**
- **ټول به د ده لوري ته ورگرځول كيږئ.**
- **مشركين چي له چا د شفاعت هيله لري او گمان كوي چي دوى كولى شي د الله تعالى په وړاندي د دوى شفاعت وكړي، د سپارښتني او شفاعت له لاري په دنيا كي د دوى حاجتونه ترسره كړي او په آخرت كي ئې له محاسبې او مؤاخذې وژغوري؛ دوى د شفاعت هيڅ واك او صلاحيت نه لري، يوازي هغه څوك د الله تعالى په وړاندي د چا شفاعت كولى شي چي دوه ځانگړتياوي ولري: ١- ربښتيا ووايي، د داسي چا شفاعت وكړي چي د شفاعت وړ وي، د**

غیرمستحق او نااهل انسان شفاعت ونه کړي، ۲- علم ولري، هغه کس په تمامه معنی او بشپړه توګه وپېژني چې دی ئې شفاعت کوي، داسي نه چې په پټو سترګو او ناپوهۍ سره د غلطو خلکو او داسي چا په اړه سپارښتنه وکړي چې دی ئې نه پېژني. دا دواړه شرائط دومره ګران او سخت شرائط دي چې د شفاعت امکان تر ډېره حده منتفي کوي. قرآن پر دې سربېره د شفاعت لپاره ځیني نور شرائط هم ږدي، لکه دا چې شفاعت به د الله تعالی په إذن سره او د هغه چا په اړه وي چې الله تعالی د هغه په اړه شفاعت مني او هغه څوك به شفاعت کولی شي چې الله تعالی د شفاعت اجازه ورکړي.

- که دا مشرکین وپوښتې چې چا پیدا کړي؛ نو ځواب به ئې حتماً دا وي: الله تعالی پیدا کړي یو!! نو سره له دې څنګه او له کومه دوکه کېږي؟! که دوی له دې پرته بل ځواب نشي ویلی نو بیا د دې لپاره څه دلیل لري چې د همدې الله تعالی له لوري د یوه پیغمبر او د هغه په لاس د یوه لارښود کتاب لیږل نه مني او په دې باور نه کوي چې الله تعالی به ئې بیاراژوندي کوي او د ده لوري ته به درومي؟!!
- په ۸۸ آیت کي د داسي ترکیب شاهد یو چې په اړه ئې په تفسیرونو کي ژور او پراخ اختلافات ګورو، آیت داسي دئ: وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ لکه چې ګورئ دا آیت په (و) پیل شوی؛ ځینو دا د عطف (و) ګڼلی او ځینو د قسم (و)، د لومړی ډلي په مفسرینو کي ځینو دا آیت په یوه مخکني آیت عطف کړی او ځینو په نورو، ځیني د (قیله) صیغه (قِيْلَه) بولي او ځیني ئې (قِيْلِه)، په دوهمي ډلي کي ځیني د قسم ځواب یو څه او ځیني ئې بل څه ګڼي، که دا ټول آراء او د هري ډلي دلائل راواخلو نو د لوستونکو کافي وخت به پرې ضائع شي، ځیني ئې داسي دي چې اصلاً په یادولو او څېړلو نه ارزي، کوم تعبیر چې موږ ته غوره برېښېدلی هغه دا دئ: دا (و) د قسم واو دئ، او (قیله) له معروف قرائت سره سم (قِيْلِه) ده، په دې قسم سره د قرآن د نورو قسمونو په څېر مقسم به د شاهد او ګواه په توګه وړاندي شوی، مقسم به د رسول اللهﷺ دا وینا ده يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ: ای زما ربه! دا قوم ایمان نه راوړي، یعني رسول اللهﷺ د خپل قوم له ایمان راوړلو مأیوس شوی او دې نتیجې ته رسېدلی چې په دوی کي د ایمان راوړلو استعداد ځپل شوی او داسي څوك نه دئ په کي پاته چې د ایمان راوړلو طمع ئې کېدی شي، په داسي حال کي چې الله تعالی هم فرمایي: فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ : نو له کومه دوکه کېږي؟! یعني دوی له دې وروسته د ایمان نه راوړلو لپاره هیڅ توجیه او مبرر نه لري او په داسي حال کي چې رسول اللهﷺ هم د دوی له ایمان راوړلو مأیوس شوی؛ نو اوس به الله تعالی له دې ولس سره څه کوي؟ د دې پوښتني ځواب ډېر څرګند دئ او هغه دا چې الله تعالی به حتماً دوی ته سزا ورکوي، دا د الله تعالی سنت دئ چې کله کوم پیغمبر له کافي دعوت وروسته له خپل ولس مأیوس شوی او الله تعالی ته ئې شکایت کړی نو پر هغه قوم د الله تعالی عذاب نازل شوی، اوس نو د دوی او الهي عذاب تر منځ هیڅ مانع نشته، او دا همغه مطلب دئ چې د ورپسې آیت په پای کي په دې صیغه

راغلی: فسوف يعلمون: حتماً او ژر به پوه شي. او په همدې وينا کي د مخکني قسم ځواب پروت دئ. نو د آيت غوره او دقيق تعبير دا دئ: د رسول اللهﷺ دا وينا چي وئې ويل: اې زما ربه! دا قوم ايمان نه راوړي، د دې شهادت او ګواهي ورکوي چي دا قوم به حتماً په الهي عذاب اخته شي او وبه ګوري چي له کوم سپېره برخليك سره مخامخ کېږي.

د سورې وروستی آيت چي د ټولي سورې لپاره ښکلې او دقيقه تتمه او خلاصه ده وايي: نو مخ ترې واړوه او ووايه: سلام، ژر به پوه شي. يعني د دوی پروا مه کوه، د دوی په اړه انديښني پرېږده، اعتناء مه ورته کوه، په يوه سلام سره ترې تېرېږه، مطمئن اوسه چي ډېر ژر به پوه شي چي د دوی کفر، شرك او له حق دين سره مخالفت له کوم شوم برخليك سره مخامخ کړل.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الدخان

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم (الدخان) دئ چي د سورې له ۱۰ آيت اخيستل شوی، ٥٩ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (المبين)، او د دولسم آيت (مؤمنون) ته ورته دي، يوازي دري ځلوېښتم آيت ئې په الزقوم پای ته رسېدلی خو دا آيت له ورپسې آيت سره داسي تړلی دئ چي په ګډه په (الاثيم) پای ته رسېدلي، آيتونه ئې تر متوسطو لږ لنډ دي او هغو سورتونو ته ورته دي چي د مکې د لومړي دور په وروستيو کلونو کي نازل شوي. که د سورې د آيتونو اوږدوالي او مضامينو ته ځير شو راته جوته کېږي چي دا تر مخکنيو ځلورو سورتونو وړاندي نازله شوې.

دا سوره هم په دوو مقطعاتو حروفو (حاء) او (ميم) پيل شوې، دا د دې نښه ده چي په دې مبارکي سورې کي هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتيب ئې هم داسي دئ لکه په همداسي دوو پر له پسې حروفو پيل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی، **متن ئې ګواهي ورکوي چي د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- دا کتاب ځينو ته د برکتونو ډالۍ په لمن کي لري او ځينو ته د الهي عذاب ګواښونه.**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ﴿٣﴾
فِيهَا يُفۡرَقُ كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ ﴿٤﴾ أَمۡرٗا مِّنۡ عِندِنَآۚ إِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ﴿٥﴾ رَحۡمَةٗ مِّن
رَّبِّكَۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦﴾ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن
كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ
ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٨﴾ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ يَلۡعَبُونَ ﴿٩﴾

حاء میم، قسم په دې څرګند کتاب، یقیناً چې مونږ په یوې مبارکې شپې کې نازل کړی، بې شکه چې موږ انذار کوونکي یو، په دې کې د هر حکیمانه کار پرېکړه کېږي. زموږ له لوري د یوه امر په توګه، یقیناً چې موږ لېږونکي وو، ستا د رب یوه پېرزوینه، یقیناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ، د آسمانونو او زمکې او هر هغه څه رب چې په دوی په دواړو کې دي، که یقین کوونکي يئ، له ده پرته بل اله نشته، ژوند او مرګ بخښي، ستاسو رب او ستاسو د لومړنیو پلرونو رب، خو دوی په داسې حال کې په لوبو بوخت دي چې په شك کې دي.

(۱-۹)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرئ:

- **دا سوره هم** د (حاء) او (میم) په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی، **متن ئې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- دا کتاب ځینو ته د برکتونو ډالۍ په لمن کې لري او ځینو ته د الهي عذاب ګواښونه.**
- **دلته په مبین کتاب لوړه شوې او ویل شوي: قسم پدې څرګند کتاب. ورپسې د قسم ځواب راغلی او ویل شوي: یقیناً چې مونږ په یوې مبارکې شپې کې نازل کړی، یعني دا مبین کتاب**

په خپله د دې شاهد او ګواه دئ چې د الله تعالی له لوري لیږل شوی، دا د محمد صلعم په خپلو افکارو مشتمل کتاب نه دئ، بلکې د الله کتاب دئ، د نزول شپه ئې یوه مبارکه شپه وه، دا ځکه چې دا له برکتونو ډک کتاب په کې نازل شوی.

- دلته د قرآن د نزول د شپې په اړه څو خبرې شوې:

الف: دا مبین کتاب په کې نازل شوی، یعني د قرآن نزول په دغه شپه پیل شوی.
ب: دا شپه ډېره بختوره او مبارکه شپه ده.
ج: د هر حکیمانه کار پرېکړه په دې شپه کې صادرېږي.

- دلته د قرآن د نزول شپه د مبارکې شپې په نامه یاده شوې او (مبارکة) د دې شپې یو صفت دئ؛ همداسې د القدر په سورې کې (سلام) د دې شپې بل صفت دئ، یعني دا د (برکت) او (سلامتیا) شپه ده، ستا سلامتیا په دغې بختورې، مبارکې او له سلامتیا ډکې شپې کې مضمر ده، دا شپه د برکتونو او سلامتیا له پیغام سره ستا خوا ته درځي.
- د درېیم آیت په دوهمې برخې کې ویل شوي: بې شکه چې موږ انذار کوونکي یو، یعني الله تعالی د دې کتاب په لېږلو سره هغو وګړو ته خبرداری ورکوي چې له دې لاربنود کتاب سره مخالفت کوي او د کفر، شرك، ظلم او فساد لار غوره کوي.
- الله تعالی فرمایي چې د قرآن د نزول د مبارکې شپې بل صفت دا دئ: په دې کې د هر حکیمانه کار پرېکړه کېږي، زموږ له لوري د یوه امر په توګه، یعني دا کتاب په داسې مبارکې شپې کې نازل شوی چې په هغې کې ټول مقدرات په حکیمانه توګه ټاکل کېږي، قرآن په همدې شپه کې رالېږل شوی؛ نو قرآن ستا د برخلیك کتاب دئ، د دغه کتاب له مخې ستا برخلیك ټاکل کېږي، د القدر په سورې کې هم د قرآن د نزول شپه د (لیلة القدر) په نامه یاده شوې، یعني دا د مقدراتو د ټاکلو شپه ده، یعني که په دې شپه کې د الله تعالی مأمور فرشتې تا داسې ومومي لکه چې د دې مبارکې شپې تقاضا ده، ټولې به پر تا سلام وایي او ستا په برخلیك پاڼې کې به برکتونه او سلامتیا درته لیکي، خو که ته د دې شپې د برکت او سلامتیا له پیغامه څه ترلاسه نه کړی شې، ستا وضعیت او ستا عزائم د دې شپې د غوښتنو او مقتضیاتو مغایر وو، نو د دې شپې له فضیلت او برکاتو به محروم وې او دا سعادت به دې په برخه نه شي چې دا فرشتې ستا برخلیك پاڼې کې د حکیمانه او غوره کارونو د سرته رسولو توفیق ولیکي، د مخکې په څېر به په ناسمو کارونو کې مشغول پاته شې.
- **د قرآن مبارك او له حکمتونو ډك متن ښیي چې لیږونکی ئې الله تعالی دئ، او د دې کتاب حامل رسول الله ﷺ د الله تعالی استازی دئ.**
- **دا کتاب ستا د رب له لوري یوه ستره پېرزوینه ده، له مهربان رب (پالونکي) سره همدا ښایي چې انسان مهمل پرې نږدي، د هغه د پالنې، روزنې او لاربښوونې لپاره کتاب ولېږي.**
- **دا کتاب د یوه اورېدونکي رب له لوري لیږل شوی، د انسان فطرت او اړتیاوې او د دې فطرت غوښتنې ورته معلومې دي، دا کتاب په حقیقت کې د انسان د فطرت غوښتنو ته د انسان د پالونکي مهربان رب ځواب دئ.**
- **د آسمانونو او زمکې او هر هغه څه رب چې په دوی دواړو کې دي، که یقین کوونکي یئ، یعني دا کتاب د ټول عالم پالونکي رب لېږلی، هغه رب چې د آسمانونو او زمکې هر څه**

پالي؛ خود به د انسان د پالنې انتظام کوي، د همدې لپاره ئې دا کتاب رالېږلی.

- **دا لارښود کتاب د هغه الله له لوري نازل شوی چې له ده پرته بل معبود نشته، د ژوند او مرگ پرېکړه د ده له لوري کېږي، هم ستاسو رب دئ او هم ستاسو د لومړنيو پلرونو رب.**
- **څوك چې د قرآن له منلو ډډه کوي او د مخالفت لار غوره کوي؛ د مخالفت لپاره هيڅ دليل نه لري، د بې بنسټه او مجرد شك له څرگندولو پرته بل څه نشي ويلی، دوی داسې دي لکه په لوبو بوخت ماشومان.**
- د قرآن انزال او راکوزول هم په دې معنی ده چې دا الهي پيغام بر له آسمانونو لاندې زمکې ته رالېږل شوی او هم په دې معنی چې د دې لوړ الهي کلام اوچته مستوی د انسان د درك او فهم کچې ته راکوزه شوې، يعني الله تعالی د خپل لوړ او باعظمته کلام مستوی دومره راکوزه کړې چې د زمکې پر سر اوسېدونکي انسان ته د فهم وړ شي. د سورې په پای کې په دې اړه داسې ويل شوي: نو يقيناً چې ستا پر ژبه مو آسان کړ چې پند واخلي، او دا د نزول دوهم مفهوم افاده کوي.
- د انزلنٰه (مونږ قرآن نازل کړ) په هکله ځينې وايي چې قرآن د وحې د پيل په دغې شپې کې ټول يو ځای پر پيغمبر عليه السلام نازل شوی!! خو دا رأيه د قرآن له هغو صريح آيتونو سره تعارض او مغايرت لري چې د قرآن په تدريجي نزول باندې تأکيد کوي. ځينې مفسرين دا وايي چې قرآن د ليلة القدر په دغې شپې کې ټول يو ځای له عرش د دنيا آسمان ته رالېږل شوی، دوی د عبدالله بن عباس **رسول** په يوه روايت استناد کوي. راشئ وگورو چې د قرآن نور آيتونه د قرآن د نزول په اړه څه وايي، په کار ده د دې آيت تفسير تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کې ولټوو او هغه رأيه د اعتبار وړ ونه گڼو چې له قرآني شرحې سره تصادم کوي. قرآن په دې اړه په ډېر صراحت سره فرمايي:

وَقُرْءَانًا فَرَقْنَٰهُ لِتَقْرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَٰهُ تَنزِيلًا ﴿١٠٦﴾

الاسراء :١٠٦

او قرآن مو ټوك ټوك کړ، ترڅو ئې په ځنډ ځنډ سره پر خلکو ولولې او په ځانگړې کوزولو سره مو راکوز کړ.

همدا راز فرمايي:

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلْقُرْءَانُ جُمْلَةً وَٰحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۖ وَرَتَّلْنَٰهُ تَرْتِيلًا ﴿٣٢﴾

الفرقان : ٣٢

او کافرانو وويل: ولې دا قرآن په يوه وار ټول يو ځای پر ده نه دئ نازل شوی؟ داسې مو وکړل تر څو ستا زړه پرې مضبوط کړو او ورو ورو ئې ولولو.

دا آيتونه په ډېر وضاحت سره ښيي چې د قرآن (نزول) تدريجي، ټوك ټوك، ورو ورو او له ځنډ او وقفې سره توأم وو او دا د هغو خلکو په رأيي د بطلان کرښه راکاږي چې پر پيغمبر

صلعم د قرآن په یو وار او یو ځای نزول باور لري.

هغه څوك چې اوربېدلي ئې دي یا ګمان کوي د انزال او تنزیل تر منځ توپیر شته، یو ئې تدریجي راکوزېدل او بل ئې یو ځایي راکوزېدل افاده کوي، اشتباه ئې کړې او دا ځکه چې قرآن په ځای ځای کي د باران د وربدو لپاره د (انزلنا) صیغه کارولې، چې په ټولو کي تدریجي وربښت ترې مراد دئ نه د ټولو اوبو یو ځایي راتویېدل. د دوی اصلي مشکل دا نه دئ چې د نحوي په کوم کتاب کي ئې دا قاعده لوستلې، اصلي مشکل ئې دا دئ چې پیغمبر **صلعم** او خپل ائمه عالم الغیب ګڼي او دا خبره د دوی له غلطي عقیدې سره سمون نه خوري چې پیغمبر **صلعم** په سر کي او د وحي په لومړۍ ورځ د قرآن له هغو برخو خبر نه وو چې وروسته وروسته پرې نازله شوې. د غلطي عقیدې په نسبت جاهلانه تعصب دغسي وي، د دې پر ځای چې خپله غلطه عقیده د سمي خبري په اورېدو سره تصحیح کړي برعکس سمه خبره غلطه توجیه کوي، حتی د قرآن خبره.

قرآن په دې خبري شهادت ورکوي چې پر پیغمبر **صلعم** د وحي د نزول پیل د روژې په مبارکي میاشت کي شوی، لکه چې فرمایي:

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ

البقرة: ١٨٥

د روژې میاشت هغه ده چې قرآن په کي نازل شوی، د خلکو لاربښود، څرګندي لاربښووني او فرقان (د حق او باطل تر منځ د تفریق او توپیر ذریعه) ...

له دې آیته په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې لیلة مبارکة او لیلة القدر د روژې د میاشتي یوه شپه ده. د دغي میاشتي د درنښت لپاره پر مونږ د دې میاشتي روژه فرض شوې او دا د هغه ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره ده چې د قرآن په بڼه کي الله تعالی پر مونږ پېرزو کړی او د دې میاشتي هغه ځانګړې شپه چې قرآن په کي نازل شوی د دې لپاره د (قدر شپه) نومول شوې او تر زرو میاشتو غوره ګڼل شوې چې د قرآن د نزول ستره پېښه په کي رامنځته شوې، د دې میاشتي او هغي ځانګړې شپې اهمیت ئې د هغي ستري حادثي له کبله دئ که نه نو، ایام او اوقات ټول یو شانته دي او څه توپیر په کي نشته.

فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ﴿١٠﴾ يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١١﴾ رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا ٱلۡعَذَابَ إِنَّا مُؤۡمِنُونَ ﴿١٢﴾ أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكۡرَىٰ وَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مُّبِينٞ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٞ مَّجۡنُونٌ ﴿١٤﴾ إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ﴿١٥﴾ يَوۡمَ نَبۡطِشُ ٱلۡبَطۡشَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴿١٦﴾

نو هغي ورځي ته انتظار کوه چي آسمان به داسي څرګند لوګی راوړي چي خلك به پوښي، دا دردناك عذاب دئ، اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لري کړه؛ موږ حتماً ايمان راوړونکي يو، څنګه به ئې پند اخيستل په برخه وي حال دا چي څرګندونکی پيغمبر ورغی، بيا دوی مخ واړاوو او وئې ويل: يو پوه کړی شوی لېونی دئ، يقيناً چي موږ لږ شيبه د عذاب لري کوونکي يو؛ تاسو بېرته ستنېدونکي يئ، هغه ورځ چي موږ به په سخت نيولو سره نيول وکړو يقيناً چي موږ انتقام اخيستونکي يو.

(١٠-١٦)- د دې مبارکو آيتونو په مطلب د ښه پوهېدو لپاره لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- رسول اللهﷺ ته ويل شوي: هغي ورځي ته انتظار کوه چي آسمان به داسي څرګند لوګی ~~راوړي چي خلك به پوښي، دا دردناك عذاب دئ، په دې عذاب اخته شوي خلك به وايي:~~ اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لري کړه؛ موږ حتماً ايمان راوړونکي يو. يعني هغه خلك چي له کوم دليل پرته او فقط د شکونو پر بنسټ د قرآن مخالفت کوي خپلي مخي ته پرېږده، دوی قيامت نه مني په خپلو سترګو به ئې وګوري، دوی الهي عذاب نه مني او د پيغمبر ګواښونو او انذار ته اعتناء نه کوي په خپلو سترګو به دا عذاب وګوري، دا عذاب به خپل وزر پرې وغوړوي، د څرګند لوګي په بڼي کي به ئې وګوري، هغه مهال به دا په عذاب اخته شوي کافران وايي: اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لري کړه؛ موږ له دې وروسته مؤمنان يو.
- خو هغه مهال به دا ايمان راوړل هيڅ ګټه نه وررسوي، دا ځکه چي تر دې وړاندي پيغمبر ورغی، له څرګند پيغام سره، دا حقيقت ورته جوت شوی وو چي هغه د الله تعالی له لوري لېږل شوی خو هغوی مخ واړاوو او وئې ويل: يو پوه کړی شوی لېونی دئ، پيغمبر ته ئې د مجنون خطاب وکړ او د هغه وينا ئې د کوم انسان له لوري ده ته ښودل شوې وينا وګڼله!!
- الله تعالی په وار وار له دوی سره دا احسان کړی چي کله ئې د ګناهونو له کبله له مصيبتونو سره مخامخ کړي او دوی ندامت ښودلی او خدای ته ئې مخه کړې الله تعالی موقتاً مصيبت ترې لري کړی خو هغوی بېرته خپل مخکني کفر او شرك ته ستانه شوي.
- دوی ته تر هغي ورځي انتظار وکړه چي الله تعالی به ئې په سخت نيولو سره ونيسي، دا ځکه چي هغه انتقام اخيستونکی دئ.
- د صحابه وو، تابعينو او د لومړني دور مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف تر سترګو کېږي چي په آسمان کي د لوګي څرګندېدو مراد څه دئ او دا واقعه به کله رامنځته کېږي، ځيني وايي چي په دې سره هغي قحطي ته اشاره شوې چي قريش ورسره مخامخ شوي، دوی د عبد الله بن مسعود ﷻ په يوه روايت استناد کوي، مجاهد، قتاده، ابوالعاليه، مقاتل، ابراهيم النخعي، ضحاك او ځيني نور همدا رأيه لري، خو د دوی په مقابل کي د علي، ابن عمر، ابن عباس، ابوسعيد خدري، زيد بن علي، حسن بصري وسلم په څېر شخصيتونه له دې رأيي سره موافق نه دي او وايي چي له دې لوګي هغه لوګی مراد دئ چي په موثقو رواياتو کي ورته اشاره شوې ده او د قيامت له علائمو څخه ګڼل شوی. د آيت له سياق و سباق هم معلومېږي چي دا د قيامت له علائمو يوه علامه ده. راشئ دغه روايت له نظره تېر کړو چي

مرجوح او غيرموثق دئ او داسي دئ:
حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ اللهِ فَقَالَ إِنَّ النَّبِيَّ لَمَّا رَأَى مِنَ النَّاسِ إِدْبَارًا قَالَ "اللهمَّ سَبْعٌ كَسَبْعِ يُوسُفَ". فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ وَالْجِيَفَ، وَيَنْظُرَ أَحَدُهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فَيَرَى الدُّخَانَ مِنَ الْجُوعِ، فَأَتَاهُ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّكَ تَأْمُرُ بِطَاعَةِ اللهِ وَبِصِلَةِ الرَّحِمِ وَإِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوا، فَادْعُ اللهَ لَهُمْ، قَالَ اللهُ تَعَالَى (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ) إِلَى قَوْلِهِ (عَائِدُونَ * يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى) فَالْبَطْشَةُ يَوْمَ بَدْرٍ، وَقَدْ مَضَتِ الدُّخَانُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَآيَةُ الرُّومِ. (بخاري:۱۰۰۷)

له عبدالله بن مسعود ﷺ روايت دئ چي وايي: كله چي رسول الله ﷺ د خلكو مخالفت او ايمان نه راوړل وليد، وئي فرمايل: (اې خدايه! د يوسف (عليه السلام) د زماني په څېر اوه كاله وچكالي پرې راوله) نو قريش له داسي وچكالۍ سره مخ شول چي هر څه ئي له منځه يووړل، تر دې چي پوستكي، مړه څاروي او مړزګي ئي خوړل، او كه كوم يوه به آسمان ته وكتل نو له ډېري لوږي به ئي لوګی تر سترګو كېدو، نو ابو سفيان ورته راغی او وئي ويل: اې محمده! (صلى الله عليه و سلم) ته د الله تعالى د اطاعت او صله رحمۍ امر كوې، او ستا قوم هلاكېږي، نو د خداى په وړاندي دعاء ورته وكړه، الله تعالى وفرمايل: (د هغې ورځي انتظار وباسه چي آسمان ښكاره لوګی راولي) د الله تعالى تر دې قوله چي فرمايي: (تاسي به بېرته كفر ته وګرځئ، هغه ورځ چي په ستري نيوني سره به تاسو ونيسو) راوي وايي: ستره نيونه د بدر ورځ وه، او لوګی ستره نيونه، د روم آيت او لزام تېر شول، يعني وليدل شول.

دا روايت په بخاري كي يولس ځلي نور په تكرار سره په دغو شمېرو راغلی: ۱۰۲۰، ۴٦۹۳، ۴۷٦۷، ۴۷۷۴، ۴۸۰۹، ۴۸۲۰، ۴۸۲۱، ۴۸۲۲، ۴۸۲۳، ۴۸۲۴، ۴۸۲۵

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي له اغرب هم اوښتی، په څلورو طبقو كي يوازي يو يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دئ چي له يوې خوا په خپلو كي جدي توپيرونه لري او له بل لوري له قرآن سره اړخ نه لګوي، د دوی تر منځ دا توپيرونه ترسترګو كېږي: په يوه كي لَمَّا رَأَى مِنَ النَّاسِ إِدْبَارًا، په بل كي إِنَّ قُرَيْشًا أَبْطَئُوا عَنِ الاِسْلاَمِ، په يوه كي اللهمَّ سَبْعٌ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په بل كي فَدَعَا عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ، په بل كي اللهمَّ اكْفِنِيهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په بل كي اللهمَّ أَعِنِّي عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په يوه كي فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ وَالْجِيَفَ، په بل كي فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَتَّى هَلَكُوا فِيهَا وَأَكَلُوا الْمَيْتَةَ وَالْعِظَامَ، په يوه كي قَالَ اللهُ تَعَالَى (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ، په بل كي فَقَرَأَ (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ)، په يوه كي ثُمَّ عَادُوا إِلَى كُفْرِهِمْ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى (يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى) يَوْمَ بَدْرٍ، په بل كي فَسُقُوا الْغَيْثَ، فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ سَبْعًا، وَشَكَا النَّاسُ كَثْرَةَ الْمَطَرِ فَقَالَ "اللهمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا". فَانْحَدَرَتِ السَّحَابَةُ عَنْ رَأْسِهِ، فَسُقُوا النَّاسُ حَوْلَهُمْ، په يوه كي عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُحَدِّثُ فِي كِنْدَةَ فَقَالَ يَجِيءُ دُخَانٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَأْخُذُ بِأَسْمَاعِ الْمُنَافِقِينَ وَأَبْصَارِهِمْ، يَأْخُذُ الْمُؤْمِنَ كَهَيْئَةِ الزُّكَامِ فَأَتَيْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ، وَكَانَ مُتَّكِئًا، فَغَضِبَ فَجَلَسَ فَقَالَ مَنْ عَلِمَ فَلْيَقُلْ، وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ اللهُ أَعْلَمُ، په بل كي قَالَ عَبْدُ اللهِ أَفَيُكْشَفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ وَالْبَطْشَةُ الْكُبْرَى يَوْمَ بَدْرٍ، په يوه كي مَضَى خَمْسٌ الدُّخَانُ وَالرُّومُ وَالْقَمَرُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ،

په بل کي فَقَدْ مَضَى الدُّخَانُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَقَالَ أَحَدُهُمُ الْقَمَرُ وَقَالَ الا~خَرُ الرُّومُ. راغلي.

د دې روايت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

• دا روايت له قرآن سره تعارض لري، قرآن وايي چي دا لوګی حقيقتاً لوګی وي او په ښرګنده توګه به په آسمان کي راپيدا شي، نه يوازې څرګند لوګی به وي بلکي په خپل ذات کي به يو عذاب وي، حال دا چي دا روايت وايي چي هغه په حقيقت کي لوګی نه وو بلکي قحطۍ وهلو وږو قريشو ته به آسمان دودجن ښکاريدو.

• عبدالله بن مسعود نه دي ويلي چي رسول الله داسي فرمايلي، له دې معلوميږي چي دا د ده خپله رأيه ده، ځکه نو نورو صحابه وو ورسره اتفاق نه دئ کړی. د ده له روايت دا هم معلوميږي چي دا رأيه ئې ځکه وړاندي کړې چي د قيامت عذاب ځنډېدونکی نه دئ، او په نوموړو آيتونو کي ويل شوي چي الله تعالی فرمايي: موږ د لنډې مودې لپاره عذاب ځنډوو او تاسو بېرته خپل کفر ته ستنيږئ، خو دا استدلال ځکه صحيح نه بريښي چي مراد ئې د قيامت د عذاب ځنډول نه دي بلکي په دغو آيتونو کي د قريشو او هر کافر او مشرك قوم دا حالت انځور شوی چي کله الهي عذاب پرې راشي نو له الله تعالی سره ژمنه کوي چي ايمان به راوړي او له کفر به لاس اخلي، د دوی د دغې ژمني له امله الله تعالی د لنډې مودې لپاره عذاب وځنډوي خو دوی خپلي ژمني تر پښنو لاندي کړي او بېرته د کفر په لور ستانه شي، له دې وروسته په ١٦آيت کي ويل شوي: هغې ورځي ته انتظار وکړه چي موږ به په سختي نيوني سره نيونه کوو، د دې آيت له فحوی او سياق و سباق په ډېر وضاحت سره معلوميږي چي بطشة الکبری يا د قيامت د ورځي نيونه ده يا هغه نيونه چي د مهلت په پای کي يو کافر قوم ورسره مخامخ کيږي، نه قحطي د دې عذاب مصداق ګڼلی شو او نه د بدر نيونه د بطشة الکبری مصداق، له آيت وروسته د فرعون نيونه راغلې چي همدا مطلب افاده کوي. همداراز د قرآن له وينا معلوميږي چي (يوم نبطش البطشة الکبری) د (فارتقب يوم تأتي السماء بدخان مبين) شرح دئ، دا دواړه ورځي او دواړه عذابونه يو دي، نه بېل بېل، د بطشة الکبری ورځ همغه ورځ ده چي په ١٦ آيت کي ورته اشاره شوې، يعني هغې ورځي ته انتظار وکړه چي بله ځانګړتيا ئې دا ده چي الله تعالی به په سختي نيوني سره کفار ونيسي. له دې پلوه هم دا روايت له قرآن سره تعارض لري.

• لزام په قرآن کي دوه ځلي راغلی، په دواړو ځايونو کي د آيت له فحوی معلوميږي چي مراد ئې حتمي عذاب دئ، نو معلومه نه ده چي په دې روايت کي د لزام له تېرېدو مراد څه دئ او راوي ولي د قحط په څنګ کي راوړی؟!!

وَلَقَدۡ فَتَنَّا قَبۡلَهُمۡ قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَ وَجَآءَهُمۡ رَسُولٞ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنۡ أَدُّوٓاْ إِلَيَّ عِبَادَ
ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٨﴾ وَأَن لَّا تَعۡلُواْ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنِّيٓ ءَاتِيكُم بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ
﴿١٩﴾ وَإِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمۡ أَن تَرۡجُمُونِ ﴿٢٠﴾ وَإِن لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ لِي فَٱعۡتَزِلُونِ ﴿٢١﴾

فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ مُّجۡرِمُونَ ﴿٢٢﴾

او يقيناً چي د فرعون قوم مو تر دوی وړاندي وآزمويو او عزتمن پيغمبر ورغی، (له دې پيغام سره) چي د الله بندگان ما ته وسپارئ، يقيناً چي زه تاسو ته امين استازی يم، او د الله په وړاندي لويي مه کوئ يقيناً چي زه له څرگند دليل سره درته راغلی يم، او زه خپل رب او ستاسو رب ته له دې پناه وړم چي سنگسار مي کړئ، او که پر ما ايمان نه راوړئ نو له ما په څنگ شئ، نو خپل رب ته ئې دعاء وکړه چي دا تولی مجرم وگړي دي.

(۱۷-۲۲)- د دې مبارکو آيتونو مهم مطالب دا دي: د قريشو سردارانو ته ويل شوي: د فرعون لار مو غوره کړې، همغه څه کوئ چي فرعون له موسی **صلعم** سره وکړل، الله تعالی تر تاسو وړاندي د فرعون قوم وآزمويو، عزتمن پيغمبر ورغی، له دې پيغام سره چي د مظلومو بني اسرائيلو له څورولو لاس واخلئ، که ئې په مصر کي زغملی نشئ پرې ئې ږدئ چي له ما سره يو ځای له مصر ووځي، د الله دا مظلوم بندگان ما ته وسپارئ، يقيناً چي زه تاسو ته امين استازی يم، د الله تعالی په وړاندي کبر او لويي مه کوئ، يقيناً چي زه له څرگند دليل سره درته راغلی يم، او زه خپل رب او ستاسو رب ته له دې پناه وړم چي سنگسار مي کړئ، او که پر ما ايمان نه راوړئ نو له ما په څنگ شئ، نو خپل رب ته ئې دعاء وکړه چي دا تولی مجرم وگړي دي. دا همغه څه دي چي نن ئې رسول اللهﷺ تاسو قريشو ته وايي او تاسو ئې له هغه سره کوئ.

فَأَسۡرِ بِعِبَادِي لَيۡلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱتۡرُكِ ٱلۡبَحۡرَ رَهۡوًاۖ إِنَّهُمۡ جُندٞ مُّغۡرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمۡ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ﴿٢٦﴾ وَنَعۡمَةٖ كَانُواْ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾

نو زما بندگان په يوه شپه کي روان کړه، يقيناً چي ستاسو تعاقب به کيږي او بحر پرانيستی او ولاړ پرېږده، بې شکه چي دوی غرقېدونکی لښکر دئ، څومره باغونه، چيني، فصلونه او غوره استوگنځي ئې پرېښودل او هغه نعمتونه چي چړچي ئې په کي کولې؟!! همداسي؛ او بل قوم ته مو په ميراث ورکړل، نو نه آسمان او زمکي پرې وژړل او نه مهلت ورکړی شو!!

(٢٣-٢٩)- دا مبارك آيتونه وايي: الله تعالى موسى **صلعم** ته لارښوونه وكړه چې زما بندګان بني اسرائيل د شپې له لورې روان كړه، داسې چې بني اسرائيل وړاندې او ته ئې تر شا، په شپه كې له مصر ووځئ، بايد متوجه وئ چې دښمن به حتماً ستاسو تعاقب كوي، فرعون به له خپلو لښكرو سره په تاسو پسې درځي، د نيول كېدو وېره مه كوئ، كله چې له سمندر تېر شوئ نو هغه همغسې پرانيستى او ولاړ پرېږده، فرعون او لښكر به ئې په همدې سمندر كې غرقېږي. همداسې وشول، فرعون او لښكر ئې په هغه سمندر كې غرق شول چې موسى **صلعم** او د ده ملګرو ته ئې پر خپلې سينې د تېرېدو وچه لار وركړه**!!** څومره باغونه، چينې، فصلونه او غوره استوګنځي ئې پرېښودل او هغه نعمتونه چې چرچې ئې په كې كولې**؟!!** همداسې؛ او دا ټول ئې بل قوم ته په ميراث وركړل، نو نه آسمان او زمكې پرې وژړل او نه مهلت وركړى شو**!!** په آسمان او زمكې كې داسې څوك پيدا نه شو چې د دوى په غرقېدو خفه شوى وي او اوښكې ئې بهېدلې وي، كله چې د دوى د نيونې او تعذيب ثابته نېټه راورسېده نو يوه شېبه مزيد مهلت ورنه كړى شو.

د قريشو مغرور مشران دې وګوري چې د دوى له سلف سره څه وشول، الله تعالى تر يوې نېټې مهلت وركړ، بيا ئې كلك ونيول، ټغر ئې ټول شو، هر څه په ميراث نورو پاته شول، په زمكه او آسمان كې هيڅوك پيدا نشو چې د دوى په حال تأسف وكړي او اوښكې پرې توى كړي، ځكه هغوى له الله تعالى سره د خپل تعلق شلولو له كبله د آسمانونو او زمكې له هر څه سره خپلې اړيكې شلولې وې، د الله تعالى له تأييد د محرومېدا له كبله د هر څه له تأييد محروم ول، د دې ظالم قوم هر څه مظلوم قوم ته په ميراث پاته شول. باغونه، فصلونه، چينې، بنګلې او ټول هغه نعمتونه چې الله تعالى وركړي وو، ټول په ميراث نورو پاته شول، د اقتدار په دوران كې ډېرو خلكو د دوى ستاينه او مداحي كوله، د هغوى په وړاندې ئې غوړه مالي كوله، د هغوى خدمت ته ئې ملاتړلې وه، د وفادارۍ دعوى ئې كوله، ويل ئې د دوى په خاطر هرې قربانۍ ته چمتو دي، په ښو او بدو كې ئې هغوى تأييدول، خو كله چې الله تعالى غرق كړل، نو بيا په زمكه او آسمان كې داسې څوك نه وو چې د هغوى لپاره ئې اوښكې توى كړې وى، الله تعالى تر خاصې نېټې او تر هغه ظالمانو ته مهلت وركوي چې خپل حجت پرې اتمام ته ورسوي، بيا ئې كلك نيسي، د عذاب دا نېټه ثابته او نه بدلېدونكې ده، نه ئې د ظالمانو زور او تزوير بدلولى شي او نه د دوى د پلويانو ډېروالى او شمېر، كله چې دا عذاب نازل شي هيڅ څه او هيڅوك ئې مرسته نشي كولى.

وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿٣٠﴾ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ ٱلْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا۟ مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾

او يقيناً چې بني اسرائيل مو له هغه سپكوونكي عذاب وژغورل، له فرعون؛ يقيناً چې

هغه د مسرفينو له ډلې يو ستر متكبر وو، او يقيناً چې په پوهې سره مو (بني اسرائيل) پر ټولو نړۍ والو غوره كړل او هغه نښې مو وركړې چې ښكاره ازموينې په كې وې.

(۳۰-۳۳)- دلته له يوې خوا د قريشو مغرورو مشرانو ته ويل شوي چې الله تعالى به مظلوم مؤمنان ستاسو له ظلمونو داسې ژغوري لكه چې مظلوم بني اسرائيل ئې د فرعون له سپكوونكي عذاب وژغورل، هغه تر تاسو زيات مغرور او مسرف وو، له بل لوري مؤمنانو ته اطمئنان وركړى شوى چې الله تعالى به تاسو له دې ظلمونو ژغوري او دا ظالمان به د فرعون په برخليك اخته كيږي. خو دې ته مو پام وي چې تاسو به هم له داسې الهي آزموينو سره مخامخ كيږئ چې بني اسرائيل ورسره مخامخ شول، الله تعالى هغوى د خپل علم له مخې د دې وړ ګڼلي وو چې پر ټولو نړۍ والو غوره والى وركړي، خو سره له دې ئې هغوى له ډول ډول آزموينو سره مخامخ كړل.

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ۝٣٤ إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ۝٣٥ فَأْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ۝٣٦

يقيناً دا ډله حتما وايي چې دا نه دئ مګر زموږ لومړنى مرګ، او موږ بېرته راژوندي كېدونكي نه يو، كه رښتيني يئ زموږ پلرونه راژوندي كړئ.

(۳٤-۳٦)- دلته د آخرت او بياژوندون د منكرينو وينا رااخيستل شوې چې وايي: زموږ مرګ يو او وروستى مرګ دئ، بېرته نه راژوندي كيږو، كه د بياژوندون په اړه ستاسو ادعاء رښتيني وي نو زموږ پلرونه راژوندي كړئ. يعني همدا يو مرګ لومړى او وروستى مرګ دئ، بيا ژوندون نشته، له خپلو قبرونو بيا راپاځېدا نشته، څوك مو بېرته نه را ژوندي كوي، كه داسې وى نو زموږ پلرونه چې مړه شوي بېرته ئې را ژوندي كړئ كه تاسو رښتيا وايئ!! كه تاسو وايئ چې قيامت شته، له مرګ وروسته بياژوندون شته، موږ به بېرته له خپلو قبرونو راپاڅو، دا زموږ آباء او اجداد چې د مخه مړه شوي؛ يو خو بايد را ژوندى شي، تاسو خو يو راژوندى كړئ، كه رښتيني يئ. د دوى په ځواب كې ويل شوي:

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ أَهْلَكْنَٰهُمْ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ۝٣٧

آيا دوى غوره دي كه د تبع قوم او هغه چې تر دوى وړاندې ول، موږ هلاك كړل، يقينا دوى مجرمان ول.

(۳۷)- دلته د قريشو په اړه ويلي شوي: آيا دوى غوره دي كه د تبع قوم چې د جرم له كبله الله تعالى هلاك كړل؟! د تبع قوم چې تر قريشو وړاندې تېر شوى، په عربو ئې حكومت كړى، فساد او طغيان ئې وكړ، الله مؤاخذه او هلاك كړل، له قصې ئې د عربو هر ماشوم خبر وو، او

تول هغه مجرم قومونه چي تر دې د مخه تېر شوي او د خپل جرم په وجه نيول شوي او د الله تعالی په شديد عذاب اخته شوي، آيا دا کافي نه دي چي قريش دې ته ورته برخليك ته منتظر وي، او الهي محاسبه او مجازات تکذيب نه کړي؟! مگر دغه خبره چي د تبع ځواکمن او واکمن قوم چي پر عربو ئي حکومت کولو، ظروف او شرائط د دوی په خدمت کي، خو له دې کبله چي د جرم لار ئي غوره کړه، حسيب خدای جل شأنه مؤاخذه او هلاك کړل، دا د دې خبري دليل نه دئ چي دلته د مکافات او مجازات سلسله شته؟ او انسان به د خپلو عملونو د پوره او کامل اجر تر لاسه کولو لپاره له قبر را پورته کېږي؟ د همدې خبري د اثبات لپاره قرآن عظيم الشأن په دې استناد کوي چي د تبع قوم مجرم وو او الله تعالی هلاك کړ. دا چي ته په تاريخ کي گورې چي الله جل شأنه مجرم قومونه هلاکوي، د طغيان په سبب ئي نيسي او سخته سزا ورکوي، آيا دا په خپله د دې دليل نه دئ چي دلته يو ذات شته چي دا عالم اداره کوي، د عالم د امورو تدبير د هغه په لاس کي دئ، پر عملونو مکافات او مجازات مرتب کوي، او د مجرمينو د مجازات په بڼه کي د هغه د قدرت، سيطرې او حاکميت آثار او مظاهر په خپلو سترگو گورو، دغه مظاهر د مالك الملك الله د شته والي او د قيامت او مکافات او مجازات څرگنده نښه او بېلگه ده. دلته د آخرت د منکرينو دا غلطه انگېرنه ترديد شوې چي الهي مکافات او مجازات نه مني، حال دا چي د دې بېلگي د تاريخ په هري پاڼي او د زماني په هر دور کي مومي. بيا ورته ويل شوي:

وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقْنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ مِيقَٰتُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِى مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْـًٔا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾

او موږ دا آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي؛ د لوبو کوونکو په توگه نه دي پيدا کړي، نه مو دي پيدا کړي مگر په حقه سره، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. يقيناً چي د فصل ورځ د دوی ټولو ميقات او ميعاد دئ. هغه ورځ چي هيڅ دوست به له هيڅ دوست څه نشي دفع کولی او نه به د دوی مرسته کېدی شي، مگر هغه چي الله پرې رحم کړی، يقيناً چي هغه مهربان عزتمن دئ.

(۳۸-٤۲)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی دا آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي؛ د لوبو کوونکو په توگه نه دي پيدا کړي، د ماشومانو د لوبو په څېر ئي بې مقصده او بې هدفه او خوشي نه دي پيدا کړي، په سمه توگه ئي پيدا کړي، دلته عبث او بېهوده شی نشئ موندلی، دلته هر شی په سمه توگه او

هدفمن پيدا شوی، خو د دوی دېری نه پوهېږي.

• الله تعالی د ښه او بد، صالح او طالح، مؤمن او کافر تر منځ د قضاوت او پرېکړي يوه ثابته ورځ ټاکلې، د فصل او پرېکړي دا ټاکلې ورځ د دوی ټولو میقات او میعاد دئ، دا داسې ورځ ده چې هيڅ دوست به له هيڅ دوست هيڅ څه نشي دفع کولی او نه به داسې څوك ومومي چې د دوی مرسته وکړي او له مجازات ئې وژغوري، يوازې هغه څوك به ژغورل کېږي چې الله تعالی پرې رحم کړی، دا ځکه چې الله تعالی هم عزتمن او ځواکمن دئ او هم رحيم او مهربان، مجرم مؤاخذه کوي او پر مؤمن رحم کوي.

• هلته به ټول راغونډېږي، د الله په وړاندي به ودرېږي او په هغه ورځ به د ښه او بد تفکيك کېږي، د دوی ترمنځ به فيصله کېږي او خلك به په ډلو ډلو وېشل کېږي.

يعني دا چې ته په خپلو سترګو ګورې چې دا عالم په سمه توګه پيدا شوی، باطل او بېهوده شی په هغه کې نشي موندلی، دا پخپله د دې تقاضاء کوي چې باور وکړو له انسان سره د محاسبې او د ده د مکافات او مجازات لپاره حتماً يوه معينه ورځ په مخکې لرو، ځکه ګورو چې يو له دنيا مظلوم ځي، بل د ګناه له پېټي سره له دنيا وداع کوي، په داسې حال کې چې ظلم ئې کړی او د بل حق ئې تلف کړی، بايد د هغه مظلوم پوښتنه وشي او له دې ظالم سره حساب، هغه چې د ګناه له پېټي سره تللی بايد محاکمه او مجازات شي، که داسې نه وي نو معنی ئې دا ده چې دا دنيا عبث او بېهوده ده، چې يو څوك ظلم وکړي، د بل چا حق تلف کړي او له حق منحرف شي، خو د خپل عمل سزا و نه ګوري!! د ګناه درونډ پېټي ئې پر اوږو او له ډېرو حق تلفيو او ظلمونو سره ولاړ شي، که د محاسبې لپاره د قيامت او د فصل او مکافات او مجازات ورځ نه وي، د دې معنی دا ده چې دا دنيا خوشې، عبث او بېهوده پيدا شوې، حال دا چې په دې عالم کې د يوې ذرې برابر بېهوده شی نشو ښوولی.

إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾ كَٱلْمُهْلِ يَغْلِي فِي ٱلْبُطُونِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْيِ
ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوهُ فَٱعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّواْ فَوْقَ رَأْسِهِۦ مِنْ
عَذَابِ ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ
تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾

يقيناً چې د زقوم ونه د ګنهګار خوراك دئ، لکه تور بوی ناك تېل چې په نس کې خوټېږي، د ايشېدلو اوبو د خوټېدلو په څېر، وئې نيسئ او د دوزخ لوري ته ئې کښ کړئ بيا ئې پر سر د تودو اوبو عذاب توی کړئ، وڅکه! يقيناً چې ته همدا ته ډېر عزتمن او مخور يې! يقيناً چې دا همغه څه دي چې تاسو ئې په اړه شك کولو.

(٤٣-٥٠)- دلته په دوزخ کې د هغو مغرورو کافرانو حالت انځور شوی چې ځان ئې تر نورو

لوړ، عزتمن او مخور ګڼلو: د دغو سترو سترو ګنهګارانو خوراك به د زقوم له ونې وي، په داسې حال کې چې هغه به په تور بوی ناك تېل بدل شوی وي، په نس کې به خوټېږي، داسې خوټېدل لکه د ایشېدلو اوبو خوټېدل، د دوی په اړه به فرشتو ته امر وشي: وئې نیسئ او د دوزخ لوري ته ئې کش کړئ بیا ئې پر سر د تودو اوبو عذاب توی کړئ، هلته به دوی ته ویل کېږي: وڅکه! یقیناً چې ته؛ همدا ته ډېر عزتمن او مخور یې! ته همغه یې چې ځان درته ډېر عزتمن او مخور برېښېدو، دا دوزخ او عذابونه ئې همغه څه دي چې تاسو ئې په اړه شك کولو.

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ فِى جَنَّـٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ
وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَـٰبِلِينَ ﴿٥٣﴾ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَـٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُونَ فِيهَا
بِكُلِّ فَـٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ إِلَّا ٱلْمَوْتَةَ ٱلْأُولَىٰ ۖ
وَوَقَىٰهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾

یقیناً چې متقیان به په خوندي مقام کې وي، په جنتونو او چینو کې، د نازکو او پړېړو وربښمو جامې به اغوندي، یو له بل سره مخامخېدونکې، همداسې او له حور عین سره به ئې جوړه کړو، په هغه کې به هر ډول مېوه په داسې حال کې غواړي چې ایمن به وي، هلته به له لومړي مړیني پرته بل مرګ نه څکي، او د دوزخ له اوره به ئې وساتي، ستا د رب له لوري یوه لورېینه، همدا ستره بریا ده.

(٥١-٥٧)- په دې مبارکو آیتونو کې په جنت کې د متقیانو حالت داسې انځور شوی: متقیان به په خوندي مقام کې وي، په جنتونو او چینو کې، له هرې اندېښنې، غم، ستونزې او کړاو خوندي، جامې به ئې د نازکو او پړېړو وربښمو وي، د خوږو دوستانو او ملګرو په څېر به یو بل ته مخامخ کښېني، تل به ئې حالت همداسې وي، مېرمنې به ئې ښکلې وي، ښایست به ئې په ښکلو غټو سترګو کې څرګند وي، په هغه کې به دوی ته هره هغه مېوه وي چې دوی ئې غوښتنه وکړي، په داسې حال کې چې ایمن به وي، نه به د مېوو د ختمېدو اندېښنه او وېره لري او نه دا چې کوم ضرر به وررسوي، هلته به له همغه لومړۍ مړیني پرته بل مرګ نه وي، الله تعالی به دوی د دوزخ له اور او د هغه له تاو او لوګي خوندي ساتي. د دې نعمتونو عظمت او حقیقي څرنګوالی له دې قیاس کړه چې دا ټول به ستا د رب له لوري یوه لورېینه وي، یقیناً چې ستره بریا همدا ده.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَـٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ فَٱرْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

نو يقيناً چي ستا پر ژبه مو آسان کړ چي پند واخلي، نو انتظار کوه چي دوى هم منتظر دي.

• (۵۸-۵۹)- په دې مبارکو آيتونو کي پر دوو مطالبو ترکيز شوى: ۱- الله تعالى دا قرآن د رسول اللهﷺ پر ژبه آسان کړى د دې لپاره چي مخاطبين ئې پرې پوه شي او پند ترې واخلي، ۲- رسول اللهﷺ ته ويل شوي: نو منتظر اوسه چي دوى هم منتظر دي. که د سورې ټولو آيتونو ته ځير شئ دا به درته جوته شي چي دغه دوه مطالب د ټولي سورې د بحث اساسي محورونه دي، قرآن د الله تعالى له لوري لېږل شوى، **متن ئې گواهي ورکوي چي د الله تعالى له لوري نازل شوى. ۲- دا کتاب ځينو ته د برکتونو ډالى په لمن کي لري او ځينو ته د الهي عذاب گواښونه.**

يوه ضروري يادونه:

په ځينو تفسيرونو کي د دې مبارکي سورې په اړه يو روايت ترسترگو کېږي چي وايي: رسول اللهﷺ ته د ابن صياد په نامه د يوه داسي يهودي ماشوم يادونه وشوه چي گواکي په غيب پوهېدو او عجيبي خبري ترې اورېدل کېدې، د هغه ليدني ته ورغى او له ملاقات وروسته ئې ترې وپوښتل چي څه گورې، بيا ئې ورته وويل: ما يو څه په زړه کي درته نيولي وواېه چي هغه څه دي، هغه ورته وويل: الدخ، رسول اللهﷺ وفرمايل: غلط شوى يې، گواکي رسول اللهﷺ هغه ته الدخان يا د الدخان د سورې کومه برخه په زړه کي نيولي وو!! راشئ دا روايت په دقت سره له نظره تېر کړو او وگورو چي څومره د اعتناء او اعتبار وړ دئ: روايت داسي دئ:

حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِى سَالِمُ بْنُ عَبْدِ الله أَنَّ ابْنَ عُمَرَ**رسول** أَخْبَرَهُ أَنَّ عُمَرَ انْطَلَقَ مَعَ النَّبِيِّﷺ فِى رَهْطٍ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ، حَتَّى وَجَدُوهُ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِى مَغَالَةَ، وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ صَيَّادٍ الْحُلُمَ فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ النَّبِيُّﷺ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ لاِبْنِ صَيَّادٍ "تَشْهَدُ أَنِّى رَسُولُ الله". فَنَظَرَ إِلَيْهِ ابْنُ صَيَّادٍ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الأُمِّيِّينَ. فَقَالَ ابْنُ صَيَّادٍ لِلنَّبِيِّ أَتَشْهَدُ أَنِّى رَسُولُ الله فَرَفَضَهُ وَقَالَ آمَنْتُ بِالله وَبِرُسُلِهِ. فَقَالَ لَهُ "مَاذَا تَرَى". قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ يَأْتِينِى صَادِقٌ وَكَاذِبٌ. فَقَالَ النَّبِيُّﷺ "خُلِّطَ عَلَيْكَ الأَمْرُ "ثُمَّ قَالَ لَهُ النَّبِيُّﷺ "إِنِّى قَدْ خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا". فَقَالَ ابْنُ صَيَّادٍ هُوَ الدُّخُّ. فَقَالَ "اخْسَأْ، فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ". فَقَالَ عُمَرُ ﷺ دَعْنِى يَا رَسُولَ الله أَضْرِبْ عُنُقَهُ. فَقَالَ النَّبِيُّﷺ "إِنْ يَكُنْهُ فَلَنْ تُسَلَّطَ عَلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْهُ فَلاَ خَيْرَ لَكَ فِى قَتْلِهِ". وَقَالَ عَبْدُ الله بْنِ عُمَرَ رَضِيَ الله عَنْهُمَا: انْطَلَقَ بَعْدَ ذَلِكَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم، وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ إِلَي النَّخْلِ الَّتِي فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ، وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ يَسْمَعَ مِن ابْنِ صَيَّادٍ شَيْئًا، قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ ابْنُ صَيَّادٍ، فَرَآهُ النَّبِيُّﷺ وَهُوَ مُضْطَجِعٌ - يَعْنِي فِي قَطِيفَةٍ لَهُ فِيهَا رَمْزَةٌ أَوْ زَمْرَةٌ - فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيّادٍ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم، وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ، فَقَالَتْ لاِبْنِ صَيَّادٍ: يَا صَافِ، وَهُوَ اسْمُ ابْنِ صَيَّادٍ، هَذَا مُحَمَّدٌ صلى الله عليه و سلم، فَثَارَ ابْنُ صَيَّادٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ". **(بخاري: ۱۳۵۴، ۱۳۵۵)**

له عبدالله بن عمر رسول روايت دئ چي وايي: عمر ﷺ له رسول اللهﷺ او يوې ډلي سره ابن صياد ته ورغى، وئې ليدل چي هغه د بني مغاله (د انصارو يوه کورنۍ) د غونډيو خوا ته له

ماشومانو سره لوبي کوي، ابن صياد دغه مهال بلوغ ته نږدې شوی وو، تر هغه د رسول اللهﷺ په ورتګ پوه نشو چي په خپل لاس ئې (پر اوږه) ووهو، بيا ئې ابن صياد ته وفرمايل: (آيا په دې ګواهي ورکوې چي زه د الله رسول يم)؟ ابن صياد ورته وکتل او وئې ويل: شهادت ورکوم چي ته د اميانو (نالوستو) رسول يې، بيا ابن صياد رسول الله ته وويل: آيا ته پدې شاهدي ورکوې چي زه د الله رسول يم؟ خبره ئې وررد کړه او وئې فرمايل: (زه په الله تعالى او رسولانو ئې ايمان لرم)، بيا ئې ورته وفرمايل: (ته څه وينې؟) ابن صياد وويل: کله رښتينى او کله دروغجن (خبر) راته راځي، رسول اللهﷺ وفرمايل: (خبره درباندې مغشوشه شوې ده) بيا نبيﷺ ورته وفرمايل: (ما څه درته پټ کړي (په زړه کي مي څه نيولي) ووايه هغه به څه وي)؟، (ويل شوي چي رسول اللهﷺ د دخان سورې څه برخه په زړه کي ورته نيولي وه)، ابن صياد ورته وويل: هغه (الدخ) دئ، نبيﷺ وفرمايل: (خوار شې، له خپل حده نشې وتلى)، نو عمر ﷵ وويل: يا رسول الله! اجازه راکړه چي غاړه ئې ووهم، رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: (که هغه په رښتيا دجال وي، نو وس دي نه پرې رسي او که دجال نه وي نو وژل ئې ګټه نه درته لري).

په بل روايت کي دا هم راغلي: او عبدالله بن عمر **رسول** وايي: له دې وروسته رسول الله ﷺ او ابی بن کعب ﷵ د خرما هغه باغ ته لاړل چي ابن صياد په کي وو، غوښتل ئې هغه غافل ومومي او په پټه څه ترې واوري، مخکي له دې چه ابن صياد ئې ووينې، رسول الله هغه په داسي حال کي وليد چي په خپل څادر کي پروت دئ او زمزمه ترې اورېدل کېږي، د ابن صياد مور رسول اللهﷺ وليد چي د خرما د ونو شا ته ځان پټوي، نو ابن صياد ته ئې وويل: اې صاف! دا د ابن صياد اصلي نوم وو)، دا دئ محمدﷺ! نو ابن صياد را پورته شو. بيا رسول الله وفرمايل: (که ئې پرېښې وی نو حال به ئې څرګند شوی وو).

دا روايت په بخاري کي څلور ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلى: ٢٦٣٨، ٣٠٣٣، ٣٠٥٦، ٦١٧٤ چي تر منځ ئې دا توپيرونه دي: په يوه کي انْطَلَقَ رَسُولُ الله وَأُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ الأَنْصَارِىُّ يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِى فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کي انْطَلَقَ النَّبِىُّﷺ وَأُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ يَأْتِيَانِ النَّخْلَ الَّذِى فِيهِ ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کي انْطَلَقَ رَسُولُ الله وَمَعَهُ أُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ، فَحُدِّثَ بِهِ فِى نَخْلٍ، په يوه کي فَثَارَ ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کي فَتَنَاهَى ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کي فَوَثَبَ ابْنُ صَيَّادٍ راغلي.

ځينو د دې روايت په شرحي کي ليکلي چي رسول الله د دې لپاره ابن صياد ته ورغلى وو چي پوه شي دى ساحر دئ، که کاهن دئ که دجال، ځکه په ده کي د دجال نښي ليدل شوې وې، يوه سترګه ئې ړنده يا د پړسېدلي انګور په څېر وه او رسول اللهﷺ ګمان کاوو چي ښايي همدا به دجال وي)

دا روايات د سند له مخي داسي دئ چي په دريو طبقو کي يو يو راوي لري او په څلورمي کي درې راويان، د متن له پلوه څو اساسي ستونزي لري:

- قرآن وايي چي په آسمانونو او زمکي کي له الله تعالى پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي، نه انسان، نه فرشته، نه پيرى، نه کاهن، نه جادوګر، نه دجال او نه بل څوك، رسول الله په دې حقيقت تر بل هر چا ښه پوهېدو، څنګه به هغه يو ماشوم په دې امتحانولو چي په غيب

پوهېږي که نه؟

• هيڅوك نشي كولى په دې پوه شي چې بل انسان كومه خبره په زړه كي پټه ساتلي ده، دا روايت وايي چې ابن صياد دومره پوه شوى وو چې د الدخان پر ځاى الدخ ووايي. د قرآن د لارښونو له مخي په پرېكنده توگه ويلى شو چې نه دجال په دې پوهېږي چې د انسان په زړه كي څه دي او نه بل څوك، دا هغه څه دي چې موږ ته رسول الله راښودلي، هغه به څنگه دا گمان كولو چې كه ابن صياد موعود دجال وي نو په غيب به پوه شي؟!!

دغو دلائلو ته په پام سره ويلى شو چې دا روايت قطعاً د اعتبار وړ نه دئ، پر دې سربېره زه د دې جسارت نشم كولى چې د الله تعالى د عظيم الشأن پيغمبر په اړه ووايم يا ئې ومنم چې هغه د بل چا باغ ته د هغه له اجازې پرته ورننوتى، په ونو كي پټ پټ مخكي تللى، تر څو ابن صياد ته ځان ورسوي او پوه شي چې هغه تر خپل څادر لاندې څه كوي او څه وايي!! كه احياناً دا ومنو چې په داسي مواردو كي دا دواړه كارونه (د بل له اجازې پرته د هغه باغ ته ننوتل او تجسس كول) جائز دي، نو آيا د ابن صياد د نه خبرېدو په صورت كي به كوم حقيقت جوت شوى وو؟! هغه به څه وو؟ آيا عمر ﷺ ته د رسول الله دا وينا چې كه هغه دجال وي نو ته پرې غالبېدى نشې او كه نه وي وژل ئې تا ته څه گټه نه لري، په دې معنى نه ده چې رسول الله له هغه ملاقات وروسته هم ابن صياد ونه پېژندو چې دى همغه موعود دجال دئ كه نه؟!! آيا دا وينا د منلو وړ ده؟! كه د ابن صياد قصه رښتيا وى نو له لسگونو صحابه وو به دا خبره روايت شوې وه، ولي يوازې يوه كس ته منسوب شوې؟!

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الجاثيه

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الجاثيه) دئ چې د سورې له ۲۸ آيت اخيستل شوی، ۳۷ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (الحکيم)، او د څلورم آيت (يوقنون) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي. داسې معلومېږي چې دا سوره تر الدخان ډېر وروسته او په هغو ظروفو او شرائطو کې نازله شوې چې تر الدخان وړاندې څلور سورتونه په کې نازل شوي، د آيتونو اوږدوالی او د سورې مضامين همدا راښيي، دې ته مو پام وي چې د هرې سورې د آيتونو له اوږدوالي تر ډېره حده معلومېږي چې کله نازله شوې، د ابتدائي کلونو سورتونو آيتونه معمولاً لنډ لنډ دي او هر څومره چې کومه سوره وروسته نازله شوې نو آيتونه ئې ورو ورو اوږده شوي، د الجاثيه د سورې آيتونه تر پنځو مخکنيو سورتونو اوږده دي.

دا سوره هم د (حاء) او (ميم) په دوو مقطعاتو حروفو پيل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتيب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پيل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چې (عزيز) او (حکيم) دئ، **متن ئې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- په آسمانونو او زمکې کې د هغو لپاره ګڼ شمېر څرګندې نښې او دلائل دي چې ايمان راوړونکي دي، دا څرګندې نښې دوی ته ښيي چې د دې کتاب رالېږونکی رب عزيز او حکيم دئ.** د دې مضامينو خلاصه د سورې په وروستيو دوو آيتونو کې په دې توګه راغلې: **فَلِلَّهِ ٱلْحَمْدُ رَبِّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٣٦﴾ وَلَهُ ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣٧﴾** : نو ستاينې د عالمونو هغه رب ته دي چې هم د آسمانونو رب دئ او هم د زمکې رب، او په آسمانونو او زمکې کې لويي ده ته مختص ده او هغه باحکمت عزتمن دئ. هغه ذات چې يو صفت ئې رب (پالونکی) دئ او د ټول عالم پالنه کوي، د دغه صفت تقاضاء دا ده چې انسان مهمل پرې نږدي او د هغه د پالنې او روزنې لپاره لارښود کتاب ولېږي، قرآن د الله تعالی د دغه صفت مظهر دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٣﴾ وَفِي خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾
وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزۡقٖ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ
مَوۡتِهَا وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٥﴾ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ
بِٱلۡحَقِّۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَ ٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ﴿٦﴾

حاء ميم، د دې كتاب لېږنه د باحكمت عزتمن الله له لوري ده، يقيناً چې په آسمانونو او زمكي كي حتماً د ايمان راوړونكو لپاره څرګندي نښي دي، او ستاسو په پيدايښت كي او په هغو خوځېدونكو ژوو كي چي خوروي ئې د يقين كوونكو لپاره څرګندي نښي دي، او د شپې او ورځي په اختلاف او په هغه څه كي چي الله د رزق په توګه له آسمان نازل كړی او په هغه سره ئې زمكه له خپلي مړيني وروسته ژوندۍ كړې او د بادونو په لګېدلو كي د هغو وګړو لپاره څرګندي نښي دي چي تعقل كوي، دا د الله آيتونه دي چي پر تا ئې په رښتيني توګه لولو، نو د الله له وينا او د ده له آيتونو وروسته به په كومي وينا ايمان راوړي؟!

(۱-۹)- د دې مباركو آيتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره بايد دا خبري په پام كي ولرئ:

• دا سوره هم **د (حاء) او (ميم) په دوو مقطعاتو حروفو پيل شوې، دا د دې نښه ده چي په دې مباركي سورې كي هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتيب ئې هم داسې دئ لكه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پيل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چي (عزيز) او (حكيم) دئ**، متن ئې ګواهي وركوي چي د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- په آسمانونو او زمكي كي د هغو لپاره ګڼ شمېر څرګندي نښي او دلائل دي چي ايمان راوړونكي دي، دا څرګندي نښي دوی ته ښيي چي د دې كتاب

رالېږونکی رب عزيز او حکيم دئ. **د دې مضامينو خلاصه د سورې په وروستيو دوو آيتونو کي په دې توگه راغلي: فَلِلَّهِ ٱلۡحَمۡدُ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٦﴾ وَلَهُ ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٣٧﴾ : نو ستاينې د عالمونو هغه رب ته دي چي هم د آسمانونو رب دئ او هم د زمکي رب، او په آسمانونو او زمکي کي لويي ده ته مختص ده او هغه باحکمت عزتمن دئ.**

- **په آسمانونو او زمکي کي هر لوري ته داسي بې شمېره څرگندي نښې تر سترگو کېږي چي د ايمان راوړونکو د هدايت لپاره کافي دي. ستاسو په پيدايښت کي او د هغو ژوو په پيدايښت کي چي الله تعالی ئې په زمکي کي خوروي د هر يقين کوونکي لپاره څرگندي نښې دي، د هر ژوي پيدايښت په څرگنده توگه او په جگ ږغ گواهي ورکوي چي حتماً يو ژوندی خالق لري. د يوه ژوي په پيدايښت کي دومره ژور، پراخ او بې شمېره علمي اساسات مراعات شوي چي له يوه عليم، قدير او خلاق رب پرته ئې بل څوك له پيدا کولو عاجز دئ، که تاسو له يوه داسي ساينسپوه پوښتنه وکړئ چي د انسان د بدن د سلول په اړه ئې تحقيق کړی او ورته ووايئ: انسان ولې د يوه ژوندي سلول له پيدا کولو عاجز دئ؟ هغه به درته ووايي: موږ لا تر اوسه د انسان يو سلول په دقيقه توگه پېژندلی نه دئ پيدا کول خو ئې لري پرېږده، ساينس د شلمي پېړۍ په پای کي د انسان په سلول کي د DNA په نامه داسي وړوکی توکی پيدا کړ چي يوازي د سترو مايکروسکوپونو په مرسته ليدل کېدی شي خو په همدې وړوکي توکي کي د انسان د بدن د هر غړي په اړه دومره معلومات ثبت شوي چي په يوه ستر کتابتون کي نه ځائېږي. له همدغه وړوکي DNA دا معلومات ترلاسه کېدی شي چي د خاوند سترگي ئې څنگه دي، د وېښتانو، جلد او نوکانو رنگ ئې څنگه دئ، او د هغه نور خصوصيات او ځانگړتياوي.**
- د شپې او ورځې منظم تگ راتگ، يوه په بلي پسي، له خپلو ټولو توپيرونو سره، داسي چي د زمکي پر سر ژوي ورته ضرورت لري، په همدې سره په زمکي کي د ژوند لازمي شرائط برابرېږي، که داسي نه وي نو د زمکي پر سر د ژوند امکان له منځه ځي، له آسمان د هغه باران ورېدل چي د ژوو لپاره د اساسي رزق حيثيت لري او په هغه سره زمکه له خپلي مړيني وروسته راژوندۍ کېږي، د بادونو په لگېدلو کي چي په هوا کي تعادل رامنځته کوي، ورېځي له يوې سيمي بلي ته انتقالوي او نباتات القاح کوي، په دې ټولو کي د هغو وگړو لپاره څرگندي نښې دي چي تعقل کوي، دا هغه دلائل دي چي الله تعالی ئې د خپل لارښود کتاب له لاري تاسو ته اوروي، هره وينا ئې رښتيني، که څوك په دغو څرگندو دلائلو نه قانع کېږي نو آيا تر دې وروسته به داسي وينا پيدا شي چي هغه پرې قانع شي او ايمان راوړي؟! نو د الله له وينا او د ده له آيتونو وروسته به په کومي وينا ايمان راوړي؟!

وَيۡلٞ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ﴿٧﴾ يَسۡمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ

يَسۡمَعۡهَاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٨﴾ وَإِذَا عَلِمَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا شَيۡـًٔا ٱتَّخَذَهَا هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ
لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿٩﴾ مِّن وَرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُۖ وَلَا يُغۡنِي عَنۡهُم مَّا كَسَبُواْ شَيۡـًٔا وَلَا مَا
ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠﴾ هَٰذَا هُدٗىۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٌ ﴿١١﴾

افسوس د هر ډېر دروغجن گنهگار په حال، د الله آيتونه اوري چي پرې لوستل کېږي بيا د داسي لويي غوښتونکي په توگه اصرار کوي چي گواکي هغه ئې نه دي اورېدلي، نو د دردناك عذاب زېرى ورکړه، او کله چي زما له آيتونو په کوم څه پوه شي ملنډي پرې وهي، همدا دوى ته سپکوونکى عذاب دئ، تر شا ئې دوزخ، په داسي حال کي چي نه به د دوى لاسته راوړني هيڅ څه ترې دفع کړى شي او نه هغه چي له الله پرته ئې اولياء نيولي، او دوى ته ستر عذاب دئ. دا يوه لارښوونه ده، او هغه چي د خپل پالونکي رب د آيتونو په اړه کفر کوي دوى ته د اضطراب دردناك عذاب دئ.

(٧-١١)- په دې مبارکو آيتونو کي ويل شوي:

- **د هر هغه ډېر دروغجن گنهگار په حال افسوس چي د الله آيتونه پرې لوستل کېږي او دى ئې اوري خو بيا ئې تکبر او د لويي لټه دې ته هڅوي چي پر خپل کفر اصرار وکړي او د دغو الهي آيتونو په اړه ئې چلن داسي وي لکه چي هغه ئې اصلاً نه وي اورېدلي، ښايي دوى به له دې چلن کومه طمع لري، لويي ته د رسېدو طمع، خو برخليك ئې دا دئ چي د دردناك عذاب زېرى ورکړى شي.**
- **دا مغرور دروغجن کله چي د الله تعالى له آيتونو په کوم څه پوه شي نو ملنډي پرې وهي، همدا دوى ته په دنيا کي سپکوونکى عذاب دئ او وروسته په آخرت کي دوزخ، په داسي حال کي چي نه به د دوى لاسته راوړني کوم څه ترې دفع کړى شي او نه هغه چي له الله تعالى پرته ئې اولياء نيولي وو، دوى ته ستر عذاب دئ.**
- **دا يوه الهي لارښوونه ده، ټولو ته د سعادت او نجات لار ښيي، څوك چي د خپل پالونکي رب د آيتونو په اړه کفر کوي دوى ته د اضطراب دردناك عذاب دئ. دوى به تل په سخت اضطراب او پرېشانۍ کي ژوند کوي، همدا اضطراب به د دوى لپاره دردناك عذاب وي.**

ٱللَّهُ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ لِتَجۡرِيَ ٱلۡفُلۡكُ فِيهِ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ
وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ

فِي ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾

الله هغه ذات دئ چې تاسو ته ئې سمندر داسې مسخر کړی چې د ده په امر کشتۍ په کې رواني شي، چې د ده فضل ولټوئ او چې شکر وکړئ. او تاسو ته ئې ټول هغه څه مسخر کړل چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په زمکه کې دي ، يقيناً په دې کې هغه قوم ته نښې دي چې تفکر کوي.

(١٢-١٣)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- **الله تعالى هغه ذات دئ چې سمندر ئې تاسو ته داسې مسخر کړی چې کشتۍ په کې تلی شي، له هغو ضوابطو او سننو سره سم چې الله تعالى وضع کړي، دا د دې لپاره چې د خپل منعم رب فضل ولټوئ او شکر ئې پر ځای کړئ.**
- **تاسو ته ئې ټول هغه څه مسخر کړل چې په آسمانونو او زمکې کې دي.**
- **يقيناً چې په دې کې هغه قوم ته نښې دي چې تفکر کوي.**

دا مبارك آيتونه وايي چې د زمکې او آسمانونو هر څه انسان ته مسخر شوي، يعني دا ټول عالم د فرشتو په شمول د ده په خدمت کې دي، د ټول عالم دا موجود نظم په دې منتج شوی چې انسان وکولی شي د زمکې پر سر ژوند وکړي. او دا همغه مطلب دئ چې د انسان په وړاندې د فرشتو سجده ئې افاده کوي، د عالم هر څه به په هغه صورت کې انسان ته مسخر وي چې سمبالوونکې فرشتې ئې انسان ته منقادې وي، له دې معلوميږي چې دا د آدم عليه السلام په وړاندې د فرشتو سجده او انقياد يوازې د ده لپاره نه وو بلکې د ده د اولاد لپاره هم وو.

موږ عملاً گورو چې د کوم کار اراده کوو، که له زمکې ډبره را پورته کوو، له ونې مېوه راشکوو، له ډبرو اوسپنه راباسو او موټرې او جهازونه ترې جوړوو، زموږ په ټولو کړو وړو کې فرشتې زموږ له ارادې سره سم خوځيږي او په دې ترتيب موږ ته د هغه کار د تر سره کولو توفيق را په برخه کيږي چې د کولو اراده ئې کوو، که داسې نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر وو او په خپله خوښه به ئې د کوم کار د کولو توان او قدرت نه درلود.

قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَغۡفِرُواْ لِلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ لِيَجۡزِيَ قَوۡمَۢا بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ﴿١٥﴾

هغو ته چې ايمان ئې راوړی ووايه: هغو ته دې بخښنه وکړي چې د ايام الله طمع نه لري، د دې لپاره چې يوه قوم ته د هغه څه له کبله بدله ورکړي چې کولو ئې، څوك چې نېك عمل وکړي نو گټه ئې د ده لپاره ده او څوك چې بد وکړي نو تاوان ئې پر ده دئ، بيا

به د خپل رب لوري ته ګرځول کېږئ.

(۱٤-۱٥)- په دې مبارکو آیتونو سره رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چې مؤمنانو ته ووايي:

- **هغو ته بخښنه وکړئ چې الهي مکافات او مجازات ته طمع نه لري او د هغو سترو سترو ورځو راتلو هيله نه لري چې الله تعالى مؤمنان ژغورلي او کافران ئې په شديد الهي عذاب اخته کړي، هغه الهي ورځې چې د تاريخ په اوږدو کې په وار وار تکرار شوې، تاسو د دوی د هدايت او اصلاح په هيله خپل دعوت ته دوام ورکړئ، دا الله تعالى ته پرېږدئ چې له تاسو او له دوی سره څه کوي، مطمئن اوسئ چې الله تعالى هر چا ته د خپلو کړنو مناسبه بدله ورکوي. که څه هم ځينو درنو مفسرينو داسې انګېرلې چې دا حکم د جهاد له فرضيت وړاندې وو او د جهاد په حکم سره منسوخ شوی، خو حقيت دا دئ چې دا حکم نه يوازې منسوخ شوی نه دئ بلکې تل ورته ضرورت دئ، هر مسلمان مکلف دئ د هغه چا په وړاندې د دې الهي لارښووني مطابق عمل وکړي چې ايام الله ته طمع نه لري، تل بايد د خلکو د هدايت هيله ولري، د مخاطب د جهالتونو په وړاندې له اغماض، عفو او صبر کار واخلي، د هغه چا غلطې وېناوې او انګېرنې ئې بې حوصله نه کړي چې د ايام الله راتلو طمع او هيله نه لري، داسې خلك نه يوازې په کافرانو کې ډېر دي بلکې په هغو کې هم شته چې ځان ته مؤمن وايي.**
- **هر چا ته به د خپل نېك او بد عمل مناسبه او عادلانه بدله ورکول کېږي، څوك چې نېك عمل وکړي ګټه ئې ده ته رسېږي او څوك چې بد وکړي تاوان ئې ده ته رسېږي، بيا به تاسو ټول د خپل رب لوري ته ګرځول کېږئ.**

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ وَءَاتَيۡنَٰهُم بَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِۖ فَمَا ٱخۡتَلَفُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿١٧﴾

او يقيناً چې بني اسرائيلو ته مو کتاب، حکم او نبوت ورکړ، او پاکيزه پاکيزه رزق مو ورکړ او پر ټولو عالميانو مو فضيلت ورکړ، او څرګند احکام مو ورکړل، نو اختلاف ئې ونه کړ مګر له هغه وروسته چې پوهه ئې په برخه شوه، په خپلو کې د تېري له کبله، يقيناً چې ستا رب به د قيامت په ورځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو.

(۱٦-۱۷)- په دې مبارکو آيتونو کې د مخکني مطلب لپاره يوه تاريخي بېلګه وړاندې شوې، د فرعون له منګولو د بني اسرائيل ژغورنه او پر ټولو نړۍ والو هغوی ته فضيلت ورکول د ايام

الله يوه څرګنده او نه هېرېدونکې بېلګه ده، په دې اړه ويل شوي: الله تعالى بني اسرائيلو ته کتاب، حکم (واکمني) او نبوت ورکړ، لارښود کتاب ئې په برخه شو، له غلامى وژغورل شول او واکمني ورکړې شوه، ګڼ شمېر انبياء په دوى کې مبعوث شول، پاکيزه رزق ورکړې شو، پر ټولو نړى والو ئې فضيلت او غوره والى په برخه شو، او څرګند احکام ورکړې شول، نن چې ته دوى سپك او ذليل او په اختلافاتو کې غرق ګورې دا له پوهې وروسته اختلاف او د نورو پر حق د تېرې له عزم راولاړ شوى اختلاف دئ، الله تعالى به د قيامت په ورځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چې دوى په کې اختلاف کولو.

ثُمَّ جَعَلۡنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٨﴾
إِنَّهُمۡ لَن يُغۡنُواْ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۚ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۖ وَٱللَّهُ وَلِيُّ
ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾

بيا مو ته د دغه کار په يوې تګلارې (مأمور) وګرځولې، نو متابعت ئې وکړه او د هغو د هوسونو متابعت مه کوه چې نه پوهېږي، يقيناً چې هغوى د الله هيڅ څه له تا نشي دفع کولى، او يقيناً چې ظالمان داسې دي چې ځينې ئې د ځينو نورو دوستان دي او الله د متقيانو مولا دئ، دا د خلکو لپاره د بصيرت اسباب او د هغو لپاره لارښود او رحمت دئ چې يقين کوي.

(١٨-٢٠)- دلته رسول اللهؐ ته ويل شوي:

- **له مخکنيو پيغمبرانو وروسته مو تا ته دغه مأموريت وسپارو او ځانګړې تګلاره مو درته وټاکله، نو د دغه الهي شريعت او تګلارې متابعت کوه، او د هغو د هوسونو متابعت مه کوه چې نه پوهېږي، داسې نه چې د دوى له هوسونو راټوکېدلې غوښتنې ومنې او د ژوند په کومې برخې کې داسې تګلاره غوره کړې چې منشأ ئې الهي لارښوونه نه بلکې د خلکو هوس او نفسي غوښتنې وي، هغه هم په دې موخه چې د دوى ملګرتيا به تا او ستا دعوت ته ښايي کومه ګټه ورسوي!! دوى نه ستا په وړاندې د الله تعالى د پېرزوينو مانع کېدى شي او نه د الله تعالى عذاب درنه دفع کولى شي، تل به ظالم د ظالم ملګرتيا کوي او الله تعالى به د متقيانو مولا وي.**
- **دا قرآن د ټولو خلکو لپاره رڼا ده، سترګې ئې وروپرانيزي او د بصيرت اسباب په لاس ورکوي، او د هغو لپاره لارښود او رحمت دئ چې يقين کوي، له لارښوونو ئې هغه ګټه اخيستى شي او د الهي رحمت دروازې ئې پر مخ پرانيزي چې باورمن وي او پر حقائقو د ايمان او باور کولو اهليت لري.**

أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجۡتَرَحُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجۡعَلَهُمۡ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءٗ مَّحۡيَاهُمۡ وَمَمَاتُهُمۡۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٢١﴾

آيا هغه چي بد كارونه ئې ترسره كړي گمان كوي چي د هغو په څېر به ئې وگرځوو چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي، داسي چي د دوی ژوند او د دوی مرگ به سره برابر وي؟! څومره بد حكم دئ چي دوی ئې كوي.

(٢١)- دا مبارك آيتونه وايي: آيا هغه خلك چي بد كارونه ئې ترسره كړي گمان كوي چي الله تعالى به ئې د هغو په څېر وگرځوي چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي او د دواړو ژوند او مرگ به سره ورته او يو شان كړي؟! څومره بد قضاوت او څومره غلطه انگېرنه!! دا دواړه د هيڅ معيار له مخي برابر نه دي، الله تعالى به نه په دنيا كي له دواړو سره يو شان معامله كوي او نه په آخرت كي.

وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَلِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٢٢﴾

او الله آسمانونه او زمكه پر حق مبتني پيدا كړي او په دې موخه چي هر ساكښ ته د هغه څه له مخي بدله وركړی شي چي كړي ئې دي په داسي حال كي چي پر دوی به ظلم نه كېږي.

(٢٢)- په دې مبارك آيت كي د مخنكې غلطي انگېرني د مزيد ترديد لپاره ويل شوي: الله تعالى آسمانونه او زمكه سم او د حق مطابق پيدا كړي، دلته يو ربښتينی او پر حق او عدالت ولاړ نظام حاكم دئ، له هر چا سره د حق او عدالت له مخي معامله كېږي، د عالم د پيدايښت يوه موخه دا ده چي هر چا ته د هغه څه له مخي بدله وركړی شي چي كړي ئې دي په داسي حال كي چي پر دوی به ظلم نه كېږي. نه به د كافر، عاصي او باغي په اړه ظلم كېږي او نه د مؤمن، صالح او متقي په اړه، هر يو به د خپل عمل سمه او حقيقي بدله ترلاسه كوي. دلته د دې امكان نشته چي له كافر او مؤمن، صالح او طالح، ظالم او مظلوم سره يو ډول معامله وشي.

أَفَرَءَيۡتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلۡمٖ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمۡعِهِۦ وَقَلۡبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةٗ فَمَن يَهۡدِيهِ مِنۢ بَعۡدِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾

نو آیا هغه دې ولید چې خپل هوس ئې اله نیولی او الله په پوهې سره هغه لاروركی كړ، او د هغه پر غوږونو او زړه ئې مهر ولګولو او د ده پر سترګو ئې پرده غوړولې، نو له الله وروسته به ئې څوك هدایت كړي، آیا پند نه اخلئ؟!

(۲۳)- د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- **آیا هغه څوك پېژنې چې د خپل نفس بنده دئ، خپل هوس ئې اله او معبود نیولی او الله تعالی د خپل هغه علم له مخې چې د ده په اړه ئې لري لاروركی كړ، دا پرېكړه ئې وكړه چې دا د نفس بنده دې په سمې لارې له تلو محروم وي، د هغه پر غوږونو او زړه ئې مهر ولګولو او د ده پر سترګو ئې پرده وغوړوله، دی د همدې وړ وو، الله تعالی د دې وړ ومونده، نو آیا اوس به له الله تعالی پرته داسې څوك پیدا شي چې دا تېروتی او له الهي توفیق محروم انسان هدایت كړي؟! آیا پند نه اخلئ؟! د دې آیت د (عَلَىٰ عِلۡمٍ) فقره په یوې بلې بڼې كې هم تعبیر شوې چې د آیت له سیاق سره اړخ نه لګوي او هغه دا چې الله تعالی دا انسان په داسې حال كې تېروتی كړ چې څه علم ئې هم درلود.**
- **لكه چې ګورئ دلته داسې چا ته د نفس بنده ویل شوي چې خپل هوس ته تسلیم دئ، هغه څه وایي او هغه څه كوي چې د ده هوس ئې خوښوي، ویل شوي چې هوی او هوس ئې اله (معبود) دئ او دی ئې لمانځونكی او عابد، د دې معنی دا ده چې د قرآن په قاموس كې (اله) هغه چا ته ویل كېږي چې انسان ئې اوامرو او احكامو ته غاړه ږدي او په لارښوونو ئې عمل كوي، الله تعالی ته د یوازینې (اله) په سترګه كتل او دا ویل چې له ده پرته بل (اله) نشته دا معنی لري چې زه د الله تعالی د ټولو اوامرو اطاعت كوم، له ده پرته داسې څوك نه منم چې د هغه د اوامرو اطاعت پر ځان لازم ګڼم، كه له ده پرته د چا اطاعت كوم نو یوازې په هغه صورت كې چې د هغه اطاعت په اصل كې د الله تعالی اطاعت وي، څوك چې په خوله وایي: لا إله إلا الله: له الله پرته بل إله نشته، خو په عمل كې نه د الله تعالی د اوامرو اطاعت كوي او نه ئې په لارښوونو عمل، هغه دروغجن دئ او دا كلمه ئې د الهي معیارونو له مخې هېڅ ارزښت او وزن نه لري.**

وَقَالُواْ مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا يُهۡلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهۡرُۚ وَمَا لَهُم
بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ مَّا كَانَ
حُجَّتَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُ يُحۡيِيكُمۡ ثُمَّ
يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يَجۡمَعُكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا

يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾

او وئې ويل: (حقيقت) له دې پرته بل څه نه دئ چې يوازې همدا زمونږ دنيايي ژوند دئ، مرو او راژوندي کېږو او له زمانې پرته مو بل څه نه مړوي، په داسې حال کې چې په دې اړه هيڅ علم نه لري، دوی هسې گمان کوي. او کله چې زما څرګند آيتونه پرې ولوستل شي نو له دې پرته ئې بل حجت نه وي چې وايي: که رښتيني يئ نو زمونږ پلرونه راولئ، ووايه: الله مو ژوندي کوي بيا مو مړوي بيا مو د قيامت هغې ورځې ته راغونډوي چې هيڅ شك په کې نشته خو ډېری خلك نه پوهېږي.

(٢٤-٢٦)- دا مبارك آيتونه موږ ته لاربښوونه کوي چې دهري څوك دئ او هغه د مرگ او ژوند په اړه څه وايي، په دې توگه:

• ~~د قيامت منکرين وايي: له دې اوسني ژوند پرته بل ژوند نشته، همدلته مرو او همدلته~~ راژوندي کېږو، له دهر (زمانې) پرته مو بل څه نه مړوي، زمونږ مرگ او ژوند په همدې دنيا او زمانې پورې تړلی دئ، دا نه منو چې زمونږ د ژوند او مرگ پرېکړه د الله له لوري کېږي، په داسې حال کې دا خبره کوي چې په دې اړه هيڅ علم نه لري، دوی هسې گمان کوي، څوك چې له قيامت او بياژوندون انکار کوي او مرگ ژوند دهر او طبيعت ته منسوبوي، دوی په حقيقت کې ناپوه او له حقيقت بې خبر دي، د دوی دا تصور او انگېرنه هيڅ علمي بنسټ نلري، هسې خيال، وهم او گمان دئ. کله چې د بياژوندون په اړه د الله تعالی څرگند آيتونه پرې ولوستل شي، هغه قاطع او انکار نه منونکي دلائل ئې مخې ته کېښودل شي چې قيامت او بياژوندن ثابتوي نو دوی له دې پرته بل حجت او دليل نه لري چې وايي: که رښتيني يئ نو زمونږ پلرونه راولئ!! يعني کوم مړی راژوندی کړئ، دا په داسې حال کې چې هره شېبه له مړې خاورې د ژوو راپيدا کېدل په خپلو سترگو گوري، ښه پوهېږي چې د ژوند او مرگ پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نه څوك د چا د ژوند پرېکړه وړاندې او وروسته کولی شي او نه د مرگ، د چا د مرگ نېټه چې راورسېږي نو که ټول نړۍ وال راغونډ شي هغه له مرگ نشي ژغورلی او د مرگ نېټه ئې يوه شېبه نشي ځنډولی، آيا هغه څوك چې سل کاله وروسته به پيدا کېږي څوك کولی شي نن ئې پيدا کړي؟ آيا څوك کولی شي يو ژوندی سلول پيدا کړي، يوه بکتريا پيدا کړي، د يوه بوټي يوه پاڼه پيدا کړي؟ که دا نشي کولی نو څنگه ژوند او مرگ دهر ته منسوبوي؟!! د کوم ذات په واك کې چې ستاسو ژوند او مرگ دئ هغه به مو د قيامت هغې ورځې ته راغونډوي چې هيڅ شك په کې نشته خو ډېری خلك نه پوهېږي.

لکه چې گورئ قرآن کريم دا تصور چې مرگ په زمانې پورې تړلی او د مرگ نسبت دهر ته کوي؛ باطل او کفري تصور گڼي، له بل لوري رسول اللهﷺ فرمايي: الله تعالی فرمايلي: بني آدم مې دهر (زمانې) ته په ښکنځلو سره ځوروي، دهر زه يم، امور زما په واك کې دي، شپه او ورځ بدلوم رابدلوم، يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ، يَسُبُّ الدَّهْرَ، وَأَنَا الدَّهْرُ، بِيَدِي الأَمْرُ، أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ،گورئ چې دلته الله تعالی فرمايلي: (أنا الدهر: زه دهر يم)، د دې وينا مطلب دا دئ: هغه څه چې تاسو د دهر په نامه يادوئ او ښه او بد هغه ته منسوبوئ هغه په حقيقت کې زه يم، د دې

وينا مطلب دا نه دئ چي الله تعالى په خپله زمانه دئ يا ئې نوم الدهر دئ، بلكي مطلب او مراد ئې دا دئ چي: دهريون حوادث او پيښې زماني ته منسوبوي، حال دا چي دا د الله تعالى كار دئ نه د دهر، هغه چي پيښو ته د طبيعي او تصادفي پيښو په سترگه گوري، گمان كوي چي پيښې په خپله او په تصادفي شكل واقع كيږي، ښه او بد د زماني له لوري بولي، له همدې امله ډېر ځله زمانه محكوموي او ښكنځلي ورته كوي، د زماني له ناوړه پيښو شكايتونه او گيلې كوي، پداسي حال كي چي د پيښو مدبر او متصرف قديرخداى دئ، هركار د ده په امر او اراده او د خاصو سننو او ضوابطو مطابق ترسره كيږي، زماني ته بد ويل او ښكنځلي ورته كول؛ په حقيقت كي خداى ته د بد ويلو مترادف دي.

وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ ٱلْمُبْطِلُونَ



او د آسمانونو او زمكي ټولواكي د الله ده، او كومه ورځ چي قيامت قائم شي په دې ورځ به باطلپال تاواني شي.

~~(٢٧)- دا مبارك آيت وايي: د آسمانونو او زمكي ټولواكي د الله ده، د قيامت په ورځ به د قيامت~~ باطلپال منكرين د دې ټولواكي حقيقت په خپلو سترگو وگوري، هغه به پوه شي چي په دې انكار سره ئې څومره تاوان كړى او له څنگه شوم برخليك سره ئې مخامخ كړى.

وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَـٰبِهَا ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾
هَـٰذَا كِتَـٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَمَّا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِى رَحْمَتِهِۦ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ
ٱلْمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَفَلَمْ تَكُنْ ءَايَـٰتِى تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَٱسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنتُمْ قَوْمًا
مُّجْرِمِينَ ﴿٣١﴾

او هره ډله به په گونډو شوې وگورې، هره ډله به د خپل كتاب لوري ته بلل كيږي، په دې ورځ به د هغه څه بدله دركول كيږي چي تاسو كولو، دا زما هغه كتاب دئ چي ستاسو په اړه حقه وينا كوي، يقيناً چي موږ هغه څه ليكل چي تاسو كول، نو هغه چي ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې كړي د دوى رب به ئې په خپل رحمت كي داخل

کړي، همدا ښکاره بریا ده، خو هغه چې کفر ئې کړی نو آیا تاسو نه وئ چې زما آیتونه درباندې لوستل کېدل او تاسو به لویې غوښتله او مجرم وګړي وئ.

(۲۸-۳۱)- په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت د ورځې یو ځانګړی پړاو داسې انځور شوی: هره ډله به د ډېر هیبت له کبله په ګونډو شوې ګورې، د نېغ درېدلو جسارت به نشي کولی او دا توان به ئې له لاسه ورکړی وي، هره ډله به د خپل کتاب لورې ته بلل کېږي، هر یوه ته به غږ شي چې راشه او خپله عملپاڼه واخله، دوی ته به وویل شي: په دې ورځ به تاسو ته د هغه څه بدله درکول کېږي چې کول مو، دا زما هغه کتاب دئ چې ستاسو په اړه په بشپړه توګه رښتیا وایي او حقه وینا کوي، یقیناً چې زموږ له لورې ګمارل شوو فرشتو هغه څه لیکل چې تاسو کول، نو هغه چې ایمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي د دوی رب به ئې په خپل رحمت کې داخل کړي، همدا ښکاره بریا ده، خو هغه چې کفر ئې کړی هغوی ته به وویل شي: آیا تاسو نه وئ چې زما آیتونه درباندې لوستل کېدل خو تاسو نه منل دا ځکه چې د کبر او لویې په لټه کې وئ او مجرم وګړي وئ، دغه دواړه (کبر) او (جرم) د الهي آیتونو منلو ته نه پرېښودئ.

وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا قُلْتُم مَّا نَدْرِى مَا ٱلسَّاعَةُ إِن
نَّظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُوا۟ وَحَاقَ بِهِم
مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٣٣﴾ وَقِيلَ ٱلْيَوْمَ نَنسَىٰكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا
وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّـٰصِرِينَ ﴿٣٤﴾ ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ ٱتَّخَذْتُمْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًا
وَغَرَّتْكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ فَٱلْيَوْمَ لَا يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٣٥﴾

او کله چې به وویل شو: یقیناً چې د الله وعده رښتینې ده او د قیامت نېټه داسې ده چې هېڅ شك په کې نشته؛ تاسو به ویل: موږ نه پوهېږو چې دا قیامت څه دئ، یقیناً چې یوازې د یوه ګمان (په حد کې) ګمان کوو او موږ متیقن نه یو، او د هغه څه بدوالی به ورته جوت شي چې دوی کړي او هغه څه به پرې محقق شي چې ملنډې ئې پرې وهلې، او وبه ویل شي: نن به تاسو داسې هېر کړو لکه چې تاسو د خپلې دغې ورځې ملاقات هېر کړی وو، او استوګنځی به مو اور وي او هېڅ مرستندوی به درته نه وي، دا مو د دې لپاره چې د الله په آیتونه مو ملنډې وهلې او دنیایي ژوند دوکه کړي وئ، نو نن به نه ترې ایستل کېږي او نه به ئې عذر قبلېدی شي.

(۳۲-۳۵)- په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت د هغه پړاو ځینې برخې داسې انځور شوې: د

قيامت منكرينو ته به وويل شي: كله چي به تاسو ته په دنيا كي وويل شو: د الله وعده رښتيني ده او د قيامت نېټه داسي ده چي هيڅ شك په كي نشته؛ نو تاسو به ويل: موږ نه پوهېږو چي دا قيامت څه دئ، موږ يوازي د يوه گمان په حد كي گمان كوو او متيقن نه يو، گمان مو دا دئ چي قيامت نشته، په راتلو ئي باور نه لرو، د دې غلطي او ناسمي انگېرني او د هغو بدو عملونو چي د دغي انگېرني له كبله ئي كړي بدوالى به ورته جوت شي، او هغه عذاب به خپل وزر پرې وغوړوي چي دوى استهزاء پرې كوله او اړوند گواښونه ئي د ملندو وړ گڼل، او دوى ته به وويل شي: نن به تاسو داسي هېر كړو لكه چي تاسو د خپلي دغي ورځي ملاقات هېر كړى وو، او استوگنځى به مو اور وي او هيڅ مرستندوى به درته نه وي، داسي څوك به ونه مومئ چي ستاسو مرسته وكړى شي، له دې سپېره برخليك سره له دې كبله مخامخ شوي يئ چي د الله پر آيتونو مو ملندې وهلې او دنيايي ژوند دوكه كړي وئ، نو نن به نه ترې ايستل كېږي او نه به ئي عذر قبلېږي.

فَلِلَّهِ ٱلْحَمْدُ رَبِّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٣٦﴾ وَلَهُ ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣٧﴾

نو ستاينې د عالمونو هغه رب ته دي چي هم د آسمانونو رب دئ او هم د زمكي رب، او په آسمانونو او زمكي كي لويي ده ته مختص ده او هغه باحكمت عزتمن دئ.

<u>(۳۶-۳۷)- دا مبارك آيتونه چي د معنى له پلوه يو آيت دئ د دې مباركي سورې ښكلي او</u> جامع تتمه ده او د سورې د ټولو مضامينو خلاصه زموږ په وړاندي ږدي او وايي: نو ستاينې د عالمونو هغه رب ته دي چي هم د آسمانونو رب دئ او هم د زمكي رب، او په آسمانونو او زمكي كي لويي ده ته مختص ده او هغه باحكمت عزتمن دئ.

په لومړيو آيتونو كي ويل شوي: : قرآن د هغه الله تعالى له لوري لېږل شوى چي (عزيز) او (حكيم) دئ، متن ئي گواهي وركوي چي د الله تعالى له لوري نازل شوى. په آسمانونو او زمكي كي د هغو لپاره گڼ شمېر څرگندي نښې او دلائل دي چي ايمان راوړونكي دي، دا څرگندي نښې دوى ته ښيي چي د دې كتاب رالېږونكى رب عزيز او حكيم دئ. همدا مطالب د دې سورې دوه د بحث محوري موضوعات دي چي د سورې په تتمه كي په اختصار سره راغلي. په آسمانونو او زمكي كي هر لوري ته داسي بې شمېره څرگندي نښې تر سترگو كېږي چي ښيي د آسمانونو او زمكي پالونكي رب د ستاينو وړ دئ، عزيز او حكيم دئ، دا نښې د ايمان راوړونكو د هدايت لپاره كافي دي. هغه ذات چي يو صفت ئي رب (پالونكى) دئ او د ټول عالم پالنه كوي، د دغه صفت تقاضاء دا ده چي انسان مهمل پرې نږدي او د هغه د پالني او روزني لپاره لارښود كتاب ولېږي، قرآن د الله تعالى د دغه صفت مظهر دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الأحقاف

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الأحقاف) دئ چې د سورې له ۲۱ آیت اخیستل شوی، ۳۵ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (الحکیم)، او د درېیم آیت (معرضون) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په منځنیو کلونو کې نازل شوي. داسې معلومېږي چې دا سوره په هغو ظروفو او شرائطو کې نازله شوې چې د الجاثیه سوره په کې نازله شوی، د آیتونو اوږدوالی او د سورې مضامین همدا راښیي، دې ته مو پام وي چې د هرې سورې د آیتونو له اوږدوالي تر ډېره حده معلومېږي چې کله نازله شوې، د ابتدائي کلونو سورتونو آیتونه معمولاً لنډ لنډ دي او هر څومره چې کومه سوره وروسته نازله شوې نو آیتونه ئې ورو ورو اوږده شوي، د الاحقاف د سورې آیتونه د اوږدوالي له پلوه الجاثیه ته ورته دي.

دا سوره هم د (حاء) او (میم) په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چې (عزیز) او (حکیم) دئ، متن ئې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- الله تعالی آسمانونه او ځمکه او هغه څه چې په دوی دواړو کې دي سم پیدا کړي او د هر څه لپاره ئې ثابته نېټه ټاکلې. دا دواړه (د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب) او (په سمه توګه پیدا شوی عالم) موږ ته یوه اساسي خبره کوي او هغه دا چې الله تعالی عزیز او حکیم دئ. یوازې هغه څوك به له دې قرآن اعراض کوي چې حقیقت نه مني او د کفر او انکار لار ئې غوره کړې. د دې مضامینو خلاصه د سورې په وروستیو دوو آیتونو کې په دې توګه راغلې: فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسۡتَعۡجِل لَّهُمۡۚ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَ مَا يُوعَدُونَ لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّن نَّهَارِۭۚ بَلَٰغٞۚ فَهَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٣٥﴾

: نو داسې صبر کوه لکه چې هوډمنو پیغمبرانو صبر کړی او د دوی په اړه تلوار مه کوه، کومه ورځ چې دوی هغه څه وګوري چې وعده ئې ورکول کېږي داسې به وي لکه چې د ورځې له یوې ګنټې پرته ئې نه دي ځنډ او درنګ نه دئ کړی. دا یو ابلاغ دئ، نو آیا له دغو فاسقو

وګړو پرته به بل څوك هلاك كړى شي؟!

د ځينو رواياتو له مخې دا سوره د بعثت په لسم كال او هغه مهال نازله شوې چې د رسول اللهؐ تره ابو طالب وفات شو او په دې سره رسول اللهؐ يو متين، دروند، مخور او كلك مدافع له لاسه وركړ، وروسته نږدې يوه مياشت وروسته د ده مهربانه او هوښياره مېرمن خديجه صلی وفات شوه، دا نه يوازې د رسول اللهؐ باوفا او صادقه مېرمن وه بلكې د دعوت په چارو كې د ده رښتينې ملګرې او همسفره وه، خپله تېوله شتمني ئې د رسول اللهؐ په واك كې وركړه، تل ئې ده ته ډاډ وركړى، كه به په سخت حالت كې له انديښنو او غمونو سره كور ته راغى نو خديجې صلی به په خپلو ډاډمنو ويناوو سره د ده تېولې انديښنې رفع كړې، له يوې خوا د مخالفينو د عناد او دښمنيو شدت او له بلې خوا د داسې دوو كلكو او رښتينو مدافعينو له لاسه وركول؛ رسول اللهؐ او مؤمنان له داسې سختو ورځو سره مخامخ كړي ول چې رسول اللهؐ دا كال د عام الحزن (د غمونو كال) په نامه ياد كړ، په همغه وخت كې قريشو د رسول اللهؐ د قبيلې بني هاشم په ضد عمومي مقاطعه اعلان كړې وه، د مكې اوسېدونكي او حتى حج ته راتلونكي حجاج له دې منع شوي وو چې له بني هاشم سره تجارتي راكړه وركړه او اجتماعي ناسته ولاړه وكړي، درې كاله په شعب ابي طالب كې د سختې محاصرې په حالت كې ساتل شوي وو، رسول اللهؐ وغوښتل چې طائف ته ولاړ شي او د بني ثقيف قبيله اسلام ته وبلي يا لږ تر لږه ده ته پناه وركړي چې په اطمئنان سره خپل دعوت پر مخ بوځي، د طائف له ډېرو مشرانو سره ئې وليدل خو هغوى نه يوازې د ده بلنې ته منفي ځواب وركړ بلكې هغه ته ئې وويل چې طائف پرېږدي او له ځنډ پرته ووځي، مجبور شو له طائف ووځي، د طائف ځينو كمظرفو او بدضميرو مشرانو څو لوڅك تنكي ځوانان وګمارل چې د لارې په اوږدو كې له يوې او بلې خوا په شپېلكيو، تاړو، ښكنځلو، ستوغو او بدو خبرو او حتى ډېرو ئې استقبال كړي، تر هغه چې رسول اللهؐ تپې تپې شو او كپې ئې له وينو ډكې شوې، دغه مهال له طائف بهر د يوه بڼ د دېوال سيوري ته كښېناست او په دغو الفاظو ئې خپل رب ته دعاء وكړه:

اللهم اليك اشكو ضعف قوتی وقلة حيلتی و هوانی علی الناس يا ارحم الراحمين، انت رب المستضعفين و انت ربی، إِلـی من تَكِلُنـي إِلـی عَدُوَ بعيد يَتَـجَهَّمُنـي؟ ام الی صديق قريب ملكته امری؟ ان لم تكن علی غاضبا فلا ابالی، غير ان عافيتك اوسع لی، اعوذ بنور وجهك الذی اضاءت له السموات و اشرقت له الظلمات و صلح عليه امر الدينا و الاخرة، ان ينـزل بی غضبك او يحل بی سخطك، لك العتبی حتی ترضی، و لا حول و لا قوة الا بك. جامع الاحاديث

اې الله! تا تـه شكايت كوم؛ د خپل قوت لـه ضعف او كمزورى او د خپل توان لـه كموالي او د خلكو په نظر كې له خپل سپكوالي، اې تر هر مهربان زيات مهربانـه! تـه د تېولو بـې وزلـو رب يې او تـه زما رب يې، چا تـه مې سپارې؟ لرې دښمن تـه چې تندى راتـه تريو كړي؟ او كـه نـږدې دوست تـه چې تـه مې چـارې پـه واك كې وركوې! كـه تـه راباندې غصـه نـه وې نـو هيڅ پـروا نلـرم، خـو ستا عافيت راتـه ډېـر پـراخ برېښـي، ستا د مـخ پـه هغـه نـور سره پنـاه غـواړم چـې آسمانونـه او زمكـې وربانـدې روښـانـه شـوې او تيـارې وربانـدې رڼـې شـوې او د دنيا او آخرت چارې وربانـدې سمـې شـوې، لـه دې چې ستا غضب راباندې نازل شي او يا ستا قهر مې احاطه كړي، څومره چې ستا خوښـه وي همـدومره عتـاب وكـړه، ستا لـه توفيق پرتـه نـه د راګرځېدا

توان شته او نه د کار سر ته رسولو ځواك.

رسول اللهﷺ له طايف ناهيلی او غمجن راستون شو، مخامخ مکي ته تلل ئي مناسب ونه ګڼلو، ځو ورځي په نخله کي پاته شو، په همدې ورځو کي ئي يوه شپه په لمانځه کي د قرآن تلاوت کولو چي د پېريانو يو ټولګی ئي خوا ته راغی او د قرآن له اورېدو سره سم ئي ايمان راوړ، خپل قوم ته ستانه شول او هغوی ته ئي د قرآن په اړه هغه څه وويل چي د همدې سورې په ٢٩-٣٢ او د الجن د سورې په لومړيو آيتونو کي راغلي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾ مَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ
وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعۡرِضُونَ ﴿٣﴾

حاء میم، د دې کتاب لیږنه د باحکمت عزتمن الله له لوري ده، موږ آسمانونه او زمکه او هغه څه چي په دوی دواړو کي دي له حق او ټاکلي نېټي پرته په بله توګه نه دي پیدا کړي، او هغه چي کفر ئې کړی له هغه څه اعراض کوونکي دي چي پرې ګواښل شوي.

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره باید دا خبري په پام کي ولرئ:

- **دا سوره هم** د (حاء) او (میم) په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چي په دې مبارکي سورې کي هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسي دئ لکه په همداسي دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات همغه دي چي په مختصره توګه په دوهم او درېیم آیتونو کي په دې توګه راغلي: ۱- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لیږل شوی چي (عزیز) او (حکیم) دئ، **متن ئې ګواهي ورکوي چي د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲-** الله تعالی آسمانونه او زمکه او هغه څه چي په دوی دواړو کي دي سم پیدا کړي او د هر څه لپاره ئې ثابته نېټه ټاکلې. دا دواړه (د الله تعالی له لوري لیږل شوی کتاب) او (په سمه توګه پیدا شوی عالم) موږ ته یوه اساسي خبره کوي او هغه دا چي الله تعالی عزیز او حکیم دئ. یوازي هغه څوك به له دې قرآن اعراض کوي چي حقیقت نه مني او د کفر او انکار لار ئې غوره کړې. د دې مضامینو خلاصه د سورې په وروستیو دوو آیتونو کي په دې توګه راغلې:

فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسۡتَعۡجِل لَّهُمۡۚ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَ مَا
يُوعَدُونَ لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّن نَّهَارِۭۚ بَلَٰغٞۚ فَهَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ

﴿٣٥﴾: نو داسي صبر کوه لکه چي هوډمنو پیغمبرانو صبر کړی او د دوی په اړه تلوار مه کوه، کومه ورځ چي دوی هغه څه وګوري چي وعده ئې ورکول کېږي داسي به وي لکه چي د

ورځي له يوې ګڼتې پرته ئې ځنډ او درنګ نه دي کړی. دا يو ابلاغ دئ، نو آيا له دغو فاسقو وګړو پرته به بل څوك هلاك كړی شي؟!

- **كه عالم ته ځير شو دوه څرګند حقائق زموږ په وړاندې ځليږي: ١- هر څه سم پيدا شوي، په ټول عالم کې د ناسم او بېهوده شي يوه بېلګه هم نشو موندلی، ٢- د هر څه لپاره يوه ثابته نېټه ټاکل شوې، داسې چې په يوه ټاکلې نېټې پيدا شي، محدود او ټاکلی عمر لري او په ټاکلې نېټې ئې عمر پای ته ورسيږي او خپل ځای بل ته پرېږدي. او دا هغه څه دي چې قرآن ئې وايي، د الله تعالی مقروء كتاب (قرآن) همغه څه وايي چې د الله تعالی مشهود كتاب (عالم) ئې وايي، نو آيا هغه څوك د هلاكت وړ او مستحق نه دئ چې د قرآن په څېر له ځلاند او څرګند حقيقت انكار كوي؟!**

قُلْ أَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ ۖ ٱئْتُونِى بِكِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ هَٰذَآ أَوْ أَثَٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤﴾ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَٰفِلُونَ ﴿٥﴾ وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُوا۟ لَهُمْ أَعْدَآءً وَكَانُوا۟ بِعِبَادَتِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴿٦﴾

ووايه: آيا پام مو كړی چې له الله پرته كوم څه دربلئ راوئې ښيئ چې د ځمكې څه ئې پيدا كړي او په آسمانونو كې ئې څه شركت په برخه دئ؟! تر دې وړاندينی كوم كتاب راته راوړئ يا د علم كومه پاتې شونې؛ كه رښتيني يئ، او تر هغه به ډېر تېروتی څوك وي چې له الله پرته داسې څوك وربلي چې د قيامت تر ورځې د دوی اجابت نشي كولی او هغوی ئې له دعاء غافل دي؟ او كله چې خلك راغونډ كړی شي د دوی دښمنان به شي او د دوی له لمانځنې به انكار كوي.

(٤-٦)- په دې مباركو آيتونو كې رسول اللهﷺ ته لارښوونه شوې چې مشركينو ته ووايي:

- **آيا دې ته مو پام كړی چې له الله تعالی پرته كوم معبودان لمانځئ او مرسته ترې غواړئ ما ته راوښيئ چې دوی د دې ځمكې څه پيدا كړي او د آسمانونو په كوم څه كې له الله تعالی سره شريك دي؟ كه دا خبره په كوم مخكني الهي كتاب كې شوې وي؛ همغسې چې تاسو ئې ادعاء كوئ او كه كوم علمي دليل درسره وي، داسې علمي دليل چې له مخكنيو مو ترلاسه كړی وي؛ دا كتاب او دا علمي دليل ما ته راوړئ!!**
- **تر هغه به ډېر تېروتی څوك وي چې له الله تعالی پرته داسې څوك لمانځي او مرسته**

ترې غواړي چي د قيامت تر ورځي د دوی د دعاء او بلنه نشي اجابت کولی او داسي دي چي د دوی له دعاء غافل دي او نه ئې اوري؟ دا د دوی د وهم زېږنده جعلي معبودان به د قيامت په هغه ورځ چي ټول خلك به راغونډ کړی شي؛ د دوی دښمنان شي او د دوی له لمانځني به انکار کوي!!

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ هَٰذَا سِحۡرٞ
مُّبِينٌ ٧ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ فَلَا تَمۡلِكُونَ لِي مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۖ هُوَ
أَعۡلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِۚ كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۖ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٨
قُلۡ مَا كُنتُ بِدۡعٗا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدۡرِي مَا يُفۡعَلُ بِي وَلَا بِكُمۡۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا
يُوحَىٰٓ إِلَيَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٩ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرۡتُم بِهِۦ
وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثۡلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي
ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠

او کله چي زموږ ځرگند آيتونه پرې تلاوت شي هغه چي کفر ئې کړی کله چي حق ورشي د هغه په اړه وايي: دا ځرگندي کوډي دي، آيا وايي: دا ئې له ځانه جوړ کړی؟! ووايه: که مي له ځانه افتراء کړی وي نو تاسو د الله هيڅ څه راته په واك کي نه لرئ، دی پر هغه څه ښه پوه دئ چي تاسو په کي لگيا يئ، هغه زما او ستاسو تر منځ د گواه په توگه کافي دئ، او هغه مهربان بخښونکی دئ، ووايه: زه د پيغمبرانو لومړنی نه يم او نه پوهېږم چي له ما سره به څه کېږي او نه په دې چي له تاسو سره به څه کېږي، او زه يوازي د هغه څه متابعت کوم چي ما ته ئې وحي کېږي، زه له يوه ځرگند نذير پرته بل څه نه يم، ووايه: آيا پام مو دئ چي (څنگه به وي) که دا د الله له لوري وي او تاسو پرې کفر کړی وي او د بني اسرائيلو يوه گواه هم په ورته ئې گواهي ورکړې وي نو هغه پرې ايمان راوړی او تاسو کبر کړی؟!! يقيناً چي الله دا ظالم وگړي نه هدايتوي.

(٧-١٠)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- **کله چي د کافرو قريشو په وړاندي د قرآن ځرگند آيتونه تلاوت شي له اورېدو وروسته د قرآن په اړه وايي: دا ځرگند جادو دئ!!**

• الله تعالی د دوی دا وینا د حیرت وړ بولي چې وايي: دا قرآن محمد صلعم له ځانه جوړ کړی؟! دا وینا هم له دې پلوه د حیرانتیا او تعجب وړ ده چې د قرآن په څېر عظیم او ستر الهي کتاب یوه انسان ته منسوبوي؛ په داسې حال کې چې د قرآن متن په واضح توګه د دې ګواهي ورکوي چې دا کتاب د عزیز حکیم رب له لوري نازل شوی، له بلې خوا له دې پلوه د تعجب وړ ده چې د رسول الله ﷺ په څېر صادق او امین شخصیت په دې تورنوي چې د خپل رب په اړه افتراء کوي، څوک چې قرآن پيژني هیڅکله به دا جسارت ونه کړي چې هغه د انسان کلام وګڼي او څوك چې رسول الله ﷺ پيژني هیڅکه به هغه په درواغو او افتراء تورن نه کړي.

• رسول الله ﷺ ته ویل شوي: دوی ته ووایه: که ما دا قرآن له ځانه افتراء کړی وي نو تاسو د الله هیڅ څه راته په واك کې نه لرئ، دی پر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو په کې لګیا یئ، هغه زما او ستاسو تر منځ د ګواه په توګه کافي دئ، او هغه مهربان بخښونکی دئ. دلته دا فقره چې وايي: (تاسو د الله هیڅ څه راته په واك کې نه لرئ)، لږ وضاحت غواړي، باید وګورو چې د دې فقرې ارتباط له مخکنی سره څنګه دئ، په تفاسیرو کې بېل بېل تعبیرونه مومو چې د اعتناء وړ ئې دا دي: ۱- که ما افتراء کړې وي نو الله تعالی به ئې سزا راکړي، تاسو د الله تعالی عذاب له ما نشئ دفع کولی، ۲- دلته رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چې قریشو ته ووایې: الله تعالی زما څه تاسو ته سپارلي؟ څه ګټه او تاوان رارسولی شئ؟ زما د برخلیك څه ستاسو په لاس کې دي؟ ولې به تاسو ته داسې کتاب وړاندې کوم چې په دروغو مې الله تعالی ته منسوب کړی وي؟!! آیا په داسې کار سره له تاسو د کومې ګټې رسولو طمع یا د کوم تاوان دفع کولو هیله کولی شم؟ په ځانګړې توګه هغه ګټه او تاوان چې پرېکړه ئې د الله تعالی له لوري کيږي؟!! که داسې نه وي نو ولې به دا کار کوم، کله مې له تاسو څه غوښتي او څه هیله او طمع مې کړې؟ که لږ ځیر شو نو راته جوته کيږي چې دوهم تعبیر مناسب او دقیق دئ.

• رسول الله ﷺ ته ویل شوي چې خپلو مخالفینو ته ووایه: الله تعالی پر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو په کې لګیا یئ، ستاسو تبلیغات اوري، ستاسو له هلو ځلو ښه خبر دئ، په دې پوهيږي چې تاسو په کومه موخه او د څه لپاره دا تبلیغات او هڅې کوئ، هغه زما او ستاسو تر منځ د ګواه په توګه کافي دئ، هغه مهربان بخښونکی دئ. که د حق دښمنانو ته فوراً سزا نه ورکوي او د توبې، بیا کتنې او تجدید نظر لپاره مهلت ورکوي وجه ئې دا ده چې هغه مهربان بخښونکی دئ.

• ورته ووایه: زه د پیغمبرانو لومړنی نه یم، تر ما وړاندې ډېر پیغمبران تېر شوي، په غیب نه پوهيږم، نه په دې پوهيږم چې الله تعالی به له ما سره څه کوي او نه په دې چې له تاسو سره به څه کوي، یوازې د هغه څه متابعت کوم چې ما ته ئې وحي کيږي، زه له یوه څرګند نذیر پرته بل څه نه یم، آیا دې ته مو پام کړی چې څنګه به وي که دا قرآن د الله تعالی له لوري وي او تاسو پرې کفر کړی وي او د بني اسرائیلو یوه ګواه هم په ورته ئې ګواهي ورکړې وي نو هغه پرې ایمان راوړی او تاسو کبر کړی؟!! یقیناً چې الله دا ظالم وګړي نه هدایتوي.

• دلته ویل شوي چې د بني اسرائیلو یوه ګواه هم په ورته ئې ګواهي ورکړې، نو هغه پرې

ايمان راوړی او تاسو کبر کړی، پوښتنه راولاړيږي چې له دې يوه ګواه مراد څوك دئ، او هغه د څه ګواهي ورکړې؟ ځينو درنو مفسرينو ويلي چې ګواکي دا ګواه عبدالله بن سلام ﵁ دئ چې ستر يهودي عالم وو او ايمان ئې راوړ، خو دا وينا ځکه صحيح نه ده چې له يوې خوا دا سوره تر هجرت وړاندې او د بعثت په لسم يا يولسم کال کې نازله شوې، هغه مهال عبدالله بن سلام ايمان نه وو راوړی، له بلې خوا ګورو چې دا آيت د داسې مضمون يوه برخه ده چې خطاب قريشو ته متوجه دئ او هغوی ته د نورو خبرو په ضمن کې دا هم ويل شوي چې د بني اسرائيلو يو شاهد هم دې ته ورته خبره کوي، يعني هغه څه چې قرآن ئې وايي همدا خبره هغه بني اسرائيلي هم کوي چې په تورات ايمان لري، هغه تورات چې قرآن ته ورته دئ، نه زه لومړنی پيغمبر يم، نه مې راوړی کتاب داسې کتاب دئ چې هيڅ سابقه نه لري، تر ما وړاندې ډېر پيغمبران تېر شوي او تر مسلمانانو وړاندې بني اسرائيلو په همداسې يوه کتاب باور درلود او د همغې خبرې ګواهي ئې ورکوله چې نن ئې مسلمانان ګواهي ورکوي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡ كَانَ خَيۡرٗا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيۡهِۚ وَإِذۡ لَمۡ يَهۡتَدُواْ
بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفۡكٞ قَدِيمٞ ﴿١١﴾ وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةٗۚ
وَهَٰذَا كِتَٰبٞ مُّصَدِّقٞ لِّسَانًا عَرَبِيّٗا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٢﴾
إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿١٣﴾
أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٤﴾

او هغو چې کفر ئې کړی د هغو په اړه چې ايمان ئې راوړی وويل: که ښه وی نو تر موږ به ئې هغه ته سبقت نه وو کړی، او کله چې په هغه سره هدايت نه شول نو حتماً به وايي: دا پخوانی دروغ دئ، په داسې حال کې چې تر هغه وړاندې د موسی کتاب يو لارښود او يو رحمت وو، او دا د عربي ژبې يو مصدق کتاب دئ؛ د دې لپاره چې هغه پرې وګواښل شي چې ظلم ئې کړی او نېکانو ته يو زيری. يقيناً هغه چې وئې ويل: الله زموږ رب دئ؛ بيا ئې ټينګ پاته کېدل وغوښتل نو پر دوی نه کومه وېره شته او نه به غمجن شي، دوی د جنت خاوندان دي؛ په هغه کې تلپاتي؛ د هغه څه يوه بدله چې دوی کول.

(۱۱-۱٤)- دا مبارك آيتونه وايي:

- **کافرانو د مؤمنانو په اړه وويل: که په قرآن باندې ايمان راوړل غوره او سم کار وی نو دوی به هيڅکله پر موږ سبقت نه وو کړی، موږ به تر دوی ډېر وړاندې ايمان راوړی وو!! او**

کله چي له دې سعادت محروم شي او ونه نتوانيږي چي د قرآن له لارښوونو برخمن شي نو وايي: دا هغه دروغجني خبري دي چي په وار وار او پخوا اوربدل شوې، تر دې وړاندي هم ځينو د پيغمبرۍ دعوى کړې او ويلي ئې دي چي د الله تعالى له لوري کتاب ورکړى شوى، دوى دا خبره د قرآن د دې وينا په رد کي کړې چي رسول اللهﷺ ته ئې ويلي: ووايه: نه زه لومړنى پيغمبر يم، نه مي راوړى کتاب داسي کتاب دئ چي هيڅ سابقه نه لري، تر ما وړاندي ډېر پيغمبران تېر شوي او تر مسلمانانو وړاندي بني اسرائيلو په همداسي يوه کتاب باور درلود او د همغي خبري ګواهي ئې ورکوله چي نن ئې مسلمانان ګواهي ورکوي. د دوى په ځواب کي ويل شوي: تر قرآن وړاندي د موسى صلعم کتاب يو لارښود او يو رحمت وو، د همغه کتاب په طفيل بني اسرائيل د فرعون له غلامۍ وژغورل شول، د الله تعالى پېرزويني ئې په برخه شوې، هدايت شول او پر ټولو نړۍ والو فضيلت ورکړى شو، قرآن د تورات په څېر يو الهي کتاب دئ، په دومره توپير سره چي دا په عربي ژبي نازل شوى، د تورات مصدق دئ، دا کتاب هم د تورات په څېر د ظالمانو لپاره يو انذار دئ چي د کفر او ظلم له بدو پايلو ئې وېروي او نېکانو ته يو زېرى دئ، د قرآن مخالفين به له همغه برخليک سره مخامخ کېږي چي فرعونيان ورسره مخامخ شول او د قرآن پلويان به هغه څه ترلاسه کوي چي د بني اسرائيلو په برخه شول.

- الله تعالى هغو مؤمنانو ته اطمئنان ورکوي چي وايي: الله تعالى زموږ رب دئ؛ بيا په دغي عقيدې ټينګ پاتي کېږي، پر دوى نه کومه وېره شته او نه به غمجن شي، دوى دي له هيڅ څه وېره نه لري، داسي څه به په دې لار کي له لاسه ورنه کړي چي پرې غمجن شي او تر هغه ډېر غوره ترلاسه نه کړي، دوى جنتيان دي؛ په هغه کي به تلپاتي وي؛ دا به د دوى د ايمان او نېکو عملونو الهي بدله وي.

وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ إِحۡسَٰنًاۖ حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ كُرۡهٗا وَوَضَعَتۡهُ كُرۡهٗاۖ وَحَمۡلُهُۥ
وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهۡرًاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗ قَالَ رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ
أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَصۡلِحۡ
لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓۖ إِنِّي تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنۡهُمۡ
أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمۡ فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَعۡدَ ٱلصِّدۡقِ ٱلَّذِي
كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾

او انسان ته مو له خپل مور پلار سره د ښېګڼي سپارښتنه کړې، مور ئې له کړاو سره

حمل کړ او له کړاو سره ئې وزېږاوو، حمل او له تې پرېکون ئې دېرش میاشتې وو، تر هغه چې خپلې مضبوطتیا ته ورسېدو او څلوېښت کلنۍ ته ورسېدو وئې ویل: اې زما ربه! ما ته د دې الهام وکړه چې ستا د هغه نعمت شکر اداء کړم چې پر ما او زما پر مور پلار دې پېرزو کړی او چې داسې نېك عمل وکړم چې ته ئې خوښوې، او په اولاد کې مې اصلاح راپه برخه کړه، یقیناً چې ستا لورې ته مې رجوع کړې او یقیناً چې زه له مسلمانانو یم، دا وګړې هغه دې چې د دوی هغه غوره عمل به قبلوم چې کړی ئې دئ او د جنتیانو په ډله کې به ئې له بدیو تېرېږم، هغه رښتینې وعده چې له دوی سره کېدله.

(١٥-١٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دې: د الله تعالی له لورې انسان ته سپارښتنه او لارښوونه شوې چې له خپل مور پلار سره به ښېګڼه کوې، په ځانګړې توګه له خپلې مور سره چې دی ئې د کړاوونو په ګاللو سره په خپل رحم کې ستر کړی، د ساتلو او حملولو کړاوونه ئې ګاللې، له کړاو سره ئې زېږولی، حمل او له تې پرېکون ئې دېرش میاشتې وو، تر دې وروسته هم مور او پلار د ده روزنه او پالنه کوې، ځینې تر هغه د دوی تر پالنې لاندې وې چې خپلې مضبوطتیا ته ورسېږې، په خپلو پښو ودرېږې او د دوی له احتیاج ځان مستغنې وګڼې، بیا ترې بېل شې او ځینې ئې تر څلوېښت کلنۍ پورې د دوی په څنګ کې پاتې شې، خو دا هغه صالح زامن دې چې د خپل منعم رب شکر پر ځای کوې او وایې: اې زما ربه! ما ته د دې الهام وکړه چې ستا د هغه نعمت شکر اداء کړم چې پر ما او زما پر مور پلار دې پېرزو کړی او چې داسې نېك عمل وکړم چې ته ئې خوښوې او په اولاد کې مې اصلاح راپه برخه کړه، نېك او صالح اولاد را، یقیناً چې ما ستا لورې ته رجوع کړې او یقیناً چې زه له مسلمانانو یم، دا وګړې هغه دې چې الله تعالی به د دوی غوره غوره عملونه قبلوې، د جنتیانو په ډله کې به ئې نیسې او له بدیو او ګناهونو به ئې تېرېږې، دا له دوی سره د الله تعالی هغه رښتینې وعده ده چې حتماً به ترسره کېږي.

دلته څو خبرې باید په پام کې ولرو:

- **که متوجه شوې وئ دلته یو ځل د پلار یادونه شوې او هغه هم د مور تر څنګ (والدیه) او درې ځلې د مور، له دې معلومېږي چې د مور حق د پلار په پرتله درې برابره زیات دئ، او دا همغه مطلب دئ چې په یوه مبارك حدیث کې په دې توګه راغلی:**

عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ نَبِّئْنِي بِأَحَقِّ النَّاسِ مِنِّي صُحْبَةً فَقَالَ نَعَمْ وَاللَّهِ لَتُنَبَّأَنَّ قَالَ مَنْ قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبُوكَ. مسند أحمد

له ابوهریره ﷺ روایت دئ چې یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او وئې ویل: یا رسول الله! ما ته د هغه چا په اړه خبر را چې تر ټولو خلکو زیات زما د مصاحبت مستحق وي، وئې فرمایل: هو؛ په الله تعالی قسم چې حتماً به خبر کړی شې، وئې ویل: څوك دئ؟ وئې فرمایل: ستا مور، وئې ویل: بیا څوك؟ وئې فرمایل: بیا هم ستا مور، وئې ویل: بیا څوك؟ وئې فرمایل: بیا هم ستا مور، وئې ویل: بیا څوك؟ وئې فرمایل: بیا ستا پلار.

- **دلته د حمل او له تې پرېکون ټوله موده دېرش میاشتې ښودل شوې، د لقمان د سورې په**

١٤آيت کې ویل شوي: (مور ئې دی په پرله پسې سستیو ګاللو سره حمل کړ، او بېلول ئې په دوو کلونو کې وو) ، او د البقره د سورې په ٢٣٣ آیت کې ویل شوي: (او که څوك غواړي چې د تې ورکولو موده دې پوره شي، نو میندې دې خپلو اولادونو ته تر پوره دوو کلونو تې ورکړي)، له دې معلومېږي چې په پورتنیو دېرشو میاشتو کې ٢٤ میاشتې د رضاعت او تې ورکولو دي او پاتې شپږ میاشتې ئې د حمل حد اقل موده، کېدی شي یو ماشوم د مور په رحم کې په شپږو میاشتو کې بشپړ شي او د سالم ماشوم په بڼې کې وزېږېږي، او د دې خبرې معنی دا ده چې: ١- د رضاعت احکام په هغه تې ورکولو پورې تړاو لري چې د دوو کالونو په منځ کې وي، له هغه وروسته تې ورکول د رضاعت په حکم کې نه شاملېږي، ٢- هغه مېرمن په زنا نشي تورنېدی چې په شپږو میاشتو کې اولاد وزېږوي، هغه روایت هم د دې وینا تأیید کوي چې وايي: د عثمان ﷺ د خلافت په زمانه کې یو کس هغه ته ورغی او وئې ویل: زما له له واده شپږ میاشتې تېرېږي او مېرمن مې اولاد وزېږوولو، عثمان ﷺ له تحقیق وروسته غوښتل دا مېرمن د زنا په تور مجازات کړي، علي ﷺ له پېښې خبر شو، په تلوار سره د عثمان ﷺ خوا ته ورغی او ورته وئې ویل: له دې آیت معلومېږي چې د حمل اقل موده شپږ میاشتې ده، عثمان ﷺ د ده استدلال قبول کړ او د مجازات پرېکړه ئې بېرته واخیستله.

- **له دې مبارك آیت دا هم معلومېږي چې انسان غالباً هغه مهال د خپل مور پلار په قدر پوه شي چې عمر ئې څلوېښت کلنۍ ته ورسېږي، د اولاد خاوند شي او اولاد ئې داسې عمر ته ورسېږي چې د خدمت هیله ترې کوي. دغه مهال ورته معلومه شي چې بد اولاد څومره لوی مصیبت وي او د داسې اولاد له بغاوت، مخالفت اوسرکښۍ پلار او مور څومره ځورېږي.**

وَٱلَّذِى قَالَ لِوَٰلِدَيۡهِ أُفّٖ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِيٓ أَنۡ أُخۡرَجَ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلۡقُرُونُ مِن قَبۡلِى وَهُمَا يَسۡتَغِيثَانِ ٱللَّهَ وَيۡلَكَ ءَامِنۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ﴿١٨﴾

او هغه چې خپل پلار مور ته ئې وویل: تاسو ته دې اف وي، آیا دا وعده راکوئ چې (له قبر به) راوایستل شم، په داسې حال کې چې تر ما وړاندې ډېر نسلونه تېر شوي؟! او دوی دواړه الله ته استغاثه کوي (او وايي:) افسوس پر تا؛ ایمان راوړه، یقیناً چې د الله وعده رښتیني ده، نو وايي: دا یوازې د لومړنیو قصې دي، دا هغه وګړي دي چې د دوی په اړه د پېریانو او انسانانو د هغو ډلو په ضمن کې چې تر دوی وړاندې تېر شوي دا وینا محققه شوې چې یقیناً دوی زیانمن ول.

(۱۷-۱۸)- دلته د مخکني صالح او مؤمن زوی په مقابل کې هغه کافر او له آخرت منکر زوی انځور شوی چې والدين ئې مؤمنان دي او دی پر آخرت ايمان ته بلي او دی په ځواب کې ورته وايي: تاسو ته دي اف وي، ستاسو پر حال افسوس کوم، آيا دا وعده راکوئ چې له مړيني وروسته به له خپل قبر بېرته ژوندی راوايستل شم، په داسي حال کې چې تر ما وړاندي ډېر نسلونه تېر شوي خو له دوی يو کس تر اوسه راژوندی نه شو؟! او دوی دواړه الله ته استغاثه کوي او وايي: افسوس پر تا؛ ايمان راوړه، يقيناً چې د الله وعده رښتيني ده، دی د رد ځواب ورکوي او وايي: دا يوازي د لومړنيو قصې او زړې خبري دي، حقيقت نه لري، مخکنيو دې ته ورته خبري کولې، يوه ئې هم رښتيا نه شوه.

الله تعالی د داسي وګړو په اړه فرمايي: دوی د پېريانو او انسانانو د هغو ډلو په ضمن کي دي چې تر دوی وړاندي تېر شوي، او د هغوی په اړه د الله تعالی دا وينا محققه شوې چې دوی به په دنيا او آخرت کي زيانمن وي.

وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُواْ ۖ وَلِيُوَفِّيَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَذۡهَبۡتُمۡ طَيِّبَٰتِكُمۡ فِي حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنۡيَا وَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهَا فَٱلۡيَوۡمَ
تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَبِمَا كُنتُمۡ
تَفۡسُقُونَ ﴿٢٠﴾

او هر چا ته له هغه سره سم درجې دي چې کړي ئې دي، او دا د دې لپاره چې دوی ته خپل عملونه وربشپړ کړي په داسي حال کې چې پر دوی به ظلم نه کېږي. او هغه ورځ چې اور ته به هغه وګړي وړاندي کړی شي چې کفر ئې کړی؛ په خپل دنيايي ژوند کي مو خپل پاکيزه نعمتونه ختم کړل او ترې متمتع شوئ، نو نن به د سپکوونکي عذاب سزا درکول کېږي؛ له دې کبله چې په زمکي کې مو په ناحقه تکبر کولو او له دې کبله چې تاسو سرغړاوی کولو.

(۱۹-۲۰)- په دې مبارکو آيتونو کي ويل شوي:

• د هر چا مقام او منزلت د هغو عملونو له مخې ټاکل کېږي چې کوي ئې، ښه عملونه لوړي لوړي درجې ورپه برخه کوي او بد عملونه ئې د ذلت او سپکاوي په کندې کي غورځوي، دا د دې لپاره چې الله تعالی غواړي هر چا ته د خپلو عملونو بشپړه بدله ورکړي په داسي حال کي چې پر دوی به هيڅ ظلم نه کېږي، نېکان به د خپلو نېکو عملونو بشپړه بدله ترلاسه کوي او بدکارو ته به د دوی د عملونو عادلانه سزا ورکول کېږي، الله تعالی نه د نېکانو عمل ضائع کوي او نه بدکاران بې سزا پرېږدي، که په دنيا او آخرت کي نېکانو ته د دوی د عملونو بشپړه بدله ورنه کړی شي؛ دا ظلم دئ او الله تعالی له هر راز ظلم منزه دئ، که کافر

او ظالم ته په دنيا او آخرت كي عادلانه سزا ورنه كړى شي دا هم ظلم دئ او الله تعالى له هر ډول ظلم منزه دئ.

- **دلته ويل شوي: (وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَالَهُمْ : او دا د دې لپاره چي دوى ته خپل عملونه وربشپړ كړي)؛ دا تركيب يو خاص مطلب افاده كوي او ښيي چي عمل او بدله ئې لازم او ملزوم دي، عمل هغه مهال بشپړ كيږي چي لازمي بدله ئې پرې مرتب شي.**
- **د قيامت په ورځ او هغه مهال چي كافران د دوزخ اور ته وړاندي كړى شي ورته وبه ويل شي: تاسو په خپل دنيايي ژوند كي خپل پاكيزه نعمتونه ختم كړل او ترې متمتع شوئ، څه چي ستاسو منعم رب دربانديي پيرزو كړي ول؛ په داسي حال كي ترې برخمن شوئ او ګټه مو ترې واخيستله چي مستكبر او فاسق وئ، نو نن به د سپكوونكي عذاب سزا دركول كيږي له دې كبله چي په زمكي كي مو په ناحقه تكبر كولو او له دې كبله چي تاسو سرغړاوى (فسق) كولو.**

وَٱذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنذَرَ قَوْمَهُۥ بِٱلْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ
خَلْفِهِۦٓ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٢١﴾ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا
لِتَأْفِكَنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾ قَالَ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ
عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَلَـٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ
عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا۟ هَـٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۚ بَلْ هُوَ مَا ٱسْتَعْجَلْتُم بِهِۦ ۖ
رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَىْءٍۭ بِأَمْرِ رَبِّهَا فَأَصْبَحُوا۟ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا
مَسَـٰكِنُهُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٢٥﴾

او د عاد ورور درياد كړه؛ هغه مهال چي خپل قوم ئې په احقاف كي انذار كړ؛ په داسي حال كي چي تر ده وړاندي او وروسته انذاروونكي (پيغمبران) تېر شوي وو چي له الله پرته بل څوك مه لمانځئ، يقيناً چي زه پر تاسو د يوې ستري ورځي له عذاب وېرېږم، وئې ويل: آيا د دې لپاره راغلى يې چي موږ له خپلو معبودانو واړوې، كه له رښتينو يې هغه څه راوړه چي وعده ئې راكوې، وئې ويل: دا علم يوازي له الله سره دئ او زه هغه څه دررسوم چي ورسره لېږل شوى يم، خو زه مو داسي وګړي ګورم چي جهالت كوئ،

نو کله چي ئې هغه د يوې داسي ورېځي په بڼې کي ولید چي د دوی درو ته ئې مخه کړې؛ وئې ویل: دا داسي ورېځ ده چي باران به راباندي ووروي، بلکي دا همغه څه دي چي تلوار مو پرې کولو، يوه سيلۍ چي دردناك عذاب په کي دئ، د خپل رب په حکم هر څه ورانوي، نو داسي شول چي له کورونو پرته ئې هيڅ څه نه ليدل کېدل، مجرمو وګړو ته همداسي سزا ورکوو.

(۲۱-۲۵)- دلته مخکني مطالب د يوه تاريخي مثال په ترڅ کي انځور شوي، په دې تاريخي انځور کي ګورو چي د عاد قوم ته د هغوی پيغمبر هود صلعم ورغی، دوی په احقاف نومي سيمي کي اوسېدل، دا سيمه هغه مهال آباده سيمه وه، اوس يوه شګلنه صحراء ترې جوړه شوې، له عمان تر يمن پوري غزېدلې ده، عاديان هغه مهال يو ځواکمن، متمدن او پر مخ تللی خو ظالم او په شرك او خرافاتو کي غرق قوم وو، دوی ته د دوی ورور هود صلعم د پيغمبر په توګه ولېږل شو چي د ظلم، کفر او شرك له بدو پايلو ئې ووېروي، تر ده وړاندي او وروسته هم همداسي انذاروونکي پيغمبران تېر شوي وو؛ د ټولو نورو پيغمبرانو په څېر د هود صلعم پيغام هم دا وو چي له الله تعالی پرته بل ځوك مه لمانځئ، يقيناً چي زه پر تاسو د يوې ستري ورځي له عذاب وېرېږم، قوم ورته وويل: آيا د دې لپاره راغلی يې چي موږ له خپلو معبودانو واړوې، که له رښتينو يې هغه عذاب راوړه چي موږ پرې وېروې، او دا پيغمبرانو او دعوتګرانو ته د ټولو مفسدينو ګډ او ورته ځواب دئ، هود صلعم وويل: دا علم يوازي له الله تعالی سره دئ، زه نه پوهېږم چي دا عذاب به کله او څنګه راځي، زه هغه پيغام دراورروم چي د الله تعالی له لوري رالېږل شوی، خو زه مو ګورم چي په جهالت اخته يئ، بې اعتنايي کوئ او الهي عذاب په تلوار سره غواړئ، کله چي دوی هغه عذاب د يوې داسي ورېځي په بڼې کي وليد چي د دوی درو ته ئې مخه کړې؛ وئې ويل: دا داسي ورېځ ده چي باران به راباندي ووروي، خو دا ورېځ نه بلکي هغه الهي عذاب وو چي تلوار ئې پرې کولو او له هود صلعم ئې غوښتل چي که د عذاب دا ګواښ دي رښتينی وي ژر ئې راولهِ!! دا توونده سيلۍ وه چي دوی ته ئې دردناك عذاب په خپلې غېږ کي درلود، داسي توونده سيلۍ چي د خپل رب په حکم هر څه ورانوي، همداسي وشول، الهي عذاب خپل تور وزر پرې وغوړاوو، توونده ورانوونکې سيلۍ راغله، هر څه ئې وځپل، داسي شول چي له ورانو کورونو پرته ئې هيڅ څه نه ليدل کېدل، دا الهي سنت دئ، هر مجرم ولس ته د مهلت په پای کي همداسي سزا ورکوي.

وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَٰرًا وَأَفْـِٔدَةً فَمَآ أَغْنَىٰ
عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن شَىْءٍ إِذْ كَانُوا۟ يَجْحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ
ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْقُرَىٰ

وَصَرَّفْنَا ٱلْأَيَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٧﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ
قُرْبَانًا ءَالِهَةَۢ بَلْ ضَلُّواْ عَنْهُمْ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٢٨﴾

او يقيناً چي دوی مو په داسي څه كي متمكن كړي ول چي تاسو مو نه يئ په كي متمكن كړي، او دوی ته مو غوږونه، سترګي او زړونه وركړي ول، خو غوږونو، سترګو او زړونو ئې كوم څه ترې دفع نه كړی شو؛ له دې كبله چي د الله په اړه ئې انكار كولو او هغه څه پرې محقق شو چي ملنډې ئې پرې وهلې، او يقيناً چي له كليوالو مو هغه هلاك كړل چي ستاسو شاوخوا كي ول، او آيتونه مو په مكرره توګه بيان كړل چي راوګرځي، نو ولي هغو د دوی مرسته ونه كړه چي له الله پرته ئې د نږدېوالي سبب معبودان ګڼل، بلكي ترې ورك شول، او دا د دوی دروغ او هغه څه وو چي له ځانه ئې افتراء كول.

(٢٦-٢٨)- د دې مباركو ايتونو لارښووني دا دي:

- **الله تعالی عاديانو ته دومره امكانات وركړي وو چي تر قريشو له هره پلوه ځواكمن او شتمن ول، د ذاتي استعدادونو له پلوه هم تر دوی وړاندي ول، سترګور ول، ښه حافظه ئې درلوده او زړه ور ول، خو نه دغو امكاناتو څه ګټه ورورسوله او نه ئې هغو ذاتي استعدادونو، غوږونو، سترګو او زړونو، له دې كبله چي د الله تعالی په اړه ئې انكار كولو او د هود صلعم انذار او د الهي عذاب ګواښونه ئې د ملنډو وړ ګڼل، نو هغه څه پرې محقق شو چي ملنډې ئې پرې وهلې.**
- **د قريشو شاوخوا سيمو كي مېشت ډېر قومونه د كفر، شرك او ظلم له كبله هلاك شوي، هر يوه ته خپل خپل پيغمبر ورغلی، د الله تعالی څرګند آيتونه ئې د هغوی په وړاندي ايښي، په دې هيله چي د خپل رب لوري ته رجوع وكړي او له بغاوت لاس واخلي، خو پر خپل كفر د ټينګار له كبله له سخت الهي عذاب سره مخامخ شوي او هغو جعلي معبودانو هيڅ ګټه نه ده وررسولې چي يا ئې په الوهيت كي د الله تعالی شريكان ګڼل يا ئې الله تعالی ته د تقرب وسيله، نه يوازي د دوی مرسته ئې ونه كړه بلكي ترې ورك شول، دا هسي د دوی دروغجنه خبره او افتراء وه، يعني نه الله تعالی شريك لري او نه دا جعلي معبودان د تقرب وسيله دي.**

وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ
أَنصِتُواْ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْاْ إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُواْ يَٰقَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا
كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيٓ إِلَى ٱلْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ

مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَٰقَوْمَنَآ أَجِيبُواْ دَاعِيَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ
وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾ وَمَن لَّا يُجِبْ دَاعِيَ ٱللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي ٱلْأَرْضِ
وَلَيْسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءُ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾

او کله چې د پېریانو یوه داسې ډله مو ستا لورې ته راوګرځوله چې قرآن ته ئې غوږ نیولو، کله چې ورته حاضر شول وئې ویل: چوپ شئ، نو کله چې پای ته ورسېدو، خپل قوم ته د خبرداري ورکونکو په توګه ستانه شول؛ وئې ویل: ای زموږ قومه! یقیناً چې موږ داسې یو کتاب واورېدو چې تر موسی وروسته نازل شوی، د هغه څه مصدق چې ترې وړاندې ول، د حق لورې او مستقیمې لارې ته لاربنوونه کوي. ای زموږ قومه! د الله د بلونکي بلنه ومنئ او ایمان پرې راوړئ چې ستاسو ځینې ګناهونه دروبخښي او له دردناك عذاب مو وژغوري، او څوك چې د الله د بلونکي اجابت ونه کړي نو نه په زمکې کې عاجزوونکی دئ او نه له ده پرته پالونکي ورته شته، همدا دوی په څرګندې تېروتنې کې دي.

(٢٩-٣٢)- دا مبارك آیتونه وايي:

- **الله تعالی د پېریانو یوه داسې ډله د رسول الله ﷺ لورې ته متوجه کړه چې غوښتل ئې قرآن پرې واوروي، کله چې د ده خوا ته حاضر شول وئې ویل: چوپ شئ، کله چې د قرآن تلاوت پای ته ورسېدو؛ خپل قوم ته په دې موخه ستانه شول چې خبرداری ورکړي.**
- **دې ډلې خپل قوم ته وویل: ای زموږ قومه! یقیناً چې موږ داسې یو کتاب واورېدو چې تر موسی صلعم وروسته نازل شوی، مخکني کتابونه تصدیقوي، همغه خبرې کوي چې په مخکنیو الهي کتابونو کې راغلې دي، بلنه ئې د حق لورې ته ده او مستقیمه لار راښيي. ای زموږ قومه! د الله د دعوتګر پیغمبر بلنه ومنئ او ایمان پرې راوړئ چې په دې سره به الله تعالی ستاسو ځینې ګناهونه دروبخښي او له دردناك عذاب به مو وژغوري، او څوك چې د الله د بلونکي اجابت ونه کړي نو نه په زمکې کې داسې برلاسي ترلاسه کولی شي چې له الهي عذاب ځان وژغوري او نه له الله تعالی پرته داسې اولیاء او پالونکي موندلی شي چې مرسته ئې وکړي، همدا دوی په څرګندې تېروتنې کې دي.**

دا مطلب د قرآن په یوه بل آیت کې په دې توګه راغلی:

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ﴿١﴾ يَهْدِيٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ
فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴿٢﴾

الجن: ١-٢

ووايه: راته وحي شوې چې د پېريانو يوه ډله ورته غوږ شول او وئې ويل: بې شكه چې مونږ عجيب قرآن واورېدو، د رشد او كمال لوري ته لاربښوونه كوي، ايمان مو پرې راوړ، او هيڅكله به څوك له خپل رب سره شريك نه كړو.

په دې مباركو آيتونو كې څو ظريف ټكي زمونږ توجه جلبوي:

- **د آيت له فحوى معلوميږي چې پېريان د انسانانو په ژبې پوهيږي، دا پېريان هم د تورات په ژبه پوهېدل او هم د قرآن.**
- **رسول اللهﷺ ته د وحي له لارې ويل شوي چې د پېريانو يوې ډلې د قرآن تلاوت ته غوږ ايښى او دومره ئې تر اغېز لاندې راغلي چې نورو ته ئې ويلي: عجيب قرآن مو واوريدو، د كمال لوري ته لاربښود، ايمان مو پرې راوړ او دا پرېكړه مو وكړه چې له دې وروسته به هيڅكله د شرك مرتكب نه شو، او د الله تعالى په څنگ كې به د بل چا او بل څه عبادت ونكړو.**
- **پيغمبر عليه السلام دا ډله نه ده ليدلې او د دې سورې تر نازلېدو له دې نه وو خبر چې د پېريانو يوې ډلې قرآن اورېدلى او غبرگون ئې دا وو او خپل قوم ته ئې دا وينا كړې. له دې جريان هغه مهال خبر شو چې دا آيتونه نازل شول. د احقاف او د جن د سورې دا آيتونه په ډېر صراحت سره وايي چې پيغمبر عليه السلام په تلاوت لگيا وو چې دا ډله راغلې، قرآن ئې اورېدلى، پرته له دې چې رسول اللهﷺ د دوى په راتگ او ايمان راوړلو پوه شي. په ټول قرآن كې داسې آيت نه مومو چې رسول اللهﷺ پېريان ليدلي.**

خو په دې اړه څو روايتونه زمونږ مخې ته راځي: يو ئې عبدالله بن عباس ﷛ ته منسوب دئ او دوه ئې عبدالله بن مسعود ﷛ ته، د دغو دواړو جليل القدره صحابه وو د رواياتو تر منځ تعارض دئ، يو ئې د پېريانو د نه ليدو او بل ئې د ليدو خبره كوي، عبد الله بن مسعود ﷛ ته منسوب روايتونه هم په خپلو كې تعارض لري، په يوه كې داسې راغلي چې مونږ يوه شپه پيغمبر عليه السلام ونه موند، ډېر پرېشانه شوو، دا وېره راسره پيدا شوه چې څه نه وي پرې شوي، سحر هغه رامعلوم شو او پوښتنه مو ترې وكړه چې چېرې تللى وې، هغه وفرمايل چې د پېريانو يوې ډلې ته مې قرآن اورولو، په بل كې راغلي چې زه ئې په يوه ځاى كې ودرولم او راته وئې ويل چې له دې ځايه مه خوځېږه او هغه لاړ او د پېريانو يوې ډلې ته ئې قرآن واوراوو. كه څه هم ځينو د دې تعارض په اړه څه توجيهات كړي، خو په ډېر تكلف سره، او دا هڅه ئې هم كړې چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنه دا قول ضعيف وښيي چې وايي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : مَا قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ عَلَى الْجِنِّ وَلاَ رَآهُمْ ... رواه مسلم و الترمذي

له عبدالله بن عباس ﷛ روايت دئ چې وايي: رسول اللهﷺ نه پېريانو ته د قرآن قرائت كړى او نه ئې دوى ليدلي.

ځينو دا دوه بېلې بېلې پېښې گڼلې، په يوې كې د پېريانو د ليدو او په بلې كې د نه ليدو، خو د الاحقاف او الجن اړوند آيتونه په ډېر صراحت سره وايي چې رسول اللهﷺ پېريان نه دي ليدلي، هغه روايات چې وايي رسول اللهﷺ پېريان ليدلي په قرآن كې نه يوازې كوم شاهد نه لري بلكې وينا ئې له قرآن سره تعارض لري، نه يوازې د قرآن په دې دواړو آيتونو كې بلكې په بل ځاى كې هم ويل شوي چې انسانان پېريان نه شي ليدى، لكه چې فرمايي:

يَـٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ 

الاعراف: ٢٧

اې د آدم زامنو! شيطان دې تاسو دوکه نه کړي، لکه چې ستاسو مور پلار ئې له جنته وايستل، جامې ئې ترې ايستلې، تر څو ئې بدنونه وروښيي، يقيناً چې دی او قبيله ئې تاسو له هغه پلوه ليدی شي چې تاسو ئې نه شئ ليدی، مونږ خو شيطانان د هغو کسانو لپاره دوستان ګرځولي چې ايمان نه راوړي.

په قرآن کې صريحاً يا تلويحاً داسې څه نه ګورو چې وښيي پيغمبر عليه السلام پېريان په خپلو سترګو ليدلي، يا ئې بل څوك ليدی شي، په مقابل کې ئې دا درې آيتونه په صراحت سره وايي چې نه رسول اللهﷺ پېريان ليدلي او نه ئې نور خلك ليدلی شي. دغو دلائلو ته په پام سره په يقيني توګه ويلی شو چې عبدالله بن مسعود ﷻ ته منسوب روايات د اعتبار وړ نه دي، دا ځکه چې هم په خپلو منځونو کې تعارض لري، هم د قرآن له آيتونو سره او هم د عبدالله بن عباس رسول له روايت سره.

قريشو ته د دې قصې اورول د دې لپاره وو چې له يوې خوا د جن او پېريانو په اړه د دوی بې بنسټه او له خرافاتو ډکه عقيده تصحيح کړي او له بلې خوا ورته ووايي چې راشئ له قرآن سره ستاسو چلن د هغه چا له چلن سره مقايسه کړئ چې پېريان دي، نه پيغمبر عليه السلام د دوی له ډلې او نه قرآن د دوی په ژبه، او تر ټولو شرير مخلوق ابليس په دوی کې راولاړ شوی. خو د قرآن د يوې برخې په اورېدو سره ئې له ځنډه پرته پرې ايمان راوړ، د هغه عظمت ته ګوته په غاښ شول او خپل لارښود ئې ومانو، خو تاسو اې قريشو! په داسې حال کې له ايمان راوړو ډډه کوئ چې پيغمبر عليه السلام ستاسو له منځه غوره شوی، قرآن ستاسو په ژبه نازل شوی، په فصيح عربي ژبې او تاسو ته قابل فهم!!

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡيَ بِخَلۡقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡـِۧيَ ٱلۡمَوۡتَىٰۚ بَلَىٰٓ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ  ٣٣ وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٤

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی هغه الله چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي او په پیدا کولو ئې نه دئ ستومانه شوی په دې قادر دئ چې مړي راژوندي کړي؟! ولې نه؛ یقیناً چې هغه په هر څه توانمن دئ، او په کومه ورځ چې اور ته هغه وګړي وړاندي کړی شي چې کفر ئې کړی (ورته وبه ویل شي:) آیا دا (عذاب) ربښتینی نه دئ؟! وبه وایي: ولې نه؛ په خپل رب مو قسم، وبه وایي: نو د هغه کفر له کبله چې تاسو کولو دا عذاب وڅکئ.

(۳۳-۳٤)- د دې مبارکو آیتونو لاربښووني دا دي:

- **آیا د آخرت منکرینو دې حقیقت ته پام نه دئ کړی چې د آسمانونو او زمکې هغه پیدا کوونکي رب ته چې د دې بې شمېره مخلوقاتو په پیدا کولو نه دئ ستومانه شوی؛ ولې به د مړو راژوندي کول ورته ګران او محال کار وي؟ هغه قدیر ذات چې د آسمانونو او زمکې په پیدا کولو توانېدلی، له کومې ستومانتیا پرته؛ یقیناً چې هغه په دې هم قادر دئ چې مړي راژوندي کړي؟!**
- **د آخرت د منکرینو اصلي ستونزه دا نه ده چې د مړو بیاژوندون ورته محال برېښي او د دې لپاره کافي دلائل نه مومي؛ ستونزه ئې دا ده چې د مکافات او مجازات په الهي سنت باور نه لري، دا باور ئې له ګناهونو منع کوي او دوی له ګناه لاس اخیستلو ته نه دي چمتو، له مجازات انکار د دوی رواني ستونزه ده نه عقلي مشکل، د همدې لپاره دلته ویل شوي: په کومه ورځ چې دا کافران اور ته وړاندي کړی شي ورته وبه ویل شي: آیا دا عذاب ربښتینی نه دئ؟! وبه وایي: ولې نه؛ په خپل رب مو قسم چې دا یو حقیقت دئ، هغه حقیقت چې موږ په دنیا کې ترې انکار کولو، نو دوی ته به وویل شي: اوس د هغه عذاب خوند وڅکئ چې ستاسو د کفر او انکار سزا ده.**

فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسۡتَعۡجِل لَّهُمۡۚ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَ مَا
يُوعَدُونَ لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّن نَّهَارِۭۚ بَلَٰغٞۚ فَهَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ



نو داسې صبر کوه لکه چې هوډمنو پیغمبرانو صبر کړی او د دوی په اړه تلوار مه کوه، کومه ورځ چې دوی هغه څه وګوري چې وعده ئې ورکول کېږي داسې به وي لکه چې د ورځې له یوې ګنټې پرته ئې ځنډ او درنګ نه وي کړی. دا یو ابلاغ دئ، نو آیا له دغو فاسقو وګړو پرته به بل څوک هلاک کړی شي؟!

(۳۵)- په دې مبارك آیت کې چې د سورې ښکلې تتمه او جامع خلاصه ده له یوې خوا رسول الله ته لاربښوونه شوې چې د مخکنیو هوډمنو پیغمبرانو په څېر صبر کوه او د دوی په اړه تلوار مه کوه، الله تعالی دوی ته تر یوې ټاکلې نېټې مهلت ورکوي، د دې نېټې د ژر راتلو

تلوسه مه کوه، تولي الهي پرېکړي به له کوم ځنډ او تغيير پرته په خپل خپل وخت کي هرومرو ترسره کيږي. له بلي خوا ويل شوي چي په کومه ورځ دا مخالفين هغه څه وګوري چي وعده ئې ورکول کيږي؛ نو حالت به ئې داسي وي لکه چي د ورځي له يوې ګنټې پرته ئې ځنډ او درنګ نه وي کړی. دوی خپل پيغمبر ته ويلي وو چي هغه الهي عذاب چېري دئ او ولي ځنډيږي چي ته مو پرې ګواښې، خو کله چي دا عذاب راشي نو بيا به تېره موده ډېره لنډه ورته برېښي، د دنيايي عذاب په اړه به هم د دوی انګېرنه همداسي وي او د قيامت په اړه هم، دا يوه داسي عمومي قاعده ده چي جرړي ئې د انسان په فطرت کي غزېدلي دي، د مصيبت او کړاو په وخت کي د راحت اوږده موده ورته لنډه برېښي!! له بلي خوا د قرآن مخاطبينو ته ويل شوي: دا قرآن د الله تعالی له لوري يو څرګند پيغام او ابلاغ دئ، په دې سره حجت بشپړ شوی، حقيقت څرګند شوی، د کافر او مؤمن لاري او د دوی د ايمان او کفر حتمي پايلي څرګندي شوې، اوس به يوازي هغه څوك له تباهي او هلاکت سره مخامخ کيږي چي د خپل رب په وړاندي د سرغړاوي او بغاوت لار غوره کړي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ